تسهيلات

پښتو شرح

مِشكوٰة

تاليف مولانا شاه فيصل

فاضل دار العلوم اسلاميه چارسده و امداد العلوم پشاور

د اوو ويشت (۲۷) خصوصياتو سره چې يولس (۱۱) په کښې دا دي

1. پېښوري پښتو سره بين القوسين د قندهاري پښتو د کرانو ټکو اضافه
2. د مشکاة د عربي او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه
3. په ترجمه کښې بين القوسين د مرقاة المفاتيح د اضافي قيوداتو ترجمه
4. د حديث هرې جملې او د هغې ترجمې ته د آسانتيا دپاره نمبرې ورکول
5. د فقهي اختلافي مسئلو مدلل او آسان حل
6. د اوږدو احاديثو د متن او ترجمې تقسيم
7. د هر حديث د صحاح ستة وغيره څخه تخريج
8. د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتيح څخه د مشکلو لغاتو حل
9. د قوله په عنوان سره [illegible] تشريح
10. د هر باب په اول کښې [illegible]
11. د کتاب په اول کښې [illegible]

تسهيلات

Maktaba Tul Ishaat.com



Maktaba Tul Ishaat .com


تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاویٰ	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات

پښتو شرح

مشکواة

تاليف:- مولانا شاه فيصل فاضل دارالعلوم اسلاميه چارسده

شپږم جلد (٦)

د شلو (٢٠) خصوصياتو سره چې لس (١٠) په کښې دا دی

① پېښوري پښتو سره بين القوسين د قندهاري پښتو د ګرانو ټکو اضافه

② د مشکاة د عربي او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه

③ په ترجمه کښې بين القوسين د مرقاة المفاتيح داضافي قيوداتو ترجمه

④ دحديث هرې جملې ته اود هغې ترجمې د آسانتيا دپاره نمبرې ورکول

⑤ په فقهي اختلافي مسئلو کښې مدلل او آسان مباحث

⑤ د اوږدو احاديثو د متن او ترجمې تقسيم

⑥ دهرحديث د صحاح سته وغيره نه تخريج

⑦ د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتيح نه د مشکلو لغات حل

⑧ دقوله په عنوان سره دحديث د هرې مشکلې جملې تشريح

⑨ دهرباب په اول کښې دهغې د احاديثو خلاصه

⑩ د کتاب په اول کښې د علوم الحديث مفيده مقدمه

خورنکې

فيصل کتب خانه محله جنګی پيښور

موبائل ٠٣١٥-٩٥٩٥٧١٧

Maktaba Tul Ishaat.com

د چاپ حقوق د ناشر سره محفوظ دي

د کتاب نوم   تسهيلات شرح مشکواة

شارح مولانا پروفيسر شاه فيصل

فاضل وفاق المدارس، امدادالعلوم، جامعه اسلاميه چارسده

معاون مترجم:: عبدالکريم صديقي

د ملاوېدو پتې

- جديد اسلامي کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانيوال کتب خانه جلال آباد
- رحيمي کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- ديلي کتب خانه تيمرگره
- تاج کتب خانه صوابي
- مکتبه خواجه عبدالله انصاري غزني
- مکتبه دارالاخلاص کابل
- مکتبه رحمانيه قندهار
- مکتبه رحمانيه کوئټه
- انوري کتب خانه قندهار
- نعمت کتب خانه کابل
- مکتبه علميه اکوړه خټک
- حقانيه کتب خانه گرديز
- وطن دوست کتب خانه گرديز
- إقرأ کتب خانه جلال آباد
- مکتبه معروفيه کوئټه
- مکتبه عمريه چمن
- مکتبه عباسيه تيمرگره
- مکتبه امير حمزه قندهار

اجمالی فہرست

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

صفحہ	مضمون	شمار

Maktaba Tul Ishaat.com

د احاديثو د عنوانانو فهرست

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست اختلاف مذاهب

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

[۶] بَابُ الإِسْتِعَاذَةِ]

د الله ﷻ د پناه غوښتلو بيان

خلاصة الباب:

فيه اربعة وعشرون حديثاً مشتملة على اثنين و سبعين من الأشياء يستعاذ منها (بحذف التكرار) ومشتملة على أربع مسائل:

① تعوذ النبي ﷺ: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۶، ۲۳، ۲۴۔

② الأمر بالتعوذ ۱. ۱۵، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰۔

③ فائدة الاستعاذة من النار: ۲۱۔

④ تعوذ بعض السلف: ۲۲

د لفظ الاستعاذه مفهوم او تحقيق: دالله تعالى نه دَدعا غوښتلو عام مفهوم هم دغه دې چه سړې دَخپل مقصود او مطلوب او دَخپلې خوښې څيز دَالله تعالى نه غواړي انسان سره يوضعي معامله داسې هم وي چه دې دَخپل ناخوښه څيزنه لرې تختى او يودَ پناه خائى ته خى اوپټيږي استعاذه اوتعوذ هم دَدغه پناه دَ خائى نوم دې بيا دَدغه انسان يوظاهرى هدي دښمن دې چه په سترګو سره ښکاري دَ ده دپاره جدا دَ پناه خايونه دى دَ کوم دَتحفظ چه څن له انتظام او انداز دې کوم چه دَتعوذ نه علاوه وى

دې نه علاوه دَ انسان يوداسې دښمن هم دې چه پټ اونه ښکاره کيدونکي دښمن دې کوم چه ابليس اودهغه اولاد دې ددې نه دَ بچ کيدو دپاره يوجدا نتظام وى چه هم دغه تعوذ او استعاذه ده په دې باب کښې دَ اکثر احاديثو تعلق هم دغه استعاذه سره دې اوچونکه دَ دې دښمن وجود دَ نظر نه پټ دې په دې وجه دَدې نه دَ بچاؤ خائى دَالله تعالى ذات ګرځولې شوې دې او اوونيلي شو "اعوذبالله من الشيطان الرجيم" يعنى زه دَ شيطان مردودنه دَالله تعالى په پناه کښې راځم

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲۴۵۷] دَ ناموافق څيزونو نه دَ الله پناه

۲۳۵۷–[۱] (۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] («تَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنْ جَهْدِ الْبَلَاءِ، [۳] وَدَرَكِ الشَّقَاءِ، [۴] وَسُوءِ الْقَضَاءِ [۵] وَشَمَاتَةِ الْأَعْدَاءِ») مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱] اخرجه البخاري في كتاب القدر/باب: العمل بالخواتيم (رقم ۶۶۰۷) ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار باب في التعوذ من سوء القضاء ودرك الشقاء وغيره (رقم ۵۳ (۲۷۰۷))واحمد في المسند ۲/۲۴۶

ترجمه: ابو هريره رضي الله عنه راوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل [١] د الله تعالى پناه غواړئ د بلاء ازمينت [٢] د مشقت څخه، [٣] د بدبختئ د رسيدو څخه، [٤] د خراب تقدير څخه [٥] او د دښمنانو د خوشحاليدو څخه. بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① تعوذوا صيغه د امر ده جمع د امر استحبابي دي معنى ئي ده پناه غواړئ. ② جهد البلاء أي مشقته د مصيبتونو مشقت. جهد مشقت ته وائي او بلاء هغه حالت ته وائي كوم سره چه داسړي ازمينت كولي شي لكه اهل وعيال زيات وي او مال ورسره نه وي. ③ درك: درک د إدراك نه دي. هو الوصول إلى الشيء: يوخيزته رسيدل يا دهغي حاصليدوته وائي ④ الشقاء: په معنى د شقاوت يعني بدبختئ سره. ددي ضد سعادت دي يعني نيک بختی. ⑤ سوء القضاء: د تقدير په معنى كښي دي مراد دا چه داسي فيصلي نه ستا پناه چه زما په حق كښي ښه نه وي ⑥ شماتة الأعداء وهي فرح العدو ببلية: داسي ازمائش چه دشمن پري خوشحاله شي

تسهيلات: قوله: جَهْدِ الْبَلَاءِ:

د جهد البلاء په مفهوم كښي دوه اقوال: په جيم باندي فتحه او ضمه دواړه دي ملاعلي قاري رحمه الله ددي جملي مطلب داسي بيانوی چه د هغه مصائبونو دي چه ديني او دنيوی اعتبار سره انسان ته رسيږی اوانسان نه دا دفع كولي شي اونه په هغي باندي صبر كولي شي علامه طيبي رحمه الله فرمائي ددي نه مراد دداسي حالت پيښيدل دی دكوم نه پس چه انسان مرگ خوښوی بلكه ددي خواهش كوی. حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ددي تفسير داسي بيان كړي چه داهغه حالت دي چه دانسان مال كم شي او بال بچ زيات شي

قوله: الشَّقَاءِ:

دمذكوره جملي مفهوم: درك مصدر دي راء باندي فتحه هم ده اوسكون هم دي ادراك د موندلو په معنى كښي دي الشقاء بدبختی خراب انجام اود هلاكت په معنى كښي دي يعني د بدبختئ شقاوت او هلاكت كيدلو نه ستا پناه غوارم

د مذكوره دعا جامعيت او كامليت: په دي حديث كښي دا څلور كلمات داسي عام دي چه دانسان د ژوند تولو شعبوته شامل دي لهذا دا دعا كامله ده

[٢٤٥٨] جامع استعاذه

٢٤٥٨-[٢] (١) [١] (وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ [٢] «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ، [٣] وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، [٤] وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ، [٥] وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

(١) اخرجه البخاري في كتاب الدعوات/باب الاستعاذة من الجبن (رقم- ٦٣٦٩) وابو داود في كتاب الصلاة،باب في الاستعاذة (رقم-١٥٤١) والترمذي في السنن رقم الحديث ٣٥٥١ واحمد في المسند:٢٢٦/٣

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه ۱ انس رضي الله عنه وايي چې نبی کريم صلی الله علیه وسلم به دا دعا غوښتله ۲ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ، ترجمه: ای الله جل جلاله زه ستا پناه غواړم د پریشانی څخه، د غم څخه، ۳ او د عاجزه کيدو او څخه د سستی څخه، ۴ د نامردی څخه، د بخل څخه، د قرض د بوج څخه ۵ او د خلقو يعني د ظالمانو، د غلبې څخه (بخاري، مسلم)

حل اللغات ① ضَلَعِ الدَّيْنِ أي ثقله: بوښتي ماتونکي قرض يعنی د قرض د بوج نه، دومره ډير قرض وی چه د ادا کولو وس نې نه وی، ② غَلَبَةِ الرِّجَالِ أي قهرهم: زور او غلبه د خلقو، ددې نه مراد يا د بدشه ظلم وستم دې يا د قرض غوښتونکو زبردستی ده.

تسهيلات:

قوله: الْهَمِّ

په هم او حزن کښې فرق: دا هغه غم ته وائی چه د يوراتلونکی مصيبت د ويرې نه وی هغه غم ته وائی چه د مصيبت راتلونه پس راځی يعنی "هم" په متوقع غم باندې کيږی او حزن په مافات باندې کيږی لکه چه د يومريض مرګ کوم چه د ويرې د وجې نه کيږی دا "هم" او ويره ده ليکن چه کله مړ شی اود هغې نه پس غم راځی هغې ته حزن وائی

[۲٤٥٩] د نبی علیه السلام يوه جامع دعا

۳ (١) ١ وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ٢ («اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ ٣ وَالْمَغْرَمِ وَالْمَأْثَمِ، ٤ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ النَّارِ وَفِتْنَةِ النَّارِ ٥ وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ ٦ وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْفَقْرِ ٧ وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، ٨ اللّٰهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، ٩ وَنَقِّ قَلْبِي كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، ١٠ وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ ١١ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ١ بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې نبی کريم صلی الله علیه وسلم به دا دعا غوښتله ٢ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وَالْمَغْرَمِ وَالْمَأْثَمِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ مِنْ عَذَابِ النَّارِ وَمِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْغِنَى وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْفَقْرِ وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ اللّٰهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّ قَلْبِي كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ وَبَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ،
ترجمه اي الله جل جلاله زه ستا پناه غواړم (په طاعت کې)، د سستی څخه، د بوډاتوب (په سبب بدحواس کيدو او د اعضاء د ناکاره کيدو) څخه، ٣ د تاوان يا قرض څخه، او د ګناه څخه، ٤ اي الله جل جلاله زه ستا پناه غواړم د اور د عذاب څخه، او د عذاب د فتني څخه، ٥ د قبر د

(١) اخرجه البخاري في كتاب الاستئذان/باب من أسرع في مشيه لحاجة أو قصد (رقم-٦٢٧٥) ومسلم في كتاب المساجد/باب ما يستعاذ منه في الصلاة (رقم) ١٢٩ - (٥٨٩) والترمذي في السنن رقم الحديث ٣٥٦٠ واحمد في المسند: ١٨٥/٢

فتني او د قبر د عذاب څخه.[٦] د دولت د فتني او خرابي څخه. د فقر د خرابي څخه[٧] او د مسيح دجال د فتني څخه.[٨] اې الله! ته د واورې او ږلي په اوبو سره زما ګناه اووينځې (يعني د قسم قسم مغفرتونو په ذريعه زما ګناهونه پاك کړې. څرنګه چې د واورې او ږلي په اوبو خيرې صفا کيږي)[٩] او زما زړه (د خرابو اخلاقو او خرابو خيالاتو څخه) پاك کړې څرنګه چې سپينه کپړه په اوبو سره صفا کول کيږي.[١٠] او زما اود ګناهونو په مينځ کې داسې لرې والي پيدا کړې.[١١] څرنګه چې تا دمشرق او مغرب په مينځ کې لرې والې پيدا کړې دې (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① الْهَرَمِ: أَيْ: كِبَرِ السِّنِّ: بوډاتوب. چه د زيات عمر په وجه ئې عقل او حواس کمزوري شی ② الْمَغْرَمِ: هغه تاوان ته وائی چه په يوانسان باندې په مفت کښې راشي يا هغه قرض ته وائی چه يوانسان ئې په خپله ذمه باندې واخلي. ③ الْمَأْثَمِ: أَيْ: الْإِثْمِ: ګناه. ④ الْغِنَى: مالداري (کوم سره چه غرور اوسرکشي پيداشي چه په حرام ئې پيدا کوی اوپه حرام او نافرماني کښې ئې لګوی.) ⑤ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ: دجال ته مسيح څکه وائی چه دې به توله زمکه مسح کوی اوګرځيدو راګرځيدو سره به مری يا په دې وجه دجال ته مسيح وائی چه دهغه يوه سترګه ختمه کړې شوې ده ⑥ الدَّجَّالِ: په دجل کښې مبالغه ده دهوکه او فريب ته وائی يعنی ډير زيات فساد خورونکې ⑦ الثَّلْجِ: واوره. ⑧ الْبَرَدِ: ګلئ. ⑨ نَقِّ: باب تفعيل نه امردې، پاک کړې ⑩ الدَّنَسِ: أَيْ: الْوَسَخِ: خيرې (يعنی دګناهونو خيرې).

تسهيلات:

قوله: وَفِتْنَةِ النَّارِ، وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ:

د حديث د بعضې جملو وضاحت:

① فِتْنَةِ النَّارِ: يعنی چه داسې فتنه راشي چه سړې دَ اور قابل جوړ کړی.

② فِتْنَةِ الْقَبْرِ: يعنی دَ منکر نکير په جواب کښې لاجواب کيدونه ستا پناه.

③ وَعَذَابِ الْقَبْرِ: يعنی دَ قبر دَ عذاب نه ستا پناه غواړو کوم چه ګرزونه اوپلکونه دی لرمانان دی اوماران دی دَ قبر نه مراد دَعالم برزخ دَ شروع اهمه حصه ده کومه چه دې قبرته شامل ده ملا علی قاری رحمه الله دَ قبر تعريف کولوسره ليکی "اوکل ما انقراجزائه فيه فهوقبر"

④ فِتْنَةِ الْغِنَى: هغه مالداري مراد ده چه دَ کبر تفاخر اوبغاوت سبب وی، بل په حرامه طريقه سره ئې مال حاصل کړې وی اودَ ګناه په کارونو کښې خرج کوی.

قوله: فِتْنَةِ الْفَقْرِ:

د فقر د فتنې څخه مراد: دَ فقر اوغربت فتنه داسې چه مالدارانوسره حسد کوی بغض اوعناد ساتی اودَ بعض مالدارانو په مخکښې ذليل اوخوارکيدوسره غوښتنه کوی دَ ده په دې

Maktaba Tul Ishaat.com

عمل ناندې په دين باندې داغ لګی اودې د تقدير په ليك باندې صبر نه کوی لکه چه په حديث کښې دی ((كاد الفقر ان يكون كفرا)) حضورپاك دا تعوذ د امت دتعليم دپاره کړې دې ګنی حضورپاك ته هيڅ خطره نه وه

د حديث مطلب او مقصد: دحديث مطلب دادې چه د مغفرت دټولو قسمونونه د دغه سړی مغفرت اوشی نود اوبود قسمونونه دمغفرت اقسام مراد اخستې شوی دی

[۲٤٦٠] يوڅو تعويذونه

٢٣٦٠-[٤] ()[١] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [٢] «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ [٣] وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَالْهَرَمِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، [٤] اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا [٥] وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا [٦] أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا، [٧] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ [٨] وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ [٩] وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ [١٠] وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [١] زيد ابن ارقم ﷺ راوي دي چې نبی کريم ﷺ به دا دعا غوښتله [٢] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَالْهَرَمِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا، ترجمه اې الله ﷻ زه ستا څخه پناه غوارم د عاجزي (يعني په طاعت باندې د نه قادر كيدو) څخه. په نيكو كارونو كې د سستي څخه، [٣] د نامردی (بزدلی) څخه. د بخل څخه. د بوډاتوب (په سبب د اعضاؤ د ناكاره او حواس باخته كيدوا څخه، او د قبر د عذاب يعني د قبر د تنګی. د هغې د وحشت او د ګروزونو د وهلو څخه، د لړمانانو او مارانو د چيچلو څخه او د دې قسم نورو هولناكو، سختو) څخه [٤] اې الله ﷻ زما نفس ته پرهيزګاري وركړې [٥] او پاك يې كړې، څكه چې د دې پاك كونكو كې ستا ذات بهترين دې. [٦] ته د هغه كارساز او مالك يې. [٧] اې الله ﷻ زه ستا پناه غوارم د هغه علم څخه. چې نفع بخش نه وي. [٨] د هغه زړه څخه چې نه يريږي (يا هغه ته په ذكر الله سره تسكين نه وي) [٩] د هغه نفس څخه چې موړ نه وي (يعني حريص وي. الله ﷻ چې څه وركړي وي، په هغې قناعت نه كوي) [١٠] او د هغې دعا څخه چې د قبوليت مرتبې ته اونه رسی (مسلم)

حل اللغات: ① وَلِيُّهَا: أَيْ نَاصِرُهَا: كارساز او مددګار دهغې نفس. ② مَوْلَاهَا: أَيْ مَالِكُهَا: مالک ددې نفس. ③ لَا يَخْشَعُ: أَيْ لَا يَسْكُنُ: چه نه ويريږی (يعنی دالله په ذكر ورته سكون او اطمينان نه راځي) ④ لَا تَشْبَعُ: نه مړيږی (په خوراک يا په موجوده رزق باندې قناعت نه كوی يعنی حريص او اوږ ستركې وی)

() اخرجه مسلم فی كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار /باب التعوذ من شر ما عمل ومن شر ما لم يعمل (رقم-٧٣ - (٢٧٢٢)

تسهيلات: **قوله:** وَالْهَرَمِ:

دهرم څخه مراد: ددې نه مراد د اندامونو ناكاره كيدل دى څنګه چه په أرذل العمر كښې وى ددې په باره كښې قرآن كښې دى ((لِكَيْلَا يَعْلَمَ بَعْدَ عِلْمٍ شَيْئًا)) (نحل ۷۰).

قوله: وَعَذَابِ الْقَبْرِ

د عذاب قبر څخه مراد: ددې نه مراد د قبر وحشت، تياره، تنګ والي، د مارانو، لړمانو چيچل او نور عذاب قبر

قوله: اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا

د نفس د تقوى څخه مراد: امام طيبى فرمائى چه مناسبه دا ده چه تقوى نه مراد هغه څه شى چې د فجور مقابل كښې وى كما ورد فى القرآن فألهمها فجورها و تقوها ددې څخه د خواهشاتو د پيروى كولو او ګناهونو د ارتكاب څخه بچ كيدل دى مراد دى

قوله: مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ

دعلم غيرنافع مصداق: امام طيبى فرمائى چه ددې نه مراد هغه علم دې چه په هغې پخپله هم عمل نه وى او نه نورو خلقو ته رسول وى او نه د خلقو اخلاقو. افعالو او اقوالو دپاره فائده مند وى يا داسې علم چه دين ته ئ څه فائده نه وى

[٢٤٦١] دابن عمر په روايت سره مسنون دعا

—[٥] ()[١]وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: «كَانَ مِنْ دُعَاءِ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-)[٢] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ[٣] وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ[۴] وَجَمِيعِ سَخَطِكَ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [١] عبد الله ابن عمر ﷺ وايي چې د نبي كريم ﷺ په دعاګانو كې يوه دعا دا هم وه [٢] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ وَجَمِيعِ سَخَطِكَ، ترجمه اي الله ﷻ زه ستا پناه غواړم ستا د نعمت د تلو څخه (او د نعمت څخه مراد ايمان او اسلام او نيكي او د الله معرفت دي)[٣] ستا د عافيت د تبديلى څخه (مثلاً د صحت په بدله كې د بيمارۍ او د غناء په بدله كې د محتاجه كيدو څخه) ستا د اچانك عذاب څخه[۴] ستا او د ټولو غصو څخه (مسلم)

حل اللغات: ① تَحَوُّلِ: أَيْ: اِنْتِقَالِهَا: د بدليدو او منتقل كيدو دعافيت (زوال دنعمت خميدو ته دپاره راخى او تحول په نعمت كښې دصفت بدليدو دپاره راخى لكه صحت په بيمارئ بدل شى) ② فُجَاءَةِ: بِمَعْنَى الْبَغْتَةِ: ناڅاپى. اچانک. ③ نِقْمَتِكَ: أَىِ الْمُكَافَأَةُ بِالْعُقُوبَةِ: يعنى عذاب او سزا ستا. ④ سَخَطِكَ: غضب او خفګان

) اخرجه مسلم فى كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب أكثر أهل الجنة الفقراء وأكثر أهل النار النساء وبيان الفتنة بالنساء (رقم-٩٦ - (٢٧٣٩) وابوداود فى كتاب الصلاة،باب فى الاستعاذة (رقم-١٥٤٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ:

د نعمت مصداق: ددې نه مراد د اسلام نعمت دې يا د ايمان نعمت

[٢٤٦٢] د عمل د شر څخه پناه غوښتل

—[٦] ()[١]وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ:[٢] («اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ[٣]وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [١] بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې نبی کريم ﷺ به دا دعا غوښتله [٢] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ، اې الله ﷻ! زه ستا پناه غواړم د هغه کار د خرابۍ څخه چې ما وکړو [٣] او د هغه کار د خرابۍ څخه چې مانه دې کړې (مسلم)

تسهيلات:

قوله: وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ:

دمذکوره جملې مطلب: هغه کار چې د هغې په وجه په عذاب کښې مبتلا شم داسې بد عمل دې معاف کړې شي او چه کوم کار مې نه وی کړې د هغې څخه هم پناه غواړم چه هغه کار او کړم چه ستا د ناراضګۍ سبب جوړ شي.

[٢٤٦٣] دابن عباس په روايت سره مسنون دعا

—[٧] ()[١]وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقُولُ:[٢] (اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ[٣] وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ[٤] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِعِزَّتِكَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْ تُضِلَّنِي[٥] أَنْتَ الْحَيُّ الَّذِي لَا يَمُوتُ[٦] وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [١] ابن عباس رضي الله عنه وايي چې نبی کريم ﷺ به دا دعا کوله [٢] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِعِزَّتِكَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْ تُضِلَّنِي أَنْتَ الْحَيُّ الَّذِي لَا يَمُوتُ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ، اې الله ﷻ! ما ستا اطاعت وکړو، ما په تا ايمان راوړو، ما په تا توکل وکړو، [٣] ما ستا طرف ته رجوع وکړه (يعني ګناهونو پريښودلو سره ستا د اطاعت طرف ته متوجه شوم) او زه ستا په مدد سره (د کافرانو سره) جنګيږم، [٤] اې الله ﷻ! زه ستا د عزت په واسطه ستا پناه غواړم، ستا څخه ماسوا بل معبود نشته، د دې څخه پناه غواړم چې ته ما ګمراه کړې، [٥] ته ژوندې يې، داسې چې ته نه مرې [٦] او ټول جنات او انسانان به مرې (بخاري، مسلم)

---

[١]) اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب التعوذ من شر ما عمل ومن شر ما لم يعمل (رقم-٦٥ - (٢٧١٦) وابوداود في كتاب الصلاة،باب في الاستعاذة (رقم-١٥٥٠) واحمد في المسند:١٣٩/٦

[٢]) اخرجه البخاري في كتاب الدعوات/باب الدعاء إذا انتبه بالليل (رقم-٦٣١٧) ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب التعوذ من شر ما عمل ومن شر ما لم يعمل (رقم-٦٧ - (٢٧١٧) واحمد في المسند: ٩٥/١

حل اللغات ① أُنبتُ أي رجعتُ رجوع کوم. د نافرمانۍ نه اطاعت ته. ② خاصمتُ أي خاربتُ جنګ کوم سَت د دشمنانو سره

تسهيلات: قوله وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:

① يعنې د نافرمانۍ نه طاعت طرف ته رجوع کول

② د غفلت نه د ذکر طرف ته رجوع کول مراد دي

قوله: وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ:

د جناتو او انسانانو د تخصيص وجه: جنات او انسان چونکه مکلف دی په دې وجه په خاص ترګه د هغوی د مرګ ذکراوکړې شو ګنې مرګ هر يو سا والا خناور سره لګيدلې دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۴۶۴] د څلورو څيزونو نه پناه

۳۳۳- [۸] (۱) ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: (② «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْأَرْبَعِ ③ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ، ④ وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ، ⑤ وَمِنْ دُعَاءٍ لَا يُسْمَعُ»). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه ① ابو هريره ﷺ وايي چه نبی کريم ﷺ به داسې دعا کوله: ② اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْأَرْبَعِ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ وَمِنْ دُعَاءٍ لَا يُسْمَعُ، ترجمه اې الله ﷻ زه د څلور څيزونو څخه ستا پناه غواړم ③ ① د هغه علم څخه چې نفع ورنکړي ② د هغه زړه څخه چې عاجزي نه کوي ④ ③ د هغه نفس څخه چې سيريږي (مړيږي) نه ⑤ ④ او د هغه دعا څخه چې نه قبليږي (احمد، ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات: ① لَا يَخْشَعُ: أي: لَا يَسْكُنُ: چه نه ويريږی (يعنی د الله په ذکر ورته سکون او اطمينان نه راځی، ② لَا تَشْبَعُ: نه مړيږی (په خوراک يا په موجوده رزق باندې قناعت نه کوی يعنی حريص او وږې سترګې وی. ③ لَا يُسْمَعُ: أي: لَا يُسْتَجَابُ: چه اوريدلې کيږی نه يعنی نه قبليږی

تسهيلات:

قوله: اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْأَرْبَعِ:

- **د رواياتو په مينځ کښې دفع د تعارض:** د څلورو څيزونو ذکر په دې حديث کښې دې مګر دا څه تحديد او حصر نه دې دې سره روايت کښې د پنځو څيزونو ذکر دې. د دې نه د زياتو ذکر

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ۳۵۴۹ وابن ماجة فی کتاب الدعاء /باب دعاء رسول الله صلی الله عليه وسلم (رقم-۳۸۳۷) واحمد في المسند: ۱۶۷/۲

Maktaba Tul Ishaat.com

هم شته نو د اهميت په اعتبار سره كله حضوریاك د كم ذكر كړي دي او كله د زيات ذكر د غه شن راوي نو د مختلف احوال په رڼاكښې كله زيات كله كم ذكر كړي دي

د مذكوره څيزونو څخه د پناه غوښتلو وجوهات: ① د علم نه د پناه غوښتلو مطلب دا دی چه كوم علم قابل انتفاع نه وی هغه وبال جوړيږی

② د نه يريدونكی زړه نه مراد دا دی چه كه داسې حالت نه وی نو هغه زړه سخت شی لقوله تعالى ((فَوَيْلٌ لِلْقَاسِيَةِ قُلُوبُهُمْ مِنْ ذِكْرِ اللهِ))

③ داسې نفس نه چه مړيږی نه څكه پناه اوغستې شوه چه كه نفس نه مړيږی نو په دې كښې د دنيا حرص موجود وی او چه كوم نفس كښې د دنيا حرص وی نو هغه د دعا په قبليدو كښې ركاوټ وی

④چه كله ما قبل درې څيزونه وی نو دعا چرته قبليږی لهذا د دعا د قبليدو د پاره د دې درې شرطونو كيدل ضروری دی دا حديث په دې دلالت كوی چه كومه دعا بغير د سجع نه د تكلف طبعي په بنا وی نو هغه منع نه ده

() [١]((وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو وَالنَّسَائِيُّ عَنْهُمَا)).

ترجمه [١] او دا روايت ترمذي د عبد الله ابن عمرو ﷺ څخه او نسائي د ابوهريره او عبد الله بن عمرو ﷺ دواړو څخه روايت كړي دي.

[٢٤٦٦] د پنځو څيزونو څخه پناه غوښتل

[٩] () [١]وَعَنْ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَعَوَّذُ مِنْ خَمْسٍ [٢]مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَسُوءِ الْعُمُرِ [٣]وَفِتْنَةِ الصَّدْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه [١] حضرت عمر ﷺ فرمايي چې نبی كريم ﷺ به د پنځو څيزونو څخه د الله پناه غوښتله. [٢] ① د نامردی (بزدلی) څخه ② د بخل څخه ③ د عمر د خرابی څخه (يعني د عمر د دومره زياتوالی څخه چې په آخر كې په قوٰی او حواسو كې فرق راشي، او د عبادت او طاعت طاقت پاتې نشي) [٣] ④ د سيني د فتني څخه (يعني د هغه څيز څخه چې په سينه كې دننه خراب اخلاق او خراب عقائد ځاې ونيسي يا حق خبره نه قبلوي او د مصيبتونو متحمل نه وي) او ⑤ د قبر د عذاب څخه (ابوداؤد، ونسائي)

() اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ٣٥٤٩ وابن ما جة فی كتاب الدعاء /باب دعاء رسول الله صلی الله عليه وسلم (رقم-٣٨٣٧) واحمد فی المسند: ١٦٧/٢

() اخرجه ابوداود فی كتاب الصلاة،باب فی الاستعاذة (رقم-١٥٤٠) وابن ما جة فی كتاب الدعاء /باب ما تعوذ منه رسول الله صلی الله عليه وسلم (رقم-٣٨٤٤) واحمد فی المسند: ٢٢/١

حل اللغات: ① الْجُبْنِ: دا د شجاعة ضد دي، وَهُوَ الْخَوْفُ عِنْدَ الْقِتَالِ. په جهاد کښې ويره کول يعنې يرډنې ② الْبُخْلِ: كنجوسي په کومو خايونو کښې چه د مال خرچ کولو حکم دي هلته مال نه خرچ کولو ته بخل وائي، ③ سُوءِ الْعُمُرِ أَيْ سُوءِ الْكِبَرِ: خراب عمر يعنې دومره بوډاتوب چه عقل او حواس پکښې بيکاره شي، ④ فِتْنَةِ الصَّدْرِ أَيْ مِنْ قَسَاوَةِ الْقَلْبِ: د سينې فتنه يعنې د زړه سخت والي چه د آخرت فکر پکښې نه وي، ⑤ عَذَابِ الْقَبْرِ أَيِ الْبَرْزَخِ: د قبر عذاب، د برزخ عذاب

تسهيلات:

قوله: يَتَعَوَّذُ مِنْ خَمْسٍ:

ديو اعتراض جواب: په دې حديث کښې د پنځو ذکر دې دا د اقل منافي نه دې او د سينې نه مراد زړه دې

[٢٤٦٧] د فقر او ذلت څخه پناه غوښتل

—[١٠] ( )[١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يَقُولُ: [٢] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ وَالْقِلَّةِ وَالذِّلَّةِ [٣] وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه [١] ابوهريره رضي الله عنه وايي چې نبي کريم ﷺ به دا دعا کوله [٢] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ وَالْقِلَّةِ وَالذِّلَّةِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ، اى الله! جل جلاله زه ستا پناه غوارم د محتاجي څخه، د قلت لږوالي څخه. د ذلت څخه، [٣] او ستا پناه غوارم د دې خبري څخه. چې زه په چا ظلم وکړم يا څوک په ماظلم وکړي، ابوداؤد، نسائي.

حل اللغات: ① الْفَقْرِ: محتاجي (زړه دومره حريص شي چه ناشکري پکښې پيدا شي)، ② الْقِلَّةِ: کموالي (دمال يا د نيکو اخلاقو او ښه صفاتو)، ③ الذِّلَّةِ: ذلت (چه دخلقو په نظر کښې سپک شي دخه گناه په وجه يا د محتاجي په وجه)، ④ أَظْلِمَ: د متکلم معلوم صيغه ده. يعنې چه زه په چا ظلم اوکړم ⑤ أُظْلَمَ: د متکلم مجهول صيغه ده. يعنې چه څوک په ما ظلم اوکړي (په ناحقه باندې زياتي کولو ته ظلم وائي)

تسهيلات:

قوله: مِنَ الْفَقْرِ:

دفقر په مصداق کښې درې اقوال: ① د فقر نه مراد د زړه فقر دې

② د فقر نه مراد د مال جمع کولو حرص دې

③ د فقر نه مراد داسې فقر چه په هغې سره دې کفران نعمت ته اورسي

( ) اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة، باب في الاستعاذة (رقم-١٥٤٤) والنسائي في كتاب الاستعاذة/باب الاستعاذة من الذلة(رقم-٥٤٦١) وابن ماجة في كتاب الدعاء /باب ما تعوذ منه رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم - ٣٨٤٢) واحمد في المسند:٣٠٥/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله وَالْقِلَّةِ:

د قلة په مفهوم کښې درې اقوال: ① د نیکو کم والي مراد دی لکه چه د نبی علیه السلام په باره کښې راغلی دی چه کان یؤثر الاقلال فی الدنیا ویکره الاستکثار من الأغراض الفانیة چه نبی علیه السلام به د مال او زرو کمی خوښولو او د مال کثرت او زیادت ئې نه خوښولو

② دقلة څخه د مال دومره کمې مراد دې چه قوت لا یموت د پاره هم کافی نه وی چه د عبادت د اداکولو نه هم سړې عاجزه کوی

③ دقلة څخه د صبر کمې یا د مال کمې مراد دې

قوله وَالذِّلَّةِ:

د ذلة په مصداق کښې دوه اقوال: ① د خلقو په نظر کښې ذلیل کیدل مرادی دې

② د نافرمنې او معصیت په وجه ذلت ترې مراد دې خکه چه ګناه ګار کس د الله په دارېار کښې ذلیل وی بلکه د ځناورو نه هم بد تر وی کما وردفی القرآن أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ

[٢٤٦٨] دبدو اخلاقو څخه پناه غوښتل

٢٤٦٨ ــ[١١] ( )(١) وَعَنْهُ أَنَّ «رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقُولُ: (٢) اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الشِّقَاقِ وَالنِّفَاقِ وَسُوءِ الْأَخْلَاقِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه (١) ابوهریره رضی الله عنه وایي نبی کریم ﷺ به دعا کوله: (٢) اللَّهُمَّ إِنِّي...الخ، اي الله: تاته زه ستا پناه غواړم، د اختلاف څخه، د منافقت څخه او دخرابو اخلاقو څخه، ابوداؤد، نسائي

حل اللغات ① الشِّقَاقِ: أَيْ: مِنْ مُخَالَفَةِ الْحَقِّ: دحق مخالفت کولو ته شقاق وائی ② النِّفَاقِ: أَيْ: إِضْمَارِ الْإِسْلَامِ وَإِبْطَانِ الْكُفْرِ: چه په ژبه ځان ته مسلمان وائی اوپه زړه کښې ئې کفروی دې ته نفاق وائی. چه په ژبه یوڅه وائی اوپه زړه کښې ئې بل څه وی دې ته هم منافقت وائی

تسهیلات:

قوله مِنَ الشِّقَاقِ:

د شقاق په مفهوم کښې دوه اقوال:

① دشقاق څخه د حق مخالفت مراد دې لقوله تعالی ((بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي عِزَّةٍ وَشِقَاقٍ))

② امام طیبی فرمائی چه د شقاق نه مراد عداوت او دشمنی ده

قوله وَالنِّفَاقِ

دنفاق څخه مراد: یعنی چه څوک اسلام ظاهروی او کفر په زړه کښې پټ ساتی بعضې

---

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب فی الاستعاذة (رقم-١٥٤٦)

حضراتو ونيلي دي چه دا د نفاق تولو قسمونو او علاماتو ته شامل دي ((كما ورد في الحديث آية المنافق ثلاث إذا حدث كذب وإذا وعد أخلف وإذا ائتمن خان))

[٢٤٦٩] د اولږې او خيانت څخه نه پناه

٢٤٦٩-[١٢] (١) [١] وَعَنْهُ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقُولُ: [٢] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُوعِ [٣] فَإِنَّهُ بِئْسَ الضَّجِيعُ، [٤] وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخِيَانَةِ فَإِنَّهَا بِئْسَتِ الْبِطَانَةُ»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه [١] ابو هريره رضي الله عنه وايي چې نبي کريم ﷺ به دا دعا کوله [٢] اللَّهُمَّ إِنِّي..الخ، اې الله! جل جلاله زه ستا پناه غوارم، د لوږې څخه، [٣] چې هغه بدترين هم خواب دی، [٤] او ستا پناه غوارم د خيانت څخه، چې هغه د باطن بدترين خصلت دی، (ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه)

حل اللغات: ① الْجُوعِ: لوږه (داسې لوږه چه معده بالکل خالي شي چه د مرض يا د مرګ سبب ګرځي) ② الضَّجِيعُ: وَهُوَ مَا يُلَازِمُ صَاحِبَهُ فِي الْمَضْجَعِ: چه په ملاسته کښې هم ورسره ملګرې وي هغې ته ضجيع وائي (دالوږه هم د انسان سره هم خواب وي ورپورې لګيدلې وي) ③ الْبِطَانَةُ: أي: الْخَصْلَةُ الْبَاطِنَةُ: باطني صفت، چونکه دَ خيانت تعلق دَ بدن دننه حصې سره دې يعنې زړه سره دې په دې وجه دَ انسان بدترين خصلت اوګرځولې شو.

تسهيلات:

قوله: مِنَ الْجُوعِ:

د اولږې نه پناه د غوښتلو وجه: دَ اولږې نه څخه پناه غوښتلې شوې ده که دَ انسان ظاهری اندامونه کمزورې شو نوانسان دَ يوعبادت اهل نه پاتې کيږی حلانکه دَ انسان دَ پيدا کولو مقصد دَالله تعالی عبادت کول دی

قوله: فَإِنَّهُ بِئْسَ الضَّجِيعُ

دمذکوره جملې مفهوم: يعنې بعض وخت يو څيز انسان پورې لګی اوداسې ورپورې نخلی چه انسان پخليه حيران شی. اولګه هم دغه شان نوې راتلونکې ميلمه دې ترکومې پورې چه ورسره دې دَ هغې پورې تنګول کوی اخوا کيږی نه نودير خراب ملګرې دي

[٢٤٧٠] د ځلورو څيزونو څخه پناه غوښتل

٢٤٧٠-[١٣] (٢) [١] وَعَنْ أَنَسٍ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقُولُ: [٢] اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ وَالْجُذَامِ [٣] وَالْجُنُونِ وَمِنْ سَيِّئِ الْأَسْقَامِ»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] انس رضي الله عنه وايي چې نبي کريم ﷺ به دا دعا کوله [٢] اې الله! جل جلاله زه ستا پناه

---

(١) اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة باب في الاستعاذة (رقم-١٥٤٧) وابن ما جة في كتاب الأطعمة/باب التعوذ من الجوع (رقم-٣٣٥٤)

(٢) اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة باب في الاستعاذة (رقم-١٥٥٤) واحمد في المسند: ١٩٢/٣

Maktaba Tul Ishaat.com

عوارم د برص او جزام څخه. [۳] د ليونتوب څخه او خرابو بيماريو څخه. ابوداؤد. نسائي

حل اللغات ① الْبَرَص: بَيَاضٌ يَحْدُثُ فِي الْأَعْضَاءِ: برګې مرض دي چه په بدن باندې په ځرمن سپين چاپونه پيدا شي، خارښ پرې اولګي اود جوړونو دردونه ورسره پيدا شي ② الْجُذَام: يو مرض دي چه اندامونه ورسره کار پريږدي تردې چه د اندامونو رپيدل او رجيدل شروع شي ③ الْجُنُون: أَيْ زَوَالُ الْعَقْلِ: ليونتوب چه عقل ئې کار نه کوي ④ سَيِّئِ الْأَسْقَامِ: خرابې بيمارۍ. بې علاجه بيمارۍ

تسهيلات:

قوله: اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْبَرَصِ وَالْجُذَامِ:

د حديث خلاصه او مقصد: دَحديث شريف خلاصه داده چه کوم مرض داسې وي چه خلق دَ مريض نه ډډه کوي پخپله مريض چرته په نيک کارباندې قادرنه وي مريض دَ حقوق الله او حقوق العباد په اداکولو باندې قادرنه وي نودَ داسې تباه کونکې مرض نه پناه غوښتل جائز دي بلکه ضروري دي.

[۲٤۷۱] دَخرابواخلاقو څخه پناه

[۱٤] ( ) [۱] وَعَنْ قُطْبَةَ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ الْأَخْلَاقِ [۳] وَالْأَعْمَالِ وَالْأَهْوَاءِ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه [۱] قطبه بن مالك رضي الله عنه وايي چې نبی کريم ﷺ به فرمايل [۲] اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ...الخ، اې الله ﷻ زه ستا پناه غوارم، د خرابو اخلاقو څخه، [۳] د خرابو اعمالو څخه او د خرابوخواهشاتو څخه. ترمذي.

حل اللغات: ① مُنْكَرَاتٍ: دا د منکر جمع ده. الْمُنْكَرُ مَالَا يُعْرَفُ حُسْنُهُ مِنْ جِهَةِ الشَّرْعِ: منکر هغې ته وائې کوم چه شريعت هغه په نيکۍ کښې نه بلکه په بدۍ کښې شميرلې شوې وي ② الْأَخْلَاقِ: الْأَعْمَالُ الْبَاطِنَةُ: د اخلاقونه مراد باطني اعمال دي لکه کينه. بغض او حسد وغيره دَ زړه باطني امراض دي ③ الْأَعْمَالِ: أَيْ: الْأَفْعَالُ الظَّاهِرَةُ: د اعمال نه ظاهري ناکاره اعمال مراد دي ④ الْأَهْوَاءِ: دا د هَوْي جمع ده. خراب خواهشات. د اهل باطل عقائد او نظريات اودَ اهل بدعت بدعات مراددي

تسهيلات:

نوټ: د حديث مطلب آسان دې باقي د ګرانو لغاتو معاني د حل اللغات په عنوان سره واضح شوي دي

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳۵۹۱

[٢٤٧٢] د ځینو اندامو د شر څخه پناه غوښتل

٢٤٧٢-[١٥] (١) ①وَعَنْ شُتَيْرِ بْنِ شَكَلِ بْنِ حُمَيْدٍ عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ②«قُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ عَلِّمْنِي تَعْوِيذًا أَتَعَوَّذُ بِهِ قَالَ: ③قُلِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ سَمْعِي وَشَرِّ بَصَرِي ④وَشَرِّ لِسَانِي وَشَرِّ قَلْبِي وَشَرِّ مَنِيِّي»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه ① شتیر بن شکل بن حمید د خپل پلار (حضرت شکل ﷺ) څخه روایت کوي چې هغه اوویل② چې ما عرض وکړ یا رسول الله ﷺ ماته څه داسې تعویذ (یعنې داسې دعا) وښایه، چې د هغه په ذریعه زه پناه غوارم؟③ نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې دا دعا وایه اې الله ﷻ زه ستا پناه غوارم، د خپل سماعت (آوریدو) د خرابۍ څخه (چې په خپل غوږ سره خرابې خبرې وانه ورم) د خپلې بینائې د خرابۍ څخه (چې په خپلو سترګو سره خراب څیزونه ونه وینم)④ د خپلې ژبې د خرابې څخه (چې د خپلې ژبې څخه خرابې او بې فائدې خبرې اونه باسم) د خپل زړه د خرابۍ څخه (چې زما په زړه کې د خرابې عقیدې او حسد او کینې وغیره تیریدنه نه وې او په خراب کار کې پخه اراده ونه کړم) او د خپلې منی د خرابۍ څخه. چې هغه په حرام کارۍ کې صرف نشي، او زه د شهوت په نظر سره څوك ونه وینم. ابوداؤد، ترمذي، نسائي.

حل اللغات: ① تَعْوِيذًا: أَيْ: مَا يَتَعَوَّذُ بِهِ: څه سره چه پناه غوښتلې شی هغې ته تعویذ وائی (دلته مراد دا ستعذې او د پناه دعا ده). ② شَرِّ سَمْعِي: سمع غوږ ته وائی مطلب دا چه زه داسې خبرې وانورم په کوم سره چه الله تعالی ناراض شی ③ شَرِّ بَصَرِي: بصر نظر ته وائی، یعنی زه داسې څیز ته اونه ګورم د کوم په کتوسره چه الله تعالی ناراضه کیږی ④ شَرِّ لِسَانِي: د ژبې شر، یعنی په ژبه مې داسې خبره رانه شی کومه چه فضول وی ⑤ شَرِّ قَلْبِي: د زړه شر، یعنی داسې عقائد خپل نه کړم په کوم سره چه ته ناراض کیږې ⑥ شَرِّ مَنِيِّي: د منی د اوبو شر، یعنی چه منی غالب راشی او په زنا کښې مې واقع کړی

تسهیلات:

نوټ: د دې حدیث تشریح د تسهیلات په شرح کښې په بل ځائې ذکرشوې ده

[٢٤٧٣] د اته څیزونو څخه پناه غوښتل

٢٤٧٣-[١٦] (٢) ①وَعَنْ أَبِي الْيَسَرِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَدْعُو ②اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَدْمِ، ③وَأَعُوذُ مِنَ التَّرَدِّي، ④ وَمِنَ الْغَرَقِ وَالْحَرَقِ وَالْهَرَمِ، ⑤وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ يَتَخَبَّطَنِي الشَّيْطَانُ عِنْدَ الْمَوْتِ، ⑥وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أَمُوتَ فِي سَبِيلِكَ مُدْبِرًا، ⑦ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أَمُوتَ لَدِيغًا»). ⑧رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَزَادَ فِي رِوَايَةٍ أُخْرَى وَالْغَمِّ.

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة.باب فی الاستعاذة (رقم-١٥٥١) واحمد فی المسند: ٤٢٩/٣
(٢) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة.باب فی الاستعاذة (رقم-١٥٥٢) واحمد فی المسند: ٤٢٦/٣

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه [١] ابو اليسر ﷺ ويلي دي چې نبي كريم ﷺ به دا دعا غوښتله [٢] اې الله ﷻ زه ستا پناه غواړم د مكان د غورځيدو څخه (يعني يو مكان يا ديوال په ما راونه لويږي، چې د هغه په وجه زه هلاك شم) [٣] او ستا پناه غواړم د يو اوچت ځاى د لويدو څخه، د ډوبيدو څخه، د سوزيدو څخه، د زيات بوډاتوب څخه، [٥] او ستا پناه غواړم د دې خبرې څخه، چې د مرګ په وخت شيطان ما حواس باخته كړي (يعني په وسوسو پيدا كولو سره زما دين تباه كړي) [٦] ستا پناه غواړم، د دې خبرې څخه، چې ستا په لار كې شا ګرځولو سره (يعني په جهاد كې د كفارو په مقابله كې تښتيدو سره) مړ شم، [٧] او ستا پناه غواړم، د دې خبرې څخه چې مار، لړم او د نورو زهرجنو ځناورو خوړلو سره مړ شم، [٨] ابوداؤد، نسائي، د نسائي په يوه روايت كې وَالْغَمِّ هم ليكلى دى (يعني د غم څخه ستا پناه غواړم)

حل اللغات: ① الْهَدْمِ: وَهُوَ سُقُوطُ الْبِنَاءِ: آبادى ديوال وغيره راغورزيدو ته وائى. ② التَّرَدِّي: أَيِ: السُّقُوطِ مِنْ مَكَانٍ عَالٍ: دَ اوچت ځائې نه دَ راغورزيدو په معنى كښې دې لكه د غر نه. ③ الْغَرَقِ: أَيِ فِي الْمَاءِ: په اوبو كښې غرقيدل. ④ الْحَرَقِ: أَيْ: بِالنَّارِ: په اوركښې سوزيدو ته حرق وائى. ⑤ الْهَرَمِ: أَيْ: كِبَرِ السِّنِّ: بوډاتوب، چه د زيات عمر په وجه ئې عقل او حواس كمزورې شى. ⑥ يَتَخَبَّطَنِي: أَيِ إِفْسَادُ الْعَقْلِ وَالدِّينِ: يعنى شيطان په خپلو اغوا كولو سره زما عقل كښې فساد پيدا كړى او خبطى اوليوني رانه جوړنه كړى. ⑦ مُدْبِرًا: په شا تختيدل (په ميدان جنګ كښې دَ شرعى عذر نه بغير دشمن نه تختيدل). ⑧ لَدِيغًا: فعيل په معنى د مفعول سره يعنى چيچلې شوې (د زهريله حيواناتو يعنى د لړم، مار وغيره د چيچلو دپاره لديغ لفظ استعماليږى).

تسهيلات: **نوټ**: د حديث مطلب آسان دې باقى د ګرانو لغاتو معانى د حل اللغات په عنوان سره واضح شوى دى.

[٢٤٧٤] دَ طمع څخه دَپناه غوښتلو حكم

٢٤٧٤ - [١٧] (١) [١] وَعَنْ مُعَاذٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] «اسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ طَمَعٍ يَهْدِي إِلَى طَبَعٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ.

ترجمه [١] حضرت معاذ ﷺ د نبى كريم ﷺ څخه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] په الله سره پناه غواړي د هغه طمع څخه چې انسان طبع (په زړه مهر) ته رسوي احمد، بيهقي.

حل اللغات: ① طَمَعٍ: وَهُوَ نُزُوعُ النَّفْسِ إِلَى الشَّيْءِ شَهْوَةً لَهُ: يو خيز طرف ته دخواهش په وجه مائل كيدلو ته طمع وائى. ② يَهْدِي: أَيْ: يُوصِلُ: رسوى، نزدې كوى، ③ طَبَعٍ: أَيْ: عَيْبٍ: طبع عيب وائى، دَ اوسپنې زنګ ته هم وائى، خيرى وغيره ته هم وائى او مهر ته هم وائى، بلكه ټولو ګناهونو دپاره استعماليږى.

---
(١) اخرجه احمد فى المسند: ٢٣٢/٥

تسهيلات:

قوله: طمع:

چا څخه د طمعې سالکو تباه کاري: دَ مخلوق دَ طرف نه دَ مال او زر اميدلرل طمع ده چه دی خوك چه اورسوی او لاز هواره کړی

ابن ملك دَ دې عبارت تفسير داسې کوی "يعنی من الحرص الذی يجر صاحبه الی الذل والعيب"
دَ انسانی روح دپاره طمع اولالچ داسې ناسور دې چه په مزه مزه دَ انسان دَ دين په تولو شعبوکښې په مختلف طريقو سره لکه دَ زهرو په شان ورننوځی هم په دې وجه ونيلی شوی دی چه طمع دَدين دَفساد جرړه ده لکه چه تقویٰ دَدين دَاصلاح جرړه ده حضرت عمرفاروق رضي الله عنه دَحضرت کعب رضي الله عنه نه پوښتنه اوکړه چه "فما اخرج العلم من قلوب العلماء قال الطمع"

[٢٤٧٥] د سپوږمۍ د شر څخه پناه غوښتل

[١٨] () [١] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ فَقَالَ: [٢] يَا عَائِشَةُ اسْتَعِيذِي بِاللَّهِ مِنْ شَرِّ هَذَا [٣] فَإِنَّ هَذَا هُوَ الْغَاسِقُ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] ام المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې نبی کريم ﷺ يو خل سپوږمۍ ته وکتل او وې فرمايل [٢] چې اې عائشې! (رضي الله عنها) د الله ﷻ څخه پناه غواړه، د دې سپوږمۍ د شر څخه، [٣] ځکه چې دا تياره خورونکي ده، هر کله چې بې نوره شي، ترمذي

حل اللغات: ① الْغَاسِقُ: د غَسَقَ يَغْسِقُ نه، إِذَا أَظْلَمَ: کله چه تياره خوره شی. هُوَ اللَّيْلُ إِذَا غَابَ الشَّفَقُ: د مابنام په وخت کښې د نمر سوروالی چه ختم شی اوشپه خوره شی هغې ته غاسق وائی

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّ هَذَا هُوَ الْغَاسِقُ:

د غاسق اذا وقب تفسير: په دې حديث کښې دَ قرآن کريم دَ يوآيت طرف ته اشاره ده چه په سورت فلق کښې داسې دې. ﴿ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ﴾ مطلب دا چه کله سپوږمۍ بې نوره شی اوتندرتی اونيسی نو تندر نيولوسره دَ آفتونو اومصيبتونو دَنازليدو طرف ته اشاره وی. لهذا دَ سپوږمۍ تندر نيولونه هم پناه غوښتل پکاردی اوسوچ کول پکاردی چه دا دومره لويه کره چه کله په مصيبت کښې راتلوسره بې نوره شوې ده نوچرته زما زړه هم دَ ايمان دَ نور نه بې نوره نه شی دې نه پناه غوښتل پکاردی. دَدې حديث نه معلوميږی چه غاسق اذا وقب نه مراد تندرنيولې شوې سپوږمۍ ده سره دَدې چه اکثر مفسرين دا جمله دَ شپې خوريدو او تياره کيدو باندې حمل کوی

[١]) اخرجه احمد في المسند : ٢١٥/١ والترمذی في السنن رقم الحديث ٣٣٦٦

Maktaba Tul Ishaat.com

[۲٤۷٦] د اووه معبودانو د عبادت کونکي قصه

۲٤۷۶–[۱۹] ( )[۱] وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: «قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِأَبِي:[۲] يَا حُصَيْنُ كَمْ تَعْبُدُ إِلَهًا؟[۳] قَالَ أَبِي: سَبْعَةً سِتًّا فِي الْأَرْضِ وَوَاحِدًا فِي السَّمَاءِ،[۴] فَأَيُّهُمْ تَعُدُّ لِرَغْبَتِكَ وَرَهْبَتِكَ؟[۵] قَالَ: الَّذِي فِي السَّمَاءِ[۶] قَالَ يَا حُصَيْنُ: أَمَا إِنَّكَ لَوْ أَسْلَمْتَ عَلَّمْتُكَ كَلِمَتَيْنِ تَنْفَعَانِكَ،

ترجمه [۱] عمران ابن حصین ﷺ وايي چې نبی کریم ﷺ زما پلار (حصین ﷺ) ته چې تر هغه وقته لا د ایمان او اسلام په دولت برخه مند نه وو، وفرمایل[۲] چې اې حصین! نن صبا ته د څومره معبودانو بندګي کوي؟[۳] زما پلار عرض وکړو چې د اوو معبودانو چې په هغه کې شپږ خو په زمکه کې دي (او د هغوئ نومونه دا دي ① یغوث ② یعوق ③ نسر ④ لات ⑤ منات ⑥ عزّی او یو په آسمان کې دی (چې د ټولو خالق دی)[۴] بیا نبی کریم ﷺ وفرمایل چې په هغوئ کې کوم یو معبود ستا د امید او خوف مرجع ده؟ [یعنی په هغوئ کې د کوم معبود څخه ته یر یږي او د هغه څخه د خیر امید لري؟][۵] هغه عرض وکړی کوم چې په آسمان کې دی.[۶] نبی کریم ﷺ وفرمایل چې اې حصین! پوهه شه، که ته مسلمان شوی وې، نو ما به تاته دوه کلمې ښودلی وې، چې تاته به یې په دنیا او آخرت کې فائدې رسولی.

حل اللغات: ① لِرَغْبَتِكَ: أي حِينَ تَرْجُو: رغبت د زړه میلان او شوق ته وائي ② رَهْبَتِكَ: أي حِينَ تَخَافُ: د زړه ویره، (یعنی چه ستا څه امید وی یا څه حاجت وی نو ته د امید او ویرې په حالت کښې چاته زاری کوې؟)

تسهیلات: **قوله**: وَوَاحِدًا فِي السَّمَاءِ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:

① دا خبره حضرت حصین ﷺ د خپل ګمان مطابق کړې وه ځکه چه هغه ته د ایمان او اسلام دولت هغه وخت نه وو نصیب شوې، هغوی ته څه معلومه وه چه د الله تعالی دپاره هیڅ یو ځائې او مقام نه دې مقرر. هغه خو د زمکې او آسمان په یوه یوه ذره باندې حاوی او محیط دې. دهغه ذات هیڅ یو مقام او خاص ځائې سره مختص نه دې،

② دهغوی ددې خبرې مفهوم دا ووچه هغه الله دکوم چه په آسمان کښې فرښتې عبادت کوی

[۱] قَالَ: فَلَمَّا أَسْلَمَ حُصَيْنٌ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ[۲] عَلِّمْنِي الْكَلِمَتَيْنِ اللَّتَيْنِ وَعَدْتَنِي[۳] فَقَالَ: اللَّهُمَّ أَلْهِمْنِي رُشْدِي[۴] وَأَعِذْنِي مِنْ شَرِّ نَفْسِي»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه [۱] عمران وايي ﷺ کوم وخت چې زما پلار، حصین ﷺ مسلمان شو، نو هغه عرض وکړی چې یا رسول الله! ﷺ[۲] اوس ماته هغه دوه کلمې راوښایه، چې تا د هغوئ وعده کړې وه.[۳] نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې دا کلمات وایه اللَّهُمَّ أَلْهِمْنِي رُشْدِي

) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ۳٤۸۳

وَأَعِذْنِيْ مِنْ شَرِّ نَفْسِيْ، اې الله ﷻ زما په زړه کې زما هدايت واچوې، [٢] او زما د نفس د شر څخه ما ته پناه راکړې، ترمذي

حل اللغات ① أَلْهِمْنِيْ أي وَفِّقْنِيْ هدايت راته واچوې په زړه کښې يعنى توفيق راکړې. ② رُشْدِيْ: وَهُوَ الْاِهْتِدَاءُ إِلَى الصَّلَاحِ هدايت يعنى د نيکۍ سمه لار

[٢٤٧٧] دَ ماشوما نو په غاړه کښې دَتعويذ اچولو ثبوت

٢٤٧٧-[٢٠] ( )[١] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ - أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] «إِذَا فَزِعَ أَحَدُكُمْ فِي النَّوْمِ فَلْيَقُلْ: [٣] أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ [٤] وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ [٥] وَأَنْ يَحْضُرُونِ فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ». [٦] وَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَمْرٍو يُعَلِّمُهَا مَنْ بَلَغَ مِنْ وَلَدِهِ [٧] وَمَنْ لَمْ يَبْلُغْ مِنْهُمْ كَتَبَهَا فِي صَكٍّ [٨] ثُمَّ عَلَّقَهَا فِي عُنُقِهِ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَهَذَا لَفْظُهُ.

ترجمه [١] عمرو بن شعيب رحمه الله د خپل پلار (شعيب رحمه الله) څخه او هغه د خپل نيکه حضرت عبد الله رضي الله عنه څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هر کله چې په تاسو کې يو سړی په خوب کې ير يږي، نو هغه ته پکار دی، چې دا کلمات وايي [٣] أَعُوْذُ ...الخ، زه د الله ﷻ د پوره کلماتو په ذريعه پناه غوارم، د هغه د غضب څخه، د هغه د عذاب څخه، د هغه د بنده ګانو د شر څخه، [٤] د شيطان د وسوسو څخه، [٥] او د دې خبرې څخه چې شيطان ما ته راشي، نو د دې کلماتو ويونکي ته شيطان هيڅ کله ضرر نشي رسولی. [٦] عبد الله بن عمرو رضي الله عنه به دا کلمات خپل اولاد کې هر هغه سړي ته ښودل چې بالغ به وو. [٧] او د هغه په اولاد کې چې به نابالغ وو، دا کلمات به يې د کاغذ په ټکړه ليکل [٨] بيا به يې د هغه په څټ کې اچول، دا روايت ابو داؤد او ترمذي روايت کړی دی. ليکن الفاظ د ترمذي دي

حل اللغات: ① فَزِعَ: أي خَافَ: اوير يږی، ② عِقَابِهِ: أي عَذَابِهِ: دهغه دعذاب نه. ③ هَمَزَاتِ: أي وَسَاوِسِهِمْ: وسوسې د شيطان. ④ يَحْضُرُوْنَ: چه را حاضريږی (يعنى زما په مونځ، ذکر، دعا وغيره کښې خلل اچوی، ⑤ صَكٍّ: أي كِتَابٍ: د کاغذ ټکړه. ⑥ عَلَّقَهَا: راژوړندولو به ئې دا کاغذ

تسهيلات: قوله: فِيْ صَكٍّ:

په غاړه کښې د تعويذ اچولو حکم: يعنى دَ کاغذ په ټکړه باندې به ئې ليکلو صك په اصل کښې چك وو دکاغذ ټکړې ته وائی يعنى حضرت عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنهما به دا کلمات خپلو هغه بچوته ليکلوسره ورکولو کوم ماشومان چه به لوئی وو او دَ يادولو قابل به وو ليکن چه کوم ماشومان واړه وو يادولې به ئې نه شو نوحضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه به داکلمات په کاغذ باندې ليکلو سره دَهغوی په غاړه کښې اچول دَدې نه معلومه شوه

[١] اخرجه ابوداود فی كتاب الطب/باب كيف الرقى (رقم-٣٨٩٣) والترمذى فى السنن رقم الحديث ٣٥٢٨ واحمد فى المسند: ١٨١/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

چه په غاړه کښې تعويذ زوړندول منع نه دی اودا حديث په جواز باندې واضح دليل دې ملاعلی قاری رحمه الله "في عنقه، اي في رقبة ولده وهو هذا الاصل في تعليق التعويذات التي فيها اسماء الله تعالى"

د تعويذاتو په باره کښې راجح قول: په تعويذاتو کښې اګرچه دَ علماؤ اختلافي اقوال شته ليکن راجح قول دادې چه کوم تعويذ په جادو کوډو او غير الله نه استمداد او شرکيه کلماتو باندې مشتمل وی يا په مبهم کلماتو باندې مشتمل وی يا دَ هډوکونه هار جوړکړی غاړه کښې واچوی اودَ منتر اوجنتر دَ قسمونونه وی نودَ هغې استعمالول حرام دی اوکوم تعويذونه چه دَ قرآن اوحديث په دعاګانو باندې مشتمل وی نوهغه جائز دی باقی دا نن صبا چه خلقودَجائز تعويذاتوکوم کاروبارشروع کړې دې نواګرچه دَجائز تعويذعمل دَ طبيب اوډاکټر دَعلاج په شان يو کوشش دې په دې باندې پيسې اخستل هم دَ ډاکټر دَعلاج په شان دې هيڅوك دې ته حرام نه شی وئيلې ليکن دا کاروبار جوړول او دَ پيشې په توګه باندې استعمالول مناسب نه دی تجربه ګواه ده چه دَدې انجام ښه نه دې راوتلې هسې هم عام خلق داسې عالم يا پير ډير سپك ګڼړی که هغه دَ تعويذونو دَ وجې نه هرڅومره مالدار ولې نه وی بعض حضراتو سره فن هم کامل نه وی صرف دَ پيسو راټولو دَپاره مخلوق خدا په قسم قسم بهانو سره راګيروی. ﴿اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ﴾

[٢٤٧٨] داسې دعا چه جنت پخپله سفارش اوکړی

٢٤٧٨ — [٢١] (١) ① وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② مَنْ سَأَلَ اللّٰهَ الْجَنَّةَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ③ قَالَتِ الْجَنَّةُ: اللّٰهُمَّ أَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ ④ وَمَنِ اسْتَجَارَ مِنَ النَّارِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ⑤ قَالَتِ النَّارُ: اللّٰهُمَّ أَجِرْهُ مِنَ النَّارِ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه ① انس رضی الله عنه راوي دی چې رسول الله صلي الله عليه و سلم فرمائيلی دی ② چه کوم سړی چې د الله تعالی څخه دري خله جنت وغواړي يعنی دري خله دادعا وکړي اَللّٰهُمَّ أَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ. اې الله تعالی ما په جنت کې داخل کړی، يا په کومه بله ژبه په پښتو وغيره کې په هم دي مفهوم او مضمون دري خله اووائي، ③ نو جنت وايي چې اې الله! تعالی ته دی په جنت کې داخل کړي. ④ او کوم سړی چې دري خله د اور څخه پناه غواړي، يعنی دري خله داسې اووائي اَللّٰهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ، ای الله! تعالی ما د اور څخه محفوظ کړي، يا دا مفهوم او مضمون په کومه ژبه کې هم دري خله اداء کړي، ⑤ نو اور وايي چې اې الله! تعالی ته دا سړی د اور څخه محفوظ کړي (ترمذي، نسائي)

حل اللغات: ① اِسْتَجَارَ: أي: اِسْتَحْفَظَ: پناه او حفاظت غوښتل

(١) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ٢٥٧٢ والنسائی فی کتاب الاستعاذة/باب الاستعاذة من حر النار (رقم-٥٥٢١) واحمد في المسند:٢٠٨/٣

تسهيلات:

قوله: مَنْ سَأَلَ اللّٰهَ الْجَنَّةَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ:

د ثلاث په مصداق کښې دوه اقوال:

① درې ځل دا دعا کوی

② په درې وختونو کښی دې وائی او هغه درې وختونه دا دی

د درې وختونو په مصداق کښې دوه اقوال: ① (الف) د تصديق په وخت کښې.

(ب) د اقرار په وخت کښې، (ج) د عمل په وخت کښې

② (الف) د طاعت په وخت کښې. (ب) د معصيت د انتهاء په وخت کښې (ج) د مصيبت په وخت کښې خود دعا په وخت کښې اخلاص، تضرع، عجز، لجاجت او توجه هم ضروری دی

قوله: قَالَتِ الْجَنَّةُ:

د مذكوره قول په مفهوم کښې درې احتمالات:

① جنت بزبان حال دا وائی.

② جنت بزبان قال وائی.

③ دا د جنت کلام نه دې بلکه د اهل جنت کلام دې.

قوله: اللّٰهُمَّ أَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ:

د دخول په مفهوم کښې دوه اقوال: ① د دخول څخه دخولِ اولی مراد دې

② د دخول څخه مطلقا دخول مراد دې.

قوله: اللّٰهُمَّ أَجِرْهُ مِنَ النَّارِ:

د اجره په مفهوم کښې دوه احتمالات: ① دخول نار نه مطلقا محفوظ کول مراد دی

② دخول ابدی نه محفوظ ساتل مراد دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٤٧٩] دَسحر نه دَبچ کیدو دعا

٢٤٧٩–[٢٢] (¹) [١] عَنِ الْقَعْقَاعِ أَنَّ كَعْبَ الْأَحْبَارِ قَالَ: [٢] لَوْلَا كَلِمَاتٌ أَقُولُهُنَّ لَجَعَلَتْنِي يَهُودُ حِمَارًا. [٣] فَقِيلَ لَهُ: مَا هُنَّ قَالَ: [٤] أَعُوذُ بِوَجْهِ اللّٰهِ الْعَظِيمِ الَّذِي لَيْسَ شَيْءٌ أَعْظَمَ مِنْهُ [٥] وَبِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ الَّتِي لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلَا فَاجِرٌ [٦] وَبِأَسْمَاءِ اللّٰهِ الْحُسْنَى مَا عَلِمْتُ مِنْهَا وَمَا لَمْ أَعْلَمْ [٧] مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَذَرَأَ وَبَرَأَ). رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه [١] قعقاع وایي چې حضرت کعب احبار ﷺ فرمايل [٢] چې که ما هغه کلمات نه ویلاي نو يهودو به زه خر جوړ کړی وم. [٣] د هغه څخه پوښتنه وشوه هغه کوم کلمات دي؟

---

¹) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الشعر باب ما يؤمر به من التعوذ (رقم-١٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه وړم بل چې هغه دا دي أَعُوذُ بِوَجْهِ اللهِ الْعَظِيمِ الَّذِي لَيْسَ شَيْءٌ أَعْظَمُ مِنْهُ وَبِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ الَّتِي لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلَا فَاجِرٌ وَبِأَسْمَاءِ اللهِ الْحُسْنَى مَا عَلِمْتُ مِنْهَا وَمَا لَمْ أَعْلَمْ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَذَرَأَ وَبَرَأَ ز؟ پناه غوارم. د الله ﷻ د ذات په ذريعه چې ډير لوی دی. هغه الله ﷻ چې هيڅ څيز د هغه څخه لوی نشته. او د هغه د کاملو کلماتو په ذريعه چې د هغه څخه نه څوك نيك تجاوز کوي. او نه څوك بد. [٦] د الله ﷻ د نومونو په ذريعه چې پاك او نيك دی. په هغې نومونو سره چې څه زه يې پيژنم او چې زه يې نه پيژنم. [٧] د هغه څيز د شر څخه چې هغه پيدا کړل او برابر يې کړل يعني متناسب الاعضاء يې جوړ کړل. (مالك).

حل اللغات: ① بِوَجْهِ اللهِ: أَيْ ذَاتِهِ: د وَجْهُ نه تعبير کيږی په ذات دالله تعالى سره. ② لَا يُجَاوِزُهُنَّ: تجاوز نه کوی يعنی نه تيريږی دهغې نه. ③ بَرٌّ: نيک، مسلمان. ④ فَاجِرٌ: گناهگار. کافر. ⑤ ذَرَأَ: أَيْ بَثَّ وَنَشَرَ: خواره ئې کړل. ⑥ بَرَأَ: أَيْ أَوْجَدَ مُبَرَّأً: پوره ئې پيدا کړل. هر اندام ئې په مناسب اندازه برابر کړل. هيڅ لاندې باندې پکښې نشته

تسهيلات: قوله: عَنِ الْقَعْقَاعِ أَنَّ كَعْبَ الْأَحْبَارِ قَالَ:

د حديث پس منظر: حضرت کعب احبار د يهودو د لويو علماؤ نه وو د حضور پاك زمانه ئې ليدلې ده ليکن نه مسلمان شو اونه ئې حضوراکرم اوليدلو روستو د حضرت عمر ﷺ په زمانه کښې مسلمان شو د هغوی بيان دې چه کله مسلمان شو نو يهود زما مخالف شو په ما باندې قسم قسم جادو اوکړو. که چرې ما دغه مذکوره کلمات نه لوستلې نو نيزدې وه چه يهوديانو زه د خپل جادو په ذريعه خرجوړ کړې ووم يعنی په ربنتياؤ به خر جوړيدم يا د خر په شان مسلوب العقل بې وقوف به جوړيدم خود دغه کلماتو په وجه سره زه محفوظ پاتې شوم تپوس کونکی پوښتنه اوکړه هغه کلمات کوم دی نو هغوی ورا وخودل چه پورته په حديث کښې دی.

قوله: لَا يُجَاوِزُهُنَّ:

د مذکوره جملې مفهوم او مطلب: د کلمات تامه نه مراد قرآن عظيم هغه کلام عظيم دې چه د دې د احکامو نه نه نيك سړې بهر کيدې شی کوم چه مسلمان وی اونه لوئی سړې بهرتلې شی کوم چه کافر دې او په قرآن کښې دوه قسمه احکام دی يوقسم وعد اوبل قسم وعيد دی لهذا د "بر" او "فاجر" نه به مؤمن اوکافر مراد اخستې شی د دې جملې مطلب دادې چه قرآن عظيم په مسلمان اوکافر دواړو باندې محيط دې د يو د پاره زيرې دې او د بل د پاره ويرونکې دې

قوله: وَبَرَأَ: او بغير د څه تفاوت نه ئی صحيح کړل يوالله والا په يومجلس کښې د علماؤ د لوستلو د پاره داسې دعا اوخودله اې الله د خپل هر مخلوق د شر نه زما حفاظت اوکړه.

[٢٤٨٠] دهر مانځه څخه روسته مسنون عمل

٢٤٨٠- [٢٣] (١) [١] «وَعَنْ مُسْلِمِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ كَانَ أَبِي يَقُولُ فِي دُبُرِ الصَّلَاةِ [٢] اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ [٣] فَكُنْتُ أَقُولُهُنَّ فَقَالَ: أَيْ بُنَيَّ عَمَّنْ أَخَذْتَ هٰذَا؟ [٤] قُلْتُ: عَنْكَ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقُولُهُنَّ فِي دُبُرِ الصَّلَاةِ» [٥] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ فِي دُبُرِ الصَّلَاةِ [٦] وَرَوَى أَحْمَدُ لَفْظَ الْحَدِيثِ وَعِنْدَهُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ.

ترجمه [١] مسلم بن ابي بكره وايي چې زما پلار به په هر مانځه، يا دفرض مانځه، څخه روسته دا دعا غوښتله اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ. [٢] اي الله ﷻ زه ستا پناه غوارم د كفر څخه، د فقر څخه، يعني د قلبي فقر د فتني څخه، چې بې صبري او كفران د نعمت وغيره دي، او د قبر د عذاب څخه، [٣] نو زه هم دا كلمات وايم. يوه ورځ زما پلار ماته اوويل چې اې زما خويه! دا كلمات تا د چا څخه زده كړل؟ [٤] ما ورته اوويل چې ستا څخه. نو هغه وفرمايل نبى كريم ﷺ به د لمنځونو څخه روسته دا كلمات ويل. دا روايت نسائي او ترمذي كړى دى، [٥] ليكن ترمذي د دبر الصلوٰة نه دي ذكر كړي. [٦] او امام احمد په خپل مسند كې دا حديث ټول ذكر كړيدي او لفظ دبر كل صلوٰة يې ذكر كړى دى

حل اللغات: ① دُبُرِ الصَّلَاةِ: د مونځ نه پس، ددې نه فرض مونځ يا عام مونځ مراد دي،

[٢٤٨١] دقرض او كفر دواړو نه پناه غوارنې

٢٤٨١- [٢٤] (٢) [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ يَقُولُ: [٢] «أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْكُفْرِ وَالدَّيْنِ [٣] فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَتَعْدِلُ الْكُفْرَ بِالدَّيْنِ قَالَ: نَعَمْ»). [٤] وَفِي رِوَايَةٍ: اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ [٥] قَالَ رَجُلٌ: وَيَعْدِلَانِ؟ قَالَ: نَعَمْ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] ابو سعيد ؓ وايي چې ما د نبى كريم ﷺ څخه دا كلمات اوريدلي دي أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْكُفْرِ وَالدَّيْنِ [٢] يعنى زه د الله ﷻ پناه غوارم، د كفر او د قرض څخه. [٣] يو سري (چې دي اوريدو سره) عرض وكړو چې يا رسول الله! ﷺ آيا ته كفر د قرض سره برابر كوي؟ نبى كريم ﷺ وفرمايل چې هو. [٤] او په يوه روايت كې دا دعا منقول ده اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ، يعنى اي الله! ﷻ زه ستا پناه غوارم. د كفر او د فقر څخه (د دي اوريدو سره) يو سري عرض وكړ چې آيا كفر او فقر دواړه برابريدى شي؟ نبى كريم ﷺ وفرمايل هو (نسايي)

¹) اخرجه ابو داود فى كتاب الأدب/باب ما يقول إذا أصبح (رقم- ٥٠٩٠) والنسائى فى كتاب الاستعاذة/باب الاستعاذة من شر الكبر (رقم-٥٤٩٥) واحمد فى المسند:٥/٣٦

²) اخرجه النسائي فى كتاب الاستعاذة/باب الاستعاذة من شر الكفر (رقم -٥٤٨٥) واحمد فى المسند: ٥/٣٦

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الْكُفْرِ وَالدَّيْنِ:

په حديث کښې د کفر او قرض هواړو د برابر گرځولو وجه: کفراوقرض په دې حديث کښې ددې دپاره برابراوگرځول چه دَ قرض دَ وجې نه انسان دروغ وائي مکر دهوکه فريب اودعاري کوي وعده خلافي کوي بار بار وعده کوي او بار بار ئې ماتوي دا ټولې خبرې خودَ منافقانو خصلتونه دي يادَ کفار اشرار خصلتونه دي خکه چه په کوم مسلمان کښې دا راغلل نوهغه به دَ کافرانو اومنافقانو په صف کښې ورځي اودريږي به. کفراوفقر هم برابراوگرځولې شو خکه کادالفقر ان يکون کفرا حديث دې

[۷]بَابُ جَامِعِ الدُّعَاءِ

جامع دعا کاني

خلاصة الباب:

فيه ثلاثة وعشرون حديثاً مشتملة على أربع مسائل ومشتملة على مائة وستة وعشرين أنواع الأدعية الجامعة:

① الكلمات التي دعا بها النبي ﷺ : ۱، ۲، ۳، ۵، ۶، ۷، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۶، ۱۷۔

② الكلمات التي أمر بها النبي ﷺ للاستعاذة: ۴، ۸، ۹، ۱۳، ۱۷، ۱۹، ۲۰۔

③ الكلمات التي دعا بها بعض الأنبياء السابقين: ۱۵۔

④ النهي عن الدعاء على نفسه: ۲۱، ۲۳.

د جامع دعاء مفهوم: جامع دعا هغه ده دکومې الفاظ چه مختصروي اومعنى ژوره او احاطه کونکې وي اى معان كثيرة فى الفاظ يسيرة. دا اضافت دَموصوف دَ خپل صفت طرف ته دې اصل عبارت داسې دې "الدعاء الجامع" [الكاشف، ۵/۲۲۲]

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲۴۸۲] د حضور ﷺ د بخشش دعا

۲۴۸۲- [۱] ()[۱] عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - «عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] أَنَّهُ كَانَ يَدْعُو بِهَذَا الدُّعَاءِ: [۳] اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي وَجَهْلِي، [۴] وَإِسْرَافِي فِي أَمْرِي، [۵] وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، [۶] اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي جِدِّي وَهَزْلِي، [۷] وَخَطَئِي وَعَمْدِي وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي، [۸] اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، [۹] أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»). (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)

---

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الدعوات/باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «اللهم اغفر لي ما قدمت وما أخرت» (رقم-۶۳۹۸) ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب التعوذ من شر ما عمل ومن شر ما لم يعمل (رقم-۷۰-(۲۷۱۹))واحمد في المسند ۴/۴۱۷

ترجمه [۱] ابوموسی اشعري رضي الله عنه وايي [۲] چې نبی کريم ﷺ به دا دعا غوښتله اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ خَطِيْئَتِيْ وَجَهْلِيْ وَإِسْرَافِيْ فِيْ أَمْرِيْ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهٖ مِنِّيْ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ جِدِّيْ وَهَزْلِيْ وَخَطَايَ وَعَمْدِيْ وَكُلُّ ذٰلِكَ عِنْدِيْ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهٖ مِنِّيْ أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ وَأَنْتَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، [۳] ای الله! ﷻ زما خطا معاف کړي، زما ناداني (يعني کوم څيزونه چې پيژندل يا په هغه عمل کول واجب وو، او ما هغه ونه پيژندل هغه) معاف کړي، [۴] په کارونو کې زما زياتوالی او [۵] د هغه ګناه څخه چې د هغه علم زما څخه زيات تاته دی، [۶] ای الله! ﷻ زما هغه خراب کار معاف کړي چې ما قصداً کړی دی او هغه کار چې ما په خندا، ټوقو او ټقالو کې کړی دی، [۷] او هغه کار چې ما په خطاء يا قصداً کړی وي، او دا ټولې خبرې په ما کې شته، [۸] ای الله! ﷻ زما هغه ګناوې وبخښې چې ما مخکې کړی دی او هغه ګناه چې بالفرض والتقدير زما څخه روسته اوشي، او هغه ګناهونه چې پټ راڅخه شوی وي، او هغه ګناه چې راڅخه ښکاره شوي وي، او هغه ګناه چې د هغه علم زما څخه زيات تاته دی، [۹] ته چې څوك غواړي، په خپل توفيق سره د خپل رحمت طرف ته يې رامخکې کونکی يې، او ته چې څوك غواړي د خپل رحمت څخه يې وروسته غورزونکی يې، او ته په هر څيز قادر يې (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① جِدِّيْ: قصداً څه د خطا خبره يا کارکول. ② هَزْلِيْ: وَهُوَ الْمِزَاحُ: په ټوقو کښې خبره کول. ③ مَا قَدَّمْتُ: مخکينی ګناهونه مراد دی. ④ مَا أَخَّرْتُ: هغه ګناهونه کوم چه به ددې نه روسته کوم ⑤ مَا أَسْرَرْتُ: أَيْ أَخْفَيْتُ: هغه ګناهونه کوم چه ما پټ کړی دی. ⑥ مَا أَعْلَنْتُ: أَيْ أَظْهَرْتُ: هغه ګناهونه کوم چه ما ښکاره کړی دی. ⑦ الْمُقَدِّمُ: أَيْ أَنْتَ تُقَدِّمُ: ته مخکښې کونکې نې (رحمت ته په توفيق خپل سره چاله چه اوغواړې). ⑧ الْمُؤَخِّرُ: ته روسته کونکې نې (د رحمت نه چاله چه اوغواړې)

تسهيلات:

قوله: وَكُلُّ ذٰلِكَ عِنْدِيْ: حضورپاك دَ تواضع په توګه دَعجز اوانکسارئی په توګه اوفرمائيل چه دا ټول څيزونه په ماکښې دی يا حضورپاك دَامت دَتعليم دَپاره داسې اوفرمائيل څکه چه په هر امتی کښې دَدې ګناهونو نه څه نه څه وی

[۲۴۸۳] د دنيا او آخرت د اصلاح دعا

۲۴۸۳- [۲] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُوْلُ: [۲] «اللّٰهُمَّ أَصْلِحْ لِيْ دِيْنِيَ الَّذِيْ هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِيْ، [۳] وَأَصْلِحْ لِيْ دُنْيَايَ الَّتِيْ فِيْهَا مَعَاشِيْ، [۴] وَأَصْلِحْ لِيْ آخِرَتِي الَّتِيْ فِيْهَا مَعَادِيْ، [۵] وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِيْ فِيْ كُلِّ خَيْرٍ، [۶] وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِيْ مِنْ كُلِّ شَرٍّ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه وايي چې نبی کريم ﷺ به دا دعا کوله اللّٰهُمَّ أَصْلِحْ لِيْ دِيْنِيَ الَّذِيْ هُوَ

¹) اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب التعوذ من شر ما عمل ومن شر ما لم يعمل (رقم-۷۱ - (۲۷۲۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

عِصْمَةُ أَمْرِيْ وَأَصْلِحْ لِيْ دُنْيَايَ الَّتِيْ فِيْهَا مَعَاشِيْ وَأَصْلِحْ لِيْ آخِرَتِيْ الَّتِيْ فِيْهَا مَعَادِيْ وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِيْ فِيْ كُلِّ خَيْرٍ وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِيْ مِنْ كُلِّ شَرٍّ. [۲] اى الله ﷻ درست كړي زما دين چې زما د امورو محافظ دى ,يعني د دين په وجه د خان اومال او آبرو حفاظت كيږي. او د آخرت د عذاب څخه نجات حاصليږي. [۳] او درست كړي زما دنيا چې په هغه كې زما ژوند دى. [۴] او درست كړي زما آخرت چې هلته زما ورتلل دى، [۵] زما ژوند په هره نيكى كې د زياتوالى سبب جوړ كړي ,يعني اوږد عمر راكړي، چې ډيري نيكي وكړم، [۶] او زما د پاره مرګ د هري بدى يعني د شر څخه يې د راحت او د آرام سبب جوړ كړي، مسلم

حل اللغات ① عِصْمَةُ: أي الْمَنْعُ وَالْحِفْظُ: بچ كونكې، حفاظت كونكې، ② مَعَاشِي: ژوند زما. ③ مَعَادِي: د عَادَ نه مصدر دې، د واپس كيدو په معنى كښې دې ④ زِيَادَةً: يعنى سبب د زيـ توالى. ⑤ رَاحَةً: يعنى سبب د آرام او راحت

تسهيلات: قوله: وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي:

ددنيا د اصلاح مطلب: ددنيا صحيح والي اواصلاح په هغه رزق سره كيږى كوم چه حلال ذريعې سره اود غيرمشتبه وسائلو په لاره حاصل شوې وى، په داسې رزق سره په ښه طريقه ګذاره كيږى. د اطاعت قوت ورسره حاصليږى، زړه ته د سكون او اطمينان دولت نصيب كيږى اوپه عبادت كښې خلل او خيالات نه تيريږى.

قوله: وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي:

دآخرت د اصلاح مطلب: دآخرت د صحيح والى او اصلاح انحصار په هغه امورو ,نيک عقائد. ښه اعمال او كردار په توفيق ، باندې كيږى كوم چه دعذاب نه دنجات سبب او دهغه جهان د نيک بختئ او خوشحالو پورې د رسيدو ذريعه وى

قوله: وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ:

مرګ دهرشرڅخه د حفاظت ګرځولو مفهوم: ددعا د آخرى الفاظو مطلب دادې چه زما د ژوند خاتمه په كلمه شهادت، ښه عقيدې او توبه ويستلو نه پس وى، چه زما مرګ ددنيا د مشقتونو او مصيبتونو نه د خلاصى اود آخرت د خوشحالو حاصلولو سبب اوګرځى

[۲۴۸۴] د هدايت دعا

۲۴۸۴-[۳] ( ) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-عَنِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ: [۲] «اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدٰى وَالتُّقٰى وَالْعَفَافَ وَالْغِنٰى». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

[۱] اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار /باب التعوذ من شر ما عمل ومن شر ما لم يعمل (رقم-۷۲ - (۲۷۲۱) والترمذى في السنن رقم الحديث ۳۴۸۹ وابن ماجة في كتاب الدعاء /باب دعاء رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-۳۸۳۲) واحمد في المسند: ۴۱۱/۱

ترجمه [١] عبد الله ابن مسعود ﷺ د نبي كريم ﷺ څخه نقل كوي چې نبي كريم ﷺ به دادعا غوښتله اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالتُّقَى وَالْعَفَافَ وَالْغِنَى، [٢] اي الله ﷻ زه ستا څخه غواړم هدايت او تقوى اودحرام او مكروه څخه د نفس حفاظت او (ملبي او ظاهري) استغناء. مسلم

حل اللغات: ① الْهُدَى: أَي الْهِدَايَةُ الْكَامِلَةُ: پوره هدايت. ② التُّقَى: أَي التَّقْوَى: تقوى. ③ الْعَفَافُ: د عَفَّ يَعِفُّ عَفًا نه. أَيْ كَفَّ: بنديدل او حفاظت كول. ④ الْغِنَى: د زړه مستغني كيدل. دخلقو نه طمع نه كول

تسهيلات:

قوله: وَالْغِنَى

د غنى په مفهوم كښې دوه اقوال: ① په غنى سره د ګناهونو څخه حفاظت مراد دي

② د خلقو سره چه كوم څيزونه موجود وى د هغې نه غناء

[٢٤٨٥] د هدايت او صحيح لارې دعا

٢٤٨٥—[٤] ( ) [١] وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] قُلِ اللَّهُمَّ اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي [٣] وَاذْكُرْ بِالْهُدَى هِدَايَتَكَ الطَّرِيقَ [٤] وَبِالسَّدَادِ سَدَادَ السَّهْمِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [١] حضرت علي رضى الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ ماته وفرمايل دا دعا غواړه اللَّهُمَّ اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي، [٢] اي الله ﷻ ماته هدايت وكړي اوپرلارمي برابر كړي، او زما اعمال او افعال راست او درست كولو سره ما سيده كړي [٣] او نبي كريم ﷺ وفرمايل چه، هر كله ته هدايت طلب كوى، نو په لار سيده تلل په تصور كې ساته [٤] او هر كله چې د نيغ والى سوال كوى، نو د غشي د درستى تصور كوه. (مسلم)

حل اللغات: ① اهْدِنِي: هدايت اوكړي ماته (د نيغې لارې د اعمالو توفيق راكړي) ② سَدِّدْنِي: أَي اجْعَلْنِي مُسْتَقِيمًا: په سمه لارمي برابر اوساتي (چه د سمې لارې نه اخوا ديخوا يا په افراط تفريط كښې مبتلا نه شم) ③ السَّهْمِ: غشي

تسهيلات:

قوله: وَاذْكُرْ بِالْهُدَى هِدَايَتَكَ الطَّرِيقَ:

د مذكوره جملې مفهوم: يعنى كله چه د هدايت الفاظ ستاسو په ژبه باندې وى نو په دماغو كښې دا خيال كيدل پكاردى چه د هدايت والا د لارې رهنمائى راته اوكړې هغه لار په كومه چه ستا نيكان بندګان تيرشوى دى

( ) اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار /باب التعوذ من شر ما عمل ومن شر ما لم يعمل (رقم-٧٨ (٢٧٢٥) وابو داود في كتاب الترجل /باب ما جاء في خاتم الحديد (رقم-٤٢٢٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله وَبِالسَّدَادِ وَسَدَادَ السَّهْمِ:

د مذکوره جملې مفهوم: یعنی دلارې الفاظ وی نو په زړه اودماغوکښې داخیال کیدل پکاردی چه داسې نیغ شم لکه څنګه چه غشې نیغ دې خکه چه په غشی کښې معمولی شان کوږوالې وی نوهغه په نښه باندې صحیح نه کینی یعنی پوره هدایت غواړه

[۲۴۸۶]دنوی مسلمان دعا

۲۴۸۷-[۵] ( )[۱]وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ:[۲]«كَانَ الرَّجُلُ إِذَا أَسْلَمَ عَلَّمَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الصَّلَاةَ[۳]ثُمَّ أَمَرَهُ أَنْ يَدْعُوَ بِهَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ:[۴]اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] ابومالك اشجعي د خپل پلار بزرګوار څخه نقل کوي چې هغه اوویل [۲]هر کله چې به یو سړی مسلمان شو، نو نبی کریم ﷺ به ورته د مانځه تعلیم ورکولی. [۳]بیا به یې هغه ته حکم ورکولی چې د دې کلماتو په ذریعه دعا غواړی[۴] اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِيْ وَاهْدِنِيْ وَعَافِنِيْ وَارْزُقْنِيْ، یعنی اې الله! ﷻ زما مغفرت وکړې، زما عیبونه پټ کړې. په ما رحم وکړې. ما هدایت یافته جوړ کړې، او ماته (حلاله) روزي راکړې. مسلم

[۲۴۸۷]آسانه جامع دعا

۲۴۸۸-[۶] ( )[۱]وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «كَانَ أَكْثَرُ دُعَاءِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -[۲] اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] انس ﷺ وايي چې نبی کریم ﷺ به دا دعا په کثرت سره ویله اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ، [۲] ای الله! ﷻ مونږ ته په دنیا کې هم نیکي او خیر (یعني نعمتونه او ښه حالت) راکړې او په آخرت کې (یعنی د مرګ څخه پس) هم (یعني ښه مراتب) راکړې، او مونږ د دوزخ د عذاب څخه وساتې، بخاري، مسلم

حل اللغـات: ① حَسَنَةً: نیکی (د اول حسنة نه مراد نعمتونه اوښه اعمال دی چه الله پرې راضی کیږي، او دویم حسنة نه ددغې نیکو اعمال ثواب دې) ② قِنَا: أي احْفَظْنَا: اوساتې مونږ، حفاظت اوکړې زمونږ

( ) اخرجه مسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب فضل التهليل والتسبيح والدعاء ۳۵ - (۲۶۹۷)

( ) اخرجه البخاري في كتاب الدعوات/باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «ربنا آتنا في الدنيا حسنة» (رقم-۶۳۸۹) ومسلم في كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب فضل الدعاء باللهم آتنا في الدنيا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار (رقم-۲۷ - (۲۶۹۰) والترمذي في السنن رقم الحديث ۳۴۸۷ واحمد في المسند: ۲۰۸/۳

تسهيلات: قوله كَانَ أَكْثَرُ دُعَاءِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

مذكوره دعا په كثرت سره كولو كښې دوه وجوهات: ① نبي عليه السلام به دا دعا اكثر ددې وجې كوله چه دا جامع دعا ده په دې كښې د دين او دنيا ټولې خوشحالئ راخي
② دا چه دا دعا په قرآن كښې نازله شوې ده ددې وجې به ئې دا زياته كوله

قوله: اَللّٰهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً:

د حسنتين په مصداق كښې درې اقوال:

① د اول حسنه نه مراد دنياوي حسنات (استقامت) او د ثاني حسنه نه مراد په هغې باندې مرتب كيدونكې ثواب مراد دې
② حسنه څخه مراد هر هغه څيز چه په نعمت سره موسوم كيږي.
③ د حسنة الدنيا نه مراد اتباع الهدى ده او حسنة الآخرة نه مراد د رفيق اعلى موافقت اختيارول دي

د حديث مفهومي ترجمه ۱ د حديث الباب د دعا حاصل دا دې چه اې زمونږ پالونكيه مونږ ته د مرګ نه مخكښې والاټول نعمتونه عطا كړه لكه صحت، روزي، دنيكو توفيق، په دين باندې استقامت، حسن خاتمه، اعمال او اخلاق حسنه او د آخرت ټول نعمتونه هم راكړه لكه په حساب، او په قبر، حشر كښې آساني او كاميابي، د اعمالو قبوليت، او د جنت ټول نعمتونه راكړه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۳۸۸] دابن عباس په روايت سره يوه جامع مسنون دعا

۲۳۸۸–[۷] ( )[1] ۱ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ «كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَدْعُو يَقُولُ: ۲ رَبِّ أَعِنِّي وَلَا تُعِنْ عَلَيَّ، ۳ وَانْصُرْنِي وَلَا تَنْصُرْ عَلَيَّ، ۴ وَامْكُرْ لِي وَلَا تَمْكُرْ عَلَيَّ، ۵ وَاهْدِنِي وَيَسِّرِ الْهُدَى لِي، ۶ وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ بَغَى عَلَيَّ، ۷ رَبِّ اجْعَلْنِي شَاكِرًا لَكَ، ۸ ذَاكِرًا لَكَ، رَاهِبًا لَكَ، ۹ مِطْوَاعًا لَكَ، مُخْبِتًا إِلَيْكَ، أَوَّاهًا مُنِيبًا، ۱۰ رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِي، ۱۱ وَاغْسِلْ حَوْبَتِي، ۱۲ وَأَجِبْ دَعْوَتِي، وَثَبِّتْ حُجَّتِي ۱۳ وَسَدِّدْ لِسَانِي، وَاهْدِ قَلْبِي، ۱۴ وَاسْلُلْ سَخِيمَةَ صَدْرِي») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه ۱ ابن عباس ﷺ وايي چې نبي كريم ﷺ به دا دعا غوښتله رَبِّ أَعِنِّيْ وَلَا تُعِنْ عَلَيَّ وَانْصُرْنِيْ وَلَا تَنْصُرْ عَلَيَّ وَامْكُرْ لِيْ وَلَا تَمْكُرْ عَلَيَّ وَاهْدِنِيْ وَيَسِّرِ الْهُدٰى لِيْ وَانْصُرْنِيْ عَلٰى مَنْ بَغٰى عَلَيَّ رَبِّ اجْعَلْنِيْ لَكَ شَاكِرًا لَكَ ذَاكِرًا لَكَ رَاهِبًا لَكَ مِطْوَاعًا لَكَ مُخْبِتًا إِلَيْكَ أَوَّاهًا مُنِيْبًا رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِيْ وَاغْسِلْ حَوْبَتِيْ وَأَجِبْ دَعْوَتِيْ وَثَبِّتْ حُجَّتِيْ وَسَدِّدْ لِسَانِيْ وَاهْدِ قَلْبِيْ وَاسْلُلْ سَخِيْمَةَ صَدْرِيْ، ۲ اې الله! ﷻ زما مدد وكړې

[1] اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة،باب ما يقول الرجل إذا سلم (رقم- ۱۵۱۰) والترمذي في وابن ماجة في كتاب الدعاء باب دعاء رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم- ۳۸۳۰) واحمد في المسند: ۲۲۷/۱

Maktaba Tul Ishaat.com

يعني ځېل ذكر. شكر او د ځېل عبادت حسن توفيق ماته راکی، زما خلاف د چا مدد مه وکړی .يعني کوم طاقتونه چې ما ستا د طاعت او عبادت څخه منع کوي، كه شيطان وي. كه نفس او كه كفار هغه به ما غالب مه كړي، ③ماته فتح راكړي. په ما څوك فتحياب مه كړي .يعني ما په كفارو غالب كړي. كفارو ته په ما غلبه مه ورکړي، ④او زما د مدد كولو د پاره د دښمنانو په حق کې زما د پاره مكر (تدبير) وكړي. زما د ضرر تدبير ونه كړي. ⑤ماته سيده لار وښايي، په سيده لار تلل زما د پاره آسانه كړي، ⑥او د هغه چاخلاف زما مدد وكړي چې په ما زياتوالى كوي، ⑦اې زما ربه! ما هر وخت ستا شكر ګذار ⑧په هر حال کې ستا ذكر كونكى، ستا څخه ويرېدونكى، ⑨ستا ډير فرمانبرداري كونكى. ستا مخكې عاجزي كونكى، ستا په بارګاه کې زارى كونكى او رجوع كونكى جوړ كړي. ⑩اې الله ﷻ زما توبه قبوله كړي، ⑪زما ګناهونه ووينځې ، ⑫زما دعا قبوله كړي (په دنيا او آخرت کې د ځپلو دښمنانو په مخكې) زما دليل او حجت ثابت كړي، ⑬زما ژبه رېښتنې او درسته لرې (يعني د دې څخه دې د حق او د رښتيا څخه سوا څه نه وځي) زما زړه ته هدايت وبخښې ⑭او زما د سينې تور والى لرې كړي. (ترمذى، ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات: ①أَعِنِّي: أَيْ وَفِّقْنِي: زما مدد اوكړي (يعني توفيق راكړې ماته دځپل ذكر اوعبادت) ②امْكُرْ لِي: حيله اوتدبير جوړ كړې د كاميابۍ زما. ③بَغَى: أَيْ ظَلَمَنِي: چه ظم او زياتي نې كړي دې په ما باندې ④رَاهِبًا: أَيْ خَائِفًا: ويريدونكې (په پټه اوپه ښكاره په هرحال كښې). ⑤مِطْوَاعًا: په وزن د مِفْعَالٌ د مبالغې صيغه ده، أَيْ كَثِيرُ الطَّوْعِ: ډير اطاعت كونكې، تابعدار، ⑥مُخْبِتًا: دَ اِخبات نه دې. أَيْ خَاضِعًا خَاشِعًا: خشوع خضوع او عاجزى كونكې، ⑦أَوَّاهًا: په وزن د فَعَّالٌ، د أَوَّهَ تَأْوِيهًا وَتَأَوَّهَ تَأَوُّهًا نه، دمبالغې صيغه ده. الْأَوَّاهُ الْبَكَّاءُ: ډير زيات ژړا فرياد كونكې، ⑧مُنِيبًا: أَيْ رَاجِعًا: رجوع كونكې (د غفلت نه ذكر وفكر طرف ته رجوع كولو ته منيب وائى) ⑨حَوْبَتِي: أَيْ ذَنْبِي: يعنى ګناهونه زما اووينځې. ⑩سَدِّدْ: أَيْ صَوِّبْ وَقَوِّمْ: رښتونې او صحيح اولرې (ژبه زما). ⑪اسْلُلْ: أَيْ أَخْرِجْ: اوباسې، لرې كړې، ⑫سَخِيمَةَ: أَيْ غِشَّهُ وَغِلَّهُ: دَ زړه خرابوالې خباثت كينه اوبغض او نور دَ زړه مرضونه

تسهيلات:

قوله: وَامْكُرْ لِي:

د نسبت د بدليدو په اعتبار سره د مكر مختلفې معانى:

① دَمكر نسبت چه كله دَالله تعالى طرف ته وى نو دَدې نه مراد دَ اسلام په دښمنانو باندې دَ داسې خانى نه مصيبت راتلونكې وى دَ كوم چه دَهغوى ګمان هم نه وى

② كه ددې نسبت دَ انسان طرف ته وى نومكر اوفريب اودهوكه مراد وى.

قوله: رَاهِبًا لَّكَ: دَ خوشحالئى اوغم په حالت كښې دَ يوالله نه دَ ويريدلو په معنى كښې دې "مطواعات، كثير الاطاعة".

[٢٤٨٩] د ایمان څخه روسته د عافیت څخه بهتر هیڅ دولت نشته

٢٤٨٠-[٨] (١) [١] وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «قَامَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى الْمِنْبَرِ ثُمَّ بَكَى [٣] فَقَالَ سَلُوا اللّٰهَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ. [٤] فَإِنَّ أَحَدًا لَمْ يُعْطَ بَعْدَ الْيَقِينِ خَيْرًا مِنَ الْعَافِيَةِ» [٥] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه [١] حضرت ابوبکر رضی الله عنه وایي چې [٢] یوه ورځ نبی کریم ﷺ په منبر ولاړ په ژړا شو، [٣] بیا یې وفرمایل چې د الله ﷻ څخه بخښش او عافیت غواړي، [٤] ځکه چې هیچا ته د ایقان، ایمان څخه روسته د عافیت څخه بهتر هیڅ نعمت نه دی ورکول شوی، یعنې د ایمان د دولت څخه روسته د عافیت څخه بهتر هیڅ عمل نشته، [٥] دا روایت ترمذي او ابن ماجه نقل کړی دی، او امام ترمذي رحمه الله ویلي دي چې دا حدیث د سند د اعتبار څخه حسن غریب دی

حل اللغات: ① الْعَفْوَ: أَيْ مَحْوَ الذُّنُوبِ وَسَتْرَ الْعُيُوبِ: بخش یعنی چه ګناهونه مو ختم کړی او په عیبونو زاله پرده واچوی (په دنیا او آخرت کښې مو د رسوایۍ نه اوساتی) ② الْعَافِيَةَ: عافیت، مَعْنَاهُ السَّلَامَةُ فِي الدِّينِ مِنَ الْفِتْنَةِ: دین د فتنو نه محفوظ شي یا بدن د مرضونو او آزمائشونو نه محفوظ شي

تسهیلات:

قوله: سَلُوا اللّٰهَ الْعَفْوَ:

دعفو مفهوم: دعفو نه د ګناهونو ختمیدل او په عیوبو باندې پرده اچول مراد دی

قوله: وَالْعَافِيَةَ:

دعافیت په مفهوم کښې درې اقوال:

① الله دې تا ته د خلقو نه عافیت درکړي او خلقو له دې ستا نه عافیت ورکړی

② ته خلق معاف کړې او خلق تا معاف کړی

③ دیر صحیح مفهوم دا دې چه د عافیت نه مراد سلامتی ده چه په دین کښې د فتنې نه او په بدن کښې د بیمارۍ او د سخت محنت نه سلامتی مراد ده

[٢٤٩٠] د ټولو څخه بهتره دعا د عافیت طلب

٢٤٩٠-[٩] (٢) [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - «أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَيُّ الدُّعَاءِ أَفْضَلُ [٣] قَالَ: سَلْ رَبَّكَ الْعَافِيَةَ وَالْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، [٤] ثُمَّ أَتَاهُ فِي الْيَوْمِ الثَّانِي

(١) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحدیث ٣٥٥٨ وابن ماجة فی کتاب الدعاء /باب الدعاء بالعفو والعافیة (رقم-٣٨٤٩) واحمد فی المسند: ٣/١

(٢) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحدیث ٣٥١٢ وابن ماجة فی کتاب الدعاء /باب الدعاء بالعفو والعافیة (رقم-٣٨٤٨) واحمد فی المسند: ١٢٧/٣

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الدُّعَاءِ أَفْضَلُ ⑤ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذٰلِكَ، ⑥ ثُمَّ أَتَاهُ فِي الْيَوْمِ الثَّالِثِ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذٰلِكَ ⑦ قَالَ فَإِذَا أُعْطِيتَ الْعَافِيَةَ وَالْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَقَدْ أَفْلَحْتَ») ⑧ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه ① انس ﷺ وايي چې يو سړی د نبی کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو. ② او عرض يې وکه چې يا رسول الله! ﷺ کومه دعا د ټولو څخه بهتره ده؟ ③ نبی کريم ﷺ وفرمايل چې د خپل رب څخه عافيت (يعني د دين او بدن سلامتي او په دنيا او آخرت کې معافات غواړه) [د معافات مطلب دا دی چې الله ﷻ په دنيا او آخرت کې تا د خلقو څخه او خلق ستا څخه په عافيت او حفاظت کې وساتي] ④ هغه سړی په دويمه ورځ راغلو، عرض يې وکه چې يا رسول الله! ﷺ کومه دعا د ټولو څخه بهتره ده؟ ⑤ نبی کريم ﷺ ورته هغه وفرمايل (څه چې يې په مخکني ورځ فرمايلي وو)، ⑥ بيا هغه سړی په دريمه ورځ راغلو) او هغه پوښتنه يې وکړه، نبی کريم ﷺ ورته هغه جواب ورکړي، ⑦ او ورته يې وفرمايل چې که تاته عافيت او په دنيا او آخرت کې معافات درکول شي، نو تا نجات و موندلی، او تا خپل مقصد حاصل کي، ⑧ دا روايت ترمذي او ابن ماجه نقل کړی دی، او امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چې دا حديث په اعتبار د سند سره غريب دی.

حل اللغات: ① اَلْمُعَافَاةَ: د معافات مطلب دا دی چې الله ﷻ په دنيا او آخرت کې تا د خلقو څخه او خلق ستا څخه په عافيت او حفاظت کې وساتي. ② أَفْلَحْتَ: أَيْ خَلَصْتَ: تا خلاصې بيا موندلو، ته کامياب شوې، خپل مقصد دې حاصل کړو.

تسهيلات:

قوله: سَلْ رَبَّكَ الْعَافِيَةَ

دعفو او عافيت په مينځ کښې فرق:

① د الله په حقوقو کښې د ستيا نه بچ کيدو ته عافيت وئيلې شي

② د بندګانو په حقوقو کښې د ستيا نه بچ کيدو ته معافات ديته وئيلې شي.

د مذکوره دعا مفهوم: نو مطلب دا شو چه د خپل رب نه دعا کول چه هغه دې ما په دواړو جهانو په دنيا او په آخرت کښې د خلقو او د بندګانو په حقوقو کښې د ستيا نه

[٢٤٩١] دَ الله تعالی دَ محبت دعا

٢٤٩١-[١٠] (¹) ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيدَ الْخَطْمِيِّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - «عَنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ فِي دُعَائِهِ ③ اللّٰهُمَّ ارْزُقْنِي حُبَّكَ. وَحُبَّ مَنْ يَنْفَعُنِي حُبُّهُ عِنْدَكَ ④ اللّٰهُمَّ مَا رَزَقْتَنِي مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ قُوَّةً لِي فِيمَا تُحِبُّ ⑤ اللّٰهُمَّ مَا زَوَيْتَ عَنِّي مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ فَرَاغًا لِي فِيمَا تُحِبُّ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

(¹) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ٣٤٩١

ترجمه [١] عبد الله ابن يزيد خطمي رضي الله عنه د نبی کریم ﷺ څخه نقل کوي [٢] چې نبی کریم ﷺ به په خپله دعا کې دا کلمات فرمایل اللَّهُمَّ ارْزُقْنِي حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يَنْفَعُنِي حُبُّهُ عِنْدَكَ اللَّهُمَّ مَا رَزَقْتَنِي مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ قُوَّةً لِي فِيمَا تُحِبُّ اللَّهُمَّ مَا زَوَيْتَ عَنِّي مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ فَرَاغًا لِي فِيمَا تُحِبُّ، [٣] ای الله! ﷻ ماته خپل محبت نصیب کړي، او د هغه سړي محبت چې د هغه محبت ستا په نزد ماته نفع راکړي، [٤] اي الله! ﷻ تا ماته د هغه څيز څخه چې زه يې خوښوم، څه چې عطا کړی دی، هغه زما د پاره د قوت سبب جوړ کړي، چې ته يې خوښوي ، يعنې تا چې مال وزر، عافيت او اطمينان او نور دنياوي نعمتونو څخه څه چې راته راکړی دی هغه د شکر گذاری او د خپل طاعت سبب جوړ کړي، چې زه هغه ستا په لار کې او ستا د خوشنودۍ د پاره خرچ کړم، [٥] اي الله! ﷻ تا چې ماته د هغه څيز څخه چې زه يې خوښوم، څه چې نه دی راکړی، هغه زما د پاره په هغه کې د فراغت سبب جوړ کړي، چې ته يې خوښوي ، ترمذي

حل اللغات: ① زَوَيْتَ: دا د زَيّ نه دي، بِمَعْنَى الْقَبْضِ: يعنې تاچه مانه کوم مال او زر لرې کړه اوراډې نه کړه ② فَرَاغًا: يعنې دَ خپل محبت دَپاره دَ اوزګاريدو ذريعه جوړه کړي که دَدنيا مال حاصل نه وي نوستادَ محبت کمال به حاصل شي.

تسهیلات:

نوټ: د حديث مطلب آسان دي باقي د ګرانو لغاتو معانی د حل اللغات په عنوان سره واضح شوی دی.

[٢٤٩٢] چه دومره ملاؤ شي په کوم سره چه د چا کاراوشي

[١١] ( ) [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: [٢] «قَلَّمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُومُ مِنْ مَجْلِسٍ حَتَّى يَدْعُوَ بِهَؤُلَاءِ الدَّعَوَاتِ لِأَصْحَابِهِ [٣] اللَّهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا تَحُولُ بِهِ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ، [٤] وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهِ جَنَّتَكَ، [٥] وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مُصِيبَاتِ الدُّنْيَا، [٦] وَمَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا وَأَبْصَارِنَا وَقُوَّتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا، [٧] وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا، [٨] وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلَى مَنْ ظَلَمَنَا، [٩] وَانْصُرْنَا عَلَى مَنْ عَادَانَا، [١٠] وَلَا تَجْعَلْ مُصِيبَتَنَا فِي دِينِنَا، [١١] وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا [١٢] وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا»). [١٣] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [١] ابن عمر رضي الله عنهما وايي [٢] چې داسې ډيرکم شوي دي چې نبی کریم ﷺ د يو مجلس څخه ولاړ شوی وي او د دې کلماتو په ذريعه يې د خپلو صحابه وو رضي الله عنهم د پاره دعا نه وي غوښتلې ، څکه چې په مجلس او په دعا کې به صحابه رضي الله عنهم شامل وو . يا د هغوی د تعليم د پاره به يې دا دعا غوښتله ، اللَّهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا تَحُولُ بِهِ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهِ جَنَّتَكَ وَمِنَ الْيَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مُصِيبَاتِ الدُّنْيَا وَمَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا وَأَبْصَارِنَا وَقُوَّتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا

[١] اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ٣٥٠٢

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلٰى مَنْ ظَلَمَنَا وَانْصُرْنَا عَلٰى مَنْ عَادَانَا وَلَا تَجْعَلْ مُصِيْبَتَنَا فِيْ دِيْنِنَا وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا، [٣] ای الله! ته په مونږ کې خپل دومره خوف پیدا کړي، چې ته د هغه په وجه زمونږ او زمونږ د ګناهونو په منځ کې حائل شي يعني د هغه خوف په وجه مونږ د ګناهونو څخه محفوظ شو، [٤] او مونږ ته خپل دومره طاعت نصيب کړي چې د هغه په وجه مونږ د جنت عالي درجاتو ته ورسوي، [٥] مونږ ته دومره يقين راکړي چې د هغه په وجه ته په مونږ د دنيا مصيبتونه آسانه کړي، [٦] مونږ د خپل سماعتونو، بينائيو او قوتونو څخه تر هغه وقته برخه من لري، تر څو چې ته مونږ ژوندي لري. [٧] او برخه مندي زمونږ ورثه وګرځوي يعنی زمونږ ټول اعضاء او حواس تر آخره برقرار او سلامت لري، [٨] زمونږ په کينه او انتقام کې هغه سړی اخته کړي، چې هغه په مونږ ظلم وکړي، يعني مونږ ته دومره طاقت او قوت راکړي، چې مونږ د خپلو ظالمانو څخه بدله واخستل شو، يا زمونږ د طرف څخه ته د هغوئ څخه بدله واخلي، [٩] مونږ ته فتح راکړي په هغه سړي چې مونږ سره دښمني ساتي (هغه که زمونږ ديني دښمن وي يا دنياوي دښمن) [١٠] زمونږ مصيبتونه زمونږ په دين کې مؤثر مه کړي (يعني مونږ په داسې مصيبتونو کې اخته مه کړي) چې د دين د نقصاناتو باعث وي، [١١] او نه دنيا زمونږ د ټولو فکرونو مرکز او ګرځوي، [١٢] او نه دا زمونږ د علم مبلغ انتهاجوړه کړی، او په مونږ هغه خلق مسلط مه کړي، چې په مونږ رحم نه کوي، [١٣] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: ① خَشْيَتِكَ: وَهُوَ خَوْفٌ مَعَ التَّعْظِيْمِ: د الله تعالی نه ويريدل سره د تعظيم نه. ② تَحُولُ: چه ته حائل شي (نومونږ به د ګناهونو نه محفوظ شو). ③ تُبَلِّغُنَا: أَيْ تُوَصِّلُنَا: چه ته اورسوي مونږ. ④ تُهَوِّنُ: أَيْ تُسَهِّلُ: ته آسان کړي. ⑤ مَتِّعْنَا: أَيِ اجْعَلْنَا مُتَمَتِّعِيْنَ: مونږ نفع اخستونکی جوړ کړي. ⑥ الْوَارِثَ: أَيِ الْبَاقِيَ: يعنی تر آخره پورې ئې سلامت او برقرار اولري. ⑦ ثَأْرَنَا: بدل، انتقام ⑧ عَادَانَا: چه ظلم اوکړی په مونږ باندې. ⑨ هَمِّنَا: أَيْ أَكْبَرَ قَصْدِنَا: غرض او مقصد. ⑩ مَبْلَغَ: أَيْ غَايَةَ: انتهاء مرجع او مرکز. ⑪ لَا تُسَلِّطْ: مه مسلط کوه، مه مقرر کوه

تسهيلات:

قوله: وَمِنَ الْيَقِيْنِ مَا تُهَوِّنُ بِهٖ عَلَيْنَا مُصِيْبَاتِ الدُّنْيَا:

د يقين مطلب: ددې مطلب دادې چه ته په خپل ذات او صفاتو باندې او د سرکار دوعالم ﷺ په ارشاداتو او تعليم باندې مونږ ته دهغې درجې يقين او اعتماد رانصيب کړې چه د دنيا سختئ او ددې مصيبتونه او تکليفونه زمونږ دپاره آسان شی، مثلاً کوم کس ته چه دا يقين وی چه الله تعالی رزق ورکونکې دې دهر ساه لرونکی د ژوند ضروريات پوره کوی، نوهغه ته به هيڅ کله څه فکرنه وی، اوهغه به د الله تعالی په ذات باندې بهروسه او اعتماد

كوي. دغه شان چاته چه د يقين دولت حاصل شي چه دآخرت سختئ او دهغې مصيبتونه زيات سخت دي، د دنيا سختئ هميشه نه وي ختميدونكي وي. ددې هيڅ حقيقت نشته. نو دهغه دپاره د دنيا مصيبتونه آسان جوړيږي، اود لوئي نه لوئي مصيبت اوسختئ به هيڅ احساس نه كوي. لهذا اې الله ته مونږ ته د يقين او اعتماد او توكل دا عظيم دولت رانصيب كړې

قوله: وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا:

دمذكوره جملې مطلب: دنيا زمونږ دپاره د فكرونو مركز مه جوړوې ددې مطلب دادې چه مونږ د دنيا په ډير زيات فكرونو او تدبيرونو كښې لګيا نه شو. بلكه د آخرت د فكر او د هغې د ويرې زيات خيال اوساتو. د دنيا صرف دومره فكر او دخپل معاش صرف دومره خيال اوساتو كوم چه ضروري دي او دكوم دپاره چه مونږ ته نه صرف اجازت دي بلكه مستحب هم دي

[۲۴۹۳] د علم نافع سوال كول

٢٤٩٣-[١٢] ( )[١]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ:[٢] «اللَّهُمَّ انْفَعْنِي بِمَا عَلَّمْتَنِي وَعَلِّمْنِي مَا يَنْفَعُنِي وَزِدْنِي عِلْمًا،[٣] الْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ،[٤] وَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ حَالِ أَهْلِ النَّارِ»).[٥]رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه [١] ابوهريره رضي الله عنه وايي چې نبي كريم ﷺ به دا دعا غوښتله[٢] اللَّهُمَّ انْفَعْنِي...الخ، اې الله ﷻ تا چې ماته څه ښودلي دي، هغه زما د پاره نفع رسونكى كړې (يعنې په علم د عمل كولو توفيق راكړې) او ماته هغه څيز وښايې، چې ماته نفع راكړې يعنې ماته داسې علم راكړې. چې د هغه حاصلول او په كوم شي عمل كول چې دنيا او آخرت كې زما د پاره د نفع باعث وي. او زما په علم (يعنې په ديني علم) كې زياتوالى وكړې. [٣]په هر حالت كې الله ﷻ لره ټول تعريفونه دي. [٤]او زه د الله ﷻ پناه غوارم د دوزخيانو په شان د حالت څخه (چې په دنيا كې فسق وفجور څخه او په عقبى كې د عذاب څخه وساتل شم) [٥] ترمذي.ابن ماجه. امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث په اعتبار د سند سره غريب دى

[۲۴۹۴] د نعمت اوعزت دعا

٢٤٩٤-[١٣] ( )[١] وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ:[٢] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ سُمِعَ عِنْدَ وَجْهِهِ دَوِيٌّ كَدَوِيِّ النَّحْلِ،[٣] فَأُنْزِلَ عَلَيْهِ يَوْمًا فَمَكَثْنَا سَاعَةً،[٤] فَسُرِّيَ عَنْهُ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ،

---

[١]) اخرجه الترمذى فى السنن رقم الحديث ٣٥٩٩ وابن ماجة فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم باب الانتفاع بالعلم والعمل به(رقم-٢٥١)

[٢]) اخرجه الترمذى فى السنن رقم الحديث ٣١٧٣ واحمد فى المسند: ٣٤/١

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه [١] امير المؤمنين حضرت عمر فاروق ﷺ وايي، [٢] كوم وخت چې په نبی كريم ﷺ باندې وحي نازليدلې، نو د نبی كريم ﷺ مبارك مخې ته نزدې به د شاتو د مچو د آواز په شان آواز اوريدی شو، [٣] يوه ورځ زمونږ په مخكې په نبی كريم ﷺ وحي نازلې شوه. مونږ لږ ساعت ودريدو ايعني مونږ په دې انتظار كې وو چې د وحي نازليدو كومه سختي په نبی كريم ﷺ خوره ده، هغه ختم شي [٤] كوم وخت چې د سختۍ هغه كيفيت د نبی كريم ﷺ څخه لرې شو، نو نبی كريم ﷺ خپل مخ مبارك د قبلې طرف ته كړې

[١] وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَقَالَ اللَّهُمَّ زِدْنَا وَلَا تَنْقُصْنَا [٢] وَأَكْرِمْنَا وَلَا تُهِنَّا [٣] وَأَعْطِنَا وَلَا تَحْرِمْنَا [٤] وَآثِرْنَا وَلَا تُؤْثِرْ عَلَيْنَا [٥] وَأَرْضِنَا وَارْضَ عَنَّا، [٦] ثُمَّ قَالَ: أُنْزِلَ عَلَيَّ عَشْرُ آيَاتٍ مَنْ أَقَامَهُنَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ، [٧] ثُمَّ قَرَأَ قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ حَتَّى خَتَمَ عَشْرَ آيَاتٍ»). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه [١] او خپل دواړه لاسونه يې اوچتولو سره په بارګاه الهي كې داسې عرض كونكي سو اللَّهُمَّ زِدْنَا..الخ، اى الله! ﷻ زمونږ دنياوي او اخروي نعمتونه كې (يا د مسلمانانو په تعداد كې) زياتوالی وكړې، او په هغه نعمتونو يا په مسلمانانو كې كمی مه وكړې، [٢] مونږ [په دنيا كې حاجت روائي سره او په عقبٰی كې د درجاتو د اوچت والی په ذريعه] معزز جوړ كړې، او مونږ د هغه څيزونو څخه محروم كولو سره ذليل مه كړې، [٣] مونږ ته د دنيا او آخرت خيرونه راكړې، او مونږ محروم مه كړې، [٤] مونږ (د خپل رحمت په ذريعه) په نورو خلقو غالب كړه او مونږ د بل چاڅخه مغلوبه مكړې [٥] مونږ ته په خپل قضاء وقدر د صبر او شكر توفيق راكولو سره په هغه مو راضي وساتي، او ته زمونږ په لږ شان عبادت او طاعت باندې هم راضي شي، [٦] بيا نبی كريم ﷺ وفرمايل چې اوس په ما لس آياتونه نازل شوه كوم سرې چې په هغه عمل كوي، هغه به په جنت كې (د نيكانو سره) داخليږي، [٧] د دې څخه روسته نبی كريم ﷺ قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ تر لسو آياتونوپورې وويل، احمد، ترمذي

تسهيلات:

د حديث د بعضې جملوو وضاحت:

① ورفع يديه: په دعا كښې لاسونه اوچتول دَ دعا دَ آدابونه دي

② عشر آيات: دَ سورت مؤمنون دَ شروع لس آياتونه مراد دي

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٤٩٥] دَ بينايۍ دعا

[١٤] ( ) [١] عَنْ عُثْمَانَ بْنِ حُنَيْفٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «إِنَّ رَجُلًا ضَرِيرَ الْبَصَرِ أَتَى النَّبِيَّ فَقَالَ: [٣] ادْعُ اللَّهَ أَنْ يُعَافِيَنِي فَقَالَ [٤] (إِنْ شِئْتَ دَعَوْتُ، وَإِنْ شِئْتَ صَبَرْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ). [٥] قَالَ: فَادْعُهُ. قَالَ: فَأَمَرَهُ أَنْ

---

[١] اخرجه ابن ماجة في كتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء في صلاة الحاجة (رقم-١٣٨٥) واحمد في المسند: ١٣٨/٤

يَتَوَضَّأَ فَيُحْسِنَ الْوُضُوءَ وَيَدْعُو بِهَذَا الدُّعَاءِ: [٦] (اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ [٧] إِنِّي تَوَجَّهْتُ بِكَ إِلَى رَبِّي لِيَقْضِيَ لِي فِي حَاجَتِي هَذِهِ، اللّٰهُمَّ فَشَفِّعْهُ لِي»). [٨] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [١] عثمان ابن حنيف رضی الله عنه وايي، [٢] يو سړی چې هغه د بينائي څخه محروم وو، د نبی كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شو، او عرض يې وكه [٣] چې يا رسول الله! ﷺ د الله تعالیٰ څخه دعا وغواړه، چې هغه ماته د بينائي د نقصان څخه عافيت راكړي، [٤] نبی كريم ﷺ وفرمايل چې كه ته غواړې نو ستا د پاره دعا كوم، او كه ته (صبر او رضا) غواړې، نو صبر كوه، صبر كول ستا د پاره بهتر دی، [٥] هغه سړي عرض وكړو چې ته زما د پاره دعا وكه، عثمان رضی الله عنه وايي چې نبی كريم ﷺ (د دې اوريدو سره) هغه ته حكم وكړې چې اودس وكړه، او په ښه شان [يعني د سننو او ادابو سره اودس وكه، او په يو دويم روايت كې دا هم دی چې نبی كريم ﷺ هغه ته د دوو ركعاتو مونځ كولو حكم هم وركړيا]، او دا چې بيا د دې كلماتو په ذريعه دعا وغواړې: [٦] اللّٰهُمَّ..الخ، اى الله! جل جلاله زه ستا څخه (خپل مقصود) غواړم، او ستا د نبي په وسيله سره ستا طرف ته متوجه كيږم چې د هغه نوم محمد ﷺ دی، چې نبي د رحمت دی، [٧] او زه د خپل پروردګار طرف ته متوجه كيږم، اې نبي (ﷺ) ستا په وسيله سره چې هغه زما دا حاجت پوره كړي، او دا چې اې الله! جل جلاله زما په باره كې د خپل نبي ﷺ شفاعت قبول كړی، [٨] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل كړی دی، او ويلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح غريب دی.

حل اللغات: ① ضَرِيرُ الْبَصَرِ: أَيْ: ضَعِيفُ النَّظَرِ: كمزوری نظر والا، يعنی روند ② فَادْعُهُ: أَيْ: ادْعُ اللَّهَ: يعنی دالله نه دعا اوغواړه ③ أَتَوَجَّهُ: متوجه كيږم ④ لِيَقْضِيَ: چه پوره كړی (رب زما حاجت لره). ⑤ فَشَفِّعْهُ: أَيْ: اقْبَلْ شَفَاعَتَهُ: قبول كړي شفاعت زما.

تسهيلات:

نوټ: دحديث مطلب د ترجمې څخه واضح دی د مزيد تشريح ضرورت نشته

[٢٤٩٦] دَحضرت داؤد عليه السلام دعا

٢٤٩٦-[١٥] ([١]) [١] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٢] «كَانَ مِنْ دُعَاءِ دَاوُدَ يَقُولُ: [٣] (اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ [٤] وَالْعَمَلَ الَّذِي يُبَلِّغُنِي حُبَّكَ، [٥] اللّٰهُمَّ اجْعَلْ حُبَّكَ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِي وَمَالِي وَأَهْلِي، وَمِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ») [٦] قَالَ: وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا ذَكَرَ دَاوُدَ يُحَدِّثُ عَنْهُ: [٧] يَقُولُ: («كَانَ أَعْبَدَ الْبَشَرِ»). [٨] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

[١] اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ٣٤٩٠

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : ابو درداء ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[٢] د حضرت داود ﷺ په دعاوو کې يوه دعا دا هم وه [٣] اللّٰهُمَّ ...الخ، اى الله ﷻ زه ستا ځخه غواړم، ستا محبت او د هغه سړي محبت چې ستا سره محبت کوي [۴] او هغه عمل چې ما ستا محبت ته ورسوي.[۵] اې الله ﷻ ته خپل محبت زما د پاره زما د ځان ځخه، زما د مال ځخه، زما د اهل وعيال ځخه او د يخو اوبو ځخه هم زيات عزيز جوړ کړې.[٦] د راوي بيان دی چې نبی کريم ﷺ د داود ﷺ خبرې بيانولې [٧] نو فرمايل به يې چې داود ﷺ د خپلې زمانې په سړو کې لوی عابد وو .[٨] امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړی دی او ويلې يې دي چې دا حديث غريب دی

حل اللغات : ① يُبَلِّغُنِي : أَيْ يُوصِلُنِي : چه اورسوی ما

تسهيلات:

قوله: وَمِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ

په گرمۍ کښې د يخو اوبو عظمت: د دې نه معلومه شوه چه انسان ته د گرمۍ په زمانه کښې اوبه ډيرې محبوبې وی بعضو وئيلی دی چه دا د روح نه کنايه ده ځکه اوبه د هر ځيز حيات دې نقوله تعالى : ((جَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ)) ددې وجه نه بعضو علماؤ وئيلی دی چه اوبه داسې نعمت دې چه دا په هيڅ قيمت هم نشی اخستلې کيدې

د يو گلاس اوبو په عوض توله بادشاهي تلل: په مرقات کښې د يو بادشاه واقعه ليکلې ده چه يو بادشاه يو ځنګل ته اووتو نو هغه ډير سخت تږې شو هغه ته د غيب نه يو کس بنکاره شو بادشاه د هغه نه اوبه طلب کړې نو هغه کس اوبه ورکولو نه انکار اوکړو او ونې وئيل چه ستا نيمه بادشاهي ماته راکړه نو زه به تا ته اوبه درکړم نو هغه د نيمې بادشاهۍ په عوض کښې د اوبو يو گلاس واغستلو بيا اوبه ځکلو نه پس ورته د متيازو (بول) بنديدو تکليف پيدا شو چه کله ئې پرې صبر مشکل شو نو بادشاه هغه ته اووئيل چه ته زما علاج اوکړه نو زه به تا له باقي نيمه بادشاهي هم درکړم هغه کس دعا اوکړه نو د ده تکليف ختم شو او هغه باقي بادشاهي هم هغه کس ته حواله کړه په دې باندې بادشاه اووئيل چه زما د نيمې بادشاهۍ قيمت اوبه ځکل دی او د نيمې بادشاهۍ قيمت اوبه اوباسل دی

دالله تعالى په نيز ددنيا سپکوالې: په دې سره د نبی عليه السلام دا ارشاد هم واضح شو چه د دنيا قيمت که د الله په نيز د يو ماشی د وزر برابر هم وې نو کافر له به ئې يو گوټ اوبه هم نه ورکولې نو کافرانو ته د خوراک ځکاک او د د انعاماتو ورکولو حکمت هم دا دې چه الدنيا سجن المؤمن وجنة الكافر. (مرقات ج۵ ص ۲۵۵)

[٢٤٩٧] يوه جامع دعا

---[١٦] ( ) [١] وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «صَلَّى بِنَا عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ صَلَاةً، فَأَوْجَزَ فِيهَا. [٣] فَقَالَ لَهُ بَعْضُ الْقَوْمِ: [٤] لَقَدْ خَفَّفْتَ وَأَوْجَزْتَ الصَّلَاةَ. [٥] فَقَالَ: أَمَا عَلَيَّ ذٰلِكَ، لَقَدْ دَعَوْتُ فِيهَا بِدَعَوَاتٍ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -. [٦] فَلَمَّا قَامَ تَبِعَهُ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ هُوَ أَبِي، [٧] غَيْرَ أَنَّهُ كَنَّى عَنْ نَفْسِهِ، فَسَأَلَهُ عَنِ الدُّعَاءِ

ترجمه [١] عطاء ابن سائب د خپل پلار (سائب) څخه نقل کوي، هغه اوويل [٢] چې عمار بن ياسر ﷺ مونږ ته يو مونځ راکړو، په مانځه کې هغه اختصار وکړو (يعنى نه خو هغه طويل قرائت وکړو او نه يې تسبيحات وغيره ډير زيات وويل) [٣] (بعضې خلقو ورته اوويل [٤] چې تا سو تخفيف وکړو او مونځ مو مختصر کړو [٥] حضرت عمار ﷺ وفرمايل چې زما د پاره دا تخفيف مضر نه دى، ځکه چې ما د دې مونځ په قعده کې يا په سجده کې هغه څه دعاوې ويلې دي، چې ما د نبى کريم ﷺ څخه اوريدلې دي. [٦] بيا چې حضرت عمار ﷺ لاړو نو د جماعت څخه يو سړى د هغه سره شو، او (د حديث راوي عطاء وايي چې) هغه زما پلار حضرت سائب وو، [٧] سوا د دې څخه چې هغه خپل ځان پټ کړي [يعنى هغه دا سې بيان نه کې. چې حضرت عمار ﷺ سره زه لاړم، بلکه ځان پټ ساتلو د پاره يې داسې اوويل چې يو سړى هغه سره شو، بهرحال هغه د حضرت عمار ﷺ څخه] د هغه دعا په باره کې پوښتنه وکړه، [حضرت عمار ﷺ ورته هغه دعا وښودله، چې هغه د مانځه په دوران کې ويلې وه]،

حل اللغات: ① فَأَوْجَزَ: أي: اقتصر: لنډ او مختصر ئې اوکړو (مونځ، يعنى قرأت ئې لږ اوکړو، ② خَفَّفْتَ: مختصر دې اوکړو (مونځ، يعنى ارکان دې ډير لنډ اداکړل)

[١] ثُمَّ جَاءَ فَأَخْبَرَ بِهِ الْقَوْمَ: [٢] (اللّٰهُمَّ بِعِلْمِكَ الْغَيْبَ، وَقُدْرَتِكَ عَلَى الْخَلْقِ، [٣] أَحْيِنِي مَا عَلِمْتَ الْحَيَاةَ خَيْرًا لِي، [٤] وَتَوَفَّنِي إِذَا عَلِمْتَ الْوَفَاةَ خَيْرًا لِي، [٥] اللّٰهُمَّ وَأَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِي الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، [٦] وَأَسْأَلُكَ كَلِمَةَ الْحَقِّ فِي الرِّضَى وَالْغَضَبِ، [٧] وَأَسْأَلُكَ الْقَصْدَ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنَى، [٨] وَأَسْأَلُكَ نَعِيمًا لَا يَنْفَدُ، [٩] وَأَسْأَلُكَ قُرَّةَ عَيْنٍ لَا تَنْقَطِعُ، [١٠] وَأَسْأَلُكَ الرِّضَى بَعْدَ الْقَضَاءِ، [١١] وَأَسْأَلُكَ بَرْدَ الْعَيْشِ بَعْدَ الْمَوْتِ، [١٢] وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ إِلَى وَجْهِكَ [١٣] وَالشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ فِي غَيْرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ، [١٤] وَلَا فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ، [١٥] اللّٰهُمَّ زَيِّنَّا بِزِينَةِ الْإِيمَانِ، [١٦] وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مَهْدِيِّينَ») . رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه [١] بيا هغه راغلو او جماعت ته يې هغه دعا وښودله چې دا ده [٢] اللّٰهُمَّ...الخ، ترجمه اې الله ﷻ ته په حق د خپل علم غيب او په حق د قدرت خپل په مخلوق [٣] ما ژوندى لرې. تر څو چې ژوند زما د پاره بهتر ګڼې او ماته مرګ راکړي. تر څو چې مرګ زما د پاره

---

(١) اخرجه النسائي كتاب السهو/باب نوع آخر (رقم-١٣٠٥) واحمد في المسند: ٤/٢٦٤

Maktaba Tul Ishaat.com

بهتر کړي. يعني تر څو چې نيکي په بديو غالبې وي، تر هغه وقته ژوند بهتر دی [۴] او تر څو چې بدی په نيکو غالبې وي او ظاهري او باطني فتني خورې شي، نو هغه وخت مرګ ښه دی [۵] اې الله! ﷻ زه غوارم ستا څخه خوف په ظاهر او باطن کې [۶] او غوارم د حق کلمې د ويلو، توفيق په خوشحالي کې هم او په خفګان کې هم [۷] او غوارم زه ستا څخه ميانه روی د فقر او افلاس په حالت کې هم او د خوشحالی په وخت کې هم (يعني نه خو فقر او افلاس او رنځ او په تکليف کې مبتلا شم، او نه دومره توانګر او خوشحاله شم، چې اسراف کول شروع کړم) [۸] او زه ستا څخه داسې نعمت غوارم، چې هيڅ کله ختميږي نه، (يعنی د غيبو نعمتونه) [۹] او غوارم ستا څخه د سترګو يخ والی چې هيڅ کله ختم نشی، [۱۰] او غوارم رضامندي ستا د قضا (يعني تقدير) څخه روسته [۱۱] او غوارم ستا څخه يخوالی د ژوند د مرګ څخه روسته (يعني د هميشه راحت په برزخ او په قيامت کې) [۱۲] او غوارم لذت د ليدو ستا د مخ طرف ته (په آخرت کې) [۱۳] او غوارم ستا د ملاقات شوق په داسې حالت کې چې ضرر ونه رسوي [۱۴] او نه مې د ګمراهی په فتنه کې اخته کړي، [۱۵] اې الله! ﷻ مونږ د ايمان په زينت مزين کړي [يعنی مونږ په ايمان ثابت قدم لرې او د زيات څخه زيات د نيکې کولو توفيق راته راکړې] ، [۱۶] او مونږ سيده لار ښودونکي او په سيده لار تلونکي جوړ کړي. نسائي

حل اللغات: ③ اَلْقَصْدَ: أَيْ: الإِقْتِصَادَ: ميانه روی، درميانه. ④ لَايَنْفَدُ: أَيْ: لَايَفْنَى: چه نه فنا کيږی. نه ختميږی. ⑤ قُرَّةَ: ددې دوه معانې دی يو: بِمَعْنَى الْبَرْدِ: يخوالي (ځکه د خوشحالی په وخت د سترګو اوښکې يخې وی دې نه مراد د سترګو خوندونه او مزې دی.) او دويمه: بِمَعْنَى الْقَرَارِ: په يو ځائې باندې قرار او اطمينان ساتل (يعنی سترګې به اخوا ديخوا نه مائل کيږی). ⑥ عَيْنٍ: سترګه ⑦ بَرْدَ الْعَيْشِ: أَيْ: طِيبَهُ وَحُسْنَهُ: د ژوند يخوالي (يعنی هميشه د راحت او خوشحالی والا ژوند) ⑧ لَذَّةَ النَّظَرِ: د ليدلو لذت او خوند. ⑨ ضَرَّاءَ: أَيْ: شِدَّةٍ: ضراء سخت حالت ته وائی ⑩ مُضِرَّةٍ: دَ ضرر رسولو او نقصان ورکولو په معنی کښې دې ⑪ هُدَاةً: د هَادٍ جمع ده، أَيْ: هَادِينَ إِلَى الدِّينِ: دين طرف ته هدايت کونکی. ⑫ مُهْتَدِينَ: أَيْ: ثَابِتِينَ عَلَى الْهِدَايَةِ: دحق په نيغه لاره باندې قائم پاتې اوسيدونکی ⑬ فِتْنَةٍ: أَي الْمَلَاكِ الْحِسِّيِّ وَالْمَعْنَوِيِّ: فتنة نه حسی او معنوی ازميښت او امتحان مراد دې ⑭ مُضِلَّةٍ: مَا يُوجِبُ الإِنْحِرَافَ عَنِ الطَّرِيقِ الْقَوِيمِ: کوم چه دَنيغې لارې نه اخوا شي دهوکه ئی لشي.

تسهيلات: قوله: أَمَا عَلَيَّ ذَلِكَ

د مذکوره عبارت اصل: همزه دَ استفهام انکاری دَپاره دې په ماء باندې شد نشته دې په "علي" کښې په ياء باندې شد دې اصل عبارت داسې دې "اتقول هذا اسكت ماعلي من ضرر" يعنی که ما اوږد مونځ ورنه کړو نوهيڅ حرج نشته ځکه چه ماپه قعده آخره کښې داسې داسې دعاګانې اوغوښتلې کومې چه ماپخپله دَ حضورپاك ﷺ نه اوريدلی دی دې نه پس حضرت عمار ﷺ دَ کورطرف ته لاړو

قوله هُوَ أَبِي:

د حديث خلاصه: حضرت عطاء رحمه الله فرمائي چه زما پلار رسانب رضي الله عنه اوونيل هغه پسې يو سړي لاړو عطاء رحمه الله فرمائي چه داهم زما پلاروو ليکن هغه خپل نوم ظاهرنه کړو بهرحال د حديث شريف خلاصه داده چه عطاء رحمه الله اوونيل حضرت عمار رضي الله عنه يوځل مونځ ورکړو نو څه خلقو اعتراض اوکړو چه مونځ دې مختصر اوکړو هغوی اوفرمانيل که مختصرهم وی نو هيڅ پرواه نشته ځکه چه ماپه دې کښې زبردست دعاګانې ونيلی دی دې وينا کولوسره کورته لاړو نوزما پلار لاړو د هغه نه ئې دعاګانې معلومې کړې اوبيا واپس راغلو اوخلقوته ئې هم هغه شان اوخودلې

قوله: فِي غَيْرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ:

د مذکوره عبارت اعراب: دا جارمجرور د الشوق سره متعلق دې يعنی زه د الله تعالی د ديدار او زيارت شوق غوارم. دا شوق ديدار داسې سخت حالت کښې نه وی چه د نقصان سبب جوړشي. دا سوال ئې ځکه اوکړوچه کله سړي شوق د افراط اوتفريط طرف ته يوسي شوق انقاء نه مرګ مراددې چه مرګ په داسې حالت کښې راشي چه نقصان ورکونکې نه وی [اشعة اللمعات: ۲/۲۱۷] دا جارمجرور احيني سره متعلق کيدې شي دواړه جائزدی اومعنی ښکاره ده

ملاحظه: د دې تولودعاګانوبهترينه مجموعه الحزب الاعظم کومه چې ملاعلی قاری او مناجات مقبول ده کومه چه حضرت تهانوی رحمه الله راجمع کړی ده.

[۲۴۹۸] د علم نافع او عمل مقبول او د حلال رزق دُعا

۲۴۹۸ - [۱۷] (۱) ① وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقُولُ فِي دُبُرِ صَلَاةِ الْفَجْرِ ②: (اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا، ③ وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا، وَرِزْقًا طَيِّبًا») . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي: (الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ).

ترجمه: ① بي بي ام سلمه رضي الله عنها وايي چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم به د سحر د مانځه ځخه روسته دا دعا کوله ② اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا وَرِزْقًا طَيِّبًا، اې الله: جل جلاله زه ستا ځخه غوارم نفع ورکونکی علم، ③ قبلونکی عمل، ④ او حلال رزق، احمد، ابن ماجه، بيهقي

[۲۴۹۹] د شکر ګذاره جوړيدو دعا

۲۴۹۹ - [۱۸] (۲) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «دُعَاءٌ حَفِظْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَا أَدَعُهُ: ③ (اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي أُعْظِمُ شُكْرَكَ ④ وَأُكْثِرُ ذِكْرَكَ، وَأَتْبَعُ نُصْحَكَ، وَأَحْفَظُ وَصِيَّتَكَ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

(۱) اخرجه ابن ماجة فی کتاب إقامة الصلاة. باب ما يقال بعد التسليم (رقم - ۹۲۵) واحمد فی المسند: ۶/۲۹٤
(۲) اخرجه احمد فی المسند ۲/۳۱۱

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه [۱] ابوهريره رضي الله عنه وايي [۲] ما د نبي كريم ﷺ څخه دا دعا ياده كړېده چې زه يې نه پرېږدم [۳] اللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي أُعْظِمُ شُكْرَكَ وَأُكْثِرُ ذِكْرَكَ وَأَتْبَعُ نُصْحَكَ وَأَحْفَظُ وَصِيَّتَكَ، اى الله جل جلاله ما ته توفيق راكړې، چې زه ستا زيات شكر اداء كړم [۴]، ستا ډير ذكر وكړم [۵]، ستا نصيحت پوره كړم [۶]، او وصيت ياد كړم، ترمذي

حل اللغات: ① أَتْبَعُ نُصْحَكَ: ستا د نصيحتونه او حكمونه تابعداري اوكړم او پوره ئې كړم، ددې نه مراد حقوق العباد دى، ② أَحْفَظُ وَصِيَّتَكَ: ستا د وصيتونو اوحكمونو حفاظت اوكړم، ددې نه مراد حقوق الله يعنى اوامر او نواهى دى.

تسهيلات:

قوله: وَأَتْبَعُ نُصْحَكَ، وَأَحْفَظُ وَصِيَّتَكَ:

په نصيحت او وصيت كښې فرق: امام طيبى فرمائى چه نصيحت او وصيت دواړه متقارب الفاظ دى ليكن دواړو كښې لږ فرق دې د نصيحت څخه مراد دحقوق العباد ادا كول دى اود وصيت څخه مراد حقوق الله دى.

[۲۵۰۰] د صحت وغيره دعا

۲۵۰۰-[۱۹] ( )[۱] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ [۲] كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ [۳] اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الصِّحَّةَ وَالْعِفَّةَ [۴] وَالْأَمَانَةَ وَحُسْنَ الْخُلُقِ وَالرِّضٰى بِالْقَدَرِ.

ترجمه [۱] عبد الله ابن عمرو رضي الله عنه وايي [۲] نبى كريم ﷺ به دا دعا كوله [۳] اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الصِّحَّةَ وَالْعِفَّةَ وَالْأَمَانَةَ وَحُسْنَ الْخُلُقِ وَالرِّضٰى بِالْقَدَرِ اي الله زه ستا څخه صحت اوعافيت غواړم يعنى دخرابو بيماريو څخه د بدن د سلامتي او تندرستي يا د افعالو او احوالو او اعمالو درستي او اصلاح او د حرامو څخه پرهيز [۴] او امانت يعني د خلقو په اموالو كې يا د شريعت په ټولو حقوقو كې خيانت نه كوم، [۵] او بهترين اخلاقو او په تقدير د رضا سوال كوم

حل اللغات: ① الْعِفَّةَ: أي: التَّحَرُّزَ عَنِ الْحَرَامِ: د حرام او دگناه كارونو نه بچ اوسيدل ② الْأَمَانَةَ: د خلقو په اموالو كې يا د شريعت په ټولو حقوقو كې خيانت نه كولو ته امانت وائى ③ حُسْنَ الْخُلُقِ: أي: حُسْنَ الْمُعَاشَرَةِ: ښه اخلاق يعنى دخلقو سره ښه معاشره قائم ساتل ④ الرِّضٰى بِالْقَدَرِ: په تقدير راضى كيدل يعنى كوم څه چه په تقدير كښې ليكلى شوى دى په هغې راضى اوسيدل.

تسهيلات:

نوټ: د ترجمې څخه مطلب ښكاره دې

۱) اخرجه البزار ذكره في كنزل العمال في رقم ۳۶۵۰

[۲۵۰۱] ذ بدو خصلتونو نه د بچ کیدو دعا

۲۵۰۰-[۲۰] ( ) [۱] وَعَنْ أُمِّ مَعْبَدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۳] «اللَّهُمَّ طَهِّرْ قَلْبِي مِنَ النِّفَاقِ، [۴] وَعَمَلِي مِنَ الرِّيَاءِ، [۵] وَلِسَانِي مِنَ الْكَذِبِ، [۶] وَعَيْنِي مِنَ الْخِيَانَةِ، [۷] فَإِنَّكَ تَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ [۸] وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ» رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي: (الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ).

ترجمه [۱] بي بي ام معبد رضي الله عنها وايي [۲] ما د نبی کریم ﷺ څخه دا دعا اوریدلي ده [۳] «اللَّهُمَّ طَهِّرْ قَلْبِيْ مِنَ النِّفَاقِ وَعَمَلِيْ مِنَ الرِّيَاءِ وَلِسَانِيْ مِنَ الْكَذِبِ وَعَيْنِيْ مِنَ الْخِيَانَةِ فَإِنَّكَ تَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ» ای الله جل جلاله پاك كړي زما زړه د نفاق څخه [۴]. زما عمل د ریا څخه. [۵] زما ژبه د دروغو څخه [۶] او زما سترګې د خیانت [۸] یعني حرام نظر، څخه [۷]. بیشکه ته پوهیږي د سترګو په خیانت او په هغه څیز چې په زړه کې پټ دی (یعني خواهشات او ګناه). دواړه روایتونه بیهقي په دعوات کبیر کې نقل کړی دي

حل اللغات: ① خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ: د سترګو خیانت (یعنی حرام نظر، نا محرمو ته کتل

تسهیلات:

قوله: وَعَيْنِي مِنَ الْخِيَانَةِ:

د سترګو د خیانت یو صورت: دا د قرآن کریم د یو آیت حصه ده، ددې معنی ده د سترګو خیانت. حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ددې آیت په تفسیر کښې دا جمله هم دمثال په طور داسې واضحه کړې ده. چه فرض کړه دسړو یو جماعت چرته ناست دي، اچانک یوه ښځه دهغوی مخې ته تیره شي اوهغه ټول سړی د یو بل دشرم نه دغې ښځې ته په اوچتو سترګو د کتلو همت نه شي کولې. نو کله چه هغوی ټول خپل نظرونه لاندې کړي نو یو هغوی کښې یو سړې دټولو د سترګو نه په پټه خپل نظر اوچت کړي اوپه پټه باندې دغه ښځې ته اوګوري نو دا د سترګو خیانت دي

[۲۵۰۲] ذالله تعالی نه دعافیت دعاغوښتل پکاردی

۲۵۰۱-[۲۱] ( ) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَادَ رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ [۲] قَدْ خَفَتَ، فَصَارَ مِثْلَ الْفَرْخِ [۳] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۴] -: (هَلْ كُنْتَ تَدْعُو اللَّهَ بِشَيْءٍ [۵] أَوْ تَسْأَلُهُ إِيَّاهُ)؟!.

ترجمه [۱] انس رضي الله عنه وایي چې (یوه ورځ) نبی کریم ﷺ د یو مسلمان پوښتنه (عیادت) وکړه. [۲] چې د مرغه د مرغي د بچی په شان ضعیف شوی وو [۳]. نبی کریم ﷺ (د هغه

( ) اخرجه الخطیب ذکره فی کنزا لعمال رقم: ۳۶۶۰

( ) اخرجه مسلم فی کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب کراهة الدعاء بتعجیل العقوبة فی الدنیا (رقم ۲۳ - ۲۶۸۸) والترمذی فی السنن رقم الحدیث ۳۴۸۷ واحمد فی المسند: ۱۰۷/۳

Maktaba Tul Ishaat.com

حالت لیدو سره، وفرمایل[۴] چې آیا تا د الله ﷻ څخه د څه څیز دعا کوله. [۵]یـ وي فرمایل چې تا به د الله ﷻ څخه د څه څیز دعا غوښتله؟،

حل اللغات: ① عَادَ: دا د عِيَادَة نه دي، د مریض پوښتنې کولوته وائی ② خَفَتَ: دَ نَعَرَ يَنْعُرُ نه دو... ضُعُف: دَ بیمارئ دَ وجې نه دا صحابی ډیر کمزورې شوې وو ③ الْفَرْخ: وَهُوَوَلَدُالطَّيْرِ: د مرغئ بچی ته وائی

قَالَ نَعَمْ، كُنْتُ أَقُولُ[٦]: (اللَّهُمَّ مَا كُنْتَ مُعَاقِبِي بِهِ فِي الْآخِرَةِ فَعَجِّلْهُ لِي فِي الدُّنْيَا)[٧]. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - (سُبْحَانَ اللهِ[٨]! لَا تُطِيقُهُ وَلَا تَسْتَطِيعُهُ[٩]: أَفَلَا قُلْتَ: اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ؟)[١٠] قَالَ: فَدَعَا اللهَ بِهِ فَشَفَاهُ اللهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [١] هغه اوویل چې هو،ما به د الله ﷻ څخه دا دعا غوښتله،[٦] چې خدایه' که ته به آخرت کې ما په عذاب کې اخته کوي، نو د هغه په بدله کې په دنیا کې د هغه عذاب په راکولو کې جلتي وکړي[٧] (د دي اوریدو سره) نبی کریم ﷺ وفرمایل چې تا ډیره عجیبه دعا وغوښته،[٨] نه خو ته په دنیا کې د الله ﷻ د عذاب د برداشت کولو طاقت لري او نه په آخرت کې د الله ﷻ د عذاب د برداشت کولو طاقت لرلی شي[٩]، تا داسې دعا ولي ونه غوښتله اللَّهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ، **ترجمه**[١] اي الله: ﷻ مونږ ته په دنیا کې هم خیر عافیت راکړي، او په آخرت کې هم خیر (یعني د کوتاهیو معافي) او مونږ د دوزخ د عذاب څخه وساتي،[١٠] د راوي بیان دی، چې هغه سړي د نبی کریم ﷺ د دې ارشاد مطابق د الله ﷻ څخه د دی دعا غوښتل شروع کړل، نو الله ﷻ هغه ته شفا ورکړه، مسلم، (د دي دعا څخه معلومه شوه چې په دي دعا سره مریض ته شفاء هم حاصلیږي نو ځکه مونږ هم سوال کوو چې یا الله! ﷻ د دي دعا فیوضات، برکات، انوار او کمالات مو په دواړه جهانو د ټولو مسلمانانو سره نصیب کړي، اللهم آمین

حل اللغات: ④ مُعَاقِبِي: عذاب راکونکې نې مالره، ⑤ لَاتُطِيقُهُ: أَيْ فِي الدُّنْيَا: ته ددې د برداشت کولو طاقت نه شې لرلې په دنیا کښې، ⑥ لَاتَسْتَطِيعُهُ: أَيْ فِي الْعُقْبَى: ته ددې د برداشت طاقت نه شې لرلې په آخرت کښې

تسهیلات:

قوله: سُبْحَانَ اللهِ:

ه سبحان الله ولیلو وجه: حضورپاك دَ حیرانتیا په بنیاد باندې اوفرمائیل چه سبحان الله داسې مه کوه د څه طاقت چه ته نه شې لرلې چه خپل بدن او طاقت دَالله تعالی دَ سزا مخې ته پیش کړې بلکه دَ عافیت دعا غواړه

[٢٥٠٣] دخپل طاقت نه زياته ذمه واري مه قبلوه

٢٥٠٣-[٢٢] (١) [١] وعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٢]- («لَا يَنْبَغِي لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يُذِلَّ نَفْسَهُ» [٣]. قَالُوا: وَكَيْفَ يُذِلُّ نَفْسَهُ؟ [٤] قَالَ (يَتَعَرَّضُ مِنَ الْبَلَاءِ لِمَا لَا يُطِيقُ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ). وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه [١] حذيفه رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د مؤمن د پاره مناسب نه دی چې هغه خپل ځان ذليل او خوار کړی [٣]. صحابه وو رضي الله عنهم عرض وکړو چې خپل ځان ذليل و خوار کول څرنګه دي؟ [٤] نبی کريم ﷺ وفرمايل چې داسې بلاوې په خپل سر واخلي چې د هغه طاقت نه لري، ترمذي، ابن ماجه، بيهقي، امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث غريب دی

حل اللغات: ① يُذِلَّ نَفْسَهُ: چه ځان ذليله او خوار کړی. ② يَتَعَرَّضُ: چه ورمخکښې شی يعنی ذمه واری ئې قبوله کړی په خپل سر ئې واخلی.

تسهيلات:

قوله: يَتَعَرَّضُ مِنَ الْبَلَاءِ:

د ناهليت باوجود يوکارته وړاندې کيدل: دې نه ازمينښت مصيبت او ذمه واری مراد ده. مومن دَ ايمانی فراست تقاضاده چه هغه دې داسې ذمه واری قبوله نه کړی چه دَهغه د استطاعت او طاقت نه بهر وی داخپل ځان پخپله خوار او ذليل کولو مترادف دی يا دَخپل ځان او نورو دَ پاره خطرناك صورت دې.

په محله کښې ته د ورتلو حکم: دَدې حديث په عموم کښې دا خبره هم راځی چه يو سړې مثلاً څه خلق نه خوښوی اوخلق دَ هغه نه خفه دی اودا سړې پخپله دَ خپل عزت نفس خيال نه کولو سره هغوی له ورځی هغوی دې ذليل کوی داسې ځايونوته ده له نه دی تلل پکار

دمعال څيزه دعا کولو ممانعت: داحديث سره دَدې چه دَ دې باب دَعنوان مطابق نه دې ليکن که دَدې نه پورتنی حديث ته اوکتلې شی نو په دې خبره باندې به پوهه شی چه سړې دې دَ هغه څيز دعا نه غواړی کوم چه دَ هغه دَ طاقت نه بهر وی

[٢٥٠٤] دَ ظاهر او باطن دَ ښه والی دعا

٢٥٠٤-[٢٣] (٢) [١] وَعَنْ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «عَلَّمَنِي رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] قُلْ: اللّٰهُمَّ اجْعَلْ سَرِيرَتِي خَيْرًا مِنْ عَلَانِيَتِي، [٣] وَاجْعَلْ عَلَانِيَتِي صَالِحَةً، [٤] اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ صَالِحِ مَا تُؤْتِي النَّاسَ مِنَ الْأَهْلِ وَالْمَالِ وَالْوَلَدِ غَيْرِ الضَّالِّ وَلَا الْمُضِلِّ»). (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ).

---

(١) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ٢٢٥٤ واحمد في المسند: ٥/٤٠٥

(٢) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ٣٥٨٦

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه [۱] حضرت عمر رضی الله عنه وایي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ماته تعلیم راکولو سره وفرمایل [۲] چې دا دعا غواړه اللّٰهُمَّ اجْعَلْ سَرِيرَتِيْ خَيْرًا مِنْ عَلَانِيَتِيْ وَاجْعَلْ عَلَانِيَتِيْ صَالِحَةً اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ مِنْ صَالِحِ مَا تُؤْتِي النَّاسَ مِنَ الْأَهْلِ وَالْمَالِ وَالْوَلَدِ غَيْرِ الضَّالِّ وَالْمُضِلِّ، ای الله جل جلاله زما باطن زما د ظاهر څخه بهتر جوړ کړي [۳] او زما ظاهر ته ښائستګي (تهذیب، شعور) راکړي، [۴] اي الله جل جلاله زه ستا څخه خیر غواړم د هغه څیز چې ته یې خلقو ته ورکوي، یعني اهل، مال، اولاد. چې نه خپله ګمراه شم، او نه بل څوك ګمراه کړم، ترمذي

حل اللغات ① سَرِيرَتِي: وَهُوَ مَا يُكْتَمُ: کوم چه پټ ساتلې شي یعنی باطن. ② عَلَانِيَتِي: ظاهر یعنی ښکاره. ③ غَيْرِ الضَّالِّ: چه نه په خپله ګمراه وی. ④ الْمُضِلِّ: أَيْ لِغَيْرِهِ: نه بل لره ګمراه کونکې وی

تسهیلات:

قوله: اللّٰهُمَّ اجْعَلْ سَرِيرَتِي خَيْرًا مِنْ عَلَانِيَتِي:

د دعا اهمیت او جامعیت: دا حدیث د کتاب الدعوات آخری حدیث دې دا په ډیره لویه جامع دعا باندې مشتمل دې چه د ټولو دعاګانو مقصد او مطلوب هم دغه دوه څیزونه دی چه د انسان ظاهر ښه وی او باطن ئې ښه وی. بیا چونکه خامخا په یوه معاشره کښې اوسیږی او چاپیره ماحول سره ئې واسطه وی. لهذا د دې احوال د صحیح کولو د پاره یوه اضافي دعا هم راغله چه اهل وعیال ښه ملاؤ شي او مال ښه ملاؤشي او بیا ماحول هم ښه ملاؤشي د دې د پاره چه د هغه ظاهر او باطن متاثر کیدو سره خراب نه وی

قوله: غَيْرِ الضَّالِّ:

د کامل مؤمن صفت: یعنی چه نه دا اهل وعیال په خپل خان ګمراه وی او نه نور ګمراه کونکی وی. بس هم دغه بادشاهت دې او هم دغه د دنیا جنت دې او هم دا د مسلمان د ژوند حقیقت دې

[۱۱] كِتَابُ الْمَنَاسِكِ

د حج د احکامو بیان

خلاصة الباب:

فيه أربعة وثلاثون حديثاً مشتملة على اثنى عشرة مسئلة

① فريضة الحج: ۱، ۱۶.

② فضيلة الحج والعمرة والإحرام لهما: ۲، ۳، ۴، ۵، ۲۰، ۲۷، ۳۱، ۳۲، ۳۳، ۳۴.

③ حج الصبي وأجره: ۶.

④ الحج عن غيره وشرطه: ۷، ۸، ۲۳، ۲۴.

⑤ حج النساء: ۹، ۱۰، ۱۱، ۲۹.

⑥ مواقيت الحج: ۱۲، ۱۳، ۲۵، ۲۶.

⑦ حكم العمرة: ۱۴، ۱۵.

⑧ الزجر لمن فرض عليه الحج ولم يحج: ۱۷، ۱۸، ۳۰.

⑨ التعجيل بالحج: ۱۹.

⑩ موجبات الحج: ۱۷، ۲۱.

⑪ الحج الأفضل: ۲۲.

⑫ وجود الزاد لفرضية سفر الحج: ۲۸.

تسهيلات:

د روژې څخه د حج د تاخير دوه وجوهات: ① روژه هر کال مکرر وی.او حج مکرر نه وی.بلکه په عمر کښې صرف یو ځل فرض دې.د دې وجې روژې ته احتیاج زیات وی په نسبت سره د حج.او کوم څیز ته چه احتیاج زیات وی.هغه د تقدیم زیات لائق وی.دې وجې ئې روژه په حج باندې مقدمه کړه.او روستو ئې حج ذکر کړلو.

② حج چونکه مرکب دې.د عبادت بدنی او عبادت مالی نه. څکه ئې د روژې نه روستو کړلو.کوم چه صرف عبادت بدنی دې.څکه چه مرکب د مفرد نه روستو وی.

د حج لغوی معنی: لفظ د حج ((بفتح الحاء وبكسر الحاء)) دواړه شان استعمالیږی.بفتح الحاء لکه ((اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيْهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوْقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ)) الآيــة او بكسر الحاء لکه ((وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا)) الآية دي.د حج لغوی معنی څه معظم او لوئې څیز ته اراده کول دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حج شرعي تعريف: اود شريعت په اصطلاح کښې د مخصوص ځائې مخصوص فعل ... په خاص وخت کښې اراده کول دی.

د حج د فرضيت تاريخ: د حج د فرضيت په تاريخ کښې په بذل المجهود کښې متعدد اقوال مذکور دی.

① نهمه هجری ② پنځمه هجری ③ شپږمه هجری ④ د هجرت نه وړاندې

تحقيقي خبره: ملا علی قاری په شرح د نقايه کښې ليکلی دی چه رسول الله ﷺ د حج فريضه په لسمه هجرئ کښې ادا کړې وه. کوم چه د حجة الوداع په نوم باندې ياديږي شی. اوحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په نهم هجری کښې حج کړې وو. اوحج هم په دغه کال فرض شوې وو. او اتمه هجرئ کښې د مکې د فتح په موقع باندې عتاب بن اسيد خلقو ته حج کړې وو. نبی ﷺ د مکې د فتحې نه پس هم دوی امير مقرر کړی وو.

د هجرت نه وړاندې د نبی عليه السلام په حج کولو کښې اقوال:

① ابن الاثير رحمه الله فرمائی چه د هجرت نه وړاندې نبی ﷺ به هر کال حج کولو.

② جابربن عبدالله رضي الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ صرف درې حجونه کړی دی. دوه د هجرت نه وړاندې او يو د هجرت نه پس په لسمه هجرئ کښې حجة الوداع

③ اوابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه رسول الله ﷺ د هجرت نه وړاندې درې حجونه کړی وو

④ ابن الجوزی رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ ډير حجونه کړی وو. د هغې شمار مونږ ته معلوم نه دې.

په پخوانو امتونو باندې د حج فرضيت: ① پاتې شوه دا چه حج په پخوانو امتونو فرض وو او که نه. نو په دې کښې دوه اقوال دی. په اولنو امتونو باندې هم حج فرض وو. حافظ ابن حجر رحمه الله دې ته ترجيح ورکړې ده.

② د حج وجوب د امت محمدی سره خاص دې. په اولنو امتونو حج فرض نه وو.

د اول فريق دليل: حافظ ابن حجر رحمه الله استدلال کوی او فرمائی. «مامن نبی إلا حج البيت» يعنی هيڅ يو پيغمبر نشته مگر حج د بيت الله ئې کړې دې. او دا خبره هم شوې ده چه حضرت آدم عليه السلام د هندوستان نه پيدل څلويښت حجونه کړی دی. جبرئيل عليه السلام آدم عليه السلام ته اوونيل ستا نه اووه زره کاله وړاندې به فرشتې د بيت الله طواف ته راتلې.

د اول فريق د دليل دوه جوابونه: ① د دويم قول قائلينو حضراتو جواب ورکړې دې چه د وړاندينی دلائلونه صرف دومره معلوميږی چه د پخوانو پيغمبرانو په زمانه کښې حج مشروع وو. او د مشروعيت نه وجوب او فرضيت نه لازميږی.

② او دا هم ممکن دی چه حج په پخوانو پيغمبرانو واجب وو. خو د هغوی په امتونو واجب نه وو. نو په دې صورت کښې حج د پيغمبرانو د خصوصياتو څخه دې. او امت

محمدی ته دا خصوصیت حاصل دي.

د حج د فرضیت دلائل: دحج فرضیت د کتاب سنت او اجماع دري وارو نه ثابت دي.

① کتاب الله خو د الله تعالی ارشاد دي ((وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا)) په ،علی الناس، کښې کلمه د ،علی، د ایجاب دپاره ده

② او سنت د نبی ﷺ حدیث دي چه ((بنی الاسلام علی خمس..... الحدیث))

حج د اسلام رکن: حج د دین په هغه بنیادی پنځو ستنو کښې یو عظیم القدر ستن ده چه په هغې باندې د اسلام د عقائدو او اعمالو پوره خیمه ولاړه ده، د حج ضروری کیدل، چه هغې ته د فقه په اصطلاح کښې فرض وائی، د قرآن کریم نه داسې په صراحت سره ثابت دی څنګه چه د مونځ، روژې او زکاة فرضیت ثابت دي.

د حج فرضیت د امت محمدی خصوصیت: د حج د فرضیت سعادت عظمی زمونږ د رسول ﷺ د امت سره خاص دي، هسې خو د حج رواج د ابراهیم علیه السلام د وخت نه دې خو هغه وخت ئې د فرضیت حکم نه وو پس صحیح مسلك هم دا دې چه حج صرف په امت محمدیه ﷺ باندې فرض شوې دې.

د حج دشرطونو په موجودګئ کښې د حج فرضیت: حج په عمر کښې یو کرت فرض دې چه کله هغه ټول شرطونه بیا موندلې شی چه په هغې سره فرض کیږی د شرطونو د موندلې کیدو باوجود چه څوك حج نه کوی هغه سړې فاسق دې، ګناهګار دې او څوك چه د حج د فرضیت نه انکار اوکړی هغه کافر دې.

د حج د فرض کیدو شرطونه: حج د دې شرطونو د موندلې کیدو نه پس واجب کیږی

① مسلمان کیدل، په کافر باندې حج فرض نه دې،

② آزاد کیدل، په وینځې او غلام باندې حج فرض نه دې،

③ عاقل کیدل، په مجنون، نشه او بیهوشه باندې حج فرض نه دې،

④ بالغ کیدل، په نابالغ ماشومانو باندې حج فرض نه دې،

⑤ صحت مند او تندرست کیدل، په بیمار، روند، ګوډ او معذور باندې حج فرض نه دې،

⑥ قادر کیدل یعنی د دومره مال مالك کیدل کوم چه د ضرورت اصلیه او د قرض نه زائد وی او د هغه د توښې او د سورلئ د کرایه او خرچ دپاره کافی وی، هم دغه شان د کومو خلقو نفقه چه د هغه په ذمه باندې واجب ده د هغوی دپاره هم په هغې کښې دومره پریږدی کوم چه د هغه د واپسئ پورې د هغه خلقو کفایت اوکړې شی

⑦ په لاره کښې امن کیدل، دې باره کښې د اکثر اعتبار دې که اکثر خلق په امن سره رسیږی نو حج به فرض وی، مثلا که اکثر خلق په لاره کښې د ډاکې د وجې نه لوټ کیږی یا یو

Maktaba Tul Ishaat.com

داسې دریاب یا سمندر حائل وي چه په هغې کښې په کثرت سره جهازونه ډوبیږي او اکثر خلق هلاکیږي یا په لاره کښې بل قسم ویره وي نو په داسې حالت کښې به حج فرض نه وي. خو که دا حادثات کله کله اتفاقي راځي نو بیا به د حج فرضیت ساقط نه وي

⑧ د زنانه د ملګرتیا دپاره د خاوند یا بل محرم موجود کیدل (محرم هغه سړی ته وائی چه هغه سره نکاح صحیح نه وي که د نسب په سبب وي لکه پلار، تره، رور وغیره یا د رضاعت په سبب وي لکه رضاعی رور وغیره او یا د خپلولۍ یا سسرالی قرابت د وجې نه لکه سخر وغیره خو د احتیاط تقاضه دا ده چه خوانه زنانه دې د خپل سخر یا رضاعی رشته دارو سره سفر نه کوي، چه کله د هغې او د مکې ترمینځه فاصله د دریو ورځو سفر برابر وي. که خاوند یا محرم نې په ملګرتیا کښې نه وي نو بیا د زنانه دپاره د حج سفر اختیارول جائز نه دی او د محرم عاقل او بالغ کیدل او مجوسي او فاسق نه کیدل هم شرط دي د محرم نفقه به په هغه زنانه باندې څوك چه هغه خان سره د حج دپاره بوځي، هم دغه شان چه په کومه زنانه باندې حج فرض شو هغه د خپل خاوند د اجازت نه بغیر هم محرم سره د حج دپاره تلې شي

که یو نابالغ هلك یا غلام د احرام تړلو نه پس بالغ شي یا آزاد شي او بیا هغه حج پوره کړي نو په دې صورت کښې به فرض نه ادا کیږي، خو که هلك د فرض حج دپاره د نوي سر نه احرام اوتړي نو صحیح به شي خو د غلام احرام به د حج دپاره په دې صورت کښې هم صحیح نه وي

د حج فرائض : په حج کښې پنځه څیزونه فرض دي.

① احرام. دا د حج دپاره شرط هم دې او رکن یعنی فرض هم دې

② وقوف عرفات یعنی په عرفات کښې پاتې کیدل اګر که د یو منټ په اندازه وي او که په ورځ کښې وي او که په شپه کښې وي

③ طواف الزیارة. دې ته طواف الافاضة او طواف الرکن هم وئیلې شي

④ په دې پورته فرائض کښې د ترتیب لحاظ یعنی احرام په وقوف باندې او وقوف په طواف زیارت باندې مقدم کول

⑤ هر فرض هم په هغه مکان مخصوص کښې ادا کول. یعنی د وقوف خاص په عرفات کښې او د طواف په خاص مسجد حرام (کعبه مکرمه) نه چاپیره کیدل او د فرض خاص په هم هغه وخت کښې ادا کول کوم چه په شریعت کښې د هغې دپاره مقرر دې یعنی د وقوف په نهم د ذی الحجة د ماسپخین د وخت نه د لسم تاریخ د سحر نه مخکښې ادا کول اود طواف د هغې نه روستو ادا کول

د حج واجبات : په حج کښې دا څیزونه واجب دي

① وقوف مزدلفه.
② د صفا او مروه ترمينځه سعی کول.
③ رمی جمار.
④ د آفاقی يعنی بهر ملکی دپاره طواف قدوم.
⑤ حلق يا تقصير سر خرول يا ويښته واړه کول.
⑥ او هر هغه څيز پريخودل چه د هغې په ترك کولو باندې دم يعنی څاروی ذبح کول واجب کيږی. د دې فرائض او واجبات نه علاوه نور هم څيزونه دی کوم چه د حج د سنن او آداب د لاندې راځی هغه به په راروانو صفحاتو کښې په خپله موقع بيانيږی

په طواف کښې د يوډالله والا قصه

دغه شان نی يوډ الله والا قصه ليکلې ده چه هغه اوولس حجونه کړی وو اوکله چه به بيت الله ته اورسيدو "لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ" نعره به ئی لګوله نوجواب به ملاويدلو چه "لَالَبَّيْكَ وَلَاسَعْدَيْكَ اُخْرُجْ مِنْ بَيْتِيْ" يعنی دَدې خانی نه اوځه نه ستا لبيك قبول دې اونه سعديك قبول دې

يوځل يوبل الله والا دا جواب واؤريدونوهغه راغلودې سړی ته ئی اووئيل چه تاته کوم جواب ملاويږی آيا ته دا اورې. هغه وئيل او زه ئی ښه اورم. هغه تپوس اوکړو چه دَ څومره وخت نه دا معامله جاری ده. هغه جواب ورکړو دَ اوولس کالونه. هغه اووئيل نو بيا دلته ولې راځې؟ دغه الله والا اووئيل چه دا دربار الهی پريخودو سره چرته لاړشم؟ بس هم هغه زمونږ خالق اومالك دې که هغه مو شړی نو مونږ به بياهم راځو. وائی چه الله تعالی په دې باندې راضی شو اودَ دغه سړی ټول حجونه ئی قبول کړل. بهرحال دَ عشق او ليوتتوب سره مست دا حاجی دَ محبوب په حصول کښې دَ محبوب دَ کورپه ليوتتوب سره چکرې وهی کله منډې وهی اوکله اوګې خوزه وی اوکله په سکون سره سترګې ښکته روان وی کله دَ حجراسود ښکلول کوی نوکله په رکن يمانی باندې ورتيتيږی کله په ملتزم پورې اينخلی چغې وهی نوکله دَميزاب رحمت لاندې راتلوسره اينخلی يوشوق دې ولوله ده جوش دې شور دې زور دې اوجذبه ده

طواف کعبہ ہے وقتِ سحر ہے · نسیم دل کشا زور جگر ہے

دَمحبوب دَ کور طواف ئی اوکړو. اووه چکرې وهلوسره سترې شو دوه رکعته ئی اوکړل لږ آرام ئی اوکړو بيائی زمزم اوڅکل بيا په جوش کښې راغلو اودَ محبوب په لټون کښې اوس دَ محبوب دَ کورسره دَ يوغرنه بل غر ته منډې شروع کړې. په غرباندې اودريدوسره دَ محبوب په کور نظر واچولو دعائی اوغوښتله اوبيا وادی ته ورکوز شو هلته ئی ښه منډې اووهلې په ژبه باندې دَ يار ذکر په بدن دوړې دی يوخوا بل خوا کوشش دې بل طرف ته دَ محبوب انتظار دې او ټول عمل لکه دَ ليونو شروع دې لکه چه

Maktaba Tul Ishaat.com

اَمُرُّ عَلَى الدِّيَارِ دِيَارِ لَيْلٰى اُقَبِّلُ ذَا الْجِدَارَ وَذَا جِدَارَا
وَمَا حُبُّ الدِّيَارِ شَغَفْنَ قَلْبِيْ وَلٰكِنْ حُبُّ مَنْ سَكَنَ الدِّيَارَا

کله چه دا حقیقی عاشق دا ټول مراحل پوره کړی او په ظاهره محبوب حاصل نه شی نو دا سرې مدینې منورې ته مخ کړی چه کومې هستئی زه دَ عشق اومحبت په دې میدان کښې اچولې یم دَهغه طرف ته ورځم اودَهغه نه معلوموم چه دَ محبوب دَ حاصلولو کومې طریقې دی مدینه منوره کښې حاضری ورکوی دَ رسول الله ﷺ دَ روضه مخې ته درود اوسلام وائی ریاض الجنة کښې مونځونه کوی دَ خپل ربنتونی پیغمبر جمات ته ورځی دَ حضورپاك دَ تلو راتلو کیناستو پاسیدو په ځایونو باندې نظر اچوی دَ خوږ نبی دَ منبر او محراب زیارت کوی بیا دَ وفا په لارکښې دَ سرونو کټ کونکو پتنګانو دَ قبرونو دَ کتلودپاره احد ته ځی دَ نورو مقاماتو زیارت کوی او دَ څه نوی تعلیماتو سره بیا دَ محبوب دَ کور طرف ته مکې مکرمې ته واپس کیږی دَ محبوب دکور سره خاؤشا غرونو ته ورځی عرفات ته ورځی او په جبل رحمت باندې په تیز نمرکښې ولاړدې اودَ محبوب حقیقی په مخکښې دَنیاز لاسونه خواره کړی دی په چغو صورو سره په ژړا ګانو محبوب راضی کوی ترماښام پورې په راز اونیاز کښې وخت تیره وی بیا یوې بلې وادئی مزدلفه ته روانیږی وائی چه کیدې شی محبوب هلته راضی شی اوحاصل شی راکوزیدوسره په زوره زوره وائی "لبيك اللهم لبيك لبيك لاشريك لك لبيك ان الحمد والنعمة لك والملك لاشريك لك" بیا وائی

اَللّٰهُ اَكْبَرُ مَا اَفَاضَ الْمَشْعَرُ وَبِهِ الْوُفُوْدُ تَزَاحَمَتْ تَسْتَغْفِرُ
اَللّٰهُ اَكْبَرُ مَا السَّمَاءُ تَزَيَّنَتْ بِنُجُوْمِهَا وَبِهَا الْكَوَاكِبُ تَزْهَرُ

مزدلفه کښې په خاورو اوده کیږی خیرن ویښته په دوړو ککړدې مګر په سرکښې ئی غوغا شروع ده دَ سترګو په وړاندې هرځائی کښې دَ محبوب جلوه ده سحر کښې دَ مزدلفې نه دَ لیوتوب زیاتولودپاره څه کاڼری راؤچته وی او بیا یوبلې وادئی منی ته ځی په جوش کښې دې او دَ محبوب په وصل کښې بندیزونه راځی په هغې باندې عملی وار کول غواړی نیغ ځی اوبالکل مخامخ په لارکښې یوغټ بندیزته مخامخ کیږی کاڼری خو تیار دی دَ دغه بندیز په سر باندې کاڼری وره وی دَ بدن ویښته لوئی شوی دی نوکونه لوئی شوی دی دَ بریتو بد حال دې په سر باندې خیرن ویښته دی په بدن باندې کفن دې یوڅادر پاس یوڅادر لاندې بندیزونه لرې کوی هرڅه ئی اوکړل چه څه کول وو اوچه څومره کول وو اوڅومره کیدې شو وئی کړل اوس بیا واپس کیدوسره دَاول نه ترآخره پورې دغه نقشې ته ګوری چه زه دَچا دَ پاره چرته تلې ووم اوولې تلې ووم اوڅه حاصل شو؟ په دغه پس منظرکښې چه کله ګوری چه تراوسه پورې محبوب په ظاهره باندې حاصل نه شو نو دې وخت کښې داحقیقی عاشق څه نورسوچ کوی ځکه چه دَ دنیا مجازی عاشقان چه کله په

عشق کښې ناکامه شي نوبیا هغه په خپله مرئی باندې چاړه راکاږی اوخودکشی کوی اوس دخپل ځان د قربانی کولوداحقیقی عاشق اراده کوی اودهغه بندیزونو د لرې کولودپاره چه کله د کاڼړو ویشتو نه فارغ شي نود قربان ګاه طرف ته مخ کړی دې دپاره چه دخپل ځان قربانی ورکړی هغه ځی اوسوچ کوی چه تردغه وخته پورې د محبوب په حصول کښې څه کیدې شو ما اوکړل بس اوس ددې ژوند ضرورت نشته اوس به هم دا ختموم کله چه قربان ګاه ته رسیږی نود محبوب حقیقی د طرف نه د رحمت یو پړق په هغه راپریوځی هغه اشاره کوی چه د ځان په ځائی ځناور ذبح کړه هم دغه به قبلولې شی دې لاړشی او ځناور په دې نیت باندې ذبح کړی چه په اصل کښې خپل ځان ذبح کوی کله چه ښه په جوش کښې تکبیروائی اوځناور قربانی کوی اودځان بازی لګوی نواوس محبوب حقیقی راضی کیږی او ملاویږی د محبوب حقیقی په راضی کیدواو د محبوب د وصل په ملاویدو سره حقیقی عاشق ته د حبیب د وصال مقام حاصلیږی کله چه په هوش کښې راځی نو په خپل ځان باندې نظر اچوی. لوئی لوئی نوکونه ورته ښکاری نووائی چه دا څه چل اوشو دا نوکونه دومره لوئی ولې دی؟ اودا ویښته ولې دومره خیرن دی اوداکپړې ولې دومره خیرنې دی. دې کتلوسره غسل خاتې ورځی اوغسل کوی صابن استعمالوی او صفائی حاصله کړی. نوې کپړې واچوی نوکونه کټ کړی اوعطراستعمالولوسره ظاهراً اوباطناً پاك شی. په حدیث کښې راغلی دی چه حج کولوسره حاجی داسې پاکیږی لکه څنګه چه د مورد خیټې نه راپیداشوې راغلې وو. دغه شان دا عاشقانه دیوانه عبادت مکمل کیږی

فلسفة حج: د محبوب د حصول دپاره د دنیاد مجازی عاشقانو دادستور دې چه کوم یوعاشق هم دمحبوب تعریف کوی دهغې نه پس تعظیم هم کوی اومال هم پرې خرچ کوی خوراك څښاك هم پرېږدی اوبیائی هم محبوب په لاس رانه شی نوآخر هغه د خپل کوړپریخودو سوچ کوی او وائی چه ما په تعریف کښې د محبوب قصیدې هم اولوستلې تعظیمونه مې هم اوکړل مال مې هم پرې ښه خرچ کړو اود خوراك څښاك نه مې هم ځان منع اوساتلو اوس د دې ژوند هیڅ ضرورت نشته دې لهذا دغه وخت کښې هغه کپړې اوشله وی ونې غوررزه وی او دومره په جذباتو کښې راشی چه د سرتوپئی اودخپو پیزار هم کوزکړی ونې غوررزه وی اود جذب په داسې کیفیت کښې راشی چه د لیونتوب په کیفیت کښې هغه د صحراګانوطرف ته مخ کړی د ده آبادو نه نفرت اووحشت کیږی او په دې امیدباندې د کور نه وتلوسره د صحرا طرف ته مخ کوی چه دې هغه مقامات اووینی چرته چه په یوه زمانه کښې محبوب اوسیدو اوکوم ځائی چه دا عاشق د محبوب ننبې کنډرې اود اوسیدو ننبې ننباني وینی نود ماضی دتولوحالاتو جائزه اخلی او دیار حبیب کښې په هرهغه مقام باندې ژړا کوی چرته چه په تیره شوې زمانه کښې محبوب خپل نقل وحرکت

کړې وو عربي شاعرانو او عجمي غزل ويونکو په خپلو قصيدو اوغزلونوکښې هم دغه نقشه پيش کړې ده اوهغوی پخپله هم ژاړي او نور هم ژړه وي هغوی په هرمقام باندې اودريدوسره نه صرف دَ ماضي نقشه پيش کړې ده بلکه هلته دَ هغه غم او فرياد يوبوزه ماتم نی کړې دې دَدې يوڅومثالونه پيش کولې شي يو سوزيدلې زړه والا شاعر دَخپلو جذباتو داسې اظهار کوی

اَيَامَنْزِلِیْ سَلْمٰی سَلَامٌ عَلَيْكُمَا　　　هَلِ الْاَزْمَنُ التِی مَضَيْنَ رَوَاجِعُ

اې دَ سلمیٰ محبوبه دوه مکان په تاسو دواړو باندې دې سلام وی آيا تيره شوې زمانه به واپس راشي؟

وَهَلْ يَرْجِعُ التَّسْلِيْمَ اَوْيَكْشِفُ العَمٰی　　　ثَلَاثُ الْاَثَافِیْ وَالدِّيَارُ الْبَلَاقِعُ

اوآيادَمحبوب وران کوراودَنغری درې کاڼي به زما لارخودنه يا زما دَ سلام جواب راکړي؟ شاعر ساحرابوالطيب متبنی وائی

فَدَيْنَاكَ مِنْ رَبْعٍ وَاِنْ زِدْتُ نَاكَرْبًا　　　فَاِنَّكَ كُنْتَ الصَّرَقَ لِلشَّمْسِ وَالْغَرْبَا

اې دَمحبوب کوره مونږ په تاباندې قربان، سره دَدې چه په دې وجه دَ تيرشوی وخت تازه بې آرامي زياته کړه ځکه چه ته دَ محبوب دَپاره په منزله دَ مشرق اومغرب وې

وَكَيْفَ عَرَفْنَا رَسْمَ مَنْ لَمْ يَدَعْ لَنَا　　　فُؤَادًا لِعِرْفَانِ الرُّسُوْمِ وَلَا لُبًّا

اومونږ دَمحبوب دکور نښې ځنګه اوپيژندلې سره دَدې چه دَ هغه دَ پيژند ګلودَپاره نه زمونږ زړه پريخودو او نه عقل

سَقَيْتُهُ عَبَرَاتٍ ظَنَّهَا مَطَرًا　　　سَوَائِلًا مِنْ جُفُوْنٍ ظَنَّهَا سُحُبًا

ما هغه باندې داسې جارې اوښکې اوڅکلې کوم چه هغه باران ګڼړلو دَ سترګوپه داسې بڼړو سره کوم چه هغه اوريځې اوګڼړلې

د مجنون مجازی عشق: دَ ليلیٰ مجنون خو په دې ميدان کښې دَ نورو نه لس قدمه وړاندې اووتلو هغه خودَ محبوبه در اوديوار ښکلولو اوځتلو اودَ طواف پورې قائل کيدو سره وائی

اَمُرُّ عَلَی الدِّيَارِ دِيَارِ لَيْلٰی　　　اُقَبِّلُ ذَا الْجِدَارَ وَذَا الْجِدَارَا

زه چه کله دَ محبوبې ليلیٰ په در و ديوار باندې تيريږم نو خاؤشا ديوالونه ښکلوم

وَمَا حُبُّ الدِّيَارِ شَغَفْنَ قَلْبِیْ　　　وَلٰكِنْ حُبُّ مَنْ سَكَنَ الدِّيَارَا

دکورونو محبت زما زړه فريفته نه کړو بلکه د دغه کورونو اوسيدونکو محبت داسې کړی

عَلَیَّ لِرَبْعِ العَامِرِيَّةِ وَقْفَةٌ　　　لِتُمْلِیْ عَلَیَّ الشَّوْقَ وَالدَّمْعُ كَاتِبُ

عامر دَمحبوب کور سره اودريدل په ما باندې لازم دی دې دَپاره چه هغه زما شوق زيات کړی او کاتب اوښکې کيدو سره اوليکی

وَمِنْ عَادَتِیْ حُبُّ الدِّيَارِ لِاَهْلِهَا　　وَلِلنَّاسِ فِيْمَا يَعْشِقُوْنَ مَذَاهِبُ

زما عادت دې چه زه دَ مکانونوسره په وجه دَهغې دَ مکينانو محبت لرم او په عشق کښې

د خلقو خپلې خپلې طريقې دي
د محبوب د حاصلولو دپاره په پنځمه مرحله کښې شريعت مطهره رکن حج مقرر کړې دې چه کله يو حقيقي عاشق سوچ کوي چه ماد محبوب حقيقي د حصول او رضا دپاره حمد او ثنا هم اوکړه. بيا عظيم تعظيم اوکړو بيا مال هم خرچ کړو خوراك څښاك هم بند کړو او بيا هم حقيقي محبوب په لاس رانغلو نو د غه وخت کښې دا عاشق حقيقي خپلې کپړې اوباسي د کفن په شان دوه څادرې واغوندي په سرباندې بربند وي او په خپو کښې داسې څپلئې وي په کوم سره چه خپې پټې نه شي اود دې باوجود په کور کښې خپل بال بچ پريږدي او د ليونی او مجنون په انداز سره د هغه ديار طرف ته مخ کړي چرته چه د محبوب کور دې اوهلته د هغه نښې نښانې دي داسې عاشق ليونې شي "بلدالله الحرام" ته اورسي د محبوب د کور په ليدو سره دا صادق عاشق لاړشي د هغه کور طواف شروع کړي دې دپاره چه محبوب ملاؤشي هغه د طواف په شروع کښې حجر اسود ښکلوه وي لکه چه هغه رسيدو سره د خپل محبوب حقيقي لاس ښکل کړو دلته نفل کول روستو دي دلته تهجد کول روستو دي د ټولونه اول د محبوب د کور طواف دې دې دپاره چه په څه طريقه محبوب رضا شي. په عشق مجازی کښې هم د طواف واقعات شوی دی او کيږي کوم چه رد کولې نه شي

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[٢٥٠٥] حج په ټول عمر کښې يوځل فرض دې

٢٥٠٥ــ[١] (١) ١ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: ٢ يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ فُرِضَ عَلَيْكُمُ الْحَجُّ فَحُجُّوا» ٣ فَقَالَ رَجُلٌ أَكُلَّ عَامٍ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ ٤ فَسَكَتَ حَتَّى قَالَهَا ثَلَاثًا ٥ فَقَالَ: لَوْ قُلْتُ نَعَمْ لَوَجَبَتْ وَلَمَا اسْتَطَعْتُمْ،

ترجمه ١ ابوهريره ﷺ وايي چې (يو ځل) نبی کريم ﷺ زمونږ په مخکې خطبه ويلو سره وفرمايل ٢ چې اې خلقو! په تاسو حج فرض شوي دي، نو تاسو حج کوی ٣ (د دې اوريدو سره) يو سړي عرض وکړو چې يا رسول الله! ﷺ آيا مونږ هر کال حج کوو؟ ٤ نبی کريم ﷺ خاموش وو. تر دې چې هغه سړي درې ځله دا خبره وکړه. ٥ بيا نبی کريم ﷺ وفرمايل چې که ما هو ويلې وې نو يقينا حج به (د هر کال د پاره) فرض شوی وو. او تاسو هر کال په حج کولو قادر کيدی نه شې.

ثُمَّ قَالَ ذَرُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ، ٦ فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِكَثْرَةِ سُؤَالِهِمْ وَاخْتِلَافِهِمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ. ٧ فَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَدَعُوهُ» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

[١] اخرجه مسلم فی صحيحه رقم الحديث ٤١٢/ ١٣٣٧ والنسائي فی کتاب مناسک الحج/باب فضل الحج (رقم-٢٦١٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه [۱] بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل تر څو چې زه تاسو پرېږدم، تاسو ما پرېږدئ (يعني څه چې زه ونه وايم، نو ما څخه پوښتنه مه كوئ) [۲] ځكه چې كوم خلق ستاسو څخه مخكې تير شوي دي (يعني يهود او نصارئ) هغه په دې سبب هلاك شو، چې هغوئ به د خپلو انبياوو څخه پوښتنې كولې، او د هغوئ سره به يې اختلاف كولى (څرنګه چې د بني اسرائيلو په باره كې منقول دي) [۳] هر كله چې زه تاسو ته د څه خبري حكم دركړم، نو د هغه څخه د څه چې تاسو يې د كولو طاقت لرئ هغه كوئ، او هر كله چې تاسو د څه خبري څخه منع كړم. نو هغه پرېږدئ، مسلم

حل اللغات ① ذَرُونِي: أي اترُكُونِي: ما پرېږدئ (ډير تپوسونه رانه مه كوئ تر څو چه زه ستاسو نه تپوس اونه كړم) ② فَأْتُوا: أي افْعَلُوهُ: كوئ هغه (دكوم چه درته ما حكم كړې دې) ③ فَدَعُوهُ: أي اتْرُكُوهُ پرېږدئ يعنى مه ئې كوئ (د كوم چه ما منع كړى يئ)

تسهيلات: **قوله**: فَقَالَ رَجُلٌ:

د رجل مصداق او د سوال كولو وجه: دې سړي نه اقرع بن حابس مراددې هغه داسوال كړې ووځكه چه هغه خيال كړې ووچونكه دَ اسلام نور اعمال مكرر دى نوحج هم كيدې شى دَ نورو احكامو په شان مكرر كيدو سره هركال كول وى.

قوله: فَسَكَتَ:

د نبي عليه السلام د سكوت مقصد: دَ حضورپاك سكوت اوخاموشي دَدې دَپاره وه چه دا سوال ورته بنه اونه لګيدو لكه سائل يوقسم رټل مقصودوو خوچه كله دغه سړي بار بارسوال اوكړو نو حضورپاك حقيقت واضح كړوكه چرې ما او كړې وې نودَ الله تعالى حكم به جوړشوې وې او بيابه هركال حج فرض ووبه كوم چه به عمل كول ګران وو. په دې وجه چه زه كله پخپله اونه بنايم نوتاسو بې ځايه سوالونه مه كوئى. چه دَ كوم حكم ضرورت وى نوزه درته حكم بنايم يا منع كوم ماهم په دې حالت كښې پرېږدئى ځكه چه دَ انبياء كرامو نه سوالونه كولوسره پخوانى امتونه تباه شوى دى تاسو داسې مه كوئى

په اسلام كښې د اولنې حج قائد: په دې حديث كښې حضورپاك دَ حج كولوحكم وركړو بيا په اتمه هجرى دَ فتح مكې نه پس دَ حضرت عتاب بن اسيد رضي الله عنه په مشرئى كښې مسلمانانو رومبې حج اوكړو. بيا په ۹هجرى كښې دَحضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه په مشرئى كښې مسلمانانودويم حج اوكړو. بيا په ۱۰هجرى كښې دَحضورپاك سره ټولو مسلمانانو حجة الوداع اداكړو

علماؤ ليكلى دى چه حضوراكرم په مكه مكرمه كښې دَ هجرت نه وړاندې ډيرحجونه اداكړى وو ليكن دَ فتح مكې نه پس دَحضورپاك دا رومبې حج وو. په دې وجه معلومه شوه چه دَ حج فريضه موسّع ده يعنى په دې كښې دَ تاخير ګنجائش شته دې.

[۲۵۰۶] اسلام کښې جهاد د ټولو نه افضل عمل دې

۲۵۰۶-[۲] ()[۱] عَنْهُ قَالَ: «سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[۲] أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ[۳] قَالَ: إِيمَانٌ بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ[۴] قِيلَ: ثُمَّ مَاذَا[۵] قَالَ: الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ[۶] قِيلَ: ثُمَّ مَاذَا قَالَ: حَجٌّ مَبْرُورٌ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه [۱] ابوهريره ﷺ وايي چې د نبی کريم ﷺ څخه پوښتنه وشوه [۲] کوم عمل د ټولو څخه بهتر دی؟[۳] وي فرمايل چې په الله ﷻ او د هغه په رسول ايمان راوړل.[۴] پوښتنه وشوه چې بيا کوم؟[۵] وي فرمايل چې د الله ﷻ په لار کې جهاد کول.[۶] پوښتنه وشوه چې بيا کوم؟ وي فرمايل چې حج مقبول. بخاری، مسلم

حل اللغات: ① حَجٌّ مَبْرُورٌ: أَيْ مَقْبُولٌ: قبول شوې حج

تسهيلات:

قوله: أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ:

افضل عمل: د فضل اعمال په سلسله کښې د ټولو نه افضل عمل کوم يو دې؟ مختلف احاديث منقول دی په څه احاديث کښ يو عمل ته افضل وئيلې شوې دې او په څه کښ بل ته، په دې ټولو کښ مطابقت او موافقت داسې پيدا کولې شی چه دا اختلاف د بيان سائلين په احوال، حيثيات او مقامات د فرق او تضاد په وجه باندې دې، دا خبره په تفصيل سره په کتاب الصلاة کښ په يوه موقع باندې بيان کړې شوې ده.

[۲۵۰۷] مقبول حج د ټولو ګناهونو کفاره ده

۲۵۰۷-[۳] ()[۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[۲] «مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه: [۱] ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې د الله ﷻ د پاره حج وکړي او د حج په دوران کې نه د خپلې ښځې سره مجامعت وکړي او نه په فسق کې اخته شي، نو هغه داسې بې ګناه کيدو سره واپس راځي څرنګه چې په هغه ورځ بې ګناه وو. په کومه ورځ چې د مور د خيټې څخه پيدا شوی وو. بخاري، مسلم

حل اللغات: ① فَلَمْ يَرْفُثْ: الرَّفَثُ يُطْلَقُ عَلَى الْجِمَاعِ: رفث جماع ته وائی يعنی دحج په دوران کښې ئې خپلې ښځې سره جماع اونه کړه. ② لَمْ يَفْسُقْ: نه ئې څه ګناه اوکړه (په دوران دحج کښې)

[۱]) اخرجه البخاری فی كتاب الإيمان/باب من قال إن الإيمان هو العمل (رقم-۲۶) ومسلم فی كتاب الإيمان/باب بيان كون الإيمان بالله تعالى أفضل الأعمال (رقم) ۱۳۵ - (۸۳) والترمذی فی السنن رقم الحديث ۱۶۵۸ والنسائی فی كتاب مناسك الحج/باب فضل الحج (رقم- ۲۶۲۴) واحمد فی المسند: ۳۷۲/۶

[۲]) أخرجه البخاری فی كتاب الحج/باب فضل الحج المبرور (رقم-۱۵۲۱) ومسلم فی كتاب الحج /باب فی فضل الحج والعمرة، ويوم عرفة (رقم-۴۳۸ - (۱۳۵۰) والترمذی فی السنن رقم الحديث ۸۱۱ والنسائی فی كتاب مناسك الحج/باب فضل الحج (رقم-۲۶۲۷) وابن ماجة فی كتاب المناسك/باب فضل الحج والعمرة (رقم-۲۸۸۹) واحمد فی المسند: ۴۹۴/۲

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات:

قوله: وَلَدَتْهُ أُمُّهُ:

د حج مقبول شرائط: یعنی په کومه ورځ چه دا سړی د موردخیتې نه دټولو ګناهونونه پاك پیداکیدو سره راغلی وو دمقبول حج کولونه پس به دغه شان پاك شی دا ډیر لوئی فضیلت دی اوددی تائید په دی حدیث سره هم کیږی په کوم کښې چه دا الفاظ راځی

قوله: "الحج يهدم ماكان قبله"

د مذکوره فضیلت کټلوه لپاره شرطونه، لیکن دَدې فضیلت دَحصول دپاره په زیربحث حدیث کښې دَ درې شرائطو ذکرهم دی

① اول شرط دا چه حج خالص دَ الله تعالی دَ رضا اوخوشحالئی دپاره کیدل او دَ نوم، ریاکارئی او خان خودلودپاره نه وی.

② دویم شرط دادی چه دَ حج دوران کښې "رفث" ارتکاب اونه کړی، رفث هغه فحش خبرو اترو ته وائی چه کوم دښځویه مخکښې دَ ښځو محاسن بیانولوسره متعلق وی په جماع باندې هم ددې اطلاق کیږی.

③ دریم شرط دادی چه دَ حج دوران کښې سړې دَ فسق اوفجور ارتکاب اونه کړی. یعنی دَ حج دوران کښې دَداسې ګناه ارتکاب اونه کړی کوم چه کبیره وی او په کوم سره چه سړې فاسق کیږی او نه دې په صغیره ګناه باندې اصرار کوی کوم چه دَ اصرار په وجه کبیره ګناه جوړیږی

د حج مبرور علامت: دَ حج مقبول دعلاماتونه یوه علامه داده چه دَحج کولونه پس دَ انسان اخلاقی عملی او دینی حالات بدلیدوسره بهتر شی. بعضو وئیلی دی چه حج مبرور هغه دې کوم سره چه دَ ګناه ګډوډوالې نه وی. که دَ حج دوران کښې دَ ګناه ارتکاب اوکړی هغه حج مبرور نه پاتې کیږی.

[۲۵۰۸] دعمرې ثواب

۲۵۰۸-[٤] (١) ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا، ③ وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ① ابوهریره ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② یوه عمره تر دویمي عمري کناره ده. د هغه (صغیره) ګناهونو د پاره چې د هغه دوارو عمرو په منځ کې وي، ③ او د حج مقبول بدله د جنت څخه علاوه بل څه نه ده. بخاري، مسلم

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الحج /باب وجوب العمرة وفضلها (رقم-١٧٧٣) ومسلم فی کتاب الحج /باب فی فضل الحج والعمرة، ویوم عرفة (رقم-٤٣٧ - (١٣٤٩) والنسائی فی کتاب الجنائز /باب الرخصة فی أن یقال: لشهر رمضان رمضان (رقم-٢١١٠) وابن ماجة ی کتاب المناسک /باب العمرة فی رمضان (رقم-٢٩٩٤) واحمد فی المسند: ٢٢٩/١

تسهیلات:

قوله اَلْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا

د ګناهونو مصداق: دا کفاره د صغیره ګناهونو ده په دې اجماع ده چه مکفرات د هغه صغائرو سره مختص دی چه د حقوق العباد سره متعلق نه وی

اعتراض: چه عمره د ګناهونو کفاره ده په دې شرط چه کله د کبائرو نه اجتناب او کړی نو سوال دا دې چه کله د کبائرو نه بچ کیږی نو بیا د کومو ګناهونو کفاره شوه؟

د اعتراض جواب: عمره مقید ده د هغې د زمانې سره یعنی د دواړو عمرو په مینځ کښې ئې چه کومې ګناهونه کړی وی باقی د کبائرو نه اجتناب خو عام دې که د عمرې مینځ کښې وی او که د هغې نه پس وی [التعلیق الصبیح ج۳ص ۲۱۲]

[۲۵۰۹] په رمضان کښې د عمرې ثواب

۲۵۰۹—[۵] (۱) ⓵ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⓶ «إِنَّ عُمْرَةً فِي رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ⓵ ابن عباس ﷠ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل په رمضان کې د عمرې کولو ثواب د حج د ثواب برابر دی، بخاري، مسلم

تسهیلات:

قوله: إِنَّ عُمْرَةً فِي رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً:

په روژه کښې د عمرې کولو ثواب: یعنی چه دَ مقبول حج کوم ثواب دې هم دومره ثواب دغه سړی ته حاصلیږی ځوك چه دَ رمضان په میاشتې کښې عمره کوی. په یوبل حدیث کښې "حجة معی" الفاظ راغلی دی. دَدې مطلب دادې چه حضورپاك سره په حجة الوداع کښې دَ شریکیدو ثواب ملاویږی. "سبحان الله والحمد لله".

[۲۵۱۰] د نابالغ ماشوم دَ حج ثواب

۲۵۱۰—[۶] (۲) ⓵ وَعَنْهُ قَالَ: «إِنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَقِيَ رَكْبًا بِالرَّوْحَاءِ ⓶ فَقَالَ: مَنِ الْقَوْمُ، قَالُوا: الْمُسْلِمُونَ، ⓷ فَقَالُوا: مَنْ أَنْتَ قَالَ: رَسُولُ اللهِ ⓸ فَرَفَعَتْ إِلَيْهِ امْرَأَةٌ صَبِيًّا، فَقَالَتْ: أَلِهَذَا حَجٌّ ⓹ قَالَ: نَعَمْ وَلَكِ أَجْرٌ» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب عمرة فی رمضان (رقم-۱۷۸۲) ومسلم فی کتاب الحج /باب فضل العمرة فی رمضان (رقم-۲۲۱ - (۱۲۵۶) والنسائي فی کتاب مناسك الحج/باب حج المرأة عن الرجل (رقم-۲۶٤۱) وابن ماجة فی کتاب المناسك/باب الحج عن الحي. إذا لم يستطع (رقم-۲۹۰۷)

[۲] اخرجه مسلم فی کتاب الحج /باب صحة حج الصبي واجر من حج به (رقم-٤۰۹ - (۱۳۳۶) وابن ماجة فی کتاب المناسك/ باب حج الصبي (رقم-۲۹۱۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه [۱] ابن عباس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ (د حج د سفر په دوران كې) په روحاء كې (چې د مديني څخه د ۳۶ ميله په فاصله د يو ځاى نوم وو) يوې قافلې سره يو ځاى شو. [۲] رسول الله ﷺ ترې پوښتنه وكړه چې تاسو كوم قوم يې؟ [۳] قافلې والااوويل چې مونږ مسلمانان يو. [۴] بيا قافلې والاپوښتنه وكړه چې تاسو څوك يې؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې زه رسول الله يم [۵] د دې اوريدو سره، يوې ښځې يو هلك (په لاس كې اخستو سره د كجاوې څخه، رسول الله ﷺ ته نيولو سره راپورته كړو (يعني رسول الله ﷺ ته يې وښودلو) بيا يې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه چې آيا د ده د پاره د حج ثواب شته؟ [۶] رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې هو او ستا د پاره هم ثواب دى. مسلم

حل اللغات: ① رَكْبًا: جمع د راكب ده، اودا اسم جمع ده لكه صاحب، مراد ترې قافله ده او دا لس يا د لسو نه زيات د سورلو والاجماعت ته وائى، خو روستو ددې استعمال د عام جماعت دپاره اوشو ② الرَّوْحَاء: د مديني نه شپږديرش يا څلويښت ميله لرې د يوځاى نوم دې. ③ صَبِيًّا: ماشوم

تسهيلات:

قوله: وَلَكِ أَجْرٌ:

د ماشوم د حج نوعيت: دَ ټولوفقهاؤ په دې باندې اتفاق دې كه چرې وړوكې ماشوم خپل موريلار سره دَ حج دَپاره لاړشي او حج اوكړى نودَهغه حج صحيح دې ثواب به ملاوېږى ليكن دَماشوموالي داحج به دَ بالغ كيدو نه پس دَ حج دَپاره نه كافى كيږى. دَ بلوغ نه پس كه چرې داماشوم دَمال خاوندشو نو په ده باندې دَ اسلام حج كول لازم دى. دَ ماشوم په شان دَ غلام هم دغه مسئله ده. اوكه فقير مسكين سړى چرته حج اوكړى اوروستو مالدارشى نو په ده باندې دوباره حج نشته دې. تردې پورې خودَ ټولو فقهاؤ اتفاق دې.

دَ صحيح قول مطابق دَ امام ابوحنيفه رحمه الله هم دغه مسلك دې اودومره خبره ده چه امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى چه دَ ماشوم دَ حج ثواب به دَهغه مور پلار ته ملاوېږى. اوكه ماشوم كه چرې مميزنه دې نو مور پلارته پكاردى چه ماشوم ته دَ احرام احترام اوښائى اودَ احرام دَ ممنوعاتو نه ئى بچ كړى. دَامت فقهاؤ چه دا كومه فيصله كړې ده چه دَماشوم حج دَ فرض حج دَ پاره كافى نه دې نودَدې رومبى دليل دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنه حديث دې كوم چه امام طحاوى رحمه الله نقل كړې دې الفاظ ئى دادى "ايما غلام حج به اهله ثم بلغ فعليه حجة اخرى" (طحاوى)

دويم دليل دَ مستدرك حاكم روايت دې دَ كوم الفاظ چه دادى "قال النبى صلى الله عليه وسلم ايما صبى حج عشر حجج ثم بلغ فعليه حجة الاسلام" (مستدرك)

بهرحال زيربحث حديث كښې "ولك اجر" الفاظو سره دَ ائمه احنافودَ دې نظريې تائيد كيږى چه دَ نابالغ ماشوم دَ حج ثواب به دَهغه موريلارته ملاوېږى.

[۲۵۱۱]دَ بل دَ طرف نه دَ حج کولو مسئله

٢٥٠٠-[٧] ( )[١] وَعَنْهُ قَالَ: «إِنَّ امْرَأَةً مِنْ خَثْعَمٍ قَالَتْ: [٢] يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ فَرِيضَةَ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ فِي الْحَجِّ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيرًا لَا يَثْبُتُ عَلَى الرَّاحِلَةِ أَفَأَحُجُّ عَنْهُ [٣] قَالَ نَعَمْ، وَذَلِكَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه [١] ابن عباس رضي الله عنه وايي چې د قبيله خثعم يوې ښځې عرض وکړو [٢] يا رسول الله صلى الله عليه وسلم حج د الله تعالی په بنده ګانو باندې فريضه ده، خو زما پلار ډير بوډا دی چې په سوارلی کينا ستلو هم نشي، نو آيا زه د هغه د طرف ځخه حج وکړم؟ [٣] رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې هو، د هغه د طرف ځخه حج وکړه،، راوي وايي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغې په منځ کې دا سوال وجواب په حجة الوداع کې شوی وو. بخاري، مسلم

حل اللغات: ① شَيْخًا كَبِيرًا: ډير بوډا، ② لَا يَثْبُتُ: أَيْ لَا يَقْدِرُ: خان نه شي ټينګولي يعنی په سورلی باندې د کيناستلو طاقت ئې نشته. ③ الرَّاحِلَةِ: سورلی (اوښ يا اس وغيره)

تسهيلات:

قوله: أَفَأَحُجُّ عَنْهُ:

د بوډاوالی په حالت کښې دحج فرض کيدو دوه صورتونه: ① په بوډاوالی کښې حج يا خو داسې فرض شوي وو چه دا سړي دَ بوډاوالی په حالت کښې مسلمان شوي وو

② په دې وجه فرض کړې شوې وو چه داسړي دَ بوډاوالی په حالت کښې مالدار شوي وو

دصحابی د تپوس کولو وجه: بهرحال دا سړي شيخ فانی وو دَ ده دَ صحت ځه اميدنه وو په دې وجه دَهغه لور دَ هغه دَ طرف نه دَ حج کولودَ مسئلې تپوس اوکړو. اوس تولو احاديثو ته په کتو سره او دَ فقهاؤ دَ رائې په رڼاکښې دوه مسئلې مخې ته راځی.

دحج بدل دوه شرطونه: داده که په يوسړي باندې حج فرض شو اوهغه پخپله دَ حج کولونه معذور وی مثلاً شيخ فانی وی خپه لاس ئی پرې شوې وی يا نابينا وی نو که دَهغه دَ طرفه څوته بل سړې حج کول غواړی نودا جائز دی ليکن دَدې دَپاره دوه شرطونه دی

① معذوره سړي دې بل سړی ته دَ خپل طرف نه دَ حج کولو حکم ورکړی يا دَ مرګ په صورت کښې دَحج کولووصيت اوکړی

② معذوره سړي دې حج ټوله خرچه برداشت کولو سره دې هغه سړې دَ حج دَپاره روان کړی. دا دواړه شرطونه دَ فرض حج کولودَپاره دی ليکن که يوسړې دَ بل سړی دَ طرف نه نفلی حج کول غواړی نو په دې کښې نه دَ څه وصيت ضرورت شته اونه دَ خرچې ورکولو څه پابندی شته.

( ) اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب وجوب الحج وفضله (رقم-۱۵۱۳) ومسلم فی کتاب الحج /باب الحج عن العاجز لزمانة وهرم ونحوهما. أو للموت (رقم-۸-٤٠٧ - (۱۳۳۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

د مړشوي پلار دپاره دحج کولوجواز: که چرته اولادد خپل مور پلار د طرف نه فرض حج کول غواړي نودَدې صورت به څه وی بعض علماء فرمائی چه په دې صورت کښې نه د مورپلار د طرف نه خرچه ورکول ضروري دی اونه وصيت ضروری دې اولادد خپل مو پلار د طرف نه په خپل خرچ باندې فرض حج کولې شی زير بحث حديث په دې باندې واضحه دليل دی او فصل ثانی کښې حديث نمبر: ۲۵۲۸ هم په دې باندې واضح دليل دې دا مسئله خو مکمل شوه اودَدې حديث تعلق مورپلار او اولاد سره دې لهذا په دې کښې د څه تاويل کولو ضرورت نشته دې

په شيخ فانی باندې د حج په فرضيت کښې مذاهب:

① دَ امام شافعی رحمه الله او اکثرمشائخ په نيزشيخ فانی او دائمی معذور باندې حج فرض کيږی که چرته هغه پخپله نه شی تلې نو پيسې دې ورکړی او په بل چا باندې دې حج اوکړی دَامام ابوحنيفه رحمه الله يو مرجوح قول هم داسې دې

② دَ امام ابوحنيفه رحمه الله راجح قول دادې چه په داسې معذوره باندې حج فرض نه دې لهذا په بل باندې دَحج کولو څه ضرورت نشته دې داسړې دَحج دَ اداکولود ذمه واری نه آزاد دې

داول فريق دليل: امام شافعی رحمه الله دَ زيربحث حديث نه استدلال کړې دې چه په خپله مدعا باندې په ظاهره واضح دليل دې

د دويم فريق دليل: امام ابوحنيفه رحمه الله دَ قرآن کريم دَدې آيت نه استدلال کړې دې ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾ [آل‌عمران: ۹۷. په دې آيت کښې دَ حج دَ فرضيت دَپاره طاقت شرط ګرځولې شوې دې او په شيخ فانی کښې دَ تلو راتلو طاقت نشته دې

د اول فريق د دلائلو دوه جوابونه: ① په دې شيخ باندې اول حج فرض شوې وو روستو معذوره شوې وو په حديث کښې دَ ماضی صيغه دَدې طرف ته اشاره کوی لهذا په داسې صورت کښې احناف هم دَ واجبځ فريضې واجبه دَ ادا کولو قائل دی

② دې بنځې دَ نفل حج دَ ادا کولو په توګه اجازت غوښتې وو نو حضورپاك اجازت ورکړو دا دَ فرض حج معامله نه وه

[۲۵۱۲] د وارث د مورث د طرف څخه د حج کولو مسئله

۲۵۱۳–[۸] (۱) وَعَنْهُ قَالَ: «أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: إِنَّ أُخْتِي نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ وَإِنَّهَا مَاتَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: لَوْ كَانَ عَلَيْهَا دَيْنٌ أَكُنْتَ قَاضِيَهُ قَالَ: نَعَمْ قَالَ: فَاقْضِ دَيْنَ اللهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِالْقَضَاءِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الأيمان والنذور / باب من مات وعليه نذر (رقم-۶۶۹۹) واحمد في المسند ۱/ ۳۱۰

ترجمه [١] ابن عباس رضي الله عنهما راوي دى چې يو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو [٢] او عرض يې وکړ چې زما خور د حج کولو نذر منلی وو، خو هغه مړه شوه [٣] رسول الله ﷺ وفرمايل چې د هغه په ذمه که څه مطالبه، مثلاً [٤] قرض وغيره وي، نو آيا تا به هغه ادا کوله که نه؟ هغه اوويل چې هو [٥]، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې نو بيا د الله تعالى مطالبه يعني حج نذر ادا کړه، ځکه چې د هغه ادا کول زيات ضروري دى. بخاري. مسلم

حل اللغات: ① فَاقْضِهِ: تا به اداکولو، پوره کولو به دي

تسهيلات:

قوله: فَاقْضِ دَيْنَ اللهِ:

د وصيت څخه بغيره مړه د پاره د حج جواز: لکه څنګه چه دَ دې نه مخکې حديث نمبر ٢٥١١ کښې ليکلې شوی دی چه اولاد او وارث که دَخپل مورث دَ طرف نه حج کول غواړي نو وصيت کولو او مال ورکولو نه بغير هم دَ وارث دَ طرفه حج صحيح کيږي دَ کوم په بنيد د چه هغه دَ حج کولو دَ مسئلې تپوس کړې وی

[٢٥١٣] ښځه دَ خاوند يا محرم نه بغير حج نه شي کولې

س--[٩] ( ) [١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ وَلَا تُسَافِرَنَّ امْرَأَةٌ إِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ» [٣] فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ اكْتُتِبْتُ فِي غَزْوَةِ كَذَا وَكَذَا، وَخَرَجَتِ امْرَأَتِي حَاجَّةً [٤] قَالَ: اذْهَبْ فَاحْجُجْ مَعَ امْرَأَتِكَ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه [١] ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] يو سړی دې د ښځې سره خلوت نه کوي (يعني پردې سړی او ښځه دې په يو ځای کې تنها نه جمع کېږي) او يوه ښځه دې د محرم څخه بغير سفر نه کوي [٣] د دې اوريدو سره، يو سړي عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ په فلانی فلانی غزا کې زما نوم ليکل شوی دی (يعني فلاني جهاد کوم چې روان دی. او هلته چې کوم لښکر تلونکي دي، په هغه کې هم زما نوم ليکلی شوی دی، چې زه هم د لښکر سره زم) حالاتکه زما ښځې د حج اراده کړيده، نو څه وکړم؟ آيا جهاد ته ولاړ شم. او ښځه يوازې د حج د پاره پريږدم يا د ښځې سره ولاړ شم. او جهاد ته نه ځم [٤] رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې ځه او د خپلې ښځې سره حج وکړه (ځکه چې جهاد ته تلونکي خو ډير دي. ليکن ستا د ښځې سره تلونکی خو ستا څخه علاوه بل څوک محرم نشته). بخاري. مسلم

( ) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب من اكتتب في جيش فخرجت امرأته حاجة. أو كان له عذر. هل يؤذن له (رقم-٣٠٠٦) ومسلم في كتاب الحج /باب سفر المرأة مع محرم إلى حج وغيره (رقم) ٤٢٤ - (١٣٤١)

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات ① لَا يَخْلُوَنَّ: خالي والې يعنې تنهائي دې نه اختياروي، خانله كيږي دې نه. ② مَحْرَمٌ هغه څوک چه شرعا ورسره د يوې زنانه د هميشه دپاره نكاح حرام وي ③ اكْتُتِبْتُ: د باب اِفْتِعَال نه د مجهول متكلم صيغه ده، يعنې ليكلې شوې يم زه يعنې نوم زما

تسهيلات:

قوله: وَلَا تُسَافِرَنَّ امْرَأَةٌ إِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ:

زنانه د خاوند يا محرم نه بغير حج ته نه شي تلې: د پردې سړي او ښځې دپاره حرام دي چه هغوى خلوت اختيار كړي، هم دغه شان د زنانه دپاره د مسافت په اندازه (يعنې ۴۸ يا ۷۸ كلو ميټر) يا د دې نه زيات مسافت كښ د خاوند يا محرم نه بغير سفر كول حرام دى تردې چه د حج په سفر كښ هم د زنانه دپاره د هغې د خاوند نه يا د يو محرم سره كيدل د وجوب حج دپاره شرط دې، يعنې په زنانه باندې حج هغه وخت فرض كيږي چه كله د هغې سره خوند يا محرم وي

د محرم تعريف: د شريعت په اصطلاح كښ هغه ته وائي چه د هغه سره نكاح د هميشه دپاره حرام وي كه د خپلولۍ په لحاظ سره وي يا د رضاعت د وجې نه يا د سخرګنۍ د تعلق د وجې نه. هم دغه شان دمحرم عاقل اوبالغ كيدل او مجوسي اوفاسق نه كيدل هم شرط دى

په ښځه باندې د محرم څخه بغير د حج په فرضيت كښې مذاهب:

① امام شافعي رحمه الله فرمائي كه چرې دې سره په سفركښې قابل د اعتماد يوه ښځه هم وي نوبيا هم په دې حج كول فرض كيږي.

② امام مالك رحمه الله فرمائي چه كه چرې حجانړئي سره په سفركښې د نورو ښځو ښه پوره ډله وى نو په دغه ښځه باندې حج كول لازم كيږي.

③ امام ابوحنيفه رحمه الله او امام احمد رحمه الله فرمائي كه چرې ښځې سره محرم موجود نه وى نو په دې باندې حج فرض نه دې د محرم كيدل د حج د فرضيت دپاره ضروري دى ظاهري حديث د احناف او حنابله دليل دې

[٢٥١٤] ښځوته په حج كښې د جهاد ثواب ملاويږي

٢٥٠٣-[١٠] (١) ⑴ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «اسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي الْجِهَادِ ⑵ فَقَالَ: جِهَادُكُنَّ الْحَجُّ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ⑴ ام المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه په جهاد كې د تلو اجازت وغوښتلى. ⑵ نو رسول الله ﷺ وفرمايل چې ستا جهاد حج دى (يعني په تاسو

(١) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب جهاد النساء (رقم-٢٨٧٥) وابن ماجة في كتاب المناسک/باب الحج جهاد النساء (رقم-٢٩٠١) واحمد في المسند: ٦/٦٧

ښخو جهاد واجب نه دی، د دې په ځای حج دې په شرط د دې چې د حج کولو استطاعت وي، بخاري، مسلم

تسهيلات:

قوله اسْتَأْذَنْتُ:

عائشې رضی الله عنها ته جواب وجه: چونکه د جهاد ثواب ډیر زیات دی قرآن او حدیث کښې د ایمان نه پس د ټولو نه زیات فضائل د جهاد دی په دې وجه حضرت عائشه رضی الله عنها د دې عظیم ثواب د حاصلولو د پاره جهاد ته د تللو اجازت اوغوښتلو حضورپاک ارشاد اوفرمائیلو د ښځو جهاد حج دې الله تعالی ښځو ته په حج کښې د جهاد ثواب ورکوی

ځکه چه په حج کښې مشقت هم دې او د لرې علاقو سفر هم دې د خپلو خپلوانو او د خپل کور نه او وطن نه لریوالي هم دې په دې وجه الله تعالی دې صنف نازک ته د توره د جنګونو او د جنګ او جدال د معرکو ثواب د حج په سفر کښې ورکړې دې

[۲۵۱۵] د محرم نه بغیر د ښځې د سفر حد څه دې؟

حدیث-[۱۱] ( ) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «لَا تُسَافِرُ امْرَأَةٌ مَسِيرَةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ① ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② یوه ښځه دې د یوی ورځې او یوی شپې د مسافت په اندازه هم سفر نه کوي، خو دا چې د هغې سره محرم وي. بخاري، مسلم

حل اللغات: ① مَسِيرَةَ: مسافت، مقدار د سفر ② ذُو مَحْرَمٍ: هغه څوک چه شرعا ورسره د یوې زنانه د همیشه د پاره نکاح حرام وی.

تسهيلات:

قوله: مَسِيرَةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ:

د محرم څخه بغیر د سفر کولو د مسافت مقدار: ښځه څومره مسافت سفر د خاوند یا محرم نه بغیر کولې شی او د څومره مسافت سفر خان له نه شی کولې؟ په دې کښې احادیث او روایات مختلف دی په زیر بحث حدیث کښې دادی چه ښځه د یوې شپې او یوې ورځې په اندازه مسافت سفر د محرم نه بغیر نه شی کولې دې نه مخکښې چه کوم روایت تیرشوې دې په هغې کښې څه حد مقرر نه دې بلکه وئیلی شوی دی چه ښځه بغیر د محرم نه مطلقا سفر نه شی کولې مرقات شرح مشکوة کښې ملاعلی قاری رحمه الله د صاحب فتح القدیر ابن

---

[1] اخرجه البخاري في كتاب الجمعة /باب في كم يقصر الصلاة (رقم-١٠٨٨) ومسلم في كتاب الحج /باب سفر المرأة مع محرم إلى حج وغيره (رقم) ٤١٣ - (١٣٣٨) والترمذي في السنن رقم الحديث ١١٦٩ وابن ماجة في كتاب المناسك /باب المرأة تحج بغير ولي (رقم-٢٨٩٨) ومالك في الموطا في كتاب الاستئذان باب ما جاء في الوحدة في السفر للرجال والنساء (رقم-٣٧) وأحمد في المسند:١٣/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

هم م ﷺ په حواله سره لیکلي دي چه بخاري او مسلم کښې داسې حدیث دې «لاتسافر امرأة ثلاثا الا ومعها ذومحرم» په دې کښې د «فوق ثلاث» الفاظ هم راغلي بخاري شریف کښې ثلاثة ایام الفاظ هم راغلي دي

خلاصه د دې ټولو روایاتو په رڼا کښې خلاصه دا راووتله چه یو قسم روایات ښائي چه د دریو ورځو مسافت او د دې نه زیات سفر د محرم نه بغیر منع دې دې نه کم جائز دې دویم قسم روایت ښائي چه د دوو ورځو مسافت سفر د محرم نه بغیر منع دې دې نه کم جائز دې بعض روایات ښائي چه بغیر محرم د یوې ورځې مسافت سفر منع دې دې نه کم جائز دې یو قسم روایات بالکل منع کوي په هغې کښې د څه قسم مسافت او حد قید نشته دې په دې ټولو روایاتو کښې په ظاهري توګه تعارض او تضاد دې د دې تعارض حل دا دې چه اصل مدار هم په هغه روایاتو باندې دې په کوم کښې چه د دریو ورځو د مسافت ذکر دې د غه مسافت قصر دې کوم چه ۴۸ میل دې چه تقریبا ۷۰ کلومیټر دې دې نه زیات سفر یوه ښځه د محرم نه بغیر نه شي کولې حکم دغه دې لیکن که د فتنې خطره وي نو د دوو ورځو د مسافت د سفر نه هم منع کولې شي او که د فتنې خطره ویره د دې نه هم زیاته وي نو د یوې ورځې د مسافت سفر هم د ښځې د پاره منع کولې شي اعلاء السنن کښې نور تفصیل ذکر دې [اعلاء السنن:۷/۱۰،۹،۸].

د شیخ عبدالحق محدث دهلوي ﷫ د کلام نه بالکل واضحه ده چه د دې ټولو روایاتو خلاصه دا ده چه ښځه دې خان له سفر بالکل نه کوي که هغه مسافت زیات وي او که کم وي په مسافت باندې مدار نه دې بلکه فساد او احوال باندې مدار دې

[اشعة اللمعات:۲/۳۲۳-۳۲۲].

[۲۵۱۶] د مواقیت حج بیان

۲۵۱۶-[۱۲] (۱) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «وَقَّتَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ ذَا الْحُلَيْفَةِ وَلِأَهْلِ الشَّامِ الْجُحْفَةَ وَلِأَهْلِ نَجْدٍ قَرْنَ الْمَنَازِلِ وَلِأَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمَ ② فَهُنَّ لَهُنَّ وَلِمَنْ أَتَى عَلَيْهِنَّ مِنْ غَيْرِ أَهْلِهِنَّ لِمَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ ③ فَمَنْ كَانَ دُونَهُنَّ فَمُهَلُّهُ مِنْ أَهْلِهِ وَكَذَاكَ وَكَذَاكَ حَتَّى أَهْلُ مَكَّةَ يُهِلُّونَ مِنْهَا» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ① ابن عباس ﷠ وايي چې رسول الله ﷺ د آفاقي (يعنې د غير مكي د پاره) د احرام ترلو ځاى (ميقات) داسې متعين كړې چې د اهل مدينه د پاره ذوالحليفه، د شام والا وو د پاره جحفه، د نجد والاوو د پاره قرن منازل او د يمن والاوو د پاره يلملم، ② دا ټول د

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الحج /باب مهل أهل الشام (رقم-۱۵۲۶) ومسلم في كتاب الحج /باب مواقيت الحج والعمرة (رقم-۱۱ - (۱۱۸۱) وابوداود في كتاب الزكاة /باب في المواقيت (رقم-۱۷۳۸) والنسائي في كتاب مناسك الحج /باب من كان أهله دون الميقات (رقم-۲۶۵۸) واحمد في المسند:۱/۳۳۲

ذکر شوو علاقو د خلقو د پاره د احرام تړلو ځایونه دي. او د دې میقات ځخه تیریدونکو خلقو د پاره هم دا میقات دی، چې د دې علاقو ځخه علاوه وي مثلاً پاکستان، افغانستان، هندوستان وغیره، هر کله چې هغه د یمن په لار ورسیږي، نو د یلملم ځخه دې احرام وتړي، دغه شان د نورو ملکونو د خلقو د پاره هم دا دی چې د هغوئ په لار کې کوم میقات راشي، د هلته ځخه دې احرام وتړي او دا احرام او د احرام تړلو ځایونه د هغه خلقو د پاره دي، چې د حج او عمرې اراده وکړي، [۲] او کوم سړی چې په دې مقاماتو کې دننه وسیږي. د هغه د احرام تړلو ځای د هغه د کور ځخه دی، او دغه شان او دغه شان تر دې چې مکې والادې دمکې ځخه احرام وتړي، بخاري، مسلم

حل اللغات ①وَقَّتَ: دَ توقیت نه دې، دمیقات مقررکولوته وائي او میقات د احرام تړلو ځاي ته وائي ②ذَاالْحُلَيْفَةِ: دا د حَلَفَة تصغیردې، ددې جمع حُلَفَاءُ راځي، دا د مدینې نه دوه فرسخه یعنې شپږ میله فاصله کښې د یوځائي نوم دي ③الْجُحْفَةَ: د شام د طرفه د مکې اومدینې په مینځ کښې د یوځائي نوم دې چه ذوالحلیفه سره په برید کښې برابر راځي، د مکې نه ۲۵ فرسخه فاصله کښې دې ④قَرْنَ الْمَنَازِلِ: د هګئ په شان ګول غر دې دغه ځائي ته قرن المنازل وائي ⑤يَلَمْلَمَ: د تهامه په غرونو کښې یو غردې، دمکې نه د دوه شپو دمزل په فاصله کښې دې ⑥فَمَهَلُّهُ: د مفعول صیغه ده، أَيْ مَوْضِعُ إِحْرَامِهِ: یعنې دهغوی د احرام تړلو ځائي ⑦يُهِلُّونَ: أَيْ يُحْرِمُونَ: هغوی به احرام تړلی

تشریحات: قوله: وَقَّتَ:

د مواقیت د لفظ وضاحت: په دې حدیث کښې دَ مواقیت بیان دې مواقیت دَ میقات جمع ده دا دَ مناسك حج یو اصطلاحي لفظ دې میقات هغه ځائي اوهغه مقام ته وائي دکوم ځائي نه چه دَ حاجي اومعتمردپاره احرام تړل ضروري کیږي که چرته یوحاجي یا معتمر دَ میقات نه بغیردَ احرام وړاندې شو نودَ هغه مواخذه به کیږي دکوم تفصیل چه وړاندې راروان دي

د میقات قسمونه: ① یومیقات زماني دې او بل میقات مکاني دې دَ حج دپاره میقات زماني شوال ذوالقعده او ذوالحجه رومبي عشره ده ترکومې پورې چه دَ شوال میاشت نه وي شروع شوې دَ حج احرام نه شي تړلې مثلاً په رمضان کښې دَ عمرې احرام تړلې شي لیکن یوحاجي دحج احرام نه شي تړلې

② دَ حج دَ پاره دویم میقات مکاني دې یعنې هغه مقام دَچرته نه چه بغیردَ احرام نه تیریدل صحیح نه دي

د میقات مکاني پنځه قسمونه: میقات مکاني پنځه دي لیکن زیر بحث حدیث کښې دَ څلورو ذکر دې دکوم تفصیل چه داسې دې

① **ذوالحلیفة:** دادَ یومقام نوم دې چه دَ مدینې منورې نه دَ جنوب طرف ته تقریباً لس

Maktaba Tul Ishaat.com

کلومیټره فاصله باندې واقـع دې دې مقـام تـه بیرعلـي او ابیـارعلي هـم وائـي دا مقـام دمدینې منورې د طرف نه راتلونکودپاره میقات دې

② **الجحفة**: داهم د یوځائې نوم دې چه دمکې مکرمې نه ۱۸۸کلومیټره فاصله باندې واقع دې د قریشو په دورکښې دا مقام دهغوی د تجارتی شاهراه دمرکز پړاؤ وو اوس دا ځائې غیرآباد دې دې سره نیزدې رابغ دې چه نن صبامشهوردې دمدینې نه کله یوسړې د بدر پخوانئې لارباندې مکې ته راځي نودا مقام په لارکښې راځي د شام اومصرد طرف نه راتلونکوخلقودپاره دامقام میقات دې

③ **قرن المنازل**: دادَ یوځائې نوم دې چه دَ مکې مکرمې نه دَ جنوب طرف تـه ۴۸کلومیټر فاصله باندې طائف سره واقع دې دَ نجد او ریاض خلقودپاره دا میقات دې

④ **یلملم**: یلملم دَ یوځائې نوم دې دَیمن خلق چه کله مکې ته ځي نودَهغوی تیریدل په دې مقام باندې کیږی. دَ هندوستان پاکستان او افغانستان دَخلقودپاره هم یلملم میقات دې.

⑤ **ذات عرق**: دَ پورته ذکرشوو مواقیت نه علاوه یویـل میقات هم دې دکوم نوم چه ذات عرق دې دَ کوم ذکرچه دې سره حدیث نمبر: ۲۵۱۷کښې راغلې دې. دا مقـام دَ مکې مکرمې نه دَ عـراق طرف ته تلونکې لارکښې تقریبًا ۹۷کلومیټر فاصلـه باندې واقـع دې. دَ عـراق طرف نه راتلونکو خلقودپاره دامیقات دې.

قوله: فَهُنَّ لَهُنَّ:

د لهن ضمیرمرجع: دلَهن ضمیرمرجع متعین کولو په باره کښې ملاعلی قاری رحمه الله داسې توجیه کړې ده "فهذه المواضع مواقيت لهذه البلدان اي لاهلهن الموجودين" یعنی دا مواقیت هم دَدې علاقو دَخلقو دَپاره دی کوم چه دلته اوسیږی اودَ هغه خلقودپاره هم دغه مواقیت دی ځوك چه په دې علاقوباندې تیریږی سره دَدې چه هغوی دَ دغه علاقو اوسیدونکی نه وی.

قوله: فَمَنْ كَانَ دُونَهُنَّ:

د حج یو څو اصطلاحی کلمات: دلته په یوڅوالفاظوباندې پوهیدل ضروری دی دې دَپاره چه دَحج اصطلاحی الفاظ په ذهن کښې کینی

① آفاقی: دا هغه سړی ته وائی چه دَ مذکوره مواقیت نه بهر اوسیږی مثلاً پاکستانی وی یا هندوستانی وی یا دَمدینې منورې اوسیدونکې وی

② میقاتی: دا هغه سړی ته وائی چه په ذکرشوو پنځومواقیتو کښې دننه اوسیږی مګر دَ حرم دَزمکې نه بهروی

③ ارض الحرم: دا مقدس زمکې ته وائی په کومه کښې چه وانبه وغیره نه شی پرې کولې نه څه ښکارکولې شی نه ځوك کافر هلته تلې شی په دې کښې اوسیدونکی سړی ته حرمی او

عم او سيد ونكوته اهل الحرم وائى دَ جده نه تلوسره په شميسى مقام كښې دَ تفتيش مركز
راخى هم دَ دغه خائى نه حرم شروع كيږى اوَمدينې منورې نه راتلوسره دَمقام تنعيم نه ارض
حرم شروع كيږى په دوارو خايونو باندې ليكلې شوى دى "ممنوع دخول غيرالمسلمين"
مسجدحرام ته يا دَ احترام دَ وجې نه حرام وائى اويا په دې كښې ښكارحرام دې وابنه پرې
كول حرام دى دكافرداخليدل حرام دى او جنګ جګړه حرام ده

③ ارض الحل: دې ته دَ حل زمكه هم وائى دَ حرم دَزمكې نه علاوه دَ پوره دنيا زمكه حل
ده دَ حل مطلب دادې چه هلته ښكار كول وابنه پرې كول اودَ كافرانوګرخيدل راګرخيدل
ټول جائز دى

د ميقات زمانى او ميقات مكانى نه مخكښې د احرام تړلو حكم: بهرحال داخبره په ذهن
كښې ساتل پكاردى چه دَميقات زمانى نه مخكښې دَ يوحاجى احرام تړل جائز نه دى اودَ
ميقات مكانى نه مخكښې احرام تړل جائزدى. دَ ميقات زمانى تعلق آفاقى اوميقاتى
دواړه قسم خلقو سره دې اودَ ميقات مكانى احرام تعلق صرف آفاقى سره دې. داخل
ميقات سرې دَ خپل كور نه احرام تړلې شى.

قوله: لِمَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ:

دَميقات نه بغيردَ احرام تيريدو مسئله:

په دې باندې دَ ټولو اتفاق دې چه كوم سرې دَ حج يا عمره ارادې سره مكې ته ځى اوهغه په
دغه مواقيتو باندې بغيردَ احرام نه نه شى تيريدې. ليكن آيا يو سرې دَخپل ذاتى كار په
غرض سره په دې مواقيت بغيردَ احرام نه مكه كښې داخليدې شى كه نه؟ په دې كښې دَ
فقهاؤ اختلاف دې.

د آفاقى دپاره مكې ته د داخليدو دپاره بغير د احرام تيريدو كښې مذاهب:

① دَ شوافع په نيز كه دَ يوسرى اراده دَحج يا دَعمرې نه وى نوهغه بغيردَ احرام نه په دې
مواقيت باندې تيريدو سره مكه مكرمه كښې داخليدې شى. ② دَ احنافو په نيز آفاقى
سرى دَپاره دَ احرام نه بغير په دې مواقيت باندې تيريدل مطلقًا ناجائز دى په دې شرط چه
دَمكې مكرمې دَ داخليدو اراده وى كه دَ تجارت اراده ئې ولې نه وى.

د شوافعو دلائل: ① شوافع حضرات دَ زيربحث حديث دَمذكوره "لمن يريد الحج" الفاظ نه په
توګه دَمفهوم مخالف استدلال كوى يعنى دَ چااراده چه دَحج او عمره وى دَهغوى دَپاره
احرام ضرورى دې. دې نه معلومه شوه چه دَ چادا اراده نه وى هغه بغيردَ احرام مكه كښې
داخليدې شى.

جواب: د دې دليل جواب دادې چه مفهوم مخالف زمونږ په نيز دليل نه دې اوكله چه
دمنطوق خلاف هم وى نو قابل دَ التفات هم نه دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

② شوافع دَفتح مکه په ورځ دَ حضورپاك بغیردَ احرام نه په مکه کښې داخلیدونه هم استدلال کړې دې

د دې ځخه جواب دادې چه دَ حضورپاك دَ فتح مکه په ورځ بغیردَ احرام نه مکه کښې داخلیدل دَحضورپاك خصوصیت وو چنانچه یوه ورځ هلته قتال کول هم دَ حضورپاك خصوصیت وو

د احنافو دلائل: ① احناف دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَ روایت نه استدلال کړې دې چه په مصنف ابن ابی شیبه او طبرانی کښې په دې الفاظوسره ذکر دې «ان النبی صلی الله علیه وسلم قال لاتجاوزالمواقیت الاباحرام» (اعلاء السنن ج١ص١٧) بعض کښې "لایجاوزاحدالمیقات الامحرماً" الفاظ دی بعض روایاتو کښې "لایجاوزواالوقت الاباحرام" الفاظ هم دی

② احناف عقلی استدلال داسې پیش کوی چه دَ احرام تړلو اصل مقصد ارض حرم او دغه بقعهٔ مبارکه او حاب طاهره تعظیم اوتکریم دې اودا دَتولو دَپاره عام دې که هغه دَ حج اوعمره والاوی یا تجارت والاوی یا دَ بل څه غرض والاوی هیڅ فرق نه پریوځی

[فتح القدیر: ٢/٤٣٣].

د شوافعو په مسلک فتوی ورکول: بهرحال دلائل چه څنګه هم وی دَ احناف په مسلك باندې نن صبا عمل کول ممکن نه دی په دې کښې عظیم حرج دې. روزانه مکې ته په لاکهونو خلق ځی راځی. په لاکهونو ګاډی اوډرائیوران اومزدوران به څه کوی؟ احناف له په دې کښې نرمی کول پکاردی.

قوله: دُونَهُنَّ:

د مذکوره جملې مطلب: دَدې جملې مطلب دادې چه کوم خلق میقات کښې دننه مګر دَحدودحرم نه بهراوسیږی دَهغوی دَپاره دَاحرام تړلو ځائی دَهغوی دَ کورنه واخله تر حدودحرم پورې دې. هغوی له بهرمیقات باندې تلل او هغه ځائی نه احرام تړلو ضرورت نشته دې

قوله: وَكَذَاكَ وَكَذَاكَ:

وکذاک وکذاک څخه مراد: دَدې جملې مطلب دادې چه دَ حدود حرم نه بهر کوم خلق په ارض حل کښې اوسیږی هغوی له میقات ته دَ تلوضرورت نشته دې اونه دَحدودحرم دَتلوضرورت دې

قوله: حَتَّى أَهْلُ مَكَّةَ:

د اهل مکې دپاره میقات: یعنی کوم خلق چه په حدود حرم کښې دننه اوسیږی یعنی مکی دی هغوی له پکاردی چه هم دَ هغه ځائی نه احرام اوتړی چرته چه اوسیږی که حرم سره خواکې وی یا خپل کورسره وی هغوی له دَمیقات یا ارض حل پورې دَ تللو ضرورت نشته دې

داهل مكې دپاره د عمرې د احرام تړلو مقام: داد حج حكم دې ليكن د عمره دپاره ضروري دي چه ارض حرم والا د ارض حل نه احرام اوتړي يعني د حرم د زمكې نه بهر مثلاً د تنعيم يا جعرانه نه احرام اوتړي ځكه چه عمره د حرم دننه د طواف او سعي نوم دې او هم هلته ادا كيږي لهذا يو قسم سفر كول ضروري دي او حج چونكه د حرم نه بهر په عرفات كښې كيږي لهذا د دې د پاره سفر د حرم نه شروع كيږي نو هم د هغه ځائې نه احرام تړل پكار دي

[۲۵۱۷] كه څوك په دوو ميقاتونو تېرېږي او امكان وي نو څه به كوي؟

[۱۳]-۲۵۱۷ ( )[۱] وَعَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: «مُهَلُّ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ [۲] وَالطَّرِيقُ الْآخَرُ الْجُحْفَةُ، وَمُهَلُّ أَهْلِ الْعِرَاقِ مِنْ ذَاتِ عِرْقٍ، وَمُهَلُّ أَهْلِ نَجْدٍ قَرْنٌ، [۳] وَمُهَلُّ أَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمُ» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

ترجمه [۱] جابر رضی الله عنه راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل د مديني والاوو د پاره د احرام ځاى ذوالحليفه دى، [۲] او دويمه لار جحفه ده، [۳] د عراق والاوو د پاره د احرام ځاى ذات عرق دى. [۴] د نجد والاوو د پاره د احرام ځاى قرن دى، او د يمن والاوو د پاره د احرام ځاى يلملم دى. مسلم

حل اللغات: ① مُهَلُّ: أَيْ مَوْضِعُ إِحْرَامِهِمْ: د هغوى د احرام تړلو ځائې ② ذَاتِ عِرْقٍ: دا وړوكې غر دې د مكې مكرمې نه د عراق طرف ته تلونكې لار كښې تقريبا ۹۷ كلوميټر فاصله باندې واقع دې

تسهيلات:

قوله: مُهَلُّ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ:

احرام به د كوم ځائې نه تړلې شي؟: او دويمه لاره جحفه ده، د دې مطلب دا دې چه د مديني منورې والو دپاره د احرام تړلو دويم ځائې جحفه دهكه هغوى د مكې دپاره د مديني منورې نه هغه لاره اختيار كړي چه په هغې كښ جحفه ملاويږي نو هغوى دې بيا د جحفې نه احرام اوتړي ذوالحليفه ته د تلو ضرورت نشته

اصل خبره دا ده چه اول د مديني نه مكې ته د راتلو دپاره دوه لارې وې يوه لاره خو ذوالحليفه ملاويده او په بله لاره كښ جحفه هم په دې وجه حكم اوكړې شو چه كه هغه لاره اختيار كړې شي چه په هغې كښ ذوالحليفه ملاويږي نو احرام دې د ذوالحليفه نه اوتړلې شي او كه هغه لاره اختيار كړې شي چه په هغې كښ جحفه ملاويږي نو بيا دې د جحفې نه احرام اوتړلې شي.

داهل مديني دپاره ميقات: خو اوس يوه لاره شوې ده چه په هغې كښ اول ذوالحليفه راځي او بيا جحفه. دغه شان د اهل مدينه دپاره دوه ميقاتونه شوي دى په دې صورت كښ دا

) اخرجه مسلم فى كتاب الحج /باب مواقيت الحج والعمرة (رقم-۱۸ - (۱۱۸۳)والنسائى فى كتاب مناسك الحج/باب المواقيت ميقات أهل المدينة (رقم-۲۶۵۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال پيدا كيدې شي چه اوس به اهل مدينه د چرته نه احرام تړي؟ نو علماء كرام ليكي چه د هغه ځاني نه نې تړل اولى دى كوم چه د مكې مكرمې نه په زياتې فاصلې باندې واقع وى يعني ذوالحليفه، او كه څوك د جحفې نه احرام اوتړى نو دا هم جائز ده.

قوله: وَالطَّرِيقُ الْآخَرُ:

د اهل مدينې دپاره دوه ميقاتونه: دَدې جمله مطلب دادې چه دَاهل مدينه ميقات ذوالحليفه دې خوكه دَ مدينې والا دَ ذوالحليفه په ځاني دَ بدر په لار جحفه په لار مكې ته تلل غواړي نوهغوى دې دَ ذوالحليفه په ځاني جحفه او رابغ نه احرام تړلې شي دا ضرورى نه ده چه هم دَ ذوالحليفه نه به احرام تړى دَ مدينې نه مكې ته دَ تللو دوه لارې دى يوه مشهوره معروفه لار طريق الهجرة ده دَ كوم په شروع كښې چه ذوالحليفه ده. دويمه لار هغه زړه لاره ده چه د هجرت نه وړاندې به قريشو استعمالوله په دې لار كښې دَ مدينې نه ډير لرې مكې سره نيزدې جحفه مقام راځى كه يوسړې په دغه لار لاړشى نو جحفه نه احرام تړلې شي.

قوله: ذَاتَ عِرْقٍ:

د ذات عرق تعارف او وجه تسميه: دامقام دَمكې مكرمې نه دوه مرحله او دوه منزله اودَ دوو ورځو په فاصله باندې واقع دې دَمكې نه ۹۷ كلوميټر لرې دې. علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه عرق وړوكى غر ته وائى په دې مقام كښې وړوكې غرواقع دې دې ته ذات عرق وائى بهرحال داخبره دَ ياد ساتلوده چه كوم خلق دَ دې پنځومواقيتو په محاذات كښې واقع نه وى دَهغوى تيريدل په يوميقات باندې هم نه كيږى نودَوى دَپاره مسئله داده چه دَ كوم ميقات محاذات كښې دَدې په برابرئ كښې كوم ځائى پريوځى هم دغه ځائى به دَهغه خلقو دَپاره ميقات وى.

[۲۵۱۸] دَرسول الله ﷺ دَ حج اوعمرو تعداد

٢٥١٨-[١٤] (١) ١ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: «اعْتَمَرَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَرْبَعَ عُمَرٍ كُلُّهُنَّ فِي ذِي الْقَعْدَةِ: ٢ إِلَّا الَّتِي كَانَتْ مَعَ حَجَّتِهِ عُمْرَةً مِنَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ، ٣ وَعُمْرَةً مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ، ٤ وَعُمْرَةً مِنَ الْجِعِرَّانَةِ حَيْثُ قَسَمَ غَنَائِمَ حُنَيْنٍ فِي ذِي الْقَعْدَةِ، ٥ وَعُمْرَةً مَعَ حَجَّتِهِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ١ انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ څلور عمري كړي دي، او هغه ټولي يي د ذي قعده په مياشت كې كړي وي، ٢ علاوه د هغه يوې عمرې څخه چې د حج سره يې كړې وه، او د ذى الحجه په مياشت كې شويده. او د هغه څلورو عمرو تفصيل دا دى: ٣ ① يوه عمره د حديبيه څخه د ذي قعده په مياشت كې ② دويمه عمره د هغه څخه په مخكى كال

(١) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب غزوة الحديبية (رقم-٤١٤٨) ومسلم في كتاب الحج /باب بيان عدد عمر النبي صلى الله عليه وسلم وزمانهن (رقم-٢١٧ - (١٢٥٣) وابوداود في كتاب المناسك . باب العمرة (رقم-١٩٩٤) والترمذي في السنن رقم الحديث ٨١٥ واحمد في المسند: ١٣٤/٣

کې هغه هم ذي قعده کې وشوه ③ دريمه عمره د جعرانه څخه، چيرته چې د غزوه حنين مال تقسيم شو، دا عمره هم په ذي قعده کې شوي وه ④ څلورمه عمره د حج سره په ذي الحجه کې شوي وه، بخاري مسلم

تسهيلات: قوله: أَرْبَعَ عُمَرٍ:

هجرت څخه روسته دنبي عليه ه حج شمار: رسول الله ﷺ دَ حج فرض کيدونه پس هم يوحج کړي دي اودَهجرت نه مخکښې دَبعض علماؤ دَ قول مطابق حضورپاك به هرکال حج کولو

ه هجرت نه پس ه نبي کريم صلى الله عليه وسلم ه عمرو تعداد: دَ هجرت نه پس دحضورپاك دَ عمرو تعدادڅه وو؟ په دې کښې رواياتوکښې معمولي شان اختلاف ښکاري دَ حضرت انس ﷺ دَ روايت مطابق دَ حضورپاك ټولې څلور عمرې وې. درې عمرې دَ ذيقعده په مياشت کښې وې او يوه عمره په ذوالحجه کښې وه چنانچه دَ حضورپاك

① اوله عمره په ۶هجرى دَ حديبيه عمره وه. په دې کښې سره دَدې چه رسول الله ﷺ دَعمرې افعال مکمل نه کړې شو څکه چه کافرانوهغوى په مکه کښې دَ داخليدونه منع کړل ليکن دَ ثواب په اعتبارسره دا مکمل عمره وه اودَ ذيقعده په مياشت کښې وه.

② دَ رسول الله ﷺ دويمه عمره ۷هجرى کښې عمرة القضاء عمره وه چه دَ حديبيه والا عمرې قضا حضورپاك ادا کړه دا عمره هم په ذيقعده کښې وه.

③ دَ حضورپاك دريمه عمره ۸هجرى کښې مقام جعرانه نه وه. په شوال کښې دَ حنين جنگ اوشو اودَ حنين غنيمتونه په جعرانه کښې رايوځائى کولوسره بيا تقسيم کړې شو. هم په دې دوران کښې دَ شپې وخت کښې په پټه حضورپاك دَ يوځو ملګرو سره دَ ذيقعده په مياشت کښې عمره اداکړه.

④ دَ حضورپاك څلورمه عمره ۱۰هجرى کښې دَ حجة الوداع په موقع باندې شوې وه. دا عمره دَ ذوالحجه په مياشت کښې وه. دا خودَ زير بحث حديث تفصيل وو ليکن دې نه پس دَ حضرت براء بن عازب ﷺ په روايت کښې دى چه دَ حضورپاك ټولې درې عمرې وې. هم دَدغه روايت دې روايت سره تعارض دې. نودَدې جواب دادې چه حضرت براء بن عازب ﷺ په حقيقت کښې دَ صلح حديبيه والا عمره نه ده شميرکړې. دَدې وجه داده چه صلح حديبيه کښې عمره دَ افعالو په اعتبارسره مکمل شوې نه وه لهذا هغه دا ذکر نه کړه ليکن حضرت انس ﷺ دا مکمل عمره شميرکړه څکه چه دَ ثواب په اعتبارسره دا مکمل عمره وه.

په حج او عمره کښې فرق: په حج اوعمره کښې دا فرق دې چه حج دَ عرفات وقوف، طواف زيارت، سعى صفامروه او رمى جمرات نوم دې او عمره صرف طواف دَ بيت الله او دَ صفا مروه په مينځ کښې دَ سعى نوم دې. او په احرام تړلوکښې هيڅ فرق نشته دې او په ممنوعات احرام کښې هم هيڅ فرق نشته.

Maktaba Tul Ishaat.com

د عمري په حکم کښې مذاهب:

البته حج فرض هم وی او سنت او نفل هم وی ① عمره فرض نه وی صرف سنت او نفل وی او که چا نذر اومنلو نو عمره واجب کیږی دا د احناف او مالکیه مسلک دې

② د شوافع او حنابله په نیز عمره واجب ده

[٢٥١٩] د حج څخه مخکې حضور ﷺ دوه عمرې اوکړې یا درې؟

٢٥١٩-[١٥] (١)① وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ:② «اعْتَمَرَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي ذِي الْقَعْدَةِ قَبْلَ أَنْ يَحُجَّ مَرَّتَيْنِ» (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ).

ترجمه ① براء ابن عازب رضی الله عنه وايي② چې رسول الله ﷺ د ذي قعده په مياشت کې د حج څخه مخکې دوه څله عمره کړي وه. بخاري

تسهيلات:

قوله: قَبْلَ أَنْ يَحُجَّ مَرَّتَيْنِ:

په رواياتو کښې تعارض: د دي روايت نه معلومه شوه چه نبی عليه السلام د حج نه مخکښې دوه عمرې کړی دی او د ما قبل روايت نه معلوميږی چه نبی عليه السلام د حج نه مخکښې دري عمرې کړی دی؟

دتعارض جواب: کوم روايت کښې چه د دريو عمرو ذکر دي په هغې کښي د صلح حديبيه والا عمري ثواب مستقل عمره شمارلې شوې ده او چه کوم روايت کښې د دوؤ عمرو ذکر دې نو په هغې کښې دوه عمرې مستقلې شمارلې شوی دی او د صلح حديبيه والا عمره شمار شوې نه ده اګر چه ثواب د دريو عمرو ملاو شوي وو.

الْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٥٢٠] حج صرف يوځل فرض دي

٢٥٢٠-[١٦] (١)① عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:② «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللهَ كَتَبَ عَلَيْكُمُ الْحَجَّ،③ فَقَامَ الْأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ فَقَالَ أَفِي كُلِّ عَامٍ يَا رَسُولَ اللهِ؟④ قَالَ لَوْ قُلْتُهَا نَعَمْ لَوَجَبَتْ، وَلَوْ وَجَبَتْ لَمْ تَعْمَلُوا بِهَا وَلَمْ تَسْتَطِيعُوا.⑤ وَالْحَجُّ مَرَّةٌ فَمَنْ زَادَ فَتَطَوُّعٌ» (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ).

ترجمه ① ابن عباس رضی الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② اې خلقو! الله جل جلاله په تاسو حج فرض کړی دی③ نو اقرع بن حابس رضی الله عنه ودريدلو. عرض يي وکړي چې يا رسول الله ﷺ آيا هر کال حج کول فرض شوي دي؟④ رسول الله ﷺ وفرمايل چې که ما د دی حج

---

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب کم اعتمر النبی صلی الله عليه وسلم؟ (رقم-١٧٨١)

(٢) اخرجه ابو داود فی کتاب المناسک. کتاب الزکاة/باب فرض الحج (رقم-١٧٢١) والنسائی فی کتاب مناسک الحج/باب وجوب الحج (رقم-٢٦٢٠) وابن ماجة فی کتاب المناسک/باب فرض الحج (رقم-٢٨٨٦) واحمد فی المسند: ٢٥٥/١

هر کال د فرض کیدو د سوال، په باره کې هو کړی وای، نو یقیناً (هر کال به حج کول) جب یعني فرض، شوی وو، او که هر کال حج کول فرض شوی وای، نو تاسو به په دي حکم عمل نه کولی، او نه به مو استطاعت لرلی ⑤حج په پوره ژوند کې په شرط د قدرت یو ځل فرض دی، هو کوم سړی چې یې د یو ځل څخه زیات وکړي، هغه به نفل وي. چې په هغه به هغه ته ډیر زیات ثواب حاصلیږي، احمد، نسائي، دارمي

حل اللغات: ① لَوَجَبَتْ: أَيِ الحَجَّةُ فِي كُلِّ عَامٍ: يعنی دا حج به هر کال فرض شوي وي

تسهيلات:

نوټ: ددي حدیث تشریح په بل مقام کښي ذکر شوي ده.

[٢٥٢١] دَ طاقت نه باوجود حج نه کولو کښي دَ ایمان خطره ده

٢٥٢١-[١٧] ()① وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②«مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلَى بَيْتِ اللهِ وَلَمْ يَحُجَّ، فَلَا عَلَيْهِ أَنْ يَمُوتَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا، ③وَذَلِكَ أَنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَقُولُ: ﴿وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾ [آل عمران: ٩٧]» ④رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَفِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ وَهِلَالُ بْنُ عَبْدِ اللهِ مَجْهُولٌ وَالْحَارِثُ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ).

ترجمه ① حضرت علي راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم سړی چې د لارې د توښې او د سوارلۍ مالك وي، چې هغه بیت الله شریفي ته ورسوي (یعني کوم سړی چې د حج کولو استطاعت او قدرت لري) او بیا هم هغه حج ونه کړي، نو د هغه یهودي یا نصراني کیدو سره مړ کیدل او د بې حج څخه په مړ کیدو کې هیڅ فرض نشته ③. او دا د حج د پاره زاد راه (د لارې توښه) او سوارلۍ شرط کیدل او د دې عظیم عبادت په پرېښودلو پورته ذکر شوی وعید، ځکه دی چې الله بزرگ برتر فرمايي چې ﴿وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾، او د الله ﷻ د خوشنودۍ د پاره په خلقو د کعبې حج کول ضروري دی. چې هلته تلی شي، ④ امام ترمذي رحمه الله دا روایت نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی او د دې حدیث په سند کې کلام دی هلال ابن عبد الله مجهول دی. او حارث په روایت حدیث کې ضعیف شمیرل کیږي

حل اللغات: ① زَادًا: توښه یعنی د لارې د تلو راتلو خوراک څکاک، ② رَاحِلَةٌ: سورلی

تسهيلات:

قوله: مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا:

استطاعت څخه مراد: استطاعت یعنی دَ تګ راتګ خپله خرچه او دَ واپسئ پورې دکور والو خرچه که چاسره وی نو هم دغه وسعت او هم دغه استطاعت دي.

() اخرجه الترمذي في كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في التغليظ في ترك الحج (رقم-٨١٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

د حج د فرضیت څخه د انکار کولو حکم: که دا استطاعت چاسره وی او هغه په دې وجه حج نه کوی چه دَ حج نه انکار کوی او حج نه منی نو دا سړې یقیناً کافر دې او دَ یهودو او نصارٰی په شان به په کفر باندې مری

د حج وس لرو بلاوجود په حج کښې د تاخیر نتیجه: لیکن که دَ استطاعت نه پس دا سړې انکار نه کوی سستی او بې پرواهی کوی نو دا گناه کبیره ده. بیا دوی ته دَ یهودی او نصرانی په مرگ باندې دَ مرکیدو وعید اورول تغلیظاً او تشدیداً دی لیکن دَدې اړخ نه په اخوا که چرې دَ قرآن کریم اشارو ته او کتلې شی نو بیا به دا وینا کول گرانه نه وی که دَ استطاعت باوجود یو سړې حج نه کوی نو په دې کښې خطره شته چه دَ مرگ په وخت دَ دغه سړی نه ایمان ختم کړې شی څکه چه دَ مذکوره آیت آخری حصه داسې ده ﴿ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ﴾ اسورة آل عمران: ۹۷. په دې کښې دَ داسې سړی نسبت دَ کفر طرف ته کړې شوې دې لکه چه په دې کښې هم تاویل کیدې شی لیکن په ظاهری الفاظو کښې خود کفر لفظ موجود دې او بیا په دې کښې داهم دی چه الله تعالی دَ عالم نه بې پرواه دې لهذا په حدیث کښې دَ دې تفسیر شته که داسې سړې کافر کیدو سره مرکیږی نو الله تعالی دَ عالم نه بې نیازه دې دَ سزا دَپاره موجود دې. حضورپاك به آیت مکمل وئیلې وی څکه چه هم دَمکمل آیت نه استشهاد کیدې شی. کیدې شی چه چرته یو راوی اختصار کړې وی.

[۲۵۲۲] په اسلام کښې دَ حج پریښودل نشته دې

۲۵۲۲ـ[۱۸] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «لَا صَرُوْرَةَ فِي الْإِسْلَامِ» (رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ).

ترجمه [۱] ابن عباس ﷺ وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل صرورت په اسلام کې نشته (د صرورت دوی معناوی دی یوه دا چې یو سړی ټول عمر نکاح کول پریږدی او دویم دا چې وس یې وی او حج کول پریږدی، دا دواړه د مسلمانانو خوینونه نه دی) ابوداؤد.

حل اللغات: ① لَا صَرُوْرَةَ: هُوَالَّذِيْ لَمْ يَحُجَّ قَطُّ: هغه سړې چه هغه کله هم حج نه وی کړې (یعنی وس ئې وی او حج نه کوی)

تسهیلات:

قوله: لَا صَرُوْرَةَ فِي الْإِسْلَامِ

د لا صرورة فی الاسلام مطلب: د صرورت مفهوم دې "هغه سړې چه هغه کله هم حج نه وی کړې" لهذا د دې ارشاد نبوی مطلب دا دې چه کوم سړی د حج فرض کیدو باوجود حج اونکړو هغه مسلمان نه دې

[۱]) اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک . کتاب الزکاة/باب لا صرورة فی الإسلام (رقم-۱۷۲۹) واحمد فی المسند: ۳۱۲/۱

علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه د دې حدیث ظاهری مفهوم خو هم دا دې چه کوم سړې د حج استطاعت لرلو باوجود حج اونکړی نو هغه مسلمان نه دې، خو حقیقت دا دې چه دا ارشاد نبوی د تغلیظ او تشدید دپاره دی یا بیا د دې نه مراد دا دې چه داسې سړې کامل مسلمان نه دې بعض حضرات فرمائی چه د (صرورة) معنی ده نکاح او حج لره ترک کول. په دې صورت کښې به د دې مطلب دا وی چه نکاح او حج لره ترک کول د اسلام طریقه نه ده بلکه په رهبانیت کښې داخل دې په دې وجه مسلمان لره نکاح او حج نه دی ترک کول پکار.

[۲۵۳۲] حج علی الفور واجب دې که علی التراخی؟

۲۵۳۲-[۱۹] ()[۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَنْ أَرَادَ الْحَجَّ فَلْيُعَجِّلْ» (رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ).

ترجمه [۱] ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې د حج اراده وکړي، نو هغه ته پکار دی، چې تلوار وکړي، ابوداؤد، دارمي

حل اللغات: ① فَلْيُعَجِّلْ: تلوار او جلتی دې اوکړی (یعنی حج پرې فرض شو نو دحج فریضه اداکولو کښې دې تلوار اوکړی).

تشریحات: قوله: فَلْيُعَجِّلْ:

حج علی الفور واجب دې؟ یا علی التراخی؟ : مطلب دا دې چه کوم سړې په حج باندې قدر وی او د حج کولو اراده لری نو هغه له پکار دی چه هغه تندی اوکړی د دې فرض ادا کولو دپاره ملاؤ شوې موقع غنیمت اوګڼړی ځکه چه د تاخیر په صورت کښې معلومه نه ده چه څومره بندیزونه پیدا شی او انجام د دې نعمت عظمی نه محرومی شی.

په دې باره کښې چه حج علی الفور واجب دې که علی التراخی؟

مذاهب فقهاء:

① د احناف په نزد د ټولو نه صحیح قول دا دې چه کله حج واجب شی یعنی شرطونه بیا موندلې شی او د حج وخت راشی هم دغه شان قافله ملاؤ شی (په دې شرط چه د قافلې ضرورت وی لکه چه مخکښې زمانه کښې به بغیر د قافلې نه سفر کول تقریبا ناممکن وو) نو هغه به فاسق بللې شی، او شرعی نقطه نظر سره به د هغه ګواهی نه قبلیږی، یعنی هغه به د شریعت په نظر کښې ناقابل اعتبار وی تردې چه په دې موده کښې که اسباب حج (چه د هغې په وجه باندې په هغه باندې حج واجب شوې وو) لاړ شی نو د هغه د ذمې نه به فرض نه ساقطیږی بلکه باقی به وی (چه د هغې د وجې نه به هغه د حج نه کولو په صورت کښې

---

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک . کتاب الزکاة/باب التجارة فی الحج (رقم-۱۷۳۲) وابن ما جه فی کتاب المناسک/باب الخروج إلی الحج (رقم-۲۸۸۳) واحمد فی المسند: ۱/۲۱٤

Maktaba Tul Ishaat.com

گنهګار وی د امام مالك او امام احمد رحمهما الله هم دا مسلك دي

② د امام شافعي رحمه الله په نزد واجب على التراخي دي يعنى د اخري عمر پورې په حج کښې تاخير جائز دې لکه چه په مانځه د اخري وخته پورې تاخير جائز دې، د امام محمد رحمه الله هم دا قول دې خو په دې سلسله کښې دوی دواړه دا هم فرمائي چه تاخير به هغه وخت جائز وی چه کله د حج د فوت کيدو ګمان نه وی، که دا ګمان وی چه په تاخير کولو کښې به حج فوت شی يعنى کله به هم حج ادا نه کړې شی نو بيا دې تاخير نه کوی، په دې صورت کښې که څوك د حج فرض کيدو باوجود بغير د حج کولو نه مړ شی نو د ټولو علماء کرامو په نزد به ګنهګار مری، پس په حج نه کولو به د هغه مواخذه کیږی

حنفي علماء کرام هم دا وائي چه که يو سړی د شرطونو موندلې کيدو باوجود په حج کښې تاخير اوکړو. او په دې موده کښې د هغه مال او دولت هلاك شو نو هغه دې قرض اخستلو سره حج اوکړی اګر چه د دې قرض په ادا کولو باندې هغه قادر نه وی او د دې خبرې اميد دې چه الله پاك به د هغه د دې قرض په نه ادا کولو باندې د هغه مواخذه نه کوی په دې شرط چه نيت ئې دا وی چه ماله که کله هم مال راغلو نو زه به دا قرض ادا کوم

[٢٥٢٤] حج او عمره يوځائی کولو سره فقر او فاقه او ګناه ختميږی

سرو-[٢٠] (١) ① وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ وَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، ③ وَلَيْسَ لِلْحَجَّةِ الْمَبْرُورَةِ ثَوَابٌ إِلَّا الْجَنَّةُ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ).

ترجمه ① ابن مسعود رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل حج او عمره يو ځاى کوى ځکه چې دا دواړه (يعني په دي کې هر يو) فقر او ګناهونه داسې لري کوي څرنګه چې بټۍ د اوسپنې، سرو زرو او سپينو زرو خيري لري کوي. ③ او د حج مقبول ثواب د جنت څخه سوا بل څه نه دی. ترمذي، نسائي

حل اللغات ① تَابِعُوا: أَيْ قَارِبُوا: يوځاي اوکړئ (يعنى چه عمره اوکړئ نو حج اوکړئ او که حج اوکړئ نو عمره اوکړئ يا دا مطلب چه حج قران يا تمتع اوکړئ) ② يَنْفِيَانِ: أَيْ يَمْحُوَا: دفع کوی، لرې کوی. ③ خَبَثَ: أَيْ وَسَخ: خيري، زنګ. ④ الْمَبْرُورَةِ: أَيْ مَقْبُولٌ: قبول شوې حج

تسهيلات:

قوله: تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ:

د مذکوره جملې مطلب: يعنى حج او عمره يوځاى کوی دا د حج په اقسامو کښې د ټولو نه

---

(١) اخرجه الترمذي في كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في ثواب الحج والعمرة (رقم-٨١٠) والنسائي في كتاب مناسك الحج/باب فضل المتابعة بين الحج والعمرة (رقم-٢٦٣٠)

فصل قسم دي ددي تفصيل به راشي چه كوم حج افضل دي امام طيبي فرماني چه ددي
مطلب دا دي چه كه تاسو حج كړي وى نو د هغي نه پس عمره اوكړئ او كه عمره مو كړى
وى نو د هغي نه پس حج اوكړئ

قوله فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ:

د فقر په مفهوم کښې دوه احتمالات: ① د فقر نه مراد ظاهري فقر دي يعنى حج و عمره
كونو سره الله تعالى مال او دولت وركوى او يا په حج و عمري سره زړه غنى كيږي

② د فقر نه باطنى فقرمراد دي يعنى دده زړه كښې به باطنى روحانيت ملاؤ شى كوم
چې دده دپاره د دنياوى مال او دولت نه غوره او افضل دى

نوټ: دعمرې حكم د بل حديث په تشريح كښې بيان شوې دي

( ) ⟨١⟩ وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ عَنْ عُمَرَ إِلَى قَوْلِهِ خَبَثَ الْحَدِيدِ.

ترجمه ⟨١⟩ امام احمد، او ابن ماجه رحمهما الله دا روايت د حضرت عمر رضي الله عنه نه تر لفظ خبث
الحديد نقل كړى دى

[۲۵۲۶] دَ حج دَ فرضيت شرائط

[۲۱] ( ) ⟨١⟩ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ⟨٢⟩ - فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا يُوجِبُ الْحَجَّ ⟨٣⟩ قَالَ الزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ)..

ترجمه ⟨١⟩ ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې يو سړى د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شو ⟨٢⟩. او
عرض يې وكړ چې يا رسول الله! صلى الله عليه وسلم كوم شى حج واجبوي؟ ⟨٣⟩ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل
چې زاد راه د لارې توښه) او سوارلى، ترمذي، ابن ماجه

تشريحات: قوله: الزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ:

دحج د فرضيت دپاره د توښې شرطيت: په قرآن اوحديث كښې حج سره يو لفظ په توګه دَ
قيد لګولې شوې دي اوهغه لفظ ﴿مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾ دي يعنى حج په هغه سړى باندې
فرض دي چه څوك دحج استطاعت لرى

د استطاعت په تفسير كښې د فقهاوو مذاهب:

① امام شافعي رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيزيوسړې سره دَمال موجود كيدل
استطاعت دي سره دَدې چه هغه سړې ګوډشل او صاحب فراش وى ليكن چه هغه سره مال
اودولت دي نو په هغه باندې حج فرض كيږى اوهغه چونكه پخپله دَ تللو طاقت نه لرى

---

۱) اخرجه ابن ماجة فى كتاب المناسك/باب فضل الحج والعمرة (رقم-۲۸۸۷) واحمد فى المسند: ۱/۳۸۷

۲) اخرجه الترمذى فى كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى إيجاب الحج بالزاد والراحلة (رقم-۸۱۳) وابن ما جة فى كتاب المناسك/باب ما يوجب الحج (رقم-۲۸۹۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

لهذا هغه دې بل څوك د خپل طرف نه نائب جوړولوسره دهغه د خرچې پوره انتظام اوکړي هغه سړې دې لاړشي اود هغه دپاره دې حج اوکړی دې ته حج بدل وائی

④ امام مالك رحمه الله فرمائی چه دا ستطاعت نه مراد بدنی صحت دې کله چه یوسړې صحیح سالم دې نو په هغه باندې په هرحال کښې حج فرض دې هغه به حج له څی په لاره کښې به گته کوی اوبیابه وړاندې څی بیا به گته کوی اوبیابه وړاندې څی ځکه چه ښه صحت مند دې نو هغه د څه څیز آرزومند دې؟

⑤ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی داستطاعت نه مراد "زادوراحله" دی یعنی چه د تگ راتگ خرچه وی د لارې کرایه وی خپله سورلی وی اوښکاره خبره ده چه په دې ضمن کښې د بدن صحت ضروری دې اودغه شان د لارې امن هم ضروری دې البته د اهل مکه اوچاپیره علاقود خلقودپاره د سورلئی موجودکیدل شرط نه دی ځکه چه هغوی بغیرد سورلئی نه هم حج له تلې شی

دحج دفرضیت شرطونه: دَلاندې درج شوی شرائطو د موجودگئی نه پس حج فرض کیږی

① مسلمان کیدل، په کافرباندې حج نشته دې.

② آزادکیدل په غلام او وینځه باندې حج فرض نه دې.

③ بالغ کیدل په ماشومانو باندې حج فرض نه دې.

④ عاقل کیدل په مجنون اوپاگل اومدهوش اوبې هوش باندې حج فرض نه دې.

⑤ استطاعت یعنی دومره اندازه باندې دمال مالك کیدل چه د ضرورت اصلیه او قرض نه محفوظ وی اود هغه د لارې د خرچې او سورلئی دپاره کافی شی اود کوموخلقونفقه چه د ده په ذمه باندې واجب ده دهغوی دپاره هم ددې نه په څه اندازه پاتې شی چه د هغه د راواپس کیدو پورې د دغه خلقو دپاره کفایت اوکړې شی کوموخلقو سره چه زمکه موجود ده که هغوی دغه زمکه خرڅه کړی نوډیره پیسه ورته په لاس راتلې شی په کوم سره چه هغه حج کولې شی نو په دې صورت کښې هم دا خلق صاحب استطاعت دی. داد بعض فقهاؤ رائې ده چه زمکه هم په استطاعت کښې داخل ده

دحج موانع: تردې خائی پورې چه کوم شرائط بیان شو هغه دا وو چه که چرې دا موجودنه شی نوحج نه فرض کیږی یعنی د حج فرضیت به متحقق نه شی وړاندې شرائط بیانولې شی هغه داسې دی چه د هغې نه موجود کیدو سره حج خو به فرض پاتې وی البته چه ترکومې پورې دغه موانع موجود وی حج له تلل ضروری نه دی اوکوم وخت چه دا موانع لرې شی بیابه حج له تلل فرض شی.

① د بدن د داسې عوارض نه محفوظ کیدل دکوم د وجې نه چه سفر نه شی کولې لکه ړوند ، گوډ ، شل یا داسې بوډا چه په سورلئی باندې کیناستې نه شی.

② د چا په قید کښې راگیریدل یا د ظالم بادشاه د ظلم په ویره کښې ترکومې چه دا مانع

موجود وي حج له تلل فرض نه دی

④ د لارې په امن کښې کيدل يعنی د ډاکوانو ډاکې کيدلو که چرته خطره وی يا مخه کښې چرته درياب وی نودا عذردې

⑤ د ښځې دپاره په ملګرتيا کښې خاوند يا محرم نه موجود کيدل

⑥ د ښځې دپاره په عدت کښې کيدل خلاصه دا چه دغه پورته ذکرشوی شرائط څه دائمی دی اوڅه عارضی دی عوارض چه کله لرې شی نوحج به فرض شی [البناية: ۱۹-۴/ ۱۷]

دَ حج واجبات: په حج کښې ټول شپږ واجبات دی ① وقوف مزدلفه ② سعی ③ رمی ④ آفاقی دپاره طواف قدوم ⑤ حلق يا قصرکول ⑥ هرهغه عمل دکوم په ترک کولوچه دم راځی په نورو الفاظوکښې دغه پورته افعال په ترتيب سره اداکول [القدوری،۱/۸۹].

[۲۵۲۷] افضل حج اودَ ښه حاجی صفت

٢٥٢٧- [٢٢] (١) ① وَعَنْهُ قَالَ: «سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: مَا الْحَاجُّ. ② قَالَ: الشَّعِثُ التَّفِلُ فَقَامَ آخَرُ، ③ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَيُّ الْحَجِّ أَفْضَلُ قَالَ: الْعَجُّ وَالثَّجُّ، ④ فَقَامَ آخَرُ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا السَّبِيلُ قَالَ: زَادٌ وَرَاحِلَةٌ» (رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ فِي سُنَنِهِ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرِ الْفَصْلَ الْأَخِيرَ)

ترجمه ① ابن عمر رضی الله عنه وايي چې يو سړي رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چې د حاجي صفت او کيفيت څه دی؟ ② رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې ببر ويښتو والاچې د خولو او خيرو په وجه بوی ترې راځي (يعنې د زيب او زينت څخه مکمل پرهيز، څرنګه چې د يو عاشق صادق او مخلص محب علامت وي) ③ بيا يو دويم سړی ودريدلی. هغه عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ په حج کې (د ارکانو څخه پس) کوم څيزونه د ډير زيات ثواب حامل دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل چې د لبيک سره آواز اوچتول او د قرباني يا هديي وينه تويول. ④ د دې څخه روسته يو بل سړی ودريدلی او هغه عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ سبيل. څه شی دی؟ (يعني په قرآن مجيد کې چې د حج په سلسله کې دا فرمايل شوي دي چې مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيلًا نو په دې آيت کې د سبيل څخه څه مراد دی؟) رسول الله ﷺ وفرمايل چې زادِ راه او سوارلی. شرح السنه، او دا روايت ابن ماجه رحمه الله په خپل سنن کې نقل کړی دی. ليکن د هغه د حديث آخري حصه يعنی فقام آخر (د دې څخه روسته يو بل سړی ودريدلی) تر آخره نه دی ذکر کړی

حل اللغات: ① مَا الْحَاجُّ: أَيِ الْكَامِلُ: کامل حاجی څوک دی؟ (يعنی دحج کونکی څه صفت دی؟) ② الشَّعِثُ: أَيِ الْمُغْبَرُّ الرَّأْسِ: ګرد لړلی يعنی په خاورو ککړ ويښتان (د غسل نه کولو اوګمنز نه کولو په وجه) ③ التَّفِلُ: أَيْ تَارِكُ الطِّيبِ: عطرنی ترک کړي وی (يعنی خيرن پيرن او بد بويه وی). ④ الْعَجُّ: رَفْعُ

(١) اخرجه ابن ماجة في كتاب المناسك/باب ما يوجب الحج (رقم-٢٨٩٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

الصَّوْتِ بِالتَّلْبِيَةِ په زوره زوره يعنى په اوچت آواز سره تلبيه ونيل ⑤ وَالثَّجُّ: سَيَلَانُ دِمَاءِ الْهَدْيِ وَالْأَضَاحِي په كثرت سره دهدي يا د قربانئ وينه تويول

تسهيلات: قوله: مَا السَّبِيلُ:

دسبيل څخه مراد: يعنى دَ قرآن په آيت كښې چه كوم ﴿مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾ كښې دَ سبيل لفظ راغلې دې دې نه څه مراد دى؟

قوله: زَادٌ وَرَاحِلَةٌ:

د زاد او راحله څخه مراد: يعنى چه دَ تګ راتګ درميانه خوراك څښاك سامان ورسره دَ سورلئ كرايه وى پخوانئ زمانه كښې به اوښان وو دَ نن صبا هوائى جهاز كرايه مراد ده سره دَدې چه دَ سمندرى جهاز كرايه كمه وى مګر ظالمانو هغه ختمه كړه

[۲۵۲۸] دَ پلار دَ طرف نه حج كول

٢٥٢٨ –[٢٣] (١) ① وَعَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ «أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② - فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَبِي شَيْخٌ كَبِيرٌ، لَا يَسْتَطِيعُ الْحَجَّ وَلَا الْعُمْرَةَ، وَلَا الظَّعْنَ ③ قَالَ: حُجَّ عَنْ أَبِيكَ وَاعْتَمِرْ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ).

ترجمه ① د ابو رزين عقيلي ﷺ په باره كې منقول دى چې هغه د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شو، ② او عرض يې وكه چې يا رسول الله! ﷺ زما پلار ډير بوډا شوي دي، هغه نه خو د حج طاقت لري، او نه د عمري او نه د سوريدو (يعني په سبب د ضعف او كبر سني نه خو د حج او عمري په افعالو او اركانو او ادائيگئ قادر دى، او نه سوريدو سره د حج او عمري د پاره تللى شي، ③ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې د هغه د طرف څخه ته حج او عمره وكړه، ترمذي، ابوداؤد نسائي او امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چې دا حديث حسن صحيح دى

حل اللغات: ① شَيْخٌ كَبِيرٌ: ډير بوډا، ضعيف العمر. ② الظَّعْنَ: أَيِ الرِّحْلَةَ: سورلى يعنى په سورلئ باندې هم د سوريدلو طاقت نه لري

تسهيلات: قوله: قَالَ: حُجَّ عَنْ أَبِيكَ وَاعْتَمِرْ

د حديث دوه فوائد: ① حج د بدنى او مالى عبادت مجموعه ده ددې وجه نه په مجبورئ كښې حج بدل جائز دې خو د قدرت ملاويدو نه پس پخپله حج كول ضرورى دى

② دا رنګ خالص بدنى عبادت كښې نيابت مطلقا جائز نه دې او خالص مالى عبادت كښې نيابت مطلقا جائز دې.

[1] اخرجه ابوداود فى كتاب المناسك، باب الرجل يحج عن غيره (رقم-١٨١٠) والترمذى فى كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-٩٣٠) والنسائى فى كتاب مناسك الحج/باب وجوب العمرة (رقم-٢٦٢١) واحمد فى المسند: ٤/١٠

[۲۵۲۹] دَبل دَطرف نه حج كولو نه وړاندې اول خپله حج كول پكاردى

۲۵۲۹-[۲٤] (١) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- سَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ: لَبَّيْكَ عَنْ شُبْرُمَةَ قَالَ: مَنْ شُبْرُمَةُ قَالَ: أَخٌ لِي أَوْ قَرِيبٌ لِي قَالَ: أَحَجَجْتَ عَنْ نَفْسِكَ قَالَ: لَا قَالَ: حُجَّ عَنْ نَفْسِكَ ثُمَّ حُجَّ عَنْ شُبْرُمَةَ» (رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ).

ترجمه ابن عباس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ د حج په دوران كې، د يو سړي خبره واوريدل چې هغه د شبرمه د طرف څخه لبيك وايي، رسول الله ﷺ ځني پوښتنه وكړه چې شبرمه څوك دى؟ هغه سړي عرض وكړو چې زما ورور دى يا زما قرابتې (خپل) دي، بيا ځني رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه چې آيا تا د خپل طرف څخه حج كړى دى؟ هغه اوويل چې يا، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې ته مخكې د خپل طرف څخه حج وكړه. بيا د شبرمه د طرف څخه حج وكړه، شافعي، ابوداؤد، ابن ماجه

تسهيلات: قوله: أَوْ قَرِيبٌ:

دفقهاؤ اختلاف: دَدې حديث دَ وجې نه اودَ نورو رواياتو دَ اختلاف دَ وجې دَ فقهاؤ په مينځ كښې اختلاف پيدا شوې دې چه كوم سړى پخپله حج نه وى كړې دَ بل دَ طرف نه حج كولې شي كه نه؟

د غير حاجي دپاره د حج بدل په حكم كښې مذاهب:

① امام شافعي او امام احمد رحمهما الله فرمائي چه چا د خپل طرف نه فرض حج نه وى كړې د هغه دپاره د بل د طرف نه حج كول صحيح نه دى،

② د امام ابوحنيفه او امام مالك رحمهما الله مسلك دا دې چه د نورو د طرف نه حج كول صحيح دى اګر چه خپله ئې د حج فريضه نه وى ادا كړې خو ددې حضراتو په نزد هم اولى هم دا ده چه اول خپل حج اوكړى د دې نه پس د نورو د طرف نه حج اوكړى

د شوافعو دليل: شوافع او حنابله دَ دې زيربحث حديث نه استدلال كړې دې چه په خپله مدعاباندې واضح دليل دې

د احنافو دليل: احناف اومالكيه فرمائي چه دې نه وړاندې حديث كښې كله خثعميه ښځې دَ خپل پلاردَ طرف نه دَ حج كولو اجازت اوغوښتلو نو حضورپاك دَ حج اجازت وركړو اوداپوښتنه ئې اونه كړه چه تا خپله حج كړې دې كه نه؟

د حديث الباب څخه جواب: زير بحث حديث دَ جواب وركولوضرورت نشته دې څكه چه احناف اومالكيه داحديث په استحباب باندې حمل كوى اوداسې كول مكروه ګڼرى.

[1] اخرجه ابوداود فى كتاب المناسك. باب الرجل يحج عن غيره (رقم-۱۸۱۱) والنسائى فى كتاب مناسك الحج/باب ميقات أهل العراق (رقم-۲۶۵۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٥٢٠] دمشرق والو ميقات

٢٥٢٥-[٢٥] (١)(١) وَعَنْهُ قَالَ: «وَقَّتَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِأَهْلِ الْمَشْرِقِ الْعَقِيقَ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ)

ترجمه: د ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ د مشرق والاوو د پاره د احرام تړلو ځاى يعني ميقات عقيق متعين کړى دى، ترمذي، ابوداؤد

حل اللغات: ① وَقَّتَ: مقرر کړې ني دې ځاني دتړلو داحرام، ② الْعَقِيقَ: عقيق د يو ځاني نوم دي کوم چه د ذات عرق په محاذات کښ واقع دې دا ځاني د مشرق والو دپاره ميقات دي

تسهيلات: قوله الْعَقِيقَ:

د اهل مشرق ميقات: دا ځاني د مشرق والو دپاره ميقات دې د مشرق والو نه مراد هغه خلق دى کوم چه د حرم نه بهر په مشرقي علاقو کښ اوسيدونکى دى هم دې خلقو ته عراقي هم وئيلې شي چه د هغوى تذکره په وړاندې حديث کښ ده، دغه شان د مشرق والو دپاره د احرام تړلو دوه ځايونه شو يو خو عقيق او بل ذات عرق لهذا د هغه طرف نه راتلونکى چه په دې دواړو ځايونو کښ په کوم يو راتيريږى د هغه ځاني نه دې احرام اوتړى

[٢٥٢١] داهل عراق ميقات

٢٥٢٦-[٢٦] (٢)(٢) وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَقَّتَ لِأَهْلِ الْعِرَاقِ ذَاتَ عِرْقٍ (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ).

ترجمه: ١ ام المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ د عراق والاوو د پاره د احرام تړلو ځاى ذات عرق متعين کړيدي، ابوداؤد، نسائي

تسهيلات

قوله وَقَّتَ لِأَهْلِ الْعِرَاقِ ذَاتَ عِرْقٍ:

د مواقيتو د محاذات څخه احرام تړل، په دې حديث کښي يوې ضابطې طرف ته اشاره کوى چه د چا مخامخ يو ميقات هم نه وى نو د هغوى د احرام تړلو د پاره د هغه ميقات په محاذات کښې چه کوم ځاني راځى هغه کافى دې او اهل شرق د پاره ميقات د اهل عراق والو ميقات دې د هغوى ميقات مقام عقيق دې او هغه د ذات عرق په محاذاتو کښې واقع دې نو گويا چه د هغوى ميقات ذات عرق شو

---

[1] اخرجه ابوداود في كتاب الزكاة/باب في المواقيت (رقم-١٧٤٠) والترمذي في كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في مواقيت الإحرام لأهل الآفاق (رقم-٨٣٢)

[2] أخرجه ابوداود في والنسائي في كتاب الزكاة/باب في المواقيت (رقم-١٧٣٩) والنسائي في كتاب مناسك الحج/باب ميقات أهل العراق (رقم-٢٦٥٦)

[٢٥٢٢] د ميقات نه وړاندې احرام تړل افضل دي

[٢٧] ( ) ١ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ: «سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ مَنْ ٢ أَهَلَّ بِحَجَّةٍ أَوْ عُمْرَةٍ مِنَ الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى إِلَى الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ: ٣ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ، أَوْ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ).

ترجمه ١ ام المؤمنين بي بي ام سلمه رضي الله عنها وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي ٢ چې کوم سړی د حج يا عمرې د پاره د مسجد اقصى بيت المقدس څخه تر مسجد حرام يعني تر مکې، احرام وتړي يعني د بيت المقدس څخه د حج يا د عمرې د پاره روانيدونکی د بيت المقدس څخه احرام تړلو سره ولاړ شي، ٣ نو د هغه ټول هغه ګناهونه بخښل کيږي، کوم چې هغه مخکې کړې وي. او کوم چې وروسته وکړي. يا وي فرمايل چې د هغه سړي د پاره ابتداء څخه جنت واجب کيږي. يعنی هغه به د شروع څخه په جنت کې داخليږي. ابوداؤد. ابن ماجه

حل اللغات: ١ أَهَلَّ: أي أَحْرَمَ: چه احرام اوتړي

تسهيلات:

قوله: بِحَجَّةٍ أَوْ عُمْرَةٍ:

د حرف ..او.. وضاحت: په دې کښې په حرف (او) د تنويع دپاره دې او (اووجبت له الجنة) کښې حرف (او) د راوی شك ظاهروی

قوله: مِنَ الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى:

د مسجد حرام په ذکر کولو کښې دوه احتماله: دَ مسجداقصىٰ ذکر په دې حديث کښې ولې کړې شوې دې په دې کښې دوه احتماله دی

١ دا مقام دَ مکې نه ډير زيات لرې دې اودَ احرام په حالت کښې چه څومره لرې سفروی نو دومره به غوره وی دَا فضليت علت به پس دَ مسافت نه وی

٢ دَ افضليت دَ وجې نه دې چه دَ بيت المقدس غوندې دَ مقدس مقام نه دې احرام اوتړی بيا چه داحاجی يا عمره کونکې په مدينه منوره تيرشی اودَمکې مکرمې غوندې مقدس مقام ته راشی دغه شان دَ حاجی دَ سفرشروع دَ يومقدس مقام نه کيږی او دَ مدينې غوندې مبارك مقام باندې تيريدو سره دَ سفرانتهاء دَ مکې مکرمې په شان عظيم مقام باندې کيږی اندازه اولګونی چه دا څومره مبارك سفردې په دې وجه دَ دغه احرام عظمت او فضيلت دې

---

[١] اخرجه ابوداود فی کتاب الزکاة/باب في المواقيت (رقم-١٧٤١) وابن ما جة فی کتاب الزکاة/باب في المواقيت (رقم-١٧٤١) وابن ما جة رقم الحديث ٣٠٠١

Maktaba Tul Ishaat.com

د مسجد حرام څخه د لرې ځاني څخه په احرام تړلو كښې مذاهب:

بعض حضرات فرمانی چه دا حدیث دې طرف ته اشاره کوی چه د احرام تړلو ځائې چه د حرم محترم نه څومره لرې وی ثواب به هغه شان زیات وی. دې باره کښې فقهی تفصیل دا دې چه

① د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د احرام تقدیم یعنی د احرام د تړلو د ځایونو نه مخکښې احرام تړل یا د خپل کور نه احرام تړلو سره تلل افضل دی

② د امام شافعی رحمه الله یو قول هم دا دې، خو دا په هغه صورت کښې دې چه کله د ممنوعات احرام نه بچ کیدې شی، ګینې که په دې پوهه شی چه په دې صورت کښې د ممنوعات احرام نه بچ کیدل ممکن نه دی نو بیا د میقات نه احرام تړل افضل دی.

د اشهر الحج څخه وړاندې د احرام په تړلو كښې مذاهب:

① د حج د میاشتو (یعنی شوال، ذی قعده او د ذی الحجة د شروع لس ورځې) نه مخکښې د احرام تړلو په باره کښې د احنافو د جواز قول هم دې او مکروه ورته هم وئیلې شوې دی. امام مالك او امام احمد هم د کراهت قائل دی،

② د امام شافعی رحمه الله یو قول اګر چه دا هم دې چه د حج د میاشتو نه د احرام تړونکی احرام صحیح نه دې خو د هغوی مسلك دا دې چه که یو سړې د حج د میاشتو نه مخکښې احرام اوتړی نو د هغه دا احرام به د حج په ځائې د عمرې دپاره شی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۵۲۳] اسباب اختیارول د توکل خلاف نه دی

۲۵۲۳-[۲۸] (۱) ① عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ أَهْلُ الْيَمَنِ يَحُجُّونَ فَلَا يَتَزَوَّدُونَ، ② وَيَقُولُونَ نَحْنُ الْمُتَوَكِّلُونَ، فَإِذَا قَدِمُوا مَكَّةَ سَأَلُوا النَّاسَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: ﴿وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى﴾ [البقرة: ۹۷] (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ).

ترجمه ① ابن عباس رضي الله عنهما وايي د يمن والاچې به حج ته راتلل، نو د ځان سره به يې زادِ راه نه راوړله. ② بلکه دا به يې ويل چې مونږ توکل کونکي يو. بيا چې مکې ته به راغلل نو د خلقو څخه به يې سوال کولی، نو الله جل جلاله د دې څخه د منع کولو د پاره دا آيت نازل کړ فَتَزَوَّدُوْا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى، او هر کله چې حج ته ځي نو د ځان سره د لارې توښه ضرور وړی، ځکه چې د تولو څخه لويه او د خوبۍ خبره په زادِ راه کې (ګدا ګری څخه) ځان ساتل دي، بخاري

---

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب قول الله تعالی: «وتزودوا فإن خیر الزاد التقوی» [البقرة: ۱۹۷] (رقم-۱۵۲۳) وابوداود فی کتاب المناسک. کتاب الزکاة/باب التزود فی الحج (رقم-۱۷۳۰)

حل اللغات ① فَلَا يَتَزَوَّدُونَ: أَيْ لَا يَأْخُذُونَ الزَّادَ مَعَهُمْ: خان سره به نې د سفر د خوراک څکاک سامان نه څستلو ② الْمُتَوَكِّلُونَ: مونږ توکل کونکې يو په الله تعالى باندې. ③ وَتَزَوَّدُوا: أَيْ خُذُوا زَادَكُمْ: يعنی خان سره دخوراک څکاک څيزونه اخلئ. ④ خَيْرَ الزَّادِ: بهترينه توښه

تسهيلات:

قوله: نَحْنُ الْمُتَوَكِّلُونَ:

د اسبابو د استعمال د توکل سره عدم منافات: دَ يمن دَ دغه خلقو داخيال ووچه مونږ ددومره نونې عبادت دپاره خو تول هرڅه پريخودو سره دَ الله تعالى طرف ته منډې وهی بيا به حولوکښې معمولی شان غله ترلوسره ګرځيدل دَتوکل خلاف دی دا جذبه خو ښه وه ليکن به دې باندې وراندې تلو سره صبر نه شو او تنګ راتلوسره نې دَ خلقو په مخکښې دَ غوښتلودپاره لاسونه خورول شروع کړه الله تعالى دَهغوی دَ اصلاح دپاره اوفرمائيل چه خپل خان سره دَ لارې خرڅه اخلئی دا نه دَ توکل خلاف دی اونه دَ تقوی خلاف دی دَتوکل خلاف څکه نه دی چه په اسباب باندې توکل منع دې دَ اسباب استعمال منع نه دې قيدوتوکل، ارشاد نبوی دې.

برتوکل زانوئے اشتر ببند او دَ لارې خرڅه اورل دَتقوی هم خلاف نه دی څکه چه دَ سوال نه بچ کيدل بهترينه تقوی ده.

[٢٥٢٤] په حج اوعمره کښې ښځوته دَ جهاد ثواب ملاويږی

سوره-[۲۹] ()① وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: ②«قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ عَلَى النِّسَاءِ جِهَادٌ؟③ قَالَ: نَعَمْ عَلَيْهِنَّ جِهَادٌ لَا قِتَالَ فِيهِ الْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ» (رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه).

ترجمه ① أم المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها وايي ② چې ما عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ آيا د ښځو د پاره جهاد شته ③ رسول الله ﷺ وفرمايل چې هو په ښځو داسې جهاد دی. چې هغه کې جنګ نشته، او هغه حج او عمره ده. ابن ماجه

تسهيلات:

قوله: جِهَادٌ لَا قِتَالَ فِيهِ:

د جهاد باره کښې د بار بار تپوس کولو وجه: چونکه دَ جهاد لوئی فضيلت دې په دې وجه حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها بار بار پوښتنه کړې ده دې دَ پاره چه دَ ښځودپاره څه لار راوخی مګر حضورپاك دَ دوی په ميدان جنګ کښې دَ جنګيدلو او جهاد کولو ثواب حج او عمره کښې خودلې دې دې نه وراندې په حديث نمبر: ۲۵۰۳ کښې دَدې تفصيل تيرشوی

() اخرجه ابن ماجه في كتاب المناسك/باب الحج، جهاد النساء (رقم-۲۹۰۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

دي په زيربحث حديث كښې حضورپاك اوفرمائيل بيشكه د ښځودپاره هم د جهاد يو موقع ده اوهغه داسې موقع ده چه د جنګيدلو او تورې چلولونه بغير ورته د جهاد ثواب ملاويږي اوهغه د دوی حج اوعمره كول دی د دې حديث نه معلومه شوه چه د سړو په جهاد كښې جنګيدل اوتوره چلول دی د تبليغي حضراتو هم دغه كوشش دې چه د هغوی جهاد دې د سړو والا جهادنه وی بلكه د ښځووالا جهاددې وی په كوم كښې چه د جنګ جګړې هڅو نوم اونښه نه وی

[۲۵۲۵]د شرعي عذر نه بغيرفرضي حج نه كونكودپاره سخت وعيد

[۳۰] ( )[۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۲] - «مَنْ لَمْ تَمْنَعْهُ مِنَ الْحَجِّ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ، أَوْ سُلْطَانٌ جَائِرٌ، أَوْ مَرَضٌ حَابِسٌ، [۳] فَمَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ فَلْيَمُتْ إِنْ شَاءَ يَهُودِيًّا وَإِنْ شَاءَ نَصْرَانِيًّا» (رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ).

ترجمه [۱] ابو امامه ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ فرمايل كوم[۲] سړی چې ظاهري حاجت چې د هغه د زاد راه او سورلۍ نه كيدل دي) يا ظالم بادشاه يا خطرناك مرض د حج څخه نه وي منع كړی،[۳] او هغه د حج كولو بغير مړ شي، نو هغه ته اختيار دی چې يهودي كيدو سره مړ شي يا عيسائي كيدو سره ، دارمي.

حل اللغات: ① حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ: أَيْ فَقْدُ زَادٍ وَرَاحِلَةٍ: ظاهری حاجت (چه دسفر دخوراک څكاک څيزونه او سورلی ورسره نه وی) ② سُلْطَانٌ جَائِرٌ: أَيْ ظَالِمٌ: ظالم بادشاه (چه دهغه دظلم يا دمنع كولو په وجه دحج نه پاتې شي) ③ مَرَضٌ حَابِسٌ: أَيْ مَانِعٌ مِنَ السَّفَرِ: داسې سخته بيماری چه دهغې په وجه حج ته نه شی تلې

تسهيلات:

قوله: مَنْ لَمْ تَمْنَعْهُ مِنَ الْحَجِّ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ

دحج د فرضيت شرطونه: مطلب دا چه د وجوب حج دپاره هم څه شرطونه دی كه چرته هغه موجود نه شی نوحج فرض كيږی هم نه اوڅه داسې شرطونه هم دی كه چرې هغه نه وی نوحج به فرض خو وی ليكن د هغې ادائيګی نه ضروری كيږی. دغه شرائط ته موانع حج وائی په زيربحث حديث كښې هم د دغه موانع بيان دې د كوم تفصيل چه د فقهاؤ په نيز داسې شان دې

نوټ: د حج د موانع بيان وړاندې دحديث نمبر ۲۵۲۶ په تسهيل كښې تيرشوې دی.

قوله: فَلْيَمُتْ إِنْ شَاءَ يَهُودِيًّا:

نوټ: ددې جملې شرح دحديث نمبر ۲۵۲۱ په تسهيل كښې ذكر شوې ده.

( ) اخرجه الدارمي في السنن (رقم-۱۷۸۵)

قوله وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ:

د ذاردا اجمالي بيان: مطلب دا دې چه کوم سړی سره دومره روپۍ وی چه هغه سفر حج ته د تلو او راتلو د خرجو دپاره کافي کیږی او خپل اهل وعیال ته دومره ورکړی کوم چه د هغه د واپسۍ پورې د هغوی د ژوند د ضروریاتو دپاره کافي وی او خپل اهل وعیال ته هم دومره ورکړی چه بیت الله پورې نې اورسوی که هغه خپل وی یا د کرایه وی هغه د دومره استطاعت او قدرت باوجود هم حج نه کوی او مرشی نو هغه یهودی یا نصرانی کیدو سره مری

په ترک حج باندې د کفر د اطلاق وجوهات: ① په دې کښ تفصیل دا دې چه هغه د استطاعت او قدر باوجود حج په دې وجه اونکړو چه هغه د دې د فرضیت منکر وی نو بیا د یهودی او نصرانی سره د هغه مشابهت د کفر د وجې نه دې یعنی څنګه چه یهودی او نصرې د کفر په حالت کښ مری هم دغه شان به هغه هم د کفر په حالت کښ مری

② که د فرضیت د منکر کیدو نه بغیر حج اونکړی نو بیا د مشابهت تعلق به د ګناه سره وی چه یهودی او نصرانی چه د څومره سخت ګناه په حالت کښ مړه شی هغه به هم د دومره سختې ګناه بار اخستلو سره د مرګ نذر کیږی،

③ بعضې علماء کرام فرمائی چه رسول الله ﷺ دا وعید د تغلیظ او تشدید په طور یعنی د ترک حج د ګناه د شدت او هیبت ناکئ د اظهار دپاره فرمائیلې دې خو بهر نوع ترک حج یو داسې ګناه او دومره شدید جرم دې چه رسول الله ﷺ دومره سخت وعید فرمائیلې دې چه حج نه کونکې یهودی یا نصرانی کیدو سره مری، **عیاذاًبالله منه.**

د آیت حج باقي حصه: پس د آیت کریمه باقي حصه دا ده ﴿ ومن كفر فان الله غني عن العالمين﴾

ترجمه او که څوك كفر كوی او (طاعت او عبادت نه کولو سره) د الله پاك د نعمتونو کفران اوکړی نو الله پاك د عالم د خلقو نه بې نیازه دې یعنی که خلق طاعت او عبادت کوی یا نه کوی په دې کښ د الله پاك هیڅ نفع او نقصان نشته، نفع او نقصان خو د هغه خلقو دې نو د هم هغه خلقو دې که عبادت او طاعت کوی نو فلاح او نجات به بیا مومی او که نه کوی نو په خسران عذاب کښ به اخته شی

په ظاهر کښ معلومیږی چه رسول الله ﷺ به دا پوره آیت کریمه لوستلې وی خکه چه استدلال خود پوره آیت کریمه نه کیږی خو راوی د ﴿ اليه سبيلا﴾ پورې دا آیت کریمه نقل کړو

[٢٥٣٦] حج او عمره کونکی دَالله تعالی میلما نه وی

٢٥٣٦-[٣١]([1])١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنَّهُ قَالَ: «الْحَاجُّ وَالْعُمَّارُ وَفْدُ اللهِ ٢ إِنْ دَعَوْهُ أَجَابَهُمْ وَإِنِ اسْتَغْفَرُوهُ غَفَرَ لَهُمْ» (رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ)..

[1]) اخرجه ابن ماجة في كتاب المناسک/باب فضل دعاء الحاج (رقم-٢٨٩٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه ① ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل حج كونكي او عمره كونكي د الله جل جلاله ميلمانه دي.② كه هغه د الله جل جلاله څخه څه دعا غواړي، نو الله جل جلاله د هغوئ دعا قبلوي، او كه د هغه څخه بخښنه غواړي، نو هغه يې بخښي. ابن ماجه

حل اللغات ①اَلْحَاجُّ: حج كونكي. ②اَلْعُمَّارُ: دا د عَامِرٌ جمع ده. بمعنى الْمُعْتَمِرُ: عمره كونكي. ③وَفْدُ اللهِ: دلته اضافت د تشريف په وجه دي ددې نه مراد وَفْدُ حَرَمِهٖ دي. أَيْ كَجَمَاعَةٍ قَادِمُونَ عَلَيْهِ: يعنې د الله حرم ته راتلونكي ډله، دالله ميلمانه

تسهيلات: قوله: إِنْ دَعَوْهُ أَجَابَهُمْ:

د حاجي او معتمر د دعا قبليدل: چونكه بيت الله دالله تعالى كور دې او س چه كوم سړې دالله تعالى د كور د زيارت دپاره خي نو هغه دالله تعالى ميلمه وى او څنګه چه ميزبان د ميلمه هرجائزخواهش پوره كوى دغه شان الله تعالى هم د خپلو ميلمنو خيال ساتي اوهغوى چه كومه دعاغواړي الله تعالى هغه قبلوى.

[۲۵۳۷] حاجي غازي اومعتمر دالله تعالى ميلمانه دي

[۳۲]—٢٥٣٧ (①)① وَعَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: «وَفْدُ اللّٰهِ ثَلَاثَةٌ الْغَازِي وَالْحَاجُّ وَالْمُعْتَمِرُ» (رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه ① ابوهريره رضي الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې دري قسم خلق د الله جل جلاله ميلمانه دي: ① جهاد كونكى ② حج كونكى ③ عمره كونكى. نسائي، بيهقي

حل اللغات: ① اَلْغَازِي: أَيِ الْمُجَاهِدُ مَعَ الْكُفَّارِ: د كافرانو سره د اعلاء كلمة الله او ددين د نفاذ دپاره جهاد كونكى ته غازي او مجاهد وائى

تسهيلات: قوله: وَفْدُ اللّٰهِ:

د وفد تعريف: وفد هغه خلقو ته وئيلې شى چه كوم په جمع باندې مختلفو ښارونو ته خي يا لوئ سردار له د زيارت په اراده ورځى

قوله: ثَلَاثَةٌ:

د ثلاثة په مصداق كښې دوه اقوال: ① ددې نه درې كسان مراد دى

② درې قسمه خلق مراد دى.

قوله: اَلْغَازِي:

د غازي مصداق: ددې نه مراد هغه مجاهد دې چه د الله د دين د سربلندئ د پاره كافرانو سره جهاد كوى

---

①) اخرجه ابن ماجة في كتاب المناسك/باب فضل دعاء الحاج (رقم-٢٨٩٣)

قوله وَالْحَاجِّ وَالْمُعْتَمِرِ

مذکوره اشخاصو امتیاز: دا د ټولو مسلمانانو نه ممتاز دی ځکه چه دې د مال خرچ کول. د بدن مشقت او د اهل و عیال نه جدائی برداشت کوی

[۲۵۳۸] په کورکښې د داخلیدونه وړاندې په حاجی باندې دعاوکړنې

٢٥٣٨-[٣٣] ()[١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «إِذَا لَقِيتَ الْحَاجَّ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ، وَصَافِحْهُ، [٣] وَمُرْهُ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لَكَ قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتَهُ، فَإِنَّهُ مَغْفُورٌ لَهُ» (رَوَاهُ أَحْمَدُ).

ترجمه [١] ابن عمر ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] هر کله چې تاسو د حاجي سره ملاقات کوی، نو هغه ته سلام کوی او د هغه سره مصافحه (جوړ په خیر) کوی. [٣] او د هغه څخه د خان د پاره د بخښش دعا غواړی، د دې څخه مخکې چې هغه په خپل کور کې داخل شي. او دا د دې د پاره دی، چې هغه بخښل شوی دی. احمد

حل اللغات: ① مَغْفُورٌ: بخښلي شوي.

تسهیلات:

قوله إِذَا لَقِيتَ الْحَاجَّ فَسَلِّمْ:

د خلویښتو ورځو پورې د حاجی دعا قبلیدل: یوروایت کښې دی چه حاجیان مستجاب الدعوات وی اود حج نه پس ترخلویښتو ورځوپورې هغوی هم دغه شان مستجاب الدعوات وی لهذا کورته د داخلیدونه وړاندې وړاندې خلقو له پکاردی چه په حاجی باندې دعاوکړی. پخوازمانه کښې به خلقو هم داشان کول اود حاجیانو به استقبال کیدلو ن صبا د استقبال په ځائې استدبار کیږی. په کور کښې د داخلیدلوشرط په حدیث شریف کښې ځکه لګولې شوې دې چه سړې کله بال بچ سره ملاویږی نود هغه په زړه اودماغو کښې د بچو محبت اینخلی اودغه وخت د هغه د دعا هغه رومبی والاشان نه پاتې کیږی

[۲۵۳۹] حج عمره اود جهاد سفرکښې مرکیدو نکوته پوره ثواب ملاویږی

٢٥٣٩-[٣٤] ()[١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «مَنْ خَرَجَ حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا أَوْ غَازِيًا ثُمَّ مَاتَ فِي طَرِيقِهِ [٣] كَتَبَ اللهُ لَهُ أَجْرَ الْغَازِي وَالْحَاجِّ وَالْمُعْتَمِرِ» (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه [١] ابوهریره ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] د حج یا عمرې یا د جهاد ارادې سره چې څوك د کور څخه وځي، او بیا په لار کې مړ شي، [٣] نو الله ﷻ هغه د پاره د جهاد کونکي او د عمره کونکي ثواب لیکي، بیهقي

() اخرجه احمد في المسند: ٢/٦٩
() اخرجه البیهقي في شعب الایمان (رقم-٤١٠٠)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات: قوله: كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ:

مطلب داچه سفرحج یا سفرعمره اوجهاد باندې یوسړې روان شو مګر په لاړکښې هغه مړشو نودې سړی ته به دَ جهاد حج اوعمره پوره ثواب ملاویږی په ثواب کښې به څه کمې نه راځی سره ددې چه هغه داعمل پوره کړې نه دې دَ دینی علومو دَ طالب علم هم دغه حکم دې

[۱] بَابُ الْإِحْرَامِ وَالتَّلْبِيَةِ

دَاحرام ترلواو تلبيه ويلو بيان

خلاصة الباب:

فيه خمسة عشر حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① الطيب قبل الحرام: ۱.

② فضل التلبية وألفاظها: ۲، ۴، ۵، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۵.

③ وقت إبتداء التلبية والإحرام: ۳، ۱۴.

④ أقسام الإهلال: ۶، ۷.

⑤ الغسل للإحرام : ۸.

⑥ تلبيد الرأس : ۲، ۹.

⑦ الدعاء بعد التلبية: ۱۳.

قال الله تعالى ﴿وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ﴾ [سورة حج الآيه: ۲۷].

د احرام لغوی معنی او وجه تسمیه: د احرام معنی ده "حرامول" چونکه په حج کولو باندې څو څیزونه حرام شی لهذا د دې اظهار دپاره چه د هغه وخت نه دا څیزونه حرام شوې دی یوه جامه کومه چه صرف یو څادر او لنګ وی د حج په نیت یا عمرې په نیت ترلې شی کوم ته چه احرام وائی

د احرام شرعی تعریف: په زړه کښې دَ حج یاعمرې یا دواړو نیت کولوسره دَ تلبیه لوستلو نوم احرام دې دې نه پس دَ احرام تولې پابندئی شروع کیږی.

داحرام حیثیت: دَ حج او عمره دپاره احرام هم داسې دې لکه څنګه چه دَ مانځه دپاره تکبیرتحریمه ده اودَ افعال حج اوعمره نه پس حلق یا قصر کول داسې دی لکه دَ مانځه دپاره چه سلام اړول دی

داحرام مسنون طریقه: دَ احنافو په نیزدَ احرام مسنون طریقه داده چه دَ احرام نه وړاندې سړې خپل حجامت وغیره اوکړی ویښته او نوکونه وغیره ټیک کولونه پس غسل اوکړی

وې خوشبو استعمال کړی گنډلې شوې کپړې کوزې کړی او د احرام څادرونه واچوی او که مکروه وخت نه وی نو دوه رکعته نفل دې اوکړی دا نفل دې په څادر کښې پټ اوکړی دې په پس دې د سرنه څادر اخوا کړی په زړه کښې دې نیت اوکړی

د حج او عمرې د نیت الفاظ: که د حج نیت ئې وی نو په ژبه دې دا سې اووائی "اللهم انی ارید الحج فیسره لی وتقبله منی" که د عمرې نیت قران وی نو په ژبه دې دا سې اووائی "اللهم انی ارید العمرة فیسرها لی وتقبلها منی" دې نه پس دې هم هلته په ناسته باندې تلبیه اووائی او س دا سړې محرم جوړ شو

د احرام دپاره د تلفظ په شرطیت کښې مذاهب:

① د ائمه ثلاثه په نیز د محرم جوړیدو دپاره صرف نیت کافی دې په ژبه سره د څه وئیلو ضرورت نشته دې

② امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه نیت سره تلبیه لوستل هم ضروری دی. که چرې صرف نیت ئې اوکړو او تلبیه ئې اونه لوستله نو احرام به نه شروع کیږی

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[٢٥٤٠] احرام ترلو نه مخکښې د خوشبوئی لګولو مسئله

٢٥٤٠-[١] (١) ① عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: ② «كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِإِحْرَامِهِ قَبْلَ أَنْ يُحْرِمَ، وَلِحِلِّهِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ بِطِيبٍ فِيهِ مِسْكٌ، ③ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ الطِّيبِ فِي مَفَارِقِ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَهُوَ مُحْرِمٌ». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ① دحضرت عائشې رضی الله عنها څخه روایت دې فرمائی ② ما به د احرام څخه وړاندې رسول الله صلی الله علیه وسلم خوشبویه کولو اود طواف افاضه نه پس د احلال دپاره به ما به هغوی خوشبویه کولو. لکه چې زه اوس هم د نبی علیه السلام د سرد ویختو په لاره کښې دخوشبوئې چمک ته گورم په داسې حال کښې چې نبی علیه السلام محرم وو

حل اللغات: ① أُطَيِّبُ: أي: أعطِّرُ: عطربه مې جوړول ② وَبِيصِ الطِّيبِ: أي لَمَعَانِهِ وَبَرِيقِهِ: د خوشبوئې ځلیدل او پرقیدل یعنی چمک دمک. ③ مَفَارِقِ: د مَفْرِق جمع ده. وَهُوَ وَسَطُ الرَّأْسِ: د سرپه منځ کښې د ویښتو لارې ته وائی ④ مُحْرِمٌ: احرام به ئې ترلې وو یعنی په حالت د احرام کښې به وو

په احرام کښې د خوشبوئې لګولو مسئله: د سیده عائشه رضی الله عنها د وینا مطلب دا دې چه رسول

---

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب الطیب عند الإحرام. وما یلبس إذا أراد أن یحرم. ویترجل ویدهن (رقم-١٥٣٩) ومسلم فی کتاب الحج /باب الطیب للمحرم عند الاحرام (رقم-٣٧ - ١١٨٩) وابوداود فی کتاب المناسک/باب الطیب عند الإحرام (رقم-١٧٤٥) والنسائی فی کتاب مناسک الحج/باب إباحة الطیب عند الإحرام (رقم-٢٦٩٣) وابن ماجة فی کتاب المناسک/باب الطیب عند الإحرام (رقم-٢٩٢٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

الله ﷺ به كله د احرام ترلو اراده كوله نو د احرام د ترلو نه مخكښې به ما رسول الله ﷺ نه خوشبوئي مرږله او هغه خوشبوئي به داسې وه چه په هغې كښې به مشك هم وو لهذا د دې نه دا ثابته شوه چه كه هغه خوشبوئي ئې د احرام نه مخكښې لګوله او هغه خوشبوئي داسې وه چه په هغې كښې به مشك هم وو لهذا د دې نه دا ثابته شوه چه كه خوشبوئي د احرام نه مخكښې اولګولې شي اود هغې اثر د احرام نه مخكښې هم باقي وي نو هيڅ باك نشته ځكه چه د خوشبوئي د احرام نه پس استعمال كول د ممنوعات احرام نه دې نه د احرام نه مخكښې پس د امام ابوحنيفه او امام احمد مسلك هم دا دې چه د احرام نه پس خوشبوئي استعمالول ممنوع دي د احرام نه مخكښې په استعمال كښې څه باك نشته خو د امام مالك او امام شافعي رحمهما الله په نزد د احرام نه مخكښې هم داسې خوشبوئي لګول مكروه دي چه: هغې اثر د احرام ترلو نه پس هم باقي وي.

قوله: وَلِحِلِّهِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ:

د حديث پس منظر: د مذكوره جملې په مفهوم باندې د پوهيدلو نه مخكښې به دې تفصيل باندې خان پوهول پكار دي چه د غټ اختر په ورځ باندې (يعنى په لسم د ذى الحجې) حاجى د مزدلفې نه منى ته راځي او هلته د جمره عقبه رمى (جمره عقبه په كاڼو باندې ويشتلو) نه پس د احرام نه راوځي يعنى هغه ټولې خبرې كومې چه په حالت احرام كښې منع وې اوس جائز كيږي خو رفث (يعنى جماع كول يا د زنانه مخكښې د جماع ذكر او د شهوت خبرې كول) جائز نه دي تردې چه كله مكې ته واپس راځي او طواف افاضه اوكړي نو رفث هم جائز كيږي.

د عائشې رضى الله عنها د قول مطلب: لهذا د عائشې رضي الله عنها د دې جملې مراد دا دې چه رسول الله ﷺ به كله د احرام نه راوتلو يعنى د مزدلفې نه منى ته راتلو سره به د جمره عقبه نه فارغ شو خو لا به ئې اوسه پورې مكې ته راتلو سره طواف افاضه نه وو كړې نو ما به هغه وخت هم رسول الله ﷺ له خوشبوئي لګوله

[۲۵٤۱] د تلبيه كلمات

٢٥٤١-[٢] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُهِلُّ مُلَبِّدًا، [٢] يَقُولُ لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لَا شَرِيكَ لَكَ، [٣] لَا يَزِيدُ عَلَى هَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه [١] ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې ما د نبى كريم ﷺ څخه (تلبيه) داسې په اوچت آواز سره

(١) اخرجه البخارى فى كتاب الحج/باب من أهل ملبدا (رقم-١٥٤٠) ومسلم فى كتاب الحج/باب التلبية وصفتها ووقتها (رقم-٢١ - ١١٨٤) وابوداود فى كتاب المناسك. باب التلبيد (رقم-١٧٤٧) وابن ماجة فى كتاب المناسك/باب من لبد رأسه (رقم-٣٠٤٧) واحمد فى المسند: ١٣١/٢

وريده، او هغه وخت نبي كريم ﷺ تلبيد كړي وو. [٢] لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ، يعني اى الله ﷻ زه ستا په خدمت کې حاضر يم، حاضر يم زه ستا په خدمت کې، زه ستا په خدمت کې حاضر يم. ستا هيڅوك شريك نشته حاضر يم زه ستا په خدمت کې، بيشکه ټول تعريف او ټول نعمت ستا د پاره دي، او بادشاهت هم ستا دی، ستا هيڅوك شريك نشته. [٣] نبي كريم ﷺ به د دی کلماتو څخه زيات نه ويل، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① يُهِلُّ: أَيْ يَرْفَعُ صَوْتَهُ: په اوچت آواز سره تلبيه ونيل ② مُلَبِّدًا: هُوَ إِلْصَاقُ شَعْرِ الرَّأْسِ بِالصَّمْغِ أَوْ بِغَيْرِهِ: په سر باندې ګوند يا ګل خطمي وغيره لګول چه د خاورو نه، حشرات الارض نه او د نمر د ګرمی نه بچ شی

تسهيلات: قوله: مُلَبِّدًا:

د تلبيه معنی او حکم: دا دَ تلبيد نه دې دَ سرو ويښته يوځائ کول راغونډول او دَ چوټه کولو په معنی کښې دې. دَ دې مفهوم دا دې چه ويښته دَ ګډوډ کيدو نه بچ کولو دَپاره دا دَ دوړو نه محفوظ کولو دَپاره په ګوند يا خطمي يا څه بل څه په ذريعه يوځائ کول او راغونډولو ته تلبيد وائی. دَ شوافع په نيز دَ محرم دَپاره داسې کول جائز دی. امام ابوحنيفه ﷫ فرمائی چه داسې کولو سره دم لازم راځی ځکه چه دا دَ سر دَ پټولو په حکم کښې دې. که په خوشبودار څيز سره سر پټ کړې شونو دوه دمونه به راځی. په زير بحث حديث کښې کيدې شی رسول الله ﷺ دَ څه عذر دَ وجې نه داسې کړې وو يا تلبيد په خپله لغوی معنی کښې دې چه صرف دَ يوځائ کولو او راغونډولو په معنی کښې دې دَ پټولو په معنی کښې نه دې.

قوله: لَبَّيْكَ:

د لبيک مخاطب څوک دې؟: دا لفظ دَ چا دَ راغوښتو په جواب کښې راځی او اوس دلته راغوښتونکې څوك دې دکوم په جواب کښې چه حاجی صاحب وائی چه زه حاضريم بار بار حاضريم نو واضح دادی چه دا دَ ابراهيم ﷣ دَ آواز کولو په جواب کښې دی حضرت ابراهيم ﷣ چه کله دَ بيت الله شريف آبادول پوره کړل نو په جبل ابوقبيس باندې اودريدو سره ئی خلقو ته داسې آواز اوکړو (يا ايها الناس ان ربكم اتخذ بيتا فحجوه) په دې آواز باندې چه چا هم لبيک ونيلې دې نوهغه به خامخا حج له ځی بعض علماؤ ليکلی دی چه دا آواز جبرائيل ﷣ کړې وو بعض وائی چه پخپله هم الله تعالی راغوښتی دی. رومبی قول واضح دې

قوله: مُلَبِّدًا:

د تلبيد مطلب: تلبيد کول دا دی چه محرم (احرام تړونکې) د خپل سر په ويښتو کښې ګوند يا خطمي يا نکريزې يا بل څه څيز اولګوی چه ويښته خپل مينځ کښې يو ځائې وی او اينخلی. چه خاورې او دوړه پکښې نه اينخلی او د سپږو نه محفوظ وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

د تلبیه په حکم کښې مذاهب:

تلبیه یعنی (لبیك) وئیلو کښې د علماء کرامو اختلافی اقوال دی.
① د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د احرام د صحت دپاره تلبیه شرط دې
② امام مالك رحمه الله فرمائی چه تلبیه واجب نه ده خو د تلبیه د ترك کولو د وجې نه دم خاروی ذبح کول لازمیږی ③ د امام شافعی رحمه الله په نزد تلبیه سنت ده د هغې د ترك کولو په صورت کښې دم نه لازمیږی

د تلبیه په کلماتو کښې د کمی زیاتی حکم:

د حدیث د آخری الفاظو مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ به په تلبیه کښې اکثر دومره الفاظ وئیل او په روایاتو کښې د تلبیه د دې الفاظو نه علاوه نور الفاظ هم منقول دی پس دې باره کښې مسئله دا ده چه د تلبیه کوم الفاظ دلته په حدیث کښې نقل کړې شوې دی په هغې کښې کمې کول خو مکروه دی زیادت مکروه نه دې (یعنی د تلبیه په الفاظو کښې هغه زیادت مکروه نه دې کوم چه د رسول الله ﷺ اود صحابه کرام رضي الله عنهم نه منقول دې) بلکه مستحب دې
تلبیه په اوچت آواز سره د وئیلو حکم: د حدیث نه دا مسئله هم واضحه شوه چه تلبیه په اوچت آواز وئیل پکار دی پس د ټولو علماء کرامو په نزد په اوچت آواز سره لبیك وئیل مستحب دی.

[٢٥٤٢] حضوراکرم ﷺ تلبیه د کوم ځائی نه کړې وه؟

٢٥٤٣-[٣] ()① وَعَنْهُ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا أَدْخَلَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ، ② وَاسْتَوَتْ بِهِ نَاقَتُهُ قَائِمَةً، أَهَلَّ مِنْ عِنْدِ مَسْجِدِ ذِي الْحُلَيْفَةِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ① ابن عمر رضي الله عنهما وایې نبی کریم ﷺ چې به خپله پښه په رکاب کې کیخو دله. ② او اوښه به نبی کریم ﷺ آخستو سره ودریده نو نبی کریم ﷺ به د ذوالحلیفه مسجد ته نزدې تلبیه وویله (یعني په اوچت آواز به یې لبیك ویلې) بخاري، مسلم

حل اللغات: ① الْغَرْزِ: أي الرِّكَابِ: پاندان (سورلۍ ته د ورختلو دپاره د خپې ایخودلو ځائې چه دا به د څرمنې یا د لرګی نه جوړ وو) ② اسْتَوَتْ: سورلۍ به نیغه اودریدله (او نبی علیه السلام به د هغې په شا باندې ناست وو) ③ أَهَلَّ: أي رَفَعَ صَوْتَهُ بِالتَّلْبِيَةِ: په اوچت آواز به نې تلبیه شروع کړه
تسهیلات: قوله: أَهَلَّ مِنْ عِنْدِ مَسْجِدِ ذِي الْحُلَيْفَةِ:
تلبیه کله اوئیلې شی؟: رسول الله ﷺ د حجة الوداع په موقع باندې چه کله د سفر توښه اوتړله او د ماسپخین مونځ په مدینه منوره کښې لوستلو سره روان شو، د مازیګر مونځ نې

---

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسیر/باب الرکاب والغرز للدابة (رقم-٢٨٦٥) ومسلم فی کتاب الحج /باب الإهلال من حیث تنبعث الرّاحلة (رقم-٢٧ - (١١٨٧) واحمد فی المسند:٥/٣

ذوالحليفه ته رسيدلو سره ادا كړو كوم چه د اهل مدينه دپاره ميقات دې، شپه ئې هم هلته تيره كړه او بيا ئې سحر احرام اوتړلو

د تلبيه د وئيلو محل كښې دروايانو اختلاف: ① د دې حديث نه خو دا معلومه شوه چه رسول الله ﷺ د اوښ په شا باندې د كيناستلو او د اوښ د اودريدلو نه پس لبيك اووې

② په يوبل روايت كښې منقول دى چه د احرام دپاره د نفلو په نيت دوه ركعته مونځ كولو نه پس ئې لبيك اووې

③ هم دغه شان يو روايت دا بيانوى چه رسول الله ﷺ مقام بيداء ته رسيدلو سره كوم چه د يو اوچت ځائې نوم دې لبيك اووې دغه شان د لبيك وئيلو د وخت په سلسله كښې درې قسمه روايتونه منقول دى،

د تلبيه د شروع په وخت كښې مذاهب:

① پس امام شافعي رحمه الله خو په اول روايت باندې كوم چه دلته نقل كړې شوې دې عمل كولو سره وائى چه په اوښ باندې (يا چه كومه سورلى هم وى په هغې باندې) كيناستلو سره دې لبيك اوئيلې شى،

② امام ابوحنيفه، امام مالك او امام احمد رحمهم الله دويم روايت اختيار كړې دې، لهذا د دې درې واړو امامانو په نزد مستحب دا ده چه د دوه ركعته مونځ كولو نه پس د احرام نيت اوكړې شى او بيا هم هلته په مصلى باندې كيناستلو سره لبيك اوئيلې شى هم په دې بنياد باندې هدايه دا مسئله ليكلې ده چه تلبيه د مونځ كولو نه پس كول پكار دى او كه څوك ئې په اوښ باندې كيناستلو سره اوكړى نو دا جائز ده خو د مانځه نه پس ﴿ لبيك ﴾ وئيل افضل دى.

د روايانو په مينځ كښې تطبيق: اوس د دې درې واړو روايتونو تضاد لره په دې تطبيق سره لرې كړئ چه رسول الله ﷺ مونځ كولو سره په مصلى باندې كيناستلو سره لبيك اووې بيا چه كله په اوښه باندې كيناستلو نو هغه وخت ئې هم لبيك اووې او د هغې نه روستو چه كله مقام بيداء ته اورسيدو نو هلته ئې بيا لبيك اووې. پس علماء كرامو هم په دې وجه ليكلې دى چه د حالت، وخت او ځائې د تغيرات په وخت د لبيك تكرار مستحب دې بهر حال رسول الله ﷺ دغه شان درې كرته لبيك اوئيلو او كوم راوى چه ترې چرته لبيك اوريدلې دې هغه دا اوګڼرله چه رسول الله ﷺ د هم هغه ځائې نه ﴿ لبيك ﴾ وئيل شروع كړل هم په دې وجه هر راوى د خپلو اوريدلو مطابق ذكر كړل، ددې تطبيق او توجيه بنياد د ابن عباس رضي الله عنهما هغه روايت دې كوم چه شيخ عبدالحق محدث دهلوى رحمه الله د شرح كتاب خرقى په حوالې سره نقل كړې دې

عباراتنا شتى وحسنك واحد وكل الى ذاك الجمال يشير

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٥٤٣] دحج تلبيه په زوره ويل

٢٥٤٢- [٤] (١) ١ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: «خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَصْرُخُ بِالْحَجِّ صُرَاخًا» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه ١ ابوسعيد خدري ﷺ وايي چې مونږ د نبی کريم ﷺ سره ملګري (د حج په سفر کي) داسي روان شو، چې مونږ به د حج د پاره چغي وهلي (يعني د حج د پاره به مو په اوچت آواز لبيك وايه) مسلم

حل اللغات ① نَصْرُخُ: أَيْ نَرْفَعُ أَصْوَاتَنَا بِالتَّلْبِيَةِ: تلبيه به مو په چغو چغو يعنی اوچت آواز سره ونيله ② صُرَاخًا: دا مفعول مطلق دي چه ښه په اوچت آواز سره

تسهيلات:

قوله نَصْرُخُ بِالْحَجِّ صُرَاخًا:

په لفظ صراخ سره د استدلال عدم صحت: چغو سورو ته وانی مطلب دادي چه مونږ په واضح الفاظو کښې په اوچت آواز اعلان کولو چه مونږ دَ حج دپاره ځو ښکاره خبره ده چه صحابه کرام به هم دَحج دَپاره تلل. حضورپاك هم په حجة الوداع کښې دَحج په اراده تلي وو

د تلبيه ذکر او د حج اقسام : صرف د حج ذکر (چونکه د دې حديث نه فهميږی چه رسول الله ﷺ افراد کړي وو او حال دا چه د نورو روايتونو نه قران يا تمتع کول ثابتيږی په دې وجه د دې تضاد د لرې کولو دپاره دا توجيه بيان کړې شوه) په دې وجه اوکړې شو چه حج اصل او مقصود اعظم دې او بعض حضرات دا وائی چه دا خبره راوی د خپل ځان باره کښې کړې ده زيات نه زيات د دې تعلق د هغه خلقو سره هم کيدې شی کوم چه د راوی په شان صرف د حج دپاره تلبيه کوله، يا په زيات وضاحت سره داسې بيان کړئ چه دا حديث صرف د هغه خلقو حال بيانوی چا چه د افراد احرام تړلې وو. هر چه د رسول الله ﷺ تعلق دې نو د هغوی په باره کښې حديث ساکت دې چه د دې وضاحت به د بل روايت نه کيږی په دې وجه دا روايت د راوران روايت منافی نه دې

[٢٥٤٤] دَ حج قران ثبوت

٢٥٤٣- [٥] (٢) ١ وَعَنْ أَنَسٍ: قَالَ: كُنْتُ رَدِيفَ أَبِي طَلْحَةَ ٢ وَإِنَّهُمْ لَيَصْرُخُونَ بِهِمَا جَمِيعًا الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ).

ترجمه ١ انس ﷺ وايي چې زه په سوارلی د ابوطلحه ﷺ وروسته ناست وم، ٢ او اکثرو

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الحج /باب التقصير فی العمرة (رقم-٢١١ - (١٢٤٧)) واحمد فی المسند ٥/٣

²) اخرجه البخاری فی کتاب الحج /باب التمتع والإقران والإفراد بالحج. وفسخ الحج لمن لم يكن معه هدی (رقم-١٥٦٢) ومسلم فی کتاب الحج /باب بيان وجوه الإحرام. وأنه يجوز إفراد الحج والتمتع والقران. وجواز إدخال الحج على العمرة. ومتى يحل القارن من نسكه (رقم-١١٨ - (١٢١١))وابوداود فی کتاب المناسک /باب فی إفراد الحج (رقم-١٧٧٩)

صحابه وو ﷺ د دواړو څيزونو (يعني د حج او عمرې) د پاره چغې وهلې (يعني په اوچت آواز يې لبيک ويل) بخاري

حل اللغات ① رَدِيفَ أي راكبًا خلف ظهره: په سورلۍ باندې چه شاته کوم کس ناست وي هغې ته رديف وائي

تسهيلات: قوله: الحج والعمرة:

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د قارن کيدلو دليل: دحضرت انس رضي الله عنه ددې حديث نه په واضحه توګه معلوميږي چه اکثر صحابه کرامو د حجة الوداع په موقع حج قران اداکړې وو اوس دا معلومول دي چه حضورپاک هم قارن وو که نه؟ نوهغه ددې نه معلوميدې شي چه صحابه کرامو به هم هغه عمل اختيارولو کوم چه به دحضورپاک وو دا ممکن نه دي چه صحابه کرامو ته دې معلومه وي چه حضورپاک مفرد يا متمتع دې اوصحابه کرامو به د دې نه بل څه صورت اختيارکړې وي. کله چه صحابه کرامو حج قران اختيارکړو لکه څنګه چه زيربحث حديث کښې دي نودا ددې خبرې دليل دې چه حضورپاک هم حج قران اداکړې وو هم دا احنافو افضل حج ګرځولي دې. وړاندې تفصيل راځي

[٢٥٤٥]په حجة الوداع کښې حضورپاک کوم قسم حج کړې وو؟

> ٢٥٤٥-[٦] () ① وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ ② فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ، وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ، وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ ③ وَأَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالْحَجِّ ④ فَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ فَحَلَّ، ⑤ وَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ أَوْ جَمَعَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَلَمْ يَحِلُّوا حَتَّى كَانَ يَوْمُ النَّحْرِ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ① أم المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې مونږ د حجة الوداع په کال د نبي کريم ﷺ سره ملګري د حج د پاره روان شو. ② په مونږ کې بعضې خو هغه وو، چې هغوئ واخې د عمرې د پاره احرام وتړلو، اوځينې هغه ووچې دحج اوعمرې دواړواحرام يې تړلي وو. اوځينې هغه ووچې يواخې دحج احرام يې تړلي وو ③ او نبي کريم ﷺ يواخې د حج احرام تړلي وو. ④ نو چا چې يواخې د عمرې احرام تړلې وو، هغه خو حلال (سو يعنى د احرام څخه بهر شو) ⑤ او چا چې يواخې د حج يا د حج او عمرې احرام تړلې وو، هغه حلال نه شوه، تر دې چې د قربانۍ ورځ راغله. بخاري، مسلم

حل اللغات: ① حَجَّةِ الْوَدَاعِ: دا د باب تفعيل نه مصدر تَوْدِيعًا ووَدَاعًا دې درخصت کولو په معنى کښې دې. چونکه دا د نبي عليه السلام آخرى حج وو نو لکه چه خلق ئې رخصت کړل يا دخلقو نه ئې رخصت واخستلو څکه ورته حجة الوداع وائى

١) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب كيف تحل الحائض والنفسا رقم الحديث ٥٥٦ ومسلم في كتاب الحج /باب بيان وجوه الإحرام رقم الحديث ٢٩٦٨

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات: قوله عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ:

د حجة الوداع وجه تسميه: وداع مصدر دې په دې كښې په واؤ باندې فتحه هم ده بيا داد باب تفعيل مصدر توديعاً ووداعاً دې د رخصت كولو په معنى كښې دې ملاعلي قاري ﷫ ليكلي دي چه په واؤ باندې كسره هم ده دغه وخت به دا د باب مفاعله مصدر وي موادعة ووداعاً چه د يوبل د رخصت كولو په معنى كښې دې ملاعلي قاري ﷫ فرمائي چه حضور اكرم په دې موقعه باندې خپل امت رخصت كړو ياحرم شريف ئې رخصت كړو كه چرې د باب مفاعله نه واخستې شي نوتولو يوبل رخصت كړو. بهرحال حضورپاك د هجرت نه پس دا رومبې او آخرى حج اداكړو او تقريباً ۹۰ ورځې پس ددې دنيا نه رخصت شو

د حج اقسام: د حج كونكو درې اقسام دي:

① مفرد، مفرد هغه ته وائي كوم چه صرف د حج احرام اوتړي پس صرف د حج احرام تړلو او صرف په حج باندې اكتفاء كونكى ته افراد وائي،

② قارن، قارن هغه ته وائي كوم چه د حج او عمرې دواړو احرام اوتړي، اول عمره اوكړي او بيا حج اوكړي نود حج او عمرې احرام يو ځائې تړلو سره اول حج او بيا عمره كولو ته قران وائي

③ متمتع، متمتع هغه ته وائي كوم چه د حج په مياشتو كښ د ميقات نه د عمرې احرام اوتړي او د عمرې افعال ادا كړي بيا كه هدى (د قربانۍ ځاروې) ئې ځان سره راوستلې وى نو احرام ئې تړلې وى او كه هدى ئې ځان سره نه وى راوستلې نو د احرام نه دې راوځي او په مكه مكرمه كښ دې مقيم وى چه كله د حج ورځې راشي نو د حج احرام دې د حرم نه اوتړي او حج دې اوكړي. پس د حج په مياشتو كښ اول د عمرې احرام تړلو سره د عمرې نه فارغ كيدو نه پس وطن ته د تلو نه مخكښ بغير د احرام پرانستلو (كه د قربانۍ ځاروې ئې ځان سره راوستلې وى) يا احرام پرانستلو سره بيا د حج په ورځو كښ د حرم نه د حج احرام تړلو سره حج كولو ته تمتع وائي

د رسول الله صلى الله عليه و سلم د حجة الوداع په نوعيت كښې د رواياتو اختلاف:

اوس سوال دا دې چه رسول الله ﷺ په حجة الوداع كښ د كوم قسم دپاره احرام تړلې وو، آيا رسول الله ﷺ مفرد وو يا قارن يا متمتع؟ علماء ليكى چه دې باره كښ مختلف احاديث منقول دي

① بعضې احاديث نه خو دا معلوميږي چه رسول الله ﷺ مفرد وو پس چه كوم حديث نقل كړې شوې دې دا هم د هغې نه دې

② د اكثر احاديث نه دا ثابتيږي چه رسول الله ﷺ قارن وو

③ او د بعض احاديثو نه ثابتيږي چه رسول الله ﷺ متمتع وو

وس په دې خبره باندې دَ ټولو ائمه حضراتو اتفاق دې چه دَحج دا دریواړه اقسام جائز دی کوم مسلمان چه کوم یو قسم اختیارول غواړی اختیارولې شی. اختلاف په دې کښې دې چه په دې اقسام دَ حج کښې کوم یو قسم دَ حج افضل دې. دَ افضلیت دا اختلاف په روایاتو باندې مبنی دې چه په حجة الوداع کښې دَ حضورپاك حج دکوم قسم وو حضورپاك کوم یوقسم دَحج اختیار کړې وو هم هغه به دَ ټولو نه افضل وی

د حج د اقسام ثلاثه په افضلیت کښې دری مذاهب:

① دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیز دَ ټولو نه افضل حج تمتع دې بیا افراد دې اوبیا قران دې.

② دَ امام مالك رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله په نیزدَ ټولونه افضل حج افراد دې بیا تمتع دې بیا قران دې

③ دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دَ ټولو نه افضل حج قران دې بیا تمتع دې او بیا افراد دې

دامام احمد دلائل:

① دَ حضرت عائشه رضی الله عنها نه هم څه روایات نقل دی دکوم نه چه معلومیږی چه حضورپاك په حجة الوداع کښې متمتع وو لهذا تمتع افضل دې لکه څنګه چه شوافع وئیلی دی چه حضوراکرم مفرد وو لهذا حج افراد افضل دې.

② وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا قَالَ تَمَتَّعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ بَدَأَ فَأَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

د امام شافعی دلائل: ① امام شافعی رحمه الله اوامام مالك رحمه الله خپل مسلك راجح ثابتولو دَپاره زیر بحث حدیث دَ حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه استدلال کړې دې په کوم کښې چه "واهل رسول الله صلی الله علیه وسلم بالحج" الفاظ راغلی دی. هغوی فرمائی چه ظاهر هم دغه دی دَ حج نه افراداً مراد دې ځکه چه دَمطلق حج ذکر دې دَ قران اوتمتع هیڅ اشاره نشته دې. دَدې قسم ډیر احادیث راغلی دی.

② هغه احادیث هم د دوی مستدل دی په کومو کښې چه دَ افراد ذکر دې. حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی "ان رسول الله صلی الله علیه وسلم افرد الحج" [رواه مسلم]

③ ((عن جابر انه قال اقبلنا مهلين مع رسول الله صلى الله عليه وسلم بحج مفرداً الخ)) دَ حضرت جابر رضی الله عنه په روایت کښې دا الفاظ دی. [مسلم: ١/٣٨٩.]

د احنافو دلائل: ① ((عن انس رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم اهل بهما لبيك حجة وعمرة)) ((رواه مسلم

② ((عن عمران بن حصين قال ان رسول الله صلی الله علیه وسلم جمع بين حج وعمرة)) ((رواه مسلم) [مسلم: ١/٤٠٢.

③ بخاری شریف کښې دَحضرت عمر رضی الله عنه نه داحدیث نقل دې چه حجة الوداع کښې کله حضوراکرم صلی الله علیه وسلم وادی عقیق ته اورسیدو نوجبرائیل امین اوفرمائیل "صل فی هذاالوادي

Maktaba Tul Ishaat.com

المبارك وقل عمرة في حجة" دا الفاظ په واضحه توګه باندې په قران باندې دلالت کوی اوس په دې کښې شك نشته دې چه حضورپاك په حجة الوداع کښې مختلف تلبيې ونيلې دی په دې کښې د افراد دپاره هم دی تمتع دپاره هم او د قران دپاره هم دی د کوم نه چه د افراد، قران او تمتع دریواړو ثبوت ملاویږی

④ د حضرت علی رضي الله عنه په قصه کښې دی چه هغوی د حجة الوداع په موقع باندې د يمن نه تشريف راوړو نوحضورپاك تپوس اوکړو چه تا څنګه احرام تړلې دې هغوی اوفرمائيل چه ما دا نيت کړې چه کوم نيت د رسول الله ﷺ وی هم هغه نيت زما هم دې حضورپاك په جواب کښې اوفرمائيل ((قال فاني سقت الهدي وقرنت)) (رواه ابوداؤد) يعنی ما خپل ځان سره د هدی څاروي راوستي دي اوما قران کړې دې

دلته دا خبره هم يقينی ده چه حضورپاك په مدنی ژوند کښې صرف يوحج کړې دې په دې مختلف رواياتو کښې تطبيق کول ضروری شوی دی د دې تطبيق دپاره ډير توجيهات مخې ته راغلی دی او د هر مسلك والو داسې توجيهه کړی دی د کوم نه چه د هغوی مسلك ثابت شوې دې او د بل مسلك په رواياتو کښې تاويل کړې شوې دې چنانچه د احناف په نيز يوڅو توجيهات داسې دی:

① حضورپاك په شروع کښې خپل احرام مبهم ساتلې وو په دې وجه ئې کله د افراد تلبيه ونيله او کله ئې د تمتع ونيله ليکن چه کله حضورپاك وادی عقيق ته اورسيدو نوجبرائيل امين هغوی ته د قرآن حکم ورکړو. په دې وجه که په شروع کښې حضورپاك د افراد يا تمتع تلبيه ونيلې هم ده نو د هغې اعتبار نشته. نور ائمه او د هغوی ملګری هم د دې اقرار کوی چه حضورپاك په شروع کښې د افراد احرام اوتړلو ليکن روستو حضورپاك بيا قارن شوې وو علامه نووی رحمه الله قاری عياض رحمه الله ابن قيم رحمه الله اوامام احمد رحمه الله هم دغه وائی. امام احمد رحمه الله خو داسې تصريح فرمائيلې ده "لاشك انه ﷺ كان قارنا والمتعة احب الي".

② حضورپاك په حقيقت کښې قارن وو ليکن صحابه کرامو ته ئې د حج افراد اوحج تمتع کولو اجازت ورکړې وو خکه چه د امت دپاره په دريواړو طريقو باندې د حج کولو جواز ملاؤ شی. د حضرت عائشه رضي الله عنها زير بحث حديث په دې باندې واضح دليل دې اوس چه حضورپاك کوموکسانو ته د افراد يا د تمتع اجازت ورکړو نو هغوی د دغه قسم حج نسبت هم د حضورپاك طرف ته اوکړو چه حضورپاك يامفرد وو يا متمتع وو نو دا نسبت مجازی دې او حقيقی نسبت هم هغه دې چه حضورپاك قارن وو دغه شان جواب د نورو مسلکونو والاهم اختيار وی

③ دا د اولی اوغيراولی اختلاف دې چاچه په کوم باندې عمل اوکړو جائز دی لهذا په يوحديث کښې د تکلفانه تاويل حاجت نشته اونه د جواب ورکولو ضرورت دې. په شريعت کښې وسعت دې د هرسړی جدا حالت وی نو هرسړې د خپل حالت مطابق افراد يا تمتع يا

فرق اخيستل شي د حضورپاك ذات مبارك د كمالاتو مجموعه وه د يـر ممكـن دی چـه حضورپاك هر قسم حج هم د يو په ضمن كښې اداكړې وی او مكمل فضيلت ئی حاصل كړو ود امت دپاره هم ګنجائش پيداشو زه هم دا راجح ګنړم

⊙ علامه ابن همام رحمه الله او ابن نجيم حنفی رحمه الله فرمائی د قارن دپاره جائز دی چه هغه په دريواړو طريقو تلبيه وائی نود رواياتو اختلاف د سماع په وجه راغلې دې چاچه صرف د حجة لفظ اوريدلې نوهغه افراد ګرځولې دې چاچه د تمتع الفاظ اوريدلی هغه تمتع ګرځولې اوچاچه دقران الفاظ اوريدلی هغه قران نقل كړې دې

[٢٥٤٦] د حضورپاك ﷺ حج

٢٥٤٥-[٧] (١) ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «تَمَتَّعَ رَسُولُ اللهِ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ، ٢ بَدَأَ فَأَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ١ ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې نبی كريم ﷺ په حجة الوداع كې عمره د حج سره يو ځی كړې تمتع وكړله (يعني فائده يي واخسته) ٢ په دې طور چې نبی كريم ﷺ د عمرې د احرام سره ابتداء وكړه او بيا د حج احرام يي وتړلی، دغه شان نبی كريم ﷺ حج او عمره يو ځی كړل او قارن شو، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① تَمَتَّعَ: دتمتع معنی ده فائده اخستل، دلته ترې حج تمتّع مراد دې يعنی عمره ئې دحج سره يوځائې اوكړه. ② بَدَأَ: شروع ئې اوكړه (يعنی دحج اركان اداكول ئې شروع كړل)

الْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٥٤٧] احرام نه مخكښې غسل كول مستحب دی

٢٥٤٦-[٨] (١) ١ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَجَرَّدَ لِإِهْلَالِهِ وَاغْتَسَلَ (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ)

ترجمه ١ د زيد بن ثابت رضي الله عنه په باره كې روايت دی چې هغه وليدل چې نبی كريم ﷺ د خپل احرام د پاره ګنډل شوی جامی ليری كړی او غسل يي وكړي، ترمذي، دارمي

حل اللغات: ① تَجَرَّدَ: أَيْ عَنِ الْمَخِيطِ: يعنی حضورپاك ﷺ د ګنډلې شوې كپړو نه او خپل لنګ نه جدا شو اوغسل كولوسره ئې بيا احرام اوتړلو ② لِإِهْلَالِهِ: أَيْ لِإِحْرَامِهِ: دخپل احرام د پاره (يعنی احرام ئې اوتړلو)

---

(١) اخرجه البخاری فی كتاب الحج باب من ساق البدن معه (رقم-١٦٩١) ومسلم فی كتاب الحج باب وجوب الدم على المتمتع، وأنه إذا عدمه لزمه صوم ثلاثة أيام فی الحج وسبعة إذا رجع إلى أهله (رقم-١٧٤ - (١٢٢٧)) وابوداود فی كتاب المناسك باب فی الإقران (رقم-١٨٠٥) والنسائی فی كتاب مناسك الحج باب التمتع (رقم-٢٧٣٢) واحمد فی المسند: ٢/١٣٩

(١) اخرجه الترمذی فی كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب ما جاء فی الاغتسال عند الإحرام (رقم-٨٣٠)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات: قوله: لِإِهْلَالِهِ:

احرام نه مخکښې د غسل کولو حکم: دَ احرام نه مخکښې غسل کول مسنون دی او که چرې د دې موقع نه ملاوېږی نو بیا اودس کول کافی دی دَ حیض او نفاس والا ښځې له هم پکار دی چه هغه غسل کولو سره دَ احرام نیت اوتړی لیکن دوه رکعته نفل دې نه کوی او عمره دې نه کوی کله چه ایام تیرشی نو بیا دې غسل اوکړی خان دې پاك کړی او عمره دې اوکړی که دَ عرفه په وخت بیماری شروع شی نو دا ښځه دې وقوف عرفه اوکړی د مزدلفه قیام دې هم اوکړی او په جمرات کښې دې کانړی هم اوولی مګر طواف زیارت دې په حیض کښې نه کوی ځکه چه تر دغه وخته پورې دا ناپاکه ده جمات ته نه شی تللې او دَ حیض په حالت کښې دَ هغې غسل کول غسل طهارت نه دې بلکه غسل نظافت دې.

[٢٥٤٨] دَ تلبید ذکر

٢٥٤٨-[٩] (١) ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٢ -لَبَّدَ رَأْسَهُ بِالْغِسْلِ (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ).

ترجمه ١ ابن عمر رضی الله عنهما وایي چې نبی کریم ﷺ د خپل سر مبارك وېښتان د هغه څیزونو په ذریعه جم کړل، چې په هغه سر منځل کېږي لکه خطمي وغیره. ابوداؤد.

حل اللغات: ① لَبَّدَ رَأْسَهُ: هُوَ إِلْصَاقُ شَعْرِ الرَّأْسِ بِالصَّمْغِ أَوِ الْخِطْمِيِّ: په سر باندې ګوند یا ګل خطمی وغیره لګول چه د خاورو نه، حشرات الارض نه او د نمر د ګرمئ نه بچ شی.

تسهیلات: قوله: بِالْغِسْلِ:

دغسل معنی: په غین باندې کسره ده هرهغه څیزته وئیلی شی په کوم سره چه سر وینځلې شی لکه خطمی وغیره ما یغسل به من الخطمی وغیره.

[٢٥٤٩] تلبیه په اوچت آواز سره وئیل پکار دی

٢٥٤٩-[١٠] (٢) ١ وَعَنْ خَلَّادِ بْنِ السَّائِبِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ أَتَانِي جِبْرِيلُ فَأَمَرَنِي أَنْ آمُرَ أَصْحَابِي أَنْ يَرْفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ بِالْإِهْلَالِ أَوِ التَّلْبِيَةِ (رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ).

ترجمه ١ خلاد بن سائب د خپل پلار بزرګوار څخه نقل کوي چې هغه وویل نبی کریم ﷺ وفرمایل ٢ چې ماته جبرائیل علیه السلام راغلو، او ماته یې دا امر وکړي چې زه خپلو اصحابو رضی الله عنهم ته د دې خبرې حکم ورکړم چې هغه په اهلال یا په تلبیه سره خپل آوازونه پورته کړي. مالك، ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه، دارمي

حل اللغات: ① بِالْإِهْلَالِ: په اوچت آواز سره تلبیه وئیل ② التَّلْبِيَةِ: تلبیه یعنی لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ..الخ، دعا وئیل

---

(١) اخرجه ابو داود فی کتاب المناسک، باب التلبید (رقم-١٧٤٨)

(٢) اخرجه ابو داود فی والترمذی فی کتاب المناسک، باب التلبید (رقم-١٧٤٨)

تسهیلات:

قوله أَن يَّرْفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ:

سړو دپاره تلبيه په اوچت آواز وئيل: په اوچت آواز سره لبيک وئيل د سړو دپاره مستحب دي ليکن آواز به دومره نه اوچتوی چه هغې سره چاته تکليف اورسيږي. ښځې به دومره رو آواز سره لبيک وائي چه هغوی ئې په خپله واوري، بل چاته د هغوی آواز اونه رسيږي.

قوله: بِالْإِهْلَالِ أَوِالتَّلْبِيَةِ:

«او» کلمې وضاحت: په دې کښې حرف «او» د راوي شک ښکاره کوی چه نبي کريم ﷺ خو بالاهلال اوفرمائيل، يائې بالتلبية اووئيل، معنی د دواړو يوشان ده. يعنی لبيک وئيل

[٢٥٥٠] د لبيک اللهم لبيک عظمت او فضيلت

حديث—[١١] (١) [١] وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٢] «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُلَبِّي إِلَّا لَبَّى مَنْ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ مِنْ حَجَرٍ، أَوْ شَجَرٍ، أَوْ مَدَرٍ [٣] حَتَّى تَنْقَطِعَ الْأَرْضُ مِنْ هَاهُنَا وَهَاهُنَا» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ)..

ترجمه [١] سهل بن سعد رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هر کله چې يو مسلمان لبيک وايي، نو د هغه د ښي او چپ طرف ته هر شي که کاڼي وي يا ونه يا لوټي تول لبيک وايي. [٣] تر دې چې دهغه طرف ځخه (يعني د هغه د ښي طرف ټوله زمکه) او د دې طرف ځخه (يعني د هغه د چپ طرف ټوله زمکه) په هغه کې شامله وي، ترمذي، ابن ماجه

حل اللغات: ① يُلَبِّي: تلبيه وئيلوته وائي. ② مَدَر: لوټي

تسهيلات: قوله: لَبَّى:

دتلبيه فضيلت: په دې حديث کښې دتلبيه وئيلو عظيم فضيلت بيان دې چه دکائناتو ذره ذره دَ دغه سړی تلبيه وئيلوکښې شريکيږي ښکاره خبره ده چه دَ کائنات دَ تلبيه وئيلو ثواب به دغه سړی ته ملاويږي

[٢٥٥١] په ذوالحليفه کښې دوه رکعته مونځ کول

٢٥٥١—[١٢] (٢) [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَرْكَعُ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ، [٢] ثُمَّ إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ النَّاقَةُ قَائِمَةً عِنْدَ مَسْجِدِ ذِي الْحُلَيْفَةِ [٣] أَهَلَّ بِهَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ وَيَقُولُ لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ، وَالْخَيْرُ فِي يَدَيْكَ، لَبَّيْكَ وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ وَالْعَمَلُ» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَلَفْظُهُ لِمُسْلِمٍ).

(١) اخرجه الترمذي في كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب في المستحاضة أنها تجمع بين الصلاتين بغسل واحد (رقم-١٢٨)

(٢) اخرجه البخاري في كتاب الحج /باب التلبية (رقم-١٥٤٩) ومسلم في كتاب الحج /باب التلبية وصفتها ووقتها (رقم-١٩ - ١١٨٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه [١] ابن عمر ﷺ وايي چې نبی کريم ﷺ به (احرام تړلو په وقت) په ذوالحليفه کې دوه رکعاته مونځ کولی. [٢] بيا چې د ذو الحليفه د مسجد نزدې اوښه به نبی کريم ﷺ آخستو سره ودريدله. [٣] نو نبی کريم ﷺ به دا کلمات (يعني د لبيک مشهور کلمات چې مخکې تير شوی دی) په اوچت آواز ويل. او بيا دا کلمات به يې نور پسی ويل لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِي يَدَيْكَ لَبَّيْكَ وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ وَالْعَمَلُ، حاضر يم ستا په خدمت کې اې الله ﷻ ستا په خدمت کې حاضر يم، حاضر يم ستا په خدمت کې او نيک بختی حاصلوم. ستا په خدمت کې، او خير ستا په لاس کې دی، حاضر يم ستا په خدمت کې، او رغبت او توجه ستا طرف ته ده، او عمل ستا د پاره دی، دا روايت بخاري او مسلم نقل کړی دی خو الفاظ د مسلم دي

حل اللغات: ① لَبَّيْكَ: أَيْ أَجَبْتُ لَكَ إِجَابَةً بَعْدَ إِجَابَةٍ: يعنی زه بار بار آوريدو دپاره حاضر يم ② وَسَعْدَيْكَ أَيْ سَاعَدْتُ طَاعَتَكَ مُسَاعَدَةً بَعْدَ مُسَاعَدَةٍ: يعنی زه بار بار د خدمت او اطاعت دپاره موجود يم ③ الْخَيْرُ فِي يَدَيْكَ: أَيْ مُنْحَصِرٌ فِي قَبْضَتِكَ: خير ټول ستا په قدرت او قبضه کښې دي ④ الرَّغْبَاءُ: رغبت او توجه

تسهيلات:

قوله: يَرْكَعُ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ:

د احرام تړلو په وخت کښې مسنون اعمال: مطلب دادې چه کله نبی کريم ﷺ ذوالحليفه ته اورسيدو نو هلته به ئې اول دوه رکعته مونځ دنفل په نيت سره کولو کوم چه احرام دپاره مسنون دې. اوپه دې دواړو رکعتونو کښې به ئې سورة کافرون او سورة اخلاص لوستلو. بيا به ئې نيت کولو، ددې نه پس به ئې لبيک وئيل، او بيا چه به کله ذوالحليفه سره نزدې په خپله اوښه باندې سورشو، بيا به اوښه پاڅيده، نوهغه وخت به هم اول نبی کريم ﷺ ددغه کلماتو په ذريعه تلبيه کوله کوم چه مشهور دی او بيا به ئې وريسې د لبيک هغه کلمات وئيل کوم چه په حديث کښې نقل کړې شوی دی.

[٢٥٥٢] دتلبيه څخه روسته مسنون دعا

٢٥٥٢- [١٣] (١) [١] وَعَنْ عُمَارَةَ بْنِ خُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٢] - أَنَّهُ كَانَ إِذَا فَرَغَ مِنْ تَلْبِيَتِهِ [٣] سَأَلَ اللَّهَ رِضْوَانَهُ وَالْجَنَّةَ، وَاسْتَعْفَاهُ بِرَحْمَتِهِ مِنَ النَّارِ (رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ).

ترجمه [١] عماره ابن خزيمه ابن ثابت خپل پلار بزرگوار (خزيمه ﷺ) څخه او هغه د نبی کريم ﷺ څخه نقل کوي، [٢] نبی کريم ﷺ چې به د تلبيه (يعني لبيک ويلو) څخه فارغه شو. [٣] نو د الله ﷻ څخه به يې د هغه رضا او جنت غوښتلی، او د هغه د رحمت په ذريعه به يې د دوزخ د اور څخه معافي غوښتله. شافعي

(١) اخرجه الامام الشافعي

حل اللغات ① رِضْوَانَهُ: أي رِضَاهُ: د الله رضا (هم په دنیا هم په عقبی کښې). ② اسْتَعْفَاهُ: أي طلب عفوه د هغه په ښې غوښتله د الله تعالی نه

تسهیلات

قوله وَاسْتَعْفَاهُ بِرَحْمَتِهِ مِنَ النَّارِ:

تلبیه څخه روسته د درود شریف ویلو استحباب: احناف علماء فرمائی چه دا مستحب دی چه کوم سړی د تلبیه نه فارغ شی نوهغه دې په نبی کریم ﷺ باندې درود اووائی او د درود ویلو په وخت دې خپل آواز د تلبیه د آواز په نسبت لږ کم کړی. او د الله تعالی نه دې د هغه رضا اوجنت اوغواړی، د دوزخ د اور نه دې د هغه په ذات سره پناه غواړی. او د خپل دینی او دنیاوی کامیابۍ دپاره دې دعا اوغواړی

د تلبیه په دوران کښې سلام نه اچول: دا مسئله هم په ذهن کښې ساتل پکار دی چه تلبیه کونکی ته سلام کول مکروه دی، خو که څوک د تلبیه کولو په حالت کښې سلام اوکړی نو هغه د سلام کولو جواب ورکول جائز دی، او د احناف علاؤ په نزد یو ځل تلبیه کول خو فرض دی. او یو ځل نه زیات سنت دی، داسې سنت چه ددې پرېښودونکې بد ګڼړلې کیږی

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۵۵۳] دهموار میدان څخه احرام تړل

حدیث - [١٤] عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمَّا أَرَادَ الْحَجَّ أَذَّنَ فِي النَّاسِ فَاجْتَمَعُوا [٢] فَلَمَّا أَتَى الْبَيْدَاءَ أَحْرَمَ (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ).

ترجمه [١] جابر رضي الله عنه وايي نبی کریم ﷺ چې د حج اراده وکړه، نو خلق يې خبر کړه، يعنی اعلان يې وکړي، خلق را جمع شول، [٢] او بيا چې د بيداء ميدان ته ورسيدې، نو احرام يې وتړلی. بخاري

حل اللغات ① الْبَيْدَاءَ: هوار ميدان، دا د ذی الحليفه سره نزدې د يو ځائې نوم دې

تسهیلات: **قوله**: فَلَمَّا أَتَى الْبَيْدَاءَ أَحْرَمَ:

د بيداء محل وقوع: کله چه حج فرض شو او نبی کریم ﷺ په لسم هجری کښې ددې فريضې اداکولو اراده اوکړه، نو دا اعلان ئې اوفرمائیلو چه رسول الله ﷺ دحج اراده لری. په کومو خلقو چه حج فرض دې هغوی دې دحج د سفر دپاره تیارشی، نو په مقرر وخت باندې په مدینه کښې د مسلمانانو ډیر زیات تعداد جمع شو، او نبی علیه السلام سره دتږلو ملګرو د مدينې نه روان شو، بيا کله چه نبی کريم ﷺ د بيداء ميدان ته اورسيدو. کوم چه د ذوالحليفه سره نزدې دې، نو هلته ئې احرام اوتړلو

Maktaba Tul Ishaat.com

د نبی علیه السلام د احرام تړلو مقام: اوس په دې موقع باندې دومره خبره باندې خان پوهه کړئ چه دلته د احرام تړلو نه مراد دادی چه په بیداء کښې نبی علیه السلام دوباره تلبیه ونیلو سره دخپل محرم کیدو اظهار اوکړو، ځکه چه مخکښې ونیلې شوی دی او هم ثابته هم ده، چه نبی علیه السلام ابتداءً په ذوالحلیفه کښې داحرام دپاره دوه رکعته مونځ کړې وو بیا ئې احرام تړلې وو

[٢٥٥٤] د مشرکانو تلبیه

٢٥٥٤–[١٥] (١) ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ الْمُشْرِكُونَ يَقُولُونَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، ٢ فَيَقُولُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَيْلَكُمْ قَدْ قَدْ إِلَّا شَرِيكًا هُوَ لَكَ تَمْلِكُهُ وَمَا مَلَكَ، ٣ يَقُولُونَ هَذَا وَهُمْ يَطُوفُونَ بِالْبَيْتِ» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه ١ ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې مشرکانو خلقو به تلبیه ویله، او دا کلمات به یې داء کول لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، حاضر یم ستا په خدمت کې ستا څوك شریك نشته ، نو نبی کریم ﷺ به فرمایل چې په تاسو افسوس دی، بس بس (یعني دومره یې ویې، د دې څخه زیات مه وایي. خو مشرکان کله منونکی وو، هغوئ به د دې څخه روسته بیا دا ویل إِلَّا شَرِيكًا هُوَ لَكَ تَمْلِكُهُ وَمَا مَلَكَ یعنی ستا څوك شریك نشته ،٢ هو هغه بت ستا شریك دی. چې ستا په ملك کې دی، ته د هغه مالك یې، هغه شریك ستا مالك نه دی،٣ مشرکانو خلقو به د تلبیه دا کلمات د خانه کعبې طواف کولو سره ویل. مسلم

حل اللغات: ① وَيْلَكُمْ: افسوس دې په تاسو باندې، ② قَدْ قَدْ: أَيْ كَفَاكُمْ هَذَا: بس بس یعنی دومره کافی ده نور وړیسې مه وایه.

تسهیلات: قوله: قدٍ قدٍ:

د مذکوره الفاظو مطلب: په قاف باندې فتحه ده او په دال باندې دَ تنوین په صورت کښې کسره ده دَ کاف کاف په معنی کښې دې یعنی دومره کافی ده وراندې شرکیه کلمات مه استعماله وه بیا به خپیمانه یئی په تاباندې افسوس دې هم په دغه باندې انحصار اوکړه مه وراندې کیږه

قوله: تملکه وماملك:

د ما ملك په جمله کښې په لفظ ما کښې دوه احتمالات: ① په دې جمله کښې دا ما نافیه هم کیدې شی اوموصوله هم کیدې شی یعنی هغه بت مالك نه دې ته دَ دې مالك ئی
② که چرې ماموصوله وی نوترجمه به داسې شی یعنی ته دَ دې بت هم مالك ئی اودَ دې بت په لاس کښې چه څه هم دې دَهغې هم مالك ئی

---

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الحج /باب التلبیة وصفتها ووقتها (رقم-٢٢ - (١١٨٥)

[٢] بَابُ قِصَّةِ حَجَّةِ الْوَدَاعِ

د حجة الوداع د واقعې بيان

خلاصة الباب:

فيه ستة أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① واقعة حجة الوداع مفصلاً: ١.

② تقسيم المحرمين في حجة الوداع و أحكامهم: ٢، ٣.

③ دخول العمرة في الحج : ١، ٣، ٥.

④ التحليل بين العمرة والحج لغير السائق وعدمه للسائق: ١، ٢، ٣، ٤، ٥، ٦.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[٢٥٥٥] په مدينه کښې لهٔ کاله حج نه کول

٢٥٥٥-[١] (١)[١] عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «مَكَثَ بِالْمَدِينَةِ تِسْعَ سِنِينَ لَمْ يَحُجَّ، [٢] ثُمَّ أَذَّنَ فِي النَّاسِ فِي الْعَاشِرَةِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حَاجٌّ، [٣] فَقَدِمَ الْمَدِينَةَ بَشَرٌ كَثِيرٌ، فَخَرَجْنَا مَعَهُ حَتَّى إِذَا أَتَيْنَا ذَا الْحُلَيْفَةِ،

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې نبی کريم ﷺ (د هجرت څخه پس) په مدينه کې نه ۹ کاله داسې تیر کړل چې حج يې ونه کې (البته عمرې يې وکړې ځکه چې مخکې نـوده شوې دی) بيا چې د حج فرضيت نازل شو، [٢] نو په لسم کال نبی کريم ﷺ په خلقو کې اعلان وکه چې نبی کريم ﷺ د حج اراده لري، کوم خلق چې حج ته تلل غواړي، هغه دې د ملګرتيا د پاره تيار شي [٣] (دا اعلان اوريدو سره) د خدای د مخلوق يو ډير لوی تعداد په مدينه کې جمع شو. نو مونږ خلق د نبی کريم ﷺ سره (د ذي القعده د مياشتې د ختميدو څخه پنځه ورځې مخکې د ماسپخين او مازيګر په منځ کې) د مديني څخه روان شو. کوم وخت چې مونږ خلق ذو الحليفه ته ورسيدو.

[١] فَوَلَدَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ مُحَمَّدَ بْنَ أَبِي بَكْرٍ، [٢] فَأَرْسَلَتْ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَيْفَ أَصْنَعُ؟ [٣] قَالَ: اغْتَسِلِي وَاسْتَثْفِرِي بِثَوْبٍ وَأَحْرِمِي، [٤] فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي الْمَسْجِدِ، ثُمَّ رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتَّى إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ نَاقَتُهُ عَلَى الْبَيْدَاءِ [٥] أَهَلَّ بِالتَّوْحِيدِ لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لَا شَرِيكَ لَكَ.

ترجمه: [١] نو هلته بي بي اسماء بنت عميس رضي الله عنها د خيټې څخه محمد بن ابي بکر پيدا شو. [٢] بي بي اسماء رضي الله عنها څوك د نبی کريم ﷺ په خدمت کې وليږلی، او پوښتنه يې

(١) مسلم: كتاب الحج . باب حجة النبي صلى الله عليه وسلم ٨/ ٥٤ حديث ٣٠٠٩.

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړه. چې اوس څه وکړم آيا احرام وتړم يا يې نه وتړم؟ [۳] او که يې وتړم نو څرنګه يې وتړم؟ نبی کريم ﷺ جواب ور وليږي. چې غسل کولو سره د کپړي لنګوټ وتړه بيا احرام وتړه. [۴] بهر حال نبی کريم ﷺ په مسجد ذوالحليفه کې مونځ وکړ، او په قصواء چې د نبی کريم ﷺ د اوښې نوم وو، سور شو، تر دې چې د نبی کريم ﷺ اوښې نبی کريم ﷺ حستو سره د بيداء په ميدان کې ودريدې، [۵] نو نبی کريم ﷺ په اوچت آواز سره د تلبيه دا کلمات وويل لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ.

ترجمه [۱] حاضر يم ستا په خدمت کې يا الله ﷻ ستا په خدمت کې حاضر يم. حاضر يم ستا په خدمت کې، ستا څوک شريک نشته حاضر يم ستا په خدمت کې. بيشکه تعريف او نعمت ستا دی. او بادشاهت هم تالره دی. ستا څوک شريک نشته.

حل اللغات ① اسْتَثْفِرِي: أي اجْعَلِي ثَوْبًا بَيْنَ فَخِذَيْكِ: يعنی د خپو په مينځ کښې د کپړي لنګوټ وتړه لکه چيلی ته چه کڅوړه تړلې شي

[۱] قَالَ جَابِرٌ: لَسْنَا نَنْوِي إِلَّا الْحَجَّ، لَسْنَا نَعْرِفُ الْعُمْرَةَ، [۲] حَتّٰى إِذَا أَتَيْنَا الْبَيْتَ مَعَهُ اسْتَلَمَ الرُّكْنَ فَطَافَ سَبْعًا، فَرَمَلَ ثَلَاثًا وَمَشٰى أَرْبَعًا، [۳] ثُمَّ تَقَدَّمَ إِلٰى مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ فَقَرَأَ: ﴿وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى﴾ [البقرة: ۱۲۵] [۴] فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ، فَجَعَلَ الْمَقَامَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْبَيْتِ».

ترجمه [۱] حضرت جابر ﷺ وايي چې مونږ د دې څخه مخکې د حج نيت کولی، او مونږ د حج په مياشتو کې د عمرې څخه واقف هم نه وو، [۲] بهرحال کوم وخت چې مونږ د نبی کريم ﷺ سره بيت الله شريفي ته ورسيدو، نو رسول اکرم په حجر اسود يې لاس کينبووی او مچ يې کړه. او درې خله يې رمل (يعنې په تيز رفتار سره او وږو خوزولو سره) د خانه کعبې طواف يې وکه. او څلور خله په خپل رفتار سره (يعنې قلار قلار تلو سره) طواف يې وکه. [۳] او د طواف څخه روسته د مقام ابراهيم طرف ته مخکې شو. او دا آيت يې وويلی. وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى. **ترجمه** [۱] د مقام ابراهيم اطراف د مانځه کولو ځای جوړ کې (يعنې هلته مونځ کوی) [۴] بيا نبی کريم ﷺ مقام ابراهيم او بيت الله خپل منځ کې کولو سره دوه رکعاته مونځ وکړي.

حل اللغات ② فَرَمَلَ: أي أَسْرَعَ يَهُزُّ مَنْكِبَيْهِ: په طواف کښې اوږو خوزولو ته رمل وائی يعنی پهلوانی سره تلل

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ أَنَّهُ «قَرَأَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ: ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ﴾ [الإخلاص: ۱] وَ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ﴾ [الكافرون: ۱] [۲] ثُمَّ رَجَعَ إِلَى الرُّكْنِ فَاسْتَلَمَهُ، ثُمَّ خَرَجَ مِنَ الْبَابِ إِلَى الصَّفَا، فَلَمَّا دَنَا مِنَ الصَّفَا قَرَأَ: ﴿إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ﴾ [البقرة: ۱۵۸] [۳] أَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللّٰهُ بِهِ، فَبَدَأَ بِالصَّفَا فَرَقِيَ عَلَيْهِ حَتّٰى رَأَى الْبَيْتَ، فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، [۴] فَوَحَّدَ اللّٰهَ وَكَبَّرَهُ وَقَالَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ، [۵] أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ،

ترجمه ۱ او د يوه روايت مطابق هغه په دواړو رکعاتو کې قل هو الله او قل يا ايها الکافرون ووېل. ۲ بيا د حجر اسود طرف ته راغلو، او هغه يې ښکل کړه، د دې څخه فارغېدو سره د مسجد د دروازې (يعني باب الصفاء) څخه ووتلو، او د صفا د غره طرف ته لاړو. هر کله چې صفا ته نږدې ورسيدې، نو دا آيت يې اووئيلو إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰهِ. بېشکه صفا او مروه د الله ﷻ د دين د نښو څخه دی. ۳ او وې فرمايل چې زه هم د هغه څيز څخه ابتداء کوم، د کوم شي څخه چې الله ﷻ ابتداء وکړه (يعني څرنګه چې الله ﷻ په دې آيت کې مخکې د صفا ذکر کړی دی، بيا يې د مروه، دغه شان زه هم مخکې صفاء ته ځيږم. بيا به مروه ته ځيږم) نو نبی کريم ﷺ سعي وکړه، ابتداء يې د صفاء څخه وکړه. او هغه ته اوختلو، تر دې چې نبی کريم ﷺ د صفا څخه بيت الله شريفه وليده. ۴ نو د الله ﷻ وحدانيت او د هغه لويي يې بيان کړه (يعني لا اله الا الله. او الله اکبر يې وويلې) او دا کلمات يې وفرمايل لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ أَنْجَزَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ. **ترجمه**: ۱ د الله ﷻ څخه سوا بل معبود نشته. هغه يکتا او تنها (يکی يو) دی، د هغه خوک شريك نشته، د هغه د پاره بادشاهت دی. او د هغه د پاره تعريف دی، او هغه په هر څيز قادر دی، د الله ﷻ څخه سوا بل معبود نشته. هغه يکتا او تنها دی. ۵ هغه د اسلام د کلمې اوچتولو خپله وعده پوره کړله. هغه د خپلو بنده ګانو مدد وکړې، او د کفارو لښکر ته يې تنها (يوازې) شکست ورکړې (يعني غزوه خندق)

حل اللغات: ۳ رَقِيَ: أَيْ صَعِدَ: ور اوختلو. ۴ أَنْجَزَ: أَيْ وَفٰى: پوره يې کړه ۵ هَزَمَ: شکست يې ورکړو

۱ ثُمَّ دَعَا بَيْنَ ذٰلِكَ قَالَ مِثْلَ هٰذَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ۲ ثُمَّ نَزَلَ وَمَشٰى إِلَى الْمَرْوَةِ حَتَّى انْصَبَّتْ قَدَمَاهُ فِي بَطْنِ الْوَادِي ۳ ثُمَّ سَعٰى حَتّٰى إِذَا صَعِدَتَا مَشٰى حَتّٰى أَتَى الْمَرْوَةَ، فَفَعَلَ عَلَى الْمَرْوَةِ كَمَا فَعَلَ عَلَى الصَّفَا ۴ حَتّٰى إِذَا كَانَ آخِرُ طَوَافٍ عَلَى الْمَرْوَةِ نَادٰى وَهُوَ عَلَى الْمَرْوَةِ وَالنَّاسُ تَحْتَهُ ۵ فَقَالَ: لَوْ أَنِّي اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ لَمْ أَسُقِ الْهَدْيَ وَجَعَلْتُهَا عُمْرَةً ۶ فَمَنْ كَانَ لَيْسَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيَحِلَّ وَلْيَجْعَلْهَا عُمْرَةً،

ترجمه ۱ بيا د هغه په منځ کې يې دعا وکړه، او درې ځله يې دغه شان اوويل (يعني مخکې يې دغه کلمات ووېل) او بيا يې دعا وکړه، او دغه شان يې درې ځله ووېل. ۲ د دې څخه روسته د صفاء څخه ښکته شو، او د مروه غره طرف ته لاړو، تر دې چې کوم وخت د نبی کريم ﷺ قدم مبارك ميدان نشيب ته ورسيدې (يعني د ميدان د لوړی (پورته) څخه کښتې حصې ته راغلو) ۳ نو منډه يې کړه (يعني سعي يې وکړه) او کوم وخت چې د نبی کريم ﷺ دواړه قدمونه په ختلو شو (يعني د کښتې څخه د مروه پورته والي ته ختلی) نو (زغليدل موقوف کولو سره) قلار قلار روان شو. بيا کوم وخت چې مروه ته ورسيدې، نو هغه يې وکړل، څه چې يې په صفاء کې کړی وو. ۴ تر دې چې کوم وخت نبی کريم ﷺ په مروه د سعي اختتام وکړې (يعني سعي يې ختمه کړه) نو خلقو ته يې آواز وکړې، په داسې

Maktaba Tul Ishaat.com

حال کې چې نبی کریم ﷺ په مروه پورته وو، او خلق د هغه څخه لاندې، او وې فرمایل چې که د خپل خان په باره کې ماته د مخکې څخه هغه خبره معلومه وایې، کومه چې وروسته راته معلومه شویده، نو هدي (د قربانۍ څاروی) به مې د خان سره نوای راوستلی، او دا به ماعمره ګرځولې وی، بس په تاسو کې چې د چاسره هدي (قرباني) نه وي هغه دی حلال شي (یعني د حج احرام دې خلاص کړي) او حج دې عمره جوړه کړي (د دې اوریدو سره)

حل اللغات: ⑥ اِنْصَبَّتْ: أَيِ انْحَدَرَتْ: رابنکته شو قدم د رسول الله ﷺ، ⑦ اسْتَقْبَلْتُ: أَيْ لَوْ عَلِمْتُ فِي قَبْلُ: که ماته د مخکښې نه علم وې. ⑧ مَا اسْتَدْبَرْتُ: أَيْ مَا عَلِمْتُهُ فِي دُبُرِهِ: کومه چه راته روسته معلومه شوه

١ فَقَامَ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَلِعَامِنَا هَذَا أَمْ لِأَبَدٍ؟ ٢ فَشَبَّكَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَصَابِعَهُ وَاحِدَةً فِي الْأُخْرَى وَقَالَ: دَخَلَتِ الْعُمْرَةُ فِي الْحَجِّ مَرَّتَيْنِ لَا بَلْ لِأَبَدِ أَبَدٍ ٣ وَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ بِبُدْنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٤ فَقَالَ لَهُ: مَاذَا قُلْتَ حِينَ فَرَضْتَ الْحَجَّ قَالَ: قُلْتُ اللَّهُمَّ إِنِّي أُهِلُّ بِمَا أَهَلَّ بِهِ رَسُولُكَ ٥ قَالَ: فَإِنَّ مَعِيَ الْهَدْيَ فَلَا تَحِلَّ

ترجمه: ١ سراقه بن مالك بن جعشم ودریدو سره عرض وکړو چې یا رسول الله! ﷺ زمونږ د پاره دا حکم د دی کال د پاره دی، یا د همیشه د پاره؟ ٢ نبی کریم ﷺ د یو لاس ګوتې د دویم لاس په ګوتو کې اچولو سره وفرمایل چې یا (دا حکم په خاص طور سره دی د کال د پاره نه دی) بلکه د همیشه د پاره دی (چې د حج په میاشتو کې عمره جائز ده) ٣ د دې څخه روسته حضرت علي (چې د یمن حاکم مقرر شوی وو) د نبی کریم ﷺ د پاره یې قرباني ته د یمن څخه اوښان راوستل، ٤ حضور ﷺ هغه ته وفرمایل چې تا په خان حج لازم کړی وو نو هغه وخت (یعني د احرام تړلو په وخت کې) تا څه ویلي وو؟ (یعني تا د څه څیز د پاره احرام تړلی وو. او څه نیت دې کړی وو؟) حضرت علي وویل، ما داسې ویلي وه. اللَّهُمَّ إِنِّي أُهِلُّ بِمَا أَهَلَّ بِهِ رَسُولُكَ، یعنی اې الله! ﷻ زه د هغه څیز احرام تړم، د کوم شي احرام چې ستا رسول ﷺ تړلی دی. ٥ نو نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې ما سره خو د قربانۍ څاروی دي. او ما د حج او د عمرې احرام تړلی دی، ځکه تر څو چې د عمرې او حج دواړو څخه فارغه نشم. تر هغه وقته احرام څخه نشم وتلی، او تا هغه نیت کړی دی، کوم چې ما کړی دی، نو ته هم احرام مه خلاصوه.

حل اللغات: ⑨ بُدْنِ: د بَدَنَة جمع ده، وَالْمُرَادُ مَا يُتَقَرَّبُ بِذَبْحِهِ مِنَ الْإِبِلِ: هغه اوښ چه د قربانۍ په نیت مکې ته راوستلې شي

١ قَالَ: فَكَانَ جَمَاعَةُ الْهَدْيِ الَّذِي قَدِمَ بِهِ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ وَالَّذِي أَتَى بِهِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِائَةً ٢ قَالَ: فَحَلَّ النَّاسُ كُلُّهُمْ وَقَصَّرُوا إِلَّا النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَمَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ ٣ فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ

بالتروية توجهوا إلى منى فأهلوا بالحج [٢] وركب النبي - صلى الله عليه وسلم - فصلى بها الظهر والعصر والمغرب والعشاء والفجر، ثم مكث قليلا حتى طلعت الشمس،

ترجمه [١] حضرت جابر ﷺ وايي هغه اوښان چې د نبی کريم ﷺ د پاره د قرباني د پاره. حضرت علي د يمن څخه راوستلي وو، او هغه اوښان چې نبی کريم ﷺ د خپل خان سره راوستلي وو، د ټولو مجموعي تعداد سل وو. [٢] د حضرت جابر ﷺ بيان دی چې د نبی کريم ﷺ د ارشاد مطابق، ټولو خلقو چې د هغوئ سره د قرباني څاروی نه وو. عمره کولو سره يې احرام خلاص کړي، او د خپلو سرونو وينستان يې وخريل. خو نبی کريم ﷺ او هغه خلق چې د هغوئ سره د قرباني څاروی وو. د احرام په حالت کې پاتې شو. بيا چې د ترويه ورځ راغله (يعني د ذي الحجه اتم تاريخ راغلو) نو ټول خلق د منی طرف ته روانيدو ته تيار شول، نو هغه صحابه ﷺ (چې د عمرې د فارغيدو څخه روسته د احرام څخه راوتلی وو) د حج احرام وتړلی [٢] او نبی کريم ﷺ هم (د نمر ختو څخه پس) سور شو او منی ته ورسيدلی، د منی په مسجد خيف کې يې د ماسپخين او مازيگر، د ماښام و ماسخوتن او د سحر مونځونه وکړل، او د نهم تاريخ د سحر د مانځه کولو څخه يې وروسته لږ څه قيام وکړي، تر دې چې نمر راوختلی،

حل اللغات: ⑩ فَحَلَّ: أي خَرَجَ مِنَ الْإِحْرَامِ: حلال شو يعنی د احرام نه اووتل ⑪ قَصَّرُوا: وينسته نې کم کړل

[١] وأمر بقبة من شعر تضرب له بنمرة، فسار رسول الله - صلى الله عليه وسلم - [٢] ولا تشك قريش إلا أنه واقف عند المشعر الحرام كما كانت قريش تصنع في الجاهلية، فأجاز رسول الله - صلى الله عليه وسلم - حتى أتى عرفة [٣] فوجد القبة قد ضربت له بنمرة فنزل بها، حتى إذا زاغت الشمس أمر بالقصواء، فرحلت له فأتى بطن الوادي

ترجمه [١] او نبی کريم ﷺ حکم وکړي چې د نبی کريم ﷺ د پاره دې په نمره (عرفات) کې خيمه نصب شي. چې د وينستانو جوړه شوي وه، بيا نبی کريم ﷺ (د منی څخه عرفات) ته روان شو. [٢] د قريشو گمان وو، چې رسول الله ﷺ به په معشر حرام (مزدلفه) کې قيام وکړي. څرنگه چې قريشو به د جاهليت زمانه کې د حج په موقع کول. خو نبی کريم ﷺ د مزدلفي څخه مخکې لاړو. تر دې چې ميدان عرفات ته راغلو. [٣] او په وادي نمره کې يې خپله خيمه ولاړه و موندله. نبی کريم ﷺ هغه ته راغلو، او قيام يې وکړي. تر دې چې کوم وخت نمر په زوال شو، نو د قصواء (چې د نبی کريم ﷺ د اوښې نوم وو) راوستلو حکم يې وکړي. کوم وخت چې قصواء (اوښه) راوستل شوه، نو په هغه کته (پالان) واچول شو. او نبی کريم ﷺ په هغه سوريدو سره وادي نمره ته تشريف راوړو،

حل اللغات: ⑫ بِقُبَّةٍ: أي بِضَرْبِ خَيْمَةٍ: د خيمې لگولو ⑬ زَاغَتْ: أي مَالَتْ: مائل شو نمر يعنی زوال اوشو

Maktaba Tul Ishaat.com

١ فَخَطَبَ النَّاسَ وَقَالَ: إِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِي شَهْرِكُمْ هٰذَا فِي بَلَدِكُمْ هٰذَا، ٢ أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ تَحْتَ قَدَمَيَّ مَوْضُوعٌ، ٣ وَدِمَاءُ الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعَةٌ، وَإِنَّ أَوَّلَ دَمٍ أَضَعُ مِنْ دِمَائِنَا دَمُ ابْنِ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ، وَكَانَ مُسْتَرْضَعًا فِي بَنِي سَعْدٍ فَقَتَلَهُ هُذَيْلٌ، ٤ وَرِبَا الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعٌ، وَأَوَّلُ رِبًا أَضَعُ مِنْ رِبَانَا رِبَا عَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَإِنَّهُ مَوْضُوعٌ كُلُّهُ،

ترجمه ١ او د خلقو په مخکې یې خطبه ویلو سره وفرمایل چې اې خلقو! ستاسو وینه، ستاسو مال په تاسو داسې حرام دی، څرنګه چې ستاسو په دې ورځ (عرفه) کې ستاسو په دې میاشت (ذی الحجه) کې او ستاسو په دې ښار (مکه) کې حرام دی (یعنې څرنګه چې تاسو د عرفې په ورځ د ذي الحجه په میاشت کې او په مکه مکرمه کې قتل او لوټ مار حرام ګڼي. دغه شان د همیشه همیشه د پاره او هر ځای د یو مسلمان سر او مال په بل مسلمان حرام دی، نو په تاسو کې دې څوك هم څه وخت هم او یو ځای هم د چا قتل او خون ونکی، د چا مال دې په غلا او دوکه بازي سره نه خوري، او څوك دې په جاني او مالي تکلیف او په مصیبت کې نه اخته کوي) ٢ یاد لرئ چې د جاهلیت د زماني هر شی زما د قدمونو لاندې دی، او پامال او بې قدر (یعنې موقوف او باطل دی) د اسلام څخه مخکې چې چې څه کړي دي، ما هغه هر څه معاف کړل، او د جاهلیت د زماني ټول رسم ورواج مې موقوف او ختم کړل، د جاهلیت د زماني خون معاف کړل شو، نو د جاهلیت په زمانه کې که چا د چا خون کړی وو، نو اوس نه د هغه قصاص شته، نه دیت او نه کفاره، بلکه د هغه د معافی اعلان دی، ٣ او د ټولو څخه مخکې خون چې زه یې د خپلو خونونو څخه معاف کوم. هغه د ربیعه ابن حارث د ځوی خون دی چې یو شیدي (یئ) رودونکی ورکي وو، او په قبیله بني سعد کې یې شیدي (پئ) رودلی، او هذیل قبیلی هغه وژلی وو. ٤ د جاهلیت د زماني سود معاف شوي دي، او د ټولو څخه مخکې سود چې زه په خپلو سودونو کې معاف کوم. د عباس ابن عبد المطلب سود دی، نو د جاهلیت د زماني هغه سود بالکل معاف شوي دي.

حل اللغات: ⓷ مُسْتَرْضَعًا: پئ رودونکی ماشوم

١ فَاتَّقُوا اللّٰهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانِ اللّٰهِ، وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللّٰهِ، ٢ وَلَكُمْ عَلَيْهِنَّ أَنْ لَا يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ أَحَدًا تَكْرَهُونَهُ، ٣ فَإِنْ فَعَلْنَ ذٰلِكَ فَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ، ٤ وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ، ٥ وَقَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهِ. كِتَابَ اللّٰهِ، ٦ وَأَنْتُمْ تُسْأَلُونَ عَنِّي فَمَا أَنْتُمْ قَائِلُونَ، قَالُوا: نَشْهَدُ أَنَّكَ قَدْ بَلَّغْتَ وَأَدَّيْتَ وَنَصَحْتَ، ٧ فَقَالَ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ يَرْفَعُهَا إِلَى السَّمَاءِ وَيَنْكُتُهَا إِلَى النَّاسِ: اللّٰهُمَّ اشْهَدْ، اللّٰهُمَّ اشْهَدْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ،

ترجمه ١ اې خلقو! د ښځو په معامله کې د الله ﷻ څخه ویر یږئ، تاسو هغه د الله ﷻ د امان سره اخستی دي یعنې د هغوئ د حقوقو د ادائیګی او د هغوئ د عزت او احترام

مو د ستاسو چې کوم عهد الله ﷻ ستاسو څخه اخستې دی یا د هغه عهد چې تاسو د الله ﷻ سره کړی دی، د هغه مطابق ښځي تاسو ته راغلي دي او د هغوئ شرم گاهونه د الله ﷻ په حکم سره، یعني د فانکحوا مطابق رشته د ښځي خوند قاملولو سره د خان د پاره مو حلالې گرځولي دی. [۲] او په ښځو ستاسو حق دا دی چې هغه ستاسو په بسترو بو داسې سړی پري نږدي، چې د هغه راتلل تاسو ته ناخوښه وي. یعني هغه ستاسو په کورونو کې هیڅوك هم ستاسو د اجازت بغیر پري نږدي، که هغه سړی وي که ښځه. [۳] که هغه په دې معامله کې نافرماني وکړي چې ستاسو د اجازت بغیر څوك کور ته پرېږدي او د ورځې څخه روسته هم هغه د دې څخه منعه نشي، نو تاسو هغه ووهی. خو داسې یې مه وهی چې د هغه څخه سختې او شدت ښکاره شي او یا زخمي یې کړي. او هغوئ ته تکلیف ورسیږي. [۴] او په تاسو د هغوئ حق دادی، چې تاسو هغوئ لره د خپل استطاعت او حیثیت مطابق د خوراك څښاك سامان او مکان او جامه ورکړی

[۵] ای خلقو: زه ستاسو په منځ کې داسې شی پرېږدم، که هغه مضبوط ونیسی. نو زما څخه روسته هغه په مضبوطی سره نیولو او په هغه دعمل کولو څخه روسته تاسو به هیڅ کله گمراه نشی او هغه څیز د الله ﷻ کتاب دی.

[٦] او ای خلقو: زما په باره کې به ستاسو څخه پوښتنه کیږي چې ما د منصب رسالت فرائض په پوره طور سره ادا کړل که نه، او ما د دین احکام تاسو ته ورسول یا نه. نو تاسو به څه جواب ورکوی؟ په دې موقع صحابه وو ﷺ (په یوه ژبه) اوویل چې مونږ د الله ﷻ په مخکې د دې خبرې شاهدي ورکوو، چې تا دین مونږ ته راورسولی، خپل فرض مو اداء کړل. او زمونږ خیر خواهي مو وکړه. [۷] د دې څخه روسته نبی کریم ﷺ د خپل شهادت په گوته سره اشاره وکړه، په دې طور چې هغه یې د آسمان طرف ته پورته کړه. او بیا د خلقو طرف ته را خکته کولو سره درې خله یې دا اوویل چې ای الله: ﷻ د خپلو بنده گانو په دې اقرار او اعتراف ته گواه اوسه. ای الله ﷻ ته شاهد اوسه

حل اللغات: ⑮ فُرُشَكُمْ: ستاسو په بسترو. ⑯ غَيْرَ مُبَرِّحٍ: أَيْ مُجْرِحٍ: چه زخمی کونکی نه وی، یعنی دومره سخت نې مه وهئ چه زخمی شی،

[۱] ثُمَّ أَذَّنَ بِلَالٌ، ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الظُّهْرَ، ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الْعَصْرَ، وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا شَيْئًا، [۲] ثُمَّ رَكِبَ حَتَّى أَتَى الْمَوْقِفَ فَجَعَلَ بَطْنَ نَاقَتِهِ الْقَصْوَاءِ إِلَى الصَّخَرَاتِ، وَجَعَلَ حَبْلَ الْمُشَاةِ بَيْنَ يَدَيْهِ، وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ [۳] فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفًا حَتَّى غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَذَهَبَتِ الصُّفْرَةُ قَلِيلًا حَتَّى غَابَ الْقُرْصُ. [۴] وَأَرْدَفَ أُسَامَةَ وَدَفَعَ حَتَّى أَتَى الْمُزْدَلِفَةَ، فَصَلَّى بِهَا الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِأَذَانٍ وَاحِدٍ وَإِقَامَتَيْنِ وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا شَيْئًا،

ترجمه [۱] د دې څخه روسته حضرت بلال ﷺ اذان او اقامت وکه، او د ماسپخین مونځ وشو. بیا دوباره اقامت وشو او د مازیگر مونځ وشو. او د دې دوارو مونځونو په منځ کې

Maktaba Tul Ishaat.com

هيڅ څيز يعني سنت او نفل ونه شو.[٢] بيا نبي كريم ﷺ سور شو. او د عرفات په ميدان كې د ودريدو ځاى ته ورسيدي. هلته د قصواء اوښې نس يې د كاڼو طرف ته كړي. او حبل المشاة د يو ځاى نوم دى چې هلته هوار ريګونه دي، هغه يې خپل مخې ته كړي. بيا يې قبلې ته مخ كړي.[٣] ودريدى. تر دې چې نمر ولويدى. ژړوالى هم لږ څه لاړو. او د نمر ټكى پټه شوه .

[٤] نبي كريم ﷺ حضرت اسامه ﷺ په خان پسې كينولى او تيز تيز تلو سره مزدلفې ته راغلو . دلته د يو اذان او دوه تكبيرونو سره د ماښام او ماسخوتن مونځه وشو. او د دې دواړو مونځونو په منځ كې نور هيڅ يې ونه ويل.

حل اللغات: ⑮ الصَّخَرَاتِ: أي الأَحْجَارُ الكِبَارُ: دعرفات نه ښكته جبل رحمت سره كاڼي مراد دي (دلته اودريدل مستحب دي). ⑯ حَبْلَ الْمُشَاةِ: اسْمُ مَوْضِعٍ مِنْ رَمْلٍ: د يوځاني نوم دي هلته شږي ډيرې دي ⑰ الْقُرْصُ: أَيْ جُمْلَةُ: ككوري يعني د نمر ستر ګه ټوله ډوبه شوه.

[١] ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ فَصَلَّى الْفَجْرَ حِينَ تَبَيَّنَ لَهُ الصُّبْحُ بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ،[٢] ثُمَّ رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتَّى أَتَى الْمَشْعَرَ الْحَرَامَ، فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَدَعَاهُ وَكَبَّرَهُ وَهَلَّلَهُ وَوَحَّدَهُ،[٣] فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفًا حَتَّى أَسْفَرَ جِدًّا فَدَفَعَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ،[٤] وَأَرْدَفَ الْفَضْلَ ابْنَ عَبَّاسٍ حَتَّى أَتَى بَطْنَ مُحَسِّرٍ فَحَرَّكَ قَلِيلًا،[٥] ثُمَّ سَلَكَ الطَّرِيقَ الْوُسْطَى الَّتِي تَخْرُجُ عَلَى الْجَمْرَةِ الْكُبْرَى حَتَّى أَتَى الْجَمْرَةَ الَّتِي عِنْدَ الشَّجَرَةِ[٦] فَرَمَاهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ، يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ مِنْهَا مِثْلَ حَصَى الْخَذْفِ رَمَى مِنْ بَطْنِ الْوَادِي،

ترجمه [١] بيا نبي كريم ﷺ ډډه واچوله(اوده شو)، تر دې چې نمر راوختلى، نو نبي كريم ﷺ د سحر رڼا خوريدو باندې د اذان او اقامت سره د سحر مونځ وكړي.[٢] بيا نبي كريم ﷺ په اوښه سوريدو سره مشعر حرام ته راغلو ، او هلته مخ په قبله كيدو سره د الله ﷻ څخه يې دعا وغوښتله. تكبير يې وكړي، لا اله الا الله يې وويل. او د الله ﷻ وحدانيت يې بيان كړي (يعني لا اله الا الله وحده لاشريك له) يې تر آخره پورې وويلى. [٣] او هلته په ولاړه په تكبير وتهليل وغيره كې مشغول شو. تر دې چې سحر ښه روښانه شو. نو د نمر ختو مخكې د هغه ځاى څخه روان شو.[٤] او حضرت فضل بن عباس ﷺ يې خپل شاته سور كړي. كوم وخت چې وادي مُحَسِّر ته ورسيدي. نو د خپلې شوارلى تيز چلولو د پاره يې لږ څه حر كت وركړي.[٥] او په هغه درمياني لاړ روان شو. چې په جمره كبرى اوچته تيريږي. تر دې چې نبي كريم ﷺ هغه جمري ته ورسيدي، چې ونې ته نزدې ده.[٦] او په هغه يې اووه كاڼي وويشتل. داسې چې په هغه كې يې د هر كاڼي سره تكبير ويلى، او هغه كاڼي د لوبيا د داني برابر وو. او نبي كريم ﷺ د وادي د منځ څخه وويشتل.

حل اللغات: ⑱ فَحَرَّكَ قَلِيلًا: أَيْ أَسْرَعَ نَاقَتَهُ يَسِيرًا: يعنى اوښه ئې لږه شان تيزه كړه ⑲ حَصَيَاتٍ: واړه كاڼي. ⑳ حَصَى الْخَذْفِ: الرَّمْيُ بِرُؤُوسِ الأَصَابِعِ: دګوتو په سرونو سره كاڼي ويشتل يعني لږه كول.

[١] ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمَنْحَرِ فَنَحَرَ ثَلَاثًا وَسِتِّينَ بَدَنَةً بِيَدِهِ، [٢] ثُمَّ أَعْطَى عَلِيًّا فَنَحَرَ مَا غَبَرَ وَأَشْرَكَهُ فِي هَدْيِهِ، [٣] ثُمَّ أَمَرَ مِنْ كُلِّ بَدَنَةٍ بِبَضْعَةٍ فَجُعِلَتْ فِي قِدْرٍ فَطُبِخَتْ، فَأَكَلَا مِنْ لَحْمِهَا وَشَرِبَا مِنْ مَرَقِهَا، [٤] ثُمَّ رَكِبَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَفَاضَ إِلَى الْبَيْتِ فَصَلَّى بِمَكَّةَ الظُّهْرَ، [٥] فَأَتَى عَلَى بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ يَسْقُونَ عَلَى زَمْزَمَ [٥] فَقَالَ: انْزِعُوا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، فَلَوْلَا أَنْ يَغْلِبَكُمُ النَّاسُ عَلَى سِقَايَتِكُمْ لَنَزَعْتُ مَعَكُمْ، [٦] فَنَاوَلُوهُ دَلْوًا فَشَرِبَ مِنْهُ» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه [١] د دې څخه روسته د قربانۍ کولو ځاى (چې په منى کې دى) واپس راغلو او دلته نبى کريم ﷺ په خپل لاس مبارك سره درې شپېته ۶۳ اوښان ذبح کړل. [٢] او پاتې اوښان يې حضرت علي وسپارل (چې ذبح يې کړي) نو باقي اووه ديرش اوښان حضرت علي ذبح کړل. نبى کريم ﷺ د خپلې قربانۍ په څارووکې حضرت علي هم شريك کړى وو. [٣] بيا نبى کريم ﷺ حکم وکړي چې د هر يو اوښ د غوښې يوه ټکړه واخستل شي. نو هغه د ټولو غوښو څخه اخستو سره په يوې کټوې کې واچول. او هغه يې پخه کړه. هر کله چې غوښه پخه شوه نو) نبى کريم ﷺ او حضرت علي د قربانۍ د هغه غوښې څخه وخوړه، او د هغه ښوروا يې وڅکله. [٤] بيا نبى کريم ﷺ سور شو، او د خانه کعبې طرف ته روان شو هلته رسيدو سره يې طواف وکړي، او په مکه کې يې د ماسپخين مونځ وکړي. [٥] بيا د عبد المطلب اولاد (يعني خپل تره حضرت عباس ﷺ او د هغوى اولاد ته يې تشريف راوړو) چې د زمزم اوبه يې په خلقو څکلي، نبى کريم ﷺ هغوى ته وفرمايل چې اې د عبد المطلب اولاده! د زمزم اوبه راکاږى او په څښلى يې چې دا ډېر د ثواب کار دى. که ماته د دې خبرې بيره نه واى، چې خلق به ستاسو په اوبو څکلو غلبه پيدا کړي. نو مابه هم ستاسو سره اوبه راخکلي (يعني د دې خبرې بيره چې خلق ما په اوبو راخکلو ليدو سره زما په اتباع کې خپله به هم اوبه را خکل شروع کړي او دلته به ډير زيات جمع شي. چې د هغه په وجه به د زمزم اوبه راخکلو او څکلو دا سعادت ستاسو د لاسه څخه ووځي. که ما سره دا بيره نه وي. نو ما به خپله هم ستاسو خلقو سره اوبه راخکلاى او په خلقو به مي څکلاى. [٦] نو د عبد المطلب اولاد، نبى کريم ﷺ ته د اوبو يو ډول ورکى. چې د هغه څخه نبى کريم ﷺ اوبه وڅکلي (مسلم)

حل اللغات: ⓐ فَأَفَاضَ: أي أَسْرَعَ: په جلتئ او تلوار سره روان شو ⓑ انْزِعُوا: أي الْمَاءَ: راوکاږئ (اوبه يا بوقي) ⓒ سِقَايَتِكُمْ: چه تاسو په خلقو باندې اوبه څکوئ

تسهيلات:

نوټ: د حجة الوداع د الفاظو تحقيق دې نه وړاندې حديث نمبر: ۲۵۳۵ (باب الاحرام والتلبيه) کښې تيرشوي دي

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: فَقَدِمَ الْمَدِينَةَ بَشَرٌ كَثِيرٌ فَخَرَجْنَا مَعَهُ:

په حجة الوداع کښې د صحابه کرامو تعداد: دَ حجة الوداع په موقع باندې حضورپاك سره دَ صحابه کرامو څومره تعداد وو په دې کښې دَ بعض حضراتو قول دې چه څلویښت زره نفوس قدسیه شریك وو ① بعض حضرات وائی ۹۰ زره کسان وو ② دَ بعض حضراتو وینا ده چه یولاکهه او دیرش زره صحابه وو بعضو دَ یونیم لاکهو قول هم کړې دې نور اقوال هم دی هریواندازه لګولو سره تعداد خودلې دې یقینی شمیرخو چاهم نه وو کړې

قوله: لَسْنَا نَعْرِفُ الْعُمْرَةَ:

دصحابؓ د خیال وجه: دَدې مطلب دا دې چه زمونږ خیال وو چه حضوراکرم به صرف حج کوی عمره به نه کوی داخیال ځکه وو چه دَ جاهلیت په زمانه کښې دَعربودا رواج وو چه هغوی به اشهرالحج کښې عمره کولوته "افجرالفجور" یعنی لویه ګناه ګڼړله حضورپاك غوښتل چه دا رسم ختم شی په دې وجه حضورپاك صحابه کرامو ته دَ عمرې حکم ورکړو دا جمله دې نه دَ وړاندې جملې دَپاره تاکید دې

قوله: وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ: دا دَ غزوه احزاب او غزوه خندق طرف ته اشاره ده دولس زرو کافرانو دَ مدینې محاصره کړې وه تریوې میاشتې پورې هلته پراته وو بیاالله تعالی هوا راؤلیګله کافران ټول اوتختیدل حضورپاك به همیشه دَ الله تعالی دَ دغه نصرت اوامداد شکریه اداکوله دلته هم دَ دغه شکرذکر دې

قوله: لَوْأَنِّي اسْتَقْبَلْتُ: یعنی که ماته دَ راتلونکی مستقبل دَ امورو علم دَاول نه وې چه بعض خلق به ځان سره څاروی نه راولی اوبعض به راولی بعض به دَ افراد نیت کوی او بعض به په عمره سره وی دغه شان به زما اودَهغوی دَعمل په مینځ کښې فرق راشی که ماته دَدې علم دَ اول نه شوې وې نو مابه کله هم دَ قربانئی څاروې ځان سره نه راوستلو په دې وجه اوس تاسو ټول احرام کولاؤ کړئی او خپل حج عمره کړئی دې دَپاره چه په اشهرالحج کښې دَ عمرې نه کولو رسم مات شی

دَ حجة الوداع په موقع چه کله حضورپاك مکې ته اورسیدو نوهلته دَ خلقو عمل داسې مختلف شو چه بعض خلقو څاروی ځان سره راوستلې وو حضورپاك هم ځان سره راوستلې وو دې خلقو دَ یوم النحرپورې خپل احرام نه شو کولاوولې بعضو ځان سره خپل څاروی نه وو راوستلې هغوی ته حضورپاك فسخ الحج الی العمرة دَپاره اوونیل نو په هغوی سخته اولګیده چه دَ حضورپاك دَعمل خلاف به څنګه کوو بل دا چه دَ حج ورځې هم بالکل ډیر کمې پاتې وې بل دَ جاهلیت په زمانه کښې دغه شان په اشهرالحج کښې عمره کول به هغه خلقو "افجر الفجور" ګڼړلو په دې باندې حضورپاك دَ تلطف په انداز کښې غصه اوکړه او ونی فرمائیل

که مونه د راتلونکی وخت پته وه چه څه خلق به بغیر د ځاروی راځی نو مابه هم ځان سره نه راوستلو. اوس د مسئلې د حدپورې خبره داده چه امام احمد بن حنبل رحمه الله او اهل ظواهر وائی لکه څنګه چه په دې سفر کښې شوی دی د همیشه دپاره داجائزدی چه یوسړې دې خپل حج فسخ کړی او عمره دې کړی هغوی په زیر بحث حدیث کښې د لابدلابد الفاظونه استدلال کړې دې

جمهور علماء او فقهاء فرمائی چه دا ضابطه نه ده صرف هم په دغه کال د صحابه کرامو دپاره دغه حکم وو دې دپاره چه د جاهلیت رسم مات شی دلیل پرې د ابوداؤد او نسائی داروایت دې "عن بلال عن الحارث عن ابیه قال قلت یارسول الله ارئیت فسخ الحج بالعمرة لنا خاصة ام للناس عامة فقال بل لنا خاصة"

د لابدلابد جواب دادې چه دَدې تعلق فسخ سره نه دې بلکه عمره سره دې. په دې جمله باندې هم د بریلیانو په مخ باندې یوه ناترسه څپیړه لګیدې شی چه وائی حضور ماکان وما یکون او د ذرې ذرې علم غیب لری.

قوله: دَخَلَتِ الْعُمْرَةُ:

دمذکوره قول مطلب: داهم د دغه ضابطه او قاعده طرف ته اشاره ده چه اوس په اشهر الحج کښې عمره کول ګناه نه ده اوداحکم د همیشه دپاره دې.

قوله: بِنَمِرَةَ:

د نمرة مصداق: د عرفات په میدان کښې د یوځائی اومقام نوم نمره دې هم په دغه ځائی د حضورپاك خیمه لګولې شوې وه او نن صبا هم په دغه ځائی مسجد نمره هم په دغه نوم باندې مشهوردې. دلته د ماسپښین اومازیګر مونځ په یوځائی یواذان سره کولې شی لکه چه په مزدلفه کښې په یواذان سره کولې شی

قوله: الْمَشْعَرَ الْحَرَامَ: په مزدلفه کښې د یوغرنوم دې نن صبا دغه ځائی کښې یولوئی جمات دې مزدلفه کښې هرځائی وقوف جائزدې مګردا ځائی بهتردې

قوله: بَطْنَ مُحَسِّرٍ: د مزدلفه نه د منی طرف ته تللوسره منی سره نیزدې یوه وادی ده د کوم نوم چه وادی محسردې حاجیانوته حکم دې چه دې ځائی کښې به تیز تیز ځی څکه چه دلته په ابرهه ظالم باندې آسمانی عذاب نازل شوې وو په مزدلفه کښې هرځائی وقوف جائز دې مګر په وادی محسر کښې جائزنه دې

قوله: يَقْتَلِبُكُمُ النَّاسُ: یعنی که زه د دغه کوهی نه د زمزم ډولچه اوباسم نو ټول خلق به زما په اقتداء دغه کار شروع کړی دغه شان به تانه دا عهده ځی په دې وجه غوښتلوسره هم زه به ډولچه باندې اوبه نه راوباسم

Maktaba Tul Ishaat.com

[۲۵۵٦] د تنعيم نه د عمري ثبوت

۲۵۵٦ - [۲] (۱) وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ، فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ، فَلَمَّا قَدِمْنَا مَكَّةَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَلَمْ يُهْدِ فَلْيَحْلِلْ، وَمَنْ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ وَأَهْدَى فَلْيُهِلَّ بِالْحَجِّ مَعَ الْعُمْرَةِ، ثُمَّ لَا يَحِلُّ حَتَّى يَحِلَّ مِنْهُمَا،

ترجمه بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې مونږ د نبی کريم ﷺ سره د حجة الوداع په موقع روان شو. نو په مونږ کې بعضې خو هغه وو چې هغوئ يواځې د عمري احرام تړلی وو. او بعضې هغه وه چې هغوئ يواځې د حج (يا د حج او عمري دواړو) احرام وتړلی. کوم وخت چې مونږ مکې ته ورسيدو، نو نبی کريم ﷺ وفرمايل چا چې يواځې د عمري احرام تړلی دی. او د ځان سره يې د قرباني ځاروی نه دي راوستلي، هغه دي د عمري د افعالو څخه روسته د خپل سر ويښته وخريي يا دي قينچي کړي، احرام دي خلاص کړي. او چې چې د عمري احرام تړلی دی. او د قرباني ځاروی يې د ځان سره راوستلی دی نو هغه دي عمري سره د حج احرام وتړي (يعني حج، عمري سره شاملولو سره دي قارن شي) او تر څو چې هغه د حج او عمري دواړو څخه فارغه نشي، احرام دي نه خلاصه وي.

حل اللغات ① لَمْ يُهْدِ: دا د إِهْدَاء نه دي، أَيْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْيٌ: چا سره چه په حج کښې د قربانۍ ځاروی نه وی ② فَلْيَحْلِلْ: أَيْ فَلْيَخْرُجْ مِنَ الْإِحْرَامِ: حلال دې شی د احرام نه دې اوځي (يعنی قصر يا حلق دې وکړی او احرام دې لرې کړی، ③ فَلْيُهِلَّ: أَيْ مِنْهُمَا: يعنی حج او عمره دې يوځائ اوکړی يعنی قارن به شي

وَفِي رِوَايَةٍ فَلَا يَحِلُّ حَتَّى يَحِلَّ بِنَحْرِ هَدْيِهِ، وَمَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ فَلْيُتِمَّ حَجَّهُ» قَالَتْ: فَحِضْتُ وَلَمْ أَطُفْ بِالْبَيْتِ وَلَا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، فَلَمْ أَزَلْ حَائِضًا حَتَّى كَانَ يَوْمُ عَرَفَةَ وَلَمْ أُهْلِلْ إِلَّا بِعُمْرَةٍ، فَأَمَرَنِي النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ أَنْقُضَ رَأْسِي وَأَمْتَشِطَ، وَأُهِلَّ بِالْحَجِّ وَأَتْرُكَ الْعُمْرَةَ:

ترجمه په يو روايت کې دا الفاظ دي تر څو چې هغه د بقر عيد (د لوى اختر) په ورځ خپلې قربانۍ د ځاروی د ذبح څخه فارغه نشي، احرام دي نه خلاصه وي. او چا چې د حج احرام تړلی دی که هغه د قربانۍ ځاروی د ځان سره راوستلی وي يا يې نه وي راوستلی او هغه د حج سره د عمري احرام هم تړلی وي يا يې نه وي تړلی. هغه دي خپل حج پوره کړي خو کومو خلقو ته چې د عمري سره د حج فسخ کولو حکم ورکول شوی دی. څرنګه چې په تير روايت کې تير شو. هغه دي خپل حج نه پوره کوي. بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې زه حائضه شوم. خکه مکې ته رسيدو سره. نه ما د عمري د پاره طواف وکړي او نه د صفا او

(۱) اخرجه البخاري صحيحه /باب كيف تهل الحائض بالحج والعمرة (رقم-۳۱۹) ومسلم في كتاب الحج /باب بيان وجوه الإحرام. وأنه يجوز إفراد الحج والتمتع والقران. وجواز إدخال الحج على العمرة. ومتى يحل القارن من نسكه (رقم-۱۱۱-(۱۲۱۱) وابوداود في السنن رقم الحديث ۱۷۸۱. والنسائي في السنن رقم الحديث ۲۷٦٤

مروه په منځ کې مې سعي وکړه، زه د حیض په حالت کې وم. چې د عرفې ورځ راغله، او د عمري احرام تړلی وو[٢] ځکه نبی کریم ﷺ ماته حکم وکړي چې زه خپل سر خلاص کړم. ویښتان ږمونز کړم یعني احرام خلاص کړم چې کوم ځیزونه د احرام په حالت کې ممنوع دي، هغه مباح شي او بیا د حج احرام وتړم، او دا چې عمره پرېږدم یعني د حج څخه فارغیدو سره د عمري د احرام قضاء راوړم.

حل اللغات: ⓸ أَنْقُضَ: چه خپل ویښته خلاص کړم، اوسپړم، ⓹ أَمْتَشِطَ: ویښته ګمنز کړم

[١] فَفَعَلْتُ حَتّٰى قَضَيْتُ حَجِّي، بَعَثَ مَعِي عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ أَبِي بَكْرٍ، وَأَمَرَنِي أَنْ أَعْتَمِرَ مَكَانَ عُمْرَتِي مِنَ التَّنْعِيمِ [٢] قَالَتْ: فَطَافَ الَّذِينَ كَانُوا أَهَلُّوا بِالْعُمْرَةِ بِالْبَيْتِ، وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، ثُمَّ حَلُّوا ثُمَّ طَافُوا طَوَافًا بَعْدَ أَنْ رَجَعُوا مِنْ مِنًى [٣] وَأَمَّا الَّذِينَ جَمَعُوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَإِنَّمَا طَافُوا طَوَافًا وَاحِدًا» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه [١] ما دغه شان وکړل، او کوم وخت چې ما حج اداء کړي، نو نبی کریم ﷺ ما سره عبد الرحمن ابن ابي بکر تنعیم ته ولیږلی، او ماته یې حکم راکړي، چې مقام تنعیم څخه د احرام تړلو سره، د خپلي قضاء شوي عمری په بدله کې عمره وکړم.[٢] بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې کومو خلقو چې یواځې د عمري احرام تړلی وو، هغوئ د عمري د پاره د خانه کعبې طواف وکړي، او بیا د صفاء او مروه په منځ کې یې سعي وکړه، د دې څخه روسته هغوئ احرام خلاص کړي، خلق د منی څخه مکې ته واپس راتلو سره دوباره د خپل حج طواف یې وکړي. چې هغه ته طواف افاضه وايي،[٣] او کومو خلقو چې حج او عمره دواړه جمع کړی وو یعني د شروع څخه یې د حج او عمري دواړو احرام تړلی وو یا وروسته یې د یو بل سره شامل کړي وو، هغوئ یواځې یو یعنی د نحر په ورځ طواف وکړي، بخاري، مسلم

تسهیلات: قوله: وَمَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ فَلْيُتِمَّ حَجَّهُ:

په حدیثونو کښې تعارض او دهغې حل: دې نه مخکښې روایت کښې دَ "فسخ الحج الی العمرة" حکم دې اودلته دَ حج دَتکمیل اوعدم فسخ حکم دې چه په ظاهره تعارض دې دَدې جواب دادې چه دَ تکمیل حج معامله دَ هغه خلقو ده چاته چه دَ فسخ حج حکم نه ووشوې دَ چاذکرچه دلته په حدیث کښې دې. دې نه مخکښې چه کوم حدیث تیرشوې دې هغه دَ هغه خلقو متعلق دې چاته چه "فسخ الحج الی العمرة" حکم ورکړې شوې وو نوجدا جدا خلق دی جدا جدا حکم دې هیڅ تعارض نشته دې

قوله: وَأَمَرَنِي أَنْ أَعْتَمِرَ مَكَانَ عُمْرَتِي مِنَ التَّنْعِيمِ

د مقام تنعیم تعارف: مکې مکرمې سره نیزدې دَیوځائی نوم دې چرته چه لوئی جمات دې کوم چه دَ مسجدعائشه په نوم سره مشهور دې چه دَمکې نه دَدریومیلو په فاصله باندې واقع دې او دا ځائی دَ ارض حرم نه بهرپه زمکه دَ حل کښې دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

د مسجد عائشې څخه د احرام تړلو جواز: ليکن دَ اهل ظواهر مسلك دادې چه دَ اهل حرم دَخلقو د عمرې دپاره صرف تنعيم خاص دې عام دَ ارض حل نه احرام نه شي تړلې جمهور فقهاء فرمائي چه اصل حکم دَحرم دزمکې نه وتل دی دَتنعيم څه تخصيص نشته اوتنعيم چونکه نيزدې پريوخي په دې وجه حضورپاك حضرت عائشه ﷞ هلته اوليګله

قوله: فَإِنَّمَا طَافُوا طَوَافًا وَاحِدًا:

دقارن د د طواف او سعی په تعدد کښې مذاهب:

① ائمه ثلاثه فرمائي چه دَعام حاجي اوقارن فرق صرف دَ نيت کولو او احرام تړلو کښې دې دې نه پس افعال دَحج کښې قارن او غيرقارن ټول برابردی

② احناف فرمائي چه قارن به دوه طوافه اودوه سعی کوی.

داول فريق دليل: بحث حديث د دوی مستدل دې. په دې کښې د "طوافاًواحداً" واضح الفاظ موجوددی

داول فريق د دليل دوې جوابونه: ① دَ "طوافاًواحداً" مطلب دادې چه "انماطافوالکل منهماطوافاً واحداً" يعنی حج اوعمره دواړونه دَهريودَ پاره يويوطواف دې.

② شيخ الهندنه نقل دی چه دلته دَ طواف نه مراد طواف قدوم نه دې بلکه طواف زيارت مراد دې اوهغه دَ ټولو دَپاره يودې.

③ عقلی دليل دا دې کـه دَ قارن په افعالو کښې دَ قِران اثر ښکاره نه شي نوبيا دَقِران مطلب څه شو بيا دې ته دَافراد يا تمتع څخه جدا نوم اومقام ولې ورکړې شو؟

د دويم فريق اول دليل:

① دَ دارقطنی دَ يوحديث نه ثابتيږی دَ قارن دَپاره دوه طواف او دوه سعی دی.

② دَحضرت علی ﷛ اوحضرت ابن مسعود ﷛ نه هم نقل دی چه قارن به دوه طواف او دوه سعی کوی

د حديث فوائد: ① په دې حديث سره هغه خلقو ته يو جواب ملاؤ شو څوك چه دَتنعيم نه دَعمرې کولو قائل دی اووائی چه دَ جعرانه نه عمره مسنون ده دَ تنعيم نه نه ده

② دويمه خبره دا ثابته شوه چه دَاهل حرم دَپاره ضروری ده چه هغوی دَ عمرې احرام دَ حل دَ زمکې نه اوتړی دَ حرم دَ زمکې نه دې نه تړی اوتنعيم دَ حل په زمکه کښې دې.

[٢٥٥٧] حج تمتع ثابت دی

[٣] (١) ١ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: «تَمَتَّعَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ، فَسَاقَ مَعَهُ الْهَدْيَ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ، ٢ وَبَدَأَ فَأَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ، ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ، فَتَمَتَّعَ النَّاسُ مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ ٣ فَكَانَ مِنَ النَّاسِ مَنْ أَهْدَى، وَمِنْهُمْ مَنْ لَمْ يُهْدِ،

ترجمه ١ عبد الله ابن عمر ﷺ وايي چې نبی کريم ﷺ عمره د حج سره يو ځای کولو سره تمتع وکړه (يعني فائده يې واخسته په دي طور چې مخکې يې د عمرې احرام وتړلی. بيا د حج، او ذوالحليفه څخه (چېرته چې نبی کريم ﷺ احرام تړلی وو)، د قربانۍ څاروی يې د ځان سره راوستلی وو، ٢ مخکې نبی کريم ﷺ د عمرې احرام تړلی وو. بيا يې د حج احرام وتړلی، او خلقو هم د نبی کريم ﷺ سره عمره د حج سره يو ځای کولو سره تمتع وکړله. ٣ بعضې خلقو چې هغوئ د عمرې احرام تړلی وو. هغه وو چې د قربانۍ څاروی يې د ځان سره راوستلی وو، او بعضې هغه وه چې د قربانۍ څاروی يې د ځان سره نه وو راوستلی،

١ فَلَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَكَّةَ قَالَ لِلنَّاسِ: ٢ "مَنْ كَانَ مِنْكُمْ أَهْدَى، فَإِنَّهُ لَا يَحِلُّ مِنْ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتَّى يَقْضِيَ حَجَّهُ، ٣ وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْكُمْ أَهْدَى، فَلْيَطُفْ بِالْبَيْتِ، وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَلْيُقَصِّرْ، وَلْيَحْلِلْ، ثُمَّ لِيُهِلَّ بِالْحَجِّ، ٤ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا فَلْيَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ، وَسَبْعَةً إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ،

ترجمه ١ کوم وخت چې نبی کريم ﷺ مکې ته ورسيدي نو عمره کونکو خلقو ته يې وفرمايل ٢ چې په تاسو کې چې کوم سړی د قربانۍ څاروی د ځان سره راوستلی وي، هغه دي هغه څيز نه حلالوي، چې د هغه څخه منع شوی وي (يعني احرام دي نه خلاصه وي) تر دي چې هغه خپل حج اداء کړي، ٣ او کوم سړی چې د قربانۍ څاروی د ځان سره نه وي راوستلی، نو هغه دي د عمرې د پاره د خانه کعبې طواف وکړي، د صفا او مروه په منځ کې دي سعې وکړي، ويښتان دي کټ کړي، بيا دي د عمرې احرام خلاص کړي (يعني کوم څيزونه چې د احرام په حالت کې ممنوع وو، هغه دي مباح کړي) د دې څخه روسته دی د حج د پاره دوباره احرام وتړي، او رمي جمار څخه روسته د سر خريلو څخه مخکې د نحر په ورځ دي قرباني وکړي ځکه چې د حج او عمرې د ادائيګۍ توفيق او د الله ﷻ د دې عظيم نعمت د شکر ګذارۍ په طور متمتع باندې قرباني واجب ده، ٤ او کوم سړي ته چې د قربانۍ څاروی ميسر نشي نو هغه دي درې روځې د حج په ورځو کې (يعني د حج په مياشتو کې) د احرام څخه روسته او د قربانۍ د ورځې څخه مخکې ونيسي، په دې باره

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحج /باب من ساق البدن معه (رقم-١٦٩١) ومسلم في كتاب الحج /باب وجوب الدم على المتمتع، وأنه إذا عدمه لزمه صوم ثلاثة أيام في الحج وسبعة إذا رجع إلى أهله (رقم-١٧٤ - (١٢٢٧) وابوداود في السنن رقم الحديث ١٨٠٥. والنسائي في السنن رقم الحديث ٢٧٣٢

Maktaba Tul Ishaat.com

کې افضله دا ده چې د ذی الحجه په اووم، اتم او نهم تاریخ دري روژي ونیسي او اوړه روژي هغه وخت ونیسي هر کله چې خپل اهل وعیال، ته را ورسیږي یعنی د حج د افعالو د فارغیدو څخه روسته دي ونیسي، خواه که په مکه کې دا ټولي روژي ونیسي. خواه کور ته رسیدو سره،

١ فَطَافَ حِينَ قَدِمَ مَكَّةَ، وَاسْتَلَمَ الرُّكْنَ أَوَّلَ شَيْءٍ، ثُمَّ خَبَّ ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ، وَمَشَى أَرْبَعًا، ٢ فَرَكَعَ حِينَ قَضَى طَوَافَهُ بِالْبَيْتِ عِنْدَ الْمَقَامِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ، فَانْصَرَفَ، ٣ فَأَتَى الصَّفَا، فَطَافَ بِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ سَبْعَةَ أَطْوَافٍ، ثُمَّ لَمْ يَحِلَّ مِنْ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتَّى قَضَى حَجَّهُ، ٤ وَنَحَرَ هَدْيَهُ يَوْمَ النَّحْرِ، وَأَفَاضَ فَطَافَ بِالْبَيْتِ، ثُمَّ حَلَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ، ٥ وَفَعَلَ مِثْلَ مَا فَعَلَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَنْ سَاقَ الْهَدْيَ مِنَ النَّاسِ». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ١ بهر حال نبی کریم ﷺ مکې ته د رسیدو سره، د عمري د پاره د خانه کعبې طواف وکړي. او د طواف چې کوم افعال دي، په هغه کې د ټولو څیزونو څخه مخکې. خو د لبیك ویلو څخه پس، حجر اسود یې ښکل کړه، او په طواف کې دري خله خو په تلوارې تلوارې سره (یعني وړې ښورولو او په تیز تلو سره) لاړو او څلور خله په معمولي تلو سره ٢ لاړو. بیا د خانه کعبې چاپیره طواف پوره کولو څخه روسته په مقام ابراهیم یې دوه رکعته مونځ وکړي. او سلام یې وګرځوی (یعني صلوٰة الطواف یې وکړي. د حنفیه وو په نزد د مونځ واجب دی) ٣ د دې څخه روسته د خانه کعبې څخه تلو سره صفا ته راغلو . او د صفا او مرود په منځ کې اووه چکرونه ووهل (یعني سعي یې وکړه) د دې څخه روسته د څه داسې شي سره حلال نه شو. چې د هغه څخه پرهیز کول کیږی (یعني د احرام څخه وتلی نه وو. تر دې چې نبی کریم ﷺ خپل حج پوره کړي) ٤ او د نحر په ورځ (په لسم ذي الحجه) د خپلې قرباني څاروی یې ذبح کړي (نو اوس د سر خریلو څخه روسته هغه ټول څیزونه چې د احرام په حالت کې ممنوع وو مباح شو. علاوه د خپلې بي بي سره د هم بستری څخه) او بیا د منی څخه) روان شو (او مکې ته رسیدو سره) د خانه کعبې طواف (یعني طواف افاضه) یې وکړي. او د دې څخه روسته هغه څیز حلال شو کوم چې ممنوع وو (یعني اوس د طواف څخه د فراغت وروسته د بي بي سره هم بستري هم حلاله شوه) ٥ بیا د کومو خلقو سره چې د قرباني څاروی وو هغوی هم هغه څه وکړل کوم چې نبی کریم ﷺ کړی وو. بخاري، مسلم

حل اللغات: ① فَسَاقَ: راوستلې ئې وو. ② وَلْيُقَصِّرْ: ویښتان دې کم کړی ③ وَلْيَحْلِلْ: أَيْ: لِيَخْرُجْ مِنْ إِحْرَامِهِ: احرام دې اوسپړی ④ خَبَّ: أَيْ: رَمَلَ: په طواف کښې اوږو خوزولو ته رمل وائی یعنی پهلوانی

تسهيلات:

قوله فَتَمَتَّعَ النَّاسُ مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

په حديث كښې د حنابلو تائيد او د احنافو توجيه: د دې حديث نه ثابتيږي چه حضور پاك حج تمتع اداكړې دې هم دغه د امام احمدبن حنبل رحمه الله مسلك دې احناف دا حديث په قران باندې حمل كوي اود تمتع د الفاظو لغوي معنى اخلي يعنى نفع اوچتول اود قران په صورت كښې دوه چنده نفع اوچتولې كيږي بهرحال دا يو بعيدتاويل دې مګر ددې وجې نه د قران نورو روايتونو پيداكړې دي

[٢٥٥٨] اشهرالحج كښې عمره كول جائزدي

٢٥٥٨ - [٤] (١) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَذِهِ عُمْرَةٌ اسْتَمْتَعْنَا بِهَا ② فَمَنْ لَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ الْهَدْيُ فَلْيَحِلَّ الْحِلَّ كُلَّهُ، ③ فَإِنَّ الْعُمْرَةَ قَدْ دَخَلَتْ فِي الْحَجِّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ» . (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه ① ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل دا عمره ده چې مونږ ترې فائده پورته كړې ده، ② د چا سره چې د قرباني څاروى نه وي، هغه دې په هر طور سره حلال شي يعني د عمرې څخه روسته دې پوره احرام خلاص كړي، ③ ځكه چې د حج په مياشتو كې عمره كول تر قيامته جائز شوي دي، مسلم

حل اللغات: ① اسْتَمْتَعْنَا: فائده مو واخستله، ددې نه مراد دحج نه مخكښې عمره كول او احرام خلاصول دي ② فَلْيَحِلَّ الْحِلَّ: أي: الْحِلَّ التَّامَّ: پوره دې حلال شي يعنى هرڅه دې په خان حلال كړي كوم چه د عمرې داحرام په وجه په دې باندې حرام وو.

تسهيلات: قوله: فَإِنَّ الْعُمْرَةَ قَدْ دَخَلَتْ فِي الْحَجِّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ:

دعمرې په حج كښې د داخليدومطلب: بار بار ليكلې شوى دى چه د عربوخلقوبه په جاهليت كښې عمره د اشهرالحج نه جدا ساتله اود دې دپاره به ئې مسجع كلام كولو بخاري شريف كښې داسې حديث دې "عن ابن عباس رضي الله عنه قال كانوا يرون ان العمرة في اشهر الحج افجر الفجور في الارض ويجعلون المحرم صفر ويقولون اذا ابرأ الدبر وعفا الاثر وانسلخ صفر حلت العمرة لمن اعتمر" يعنى كله چه د اوښانو زخمونه صحيح شى اود قدمونو نښې وراني شى اود صفرمياشت تيره شي بيابه د عمره كونكودپاره عمره حلال شى د دغه رسم او رواج د ختمولو د پاره په دې حديث كښې فرمائيلي شى چه عمره ترقيامته پورې په حج كښې داخله شوه

وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِي

(١) اخرجه مسلم في كتاب الحج /باب جواز العمرة في أشهر الحج (رقم-٢٠٣ - (١٢٤١) والنسائي في السنن رقم الحديث ٢٨١٥. والدارمي في السنن رقم الحديث ١٨٥٦

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۵۵۹] فسخ الحج باندې د صحابه کرامو ﷺ شک

۲۵۵۹-[۵] (۱) [۱] عَنْ عَطَاءٍ قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - فِي نَاسٍ مَعِي قَالَ: [۲] «أَهْلَلْنَا أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالْحَجِّ خَالِصًا وَحْدَهُ، [۳] قَالَ عَطَاءٌ: قَالَ جَابِرٌ: فَقَدِمَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صُبْحَ رَابِعَةٍ مَضَتْ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ، فَأَمَرَنَا أَنْ نَحِلَّ، [۴] قَالَ عَطَاءٌ: قَالَ: حِلُّوا، وَأَصِيبُوا النِّسَاءَ،

ترجمه [۱] عطاء رحمه الله وایي چې ما د څو سړیو سره چې ما سره په مجلس کې شریکان وو، د جابر ابن عبد الله ﷺ څخه واورېدل چې هغه فرمایل [۲] د حجة الوداع په موقع، مونږ صحابه ﷺ بغیر د عمرې د شمولیت) خالص د حج احرام وتړی، [۳] عطاء رحمه الله وایي چې حضرت جابر ﷺ وفرمایل بیا چې نبی کریم ﷺ د ذي الحجه په څلورم تاریخ په سحر کې مکې ته ورسیدي، نو مونږ ته یې حکم راکړي چې مونږ احرام خلاص کړو. [۴] د عطاء رحمه الله بیان دی چې نبی کریم ﷺ دا فرمایلي وو، چې احرام خلاص کړي، او خپلو ښځو ته ورځي (یعني د هغوئ سره نزدیکت هم کوي)

[۱] قَالَ عَطَاءٌ: وَلَمْ يَعْزِمْ عَلَيْهِمْ، وَلَكِنْ أَحَلَّهُنَّ لَهُمْ، [۲] فَقُلْنَا: لَمَّا لَمْ يَكُنْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ عَرَفَةَ إِلَّا خَمْسٌ أَمَرَنَا أَنْ نُفْضِيَ إِلَى نِسَائِنَا، فَنَأْتِيَ عَرَفَةَ تَقْطُرُ مَذَاكِيرُنَا الْمَنِيَّ، [۳] قَالَ: يَقُولُ جَابِرٌ بِيَدِهِ: كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى قَوْلِهِ بِيَدِهِ يُحَرِّكُهَا، [۴] قَالَ: فَقَامَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِينَا،

ترجمه [۱] او عطاء وایي رحمه الله چې نبی کریم ﷺ د ښځو نزدیکت واجب کړی نه وو بلکه نبی کریم ﷺ ښځې د هغوئ د پاره حلالې ګرځولې وې (یعني د احرام خلاصولو حکم خو د وجوب په طور وو، البته د صحبت او مجامعت حکم یواځې د اباحت او جواز په صورت کې وو) [۲] حضرت جابر ﷺ وایي چې مونږ (د نبی کریم ﷺ دا حکم اورېدو سره تعجب سره) اوویل هر کله چې زمونږ او عرفې په منځ کې یواځې پنځه ورځې باقي پاتې شوې دي. نو نبی کریم ﷺ مونږ ته دا حکم راکړی دی، چې مونږ د خپلو ښځو سره مجامعت (صحبت او جماع) وکړو (دا خو به عجیبه خبره وي چې) مونږ د عرفات میدان ته په داسې حالت کې لاړ شو چې زمونږ د عضو مخصوص څخه مني څاڅي (یعني د شپې مونږ جماع وکړو. او سحر عرفات ته ورسو) دا خبره به د جاهلیت په ورځو کې ډیره بده ګڼل کېده، چې د ښځو سره مجامعت او په حج کې دومره قرب اوشي بلکه دا شی یې په حج کې د نقصان باعث ګڼلی. [۳] عطاء رحمه الله وایي چې حضرت جابر ﷺ د دې عضو مخصوص د تحرک تشبیه کولو سره خپل لاس ته اشاره وکړه، او د هغه د لاس اشاره او د خپل لاس ښورول

۱) اخرجه مسلم في كتاب الحج /باب بيان وجوه الإحرام، وأنه يجوز إفراد الحج والتمتع والقران، رقم الحديث ۲۸۰۵. وابن ماجة في السنن رقم الحديث ۲۹۸۰. والنسائي في السنن

کله چې اوس هم زما په نظر کې ګرځي، [٢] حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې نبي کريم ﷺ ته چې زمونږ د دې تردد او تامل (پريشاني) علم وشو، نو زمونږ په منځ کې د خطبې د پاره ودريدلو،

حل اللغات: ① لَمْ نَعْزِمْ: أَيْ: لَمْ نُوجِبْ: يعنی واجب نې نه وو ګرځولي ② نُفْضِيَ: دا د إفْضَاء نه دې، أَيْ: نَصِلَ: چه مونږ اورسيږو (دا کنايه ده دجماع نه يعنی چه مونږ دخپلو ښځو سره مجامعت اوکړو) ③ تَقْطُرُ: چه څاڅی به،

[١] فَقَالَ: قَدْ "عَلِمْتُمْ أَنِّي أَتْقَاكُمْ لِلَّهِ، وَأَصْدَقُكُمْ، وَأَبَرُّكُمْ، [٢] وَلَوْلَا هَدْيِي لَحَلَلْتُ كَمَا تَحِلُّونَ، وَلَوِ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ لَمْ أَسُقِ الْهَدْيَ فَحِلُّوا، فَحَلَلْنَا، وَسَمِعْنَا، وَأَطَعْنَا. [٣] قَالَ عَطَاءٌ قَالَ جَابِرٌ: فَقَدِمَ عَلِيٌّ مِنْ سِعَايَتِهِ، [٤] فَقَالَ: بِمَ أَهْلَلْتَ، قَالَ: بِمَا أَهَلَّ بِهِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٥] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَأَهْدِ، وَامْكُثْ حَرَامًا، [٦] قَالَ: وَأَهْدَى لَهُ عَلِيٌّ هَدْيًا، [٧] فَقَالَ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلِعَامِنَا هَذَا أَمْ لِأَبَدٍ؟ فَقَالَ: لِأَبَدٍ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه: [١] او وي فرمايل چې تاسو پوهيږئ چې زه ستاسو په نسبت د الله جل جلاله څخه زيات يريږم، ستاسو څخه زيات رښتنی او ستاسو د ټولو څخه زيات نيکو کار يم. [٢] که ما سره د قرباني څاروی نه واي، نو ما به هم ستاسو په شان احرام خلاص کړی واي، څرنګه چې تاسو احرام خلاص کړي، او که ماته زما دا خبره د مخکې څخه معلومه واي. کومه چې وروسته راته معلومه شويده، نو مابه د قرباني څاروی د ځان سره نه وو راوستلی (يعني که ماته دا معلومه واي، چې احرام خلاصول به په تاسو سخت تيريږي، نو مابه د قرباني څاروی د ځان سره نه راوستلی او مابه هم احرام خلاص کړی وي) تاسو (بلا تامل) احرام خلاص کړی، نو مونږ احرام خلاص کړي، او د نبي کريم ﷺ ارشاد مو واوريدلی او اطاعت مو وکړي، [٣] د عطاء رحمه الله بيان دی چې حضرت جابر رضي الله عنه وفرمايل د دې څخه روسته حضرت علي د خپل کار څخه راغلو ، يعنی هغه د يمن قاضي کيدو سره تللی وو. هر کله چې د هغه ځای څخه راغلو ، [٤] نو نبي کريم ﷺ ځني پوښتنه وکړه چې تا د څه شي احرام تړلی دی؟ حضرت علي عرض وکړي چې د څه شي احرام چې نبي کريم ﷺ تړلی دی (هغه ما هم تړلی دی) [٥] بيا نبي کريم ﷺ حضرت علي ته وفرمايل چې د نحر په ورځ د قرباني څاروی ذبح کړه، چې دا په قارن واجب دی، او حالت احرام برقرار ساته (يعني زما په شان اوس ته هم احرام تړلی شاته) [٦] حضرت علي د نبي کريم ﷺ د پاره (يا د خپل ځان د پاره) د قرباني څاروی راوستلی، [٧] سراقه ابن مالک ابن جعشم رضي الله عنه عرض وکړي چې يا رسول الله! ﷺ د حج په مياشتو کې د عمري جواز يواځې د دې کال د پاره دی يا د هميشه د پاره؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې د هميشه د پاره، مسلم

حل اللغات: ④ وَامْكُثْ حَرَامًا: او حالتِ احرام برقرار ساته (يعني زما په شان اوس ته هم احرام تړلی ساته)

Maktaba Tul Ishaat.com

د راوي مختصر تعارف:

حضرت عمر بن عطاء رحمه الله: نوم عمر د پلار نوم عطاء دا تابعي دي. ربنتوني او صدوق دي د هغوي احاديث د محدثينو په نيز معتبر دي. مسلم شريف او ابوداؤد كښې د هغوي روايات موجود دي

تسهيلات: قوله: بِالْحَجِّ خَالِصًا:

د نبي عليه السلام د حج باره كښې د جابر رضي الله عنه خپل خيال: دا د حضرت جابر رضي الله عنه خپل خيال او د خپل علم مطابق بيان دي گني د حضرت عائشه رضي الله عنها په روايت كښې د افراد تمتع قرآن او صرف د عمرې ذكر موجود دي.

د حديث د بعضې جملو وضاحت،

① **وَلَمْ يَعْزِمْ عَلَيْهِمْ:** يعني حضوراكرم خو د فسخ الحج حكم تا كيداً كړې وو ليكن د احرام كولاوولو نه پس نې ښځوسره جماع كول لازم كړي نه وو صرف جائز او حلال ني گرځولي وو

② **خَمْسٌ:** يعني د يوم عرفه پورې صرف پنځه ورځې پاتې شوې.

③ **مَذَاكِيرُنَا الْمَنِيَّ:** يعني عرفات ته تلو سره د مجامعت د وجې نه زمونږ د اندام مخصوصه نه مني څڅيږي.

④ **يُحَرِّكُهَا:** يعني د اندام مخصوصه نه د مني پريوتلو كيفيت حضرت جابر رضي الله عنه د لاس په حركت وركولو سره د واضح كولو كوشش اوكړو كوم چه د عربو عادت وو چه هغوي به د يو كار نقشه د اندامونو په حركت سره ښكاره كوله.

⑤ **فَقَالَ: لِأَبَدٍ:** يعني په اشهر الحج كښې عمره كول د هميشه د پاره جائز شوه دا مراد نه دي چه د فسخ الحج الى العمرة حكم د هميشه د پاره باقي دي. دا هم د دغه يو كال د پاره وو دي د پاره چه د جاهليت رسم مات شي

⑥ **وَسَمِعْنَا وَأَطَعْنَا:** يعني د سخت تردد او ډير تامل نه پس مونږ هم هغه فيصله اوكړه د كوم چه حضور پاك حكم وركړې وو مونږ اطاعت اوكړو او د حضور پاك حكم مو واؤريدو.

[٢٥٦٠] د صحابه وو رضي الله عنهم په تردد د حضور صلى الله عليه وسلم غصه كيدل

٢٥٦٠ـ[٦] (١) ① وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - أَنَّهَا قَالَتْ: «قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِأَرْبَعٍ مَضَيْنَ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ، أَوْ خَمْسٍ، ② فَدَخَلَ عَلَيَّ وَهُوَ غَضْبَانُ، فَقُلْتُ: مَنْ أَغْضَبَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَدْخَلَهُ اللَّهُ النَّارَ؟ ③ قَالَ: أَوَمَا شَعَرْتِ أَنِّي أَمَرْتُ النَّاسَ بِأَمْرٍ، فَإِذَا هُمْ يَتَرَدَّدُونَ، ④ وَلَوْ أَنِّي اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ مَا سُقْتُ الْهَدْيَ مَعِي حَتَّى أَشْتَرِيَهُ، ثُمَّ أَحِلَّ كَمَا حَلُّوا». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

(١) اخرجه مسلم في كتاب الحج /باب بيان وجوه الإحرام. وانه يجوز إفراد الحج والتمتع والقران. وجواز إدخال الحج على العمرة. ومتى يحل القارن من نسكه (رقم- ١٣٠ - (١٢١١)

ترجمه [١] بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې د حجة الوداع په موقع په مكه كې نبى كريم ﷺ د ذى الحجه په څلورم يا پنځم تاريخ ماته د غصى په حالت كې تشريف راورو. [٢] ما عرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ ته چا په غصه كړي يې؟ الله ﷻ دي هغه په دوزخ كې واچوي. [٣] نبى كريم ﷺ وفرمايل چې آيا تاته معلومه نه ده چې ما بعضې خلقو ته د عمرې سره د حج فسخ كولو حكم وركړي، او هغوئ د هغه حكم سره په تردد كې دى. [٤] كه را خبره ماته د مخكې څخه معلومه واي، كومه چې وروسته راته معلومه شوه، نو ما به د ځان سره د قربانۍ څاروى نه راوستلى او دغه شان احرام به مې خلاص كړى واي. څرنګه چې دي خلقو احرام خلاص كړى دى، او بيا به ما دلته (په مكه كې يا په لار كې) د قربانۍ څاروى رانيولى واي، مسلم

حل اللغات: ① مَضَيْنَ: د مضى يمضى نه د تيريدلو په معنى كښې دې (يعنى څلور يا پنځه ورځې تيرې شوې وې). ② اسْتَقْبَلْتُ: أَيْ لَوْعَلِمْتُ فِي قَبْلُ: كه ماته دمخكښې نه علم وې (چه بعض خلق به ځان سره څاروى نه راولى اوبعض به راولى بعض به دَ افراد نيت كوى او بعض به په عمره سره وى). ③ مَا اسْتَدْبَرْتُ: أَيْ مَا عَلِمْتُهُ فِي دُبُرِهِ: كومه چه راته روسته معلومه شوه (چه بعضو د قربانۍ څاروى دځان سره راوستلى دى اوبعضو نه دى راوستلي)

تسهيلات:

قوله: فَدَخَلَ عَلَيَّ وَهُوَغَضْبَانُ

د نبى عليه السلام د غصې وجه: بعضې صحابه كرامو نه فسخ الحج إلى العمرة د تاخير د وجې نبى عليه السلام له غصه ورغله.

Maktaba Tul Ishaat.com

[٣] بَابُ دُخُولِ مَكَّةَ وَالطَّوَافِ

په مکه کښې دخول او دَ طواف بيان

خلاصة الباب:

فيه ثلاثون حديثاً مشتملة على أربع عشرة مسائل:

① وقت دخول مكة: ١.
② طواف دخول مكة: ٢.
③ أول فعل بعد دخول مكة: ٣، ٤، ٦، ١٥.
④ الرمل والإضطباع في الطواف: ٤، ٥، ٦، ٢٤، ٢٥.
⑤ استلام الحجر والركن اليماني في الطواف: ٦، ٧، ٨، ٩، ١٠، ١١، ١٥، ٢٦.
⑥ الطواف راكبا: ٩، ١٠، ٢٧.
⑦ حرمة طواف الحائض: ١٢.
⑧ حرمة طواف العريان: ١٣.
⑨ الدعاء وقت رؤية البيت: ١٤.
⑩ الطهارة للطواف: ٣، ١٦.
⑪ شان الحجر والركن اليماني الذين يُستلمان في الطواف: ١٧، ١٨، ١٩، ٢٨، ٢٩.
⑫ فضيلة الاستلام والطواف: ٢٠، ٣٠.
⑬ مقام الدعاء عند الطواف وفي مكة: ١٤، ١٥، ٢١، ٢٩.
⑭ السعي بين الصفا والمروة بعد الطواف: ٤، ٥، ٢٢، ٢٣.

قال الله تعالى ﴿ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴾ [سورة الحج الايه: ٢٩. وقال الله تعالى ﴿ وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى ﴾ [سورة البقره الايه: ١٢٥.

د باب خلاصه: په دې باب کښې به هغه احاديث راځي په کوم کښې چه په مکه مکرمه کښې دَ داخليدو آداب او طريقې ذکر وي. بل دا بيان به وي چه په دې مقدس ښار کښې دَ کوم طرف نه داخليدل مسنون دی او دَ کوم طرف نه وتل مسنون دی او په کوم وخت کښې دا اعمال کول پکاردی. بل طواف سعي او دَدې دَمتعلقاتو بيان به وي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[٢٥٦١] مکه کښې دَ دخول او خروج مسنون طريقه

٢٥٦١-[١] (١) ١ عَنْ نَافِعٍ، قَالَ: «إِنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ لَا يَقْدَمُ مَكَّةَ إِلَّا بَاتَ بِذِي طُوًى حَتَّى يُصْبِحَ، وَيَغْتَسِلَ

---

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب من نزل بذي طوى إذا رجع من مكة (رقم-١٧٦٩) ومسلم في كتاب الحج /باب استحباب المبيت بذي طوى عند إرادة دخول مكة. والاغتسال لدخولها ودخولها نهارا (رقم-٢٢٦ - (١٢٥٩) والنسائي في ٢٨١٥ وأحمد في المسند: ١/٢٣٦

وَيَغْتَسِلَ، فَيَدْخُلَ مَكَّةَ نَهَارًا، [٢] وَإِذَا نَفَرَ مِنْهَا مَرَّ بِذِي طُوًى، وَبَاتَ بِهَا حَتَّى يُصْبِحَ، [٣] وَيَذْكُرُ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه [١] نافع رحمه الله وايي ابن عمر رضي الله عنه چې به کله مکې ته راتلو، نو په ذي طوي کې به يې شپه تېروله، چې سحر به شو، نو غسل او مونځ به يې کولی، بيا به د ورځې په مکه کې داخلېدلی، [٢] او کله چې به د مکې څخه واپس تللی، نو هغه وخت به هم په ذي طوي تېرېدلی، او تر سحره به يې هلته شپه تېروله، [٣] او ابن عمر رضي الله عنه به بيان کولی چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم به هم دغه شان کول، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① نَفَرَ: أَيْ: خَرَجَ: چه واپس به تلو ② بَاتَ: شپه به ني تيروله.

تسهيلات:

قوله: بذي طوي:

د ذی طوی مصداق او په دې کښې د قیام کولو حیثیت: ذی طویٰ دَ تنعیم سره ارض حرم کښې دَ يوخائی نوم دې هم په دې مقام سره حضورپاك حرم کښې داخل شوې وو او هم دَدې مقام نه به واپس تلو اودلته به ئی يوه شپه قيام کولـ نن صباهم دَمدينې يا جده تلودَ پاره په عام توګه هم دغه لاره استعماليږی. په دې ځائی دَ حضورپاك قيام دَ حج څه حصه نه ده صرف يو عادی امر دې چه دَدې ځائی نه تلل راتلل آسان دی که چرته دَ اتباع نبی قصداو اراده وی نودَ مستحب ثواب ملاويدې شی.

ابن ملك رحمه الله فرمائی مکه کښې دَ ورځې په وخت کښې داخليدل مستحب دی نن صبا په خپل اختيار داخليدل او وتل آسان کار نه دې دَ حج سستم تابعداری لازم ده

[٢٥٦٢] د حضور صلی الله علیه وسلم مکې ته داخليدل او وتل

٢٥٣- [٢] (١) [١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: إِنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «لَمَّا جَاءَ إِلَى مَكَّةَ دَخَلَهَا مِنْ أَعْلَاهَا، [٢] وَخَرَجَ مِنْ أَسْفَلِهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [١] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي نبی کريم صلی الله علیه وسلم چې د حجة الوداع په موقع مکې ته تشريف راورو، نو په ښهر کې به د هغه د اوچتې حصې د طرف څخه داخل شو، [٢] او د واپس تلو په وخت کې به د ښکته حصې د طرف څخه وتلو، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① أَعْلَاهَا: د مکې اوچت طرف. ② أَسْفَلِهَا: د مکې ښکته طرف د اوچت اوښکته طرف مصداق لاندې په شرح کښې ذکر شوي دي.

(١) اخرجه البخاری فی كتاب الحج /باب من اين يخرج من مكة؟ (رقم-١٥٧٧) ومسلم فی كتاب الحج /باب استحباب دخول مكة من الثنية العليا والخروج منها من الثنية السفلى ودخول بلده من طريق غير التي خرج منها (رقم-٢٢٤ - (١٢٥٨)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات: قوله: أَعْلَاهَا:

د مکې د اوچتې حصې څخه مراد: یعنی حضورپاك چه په حجة الوداع کښې مکې ته تشریف راوړو نود مکې د اوچتې حصې نه ورداخل شو دا اوچته حصه هم هغه ده کومه چه ددې نه مخکښې حدیث کښې ذی طوی په نوم سره یاد کړې شوې ده دمکې مشهورقبرستان جنت المعلی هم دې طرف کښې دې اود بیت الله دوراژه هم دې طرف ته واقع ده دې نه علاوه د ښار دویمه حصه ده کومه چه په ښکته علاقه کښې واقع ده کوم ته چه په دې حدیث کښې ((اسفلها)) ونیلی شوې ده

قوله: أَسْفَلِهَا:

یو اشکال: دې نه مخکښې کوم حدیث تیرشوې دې په هغې کښې دا ذکردې چه حضورپاك د ذی طوی نه راغلو اوهم د ذی طوی نه واپس لاړو اودلته د اعلی او اسفل ددوو متضاد لارو ذکر دې نوآیا په دواړو احادیثو کښې تعارض دې؟

داشکال جواب: د دې سوال جواب دادې چه حضورپاك به کله د مکې نه وتلو اودمدینې لارې ته به رسیدلو نوهغه به هم د ذی طوی لار وه نووتل خو بیشکه چه ښکته طرف نه وو لیکن دهغه خانی نه به راتاؤ شو بیا به ذی طوی ته راتلو او ذی طوی باب الحاره او شارع خالدبن ولید نه وراندې تلو سره تنعیم سره لګی اودې طرف ته جرول سره تلوکښې جنت المعلی ته رسیږی نوپه دواړوحدیثوکښې هیڅ تعارض نشته نقشه داسې ده ذی طوی اوږده علاقه ده

[٢٥٦٣] د طواف دپاره پاکوالي واجب دي

٢٥٣ - [٣] ()[١] وَعَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَدْ «حَجَّ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] فَأَخْبَرَتْنِي عَائِشَةُ أَنَّ أَوَّلَ شَيْءٍ بَدَأَ بِهِ حِينَ قَدِمَ مَكَّةَ أَنَّهُ تَوَضَّأَ، ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ، ثُمَّ لَمْ تَكُنْ عُمْرَةً. [٣] ثُمَّ حَجَّ أَبُو بَكْرٍ، فَإِنَّ أَوَّلَ شَيْءٍ بَدَأَ بِهِ الطَّوَافُ بِالْبَيْتِ، [٤] ثُمَّ لَمْ تَكُنْ عُمْرَةً، ثُمَّ عُمَرُ، ثُمَّ عُثْمَانُ مِثْلَ ذَلِكَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [١] عروه ابن زبیر وایې چې نبی کریم ﷺ حج وکړي، [٢] او بې بې عائشه رضي الله عنها ماته بیان وکړي چې نبی کریم ﷺ مکې ته رسیدو سره د ټولو څخه مخکې چې یې کوم کار وکړي. هغه دا وو چې نبی کریم ﷺ اودس وکړي، او بیا یې د بیت الله شریفې طواف وکړي یعنی د عمري طواف یې وکړي، څکه چې نبی کریم ﷺ قارن یا متمتع وو، او عمره ونه شوه. [٣] بیا د نبی کریم ﷺ څخه روسته حضرت ابوبکر رضي الله عنه حج وکړي، نو هغه

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب الحج /باب من طاف بالبیت إذا قدم مکة. قبل أن یرجع إلی بیته، ثم صلی رکعتین، ثم خرج إلی الصفا (رقم-١٦١٤) ومسلم فی کتاب الحج /باب ما یلزم من طاف بالبیت وسعی، من البقاء علی الإحرام وترک التحلل (رقم-١٩٠ - (١٢٣٥)

هم د بیت الله شریفي د طواف څخه د حج د افعالو ابتداء وکړه او عمره ونه شوه. [٣] بیا حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت عثمان رضي الله عنه هم دغه شان وکړه. بخاري، مسلم

تسهيلات: قوله: تَوَضَّأَ:

د طواف دپاره د اودس کولو حکم: ددې نه معلومه شوه چه د طواف دپاره پاکي واجب ده که چرې واجب ترک شی نو دم به راځي لیکن د جمهورو په نیز پاکي شرط دې دې نه بغیر طواف صحیح نه دي

قوله: ثُمَّ لَمْ تَكُنْ عُمْرَةً:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ددې جملې دوه مطلبونه دی

① اول مطلب دادې چه حضوریاك کله په حجة الوداع کښې مکې ته تشریف راوړو نو حضوریاك د بیت الله طواف خواوکړو چه د حج فسخ کولوسره ئې عمره جوړه نه کړه څکه چه حضوریاك خپل ځان سره د هدی ځاروې راوستې وو بلکه د احرام په حالت کښې حضوریاك قیام اوکړو هم دغه عمل حضرت ابوبکر رضي الله عنه اوکړو په دې کلام سره راوی په هغه خلقو باندې رد کول غواړي څوك چه دا وائی حضوریاك "فسخ الحج الی العمرة" کړې وو

② ددې جملې دویم مطلب دادې چه حضوریاك او ملګرو هم هغه یوه عمره اوکړه کومه چه حج سره کړې وه د حج نه پس ئې جدا عمره نه وه کړې

[٢٥٦٤] په طواف کښې د رمل ذکر

٢٥٦٤-[٤] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا طَافَ فِي الْحَجِّ، أَوِ الْعُمْرَةِ [٢] أَوَّلَ مَا يَقْدَمُ سَعَى ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ، وَمَشَى أَرْبَعَةً، [٣] ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ يَطُوفُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [١] ابن عمر رضي الله عنه وایي نبی کریم صلی الله علیه وسلم چې به د حج یا د عمري طواف کولی، [٢] نو مخکې به یې په دري شوطه (چکرو) کې تیز تیز (او وړو خوزولو سره) تلی (یعني رمل به یې کولو) او په باقي څلور شوطه چکرو کې به په خپل عام رفتار سره تللی، [٣] بیا به یې دوه رکعاته مونځ کوی، او ددي څخه روسته به یې د صفا او مروه په منځ کې سعي کوله، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① سَعَى: أَيْ: رَمَلَ: تیز تیز تلو ته سعی وائی خو دلته ترې مراد رمل یعنی پهلوانی کول دی ② مَشَى: په آرام آرام عام رفتار سره تلل

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب من طاف بالبيت إذا قدم مكة، قبل أن يرجع إلى بيته، ثم صلى ركعتين، ثم خرج إلى الصفا (رقم-١٦١٦) ومسلم في كتاب الحج/باب استحباب الرمل في الطواف والعمرة، وفي الطواف الأول في الحج (رقم-٢٣١ - (١٢٦١)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات: قوله سَعَی:

د سعي څخه مراد: دبیت الله نه چاپیره یو چکر ته شوط وائی او په اووه شوطو سره یو طواف پوره کیږی کله چه سړې دَ حج یا عمره په احرام کښې وی اودَ هغه په ذمه روستو سعی هم وی نودَي سړی دپاره دَ طواف په اولنو دریو چکرو رمل کول ضروری دی او روستو څلورو چکرو کښې رمل نشته دي. هرهغه طواف دکوم نه پس چه سعی نه وی په هغې کښې رمل کول نه وی.

[۲۵۶۵] دَصفااومروه په مینځ کښې سعی کول واجب دی

۲۵۶۵ -[٥] (١) وَعَنْهُ قَالَ: «رَمَلَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنَ الْحَجَرِ إِلَى الْحَجَرِ ثَلَاثًا، وَمَشَى أَرْبَعًا، (٢) وَكَانَ يَسْعَى بِبَطْنِ الْمَسِيلِ إِذَا طَافَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه (١) ابن عمر رضی الله عنهما وایي چې نبی کریم ﷺ به د طواف په وخت د حجر اسود څخه تر حجر اسود پورې په دري چکرو کې خو رمل کوي، او په څلورو چکرو کې به خپل عام رفتار سره تلی، (٢) او کله چې به یې د صفا او مروه په منځ کې سعي کوله، نو په بطن مسیل کې به منډه وهله، مسلم.

حل اللغات: ① الْحَجَرِ: أَيِ الْأَسْوَدِ: کانړي ددې نه مراد حجر اسود دې ② بِبَطْنِ الْمَسِيلِ: اسْمُ مَوْضِعٍ: د یوځاني نوم دي (کوم چه دصفا او مروی په مینځ کښې واقع دې).

تسهیلات:

قوله: بِبَطْنِ الْمَسِيلِ:

د بطن المسیل مصداق او وجه تسمیه: دَ صفااومروه په مینځ کښې دَ یومقام نوم دې دَ کوم دَ پیژندګلودپاره چه په غاړوکښې دَ شین رنګ ټیوب لائټس شپه ورځ بلیږی. دا ځائی ښکته واقع دې په دې وجه دې ته بطن المسیل وائی یعنی دَ سیلاب او اوبو بهیدو کنده دې ځائی ته میلین اخضرین هم وائی. دلته تیزه تیزه منډه وهل دَ ټولو فقهاؤ په نیز سنت دی.

د فقهاؤ مسالک:

صفامروه په مینځ کښې سعی کول دَ احنافو په نیز واجب دی لیکن دَ حضرت امام شافعی رحمه الله په نیز سعی رکن اوشرط دې دَ امام مالك رحمه الله هم دغه مسلك دې.

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/باب إذا ارتحل بعد ما زاغت الشمس صلی الظهر ثم رکب(رقم-١١١٤) اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب ما جاء فی السعي بين الصفا والمروة (رقم- ومسلم فی کتاب الحج /باب استحباب الرمل فی الطواف والعمرة. وفی الطواف الأول فی الحج (رقم-٢٣٠ - (١٢٦١) ومسلم فی کتاب الحج

[٢٥٦٦] دَ حجر اسود ښکلول

٢٥٦٥-[٦] (١) ١ وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: «إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ أَتَى الْحَجَرَ فَاسْتَلَمَهُ، ثُمَّ مَشَى عَلَى يَمِينِهِ، ٢ فَرَمَلَ ثَلَاثًا، وَمَشَى أَرْبَعًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ١ جابر رضي الله عنه وايي نبی کريم ﷺ چې (د حج يا عمرې د پاره) مکې ته تشريف راوړو نو حجر اسود ته راغلو، او هغه يې ښکل کړه، بيا د طواف د پاره د ښی لاس په طرف لاړو، ٢ نو درې خله خو مټې (بازو) ښوررولو ښوررولو سره او په تلوارې تلوارې سره لاړو څرنګه چې پهلوانان ځي او څلور خله د خپل معمولي رفتار سره لاړو، مسلم.

حل اللغات: ① فَاسْتَلَمَهُ: أَيْ: لَمَسَهُ، وَقَبَّلَهُ: استلام ئې اوکړو يعنی لاس ئې پرې اولګولو او ښکل ئې کړو.

تسهيلات: نوټ: روستو دَحجراسود تاريخ راځی دلته صرف دَحجراسود دَ ښکلولو مسئله راغلې ده.

قوله: فَاسْتَلَمَهُ:

د استلام معنی: دَ استلام لفظ لاس لګول او ښکلول دواړو دَ پاره استعماليږی خوچه کله دَ دې ذکر دَ حجر اسود دَپاره اوشی نودَ استلام نه ښکلول مراد اخستلې شی. اوکه دَ رکنِ يمانی دَپاره دَ استلام لفظ راشی نوهلته دَ لاس لګولو او اولاس اوړلو په معنی کښې وی دَ ښکلولو په معنی کښې نه راځی.

قوله: عَلَى يَمِينِهِ:

دطواف شروع کيدو محل: حجر اسود سره يوه توره پټه ده چه دَ حجراسود دَ مخې نه شاطرف ته صفاسره ملاويږی هم په دغه ځائی اودريدوسره طواف شروع کيږی. او په ښی لاس باندې دَ بيت الله دروازه ده هم دَ دې طرف نه دَ طواف چکر لګولې کيږی. په حديث کښې علی يمين يعنی ښی طرف نه هم دغه مطلب دې.

[٢٥٦٧] حضورپاک ﷺ دَ حجراسود استلام کړی دې

٢٥٦٦-[٧] (٢) ١ وَعَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَرَبِيٍّ، قَالَ: «سَأَلَ رَجُلٌ ابْنَ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- ٢ عَنِ اسْتِلَامِ الْحَجَرِ، فَقَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَسْتَلِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه ١ زبير ابن عربي (تابعی) رحمه الله وايي چې يو سړي د ابن عمر رضي الله عنهما څخه د حجر اسود ښکلولو په سلسله کې پوښتنه وکړه، ٢ نو هغه وفرمايل چې ما نبی کريم ﷺ وليدلی، چې نبی کريم ﷺ به لاس ورسره لګولی او ښکلوله به يې، مسلم

حل اللغات: ① يَسْتَلِمُهُ: أَيْ: وَضَعَ الْيَدَ عَلَيْهِ: يعنی لاس به ئې په حجر اسود کيخودلو. ② يُقَبِّلُهُ: حجر اسود به ئې ښکلولو

(١) أخرجه مسلم فی کتاب الحج /باب استحباب الرمل فی الطواف والعمرة، وفی الطواف الأول فی الحج (رقم-٢٣٢ - (١٢٦١)
(٢) أخرجه البخاری کتاب الحج باب تقبيل الحجر رقم (١٥١)

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٥٦٨] د رکن یماني استلام

٢٥٦٨—[٨] (١) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: «لَمْ أَرَ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَسْتَلِمُ مِنَ الْبَيْتِ إِلَّا الرُّكْنَيْنِ الْيَمَانِيَيْنِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① ابن عمر رضی الله عنهما وایي چې ما نبی کریم ﷺ د خانه کعبې یواځې دوو رکنو استلام کول لیدلي دي، چې د یمن طرف ته دی، بخاري، مسلم

حل اللغات ①الرُّكْنَيْنِ: د رکن تثنیه ده، ارخ اوطرف ته وائی. ②الْيَمَانِيَيْنِ: أي الَّذِي فِيهِ الْحَجَرُ الْأَسْوَدُ: د بیت الله په کوم طرف کښې چه حجراسود لګیدلي دې هغې طرف ته رکن یماني وائی

تسهیلات: **قوله**: إِلَّا الرُّكْنَيْنِ الْيَمَانِيَيْنِ:

د بیت الله څلور ارکان: واضح دې وی چه رکن د ارخ په معنی دې، د کعبې شریفې څلور ارکان دی. ①رکن اسود، ② رکن یمانی، دې دواړو ته تغلیبا یمانین ونیلې شی. ③او رکن شامی ④او رکن عراقی ته شامیین ونیلې شی،

د بیت الله د تعمیر تاریخ: د دې متعلق د تاریخ په کتابونو کښ دی چه کله قریش د بیت الله د جوړولو دپاره چنده اوکړه نو د چندې د کمیدو په وجه باندې هغوی په قواعد ابراهیم باندې آبادی اونکړه بلکه رکنین شامیین طرف ته ئې څه حصه بیله پریخودلو سره آبادی اوکړه. اوس دا رکنیین شامیین د شرقی او غربی دیوال په مینځ کښ واقع دې پس دې کښ دا پریخودلې شوې خانې ته حطیم ونیلې شی، بیا عبدالله بن زبیر رضی الله عنه په خپل دور خلافت چونکه د ابن الزبیر رضی الله عنه ددې نوې بنیاد د وجې نه ټول دیوالونه په قواعد ابراهیم باندې راغلې وو په دې وجه به هغه د ارکان اربعه استیلام کولو.

بیا ئې حجاج بن یوسف د قریش په قواعد باندې بنیاد کیخودلو چه په کوم کښ حطیم پریخودلې شوې وو کوم چه تر اوسه پورې دې او ابن المنذر وغیره روایت کړې دې چه د ټولو ارکانو استیلام د جابر، انس، حسن، حسین او سوید بن غفلة رضی الله عنهم نه هم ثابت دې پس معاویه رضی الله عنه به فرمانیل (لیس شئ من البیت مهجورا)

د رکنین یمانیین استلام او رکنین شمالیین عدم استلام باندې اجماع: امام نووی رحمه الله فرمانی چه د رکنین یمانیین په استلام باندې د ټول امت اجماع ده او جمهور امت په دې باندې متفق دې چه د رکنین شامیین استیلام نه شی کولې. (لحدیث ابن عمر قال لم ار النبی ﷺ یستلم من البیت الا الرکنین الیمانین) (متفق علیه)

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحج /باب من لم يستلم إلا الركنين اليمانيين (رقم-١٦٠٩) ومسلم في كتاب الحج /باب استحباب استلام الركنين اليمانيين في الطواف دون الركنين الآخرين (رقم-٢٤٧ - (١٢٦٩) والترمذي في

قاضی ابو الطیب فرمائی چه ائمه امصار او د فقهاء کرام په دې باندې اجماع ده چه د رکنین شامیین استیلام به نه شی کولې، په دې کښې چه کوم د بعض صحابه کرام او تابعین رحمهم الله اختلاف وو د هغې په بناء اوس د عدم استیلام شامیین باندې اجماع شوې ده. بیا د رکنین یمانیین په رکن اسود کښې چونکه حجر اسود دې او هغه په قواعد ابراهیم باندې هم دې په دې وجه به د هغې تقبیل او استیلام دواړه کولې شی او رکن یمانی چونکه په قواعد ابراهیم باندې دې په دې وجه به صرف د هغې استیلام کولې شی (البذل ج ۲ ص ۱۱، الفتح ۳/۳۱۱، التعلیق وغیره)

[٢٥٦٩] په اوښ باندې سوریدوسره د طواف کولو مسئله

[٩] (١) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: «طَافَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ عَلَى بَعِيرٍ [٢] يَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضی الله عنهما وایې چې نبی کریم ﷺ په حجة الوداع کې په اوښ سوریدو سره طواف وکړې، [٢] او د محجن (خمدار لرګي) په ذریعه به یې د حجر اسود استلام کوې. بخاري، مسلم

حل اللغات: ① بِمِحْجَنٍ: أَيْ: بِعَصًا مُعْوَجَّةِ الرَّأْسِ: امسا چه د هغې سر راکوږ وو (حضورپاك به د غه لرګي سره حجر اسود مس کړو یائی اشاره اوکړه او بیائی لرګي ښکل کړو. معلومه شوه داسې کول جائز دی.)

تسهیلات: قوله: عَلَى بَعِيرٍ:

په سورلې باندې د طواف کولو حکم: دَ شوافع حضراتو په نیز افضل خو هم دغه دی چه طواف دې پیدل اوکړې شی لیکن سوریدوسره طواف کول جائز دی. حضورپاك دَ جواز دَ بیان دَپاره اودَدې مقصد دَ پاره چه خلق حضورپاك اووینی اودَ حج احکام زده کړې شی سوریدوسره ئې طواف کړې دې. دَ احناف په نیز پیدل طواف کول واجب دی سوریدو سره جائز نه دی. حضورپاك دَ څه عذر دَ وجې نه په سوریدو سره طواف کړې دې لکه څنګه چه حضورپاك ام سلمه رضی الله عنها ته دَ بیمارئی دَ وجې نه حکم ورکړې وو چه په اوښ باندې سوریدو سره طواف اوکړه.

اشکال: په احادیثو کښې په واضحه توګه باندې ذکردی چه دَ حجة الوداع په موقع باندې طواف کښې دَ شروع دریو شوطونو کښې رمل کړې وو نوسوال دادې چه په سورلئی سره رمل څنګه ممکن دې؟

---

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب استلام الرکن بالمحجن (رقم-١٦٠٧) ومسلم فی کتاب الحج /باب جواز الطواف علی بعیر وغیره. واستلام الحجر بمحجن ونحوه للراکب ((رقم-٢٥٣ - (١٢٧٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

د اشكال جواب: حضورپاك په طواف قدوم كښې رمل كړې وو په هغې كښې حضور پيدل وو او په زير بحث حديث كښې دَ طواف زيارت ذكر دې چه حضورپاك په اوښ باندې سوريدوسره كړې وو په دې كښې رمل نه وي په دې شرط چه روستو سعي نه وي حضورپاك سورلي دَ څه عذردَ وجې نه استعمال كړې وه بل دَ امت دَ تعليم دَپاره ئې داسې كړې وو دې دَپاره چه خلقو حضورپاك اووينې او په طواف باندې پوهه شي اومسائل زده كړې شي

[٢٥٧٠] د حجر اسود د استلام طريقه

٢٥٧٠-[١٠] ()١ وَعَنْهُ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - طَافَ بِالْبَيْتِ عَلَى بَعِيرٍ، ٢ كُلَّمَا أَتَى عَلَى الرُّكْنِ أَشَارَ إِلَيْهِ بِشَيْءٍ فِي يَدِهِ وَكَبَّرَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه ١ ابن عباس ﷺ وايي چې نبی كريم ﷺ د خانه كعبي طواف په اوښ سپريدو سره وكړي، ٢ كوم وخت چې نبی كريم ﷺ د حجر اسود مخې ته راغلو ، نو په يو شي سره (يعني په لرګي سره) چې د نبی كريم ﷺ په لاس كې وو، د هغه طرف ته اشاره كوله. او الله اكبر به يې ويلی، بخاري.

حل اللغات: ① الرُّكْنِ: أَيِ الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ: ددې ركن نه مراد حجر اسود دې (مخكښې تيرشو چه ركن ظرف ته وائي اود بيت الله څلور طرفه دي).

تسهيلات: قوله: طَافَ بِالْبَيْتِ عَلَى بَعِيرٍ

په سورلئ باندې طواف كولو كښې مذاهب:

① سوريدو سره د طواف كولو متعلق امام شافعي ﷫ فرمائي چه د بيت الله او صفا مروه ترمينځه سوريدو سره طواف كول مكروه دي

② امام ابوحنيفه او امام مالك ﷭ هم بغير د عذر نه سوريدو سره طواف كولو ته مكروه وئيلې دی پس په لباب المناسک وغيره كښ د احنافو مذهب هم دا نقل كړې شوې دې چه د چا قدرت وی د هغه دپاره مشي في الطواف واجب ده. خكه چه په مشي في الطواف كښ خشوع او خضوع زياته ظاهريږي.

راكبا طواف كولو سره وجوب دم: اوس كه چا راكبا طواف اوكرو يا د چا په اوږه باندې سوريدو سره يا په كناتو يا په ارخ يا په شا باندې خونيدو سره ئې بغير د عذر نه طواف اوكرو نو ترڅو پورې چه په مكه مكرمه كښ دې اعاده پرې لازم ده يا دم لازم دې خكه چه هغه واجب ترك كړې دې. او كه د څه عذر په وجه باندې ئې داسې اوكرل نو دم وغيره پرې لازم نه دې.

١) اخرجه البخاري في كتاب الحج باب التكبير عند الركن (رقم-١٦١٣)

د رسول الله ﷺ د راكبا طواف توجيهات: اوس چه رسول الله ﷺ كوم سوريدو سره طواف كړې دې ① د هغې سبب يا خو دا دې چه رسول الله ﷺ بيمار وو **كما في رواية ابن عباس انه قدم مكة وهو يشتكى فطاف على راحلته.** رواه ابوداؤد.

② يا وجه دا وه چه چونكه هجوم ډير زيات وو په دې وجه ټولو خلقو د رسول الله ﷺ د حج افعال ته كتل او مسئله به ئې تپوسله په دې وجه ئې سوريدو سره طواف اوكړو. **كما هو في رواية جابر رضي الله عنه: انه عليه السلام طاف راكبا ليراه الناس ويسألوه.**

د حجر اسود ښكلولو طريقه: دَ حجر اسود دَ ښكلولو طريقه داده چه دواړه لاسونه دَ حجر اسود نه چاپيره دَ چاندنۍ په خول باندې كيخودې شي او دننه حجر اسود ښكل كړې شي مګر دَ احرام په حالت كښې دَ احتياط ضرورت دې ځكه چه په حجر اسود باندې ډير زيات عطريات لګيدلې وي. كه په څه وجه باندې ښكلول ممكن نه وي نو بيا په دواړو لاسونو باندې اشاره كولو سره "بسم الله الله اكبر ولله الحمد" وئيلو سره ښكلولې شي.

[٢٥٧١] د حجر اسود طرف ته اشاره كول

٢٥٧١ - [١١] (١) ① وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَطُوفُ بِالْبَيْتِ، ② وَيَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ مَعَهُ، وَيُقَبِّلُ الْمِحْجَنَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابو الطُّفَيل وايي چې ما نبی کريم ﷺ و ليدلو، چې سوريدو سره يې د خانه کعبې طواف کولی ② او د يو خمدار سروالا لرګي سره، چې د نبی کريم ﷺ سره وو د حجر اسود طرف ته اشاره کوله، او لرګي به يې ښکلولی، مسلم.

حل اللغات: ① **مِحْجَن** هغه لرګی ته وائی چه د هغې سر کوګ وی

تسهيلات: قوله: وَيَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ مَعَهُ:

د محجن په ذريعه د استلام طريقه: ددې په ذريعه به د حجر اسود بوسه اغستلو صورت دا وو چه نبی عليه السلام به هغه لرګی سره حجر اسود ته اشاره اوكړه او بيا به ئې هغه لرګې ښكل كړو.

په رواياتو كښې تعارض: په رواياتو كښې تعارض. د بعضو رواياتو نه معلوميږي چه نبی عليه السلام به حجر اسود ښكلولو او د بعضو نه معلوميږي چه نبی عليه السلام به حجر اسود سره لاس اولګولو او بيا به ئې لاس ښكل كړو او د بعضو رواياتو نه معلوميږي چه حجر اسود طرف ته به ئې اشاره اوكړه او ښكل به ئې كړه په دې رواياتو كښې تعارض دې؟

په رواياتو كښې دوه تطبيقات: ① دا مختلفو اوقاتو او په مختلفو واقعاتو باندې محمول

(١) اخرجه مسلم في كتاب الحج /باب جواز الطواف على بعير وغيره واستلام الحجر بمحجن ونحوه للراكب (رقم ٢٥٧ - (١٢٧٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

دي په څنې واقعه کښې نبی علیه السلام حجر اسود له بوسه ورکړه او په بعضو کښې ئې په لاس سره اشاره کړې ده لاس ئې ښکل کړی دې.

④ دا په اختلاف أشواط باندې محمول دی چه په څنې چکر کښې به نبی علیه السلام حجر اسود ښکل کړو او په بعضو کښې به ئې اشاره کوله علي هذا القياس چه کوم صحابي څنګه لیدلې دې نو هم هغه شان ئې روایت کړې دې

[٢٥٧٢] دَحیض په حالت کښې دې ښځه طواف او سعي نه کوی

٢٥٧٢- [١٢] (١) ① وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: «خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَا نَذْكُرُ إِلَّا الْحَجَّ، ② فَلَمَّا كُنَّا بِسَرِفَ طَمِثْتُ، فَدَخَلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَنَا أَبْكِي، ③ فَقَالَ: (لَعَلَّكِ نَفِسْتِ؟) قُلْتُ: نَعَمْ. ④ قَالَ: "فَإِنَّ ذَلِكِ شَيْءٌ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ، فَافْعَلِي مَا يَفْعَلُ الْحَاجُّ؟ ⑤ غَيْرَ أَنْ لَا تَطُوفِي بِالْبَيْتِ حَتَّى تَطْهُرِي». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ① بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چې مونږ د نبی کریم ﷺ سره (د حج د پاره) روان شو. نو مونږ به د لبیك ویلو په وخت یواځې د حج ذکر کولی (بعضې حضراتو دا معنی لیکلې ده، چې مونږ یواځې د حج قصد کولی، یعنی اصلي مقصود حج وو، عمره نه وه خو د عمرې ذکر نه کولو سره دا نه لازمیږي، چې عمره په نیت کې هم نه وه) ② بیا چې مونږ مقام سَرِف ته ورسیدو، نو ځما ایام (د حیض ورځې) شروع شوي، نبی کریم ﷺ ماته تشریف راوړو. او ما (په دې خیال کې) ژړل (چې د حیض په وجه به زه حج ونه کړم) ③ نبی کریم ﷺ زما کیفیت لیدو سره وفرمایل چې شاید ستا د حیض ورځې شروع شوي دي، ما عرض وکړې چې هو. ④ نو نبی کریم ﷺ وفرمایل چې دا خو یو داسې شی دی، چې الله جل جلاله د آدم علیه السلام د لونو د پاره مقرر کړي دي (د دې په وجه د ژړا او پریشانه کیدو څه ضرورت دی) ته هم هغه افعال وکړه، کوم چې حاجیان یې کوي، ⑤ هو تر څو چې پاکه نشې (یعني د حیض ورځې ختمې نشي، او د هغه ښځه روسته ونه لمبیږي) تر هغه وقته د بیت الله شریفې طواف مه کوه، او مه سعي کوه، ځکه چې سعي د طواف ځخه روسته صحیح کیږي، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① بِسَرِفَ: اسْمُ مَوْضِعٍ: د یوځاي نوم دې چه مکې نه شپږ یا اوه میله فاصله کښې دې ② طَمِثْتُ: أَي: حِضْتُ: زما دحیض ورځې شروع شوي ③ نَفِسْتِ: أَي: حِضْتِ: ستا د حیض ورځې شروع شوې

تسهيلات: **قوله**: بِسَرِفَ:

دسرف محل وقوع: دې ځاى کښې دَ حضرت میمونه رضي الله عنها قبر واقع دې. دَدې نکاح هم په دغه ځاى شوې وه زفاف هم په دغه ځاى شوې او انتقال ئې هم په دغه ځاى شوي او قبر ئې هم دلته دسرك په غاړه واقع دې

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحيض/باب كيف كان بدء الحيض وقول النبي صلى الله عليه وسلم: «هذا شيء كتبه الله على بنات آدم» (رقم-٢٩٤)

قوله: لَانَذْكُرُ:

د مقام سرف تعارف: "سرف" د يو ځاني نوم دي کوم چه د مکې مکرمې نه تقريبا شپږ ميله او د مقام تنعيم نه د شمال طرف ته دري يا څلور ميله فاصلې باندې واقع دي. دې ځاني کښې د ام المومنين سيده ميمونه رضي الله عنها قبر مبارک دې. او دا عجيب اتفاق دې چه د سيده ميمونه رضي الله عنها نکاح هم په دې ځاني کښې شوې ده. د وادۀ شپه ئې هم دلته تيره شوې ده او وفات ئې هم دلته شوې دې

تعارض: ددې حديث د وجې نه يو شبهه دا پيدا کيدې شى او هغه دا چه د سيده عائشه رضي الله عنها دا الفاظ ﴿ لا نذكر الا الحج ﴾ (مونږ صرف د حج ذکر کولو) خپله د عائشې رضي الله عنها ددې روايت بالکل متضاد دى کوم چه په تير باب کښې تير شوې دى چه په هغې کښې عائشې رضي الله عنها د خپل ځان باره کښې وئيلې دى چه ﴿ ولم اهلل الا بعمرة ﴾ (يعنى ما صرف د عمرې احرام تړلې وو)

تطبيق: لهذا د دې ظاهرى تضاد د دفع کولو دپاره به دا تاويل کولې شى چه دلته د عائشې رضي الله عنها الفاظ ﴿ لا نذكر الا الحج ﴾ نه مراد دا دې چه په دې سفر سره زمونږ اصل مقصد حج وو او چونکه د حج درې قسمونه دى يعنى افراد، تمتع او قران، په دې وجه مونږ نې بعض خو مفرد وو او بعض متمتع او بعض قارن. ما د تمتع قصد کړې وو پس ما د ميقات نه د عمرې احرام اوتړلو خو مکې ته د رسيدو نه مخکښې زما ايام شروع شو چه د هغې سلسله جارى وه تردې چه د عرفې په ورځ باندې او د وقوف عرفات وخت راغلو او دغه شان د عمرې وخت تيريدلو سره د حج ورځې شروع شوې. پس رسول الله ﷺ ماته حکم اوکړو چه زه د عمرې احرام خو پرانيزم او د حج احرام اوتړم او بيا د طواف او سعى نه علاوه نور د حج افعال اوکړم

[۲۵۷۳] مشرکينو لره د طواف کعبه څخه منع کول

۲۵۷۳-[۱۳] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: بَعَثَنِي أَبُو بَكْرٍ فِي الْحَجَّةِ الَّتِي أَمَّرَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَيْهَا قَبْلَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ يَوْمَ النَّحْرِ فِي رَهْطٍ [۲] أَمَرَهُ أَنْ يُؤَذِّنَ فِي النَّاسِ: [۳] ((«أَلَا لَا يَحُجُّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلَا يَطُوفَنَّ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ»)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه وايي چې د حجة الوداع څخه مخکې په کوم حج کې چې نبى کريم ﷺ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه، د خلقو امير د حج ليږلى وو، په هغه حج کې د نحر

(¹) اخرجه البخارى فى كتاب الصلاة /باب ما يستر من العورة (رقم-٣٦٩) ومسلم فى كتاب الحج /باب بيان وجوه الإحرام، وأنه يجوز إفراد الحج والتمتع والقران، وجواز إدخال الحج على العمرة، ومتى يحل القارن من نسكه (رقم-١٢٠-١٢١١) وابوداود فى كتاب المناسك، باب يوم الحج الأكبر (رقم-١٩٤٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

(قربانی) په ورځ حضرت ابوبکر رضی الله عنه زه هم د هغه جماعت سره ولیږلم، [٢] چې دا حکم ورکول شوی وو، چې هغه دا اعلان وکړی، [٣] خبردار چې د دې کال څخه روسته هیڅ مشرك حج ونه کړي، او نه یو سړی برېنډ کیدو سره د بیت الله شریفي طواف وکړي.
بخاري، مسلم

حل اللغات: ① رَهْطٌ: جماعت او ډله ② عُرْيَانٌ: برېنډ

تسهیلات:

قوله: أَلَا لَا يَحُجُّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ:

د مذکوره قول تاریخي پس منظر: یعنی دَدې کال نه پس دې یو مشرك هم حج نه کوی کله چه حج په ٩هجری باندې فرض شو نو حضورپاك حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه دَحج امیر جوړولوسره حج ته روان کړو اوبیائی پخپله راتلونکی کال حجة الوداع باندې تشریف راوړو په دې سفرکښې دَ حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه دَ روانولونه پس حضرت علی رضی الله عنه ته حضورپاك دَ یوڅو اعلانونو کولوپه غرض سره اولیګلو دا اعلانونه دَعربی دستور مطابق یا پخپله دَ حضورپاك دَ خاندان یوکس کولې شو حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه شوکولې چنانچه هم دَدې اعلان دَپاره صدیق اکبر رضی الله عنه حضرت علی رضی الله عنه سره یوجماعت هم اولیګلو هم په دغه جماعت کښې حضرت ابوهریره رضی الله عنه هم وو څوك چه دا واقعه بیانوی مشرکان چونکه نجس دی په دې وجه په دې مقدس او پاکه زمکه باندې هغوی له نه دی راتلل پکار که چرې هغوی راتلل غواړی نو ایمان راوړو سره دې پاك شی او بیادې راشی ﴿ إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا ﴾

قوله: عُرْيَانٌ:

په زمانه د جاهلیت کښې د طواف طریقه: په جاهلیت کښې به خلقو په ډیرشوق سره دَ بیت الله طواف په برېنډه کولو دَهغوی دا خیال وو په کومو کپړو چه مونږ ګناه کړې ده دَهغې په اغوستوسره څنګه طواف کولې شو دویم خیال ئې دا وو چه کوم سړې څومره برېنډ وی هم هغومره به دَ دوزخ دَ اور نه لرې وی چنانچه هغه خلقو به برېنډیدوسره دَ طواف دوران کښې دا شعر هم ویلو

اليوم يبدو بعضه اوكله　　　　فما بدا منه فلا احله

یعنی نن زمونږ دَ بدن څه حصې یا ټولې حصې ښکاره کوو کومې حصې دَ بدن چه کولاؤ شوې دا زه په اور باندې حرام ګنړم اسلام انسان ته دَ شرافت اعلی مقام ورکوی خوشیطان دوی ته دَ ذلت مقام ورکوی

الْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۵۷٤] خانه کعبه لیدو سره د دعا د پاره د لاس اوچتولو مسئله

۲۵۷٤-[۱٤] (١)[١] عَنِ الْمُهَاجِرِ الْمَكِّيِّ، قَالَ: «سُئِلَ جَابِرٌ عَنِ الرَّجُلِ يَرَى الْبَيْتَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ، [٢] فَقَالَ: قَدْ حَجَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَلَمْ نَكُنْ نَفْعَلُهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه [١] مهاجر مکي رحمه الله (تابعي) وايي چې د حضرت جابر رضي الله عنه څخه د هغه سړي په باره کې پوښتنه وشوه، چې خانه کعبه لیدو سره خپل دواړه لاسونه پورته کړي (چې آیا دا مشروع دی که نه؟) [٢] نو جابر رضي الله عنه اوویل کوم وخت چې مونږ د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره حج وکړي، نو داسې مونه کول (یعني دخانه کعبه لیدو سره به مو لاسونه، نه اوچتول. ترمذي، ابوداؤد

تسهیلات:

قوله: يَرَى الْبَيْتَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ، فَقَالَ:

خانه کعبې ته کتلو سره دعا کول: د بیت الله زائر، مکې مکرمې ته رسیدلو سره چه کله مسجد حرام کښې داخلیږي هغه خانه کعبې ته کتلو سره دعا غواړي نو د هغه دعا قبلیږي په دې وجه مسئله دا ده چه د کعبې محترمې په ښکلې جمال باندې نظر پریوتلو سره چه ئې څه زړه غواړي هغه دې د الله پاك نه اوغواړي.

په دې دعا کښې لاس اوچتولو کښې مذاهب:

اوس سوال دا دې چه هغه وخت دعا غوښتلو سره خپل دواړه لاسونه هم اوچت کړې شي یا نه؟ پس دا حدیث د دې نه انکار کوي،

① د امام ابوحنیفه، امام شافعي او امام مالك رحمهم الله مسلك هم دا دې چه خانه کعبې ته د کتلو په وخت دعا کونکې دې خپل لاسونه نه اوچتوي،

② د امام احمد رحمه الله مسلك دا دې چه د کتلو په وخت دې لاس اوچت کړې شي او دعا دې اوکړې شي. (طیبی)

ملا علی قاري په مرقات کښې د امام ابوحنیفه او امام شافعي رحمهما الله مسلك د دې خلاف لیکلې دې، یعنی دهغوی د نقل مطابق د دې دواړو ائمه کرامو په نزد لاس اوچتول مشروع دی خو هم هغوی په خپل یو بل کتاب "مناسك" کښې دې ته مکروه وئیلې دی اگر چه بعض علماء کرامو نه ئې د دې جواز هم نقل کړې دې، د فقه حنفی د مشهور او معتبر کتاب هدایه او در مختار نه هم دا ثابتیږي چه په دې موقع باندې دې لاس اوچت نه کړې شي.

[١] اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک باب فی رفع الیدین إذا رأی البیت (رقم-۱۸۷۰) والترمذی فی کتاب الحج عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة رفع الیدین عند رؤیة البیت (رقم-۸۵۵) والنسائی فی کتاب مناسک الحج/ترک رفع الیدین عند رؤیة البیت (رقم-۲۸۹۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

د عدم رفع دليل: ①په حديث الباب کښې دَ لاسونو اوچتولونه انکار شوې دې

د رفع دلائل: ①((عن جريح قال كان النبي صلى الله عليه وسلم اذا راء البيت رفع يديه وقال اللهم زد هذا البيت تشريفا وتعظيما وتكريما ومهابة))

②دغه شان په مسند شافعی کښې دا حديث هم دې ((عن ابن عباس عن النبي ترفع الايدي في الصلوة واذا راء البيت وعلى الصفا والمروة))

جوابونه: دَجمهورو دَ طرف نه دَ امام احمد رحمه الله دَ دليل ① دَنفی تعلق وجوب سره دې چه لاسونه اوچتول واجب نه دی او دَ اثبات تعلق دَ استحباب سره دې چه لاسونه اوچتول مستحب دی.

② اصولی قاعده ده چه دَنفی او اثبات کله مقابله راشی نو اثبات مقدم وی لهذا دَ نفی اعتبار نشته.

③ ملاعلی قاری رحمه الله دا جواب ورکړې دې چه په اول ځل باندې نظر پریوتلو سره لاسونه اوچتولو سره دعا غوښتل پکاردی دَ اثبات تعلق هم دَ دې کتلو سره دې. او دَنفی تعلق بار بار کتل او لاسونه اوچتولو سره دی چه داسې نه دی کول پکار.

[۲۵۷۵] د سعي په دوران کې د صفا څخه کعبه ليدل او د لاس اوچتولو سره دعا غوښتل

٢٥٧٥—[١٥] ()①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ «أَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَدَخَلَ مَكَّةَ، ②فَأَقْبَلَ إِلَى الْحَجَرِ فَاسْتَلَمَهُ، ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ، ③ثُمَّ أَتَى الصَّفَا، فَعَلَاهُ حَتَّى يَنْظُرَ إِلَى الْبَيْتِ، ④فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يَذْكُرُ اللَّهَ مَا شَاءَ وَيَدْعُو». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ①ابوهريره رضي الله عنه وايي نبی کريم صلى الله عليه وسلم چې د حج او عمرې د پاره تشريف راوړو، او په مکه کې به داخل شو، ②نو حجر اسود ته به ورغلی، او هغه به يې ښکل کړه، بيا يې د خانه کعبې طواف وکړې، ③د دې څخه روسته د طواف مونځ کولو سره صفاء طرفته راغلو . په هغه به اوختلو تر دې چې د خانه کعبی طرف ته يې نظر پورته کړي، ④نو د دعا د پاره يې خپل دواړه لاسونه پورته کړل، او څومره چې يې غوښتل، د الله جل جلاله ذکر (يعني تکبير او تهليل) يې کولی، او دعا ئې غوښتله. ابوداؤد.

حل اللغات: ① أَقْبَلَ: أي: تَوَجَّهَ: متوجه به شو. ورمخکښې به شو ② فَعَلَاهُ: أي: صَعِدَهُ: ور اوبه ختلو (د صفا غونډۍ ته).

تسهيلات:

قوله: فَرَفَعَ يَدَيْهِ، فَجَعَلَ يَذْكُرُ اللَّهَ مَا شَاءَ وَيَدْعُو:

په صفا غونډۍ باندې تکبير وليلو سره د دعا د پاره لاسونه اوچتول: د سعی په وخت کله چه

---

[1] اخرجه مسلم فی کتاب الجهاد والسير/باب فتح مكة (رقم-٨٤ - (١٧٨٠)وابوداود فی السنن رقم الحديث ١٨٧٢

په صفا غونډۍ باندې اوخېژي نو هلته دبيت الله طرف ته مخ کولو سره اودريدل پکار دي اوبيا د تکبير اوتهليل کولو او درود وئيلو نه پس دواړه لاسونه اوچتولو سره دعا کول پکار دي.

تکبير سره د لاسونو اوچتولو عدم ثبوت: بعضې خلقو په دغه موقع تکبير سره لاسونه هم اوچتوي، لکه څنګه چه په مونځ کښې د تکبير سره رفع يدين کولې شي، خو په شريعت کښې ددې هيڅ اصل نشته، دا يو غير مشروع او غير مسنون عمل دې.

[٢٥٧٦] په مونځ او طواف کښې مماثلت

٢٥٧٦-[١٦] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٢] "«الطَّوَافُ حَوْلَ الْبَيْتِ مِثْلُ الصَّلَاةِ، إِلَّا أَنَّكُمْ تَتَكَلَّمُونَ فِيهِ، [٣] فَمَنْ تَكَلَّمَ فِيهِ فَلَا يَتَكَلَّمَنَّ إِلَّا بِخَيْرٍ»". [٤] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، وَذَكَرَ التِّرْمِذِيُّ جَمَاعَةً وَقَفُوهُ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې نبی کريم ﷺ وفرمايل [٢] د خانه کعبې چاپېره طواف کول د مانځه په مثل دی، مګر داچې تاسو په دې کې کلام کوی، [٣] نو کوم سړی چې په طواف کې کلام وکړي نو هغه دې لغو او لايعني او ناخوښه کلام نه کوي، بلکه نيک کلام دې وکړي، [٤] ترمذي، نسائي، دارمي، او امام ترمذي رحمه الله ذکر کړی دې چې ځينې خلق دا روايت په ابن عباس رضي الله عنهما موقوف کوي (يعني دا د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ارشاد دی).

تسهيلات:

قوله: مِثْلُ الصَّلَاةِ:

د طواف د مونځ سره د تشبيه ورکولو وجه: په دې حديث کښې دَ طواف تشبيه مونځ سره ورکړې شوې ده مګر په دواړو کښې دَ فرق ښکاره کولو دَپاره استثناء هم موجود ده چه په طواف کښې جائز کلام جائز دی او په مونځ کښې هيڅ قسم کلام جائز نه دې.

په طواف او مونځ کښې فرقونه: علماؤ په طواف او مونځ کښې يو څو فرقونه بيان کړی دی.

① په طواف کښې کلام مفسد نه دې او په مونځ کښې کلام مفسد دې.

② په طواف کښې استقبال قبله نشته په مونځ کښې ضروری دې.

③ په طواف کښې خوراك څښاك جائز دې په مونځ کښې ناجائز دې

④ دَ طواف دَپاره څه متعين وخت نشته نه څه خاص تعداد دې خودَمونځ دَپاره وخت هم متعين دې او تعداد هم محدود دې.

په دې ټولو خبرو باندې اتفاق دې

(١) اخرجه الترمذي في كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الكلام في الطواف (رقم-٩٦٠) والنسائي في كتاب مناسك الحج/باب إباحة الكلام في الطواف (رقم-٢٩٢٢) واحمد في المسند:٣٧٧/٥

Maktaba Tul Ishaat.com

د طواف دپاره د طهارت په شرطيت کښې مذاهب:

دَ طواف دَپاره د طهارت په شرطيت کښې اختلاف دې.

① امام شافعي رحمه الله فرمائی چه دَ طواف دَپاره طهارت اودغه شان دَبدن پټول شرط دې که چرې دې نه بغیرچاطواف اوکړونوطواف ئې اونه شو.

② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه بدن پټول او طهارت دَ طواف دَپاره شرط نه دې البته دا څيزونه واجب دی. طواف خو به ئې اوشي ليکن دم به ورکول لازم وی.

د طهارت د شرطيت دليل: زير بحث حديث د شرطيت دليل دې څکه چې دلته دَ طواف تشبيه دَمونځ سره ورکړې شوې ده اودَ مانځه دَپاره طهارت اوبدن پټول شرط دې. لهذا د طواف دَپاره هم شرط دې.

جواب: په حديث کښې دَ طواف چه کومه تشبيه دَمونځ سره ورکړې شوې ده دا په ثواب کښې دې لکه څنګه چه په مونځ کښې لوئی ثواب ملاويږی دغه شان په طواف کښې هم لوئی ثواب ملاويږی. دَ تشبيه په قواعدوکښې قطعاً داخبره نشته دې چه دَمشبه اومشبه به په ټولو اجزاؤ کښې تشبيه وی.

الزامي جواب: - که چرې شوافع په ټولو څيزونو کښې دَ تشبيه قول کوی

① په طواف کښې به دَ خوراك څښاك سره دَ طواف فاسد کيدل هم لازم راځی.

② نو بيا به دې باندې په طواف دَ قبلې طرف ته مخ کول هم لازم راځی.

③ دَمونځ دَپاره به وخت هم متعين کولې کيږی اوطواف به محدود کولې هم شی حالانکه ددې څيزونو شوافع قائل نه دی. معلومه شوه چه دا تشبيه هم په ثواب کښې ده او بس.

دعدم شرطيت دليل: دَ الله تعالى ارشاد دې ﴿وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ﴾ طريقه د استدلال دا ده چې دلته دَ طواف حکم مطلق دې په دې کښې دَ طهارت اودَبدن پټولو ذکرنشته دې. دا دواړه څيزونه دَ احاديثونه ثابت دی او احاديث اخبار آحاد دی. دې نه واجب خو ثابتيدې شی ليکن فرض نه ثابتيږی لهذا دې سره دَ قرآن پاك مطلق آيت مقيد کولې نه شی.

[٢٥٧٧] حجراسود تک سپين کا نړۍ وو

٢٥٧٧- [١٧] (١) ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "«نَزَلَ الْحَجَرُ الْأَسْوَدُ مِنَ الْجَنَّةِ، ② وَهُوَ أَشَدُّ (بَيَاضًا) مِنَ اللَّبَنِ، ③ فَسَوَّدَتْهُ خَطَايَا بَنِي آدَمَ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: ① ابن عباس رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل حجر اسود د جنت څخه

---

(١) اخرجه الترمذى فى كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل الحجر الأسود. والركن والمقام واحمدفى المسند:(رقم-٨٧٧) اخرجه الترمذى فى ٣٠٧/١

راخکته شوي دي، [٢] دا کاڼي مخکې د پيپو څخه هم زيات سپين وو، [٣] خو د ابن آدم ګناهونو دا تور کړی دی، احمد ،ترمذي، او امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چې دا حديث حسن صحيح دی.

تسهيلات:

توله: نَزَلَ الْحَجَرُ الْأَسْوَدُ مِنَ الْجَنَّةِ:

د حجر اسود د جنت څخه راکوزيدو کښې اقوال: ① حافظ توريشتي رحمه الله فرمائي چه ممکنه ده چه حقيقة هغه جنتي کاڼړې وی او د هغه ځائې نه راکوز کړې شوې وی.

② شيخ عبدالحق رحمه الله فرمائي چه په دې کښې د ايمان امتحان دې چه کافر خو به صراحة انکار اوکړی او ضعيف الايمان به تردد اوکړی او څوك چه کامل الايمان دې هغه به ئې بغير د تردد او تاويل نه قبول کړی ځکه چه په دې کښې د دليل قطعی مخالف هيڅ څيز نشته،

اشکال: د اهل زيغ دا اعتراض چه جنت کوم چه دار بقاء دې د هغه ځائې په څيزونو او د دې دار فاني په څيزونو کښې تباين او تضاد دې ځکه چه د هغه ځائې په څيزونو کښې هيڅ قسم تغير او تبديل نه راځي او په دې کاڼړی کښې خو تبديلي راغلې دې ځکه چه د قرامطه او ملاحده په لاسونو چه په کښې کوم چوندی واقع شوې دی هغه پکښې اوسه پورې باقي دی.

جوابونه: ① د دې جواب دا دې چه د هغه دار بقاء څيز چه کله د هغه ځائې نه دلته منتقل کيدو سره راشي نو د دې ځائې اثار په هغه کښې ظاهريږی لکه چه د آدم عليه السلام د هغه ځائې نه دلته راتلو سره په هغوی باندې لوږه تنده راتله.

② يا د (نزول من الجنة) نه مراد دا دې چه د جنتي څيز په شان په دې کښې کرامت، برکت او شرافت دې. كقوله عليه السلام: العجوة من الجنة. دلته هم مراد دا دې چه د رسول الله ﷺ د دعا په برکت سره په عجوه کهجوره کښې هم د جنت د ميوو په شان شفاء او برکت دې.

قوله: فَسَوَّدَتْهُ خَطَايَا بَنِي آدَمَ:

د ګناهونو په وجه د حجر اسود توريدو دوه توجيهات:

① دا هم په حقيقت باندې محمول دې چه مراد ترې په دې خبره باندې تنبيه کول دی چه د ګناه سپيرۀ والي دې حده پورې دې چه هغه په جماد کښې هم اثر لری، اوس به د ګناهګار د زړه څه حال وی.

② طيبی فرمائيلې دی چه غالبا دا حديث د تمثيل او مبالغې په طور باندې دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٥٧٨] دَ قیامت په ورځ دَ حجراسود ګواهی

٢٥٧٨-[١٨] (١) ١ وَعَنْهُ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي الْحَجَرِ: ٢ "وَاللهِ لَيَبْعَثَنَّهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، لَهُ عَيْنَانِ يُبْصِرُ بِهِمَا، وَلِسَانٌ يَنْطِقُ بِهِ، ٣ يَشْهَدُ عَلَى مَنِ اسْتَلَمَهُ بِحَقٍّ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه ١ ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې نبی کريم ﷺ د حجراسود په باره کې وفرمايل ٢ چې قسم په الله ﷻ د قيامت په ورځ به الله ﷻ دا را پورته کړي، بيا به ده ته دوه سترګې ورکول شي، چې د هغه په ذريعه به هغه ويني او دي ته به ژبه ورکول شي، چې د هغه په ذريعه به خبري کوي، ٣ نو دا به د هغه سړي په حق کې شاهدي ورکوي چا چې په حق سره دا ښکل کړی وي، ترمذي، ابن ماجه، دارمي.

تسهيلات:

قوله: لَهُ عَيْنَانِ:

د حديث ظاهري معنی اخستل: په دې کښې دَ څه تشبيه يا کنايه او مجاز اخستلو ضرورت نشته دې بلکه دا حديث په خپله ظاهري معنی باندې محمول دې او الله تعالی په دې باندې قادر دې چه هغه په کاڼړي کښې دَ وينا او کتلو طاقت کيږدی. هغه چه دَ انسان په بدن کښې دَ غوښې يوه ټکړه کښې دَ خبرو کولو طاقت کېخودې دې اودَ قيامت په ورځ به هم دَ دې انسان څپو لاسونو کښې دَوينا طاقت ايږدی. اودَ داؤد عليه السلام سره دَ تسبيحاتو ويلو صلاحيت په کلك کاڼړودَ غرونو کښې پيدا کړو دَ هغه دَپاره دَ حجراسود ګويا کول او بينائی ورکول هيڅ ګران نه دی. په حديث کښې دا نه دی چه صرف کاڼړې به خبرې کوی بلکه کاڼړی له به ژبه ورکوی اوسترګې به ورکوی نو اوس په دې کښې څه تردد دې.

قوله: بِحَقٍّ:

حق سره د ښکلولو مطلب: حق سره دَ ښکلولو مطلب دادې چه داسړې به دَ ايمان اوتوحيد والا وی دَ الله تعالی په وعدو باندې يقين لرونکې وی پوره ادب او احترام لرونکې به وی اودَ الله تعالی دَ رضا او ثواب په اراده سره دَعقيدت و محبت دَ جذبې لاندې به دا ښکلوی.

د حجر اسود مثال: حضرت شيخ الهند رحمه الله ليکلی دی دَ حجراسود مثال دَ مقناطيس او کسوټنی دې دادَ مسلمان ايمان ټيسټ کوی. که چرې په عقيدت او محبت سره دا ښکل کړو نودا به دَ هغه په ايمان باندې ګواهی ورکوی اودَ هغه شفاعت به کوی اوکه دَ چاپه زړه کښې دَدې نفرت راغلو نوفوری توګه باندې به دَهغه ايمان والوزی.

[١] اخرجه الترمذی فی کتاب الحج عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الحجر الأسود(رقم-٩٦١) وابن ماجة فی کتاب المناسک/باب استلام الحجر(رقم-٢٩٤٤)

[٢٥٧٩] حجراسود او مقام ابراهيم دَ جنت ياقوت دي

٢٥٨١-[١٩] ()١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ ٢ "«إِنَّ الرُّكْنَ وَالْمَقَامَ يَاقُوتَتَانِ مِنْ يَاقُوتِ الْجَنَّةِ ٣ طَمَسَ اللهُ نُورَهُمَا، وَلَوْ لَمْ يَطْمِسْ نُورَهُمَا لَأَضَاءَ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې ما د نبی کريم ﷺ څخه واوريدل چې فرمايل يې ٢ حجر اسود او مقام ابراهيم د جنت د ياقوتو څخه دوه ياقوت دي، ٣ الله ﷻ د دوی نور اوچت کړی دی (چې ايمان بالغيب دی) که د دوی نور باقي پاتې شوی واي، نو په دې کې شك نشته ، چې د مشرق او مغرب په منځ کې به يې ټوله دنيا روښانه کړې وه، ترمذي.

حل اللغات: ① الْمَقَامَ: أَيْ: مَقَامَ إِبْرَاهِيمَ: يعني مقام ابراهيم -عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ، ② طَمَسَ: أَيْ: أَذْهَبَ: بوني تلو، ختم ئې کړو. ③ لَأَضَاءَ: روښانه کړی به ئې وو.

تسهيلات:

قوله: طَمَسَ اللهُ:

د حجر اسود څخه د سپينوالی اخستلو وجه: يعني الله تعالی دَ حجراسود اومقام ابراهيم دَ کاڼړی نه دَ جنت والا پرق پړوق واخستو اوبيا دَ انسانانو ګناهونو دا تك تور کړو که چرې داسې نه وې نودَ دنيا هره رڼرا به ختمه شوې وه اوهم دغه دوه جوهر (مرغلرې) به پرقيدې او دنيابه ئې روښانه ساتله "طمس يطمس" دَرڼرا ورانولو اوختمولوته وائی دَ ضرب يضرب نه دې.

قوله: يَاقُوتَتَانِ مِنْ يَاقُوتِ الْجَنَّةِ:

د حجراسود جنتی کاڼړي کيدلو قصه: ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کښې ليکلی دی چه دَ حجراسود جنتی کاڼړي کيدل خودَ حضورپاك دَ فرمان نه ثابت دې. دويمه هغه قصه هم دَدې تائيد کوی \چه يوځل قرامطه ملحدين (يعنی نادرشاه ايرانی) په مکه مکرمه باندې غالب راغلو نوهغه دَ زمزم کوهې دَ مسلمانانو دَ نعشونونه ډك کړو اوحجر اسود ئې په خپلو ځنګونوسره داسې وينا کولوسره اووهلو چه ترکومې پورې به دَ الله تعالی نه سوا ستاعبادت کيږی؟ بيا هغه خلقو حجراسود خپلې علاقې ته يوړو اودَ شلوکالو نه دَڅه مودې پورې حجراسود دَهغوی سره وو بيا مسلمانانو ډيره لويه معاوضه اداکړه اودَ حجراسود دَ واپس کيدلو معاهده اوشوه. ليکن ايرانی آغاخانيانو اووئيل چه حجر اسود نورو کاڼړو سره ګډوډ شوې دې اوس مونږ هغه نه پيژنو. که چرې مسلمانانوسره دَحجر اسود دَ پيژندګلو څه علامت وی نوهغوی دې راشی اوهغه اوپيژنی اوواپس دې مکې ته

---

¹) اخرجه الترمذی فی کتاب الحج عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضلِ الحجرِ الأسودِ، والركنِ، والمقام واحمدفي المسند:(رقم-٨٧٨) اخرجه الترمذی فی ٢١٣/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

یوسی مسلمانو علماؤ سره مشوره اوکړه د وخت علماؤ اووئیل چه حجراسود خود ځن نه راغلي دې په دې وجه په هغې باندې اور اثر نه شي کولې. تاسو هغوی ته اووایئی چه تول کانړي په اور کښې واچوی چنانچه کله دا امتحان شروع شو نو کوم کانړي چه به هغه خلقو په اور کښې اچولو هغه کانړي به سوزیدلو او ټکړي کیدوسره به ماتیدلو خوچه کله حجراسود په اور کښې واچولې شو نو په هغې باندې اور اثر اونه کړې شو نو بیا هم دغه مکې ته واپس راوړلې شو.

د قدرت عجائبات: ونیلی شی چه دا هم د الله تعالی د قدرت د عجائبات نه وه چه کوم وخت حجر اسود قرامطه د حرم نه اوړلو نو هغه په اوښانو باندې بار کړې شو چه په کوم اوښ باندې به ئې کیخودلو هغه اوښ به د حجر اسود د بوج لاندې خښ شو مړ به شو. ډیر اوښان دغه شان هلاک شولیکن چه کله حجراسود واپس حرم ته راوړلې شو نو یو بیمار اوکمزورې اوښ دا په خوشحالئی سره راوړلو اوهغه ته هیڅ تکلیف ملاؤ نه شو.

[٢٥٨٠] د حجر اسود د استلام او د طواف فضیلت

٢٥٨٠-[٢٠] ()[١] وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، «أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُزَاحِمُ عَلَى الرُّكْنَيْنِ زِحَامًا [٢] مَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُزَاحِمُ عَلَيْهِ. [٣] قَالَ: إِنْ أَفْعَلْ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "إِنَّ مَسْحَهُمَا كَفَّارَةٌ لِلْخَطَايَا"

ترجمه: [١] عبید ابن عمیر رحمه الله (تابعي) وایي چې ابن عمر رضي الله عنه په دي دواړو رکنونو یعنی د حجر اسود او رکن یماني سره په لاس لګولو کې په خلقو چې څرنګه سبقت حاصلولی [٢] دغه شان ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم یو صحابي هم (په دي دواړو رکنونو) سبقت کونکی نه دی لیدلی، [٣] او ابن عمر رضي الله عنه به فرمایل چې که زه په سبقت حاصلولو کې کوشش کوم، نو ما مه منع کوی، ځکه چې ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي، چې دي دواړو رکنونو ته لاس وروړل (لګول) د ګناهونو د پاره کفاره ده،

حل اللغات: ① يُزَاحِمُ: أَيْ: يُغَالِبُ النَّاسَ: زور به ئې لګولو. مخکښې کیدو به د خلقو نه.

[١] وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: "مَنْ طَافَ بِهَذَا الْبَيْتِ أُسْبُوعًا، فَأَحْصَاهُ كَانَ كَعِتْقِ رَقَبَةٍ [٢]" وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: "لَا يَضَعُ قَدَمًا وَلَا يَرْفَعُ أُخْرَى إِلَّا حَطَّ اللَّهُ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةً وَكَتَبَ لَهُ بِهَا حَسَنَةً». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه دا هم واوریدل چې کوم سړی د خانه کعبې اووه ځله طواف وکړي، او د دې محافظت وکړي (یعني د طواف واجبات، سنن او اداب په ځای کړي) نو د دې ثواب د غلام آزادولو د ثواب برابر دی. [٢] او ما واوریدل چې نبی کریم

---

[١] اخرجه الترمذی فی کتاب الحج عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی استلام الرکنین (رقم-٩٥٩) والنسائی فی کتاب مناسک الحج/ذکر الفضل فی الطواف بالبیت (رقم-٢٩١٩) واحمد فی المسند:٣١٢

فرمايل (د طواف په وقت) کله چې څوك قدم ايږدي، او بيا هغه اوچتوي، نو الله ﷻ هغه ته د قدم اينبودلو په عوض کې د هغه ګناه ختموي او د قدم د پورته کولو په عوض کې نيکي ليکي (يعنې طواف کونکي چې قدم ايږدي، نو هغه څخه ګناه لرې کوي او هر کله چې قدم پورته کړي نو د هغه په نيکيو کې اضافه کېږي، دغه شان په پوره طواف کې د هغه ګناه ختمېږي، او په نيکيو کې اضافه کېږي) ترمذي.

حل اللغات: ② أُسْبُوعًا: أَيْ: سَبْعَةَ أَشْوَاطٍ: ـ ى اووه خله طواف اوکړي. ③ فَأَحْصَاهُ: أَيْ: بَعُدَّهُ: حفاظت ئې اوکړي (يعنې دطواف د واجباتو، سنت او آدابو لحاظ اوساتي). ④ أَحَطَّ: أَيْ: وَضَعَ، وَمَحَا: لرې کوي او ختموي.

تسهيلات:

قوله: يُزَاحِمُ عَلَى الرُّكْنَيْنِ:

د ازدحام څخه مراد: دَ دې مطلب دا شوچه حضرت ابن عمر ﷺ به خلقو ته تکليف رسولو استلام خوسنت دې او په دې موقع باندې تکليف رسول حرام دی. مطلب دادې چه هغوی به بيړه کوله او زور به ئې لګولو ليکن دَجواز دَ حد پورې په کوم کښې چه دَ چاڅه تکليف نه وی. حضورپاك يوځل حضرت عمر ﷺ ته اوفرمائيل: ((انك رجل قوي لاتزاحم على الحجر فتوذي الضعيف ان وجدت خلوة فاستلمه والا فاستقبله وهلل وكبر رواه أحمد الشافعي))

بعض رواياتو کښې دی چه دَحضرت ابن عمر ﷺ په دې مزاحمت او زور لګولو کښې به بعضې وخت پوزه زخمي کيدله او وينه به ترې بهيدله. ملاعلي قاري ﷫ فرمائی عامو صحابه کرامو به بيړه نه کوله دَ هغوی تابعداری کول زيات بهتردی خصوصاً په هغه زمانه کښې ١هجری. واقعی ملاعلی قاری ﷫ رښتيااوفرمائيل چه نن صبا دَ مزاحمت داسې کيفيت وی چه ښځې بې پردې کيدوسره په مينځ کښې ورځښې شی. آخردَ يومستحب کار پاره دَحرام کار ارتکاب کول دکوم ځائی عقل مندی ده.

قوله: إِنْ أَفْعَلْ:

د مذکوره قول مفهوم: دا شرط دې دَ دې جزا محذوف ده کوم چه "فلاالام" دې يعنی که زه دَحجراسود په تقبيل کښې مزاحمت اوکړم نوزه ملامت کيدې نه شم ځکه چه ماد حضورپاك نه دَدې لوئی فضيلت اوريدلې دې.

قوله: أُسْبُوعًا:

د اسبوعاً په مفهوم کښې درې اقوال:

① يعنی دَ اووه چکرو يو طواف اوکړه. يعنی دَ دې دَ آداب خيال ساتئی او په کامل اومکمل توګه باندې طواف کوئی. ملاعلی قاری ﷫ فرمائی چه دَدې کلام هم دغه مطلب دې اودَ حديث مفهوم هم دغه دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

④ اووه ورخويورې هره ورځ بلاناغه طواف کول مراد دي. ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه دا مطلب دَدې حديث په مفهوم کښې نشته دې.

⑤ روزانه اووه طوافونه کول مطلب دې خو دا ډيره بعيد خبره ده.

[۲۵۸۱]دَ طواف پوره دعا

۲۵۸۱-[۲۱] (۱)[١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ السَّائِبِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: مَا بَيْنَ الرُّكْنَيْنِ: [٢]﴿رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ [البقرة: ۲۰۱]». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] عبد الله ابن السائب رضي الله عنه وايي چې ما اوريدل نبی کريم صلى الله عليه وسلم به د دواړو رکنونو يعنی د حجر اسود او د رکن يماني په منځ کې دا دعا کوله: [٢] رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ای زمونږ ربه! مونږ ته په دنيا کې هم خير راکړي، او په آخرت کې هم خير راکړي، او مونږ د دوزخ د عذاب څخه محفوظ کړي، ابوداؤد.

دراوي مختصر تعارف:

حضرت عبدالله بن السائب رضي الله عنه: نوم عبدالله کنيت ابوعبدالرحمن مخزومی قريشی دې. دَهغه نه دَمکې والا قراءت زده کړې. علامه ذهبی رحمه الله فرمائی چه ده ته دَ نبی کريم صلى الله عليه وسلم صحبت مبارك حاصل دې او هغه دَحضرت ابی بن کعب رضي الله عنه نه قرآن زده کړې وو.

وفات: دَهغوی انتقال دَحضرت عبدالله بن زبير دَجنګ په زمانه کښې شوې.

مرويات: دَهغوی نه ټول اووه ⑦ روايتونه نقل دی دَ دې نه په مسلم کښې يوروايت دې بخاری کښې يو هم نشته اوباقی احاديث دَ احاديثو په نورو کتابونو کښې دی.

تسهيلات:

نوټ: د مذکوره دعا مفهوم په بل مقام کښې ذکرشوي دي.

[۲۵۸۲]دَ حضورپاك دَسعي منظر

۲۵۸۲-[۲۲] (۲)[١] وَعَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: أَخْبَرَتْنِي بِنْتُ أَبِي تُجْرَاةَ قَالَتْ: [٢] دَخَلْتُ مَعَ نِسْوَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ دَارَ آلِ أَبِي حُسَيْنٍ، [٣] نَنْظُرُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ يَسْعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ [٤] فَرَأَيْتُهُ يَسْعَى، وَإِنَّ مِئْزَرَهُ لَيَدُورُ مِنْ شِدَّةِ السَّعْيِ [٥] وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: ((«اسْعَوْا فَإِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ عَلَيْكُمُ السَّعْيَ»)). رَوَاهُ فِي: "شَرْحِ السُّنَّةِ" وَرَوَاهُ أَحْمَدُ مَعَ اخْتِلَافٍ.

ترجمه [١] بي بي صفيه بنت شيبه وايي چې د ابو تجراة لور ماته بيان وکړي [٢] چې زه د

(۱) اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک ، باب الدعاء فی الطواف (رقم-۱۸۹۲) واحمد فی المسند:۳/ ٤۱۱

(۲) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث ۱۹۲۱، والدارقطنی من کتاب الحج رقم الحديث ۸۷ من باب المواقيت، واحمد فی المسند ٦/ ٤۲۱

قريشو د ښځو سره د آل ابو حسين کور ته ورغلم، [۳] چې مونږ نبی کريم ﷺ د صفاء او مروه په منځ کې په سعي کولو ووينو، او دغه شان مونږ د نبی کريم ﷺ د جمال باکمال ځخه مشرف او د نبی کريم ﷺ د عمر او برکت ځخه مستفيد شو، [۴] ما نبی کريم ﷺ د صفاء او مروه په منځ کې داسې سعي کونکی و ليدلو، چې د نبی کريم ﷺ تهبند (لنګ په سعي (منډه) کې د تيزۍ په وجه (د نبی کريم ﷺ د پښو چاپيره) تاويدلی [۵] او ما واوريدل چې نبی کريم ﷺ فرمايل ټول خلق سعي وکړی، ځکه چې الله ﷻ ستاسو دپاره سعي ليکلي ده، شرح السنه، دا روايت امام احمد رحمه الله د کمی بيشي سره نقل کړی دی.

حل اللغات: ① مِئْزَرَةٌ: تهبند، لنګ، ② لَيَدُورُ: أَيْ: حَوْلَ رِجْلَيْهِ: تاويدلو يعنی په خپو کښې ئې چاپيره ليدلو.

تسهيلات:

قوله: وَهُوَ يَسْعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ:

د سعی تعريف او مشروعيت: دَ صفا او مروه په مينځ کښې اووه چکرې لګولو نوم سعی ده چه دَ حج يو اهم حکم دې. دَ صفا مروه غرونه اوس باقی نه دی پاتې دَ صفا ځخه ځوکه شان پاتې ده او دَ مروه کانړې دَ وخت حکومتونو په ماتولو ماتولو ختم کړی دی. دَ دواړو په خپل مينځ کښې فاصله تقريبًا دوه نيم فرلانګه ده. سعی په اصل کښې دَ حضرت هاجره ؓ دَ هغه منډو يادګار دې کومې چه هغې دَ مور روونکی بچی دَ ځان بچ کولو دَپاره دَ اوبو په لټون کښې وهلې وې. دَ صفا مروه په لاندينئی حصه کښې هغې دَ ډيرې پريشانتی دَ وجې نه تيزه منډه وهلې وه هم په دې وجه هلته دَ ميلين اخضرين په مينځ کښې منډه وهلې کيږی. مګر عجيبه داده چه دادَ يوې ښځې يادګاردې مګر دَ ښځودَ پاره دلته منډه وهل منع دی دَ دې وجه داده چه امت محمديه دَ خپل رسول الله ﷺ دَ وجې نه دامنډه وهی او حضورپاك دَ ښځودَپاره دا منډه جائزنه ده ګرځولې صرف دَ سړو دَپاره ده. دَ اسلام نه وړاندې په صفا غرباندې به يوبت وو دَ کوم نوم چه اصاف وو هم دَ دغه وجې نه دَ دې غر نوم صفا شو او په مروه باندې يوبل بت دَ کوم نوم چه نائله وو اصاف سړې وو او نائله ښځه وه دواړو په حرم کښې زنا اوکړه نودَ دواړو مسخ کيدو سره کانړی جوړ شو. اهل جاهليت دا يوه کرشمه ګنړلوسره هريو خپل معبود جوړکړو. ابوطالب په خپله قصيده لاميه کښې دَدې بتانو هم دغه شان تذکره کړې ده.

قوله: فَإِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ عَلَيْكُمُ السَّعْيَ:

حديث نه د امام مالک او امام شافعی استدلال او د احنافو توجيه: دَ امام مالك رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نيز سعی فرض ده. هغوی دَدې حديث دَ لفظ کتب نه استدلال کړې دې چه په حج کښې سعی فرض ده که چاپريخوده نوحج ئې باطل کيږی. ليکن امام ابوحنيفه رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat.com

اوامام احمد رحمه الله لفظ کتب دَ وجب په معنی کښې اخستې دې په دې وجه په حج کښې سعی واجب ده که چا پریخوده نو حج ئې اوشولیکن دم ورکول به لازم وی احنافو (فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَطَّوَّفَ بِهِمَا) نه استدلال کړې دې او په ظنی حدیث سره فرض نه ثابتیږی

قوله: وَإِنَّ مِئْزَرَهُ لَيَدُورُ:

د مذکوره جملې مطلب: یعنی دَ تیزې منډې وهلودَ وجې نه دَ احرام لاندینې څادر حضورپاك په پنډو باندې وراندې روستو او اخوا دیخوا خوزیدلو

[٢٥٨٣] حضورپاک ﷺ په سورلئی سعی کړې ده

٢٥٨٣-[٢٣] ()[١] وَعَنْ قُدَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمَّارٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَسْعَى بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ عَلَى بَعِيرٍ،[٢] لَا ضَرْبَ، وَلَا طَرْدَ، وَلَا إِلَيْكَ إِلَيْكَ»، رَوَاهُ فِي: "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه [١] قدامه ابن عبد الله ابن عمار رضي الله عنه وايي چې ما نبی کریم ﷺ د صفا او مروه په منځ کې په اوبن سوریدو سره په سعي کولو لیدلی دی،[٢] او هغه وخت نه وهل وو، نه شړل وه، او نه د لرې شئ (اخوا ته شي آوازونه وو) شرح السنة.

حل اللغات: ① لَا ضَرْبَ: وهل به نه وو. ② لَا طَرْدَ: شړل به نه وو. ③ إِلَيْكَ إِلَيْكَ: اخواشه دیخوا شه (لکه په کتره گونړه کښې چه خلقو ته ونیلې شی چه اخواشئ یعنی لاره پریږدئ).

تسهیلات:

قوله: عَلَى بَعِيرٍ:

په روایاتو کښې تعارض: دَدې حدیث نه معلومه شوه چه حضورپاك په اوبن سوریدوسره سعی کړې ده اودې نه وراندې حدیث نمبر ٢٥٨٢ اونورو څه احادیثونه معلومیږی چه نبی علیه السلام پیدل سعی کړې ده. دا په ظاهره تعارض دې.

دتعارض جواب: دَدې جواب علماء داورکړې دې چه حضورپاك په یوه موقع باندې پیدل سعی کړې ده او په بله موقع باندې ئې په سورلئی سعی کړې ده. نودَ جدا جدا وختونوسره تعارض ختم شو.

په سورلۍ باندې د سعی کولو حکم: پاتې شوه دامسئله چه سوریدو سره سعی کول جائزدی که نه؟ نودَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزپیدل سعی کول واجب ده اوکه چا په سورلئی سره سعی اوکړه نو په هغه به دم لازم راځی. حضورپاك دَ بدنی کمزورئی یا بیماریٔ دَ وجې نه به داسې کړی وی یا دَ امت دَتعلیم دپاره به ئې داسې کړې وی اودَ امت دَ تعلیم دَ پاره ممنوع فعل کله کله کولې شی په کوم کښې چه ثواب هم ملاویږی.

[١]) اخرجه الترمذی فی کتاب الحج عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی کراهیة طرد الناس عند رمی الجمار(رقم-٩٠٣) وابن ماجة فی کتاب المناسك /باب رمی الجمار راکبا (رقم-٣٠٣٥) واحمد فی المسند: ٤١٣/٣

قوله: لَاضَرْبَ:

معنم ضرب مطلب: يعنى دَ لارې خالى كولودپاره به خلق نه شو وهلې لكه څنګه چه مغرور او كبرژن خلق دَ خپل شان خودلودپاره غريب عوام په وهلو سره ديكې وركوى.

قوله: وَلَاطَرْدَ:

معنم طرد مطلب او وجه: يعنى په ژبه سره شړلو اوزغلولودپاره چغې صورې به نه شوې وهلې لكه چه كبرژن اوظالمان چه دَ شان خودلودپاره دَهغوى چمچې چغې وهى او وائى چه اخواشئى لرې شئى بچ شئى مهمان خصوصى راروان دې لكه دا نن صباچه كيږى.

[٢٥٨٤]په طواف كښې دَ اضطباع حكم

٢٥٨٤-[٢٤]()[١] وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-[٢]قَالَ: «إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- طَافَ بِالْبَيْتِ مُضْطَبِعًا بِبُرْدٍ أَخْضَرَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه:[١] يعلى بن أميه وايي [٢]چې نبى كريم ﷺ په داسې حالت كې طواف وكړې چې د شني كربنو والاڅادر په ذريعه يې اضطباع كړي وو، ترمذي، ابن ماجه، دارمي.

حل اللغات: ①مُضْطَبِعًا: دَ احرام څادر دَ ښى طرف نه ترخ لاندې اوباسى اودَهغې پلاؤ په ګسه اوږه باندې واچولې شى. ②بُرْدٍ: څادر.

تسهيلات:

قوله: مُضْطَبِعًا:

د اضطباع اصطلاحى تعريف او يوه ضابطه: اضطباع دَ طواف دَ سنتو نه دې دَ احرام دَ سنتو نه نه دى. لهذا دَ احرام په عام احوال كښې اضطباع كول ثابت نه دى. اودَ اضطباع په حالت كښې مونځ كول مكروه دى. ضابطه داده چه هرهغه طواف دَ كوم نه پس چه سعى وى دَهغې دَ شروع په دريو چكروكښې رمل او اضطباع مسنون دى اودَ كوم نه پس چه سعى نه وى په هغې كښې اضطباع نشته دې نه رمل شته . په دې راتلونكى حديث نمبر : ٢٥٨٥كښې دَ اضطباع طريقه خودلې شوې ده. دَ مصر خلق يوشان په اضطباع كښې وى. داسې اضطباع سره دَ احرام شان ښكاره كيږى.

په طواف كښې دَ اضطباع طريقه: دَملاعلى قارى رحمه الله دكلام نه معلوميږى چه دَ مونځ په حالت كښې اضطباع مكروه ده او په عام حالاتوكښې چه عوام كومه اضطباع كوى دَدې څه اصل نشته دې دامستحب نه ده په دې كلام سره اشاره ملاويږى كه يوسړې په عام احوال

[١]) اخرجه ابوداود فى كتاب المناسك ، باب الاضطباع فى الطواف (رقم-١٨٨٣) والترمذى فى كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أنّ النّبي صلىّ الله عَليهِ وَسلم طافَ مضطبعا(رقم-٨٥٩) وابن ماجة فى كتاب المناسك باب الاضطباع (رقم-٢٩٥٤) واحمد فى المسند: ٢٢٣/٤

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې اضطباع مستحب نه ګڼړي بغیرد استحباب نه دا اختیاروی نوکیدې شي چه جنر
وی احرام د لباس په شان یو لباس دې که د سهولت د وجې نه اوره ښکاره وی نومنع به نه
وی د ګرمئی په موسم کښې اضطباع سره ډیرآرام ملاویږی البته د مونځ په وخت اضطباع
مکروه ده

قوله: بِبُرْدٍ أَخْضَرَ: ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی په دې کښې شنې کړښې وې پوره څادرشین نه وو

[۲۵۸۵] په طواف کښې د اضطباع طريقه

٢٥٨٥-[٢٥] (١)[١]وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-أَنَّ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-وَأَصْحَابَهُ اعْتَمَرُوا مِنَ الْجِعْرَانَةِ[٢]فَرَمَلُوا بِالْبَيْتِ ثَلَاثًا،[٣]وَجَعَلُوا أَرْدِيَتَهُمْ تَحْتَ آبَاطِهِمْ، ثُمَّ قَذَفُوهَا عَلَى عَوَاتِقِهِمُ الْيُسْرَى. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:[١] ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې نبی کريم ﷺ او صحابه وو رضي الله عنهم د جعرانه (چې د مکې او طائف په منځ کې د يو ځای نوم دی) د هغه ځای څخه يې عمره وکړه،[٢] بولو د خانه کعبې د طواف څخه (مخکې) دري چکرو کې رمل وکړي، [٣] او هغوئ په طواف کې خپل څادرونه د ښي بغل د لاندې څخه ويستلو سره په خپله ګسه اوږه اچولي وه، ابوداؤد

حل اللغات: ① أَرْدِيَتَهُمْ: د رداء جمع ده، څادرونه. ② قَذَفُوهَا: أَيْ: طَرَحُوهَا: راوانې چول دا څادرونه

تسهيلات:

قوله: وَجَعَلُوا أَرْدِيَتَهُمْ تَحْتَ آبَاطِهِمْ

دا ضطباع مسنونيت: اضطباع په پوره طواف کښې سنت ده، او رمل يعنی تيز او پهلوانئ سره تلل د طواف په رومبودرې چکرونو کښې کيږی، دومره خبره په ذهن کښې کينوئ چه اضطباع صرف د طواف په وخت مستحب ده، د طواف نه علاوه په نورو وختونو کښې مستحب نه دی. او بعضې خلق چه داحرام د ابتداء نه اضطباع اختياروی ددې هم څه اصل نه ملاويږی بلکه د مونځ په وخت کښې دا مکروه دی.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۵۸٦] حجر اسود او د رکن يماني د استلام اهميت

٢٥٨٦-[٢٦](٢)[١]عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-قَالَ: «مَا تَرَكْنَا اسْتِلَامَ هَذَيْنِ الرُّكْنَيْنِ: الْيَمَانِي وَالْحَجَرِ فِي شِدَّةٍ وَلَا رَخَاءٍ مُذْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَسْتَلِمُهُمَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

(١) ابوداؤد : كتاب الحج ، باب الاضطباع في الطواف ٦/ ٩ ، حديث : ١٨٨٦.

(٢) اخرجه البخاری فی كتاب الحج /باب الرمل في الحج والعمرة (رقم-١٦٠٦) ومسلم فی كتاب الحج /باب استحباب استلام الركنين اليمانيين في الطواف دون الركنين الآخرين (رقم-٢٤٥ - (١٢٦٨)

ترجمه: [١] ابن عمر رضي الله عنهما وايي كله چې ما نبی کريم ﷺ د دوارو رکنونو په آستلام ليدلی دی، مونږ د دې دوارو رکنونو يعنی د رکن يماني او حجر اسود استلام نه په هجوم کې کله پرينبی دی او نه بغير هجوم کې (يعني په هيڅ حالت کې مونږ دا سعادت نه دی پرينبی، بخاري، مسلم،

حل اللغات: ① شِدَّةٍ: أَيْ: زِحَامٍ: ګڼه، رش، ② رَخَاءٍ: أَيْ: خَلَاءٍ: چه ګڼه يعنی خلق وېرنه وی.

٢٥٨٧ـ( ) [١] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: قَالَ نَافِعٌ: «رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ يَسْتَلِمُ الْحَجَرَ بِيَدِهِ، ثُمَّ قَبَّلَ يَدَهُ» [٢] وَقَالَ: مَا تَرَكْتُهُ مُنْذُ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَفْعَلُهُ».

ترجمه: [١] او د بخاري او د مسلم په يوه روايت کې دا دي چې نافع رحمه الله اوويل چې ما ابن عمر رضي الله عنهما وليدلی چې هغه به حجر اسود په لاس سره مسح کوله، او بيا به يي هغه لاس ښکل کړي، [٢] او فرمايل به يي چې د کله څخه ما نبی کريم ﷺ په داسې کولو ليدلی دی، ما هيڅ کله دا نه دی ترک کړي.

[٢٥٨٨] د عذر په سبب سپريدو سره طواف کول جائز دی

٢٥٨٨ـ[٢٧] ( ) [١] «وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا-: [٢] شَكَوْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنِّي أَشْتَكِي. [٣] فَقَالَ: "طُوفِي مِنْ وَرَاءِ النَّاسِ، وَأَنْتِ رَاكِبَةٌ" [٤] فَطُفْتُ وَرَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُصَلِّي إِلَى جَنْبِ الْبَيْتِ يَقْرَأُ بِالطُّورِ ﴿وَكِتَابٍ مَسْطُورٍ﴾ [الطور: ٢]». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] بي بي ام سلمه رضي الله عنها وايي [٢] چې ما د حج په ورځو کې نبی کريم ﷺ ته شکايت وکه، چې زه ناجوړه يم، چې د هغه په وجه پياده پښې طواف نشم کولی، [٣] نبی کريم ﷺ وفرمايل چې ته د خلقو څخه يو طرف ته شه، چې په سوارلۍ طواف وکړي، [۴] نو ما دغه شان طواف وکه، او ما په دې دوران کې وليدل چې نبی کريم ﷺ د بيت الله شريفي په خوا کې (يعني د خانه کعبې د ديوار سره متصل) مونځ کوی، او په مانځه کې د والطور وکتاب مسطور قرائت کولی، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① شَكَوْتُ: شکايت مې اوکړو. ② فَطُفْتُ: نو طواف مې اوکړو.

تسهيلات: **قوله:** وَأَنْتِ رَاكِبَةٌ

د سورة طور په لوستلو کښې دوه احتمالات:

① سورة طور به نبی عليه السلام په يو رکعت کښې لوستلې وی اوپه دويم رکعت کښې به ئې بل يو سورة وئيلې وی لکه چه د نبی کريم ﷺ عادت مبارک وو،

② سورة طور به ئې په دوارو رکعتونو کښې وئيلې وی.

( ) اخرجه مسلم فی صحيح رقم الحديث ٢٤٦/ ١٢٦٨ وابوداود فی السنن رقم الحديث ١٨٧٦

( ) اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب المريض يطوف راکبا (رقم-١٦٣٣) کتاب الحج /باب جواز الطواف علی بعير وغيره واستلام الحجر بمحجن ونحوه للراکب ٢٥٨ - (١٢٧٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

په سورلۍ باندې د طواف کولو حکم: د دې حدیث نه معلومه شوه چه د څه عذر په وجه بیت الله طواف د سوریدلو په حالت کښې کول جائز دی بغیر د عذر نه جائز نه دی، ځکه چه پیاده تلو سره طواف واجب دې

[٢٥٨٩] حجر اسود ته د حضرت عمر رضي الله عنه خطاب

٢٥٨٩ - [٢٨] (١) ① وَعَنْ عَابِسِ بْنِ رَبِيعَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: "«رَأَيْتُ عُمَرَ يُقَبِّلُ الْحَجَرَ ② وَيَقُولُ: إِنِّي لَأَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ مَا تَنْفَعُ وَلَا تَضُرُّ ③ وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① عابس ابن ربیعه (تابعي) رحمه الله وایي چې ما ولیدل حضرت عمر فاروق رضي الله عنه حجر اسود مچي (ښکل) کړه، ② او د هغه مخکښې یې دا فرمایل، په دې کې هیڅ شك نشته. زه پوهیږم چې ته یو کاڼی یې، نه خو نفع ورکولی شي، نه نقصان، ③ که نبی کریم ﷺ ستا په ښکلولو ما نه وي لیدلی نو ما به هیڅ کله نه وي ښکل کړی، بخاري، مسلم.

د راوي مختصر تعارف:

حضرت عابس بن ربیعه رحمه الله: دا تابعی دې او حافظ ابن حجر رحمه الله دې په کبار تابعینو کښې ګڼلي دې (كذا في تقريب) دې د قبیله نخع وو هم په دې وجه باندې هغه ته نخعی وائی کوفی دې او علماؤ دې په ثقاتو کښې شمیر کړې دې. (كذافي تقريب)

تسهیلات:

قوله: ماتنفع ولاتضر:

د حجر اسود د ښکلولو مسنونیت: یعنی ته یو کاڼړې نفع نقصان ستا په لاس کښې نشته دې او د رسول الله ﷺ د تعلیماتو په رڼا کښې ستا ښکلول د ثواب کار دې. په حضرت عمر رضي الله عنه هندوانو باندې واضحه کړه چه مسلمانان دا کوم کاڼړې ښکلوی دا د دې کاڼړی عبادت نه دې بلکه د حضورپاك د سنت او اطاعت د وجې نه مسلمانان دا ښکلوی. نن صبا اکثر کافران او مشرکان هندوان وغیره داګڼړی چه مسلمانان هم د کاڼړو عبادت کوی حالانکه دې کافرانو ته معلومه نه ده چه یو مسلمان هم د بیت الله د پاره سجده نه کوی بیت الله خو یو رخ او طرف دې اصل سجده او عبادت خو خالص د الله تعالی د پاره دې. د غه شان حجر اسود

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحج /باب ما ذكر في الحجر الأسود (رقم-١٥٩٧) ومسلم في كتاب الحج /باب استحباب تقبيل الحجر الأسود في الطواف (رقم-٢٥١ - (١٢٧٠) وابوداود في كتاب المناسك باب في تقبيل الحجر (رقم-١٨٧٣) والترمذي في كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في تقبيل الحجر (رقم--٨٦٠) والنسائي في كتاب مناسك الحج /باب تقبيل الحجر (رقم-٢٩٣٧) وابن ماجة في كتاب المناسك /باب استلام الحجر (رقم-٢٩٤٣)

څه واجب الاطاعت کانړې نه دي نه يومسلمان دَدې عبادت کوی دَدې ښکلول دَ رسول الله ﷺ په سنت باندې عمل کولودپاره دی په کوم چه ثواب ملاوېږی. په يوروايت کښې دی چه حضوریاك فرمائيلي اې حجراسود ته کانړې دَ نفع نقصان مالك نه ئی که چرې ماته دَ خپل رب دَ طرف نه حکم نه وې نوما به ته نه ښکلولې. (ابن ابی شيبه)

دَ مستدرك حاکم روايت دې چه دَ حضرت عمر ﷺ دَدې کلام په جواب کښې حضرت علی ﷺ اوفرمائيل او دا کانړې نفع اونقصان رسولې شی دَدې مطلب دادې چه دَ دې په ښکلولو سره ثواب ملاوېږی کومه چه نفع ده اودَدې په توهين سره ايمان خې کوم چه نقصان دې. بعض رواياتوکښې دی حجر اسود به زمکه کښې دَ الله تعالی ښې لاس دې

[٢٥٩٠]په رکن يماني دعا اوهلته د متعين فرشتو آمين

٢٥٩٠-[٢٩] ()① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ:② " «وُكِّلَ بِهِ سَبْعُونَ مَلَكًا - يَعْنِي الرُّكْنَ الْيَمَانِيَ③ - فَمَنْ قَالَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ - قَالُوا: آمِينَ» " رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه:① ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② په رکن يماني اويا فرشتي متعيني دي،③ کوم سړی چې دا دعا وايي نو فرښتي وربانديې آمين وايي، دعا دا ده: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ، ای الله! ﷻ زه ستا څخه د ګناهونو معافي او په دنيا او آخرت کې عافيت غوارم، اې زمونږ ربه؟ مونږ ته په دنيا کې هم خير راکړي او په آخرت کې هم خير راکړي، او مونږ د اور د عذاب څخه وساتي، ابن ماجه.

حل اللغات:① وُكِّلَ: مقرر او متعين دی.

تسهيلات:

قوله: يَعْنِي الرُّكْنَ الْيَمَانِيَ

د رکن يمانی په وخت کښې دعا کول: هرکله چه د رکن يمانی دا فضيلت دې نو د حجر اسود فضيلت خوبه دې نه هم زيات وی، ليکن دا هم کيدې شی چه دا فضيلت او فرق صرف رکن يمانی سره خاص وی اود حجر اسود دپاره ددې نه علاوه نور فضيلتونه وی.

په حديثونو کښې تعارض: په دې حديث کښې دی چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم به د رکن يمانی سره دعا کوله او په حديث نمبر ٢٥٨١ کښې تيرشو چې نبی کريم صلی الله عليه به د رکن يمانی او حجر اسود پ. مينځ کښې دعا کوله په ظاهره تعارض دې.

دتعارض حل: کله نبی کريم ﷺ د طواف په دوران کښې رکن يمانی ته اورسيدو او په تلو

---

①) اخرجه ابن ما جة فی کتاب الحدود/باب تلقين السارق (رقم-٢٥٩٧)

Maktaba Tul Ishaat.com

كښې نې دا دعا شروع كړه، نو ښكاره خبره ده چه دا دعا ونيل به د ركن يماني او حجر اسود په مينځ كښې وى، څكه چه طواف كولو كښې د دعا دپاره اودريدل خو صحيح نه دى، نوكوم خلق چه د طواف په دوران كښې اودريږى او دعا كوى هغوى غلطى كوى

[٢٥٩١] په طواف كښې دَ تسبيحاتو دير لولى ثواب دې

٢٥٩١-[٣٠] ()١ وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "٢ «مَنْ طَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعًا، وَلَا يَتَكَلَّمُ إِلَّا بِ" سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، ٣ مُحِيَتْ عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ، وَكُتِبَ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ، وَرُفِعَ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ، ٤ وَمَنْ طَافَ فَتَكَلَّمَ، وَهُوَ فِي تِلْكَ الْحَالِ - خَاضَ فِي الرَّحْمَةِ بِرِجْلَيْهِ كَخَائِضِ الْمَاءِ بِرِجْلَيْهِ» ". (رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ).

ترجمه: ١ ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ كوم سړى چې د خانه كعبې طواف اووه خله وكړي، او د طواف په دوران كې سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، څخه علاوه بل څه كلام ونه كړي، ٣ نو د هغه لس گناهونه به محوه كېږي، د هغه د پاره لس نيكي ليكل كېږي، او د هغه لس درجې اوچتيږي، ٤ او كوم سړى چې طواف وكړي، اود طواف په حالت كې كلام وكړي، نوهغه د خپلو دواړو پښو سره د رحمت په درياب كې داسې داخليږي، څرنگه چې په خپلو دواړو پښو سره په اوبو كې داخليږي. ابن ماجه.

حل اللغات: ① مُحِيَتْ: أَيْ: أُزِيلَتْ: ختميږى، لرې كيږى. ② خَاضَ: أَيْ: دَخَلَ: داخليږى.

تسهيلات:

قوله: كخائض الماء:

د من طاف فتكلم په تفسير كښې درې اقوال: ① د "ومن طاف فتكلم" نه تر آخره پورې چه كوم كلام نقل كړې شوې دې دا هم هغه ړومبې كلام په دويم څل راوړلې شوې دې اودَتكلم نه هم دغه تسبيحات مراددى او په دې تكرار كښې دا فائده ده چه دې سره يومعقول څيز محسوس اومشاهد جوړولوسره پيش كړې شو.

② يعنى كوم سړې چه په طواف كښې څه دنياوى خبرې اونه كړى بلكه صرف تسبيحات اولولى اوطواف اوكړى نوهغه ته به لوئې درجې ملاويږى خوچه كوم سړې په طواف كښې تسبيحات هم اولولى او څه نور نيك كلام هم اوكړى نوهغه لكه چه دَ رحمت په تالاب كښې خپه ورداخل كړه. دَدې توجيه نه معلوميږى چه دا دويمه درجه دَ اول درجې نه زياته غوره ده. ملاعلى قارى رحمه الله وغيره هم دغه طرف ته تلى دى.

١) اخرجه ابن ما جة في كتاب الحدود/باب تلقين السارق (رقم-٢٥٩٧)

③ دَعلامه ابن حجر رحمه الله رائي داده چه ومن طاف فتكلم نه مباح كلام مراد دي اودا درجه دَرومبي درجې په نسبت كمه ده. په رومبي كلام كښې خود لويو لويو درجاتو ذكر اوكړې شو اوګناه معاف كړې شوه ليكن په دې دويمه مرحله كښې صرف دومره اوخودلې شو چه دَ دغه سړي خپې دَ رحمت په سمندر كښې دى ځكه چه دې په طواف كښې دې ليكن خبرې كوي په دې وجه دَ ده درجه پريوتله دا توجيه زړه ته ښه لګى سره دَدې چه ملاعلى قارى رحمه الله په دې سره خوشحال نه دې.

ماچه دَملاعلى قارى رحمه الله په مرقات كښې اوكتل نو ماته اندازه اوشوه چه عمومًا ملاعلى قارى رحمه الله دَ علامه ابن حجر رحمه الله يوې توجيه صحيح منلوته تيارنه دې. هغه په خپله شرح كښې دَ تولو نه زيات سختوالي هم دَ ابن حجر رحمه الله په كلام باندې كړې دې.

[٤]بَابُ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ

دَوقوف عرفات بيان

خلاصة الباب:

فيه اثنتا عشر حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① الذكر وقت الذهاب إلى عرفات: ١-

② كون عرفات كلها موقفاً: ٢، ٤، ٥-

③فضل يوم عرفة : ٣، ٨، ٩، ١١-

④ خطبة عرفة: ٦-

⑤ الذكر والدعاء في عرفات: ٧-

⑥ الأمر بالوقوف بعرفات : ١٠-

د عرفات تعارف: دَ مكې مكرمې نه تقريبًا ١٥ميل يعنى ٢٥كلوميټر باندې دَ يوډير لوئى ميدان نوم عرفات دې دَدې په مينځ كښې يوه اوچته غونډئى ده كوم ته چه جبل رحمت وائي. لفظ عرفه دَ ځائى او ورځې دواړو دپاره ونيلې شى ليكن لفظ عرفات صرف دَ ځائى دپاره استعماليږى.

واضح دې وى چه وقوف عرفه د حج يو ركن عظيم دې، او وقوف په عرفې باندې هم په دې مكان كښې اودريدل مراد دى اګر چه يو ساعت وى او د خوب په حالت ولې نه وى.

د عرفه وجوه تسميه: ①عرفه د مخصوص مكان نوم دې هغه مكان ته عرفه په دې وجه ونيلې شى چه د ادم عليه السلام او هوا عليها السلام د راكوزيدو نه پس په دې مقام باندې ملاقات او تعارف شوې وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

③یا په دې مکان کښې سیدنا جبرائیل علیه السلام او سیدنا ابراهیم علیه السلام ته الله پاك د مناسك حج تعلیم ورکولو سره الله پاك فرمائیلې وو (عرفت) ابراهیم علیه السلام فرمائیلې وو (عرفتُ)
④یا په دې وجه چه هغه مکان ډیر معظم او مشهور دې ګویا چه هغه د تعریف نه مخکښې معروف دې په دې وجه ورته عرفه وئیلې شي.
په مذکوره صورتونو کښې عرفه د معرفه نه ماخوذ دې،
⑤ بعض فرمائی چه دا عرفه بفتح العین وسکون الراء نه ماخوذ دې په معنی د خوشبوئي والا، چونکه په منی کښې د ذبائح بوئی بد لګی په دې وجه د هغې په مقابله کښې دې مکان ته عرفه اوئیلې شوه،

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲۵۹۲]دعرفه په ورځ تلبیه وئیل زیات افضل دی

۲۵۹۲-[۱]()① عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ الثَّقَفِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- «أَنَّهُ سَأَلَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ،② وَهُمَا غَادِيَانِ مِنْ مِنًى إِلَى عَرَفَةَ: كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ فِي هَذَا الْيَوْمِ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ③- فَقَالَ: كَانَ يُهِلُّ مِنَّا الْمُهِلُّ فَلَا يُنْكَرُ عَلَيْهِ، وَيُكَبِّرُ الْمُكَبِّرُ مِنَّا فَلَا يُنْكَرُ عَلَيْهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:① د محمد ابن ابي بکر ثقفي (تابعي) رحمه الله په باره کې منقول دی چې هغه د انس رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه،② کله چې هغه دواړه سحرد وخته د منٰی څخه عرفات ته تلل، چې تاسو خلقو به نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره د عرفي په ورځ څه کول؟③ نو هغه اوویل په مونږ کې به لبیك والالبیك وایی، نو هغه به چا د دی څخه نه منع کولی، او تکبیر ویونکي به تکبیر ویلي، او هغه به د دې څخه نه شو منع کولی، بخاري، مسلم.

حل اللغات:① غَادِيَانِ: د غُدُوْ نه د اسم فاعل تثنیه صیغه ده، أَيْ: ذَاهِبَانِ أَوَّلَ النَّهَارِ: دسحريه وخت کښې تللو ته وائی.② يُهِلُّ: أَيْ يَرْفَعُ صَوْتَهُ: په اوچت آواز سره تلبیه وئیل ③ الْمُهِلُّ: د اسم فاعل صیغه ده. أي: الْمُلَبِّي: په اوچت آواز سره تلبیه کونکي.

تسهیلات:

قوله: كَانَ يُهِلُّ مِنَّا الْمُهِلُّ فَلَا يُنْكَرُ عَلَيْهِ:

دحاجیانو دپاره په میدان عرفات کښې دتلبیه کثرت: علامه طیبی فرمائی چه د عرفي په ورځ حاجیانو له تکبیر وئیل جائز خو دی لکه چه نور اذکار ورله جائز دی خو سنت نه دی بلکه په دغه ورځ سنت دادی چه تلبیه اووائی چه ترڅو دجمرهٔ عقبه درمی نه فارغ شوی نه وی.

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب التلبیة والتکبیر إذا غدا من منی إلی عرفة (رقم-۱۶۵۹) ومسلم فی کتاب الحج /باب التلبیة والتکبیر فی الذهاب من منی إلی عرفات فی یوم عرفة (رقم-۲۷٤) - (کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی المستحاضة أنها تجمع بین الصلاتین بغسل واحد(رقم-۱۲۸) واحمد فی المسند:۳/۱۱۰

دغیر حاجیانو دپاره د تکبیرات تشریق کثرت: د حاجیانو نه علاوه نورو خلقو له په ټولو ښارونو کښې د عرفې په سحر (۹ذوالحجه) نه د ایام تشریق د اخر یعنې ۱۳ ذي الحجه د مازیګر پورې د هر فرض مونځ نه پس که حج کښې وی او که جح نه علاوه وی خو هغوی له تکبیر ونیل واجب دی سړو له یو خل په اوچت آواز سره او ښځو له په رو آواز سره لقوله تعالی: ((وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللهِ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ)) (مرقات ج۵ ص ۳۳۰)

[۲۵۹۳] منی کښې قربانی او په عرفات او مزدلفه کښې د وقوف ځائی

۲۵۹۳-[۲] ()[۱] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«نَحَرْتُ هَاهُنَا وَمِنًى كُلُّهَا مَنْحَرٌ، فَانْحَرُوا فِي رِحَالِكُمْ، [۳] وَوَقَفْتُ هَاهُنَا وَعَرَفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ، وَوَقَفْتُ هَاهُنَا وَجَمْعٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ»). (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه: [۱] د جابر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] ما خو په دې ځای کې قرباني کړیده، هسې په منٰی کې هر ځای قربان ګاه (د قربانۍ ځای) دی، نو تاسو په خپلو خیمو کې قربانۍ وکړي، [۳] او ما خو په دې ځای کې وقوف کړی دی هسې په عرفات کې هر ځای موقف (د پاتې کیدو ځای) دی او ما خو په دې ځای کې وقوف کړی دی، هسې د مزدلفې هر ځای موقف دی، مسلم.

حل اللغات: ① نَحَرْتُ: دواحد متکلم صیغه ده، ما قرباني کړې ده، ② مَنْحَرٌ: أَيْ: مَحَلُّ نَحْرٍ: قربان ګاه یعنی د قربانۍ کولو ځائې، ③ رِحَالِكُمْ: أَيْ: مَنَازِلِكُمْ: د پاتې کیدو ځائې (یعنی په منٰی کښې چرته چه خپله خیمه لګولې وی یا قیام ګاه ئې جوړکړې وی). ④ مَوْقِفٌ: د وقوف یعنی ایساریدلو ځائې.

تسهیلات:

قوله: وَوَقَفْتُ هَاهُنَا وَعَرَفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ:

دټول میدان عرفات موقف کیدل: چونکه حضورپاك عرفات او مزدلفه کښې په یو یو ځائی کښې وقوف فرمائیلې وو نوګمان کیدې شو چه وقوف هم په دغه ځائی کښې کیدل پکاردی چرته چه حضورپاك کړې دې. نو په دې سره دَامت دَپاره یولوئی حرج پیدا کیدې شو. په دې وجه حضورپاك اوفرمائیل چه ما په کوم ځائی کښې هم وقوف کړې بس اومې کړو لیکن عرفات پوره په پوره دَ وقوف ځائی دې اودَ بطن عرنه دَ وقوف نه حضورپاك منع فرمائیلې ده. دغه شان مزدلفه ټول په ټول دَ وقوف ځائی دې او په وادی محسرکښې وقوف کول منع دی. دغه شان منٰی ټوله په ټول قربان ګاه ده سره دَدې چه حضورپاك په یوخاص ځائی کښې قربانی فرمائیلې وه. دَ مزدلفه یونوم "جمع" هم دې دَ کومې تذکره چه په احادیثو کښې شوې ده.

()[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الحج /باب ما جاء أن عرفة کلها موقف (رقم-۱۴۹ - (۱۲۱۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٥٩٤] د عرفې د ورځې فضيلت

٢٥٩٤-[٣] (١) [١] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٢] "«مَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ مِنْ أَنْ يُعْتِقَ اللّٰهُ فِيهِ عَبْدًا مِنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ، [٣] وَإِنَّهُ لَيَدْنُو، ثُمَّ يُبَاهِي بِهِمُ الْمَلَائِكَةَ، فَيَقُولُ: مَا أَرَادَ هٰؤُلَاءِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] داسې هيڅ ورځ نشته چې په هغه کې الله جل جلاله بنده د عرفې د ورځې څخه زيات د اور څخه آزادوي (يعني د عرفې په ورځ په عرفات کې الله جل جلاله د ټولو ورځو څخه زيات بنده ګانو ته د اور څخه د نجات او د خلاصی لار زيري ورکوي) [٣] او بلاشبه (په دې ورځ) الله جل جلاله (د خپل رحمت او مغفرت سره) بنده ګانو ته نږدې کېږي، بيا د فرشتو په مخکې په حج کونکو فخر کوي، او فرمايي چې دا خلق څه غواړي؟ (دا چې څه هم غواړي) زه به يې دوی ته ورکړم. مسلم.

حل اللغات: ① لَيَدْنُو: أَيْ: يَقْرُبُ: نږدې کيږي (الله تعالى په خپل فضل اورحمت سره). ② يُبَاهِي: وَالْمُبَاهَاةُ الْمُفَاخَرَةُ: فخر کوی (الله تعالى په حاجيانو باندې).

تسهيلات:

قوله: فَيَقُولُ: مَا أَرَادَ هٰؤُلَاءِ:

د مذکوره جملې مفهوم: يعنې ددې خلقو څه اراده ده يعنې خپل اهل او عيال ئې پريخودې دي، وطن ئې پريخودې دې او دلته راغلی دی او ځان ستړې کوی. په دې سره که دوی دا اراده کوی چه د دوی ګناهونه معاف شی، رب رضا شی، قربِ خداوندی او د الله رضا حاصل شی نو دا څيزونه به دوی ته ملاؤ شی.

الْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٥٩٥] دامام د موقف نه لرې موقف کښې بديت نشته

٢٥٩٥-[٤] (٢) [١] عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ صَفْوَانَ، عَنْ خَالٍ لَهُ يُقَالُ لَهُ يَزِيدُ بْنُ شَيْبَانَ، قَالَ: [٢] «كُنَّا فِي مَوْقِفٍ لَنَا بِعَرَفَةَ يُبَاعِدُهُ عَمْرٌو مِنْ مَوْقِفِ الْإِمَامِ جِدًّا، [٣] فَأَتَانَا ابْنُ مِرْبَعٍ الْأَنْصَارِيُّ، فَقَالَ: إِنِّي رَسُولُ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِلَيْكُمْ: [٤] يَقُولُ لَكُمْ: "قِفُوا عَلَى مَشَاعِرِكُمْ [٥] فَإِنَّكُمْ عَلَى إِرْثِ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ -عَلَيْهِ السَّلَامُ»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

---

[١] اخرجه مسلم فى كتاب الحج /باب فى فضل الحج والعمرة، ويوم عرفة (رقم-٤٣٦ - (١٣٤٨)، والنسائى فى السنن رقم الحديث ٣٠٠٣ وابن ماجة فى السنن رقم الحديث ٣٠١٤

[٢] اخرجه ابوداود فى كتاب المناسک . باب موضع الوقوف بعرفة (رقم-١٩١٩) والترمذى فى كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى الوقوف بعرفات والدعاء بها(رقم-٨٨٣) والنسائى فى كتاب مناسک الحج /باب رفع اليدين فى الدعاء بعرفة (رقم-٣٠١٤)

ترجمه ① عمرو بن عبد الله بن صفوان (تابعي) رحمه الله د خپل ماما څخه چې د هغه نوم يزيد ابن شيبان وو، نقل کوي چې هغه وفرمايل ② مونږ په ميدان عرفات کې په داسې ځای کې پاتې شوي وو، کوم چې زمونږ د پاره متعين وو، او عمرو هغه ځای د امام د موقف (د ودريدو د ځای) څخه ډير لرې بيانولی، ③ نو ابن مربع انصاري مونږ ته راغلو او هغه اوويل چې زه د نبي کريم ﷺ قاصد جوړيدو سره تاسو ته راغلو يم، ④ او د نبي کريم ﷺ ستاسو د پاره دا پيغام دی چې تاسو خلق په خپل مشاعر (يعني د خپل عبادت په ځای) پاتې اوسئ، ⑤ چې تاسو د خپل پلار حضرت ابراهيم ﷺ د ميراث په پيروي قائم اوسئ، ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه

حل اللغات: ① يُبَاعِدُهُ: أي: يَصِفُهُ بِالْبُعْدِ: هغه بيان کوو چه دا ځائې ډير لرې وو. ② قِفُوا: أي: اثْبُتُوا: ولاړ او قائم اوسئ، ③ مَشَاعِرِكُمْ: جمع د مَشْعَر ده، وَهُوَ الْعَلَمُ: علامت او نښې ته وائي خو دلته ترې مراد دحج او عبادت ځائې دي. أي: مَوْضِعُ النُّسُكِ وَالْعِبَادَةِ، ④ إِرْثٍ: أي: مُتَابَعَةٍ: ارث ميراث ته وائي خو دلته ترې مراد تابعداري کول دی.

تسهيلات:

قوله: قِفُوا عَلَى مَشَاعِرِكُمْ.. الخ:

د حديث پس منظر او مفهوم: دَعربو دستور وو چه هرې يوې قبيلې به په عرفات کښې دَخپل خان او خپل خاندان والوسره يو ځائې کيدو سره دَ وقوف دَ ځائې تعين کولو. يزيد بن شيبان رضي الله عنه فرمائې زمونږ دَ خاندان يو سړی چه نوم ئې عمرو وو دا ځائې ئې دَ حضورپاك دَ موقف نه ډير لرې محسوس کولو او حضورپاك ته نيزدې کيدل ئې غوښتل. حضورپاك ته دَدې علم اوشو نو رسول الله ﷺ ابن مربع نومې صحابي رضي الله عنه اوليګلو اودَ هغه خاندان خلقو ته ئې دا پيغام ورکړو چه تاسو به چرته دَنن نه مخکښې قيام کولو اوس هم په هغه ځائې کښې وقوف عرفات اوکړئ. عرفات ټول موقف دې تاسو خو ټول دَخپل نيکه ابراهيم عليه السلام په ميراث باندې يئ هم هغه راتينګ کړئ او ماله نيزدې مه راځئ.

[٢٥٩٦] حدود حرم کښې هر ځائې قرباني کيدې شي

٢٥٩٦ – [٥] ()① وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«كُلُّ عَرَفَةَ مَوْقِفٌ، وَكُلُّ مِنًى مَنْحَرٌ، وَكُلُّ الْمُزْدَلِفَةِ مَوْقِفٌ، ③ وَكُلُّ فِجَاجِ مَكَّةَ طَرِيقٌ وَمَنْحَرٌ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① جابر رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② پوره ميدان عرفات د ودريدو ځای دی، ټوله منی قربان ګاه ده (د قرباني کولو ځای دی) ټوله مزدلفه د پاتې کيدو ځای دی ③ او د مکې هره لاره (او د هغې هره کوڅه) او لاره د قربانی کولو ځای دی، ابوداؤد، دارمي

() اخرجه ابوداود في كتاب المناسك. باب الصلاة بجمع (رقم-١٩٣٧) ابن ماجة في كتاب المناسك/باب الذبح (رقم-٣٠٤٨) واحمد في المسند: ٣/٣٢٦

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات: ① مَنْحَرٌ: أي: مَحَلُّ نَحْرٍ: قربان ګاه يعنی د قربانۍ کولو ځاني. ② فِجَاجٌ: د فَجّ جمع ده ... الطَّرِيقُ الْوَاسِعُ: کهلاؤ لارې ته وائی.

تسهيلات:

قوله: وَكُلُّ فِجَاجِ مَكَّةَ طَرِيقٌ وَمَنْحَرٌ:

په پوره حرم کښې د قربانۍ کولوجواز: د حديث د آخری کلماتو مطلب دادې چه په کومه لاره هم مکې ته ځئ نو جائز دی اوپه مکه کښې چه کوم ځاني غواړئ د قربانۍ ځاروی ذبح کړئ نوجائز دی، ځکه چه دقربانۍ ځاروې په حرم کښې ذبح کول پکاردی اومکه په حرم کښې واقع ده، دا بله خبره ده چه د قربانۍ ځاروې په منی کښې د ذبح کولو دستور جوړشوې دې، ځکه چه د قربانۍ په ورځ چه دا د ذی الحجې لسمه ورځ ده، حاجيان په منی کښې وی، په دې وجه خپله قربانی هم هلته کوی.

د قربانۍ دپاره افضل ځائې: نبی کريم ﷺ دا خبره د جواز بيانولو په خاطر ارشاد فرمائيلې ده، ګنی نوهغه ځائې کښې افضل ده، چرته چه نبی عليه السلام وقوف کړې وو، چرته چه نبی عليه السلام د قربانۍ ځاروې ذبح کړې دې، اوهغه لاره افضل ده په کومه چه نبی عليه السلام مکې ته راغلې دې.

[٢٥٩٧] دَعرفه په ورځ حضورپاک صلي الله عليه وسلم څنګه خطبه ورکړه او دَ لاؤډسپيکر ثبوت

٢٥٩٧—[٤] (١) [١] وَعَنْ خَالِدِ بْنِ هَوْذَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَخْطُبُ النَّاسَ يَوْمَ عَرَفَةَ عَلَى بَعِيرٍ، قَائِمًا فِي الرِّكَابَيْنِ. رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه [١] خالد بن هوذه رضی الله عنه وايي [٢] چې ماوليدل چې نبی کريم ﷺ د عرفې په ورځ په ميدان عرفات کې، په اوښ دپاسه په دواړو رکابو ودريدلی او د خلقو په مخکې يې خطبه ارشاد وفرمايله. ابوداؤد.

حل اللغات: ① الرِّكَابَيْنِ: د رکاب تثنيه ده، پاندان (سورلۍ ته د ورختلو اود کيناستلو په وخت د خپو ايخودو ځائې ته رکاب وائی).

تسهيلات:

قوله: عَلَى بَعِيرٍ، قَائِمًا:

د آواز اوچتولو دپاره د مختلفو طريقو استعمال: يعنی حضورپاک په ولاړ اوښ باندې په ولاړه خطبه ارشاد اوفرمائيله دې دپاره چه دَ لرې لرې خلقوته آواز اورسيدې شی. چونکه مجمع زياته وه اوهغه وخت دَ لاؤډسپيکر انتظام نه وو په دې وجه حضورپاک خپل قدرتی آواز اوچتولو دَپاره دَهغه وخت ټولې طريقې اختيارکړې. اول حضورپاک اوښ اودرولو

---

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک، باب الخطبة علی المنبر بعرفة (رقم-١٩١٧) واحمد فی المسند:٥/٣٠

بيانى په هغې باندې كجاوه كيخوده بيا په هغې باندې پخپله اودريدو داد آواز اوچتولو طريقې وې. بعض رواياتو كښې دى چه په كوم ځائى به د حضورپاك آواز ختميدو نود هغه ځائى نه به حضرت على ﷺ د حضورپاك فرمان وړاندې كولو.

د آله مكبر الصوت د جواز حكم: دا په هغه زمانه كښې د مكبرالصوت د آله د جواز طرف ته اشاره وه چه انسان په كومه طريقه هم خپل آواز وړاندې كولې شى نوهغه وړاندې كول پكاردى. نن صبا چونكه اليكټرانك نظام قائم شوې دې لهذا د مكبرالصوت په ذريعه آواز نرلرې لرې پورې رسولې شى داجائزدى. البته چه د ضرورت لاندې وى د ضرورت نه زيات نه وى دې د پاره چه دالله تعالى مخلوق ته تكليف نه وى.

د حضورپاك په زمانه كښې په مسجدنبوى كښې د مكبرينو مقرر كول هم د لاؤډسپيكر په جائزكيدوباندې دليل دې ځكه چه د مكبرينو په ذريعه د امام آواز د خلقو د آخره پورې رسولوانتظام پخپله حضورپاك كړې دې نود لاؤډسپيكر په ذريعه هم دغه څه كيږى چه آواز اوچتيږى او وړاندې رسيږى.

[۲۵۹۸] د يوم عرفه دعا

٢٥٩٨-[٧] ()[١] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«خَيْرُ الدُّعَاءِ دُعَاءُ يَوْمِ عَرَفَةَ، [٣] وَخَيْرُ مَا قُلْتُ أَنَا وَالنَّبِيُّونَ مِنْ قَبْلِي: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] عمرو بن شعيب رحمه الله دخپل پلار (شعيب رحمه الله) څخه او هغه د خپل نيكه (عبد الله ابن عمرو رضي الله عنه) څخه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د ټولو څخه بهتره دعا د عرفې د ورځي ده (هغه كه په ميدان عرفات كې وغوښتل شي يا په بل ځاى كې) [٣] او په هغه كلماتو كې چې ما يا زما څخه مخكې نبيانو (بطور دعا) ويلي دي، د ټولو څخه بهتر كلمات دا دي. لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، د الله ﷻ څخه سوا بل معبود نشته چې يكتا او تنها (يكې يو) دى د هغه څوك شريك نشته ، د هغه د پاره بادشاهت دى، او د هغه د پاره تعريف دى او هغه په هر شي قادر دى، دا روايت ترمذي نقل كړى دى

تسهيلات: **قوله:** خَيْرُ الدُّعَاءِ دُعَاءُ يَوْمِ عَرَفَةَ:

د عرفې د ورځې خاص دعا: په بهترينو دعاګانو كښې دا دعا ډير ثواب او زر قبليدو والا ده امام طيبى فرمائى چه دلته اضافت لامى دې يعنى داسې دعا چه كومه د عرفې سره مختص وى.

()[١] اخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٣٥٨٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

٢٥٩٩-( )[١] وَرَوَى مَالِكٌ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ إِلَى قَوْلِهِ "لَا شَرِيكَ لَهُ".

ترجمه [١] و مالك دا روايت د طلحه بن عبيد الله څخه د الفاظ لاشريك له پورې نقل كړى دى

[٢٦٠٠] دَ عرفه ورځ دَ شيطان دَ ذلت او خوارلى ورځ ده

٢٦٠٠-[٨] ( )[١] وَعَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ كَرِيزٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] " «مَا رُئِيَ الشَّيْطَانُ يَوْمًا هُوَ فِيهِ أَصْغَرُ، وَلَا أَدْحَرُ، وَلَا أَحْقَرُ، وَلَا أَغْيَظُ مِنْهُ فِي يَوْمِ عَرَفَةَ، [٣] وَمَا ذَاكَ إِلَّا لِمَا يَرَى مِنْ تَنَزُّلِ الرَّحْمَةِ، وَتَجَاوُزِ اللّٰهِ عَنِ الذُّنُوبِ الْعِظَامِ، إِلَّا مَا رُئِيَ يَوْمَ بَدْرٍ» [٤] " فَقِيلَ: مَا رُئِيَ يَوْمَ بَدْرٍ؟ قَالَ [٥] " فَإِنَّهُ قَدْ رَأَى جِبْرِيلَ يَزَعُ الْمَلَائِكَةَ، رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا، وَفِي: "شَرْحِ السُّنَّةِ" بِلَفْظِ "الْمَصَابِيحِ".

ترجمه [١] طلحه بن عبيد الله بن كريز وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] داسې هيڅ ورځ نشته چې په هغه كې شيطان دومره زيات ذليل، درمانده او دومره زيات حقير د شړلې شوې شوى نه دې ليدلې شوي، څومره چې هغه د عرفې په ورځ وي (يعني هسې خو شيطان د هميشه څخه د خلقو نيكي ليدو سره د غيظه ډك او حقير وي خو د عرفې په ورځ د نورو ورځو څخه زيات دخښمه ډك وي او ذليل او خوار هم) [٣] او د دې سبب دا دى چې هغه په دې ورځ په هر خاص او عام د الله ﷻ نازليدونكى رحمت او د هغه د طرف څخه د لويو لويو ګناهونو معافيويني، هو د بدر په ورځ هم شيطان دغه شان ليدل شوى وو (يعني د غزوه بدر په ورځ چې مسلمانانو ته د عزت او د اسلام شوكت حاصل شو، نو په هغه ورځ هم شيطان د عرفې د ورځې په شان يا د دې څخه هم زيات ذليل او خوار او دخښمه ډك وو) [٤] عرض وشوچې دبدرپه ورځ څه ليدل شوي وه؟ نبي عليه السلام وفرمايل [٥] چې د بدر په ورځ شيطان وليدل چې حضرت جبرائيل ﷺ د مشركينو سره د جنګ د پاره د فرشتو صفونو ته ترتيب وركوي، دا روايت امام مالك رحمه الله بطريق ارسال نقل كړى دى، او په شرح السنه كې دا روايت د مصابيح د الفاظو سره نقل شوى دى.

حل اللغات: ① لَا أَدْحَرُ: د دَحْر نه اسم تفضيل دې، هُوَ الطَّرْدُ وَالْإِبْعَادُ: شړلو او لرې كولو او تختولو ته وائي. ② أَصْغَرُ: دا د صغار نه دې، أَيْ: أَذَلُّ، وَأَحْقَرُ: ذليله او خوار، سپک، ③ لَا أَحْقَرُ: أَيْ: أَسْوَأُ حَالًا: بدحاله. لعنتى. ④ لَا أَغْيَظُ: أَيْ: أَكْثَرُ غَيْظًا: دغصې نه ډک، ⑤ تَنَزُّلِ الرَّحْمَةِ: رحمت نازليدل، ⑥ تَجَاوُزُ اللّٰهِ: معاف كول دالله تعالى (ګناهونو لره).

د راوي مختصر تعارف:

حضرت طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه: نوم ئې طلحه وو ابو محمد ئې كنيت وو فياض اوخير ئې لقب. دَ پلارنوم عبيدالله دَمورنوم صعبه وو. دَ حضرت طلحه نسب شې مه پيرئى كښې

[١] اخرجه مالک فی الموطا کتاب الحج /باب جامع الحج (رقم-٢٤٦)
[٢] اخرجه مالک فی الموطا کتاب الحج /باب جامع الحج (رقم-٢٤٥)

رسول الله ﷺ سره ملاوشوي وو. د هجرت نبوی ﷺ نه ۲۵/۲۴ کاله وړاندې پیداشوي وو. د ۱۸/۱۷ کالو په عمرکښې بصرې ته تلي وو هلته یوراهب د رسول الله ﷺ د بعثت زیرې ورکړو بیا د ابوبکر رضی الله عنه په دعوت باندې په اسلام کښې داخل شو.

د غزوه بدر په موقعه هغه مدینه کښې موجود وو د دې نه علاوه په ټولو غزواتوکښې شرکت کړې وو اوپه بیعت رضوان کښې هم موجود وو. اود نورو خلفاؤ په زمانه کښې په جنګونوکښې شریك شوي وو. حضرت طلحه رضی الله عنه ډیر زیات سخی وو. د فقیرانو او مسکینانو د پاره به د هغه دروازه هروخت کولې وه. حضرت قیس بن ابی حازم رحمه الله وائی چه ما د حضرت طلحه رضی الله عنه نه بغیرد غوښتنې ورکونکې بل څوك نه دی لیدلی. الله تعالی هغه ته مال هم ډیرزیات ورکړې وو د هغه روزانه ګټه تقریبًا زر دیناره وه. (۱)

وفات: په جنګ جمل کښې شهیدکړې شو هغه وخت د هغه عمر ۶۲ یا ۶۳ کال وو هم په دې میدان کښې اول خښ کړې شو خو دلته به اوبه جمع کیدلې. په خوب کښې اولیدلې شو فرمائیلې زما قبر یومحفوظ ځائ ته بدل کړئ. نوحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه مکې ن په لس زره درهم واخستلو هلته ئې بدل کړو. د دومره ورځونه پس ئې هم جثه محفوظ وه تردې چه سترګوسره نیزدې ئې کوم کافور لګولې وو هغه هم هلته موجود وو. (۲)

مرویات: د هغوی ۳۸ روایات نقل دی دوه بخاری اومسلم دواړوکښې دی. دوه بخاری اودرې مسلم کښې منفرد دی. د نورو حالاتود پاره اوګورئی ① طبقات ابن سعد:۱۵۳/۳ ② اسدالغابة:۵۹/۱ ③ فتح الباری:۶۶/۷ ④ سیرت ابن هشام:۳۱۵/۲ ⑤ تهذیب التهذیب وغیره

تسهیلات:

قوله: يَزَعُ الْمَلَائِكَةَ:

د بدر په ورځ د شیطان تیښته: یعنی د فرښتو کمان ئې کولو اوهغوی منع کولې. د بدر په ورځ شیطان د سمندرطرف ته اوتختیدو کله چه هغه فرښتې اوکتلې نومندې وهلې تردې چه سمندر کښې خپل ځائی ته اورسیدو خو هلته هم حصارنه شو بلکه هلته ئې په سمندر کښې غوپه اولګوله او لاسونه ئې د آسمان طرف ته اوچت کړل او وئې وئیل اې الله زما د مرګ چه کومه وعده تاکړې وه هغه مه هیره وه.

(۱) طبقات ابن سعد). (۲) اسدالغابه: ۱۶۱/۳).
(۳) البخاري في الزكاة باب وجوب الزكاة ومسلم في الإيمان باب الدعاء إلى الشهادتين وشرائع الإسلام)

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٦٠١] دَ یوم عرفه فضیلت

٢٦٠١-[٩] (١) [١] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٢] - «إِذَا كَانَ يَوْمُ عَرَفَةَ، إِنَّ اللّٰهَ يَنْزِلُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيُبَاهِي بِهِمُ الْمَلَائِكَةَ، [٣] فَيَقُوْلُ: انْظُرُوْا إِلَى عِبَادِيْ، أَتَوْنِيْ شُعْثًا غُبْرًا ضَاجِّيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ، [٤] أُشْهِدُكُمْ أَنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ،

ترجمه [١] جابر رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د عرفې په ورځ الله جل جلاله د دنيې په آسمان نزول فرمايي (يعني د رحمت، احسان او کرم سره نزدې کېږي) او بيا د فرشتو په مخکې په حاجيانو فخر کوي، [٣] او فرمايي چې لږ زما د بنده ګانو طرف ته وګورې، دوی ماته پريشانه او په ګرځ لړلي ويښتانو، او لبيک او د ذکر سره آوازونه اوچتولو سره د لرې ليرې ځخه راغلي دي، [٤] زه تاسو په دې خبره ګواه جوړوم، چې ما دوی وبخښل (په دې اوريدو سره)

حل اللغات: ① فَيُبَاهِي: وَالْمُبَاهَاةُ الْمُفَاخَرَةُ: فخر کوی (الله تعالى په عرفه والو باندې). ② شُعْثًا: د أَشْعَثَ جمع ده، وَهُوَ الْمُتَفَرِّقُ مِنَ الشَّعْرِ: سربربرويښتوو الانسان ته وائی. ③ غُبْرًا: د أَغْبَرَ جمع ده. وَهُوَ الَّذِي الْتَصَقَ الْغُبَارُ بِأَعْضَائِهِ: ګرد جن چه په اندامونو ئې خاورې دورې لګيدلې وی. ④ ضَاجِّيْنَ: ضَجَّ يَضُجُّ نه دَ اسم فاعل صيغه ده، أَيْ: رَافِعِيْنَ أَصْوَاتَهُمْ بِالتَّلْبِيَةِ: په اوچت آواز سره تلبيه ويونکی. ⑤ فَجٍّ: أَيْ: طَرِيْقٍ: لار ته وائی. ⑥ عَمِيْقٍ: أَيْ: بَعِيْدٍ: لرې والی ته وائی.

فَيَقُوْلُ الْمَلَائِكَةُ: يَا رَبِّ! فُلَانٌ كَانَ يُرَهَّقُ، وَفُلَانٌ، وَفُلَانَةُ، [٢] قَالَ: يَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ: قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ» [٣]. قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«فَمَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ عَتِيْقًا مِنَ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ»". رَوَاهُ فِيْ: "شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه [١] فرشتې وايي چې اې پروردګاره! په دوی کې فلانی سړی هم دې، چې د هغه طرف ته د ګناه نسبت کېږي، او فلانی سړی او فلانی ښځه هم ده، چې ګنهګار دی، [٢] نبی کريم ﷺ وفرمايل چې الله جل جلاله فرمايي چې ما دوی هم وبخښل، [٣] بيا نبی کريم ﷺ وفرمايل چې داسې يوه ورځ نشته، چې په هغه کې د يوم عرفې برابر خلقو ته د اور ځخه د نجات او دخلاصی لار پروانه ورکول کېږي، شرح السنه.

حل اللغات: ⑦ يُرَهَّقُ: أَيْ: يُتَّهَمُ بِالسُّوْءِ: چه د ګناه نسبت ورته کولې شی. ⑧ عَتِيْقًا: آزاد کړې شوې، (هغه ځوک چه د آزاديدو پروانه ورته ملاو شی).

تسهيلات: قوله: يَنْزِلُ:

د الله تعالى د نزول ځخه مراد: يعنی الله تعالى دَعرفه په ورځ دَ دنيا آسمان ته راځی دانزول او الفاظ دَ متشابهات دَقبيل نه دی په کوم کښې چه سلف صالحين داسې توجيهه کوی "ای مايليق بشانه" متاخرين په دې کښې تاويل کوی چه دَ نزول نه دَ رحمت نزول مراد دې.

١) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث ١٩٣١

قوله: فَيُبَاهِي:

په انسان د فخر کولو وجه: يعنى الله تعالى دَ فرښتو په وړاندې په حاجيانو باندې فخر کولو سره فرمائي چه تاسو وئيلي وو چه انسان مه پيداکوه اوس اوګورئي دا زما بنديګان په کوم حال کښې زما په وړاندې ژړاګانې اوزارى کوى

قوله: فُلَانٌ كَانَ يُرْهَقُ

د مذکوره جملې مطلب: مطلب دا چه فلانکى سړى اوفلانکې ښځې خو به دَ ګناه ارتکاب کولو خلقو به دَهغوى طرف ته دَ ګناه نسبت کولو چه دا خلق به ګناه کښې اخته وو الله تعالى به فرمائي ما دوئي اوبخښل.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۶۰۲] وقوف هم په عرفات کښې کول پکاردى

۲۶۰۲-[۱۰] ()[۱] «عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ قُرَيْشٌ، وَمَنْ دَانَ دِينَهَا[۲] يَقِفُونَ بِالْمُزْدَلِفَةِ، وَكَانُوا يُسَمَّوْنَ الْحُمْسَ، فَإِنَّ سَائِرَ الْعَرَبِ يَقِفُونَ بِعَرَفَةَ،[۳] فَلَمَّا جَاءَ الْإِسْلَامُ أَمَرَ اللهُ - تَعَالَى - نَبِيَّهُ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يَأْتِيَ عَرَفَاتٍ، فَيَقِفَ بِهَا، ثُمَّ يُفِيضَ مِنْهَا،[۴] فَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ: ﴿ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ﴾ [البقرة:۱۹۹]». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] د مؤمنانو مور، بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چې قريش او هغه خلق چې د قريشو د طريقې پابنده وو،[۲] په مزدلفه کې به يې قيام کولې، او قريشو ته به حمس يعنى بهادر او شجاع ويل کيده (د قريش څخه علاوه) او ټول اهل عرب به په ميدان عرفات کې وقوف کولې[۳] ليکن کوم وخت چې اسلام راغلو، نو الله جل جلاله خپل نبي ته حکم ورکړي، چې ميدان عرفات ته راشي، او هلته وقوف وکړي، او بيا د هغه ځای څخه واپس شي،[۴] نو د الله جل جلاله د دې ارشاد: ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ، بيا دکوم ځاي څخه چې نور خلق واپس کيږي، د هغه ځاى څخه تاسو هم واپس کيږي، د دې دا معنى ده، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① دَانَ: أي: تَبِعَهُمْ: تابعدارى او پيرى ئې اوکړه دهغوى، ② يُسَمَّوْنَ الْحُمْسَ: د أَحْمَسَ جمع ده، بِمَعْنَى الشَّجَاعَةِ: بهادر، زړه ور، ③ يُفِيضُ: راکوزيدلو به، واپس به شو.

تسهيلات: قوله: كَانَ قُرَيْشٌ:

د قريشو د عرفات په ځاى مزدلفه کښې ايساريدل: قريش دَحرم شريف متولى وو هغوى له په عامو عربو باندې بهادرئى او سخاوت کښې اوچتوالي حاصل وو ليکن دې خلقو به

(۱) اخرجه البخارى فى كتاب تفسير القرآن/باب «ثم أفيضوا من حيث أفاض الناس_ [البقرة: ۱۹۹] (رقم-۴۵۲۰) ومسلم فى كتاب الحج /باب فى الوقوف وقوله تعالى: «ثم أفيضوا من حيث أفاض الناس_ [البقرة: ۱۹۹] (رقم-۱۵۱ - (۱۲۱۹)

Maktaba Tul Ishaat.com

پخپله هم د خان اوچت ګڼلو دپاره څه امتیازي صورتونه اختیارول. هم په دې کښې یوامتیازي صورت دا وو چه داخلق به د وقوف دپاره عرفات ته نه ختل بلکه بښکته به مزدلفه کښې به ئې قیام کولو اوونیل به ئې مونږ بهادرخلق یو زمونږ یوجدا شان دې مونږ ته امتیازي مقام حاصل دې. مونږ د حرم شریف کونترې یو چه کله د ارض حرم نه بهر نه څي چونکه مزدلفه په ارض حرم کښې ده اوعرفات د حرم نه بهر دې. نودا خلق به په مزدلفه کښې حصاريدل اوعام عرب به پورته عرفات ته ختل. قریش به باقي عربو د حمس په نوم باندې یادول یعنی بهادر سرداران. کله چه اسلام راغلو نوهغې انساني مساوات قائم کړل اوقریشوته ئې حکم ورکړو چه پورته ختو سره وقوف اوکړئي او بیا عامو خلقو سره مزدلفه ته راکوزیږئي. د قرآن پاک د آیت هم دغه مطلب دې.

[٢٦٠٢] په مزدلفه کښې د حضورپاک ﷺ د دعا په قبلیدو د ابلیس پریشاني

٢٦٠٣-[١١] ()[١] وَعَنْ عَبَّاسِ بْنِ مِرْدَاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- دَعَا لِأُمَّتِهِ عَشِيَّةَ عَرَفَةَ بِالْمَغْفِرَةِ، [٢] فَأُجِيبَ: "أَنِّي قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ مَا خَلَا الْمَظَالِمَ، فَإِنِّي آخُذُ لِلْمَظْلُومِ مِنْهُ" [٣] قَالَ: "أَيْ رَبِّ، إِنْ شِئْتَ أَعْطَيْتَ الْمَظْلُومَ مِنَ الْجَنَّةِ، وَغَفَرْتَ لِلظَّالِمِ" فَلَمْ يُجَبْ عَشِيَّتَهُ، [٤] فَلَمَّا أَصْبَحَ بِالْمُزْدَلِفَةِ أَعَادَ الدُّعَاءَ، فَأُجِيبَ إِلَى مَا سَأَلَ.

ترجمه [١] عباس ابن مرداس ﷺ وايي چې نبی کریم ﷺ د عرفي په ماښام کې د خپل امت د پاره د بخښش دعا وغوښتله [٢] چې قبوله شوه او الله ﷻ وفرمایل چې ما ستا امت وبخښلی، علاوه د بنده ګانو د حقوقو څخه چې زه د ظالم څخه د مظلوم حق اخلم، [٣] نبی کریم ﷺ عرض وکړي چې اې زما پروردګاره! که ته غواړې نو مظلوم ته (د هغه د حق په بدله کې چې ظلم پرې شوي دي) د جنت نعمتونه ورکړې، او ظالم هم وبخښې، خو د عرفي په ماښام کې دا دعا قبوله نه شوه، [٤] هر کله چې په مزدلفه کې سحر شو نو نبی کریم ﷺ بیا هغه دعا وغوښتله او نبی کریم ﷺ چې کوم شی وغوښتلی، هغه ورته ورکول شو،

[١] قَالَ: فَضَحِكَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَوْ قَالَ تَبَسَّمَ [٢]- فَقَالَ لَهُ أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي، إِنَّ هٰذِهِ لَسَاعَةٌ مَا كُنْتَ تَضْحَكُ فِيهَا، [٣] فَمَا الَّذِي أَضْحَكَكَ -أَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ؟ [٤] قَالَ: "إِنَّ عَدُوَّ اللّٰهِ إِبْلِيسَ، لَمَّا عَلِمَ أَنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدِ اسْتَجَابَ دُعَائِي، وَغَفَرَ لِأُمَّتِي، [٥] أَخَذَ التُّرَابَ، فَجَعَلَ يَحْثُوهُ عَلَى رَأْسِهِ، وَيَدْعُو بِالْوَيْلِ وَالثُّبُورِ، [٦] فَأَضْحَكَنِي مَا رَأَيْتُ مِنْ جَزَعِهِ» . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِي: كِتَابِ "الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ" نَحْوَهُ.

ترجمه [١] راوي وايي چې نبی کریم ﷺ وخندل یا راوي دا اوویل چې نبی کریم ﷺ مسکی شو [٢] (د دي لیدو سره) حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر ﷺ اوویل چې یا رسول الله! زمونږ مور او پلار دي په تا قربان وي، دا داسې وخت دی چې په دي کې تا نه

[١] اخرجه ابن ماجة فی کتاب المناسک/باب الدعاء بعرفة (رقم-٣٠١٣) واحمد فی المسند: ٤/١٤

خندل (يعني دا وخت د خندا خو نه دی) [٣] بيا څه شی ته وخندولی؟ الله جَلَّ جَلَالُهُ دي ستا غابنونه هميشه په خندا لري (يعني الله جَلَّ جَلَالُهُ دي تا هميشه خوشحاله لري) [٤] نبی کريم ﷺ وفرمايل چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ دښمن ابليس ته چې دا معلومه شوه ، چې الله جَلَّ جَلَالُهُ بزرګ وبرتر زما دعا قبوله کړه، او زما امت يې وبخښلي [٥] نو هغه خاوره واخيستته او په خپل سر يې اچوله، او واويلا يې کوله او چغې او سوري وهل يې شروع کړل، [٦] نو د هغه دي بدحواسي او پريشاني زه په خندا مجبوره کړم، ابوداؤد ، بيهقي.

حل اللغات: ① يَحْثُوهُ: أي: يَكُبُّهُ: اچولې ئې خاورې، بِالْوَيْلِ: أي: الْعَذَابِ: عذاب او تباهی، ② الثُّبُورِ: أي: الْهَلَاكِ: هلاکت، يعنی داسې به ئې وئيل چه: يَاهَلَكِي، وَعَذَابِي احْضُرْ: يا زما عذابه او هلاکته زه راشه.
③ جَزَعِهِ: پريشانی، ژړا او فرياد.

تسهيلات:

قوله: قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ مَا خَلَا الْمَظَالِمَ:

په ليلة المزدلفه کښې د ګناهونو د معافۍ اعلان: په عرفه کښې چه کومه دعا کړې شوې وه په هغې کښې خو د مظالم نه علاوه نور ګناهونه معاف کړې شوې وو خو په مزدلفه کښې چه کومه دعا اوکړې شوه په هغې کښې د ټولو ګناهونو باره کښې راغلی دی، نو د حديث د ظاهر نه خو هم دا معلومه شوه چه که حقوق الله وی او که حقوق العباد ټول معاف شو او دا حديث ابن ماجه، طبرانی، حکيم ترمذی او عبدالله بن احمد او ابن جرير او بيهقی وغيرهم رَحِمَهُمُ اللهُ روايت کړې دې،

دابن جوزی په دې حديث د ضعف حکم: ابن الجوزی رَحِمَهُ اللهُ فرمائی چه ﴿ لايصح هذا الحديث تفرد به عبدالعزيز بن رواد ولم يتابع عليه ﴾

د ضعف جواب: په دې باندې حافظ ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ رد کولو سره فرمائی چه دې ته امام ضياء صحيح وئيلې دې او ابوداؤد هم څه حصه نقل کولو نه پس سکوت کړې دې، هم دغه شان د دې حديث نور طرق هم دی هر يو طريق د بلې دپاره موئد دې.

په حج باندې د ګناهونو په معاف کيدو کښې اقوال:

① اوس د دې د معنی متعلق امام طبرانی رَحِمَهُ اللهُ فرمائی چه دا په هغه ظالم باندې محمول دې چا چه توبه نه وی کړې او نه د حقوق د ادا کولو نه عاجز شوې وی.

② دَ امت نه مراد دَ حضوراکرم سره په حج کښې شريك صحابه کرام دی مطلق امت مراد نه دې. لهذا دا فضيلت دَ هغه صحابه کرامو پورې محدود دې کوم چه په حجة الوداع کښې موجودوو.

Maktaba Tul Ishaat.com

③ امام بیهقی رحمه الله فرمائی چه د دې حدیث دپاره شواهد کثیره دی. که دا حدیث صحیح وی نو حجت دې ګڼنې د الله پاك ارشاد ﴿ ويغفر ما دون ذلك لمن يشاء ﴾ کافی دې چه ظلم هم په ﴿ ما دون ذلك ﴾ کښې داخل دې. (الفتح ٣/٢٩٠، التعليق ٣/٢٢٣، الاشعة ٢/٣٦٤)

④ دا فضیلت هغه حاجیانو ته حاصل دې د چا حج چه قبول شوې وی.

[٥] بَابُ الدَّفْعِ مِنْ عَرَفَةَ وَالْمُزْدَلِفَةِ

د عرفات او مزدلفه نه د واپسئ بیان

خلاصة الباب:

فيه اربعة عشر حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① كيفية الدفع من عرفة: ١، ٢، ٧، ٨، ١٣۔

② التلبية وقت الدفع من عرفة: ٣، ٧، ١٢۔

③ الجمع بين الصلاتين في عرفة والمزدلفة: ٤، ٥، ١٤۔

④ صلوة الفجر بغلس في المزدلفة: ٥۔

⑤ التقدم في الدفع من مزدلفة بعذر: ٦، ١٠، ١١۔

⑥ وقت الدفع: ٩۔

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٢٦٠٤] د سید الکونین ﷺ د مِنٰی نه واپسی

٢٦٠٤—[١] (١) [١] عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: [٢] «سُئِلَ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ: كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَسِيرُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ حِينَ دَفَعَ؟ [٣] قَالَ: كَانَ يَسِيرُ الْعَنَقَ، فَإِذَا وَجَدَ فَجْوَةً نَصَّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [١] هشام بن عروه رحمه الله د خپل پلار (عروه) نه نقل کوي چې هغه وفرمایل [٢] د حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه نه پوښتنه وشوه چې د حجة الوداع په موقع د عرفات نه په راتلو کې د نبی کریم ﷺ رفتار څه وو؟ [٣] هغه وفرمایل چې د نبی کریم ﷺ رفتار تیز نه وو. او چیرته چې به فراخه لار پیدا شوه نو خپله سوارلی به یې زغلوله. بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① دَفَعَ: أي: انْصَرَفَ: چه واپس کیدلو به. ② الْعَنَقَ: أي: السَّيْرُ السَّرِيعُ: تیز تیز منډې وهلو ته وائی ③ فَجْوَةً: أي: سَعَةً: خالی او کولاؤ ځائی ته وائی. په اصل کښې د دوو څیزونو په مینځ کښې خلا ته فجوة وائی. ④ نَصَّ: أي: سَارَ سَيْرًا أَسْرَعَ: تیز منډې وهلو ته نص وائی.

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب أمر النبي صلى الله عليه وسلم بالسكينة عند الإفاضة، وإشارته إليهم بالسوط (رقم-١٦٧١)

تسهیلات:

نوټ: د حدیث مطلب آسان دې باقی د ګرانو لغاتو معانی د حل اللغات په عنوان سره واضح شوی دی

[٢٦٠٥] داسې جلتي مناسب نه ده چه تر مکروهاتو ورسوی

٢٦٠٥–[٢] ()[١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، أَنَّهُ دَفَعَ مَعَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ عَرَفَةَ[٢] فَسَمِعَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَرَاءَهُ زَجْرًا شَدِيدًا، وَضَرْبًا لِلْإِبِلِ،[٣] فَأَشَارَ بِسَوْطِهِ إِلَيْهِمْ،[٣] وَقَالَ: "«يَا أَيُّهَا النَّاسُ، عَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ، فَإِنَّ الْبِرَّ لَيْسَ بِالْإِيضَاعِ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] د ابن عباس ﷺ په باره کې منقول دی چې هغه د عرفه په ورځ (د عرفات څخه د منی طرف ته) په واپس راتلو کې د نبی کریم ﷺ سره ملګري وو، [٢] د هغه بیان دی چې (په لار کې) نبی کریم ﷺ دخپل وروسته (په اوچت آوازونو سره د څاروو د شړلو او د اوښانو د وهلو) شور واوریدلی، [٣] نو نبی کریم ﷺ خپلې دُرې سره د خلقو طرف ته اشاره وکړه، چې خلق متوجه شي او د نبی کریم ﷺ خبره واوري، [٤] او وې فرمايل چې اې خلقو! په آرام او اطمینان سره تلل تاسوته ضروري دی، څکه چې نیکي منډې وهل نه دي، بخاري.

حل اللغات: ① زَجْرًا شَدِيدًا: أَيْ: سَوْقًا لِلدَّوَابِّ بِرَفْعِ الْأَصْوَاتِ: په تیز آواز سره څاروی شړل، ② ضَرْبًا: وهل ③ بِالْإِيضَاعِ: وَهُوَ حَمْلُ الْإِبِلِ عَلَى سُرْعَةِ السَّيْرِ: په زبردستۍ سره اوښان تیزول، په تیز تلو باندې اوښان مجبوره کول.

تسهیلات:

قوله: بِالْإِيضَاعِ:

په حدیث کښې اشکال: تیز سیل سیر اودَ اوښانو شړلو ته ایضاع وائی یعنی نیکی دَ اوښانو په منډه کولو سره نه حاصلیږی بلکه نیکی کولو او دَ بدئی نه بچ کیدو سره نیکی ملاویږی لهذا نیکی کوئی او اوښان مه زغلوئی. دلته دا سوال دې چه سابقه حدیث کښې دَ تیز تللو ذکر دې اودا مطلوب اومحبوب ګرځولي شوی دی دلته دَدې نفی ده؟

داشکال جواب: دَ دې جواب دادې چه په کومو زغلولو کښې دَ مخلوق خدا ایذا او تکلیف وی هغه دَمکروهات نه دې کنی "فاستبقوا الخیرات" کښې دَ نیکئی طرف ته په تیزئی سره وراندې کیدل ممدوح ګرځولي شوی دی نو په دوارو روایتونو کښې تضاد نشته دې.

[١] اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب «فمن تمتع بالعمرة إلى الحج فما استيسر من الهدي فمن لم يجد فصيام ثلاثة أيام في الحج وسبعة إذا رجعتم تلك عشرة كاملة ذلك لمن لم يكن أهله حاضري المسجد الحرام» [البقرة: ١٩٦] (رقم-١٦٨٦) ومسلم في كتاب الحج /باب استحباب إدامة الحاج التلبية حتى يشرع في رمي جمرة العقبة يوم النحر (رقم-٢٦٦ - (١٢٨٠)

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٦٠٦] تر رمي جمره عقبه پورې برابر په تلبيه کښې مشغوليدل

٢٦٠٦- [٣] (١) ١ وَعَنْهُ، «أَنَّ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ كَانَ رِدْفَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ عَرَفَةَ إِلَى الْمُزْدَلِفَةِ ٢ ثُمَّ أَرْدَفَ الْفَضْلَ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ إِلَى مِنًى ٣ فَكِلَاهُمَا قَالَ: لَمْ يَزَلِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُلَبِّي حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ١ ابن عباس ﷺ وايي چې د عرفات څخه تر مزدلفه اسامه بن زيد ﷺ په نبي كريم ﷺ پسې وروسته سور وو، ٢ بيا نبي كريم ﷺ د مزدلفې څخه تر منى پورې فضل بن عباس په ځان پسې وروسته سور كړي، ٣ او د دې دواړو بيان دی چې نبي كريم ﷺ برابر لبيک ويلی، تر دې چې نبي كريم ﷺ جمره عقبه (اخيرنۍ جمره) وويشتله (يعني د قربانۍ په ورځ چې يې په جمره عقبه اولنۍ كاڼړی وويشتله نو تلبيه يې موقوف كړه) بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ: ددې نه مراد جمرة عقبة الاولى يعنى غټ شيطان دې كوم چه د اختر په ورځ ويشتلې كيږي.

[٢٦٠٧] په مزدلفه کښې جمع بين الصلاتين

٢٦٠٧- [٤] (١) ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: «جَمَعَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِجَمْعٍ، ٢ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا بِإِقَامَةٍ ٣ - وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا، وَلَا عَلَى إِثْرِ كُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه ١ ابن عمر ﷺ وايي چې نبي كريم ﷺ په مزدلفه كې د ماښام او ماسخوتن مونځونه جمع كړل (يعني د ماسخوتن په وخت كې يې دواړه مونځونه يو ځاى وكړل) ٢ او په هغه كې د هر يو د پاره تكبير اوويل شو (يعني د ماښام د پاره جدا تكبير وشو، او د ماسخوتن د پاره جدا) ٣ او نبي كريم ﷺ نه خو د دې دواړو په منځ كې څه نفل مونځ وكړي، او نه د دې دواړو څخه د هر يوه څخه پس، بخاري.

حل اللغات: ① بِجَمْعٍ: أَيْ: بِالْمُزْدَلِفَةِ: دا دَمزدلفه نوم دې ② لَمْ يُسَبِّحْ: أَعْنِي النَّافِلَةَ: يعنى نفل مونځ دې نه كوى. ③ عَلَى إِثْرِ: أَيْ: عَقِيبَ: روسته، پس

تسهيلات:

قوله: جَمَعَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِجَمْعٍ:

د ماښام اوماسخوتن په يووخت كښې جمع كول: مزدلفه كښې جمع بين الصلوتين دماسخوتن په وخت كيږى دَ ماښام مونځ روستوكولوسره دَماسخوتن په وخت كښې كيږى

---

(١) اخرجه البخارى فى كتاب الحج/باب ﴿فمن تمتع بالعمرة إلى الحج فما استيسر من الهدي فمن لم يجد فصيام ثلاثة أيام فى الحج وسبعة إذا رجعتم تلك عشرة كاملة ذلك لمن لم يكن أهله حاضرى المسجد الحرام﴾ [البقرة: ١٩٦] (رقم-١٦٨٦) ومسلم فى كتاب الحج/باب استحباب إدامة الحاج التلبية حتى يشرع فى رمى جمرة العقبة يوم النحر (رقم-٢٦٦ - (١٢٨٠))

(٢) اخرجه البخارى فى كتاب الحج/باب من جمع بينهما ولم يتطوع (رقم-١٦٧٣)

کوم ته چه جمع تاخیری وائی. په عرفات کښې جمع بین الصلوتین دَ ماسپښین په وخت کیږي. دَمازیګر مونځ وړاندې کولې شی دې ته جمع تقدیم وائی.

قوله: بِجَمْعٍ:

په مزدلفه کښې د جمع بين الصلاتين په صورت کښې د اقامت په تعداد کښې مذاهب:

•اقامة په دې باندې دَ ټولو اتفاق دې چه مزدلفه کښې دَماښام او ماسخوتن مونځ دَ ماسخوتن په وخت کول جائز اومامور به دې. اختلاف په دې کښې دې چه دَ دواړو مونځونو دَپاره به يو اقامت وی که دوه اقامتونه به وی.

① دَامام مالك رحمه الله مذهب دادې چه دوه اذان اودوه اقامتونه کيدل پکاردی. دَامام بخاری رحمه الله هم دغه رائې ده.

② دَامام شافعی رحمه الله امام ابوحنيفه رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نيزدادی چه يو اذان اودوه اقامتونو سره به اداکولې شی. دَ احناف نه يو قول داسې نقل دې که دَ دواړو فرضو په مينځ کښې دَ سلام نه علاوه بل څه فاصله نه وی نو دَ دويم مونځ دَپاره نه دَ اذان ضرورت دې اونه دَ اقامت ضرورت دې. [البناية: ۴/۱۱۵.

[۲٦۰۸] دَ جمع بين الصلوتين نه جمع صوری مراد ده

٢٦٠٨-[٥] ()[١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] "«مَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- صَلَّى صَلَاةً إِلَّا لِمِيقَاتِهَا، [٣] إِلَّا صَلَاتَيْنِ: صَلَاةَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ، [٣] وَصَلَّى الْفَجْرَ يَوْمَئِذٍ قَبْلَ مِيقَاتِهَا»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وايي [٢] چې ما هيڅ کله نه دي ليدلي، چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم يو مونځ د خپل وخت څخه علاوه په يو بل وخت کې کړی وي، [٣] سوا د دوو مونځونو څخه چې هغه د ماښام او ماسخوتن مونځونه دي چې په مزدلفه کې يې کړی وو، [٣] او په هغه ورځ (يعني په مزدلفه کې د قرباني په ورځ) د سحر مونځ نبی کريم صلى الله عليه وسلم د وخت څخه مخکې کړی وو، بخاري، مسلم.

تسهيلات: قوله: إِلَّا لِمِيقَاتِهَا:

د احنافو په جمع صوری باندې دليل: حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمائی حضورپاك کله هم يومونځ دَدې نه علاوه په بل وخت کښې نه دې کړې صرف مزدلفه کښې دَماسخوتن اوماښام دَماسخوتن په وخت کښې کړې دې. دې نه معلومه شوه چه دَحضور پاك نه کوم دَ جمع بين الصلوتين احاديث نقل دی هغه په جمع صوری باندې محمول دی جمع حقيقی صرف مزدلفه او عرفات کښې شوې ده اوهم دغه دَ احناف مسلك دې.

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الحج /باب متی يصلی الفجر بجمع (رقم-١٦٨٢) ومسلم فی کتاب الحج /باب استحباب زيادة التغليس بصلاة الصبح يوم النحر بالمزدلفة. والمبالغة فيه بعد تحقق طلوع الفجر (رقم-٢٩٢ - (١٢٨٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: وَصَلَّى الْفَجْرَ الخ:

حديث کښې په اسفار باندې دليل: يعنى دَ فجرمونځ هم حضورپاك په خپل وخت کښې دننه ليکن دَ اسفار نه مخکښې ورکړې دې. دې نه معلومه شوه چه حضورپاك به دَ سحر مونځ دَ اسفارپه وخت کښې ورکولو. صرف په مزدلفه کښې دَ سحر مونځ دَ اسفار په ځائې په غلس کښې ورکړې وو. دَدې جملې نه هم دَ احناف تائيد کيږى ځوك چه دَ اسفار فى الفجر قائل دى.

[٢٦٠٩] دَمزدلفه نه دَ ښځو او ماشومانو دَ فجر نه مخکښې روانول جائز دى

٢٦٠٩-[٦] (١) «وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: "أَنَا مِمَّنْ قَدَّمَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَيْلَةَ الْمُزْدَلِفَةِ فِي ضَعَفَةِ أَهْلِهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ابن عباس رضي الله عنهما وائي چې نبى كريم ﷺ د خپل اهل وعيال د كمزور او ضعيف خلقو كومه ډله چې د مزدلفه په شپه د مخكې څخه ليږلي وه، په هغه كې زه هم شامل وم، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① ضَعَفَةِ: د ضَعِيفٍ جمع ده، كمزورى خلق،ددې نه زنانه او ماشومان وغيره مراد دى.

تسهيلات:

قوله: فِي ضَعَفَةِ أَهْلِهِ:

د مبيت بالمزدلفه په حكم كښې مذاهب:

په مزدلفه كښې د شپې تيرولو متعلق په سلف كښې اختلاف دې كوم ته چه وقوف مزدلفه هم وئيلې شى.

① د ابن خزيمه او ابن بنت الشافعى په نزد په مزدلفه كښې شپه تيرول ركن دې،

② د امام مالك او امام شافعى رحمهما الله په نزد په مزدلفه كښې شپه تيرول سنت دى.

③ د امام ابوحنيفه، احمد ، اسحاق، ثورى، عطاء، زهرى، مجاهد وغيرهم رحمهم الله په نزد كوم چه د امام شافعى رحمه الله هم يو قول دې په مزدلفه كښې شپه تيرول واجب دى په بغير عذره ترك باندې ئې دم لازم دې. كه د رش وغيره د عذر د وجې نه راغلو نو دم نشته.

د مبيت بالمزدلفه د فرضيت دليل: دليل دا آيت كريمه دې ﴿ فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ﴾ د دې په شان امر قطعى نه ركنيت ثابتيږى،

د فرضيت د دليل ځخه جوابونه- ① شيخ ابن همام رحمه الله فرمائى چه په آيت مذكوره كښې

[1] اخرجه البخارى فى كتاب الحج/باب من قدم ضعفة أهله بليل، فيقفون بالمزدلفة، ويدعون، ويقدم إذا غاب القمر (رقم-١٦٧٨) ومسلم فى كتاب الحج /باب استحباب تقديم دفع الضعفة من النساء وغيرهن من مزدلفة إلى منى فى أواخر الليل قبل زحمة الناس، واستحباب المكث لغيرهم حتى يصلوا الصبح بمزدلفة (رقم-٣٠١-(١٢٩٣)

مطلقا وقوف بالمزدلفه متعلق صيغه د امر نه ده راغلي بلكه د ذكر متعلق امر راغلي دي لهذا كوم وقوف چه مقيد بالذكر وي په هغې باندې امر راغلي دې، په كلام مقيد كښې قيد مقصود وي نو گويا ذكر مقصود دې خوذكر بالاجماع ركن نه دې،لهذا وقوف به هم ركن نه وي.

⑥قال ابن عباس: أَنَا مِمَّنْ قَدَّمَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَيْلَةَ الْمُزْدَلِفَةِ فِي ضَعَفَةِ أَهْلِهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. په دې سره ركنيت منتفي كيږي ځكه چه ركن د څه عذر په وجه باندې نه ساقط كيږي. (العينى ٦٩١/٤، الفتح ٣٣٣/٣، البذل ١٧٠/٣)

د وجوب دليل: د وجوب دليل د عروه رضي الله عنه دا حديث دي (انه عليه السلام قال من شهد صلاتنا هذه ووقف بعرفة قبل ذلك ليلا اونهارا فقد تم حجه، قال الحاكم صحيح على شرط جميع اهل الحديث)دلته د وقوف بالمزدلفه سره ټول حج معلق كړې شو كوم چه د وجوب علامت دې خو كه دا وقوف د څه عذر مثلا ضعف يا مرض يا خوف يا ازدحام په بناء ترك كړې وي نو په دې باندې هيڅ دم وغيره لازم نه دي.

[٢٦١٠] دَ جمرات دَ ويشتلو دَپاره كا نړي دَچرته نه اوچت كړى شي؟

[٧] ()①«وَعَنْهُ عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، وَكَانَ رَدِيفَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② أَنَّهُ قَالَ فِي عَشِيَّةِ عَرَفَةَ، وَغَدَاةِ جَمْعٍ لِلنَّاسِ حِينَ دَفَعُوا: " عَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ ③" وَهُوَ كَافٌّ نَاقَتَهُ حَتَّى دَخَلَ مُحَسِّرًا، وَهُوَ مِنْ مِنًى، ④قَالَ " عَلَيْكُمْ بِحَصَى الْخَذْفِ الَّذِي يُرْمَى بِهِ الْجَمْرَةُ " ⑤. وَقَالَ لَمْ يَزَلْ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُلَبِّي حَتَّى رَمَى الْجَمْرَةَ»» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① عبد الله ابن عباس رضي الله عنه د فضل ابن عباس رضي الله عنه نه روايت كوي او دي (د مزدلفى نه منى ته په راتلو كي) دنبي كريم صلى الله عليه وسلم په سوارلى شاته سور وو، ② د هغه بيان دى چې د عرفي په ماښام (د عرفات نه مزدلفي ته په راتلو كي) او د مزدلفى په سحر (د مزدلفه نه منى ته په تلو كي) خلقو سوارلى په تيزى سره شړل او وهل شروع كړل، نو نبى كريم صلى الله عليه وسلم هغوئ ته وفرمايل چې په اطمينان سره تلل ستاسو د پاره ضروري دى، ③ او هغه وخت خپله نبى كريم صلى الله عليه وسلم خپله اوښه راټينګولو سره روان وو، تر دې چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم وادي مُحسّر كې چې منى ته نزدې د مزدلفه په آخري حصه كې دى ورسيدلى، ④ نو وې فرمايل چې تاسو (ته ددې ميدان نه) د خذف په شان كانړي (يعنى واړه واړه كانړي) پورته كول پكار دي چې جمره په ويشتل كيږى) ⑤ او فضل بن عباس رضي الله عنه به ويل چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم تر رمى جمره پورې برابر لبيك ويلى (يعنې په جمره عقبه اول كانړي چې يې ويشتلو نو لبيك ويل يې موقوف كړل) مسلم

[1] اخرجه مسلم فى كتاب الحج /باب استحباب إدامة الحاج التلبية حتى يشرع فى رمي جمرة العقبة يوم النحر (رقم-٢٦٨ - (١٢٨٢) والنسائى فى كتاب مناسك الحج/باب: التلبية فى السير(رقم-٣٠٥٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات: ① دَفَعُوا: أَيِ انْصَرَفُوا: چه راواپس شو. ② عَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ: لازم او ضروري دي په تاسو په آرام سره تلل ③ كَافٌّ: أَيْ: مَانِعٌ مِنَ السُّرْعَةِ: راقابو كړې نې وه چه تيزه تيزه نه ځي. ④ مُحَسِّرًا: أَيْ: مَوْضِع منى سره نزدې د مزدلفې په آخري حد كښې د يوځاني نوم دې. ⑤ بِحَصَى: د حصاة جمع ده ګيټكوته وائي. الْخَذْفِ: يعني په دومره اندازه ګيټكې چه د دوو ګوتو په مينځ كښې راشي چه د لوبيا داني نه لږ شان لوئي وي.

تسهيلات: قوله: مُحَسِّرًا

د وادي محسر محل وقوع: وادي محسر د مزدلفه اومنى په داسې مينځ كښې واقع ده چه نه پوره په منى كښې ده اونه پوره په مزدلفه كښې ده. زياته حصه ئې منى سره لګيدلې ده هم په دې مقام په ابرهه باندې عذاب نازل شوې وو. لهذا دلته حصار يدل جائزنه دي. نن صبا ظالمان او خائن معلمين د حاجيانو د پاره هم دغه ځائې كښې خيمې لګوي.

په منى كښې دالله تعالى د قدرت نښې:

① دلته غوښه سخا كيږي نه. بل هغه تپوسان اوكارغان نه راځي

② هلته ځائې نه كميږي هرڅاته ځائې ملاويږي.

③ په كروړونوكانړي ويشتلې شي خو هلته ډيرې نه جمع كيږي. اوس څه ټركونه راځي اوچته وي خو هغه هم څه په كم مقدار كښې وي. اصل كښې چه كوم كانړي قبول شي هغه فرښتې اوچته وي.

د كانړو اوچتولو ځائې: دا ضروري نه دي چه كانړي به هم د مزدلفه نه اوچتولې شي خو چونكه مزدلفه په لاركښې راځي نوخلق ئې د هغه ځائې نه اوچته وي په دې كښې آسانتيا ده.

[٢٦١١] د حضور ﷺ د طرف څخه د خپل وصال اطلاع

٢٦١١-[٨] (١) ⑪ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «أَفَاضَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ جَمْعٍ وَعَلَيْهِ السَّكِينَةُ، ⑫ وَأَمَرَهُمْ بِالسَّكِينَةِ، وَأَوْضَعَ فِي وَادِي مُحَسِّرٍ، وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَرْمُوا بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ. ⑬ وَقَالَ: "لَعَلِّي لَا أَرَاكُمْ بَعْدَ عَامِي هَذَا» ". ⑭ لَمْ أَجِدْ هَذَا الْحَدِيثَ فِي الصَّحِيحَيْنِ إِلَّا فِي: " جَامِعِ التِّرْمِذِيِّ " مَعَ تَقْدِيمٍ، وَتَأْخِيرٍ.

ترجمه ⑪ جابر ﷺ وايي چې نبی كريم ﷺ (د منى د پاره) د مزدلفې څخه روان شو، نو د نبی كريم ﷺ په رفتار كې سكون او وقار وو، ⑫ او نبی كريم ﷺ نورو خلقو ته هم په سكون او اطمينان سره د تلو حكم وركوي، البته په ميدان محسر كې نبی كريم ﷺ اوښه تيز رفتاري سره تيره كړه او نبی كريم ﷺ خلقو ته حكم وركړي چې د خذف كانړو په شان

(١) اخرجه ابوداود فى كتاب المناسك، باب التعجيل من جمع (رقم-١٩٤٤) والترمذى فى كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الإفاضة من عرفات (رقم-٨٨٦)

يعني د نخودو او چولی برابر) اووه کانړو سره ويشتل وکړي ③ او نبي کريم ﷺ صحابه وو ﷺ ته دا هم وفرمايل چې شايد د دې کال څخه روسته زه تاسو ونه وينم ④ صاحب د مشکوٰة فرمايي چه) ما دا حديث په بخاري او مسلم کې پيدا نه کړي، خو په ترمذي کې دا حديث د تقديم او تاخير سره مذکور دی.

حل اللغات: ① أَفَاضَ: أَيْ أَسْرَعَ: په جلتۍ او تلوار سره روان شو. ② جَمْع: أَيْ: بِالْمُزْدَلِفَةِ: دا د مزدلفه نوم دې ③ أَوْضَعَ: أَيْ: أَسْرَعَ: تيزه ئې کړه. ④ يَرْمُوا: چه اولی.

تسهيلات:

قوله: لَعَلِّي لَا أَرَاكُمْ بَعْدَ عَامِي هَذَا:

د حجة الوداع وجه تسميه: دحديث د آخری الفاظو مطلب دادې چه دا کال زما د دنياوی ژوند آخری کال دې، راروان کال به زه ددې دنيا نه رخصت کيږم، په دې وجه تاسو زما نه د دين احکام اودحج مسائل زده کړئ، نوهم په دې وجه دې حج ته حجة الوداع ونيلې شی، چه ددې حج په موقع باندې نبی کريم ﷺ ددين احکام پوره طور باندې خلقو ته اورسول اوخپل صحابه ئې رخصت کړل، الوداع ئې ورته اووئيل، بيا راروان کال يعنی په دولسمه هجرئ د ربيع الاول په مياشت کښې د نبی عليه السلام وصال اوشو.

قوله: لَمْ أَجِدْ هَذَا الْحَدِيثَ فِي الصَّحِيحَيْنِ:

د صاحب مشکوٰة د قول مطلب دادې چه صاحب د مصابيح دا حديث په ړومبی فصل کښې نقل کړې دې، ددې نه دا معلوميږی چه دا حديث د صحيحنو يعنی دبخاری اود مسلم دې، حالانکه داسې نه ده، بلکه دا د ترمذی حديث دې، په دې وجه صاحب دمصابيح له پکار خو دا وو چه دا روايت ئې د ړومبی فصل په ځائې په دويم فصل کښې نقل کړې وې، اگرچه په دې صورت کښې به د تقديم اوتاخير اعتراض بيا هم باقی پاتې کيدو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٦١٢] دعرفات اومزدلفه نه دواپسئ وخت

٢٦١٢-[٩] (¹) ① عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ قَيْسِ بْنِ مَخْرَمَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «خَطَبَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: ② " إِنَّ أَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ كَانُوا يَدْفَعُونَ مِنْ عَرَفَةَ حِينَ تَكُونُ الشَّمْسُ كَأَنَّهَا عَمَائِمُ الرِّجَالِ فِي وُجُوهِهِمْ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ، ③ وَمِنَ الْمُزْدَلِفَةِ بَعْدَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ حِينَ تَكُونُ كَأَنَّهَا عَمَائِمُ الرِّجَالِ فِي وُجُوهِهِمْ. ④ وَإِنَّا لَا نَدْفَعُ مِنْ عَرَفَةَ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ، وَنَدْفَعُ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ، ⑤ هَدْيُنَا مُخَالِفٌ لِهَدْيِ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ، وَالشِّرْكِ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ. وَقَالَ فِيهِ: " خَطَبَنَا " وَسَاقَهُ بِنَحْوِهِ.

(¹) اخرجه الحاکم فی المستدرک ٢/ ٢٧٧

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه [١] محمد بن قيس بن مخرمه ﷺ وايي چې نبی کريم ﷺ د خطبه ورکولو په وخت ارشاد وفرمايلی[٢] چې په ايام جاهليت کې (يعني د اسلام څخه مخکې) خلق به د عرفات څخه هغه وخت تلل چې نمر به د لويدو څخه مخکې د خلقو په مخونو دسرېود پټکو په شان په نظر راتلو (يعني د عرفات څخه د غروب آفتاب څخه مخکې به تلل) [٣] او د مزدلفې څخه به د طلوع آفتاب (د نمر ختو) څخه روسته هغه وخت روانيدل، کله چې به نمر د خلقو په مخونو دسرېود پټکو په شان په نظر راتلو (يعني نمر به ښه غټ اوروښانه وو مصحح)، [٤] خو مونږ به د عرفات څخه تر هغه وقته نه خو، تر څو چې نمر غروب شوی نه وي، او د مزدلفې څخه به مونږ د نمر د ختو څخه مخکې روانيږو، [٥] ځکه چې زمونږ طريقه د بت پرستو او مشرکانو څخه مختلفه ده، بيهقي.

حل اللغات: ① يَدْفَعُونَ: أَيْ: يَرْجِعُونَ: واپس کيدل به، ② عَمَائِمُ الرِّجَالِ: د سړو پټکی، ③ هَدْيُنَا: أَيْ: سِيرَتُنَا وَطَرِيقَتُنَا: زمونږ دين او طريقه، ④ عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ: أَيْ: الْأَصْنَامِ: د بتانو عبادت کونکی.

تسهيلات: قوله: كَأَنَّهَا عَمَائِمُ الرِّجَالِ:

د جاهليت په زمانه کښې د پټکی استعمال: دَ نمردَ ډوبيدوطرف ته اشاره ده پټکی سره ئې تشبيه ورکړې ده ځکه چه کله نمر دَ ډوبيدو مقام ته راشي نودَانسان په مخ لګی اودَ دې شعاګانې دَ انسان مخ پټولوسره پړقه وی. پټکې هم چه کله مخامخ شی هغه هم دَ نمر دَ شعاګانو په شان لګی. دې نه معلومه شوه چه عربو به دَ اسلام نه وړاندې هم پټکی استعمالول "والعمائمه التيجان العرب" مشهورقول دې. دلته دا اوخودلې شوچه په جاهليت کښې به خلق دَ نمر دَ ډوبيدونه وړاندې دَعرفات نه راکوزيدل اسلام منع کړل او وئې وئيل چه کله نمر ډوب شي نوبيا مزدلفه ته ځئی. دغه شان دَ مزدلفه نه دَ وتلووخت دَ نمردَ راختلونه وړاندې اودَ سحردَ راختلونه پس دې. کله چه معمولي رڼاخوره شی نو دَ مزدلفه نه روان شئی ليکن دَجاهليت خلقو به دَ نمر دَ راختلو انتظارکولو او کوه ثبيريه ئې مخاطب کولو وئيل به ئې "اطلع ثبير اطلع".

قوله: رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ: دلته دَ مشکوة په نسخه کښې بياض دې بله نسخه کښې رواه البيهقي في شعب الايمان دې.

[٢٦١٢] جمره عقبه به دَ نمر دَراختلو نه پس ويشتلې شي

٢٦١٣-[١٠] ()[١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَدَّمَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَيْلَةَ الْمُزْدَلِفَةِ - أُغَيْلِمَةَ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ - عَلَى حُمُرَاتٍ، [٢] فَجَعَلَ يَلْطَحُ أَفْخَاذَنَا، وَيَقُولُ: [٣] "أُبَيْنِيَّ، لَا تَرْمُوا الْجَمْرَةَ

() اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک ، باب التعجيل من جمع (رقم-١٩٤٠) والنسائی فی کتاب مناسک الحج/باب: وقت رمی جمرة العقبة يوم النحر(رقم-٣٠٦٣) وابن ماجة فی کتاب المناسک/باب من تقدم من جمع لرمي الجمار(رقم-٣٠٢٥) وأحمد فی المسند:٣٢٦/١

حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① ابن عباس ﷺ وايي چې نبی کريم ﷺ مونږ د مزدلفی په شپه (يعني د عيد الاضحٰی په شپه) کې منٰی ته وليږلو، او د عبد المطلب د خاندان مونږ ځو وړو کيان وو چې نبی کريم ﷺ د شپې ليږلي وو) او خري زمونږ سورلی وي، ② نبی کريم ﷺ (به زمونږ د روانګی په وخت د محبت او الفت له مخه) زمونږ په ورونو لاس مبارك راتير ولی، او فرمايل به يې ③ چې زما وړو بچيانو! تر څو چې نمر راونه خيژي، تاسو څلي (يعني جمره عقبه) په کاڼړو مه ولی، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه.

حل اللغات: ① أُغَيْلِمَةَ: أَيْ: صِبْيَانُهُمْ: دا دَ اغلمة تصغيردي اغلمه دَ غلام جمع ده. ماشومانو ته وائی. ② حُمُرَاتٍ: جمع د حُمُر ده، او حُمُر جمع د حِمَار ده، خرو ته وائی. ③ يَلْطَحُ: الضَّرْبُ بِبَاطِنِ الْكَفِّ لَيْسَ بِالشَّدِيدِ تَلَطُّفًا: دَ فتح يفتح نه دي دَ لاس دَ تلی سره دَ محبت په توګه دَ چا وهلوته لطح وائی. ④ أَفْخَاذَنَا: د فخذ جمع ده، ورونونه يعنی پنډئ ته وائی. ⑤ أُبَيْنِيَّ: دَ ابن تصغيردي چه دَ ياء متكلم طرف ته منسوب دي يعنی اي زما خوړو بچو. ⑥ لَا تَرْمُوا: مه اولئ، ⑦ الْجَمْرَةَ: أَيْ: جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ يَوْمَ الْعِيدِ: ددې نه مراد جمرة عقبة الاولی يعنی غټ شيطان دي کوم چه د اختر په ړومبئ ورځ ويشتلي کيږی.

تسهيلات:

قوله: لَا تَرْمُوا الْجَمْرَةَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ:

د جمرة العقبه د رمی په وخت کښې مذاهب:

① د جمره نه جمرة العقبة يوم العيد مراد دي. د امام شافعی، شعبی، طاؤس او عطاء په نزد د صبا صادق د راختلو نه مخکښې او د نيمې شپې نه پس د جمره عقبه رمی جائز ده.

② د امام ابوحنيفه، احمد، اسحاق، مالك بلكه جمهور په نزد رمی د جمره عقبه به د طلوع شمس نه پس کوی او که د طلوع شمس نه مخکښې او د صبح صادق نه پس رمی اوکړې شوه نو دا هم جائز ده او که د صبح صادق نه مخکښې په شپه کښې رمی اوکړې شوه نو د هغې اعاده به لازم وی

د امام شافعی دلائل: ① حديث عَبْدِ اللَّهِ مَوْلَى أَسْمَاءَ قَالَ قَالَتْ لِي أَسْمَاءُ وَهِيَ عِنْدَ دَارِ الْمُزْدَلِفَةِ هَلْ غَابَ الْقَمَرُ قُلْتُ لَا. فَصَلَّتْ سَاعَةً ثُمَّ قَالَتْ يَا بُنَيَّ هَلْ غَابَ الْقَمَرُ قُلْتُ نَعَمْ. قَالَتِ ارْحَلْ بِي. فَارْتَحَلْنَا حَتَّى رَمَتِ الْجَمْرَةَ (الحديث) رواه مسلم ﴿د

جواب: د دې حديث ځخه جواب دا دې چه اسماء ﷺ چه سحر روانه شوه د هغې په بيان کولو کښې مولی اسماء مبالغه کړې ده او په غلس شديد باندې د ليل اطلاق کولو کښې ئې د توسع نه کار اخستلي دي. اصل کښې اسماء د صبا صادق د راختلو نه پس فورا رمی کولو سره راغلې وه، د هغې نه مولی اسماء ﷺ په شپه کښې د رمی کولو نه تعبير اوفرمائيلو.

Maktaba Tul Ishaat.com

② ابوداؤد په روایت کښې (فقلت انا رمینا الجمرة بلیل وغسلنا، وعن عائشة ارسل النبی ﷺ بام سلمة لیلة النحر فرمت الجمرة قبل الفجر الحدیث رواه ابوداؤد) ددې احادیثو نه معلومه شوه چه رمی جمار د سحر نه مخکښې کړې شوې دې، او د طلوع فجر نه مخکښې شپه وی.

جوابونه: ① د دې حدیث (فرمت الجمرة قبل الفجر) څخه جواب دا دې چې په دې کښې د قبل الفجر نه رمی باللیل مراد نه دې بلکه رمی قبل صلاة الفجر مراد دې.

② طیبی رحمه الله فرمائی چه رمی قبل الفجر د ام سلمه رضی الله عنها دپاره کیدې شی چه خصوصی حکم وی (الفتح ٣٣٣/٣، البذل ١٧٠/٣، التعلیق ٢٢٩/٣)

د احنافو دلیل: حدیث ابن عباس یَقُوْلُ: "أُبَيْنِيَّ، لَا تَرْمُوا الْجَمْرَةَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ وهو دلیل علی عدم جواز الرمی فی اللیل وعلیه ابوحنیفة والاکثرون خلافا للشافعی کما فی التعلیق)

[٢٦١٤] د امام شافعی مستدل

—[١١] (١)① وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ②«أَرْسَلَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِأُمِّ سَلَمَةَ لَيْلَةَ النَّحْرِ ③ فَرَمَتِ الْجَمْرَةَ فِي الْفَجْرِ، ثُمَّ مَضَتْ فَأَفَاضَتْ، ④ وَكَانَ ذَلِكَ الْيَوْمُ الْيَوْمَ الَّذِي يَكُونُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عِنْدَهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① د مؤمنانو مور بي بي عائشه رضی الله عنها فرمايي ② چې نبی کریم ﷺ بي بي ام سلمه رضی الله عنها د بقر عید (د قربانۍ د اختر یعنی د لوی اختر) په شپه د مزدلفې څخه منې ته اولیږله ③ نو هغه هلته رسیدو سره د سحر څخه مخکې په جمره عقبه کانړي وویشتلې، بیا د هغه څخه مکې ته راغله، او طواف افاضه يې وکړې (چې فرض دی) ④ او دا هغه ورځ وه چې په هغه کې نبی کریم ﷺ د هغی سره وو، یعنی دا د بي بي ام سلمه رضی الله عنها د خل ورځ وه. ابوداؤد

حل اللغات: ① مَضَتْ: أَيْ: ذَهَبَ مِنْ مِنًى: د منی نه واپس لاړه، ② فَأَفَاضَتْ: أَيْ: طَافَتْ طَوَافَ الْإِفَاضَةِ: طواف افاضه یعنی طواف زیارت.

تسهیلات: قوله: بِأُمِّ سَلَمَةَ:

حدیث نه د جمهورو جواب: داحدیث د امام شافعی رحمه الله دلیل دې چه د سحر د راختلونه وړاندې جمره عقبه ویشتل جائزدی سره ددې چه د نمر د راختلونه پس غوره دی. جمهورو داحدیث په څه عذر او څه وجه باندې حمل کړې دې چه دلته څه خصوصیت وو ګنی عام حکم هم هغه دې چه د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په روایت کښې دې. دې نه وړاندې بیان شوې دې چه د نمر د راختلونه پس د جمره عقبه رمی ده.

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک، باب التعجیل من جمع (رقم-١٩٤٢)

[٢٦١٥] په عمره کښې تلبيه کله موقوف کولې شي

[١٢] ()① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ "يُلَبِّي الْمُقِيمُ، أَوِ الْمُعْتَمِرُ حَتَّى يَسْتَلِمَ الْحَجَرَ" رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ: وَرُوِيَ مَوْقُوفًا عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه: ① ابن عباس ﷺ فرمايي چې مقيم او عمره کونکی دی د حجر اسود د مچې (پېه کولو) تر وخته لبيك وايي، ابوداؤد ﷫ دا روايت بطريق مرفوع نقل کړی دی، او ويلي يې دي چې دا حديث په ابن عباس ﷺ موقوف دی.

حل اللغات: ① يُلَبِّي: تلبيه يعني لبيك...الخ، دعا دې واني. ② الْمُقِيمُ: په مکه کښې وسيدونکي. ③ الْمُعْتَمِرُ: عمره کونکي.

تسهيلات:

قوله: يُلَبِّي الْمُقِيمُ، أَوِ الْمُعْتَمِرُ:

د معتمر څخه مراد: د مقيم نه مراد هغه معتمر دې کوم چه په مکه مکرمه کښې مقيم وی، او د معتمر نه آفاقی معتمر مراد دې. اوس حرف ﴿ او ﴾ د تنويع دپاره دې يا د دواړو نه مطلقا معتمر مراد دې نو حرف ﴿ او ﴾ د شك دپاره دې، ابوداؤد دا حديث مرفوعا نقل کولو سره فرمائی ﴿ وروی موقوفا ﴾ دلته مصنف ﷫ د ابوداؤد صرف ﴿ روی موقوفا ﴾ نقل کړو نو اقتصار مخل د مصنف د طرف نه شوی دې، مناسب دا وه چه اول ئې د ابن عباس نه مرفوعا نقل کړې وې او بيا ئې ﴿ روی موقوفا ﴾ وئلې وې، دا حديث په دې باب کښې استطرادا او تبعا راوړلې شو.

د معتمر د تلبيه قطع کولو په وخت کښې مذاهب:

① د معتمر د قطع تلبيه متعلق اختلاف دې، امام مالك ﷫ فرمائی چه د معتمر نظر چه کله په بيت الله باندې پريوځی نو تلبيه دې منقطع کړی، د امام مالك نه هم دا روايت دې چه د مکې کورونو ته کتلو سره دې تلبيه قطع کړی.

② د امام ابوحنيفه، شافعی، احمد، اسحاق او ثوری په نزد چه کله د حجر اسود استيلام اوکړی نو تلبيه دې قطع کړی.

د حاجی د تلبيه قطع کولو په وخت کښې مذاهب:

① بيا د حج کونکی د قطع تلبيه متعلق اختلاف دې، پس د امام مالك، سعيد بن المسيب او حسن بصری ﷭ وغيرهم په نزد به حج کونکې په عرفه کښې د وقوف کولو نه پس تلبيه قطع کړی، كما في الهداية ج ص ٢٢٦.

() اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک، باب متی يقطع المعتمر التلبية (رقم-١٨١٧)

Maktaba Tul Ishaat.com

② د امام ابوحنيفه، صاحبين، امام شافعي، احمد، اسحاق، ثوري، عطاء، طاؤس او جمهور امت په نزد دې د رمي جمرة عقبه پورې تلبيه نه قطع کوي.

د تلبيه قطع کولو په وخت کښې د فريق ثاني څپل مينځ کښې اختلاف: ① بيا فريق ثاني کوم چه جمهور دی د هغوی ترمينځه اختلاف دې، د احمد او اسحاق په نزد د رمي جمره د پوره کولو پورې دې تلبيه نه منقطع کوي.

② د امام ابوحنيفه شافعي او ثوري رحمهم الله وغيرهم په نزد دې د رمي الجمرة د اولنی کانړي سره تلبيه قطع کړی

د اول فريق دليل: روی ابن خزيمه عن ابن عباس عن الفضل قال افضت مع النبي ﷺ من عرفات فلم يزل يلبي حتى رمي الجمرة العقبة ويکبر مع کل حصاة ثم قطع التلبية مع اخر حصاة.

د دويم فريق دليل: کما روی البيهقي عن ابي وائل عن عبد الله قال نظرت النبي ﷺ فلم يزل يلبي حتى رمي الجمرة العقبة (کما في الهداية ۱/۲۲۹)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٦١٦] حضور ﷺ د عرفات او مزدلفي پوره درميانې لار پر سورلۍ قطع کړه

٢٦١٢-[١٣] ([1]) ① عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ عَاصِمِ بْنِ عُرْوَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ الشَّرِيدَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- يَقُولُ: ② "«أَفَضْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَمَا مَسَّتْ قَدَمَاهُ الْأَرْضَ حَتَّى أَتَى جَمْعًا»" رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه ① د يعقوب بن عاصم بن عروه (تابعي) رحمه الله څخه روايت دی، هغه د شريد (صحابي) رضي الله عنه څخه واوريدل، ② چې زه (د عرفات څخه) په واپس تلو کې د نبی کريم ﷺ سره ملګری وم. د نبی کريم ﷺ قدم مبارك په زمکه نه وولګيدلی تر دې چې مزدلفې ته رااورسيدو، ابوداؤد.

حل اللغات: ① أَفَضْتُ: أَيْ: رَجَعْتُ: راواپس شوم (د عرفات نه). ② فَمَا مَسَّتْ: نه وو لګيدلی، ③ قَدَمَاهُ: قدمونه مبارک د نبی عليه السلام. ④ جَمْعًا: أَيْ: مُزْدَلِفَةَ:

د شريد رضي الله عنه مختصر تعارف: د شريد نه مراد شريد بن سويد دې، د دوی نوم مالک وو دوی د خپل قوم يوسړې قتل کړو او مکې ته اوتختيدو، او اسلام ئې قبول کړو. نبی کريم ﷺ د دوی نوم شريد کيخوده، د دوی حالات شاته تير شوی دی.

تسهيلات:

قوله: فَمَا مَسَّتْ قَدَمَاهُ الْأَرْضَ حَتَّى أَتَى جَمْعًا

د مذکوره جملې مفهوم: د دې مطلب دا نه چه رسول الله ﷺ په ټوله لاره په زمکه باندې قدم

[1]) اخرجه احمد في المسند: ٤/٣٨٩

نه دي ايخودي، بلكه په بخاري شريف كښې روايت دې، چه د عرفات نه واپسۍ باندې نبي د غر يوې درې (كنډو) ته تشريف يوړلو، او هلته ئې متيازې اوكړې اوبيا ئې اودس اوكړو، په دې ليدلو سره حضرت اسامه ﷺ عرض اوكړو اې دالله رسوله ﷺ! ايا دمونځ وخت شوې دې؟ نبی علیه السلام اوفرمائيل چه مونځ خو راروان دې، بعضو ونيلی دی چه نبی علیه السلام اودس اوكړو اوبيا په سورلۍ باندې سور شو.

[٢٦١٧] دَ حجاج بن يوسف حج

[١٤] ()١ وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ "أَخْبَرَنِي سَالِمٌ ٢ أَنَّ الْحَجَّاجَ بْنَ يُوسُفَ عَامَ نَزَلَ بِابْنِ الزُّبَيْرِ، سَأَلَ عَبْدَ اللَّهِ: ٣ كَيْفَ نَصْنَعُ فِي الْمَوْقِفِ يَوْمَ عَرَفَةَ؟ ٣ فَقَالَ سَالِمٌ: إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ السُّنَّةَ فَهَجِّرْ بِالصَّلَاةِ يَوْمَ عَرَفَةَ ٥. فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ: صَدَقَ، إِنَّهُمْ كَانُوا يَجْمَعُونَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ فِي السُّنَّةِ.

ترجمه: ١ ابن شهاب رحمه الله وايي چې د عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما خوی سالم رحمه الله ماته خبراكړې ٢ چې حجاج ابن يوسف په كوم كال حضرت عبد الله ابن زبير رضي الله عنهما قتل كړې، په هغه كال هغه (مكې ته د راتلو څخه پس) د عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما څخه پوښتنه وكړه، ٣ چې مونږ د عرفې په ورځ د وقوف په دوران كې څه وكړو؟ (يعني په عرفات كې په هغه ورځ د ماسپخين او مازيګر مونځ د وقوف څخه مخكې وكړو يا د وقوف په دوران كې يا د وقوف څخه پس؟) ٣ د دې جواب سالم رحمه الله وركړې كه ته په سنت عمل كول غواړې، نو د عرفې په ورځ (د ماسپخين او مازيګر مونځ) د وخته وكړه (دې جواب اوريدو سره) ٥ عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما وفرمايل چې سالم صحيح وايي ځكه چې صحابه وو رضي الله عنهم به د سنت طريقه اختيارولو د پاره د ماسپخين او مازيګر مونځ يو ځای كولی،

حل اللغات: ① فَهَجِّرْ: أَيِ: الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ: نو وختی اوكړه (د ماسپښين او مازيګر مونځونه)،

١ فَقُلْتُ لِسَالِمٍ: أَفَعَلَ ذَلِكَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ ٢ فَقَالَ سَالِمٌ: وَهَلْ تَتَّبِعُونَ فِي ذَلِكَ إِلَّا سُنَّتَهُ؟! رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ نو ما سالم ته اوويل چې آيا داكار رسول عليه السلام كړي وو؟ ٢ نو سالم په جواب كې وفرمايل چې صحابه ووخوهم داكار دنبي عليه السلام دسنتو په اتباع كې كاوی بخاری.

حل اللغات: ② تَتَّبِعُونَ: اتباع يعنی تابعداری په كوله تاسو.

تسهيلات:

قوله: عَامَ نَزَلَ بِابْنِ الزُّبَيْرِ:

دابن زبير رضی الله عنه دمظلوميت واقعه: دَ ابن زبير نه مراد حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه دې. دَ حجاج بن يوسف دَ ظلم داستان څه پټه خبره نه ده. داسې دَ ظلم او زياتی يوعلامت

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب الجمع بين الصلاتين بعرفة (رقم-١٦٦٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

وو ۱۲۴۰۰۰سرې اوترل او بې ګناه ئې قتل کړې وو هغه ته به خوراك ترهغه وخته پورې مزه نه ورکوله ترکومې چه به ئې دَهغې نه مخکښې قتل نه وو کړې دې ظالم په حضرت عبدالله ﷺ بن زبیر باندې په مکه کښې حمله اوکړه اوحضرت عبدالله ئې شهید کړو. دې نه پس عبدالملك بن مروان دې دَ حج امیر جوړولوسره مکې ته روان کړو اوحکم ئې ورکړو چه دَحج په ټولو مسائلوکښې دَحضرت عبدالله بن عمر ﷺ نه رهنمائي حاصله کړه چنانچه هم په دې سلسله کښې حجاج بن یوسف دَحضرت ابن عمر ﷺ نه مسئله معلوموي

[۶]بَابُ رَمْيِ الْجِمَارِ

دجمراتودَ ویشتلوبیان

خلاصة الباب:

فيه تسعة أحاديث مشتملة على ثماني مسائل:

① الرمي راكباً: ۱، ۶.

② الرمي بمثل حصى الخذف: ۲.

③ وقت الرمي: ۳.

④ مكان الرمي : ۴.

⑤ وجوب الرمي بسبع حصيات : ۴، ۵.

⑥ غرض الرمي: ۷.

⑦ عدم البناء بمنى للاستظلال: ۸.

⑧ عدم الوقوف بعد رمي جمرة العقبة: ۹.

قال الله تعالى ﴿ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۚ وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۙ لِمَنِ اتَّقٰى ﴾

اسورة بقره الايه:۲۰۳.

الجمار دَ جمرة جمع ده په لغت کښې جمرة وړوکې کاڼړې ګیټکې ته وائي اوکه چرې دا لفظ دَ باب تفعل نه راشي نو تجمر دَ جمع کیدوپه معنی کښې دې. عرب وائي "تجمر بنوفلان" دَ فلانکې قبیلې خلق جمع شو. "وفي الحديث ان آدم عليه السلام رمى ابليس بمنى فاجمر بين يديه اي اسرع فسمي الجمارية" (طيبي)االكاشف.

په درې څيزونو باندې د استجمار اطلاق:

دَ استجمار اطلاق په دريو څيزونو باندې کيږي

① په انګيټهي کښې چه کله عود اچولې شي اودَهغې نه سرې لوګي اخلي هغې ته هم استجمار وائي.

④ دَ استنجاء دَپاره چه کله سرې طاق کاڼرې یا لوټې استعمالوی په هغې دَ استجمار اطلاق کیږی

⑤ په منٰی کښې چه کله سړی دغه ستنې په کاڼرو باندې اولی کومې چه هلته جوړې شوی دی هغې ته هم استجمار وائی. چونکه حاجیان صاحبان دلته جمع کیږی هم او کاڼری هم اولی په دې مناسبت سره دې ته استجمار اوونیلې شو.

درمی الجمار تاریخی پس منظر: اهل تاریخ لیکی چه کله حضرت ابراهیم علیه السلام حضرت اسماعیل علیه السلام دَ ذبح کولو دَپاره په منٰی کښې قربان گاه طرف ته بوتللو نو ابلیس یوځل دَ حضرت ابراهیم علیه السلام په زړه کښې وسوسه واچوله. حضرت ابراهیم علیه السلام هغه په اووه کاڼرو باندې اوویشتلو دې نه پس ابلیس غائب شو او په دویم او دریم مقام باندې راښکاره شو هلته هم حضرت ابراهیم علیه السلام هغه په اووه کاڼرو باندې اوویشتلو. الله تعالی دَ حضرت ابراهیم علیه السلام دا عمل دَ حاجیانو دَپاره دَ یادګار په توګه باقی اوساتلو او حاجیان دَ شیطان نه دَ نفرت او دَ رحمن سره دَ عقیدت په بنیاد باندې کاڼری ویشتلې شی.

پخوانئی زمانه کښې دا ستنې ښکته په زمکه باندې جوړې شوې وې اوس هم دا په زمکه باندې دی لیکن دَدې دَپاره لوئی پل جوړ کړې شوې دې او په پل کښې دَ تنور په شان درې سوري دی دَهغې لاندې دا ستنې دی اوس لاندې په زمکه باندې هم رمی کیږی خود پاسه هم خلق رمی کوی. کاڼرې ښکته په ستن باندې لګی په دې کښې آسانی ده.اوس دَ سعودی حکومت دا خیال دې چه په دې پل باندې دَ پاسه دغه شان یو څو پلونه جوړ کړی دې دَ پاره چه دَ جمرات په رمی کښې آسانی وی ځکه چه خلق زیات تر هم په رمی کښې مره کیږی.

درمی جمرات حکم: رمی جمرات دَ جمهورو په نیز واجب ده په ترک کولو سره دم واجب کیږی. امام مالک رحمه الله دې ته سنت مؤکده وائی مګر په ترک کولو باندې جبر نقصان لازم ګرځوی نو دا اختلاف لفظی پاتې شو.

د جمراتو د محل وقوع بیان: په جمراتو کښې یو دَ جمرة العقبه په نوم سره مشهوره ده دا دَ حرم شریف طرف ته واقع دې چه مسجد خیف سره دې. دې نه پس جمرة الوسطی دې چه دَ مزدلفه طرف ته په مینځ کښې واقع دې او دریم جمرة الاولی دې دا دَ مزدلفه نه دَ راتلو په وخت دَ ټولونه اول په لار کښې راځی. دَ مزدلفه نه راتلونکی حاجی له دَ ټولونه مخکښې جمرة الاولی راځی بیا جمرة وسطی او بیا جمرة عقبه چه آخیره ده. دې ته عقبه ځکه وائی چه دا دَ ټولو شاته ده.

درمی الجمرات ترتیب: په لسم ذوالحجه باندې صرف هم دا جمره عقبه ویشتلې شی. حضرت ابراهیم علیه السلام دَ ټولونه اول شیطان هم په دغه ځائی کښې ویشتلې وو.

دې نه پس په یوولسم دولسم او دیارلسم ذوالحجه پورې دریواړه جمرات هم په دغه ترتیب

Maktaba Tul Ishaat.com

سره ویشتلې شي په کوم ترتیب چه دا ولاړدی. یعنی دَ مزدلفه دَ طرف نه تولو نه اول جمرة الاولی ویشتلې شي بیا وسطی او آخره کښې عقبه ویشتلې شي په دویمه اودریمه ورځ لازم دی چه دَ زوال نه پس جمرات اوویشتلې شی دې نه وړاندې معتبرنه دی. مګر ننن صبا دَ سعودی عرب علماؤ دَ مجبورئ دَ وجې نه اجتهادی صورت جوړ ولوسره دا فتوی ورکړې ده چه دَ جمرات رمی هروخت جائزده. دا فتوی ډیره ښه ده. دځلورمې ورځې رمی اختیاري ده یعنی که یوسړې په دیارلسم ذوالحجه باندې دَسحردَ راختونه وړاندې دَمنٰی نه اووتلو نو په هغه باندې دَ دیارلسم ذوالحجه رمی نشته دې. دا دَ احنافو مسلك دې اوکه دَ طلوع فجر نه پس په منٰی کښې پاتې شو نواوس دَځلورمې ورځې یعنی دیارلسم ذوالحجه رمی په ده باندې لازم ده اودا رمی دَ نمردَ راختونه پس جائز ده دَ نمردَ زوال پورې انتظار کول ضروری نه دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲۶۱۸] رمی پیدل غوره ده که په سورلئ؟

۲۶۱۸-[۱] (١) ① «عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ يَرْمِي عَلَى رَاحِلَتِهِ يَوْمَ النَّحْرِ، ② وَيَقُولُ: "لِتَأْخُذُوا عَنِّي مَنَاسِكَكُمْ، ③ فَإِنِّي لَا أَدْرِي لَعَلِّي لَا أَحُجُّ بَعْدَ حَجَّتِي هَذِهِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① جابر ﷺ وایي چې ما ولیدل چې د نحر (قربانۍ) په ورځ نبی کریم ﷺ په خپلې سورلۍ سور کانړي يي ویشتلی، ② او فرمایل یې چې زما څخه د حج افعال زده کړې، ③ ځکه چې زه نه یم خبرچې شاید خپل د دې حج څخه روسته بیا زه حج ونه کړم، مسلم

تسهیلات:

قوله: عَلَى رَاحِلَتِهِ يَوْمَ النَّحْرِ:

په سورلئ باندې رمی کول: دَدې حدیث نه معلومیږی چه حضوراکرم دَ جمره عقبه رمی په لسم ذوالحجه دَ ورځې سوریدو سره کړې. رمی دَ څلورو ورځو پورې وی په دې باندې دَ ټولو ائمه حضراتو اتفاق دې چه څلور واړه ورځې رمی پیدل هم جائز دی اوکه چاته تکلیف نه وی اوممکن وی نو سوریدوسره هم جائزده. دَ رمی راکبًا اوماشیاً په جواز کښې دَ چااختلاف نشته

د رمی راکباً او ماشیاً په افضلیت کښې مذاهب:

البته دَدې په افضلیت کښې اختلاف دې چه کومه طریقه افضل ده.

① دَ اسحاق بن راهویه ﷫ او امام احمدبن حنبل ﷫ په نیز رمی مطلقًا ماشیاً افضل ده.

② دَ امام مالك ﷫ په نیز دَ یوم نحرنه پس دریواړو ورځو کښې رمی ماشیاً غوره ده اوکه

---

(١) اخرجه مسلم فی كتاب الحج /باب استحباب رمي جمرة العقبة يوم النحر راكبا، وبيان قوله صلى الله عليه وسلم «لتأخذوا مناسككم» (رقم-٣١٠ - (١٢٩٧)

په يوم النحر کښې جمره عقبه ته چرته راکبًا اورسي نو راکبًا غوره ده او که ماشياً رسيدلي دې نو ماشياً غوره ده.

③ دَ شوافع په نيزدا تفصيل دې که دَ جمره عقبه پورې چرته په يوم النحر کښې راکبًا اورسيدو نو راکبًا غوره ده او که ماشياً رسيدلي دې نو ماشياً غوره ده دې نه پس دَ دوارو ورځو رمي ماشياً غوره ده او دَ آخري ورځې رمي راکبًا غوره ده.

④ دَ احناف په نيز صاحب دَ هدايه په هدايه کښې ليکلي دي دَ کوم رمي نه پس چه بله رمي ده نو رومبې رمي پيدل کول غوره دي ځکه چه په دې کښې وقوف وي او دعاوي او دا پيدل زيات بهتر ده په کوم کښې چه تواضع ده او دَ کومې رمي نه پس چه رمي نشته دې لکه جمره عقبه نو په دې کښې راکبًا رمي غوره ده. په احنافو کښې دا دَ امام ابويوسف رحمه الله مسلك دې او اکثر احنافو هم په دې فتوىٰ ورکړې ده دا ډيره ښه ده.

دَ مرګ په وخت کښې دَ فقهي مسئلې تعليم ورکول: ابراهيم بن جراح رحمه الله فرمائي زه په مرض الوفات کښې امام ابويوسف رحمه الله ته لاړم نو هغه سترګې کولاؤ کړې مانه ئې تپوس اوکړو رمي ماشياً غوره ده که راکبًا؟ ماوئيل ماشياً غوره ده. (فتاوىٰ خانيه هم دغه شان ليکلي دي) امام ابويوسف رحمه الله اوفرمائيل دا دې غلط او وئيل ما او وئيل راکبًا غوره ده (فتاوىٰ ظهيريه هم داسې ليکلي دي)

امام ابويوسف رحمه الله اوفرمائيل دا هم غلط ده بيا هغوي پخپله اوفرمائيل دَ کومې رمي نه پس چه بله رمي وي هغه ماشياً غوره ده او کوم نه پس چه رمي نشته دې هغه راکبًا غوره ده. ابراهيم رحمه الله فرمائي چه زه دَ هغه نه پاسيدم لاړم. اوس لاره دَ کور دروازې ته رسيدلې روم چه دَ هغوي دَ مرګ آواز راغلو ماته په دغه حالت کښې دَ هغه حرص على العلم باندې ډيره حيرانتيا اوشوه. [تعليق الصبيح: ۳/۲۳۱۲].

دَ کانړو تعداد او دَ هغې دَ ويشتلو طريقه

٢٦٣١–[٢] (١) ① وَعَنْهُ قَالَ: "«رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَمَى الْجَمْرَةَ بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① جابر رضي الله عنه وايي ما نبى کريم صلى الله عليه وسلم دَ خذف سنګريزو په شان يعنى په وړو وړو کانړو سره په رمي جمار کولو ليدلى دى، (٢)، مسلم.

حل اللغات: ① حَصَى الْخَذْفِ: دَ حصاة جمع ده ګيټکوته وائي. الْخَذْفِ: يعنى په دومره اندازه ګيټکې چه دَ دوو ګوتو په مينځ کښې راشى چه دَ لوبيا دانې نه لږ شان لوئى وى.

(١) اخرجه مسلم فى كتاب الحج /باب استحباب كون حصى الجمار بقدر حصى الخذف (رقم-٣١٣ - (١٢٩٩))

(٢) په جمره (شيطان) دَ وړو کانړو دَ ويشتلو طريقه په دَ څو طريقو سره منقول ده خو زياته آسانه او صحيح طريقه دا ده چې وړه کانړې دى دَ شهادت په ګوته او دَ متې ګوتې په سرونو نيولو سره وويشتل شي او اوس معمول هم داسې دى.

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات: قوله: الْخَذْفِ:

دخذف څخه مراد: دا هغه وړوکي کاڼړي ته وائي کوم چه په دوو ګوتوکښې سړي نیسي او اولي دا د چنړي د داني نه لږشان لوئي وي. ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي د لوبیا د داني برابر یا د کهجوري د هډوکي برابر یا چه د ګوتي د بند برابر وي نه دي نه لوئي وي او نه وړوکي

د رمي جمرات ويشتلو آسانه طريقه: د دي حدیث نه معلومه شوه چه د وړوکو کاڼړو استعمال مسنون دي نن صباخلق چپړي او څپلئي وغيره باندي ويشتل کوي دا غلط دي یا لوئي کاڼړي اوولي دا هم غلط دي په کوم سره چه د چا د سرماتیدو خطره وي د کاڼړو ويشتلو راجح او آسانه طريقه دا ده چه په غټه ګوته او د شهادت په ګوته کښي او نیسي اولي او دا دعا دي لولي "بسم الله الله اکبر رضی للرحمان وترغیما للشیطان".

[۲٦۲۰] د رمي جمار وخت

۲٦۲۰-[۳] ()[١] وَعَنْهُ قَالَ: "«رَمَى رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الْجَمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ ضُحًى،[٢] وَأَمَّا بَعْدَ ذَلِكَ، فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١] جابر رضي الله عنه وايي چي نبی کریم صلی الله علیه وسلم د قرباني په ورځ د څابښت په وخت (یعني: زوال ل څخه مخکي) په ځلي کاڼړي وويشتلي،[٢] او په وروسته ورځو کي یې د زوال څخه روسته کاڼړي وویشتلي، بخاري، مسلم.

حل اللغات: (١) ضُحًى: د څابښت وخت (د نمر راختلو نه واخله تر د زوال پورې).

تسهیلات: قوله: ضُحًى:

د رمي جمرات وختونه: د چاښت وخت د سحر د راختونه واخله د نمر د زوال نه لږ وخت مخکښې پورې وي. د زوال نه مخکښې کاڼړي ويشتل صرف په لسم د ذوالحجه د ورځې جائز دي او په نورو ورځوکښې جائز نه دي. اوکه څوك په دیارلسم ذوالحجه د شپې وخت مکي ته واپس نه شو او طلوع فجر په منٰی کښې اوشو نو اوس په هغه باندې د دیارلسم تاریخ رمي واجب کیږي مګر په دې کښې دا رعايت دې چه د زوال نه مخکښې رمي کول جائز دي

په ټولو وختونوکښې د رمي د جواز فتوى: په کال ۲۰۰۵ء کښې د سعودي عرب د حکومت علماؤ د رمي جمرات د وختونو باره کښې یو اجتهادي حکم په وجه د مجبورئي جاري کړې دې چه کوم سړې کوم وخت هم رمي جمار کولې شي هغه دې کوي که هغه مخکښې د زوال نه وي یا روستو د زوال نه وي یا د شپې. زه وایم دا ډیره ښه فیصله ده. د کاڼړي په ستن پورې لګیدل ضروري نه دي بلکه پورته په پل باندې چه کوم تنور شان جوړشوې دې هغې ته رسول ضروري دي.که چرې یو سړې یوډك موټي کاڼړي ستنې سره کیږدي نو د دې اعتبار نشته دې.

---

[١]) اخرجه البخاري في صحيحه ۵۷۹/۳ تعليقا ومسلم في كتاب الحج /باب بيان وقت استحباب الرمي (رقم-۳۱٤ -(۱۲۹۹))

[۲۶۲۱] دَ رمي جمار په وخت تکبير

۲۶۲۰-[۴] (¹) [۱] «وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- [۲] أَنَّهُ انْتَهَى إِلَى الْجَمْرَةِ الْكُبْرَى، فَجَعَلَ الْبَيْتَ عَنْ يَسَارِهِ، وَمِنًى عَنْ يَمِينِهِ، [۳] وَرَمَى بِسَبْعٍ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ، [۴] ثُمَّ قَالَ: هٰكَذَا رَمَى الَّذِي أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] د عبد الله ابن مسعود ﷛ په باره کې منقول دی، [۲] چې هغه د رمي د پاره جمره کبرئ (یعنې جمرهٔ عقبه) ته ورسیدي، نو داسې ودریدلو، چې خانه کعبه يې خپل ښی طرف ته کړه او منی يې چپ طرف ته. [۳] او بیا هغه اووه کاڼي داسې وويشتل، چې د هرکاڼي د ويشتلو په وخت يې تکبير ويلی [۴] بيا هغه وفرمايل چې دغه شان هغه ذات گرامي (یعنې نبی کريم ﷺ) کاڼي ويشتلي دی چې په هغه سورة بقره نازل شوی دی، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① حَصَيَاتٍ: دَ حصاة جمع ده گيټکوټه وائي.

تسهيلات: قوله: يُكَبِّرُ:

د رمي جمرات په وخت مسنون ذکر: دَ رمي جمار په وخت کوم يوذکرالله يا تکبير وی هغه جائز دي. علماؤ مختلف الفاظ ليکلی دی. په عام توګه باندې هم هغه کلمات ليکلې شوی کوم چه پورته ذکر دی. يعنی "بسم الله الله اكبر رضاً للرحمان وترغيماً للشيطان" په دې حديث سره اووه کاڼرې په يوستن باندې ويشتل ثابت شو اونن صبا هم په دې باندې عمل کيږي.

د رمي جمرات کيفيت: په دې حديث کښې دَ نبی کريم ﷺ دَ اودريدو دَ ځائی نقشه پيش کړې شوې ده يعنی چه کله بيت الله گس طرف ته وی اومنی اکثرحصه اومزدلفه ښی طرف ته وی او دَجمره طرف ته مخ وی هم په هغه ځائی باندې حضورپاك اودريدوسره کاڼرې اوويشتل (البقرة). چونکه دَحج مسائل او فضائل زيات تر سورت بقره کښې ذکر دی په دې وجه ابن مسعود ﷛ دَ سورت بقره نوم واخستو گنی پوره قرآن په حضورپاك باندې نازل شوي دي.

[۲۶۲۲] په هره يوه جمرة باندې اووه کاڼرې ويشتل واجب دی

۲۶۲۱-[۵] (²) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] "«الِاسْتِجْمَارُ تَوٌّ، وَرَمْيُ الْجِمَارِ وَالسَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ تَوٌّ، وَالطَّوَافُ تَوٌّ، [۳] وَإِذَا اسْتَجْمَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَجْمِرْ بِتَوٍّ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

¹) اخرجه البخارى فى كتاب الحج/باب من رمى جمرة العقبة فجعل البيت عن يساره (رقم-۱۷۴۹) ومسلم فى كتاب الحج /باب رمى جمرة العقبة من بطن الوادى وتكون مكة عن يساره ويكبر مع كل حصاة (رقم-۳۰۵ - (۱۲۹۶) وابوداود فى كتاب المناسک باب فى رمى الجمار (رقم-۱۹۷۴) والترمذى فى كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء كيف ترمى الجمار (رقم-۹۰۱) والنسائى فى كتاب مناسک الحج/باب: المكان الذى ترمى منه جمرة العقبة (رقم-۳۰۷۲) وابن ماجة فى كتاب المناسک/باب من اين ترمى جمرة العقبة (رقم-۳۰۳۰) واحمد فى المسند: ۴۵۸/۱

²) اخرجه مسلم فى كتاب الحج /باب بيان ان حصى الجمار سبع (رقم-۳۱۵ - (۱۳۰۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه [١] جابر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] استنجاء تاك [طاق] ده (يعني د استنجاء د پاره دري لوټي اخستل پكار دي) گټي ويشتل تاك دي (يعني اووه گټي ويشتل پكار دي) د صفاء او مروه په منځ كې سعي تاك ده (يعني د دې دواړو په منځ كې اووه خله چكر وهل پكار دي) د خانه كعبې شاوخوا طواف تاك دي (يعني د اوو چكرو يو طواف دي) [٣] او كه په تاسو كې څوك د گرېتې دود اخستل غواړي، نو هغه ته پكار دي چې تاك (يعني دري يا پنځه يا اووه خله) واخلي، يعنى خوشبو هم تاك لگول پكار دى، مسلم

حل اللغات: ① الإِسْتِجْمَارُ: أَيْ: الإِسْتِنْجَاءُ بِالْأَحْجَارِ: په كاڼو لوټو سره استنجاء كول. ② تَوٌّ: دالفظ د طاق او وتر په معنى كښې دي، مثلا يو، دري، پنځه وغيره.

تسهيلات: **قوله**: الإِسْتِجْمَارُ:

داستجمار د لفظ اطلاقات: داستجمار لفظ په مختلفوځيزونو باندې وئيلې شي په دې حديث كښې د دغه ځيزونو ذكر دي. مثلاً د استنجاء د لوټو د استعمال دپاره دالفظ دلته راغلي دي اودكاڼو ويشتلودپاره هم دا لفظ دلته راغلې دې. سره دَدې چه دلته په دې كښې استجمارنشته دې مگر ځيز هم يودې. دغه شان د لوگى دَاخستلو دپاره دا لفظ استجمار راغلي دې په انگيټھى كښې چه كله عود اچولې شى او خوشبوسره لوگې اوچتيږى اوپو سړې دغه لوگې دَ خوشبوئى حاصلولودپاره اخلى نودې ته هم استجماروائى.

قوله: تَوٌّ:

د تاق عدد الفضليت: په دې حديث كښې اوخودلې شوچه دَ استنجاء لوټې درې استعمالول پكاردى چه طاق دى. رمى جمار طاق دې كوم چه اووه كاڼړى دى. دَ صفامروه په مينځ كښې دَ سعى چكرې اووه دى كوم چه طاق دى. دَ طواف چكرې اووه دى كوم چه طاق دى دغه شان لوگې اخستل طاق دى چه درې خل وى يا پنځه خل يا اووه خل وى دَ خلقو په مزاج باندې منحصر ده.

الْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٦٢٢] په سورلئى باندې رمى جمار

٢٦٢٣–[٦] (١) [١] عَنْ قُدَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمَّارٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَرْمِي الْجَمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ عَلَى نَاقَةٍ صَهْبَاءَ، [٢] لَيْسَ ضَرْبٌ، وَلَا طَرْدٌ، وَلَيْسَ قِيلُ: إِلَيْكَ إِلَيْكَ» رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ، وَالتِّرْمِذِيُّ، النَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

(١) اخرجه الترمذى فى كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية طرد الناس عند رمي الجمار(رقم-٩٠٣) والنسائى فى كتاب الجهاد/باب: وجوب الجهاد (رقم-٣٠٩٢) وابن ماجة فى كتاب المناسك/باب رمي الجمار راكبا (رقم-٣٠٣٥) واحمد فى المسند: ٤١٢/٣

ترجمه [۱] قدامه بن عبدالله ابن عمار ﷺ وايي چې ما د قرباني په ورځ نبی کریم ﷺ و لیدلو، چې نبی کریم ﷺ په خپلي اوبنې صهباء باندې سور (په جمره عقبه) يې ګټې ویشتل، [۲] نه هلته وهل وه، نه شړل او نه د لرې او دوری شي آوازونه وو، شافعي، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، دارمي.

حل اللغات: ① صَهْبَاءَ: دا د نبی علیه السلام د یوي اوبنې نوم دي، وَهِيَ: اَلَّتِي يُخَالِطُ بَيَاضَهَا حُمْرَةٌ: صهباء هغي اوبنې ته وائی چه سور سپینګ رنګ باندې مشتمل وی. ② ضَرْبٌ: أَيْ: مَنْعٌ: وهل، منع کول. ③ لَاطَرْدٌ: دَفْعٌ بِاللُّطْفِ: په نرمۍ سره شړل، اخوا کول. ④ لَيْسَ قِيلُ: نه پکښې دا خبره وه چه: ⑤ إِلَيْكَ إِلَيْكَ: اخوا شئ، لرې شئ یعنی لاره پریږدئ.

تسهیلات:

قوله: ضَرْبٌ، وَلَاطَرْدٌ:

د ضرب او طرد وضاحت: دَ امیرانو اوبادشاهانو دَ سورلئی مخکښې نقیب اوچوب دار دَ لارې صفا کولو دَپاره ځی اوخلق دَ لارې نه دَ اخوا کولودَپاره وهی اوهغوی پرده کوی هم دې ته ضرب وطرد وائی. دا خلق په خله باندې چغې صورې وهی چه اخوا شئی لرې شئی مهمان خصوصی راروان دې لاره پریږدئی. حضورپاک سره به داسې معامله نه وه عاجزی به وه او تواضع او ډیره اوچته نقشه به وه.

[٢٦٢٤] سعي اورمي د ذكر الله ذريعه

---[۷] ()[۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«إِنَّمَا جُعِلَ رَمْيُ الْجِمَارِ وَالسَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ لِإِقَامَةِ ذِكْرِ اللَّهِ» ". [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضي الله عنها د نبی کریم ﷺ څخه نقل کوي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل [۲] په خلو ګټي ویشتل او د صفاء او مروه په منځ کې چکر لګول د ذکر الله د قیام د پاره دی، [۳] ترمذي، دارمي، امام ترمذي فرمایلی دی چې دا حدیث حسن صحیح دی.

تسهیلات:

قوله: لِإِقَامَةِ ذِكْرِ اللَّهِ

سعی او جمراتو ویشتلوته د عبادت ویلووجه: د صفا و مروه په منځ کښې سعی کول او جمرات باندې کانړی ویشتل په ظاهر کښې عبادت نه ښکاری په دې وجه نبی علیه السلام اوفرمائیل چه دا کار هم د الله عبادت د پاره کولې شی.

() اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک /باب فی الرمل (رقم-۱۸۸۸) والترمذی فی کتاب الحج عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء کیف ترمی الجمار (رقم-۹۰۲) وأحمد فی المسند:

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٦٢٥] مِنٰی کښې دَ چاډپاره خالي متعین کول جائز نه دي

٢٦٢٥-[٨] ( ) ١ وَعَنْهَا قَالَتْ: «قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، أَلَا نَبْنِي لَكَ بِنَاءً يُظِلُّكَ بِمِنًى؟ ٢ قَالَ: "لَا، مِنًى مُنَاخُ مَنْ سَبَقَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه ١ بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې مونږ عرض وکړ چې يا رسول الله! ﷺ آيا مونږ ستاسو د پاره په منٰی کې څه داسې عمارت جوړ نه کړو چې ستا د پاره د سايې ځاى وي. ٢ نبی کريم ﷺ وفرمايل چې يا، منٰی د هغه سړي د اوښ د چوکيدلو (کيناستلو) ځای دی، چې مخکې ورسيږي، ترمذي، ابن ماجه، دارمي.

حل اللغات: ① أَلَا نَبْنِي: د متکلم صيغه ده، آيا جوړنه کړو مونږ، ② بِنَاءً: عمارت، کور. ③ يُظِلُّكَ: چه سوري اوکړي په تاسو باندې، ④ مُنَاخُ: أَيْ: مَوْضِعُ الْإِنَاخَةِ: د اوښ کيناستلو، چوکيدلو ځائې.

تسهيلات: قوله: مِنًى مُنَاخُ:

په منی کښې د تخصيص مقام ممانعت: دَ اوښ کينولو ځائی ته وائی دلته صرف سکونت او قيام مراد دې يعنی په منٰی کښې دَ يوسړی دَ پاره څه خاص ځائی نه دی جوړول پکار ځکه چه په منٰی باندې دَهغه سړی حق دې څوك چه مخکښې هلته اورسی. صحابه کرامو غوښتل چه دَ خيمې په ځائی يومختصر شان مکان اوعمارت وی چرته چه حضورپاك آرام اوکړی. رسول الله ﷺ په دې وجه منع اوفرمائيله چه راتلونکی وخت کښې به دا دليل جوړوی او ټوله منٰی به په آبادئی باندې راګيره کړی.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٦٢٦] په جمراتو باندې وقوف

٢٦٢٦-[٩] ([1]) ١ عَنْ نَافِعٍ قَالَ: إِنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَقِفُ عِنْدَ الْجَمْرَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ وُقُوفًا طَوِيلًا ٢ يُكَبِّرُ اللهَ، وَيُسَبِّحُهُ، وَيَحْمَدُهُ، وَيَدْعُو اللهَ، ٣ وَلَا يَقِفُ عِنْدَ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه ١ نافع وايي چې ابن عمر رضي الله عنهما به مخکني دواړو څلوته نژدې تر ډېر وخته ودريدلی ٢ او هلته به د الله جل جلاله په تکبير، د الله جل جلاله په تسبيح او د الله جل جلاله په تحميد کې مشغول وو او (لاس اوچتولو سره) دالله جل جلاله څخه به يې دعا غوښتله ٣ او د جمرهٔ عقبه سره به نه ودريدلی، مالك.

[1]) اخرجه المالک فی الموطا فی کتاب الحج /باب رمی الجمار (رقم-٢١٢) واحمد فی المسند: ١٣٩/٦
[2]) اخرجه مالک فی الموطا رقم الحديث ٢١٢ من کتاب الحج

تسهيلات:

قوله: يَقِفُ عِنْدَ الْجَمْرَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ وُقُوفًا طَوِيلًا:

په يولسم دولسم اوديارلسم تاريخ ډ رمی جمراتو ترتيب: په دې روايت کښې دَ يولسم دولسم اوديارلسم تاريخ دَ رمی جمرات ترتيب خودلې شوې دې ګنې په لسم ذوالحجه باندې صرف دَ جمره عقبه رمی کيږی. بهرحال جمره اولی نه پس دَ دعا دَ پاره لږشان وخت اودريدل مسنون دی. بيا دَ وسطی نه پس هم مسنون دی البته جمره عقبه نه پس قيام نشته دې. سره دَدې چه دعا په هرمقام باندې کيږی تفصيل وړاندې تيرشوې دې.

[٧] بَابُ الْهَدْيِ

دَ هدی بيان

خلاصة الباب:

فيه ثمانية عشر حديثاً مشتملة على عشر مسائل:

① إشعار الهدي وتقليدها: ١، ٢، ٥، ٦۔

② ذبح الهدي عن الغير: ٣، ۴۔

③ الركوب على الهدي للضرورة: ٧، ٨۔

④ ما يصنع بالهدى وقت العطب: ٩، ١۵۔

⑤ جواز الهدى عن سبعة نفر: ١٠۔

⑥ كيفية نحر الهدي: ١١۔

⑦ عدم إعطاء أجر الجزار من الهدي: ١٣۔

⑧ جواز الأكل عن لحوم الهدي والأضحية: ١١، ١٧، ١٨۔

⑨ ما يهدى من الحيوانات: ١، ٢، ١۴۔

⑩ الإذن في الأكل من الهدي: ١۶۔

قال الله تعالى ﴿يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللَّهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَائِدَ﴾ [سورت مائده الآيه: ٢].

قوله: وَلَا الْهَدْيَ:

دَ لفظ هدی وضاحت: په ها باندې فتحه اودال ساکن دې. داهغه ځناورته وائی چه دَ ثواب دَپاره په حرم شريف کښې ذبح کولې شی. په دې کښې چيلئی ګډه ګډ، غوا ميخه او اوښ ټول جائزدی. البته په دې ځناوروکښې دَ صحت دَپاره هم هغه شرائط دی کوم چه دَ قربانئی

Maktaba Tul Ishaat.com

شرائط دی. دَ هدی دوه قسمونه دی: ① واجب ② نفل. بیا دَ هدی واجب مختلف قسمونه دی. ① هدی قران ② هدی تمتع ③ هدی جنایات ④ هدی نذر ⑤ هدی احصار.

د الهدی وجه تسمیه: بیا دَ هدی وجه تسمیه داده چه بنده دَ خپل رب په دربار کښې دَقربانئی هدیه لیګی لغت کښې دَهدیه لیګلو په معنی کښې هم راخی اودَ هدیه په معنی کښې هم راخی. په بعضې جنایاتو باندې دَ بدنه قربانی ضروری کیږی بدنه اوښ او غواړ پاره وئیلې کیږی. دې نه علاوه په عام جنایاتو کښې دَ هدی قربانی وی اوهدی ګډه چیلئی او ګډ دَپاره وئیلې کیږی تفصیل راروان دې.

هدی او اضحیه کښې فرق: هدی مکان سره مخصوص ده دَ زمان قید نشته دې او اضحیه زمان سره مخصوص ده دَ مکان څه قید نشته دې.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲٦۲۷]اشعار کول او د غاړه کښې اچولو حکم

۲٦۲۷-[۱] ()[۱] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: "«صَلَّى رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الظُّهْرَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ،[۲] ثُمَّ دَعَا بِنَاقَتِهِ، فَأَشْعَرَهَا فِي صَفْحَةِ سَنَامِهَا الْأَيْمَنِ، وَسَلَتَ الدَّمَ عَنْهَا، وَقَلَّدَهَا نَعْلَيْنِ،[۳] ثُمَّ رَكِبَ رَاحِلَتَهُ، فَلَمَّا اسْتَوَتْ بِهِ عَلَى الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ بِالْحَجِّ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱] ابن عباس ﷺ وایي چې نبی کریم ﷺ (د حج په سفر کې) ذو الحلیفه ته رسیدو سره د ماسپخین مونځ وکړي،[۲] او خپله اوښه (چې د قربانئ د پاره وه) هغه یې طلب کړه او د هغې اوښې د بوک ښی اړخ یې زخمي کړي، او د هغې وینه وچولو سره د هغې په څټ کې د دوو چپلو هار واچولی،[۳] او د دې څخه روسته د خپلې (سوارلۍ) په اوښه (چې د هغه نوم قصواء وه) سور شو، او کوم وخت چې په مقام بیداء باندې اوښه نبی کریم ﷺ آخستو سره ودریدله، نو نبی کریم ﷺ دحج د پاره لبیك وویلی، مسلم.

حل اللغات: ① فَأَشْعَرَهَا: أَيْ: طَعَنَهَا: په نیزه ئې اووهله یعنی زخمی ئې کړه، ② صَفْحَةِ: حصه اړخ ③ سَنَامِهَا: قوب د اوښ، ④ سَلَتَ: أَيْ: مَسَحَ: اوچه ئې کړه (یعنی وینه ئې ترې صفا کړه). ⑤ قَلَّدَهَا: په غاړه کښې ئې ورته رازوړند کړل. ⑥ نَعْلَيْنِ: د نعل تثنیه ده، دوه چپلې، ⑦ اسْتَوَتْ: اودریدله، ⑧ الْبَيْدَاءِ: په ذو الحلیفه کښې د یو ځائې نوم دې. ⑨ أَهَلَّ: أَيْ رَفَعَ صَوْتَهُ بِالتَّلْبِيَةِ: په اوچت آواز ئې تلبیه شروع کړه.

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الحج /باب تقلید الهدی وإشعاره عند الإحرام (رقم-۲۰۵ - (۱۲٤۳) وابوداود فی کتاب المناسک ، باب فی الإشعار (رقم-۱۷۵۲) والنسائی فی کتاب مناسک الحج/باب سلت الدم عن البدن (رقم-۲۷۷٤) واحمد فی المسند:۱/۲۱٦

تسهيلات: قوله: فَأَشْعَرَهَا:

د اشعار تعریف: حرم شریف ته د بوتلونکی څاروی د قب یوطرف ته په نیزه وغیره سره وهل او زخمی کولوسره رنګین کولونوم اشعار دې. اود دغه څاروی په غاړه کښې د څرمن ټکړه ترل یاد څپلو او هډوکو غاړه کښې ته قلاده وائی. په عربو کښې د جاهلیت د زماني دارواج وو په دې عمل سره به په څاروی کښې یوه نښه اوعلامت جوړیدو چه دا د هدی څناور دې. د عربوټولو قبائلو به د هغې احترام کولو او د هغې د حفاظت خیال به نې کولو او هیڅ قسم کار به نې ورسره نه لرلو. اسلام دغه طریقه په ځائی اوساتله دې د پاره چه د بیت الله طرف ته د شرلې شوو هدایا حفاظت په ځائی پاتې شی. تردې خود چاهم اختلاف نشته دې او په غاړه کښې اچولو کښې هم د چا اختلاف نشته البته په اشعار کښې د فقهاؤ اختلاف دې.

قوله: دَعَا بِنَاقَتِهِ، فَأَشْعَرَهَا:

د شعار لغوی او اصطلاحی معنی: په لغت کښې اشعار د علامت لګولو په معنی راځی، په اصطلاح کښې د اشعار معنی اوښ یا اوښه په قب کښې زخمی کولو ته وائی چه معلومه شی چه دا د قربانئ څاروې دې

د اشعار په حکم کښې مذاهب :

① د دې اشعار متعلق اختلاف دې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د جمهور سلف او خلف په نزد دا اشعار سنت دې.

② امام ابوحنیفه او ابراهیم نخعی رحمهما الله فرمائی چه اشعار مکروه دې

د اشعار د مسنونیت دلائل: ① حدیث ابن عباس ﴿صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الظُّهْرَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ، ثُمَّ دَعَا بِنَاقَتِهِ، فَأَشْعَرَهَا فِي صَفْحَةِ سَنَامِهَا الْأَيْمَنِ، وَسَلَتَ الدَّمَ عَنْهَا (ای ازاله واصله القطع) الحديث رواه مسلم،

② عن عائشة قالت فتلت قلائد بدن النبی ﷺ بیدی ثم قلدها واشعرها﴾

د اشعار د کراهت دلیل: امام ابوحنیفه وغیره څکه اشعار ته مکروه وائی چه دا مثله ده.

﴿وروى عن عمران بن حصين ان النبی ﷺ قام خطيبا الانهانا عن المثلة﴾

استدلال: کله چې د اشعار متعلق د سنت او مثله کیدو ترمینځه تعارض شو نو د اصولو په قاعده باندې حرمت لره ترجیح وی.

دامام ابوحنیفه په نیز د اشعار د کراهت وجه: اعلم الناس بمذاهب الفقهاء خاص کر اعلم بمذهب ابی حنیفه، امام طحاوی رحمه الله هم دغه شان شیخ ابو منصور ماتریدی فرمائی چه د امام ابوحنیفه رحمه الله د نفس اشعار او د هغې د سنتیت منکر نه دې.

① اصل کښې خبره داده چه د امام ابوحنیفه رحمه الله د زمانې خلقو چونکه په اشعار کښې مبالغه

Maktaba Tul Ishaat.com

کوله تردې چه د زخم د ګرمئ د وجې نه به د حجاز د ګرمئ د وجې نه د اوښ د هلاکت ویره راتله په دې وجه عوام کوم چه د حد اشعار نه ناخبر وو د هغوی د وجې نه د سد باب دپاره د کراهیت حکم اوکړې شو خو کوم خلق چه د حد اشعار نه خبر وو چه صرف څرمن به پرې کولې شي نه غوښه، اوس چه هر کله ثابته شوه چه امام ابوحنیفه د اشعار منکر نه دې نو په امام الهمام باندې دا اعتراض بې بنیاده دې چه هغه د سنیت اشعار منکر دې.

④ امام محمد رحمه الله خپل کتاب کښې دَ اشعار متعلق احادیث اواثار نقل کولونه پس فرمائیلی دی "وبهذا ناخذ التقليد افضل من الاشعار والاشعار حسن" په دې عبارت کښې امام محمد رحمه الله دَ احنافو اتفاقی مسلك نقل کړې دې. که امام ابوحنیفه رحمه الله دَ اشعار منکر وې نوامام محمد رحمه الله به دَهغې ذکرضرور فرمائیلو ځکه چه دَهغوی عادت اودَ کتاب طرز هم دغه دې چه هغوی دَ خپل مینځ اختلاف ضرور بیانوی. معلومه شوه چه مطلق اشعار دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز جائزبلکه حسن دې.

⑤ امام ابوحنیفه رحمه الله دَتقلید په مقابله کښې اشعارته ترجیح ورکول اودا غوره ګڼړلو ته مکروه وئیلی دی ځکه چه تقلید دَټولو ائمه حضراتو په نیز دَاشعارنه افضل دې.

[۲٦۲۸]په چیلو کښې قلاده وې

۲٦۲۸-[۲]()١وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ ٢«أَهْدَى النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مَرَّةً إِلَى الْبَيْتِ غَنَمًا، فَقَلَّدَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ د مؤمنانو مور بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ٢ چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم (یو ځل) بزي (چیلئ) د هَدي په طور خانه کعبي ته ولیږلی او د هغوئ په څټ کې یې هار واچولی، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ①أَهْدَى: د هدی په طور ئې اولیږل. ②غَنَمًا: بزې، چیلئ، ③فَقَلَّدَهَا: غاړکئ ئې ورته واچولې

تسهیلات: **قوله:** فَقَلَّدَهَا:

د تقلید تعریف: تقلید یعنی قلادة اچول، د دې سره نعل یا څرمن معلق کول مراد دی چه د هدی کیدو علامت شي

په تقلیدغنم کښې مذاهب:

①د امام شافعی او د امام احمد په نیزګد یا ګدې ته غارکی اچول مستحب دی.

② امام ابو حنیفه او امام مالک د تقلید غنم قائل نه دی.

---

(١) اخرجه مسلم فی الحج /باب استحباب بعث الهدی إلی الحرم لمن لا یرید الذهاب بنفسه واستحباب تقلیده وفتل القلائد وأن باعثه لا یصیر محرما ولا یحرم علیه شیء بذلک (رقم-(رقم-٣٦٧- (١٣٢١)

داول فريق اول دليل:

① را روان حديث ((عن عائشة قالت فتلت قلائد بدنة النبي.... الخ)) د دوی مستدل دي.

داول فريق دويم دليل: د حضرت عائشي رضی ا لله عنها روايت ((كنت أفتل قلائد هدي رسول الله غنما)) د دوی مستدل دي.

د دويم فريق دليل: ((وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ)) د دوی مستدل دي. هغه داسې چې دې کښې عطف د مغايرت تقاضا کوی چونکه هدي دوه قسمه ده يو قابل تقليد او بل غير قابل تقليد او غنم غير قابل تقليد دي.

داول فريق د اول او دويم دليل دوه جوابونه:

① د حضرت عائشه رضي الله په روايت کښې د تقليد ابل يا د تقليد بدنه ذکر دې په حديث الباب کښې اسود متفرد دې لهذا دا شاذ دي.

② علامه انور شاه کشميری صاحب فرمائی چه تقليد دوه قسمه دي تقليد بالنعال او تقليد بالخيط المفتول د فقه په کتابونو کښې نفی د قسم اول مراد ده او په حديث الباب کښې اثبات د قسم ثانی دي.

[٢٦٢٩] دَبل دَطرف نه دَقربانئ مسئله

٢٦٢٩ - [٣] (١) ١ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ «ذَبَحَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ عَائِشَةَ بَقَرَةً يَوْمَ النَّحْرِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ حضرت جابر ﷛ وايي ٢ چې نبی کريم ﷺ د قربانۍ په ورځ د بي بي عائشي ﷟ د طرف څخه يوه غوا ذبح کړه، مسلم.

تسهيلات:

قوله: عَنْ عَائِشَةَ بَقَرَةً:

د شوافعو مستدل: دا حديث به د شوافع د مذهب مطابق داسې وی چه عائشي ﷟ ته چه کله په مقام سرف کښې حيض راغلو نو عمره ئې ترک نه کړه بلکه افعال عمره ئې په افعال حج کښې داخل کړل او عائشه ﷟ قارنة شوه په دې وجه د حج د فراغت نه پس رسول الله ﷺ د هغې د طرف نه د دم شکريه په طور غوا ذبح کړه.

د دې مستدل څخه جواب: د احنافو وينا دا ده چه د احاديث نه ثابت دی چه د رسول الله ﷺ ټولې بيبيانې د عائشې ﷟ نه علاوه متمتعه وې، عائشې ﷟ صرف د عمرې احرام تړلې وو، په مقام سرف کښې چه په هغې باندې حيض راغلو نو رسول الله ﷺ ورته د ترک عمره او د احرام بالحج المفرد حکم ورکړو. اوس عائشه ﷟ مفرده جوړه شوه. د حج د

(١) أخرجه مسلم فی كتاب الحج /باب الاشتراک فی الهدي وإجزاء البقرة والبدنة كل منهما عن سبعة (رقم-٣٥٧ - (١٣١٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

فراغت نه پس عبدالرحمن بن ابی بکر ﷺ ته حکم ورکولو سره په هغې باندې عمره هم اوکړې شوه نو دا عمره د هغه عمرې متروکې قضاء ده

رسول الله ﷺ چه د عائشې ﷺ د طرف نه غوا ذبح کړه هغه د ترک عمره د جنایت دم وو او د عائشې ﷺ نه علاوه چه کومې نورې بیبیانې متمتعه وې په هغوی باندې د تمتع دم واجبْ وو پس رسول الله ﷺ د هر یو د طرف نه یو یو څاروې ذبح کړو. کماروی النسائی عن عائشة قالت ذبح عنا النبی ﷺ یوم حجنا بقرة بقرة.

[٢٦٣٠] د نبی کریم ﷺ د خپلو بیبیانو د طرف څخه قربانی

٢٦٣٠-() وَعَنْهُ، قَالَ: «نَحَرَ النَّبِيُّ عَنْ نِسَائِهِ بَقَرَةً فِي حَجَّتِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: د جابر ﷺ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ د حجة الوداع په موقع د خپلو بیبیانو مبارکو د طرف څخه یوه غوا ذبح کړه، مسلم.

تسهیلات: قوله: عَنْ نِسَائِهِ:

په غوا کښې داووه کسانوڅخه د زیاتو په شراکت کښې مذاهب:

ښکاره هم دغه ده چه حضورپاك دَ ازواج مطهرات دَ اجازت نه پس دَهغوی دَ طرفه قربانی کړې وی ځکه چه دَ ژوندی سړی اجازت دَ قربانئی دَپاره ضروری دې.

① دامام مالك ﷺ فرمائی چه که یوه کورنئی وی نودَ پوره کورنئی دَطرف نه یوه قربانی کافی کیږی.

② دَ ائمه ثلاثه په نیز یوه غوا یا یواوبن یا یوه میخه کښې صرف اووه کسان شریکیدوسره قربانی کولې شی زیات نه شی کولې. البته

داول فریق دلیل: په ظاهره دا حدیث الباب دَدوی دلیل دې

دفریق اول د دلیل جواب: دادلیل یقینی نه دې ځکه چه ممکن دی چه دَ اووه ازواج مطهرات دَ طرفه دا قربانی شوې وی.

[٢٦٣١] صرف دَهدایا ځناور لیږلوسره محرم کیږی نه

٢٦٣١-[٥] (٢) ① وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: ② «فَتَلْتُ قَلَائِدَ بُدْنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِيَدَيَّ، ③ ثُمَّ قَلَّدَهَا، وَأَشْعَرَهَا، وَأَهْدَاهَا، ④ فَمَا حَرُمَ عَلَيْهِ شَيْءٌ كَانَ أُحِلَّ لَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بي بي عائشه ﷺ فرمايي ② چې ما د نبی کریم ﷺ د اوښانو د پاره په خپلو

---

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الحج /باب الاشتراک فی الهدی وإجزاء البقرة والبدنة کل منهما عن سبعة (رقم-٣٥٧ - (١٣١٩)

(٢) اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب من أشعر وقلد بذی الحليفة. ثم أحرم (رقم-١٦٩٦) ومسلم فی کتاب الحج /باب استحباب بعث الهدی إلی الحرم لمن لا يريد الذهاب بنفسه واستحباب تقليده وفتل القلائد وأن باعثه لا يصير محرما ولا يحرم عليه شیء بذلک (رقم-(رقم-٣٦٩ - (١٣٢١)

زمونو سره پټي جوړي کړي، [٣] او بیا د هغه اوښانو په څټ کې يې واچولې، او د هغوئ بوګونه يې زخمي کړل، او بیا يې هغه بطور د هدی خانه کعبي ته ولیږل (یعني په سنه۹هـ کې چې حج فرض شو، او حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د حاجیانو امیر جوړولو سره مکې مکرمې ته ولیږل شو، نو د هغه سره د نبی کریم ﷺ د طرف څخه بطور هَدي اوښان ولیږل شو) [٤] او د دې په وجه په نبی کریم ﷺ څه داسې شی حرام نشو، کوم چې د نبی کریم ﷺ د پاره حلال وو، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① فَتَلْتُ: لاس باندې رسئ غړلو او جوړولو ته وائي. ② قَلَائِدَ: جمع د قِلَادَةٌ ده، وَهِيَ مَا تُعَلَّقُ بِالْعُنُقِ: غاړکۍ ته وائي یعنی غاړه کښې چه کوم څيز رازوړند کړې شي. ③ بُدْنٍ: د بَدَنَة جمع ده، وَهِيَ نَاقَةٌ، أَوْبَقَرَةٌ تُنْحَرُ بِمَكَّةَ: هغې قرباني ته وائي چه په مکه کښې قرباني کړې شي (د بدنه معنی ده څربول دوی به هم دا څاروی د قربانۍ د پاره څربول نوځکه ورته بدنة وائي). ④ أَشْعَرَهَا: أَيْ: طَعَنَهَا: په نیزه ئې اووهله یعنی زخمي ئې کړه. ⑤ أَهْدَاهَا: د هدی په طور ئې اولیږل (هدی هغه قربانۍ ته وائي چه د قربانۍ د پاره مکې ته اولیږلې شي).

تسهیلات: قوله: فَمَاحُرِّمَ:

د حضرت عائشه ﷺ د حضرت ابن عباس ﷺ په قول باندې رد کول: یعنی حضورپاك پخپله په مدینه منوره کښې وو لیکن حضورپاك د هدايا څاروی د بیت الله شریف طرف ته روان کړل په دې سره حضورپاك محرم جوړنه شو ځکه چه صرف قلاده یا اشعار کولوسره سړې په احرام کښې نه داخلیږي ترکومې پورې چه احرام تړلوسره د نیت نه پس تلبیه اونه وائي. حضرت عائشه ﷺ د دې حدیث په بیانولو سره په حضرت ابن عباس ﷺ باندې رد کول غواړي چه فرماني چه کوم سړې غاړکۍ واچوله یائې اشعار اوکړو او څاروی ئې د مکې طرف ته روان کړل مګر پخپله په کورکښې وی نو په هغه باندې هغه ټول څيزونه حرام کیږي کوم چه په محرم باندې حرام کیږي.

[۲۶۳۲] دوړی څخه د هدي څاروی دپاره غاړکۍ جوړول

۲۶۳۲-[٦] (١) [١] وَعَنْهَا، قَالَتْ: «فَتَلْتُ قَلَائِدَهَا مِنْ عِهْنٍ كَانَ عِنْدِي، [٢] ثُمَّ بَعَثَ بِهَا مَعَ أَبِي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] بي بي عائشه ﷺ فرمایي چې ما د هغه وړیوڅخه چې ما سره وې، پټې جوړې کړې او بیا هغه پټې مې د هغه اوښانو په څټ کې واچولې، [٢] بیا هغه يې په طور د هدیې زمادپلار بزرګوار (حضرت ابوبکر صدیق ﷺ) سره (خانه کعبي) ته ولیږل، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① عِهْنٍ: أَيْ: صُوفٍ مُلَوَّنٍ، أَوْمَصْبُوغٍ: رنګ شوي وړئ.

---

[١] اخرجه البخاري في كتاب الحج /باب من قلد القلائد بيده (رقم-١٧٠٠) و مسلم في كتاب الحج /باب استحباب بعث الهدي إلى الحرم لمن لا يريد الذهاب بنفسه واستحباب تقليده وفتل القلائد وان باعثه لا يصير محرما ولا يحرم عليه شئ بذلك ٣٦٩ - (١٣٢١)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ بَعَثَ بِهَا مَعَ أَبِي:

د هدی په ارسال د مرسل په محرم کیدو کښې مذاهب:

① امام ابن المنذر رحمه الله فرمائي چه د ابراهیم نخعی، عطاء، ابن سیرین رحمهم الله، ابن عباس، ابن عمر، عمر او علی رضي الله عنهم په نزد که یو سړې مکې مکرمې ته هدی لیږلو سره په خپل کور کښې مقیم وی نو په هغه باندې هغه ټول څیزونه حرامیږی کوم چه په محرم باندې حرام دی

② خود ائمه اربعه او ټولو فقهاء امصار، ابن مسعود، عائشه، انس، ابن الزبیر او نورو صحابه کرام او تابعین رضي الله عنهم په نزد په د هدی په ارسال سره هغه سړې نه محرم کیږی بلکه هغه به حلال وی.

د محرم ګرځیدو دلیل: مرسل محرم ځکه چه هدی لیږونکې د لیږونکی نائب دې چه هر کله په نائب باندې حرام دې نو په اصل باندې به هم هغه څیز حرام وی کوم چه په نائب باندې د احرام په حالت کښې حرام دې،

د عدم محرم ګرځیدو دلیل: في رواية عائشة قالت فَتَلْتُ قَلَائِدَهَا مِنْ عِهْنٍ كَانَ عِنْدِي، ثُمَّ بَعَثَ بِهَا مَعَ أَبِي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وفي رواية عن عائشة كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يُهْدِي مِنَ الْمَدِينَةِ فَأَفْتِلُ قَلَائِدَ هَدْيِهِ ثُمَّ لَا يَجْتَنِبُ شَيْئًا مِمَّا يَجْتَنِبُ الْمُحْرِمُ. رواه مسلم.

[٢٦٣٣] دَ مجبورئ او ضرورت په وخت دَ هدی څاروی باندې سوریدل جائز دی

> ٢٦٣٣-[٧] ()① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَأَى رَجُلًا يَسُوقُ بَدَنَةً،② فَقَالَ: "ارْكَبْهَا". فَقَالَ: إِنَّهَا بَدَنَةٌ③. قَالَ: "ارْكَبْهَا". فَقَالَ: إِنَّهَا بَدَنَةٌ④. قَالَ: "ارْكَبْهَا، وَيْلَكَ" فِي الثَّانِيَةِ، أَوِ الثَّالِثَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوهریره رضي الله عنه وایي چې نبی کریم ﷺ یو سړی ولیدلی چې اوښ یې شړلی، ② نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې په دې اوښ سور شه، هغه اوویل چې دا خو هدی ده (زه په دې څرنګه سور شم، هغه دا ګڼله چې په هدیې سوریدل په هیڅ حال کې هم جائز نه دي)③ نبی کریم ﷺ ورته بیا وفرمایل چې په دې سور شه، هغه هم دا بیا اوویل چې دا هدیې ده، ④ نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې په دې سور شه په تا افسوس دی (چې زه تاته د سوریدو د پاره وایم، او ته د خپل طرف څخه عذر بیانوې) نبی کریم ﷺ دا خبره دوه یا درې ځله وفرمایله، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① يَسُوقُ: شړلې ئې اوښې، ② وَيْلَكَ: افسوس دې په تا.

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الحج /باب ركوب البدن (رقم-١٦٨٩) ومسلم في كتاب الحج /باب جواز ركوب البدنة المهداة لمن احتاج إليها (رقم-٣٧١ - (١٣٢٢) وابوداود في كتاب المناسك، باب في ركوب البدن (رقم-١٧٦٠)

تسهيلات:

قوله: اِرْكَبْهَا، وَيْلَكَ:

په هدی باندې د سوریدو په حکم کښې مذاهب:

د هدی په شاروی باندې د سوریدو متعلق هم اختلاف دې، ① ابن المنذر رحمه الله فرمائی چه د احمد او اسحاق په نزد کوم چه د عروه بن زبیر او اهل ظواهر رحمهم الله مذهب هم دې چه مطلق هدی که واجبی وی یا نافله په هر یو باندې سوریدل په هر صورت کښې جائز دی که هغه مضطر وی یا عاجز وی

② ابن عبدالبر د امام ابوحنیفه، شافعی، مالك او اکثر فقهاء رحمهم الله نه نقل کړی دی چه بغیر د ضرورت نه د هدی په شاروی باندې سوریدل مکروه دی، که ضرورت وی نو جائز دی.

د جواز دليل: حديث ابى هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَأَى رَجُلًا يَسُوقُ بَدَنَةً، فَقَالَ: "ارْكَبْهَا". فَقَالَ: إِنَّهَا بَدَنَةٌ. قَالَ: "ارْكَبْهَا" الحديث متفق عليه، واخرج احمد من حديث على انه سُئِلَ: يَرْكَبُ الرَّجُلُ هَدْيَهُ؟ فَقَالَ: لَا بَأْسَ بِهِ قَدْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمُرُّ بِالرِّجَالِ يَمْشُونَ فَيَأْمُرُهُمْ يَرْكَبُونَ هَدْيَهُ، هَدْيَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. اسناده صالح،

د عدم جواز دليل: حديث جابر مرفوعا اركبها بالمعروف اذا الجئت اليها، رواه مسلم، روى سعيد بن منصور من طريق ابراهيم النخعى قال يركبها اذا اعيا قدر ما يستريح على ظهرها»

[٢٦٣٤] كه ضرورت او مجبوري وی نو پر هدی سپریدل جائز دی که داسی نه وی نو نه دی جائز

٢٦٣٥ - [٨] (١) ① وَعَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - «سُئِلَ عَنْ رُكُوبِ الْهَدْيِ، ② فَقَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "ارْكَبْهَا بِالْمَعْرُوفِ إِذَا أُلْجِئْتَ إِلَيْهَا حَتَّى تَجِدَ ظَهْرًا"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابو زبير (تابعي) رحمه الله وايي چې ما واوريدل چې د جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه په هديي د سوريدو په باره کې پوښتنه وشوه، ② نو هغه وفرمايل چې ما د نبی کريم صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي دي چې تر څو تاته بله سوارلی حاصله نشي او ته په سوريدو مجبوره يې، نو په هغه هديي (د دی احتياط) سره سور شه (چې هغه ته څه ضرر او تکليف ونه رسيږي)، مسلم

حل اللغات: ① أُلْجِئْتَ: أَيْ: اضْطُرِرْتَ: چه ته مجبوره نې، ② ظَهْرًا: أَيْ: مَرْكُوبًا: شا يعنى سورلى (شاروي چه په هغې باندې سورلی کيدلې شی).

(١) أخرجه مسلم فى كتاب الحج /باب جواز ركوب البدنة المهداة لمن احتاج إليها (رقم-٣٧٥ - (١٣٢٤) وابوداود فى كتاب المناسك. باب فى ركوب البدن (رقم-١٧٦١) والنسائى فى كتاب مناسك الحج /ركوب البدنة بالمعروف (رقم-٢٨٠٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات:

قوله: اِرْكَبْهَا بِالْمَعْرُوفِ إِذَا أُلْجِئْتَ إِلَيْهَا حَتَّى تَجِدَ ظَهْرًا:

د مجبورئ په حالت کښې په هدی باندې سوریدل: ① که د سوریدلو په صورت کښې هدی ته څه ضرر نه رسیږی نو په هغې باندې سوریدل جائز دی،

② احنافو په نزد دامسئله ده که ضرورت او مجبوری وی نو په هدی باندې سوریدلې شی ګنی نه شی، لهذا په کومو روایتونو کښې چه په هدی باندې د سوریدو مطلق طور باندې جواز ملاویږی هغه روایتونه په ضرورت او مجبورئ باندې محمول دی.

[٣٦٢٥] که د قربانئ څاروی په لارکښې مرګ ته نیزدې شی نوسرې به څه کوی؟

٢٦٣٥-[٩] ()[١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: «بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِسِتَّ عَشْرَ بَدَنَةً مَعَ رَجُلٍ، وَأَمَّرَهُ فِيهَا.[٢] فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ أَصْنَعُ بِمَا أُبْدِعَ عَلَيَّ مِنْهَا؟[٣] قَالَ انْحَرْهَا، ثُمَّ اصْبُغْ نَعْلَيْهَا فِي دَمِهَا، ثُمَّ اجْعَلْهَا عَلَى صَفْحَتِهَا، وَلَا تَأْكُلْ مِنْهَا أَنْتَ وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ رُفْقَتِكَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[١] ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې نبی کریم ﷺ یو سړی (چې د هغه نوم ناجیه اسلمي وو) د شپاړس ١٦ اوښانو سره مکې ته ولیږلی او هغه سړی یې د هغه اوښانو محافظ جوړکړي (چې نه یواځې هغه اوښان په حفاظت سره بوځي، بلکه مکې ته رسیدو سره هغه ذبح هم کړي) [٢] هغه سړي عرض وکړي چې یا رسول الله! ﷺ په دوی کې چې کوم (د ستړیا په وجه) نلی نشي (یا د کمزورئ وغیره په وجه قریب المرګ شي) نو د هغه سره څه وکړم؟[٣] نبی کریم ﷺ وفرمایل چې ته هغه ذبح کړه، او بیا هغه دواړی څپلي (چې په طور د هار د هغه په څټ کې دي) د هغه په وینه کې رنګولو سره د هغې ښنبه د هغه د بوک په اړخ ولګوه، او د هغه غوښه مه ته خپله خوره او نه دې ستاپه ملګروکي څوك خوري، مسلم.

حل اللغات: ① أَمَّرَهُ: أي: جَعَلَهُ أَمِيرًا: امیرئې مقرر کړو (چه دا قربانی په مکه کښې ذبح کړی. ② أُبْدِعَ: دا په معنی د حبس یعنی بندیدو سره دی، أي: انْقَطَعَ بِهِ: چه د ګرځیدو نه وی. ③ اصْبُغْ: أي: اغْمِسْ: دا د اصباغ نه دې د رنګ کولو په معنی کښې دې یعنی په وینو کښې رنګ کړه، ④ صَفْحَتِهَا: پلن ښکاره ظرف دهغې (یعنی د قربانئ د قوب پلنوالې).

تسهیلات:

قوله: أُبْدِعَ عَلَيَّ:

د لفظ ابدع علی تحقیق: داِبداع نه د مجهول صیغه ده کومه سورلی چه ستړې کیدوسره تللې نه شی یاد کمزورئی د وجې نه د تګ نه عاجزه شی هغه د ابدع او ابداع په الفاظوسره

---

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب الحج /باب ما یفعل بالهدی إذا عطب فی الطریق (رقم-٣٧٧ - (١٣٢٥) وابوداود فی کتاب المناسک. باب فی الهدی إذا عطب قبل أن یبلغ (رقم-١٧٦٣) واحمد فی المسند: ٢١٧/١

يادولې شي. دَ اهدٰ ع صله په عام توګه "ب" راځي ليکن دلته اهدٰ ع دَ حُبِس معنې ته متضمن ده په دې وجه په صله کښې "على" راوړلې شوې دې. چونکه دادَ هدايا اوښان وو په دې وجه په دې باندې سوريدل جائزنه وو لهذا "على" صله راوړل ضروري وو دې دپاره چه دا واضحه شي چه په دې باندې څوك سور شوې نه دې ځکه چه کله صله "ب" کښې راځي نوهغه دَ سوردپاره وئيلې شي لکه "اهدٰ ع بي" زه په سورلئي ووم چه هغه زما دَ اوړلونه عاجزه شوه.

قوله: نَعْلَيْهَا:

دَ نعليها څخه مراد: دې نه مراد هم دغه څپلئي دي چه دَ هديه دَ ځناور په غاړه کښې دَ نښې په توګه اچولې شوې وې. مطلب دا چه دا مرګ ته نيزدې ځناور ذبح کړه اودَ دې په غاړه کښې پرتې دواړه څپلئي دَدې په وينه رنګ کړئي دې دپاره چه څوك مالدار سړې دَدې غوښه استعمال نه کړي. "اجعلها" کښې ضميرمفرد راوړلې شوې دې دا "كل واحدة منها" دَ تاويل په بنيادباندې دې.

قوله: عَلَى صَفْحَتِهَا:

دَهدې ځاروي نښاندار کول: مطلب دا چه دغه غاړه کئي په وينورنګ کولوسره دَ قب طرف ته دَدې نښه اولګوئي دې دپاره چه معلومه شي چه دا دَ هدى ځاروې دې کوم چه دَ حرم دَ رسيدونه وړاندې ذبح کړې شوې دې دَدې غوښه مالدارانو له خوړل جائزنه دي.

قوله: وَلَاتَأْكُلْ مِنْهَا:

دَهدې دَ غوښې خوړلو ممانعت: يعني دَ دغه هدى نه مه ته پخپله خوره اونه دې دَ قافلې څوك ملګرې خورې سره دَدې چه دَ قافلې څوك ملګرې فقيرمسکين ولې نه وې. دَ هدى دَ غوښې دَ خوړلو ممانعت دَ دې وجې نه دې که محافظ او دَ قافلې والاته دَ غوښې خوړلو اجازت ورکړې شي نوممکن ده چه هغه خلق دَ غوښې خوړلو او جوړولودپاره بهانه جوړه کړي صحيح سالم ځاروې راونيسي ذبح ئې کړي. په دې وجه دَ قافلې دَهريوکس دپاره دَدغه خوړلو ممانعت اوکړې شو.

يواشكال: دغه شان کولوسره خو به په صحراکښې دَ ځاروي غوښه ضائع شي.

داشکال جواب: خواؤشا فقيران به دَ خوراك دپاره وي که آبادي نه وي نو په لاره تيريدونکي مسافر قافلې به راشي په هغوي کښې به غريبانان اوفقيران وي هغوي به هدى پيژندلوسره اوخوري اومالداران به ئې نه خوري.

دهديه دوه قسمونه:

① هغه هدى چه دَ حرم دَ زمکې پورې رسيدلې وي. دَدې حکم دادې چه هغه هدى تطوع وي يا هدى قران وي يا هدى تمتع وي صاحب هدى دَهغې نه خوړلې شي اودَهغه ملګرې

Maktaba Tul Ishaat.com

هم خوړلې شی که غریبانان وی اوکه مالداران خوکه هم دغه هدی دَ نذر وی یا دَجنایت وی نوصاحب هدی هم دَدې نه نه شی خوړلې او نورمالداران هم نه شی خوړلې داصرف دَفقرا حق دې.

② هغه هدی چه دَحرم دَ زمکې دَرسیدو نه وړاندې عاجز راتلو یاکمزوری کیدو دَ وجې نه ذبح کړې شوی وی.

د دویم قسم هدی دوه صورتونه او دهر یو حکم:

① د احنافو په نیز که دویم قسم هدی واجب وی نومالك ته اختیار دې چه دې کښې څه تصرف کول غواړی اودې کړی که پخپله خوری که په نورچا خوری که خرڅه وی.

② که چرې دا هدی تطوع اونفلی وی اومالك ته دَدې په بدله کښې دَ بلې قربانئی کولو اراده هم نه وی نو په دې صورت کښې نه مالك دا خوړلې شی اونه مالداران خوړلې شی اونه په دغه قافله کښې شریك غریبانان داخوړلې شی. دې سره به هم هغه معامله کولې شی کومه چه په زیربحث حدیث کښې ذکر ده چه دَ ذبح کولونه پس به څپلئی په وینو کښې لړېږکولې شی اودې سره به ئې اړخ کښې لګوی دې دَپاره چه راتلونکی فقیران دا اوخوری.

احنافو په نیز د زیربحث حدیث محمل: احناف دَ زیربحث حدیث حکم په هدی تطوع باندې حمل کړې دې. داحدیث سره دَدې چه دَدې حکم نه بالکل ساکت اوخاموش دې لیکن بیهقی په سنن کبری کښې یو مرفوع حدیث نقل کړې دې په دې کښې دَغه هدی سره دَتطوع اونفل الفاظ موجود دی دَدې وجې نه احنافو دافیصله کړې ده.

د واجب او نفلی هدې په حکم کښې د فرق وجه: اوس په دې کښې څه فرق دې چه دَ واجب هدی نه مالك هم خوړلې شی مالداران اوملګری او فقیران هم خوړلې شی لیکن دَ هدی تطوع نه مالك خوړلې شی نه اغنیاء او نه رفقاؤ نه فقراء خوړلې شی؟

دَ دې فرق وجه داده چه کله هدی واجب وی نودَ دې په بدله کښې به دویمه هدی ورکول واجب وی لهذا ړومبې هدی دَ مالك ملکیت کښې پاتې شوه دَهغه اختیاردې چه څه کوی اودې کړی لیکن په هدی تطوع کښې دَدې بدل نشته په دې وجه هغه دَمالك په ذمه هغه شان لازم شوه لکه چه هغه نذرکړې وی بل مالك دَدې دَ بدل دَپاره بالکل تیارنه دې لهذا اوس دا هدی په مکمل توګه دَ مالك دَاختیارنه بهرشوه په دې وجه هغه په دې کښې هیڅ تصرف نه شی کولې. که مالك دَ دغه نفلی هدی دَ بدلې ورکولو وعده اوکړی نوبیابه دَ دغه هدی تطوع خوړل هم جائزشی ګنی دا صرف دَ فقراء حق دې شرط دادې چه دَ دغه قافلې والانه وی.

[٢٦٣٦] په اوښ او غوا کښې اووه کسان شریکیدې شي

٢٦٣١-[١٠] ()١ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢«نَحَرْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ الْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ، ٢وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ حضرت جابر ﷜ وايي ٢چې مونږ د حديبيه په کال د نبی کريم ﷺ سره د اوو سړو د طرف څخه اوښ ذبح کړي ٢او د اوو سړو د طرف څخه مو غويي ذبح کړي، مسلم.

تسهيلات:

قوله: اَلْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ:

په قرباني کښې د شراکت حکم: دَ ګډې چيلئی په قربانئی کښې په اتفاق سره شراکت ناجائزدې او په اوښ غوا کښې دَ اووه کسانو شراکت جائزدې په دې شرط چه دَ ټولو نيت هم دَ قربانئی کولووی او قربانئی اوهدی نه قرابت مقصودوی که دَ قرابت نوعيت جدا جدا ولې نه وی. مثلاً دَ يونيت دَ قربانئی دې دَ دويم نيت دَهدی دې دَ دريم نيت دَ عقيقې وغيره دې. دَ امام مالک ﷫ په نيز په يوڅاروی کښې هم شراکت جائزنه دې که قربانی وی که هدی وی که هغه اوښ وی که غوا وی اوکه چيلئی وی.

[٢٦٣٧] دَاوښ دَ نحر طريقه

٢٦٣٢-[١١] ()١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، «أَنَّهُ أَتَى عَلَى رَجُلٍ قَدْ أَنَاخَ بَدَنَتَهُ يَنْحَرُهَا، ٢قَالَ: ابْعَثْهَا قِيَامًا مُقَيَّدَةً سُنَّةَ مُحَمَّدٍ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». - مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ د ابن عمر ﷠ په باره کې منقول دی چې هغه يو داسې سړي ته ورسيدلی چې خپل اوښ يې کينولو سره نحر کولی، ٢ هغه ورته وفرمايل چې دا اوښ ودروه، او دده ګسه پښه وتړه (اودغه شان اوښ نحر کولوسره) د نبی کريم ﷺ طريقه اختيار کړه، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① أَنَاخَ: د اوښ کينولو دپاره استعماليږی. ② ابْعَثْهَا: أَيْ: أَقِمْهَا: اوښ دروه. ③ مُقَيَّدَةً: أَي مَعْقُولَةَ الْيَدِ الْيُسْرَى: ګسه خپه ورله اوتړه.

تسهيلات: **قوله:** أَنَاخَ بَدَنَتَهُ يَنْحَرُهَا:

نحر او ذبح کښې فرق: اوښ په سينه کښې په نيزه يا چاړه وهلونوم نحر دې. دَ چيلئی وغيره مرئی په چاړه سره پرې کولونوم ذبح ده. دَ نحر طريقه داده چه اوښ اودرولې شی او دَهغه ګسه خپه په رسئی سره تړلې شی اوبيا دَ هه په سينه کښې چاړه وهلې شی دې دَپاره چه وينه تړې اوځی او هغه په زمکه باندې پريوځی.

---

١) اخرجه مسلم فی كتاب الحج /باب الاشتراک فی الهدي واجزاء البقرة والبدنة كل منهما عن سبعة (رقم-٣٥٠ - (١٣١٨)

٢) اخرجه البخاری فی كتاب الحج/باب نحر الإبل مقيدة (رقم-١٧١٣) ومسلم فی كتاب الحج /باب نحر البدن قياما مقيدة (رقم-٣٥٨ - (١٣٢٠) وابوداود فی كتاب المناسک . باب كيف تنحر البدن (رقم-١٧٦٨)

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٦٣٨] دهدی باره کښې څه هدایات

٢٦٣٨-[١٢] (١)[١] وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «أَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[٢]- أَنْ أَقُومَ عَلَى بُدْنِهِ، وَأَنْ أَتَصَدَّقَ بِلَحْمِهَا، وَجُلُودِهَا وَأَجِلَّتِهَا،[٣] وَأَنْ لَا أُعْطِيَ الْجَزَّارَ مِنْهَا قَالَ: "نَحْنُ نُعْطِيهِ مِنْ عِنْدِنَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١] حضرت علي وايي چې نبی کریم ﷺ ماته هدايت وکړي[٢] چې زه د نبی کریم ﷺ د اوښانو خبر ګیري وکړم، د هغوئ غوښه خیرات کړم، او د هغوئ څرمې اوکټې هم صدقه کړم،[٣] او دا چې قصاب ته د هغه څخه هیڅ څیز (په طور د مزدوری) ورنه کړم او نبی کریم ﷺ وفرمايل چې مزدوری به مونږ د خپل ځان څخه ورکوو. بخاري، مسلم

حل اللغات: ① أَجِلَّتِهَا: داَ جِلَال جمع ده، او جلال د جُل جمع ده، د څاروو کټې ته وانی.
② الْجَزَّارَ: دې نه قصاب مراد دي.

تسهیلات:

قوله: عَلَى بُدْنِهِ:

دحجة الوداع په موقع د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د قربانو شمار: دَ حجة الوداع په موقع باندې حضورپاك دَ سلو اوښانو قرباني ورکړې وه. درې شپیته اوښان حضورپاك په خپل لاس مبارك سره ذبح کړل باقی حضرت علی ﷺ ذبح کړل. په دې سره دَ حضورپاك دَ اوچت سخاوت اندازه کیږی. بیا به هریواوښ بل ته دیکه ورکولوسره دَنحر دَ پاره دَ حضورپاك طرف ته وړاندې کیدلو په دې سره دَ رسول الله ﷺ دَ اوچت محبوبیت اندازه کیږی. بهرحال په زیربحث حدیث کښې دَ اوښانو نه مراد هم هغه اوښان دی چه په حجة الوداع کښې رسول الله ﷺ دَ هدی په توګه مکې مکرمې ته راوړلې وو.

قوله: الْجَزَّارَ:

دقربانۍ د څاروی څخه د انتفاع حکم: مطلب دا چه هدی سره متعلق هریو څیز که هغه غوښه وی اوکه څرمن وی که رسئی وی اوکه جول وغیره وی قصاب ته په مزدورئی کښې ورکول جائز نه دی. بلکه دَخپل جیب نه دَهغه مزدوری ورکول پکاردی. هم دې ته په کتلوسره فقهاؤ لیکلی دی چه دَ قربانئی دَ څاروی پیئی ویستل جائز نه دی بلکه دَهغې په غولانځه یخې اوبه اچولوسره پیئی اوچول پکاردی یا دَ ویستلو نه پس هغه صدقه کول پکاردی.

(١) بخاری، کتاب الحج باب نحر الابل مقیدة ٦/ ٣٦٨ حدیث ١٧١٣ ومسلم کتاب الحج ٨/ ٣٤٤ حدیث ٣٢٥٥.

[٢٦٣٩] دَ دريو ورځونه زياته دَ قربانۍ غوښه ساتل جائز دي

٢٦٣٩- [١٣] (١) [١] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «كُنَّا لَا نَأْكُلُ مِنْ لُحُومِ بُدْنِنَا فَوْقَ ثَلَاثٍ، [٢] فَرَخَّصَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: "كُلُوا وَتَزَوَّدُوا" فَأَكَلْنَا، وَتَزَوَّدْنَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې مخکې به مونږ د خپلې قربانۍ غوښه د دريو ورځو نه زيات نه خوړله، [٢] بيا نبی کريم ﷺ مونږ ته اجازت راکړې، او وې فرمايل چې خوري يې او توښه کوي يې (يعني د دريو ورځو نه روسته هم) نو مونږ به خوړله او توښه کوله. بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① رَخَّصَ: اجازت ئې ورکړو. ② تَزَوَّدُوا: أي ادَّخِرُوا: ذخيره کوئ، د توښې په طور ئې د بيا دپاره ساتئ.

تسهيلات: قوله: فَرَخَّصَ:

دري ورځو نه زياته قربانۍ د غوښې خوړلو اجازت: دَاسلام په شروع کښې دَخوراك څښاك دَ څيزونو سخته تنګي وه په دې وجه حضوړپاك حکم ورکړې وو چه دَدريو ورځونه زيات دَ قربانۍ غوښه په کورونو کښې مه ايږدئ بلکه زياتی صدقه کوئ. روستو بيا دَدې اجازت اوشو چه کيخودلې شئ..

الْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٦٤٠] دښمنان اسلام ته خفګان رسول مستحب دی

٢٦٤٠- [١٤] (٢) [١] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَهْدَى عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي هَدَايَا رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- جَمَلًا كَانَ لِأَبِي جَهْلٍ [٢] فِي رَأْسِهِ بُرَةٌ مِنْ فِضَّةٍ - [٣] وَفِي رِوَايَةٍ: مِنْ ذَهَبٍ - يَغِيظُ بِذَلِكَ الْمُشْرِكِينَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې نبی کريم ﷺ د حديبيه په کال د خپلې هديې په خاروی اتو کې د ابو جهل اوښ هم بيولی وو (دا اوښ د بدر په غزا کې په مال غنيمت کې راغلی وو) [٢] چې د هغه په سر (يعني پزه) کې د سپينو زرو تنکی (کړی) وه، [٣] په يوه روايت کې دي، چې هغه تنکی د سرو زرو وو، او د دې څخه مقصد دا وو، چې مشرکين په غيظ او غضب کې راوستل وو، ابو داؤد.

حل اللغات: ① بُرَةٌ: ددې جمع برات ده، أي: حَلْقَةٌ: کړئ، تنکئ (يو ګول رنګ او پيزوان چه څاروو ته په پوزه کښې اچولې شی چه قابو کړې شی). ② يَغِيظُ: غصه کول ئې.

(١) اخرجه البخاری فی كتاب الحج/باب وما يأكل من البدن وما يتصدق (رقم-١٧١٩) ومسلم فی كتاب الأضاحی/باب بيان ما كان من النهي عن أكل لحوم الأضاحی بعد ثلاث في أول الإسلام، وبيان نسخه وإباحته إلى متى شاء (رقم-٣٠-١٩٧٢) واحمد فی المسند: ٣/٣٨٨

(٢) اخرجه ابوداود فی كتاب المناسك . باب فی الهدی (رقم-١٧٤٩) واحمد فی المسند: ١/٢٣٤

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: كَانَ لِأَبِي جَهْلٍ:

د ابوجهل اوښ په صلح حديبيه کښې : يعنې دَ حديبيه په موقع باندې چه کوم وخت حضورپاك او صحابه کرامو دَ عمرې دَ پاره تشريف راوړې وو هغه وخت دَ رسول الله ﷺ هدايا کښې هغه اوښ هم وو چه په کال ٢هجرى کښې دَ جنګ بدر په موقع دَ ابوجهل نه په مال غنيمت کښې ملاؤشوې وو اوحضورپاك په خپله حصه کښې ساتلې وو. بيانې دَ ذبح کولودَ پاره خپل ځان سره په عمره کښې راوستې وو ليکن قريشو حضورپاك حرم ته دَ داخليدودَپاره پرينخودو. دا اوښ ئې صرف دَدې دپاره راوستې وو چه کافران دَ دې په ليدو باندې اوسوزى اوهغوى خفه شى اوپه هغوى باندې رعب کينى چه دادَهغوى دَ مردار سردار اوښ وو.

[٢٦٤١] د قريب المرګ هَدى حکم

وَعَنْ نَاجِيَةَ الْخُزَاعِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: «قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ، كَيْفَ أَصْنَعُ بِمَا عَطِبَ مِنَ الْبُدْنِ؟ قَالَ: " انْحَرْهَا، ثُمَّ اغْمِسْ نَعْلَهَا فِي دَمِهَا، ثُمَّ خَلِّ بَيْنَ النَّاسِ، وَبَيْنَهَا فَيَأْكُلُوهَا» ". رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. [١]

ترجمه: ناجيه خزاعي ﷺ وايي چې ما عرض وکړو، يا رسول الله ﷺ د هديي په څارووکې چې کوم څاروى قريب المرګ وي، نو د هغه سره څه وکړم؟ نبى کريم ﷺ وفرمايل چې هغه ذبح کړه، او هغه چمپل (چې د هغه په څټ کې په طور د هار وي) د هغه په وينه کې رنګ کړه (او د هغه په ذريعه د هغه په غاړه نښه جوړه کړه) د دې څخه روسته هغه څاروى د خلقو په منځ کې پريږده (يعني د هغه د غوښو خوړلو څخه فقراء مه منع کوه) چې هغه يي وخوري، مالك، ترمذي، ابن ماجه

حل اللغات: ① عَطِبَ: أَيْ: عَيِيَ وَعَجَزَ: هغه څاروې چه د تلو نه عاجزه او ستړې شى يا قريب المرګ شى.

تسهيلات:

قوله: وَعَنْ نَاجِيَةَ الْخُزَاعِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ..الخ:

د رواياتو په مينځ کښې دفع د تعارض : ناجيه اسلمى بعض ځائى کښې ناجيه اسلمى دې بعض رواياتوکښې ناجيه خزاعى دې داځه تضاد نه دې نه دوه سړى دى بلکه هم يوسړې دې. خزاعى هم دې او اسلمى هم دې. دَ لوئى او وړې قبيلې فرق دې خزاعه لويه قبيله ده.

[١]) اخرجه الترمذى فى كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء إذا عطب الهدى ما يصنع به (رقم-٩١٠) وابن ماجة فى كتاب المناسك/باب فى الهدى. إذا عطب (رقم-٣١٠٦) ومالك فى الموطا كتاب الحج/باب العمل فى الهدى إذا عطب أو ضل (رقم-١٤٨) واحمد فى المسند: ٤/٣٣٤

—( )[١] وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ، عَنْ نَاجِيَةَ الْأَسْلَمِيِّ.

ترجمه: [١] او ابوداؤد او دارمي دا روايت د حضرت ناجيه اسلمي رضي الله عنه څخه نقل کړی دی.

[٢٦٤٢] د قربانۍ د ورځې فضيلت او د رسول الله ﷺ مبارک محبوبيت

—[١٦] ( )[١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قُرْطٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«إِنَّ أَعْظَمَ الْأَيَّامِ عِنْدَ اللَّهِ يَوْمُ النَّحْرِ، ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ»" [٣]. قَالَ ثَوْرٌ: وَهُوَ الْيَوْمُ الثَّانِي. [٤] قَالَ: «وَقُرِّبَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَدَنَاتٌ خَمْسٌ أَوْ سِتٌّ، فَطَفِقْنَ يَزْدَلِفْنَ إِلَيْهِ بِأَيَّتِهِنَّ يَبْدَأُ، [٥] فَلَمَّا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا قَالَ: فَتَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ خَفِيَّةٍ لَمْ أَفْهَمْهَا، [٦] فَقُلْتُ: مَا قَالَ، قَالَ: مَنْ شَاءَ اقْتَطَعَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَذَكَرَ حَدِيثَا ابْنِ عَبَّاسٍ وَجَابِرٍ فِي "بَابِ الْأُضْحِيَّةِ".

ترجمه: [١] عبد الله ابن قرط رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د الله تعالی په نزد په ټولو ورځو کې ډيره لويه ورځ (د فضيلت له مخه) د قربانۍ ورځ (يعني د ذي الحجه لسم تاريخ) دی، او بيا د قرّ ورځ، [٣] د حديث راوي حضرت ثور رضي الله عنه وايي، چې دا (د قر ورځ) دويمه ورځ (يعني د ذ الحجه يولسم تاريخ دی) [٤] عبد الله رضي الله عنه وايي چې (کله د قربانۍ په ورځ) نبی کريم ﷺ ته هغه اوښان راوستل شو، چې د پنځو يا شپږو په تعداد کې وو، نو اوښانو (يو په بل سبقت کولو سره) نبی کريم ﷺ ته نږدې راتلل شروع کړل، چې کوم يو غواړي مخکې دې ذبح کړي، [٥] راوي وايي هرکله چې دا څاروی په اړخ وغورځيدل (يعنې ذبح يې کړل) نو نبی کريم ﷺ قلار يوڅه وفرمايل، چې زه ورباندی پوهه نه شوم، [٦] نو ما (د هغه سړي څخه چې ما سره نږدې وو) پوښتنه وکړه چې نبی کريم ﷺ څه وفرمايل؟ هغه اوويل چې نبی کريم ﷺ دا وفرمايل چې کوم سړی غواړي (د هديي) د دی څاروو (د غوښو) څخه دې کټ کولو سره د خان سره يو سی، ابوداؤد. او د ابن عباس او جابر رضي الله عنهما حديث ښې په باب الاضحيه کښې ذکر کړې دې.

حل اللغات: ① يَوْمُ الْقَرِّ: أَيْ: يَوْمُ الْقَرَارِ: د آرام او د سکون ورځ (يوولسم د ذی الحجه باندې حاجيان د مناسک حج نه په آرام اوپه سکون شی نو ځکه دغه ورځ ته ورځ د قرار وائی). ② فَطَفِقْنَ: أَيْ: شَرَعْنَ: شروع شو (اوښان د قربانۍ). ③ يَزْدَلِفْنَ: أَيْ: يَتَقَرَّبْنَ: نږدې کيدلې (يوبل نه وړاندې کيدلې نبی عليه السلام ته). ④ جُنُوبُهَا: أَيْ: سَقَطَتْ عَلَى الْأَرْضِ: راوغورځيدې په زمکه (يعنی ذبح کړې شوې). ⑤ اقْتَطَعَ: أَيْ: أَخَذَ قِطْعَةً: پرې ديکړی (يعنی د غوښې بوټۍ دې خانله کټ کړی).

( ) اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک، باب فی الهدي إذا عطب قبل أن يبلغ (رقم-١٧٦٢)
( ) اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک، باب فی الهدي إذا عطب قبل أن يبلغ (رقم-١٧٦٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات: قوله: أَعْظَمَ الأَيَّامِ:

د ذوالحجې د اولې عشرې او د رمضان آخري عشرې په باره کښې د افضلیت تحقیق: په کتاب الصوم او ابواب عیدین کښې دا بحث لیکلې شوې دې چه آیا عشره ذوالحجه غوره ده که عشره اخیره دَرمضان غوره ده دلته یوه بله وجه لیکم هغه دا چه عشره ذوالحجه دَ اشهرالحرام په نسبت سره غوره ده یعنی دَ فضیلت تقابل په عشره ذوالحجه او عشره رمضان کښې نه دې بلکه دا تقابل په اشهرالحرام کښې دې نودَاحترام په څلورو واړو میاشتوکښې دا لس ورځې دَ ټولونه غوره دی. پاتې شو رمضان او آخری عشره نوهغه مطلقًا دَ ټولومیاشتو په نسبت غوره دی. باقی توجیهات د تسیهیلات ابواب العیدین کښې اوګورئی.

الفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲٦٤٤]دَ قربانۍ غوښه ذخیره کول څنګه دی؟

١٤٧٣-[١٧] (١) [١] عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ: -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢]«مَنْ ضَحَّى مِنْكُمْ، فَلَا يُصْبِحَنَّ بَعْدَ ثَالِثَةٍ، وَفِي بَيْتِهِ مِنْهُ شَيْءٌ[٣]". فَلَمَّا كَانَ الْعَامُ الْمُقْبِلُ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، نَفْعَلُ كَمَا فَعَلْنَا الْعَامَ الْمَاضِي؟[٤]قَالَ: "كُلُوا، وَأَطْعِمُوا، وَادَّخِرُوا، فَإِنَّ ذَلِكَ الْعَامَ كَانَ بِالنَّاسِ جَهْدٌ، فَأَرَدْتُ أَنْ تُعِينُوا فِيهِمْ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [١] سلمه ابن اکوع ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢]په تاسو کې چې کوم سړی قرباني کوي نو د دریمي ورځي څخه روسته دي په داسې حال کې نه سحر کوي، چې د هغه په کور کې د قرباني غوښه موجوده وي (یعني د قرباني غوښه دي د دریو ورځو څخه زیاته نه ساتي)[٣] بیا چې دویم کال راغلو ، نو بعضې صحابه وو ﷺ عرض وکړي چې یا رسول الله! ﷺ آیا مونږ په دي کال هم هغه شان وکړو؟ څرنګه چې په تیر کال مو کړي وو؟ (یعني د تیرکا ل په شان سږ کال هم د قرباني غوښه د دریو ورځو څخه روسته نه پریږدو؟)[٤] نبی کریم ﷺ وفرمایل چې خوری او خوروی، او جمع (ذخیره) کوی په اصل کې تیرکال خلق په محنت، مشقت او محتاجۍ کې اخته وو، په دي وجه ما د جمع کولو څخه منع کولو سره دا مي غوښتل، چې تاسو خلق د هغه ضرورتمندو مدد وکړي او اوس هغه شان ضرورت او حاجت نشته، څکه که تاسو د قرباني غوښه جمع کول غواړي، نو تاسو ته اجازت دی، بخاري، مسلم.

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الأضاحی/باب ما یؤکل من لحوم الأضاحی وما یتزود منها (رقم-٥٥٦٩) ومسلم فی کتاب الأضاحی/باب بیان ما کانَ مِن النهیِ عَن أکلِ لحومِ الأضاحی بعدَ ثلاث فی أولِ الإسلامَ. وبیانِ نسخِهِ وإباحتِهِ إلی متی شاء (رقم-٣٤ - (١٩٧٤)

حل اللغات: ① ضَحَّى: أَيْ: فَعَلَ الْأُضْحِيَةَ: چه قرباني کوي. ② جَهْدٌ: په فتحې سره په معنی د جوع يعنی لوږه او محتاجی، اوپه ضمې سره په معنی د مشقت سره «دلته تري لوږه اومحتاجي مراد ده». ③ أَنْ تُعِينُوا: أَيْ: تُعِينُوا الْفُقَرَاءَ: چه تاسو مدد اوکړئ «د فقراؤ يعنی د لوږو حاجتمندو».

د راوي مختصر تعارف:

حضرت سلمه بن اکوع ﷛: نوم سنان، ابومسلم ابواياس کنيت.پوره نوم ئی سنان بن عبدالله بن عبدالله بن قشير بن خزيمه.(٢)

دَغزوه حديبيه نه پس په ټولوغزواتو کښې شرکت کړې وو.دَ صلح حديبيه په سلسله کښې په بيعت رضوان کښې هم موجود وو او هغه په دې موقع باندې دَ رسول الله ﷺ په لاس مبارك باندې درې ځل بيعت اوکړو اوهغه داسې چه هم حضوراکرم ﷺ اوفرمائيل سلمه بيعت به نه کوې؟ عرض ئی اوکړو چه کړې مې دې.وئی فرمائيل چه بيا اوکړه څه بدی نشته.تقريبًا په ۱۴ غزواتوکښې شرکت کړې وو په اووه کښې حضور ﷺ سره او اووه دَ نبی کريم ﷺ نه بغير.(٣)

په هغه کښې څلور صفتونه په پوره اوکامله درجه کښې موجود وو.① دَ الله تعالی په لارکښې به ئی ښه خرچ کولو.② صدقات به ئی دَخپل ځان دَ پاره بالکل حرام ګڼړل ③ دَ ټولو اوامرو او نواهي به ډير احتياط ساتلو.(۴) ④ دَ بهادرئی باره کښې په اصابه کښې دی کـان الشجعـان ويسبق الفرس عدوًا (۵)

هغه دَ بهادرانو نه يو وو چه په منډه کښې به ئی اسونو سره مقابله کوله اودَهغوی نه به هم وړاندې کيدلو.دَصلح حديبيه په موقع باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل په بهتر سورو کښې ابوقتاده او په بهتر پياده خلقو کښې سلمه بن اکوع دې.حضور ﷺ هغه ته دوه حصې ورکړې يوه دَ سور او بله دَ پياده.(۶)

وفات: دَحضرت عثمان دَشهادت نه پس ربذه کښې سکونت اختيارکړو اوهم هلته ئی واده اوکړو بيا يوځل مديني منورې ته راغلو نوڅلور ورځې پس په مدينه کښې۷۴ھ کښې انتقال شو.(اصابه ۳/۱۱۸)

مرويات: دَ هغه دَ روايتونو شمير ۷۷ دې.په کومو کښې چه ۱۶ بخاري اومسلم دواړو کښې دی ۵کښې بخاری او ۹ کښې مسلم منفرد دی.(تهذيب الکمال ۱۴۸)

تسهيلات: **قوله:** وَادَّخِرُوا:

د درې ورځو نه زياته د قربانئ غوښې ذخيره کولو د ممانعت پس منظر: په مدينه منوره کښې يوکال سخت قحط راغلې وو اوهسې هم دَ اسلام په شروع کښې سخته تنګی وه نو حضورپاك فرمان جاری کړو چه دَ دريو ورځونه زيات دَ قربانئی غوښه په کورونوکښې مه ذخيره کوئی بلکه په نورو فقيرانو باندې تقسيم کړئی. صحابه کرامو هم داسې اوکړه. کله

Maktaba Tul Ishaat.com

چه دويم کال راغلو او اوچ کالی لاړه نو حضور پاك دَ غوښې ذخيره کولو اجازت ورکړو

** د قربانئ د غوښې په تقسيم کښې مستحب طريقه:** فقهاؤ مستحب طريقه داخودلې ده چه دَ قربانئ دَ غوښې يوه حصه په غريبانانو باندې تقسيم کړئ دويمه حصه خپلوانو عزيزانو او خپلو دوستانو کښې تقسيم کړئ سره دَدې چه هغوی مالدار وی او دريمه حصه دَخپل بال بچ دَپاره په کورکښې کيږدئ. اوکه يوسړې بال بچ دار وی او بال بچ ئې ډير وی نو هغه دَتقسيم کولونه بغيردَ قربانئ غوښه په کورکښې ذخيره کولې شی. ليکن چه کله يوسړې دومره لوئی رقم ورکولوسره قربانی کوی نويقيناً دَهغه نيت دَ ثواب وی دَدې تقاضا ده چه هرمالدار په قربانئ کولوکښې يوه حصه فقيرانو دَپاره خاص کړی او په قربانئ کښې دَ قربانئ جذبه په زړه کښې پيداکړی داسې نه وی چه دَ قربانئ په نوم ډير مقدار کښې غوښه راپيدا کړه او په برف خانوکښې ستهورکولوسره کيخوده او پوره کال پورې خوری. دا دَ ځناور قربانی شوه سړی خو هيڅ هم قربانی نه کړه.

[٢٦٤٥] د درې ورځو ځخه زياتې د قربانئ غوښې خوړل

د٣-[١٨] ()١ وَعَنْ نُبَيْشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "٢« إِنَّا كُنَّا نَهَيْنَاكُمْ عَنْ لُحُومِهَا أَنْ تَأْكُلُوهَا فَوْقَ ثَلَاثٍ لِكَيْ تَسَعَكُمْ. جَاءَ اللَّهُ بِالسَّعَةِ،٣ فَكُلُوا، وَادَّخِرُوا وَاتَّجِرُوا.٤ أَلَا وَإِنَّ هَذِهِ الْأَيَّامَ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ، [وَبِعَالٍ] وَذِكْرِ اللَّهِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:١ نبيشه ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢مونږ تاسو د قرباني يا هديي د غوښي په باره کې د دې خبري څخه منع کول چې تاسو يي د دريو ورځو څخه زيات وخوری، او د هغه وجه دا وه، چې وسعت وي (يعنې چې داسې ستاسو فقراء هم د دی غوښي څخه فائده واخلي) اوس الله ﷻ وسعت راوستلی دی،٣ ځکه تاسو چې (تر څو غواړی) خوری يې او جمع کوی يې (او د دی غوښي څخه د صدقه او خيرات په ذريعه ثواب حاصلوي٤ او ياد لري چې دا (ځلور) ورځي (چي په منی کې تيريږي) د خوراك او ځښاك ورځي دي (په دي ورځو کې روژه نيول حرام دي) او د الله ﷻ د يادولو ورځي دي، .ابوداؤد.

حل اللغات: ① تَسَعَكُمْ: أَيْ: لِتَكْفِيَكُمْ وَفُقَرَاءَكُمْ: چه وسعت وی په تاسو (يعنی ستاسو او ستاسو د محتاجو خلقو دپاره دا کافی شی). ② السَّعَةِ: فراخی. ③ اتَّجِرُوا: د باب افتعال نه په معنی د اجر سره، أَيْ: اطْلُبُوا بِالتَّصَدُّقِ: يعنی چه تاسو په صدقه اوخيرات سره ثوابونه حاصل کړئ ④ بِعَالٍ: أَيْ: جِمَاعٍ: جماع کول.

---

[١] اخرجه ابوداود فی کتاب الضحايا/باب فِي حبسِ لحومِ الأضاحِي (رقم-٢٨١٣)

تسهيلات: قوله: فَكُلُوا،وَادَّخِرُوا وَاتَّجِرُوا:

د لفظ واتجروا ماخذ او معنى: دَدې حديث تشريح اوتوضيح هم هغه ده کومه چه دَدې نه دَ ... وړاندينی حديث وه. البته په دې حديث کښې "واتجروا" لفظ راغلې دې دالفظ دَ اتجارنه دې کوم چه دَ اجر اوثواب په معنی کښې دې. علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه داد باب افتعال نه دې دَحصول اجردَپاره امر دې دالفظ دَتجارت نه نه دې ځکه چه دَتجارت دَپاره "وتجروا" مشدد راځی دلته شدنشته دې. بلکه خبره داهم ده چه دَ قربانئی په غوښه کښې تجارت کول داخرځول ناجائزدی په دې وجه دالفظ دَاجرنه دې دَتجارت نه نه دې.

[٨] بَابُ الحَلْقِ

دَسرخرولوبيان

خلاصة الباب:

فيه تسعة أحاديث مشتملة على خمس مسائل:

① ذكر الحلق والقصر: ١، ٣، ٨۔

② فضيلة الحلق فى الحج: ٣، ١٤۔

③ استعمال الطيب قبل الإحرام و بعد التحليل أى الحلق : ٦۔

④ طواف الإفاضة بعد الحلق: ٧۔

⑤ عدم الحلق للمرأة: ٨، ٩۔

قال الله تعالى ﴿وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهٗ﴾ [سورت بقره الايه:١٩٧. وقال الله تعالى ﴿لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ وَمُقَصِّرِيْنَ﴾ [سورت فتح الايه:٢٧.

دَ رسول الله ﷺ نه چرته ثابت نه دی چه حضورپاك دَ حج او عمرې نه علاوه سر خرولې وی بلکه حضورپاك هميشه ويښته ساتلی دی مشهور هم دغه دی. حاجی چه کله دَ مزدلفه نه په لسم ذوالحجه باندې دَ منی نه راځی نو په هغه ورځ دَ هغه په ذمه څلور كارونه دی. دَتولونه اول حاجی جمره عقبه په كانړو ولی دې نه پس خې قربانی کوی که هغه صاحب حيثيت متمتع يا قارن وی، هغې نه پس سرخروی او احرام كولاوولوسره ګنډلې شوې كپړې اچوی. دَ حاجی دَ پاره دا اول تحليل دې يعنی ښځې سره دَ جماع نه علاوه هرڅه حلال كيږی. بيا حاجی لاړشی طواف زيارت كوی. داد هغه تحليل ثانی دې اوس دَ حاجی دَپاره دَ احرام دَممنوعاتونه هيڅ څيز منع كونكې پاتې نه شو. دَ سر ويښته خرول او لنډول دَدواړو ذكر په آيت كښې راغلې دې دواړه جائزدی ليكن صاحب مشكوة صرف دَحلق ذكر كولوسره دې طرف ته اشاره كړې ده چه دَقصر نه حلق غوره دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[٢٦٤٦] سر خرول افضل دی

٢٦٤٦-[١] (١) عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-حَلَقَ رَأْسَهُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ، وَأُنَاسٌ مِنْ أَصْحَابِهِ، وَقَصَّرَ بَعْضُهُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې نبی کريم ﷺ په حجة الوداع کې خپل سر مبارك وخريلی او په صحابه وو رضي الله عنهم کې څنو سر وخريلی او څنو خپل ويښتان قينچي کړل، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① حَلَقَ: سر ئې اوخرئيلو. ② قَصَّرَ: ويښته ئې کم کړل.

تسهيلات: قوله: حَلَقَ رَأْسَهُ:

د سر د حلق په باره کښې مذاهب:

① د امام مالك او احمد په نزد د جميع سر حلق واجب دي

② د امام ابوحنيفه او امام شافعي رحمهما الله په نزد د ټول سر حلق مستحب او افضل دي اقتداء بالنبی ﷺ خو د بعض سر حلق واجب دي

د ټول سر د حلق دليل: أن النبی ﷺ حلق جميع راسه وقال خذوا عني مناسككم ﴾

جواب: چه کله په احاديث کښې د جميع سر او بعض سر دواړو حلق ثابت دي په دې وجه احنافو د دفع تعارض دپاره اوفرمائيل چه د ټول سر حلق افضل دي او د بعض سر حلق واجب دي، چه په دواړه قسم احاديثو باندې عمل راشی،

د بعض سر د حلق دليل: عن ابن عباس قال قال لی معاوية انی قصرت من راس النبی ﷺ متفق عليه.

استدلال: دلته حرف ﴿ من ﴾ تبعيضيه دي، ووقع عند احمد عن عطاء ان معاوية حدث انه اخذ من اطراف شعر النبی ﷺ، د دې نه هم د سر د بعض حصې حلق ثابت شو،

په بعض حلق کښې مذاهب:

① بيا د دې بعض متعلق امام شافعي رحمه الله فرمائی چه کم از کم د درې ويښتو پرې کول واجب دی.

② د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د ربع الراس حلق کافی دې لکه چه په اودس کښې د ربع الراس مسح واجب ده.

١) اخرجه البخاري فی کتاب المغازی/باب حجة الوداع (رقم-٤٤١١) ومسلم فی کتاب الحج /باب تفضيل الحلق على التقصير وجواز التقصير (رقم-٣١٦ - (١٣٠١)

د قصر په نسبت د حلق د افضليت دوه دلائل: بيا د قصر په نسبت حلق افضل دي ①: د حلق د افضليت دليل دا دي چه رسول الله ﷺ د محلقين دپاره ډير کرته دعا اوفرمائيله او د عطف تلقيني په طور ئې د مقصرين دپاره صرف يو کرت دعا اوفرمائيله، كما في حديث ابن عمر ﷠ انه ﷺ قَالَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ: "اللَّهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ. قَالُوا: وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "اللَّهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ". قَالُوا: وَالْمُقَصِّرِينَ، يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: وَالْمُقَصِّرِينَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

② حافظ ابن حجر ﷫ فرمائي چه حلق په دې وجه هم افضل دې چه حلق ابلغ في العبادة او خضوع او ذلت او د زړه په صدق باندې دال دې. او قصر كونكي په خپل ځان باندې د ډول څه ځيزونه باقي ساتي. (الفتح ٣/٣٣٨، البذل ٣/١٨١، الهداية ١/٢٣٠)

[٢٦٤٧] د رسول الله ﷺ ويښته پرې كول

٢٦٤٧-[٢] (١) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: «قَالَ لِي مُعَاوِيَةُ: إِنِّي قَصَّرْتُ مِنْ رَأْسِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عِنْدَ الْمَرْوَةِ بِمِشْقَصٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت ابن عباس ﷠ فرمايي چې ماته معاويه ﷠ بيان وكړي چې نبی كريم ﷺ ته مي مروه ته نژدې د سر ويښتان په قينچي لنډ كړل، بخاري، مسلم.

مشقص: بعضې حضرات فرمايي چې غټې قينچي ته وايي، او دا معنٰى ډيره صحيح او زياته مناسبه ده.

حل اللغات: ① مِشْقَصٍ: ددې جمع مشاقص راځي، لويه قينچي. (د ويښتو پرې كولو آله أستره وغيره).

تسهيلات: **قوله**: بِمِشْقَصٍ:

د لفظ بمشقص تحقيق: اكثر شارحينو مشقص دغشي پل او مخ ګرځولي دي ليكن دا خبره زړه ته نه لګي بعض حضراتو وئيلي دي چه مشقص لوئې قينچي ته وائي او هم دا خبره صحيح ده.

قوله: إِنِّي قَصَّرْتُ مِنْ رَأْسِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د امير معاويه د تقصير په زمان باندې اشكال: دلته اشكال دا دي چه معاويه ﷠ چه كوم تقصير كړي وو هغه په حج كښې دي كه په عمره كښې دي، د تقصير في الحج قائل كيدل په دې وجه صحيح نه دی چه د حج حلق يا تقصير په منى كښې كيږی نه د مروه سره، او بله دا چه رسول الله ﷺ چه كوم حلق كړي وو هم هغه ثابت بالرواية دې نه تقصير، لهذا دا تقصير به په عمره كښې وی.

١) اخرجه البخاری فی كتاب الحج/باب الحلق والتقصير عند الإحلال (رقم-١٧٣٠) ومسلم فی كتاب الحج /باب التقصير فی العمرة (رقم-٢٠٩ - (١٢٤٦) وابوداود فی كتاب المناسك/باب فی الإقران (رقم-١٨٠٢) والنسائی فی كتاب مناسك الحج/باب أين يقصر المعتمر (رقم-٢٩٨٧) واحمد فی المسند: ٤/٩٦

Maktaba Tul Ishaat.com

د نبي كريم په څلوره واړه عمرو باندې روايت الباب حمل كولو باندې اشكال: بيا اشكال دا دې چه رسول الله ﷺ دا تقصير د څلورو عمرو نه په كومه عمره كښې كړې دې،

① د صلح حديبيه په موقع باندې چه ئې كوم د عمرې احرام تړلې وو په هغې باندې محمول كول ئې صحيح نه دى ځكه چه رسول الله ﷺ هغه وخت په حديبيه كښې حلق كړې وو مكې ته نه وو داخل شوې، او معاويه رضي الله عنه هغه وخت مسلمان شوې هم نه وو،

② په عمرة القضاء باندې محمول كول ئې هم صحيح نه دى ځكه چه د اهل سير نه دا ثابته ده چه دې وخته پورې معاويه رضي الله عنه مسلمان شوې نه وو بلكه فتح مكه كومه چه په ٨ هجرى كښې اوشوه په هغه كال باندې مسلمان شوې وو **كما هو الصحيح المشهور.**

عمرة القضاء په ٧ هجرى كښې واقع شوې ده،

③ په حجة الوداع كښې چه رسول الله ﷺ عمره كړې وه په هغې باندې محمول كول ئې هم صحيح نه دى ځكه چه رسول الله ﷺ او هغه خوك چه هغوى سره هدى وه هغوى ټول په دې ورځ باندې نه وو حلال شوې بلكه چا سره چه هدى وه هغوى ته ئې د حلال كيدو حكم كړې وو

④ دا تقصير په عمره جعرانه كومه چه د فتح مكه په كال يعنى په ٨ هجرى كښې د ذى قعدې په مياشت كښې شوې وه باندې حمل كول هم صحيح نه دى ځكه چه په بعض الفاظ د صحيح كښې راغلې دى چه ﴿ **وذلك (اى التقصير) فى حجته، وفى رواية النسائى بأسناد صحيح وذلك فى ايام العشر وهذا انما يكون فى حجة الوداع، كما هو فى المواهب** ﴾

جوابونه: ① اوس چه په هيڅ صورت باندې محمول كول ئې صحيح نه شو نو امام نووى رحمه الله فرمائى چه دا به په عمره جعرانه باندې محمول كولې شى. اوس به اشكال دا وى چه په بعض صحيح رواياتو كښې چه ﴿ **وذلك فى حجته** ﴾ دې او په نسائى كښې چه كوم ﴿ **وذلك فى ايام العشر** ﴾ دې

② د دې متعلق حافظ توريشتى فرمائى چه د زمانې په هر قسمه حوادث او مصيبتونو كښې كوم چه په معاويه رضي الله عنه باندې وو د هغې په بناء باندې كيدې شى چه د ﴿ **وذلك فى حجته** ﴾ الفاظ د معاويه رضي الله عنه نه يا د هغوى نه د لاندې راوى نه ﴿ **خطاء يا نسيانا** ﴾ صادر شوې وى ګينې اصل كښې د تقصير واقعه په عمره د جعرانه كښې وه. (العينى ٤/٧٤٤، التعليق ٣/٢٤٠)

[٢٦٤٨] ذَ سر خرو نكو دَپاره دَ حضور پاك دعاء

٢٦٣٨-[٣] (١) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ: ② "اللَّهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ. قَالُوا: وَالْمُقَصِّرِينَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ ③ قَالَ: "اللَّهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ". قَالُوا:

(١) اخرجه البخارى فى كتاب الحج /باب الحلق والتقصير عند الإحلال (رقم-١٧٢٧) ومسلم فى كتاب الحج /باب تفضيل الحلق على التقصير وجواز التقصير (رقم-٣١٧ - (١٣٠١)

وَالْمُقَصِّرِينَ، يَارَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: وَالْمُقَصِّرِينَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابن عمر ﷠ وايي چې نبی کریم ﷺ په حجة الوداع کې وفرمايل. [٢] اې الله! ﷻ په سر خريونکو رحم وکړې، صحابه وو ﷡ عرض وکړي چې يا رسول الله! ﷺ د وېښتانو قينچي کونکو د پاره هم د رحمت دعا وکړه، نبی کریم ﷺ وفرمايل چې اې الله! ﷻ په سر خريونکو رحم وکړې، صحابه وو ﷡ بيا عرض وکړي چې يا رسول الله! ﷺ وېښتان قينچي کونکو د پاره هم د رحمت دعا وکړه، [٣] نو نبی کریم ﷺ وفرمايل چې په وېښتانو قينچي کونکو هم رحم وکړې، بخاري، مسلم.

تسهيلات:

قوله: اللَّهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ:

دې نه معلومه شوه چه عمره اوحج کښې سرخرول افضل دی قصر افضل نه دې. قرآن کريم کښې هم حلق مقدم ذکر کړې شوې دې.

[٢٦٤٩] د سرخرونکو دپاره درې ځله دعا کول

٢٦٤٩ - [٤] ( )[١] وَعَنْ يَحْيَى بْنِ الْحُصَيْنِ، عَنْ جَدَّتِهِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، «أَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ دَعَا لِلْمُحَلِّقِينَ ثَلَاثًا، وَلِلْمُقَصِّرِينَ مَرَّةً وَاحِدَةً». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] يحيى ابن حصين (تابعي) ﷫ د خپلې انا محترمې ښځه (چې د هغې کنيت ام الحصين دی) نقل کوي چې هغه د نبی کریم ﷺ ښځه د سر خريونکو د پاره درې ځله او د وېښتانو د قينچي کونکو د پاره (په آخر کې) يو ځل دعا کول واوريدل، مسلم.

تسهيلات:

قوله: دَعَا لِلْمُحَلِّقِينَ ثَلَاثًا:

دمحلقينو دپاره د دوه ځله دعا کولو وجه: بعض رواياتو کښې دَحلق والودَپاره دَ حضورپاک دَ طرف نه دَ ددوه ځله دَ رحمت دَ دعاذکردې لکه ځنګه چه دې نه وړاندې روايت کښې دی بعض رواياتو کښې دَدريوځلوذکر دې. لکه چه زيربحث روايت کښې دی اوبعضو رواياتو کښې دَ ځلورو ځلوذکر موجود دې په دې رواياتو کښې هيڅ تضادنشته دې. په مختلف مواقع اومختلف مجالس کښې حضورپاک دَ محلقينودپاره دَ رحمت دعا فرمائيلې ده. په يومجلس کښې دوه ځل بل کښې درې ځل او بل کښې ځلورځل دعافرمائيلې ده.

[١] اخرجه مسلم فی کتاب الحج /باب تفضيل الحلق علی التقصير وجواز التقصير (رقم-٣٢١ - (١٣٠٣)

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٦٥٠] حضورپاك دَ ښى طرف ويښته حلق كولوسره په صحابه كرامو كښې تقسيم كړل

٢٦٥٠-[٥] (١) ① وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَتَى مِنًى، فَأَتَى الْجَمْرَةَ، ② فَرَمَاهَا، ثُمَّ أَتَى مَنْزِلَهُ بِمِنًى، وَنَحَرَ نُسُكَهُ، ③ ثُمَّ دَعَا بِالْحَلَّاقِ، وَنَاوَلَ الْحَالِقَ شِقَّهُ الْأَيْمَنَ، ④ ثُمَّ دَعَا أَبَا طَلْحَةَ الْأَنْصَارِيَّ، فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ، ⑤ ثُمَّ نَاوَلَ الشِّقَّ الْأَيْسَرَ، فَقَالَ: "احْلِقْ" فَحَلَقَهُ، فَأَعْطَاهُ أَبَا طَلْحَةَ، ⑥ فَقَالَ: "اقْسِمْهُ بَيْنَ النَّاسِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت انس ﷛ وايي چې نبی كريم ﷺ د منى ځخه د راتلو وروسته جمره عقبه ته تشريف راوړو، ② هلته يې كانړي وويشتلی، بيا يې په منى كې خپل قيام ګاه ته تشريف راوړو، او د خپلې هديې څاروی يې ذبح كړي، ③ د دې ځخه روسته سر خريونكي (چې د هغه نوم معمر ابن عبد الله وو) راوغوښتلی او د خپل سر مبارك ښى طرف ته حصه يې د هغه مخې ته كړه هغه د نبی كريم ﷺ د سر مبارك هغه رسته اړخ وخريلي، ④ بيا نبی كريم ﷺ ابوطلحه انصاري ﷛ راوغوښتلی او هغه ته يې هغه خريلي ويښتان وركړه، ⑤ د دې ځخه روسته نبی كريم ﷺ د خپل سر مبارك ګسه حصه خريونكي طرف ته كولو سره وفرمايل چې اوس دا وخريه نو هغه وخريل، دا ويښتان هم نبی كريم ﷺ ابوطلحه انصاري ﷛ ته وركړل، ⑥ او ورته يې وفرمايل چې دا ويښتان په خلقو كې تقسيم كړه، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① نُسُكَهُ: د نَسِيكَة جمع ده، وَهِيَ الذَّبِيحَةُ: ذبح شوی څاروی ته وائی (ددې نه مراد هغه بدنه يا هدى ده كوم چه مكې ته اوليږلې شى اوهلته ذبح كړې شى). ② الْحَلَّاق: وَهُوَ الْمُزَيِّنُ: سر خرئيونكې، نائی. ③ نَاوَلَ: ورمخې ته ئې كړو، ور برابر ئې كړو. ④ شِقَّهُ الْأَيْمَنَ: خپل ښي طرف.

تسهيلات:

قوله: شِقَّهُ الْأَيْمَنَ:

د تبرك بالآثار الصالحين ثبوت: دې نه معلومه شوه چه حاجى دَخپل سر هغه ويښته اول كټ كړى كوم چه ښى طرف كښې دى. اودَدې حديث نه داهم معلومه شوه چه دَ تبرك په توګه حضورپاك دَخپل سر مبارك ويښته مبارك په صحابه كرامو ﷡ كښې تقسيم كړل حضورپاك دَدې پوره اهتمام اوكړو اوحكم ئې وركړو چه "اقسمه بين الناس" په خلقو كښې دا تقسيم كړه دې سره "تبرك بآثار الصالحين" ثابتيږى. دكوم طرف ته چه ملاعلى قارى ﷬ مرقات كښې بار بار اشاره كوى. افسوس چه نن صبا نجدى حضرات دې حديث ته اهميت وركړى اونجدى سره لږ شان وجدى هم شى.

١) اخرجه مسلم فى كتاب الحج /باب بيان أن السنة يوم النحر أن يرمي، ثم ينحر، ثم يحلق والابتداء في الحلق بالجانب الأيمن من رأس المحلوق (رقم-٣٢٦ - (١٣٠٥)

[٢٦٥١] دَ احرام نه مخکې اودَ حلق نه پس دَ خوشبوئی داستعمال جواز

۲۶۵۰-[٦] ()[١] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ:[٢]«كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَبْلَ أَنْ يُحْرِمَ،[٣]وَيَوْمَ النَّحْرِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ (بِطِيبٍ) فِيهِ مِسْكٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي[٢] چې ما به نبی کريم ﷺ ته د احرام تولو څخه مخکې خوشبو لګوله (احرام که د حج وو، او که د عمرې او که د دواړو)[٣] او ما به د نحر (قربانۍ) په ورځ هم د خانه کعبې د طواف څخه مخکې (خو د سر خريلو او جامو اغوستو څخه پس) نبی کريم ﷺ ته خوشبو لګوله، او خوشبو هم هغه چې په هغه کې به مشک وو. بخاري، مسلم

تسهيلات:

قوله: وَيَوْمَ النَّحْرِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ:

داحرام څخه وړاندې دخوشبوئې حکم: دَاحرام نه مخکښې دَخوشبوئی استعمال په وېښتو اوکپړو باندې جائز دې ليکن په بدن باندې داسې عطرنه دی لګول پکار چه دَ احرام نه پس په بدن باندې باقی پاتې شی اودَ حلق نه پس دَ هرقسم خوشبوئی استعمال جائز دې لکه چه دَدې حديث نه ثابته ده.

[٢٦٥٢] داختر په ورځ په منی کښې د ماسپخين مونځ کول

۲۶۵۱-[٧] ()[١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَفَاضَ يَوْمَ النَّحْرِ، ثُمَّ رَجَعَ، فَصَلَّى الظُّهْرَ بِمِنًى». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[١] ابن عمر رضي الله عنهما راوي دی چې نبی کريم ﷺ د نحر په ورځ (د رمي او قربانۍ څخه فارغيدو سره) مکې ته تشريف راوړو، او د ځابنت په وخت يې فرض طواف وکړي. بيا (په هغه ورځ) د هغه ځاي څخه واپس شو، او د ماسپخين مونځ يې په منٰى کې وکړي، مسلم

تسهيلات: قوله: بِمِنًى:

درواياتو په مينځ کښې دفع تعارض: رسول الله ﷺ دَ نحر په ورځ دَ ماسپښين مونځ په منی کښې اداکړو. سوال دادې چه دَحضرت جابر رضي الله عنه روايت کوم چه دَ حجة الوداع په قصه کښې ذکردې په هغې کښې تصريح موجود ده چه حضورپاك دَ نحر په ورځ دَ ماسپښين

---

١) اخرجه البخاري فی كتاب الحج/باب الطيب عند الإحرام، وما يلبس إذا أراد أن يحرم، ويترجل ويدهن (رقم-١٥٣٩) ومسلم فی كتاب الحج /بَاب الطيب للمحرم عندَ الاحرام (رقم-٤٦ - (١١٩١) وابوداود فی كتاب المناسک/باب الطيب عند الإحرامَ (رقم-١٧٤٥) والترمذیَ فی کتَاب الحج عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/بَاب ما جاءَ فیَ الطيب عند الإحلال قبل الزيارة (رقم-٩١٧) والنسائی فی كتاب مناسک الحج/باب إباحة الطيب عند الاحرام (رقم-٢٦٨٥) وَابن ماجة فی كتاب المناسک/باب الطيب، عند الإحرام (رقم-٢٩٢٦) واحمد فیَ المسند:٦/١٨٦

) اخرجه مسلم فی کتَاب الحج /باب استحباب طواف الإفاضة يوم النحر (رقم-٣٣٥ - (١٣٠٨))

Maktaba Tul Ishaat.com

مونږ په مکه کښې کړې وو او دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنه په دې حديث کښې مذکوردی چه منی کښې نی کړې وو داتضاددې.

دَدې جواب دادې چه په حقيقت کښې حضورپاك په يوم نحر کښې دَ ماسپښين مونځ هم په مکه کښې اداکړې وو لکه چه دَحضرت جابر رضي الله عنه په روايت کښې دی او په منی کښې حضورپاك صرف نفل کړې وو حضرت ابن عمر رضي الله عنه نفل فرض اوګڼړل اودَ ماسپښين ذکر نی اوکړو.

الْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٦٥٣] دَ ښځې دَپاره سر خرول منع دی

٢٦٥٣-[٨] ()١ عَنْ عَلِيٍّ، وَعَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَا: «نَهَى رَسُولُ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ..

ترجمه:١ حضرت علي رضي الله عنه او بي بي عائشه رضي الله عنها دواړه راويان دي چې نبی کريم ﷺ : ښځی د سر خريلو څخه منع فرمايلي ده، ترمذي.

تسهيلات:

قوله: نَهَى رَسُولُ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا:

د ښځې دپاره په حج يا عمره کښې عدم حلق: په حج او عمره کښې هم دَښځودَپاره دَ سر ويښته پرې کول حرام دی اودَدې نه علاوه هم خرول حرام دی. دَ ښځودَپاره دَ سر ويښته ساتل واجب دی لکه څنګه چه دَ سړو دَپاره ږيره ساتل واجب دی.

[٢٦٥٤] ښځې دې صرف قصر کوی

٢٦٥٤-[٩] ()١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-٢«لَيْسَ عَلَى النِّسَاءِ الْحَلْقُ، إِنَّمَا عَلَى النِّسَاءِ التَّقْصِيرُ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ. [وَهَذَا الْبَابُ خَالٍ مِنَ الْفَصْلِ الثَّالِثِ]

ترجمه١ ابن عباس رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل٢ سر خريل د ښځو د پاره ضروري نه دي، بلکه هغوئ ته يواځی خپل ويښتان قينچي کول پکار دي، ابوداؤد، ترمذي، دارمي،

---

[1] اخرجه الترمذی فی کتاب الحج عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی کراهية الحلق للنساء (رقم-٩١٤)

[2] اخرجه ابوداود فی السنن رقم الحديث ١٩٨٥، والدارمی فی السنن رقم الحديث ١٩٠٦، والدارقطنی رقم الحديث ١٦٥ من کتاب الحج

تسهيلات:

قوله: لَيْسَ عَلَى النِّسَاءِ الْحَلْقُ:

د ښځو دپاره د قصر طريقه: دَ ښځو دَپاره دَ قصر طريقه داده چه هغه پخپله يا دَ خپل محرم په ذريعه ټول ويښته په موټی کښې اونيسی او دَ ګوتې دَ بند برابر دې پرې کړی. داخبره يادساتل پکار دی چه مروه سره څه ماشومانو قينچی نيولې ولاړوی او دَ خلقو په سر ټك لګولو سره يو څو ويښته پرې کوی او وائی چه داقصردې داغلط دې داقصرکافی نه دې دې نه ځان ساتل ضروری دی. کـه دَ شـوافع پـه نيز جـائزوی نو دَهغـوی دَپاره جائزښه دی دَ احنافوفتوی داسې نه ده.

[٩] بَابٌ

خلاصة الباب:

فيه أربعة أحاديث مشتملة على مسئلة واحدة.

① عدم الحرج في التقديم والتأخير في مناسك الحج: ١، ٢، ٣، ٤.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[٢٦٥٥] افعال حج کښې دَتقديم اوتاخير مسئله

٢٦٥٥ - [١] (١) ① عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا -، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَقَفَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِمِنًى لِلنَّاسِ يَسْأَلُونَهُ، ② فَجَاءَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: لَمْ أَشْعُرْ. فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ، ③ فَقَالَ: "اذْبَحْ، وَلَا حَرَجَ". فَجَاءَ آخَرُ، فَقَالَ: لَمْ أَشْعُرْ، فَنَحَرْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ، ④ فَقَالَ: "ارْمِ، وَلَا حَرَجَ". فَمَا سُئِلَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ شَيْءٍ قُدِّمَ، وَلَا أُخِّرَ إِلَّا قَالَ: "افْعَلْ، وَلَا حَرَجَ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① عبد الله ابن عمرو ابن العاص ﷺ وايي چې نبی کريم ﷺ د حجة الوداع په موقع په منی کې پاتې شو، چې خلق ځني مسائل معلوم کړي، ② يو سړی په خدمت کې حاضر شو، هغه اوويل چې د نا واقفيت په وجه ما د ذبح کولو څخه مخکې خپل سر خريلی دی؟ ③ نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل چې اوس ذبح وکړه، په دې کې څه حرج نشته، بيا يو بل سړی راغلو، عرض يې وکړ چې ما د کانړو ويشتلو څخه مخکې ځاروی ذبح کړی دی؟ ④ نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل چې اوس کانړي ووله، په دې کې څه حرج نشته، دغه شان د نبی کريم ﷺ څخه چې د څه فعل هم د تقديم او تاخير په باره کې سوال وشو، نو نبی کريم ﷺ ورته دا وفرمايل چې اوس يې وکړي، په دې کې څه حرج نشته، بخاري،

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب الفتيا على الدابة عند الجمرة (رقم-١٧٣٦) ومسلم في كتاب الحج/باب من حلق قبل النحر. أو نحر قبل الرمي (رقم-٣٢٧ - (١٣٠٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

مسلم اد مسلم په یو بل روایت کې داسې دي، چې یو سړی د نبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضرېدو سره عرض وکړي چې ما د کانړو ویشتلو څخه مخکې سر خریلی دی، نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې اوس کانړي ووله، په دي کې څه حرج نشته یو بل سړی راغلو، هغه اوویل چې ما د خانه کعبې فرض طواف د کانړو ویشتلو څخه مخکې کړی دی، نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې اوس کانړي ووله په دي کې څه حرج نشته.

حل اللغات: ① لَمْ أَشْعُرْ: أي: مَا عَرَفْتُ: زه پوهه نه شوم. ② لَاحَرَجَ: أي: لَاإِثْمَ عَلَيْكَ: هیڅ باک نشته، هیڅ ګناه نشته (یعنی په تا څه فدیه یا دم نه لازمیږي).

تسهیلات:

قوله: فَقَالَ: "اذْبَحْ وَلَاحَرَجَ:

د یوم النحر معمولات: واضح دې وی چه د ذی الحجة یوم النحر معمولات بالاتفاق څلور دی، اول رمی د جمره عقبه، بیا نحر د هدی یا ذبح، بیا حلق یا تقصیر، بیا طواف افاضه.

دیوم النحر په احکامو کښې د ترتیب حکم او د فقهاؤ اقوال: او د دې ترتیب په مطلوبیت باندې هم د علماء کرامو اجماع ده خو د دې ترتیب په سنیت یا وجوب کښې اختلاف دې

① امام شافعی، احمد صاحبین بلکه د جمهور سلف او فقهاء اصحاب الحدیث رحمهم الله په نزد دا مذکوره ترتیب سنت دې د ترتیب په خلاف کولو باندې دم نه واجب کیږی،

② د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد په قول د شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله د یوم النحر په مناسك اربعه کښې ترتیب واجب دې په دې وجه په خلاف ترتیب کولو باندې به دم لازم وی. هم دا د ابراهیم نخعی مذهب هم دې،

③ امام مالك رحمه الله فرمائی چه په حلق قبل الرمی باندې فدیه واجب ده. او طواف افاضه لره په رمی باندې مقدم کولو کښې دم واجب دې،

د امام مالک دلائل:

① ما روی ابن ابی شیبة فی مصنفه عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: مَنْ قَدَّمَ شَيْئًا مِنْ حَجِّهِ، أَوْ أَخَّرَهُ، فَلْيُهْرِقْ لِذَلِكَ دَمًا، واخرج ایضا عن سعید بن جبیر، وابراهیم النخعی وجابر بن زید نحو ذلك،

② واخرج الطحاوی عن ابی سعید الخدری قال سئل النبی ﷺ وهو بین الجمرتین عن رجل حلق قبل ان یرمی قال لاحرج ثم قال عباد الله! وضع الله تعالی الضیق والحرج وتعلموا مناسككم فانها من دینكم)

د شافعی دلیل: حدیث عبدالله بن عمرو بن العاص أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَقَفَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِمِنًى لِلنَّاسِ يَسْأَلُونَهُ، فَجَاءَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: لَمْ أَشْعُرْ. فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ، فَقَالَ: "اذْبَحْ، وَلَا حَرَجَ". فَجَاءَ آخَرُ، فَقَالَ: لَمْ أَشْعُرْ، فَنَحَرْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ، فَقَالَ: "ارْمِ، وَلَا حَرَجَ". فَمَا سُئِلَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ شَيْءٍ قُدِّمَ، وَلَا أُخِّرَ إِلَّا قَالَ: "افْعَلْ، وَلَا حَرَجَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

دلته چه په کوم تقدیم او تاخیر باندې ﴿لاحرج﴾ فرمائیلې شوې دې د هغې نه د اثم او فدیه دواړو رفع کول مراد دی ځکه چه لفظ د ﴿حرج﴾ په معنی د ﴿الضیق﴾ اثم او فدیه دواړو ته شامل دې او فدیه یعنی دم که واجب وې نو رسول الله ﷺ به ضرور بیان کړې وې ځکه چه دې وخت کښې د بیان کولو ضرورت وو، لهذا په دې قسم څومره احادیثو کښې چه د ﴿لا حرج﴾ لفظ دې هغه ټول د جمهورو دلیل دې،

جواب: امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه په دې حدیث کښې چونکه هغه حضرات بنه پوهیدل په دې وجه ئې ورته د مناسك حج د زدکړې حکم ورکړو، معلومه شوه چه الله پاك د هغوی نه کوم حرج او ضیق دفع کړې دې هغه د امر مناسك نه د جهالت په بناء دې نه د بلې وجې نه، اوس چه کوم د عدم علم په بناء د رفع حرج متعلق اوفرمائیلې شو د هغې نه رفع اثم مراد دې نه رفع دم.

[٢٦٥٦] کانړی د ورځې ویشتل پکاردی

٢٦٥٦-[٢] () [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: «كَانَ نَبِيُّ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُسْأَلُ يَوْمَ النَّحْرِ بِمِنًى، [٢] فَيَقُولُ: لَا حَرَجَ، [٣] فَسَأَلَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: رَمَيْتُ بَعْدَمَا أَمْسَيْتُ. فَقَالَ: "لَا حَرَجَ"». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې د قربانۍ په ورځ په منی کې خلقو د نبی کریم ﷺ څخه د تقدیم او تاخیر په سلسله کې مسائل معلومول، [٢] او هغه په جواب کې دا فرمایل چې څه حرج نشته، [٣] یو سړي د نبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه، چې ما د ماښام کیدو څخه روسته کانړي ویشتلی دی؟ نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې هیڅ حرج نشته، بخاري.

تسهیلات: قوله: بَعْدَمَا أَمْسَيْتُ:

د یوم النحر د جمره عقبه په تاخیر کښې مذاهب:

دَ ذوالحجه دَ لسم تاریخ رمی جمره عقبه کښې که یوسړې دومره تاخیر اوکړو چه شپه شوه

① دَ جمهورو په نیز به په دې سړی باندې دم واجب شی.

② دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزداسې ترتیب دې چه دَ طلوع آفتاب نه واخله دَ نمر دَ زوال پورې جمره عقبه په کانړو ویشتل مسنون او بهترین وخت دې. دَ زوال شمس نه واخله ترڅ نمر ډوبیدوپورې دَ جواز وخت دې. دَ نمر ډوبیدونه پس دَ شپې وخت کښې جمره عقبه په کانړو ویشتل مکروه دی داسې نه دی کول پکار. خوکه چا داسې اوکړه نو په هغه به دم نه راځی. دا اختلاف صرف دَ جمره عقبه په کانړو ویشتلوکښې دې دَ باقی ورځو په رمی کښې نشته دې.

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب إذا رمی بعد ما امسی، أو حلق قبل أن یذبح، ناسیا أو جاهلا (رقم-١٧٣٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

د زیر بحث حدیث څخه جواب: زیر بحث حدیث کښې "لاحرج" احناف دَ دغه سړی په عذر باندې حمل کوی چه دَ هغه څه مجبوری وه.

دسعودی حکومت فتوی: نن صبا ٢٠٠٥ء کښې دَ سعودی عرب حکومت دَ حرج او مجبورئی لاندې اجتهاد کولوسره دا فیصله کړې ده چه دَ جمرات په رمی کښې دَ شپې او ورځې څه قید نشته دې اودَ زوال نه مخکښې هم دَ ټولو جمراتو دَ رمی اجازت دې دې حضراتو په خپل اعلان کښې دَ امام ابوحنیفه دَ اقوالو مختلف حوالې هم ورکړې دی زما په خیال دا ډیره ښه فیصله ده دې دپاره چه په کولاو وختونو کښې رمی اوشی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٦٥٧] په مختلفو طریقو سره د مناسکو د جواز فتوی

٢٦٥٧-[٣] (١) ١ عَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «أَتَاهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَارَسُولَ اللهِ، إِنِّي أَفَضْتُ قَبْلَ أَنْ أَحْلِقَ، ٢ فَقَالَ: "احْلِقْ، أَوْقَصِّرْ، وَلَا حَرَجَ" ٣. وَجَاءَ آخَرُ، فَقَالَ: ذَبَحْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ. قَالَ: "ارْمِ، وَلَا حَرَجَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت علي فرمایي چې یو سړی د نبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شو، او عرض یې وکړې چې یا رسول الله! ﷺ ما طواف افاضه یعنی فرض طواف د سر خریلو څخه مخکې کړی دی؟ ٢ نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې اوس سر وخریه یا ویښتان قینچې کړه. په دې کې څه ګناه نشته. ٣ دغه شان یو بل سړی راغلو، عرض یې وکړې چې ما د کانړو ویشتلو څخه مخکې څاروی ذبح کړی دی؟ نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې اوس کانړي ووله. په دې کې څه ګناه نشته، ترمذي [اخرجه الترمذی].

تسهیلات:

قوله: فَقَالَ: "احْلِقْ، أَوْقَصِّرْ، وَلَا حَرَجَ:

دامام شافعی مستدل: دا حدیث د امام شافعی رحمه الله دلیل دې چه په دې ارکانه اربعه کښې ترتیب مسنون دې په تقدیم او تاخیر سره دم نه لازمیږی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٦٥٨] د مسلمان د بې عزته کولو وعید

٢٦٥٨-[٤] (٢) ١ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «خَرَجْتُ مَعَ رَسُولِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-

[1] اخرجه الترمذی فی کتاب الحج عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فیمن حلق قبل أن یذبح. او نحر قبل أن یرمی واحمدفی المسند:(رقم-٩١٦)

[2] اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک/باب فیمن قدم شیئا قبل شیء فی حجه (رقم-٢٠١٥)

[۲] فَكَانَ النَّاسُ يَأْتُونَهُ، فَمِنْ قَائِلٍ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، سَعَيْتُ قَبْلَ أَنْ أَطُوفَ، أَوْ أَخَّرْتُ شَيْئًا، أَوْ قَدَّمْتُ شَيْئًا، [۳] فَكَانَ يَقُولُ: "لَا حَرَجَ إِلَّا عَلَى رَجُلٍ اقْتَرَضَ عِرْضَ مُسْلِمٍ وَهُوَ ظَالِمٌ، فَذٰلِكَ الَّذِي حَرِجَ وَهَلَكَ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] اسامه بن شریك ﷺ وايي چې ماته دنبي كريم ﷺ سره د حج د ادائيگۍ سعادت حاصل شوی دی، [۲] نو د حج په دوران كې چې كوم خلق د مسائلو پوښتلو د پاره د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضريدل په هغوئ كې به چا دا ويل چې يا رسول الله ﷺ ما د طواف كعبه څخه مخكې سعي كړيده (يا د افعال منی څخه) ما دا كار مخكې كړی دی يا دا كار ما وروسته كړی دی؟ [۳] نو نبی كريم ﷺ به هغه ته فرمايل چې په دې كې هيڅ گناه نشته ، بلكه گناه په هغه سړي ده چې د ظالم كيدو په وجه د يو مسلمان بې عزتي وكړي، نو دا هغه سړی دی چې گنهگار دی، او هلاك شو، ابوداؤد.

حل اللغات: ① اقْتَرَضَ: أي: اقْتَطَعَ: دَ پرې كولو په معنى كښې دې يعنى كوم سړی چه دَ يو مسلمان بې عزتي او توهين اوكړی، ظلم پرې اوكړی. ② عِرْضَ: عزت او ناموس.

تسهيلات:

قوله: سَعَيْتُ قَبْلَ أَنْ أَطُوفَ، أَوْ أَخَّرْتُ شَيْئًا:

دطواف نه مخكښې د سعی كولو حكم: كه د احرام تړلو اود طواف قدوم يا طواف نفل نه مخكښې سعی اوكړې شی نوصحيح به نه وی، يعنی دطواف افاضه نه مخكښې په سعی كولو كښې هيڅ باك نشته، خودا ضروری ده چه سعی د احرام او طواف نه پس وی اگرچه نفل طواف وی. په دې وجه ما دكعبې دطواف نه مخكښې سعی كړې ده، په دې باره كښې به دا وئيلې شی چه سائل كه آفاقی (يعنی غيرمكی) وو نوددې مطلب داوو چه ما دحج داحرام او دطواف قدوم نه پس اود طواف افاضه نه مخكښې سعی كړې ده، اوكه سائل مكی وو نوبيا به ددې مطلب دا وی چه ما دحج داحرام اونفلی طواف نه پس د طواف افاضه نه مخكښې سعی كړې ده.

دحديث آخری الفاظو مطلب دادې چه كه د منی په افعالو كښې د ناپوهئ په وجه څه تقديم او تاخير اوشی نوهيڅ دگناه خبره نه ده بلكه اصل كښې گناهگار خوهغه سړې دې څوك چه دظلم اوبه ناحقه تكليف رسولو دچا بې عزتی اوكړی، مثلا دچا سپكاوې اوكړی، يا دچا غيبت اوكړی، گويا دغه سړې به دې حكم كښې داخل نه دې څوك چه ددين په خاطر دچا بې عزتی اوكړی، نو داسې سړې به گناهگار نه وی.

Maktaba Tul Ishaat.com

[١٠] بَابُ خُطْبَةِ يَوْمِ النَّحْرِ وَرَمْيِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ وَالتَّوْدِيعِ

دَ لوئې اختر خطبه ، دَ جمراتو رمې او دَ طواف وداع بيان

خلاصة الباب:

فيه ثمانية عشر حديثاً مشتملة على اثنى عشرة مسئلة:

① ذكر خطبة النبي ﷺ : ١، ١٢، ١٣۔

② وقت الرمي: ٢۔

③ الوقوف عند رمي الجمرة الأولى والثانية وعدمه عند رمى الثالثة: ٣، ١٧۔

④ جواز التبيت بمكة في أيام منى للضرورة : ٤۔

⑤ السقاية إلى بني عباس ﷺ : ٤، ٥۔

⑥ عفو طواف الوداع للحيض: ١٠، ١١۔

⑦ طريق النزول من منى: ٦، ٧، ٨، ٩۔

⑧ طواف التوديع: ٦، ١٠۔

⑨ وقت طواف الزيارة : ١٤، ١٧۔

⑩ عدم الرمل في طواف الزيارة: ١٥۔

⑪ حل كل شئ بعد الرمل : ١٦۔

⑫ التبديل في وقت الرمى للضرورة: ١٨۔

قال الله تعالى ﴿ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۚ وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۙ لِمَنِ اتَّقٰى ؕ ﴾

[سورة البقره الايه: ٢٠٣].

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[٢٦٥٩] دَ قربانۍ په ورځ خطبه

٢٦٥٩ – [١] ١: عَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ خَطَبَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ ٢ قَالَ إِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهٖ يَوْمَ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ٣ اَلسَّنَةُ اِثْنَا عَشَرَ شَهْرًا مِنْهَا اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ثَلٰثٌ مُتَوَالِيَاتٌ ذُوالْقَعْدَةِ وَذُوالْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ وَرَجَبُ مُضَرَ الَّذِيْ بَيْنَ جُمَادٰى وَشَعْبَانَ ٤ وَقَالَ أَيُّ شَهْرٍ هٰذَا قُلْنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهٗ سَيُسَمِّيْهِ بِغَيْرِ اسْمِهٖ ٥ فَقَالَ أَلَيْسَ ذَا الْحِجَّةِ قُلْنَا بَلٰى قَالَ أَيُّ بَلَدٍ هٰذَا قُلْنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهٗ سَيُسَمِّيْهِ بِغَيْرِ اسْمِهٖ ٦ قَالَ أَلَيْسَ الْبَلْدَةَ قُلْنَا بَلٰى قَالَ فَأَيُّ يَوْمٍ هٰذَا قُلْنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ أَعْلَمُ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهٗ سَيُسَمِّيْهِ بِغَيْرِ اسْمِهٖ ٧ قَالَ أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ قُلْنَا بَلٰى ٨ قَالَ فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِيْ بَلَدِكُمْ هٰذَا فِيْ شَهْرِكُمْ هٰذَا ٩ وَسَتَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ

فَيَسْأَلُكُمْ عَنْ أَعْمَالِكُمْ ⑩ أَلَا فَلَا تَرْجِعُوا بَعْدِي ضُلَّالًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ قَالُوا نَعَمْ ⑪ قَالَ اللّٰهُمَّ اشْهَدْ فَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعٰى مِنْ سَامِعٍ، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوبکره ﷺ وايي چې نبی کريم ﷺ د قربانۍ په ورځ زمونږ په مخکښې خطبه ② وفرمايله چې (اې خلقو!) د زمانې (يعنی د کال) ګرځلاو پوره شوي دي، د خپل هغه وضع مطابق، چې په کوم هغه ورخ وو، په کومه ورځ چې الله ﷻ آسمان او زمکه پيدا کړې وو ③ (يعني کا ل د خپل هغه وضعي مطابق د دولس مياشتو پوره شوي دي) کال د دولس مياشتو وي، چې په هغه کې څلور مياشتې باحرمت (د عزت) دي، دري خو مسلسل دي يعنی ① ذي القعده ② ذي الحجه ③ محرم او ④ څلورمه د رجب (مضر) چې د جمادي الثاني او شعبان په منځ کې ده ④ بيا نبی کريم ﷺ وفرمايل چې دا کومه مياشت ده؟ مونږ عرض وکړې چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ زيات پوهيږي، نبی کريم ﷺ سکوت وکړو تر دي چې مونږ ګمان وکړې چې نبی کريم ﷺ به د دې څه بل نوم ايږدي، ⑤ خو حضور ﷺ وفرمايل چې آيا دا ذي الحجه نه ده؟ مونږ اوويل چې بيشکه ذي الحجه ده، بيا نبی کريم ﷺ وفرمايل چې دا کوم ښار دی؟ مونږ عرض وکړو چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ زيات پوهيږي، بيا نبی کريم ﷺ خاموشه وو، تر دي چې مونږ ګمان وکه چې نبی کريم ﷺ د دې ښار څه بل نوم ايږدي، ⑥ خو نبی کريم ﷺ وفرمايل چې آيا دا بلده (د مکې يو نوم دی) نه ده؟ مونږ عرض وکړو چې بيشکه بلده ده، بيا نبی کريم ﷺ وفرمايل چې دا کومه ورځ ده؟ مونږ اوويل چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ زيات پوهيږي، حضور ﷺ سکوت وکړې، تر دي چې مونږ ګمان وکه چې نبی کريم ﷺ به د دې ورځ څه بل نوم ايږدي، ⑦ خو نبی کريم ﷺ وفرمايل چې آيا دا يوم نحر (د قربانۍ ورځ) نه ده، مونږ عرض وکړو چې بيشکه دا يوم نحر ده، ⑧ د دې څخه روسته نبی کريم ﷺ وفرمايل چې (ياد لرئ) ستاسو وينه، ستاسو مال او ستاسو ابرو (عزت) په تاسو (د هميشه د پاره) داسې حرام دی، څرنګه چې ستاسو دا ورځ حرامه، ستاسو پدې ښار کې، او ستاسو په دې مياشت کې ⑨ او (اې خلقو!) تاسو ډير نزدې د خپل پروردګار سره يو ځای کيږئ، هغه به ستاسو څخه ستاسو د اعمالو په باره کې پوښتنه کوي، ⑩ خبردار! چې زما د وفات څخه روسته تاسو د ضلالت (ګمراهي) طرف ته واپس ونه ګرځئ، چې تاسو د يو بل څټ وهل شروع کړئ، آګاه شئ! آيا ما په احکام خداوندي رسولو کې خپل فرض اداء نه کړل؟ مونږ عرض وکړو چې بيشکه تا خپل فرض ادا کړل، ⑪ نبی کريم ﷺ وفرمايل چې اې پروردګاره! ته د دې خلقو په اقرار شاهد اوسې (چې دوی د قيامت په ورځ د خپل اقرار څخه انکار ونه کړي) بيا نبی کريم ﷺ مونږ ته وفرمايل کوم خلق چې دلته موجود دي، هغه دې هغه خلقو ته دا خبري ورسوي کوم چې دلته موجود نه وي، ځکه چې بعضې هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

خلق چې هغوئ ته څه خبره ورسول شي، د هغه خبرې د اوريدونکي څخه زيات ياد لرونکی وي، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① اسْتَدَارَ: راګرځيدلي ده، راتاو شوي ده، ② مُتَوَالِيَاتٌ: أَيْ: مُتَتَابِعَاتٌ: پرله پسې، متواتر، ③ضُلَّالًا: د ضَالٍّ جمع ده، ګمراه کيدوته وائی (په بل روايت کښې کفارا لفظ راغلې دې يعنی په اعمالوکښې دکافرومشابهت مه اختياروئ). ④ الشَّاهِدُ: أَيْ: الْحَاضِرُ: چه موجود وی. ⑤ الْغَائِبَ: چه موجود نه وی. ⑥ أَوْعَى: د اسم تفضيل صيغه ده، أَيْ: أَحْفَظُ: ښه ياد ساتونکې، ډير خيال ساتونکې.

تسهيلات: قوله: خَطَبَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ:

په يوم النحر د خطبې په حکم کښې مذاهب:

①: خطبې متعلق په عمدة القاری کښې اجمالا داسې نقل کړې شوې دی چه د حديث ابی بکره رضي الله عنه په وجه باندې د امام شافعی او احمد رحمهما الله په نزد د يوم نحر خطبه سنت ده، پس امام نووی رحمه الله فرمائی چه د شوافع په نزد په حج کښې څلور خطبې مشروع دی، اول په اوومه ورځ په مکه کښې د کعبې په خوا کښې، دويمه د عرفې په ورځ په بطن عرنه کښې، دريمه د يوم النحر خطبه، څلورمه د يوم النفر خطبه.

شوافع د حديث الباب څخه استدلال کوی.

دحديث الباب څخه جواب: زير بحث حديث کښې چه کوم دَ لسم ذوالحجه دَ خطبې ذکر موجود دې احناف دا دَ حج خطبې په ځائی دَ وعظ اونصيحت خطبه ګرځوی.

② ابن قدامه رحمه الله فرمائی چه د امام مالك رحمه الله په نزد د يوم النحر خطبه نشته

③ د احنافو په نزد درې خطبې مشروع دی، رومبئ د اوومې ذی الحجة، دويم د عرفې خطبه، دريمه د يولسمې ذی الحجې په منی کښې. (العينی ٧٥٨/٤) احناف دَ هغه رواياتونه استدلال کوی په کوم کښې چه دَ يولسم ذوالحجه دَ خطبې ذکر دې.

قوله: إِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ الخ:

د مشرکانو په مياشتو کښې بدلون کول: (اى عاد ورجع الى الموضع الذى ابتدام منه) يعنی زمانه کومه چه د کلونو طرف ته او کال کوم چه په مياشتو کښې تقسيم دې دا انقسام هغه اصلی حساب طرف ته واپس شو کوم چه الله پاك د تخليق کائنات په ورځ معين کړې وو. د هر کال دولس مياشتې او د هرې مياشتې چه کومې يو کم ديرش يا ديرش ورځ الله پاك مقرر کړې دی هغه به هغه خلقو د دولسو مياشتو او بعض د ديارلسو مياشتو منلو، او حج به نې د يوې مياشتې نه بلې مياشتې ته مؤخر کولو هم او کومه مياشت چه به هغوی مؤخر کړه هغه به نې ملغی ګڼړلو سره د کال ديارلس مياشتې شمارلې او اشهر حرم کومې چه څلور

مياشتي دی که په هغې کښې به هغوی په جنګ کښې مصروف وو نو دا اشهر حرام به ني حلال ګنړلې او د هغې په ځائې به ني بله يوه مياشت حرامه کړه دې کار ته الله پاك په قران کريم کښې باطل اووې ﴿ انما النسئ زيادة في الكفر ﴾

د استدار الزمان مفهوم: په کوم کال حجة الوداع کښې چه رسول الله ﷺ حج اوکړو دا هغه کال دې په کوم کښې چه د ذو الحج مياشت خپل اصل مقام ته رسيدلې وه، هم په دې وجه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ﴿ ان الزمان قد استدار كهيئته ﴾ يعنى د الله پاك حكم هم دا دې چه ذى الحجة دې په دې وخت کښې وی لهذا تاسو د دې حفاظت کوئ، او حج هميشه هم په دې وخت کښې کوئ او د اهل جاهليت په شان يوه مياشت په بلې مياشت سره مه بدلوئ، كه اشهر حرم كوم چه ذوالقعده، ذوالحجة، محرم او رجب دی،

په اشهر الحرم کښې د قتال په حکم کښې مذاهب:

① په بيضاوی کښې دی چه د عطاء بن ابی رباح په نزد اوس هم په اشهر حرم کښې قتال حرام دې ② خو د جمهور امت په نزد په اشهر حرم کښې د قتال حرمت منسوخ دې.

د نسخې دليل: كما يؤيده انه عليه السلام حاصر الطائف وغزا هوازن بحنين في شوال وذي القعدة.

او امام محمد رحمه الله فرمائی چه دا صحيح ده چه رسول الله ﷺ د محرم د ابتداء نه تر ځلوېښتو ورځو پورې د طائف محاصره اوکړه دا هم په نسخ باندې دلالت کوی. (التعليق ٢٤٣/٣، تفسير البيضاوی ٢٠٦/٢)

اشكال: که دا اشكال راشی چه د دې حديث نه خو معلومه شوه چه د حجة الوداع په کال ذی الحجة په خپل اصلی محل باندې راغلو نو د دې نه مخکښې په ٨ هجری کښې چه عتاب بن اسيد حرمله او په ٩ هجری کښې په ابوبكر صديق رضي الله عنه باندې رسول الله ﷺ حج اوکړو دا کيدې شی چه په ذی الحجة کښې نه وو، حال دا چه د ذی الحجة نه بغير حج بالاتفاق صحيح نه دې؟

جواب: دا دې چه د رسول الله ﷺ ارشاد ﴿ ان الزمان قد استدار كهيئته ﴾ د دې منافی نه دې چه په دې دواړو کلونو کښې هم ذی الحجة په اصلی محل باندې راغلې وی بلکه ﴿ قد استدار حجة الوداع ﴾ او د دې نه مخکښې د دواړو کلونو متعلق صادق دې.

قوله: وَقَالَ أَيُّ شَهْرٍ هٰذَا:

د نبی کريم ﷺ په تپوس کولو کښې د صحابه کرامو آداب: نبی مکرم دَ صحابه کرامو نه بار بار دَاسې څيزونو سوال اوکړو دکوم دَتپوس کولوچه ضرورت نه وو. ليکن دا دَ تعليم دَ ترلو نه ښکلې طريقه وه دې دَپاره چه هرسړې په غور سره واوری اومعلومه کړی چه حقيقت څه دې. بيا دَ صحابه کرامو ادب ته اوګورئی چه دَ يو څيز جواب نه ورکوی دې

Maktaba Tul Ishaat.com

دَپاره چه رسول الله ﷺ پخپله تعین او تشریح اوکړی. په حضورپاك باندې دَ تبلیغ احکام واجب وو په دې وجه چه کله حضورپاك دَدې حق اداکړو نو "اللهم اشهد" اعلان ئې اوکړو چه غاړه ئې خلاصه شي.

[٢٦٢٠] په یولسم اودولسم تاریخ دَ رمی وخت

٢٦٢٠–[٢] ( )[١] وَعَنْ وَبَرَةَ، قَالَ: سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: مَتَى أَرْمِي الْجِمَارَ؟[٢] قَالَ: إِذَا رَمَى إِمَامُكَ فَارْمِهِ، فَأَعَدْتُ عَلَيْهِ الْمَسْأَلَةَ[٣] فَقَالَ: كُنَّا نَتَحَيَّنُ، فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ رَمَيْنَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه [١] وبره (تابعي رحمه الله) وایي چې ما د ابن عمر رضي الله عنهما څخه پوښتنه وکړه، چې زه (په یولسم دولسم ذي الحجه) رمي جمار کوم وخت وکړم؟[٢] نو هغه وفرمایل کوم وخت چې ستا امام رمي کوي، هغه وخت ته هم رمي کوه (یعني په رمي کې د هغه سرې پیروي کوه، چې د رمي د وخت په باره کې ستا څخه زیات پوهېږي) ما د هغه مخکې بیا دا مسئله کینبووه (یعني ما د هغه څخه د رمي د وخت مزید وضاحت وغوښتی)[٣] هغه وفرمایل چې مونږ به د رمي په وخت انتظار کولی، تر دې چې نمر به زوال شو، نو مونږ به کانړي ویشتلی، بخاري.

حل اللغات: ① نَتَحَيَّنُ: أَيْ: نَطْلُبُ الْحِينَ: وخت به مو غوښتلو یعنی انتظار به مو کولو.

تسهیلات: قوله: إِمَامُكَ:

د امام څخه مراد: دې نه امیرالموسم یعنی دَ حج امیر مراد دې اوبیا دَهرسړی رهبر هم دغه سړې دې چه دَرمی صحیح وختونه ښه پیژنی.

قوله: نَتَحَيَّنُ:

په رمی جمرات کښې ترتیب: یعنی مونږ به دَ رمی دَ وخت انتظارکولو. بهرحال په رمی جمرات کښې دا ترتیب دې چه په لسم ذوالحجه صرف دَ یو جمره عقبه رمی ده. مسجدخیف سره نیزدې چه کومه جمره واقع ده دا جمره عقبه ده . دَ مزدلفه نه دَ راتلو په وخت دا جمره دَ ټولو نه په آخره کښې راځی. په لسم ذوالحجه باندې صرف هم دَدې رمی کول واجب دی اودَ سحر نه ترماښام پورې دَدې رمی جائز ده. بیا په یولسم اودولسم ذوالحجه دَ دریواړو جمرات رمی واجب ده لیکن مخکښې دَ زوال نه جائز نه ده. بلکه دَ زوال نه پس دَدې وخت شروع کیږی اودَ شپې په وخت هم په وجه دَ مجبورئی جائز ده. که دَ دیارلسم ذوالحجه رمی یوسړې نه کول غواړی نوهغه له پکاردی چه دَ دولسم ذوالحجه دَ غروب آفتاب او طلوع فجر نه مخکښې مخکښې دَمنی نه اوځی که هغه شپه هلته تیره کړه نو اوس به دَ دیارلسم ذوالحجه رمی په دې باندې لازم شی البته رمی دَ زوال نه مخکښې هم جائز ده

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب رمی الجمار (١٧٤٦)

[٢٦٦١] د رمي جمرات مكمل ترتيب

[٣] () [١] وَعَنْ سَالِمٍ، «عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، [٢] أَنَّهُ كَانَ يَرْمِي جَمْرَةَ الدُّنْيَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ، يُكَبِّرُ إِثْرَ كُلِّ حَصَاةٍ، [٣] ثُمَّ يَتَقَدَّمُ حَتَّى يُسْهِلَ، فَيَقُومُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ طَوِيلًا، [٤] وَيَدْعُو، وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ، ثُمَّ يَرْمِي الْوُسْطَى بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ، يُكَبِّرُ كُلَّمَا رَمَى بِحَصَاةٍ، ثُمَّ يَأْخُذُ بِذَاتِ الشِّمَالِ، فَيُسْهِلُ، وَيَقُومُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ،

ترجمه: [١] سالم رحمه الله د ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت کوي [٢] چې ابن عمر رضي الله عنهما به په جمره دنيا (يعني جمره اولى) اووه کاڼي ويشتلې، او هرى کاڼي څخه روسته به يې الله اکبر ويلي، [٣] بيا به مخکې تللى، تر دې چې نرمي زمکي ته به ورسيدى، نو تر ډېره وخته مخ په قبله کيدو سره به ودريدلى،

حل اللغات: ① جَمْرَةَ الدُّنْيَا: أَيِ: الْبُقْعَةَ الْقُرْبَى: نژدې جمره (د مزدلفي نه واپسئ کنبې چه کومه جمره راځي هغه مراد ده او هغې ته جمره اولى هم وائي). ③ يُسْهِلَ: وَهُوَ اللَّيِّنُ: نرمې زمکې ته وائي، أَيْ: يَدْخُلَ الْمَكَانَ السَّهْلَ: نرمې زمکې ته به اورسيدو (د سهل ضد حَزْن او صَعْب راځي)،

[١] ثُمَّ يَدْعُو، وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ، وَيَقُومُ طَوِيلًا، [٢] ثُمَّ يَرْمِي جَمْرَةَ ذَاتِ الْعَقَبَةِ مِنْ بَطْنِ الْوَادِي بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ، يُكَبِّرُ عِنْدَ كُلِّ حَصَاةٍ، وَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا، [٣] ثُمَّ يَنْصَرِفُ، فَيَقُولُ: هَكَذَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَفْعَلُهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او دعا به يې غوښتله او خپل دواړه لاسونه به يې پورته کول او تر ډېره وخته به ولاړ وو، [٢] تر دې چې په جمره عقبه به يې د بطن وادي څخه اووه کاڼي ويشتلې، او د هرى کاڼي سره به يې الله اکبر ويلې، او د دې جمري سره به نژدې نه پاتې کيدلى، [٣] بيا به د هغه ځاى څخه واپس تللى، او ويل به يې چې ما نبى کريم صلى الله عليه وسلم په دغه شان کولو ليدلى دى، بخاري.

حل اللغات: ③ يَنْصَرِفُ: واپس به تللو.

تسهيلات:

قوله: جَمْرَةَ الدُّنْيَا:

د جمره دنيا مصداق: دَ مزدلفه نه راتلوسره چه کوم جمره اول مخامخ راځي هم دغه جمرهٔ دنيا او جمرهٔ اولى ده. دې نه پس جمرهٔ وسطى ده اوآخرکښې جمرهٔ عقبى ده. دَ اول او دويم جمره دَ ويشتلونه پس دعاغوښتل هم مستحب دى اوپيدل ويشتل هم مستحب دى. دَ جمرهٔ عقبى نه پس اودريدوسره دَدعا ضرورت نشته دې اوچونکه حاجى له دَجمرات نه فارغ کيدوسره تلل وى په دې وجه په سورلئى سوريدوسره دَدې ويشتل بهتردى. نن صباخودَ سوريدو تصور هم ممکن نه دې.

[١] اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب رفع اليدين عند جمرة الدنيا والوسطى (رقم-١٧٥٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: مِنْ بَطْنِ الْوَادِي:

د بطن الوادی مصداق: نن صبا دَ وادئی اندازه خو نه کیږی البته دامعلومولې شی چه نبی پاك په کوم مقام باندې اودریدو سره رمی کړې وه. دَدې طریقه داده چه دَرمی کونکی سړی گسه اوږه کوم وخت دَ قبلې طرف ته وی اوښې اوږه دَ مزدلفه طرف ته وی اومخ نی دَ جمره طرف ته وی نودله دا گنړل پکاردی چه هم دَدې طرف نه حضورپاك رمی کړې وه.

[٢٦٦٢] په مِنٰی کښې دَ شپې حصاریدل واجب دی که سنت؟

٢٦٦٣-[٤] ()① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: «اسْتَأْذَنَ الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَسُولَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-أَنْ يَبِيتَ بِمَكَّةَ لَيَالِيَ مِنًى، مِنْ أَجْلِ سِقَايَتِهِ② فَأَذِنَ لَهُ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابن عمر ﷺ وایي چې حضرت عباس ﷺ ابن عبدالمطلب نبی کریم ﷺ ته د دې خبري خواست وکه چې په کومو شپو کې د منٰی قیام کیږی، په هغه کې ده ته د زمزم د خدمت د پاره په مکه کې د اوسیدو اجازت ورکول شي، ② نو نبی کریم ﷺ هغه ته اجازت ورکړي، بخاري، مسلم.

تسهیلات:

قوله: اسْتَأْذَنَ الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَسُولَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د عباس د زمزم وېشلو مطالبه کولو وجه: دَ حضورپاك تره حضرت عباس رضی الله عنه بیت الله سره دَ زمزم دَ کوهي نگران وو. چنانچه دَهغوی په نگرانئی کښې حاجیانو باندې دَ زمزم اوبه څکولې. هم دَدې خدمت دَپاره حضرت عباس رضی الله عنه دَ حضورپاك نه اجازت اوغوښتو چه زه به دَ منٰی شپه په مکه مکرمه کښې تیره کړم دې دَپاره چه دَ حاجیانو خدمت اوکړې شم. حضورپاك هغوی ته اجازت ورکړو.

په منٰی کښې درې ورځې تیرولو شرعی حیثیت: دَ رمی جمار په ورځو کښې منٰی کښې درې شپې تیرولو ته لیالی منٰی اومبیت منٰی وائی. اوس شرعی مسئله داده په دې باندې دَ ټولو فقهاؤ اتفاق دې چه دَمنٰی درې شپې هم په منٰی کښې تیرول پکاردی. بل ځائی کښې مبیت نه دی اختیارول پکار. لیکن په دې کښې بحث دې چه دَ مبیت منٰی حیثیت واجب دې یا دا مبیت سنت دې. چنانچه دَ امام شافعی رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله په نیزدا درې شپې منٰی کښې تیرول واجب دی دَدې په ترك کولوباندې دم لازم راځی. دَ امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب او په یوقول کښې دَ امام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیز مبیت منٰی سنت دې دَدې په ترك باندې دم نه راځی. البته بغیردَ عذر نه دَدې ترك کول ډیر خراب

---

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الحج /باب هل یبیت أصحاب السقایة أو غیرهم بمکة لیالی منی؟ (رقم-١٧٤٥) ومسلم فی کتاب الحج /باب وجوب المبیت بمنی لیالی أیام التشریق، والترخیص فی ترکه لأهل السقایة(رقم-٣٤٦ - (١٣١٥)

کار دي. دزير بحث حديث نه امام ابوحنيفه رحمه الله استدلال كړي دي چه مبيت منى سنت دي ځکه چه كه مبيت واجب وي نو حضورپاك به حضرت عباس رضي الله عنه ته اجازت نه وركولو.

[٢٦٦٢] رسول الله ﷺ د زمزم په كوهى باندې

[٥] ()[١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا -، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - جَاءَ إِلَى السِّقَايَةِ، فَاسْتَسْقَى [٢] فَقَالَ الْعَبَّاسُ: يَا فَضْلُ، إِلَى أُمِّكَ فَأْتِ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِشَرَابٍ مِنْ عِنْدِهَا [٣] فَقَالَ: "اسْقِنِي" [٤] فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّهُمْ يَجْعَلُونَ أَيْدِيَهُمْ فِيهِ. [٥] قَالَ: "اسْقِنِي"

ترجمه: [١] ابن عباس رضي الله عنه وايي چې نبی كريم ﷺ سبيل ته تشريف راوړی، او د زمزم اوبه يې وغوښتلې، [٢] حضرت عباس رضي الله عنه خپل خوی فضل رضي الله عنه ته وويل، اې فضل! خپلې مور ته ورسه، او د نبی كريم ﷺ د پاره د هغې څخه (د زمزم هغه) اوبه وغواړه (چې د هغې سره پرتې دي، اوس لا استعمال شوی نه دي)[٣] نبی كريم ﷺ (د دې اوريدو سره) وفرمايل چې ته په ما د دې سبيل څخه اوبه وڅښه، [٤] حضرت عباس رضي الله عنه عرض وكړو چې يا رسول الله! ﷺ خلق په دې كې خپل لاس اچوي، [٥] نبی كريم ﷺ وفرمايل چې هيڅ حرج نشته، په ما باندې يې د دې څخه وڅښه،

حل اللغات: ① السِّقَايَةِ: أَيْ: سِقَايَةِ الْحَاجِّ: دحاجيانو د اوبو څكلو ځائې يعنى د زمزم كوهى سره چرته چه به حاجيانو ته اوبه وركولې شوې.

[١] فَشَرِبَ فِيهِ، ثُمَّ أَتَى زَمْزَمَ، وَهُمْ يَسْقُونَ، وَيَعْمَلُونَ فِيهَا، [٢] فَقَالَ: "اعْمَلُوا، فَإِنَّكُمْ عَلَى عَمَلٍ صَالِحٍ [٣]" ثُمَّ قَالَ: "لَوْلَا أَنْ تُغْلَبُوا، لَنَزَلْتُ حَتَّى أَضَعَ الْحَبْلَ عَلَى هَذِهِ" [٤]. وَأَشَارَ إِلَى عَاتِقِهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] نو نبی كريم ﷺ د هغه څخه وڅكلې، بيا د زمزم كوهى لره يې تشريف راوړو، چې هلته (د عبد المطلب د خاندان والا) په خلقو اوبه څكلې، او په دې خدمت كې په پوره طور سره مصروف وو، [٢] نبی كريم ﷺ هغوئ ته وفرمايل چې خپل كار جاري ساتی، ځكه چې تاسو په يو نيك كار كې اخته يي، [٣] بيا يې وفرمايل چې كه ماته دا خوف نه واي، چې خلق به تاسو باندې غلبه پيدا كړي، نو زه به (د خپلې اوبې څخه) راخكته شوی وې (په كومې نبی كريم ﷺ سور وو، چې نبی كريم ﷺ د ټولو په مخكې وي، او خلق د ده ﷺ څخه د حج عملي احكام زده كړي)[٤] او نبی كريم ﷺ د خپلې وږي طرف ته اشاره كولو سره وفرمايل چې رسى به مي په دې اېښي وې، يعنى كه ما سره د دې خبرې بيره نه وې، چې خلقو به زه اوبه راكښونكى ليدو سره زما د سنت په اتباع كې به اوبه راخكل شروع كړې او د دې سعادت د حصول د پاره به دومره رش شي، چې هغه به په تاسو غالب شي، او تاسو به د اوبو راخكلو ته پرې نه ږدي، چې د هغه په وجه به دا مقدس خدمت

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب سقاية الحاج (رقم-١٦٣٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

ستاسو د لاس څخه ولاړ شي، نو زه به هم د خپلې اوبنې څخه راخکته کيدو سره د دې کوهي څخه به مې اوبه راخکلي وی، بخاري.

حل اللغات: ⑦ الْحَبْلُ: رسئ.

تسهيلات: **قوله:** السِّقَايَةِ:

د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د تواضع مظاهره: دَزمزم کوهی سره دَ زمزم سبيل لګيدلې وو عامو خلقو به دَهغې نه اوبه څکلې. رسول الله ﷺ هم هلته کوزشو او دَ څکلودپاره ئې اوبه اوغوښتلې. حضرت عباس رضي الله عنه خپل خوئی حضرت فضل رضي الله عنه ته اوفرمائيل چه لاړ شه دَ کور نه دَ زمزم اوبه راوړلو سره حضورپاک ﷺ باندې اوڅکوه. څکه چه دَ سبيل په دې اوبو کښې عام خلق لاس وهی. رسول الله ﷺ دَ اوچتې تواضع مظاهره کولوسره حکم ورکړو چه هم دَ دغه عامو اوبونه په ماباندې اوڅکوه.

دې نه پس حضورپاک ﷺ دَزمزم کوهی له راغلو دکوم ځائی چه اوبه دَ ډولچې په ذريعه سره راويستلې. حضورپاک ﷺ خواهش ښکاره کړو چه زما زړه غواړې چه زه دَخپلې اوبنې نه کوزشم پخپله دَزمزم دَ کوهی نه دَ ډولچې په ذريعه اوبه راکاږم ليکن که زه داسې اوکړم نوبيا به ټول خلق په تاسو باندې راپريوځی اوداخدمت به تانه واخستلې شی. لهذا دابهتر کاردې ته هم دا پوره کوه. په دې روايت کښې هم دغه شان قصه ده په يوبل روايت کښې بل شان قصه ده چه حضورپاک دَ اوبنې نه راکوز شو اودَ ډولچې په ذريعه سره ئې اوبه حاصلې کړې اوباقی اوبه ئې دوباره کوهی ته واچولې. معلوميږی چه دا دوه جدا جدا واقعات دی.

[۲٦٦٤] دَرسول الله ﷺ دَطواف وداع دَپاره راتلل

۲٦٦٤ - [٦] (¹) ① وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَلَّى الظُّهْرَ، وَالْعَصْرَ، وَالْمَغْرِبَ، وَالْعِشَاءَ، ② ثُمَّ رَقَدَ رَقْدَةً بِالْمُحَصَّبِ، ثُمَّ رَكِبَ إِلَى الْبَيْتِ، فَطَافَ بِهِ» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه ① حضرت انس رضي الله عنه وايي چې نبی کريم ﷺ د ذي الحجه په ديارلسم تاريخ د منٰی څخه روانيدو سره په محصّب کې د ماسپخين، مازيګر، ماښام او ماسخوتن مونځ وکړي، ② هلته تر څه وخته اوده شو، بيا د خانه کعبې د پاره سور شو، هلته رسيدو سره طواف وداع يې وکړي، بخاري.

حل اللغات: ① رَقَدَ رَقْدَةً: أَيْ: نَامَ نَوْمَةً خَفِيفَةً: لږ وخت اوده شو. ② بِالْمُحَصَّبِ: وَهُوَ كُلُّ مَوْضِعٍ كَثُرَ حَصَاؤُهُ: کوم ځائې چه کانړی وی هغې ته محصب وائی ،دلته ترې دَ منٰی او بيت الله په مينځ کښې دَ يوځائی نوم دې هغه مراد دې، هغې ته ابطح هم وائی او بطحاء هم ورته وائی اودې ته خيف بنی کنانه هم وائی.

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب طواف الوداع (رقم-۱۷۵٦) والدارمی فی السنن ۷۷ الحديث رقم ۱۸۷۳

تسهيلات: **قوله:** ثُمَّ رَكِبَ إِلَى الْبَيْتِ، فَطَافَ بِهِ:

په آفاقي باندې د طواف وداع وجوب: طواف وداع آفاقي دَپاره واجب دی چه کله دَحج افعال ختم شی اوحاجی خپل وطن ته واپس کيدل غواړی نوهغه دَ بيت الله طواف کولوسره رخصت کيږی. هم دغه دَرخصتنې طواف ته طواف وداع وائی حضورپاك چونکه آفاقي وو په دې وجه په ديارلسم ذوالحجه باندې دَ رمی نه فارغيدو سره بيت الله شريف ته راغلو اوطواف وداع کولوسره مدينې منورې طرف ته روان شو.

په محصب کښې د قيام او ايساريدلو شرعی حيثيت: دَمنی نه دَبيت الله طرف ته راتلو سره حضورپاك په محصب کښې لږ شان قيام اوکړو. هم په دې ځائی کافرانو دَ قريشو بنوهاشم سره سوشل بائيکاټ حلف نامه ليکلې وه.

په مقام محصب کښې د حاجی دپاره په قيام کولوکښې مذاهب:

① بعض علماء وائی چه تحصيب کول يعنی محصب کښې حصاريدل مسنون او دَ حج افعالو تتمه ده. دَ حضرت عمر فاروق ﷛ هم دغه رائې وه.

② نور علماء فرمائی په محصب کښې دَ حضورپاك حصاريدل يواتفاقی معامله وه څه شرعی مسئله نه وه دَ احناف په کتابونوکښې هم ليکلی دی چه محصب کښې حصاريدل يو اتفاقی معامله وه. نن صباخو څوك محصب پيژنی هم نه.

داول فريق دليل: زيربحث حديث د اول فريق دليل دې.

داول فريق د دليل دوه جوابونه: ① حضورپاك په دې وجه هلته حصار شوې وو چه دَدې ځائی نه دَ مدينې طرف ته وتل آسان وو

② په دې وجه حصار شوې وو چه دَ الله تعالی شکر اداکول وو چه هم په دې ځائی کښې کافرانو څنګه ظالمانه فيصله کړې وه اونن دکفر دلته نوم اونښه نشته بلکه دَ اسلام غلبه ده

د دويم فريق دليل: راتلونکی حديث نمبر ۲۶۶۶ د دوی مستدل دې په کوم کښې چې حضرت عائشې رضی الله عنها په صراحت سره دا ذکر کړې دې چې په مقام محصب کښې قيام کول څه حيثيت نه لری.

[٢٦٦٥] حضور ﷺ د ترويه اود نفر په ورځ د ماسپخين او ماځيګر مونځ کوم ځای اوکړو؟

—٢٦٦٥ [٧] (¹) ١ وَعَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ، قَالَ: «سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قُلْتُ: أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ عَقَلْتَهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ أَيْنَ صَلَّى الظُّهْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ؟ ٣ قَالَ: بِمِنًى؟ ٤ [قَالَ]: فَأَيْنَ صَلَّى الْعَصْرَ يَوْمَ النَّفْرِ؟ قَالَ: بِالْأَبْطَحِ. ٥ ثُمَّ قَالَ: افْعَلْ كَمَا يَفْعَلُ أُمَرَاؤُكَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

(¹) أخرجه البخاری فی كتاب الحج/باب من صلى العصر يوم النفر بالأبطح (رقم-١٧٦٣) ومسلم فی كتاب الحج /باب استحباب طواف الإفاضة يوم النحر (رقم-٣٣٥ - ٣٣٦ - (١٣٠٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: ① عبد العزيز بن رفيع (تابعي) رحمه الله وايي چې ما انس بن مالك رضي الله عنه ته عرض وکړو چې ته د نبی کریم ﷺ متعلق په دې باره کې څه چې درته معلوم دي ماته يې وښايه، ② چې نبی کریم ﷺ د ترویه په ورځ (يعني د ذي الحجه په اتم تاريخ) د ماسپخين مونځ کوم ځای وکړی؟ ③ انس رضي الله عنه وفرمايل چې په منٰى کې ④ عبد العزیز وايي چې ما بيا د انس رضي الله عنه څخه دا پوښتنه وکړه، چې نبی کریم ﷺ د نفر په ورځ (يعني د ذي الحجه په دیارلسم تاريخ) د مازیگر مونځ کوم ځای وکړی؟ انس رضي الله عنه وفرمايل چې په ابطح کې، ⑤ بيا انس رضي الله عنه وفرمايل چې ته داسې کوه څرنګه چې ستا اميران يې کوي، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① عَقَلْتَهُ: أَيْ: عَلِمْتَهُ: چه تاته معلوم دی، تاته ياد دی. ② يَوْمَ التَّرْوِيَةِ: أَيْ: الْيَوْمَ الثَّامِنَ: د ذی الحجه اتمې ورځ ته یوم الترويه وائی. ③ يَوْمَ النَّفْرِ: وَهُوَ الْيَوْمُ الثَّالِثُ مِنْ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ: د ايام تشريق دريمه ورځ يعنی د ذی الحجه دیارلسمه ورځ.

تسهيلات:

قوله: افْعَلْ كَمَا يَفْعَلُ أُمَرَاؤُكَ:

د مذكوره جملې مطلب: دحديث دآخری جملې مطلب دادې چه نبی کریم ﷺ خو دغه شان کړی وو، خوته په دې باره کښې دخپل سردار اودخپل امير تابعداری اوکړه، چه څنګه هغه کوی هغه شان ئې ته کوه، چه دهغه دمخالفت په وجه څه فتنه جوړه نه شی، اوهسې دا څه ضروری خبره هم نه ده چه د ترويه په ورځ نبی عليه السلام چرته د ماسپخين مونځ او د نفر په ورځ ئې چرته د مازیگر مونځ کړې دې هلته ئې ته هم اوکړه.

په رواياتو كښې تعارض: د ړومبی روايت نه خودا معلومه شوې وه چه نبی کریم ﷺ د نفر په ورځ يعنی د ذی الحجې په دیارلسمه ورځ د ماسپخين مونځ په محصب کښې کړې وو، حالانکه په دې حديث کښې ددې خبرې ذکرنشته. په ظاهريو قسم تعارض ښکاری؟

دتعارض حل: نبی کریم ﷺ د ماسپخين مونځ په محصب کښې کړې وو لکه چه دحضرت انس رضي الله عنه د ړومبی روايت نه معلومه شوه، خوپه دې موقع چونکه حضرت عبد العزیز رحمه الله ددغه ورځې د ماسپخين مونځ په باره کښې تپوس اونکړو، په دې وجه په دې دويم روايت کښې حضرت انس رضي الله عنه هم ددې ذکر اونکړو.

[٢٦٦٦] په ابطح كښې قيام سنت نه دې

٢٦٦٦-[٨] (١) ① وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: نُزُولُ الْأَبْطَحِ لَيْسَ بِسُنَّةٍ، ② إِنَّمَا «نَزَلَهُ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِأَنَّهُ كَانَ أَسْمَحَ لِخُرُوجِهِ إِذَا خَرَجَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الحج /باب المحصب (رقم-١٧٦٥) ومسلم فیکتاب الحج /باب استحباب النزول بالمحصب يوم النفر والصلاة به (رقم-٣٣٩ - (١٣١١)

ترجمه: ① أم المؤمنين بي بي عائشه ﷞ فرمايي چې په ابطح كې ښكته كيدل (يعني پاتې كيدل) سنت نه دى، ② او نبى كريم ﷺ خو هلته يواځې د دې د پاره ښكته شوى وو، چې (د مكې ښخه) په تلو كې اساني وى، هر كله چې نبى كريم ﷺ د هغه ځاى ښخه روان شوى وو، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① نُزُولُ الْأَبْطَحِ: ابطح مقام كښې ښكته كيدل يعنى پاتې كيدل. ② أَسْمَحَ: أَيْ: أَسْهَلَ: ډير آسان.

تسهيلات:

قوله: نُزُولُ الْأَبْطَحِ لَيْسَ بِسُنَّةٍ:

د مذكوره قول مطلب: دحضرت عائشې رضى الله عنها د وينا مقصد دادې چه نبى كريم ﷺ كله په ديارلسم د ذى الحجې د منى نه راواپس شو، نوپه ابطح يعنى محصب كښې صرف په دې غرض سره ايسار شوې ووچه هلته خپل سامان وغيره پريږدى مكې ته لاړشى او هلته طواف وداع اوكړى اوكله چه دمكې نه مدينې ته واپس شى نوهغه وخت به ورسره سامان وغيره نه وى نو آسانى به ورته وى.

نوټ: ددې حديث تشريح په حديث نمبر ٢۶۶۴ په تسهيل كښې ذكرشوې ده.

دحضرت ابن عمر ﷠ قول: په دې باره كښې چه څومره پورې دمسئلې تعلق دې نوپه دې كښې اختلاف دې، بعضې حضرات خو دا وائى چه تحصب يعنى په محصب كښې ايساريدل سنت دى اودحج د افعالو يوه تتمه ده، دا دحضرت ابن عمر ﷠ قول دې.

دحضرت ابن عمر ﷠ د قول دليل: ددوى په نزد په محصب كښې د قيام مسنون كيدو دليل دادې چه نبى كريم ﷺ (په منى كښې) فرمائيلي ووچه صبا به مونږ ان شاء الله په خيف بنى كنانه يعنى محصب كښې ايساريږو، اوددې وجه داوه چه خيف بنى كنانه هغه ځائې دې چرته چه د مكې مشركانو د نبى كريم ﷺ د مكې په ژوند كښې خپل مينځ كښې دا وعده اولوظ كړې وو، اودا قسم ئې كړې وو چه مونږ بنوهاشم او بنو عبدالمطلب (يعنى ددې دواړو خاندانونو خلقوسره ملاويدل، نكاح، واده، اخستل خرڅول، او دهغوى سره كيناستل پاځيدل تر هغه وخته پورې پريږدو، ترڅو چه هغوى محمد ﷺ مونږ ته اونه سپارى، ګويا په دغه مقام باندې هغوى ددې خاندانونو سره دمكمل مقاطعه او بائيكاټ (پريكړې) اعلان كولو سره د كفر د شعائرو اظهار كړې وو، نوكله چه الله تعالى داسلام قوت ته غلبه وركړه او كفر اوشرک ختم شو نو نبى كريم ﷺ دحجة الوداع په موقع باندې د منى نه مكې ته واپس كيدو سره دا اوغوښتل چه دغه ځائې يعنى په خيف بنى كنانه (محصب) كښې ايسارشى اود اسلام شعائر ښكاره كړى، چرته چه څوكاله مخكښې كافرانو دكفر شعائر ښكاره كړى وو، دغسې ئې هلته د الله تعالى دهغې نعمتونو شكر

Maktaba Tul Ishaat.com

اداکړه کوم چه الله تعالی اسلام ته په غلبه او عظمت ورکولو سره نصیب کړی وو

دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه قول: طبرانی په اوسط کښې دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه دا قول نقل کړې دې چه د یوم النفر په شپه کښې په ابطح کښې ایساریدل یو سنت عمل دې، او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه به خلقو ته په دغه شپه په ابطح کښې دایساریدلو حکم کولو

د احنافو قول: د حنفی فقهې مشهور کتاب هدایه کښې لیکلی دی چه زیاته صحیح خبره داده چه نبی کریم ﷺ به په ابطح کښې په دې مقصد سره قیام کولوچه مشرکانو ته دالله تعالی قدرت ور اوښائی، چه صباله کوم ځائې کښې هغوی دمکمل مقاطعې (تعلقات پریښودو) عهد اولوظ کولو سره دخپلې کامیابۍ اظهار کړې وو. نن هم هغه ځائې دالله تعالی په فضل سره دمسلمانانوپه قبضه کښې دې،نودغه ځائې کښې قیام کول سنت دی.

دحضرت ابن عباس رضی الله عنه اوحضرت عائشه رضی الله عنها قول: ددې په خلاف بعضې حضرات وائی چه په محصب کښې قیام سنت نه دې، ځکه چه هلته دنبی کریم ﷺ قیام هسې اتفاقی طور باندې شوې وو،

دحضرت ابن عباس رضی الله عنه دقول دلیل: چه دهغې صورت دا ووچه دنبی کریم ﷺ آزاد کړې شوې غلام حضرت ابو رافع چه دهغوی دسفر دسامان نگران وو. هغه په خپله رائې سره اتفاقی طورباندې هلته ایسار شوې وو.او دنبی علیه السلام خیمه ئې لګولې وه، په دې باره کښې د نبی کریم ﷺ هیڅ حکم نه وو، په محصب کښې قیام ته سنت نه ویونکو کښې دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه علاوه حضرت عائشه رضی الله عنها هم ده. لکه څنګه چه د پورتنی حدیث نه معلومه شوه

حاصل او غوره قول: بهرحال! په دې باره کښې غوره خبره داده چه هرکله د نبی کریم ﷺ نه په محصب کښې ایساریدل رانقل دی،اګرچه دغه ایساریدل اتفاقی طور باندې ولې نه وی. نوښه خبره داده چه هلته قیام اوکړې شی لکه څرنګه چه نورو صحابه کرامو او خلفاء راشدینو به هم په دې باندې عمل کولو. اوکه څوک هلته ایسار نه شی نوپه دې کښې څه نقصان هم نشته

[٢٦٦٧] دحضرت عائشې رضی الله عنها د تنعیم څخه عمره کول

٢٦٦٧-[٩] (١) ① وَعَنْهَا قَالَتْ: «أَحْرَمْتُ مِنَ التَّنْعِيمِ بِعُمْرَةٍ، فَدَخَلْتُ، فَقَضَيْتُ عُمْرَتِي، ② وَانْتَظَرَنِي رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حَتَّى فَرَغْتُ، ③ فَأَمَرَ النَّاسَ بِالرَّحِيلِ، فَخَرَجَ، فَمَرَّ بِالْبَيْتِ، فَطَافَ بِهِ قَبْلَ صَلَاةِ الصُّبْحِ، ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَدِينَةِ» ④ . هَذَا الْحَدِيثُ مَا وَجَدْتُهُ بِرِوَايَةِ الشَّيْخَيْنِ، بَلْ بِرِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ مَعَ اخْتِلَافٍ يَسِيرٍ فِي آخِرِهِ.

[١] اخرجه ابوداود في كتاب المناسک . باب طواف الوداع (رقم-٢٠٠٥)

ترجمه [١] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما د عمري د پاره د تنعيم څخه احرام وتړلی، او په مکه کې داخله شوم بيا ما خپله (هغه) عمره ادا کړه چې ايام (د حيض ورځي شروع کيدو په وجه پاتې شوي وه، او د هغه قضاء ما تـه کول وو، د دې تفصيل باب قصه حجة الوداع کې تير شوی دی) [٢] او نبی کريم ﷺ په ابطح کې زما په انتظار کې وو، تر دې چې زه د عمري د افعالو څخه فارغه شوم، [٣] نو نبی کريم ﷺ خلقو ته د تلو حکم وکړي، نبی کريم ﷺ دا بطح څخه روانيدو سره خانه کعبې تـه تشريف راوړو، او د سحر د مانځه څخه مخکې يې طواف وداع وکړي، بيا د سحر د مانځه څخه مخکې يا وروسته د مديني طرف ته روان شو [٤] مؤلف د مشکوة فرمايي چې ماته دا حديث په بخاري او مسلم کې حاصل نشو، بلکه دا حديث ابوداؤد رحمه الله نقل کړی دی، هغه هم په آخر کې څه قدر مختلف دی [اخرجه ابوداؤد: ٢/٢١٥].

حل اللغات: ① فَرَغْتُ: چه زه فارغه شوم (د عمري د افعالو نه).

تسهیلات:

قوله: هَذَا الْحَدِيثُ مَا وَجَدْتُهُ بِرِوَايَةِ الشَّيْخَيْنِ:

د مذکوره قول مطلب: د مشکوة د مؤلف د قول مطلب دادې چه زما د علم مطابق دا روايت نه خو بخاری نقل کړې دې اونه مسلم، بلکه دا روايت ابوداؤد نقل کړې دې.

قوله: بَلْ بِرِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ:

په صاحب مصابيح باندې اول اعتراض: په دې جملې سره د مشکوة مؤلف په صاحب د مصابيح باندې يو اعتراض دا کړې دې چه هغوی دا روايت په ړومبی فصل کښې نقل کړې دې حالانکه په ړومبی فصل کښې صرف د بخاری اومسلم روايت نقل کولې شی.

قوله: مَعَ اخْتِلَافٍ يَسِيرٍ فِي آخِرِهِ:

په صاحب مصابيح باندې دويم اعتراض: صاحب د مصابيح د حديث په نقل کښې د راوی يعنی د ابوداؤد مخالفت کړې دې. په دې طريقه چه د حديث آخری جزء ئې بعينه هغه نه دې نقل کړې کوم چه ابوداؤد نقل کړې دې

[٢٦٦٨] طواف وداع واجب دې

٢٦٦٨-[١٠] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: «كَانَ النَّاسُ يَنْصَرِفُونَ فِي كُلِّ وَجْهٍ. [٢] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَنْفِرَنَّ أَحَدُكُمْ، حَتَّى يَكُونَ آخِرُ عَهْدِهِ بِالْبَيْتِ، [٣] إِلَّا أَنَّهُ خُفِّفَ عَنِ الْحَائِضِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب طواف الوداع (رقم-١٧٥٥) ومسلم فی باب وجوب طواف الوداع وسقوطه عن الحائض (رقم-٣٧٩ - (١٣٢٧)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه [١] ابن عباس ﷺ وايي چې خلق (د افعال حج د ادائيگی څخه پس) د طواف وداع کولو بغير هر طرف (يعني خپل وطن ته) روانيدل (يعني خلقو د دې خبري پابندي نه کوله، چې د افعال حج څخه روسته مکې ته راتلو سره طواف وداع يې کړی واي) [٢] نو نبی کریم ﷺ وفرمايل چې په تاسو کې دې هيڅوك هم (يعني افاقي) نه روانيږي، تر څو چې (د سفر) آخري مرحله بيت الله شريفي ونه گرځوي (يعني هيڅوك هم افاقي د طواف وداع کولو بغير خپل وطن ته دې نه ځي) [٣] البته د حيض او نفاس والا ښځي د پاره موقوف دی، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① يَنْصَرِفُونَ: واپس به تلل، روانيدل به. ② لَايَنْفِرَنَّ: لَايَخْرُجَنَّ: نه دې روانيږی، نه دې اوځی (دمکې نه، ددې نه مراد آفاقی دې يعنی چه دحرم اوسيدونکې نه وی). ③ خُفِّفَ: دمجهول صيغه ده، آسانتيا کړې شوې ده.

تسهيلات: قوله: فِي كُلِّ وَجْهٍ:

د طواف وداع تعريف: دَ افعال حج فارغيدو نه پس اودَمکې مکرمې نه خپل وطن ته واپس کيدو وخت کښې چه کوم آخری طواف کولې شی هغې ته طواف وداع وائی بل دې ته طواف صدر هم وائی. دَ وداع معنی رخصت کيدو ده. دا سړې هم دَبيت الله نه رخصت کيږی.

د طواف وداع د حکم کولو وجه: خلق چه به دَ افعال حج نه فارغ شو دکوم ځائی نه چه به ئی غوښتل او څنگه به ئی غوښتل خپل خپل وطن ته به واپس تلل اودَ طواف وداع او طواف رخصت پرواه به ئی نه کوله. په دې باندې حضورپاك اوفرمائيل چه هيڅ يو سړې هم دَ طواف وداع نه بغير لاړ نه شی.

د طواف وداع په حکم کښې مذاهب:

① طواف وداع په آفاقی باندې واجب دې. دَا د امام مالك رحمه الله په نيز سنت دې

② اودَ جمهورو په نيز واجب دې دَدې په پريخودو باندې دم راځی

دجمهورو دليل: داحديث دَجمهورو دليل دې

په چا چې طواف وداع نشته:

① دَطواف وداع نه پس که حاجی په مکه کښې لږ شان حصارشو نودوباره طواف وداع ضروری نه دې البته بهتر دادې چه طواف وداع بيت الله سره دَحاجی آخری عمل وی.

② کوم خلق چه په مکه کښې اوسيږی يا ميقات کښې دننه اوسيږی په هغوی باندې طواف وداع نشته دې.

③ عمره کونکو خلقو باندې هم طواف وداع واجب نه دې سره دَدې چه خلق ئی کوی.

④ که چرې ښځې ته دَحيض عذر وی يا نوردَ عذر خلق وی نودَهغوی نه دا طواف ساقط کيږی.

[٢٦٦٩] دَعذر په وخت طواف وداع واجب نه پاتې کيږي

[١١] ()[١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: «حَاضَتْ صَفِيَّةُ لَيْلَةَ النَّفْرِ[٢] فَقَالَتْ: مَا أُرَانِي إِلَّا حَابِسَتَكُمْ. [٣] قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَقْرَى حَلْقَى، أَطَافَتْ يَوْمَ النَّحْرِ؟ [٤]" قِيلَ: نَعَمْ. قَالَ: "فَانْفِرِي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] بي بي عائشه ﷺ فرمايي چې د يوم نفر په شپه کې د بي بي صفيه ﷺ ايام (د حيض ورځې) شروع شوي، [٢] نو هغه اوويل چې زما خيال دی چې زه به تاسو خلق د مديني د روانګي څخه منع کړم (ځکه چې زما ورځې شروع شوي دي، او ما طواف وداع نه دی کړی) [٣] نبی کريم ﷺ چې دا واوريدل نو وي فرمايل چې هغه غم لړلې او مصيبت زده، آيا هغې د نحر په ورځ طواف زيارت کړی دی؟ [٤] عرض وشو چې هو، نو نبی کريم ﷺ وفرمايل چې د پاتې کيدو ضرورت نشته، ځی، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① لَيْلَةَ النَّفْرِ: أَيْ: لَيْلَةَ يَوْمِ النَّفْرِ: د نفر په شپه، وَهُوَ الْيَوْمُ الثَّالِثُ مِنْ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ: د ايام تشريق دريمه ورځ يعنی د ذی الحجه د ديارلسمه ورځ ته يوم النفر وائی. ② حَابِسَتَكُمْ: أَيْ: مَانِعَتَكُمْ: چه منع به کړم تاسو (مدينې ته د تللونه). ③ عَقْرَي: أَيِ الْجُرْحُ: زخم، ④ حَلْقَى: أَی إِصَابَةُ وَجَعٍ فِي الْحَلْقِ: په مرئ کښې درد ته وائی ⑤ فَانْفِرِي: أَيِ اخْرُجِي: ځئ اوځئ (يعنی مدينې ته ځانې د طواف وداع ضرورت نشته).

تسهيلات: قوله: لَيْلَةَ النَّفْرِ:

د ليلة النفر څخه مراد: محصب کښې چه کومه شپه حضورپاك تيره کړې وه اوبيا دَهغه ځائی نه دَمدينې دَپاره روان شوې وو هم دغې ته ليلة النفر يعنی دَ تلو شپه فرمائيلې ده. دې نه دَ روانيدو هغه ورځ مراد ده په کوم کښې چه ديارلسم ذوالحجه کښې دَ منی نه روانګی شوې وه مګر داخبره ياد ساتئی چه ايام حج کښې راتلونکې شپه به دَ تيرې شوې ورځ دَپاره شميرلې کيږی.

بهرحال حضرت صفيه ﷺ ته دَمحصب په شپه کښې ماهواری بيماری شروع شوه هغوی خيال اوکړو چه اوس به دَ طواف وداع دَپاره حصاريدل وی اوهم په دې وجه به دَحج پوره قافله حصاريږی. هم دَدې خدشه اظهار حضورپاك "انی حابستکم" سره اوکړو. حضورپاك تپوس اوکړو چه طواف زيارت دې کړې دې که نه جواب ملاؤ شو چه کړې دې. په دې بانډې حضورپاك هغې ته اوفرمائيل چه طواف وداع پريږده او مونږ سره لاړه شه.

د سختې مجبورۍ په وجه د طواف وداع سقوط: په دې سره دا ضابطه حاصله شوه چه حيض

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب الادلاج من المحصب (رقم-١٧٧١) ومسلم فی باب وجوب طواف الوداع وسقوطه عن الحائض (رقم-٣٨٧ - (١٢١١) وابن ماجة فی کتاب المناسک/باب الحائض، تنفر قبل أن تودع (رقم-٣٠٧٢) واحمد فی المسند:٨٥/٦

Maktaba Tul Ishaat.com

وغيره سخته مجبوري اوشرعي عذر د وجې نه طواف وداع ترك كولې شي د حديث د الفاظو نه معلوميږي چه حضرت صفيه رضي الله عنها او د حضورپاك دا خبرې اترې بالواسطه شوې دي مخامخ نه دي شوې صرف د فانفري لفظ نه پته معلوميږي چه مخامخ خبرې اترې شوې دي ملاعلي قاري رحمه الله چه اول حضور پاك حضرت صفيه رضي الله عنها سره خبرې اترې نه دي كړې په آخري جمله كښې هغه مخاطب كولوسره اوفرمائيل چه اوس لاړه شم.

قوله: عَقْرَىٰ حَلْقَىٰ:

ددې دواړو الفاظو لغوي تحقيق: امام طيبي رحمه الله فرمائي چه دا دواړه الفاظ په وزن د فعلى بغير د تنوين نه نقل دي او ظاهرا (عقراوحلقا) دواړه په تنوين سره دي. دا په اصل كښې بد دعا ده خو مراد ترې بد دعا نه ده بلكه د عربو په عرف كښې داسې كلمه په طريقه د تلطف وئيلې شي. امام اصمعي رحمه الله فرمائي چه دا كلمه د تعجب په وخت وئيلې شي او بعض وائي چه دا دواړه د لفظ (امراة) صفت دې اى انها تحلق قومها وتعقرهم.

الْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٦٧٠] حج اكبر د كوم يوحج نوم دې؟

٢٦٧٠-[١٢]()[١]عَنْ عَمْرِو بْنِ الْأَحْوَصِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: «سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ: [٢] "أَيُّ يَوْمٍ هَذَا؟" قَالُوا: يَوْمُ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ. [٣] قَالَ: "فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ، وَأَمْوَالَكُمْ، وَأَعْرَاضَكُمْ بَيْنَكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا،

ترجمه [١] عمرو بن احوص رضي الله عنه وايي چې ما واوريدل چې نبي كريم ﷺ په حجة الوداع كې د قرباني په ورځ (يعني په ديارلسم ذي الحجه صحابه رضي الله عنهم مخاطب كولو سره) وفرمايل[٢] چې (پوهيږي) دا كومه ورځ ده؟ صحابه وو رضي الله عنهم عرض وكړو چې هو د حج اكبر ورځ ده. [٣] بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل چې (ياد لرئ) ستاسو وينه، ستاسو مال، او ستاسو ابرو (عزت) ستاسو په منځ كې داسې حرام دي، څرنګه چې ستاسو ددي ورځې حرمت دي او په دي ښار كې

[١] أَلَا لَا يَجْنِي جَانٍ إِلَّا عَلَى نَفْسِهِ، وَلَا يَجْنِي جَانٍ عَلَى وَلَدِهِ، وَلَا مَوْلُودٌ عَلَى وَالِدِهِ، [٢] أَلَا وَإِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ يَئِسَ أَنْ يُعْبَدَ فِي بَلَدِكُمْ هَذَا أَبَدًا، [٣] وَلَكِنْ سَتَكُونُ لَهُ طَاعَةٌ فِيمَا تُحَقِّرُونَ مِنْ أَعْمَالِكُمْ فَسَيَرْضَى بِهِ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ.

ترجمه [١] خبردار، هيڅ جنايت كاردي نه په خپل ځان ظلم كوي[٢] (يعني كوم سړی چې په چا ظلم كوي، د هغه وبال به په هغه وي، چې هغه به ماخوذ كېږي، دا نه چې ظلم دي يو

() اخرجه الترمذي في كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء دماؤكم وأموالكم عليكم حرام (رقم-٢١٥٩) وابن ماجة في كتاب المناسك/باب الخطبة. يوم النحر(رقم-٣٠٥٥)

وکړي، او ونیول دي بل شي؛ یاد لری هیڅ ظالم په خپل خوی ظلم نه کوي او نه یو خوی په خپل پلار ظلم کوي، پوهه شی شیطان همیشه همیشه د پاره د دې خبري څخه نا امیده شوی دي، چې ستاسو په دې ښار (مکه) کې دی د هغه عبادت اوشي.[۳] هو ستاسو هغه اعمال کې به د شیطان فرمانبرداري وي، کوم چې تاسو حقیر ګڼی، نو هغه ګناهونو سره به هغه خوشحاله وي، کوم چې تاسو حقیر ګڼی، ابن ماجه، ترمذی.

حل اللغات: ① لَايَجْنِى: جنایت یعنی ظلم دې نه کوی. ② جَانٍ: داسم فاعل صیغه ده، جنایت او ظلم کونکي، ③ يَئِسَ: أَيْ قَنَطَ: نا اُمیده شوي دي، ④ تُحَقِّرُونَ: تاسو سپک ګڼړئ (ګناهونه لکه لوټ مار، قتل، زنا وغیره).

دراوي مختصر تعارف:

حضرت عمرو بن الاحوص رضي الله عنه: نوم عمرو دَ پلار نوم احوص دې دَ قبیله کلاب سره تعلق ساتی په دې وجه دوی ته کلابی هم وائی. دلته قبیله جثمی طرف ته منسوب دې. علامه ابن الاثیر فرمائی چه مونږ ته نه ده معلومه چه قبیله کلاب ئی دَ جثمی طرف ته څنګه منسوب کړې ده ځکه چه په دې دواړو قبیلو کښې هیڅ نسبت نشته.

مرویات: دَ دوی نه صرف دوه احادیث نقل دی.

تسهیلات:

قوله: فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ:

دمذکوره خطبې مصداق: عام شارحین دا ورځ لسم ذوالحجه یعنی دَ لوئی اختر ورځ ګرځوی سره دَدې چه په دې کښې څه تصریح نشته دي لیکن دَدې باب په رومبی حدیث کښې دَیوم النحرلفظ راغلې دې کیدې شی چه هغه خطبه اوداخطبه یوه وی.

قوله: يَوْمُ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ:

د حج اکبر په مراد کښې اقوال: ① علامه بیضاوی رحمه الله فرمائی دَ حج اکبر نه مراد لسم ذوالحجه دَ لوئی اختر ورځ مراد ده ځکه چه په دې ورځ دَ حج تول لوئی اعمال پوره کیږی دې نه علاوه "واذان من الله ورسوله الی الناس یوم الحج الاکبر" اعلان په لسم دَ ذوالحجه شوې وو اوهم دې ورځ ته حج اکبر ونیلې شوې دې او په یوروایت کښې راغلی دی چه جمرات سره دَ اختر په ورځ حضورپاك اوفرمائیل "هذا یوم الحج الاکبر" دادَ حج اکبر ورځ ده.

② حج اکبر یوم عرفه ته ونیلې شوې دې ځکه چه حضورپاك یوم عرفه حج اکبر ګرځولې دې "الحج العرفه" لهذا دَدې په مقابله کښې عمره حج اصغردې.

③ دریم قول دادې چه حجة الوداع ته حج اکبر ونیلې شوې دې ځکه چه په دې ورځ دَمسلمانانو په شان دَټولو ادیانو دَ منونکو اخترونه وو

Maktaba Tul Ishaat.com

④ حجة الوداع ته ځکه حج اکبر وئیلې شوې چه په دې ورځ اسلام ته په مکمل توګه شان شوکت حاصل شوې وو او کافران ذلیل او خوار شوی وو.

⑤ یا په دې وجه دې ته حج اکبر اووئیلې شو چه داپخپله دَنبي کریم ﷺ حج وو.

⑥ یا په دې وجه دې ته حج اکبر اووئیلې شو چه دا حج دَ جمعې په ورځ واقع وو او په عوامو کښې هم دغه مشهوره ده چه کله دَ عرفې ورځ او دَ جمعې ورځ یوځائې شي نو هم دغه حج اکبر وي.

قوله: لَا يَجْنِي جَانٍ إِلَّا عَلَى نَفْسِهِ:

په ځپل ځان د جنایت کولو دوه مطلبه: ①مراد دا دې چه څوك دې هم په چا ظلم نه کوي (کقوله ولا تقتلوا انفسکم ای لا یقتل بعضکم بعضاً) امام طیبي رحمه الله فرمائي چه دا خبر په معنی د نهی دې چه مبالغه راشي او جنایت علی الغیر مراد دې خو چونکه جنایت علی الغیر د جنایت علی نفسه سبب دې ځکه چه د دې ګناه هم د هغه طرف ته راجع ده په دې وجه د (لا یجني جان علی نفسه) سره تعبیر اوکړې شو،

②یا د (لا یجني جان علی نفسه) تاکید دې. ځکه چه اهل عرب به د چا په جنایت باندې د هغه په خپلوانو مواخذه کوله د دې نه منع اوکړې شوه (کقوله تعالی ولا تزر وازرة وزر اخری) ولد او والد چونکه اقرب الاقارب دی په دې وجه خاص کولو سره ذکر کړې شو.

(التعلیق ٢٤٩/٣، الاشعة ٣٩٠/٢)

قوله: أَبِسَ:

په جزیرة العرب کښې دشیطان د شرک څخه ناامیدی: یعني ابلیس ناامیده شو چه په ښکاره توګه په مکه مکرمه کښې به بیا دَهغه عبادت کیږي اګرچه په پټه به خلق عبادت کوي لیکن په علانیه توګه باندې دَبت پرستئی خاتمه شوې ده.

قوله: مِنْ أَعْمَالِكُمْ:

د کافرانو په نسبت د مسلمانانو څخه د ګناهونو د کثرت وجه: یعني دَ قتل زنا لوټ مار اعمال به وی کوم چه تاسو دَ کفر په وجه باندې واړه ګناهونه ګنړئي ابلیس به تاسو نه هم په دې باندې راضي وي او هم په دې کښې به مو راګیروي په کفر کښې دَ اچولو کوشش به نه کوي. ملاعلي قاري رحمه الله لیکلي دي چه هم په دې وجه دروغ او خیانت وغیره ګناهونه د کافرانو په مقابله کښې په مسلمانانو کښې زیاتې دي. ځکه چه شیطان د کافرانو نه په کفر باندې راضي شوې دې لهذا هغه د کافرانو په زړونو کښې دَ ګناه وسوسې نه اچوي او دَمسلمانانو په زړونو کښې دَ ګناهونو وسوسې اچوي. دَ حضرت علي رضی الله عنه نه داسې روایت نقل دې: ((وعن علي قال الصلوة التي ليس لها وسوسة انما هي صلوة اليهود والنصاري)). علامه طیبي رحمه الله فرمائي دَ

حقیر اعمال نه مراد دَ زړه وسوسې دي او واړه گناهونه دي کوم چه تاسو حقیر او سپک گڼرئ حالانکه هم دغه صغائر دَ لويو فتنو سبب جوړيږي. (خلاصه مرقات)

مثال: د مسلمان مثال دهغه کور په شان دې په کور کښې چې قيمتي څيزونه وي. نوغل هم ددغه کور څخه دغلا کولو کوشش کوي. اوغلا ترې کوي. دغه شان د مسلمان زړه د قيمتي ايمان په نور باندې روښانه ده. اودې چې کومْ نيک اعمال کوي. نودغه قيمتي څيزونه دي. نو شيطان هم په مسلمان پسې ليږدلې دي. چې دده څخه د گناهونو ارتکاب اوکړي. او دې دجهنم تلو والاجوړ شي. اوکافران که ښه اعمال کوي. نوهغه د آخرت په اعتبار سره بيکاره دي. څکه شيطان په هغوی پسې نه لږي. هم دغه وجه ده چې هغوی په خپله باطله عقيده باندې کلک ولاړ وي. هغه نه پريږدي.

[٢٦٧١] دَ لاؤډسپیکر په جوازیا ندې دلیل

٢٦٧١-[١٣] ()[١] وَعَنْ رَافِعِ بْنِ عَمْرٍو الْمُزَنِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَخْطُبُ النَّاسَ بِمِنًى حِينَ ارْتَفَعَ الضُّحَى[٢] عَلَى بَغْلَةٍ شَهْبَاءَ، وَعَلِيٌّ يُعَبِّرُ عَنْهُ[٣] وَالنَّاسُ بَيْنَ قَاعِدٍ وَقَائِمٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:[١] رافع ابن عمرو مزني ﷺ وايي چې ما وليدل چې نبی کريم ﷺ د قربانۍ په ورځ د څابنت په وخت کې خلقو ته خطبه ورکوله،[٢] نبی کريم ﷺ په سرې قچرې سور وو، او حضرت علي ﷺ د نبی کريم ﷺ د طرف څخه بيان کولې (يعني نبی کريم ﷺ چې څه فرمايل حضرت علي به هغه دوباره ويل، چې لرې خلق هم د نبی کريم ﷺ خبره واوري)[٣] او په خلقو کې څه ولاړ وو، او څه ناست وو. ابوداؤد.

حل اللغات: ① بَغْلَةٍ: قچره، ② شَهْبَاءَ: أَيْ: بَيْضَاءَ يُخَالِطُهَا قَلِيلُ سَوَادٍ: سپينه توريخنه، ③ يُعَبِّرُ: أَيْ: يُبَلِّغُ حَدِيثَهُ: تعبيربه ئې کولو يعنی د نبی عليه السلام خبره به ئې په اوچت آواز سره لرې خلقو ته رسوله. ④ بَيْنَ قَائِمٍ وَقَاعِدٍ: أَيْ بَعْضُهُمْ قَاعِدُونَ وَبَعْضُهُمْ قَائِمُونَ: يعنی څه خلق ولاړ وو او څه خلق ناست وو.

تسهیلات: قوله: يَخْطُبُ النَّاسَ:

دمذکوره خطبې زمان: يعنی په لسم دَ ذوالحجه په منٰی کښې حضوراکرم دَ صحابه کرامو په وړاندې خطبه ارشاد اوفرمائيله.

قوله: وَعَلِيٌّ يُعَبِّرُ:

د تعبير څخه مراد: دادتعبيرنه دې مرااددادې چه ترکومې پورې دَحضوراکرم آواز مبارک رسيدلو دَهغه ځائې پورې هلته دَخلقو دَپاره هم دغه کافی وو ليکن چونکه مجمعه لويه وه

[١] اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک، باب ای وقت يخطب يوم النحر(رقم-١٩٥٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

دَ ټولو خلقو دپاره چه دَ آواز دَ رسولو کوم ساده انتظام اوکړې شو هغه دَ حضرت علي رضي الله عنه تعبير ووچه دَ حضور پاك آواز به کوم خائې کښې ختميدو دهغې نه وړاندې به حضرت علي هم دغه کلام په خپل آواز کښې وړاندې رسولو. دا يوساده انتظام وو دَ دې مقصد دا وو چه آواز دې وړاندې ته اورسي هم دغه دَمکبرالصوت صورت دې اوهم دَدې نه دَ لاؤډسپيکر جواز ملاويږي ځکه چه دا هم آواز وړاندې رسوی

په مذکوره خطبه کښې د صحابه کرامو شمار: ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي چه دغه وخت مجمع يولاکه اوديرش زره صحابه کرام باندې مشتمل وه

[٢٦٧٢] دَ طواف زيارت وخت

٢٦٧٢-[١٤] ()١ وَعَنْ عَائِشَةَ وَابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ- «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَخَّرَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ يَوْمَ النَّحْرِ إِلَى اللَّيْلِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه ١ بي بي عائشه رضي الله عنها او ابن عباس رضي الله عنهما (دواړه) راويان دي چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم په طواف زيارت کي د قرباني په ورځ د شپي پورې تاخير وکړي، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه

حل اللغات: ① طَوَافَ الزِّيَارَةِ: په لسم د ذی الحجې چه کله حاجيان قرباني اوکړی او حلق د سر اوکړی نو بيا طواف کوی هغې ته طواف زيارت وائی

تسهيلات:

قوله: أَخَّرَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ:

د احاديثو په مينځ کښې تعارض: اشکال دا دې چه د دې حديث نه خو دا معلومه شوه چه طواف زيارت کوم چه فرض دې هغه ئې مؤخر کولو سره په شپه کښې کړو حال دا چه د جابر او ابن عمر رضي الله عنهم په روايت کښ دی چه ﴿ انه عليه السلام طاف للزيارة وفرغ منه فى يوم النحر حتى انه صلى الظهر بمكة ثم رجع اوصلى الظهر بعد الرجوع من مكة فى منى ﴾

د تعارض جواب: د دې اضطراب جواب دا دې چه ابن القيم رحمه الله د حديث عائشه او ابن عباس رضي الله عنهم متعلق فرمائي چه دا غلط او د واقعې خلاف دې، ځکه چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حج متعلق چه چا ته خبر دې هغوی ته معلومه ده چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په يوم النحر کښ طواف زيارت کړې وو

د طواف زيارت په وخت کښې مذاهب:

① ائمه ثلاثه فرمائی چه دَ طواف زيارت آخری وخت متعين نه دې کله هم چه اوکړې شو جائز به وی

---

١) اخرجه ابوداود فى كتاب المناسک . باب الإفاضة فى الحج (رقم-٢٠٠٠) والترمذی فى کتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى طواف الزيارة بالليل(رقم-٩٢٠)واحمدفى المسند: ٣٠٩/١

② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه طواف زيارت د دولسم ذوالحجه يعنی ايام نحر پورې مؤخرکولې شی که د ايام نحر نه پس پورې مؤخرکړې شو نودم به لازم راځی

[٢٦٧٣] طواف زيارت کښې د رمل مسئله

٢٦٧٣-[١٥] (١) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمْ يَرْمُلْ فِي السَّبْعِ الَّذِي أَفَاضَ فِيهِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه ① ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې نبی کريم ﷺ په طواف زيارت کې اووه سره شوطه کې رمل ونه کړي، ابوداؤد، ابن ماجه

حل اللغات: ① لَمْ يَرْمُلْ: رمل يعنی پهلوانی ئې اونه کړه (په طواف زيارت کښې) اوګې خوزولو سره اوچت اوچت تګ ته رمل او پهلوانی وائی.

تسهيلات: قوله: لَمْ يَرْمُلْ:

په طواف زيارت کښې رمل شته که نه؟: دې نه وړاندې دا مسئله ليکلې شوې ده دلته د طواف زيارت د خاص صورت بيان دې. په عام توګه طواف زيارت په ګنډلې شوو کپړوکښې کيږی آيا په دې کښې رمل شته که نه؟ نودې د پاره دا ضابطه ده چه چرې د حاجی په ذمه د حج سعی تردغه وخته پورې باقی پاتې ده نوهغه به په طواف زيارت کښې په ګنډلو شوو کپړو کښې هم رمل کوی. اوکه حاجی د احرام ترلو په وخت طواف قدوم سره سعی هم کړې ده او اوس د ده په ذمه صرف طواف زيارت پاتې دې نو به دې صورت کښې رمل نشته دې ځکه چه د رمل د پاره دا ضابطه ده چه هرهغه طواف د کوم نه پس چه سعی وی په هغه طواف کښې به رمل وی ګنی نه به وی.

قوله: أَفَاضَ فِيهِ:

د طواف افاضه مصداق: طواف زيارت ته طواف افاضه هم وائی ځکه چه د حج نه پس د واپسۍ په ټول عمل باندې د ﴿ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ﴾ اطلاق کيږی

[٢٦٧٤] د تحليل اقسام

٢٦٧٤-[١٦] (٢) ① وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ② - «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ③ "إِذَا رَمَى أَحَدُكُمْ جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ فَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا النِّسَاءَ» "رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" وَقَالَ: إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ.

ترجمه ① بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ② چې رسول الله ﷺ وفرمايل ③ هر کله چې په تاسو کې څوك د رمي جمره عقبه څخه فارغه شي (او سر وخريي يا وېښتان قينچي کړي)، نو د

(١) اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک. باب الإفاضة فی الحج (رقم-٢٠٠١) وابن ماجة فی کتاب المناسک/باب زيارة البيت (رقم-٣٠٦٠)

(٢) اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک باب فی رمی الجمار (رقم-١٩٧٨) واحمد فی المسند:١٤٣/٦

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه د پاره د ښځي څخه علاوه هر شی حلال شي (يعني د ښځي سره جماع د دې څيزونو څخه روسته هم نه حلاليږي، بلکه دا د طواف زيارت څخه د فارغيدو وروسته حاصليږي) دا روايت (صاحب مصابيح) په شرح السنه کې نقل کړی دی او ويلي يي دي چې د دې اسناد ضعيف دي.

حل اللغات: ① إِلَّا النِّسَاءَ: أَيْ: جِمَاعَهُنَّ: دې نه مراد ښځو سره جماع کول دی، (يعنی حاجی د سرخرئيلو نه پس نور حلال کارونه کولې شی خو خپلو ښځو سره جماع نه شی کولې).

تسهیلات: قوله: فَقَدْ حَلَّ لَهُ:

د تحليل دوه قسمونه: ①يعنی دَ عرفات نه واپس مزدلفه او دَ مزدلفه نه واپس منٰی راتلو سره کله چه حاجی دَ جمره عقبهٖ رمی کوی نودَهغه دَپاره دَممنوعات دَ احرام نه ټول څيزونه حلال کيږی. صرف دَ خپلې بی بی سره جماع تردغه وخته پورې حرام ده دې ته تحليل اول وائی ②کله چه حاجی طواف زيارت کوی نودغه وخت دَده دَپاره بی بی سره جماع کول هم حلال شی دې ته تحليل ثانی وائی په دې حديث کښې دَتحليل اول بيان دی.

٢٦٧٥-()[١] وَفِي رِوَايَةِ أَحْمَدَ وَالنَّسَائِيِّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: "«إِذَا رَمَى الْجَمْرَةَ فَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا النِّسَاءَ».

ترجمه:[١] اوداحمد نسائی په روايت کې د عبدالله بن عباس څخه روايت دي فرمائی کله چې (حاجی) جمره اويشتله،نوده دپاره هرڅيز جائز شوصرف زنانه (چې د هغوي سره تعلق يعنی جماع اوس هم نشی کولې)

[٢٦٧٦] دجمراتوويشتلومسنون طريقه

٢٦٧٦-[١٧] ()[١] وَعَنْهَا قَالَتْ: «أَفَاضَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ آخِرِ يَوْمِهِ حِينَ صَلَّى الظُّهْرَ،[٢] ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مِنًى، فَمَكَثَ بِهَا لَيَالِيَ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ،[٣] يَرْمِي الْجَمْرَةَ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ، كُلَّ جَمْرَةٍ بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ، يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ،[٤] وَيَقِفُ عِنْدَ الْأُولَى وَالثَّانِيَةِ فَيُطِيلُ الْقِيَامَ وَيَتَضَرَّعُ، وَيَرْمِي الثَّالِثَةَ فَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:[١] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چې نبی کريم ﷺ د قربانۍ د ورځي په آخري حصه کې هغه وخت فرض طواف وکړي کله چې نبی کريم ﷺ د ماسپخين مونځ وکړي،[٢] د دې څخه روسته منٰی ته واپس راغلو ، او په منٰی کې د ايام تشريق (يعني د يولسم دولسم او ديارلسم تاريخونو) شپې تيري کړي،[٣] په دې ورځو کې به نبی کريم ﷺ په جمرو کانړي ويشتلی، د هر کانړي د ويشتولو په وخت به يي الله اکبر ويلی،[٤] او په مخکني او دويمه جمره (يعني جمره اولی او جمره وسطی) باندې (د دعا او اذکار د پاره به) تر ډېر

---

[١] اخرجه النسائی فی کتاب الجنائز /باب البعث(رقم-٢٠٨٤)

[٢] اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک باب فی رمی الجمار (رقم-١٩٧٣) واحمد فی المسند:٩/٦

وخته ودريدلی، او هغه وخت به يي مختلفو دعاوو او عرضِ حاجات د پاره تضرع، زاری او عاجزی اختيارولـه، او بيا چې په دريمي جمري (يعني جمره عقبه) باندې به يي كانړي ويشتلی نو هغه سره به نه پاتې كيدلی، ابوداؤد.

حل اللغات: ① أَيَّامِ التَّشْرِيقِ: دَ يولسم دولسم اوديارلسم ذوالحجه ورځې، دې ته ايام تشريق څكه وائی چه تشريق دَ شروق اللحم نه ماخوذ دې كوم چه دَ غوښې پرې كولو او په نمر كښې اچولو سره اوچولو ته وائی، دَ عربو خلقو به دغه ورځو كښې دَ قربانئ غوښې اوچولې، هم په دې ورځو كښې تكبيرات تشريق كيږی او په دې كښې روژه ساتل جائزنه دی. ② يَتَضَرَّعُ: عاجزی به نې كولـه الله ته په دعاګانو اوحاجاتو سره.

تسهيلات:

قوله: أَيَّامِ التَّشْرِيقِ:

د رمى آخری وخت: هم په دې ورځو كښې دَ جمرات رمى كيږی. دولسم پورې رمى واجب ده دَديارلسم رمى اختيارى ده. حضورپاك دَ ديارلسم ذوالحجه رمى كړې وه په قرآن كريم كښې ﴿فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ﴾ كښې اختيارورکړې شوې دې چه په دولسم دې حاجى ځى يا دَ ديارلسم نه پس لاړشی هيڅ ګناه نه ده. دَ جمره عقبه وخت دَ سحرنه ترمابنام پورې دې دې نه پس دَ ټولو جمراتو وخت دَ زوال نه پس دې اوكه حاجى ديارلسم ذوالحجه پورې پاتې شو نودَ ديارلسم رمى مخكښې دَ زوال نه جائز ده تفصيل باربارتيرشوې دې. [البناية: ١٤٧/٤].

[٢٦٧٧] په رمى جمرات كښې دَ تقديم اوتاخير مسئله

٢٦٧٧–[١٨] (١) ① وَعَنْ أَبِي الْبَدَّاحِ بْنِ عَاصِمِ بْنِ عَدِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ - قَالَ: ② «رَخَّصَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِرِعَاءِ الْإِبِلِ فِي الْبَيْتُوتَةِ: ③ أَنْ يَرْمُوا يَوْمَ النَّحْرِ، ثُمَّ يَجْمَعُوا رَمْيَ يَوْمَيْنِ بَعْدَ يَوْمِ النَّحْرِ، فَيَرْمُوهُ فِي أَحَدِهِمَا». رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. وَهَذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّالِثِ.

ترجمه: ① ابو البداح بن عاصم بن عدي (تابعي) رحمه الله د خپل پلار بزرګوار څخه روايت كوي چې هغه اوويل ② نبي كريم ﷺ اوښانو څرونكو ته اجازت وركړی وو، چې هغه په منى كې شپه نه تيروي، ③ او دا چې د نحر په ورځ (يعني په لسم ذي الحجه په جمره عقبه) كانړي ولي، او بيا د دواړو ورځو رمي جمرات د يوم نحر څخه روسته يو ځاى كړي، داسې چې د دواړو ورځو رمي جمرات په هغه كې په يوه ورځ وكړي، مالك، ترمذي، نسائي، او امام ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث صحيح دى.

(١) اخرجه ابوداود فى السنن رقم الحديث ١٩٧٥، والترمذى فى السنن رقم الحديث ٩٥٥، والنسائى فى السنن رقم الحديث ٣٠٦٩

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات ① رِعاءُ الإبِل: رعاء جمع د راع ده، یعنی د اوښانو څرونکي، شپونکي، ② البَیتُوتة: یعنی دشپې نه تیرولو (چه په منی کښې دې شپه نه کوی)

تسهیلات:

قوله: رَخَّصَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

ګډبنو ته په رمی کښې دوه رخصتونه ورکول: ①علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه ګډبنو خاربنو ته رسول الله ﷺ دا اجازت ورکړې وو چه هغوی دې په ایام تشریق کښې په منی کښې نه پاتې کیږی بلکه دَخپلو څارووذخیال ساتلو دپاره دې بهراوسیږی.

②دغه شان هغه ګډبنو څاربنوته دا اجازت هم ورکړې شوې وو چه هغوی دې صرف دَ لوئی اختر په ورځ رمی جمرات کوی اوځی به. دَ یولسم تاریخ رمی دې پریږدی او په دولسم دې راشی په یوځائی دې دَ دوو ورځو رمی اوکړی یودې قضا شوې رمی اوکړی اویودې هم دَ دغه ورځې رمی اوکړی.

په رمی کښې د تقدیم عدم جواز: فقهاء کرام فرمائی چه په رمی جمرات کښې تقدیم جائز نه دې چه یوسړې دې دَ بلو ورځو رمی مثلاً په لسم دَ ذوالحجه اوکړی. البته تاخیر په وجه دَعذر جائز دې په مذکوره حدیث کښې هم دَدې بیان دې. [الکاشف: ۵/۳۷۳-۳۷۲.

[۱۱] بَابُ مَا يَجْتَنِبُهُ الْمُحْرِمُ

دَ ممنوعات احرام بیان

خلاصة الباب:

فيه ثمانية عشر حديثاً مشتملة على ثلاث مسائل:

① محرمات الإحرام: ۱، ۳، ۴، ۱۲، ۱۳، ۱۵.

② الأمور الجائزة في الإحرام: ۱، ۲، ۵، ۶، ۱۸. هذه من توابع الخامس: ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۶، ۱۷.

③ جواز بعض الأمور مع الفدية: ۹.

قال الله تعالى ﴿ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ ﴾ [سورة البقره الايه: ۱۹۷.

دَاحرام تړلونه پس څه څیزونه منع کیږی. بیا په دې کښې بعض داسې ممنوعات دی دَ کوم په کولوسره چه دم لازمیږی دَ بعض په ارتکاب سره صدقه لازمیږی، په دې باب کښې هم دَدغه ممنوعاتو بیان دې اودَبعض مباحاتو بیان هم دې.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲۶۷۸] هغه څیزونه چه محرم له اغوستل منع دي

۲۶۷۸-[۱] ()[1] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - «أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[2]: مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ مِنَ الثِّيَابِ؟[3] فَقَالَ: "لَا تَلْبَسُوا الْقُمُصَ، وَلَا الْعَمَائِمَ، وَلَا السَّرَاوِيلَاتِ وَلَا الْبَرَانِسَ، وَلَا الْخِفَافَ إِلَّا أَحَدٌ لَا يَجِدُ نَعْلَيْنِ فَيَلْبَسْ خُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ، وَلَا تَلْبَسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيْئًا مَسَّهُ زَعْفَرَانٌ وَلَا وَرْسٌ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَزَادَ الْبُخَارِيُّ فِي رِوَايَةٍ: " «وَلَا تَنْتَقِبُ الْمَرْأَةُ الْمُحْرِمَةُ، وَلَا تَلْبَسُ الْقُفَّازَيْنِ»
".

ترجمه: [1] عبد الله ابن عمر ﷺ وايي چې يو سړي د نبی کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه، [2] چې محرم په جامو کې کوم څيزونه اچولی شي، او کوم څيزونه نشي اغوستی؟ [3] نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل چې نه دي قميص او کُرته اغوندي، نه دي لنګوټه تړی نه دي پرتوګ اغوندی، نه دی خولۍ په سر کوی او نه دي موزي په پښو کوي، هو د کوم سړي سره چې چپلان نه وي هغه موزي په پښو کولی شي، [4] خو داسې چې موزي د دواړو پړکو (ګيټو) څخه لاندي پرې کړي [5] او داسې کپړه دي نه اغوندي، چې په هغه زعفران يا ورس (يو قسم خوشبو داره وابنه) لګيدلي وي، بخاري، مسلم [6]
د بخاري په يو حديث کې دا الفاظ هم نقل شوي دي چې محرمه ښځه دي نقاب نه اچوي او نه دي دستاني اچوي.

حل اللغات: ① الْبَرَانِسَ: د بُرْنُس جمع ده، هُوَقَلَنْسُوَةٌ طَوِيلَةٌ: اوږدې ټوپۍ ته وائی ② الْخِفَافَ: د خُف جمع ده، موزې ته وائی. ③ زَعْفَرَانٌ: أَيِ النَّاعِمُ الْأَصْفَرُ الطَّيِّبُ الرِّيحِ: زيړ رنګ مزيداره خوشبو ده. ④ وَرْسٌ: وَهُوَنَبْتٌ أَصْفَرُ: يو قسم زيړ رنګ وابنه دی د زعفرانو پشان د رنګ دپاره استعماليږی.

تسهیلات:

قوله: وَلَا الْبَرَانِسَ:

د برانس دوه معانی: ① دادَ برنس جمع ده دا دَ داسې اوږدې ټوپئی نوم دې چه دَ عربو عبادت کونکو خلقو به اچوله

② برنس هغه لباس ته هم وائی چه دَ برساتئی په توګه باندې پرتوګ قميص اوټوپئی يوځائی جوړولې شی او اغوستلې شی

دې نه مراد صرف هم دغه ټوپئی نه ده بلکه مراد دادې چه محرم دې خپل سر نه پټوی که هغه په ټوپئی سره وی او که په بل څه څيز سره وی ليکن شرط دادې چه په عرف کښې هغه

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب ما لا يلبس المحرم من الثياب (رقم-۱۵۴۳) ومسلم فی کتاب الحج /باب ما يباح للمحرم بحج أو عمرة، وما لا يباح وبيان تحريم الطيب عليه (رقم-۱۱۷۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

اغوستلې شی مثلاً یوپنډ یا منګې په سر باندې اوچت کړی نودې ته په عرف کښې اغوستل نه وائی.

قوله: وَلَا الْخِفَافَ:

د محرم دپاره د موزو اچولو ممانعت: دَ موزې اچول منع دی لیکن که څپلئی نه وی نو بیا هغه دَ ګیټو نه ښکته پرې کولوسره به اچولې شی. زیر بحث حدیث کښې هم دغه حکم دې. دا خبره دَ یاد ساتلو ده چه دَ حج ګیټې دَ خپې دَپاسه راوتلې هډوکی نوم دې دَدې پټول منع دی. ورس دا دَ زیړ رنګ یو بوټې دې په دې کښې هم دَ زعفران په شان رنګ وی په زعفران او ورس کښې یو قسم خوشبوئی وی په دې وجه منع دې.

قوله: وَلَا تَنْتَقِبُ:

محرمې ښځې دپاره د حجاب اچولو ممانعت: یعنی محرمه ښځه دې نقاب نه اچوی دَدې مطلب دادې چه محرمه ښځه دې خپل خله اومخ نه پټوی. دَ سرو دَپاره هم دغه حکم دې. اوکه ښځې داسې پرده اوکړی چه دَمخ نه ئې پرده اخوا وی نو هغه جائز ده.

[۲٦٧٩] که ازاربند نه وی نو محرم دې پرتوګ شلولوسره واچوی

٢٦٧٩ ـ [٢] (١) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ـ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: «سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ـ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ يَخْطُبُ (٢) وَهُوَ يَقُولُ: "إِذَا لَمْ يَجِدِ الْمُحْرِمُ نَعْلَيْنِ لَبِسَ خُفَّيْنِ، وَإِذَا لَمْ يَجِدْ إِزَارًا لَبِسَ سَرَاوِيلَ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: (١) ابن عباس ﷠ وایې چې ما د نبی کریم ﷺ څخه په خطبه کې اوریدلي دي، (٢) نبی کریم ﷺ فرمایل چې که د محرم چپلي نه وي، نو هغه موزې په پښو کولی شي، (٣) او چې د کوم محرم سره تهبند (لنګ) نه وي نو هغه پرتوګ اغوستی شي، بخاري، مسلم.

تسهیلات:

قوله: لَبِسَ سَرَاوِيلَ:

محرم دپاره د پرتوګ د استعمالولو حکم: یعنی که محرم سره ازار بند نه وی اوپرتوګ وی نوهغه دې هم دغه پرتوګ دَ مجبورئی دَ وجې نه استعمال کړی. دَ حدیث هم دا ظاهری مطلب امام شافعی ﷫ اختیارکړې دې لیکن امام ابوحنیفه ﷫ فرمائی که پرتوګ وی نوهغه دې اوشلوی اودَ ازاربند په توګه دې استعمال کړی لیکن که هم پرتوګ ئې استعمال کړو اودَ ډیر وخت دَپاره ئې استعمال کړو نو په دغه محرم باندې به دم راځی اوکه دَ لږ وخت دَپاره ئې استعمال کړو نودَ دم په ځائې به فدیه لازمیږی.

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب لبس الخفین للمحرم إذا لم یجد النعلین (رقم-١٨٤١) ومسلم فی کتاب الحج/باب ما یباح للمحرم بحج أو عمرة، وما لا یباح وبیان تحریم الطیب علیه (رقم-٤ - (١١٧٨)

[٢٦٨٠] خلوق لګول منع دی

٢٦٨٠-[٣] ()١ وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: «كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالْجِعْرَانَةِ٢ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ أَعْرَابِيٌّ عَلَيْهِ جُبَّةٌ، وَهُوَ مُتَضَمِّخٌ بِالْخَلُوقِ٣ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَحْرَمْتُ بِالْعُمْرَةِ، وَهَذِهِ عَلَيَّ.٣ فَقَالَ: "أَمَّا الطِّيبُ الَّذِي بِكَ فَاغْسِلْهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ،٥ وَأَمَّا الْجُبَّةُ فَانْزِعْهَا، ثُمَّ اصْنَعْ فِي عُمْرَتِكَ كَمَا تَصْنَعُ فِي حَجِّكَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:١ يعلى ابن اميه رضي الله عنه وايي مونږ خلق په جعرانه کې (چې د مکې څخه په څو ميله فاصله يو مقام دی او د هغه ځايه څخه نبی کريم ﷺ د عمرې احرام تړلی وو) د نبی کريم ﷺ سره وو٢ اچانک يو صحرايي سړی راغلو، هغه کرته اچولې وه، او هغه سړي په خلوق کې رنګ شوی وو (خلوق د يو خوشبو نوم دی چې د زعفران وغيره څخه به تياريدلی)٣ هغه سړي عرض وکړ چې يا رسول الله! ما د عمرې احرام داسې حالت کې تړلی وو، چې دا کرته زما په بدن وه،٤ نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل تا چې کومه خوشبو لګولې ده، دا درې ځله ووينځه٥ او کرته اوباسه، بيا د خپلې عمرې په احرام کې هغه شان وکړه، څرنګه چې ته د خپل حج په احرام کې کوې، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① جُبَّةٌ: چوغه، ② مُتَضَمِّخٌ: دَ باب تفعل نه دې په خوشبوئی کښې لړلی لت پت سړی دپاره وئيلی شی. ③ بِالْخَلُوقِ: نَوْعٌ مِنَ الطِّيبِ يُتَّخَذُ مِنَ الزَّعْفَرَانِ: دَ زعفران نه جوړشوې خاص عطر دې خلوق ورته وائی.

تسهيلات: نوټ: په دې حديث کښې د محرم دپاره د خوشبوئي او ګنډلو شوو جامو اغستلو ممانعت بيان شوي دي اوبه دې دوارو مسئلوتفصيلي بحث شوې دې.

[٢٦٨١] دَ احرام په حالت کښې دَ نکاح کولو او کولويان

٢٦٨١-[٤] ()١ وَعَنْ عُثْمَانَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«لَا يَنْكِحُ الْمُحْرِمُ وَلَا يُنْكِحُ، وَلَا يَخْطُبُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:١ حضرت عثمان رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل دا مناسب نه دی، چې محرم نکاح وکړي، دغه شان (ولايةً يا وکالةً) نکاح کول او کوزده کول هم مناسب نه دي، مسلم.

حل اللغات: ① لَا يَنْكِحُ: أَيْ: لَا يَتَزَوَّجُ لِنَفْسِهِ: دَ ضرب يضرب نه، يعنی ځان دپاره نکاح نه شی کولې، ② لَا يُنْكِحُ: أَيْ: لَا يُزَوِّجُ الرَّجُلَ امْرَأَةً: انكح ينكح دَ باب افعال نه دَ بل چا دَ نکاح کولو په معنی کښې دې، يعنی وکيل جوړيدو سره د بل چا نکاح هم نه شی کولې. ③ لَا يَخْطُبُ: أَيْ: لَا يَطْلُبُ امْرَأَةً لِنِكَاحٍ: يعنی دَ نکاح پيغام هم نه شی ورکولې.

١) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب غسل الخلوق ثلاث مرات من الثياب (رقم-١٥٣٦) ومسلم في كتاب الحج /باب ما يباح للمحرم بحج أو عمرة، وما لا يباح وبيان تحريم الطيب عليه (رقم-٦ - (١١٨٠)
٢) اخرجه مسلم في باب تحريم نكاح المحرم، وكراهة خطبته (رقم-٤١ - (١٤٠٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: لَايَنْكِحُ الْمُحْرِمُ:

دمذكوره جملې مطلب: مطلب دا چه دَ احرام په حالت كښې محرم نه خپله نكاح كولې شي اونه دَ چادپاره وكيل يا ولي جوړيدوسره نكاح كولې شي.

قوله: وَلَا يَخْطُبُ:

داحرام په حالت كښې دجماع حرمت: دا دريواړه صيغې دَ نهي په معنى كښې دى په دې باندې دټولو فقهاؤ اتفاق دې. چه دَنكاح نه پس دَا حرام په حالت كښې جماع كول حرام دي په دې باندې هم دټولو فقهاؤ اتفاق دې چه دَ احرام په حالت كښې دَ نكاح پيغام وركول مكروه تنزيهي يعنى خلاف اولى دى. دَ نكاح كولو راكولو يعنى نكاح او انكاح باره كښې دَ فقهاؤ په خپل مينځ كښې اختلاف شوې دې.

دَ محرم د نكاح په كولو كښې مذاهب:

① دَ ائمه ثلاثه په نيزدَ محرم دَ پاره پخپله نكاح كول يادَ بل نكاح كول دواړه ناجائزدى كه چااوكړه نو نكاح منعقدنه ده.

② دَ احنافو په نيز پخپله نكاح كول يادَ بل نكاح كول مناسب نه دى مكروه تنزيهي دى ليكن كه چانكاح اوكړه نودَايجاب اوقبول نه پس نكاح منعقد كيږى البته په احرام كښې جماع كول حرام دى.

خلاصه دا چه دَ جمهورو په نيزحالت احرام كښې نكاح ناجائزده دَ احنافو په نيزجائزده مگر خلاف اولى ده.

دَ اختلاف وجه: دَفقهاؤ دَ اختلاف سبب دَ رواياتو تعارض دې. ټول څلور روايات دى په دې كښې دَحضرت عثمان ﷺ په روايت كښې پخپله نكاح كول يادَبل نكاح كولو ممانعت دې اودَحضرت يزيدبن اصم ﷺ او په خپله دَ حضرت ميمونه ﷺ دَ رواياتونه معلوميږى چه دَحضورپاك نكاح دَ حضرت ميمونه ﷺ سره په دې حالت كښې شوې وه چه حضورپاك په احرام كښې نه وو.

بل طرف ته دَ حضرت ابن عباس ﷺ نه په واضحه توگه معلوميږى چه دَحضرت ميمونه ﷺ سره دَ حضورپاك نكاح دَ احرام په حالت كښې شوې وه.

د ائمه ثلاثو دلائل – زير بحث د حضرت عثمان ﷺ دَا روايت دې

وَعَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ لَا يَنْكِحُ الْمُحْرِمُ وَلَا يُنْكَحُ وَلَا يَخْطُبُ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ. په دې كښې چه محرم دَ نكاح كولونه منع كړې شوې دې.

جواب: دَدې جواب دادې چه هم دغه نهي كراهت تنزيهي باندې محمول دې لكه څنگه چه

دَ جمهورو په نیزدَ لایخطب نهی کراهیت تنزیهی باندې محمول دې دغه شان لاینکح ولاینکح هم کراهت تنزیهی باندې حمل دې دَ فرق کولو هیڅ وجه نشته چه پیغام ورکول جائز دی نوعقد هم جائز کیدل پکاردی

② جمهورو دَحضرت ابورافع رضی الله عنه په روایت هم استدلال کړې دې.

وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ تَزَوَّجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ حَلَالٌ وَبَنَى بِهَا وَهُوَ حَلَالٌ وَكُنْتُ أَنَا الرَّسُولَ بَيْنَهُمَا، رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ

په دې کښې حضورپاك دَ حضرت میمونه رضی الله عنها سره په داسې حالت کښې نکاح کړې وه چه حضورپاك په احرام کښې نه وو.

جواب: دَدې جواب دادې چه دې حدیث نه تزوج وهو حلال نه شب زفاف دعوت ولیمه رخصتی او دَدې مشهورتیا ښکاره کول مراد دی یعنی عقدخو هم دَ احرام په حالت کښې وولیکن دَ عقد دَ لوازماتو ظهورهغه وخت اوشو کوم وخت چه حضورپاك په احرام کښې نه وو.

③ جمهورو دَحضرت یزیدبن اصم رضی الله عنه په حدیث استدلال کړې دې عَنْ يَزِيدَ ابْنِ الْأَصَمِّ ابْنِ أُخْتِ مَيْمُونَةَ عَنْ مَيْمُونَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَهُوَ حَلَالٌ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ

چه حضورپاك کومه نکاح دَ حضرت میمونه رضی الله عنها سره کړې وه هغه وخت حضورپاك دَ احرام په حالت کښې نه وو بلکه حلال وو.

د جواز د قائلینو دلائل: ① دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ حدیث نمبر: ۲۶۸۳ (دی راتلونکی) نه استدلال کړې دې په کوم چه په واضحه توګه باندې ذکر دی چه وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ. په دې ښکاره دا ذکر دې چې حضورپاك دَ احرام په حالت کښې دَحضرت میمونه رضی الله عنها سره نکاح کړې وه.

② قیاس اوعقلی دلیل نه هم استدلال کړې شوې دې چه دَمحرم دَپاره نور ټول عقود اوفسوخ جائز دی نوعقدنکاح هم جائزده. دَمحرم دَپاره عطرلګول منع دی مګراخستل جائز دی. ګنډلې شوې کپړې اچول منع دی مګر اخستل ئې جائزدی دغه شان وطی منع ده مګر نکاح جائز ده. اوچونکه محرم دَعبادت دَپاره راغلې دې لهذا ده له دَ واده په شغل کښې پریوتل مناسب نه دی خلاف اولی دی.

دَاختلاف منشاء: ①په اصل کښې دَفقهاء کرامو په مینځ کښې دَ اختلاف منشاء یوخودَ روایاتو اختلاف اوتعارض دې ②بل دَدې پوره واقعه پس منظر اوتفصیل دې.

د میمونې رضی الله عنها د نکاح واقعه: دَحضرت میمونه سره دَ نکاح واقعه داسې اوشوه چه کله حضورپاك په ۷هجری کښې دَ عمرة القضاء دَپاره مکې مکرمې طرف ته روان شو نو حضورپاك دَخپل آزاد کړې شوی غلام ابورافع رضی الله عنه په ذریعه حضرت میمونه رضی الله عنها ته دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

نکاح پیغام ورکړو چه په مکه مکرمه کښې اوسیدله. دَهغې خور ام الفضل دَحضرت عباس رضي الله عنه بي بي وه. حضرت میمونه رضي الله عنها دَحضرت ابن عباس رضي الله عنهما ترور وه. ابورافع رضي الله عنه چه کله دَ نکاح پیغام ورکړو نوحضرت میمونه رضي الله عنها نیك بختی ګڼړلوسره قبول کړو اودَ خپلې نکاح معامله ئې دَ خورخاوند حضرت عباس رضي الله عنه ته حواله کړه. حضرت عباس رضي الله عنه په مقام سرف کښې دَحضورپاك استقبال اوکړو اوهم دلته ئې دَحضور پاك نکاح حضرت میمونه رضي الله عنها سره اوکړه. حضورپاك عمره اداکړه اودَمعاهده په رڼاکښې درې ورځې په مکه مکرمه کښې پاتې شو. اهل مکه دَ حضورپاك نه مطالبه اوکړه چه دَ مکې نه لاړشه. حضورپاك اوفرمائیل چه که تاسو ماته نورلږ شان دَ پاتې کیدو اجازت راکړئی نوزه به دعوت ولیمه اوکړم اوبه تاسو باندې به هم اوخورم. قریشو اووئیل داسې نه کیږی دَ معاهدې دَ وجې نه تاسودَ دې ځائی نه لاړشئی. حضورپاك دَ مکې نه مدینې ته روان شو اودَ مکې نه دَ لسو میلو په فاصله باندې مقام سرف کښې حصار شو حضرت میمونه هم هلته راغله او هم دغه ځائی کښې واده اوشو. حضورپاك مقام سرف کښې دَزفاف شپه تیره کړه او ولیمه ئې اوکړه. دَ زمانې عجائبو ته اوګورئی چه دَ حضرت میمونه رضي الله عنها هم په دغه مقام سرف کښې نکاح اوشوه زفاف اوشو ولیمه اوشوه. اوروسته چې ئې کله د وفات وخت راغلو نو هم په دغه مقام کښې وفات شوه اوهم دغه ځائی کښې دَ سړك په غاړه باندې دَهغې قبرجوړشو. دَهغې قبر تنعیم نه په تیریدوسره وړاندې وادی فاطمه سره کتلې شوې دې. فرضی الله عنها وعن جمیع الصحابه.

دَ عدم جواز د قائلینو د ابن عباس په روایت کښې تاویل: ائمه ثلاثه فرمائی چه دانکاح کوم وخت شوې وه هغه وخت حضورپاك حلال وو په احرام کښې نه وو لیکن چه کله دَ دې نکاح تشهیراوشو نوهغه وخت حضورپاك په احرام کښې وو. حضرت ابن عباس رضي الله عنهما هم داحالت بیان کړې دې. صاحب مشکوة د یزید بن اصم په راروان روایت کښې دَ امام محی السنة په حواله سره هم دغه تاویل کړې دې

د تاویل ضعف: دا تاویل بې ځایه تکلف دې ځکه چه دَ نکاح اودَ نکاح ټوله معامله دَ حضرت عباس رضي الله عنه په لاس کښې وه. دا څنګه ممکن وه چه دَدې واقعه نه دَ عباس رضي الله عنه خوئی اودَ میمونه رضي الله عنها خورئی حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ترآخر وخت پورې ناخبره وی.

د جواز د قائلینو وجوه ترجیح:

① حضرت عباس رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنهما په نکاح دَ میمونه رضي الله عنها کښې دَ یوکور کسان دی او "صاحب البیت ادری بمافیه" مسلم قول دې.

② داخبره فیصله شوې ده چه مقام سرف په میقات کښې داخل دې. داهم منلې شوې ده چه دَاهل مدینه میقات ذوالحلیفه دې چه دَ مدینې نه لس کلومیټر فاصله باندې دې. اوس

حضرت میمونه رضي الله عنها سره نکاح مکې ته دَتللو وخت کښې شوې ده یا دَ عمره نه فارغ کیدو نه واپس راتلو سره شوې ده. که چرې دَتللو وخت کښې شوی وی نو یقینًا حضورپاك په احرام کښې وو او که چرې په واپسئ کښې شوی وی نو یقینًا حضورپاك بغیر دَ احرام نه وو. اوس دا خبره منلې شوې ده چه حضورپاك دَ اهل مکه نه دَ نور حصاریدو اجازت غوښتې وو او دَ ولیمه دعوت ئې ورکړې وو دَ کوم نه چه معلومیږي دا نکاح دَتللو وخت کښې شوې وه گني دَ ولیمې دعوت به ئې څنگه ورکولو؟ او دَ تلو په وخت حضورپاك په احرام کښې وو ځکه چه دَ میقات نه بغیر دَ احرام نه تیریدل جائز نه دي.

③ نکاح محرم کښې روایات متعارض دي او دَ تعارض په صورت کښې دَ قیاس طرف ته تلل وي او قیاس دا فیصله کوي چه دَ حاجي محرم دَ پاره چه کله ټول عقود او فسوخ جائز دي نو عقد نکاح هم جائز ده. چه محرم دَ وطي دَپاره وینځه اخستې شي سره دَدې چه وطي کولې نه شي نو هم دغه شان دَنکاح معامله هم ده.

[٢٦٨٢] د میمونې بي بي سره په حالت احرام کښې نکاح کول

٢٦٨٢- [٥] (١) ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَزَوَّجَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابن عباس رضي الله عنهما وايي نبی کريم ﷺ د بي بي ميمونی رضي الله عنها سره په داسې حالت کې نکاح وکړه، چې نبی کريم ﷺ (د عمرة القضاء) احرام تړلی وو، بخاري، مسلم

تسهیلات:

نوټ: دا يوه معركة الآراء مسئله ده د كومې تفصيل چې د مذاهبو په بيان كښې ذكر شوې دي. د حديث مطلب آسان دې باقی د گرانو لغاتو معانی د حل اللغات په عنوان سره واضح شوی دی.

[٢٦٨٣] میمونې رضی الله عنها سره په حالت غیراحرام کښې نکاح کول

٢٦٨٣- [٦] (٢) ① وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ الْأَصَمِّ، ابْنِ أُخْتِ مَيْمُونَةَ «عَنْ مَيْمُونَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَزَوَّجَهَا وَهُوَ حَلَالٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

② قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ - رَحِمَهُ اللهُ: وَالْأَكْثَرُونَ عَلَى أَنَّهُ تَزَوَّجَهَا حَلَالًا، وَظَهَرَ أَمْرُ تَزْوِيجِهَا وَهُوَ مُحْرِمٌ، ثُمَّ بَنَى بِهَا وَهُوَ حَلَالٌ بِسَرِفَ فِي طَرِيقِ مَكَّةَ.

ترجمه: ① يزيد ابن اصم (تابعي رحمه الله) چې د ام المؤمنين بي بي ميموني رضي الله عنها خوريی دی (د خپلې خاله، د مور خور) بي بي ميموني رضي الله عنها څخه نقل کوي چې نبی کريم ﷺ د دی

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب تزويج المحرم (رقم-١٨٣٧) ومسلم في باب تحريم نكاح المحرم، وكراهة خطبته (رقم-٤٦ - (١٤١٠)

(٢) اخرجه مسلم في باب تحريم نكاح المحرم، وكراهة خطبته (رقم-٤٨ - (١٤١١)

Maktaba Tul Ishaat.com

(بي بي ميموني ﷺ) سره چې كله نكاح وكړه نو نبى كريم ﷺ د احرام په حالت كې نه وو، مسلم [٢] امام محى السنة رحمه الله فرمايي چې اكثره علماء (يعنى د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله څخه علاوه) د دې خبري قائل دي، چې نبى كريم ﷺ چې كله د ميموني ﷺ سره نكاح وكړه نو هغه وخت نبى كريم ﷺ د احرام په حالت كې نه وو، هو د بي بي ميموني ﷺ سره د نبى كريم ﷺ د نكاح اظهار عام هغه وخت وشو، هر كله چې نبى كريم ﷺ د احرام په حالت كې وو، بيا نبى كريم ﷺ بي بي ميموني سره شب زفاف (د واده شپه) په مقامِ سرف كې (چې د مكى په لار كې واقع دى) تيره كړه كله چې يې احرام خلاص كړى وو

تسهيلات:

نوټ: دا يوه معركة الآراء مسئله ده د كومې تفصيل چې د مذاهبو په بيان كښې ذكرشوې دې. د حديث مطلب آسان دې باقى د ګرانو لغاتو معانى د حل اللغات په عنوان سره واضح شوى دى.

[٢٦٨٣] دَ محرم دَپاره دَ سر وينځلو اجازت

٢٦٨٣-[٧] ()[١] وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَغْسِلُ رَأْسَهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابو ايوب ﷺ وايي چې نبى كريم ﷺ به د احرام په حالت كې خپل سر مبارك منځلى، بخاري، مسلم

تسهيلات: قوله: كَانَ يَغْسِلُ رَأْسَهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ

په حالت احرام كښې د سر وينځلو حكم: چه ويښته مات نه شي اوخوشبوئى اونه لګى نوصرف دَ سر وينځلو اجازت دې. خوشبوئى دار صابن سره وينځل هم جائزنه دى.

حديث الباب سره متعلقه درې مسائل:

① دځه اختلاف نه بغير دمحرم دپاره دا جائز دى چه هغه خپل سر اووينځى خوپه دې طريقه چه دسر يو ويښته هم مات نه شي،

② كه څوک په خطمى سره سر وينځى نودحضرت امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله اود حضرت امام مالک رحمه الله په نزد په هغه باندې دم دې يعنى څاروې ذبح كول پرې واجبيږى، ځكه چه صرف دا نه چه خطمى د خوشبو يوقسم دې بلكه ددې په لګولو سره سپږې مړې كيږى،

③ (دخوشبو نه بغير) صابون يا د بيرې په پاڼړو او دغسې نورو څيزونو سره د سر وينځلو په صورت كښې متفقه طورباندې دټولو علماؤ په نزد په ده باندې هيڅ نه واجبيږى.

---

[١] اخرجه البخارى فى كتاب الحج /باب الاغتسال للمحرم (رقم-١٨٤٠) ومسلم فى كتاب الحج /باب جواز غسل المحرم بدنه ورأسه (رقم-٩١ - (١٢٠٥)

[۲٦٨٥] ښکر لګول جائز دي

۲٦٨٥ـ[٨] ( )[١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: «احْتَجَمَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَهُوَ مُحْرِمٌ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [١] ابن عباس ﷠ وايي چې نبي کريم ﷺ د احرام په حالت کې ډك ښکر وينه راوخکله يعنى ښکر يې ولګولى، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① اِحْتَجَمَ: حجامه ښکر لګولو ته وائى. يعنى وينه ني اوويستله.

تسهيلات: قوله: اِحْتَجَمَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَهُوَ مُحْرِمٌ:

د ويښتو خرولو دوه صورتونه اودهريو حکم: ① د محرم د پاره ښکر لګول (حجامه کول) جائز دى په دې شرط چه ويښته کټ نه شى که په سر کښې ئ لګوى او د سر څلورمه حصې نه کم ويښته کټ کول پکار وى نو په دې صورت کښې به صدقه لازميږى

② که د څلورمې حصې يا ددې نه زيات ويښته کټ کيږى يا کټ کول پکار شى نو بيا دم واجب دې.

[۲٦٨٦] دَ محرم دَپاره دَ پټئى لګولو مسئله

۲٦٨٦ـ[٩] ( )[١] وَعَنْ عُثْمَانَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، حَدَّثَ «عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي الرَّجُلِ إِذَا اشْتَكَى عَيْنَيْهِ وَهُوَ مُحْرِمٌ ضَمَّدَهَا بِالصَّبِرِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت عثمان ﷠ د يو سړي په باره کې د نبى کريم ﷺ دا حديث بيان کړي چې که د احرام په حالت کې د هغه سترګي خوږ شي، يا هغه په ضعف بصارت کې مبتلا شى (د نظر په کمزورى کې اخته شي) نو هغه دې په خپلو سترګو ايلوا (مصبر، صبر) پورې کړي، مسلم

حل اللغات: ① ضَمَّدَهَا: دَ باب تفعيل نه د ماضى صيغه ده، پټئى لګول او مَلهم کولو ته وائى بعضو په سترګه کښې دوائى اچولو ته وئيلى دى. ② بِالصَّبِرِ: هِىَ عُصَارَةُ شَجَرَةٍ: د يو بوټى سفوف يعنى ميده سور رنګ اوره دى هغې ته صبروائى، تريخ څيز دې، د رانجو په طور سترګو کښې اچولې شى.

تسهيلات: قوله: وَهُوَ مُحْرِمٌ ضَمَّدَهَا بِالصَّبِرِ:

په سر د پټئ لګولو حکم: دَ بدن په نورو حصوباندې پټئى کولو کښې هيڅ حرج نشته دې البته سر او مخ په پټئى يا دوائى سره پټول جائزنه دى. که دَ سرڅلورمه حصه پټه کړې شوه نودم به راځى ګنې صدقه لازم ده. زيربحث حديث په حالت دَ مجبورئى باندې محمول دې.

---

[١] اخرجه البخارى فى كتاب الحج/باب الحجامة للمحرم (رقم-١٨٣٥) ومسلم كتاب الحج /باب جواز الحجامة للمحرم (رقم-٨٧ - (١٢٠٢)

[١] اخرجه مسلم فى كتاب الحج /باب جواز مداواة المحرم عينيه (رقم-٨٩ - (١٢٠٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٦٨٧]دَ محرم دپاره چترئ وغيره استعمالول جائز دي

٢٦٨٧-[١٠] (١)(١)«وَعَنْ أُمِّ الْحُصَيْنِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: رَأَيْتُ أُسَامَةَ وَبِلَالًا، (٢)وَأَحَدُهُمَا آخِذٌ بِخِطَامِ نَاقَةِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - (٣)وَالْآخَرُ رَافِعٌ ثَوْبَهُ، يَسْتُرُهُ فِي الْحَرِّ، حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: (١) بي بي ام حصين ﷞ وايي چې ما حضرت اسامه او حضرت بلال ﷠ وليدل (٢) چې په هغوئ کې يو د نبي کريم ﷺ د اوښې مهار نيولی وو (٣) او بل (يعني حضرت اسامه ﷛) خپله جامه پورته کړې وه (په نبي کريم ﷺ بالا) چې د نمر د ګرمی د تاو څخه يې ورباندې سايه (سورې) کړې وه، تر دې چې نبی کريم ﷺ په جمره عقبه کانړي ويشتلي، مسلم.

حل اللغات: (١) بِخِطَامِ: دَ اوښې جلب ته خطام وائی يعنی لګام يا واګې.

تسهيلات:

قوله: وَالْآخَرُ رَافِعٌ ثَوْبَهُ، يَسْتُرُهُ فِي الْحَرِّ:

د سر دپاسه په کپړه د سوری کولو حکم: رافع ثوبه: دَدې نه معلومه شوه چه دَ محرم دَ سردَ پاسه سورې کول جائز دی که چهترئی وی اوکه چت وی يا ګاډې وغيره وی په دې شرط چه هغه پرده په سر پورې لګيدلې نه وی.

د محرم دپاره د سوری کولو په حکم کښې مذاهب:

(١) دَاکثرفقهاؤ دغه مسلك دی.

(٢) امام مالك ﷫ او امام احمدبن حنبل ﷫ سورې کول مکروه ليکلی دی کيدې شی چه خلاف اولی وی

(٣) شيعه ګان شنيع دا حرام ګڼړی.دَحج په موسم کښې چه هغوی په کوم بس کښې سفرکوی دَهغه بسونو چتونه نه وی.

[٢٦٨٨]دَ سر خرولو جزا

٢٦٨٨-[١١] (٢)(١)«وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَرَّ بِهِ وَهُوَ بِالْحُدَيْبِيَةِ قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ مَكَّةَ، وَهُوَ مُحْرِمٌ، (٢)وَهُوَ يُوقِدُ تَحْتَ قِدْرٍ، وَالْقَمْلُ تَتَهَافَتُ عَلَى وَجْهِهِ، (٣)فَقَالَ: "أَتُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ؟" قَالَ: نَعَمْ قَالَ: "فَاحْلِقْ رَأْسَكَ وَأَطْعِمْ فَرَقًا بَيْنَ سِتَّةِ مَسَاكِينَ (٤)-وَالْفَرَقُ: ثَلَاثَةُ آصُعٍ- "أَوْ

[١] اخرجه مسلم فی کتاب الحج /باب استحباب رمي جمرة العقبة يوم النحر راکبا، وبيان قوله صلی الله عليه وسلم ولتأخذوا مناسككم» (رقم-٣١٢ - (١٢٩٨)

[٢] اخرجه البخاري فی کتاب الحج/باب قول الله تعالی: «فمن كان منكم مريضا أو به أذى من رأسه ففدية من صيام أو صدقة أو نسك_ [البقرة: ١٩٦] (رقم-١٨١٤) ومسلم فی کتاب الحج /باب جواز حلق الرأس للمحرم إذا كان به أذى، ووجوب الفدية لحلقه، وبيان قدرها (رقم-٨٣ - (١٢٠١)

مِنْ لِلْاتَةِ أَيَّامٍ أَوِ انْسُكْ نَسِيكَةً»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:① د كعب ابن عجره ﷺ څخه روايت دى چې نبى كريم ﷺ د هغه سره تير شو، هر كله چې هغه په مكه كې د داخليدو څخه مخكې په حديبيه كې وو، او كعب ﷺ د احرام په حالت كې وو (يعني دا د هغه موقع ذكر دى، هر كله چې نبى كريم ﷺ د خپلو ملګرو سره د عمري د پاره مكې ته روان شوى وو، ليكن مشركينو په حديبيه كې ټول منع كړى وو، نو ټولو سره كعب ﷺ هم په مكه كې د داخليدو اميدوار وو، خو بيا وروسته د يوي معاهدي تحت، چې هغه ته صلح حديبيه وايي، ټول خلق د عمرى كولو بغير د هغه ځاى څخه تللي وو، بهرحال نبى كريم ﷺ چې د كعب سره تير شو نو)② هغه تر كټوي لاندي اور بلولى، او سپږي د سر څخه غورځيدلو سره د هغه په مخ راپريوتلي،③ نبى كريم ﷺ (د دي ليدو سره ورته) وفرمايل چې آيا دا سپږي تاته تكليف رسوي؟ هغه عرض وكړو چې هو، نو نبى كريم ﷺ ورته وفرمايل چې ته خپل سر وخريه، او په طور د جزاء يو فرق طعام په شپږو مسكينانو وخوره،④ او فَرَق د دريو صاعو وي، يا دري ورځي روژي ونيسه يا يو ځاروى ذبح كړه، چې د ذبح قابل وي، بخاري، مسلم.

حل اللغات:① يُوقِدُ:دا د إِيقَاد نه دي، اور بلولو ته وائي. ② قِدْرٍ: كټوئ، ③ القَمْلُ :أَيْ: جَمْعُهُ: سپږه، ④ تَتَهَافَتُ : أَيْ: تَتَسَاقَطُ: دَباب تفاعل نه دَمضارع صيغه ده دَ پريوتلو په معنى كښې دې (يعنى سپږې ئې د سرنه غورزيدلې). ⑤ هَوَامُّكَ: د هَامَّة جمع ده، د سپږې اوكتمل په شان وروكې ګرځيدونكي ځيز دي. ⑥ فَرَقًا: دا يو پيمانه ده چه د دريو صاع برابر ده. ⑦ آصُع: يا أَصْوُع جمع د أَصَاع ده، صاع يوه پيمانه ده چه د اته رطلو يعنى د اته پونډونو برابر دې، او يو صاع د څلور مُده هم برابر وى.

دراوي مختصر تعارف:

حضرت كعب بن عجره: نوم كعب ابومحمد كنيت..بلي،، خاندان سره ئى تعلق ووحليه مباركه ئى داسې وه چه په يوه غزوه كښې دَ هغه لاس پرې شوې وو(طبقات ابن سعد) په سرباندې وينبته ګنړوو(مسند احمد: ۲۴۲/۴)

دَ هجرت نه پس مسلمان شوې ووبيائى حضورپاك ﷺ سره په ټولو غزواتوكښې شركت كړې. غزوه حديبيه كښې حضور ﷺ سره وو. دَ سرووينبته دَ ګنړوالى په وجه ئى په سر كښې دومره سپږې شوې وې چه هغه به ئى په مخ باندې راتلې او راپريوتې به. حضور ﷺ هغه ته دَ وينبتو كټ كولو مشوره وركړه هغه كټ كړل. دَ هغه په سيرت كښې دَ حق حمايت اودَ رسول الله ﷺ سره مينه ډوا دواړه ځيزونه دَ حضرت كعب ﷺ په اخلاقو كښې ډير روښانه وو. يوځل دې دَ حضور ﷺ په خدمت كښې حاضر شودَ ډيرې لوږې په وجه د حضور ﷺ مخ مبارك متغير شوې وو.دې پوهه شو او دَ يويهودى په اوښ باندې اوبه

Maktaba Tul Ishaat.com

اوځکولې هغه يوه ډولچه دَ يوې چوارې په حساب سره مزدوري ورکړه چه څه چوارې راجمع شوې نو هغه ئې واخستلې اوده حضورﷺ په خدمت کښې ئې پيش کړې (اصابة: ۳۰۴/۵)

مرويات: دَ هغه دَ روايتونوشمير ۴۷ دي.

وفات: په کال ۱۵۱ھ کښې چه کله دَ هغوی عمر ۷۵ کاله وو مدينه کښې وفات شو.

تسهيلات:

قوله: فَاحْلِقْ رَأْسَكَ وَأَطْعِمْ..الخ:

د مجبورئ په وجه د سر خرولو حکم: بهر حال په وجه دَمجبورئی که يومحرم سر اوخروی نو هغه له اختيار دې چه دَ جزا په توګه په دريو تاوانونو کښې يو تاوان ډك کړی ياخو دې شپږو مسکينانو ته نصف نصف صاع غنم ورکړی يا دې درې ورځې روژه اوساتی يا دَ ذبح قابل يوخاروې دې ذبح کړی. په قرآن کريم کښې دَدې ترتيب ذکر الله تعالى جل جلاله داسې کړې دې ﴿فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ﴾ [سورت بقره: ۱۹۶.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۶۸۹] په احرام کښې دَ ښځودَپاره ممنوع څيزونه

۲۶۸۹–[۱۲] (۱) [۱] «عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۲] - يَنْهَى النِّسَاءَ فِي إِحْرَامِهِنَّ عَنِ الْقُفَّازَيْنِ وَالنِّقَابِ [۳] وَمَا مَسَّ الْوَرْسُ وَالزَّعْفَرَانُ مِنَ الثِّيَابِ، [۴] وَلْتَلْبَسْ بَعْدَ ذَلِكَ مَا أَحَبَّتْ مِنْ أَلْوَانِ الثِّيَابِ، مُعَصْفَرٍ، أَوْ خَزٍّ، أَوْ حُلِيٍّ، أَوْ سَرَاوِيلَ، أَوْ قَمِيصٍ، أَوْ خُفٍّ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه [۱] د ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چې هغه واوريدل [۲] چې نبی کريم ﷺ د دې څخه منع فرمايله چې ښځه دي د خپل احرام په حالت کې دستاني وانه چوي، او (دغه شان) نقاب وانه چوي. چې هغه نقاب د هغوئ په مخ لګيږي، [۳] او داسې جامې وانه غوندي، چې په هغه کې زعفران او ورس لګيدلی وي، [۴] هو د دې څخه روسته (يعني د احرام د وتلو څخه پس) هغه د جامو د انواعو څخه څه چې غواړي وادي غوندي که څه هم چې په کوم رنګ رنګ شوی وي، وريښم وي يا زيور وي، او که پاجامه (پرتوګ) وي، قميص وي يا موزه وي. ابوداؤد.

حل اللغات: ① الْقُفَّازَيْنِ: دستاني، ② النِّقَابُ: أی الخمار، هغه لوپټه چه زنانه پرې مخ پټوی ③ مُعَصْفَرٍ: رنګ شوې جامې، ④ خَزٍّ: خز د ريښمو چينجی ته وائی خو مراد ترې دهغې ريښم دی. ⑤ حُلِيٍّ: مَا يَلْبَسُهُ النِّسَاءُ مِنْ آلَاتِ الزِّينَةِ: کالی يعنی هغه څيزونه چه زنانه ئې د ښائست دپاره اغوندی لکه والی، تښکی وغيره.

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک. باب ما يلبس المحرم (رقم-۱۸۲۶)

تسهيلات:

قوله: بَعْدَ ذٰلِكَ:

د احرام څخه حلاليدو نه پس د هر قسم پابندۍ ختميدل: يعنی دَ احرام نه دَ وتلونه پس دَ ښځودَپاره هرقسم کپړې اچول جائز دی هرقسم کالي اچول هم جائز دی رينښم هم جائز دی او موزې هم جائز دی. مگر دَ احرام په حالت کښې دَ ښځودَپاره نقاب اچول منع دی دستانې منع دی دَ ورس اوزعفران رنګ کړې شوې کپړه اچول هم منع ده.

[۲۶۹۰] دَاحرام په حالت کښې دَپردې طريقه

[۱۳]-۲۶۹ ( )[۱] «وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُحْرِمَاتٌ، [۲] فَإِذَا جَاوَزُوا بِنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا عَلَى وَجْهِهَا، [۳] فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ». رَوَاهُ أَبُو حَنِيفَةَ، وَلِابْنِ مَاجَهْ مَعْنَاهُ.

ترجمه: [۱] أم المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چې مونږ د سفر په دوران کې د احرام په حالت کې د نبی کريم ﷺ سره ملګري وو، او د احرام په وجه زمونږ مخونه خلاص وو، او زمونږ نږدې قافلې تيريدلې، [۲] هر کله چې به يوه قافله زمونږ مخې ته تيريدله. نو په مونږ کې به هرې ښځې (د پردې په غرض) خپل څادر په خپل سر راښکلو سره په خپل مخ به يې (داسې) اچولی (چې هغه څادر به د هغې د مخ سره نه لګيدلی) [۳] او کله چې به قافله زمونږ د مخ څخه تيره شوه، نومونږ به خپل مخونو خلاص کړل، ابوداؤد، ابن ماجه هم د دې مضمون يو روايت نقل کړی دی. [اخرجه ۲/۱۷۳].

حل اللغات: ① جَاوَزُوا: أَيْ: مَرُّوا: چه تيريدله به (قافله). ② سَدَلَتْ: أَيْ أَرْسَلَتْ: دا د سدل نه دې راوړرندولو ته وائي. ③ جِلْبَابَهَا: أَيْ بُرْقُعَهَا أَوْ طَرَفَ ثَوْبِهَا: برقعه، يا دڅادر يو ګوټ يعنی پرونې

تسهيلات:

قوله: سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا عَلَى وَجْهِهَا:

د محرمې زنانه دپاره د پردو سرو څخه د پردې کولو اهتمام کول: دَدې حديث نه معلومه شوه چه څومره ممکن وی دَ احرام په حالت کښې ښځوله خپل مخ دَ پردو سړونه پټول پکاردی. داسې نه وی چه دَ احرام اوعبادت په شا دَخپل مخ نمائش شروع کړی. مخ او خله پټول داسې هم کيدې شی چه دَ پردې کپړه مخ سره نه لګی اوبرده اوشی. دَ همت ضرورت دې.

( ) اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک، باب فی المحرمة تغطی وجهها (رقم-۱۸۳۳) وابن ماجة فی کتاب المناسک/باب المحرمة تسدل الثوب علی وجهها (رقم - ۲۹۳۵) واحمد فی المسند: ۶/۳۰

Maktaba Tul Ishaat.com

[٣٦٩١] په احرام کښې صرف تیل استعمالول جائز دي

٢٦٩٠-[١٤] ()[١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يَدَّهِنُ بِالزَّيْتِ وَهُوَ مُحْرِمٌ غَيْرَ الْمُقَتَّتِ" يَعْنِي غَيْرَ الْمُطَيَّبِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] ابن عمر ﷺ وايي چې نبی کريم ﷺ به د احرام په حالت کې بغیر د خوشبو د زيتون تيل استعمالول، ترمذي.

حل اللغات: ① يَدَّهِنُ: تيل به ئې لګول. ② الْمُقَتَّتِ: هُوَمَا يُطْبَخُ فِيهِ الرَّيَاحِينُ: هغه تيل کوم کښې چه د خوشبودار ګلونو څخه جوړ کړي شي.

تسهیلات: قوله: يَدَّهِنُ:

د خوشبودارو تيلو لګولو حکم: تيل که چرته دهرقسم خوشبوئی نه پاك وی نود هغې استعمال په دې حديث سره ثابت دې

په زيات مقدار کښې د تيلو په استعمال کښې اختلاف: که تيل پخپله خوشبودار وی یا په هغې کښې خوشبوئی يوځائی کړې شوې وی نو په اتفاق سره به دم لازمیږی. خو که چرې خوشبودار تيل د دوائی دپاره استعمال کړې شی نودم به نه راځي اوکه چرې د خوشبوئی په غرض ئی استعمال کړی نوبيا به دم راځي. او چې خالص تيل وی نو هغه هم په زيات اندازه سره استعمال نه وی. که چرې دا خالص تيل هم په زيات مقدار کښې استعمال کړې شی د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز به دم لازمی وی د صاحبينو په نيز به صرف فديه ورکول وی.

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٣٦٩٢] کندلې شوې کپړې په بدن باندې اچول څنګه دي؟

٢٦٩١-[١٥] ()[٢] «عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ وَجَدَ الْقُرَّ، فَقَالَ: أَلْقِ عَلَيَّ ثَوْبًا يَا نَافِعُ، فَأَلْقَيْتُ عَلَيْهِ بُرْنُسًا. [٢] فَقَالَ: تُلْقِي عَلَيَّ هَذَا وَقَدْ نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ يَلْبَسَهُ الْمُحْرِمُ»؟. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] نافع (تابعي) رحمه الله وايي چې ابن عمر ﷺ ته د احرام په حالت کې په يوه موقع يخنی شروع شوه، نو هغه وفرمايل چې اې نافع! په ما جامه واچوه ما د هغه په بدن برساتی (باراني) واچوله، [٢] نو هغه اوويل چې ته زما په بدن دا (برساتی) اچوي؟ حالانکه نبی کريم ﷺ محرم د دې د اچولو څخه منع کړی دی، ابوداؤد.

حل اللغات: ① الْقُرَّ: أَيِ الْبَرْدَ: يخنی، ② بُرْنُسًا: أَيْ: ثَوْبًا مُلْتَزَقَ الرَّأْسِ: برساتی يعنی هغه جرسی يا جامه کومه چې خلق ئې په باران کښې اچوی.

---

[١] اخرجه الترمذی فی کتاب الحج عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٩٦٢)وابن ماجة فی کتاب المناسک/باب ما یدهن به المحرم (رقم-٣٠٨٣) واحمد فی المسند: ١٤٥/٢

[٢] اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک، باب ما یلبس المحرم (رقم-١٨٢٨)

تسهيلات: قوله: بُرْنُسًا:

د عبدالله بن عمر د برساتي د استعمال څخه انکار: برساتني ته وائي. دَ يخنئي دَ وجې نه حضرت ابنَ عمر رضي الله عنهما نافع رحمه الله ته اوفرمائيل زما په بدن باندې څه کپړه واچوه هغه پرې برساتني واچوله. په دې باندې حضرت ابن عمر رضي الله عنهما خفه شو ونې فرمائيل چه زه په احرام کښې يم اوته په ما باندې ګنډلې شوې کپړه اچوې؟

په غیرمعتاد طریقه دګنډلې شوې جامه کښې داحنافو مسلک: دَ احنافو فقهي مسلك دې نومسئله داسې ده که چرې ګنډلې شوې کپړه په غيرمعتادطريقه باندې صرف په بدن باندې واچولې شي نو په دې سره هيڅ نقصان نه کيږي.

وحديث الباب څخه جواب: حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څکه انکاراوکړو چه کيدې شي دَ هغوی مسلك داسې وو چه ګنډلې شوې کپړې په هرقسم طريقه سره دَ محرم دَپاره جائزنه دی يا ابن عمر رضي الله عنهما څکه نکيراوفرمائيلو چه نافع رحمه الله دَ هغوی په سرباندې برساتني اچولې وه په کوم سره چه دَهغوی سرپټ شوې وو.

[۲۶۹۳] د حضور ﷺ ښکر لګول (وينه اوخکل)

—[۱۶] ()[١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «احْتَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ مُحْرِمٌ بِلَحْيِ جَمَلٍ مِنْ طَرِيقِ مَكَّةَ فِي وَسَطِ رَأْسِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] عبد الله ابن مالك رضي الله عنه چې د بحينه خوی دی، هغه وايي چې نبی کريم ﷺ د مکې په لار کې د لحي جمل په مقام د احرام په حالت کې د خپل سر په منځ کې ښکر ولګوی (یعني وینه یې وخکله، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① بِلَحْيِ جَمَلٍ: دَ مکې اومدينې په مينځ کښې دَ يوځائی نوم دی.

حل اللغات: ① لحی جمل:

تسهيلات:

قوله: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ:

د مالك تعارف: په دې حديث کښې عبدالله بن مالك بن بحينة نوم دې په ظاهره داسې ښکاری چه مالك دَ بحينه خوئی دې حالاتکه مالك دَ بحينه خاوند دې اوعبدالله دَهغوی خوئی دې نودَ عبدالله اول صفت ابن مالك دې اودَ هغه دويم صفت بحينه ده اودادَ هغه مور ده.

قوله: وَسَطِ رَأْسِهِ:

د ښکر لګولو دپاره د ويښتو د کټ کولو حکم: که دَ ښکر لګولودَپاره څلورمه حصه يا دَدې

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الحج /باب الحجامة للمحرم (رقم-١٨٣٦) ومسلم فی کتاب الحج /باب جواز الحجامة للمحرم (رقم-٨٨ - (١٢٠٣)

Maktaba Tul Ishaat.com

نه زيات وينسته پرې كړې شي نو په محرم باندې به دم لازم راخي كه چرې كم وى نو صدقه به لازميږى اوچرته چه وېښته نه وى نو هلته په ښكر لګولو باندې هيڅ هم نه راخي خپل پخپله وېښته ماتيدوې سره هم څه نه لازميږى

[٣٦٩٤] ښکر لګول

[١٧] (١) [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «احْتَجَمَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ مُحْرِمٌ عَلَى ظَهْرِ الْقَدَمِ مِنْ وَجَعٍ كَانَ بِهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه [١] انس ﷺ وايي [٢] چې نبى كريم ﷺ د احرام په حالت كې د خپلې پښې په شا ښكر ولګولى ، يعني وينه يې وخكله، خكه چې نبى كريم ﷺ ته درد وو، ابوداؤد، نسائي

حل اللغات ① ظَهْرِ الْقَدَمِ: دخپې شا، خپې پورته طرف، ② وَجَعٍ: درد، تكليف.

تسهيلات: **قوله**: عَلَى ظَهْرِ الْقَدَمِ مِنْ وَجَعٍ كَانَ بِهِ:

دعذر دوجې د محرم دپاره ښكر لګول: چونكه د خپې په شاه باندې ويخته نه وى په دې وجه د ويختو ماتيدو څه سوال نه پيدا كيږى لهذا په خپو باندې ښكر لګول جائز دى او نبى عليه السلام د عذر په بنا ښكر لګولي وو يا ممكنه ده چه ښكر لګولو دوه واقعات وى هم يو احرام كښې يا دواړه واقعات جدا جدا احرامونو كښې پيښې شوى وى

[٣٦٩٥] دبي بي ميموني ﷺ سره د حضور ﷺ نكاح

[١٨] (٢) [١] «وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [٢] تَزَوَّجَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَيْمُونَةَ وَهُوَ حَلَالٌ، [٣] وَبَنَى بِهَا وَهُوَ حَلَالٌ، وَكُنْتُ أَنَا الرَّسُولَ بَيْنَهُمَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.

ترجمه [١] ابو رافع ﷺ وايي نبى كريم ﷺ چې د بي بي ميموني ﷺ سره نكاح وكړه نو حضور ﷺ د احرام په حالت كې نه وو، [٣] او هر كله چې د هغې سره يې شب زفاف د واده شپه تيره كړه، نو بيا هم د احرام په حالت كې نه وو، او د دې دواړو په منځ كې د نكاح پيغام وړونكى زه وم. احمد، ترمذي، امام ترمذي ﷺ فرمايلي دي چې دا حديث حسن دى

حل اللغات ① الرَّسُولَ: أَيْ: الْوَاسِطَةُ: پيغام وړونكې راوړونكې، واسطه.

تسهيلات:

نوټ: دا حديث د امام شافعى رحمه الله وغيره دليل دې چه محرم د احرام په حالت كښې نكاح نشى كولې د دې جواب تير شوى دې

(١) اخرجه ابوداود فى كتاب المناسك، باب ما يقتل المحرم من الدواب (رقم-١٨٤٧) والنسائى فى كتاب مناسك الحج/باب حجامة المحرم على ظهر القدم (رقم-٢٨٤٩)

(٢) اخرجه الترمذى فى كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية تزويج المحرم (رقم ٨٤١) واحمد فى المسند: ٣٩٣/٦

[۱۲] بَابُ الْمُحْرِمِ يَجْتَنِبُ الصَّيْدَ

دَ محرم دپاره دَ ښکار دَ ممانعت بیان

خلاصة الباب:

فيه أحد عشر حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① حرمة قبول الصيد حياً وحله مذبوحاً: ۱، ۱۱.

② ما يجوز قتله للمحرم: ۳، ۴، ۷.

③ شرط حل الصيد للمحرم: ۲، ۵.

④ جواز صيد البحر: ۶.

⑤ ذكر بعض الصيود البرية: ۱، ۸، ۹، ۱۰.

قال الله تعالى ﴿أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ۖ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا﴾ [سورة المائده الايه: ۹۶].

د صيد تعريف: په دې باب کښې دَ صيد نه مراد هر هغه ځناور دې چه دَ خپل تخليق په اعتبار سره متوحش وي او دَ هغه تولد وتناسل په اوچه باندې وي په اوبو کښې نه وي که يو مرغئي يا دَ اوچې ځناور په اوبو کښې اوسيږي لکه مرغابئي وغيره نو دَ دغه عارضي وجې نه به هغه دَ ښکار نه خارج کيږي نه هغه به په ممنوعه ښکار کښې شمير وي که په عارضي توګه يو ځناور اموخته شو لکه هوسئي وغيره نو دَ دې اعتبار به نه کيږي دا هم هغه شان ممنوعه ښکار دې.

د ښکار د جواز او عدم جواز صورتونه: ① دَ محرم دَ پاره سمندري ښکار مطلقًا جائز دې

② که دَ اوچې ښکار ماکول اللحم دې نو مطلقًا حرام دې

③ که غير ماکول اللحم وي نو که هغه موذي وي نو دَ هغې ښکار کول هم مطلقًا حرام دي

④ که موذي وي او په شروع کښې حمله کونکې وي نو دَ داسې ځناور قتل کول دَ محرم دپاره جائز دی لکه ازمرې ليوه وغيره

⑤ که چرې غير موذي ځناور هم په محرم باندې دَ حملې کولو دَ پاره راځي نو دَ حفاظت په توګه په وژلو کښې هيڅ حرج نشته

د ښکار د حرمت دوه حيثيتونه: ① دَ ښکار باره کښې يو خو دَ حاجي دَ احرام حالت دې په دې کښې حاجي چرته هم چه وي دَ اوچې ښکار نه شي کولې دا قسم دَ احرام ممنوعات دی

② دَ حرم دَ زمکې حيثيت دې په دې حيثيت کښې که حاجي په احرام کښې وي او که حلال وي هغه ښکار نه شي کولې دا قسم د حرم ممنوعات دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

د بعضې څیزونو د قتلولو اجازت: بعض څیزونه داسې دی د کوم د تکلیف د وجې نه د هغې وژل په حرم کښې هم جائزدی او د احرام په حالت کښې هم جائزدی. لکه کارغه تپوس مار لړم مږه او لیوني سپي دَدې تولو وژل په هرحالت کښې جائزدی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[٢٦٩٦] محرم دَ ښکارغوښه خوړلې شي که نه؟

[١] ( ) ① «عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - ② أَنَّهُ أَهْدَى لِرَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حِمَارًا وَحْشِيًّا. وَهُوَ بِالْأَبْوَاءِ أَوْبِوَدَّانَ، ③ فَرَدَّهُ عَلَيْهِ، فَلَمَّا رَأَى مَا فِيهِ وَجْهِهِ ④ قَالَ: "إِنَّا لَمْ نَرُدَّهُ عَلَيْكَ إِلَّا أَنَّا حُرُمٌ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① د حضرت صعب ﷺ ابن جثامه په باره کې روایت دی ② چې هغه د نبی کریم ﷺ په خدمت کې وحشي حمار (ګورخر) په طور د هدیې ولیږلی، کله چې نبی کریم ﷺ مقام آبواء یا ودان (چې د مکې او مدینې په منځ کې واقع دی) کې تشریف فرما وو، ③ نبی کریم ﷺ هغه واپس کړي، او هر کله چې نبی کریم ﷺ د دې په وجه د هغه په مخ د غم او افسوس آثار محسوس کړل، ④ نو وې فرمایل چې مونږ ستا هدیه ځکه واپس کړه، چې مونږ په حالت داحرام کې یو، بخاري، مسلم.

حل اللغات: ① حِمَارًا وَحْشِيًّا: ځنګلی خر، ② بِالْأَبْوَاءِ أَوْبِوَدَّانَ: أي مَوْضِعَانِ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ: د مدینې او مکې په مینځ کښې ځایونه دی.ابواء د مدینې نه لس فرسخه لرې دي، او بودان د أبواء نه اته میله فاصله کښې د ابواء او جحفه په مینځ کښې واقع دي.

د راوي مختصر تعارف:

حضرت صعب بن جثامه رضي الله عنه: نوم صعب دَ پلارنوم جثامه بن یزیدبن قیس بن عبدالله دې د قبیله لیثی سره ئې تعلق وود ابوا مقام چه دَحجاز په زمکه واقع دې په دې کښې هغه اوسیدلو په دې وجه په اهل حجاز کښې دَهغوی روایتونه موندلې شی.

وفات: دَحضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه په خلافت کښې وفات شو.

مرویات: دَهغوی نه ١٧ احادیث نقل دی په دې کښې دوه بخاری اومسلم کښې موجوددی.

تسهیلات: قوله: فَرَدَّهُ عَلَيْهِ:

د ښکار غوښې د نه قبلولو وجه: یعنی حضورپاك دَ احرام په حالت کښې دَ ښکار غوښه قبوله نه کړه بلکه هدیه کونکی ته ئې واپس کړه اوونې فرمائیل خفه نه شې مونږ په احرام کښې یو په دې وجه دَ ښکار غوښه نه شو قبلولې.

---

[١] اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب إذا أهدى للمحرم حمارا وحشيا حيا لم يقبل (رقم-١٨٢٥) ومسلم فی کتاب الحج /باب تحريم الصيد للمحرم (رقم-٥٠ - (١١٩٣)

وس دَ فقهي نقطه نظر او روایاتو اختلاف سره دَمسئلي تفصيل داسي دي

د محرم دپاره د ښکار د حرمت صورتونه: ① دَټولو فقهاؤ په دي باندي اتفاق دي چه دَ محرم دپاره دَ اوچي ښکار کول هم حرام دي

② په هغي کښي امداد کول هم حرام دی چنانچه که چرته محرم پخپله دَ اوچي ښکار اوکړو یا هغه دَ ښکار کونکی سره تعاون اوکړو یا دَښکار طرف ته ئی اشاره کولو سره او خودنه اوکړه نو په دي ټولو صورتونو کښي دَ ښکار غوښه خوړل دَ محرم دپاره ناجائز ده که چري وئی خوړله نو تاوان به اداکوی

د محرم دپاره د غیر محرم ښکار خوړلو حکم: که یو غیرمحرم دَ محرم په نیت سره ښکار کړي وی او دَمحرم هیڅ امداد په هغي کښي شامل نه وی نو په دي صورت محرم دپاره دغه غوښه خوړلو کښي دَ فقهاؤ اختلاف دي

① حضرت ابن عمر رضی الله عنه حضرت جابربن زید رضی الله عنه اوحضرت طاؤس رحمه الله طرف ته دا خبره منسوب ده او هم دا دَ اسحاق بن راهویه رحمه الله او سفیان ثوری رحمه الله مسلك دي چي محرم دپاره په هیڅ صورت دَ ښکار غوښه خوړل یا قبلول جائز نه دی. که غیرمحرم ددي نیت کوی او که نه کوی

② ائمه ثلاثه فرمائي چه که چري غیرمحرم دَ ښکار په وخت په محرم باندي دَ غوښي خوړلو نیت اوکړو نو دَمحرم دپاره ددي خوړل جائز نه دی.

③ احناف فرمائي چه دَغیر محرم په ښکار کښي که چري دَ محرم دَ طرف نه څه تعاون او امداد نه وی نو صرف په نیت کولو سره دَمحرم دپاره دا غوښه خوړل حرام نه دی.

د اسحاق بن راهویه دلیل: اسحاق بن راهویه رحمه الله وغیره او بعض سلف دَزیر بحث حدیث نه استدلال کړي دي په دي کښي حضورپاك دَ ښکار غوښه واپس کړي او علت ئی دا بیان کړي چه مونږ په احرام کښي یو. معلومه شوه چه محرم دَ ښکار غوښه نه شي خوړلي که څوك په کښي نیت کوی او که نه کوی.

جوابونه: ① د دي څخه جواب دادي چه حضرت صعب بن جثامه رضی الله عنه دَ حضورپاك په خدمت کښي ژوندي ځنګلی حمار هدیه کړي وو. زیر بحث حدیث کښي "حماراً وحشیاً" الفاظ دی چه دَ غوښي دپاره نه شي وئیلي کیدي او ژوندي ښکار محرم خپل ځان سره نه شي کیخودي. په دي وجه ئی واپس کړو. دَ احناف دا جواب خو په دي حدیث کښي بالکل واضح او په موقع دي لیکن دَ مسلم شریف بعض روایاتو کښي "لحم حمار وحش" الفاظ راغلی دی هلته دا جواب نه شي چلیدي لیکن امام ترمذی رحمه الله فرمائیلي دی چه "وهو غیر محفوظ" یعني دَ حمار وحش الفاظ ثابت دی او دَ لحم حمار وحش الفاظ غیرمحفوظ دی. امام بخاری رحمه الله هم دَ صعب بن جثامه رضی الله عنه دَ روایت دپاره چه کوم عنوان ترلي دي دَ هغي نه هم معلومیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

چه معامله دَ ژوندی حمار د پیش کولو وه عنوان دادې "باب اذا اهدی للمحرم حمارا وحشيا حيا". اوجزالمسالک ج ٦ص ٢٧٤.

② دویم جواب دادې چه حضورپاك دَ ذرائعو دَ بندولو دَ وجې نه دا رد کړو دې دپاره چه خلق دَ احرام په حالت کښې په ښکار کښې اخته نه شی دا جواب ډیر ښه دې

دائمه ثلاثه دلیل: ائمه ثلاثه راتلونکی دَحضرت جابر رضی الله عنه حدیث نه استدلال کړې دې

عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ لَحْمُ الصَّيْدِ لَكُمْ فِي الْإِحْرَامِ حَلَالٌ مَا لَمْ تَصِيْدُوْهُ أَوْ يُصَادُ لَكُمْ، رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

په دې کښې "اويصاد لكم" الفاظ دی دکوم نه چه اندازه کیږی که دَمحرم په نیت سره ښکار اوکړې شو نوهغه هم ناجائز دې

جواب: د دې ځخه جواب دادې چه په دې کښې مضاف محذوف دې "اي يصاد بامركم اوبدلالتكم" اوحکم کول یا لارخودنه کول خوجائز نه دی. هسې هم دَدې روایت نه دَ جمهورو استدلال مکمل نه دې ځکه چه په روایت کښې څو احتمالات دی. ژوندې ښکار هم مراد کیدې شی دَ امداد اشارې او دلالت احتمال هم دې لهذا دَ حضرت ابوقتاده رضی الله عنه صریح او صحیح روایت خپلول زیات بهتر دی دکوم تخریج چه بخاری او مسلم کړې دې او په هغې کښې تفصیلی قصه ده

داحنافو دلائل: ① احنافو دَ حضرت ابوقتاده رضی الله عنه دَراروان حدیث نه استدلال کړې دې په کوم کښې چه حضورپاك دَ خوراك کونکو محرم صحابه کرام رضی الله عنهم نه تپوس اوکړو چه آیا تاسو دَ ابوقتاده امداد کړې یا هغه ته مو حکم ورکړې یا اشاره کړې هغوی په نفی کښې جواب ورکړو حضورپاك اوفرمائیل چه پاتې شوې غوښه اوخورئی اوپخپله هم حضورپاك دهغې نه خوراك اوکړو دلته حضورپاك دَ قتاده رضی الله عنه دَ نیت خبره دچانه هم تپوس اونه کړو اوښکاره خبره ده چه حمار وحشی لوئی ښناور وی حضرت ابوقتاده رضی الله عنه به خامخا په خپل محرم ملګرو باندې دَ غوښې خوړلو نیت کړې وی لهذا په نیت باندې پابندی نه شی لګولې

② عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ قَالَ كُنَّا مَعَ طَلْحَةَ ابْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ وَنَحْنُ حُرُمٌ فَأُهْدِيَ لَهُ طَيْرٌ وَطَلْحَةُ رَاقِدٌ فَمِنَّا مَنْ أَكَلَ وَمِنَّا مَنْ تَوَرَّعَ فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ طَلْحَةُ وَافَقَ مَنْ أَكَلَهُ قَالَ أَكَلْنَاهُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

احناف دَ دې حدیث نه هم استدلال کوی اودا ډیر واضح دلیل دې

......

[٢٦٩٧] دغير محرم د ښکار غوښه محرم خوړلې شي

[٢] ( )[١] «وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] فَتَخَلَّفَ مَعَ بَعْضِ أَصْحَابِهِ وَهُمْ مُحْرِمُونَ، وَهُوَ غَيْرُ مُحْرِمٍ [٣] فَرَأَوْا حِمَارًا وَحْشِيًّا قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ، فَلَمَّا رَأَوْهُ تَرَكُوهُ [٤] حَتَّى رَآهُ أَبُو قَتَادَةَ فَرَكِبَ فَرَسًا لَهُ [٥] فَسَأَلَهُمْ أَنْ يُنَاوِلُوهُ سَوْطَهُ، فَأَبَوْا [٦] فَتَنَاوَلَهُ فَحَمَلَ عَلَيْهِ، فَعَقَرَهُ، ثُمَّ أَكَلَ فَأَكَلُوا، فَنَدِمُوا،

ترجمه [١] د حضرت قتاده رضي الله عنه په باره کې روايت دی چې هغه (د واقعه حديبيه په موقع د مکې د پاره) د نبی کريم ﷺ سره روان شو. [٢] نو هغه د خپلو څو ملګرو سره وروسته پاتې شو، چې د عمرې د پاره يې احرام تړلی وو، ليکن خپله ابو قتاده رضي الله عنه په حالت احرام کې نه وو. [٣] نو په لار کې يو ځای د هغه ملګرو ګورخر وليدلی، خو د ابوقتاده رضي الله عنه نظر په هغه پرې نه وتلو، د هغه ملګرو هغه ګور خرليدو سره صرف نظر وکړي. [٤] آخر ابو قتاده رضي الله عنه هم هغه ګورخر وليدلی او (د هغه د ښکار کولو په غرض) په آس سور شو. [٥] او د خپلو ملګرو څخه يې خپل چابك وغوښتلی، خو هغوئ (په دې وجه چې په دې ښکار کې زمونږ عنت په هيڅ درجه کې هم شامل نشي) د چابك ورکولو څخه يې انکار وکړي. [٦] ابو قتاده رضي الله عنه د آس څخه خکته کيدو سره) خپله چابك پورته کړي، او په ګورخر حمله کونکی شو. تر دې چې هغه يې قتل کړي، بيا د هغه (غوښه تيارولو سره) خپله هغه هم وخوړله، او د هغه ملګرو هم وخوړله خو د هغه ملګرو د هغه غوښه خوړلو سره پښيمانه شو (ځکه چې هغوئ ګمان وکړي، چې د محرم د پاره مطلقًا د ښکار غوښه خوړل درست نه دي)

حل اللغات: ① فَتَخَلَّفَ: أَيْ: تَأَخَّرَ: روسته پاتې شو (ابوقتاده رضي الله عنه) ② سَوْطَهُ: کوړه، چابک (کوم چه د اس د تيزولو دپاره استعمالولې شي) ③ فَعَقَرَهُ: أَيْ: قَتَلَهُ: عقر زخمی کولو ته وائی دلته ترې مراد دغي (ځنګلی خر) قتلول دی ④ فَنَدِمُوا: خپيمانه شو.

فَلَمَّا أَدْرَكُوا رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَأَلُوهُ قَالَ " هَلْ مَعَكُمْ مِنْهُ شَيْءٌ؟ [٢] " قَالُوا: مَعَنَا رِجْلُهُ. فَأَخَذَهَا النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] فَأَكَلَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[٣] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: «فَلَمَّا أَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " أَمِنْكُمْ أَحَدٌ أَمَرَهُ أَنْ يَحْمِلَ عَلَيْهَا؟ أَوْ أَشَارَ إِلَيْهَا؟ " قَالُوا: لَا [٥] قَالَ: " فَكُلُوا مَا بَقِيَ مِنْ لَحْمِهَا» ".

ترجمه [١] کوم وخت چې هغه خلق نبی کريم ﷺ سره يو ځای شو، د دې حکم يې وپوښتلی (چې آيا د دې ګور خر غوښه خوړل زمونږ د پاره درست وو که نه؟) نبی کريم ﷺ د هغوئ څخه پوښتنه وکړه چې ستاسو سره د هغه څخه څه پاتې ده که نه؟ [٢] هغوئ اوويل چې هو زمونږ سره د هغه پښه پاتې شويده، نبی کريم ﷺ هغه پښه واخيسته او (هغه تيارولو

() اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب لا يشير المحرم إلى الصيد لكي يصطاده الحلال (رقم-١٨٢٤) ومسلم في كتاب الحج/باب تحريم الصيد للمحرم (رقم-٥٦ - (١١٩٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

سره، وخوړله ،دغه شان نبی کریم ﷺ ښکاره کړه، چې د هغه غوښه خوړل ستاسو د پاره درست وو، بخاري، مسلم

[۳] په بخاري او مسلم کې د یو بل روایت الفاظ دا دي، چې کوم وخت هغه خلق نبی کریم ﷺ ته را ورسیدل، او د نبی کریم ﷺ څخه یې په دې باره کې مسئله وپوښتله.[۴] نو نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې آیا په تاسو کې چا قتاده ﷺ ته دا حکم ورکړی وو. چې هغه په ګورخر حمله وکړي، یا په تاسو کې چا د ګورخر طرف ته اشاره کولو سره د هغه ښکار ته متوجه کړی وو؟ هغوی عرض وکړي چې یا ،[۵] نو نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چې بیا خو د هغه د غوښې څخه چې څه باقي پاتې شوی دی. هغه وخوري

تسهیلات:

قوله: وَهُمْ مُحْرِمُونَ، وَهُوَ غَيْرُ مُحْرِمٍ:

حدیث نه د احنافو د مذهب تائید: حضرت ابوقتاده ﷺ پخپله په احرام کښې نه وو باقي صحابه په احرام کښې وو اودا واقعه دَحدیبیه دَعمرې په موقع باندې پیښه شوې په دې خبره باندې هم خان پوهه کړئ چه په حالت دَ احرام کښې هرځائی ښکار دَ محرم دَپاره حرام دې لیکن که چرته حالت دَ احرام نه وی نوبیا په حدود حرم کښې ښکار کول حرام دی د حدود حرم نه بهرجائز دی. حضرت ابوقتاده ﷺ دَ حدود حرم نه بهرښکار کړې وو داحدیث په دې خبره باندې واضح دلالت کوی چه دَمحرم دَپاره دَ ښکار غوښه خوړل جائز دی په دې شرط چه هغه ښکار نه هغه پخپله کړې وی اونه ئی دَ چا څه امداد کړې وی چنانچه دا حدیث دَ احناف دلیل دې اوکوم خلق چه مطلقًا دَ ښکار غوښه خوړل دَ محرم دَپاره ناجائز ګڼړی په هغوی باندې داحدیث حجت دې. بل حضرت ابوقتاده ﷺ ګورخر کوم ته چه زیبرا وائی دومره لونی ښکار صرف دَ خپل ذات دَپاره نه وو کړې یقیناً دَهغه نیت به په خپلو ملګرو باندې دَ غوښې خوړلو وو لهذا دا حدیث په جمهورو باندې هم حجت دې

[۲٦۹۸] هغه ځناور دَکوم چه په حالت دَ احرام کښې اوپه حرم کښې وژل جائز دی

> ۲٦۹۸-[۳] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «خَمْسٌ لَا جُنَاحَ عَلَى مَنْ قَتَلَهُنَّ فِي الْحَرَمِ وَالْإِحْرَامِ: الْفَأْرَةُ، وَالْغُرَابُ، وَالْحِدَأَةُ، وَالْعَقْرَبُ، وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] ابن عمر ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل[۲] پنځه ځاروی داسې دي، چې د هغوی په حرم کې او د احرام په حالت کې وژل ګناه نه ده ① مږه ،مږك② کارغه ③ تپس ④ لړم ⑤ چیچونکی یعنی لیونی سپی، بخاري، مسلم

---

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق/باب: خمس من الدواب فواسق، يقتلن في الحرم (رقم-۳۳۱۵) ومسلم في كتاب الحج /باب ما يندب للمحرم وغيره قتله من الدواب في الحل والحرم (رقم-۷۲ - (۱۱۹۹)

حل اللغات: ① الْفَأْرَةُ: مږه (که ځنګلی وی اوکه کورنی) ② الْغُرَابُ: کارغه. ③ الْأَبْقَعُ: أي: الَّذِي فِيهِ سَوَادٌ وَبَيَاضٌ: هغه کارغه چه په هغې کښې سپینوالي اوتوروالي وی. یعنی برګ ④ الْحِدَأَةُ: ټپوس ⑤ الْعَقْرَبُ: لړم (ددې په معنی اوحکم کښې مارهم داخل دي) ⑥ الْكَلْبُ الْعَقُورُ: لیوني سپې یا حمله کونکې سپې

تسهيلات: قوله: خَمْسٌ لَا جُنَاحَ عَلَى مَنْ قَتَلَهُنَّ:

د حکم عموم: مطلب دادې چه ددې ځناورو خباثت اوشرارت اوتکلیف رسولو د وجې نه د دې وژل جائز دی علماؤ لیکلی دی چه په دې پنځوځناوروکښې حصر نشته دې بلکه د تکلیف رسولو صفت چه په کومو ځناورو کښې وی د هغې وژل هم جائز دی مثلاً میږی. ماشی، ورګې کټمل او کونی وغیره

[٢٦٩٩] د پنځو ځارووو د وژلو حکم

٢٦٩٩-[٤] ()① وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ② قَالَ: "«خَمْسٌ فَوَاسِقُ يُقْتَلْنَ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ: الْحَيَّةُ،③ وَالْغُرَابُ الْأَبْقَعُ، وَالْفَأْرَةُ، وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ، وَالْحُدَيَّا»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بی بی عائشه رضی الله عنها د نبی کریم ﷺ ځخه نقل کوی② چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ایذاء (تکلیف) رسونکي پنځه ځاروی دي چې هغه د حرم د حدودو ځخه وتلی هم او د حرم په حدودو کې هم وژل کیدی شی (قتلونکي که څه هم د احرام په حالت کې وي. که څه هم د احرام ځخه وتلی وي③ ① مار ② کارغه ③ مږک ④ لیونی سپی ⑤ ټپوس. بخاري، مسلم

حل اللغات: ① فَوَاسِقُ: أي: مُؤْذِيَاتٌ: تکلیف اوضرر رسونکې. ② الْحَيَّةُ: مار (ددې په حکم کښې لړم هم شامل دي) ③ الْغُرَابُ: کارغه. ④ الْأَبْقَعُ: أي: الَّذِي فِيهِ سَوَادٌ وَبَيَاضٌ: هغه کارغه چه په هغې کښې سپینوالي اوتوروالي وی، یعنی برګ ⑤ الْفَأْرَةُ: مږه (که ځنګلی وی اوکه کورنی) ⑥ الْكَلْبُ الْعَقُورُ: لیوني سپې یا حمله کونکې سپې ⑦ الْحُدَيَّا: دا جمع ده او د حِدًا تصغیر دي، ددې واحد حِدَأَةٌ دي، او ددې تصغیر حُدَيْأَةٌ راځی

تسهيلات:

قوله: خَمْسٌ فَوَاسِقُ يُقْتَلْنَ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ:

د محرم دپاره د بعضې ځناورو د قتلولو جواز: هغه سپې مرکول حرام دی دکوم نه چه فائده حاصلیږی، دغسې هغه سپې وژل هم حرام دی دکوم نه چه څه فائده نه حاصلیږی خودهغې نه څه ضرر اونقصان هم نه رسیږی

() اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق/باب: خمس من الدواب فواسق، یقتلن فی الحرم (رقم-٣٣١٤) ومسلم فی کتاب الحج /باب ما یندب للمحرم وغیره قتله من الدواب فی الحل والحرم (رقم-٦٦ - (١١٩٨)

Maktaba Tul Ishaat.com

مذكوره حكم عموم: په پورته ذكر شوو دوارو حديثونو كښې چه دكومو ځناورو ذكرشوې دې د وژنو اجازت صرف هم په دې ځناورو كښې منحصرنه دې بلكه هم دغه حكم دهغې ټولو ځناورهم دې دكوم نه ضرر رسيږى، لكه ميږى، سپږې، كټمل وغيره. البته كه سپږې مړې كړى نوبيا به د وس او توفيق مطابق صدقه وركول واجب وى

الْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۷۰۰]كه چرې امداد نه وى نود ښكارغوښه دمحرم دپاره حلال ده

۲۷۰۰–[۵] ()[١] عَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٢] «لَحْمُ الصَّيْدِ لَكُمْ فِي الْإِحْرَامِ حَلَالٌ، [٣] مَا لَمْ تَصِيدُوهُ أَوْ يُصَادُ لَكُمْ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه [١] حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل[٢] ستاسو د پاره د احرام په حالت كې د ښكار غوښه حلاله ده، [٣] په شرط د دې چې هغه ښكار خو نه تاسو خپله كړې وي. او نه ستاسو د پاره شوى وي، ابوداؤد، ترمذي، نسائي

تسهيلات:

نوټ: ددې حديث شرح د حديث نمبر ۲۶۹۶ په تسهيل كښې د مذاهبو په بيان كښې تيره شوې ده

[۲۷۰۱]دملخ دښكار مسئله

۲۷۰۱–[۶] ()[١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: «الْجَرَادُ مِنْ صَيْدِ الْبَحْرِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه [١] حضرت ابوهريره رضي الله عنه د نبى كريم صلى الله عليه وسلم څخه نقل كوي چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل ملخ د درياب د ښكار په مثل دى، ابوداؤد، ترمذي

حل اللغات: ① اَلْجَرَادُ: ملخ

تسهيلات: **قوله**: صَيْدِ الْبَحْرِ:

د حديث دوه مطلبه: ① ددې جملې يومطلب دادې چه ملخ د سمندرى كبانو په شان دى ددې ذبح كول ضرورى نه دى د ذبح نه بغير به خوړلې شى لهذا احناف فرمائى چه ددې تشبيه مطلب دانه دې چه د ملخ ښكارد محرم دپاره جائز دې كه څوك محرم ملخ وژنى نومناسب صدقه به كوى

---

[١]) اخرجه ابوداود فى كتاب المناسك . باب لحم الصيد للمحرم (رقم-۱۸۵۱)والترمذى فى كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في أكل الصيد للمحرم (رقم-۸٤٦)اخرجه الترمذى فى ۳۶۲/۳

[٢]) اخرجه ابوداود فى كتاب المناسك . باب ما يقتل المحرم من الدواب (رقم-۱۸۵۳) والترمذى فى السنن رقم الحديث ۸۵۰ واحمدفى المسند: ۳۰۶/۲

② ورو علماؤ داخبره بيان كړي ده چه ملخ د سمندرى كب په شان دي اود سمندرى حيوانو ښكار د محرم دپاره جائز دي لهذا د ملخ هم جائز دي دا مطلب د حديث زيات موفق دي

[۲۷۰۲] د حمله کونکي ځناور د وژلو حکم

حديث-[۷] (١) «وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "«يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ السَّبُعَ الْعَادِيَ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه ابوسعيد خدري رضي الله عنه روايت كوى چې نبى كريم ﷺ وفرمايل محرم دي حمله كونكي درنده ووژني. ترمذي، ابوداود، ابن ماجه اخرجه ابوداود: ۲/۱۷۶ والترمذى: ۳/۱۹۸.

حل اللغات: ① السَّبُعَ: درنده او ماتونكي ځناور ② الْعَادِيَ: وَهُوَ الَّذِي يَقْصُدُ: حمله كونكي

تسهيلات:

قوله: يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ السَّبُعَ الْعَادِيَ:

دغيل بچاؤ دپاره محرم د ضررى څيز لره د قتلولو حكم: كه يو ځناور په محرم باندي حمله وكړي او محرم جوابى كاروائى كولو كښې هغه قتل كړى نو په دي صورت كښې په ده څه هم نه واجبيږى

[۲۷۰۳] د کورکخ ښکار او د غوښې خوړلو مسئله

حديث-[۸] (١) «وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عَمَّارٍ قَالَ: سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَنِ الضَّبُعِ أَصَيْدٌ هِيَ؟ فَقَالَ: نَعَمْ. فَقُلْتُ: أَيُؤْكَلُ؟ فَقَالَ: نَعَمْ. فَقُلْتُ: سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: نَعَمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالشَّافِعِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه عبدالرحمن ابن ابوعمار (تابعي) رحمه الله وايي چې ما د جابر ابن عبد الله رضي الله عنهما څخه د كوړ يو ښكاري مرغه (۲)، په باره كې پوښتنه وكړه، چې آيا دا ښكار دى؟ نو هغه وفرمايل چې هو. ما ځني بيا پوښتنه وكړه چې آيا د دي غوښه خوړل كيدى شي؟ هغه وفرمايل چې هو. ما ورته اوويل چې آيا دا تا د نبى كريم ﷺ څخه اوريدلي دي؟ هغه وويل چې هو. ترمذي، نسائي، شافعي، او امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چې دا حديث حسن صحيح دى

حل اللغات: ① الضَّبُعِ: كور كخ. بجو (د پيشو برابر يو ځناور دي چه قبرونه كنى)

(١) اخرجه ابوداود فى كتاب المناسك. باب ما يقتل المحرم من الدواب (رقم-١٨٤٨) والترمذى فى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى التثويب فى الفجر(رقم-١٩٨)واحمدفى المسند: ٣/٢٠٣
(١) اخرجه الترمذى فى كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى أكل الضبع ۰ (رقم-١٧٩١) والنسائى فى كتاب الصيد والذبائح/باب الضبع (رقم-٤٣٢٣)
(٢) مرغه بعضو په چرغ سره نومولى

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات: قوله: الضَّبُعِ:

د ضبع وضاحت: ضبع يو ځنګلي ځناور دې چه په جثه کښې دَ سپي برابر وی دې ته په اردو کښې هنډار او بجو وائی چرغ هم ورته وائی په فارسئ کښې کفتار وائی او په پښتو کښې ورته ګورکخ وائی دا قبرونه کنستلو سره مړی خوری

د محرم دپاره د ضبع د ښکار حکم: دَ ګورکخ باره کښې دوه جدا جدا مسئلې دی. اول مسئله دا چه دَ محرم دَ پاره دَ ګورکخ ښکار څنګه دې نو په دې باندې دَ ټولو اتفاق دې که چرته محرم دَ احرام په حالت کښې دَ ګورکخ ښکار اوکړو نو په هغه باندې به تاوان راځی او په بدله کښې به یو ګډ ورکول وی لکه په راروان د حضرت جابر رضی الله عنه په کښې ددې تصریح موجود ده

[٢٧٠٤] په ګورکخ باندې د صيد اطلاق

٢٧٠٤- [٩] (١) ١ «وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنِ الضَّبُعِ ٢ قَالَ: "هُوَ صَيْدٌ، ٣ وَيُجْعَلُ فِيهِ كَبْشًا إِذَا أَصَابَهُ الْمُحْرِمُ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه ١ حضرت جابر ﷺ وايي چې ما نبی کريم ﷺ څخه د ګورکخ په باره کې پوښتنه وکړه. نو نبی کريم ﷺ وفرمايل چې هغه ښکار دی، ٣ که يو محرم د دې مرتکب شي، نو د هغه په بدله کې دی پسه قرباني کوي، ابوداؤد، ابن ماجه، دارمي

حل اللغات: ① كَبْشًا: ګډ

تسهيلات:

قوله: وَيُجْعَلُ فِيهِ كَبْشًا إِذَا أَصَابَهُ الْمُحْرِمُ:

د ګورکخ د قتلولو جزاء: مطلب دا دې چه که يو سړی داحرام په حالت کښې د ضبع ګورکخ ښکار اوکړو. هغه نې واخستلو نو ددې د جزاء په طور به يو ګډ واجب وی

[٢٧٠٥] ګورکخ حلال نه دې

٢٧٠٥- [١٠] (٢) ١ وَعَنْ خُزَيْمَةَ بْنِ جَزِيٍّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ أَكْلِ الضَّبُعِ. قَالَ ٢: أَوَيَأْكُلُ الضَّبُعَ أَحَدٌ؟ ٣". وَسَأَلْتُهُ عَنْ أَكْلِ الذِّئْبِ. قَالَ: "أَوَيَأْكُلُ الذِّئْبَ أَحَدٌ فِيهِ خَيْرٌ؟» ٤. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ.

ترجمه ١ خزيمه ابن جزي ﷺ وايي چې ما د نبی کريم ﷺ څخه د کوړ د غوښې خوړلو په

(١) اخرجه ابوداود فی كتاب الأطعمة/باب فی أكل الضبع (رقم-٣٨٠١) والنسائی فی كتاب الصيد والذبائح/باب الضبع (رقم-٤٣٢٣)

(٢) اخرجه الترمذی فی كتاب الأطعمة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی أكل الضبع ٠ (رقم-١٧٩٢) وابن ماجة فی كتاب الصيد/باب الذئب. والثعلب (رقم-٣٢٣٥)

باره کې پوښتنه وکړه.② نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې چيرته هم د دې غوښه څوك خوري؟ يعني د دې غوښه خوړل نه دي پکار، ③بيا ما د شرمښ په باره کې پوښتنه وکړه، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې آيا داسې يو سړی چې په هغه کې خير وي (يعني ايمان يا تقوی وي) د شرمښ غوښه هم خوري؟④ دا روايت امام ترمذي ﷫ نقل کړی دی او ويلي يې دي چې د دې اسناد قوي نه دی

حل اللغات: ① الذِّئْبِ: شرمخ، زمري

تسهيلات:

قوله: أَوَيَأْكُلُ الضَّبُعَ أَحَدٌ؟

د ګورګخ د غوښې کراهت تحريمي کيدل: او ددې تائيد هغه حديث سره هم کيږي چه نبي کريم ﷺ هر يو غاښونو شوکونکی درنده ښاور خوړل منع کړی دی (ذی ناب يعنی غاښونو سره شلونکې درنده ښاورهغې ته وائی کوم چه په غاښونو سره ښکار کوی) او ګورګخ بهرحال چونکه دګورګخ په مباح او حرام کيدو کښې په دليلونو کښې تعارض دې په دې وجه دحضرت امام ابوحنيفه ﷫ په نزد مکروه تحريمي دی، ددې غوښه خوړل نه دی پکار

قوله: وَقَالَ: لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيّ:

د روايت ضعف: لکه څرنګه چه امام ترمذی ﷫ فرمائيلی دی چه دا روايت اګرچه دسند په اعتبار سره ضعيف دې خو فی نفسه دا حديث بالکل صحيح دې، ددې دليل دابن ماجه روايت دې چه دهغې الفاظ دادی چه «ومَن يأكل الضبع»

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۷۰٦] دغيرمحرم ښکارمحرم خوړلې شي

۲۷۰٦-[۱۱] (¹)①عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ قَالَ: «كُنَّا مَعَ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - وَنَحْنُ حُرُمٌ②فَأُهْدِيَ لَهُ طَيْرٌ③وَطَلْحَةُ رَاقِدٌ، فَمِنَّا مَنْ أَكَلَ، وَمِنَّا مَنْ تَوَرَّعَ،④فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ طَلْحَةُ وَافَقَ مَنْ أَكَلَهُ⑤ قَالَ: فَأَكَلْنَاهُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»- رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ① عبد الرحمن ابن عثمان تيمي ﷫ وايي چې (يو ځل) مونږ د طلحه ابن عبيد الله ﷛ سره وو، او مونږ ټول د احرام په حالت کې وو، ② چې هغه ته د هديه په طور د يو مرغه (پخ کړي غوښه) راغله، ③ طلحه ﷛ هغه وخت اوده وه، په مونږ کې بعضو هغه غوښه وخوړله (ځکه چې هغه پوهيدل چې محرم ته د ښکار غوښه خوړل جائز دي، په شرط د دې

(¹) اخرجه مسلم فی كتاب الحج /باب تحريم الصيد للمحرم (رقم-٦٥ - (١١٩٧) والنسائی فی كتاب مناسک الحج /باب ما يجوز للمحرم أكله من الصيد(رقم-٢٨١٧)واحمد فی المسند:١٦١/١

Maktaba Tul Ishaat.com

چې په هغه ښکار کې د هغه حکم وغیره ته څه دخل نه وي، او بعضو د هغه څخه پرهیز وکړي (ځکه چې د هغوی ګمان وو چې محرم ته دا غوښه خوړل درست نه دي)[٣] بیا چې حضرت طلحه رضي الله عنه بیداره شو، نو د هغه خلقو موافقت یې وکړي، کومو چې غوښه خوړلې وه،[٥] او وي ویل چې مونږ د نبی کریم ﷺ سره دغه شان د احرام په حالت کې د ښکار غوښه خوړلې وه

حل اللغات: ① رَاقِدٌ: اوده، ② تَوَرَّعَ: پرهیز ئې اوکړو (یعنی اوئې نه خوړلو) ③ وَافَقَ: موافقت او طرفداری ئې اوکړه

تسهیلات:

قوله: فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ طَلْحَةُ وَافَقَ مَنْ أَكَلَهُ:

دخوړونکو څخه د حضرت طلحه رضی الله عنه د موافقت دوه صورتونه:

① دا احتمال شته چې حضرت طلحه رضي الله عنه هغوی ته په ژبه داسې وئیلې وی چه تاسو غوښه اوخوړه نو ښه مو اوکړل، په دې کښې هیڅ حرج نشته، نودا قولی موافقت دې

② دا هم احتمال شته چې دوی په خپله هم باقی پاتې غوښه خوړلې وی دا فعلی موافقت دې

دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دمسلک تائید: دا حدیث دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله ددې مسلک تائید کوی چه که محرم په خپله ښکاراونه کړی اونه په دې ښکارکښې دهغه دحکم وغیره څه دخل وی، نوهغه ددې غوښه خوړلې شی

قوله: فَأُهْدِيَ لَهُ طَيْرٌ:

د طیرپه مصداق کښې دوه اقوال،

①یو مارغه نه مراد یا خوجنس دې چه د مختلفو مارغانو غوښه راغلې وه،

② هم دا یو مارغه وو چه هغه دومره غټ وو چه دهغې غوښه دټولو خلقو دپاره کافی شوه

[۱۳] بَابُ الْإِحْصَارِ وَفَوْتِ الْحَجِّ

د احصار بیان

خلاصة الباب:

فيه ثمانية أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① حكم تحلل المحصر : ۱، ۲، ۳، ۴.

② الإحصار لأجل عدو أومرض: ۲، ۵، ۷.

③ ذبح الهدايا مكان هدايا التي ذبحت خارج الحرم لأجل الإحصار: ۶.

④ عدم اعتبار الإحصار بعد إدراك عرفة : ۸.

قال الله تعالى ﴿ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ ۚ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۖ وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ ۚ﴾ [سورت بقره الایه: ۱۹۶.

د احصار معنی د احصار معنی د لغت په اعتبار سره د "منع کول" ده او د فقه په اصطلاح کښې د احرام تړلو نه پس د حج یا عمرې نه منع کولو ته احصار وئیلې شي.

چا سره چه داسې واقعه راپیښه شي یعنې چا احرام اوتړلو او بیا چه د کوم کار د پاره (یعنې د حج یا عمرې د پاره) ئې احرام تړلې وو دهغې د ادا کولو نه منع کړې شو نوهغه ته محصر وائی

د احصار صورتونه : د حنفی مسلك مطابق د احصار څو صورتونه دی کوم چه د هغه څيز د ادا کولو نه چه د کوم ئې احرام تړلې وو (یعنی حج یا عمره) حقیقة یا شرعا مانع شی د هغه صورتونو تفصیل لاندې لیکلې شي.

① د چا دشمن ویره وی. د دشمن نه مراد عام دې که څوك سړې وی یا درنده حیوان. مثلا دا معلوم شی چه په لاره کښې څوك دشمن ناست دې کوم چه حجاج ته تکلیف ورکوی یا ئې لوټ کوی یا ئې وژنی وراندې تلو ته ئې نه پرېږدی یا هم دغه خائې کښې یو خائې د شیر وغیره د موجودګی علم وی.

② بیماری. د احرام تړلو نه پس داسې بیمار شی چه د هغې د وجې نه وراندې نه شی تلې، یا وراندې خو تلې شی خو د مرض د زیاتیدو ویره ئې وی

③ د زنانه محرم پاتې نه شی. د احرام تړلو نه پس د زنانه محرم یا د هغې خاوند مر شی یا جرته لاړ شی یا د وراندې تلو نه انکار اوکړی

④ خرچ کم شی. مثلا د احرام تړلو نه پس مال او اسباب غلا شی یا ئې د مخکښې نه خان سره خرچ کم اخستلې وی او اوس د ضروریاتو د پاره وراندې پیسې پاتې نه شی

⑤ د زنانه د پاره عدت. د احرام تړلو نه پس د زنانه خاوند مر شی یا ورته طلاق ورکړی چه

Maktaba Tul Ishaat.com

د هغې د وجې نه د عدت پابند شي نو دا به احصار شي خو که هغه زنانه هغه وخت مقیم ده او د هغه د قیام د ځائې مکه د سفر د مسافت په اندازه نه ده نو دا به احصار نه شي ګنړلې

⑥ لاره ترې هیره شي او څوك لاره ښودونکې نه وي

⑦ زنانه لره د هغې خاوند منع کړي! په دې شرط چه هغې د حج احرام د خاوند د اجازت نه بغیر تړلې وي د فرض حج نه د منع کولو او په نفل حج کښې د اجازت ورکولو نه پس د منع کولو اختیار د خاوند نشته

⑧ وینځې یا غلام لره د هغې مالك منع کړي

په احصار کښې مذاهب:

① د احصار دا ټول صورتونه د احنافو د مسلك مطابق دي.

② د دې وارو ائمه کرامو په نزد د احصار صرف یو صورت یعنی د دشمن ویره ده پس د هغه حضراتو په نزد په دې نورو صورتونو کښې احصار نه صحیح کیږي بلکه د احرام حالت برقرار پاتې وي

دجمهورو دلائل:

① جمهور دَ قرآن پاك دَ آیت ﴿ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۖ وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ ۚ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ ۚ فَإِذَا أَمِنْتُمْ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ ۗ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ۗ ذَٰلِكَ لِمَنْ لَمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴾ نه استدلال کوي

د استدلال طریقه: طرزدَ استدلال داسې دې چه دَ حدیبیه په موقع باندې حضور پاك ﷺ او صحابه کرامو ﷡ قریشو منع کړلې وو هغه وخت دَ احصار حکم راغلو او هغه دَ دښمن دَ وجې نه وو لهذا دَ مرض وغیره څه بل څیز دَ وجې نه به احصار نه کیږي

جواب: دَ دې یو جواب خو دا شو چه په آیت کښې دَ احصار مصداق دښمن نه بلکه دَ دې رومبې مصداق مرض دې دویم جواب دا دې سره دَ دې چه دَ آیت نزول دَ خاص دښمن په واقعه کښې دې لیکن دا مسلمه قاعده ده چه "العبرة لعموم الالفاظ لا لخصوص الواقعة" لهذا آیت تولو عذرونو ته عام دې

② جمهورو دَ حضرت ابن عمر او حضرت ابن عباس ﷡ دَ یو اثر نه هم استدلال کړې دې هغوی او فرمائیل "لاحصر الامن عدو"

جواب: دَ دې جواب دا دې چه دَ مرفوع حدیث په موجودګئ کښې په اثر کښې تاویل کول ممکن ده چه دې حضراتو کامل او مشهور حصر هم دا ګرځولې وي کوم چه دَ دښمن دَ وجې نه وي

د احنافو دلائل:

① وعن الحجاج ابن عمرو الأنصاري رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وآله وسلم من كسر أو عرج فقد حل وعليه الحج من قابل، رواه الترمذي وأبوداؤد والنسائي وابن ماجة
په کوم کښې چه "من كسر او عرج فقد حل" واضح الفاظ مذکور دي

② ﴿فإن أحصرتم فما استيسر من الهدي ولا تحلقوا رؤوسكم حتى يبلغ الهدي محله فمن كان منكم مريضا أو به أذى من رأسه ففدية من صيام أو صدقة أو نسك فإذا أمنتم فمن تمتع بالعمرة إلى الحج فما استيسر من الهدي فمن لم يجد فصيام ثلثة أيام في الحج وسبعة إذا رجعتم تلك عشرة كاملة ذلك لمن لم يكن أهله حاضري المسجد الحرام واتقوا الله واعلموا أن الله شديد العقاب﴾ دا آيت دي

طريقه د استدلال: په دې کښې احصرتم د باب افعال نه د احصار په معنی کښې دې او احصار عام دې که د دښمن د وجې نه وی او که د مرض د وجې نه وی بلکه د اهل لغت نه فراء، ابن سکيت، اخفش او کسائی تصريح کړې ده چه احصار هغه منع کيدوته وائی چه صرف د بيمارئی د وجې نه وی، حصر هغه منع کيدوته وائی چه د دښمن د وجې نه وی د دغه شان دا آيت صرف د احنافو د پاره قطعی دليل دې

③ د قياس هم دغه تقاضا ده چه احصار صرف د دښمن سره خاص نه کړې شی خکه چه بعضې وخت د دښمن د ويرې عذر خو ختميږی ليکن د مرض عذر وی او خاص کر د بوډاګانو مرض خو په مرګ ختميدې شی

الفصل الأول

[٢٧٠٧] د احصار هدی به چرته ذبح کولې شی؟

٢٧٠٧- [١] (١) [١] عن ابن عباس -رضي الله عنهما- قال: «قد أحصر رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فحلق رأسه وجامع نساءه [٢] ونحر هديه، حتى اعتمر عاما قابلا». رواه البخاري.

ترجمه [١] ابن عباس رضی الله عنهما وايې چې د واقعه حديبيه په کال نبی کريم ﷺ د عمرې خخه منع کړل شو نو نبی کريم ﷺ خپل سر مبارك وخريلی، او د احرام خلاصولو خخه روسته د خپلو بيبيانو مبارکو سره هم بستر شو. [٢] او د خپل هديې خاروی يې ذبح کړې، بيا راتلونکی کال ته نبی کريم ﷺ خپله عمره اداء کړه، چې ورته عمرة القضاء ويل کيږی، بخاري. مسلم اخرجه البخاری، ٣/١١.

حل اللغات ① أحصر: أي منع: ايسار کړې شو يعنی منع کړې شو د عمرې نه، ② فحلق: سر ئې اوخرئيلو چه حلال شی اود احرام نه اوخی،

(١) اخرجه البخاری فی كتاب الحج/باب إذا أحصر المعتمر (رقم-١٨٠٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات: قوله: أُحْصِرَ:

د حديث پس منظر: يعنى كله چه ۶هجرى كښې حضورپاك دَ عمرې په غرض پنځلس سوا صحابه كرامو سره مكې طرف ته روان شونودحديبيه په مقام باندې قريشو حضورپاك وراندې تلو او عمره كولونه منع كړل دغه شان احصار بالعدو يوصورت پيدا شو كافى مذاكراتو نه پس په دې خبره باندې صلح اوشوه چه دې كال كښې دې مسلمانان بغيرد عمره كولونه واپس لاړشى او راتلونكى كال دې دَعمرې دَ قضاډپاره راشى صلح حديبيه چه كله داسې دَ ټولو شرائطوسره مكمل شوه نوحضورپاك احرام كولاؤ كړو او سرئى اوخرولو او بيبيانو سره ئى مجامعت اوكړو اودَ هدى څاروى ئى ذبح كړل.

د اروان بحث مقدمه: اوس دَ فقهاؤ په دې مسئله كښې اختلاف پيدا شو چه آيا دَ قربانئى دَپاره دَ حرم دَ زمكې كيدل ضرورى دى يا په ځائى دَ احصاركښې دَ حرم نه بهر هم دَهدى څاروى ذبح كولې شى نو په دې باندې دَ ټولو اتفاق دې كه دَ احصار صورت نه وى نودَ هدى دَ قربانئى دَپاره دَ حرم زمكه ضرورى ده ليكن كه دَ احصار صورت وى نو دا هدى قربانى كوم ځائى اوكړى دې كښې اختلاف دې.

دَ محصر د هدي د ذبح په محل كښې مذاهب:

① ائمه ثلاثه فرمائى چه حاجى ته كوم ځائى هم احصارپيښ شوې دې هم هلته دې څاروې ذبح كړى اوحلال دې شى دَ هدى حرم ته ليګل ضرورى نه دى

② احناف فرمائى چه دَ دم حصار په ارض حرم كښې ذبح كول ضرورى دى دَدې طريقه به داسې شى چه څاروې يا دَهغې قيمت به دَچاپه ذريعه حرم ته اوليګلې شى او دَ وخت تاريخ تعين دې اوكړى كله چه هدى ذبح شى نوبيادې حاجى احرام كولاؤ كړى اوسردې اوخروى

د ائمه ثلاثه دلائل: ① نبى كريم صلى الله عليه وسلم او ټولو صحابه كرامو رضي الله عنهم دَ حديبيه په مقام باندې هدايا ذبح كړې وې او حديبيه دَ حرم نه بهر ده لهذا په حرم كښې ذبح كول ضرورى نه دى

جوابونه: ① د دې جواب دا دې چې دَحديبيه څه حصه په حدود حرم كښې ده په دې وجه دا قربانى هم دَ حرم په زمكه باندې شوې وه امام طحاوى رحمه الله يو حديث نقل كړې دې ((وَعَنْ المسور رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ كان بالحديبية كان خبائه فى الحل ومصلاه فى الحرم)) (الطحاوى) (البناية: ۴/۴۰۰.

② دادې چه دَحضورپاك دَ پاره ممكن نه وه چه هدى حرم كښې ذبح كړې وې نوداد مجبورئى يوخاص صورت وو نن صبا دَ حديبيه مقام ته شميسى وائى اوهم په دغه ځائى باندې دَ تفتيش مركز او چيك پوسټ دې په غټ بورډ باندې ليكلې دى "ممنوع دخول غيرالمسلمين" يعنى وراندې زمكه دَحرم ده دَ هريوكافر داخله منع ده.

④ بعض شارحين وائي چه نوى خاروى اخستلو سره دَ راوړلو دا مسئله صرف دَ استحباب احتياط او تقوى په بنياد وه دې سره به پوره اختلاف ختم شي

دِ احنافو دلائل: ① احنافو دَ قرآن عظيم دَ واضح آيت نه استدلال كړې دې ارشاد دې ﴿وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ﴾

② د شام څخه يو سړي په حضرت عبدالله بن زبير په مخالفت كښې د شامي فوج سره راغلې وو هغه په لاره كښې هدى قربانى كړې وه خو چې كله مكې ته راورسيدو نو د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه يې تپوس اوكړو هغوى ورته داسې اوفرمائيل دَ هدى په بدله كښې هدى واخله راولـه اودَ بيت الله په زمكه حرم كښې ذبح كړه. دَدې روايت نه دَ احنافو تائيد كيږي چه دَهدى څاروي حرم پورې رسول ضروري دى.

[٢٧٠٨] محصر به حلق كوى كه قصر؟

٢٧٠٨-[٢] ( )① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ «خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② - فَحَالَ كُفَّارُ قُرَيْشٍ دُونَ الْبَيْتِ ③ فَنَحَرَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - هَدَايَاهُ وَحَلَقَ وَقَصَّرَ أَصْحَابُهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه ① عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې مونږ خلق د نبى كريم ﷺ سره د عمري د پاره ولاړو. ② نو كفارِ قريش مونږ خانه كعبي ته د رسيدو څخه مخكې (په حديبيه كې) وګرځولو. ③ نبى كريم ﷺ د خپلې هديې څاروى هلته ذبح كړې، او سر مبارك يې وخريلې. او د نبى كريم ﷺ په ملګرو كې چا خپل ويښتان قينچې كړل، او چا وخريل. بخاري

حل اللغات: ① فَحَالَ: أي مَنَعُونَا: حائل شو (يعنى مونږ ني منع كړو د طواف د بيت الله نه)

تسهيلات:

قوله: وَقَصَّرَ أَصْحَابُهُ:

په محصر باندې د حلق يا قصر وجوب: يعنى بعض صحابه كرامو قصر اوكړو باقى اكثر حلق اوكړو او حضور اكرم ﷺ هم حلق اوكړو دَدې حديث نه معلومه شوه چه په محصر باندې هم حلق يا قصر لازم دي

دَاحنافو بعض كتابونو كښې ليكلي دي چه حلق او قصر لازم نه دي ليكن ملاعلي قاري رحمه الله په مرقات كښې ليكلي دي چه امام طحاوى رحمه الله دَ حلق او قصر دَ وجوب طرف ته مائل دي

د وجوب تائيد: ملاعلى قارى رحمه الله فرمائي والاظهر وجوبه لقوله تعالى ﴿وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّىٰ يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ﴾ ولفعله عليه السلام واصحابه الكرام.

Maktaba Tul Ishaat.com

[۲۷۰۹] د سر خريلو څخه مخکې هدي ذبح کول

۲۷۰۳-[۳] ()① وَعَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ «إِنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَحَرَ قَبْلَ أَنْ يَحْلِقَ② وَأَمَرَ أَصْحَابَهُ بِذَلِكَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه ① مسور ابن مخرمه رضي الله عنه وايي چې نبی کريم ﷺ خپل د سر مبارك د خريلو څخه مخکې د هدی څاروی ذبح کړي او خپلو صحابه رضي الله عنهم ته يې هم د دې حکم ورکړي چې هغه د سر خريلو څخه مخکې د خپلې هدی څاروی ذبح کړي. بخاري

[۲۷۱۰] دا احصار او حج د فوت کيدو حکم

۲۷۰۴-[٤] ()① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- أَنَّهُ قَالَ: ② "«أَلَيْسَ حَسْبُكُمْ سُنَّةَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ③ إِنْ حُبِسَ أَحَدُكُمْ عَنِ الْحَجِّ طَافَ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، ثُمَّ حَلَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ④ حَتَّى يَحُجَّ عَامًا قَابِلًا، فَيُهْدِيَ، أَوْ يَصُومَ إِنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه ① د ابن عمر رضي الله عنهما په باره کې روايت دی چې هغه به فرمايل، ② آيا ستاسو د پاره د نبی کريم ﷺ دا سنت يعنی د نبی کريم ﷺ دا ارشاد ګرامي کافي نه دی، ③ که په تاسو کې څوك د حج څخه منع شی (يعني هغه ته څه داسې عذر پيښ شي چې د حج د رکن اعظم يعني وقوف عرفات څخه مانع وي او د طواف او سعي څخه مانع نه وي) نو هغه دې د بيت الله شريفې طواف او د صفا او مروه په منځ کې سعي کولو سره د هر څيز څخه دې حلال شي (يعني د دې څخه روسته د هغه د پاره هر شي حلال کيږي. کوم چې د احرام په حالت کې ممنوع وو) ④ تردې چې هغه راتلونکې کال حج وکړي، او هدي ذبح کړي. او که هغه هدي نشي ذبح کولی نو روژه دې ونيسي، بخاري.

تسهيلات:

قوله: أَلَيْسَ حَسْبُكُمْ:

د حضرت عمر رضي الله عنه د قول مطلب: حضرت عمر رضي الله عنه په حقيقت کښې په هغه خلقو باندې نکير فرمائی دَ چا چه خيال دې دَ حج او عمره دَ نيت په وخت داسې شرط لګول پکاردی اې الله زه دَحج نيت کوم ليکن زما دَحلال کيدو ځائی هغه دې چرته چه زه دَ بيمارئی وغيره عذر دَ وجې نه رامنع شم دا شرائط راتلونکی دَ حضرت ضباعه رضي الله عنها په روايت کښې راځی دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دَ رد کولو مقصد دادې چه کله الله تعالی په خپل کتاب قرآن مجيد کښې دَ احصار حکم صفا صفا بيان کړې دې نوبيا دَمخکښې نه په نيت کښې دَ شرط لګولو څه ضرورت دې بس چه کوم ځائی دَ بيمارئی دَ وجې نه راحصار

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الحج /باب النحر قبل الحلق فی الحصر (رقم-۱۸۱۱) واحمد فی المسند ۳۲۷/٤
²) اخرجه النسائی فی کتاب مناسک الحج /باب ما يفعل من حبس عن الحج ولم يکن اشترط (رقم-۲۷٦۹)

نو هم په هغه ځائي به د احصار حکم نافذ شي ددې نه معلومه شوه چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د بيمارئ د وجې د احصار قائل وو لکه چه احناف ليکي بهرحال کوم سړي چه د حج يا عمره د وجې نه محصور شو په هغه باندې لازم دی چه هغه دې راتلونکي کال کښې قضا اوکړی که هغه مفرد وی يا قارن وی اوکه متمتع وی يا عمرې والا وی

[٢٧١١] د حج او عمرې په نيت کښې د شرط لګولو حکم

٢٧-[٥] ()[١] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: «دَخَلَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَلَى ضُبَاعَةَ بِنْتِ الزُّبَيْرِ[٢] فَقَالَ لَهَا: " لَعَلَّكِ أَرَدْتِ الْحَجَّ؟ [٣] " قَالَتْ: وَاللهِ مَا أَجِدُنِي إِلَّا وَجِعَةً[٤]. فَقَالَ لَهَا: " حُجِّي وَاشْتَرِطِي، وَقُولِي: اللَّهُمَّ مَحِلِّي حَيْثُ حَبَسْتَنِي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [١] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي نبی کريم ﷺ چې حج ته روانيدونکي وو. نو ضباعه بنت زبير ته يې تشريف يوړلو.[٢] او هغه ته يې وفرمايل چې شايد ته (زمونږ سره) د حج اراده لرې؟ (او زمونږ هم دا خواهش دی چې ته زمونږ سره حج ته لاړه شې)[٣] ضباعه رضي الله عنها عرض وکړې، چې هو (زما اراده خوده) ليکن قسم په خدای زه ډېل خان ناجوړه وينم (يعني د مرض په وجه زه ضعف محسوسوم، که زه روانه شم. نو نه پوهيږم، چې حج په پوره هم کړم که نه؟[٤] نبی کريم ﷺ (د دې اوريدو سره) وفرمايل چې ته د حج اراده وکړه. او (کله چې احرام وتړې. نو دا) شرط وکړه يعنی دا اووايه چې اللَّهُمَّ مَحِلِّي حَيْثُ حَبَسْتَنِي (ای الله ﷻ زما د احرام ځخه د وتلو ځای هغه دی چيرته چې زه (د ناجوړی په سبب) منع کړل شم.

بخاري، مسلم [اخرجه البخاري: ٩/٧ومسلم: ١/٥٠٠.

حل اللغات: ① مَحِلِّي: أَيْ مَوْضِعُ حَلَالِي مِنَ الْإِحْرَامِ: زما د حلاليدلو ځائي (يعنی د احرام نه د وتلو ځائي) ② حَبَسْتَنِي: أَيْ: مَنَعْتَنِي يَا اللهُ: چه تا زه منع کړم اې الله (يعنی چرته چه دې ناجوړه کړم اود حج د پوره کولو نه دې عاجزه کړم)

تسهيلات: **قوله**: حَيْثُ حَبَسْتَنِي:

د احرام په وخت کښې د شرط په فائده کښې مذاهب:

په حج کښې د حلال کيدو شرط لګولو طريقه داسې ده چه د احرام تړلو وخت کښې حاجی داسې اووائي چه که په لارکښې د بيمارئ وغيره رکاوټ پيدا شو نوزه به هم په هغه ځائي کښې حلال شم ددې شرط لګولو څه فائده شته که نه؟

① د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نيز ددې هيڅ فائده نشته دي

② د امام شافعي رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيزددې فائده شته دې هغه دا چه کله[١]

---

[١] اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب الأكفاء في الدين (رقم-٥٠٨٩) والنسائي في كتاب مناسک الحج/باب دخول مكة بغير إحرام (رقم-٢٨٦٨) واحمد في المسند: ٦/١٦٤

Maktaba Tul Ishaat.com

نی شرط اولګولو نوَ بیمارئی وغیره عذر په صورت کښې حاجی به فوری دَ احرام نه اوځی اومرور علی الحج وعمره به لازم نه شی که شرط نی اونه لګولو نوَ بیمارئی په صورت کښې دَ احرام نه ترهغه وخته پورې نه شی وتلې ترکومې پورې چه افعال حج باندې مرور نه وی کړې

د امام شافعی دلیل: امام شافعی رحمه الله د حدیث الباب څخه استدلال کوی په دې کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت ضباعه ته د شرط تعلیم ورکړې دې نو که د شرط څه فائده نه وه ولې به نبی ﷺ هغه ته د دې تعلیم ورکولو

جواب: د دې څخه جواب دا دې چې چه ضباعه ته دَ یوقسم وهم شوې وو چه زه به حج اوکړې شم که نه اوکه رکاوټ پیدا شو نوزه به بیا څه کوم؟ په دې باندې حضورپاك دَ هغه وهم لرې کولودَپاره هغه ته تسلی ورکړه او ورته ئی اوفرمائیل چه ته داسې شرط اولګوه دې دَپاره چه ستا تسلی اوشی.

د احنافو دلائل: ① قرآن کریم آیت دَدې شرط منافی دې ځکه چه آیت دَ احصار حکم بیانوی دَ شرط هیڅ ذکرنشته دې.

② ابن عمر رضی الله عنه هم اشارةً د دې شرط رد کړې دې اوحضورپاك نه پخپله داسې شرط لګولې اونه ئی صحابه کرامو کښې چاته دا تعلیم ورکړې دې

الْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٧١٢] دَهدی څاروې په حرم کښې ذبح کول پکاردی

٢٧١٢–[٦] (١) ⑴ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَمَرَ أَصْحَابَهُ ⑵ أَنْ يُبَدِّلُوا الْهَدْيَ الَّذِي نَحَرُوا عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي عُمْرَةِ الْقَضَاءِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ. وَفِيهِ قِصَّةٌ، وَفِي سَنَدِهِ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ.

ترجمه ⑴ ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې نبی کریم ﷺ خپلو صحابه وو رضی الله عنهم ته حکم ورکړې ⑵ چې د عمرة القضاء په موقع د خپلې هدی د هغه څاروو په عوض کې څاروی ذبح کړې کوم چې هغوئ د صلحه حدیبیه په کال ذبح کړی وو. ابواؤد (اخرجه ابوداؤد: ١٧٩/٢).

تسهیلات:

قوله: أَمَرَ أَصْحَابَهُ أَنْ يُبَدِّلُوا الْهَدْيَ:

د حدیث الباب شان ورود: په ابوداؤد کښې داحدیث یوواقعې سره ذکردې په کوم سره چه په دې حدیث باندې په آسانئی سره پوهیدلې شی یوزمانه داسې وه چه دَ شام په زمکه دَ بنوامیه حکومت وو او په مکه کښې دَحضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه حکومت وو شامی خلق

[١] اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک، باب الإحصار (رقم- ١٨٦٤)

دَ حضرت عبد الله بن زبير رضی الله عنه دَ حکومت سخت مخالف وو هغوی دَ مکې دَ فتح کولو دَپاره دَ فوج په ذريعه حمله اوکړه اودَ بيت الله محاصره ئې اوکړه په دې موقع يوسړی دَ هدی څاروې دَ ذبح کولودَپاره مکې ته راوړلو چه شامی فوجونوهغه رامنع کړو دغه سړی هم هلته هدی ذبح کړه اوبيا مکې ته راغلودَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه ئې دَ مسئلې تپوس اوکړو حضرت ابن عباس رضی الله عنهما هغه ته اوفرمائيل چه دَ هدی په بدله کښې هدی واخله راوله اودَ بيت الله په زمکه حرم کښې ذبح کړه دَدې روايت نه دَ احنافو تائيد کيږی چه دَهدی څاروې حرم پورې رسول ضروری دی

اشکال: دلته په زړه کښې داخيال تيريږی چه حضورپاک صلی الله علیه وسلم اوصحابه کرامو رضی الله عنهم مقام حديبيه کښې کوم څاروی ذبح کړی وو که چرې هغه د حرم په زمکه کښې ذبح شوې وو نو په دويم کال ددوباره څاروو راوستلوڅه مطلب دې؟

داشکال جواب: دَ مقام حديبيه څه حصه په حرم کښې ده څه په حل کښې ده حضورپاک په مقام حرم کښې ذبح کړې وو مګر بعض صحابه کرامو په ارض حل کښې ذبح کړې ووهم هغوی ته داحکم ورکړې شوې وو چه تاسو بيا څاروی راولئی او په صحيح توګه ئې ذبح کړئی دغه شان داحديث دَ احنافو دليل جوړشو سره دَدې چه خبره جوړيږی نه

بعض شارحين وائی چه نوی څاروی اخستلوسره دَ راوړلو دا مسئله صرف دَ استحباب احتياط اوتقوی په بنياد وه دې سره به پوره اختلاف ختم شی

[٢٧١٣] دَبيمارئی دَوجې نه احصار کيږی

حدیث— [٧] ( ) [١] وَعَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ عَمْرٍو الْأَنْصَارِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] «مَنْ كُسِرَ، أَوْ عَرِجَ فَقَدْ حَلَّ، وَعَلَيْهِ الْحَجُّ مِنْ قَابِلٍ» [٣]. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ [٣] وَزَادَ أَبُو دَاوُدَ فِي رِوَايَةٍ أُخْرَى: "أَوْ مَرِضَ". وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَفِي "الْمَصَابِيحِ": ضَعِيفٌ.

ترجمه [١] حجاج ابن عمرو انصاري رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [٢] د کوم سړي پښه چې ماته شي يا هغه ګډ (شل) شو هغه حلال شو (يعني د هغه د پاره جائز دی، چې هغه احرام خلاص کړي. او خپل کور ته ولاړ شي) ليکن راتلونکی کا ل په هغه حج واجب کېږي، ترمذي. ابوداؤد . نسائي، ابن ماجه، دارمي. [٣] د ابوداؤد په يو بل روايت کې دا الفاظ هم دي چې يا هغه ناجوړه شي. او امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث حسن دی، او امام بغوي رحمه الله په مصابيح کې دي حديث ته ضعيف ويلي دي

( ) اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک . باب الإحصار (رقم-١٨٦٢) والترمذی فی کتاب الحج عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الذی یهل بالحج فیکسر او یعرج (رقم-٩٤٠)والنسائی فی کتاب مناسک الحج/باب فیمن أحصر بعدو (رقم-٢٨٦١) واحمد فی المسند:٣/٤٥٠

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات ① كُسِرَ: چه ماته شی (خپه) ② عَرِجَ: أی أَصَابَهُ شَیْءٌ فِی رِجْلِهِ: په خپه کښې ئې څه لاړ شی او ګوډ شی

تسهیلات: قوله مَنْ كُسِرَ أَوْعَرِجَ فَقَدْ حَلَّ:

د احنافو د مسلک تائید: داحدیث دَ احناف مضبوط دلیل دې چه احصار دَ بیمارئی وغیره عذرونو نه هم متحقق کیږی

قوله مَنْ كُسِرَ أَوْعَرِجَ فَقَدْ حَلَّ، وَعَلَيْهِ الْحَجُّ مِنْ قَابِلٍ:

د احصار متعدد صورتونه: دحدیث مطلب دادې چه کوم سړی ته د احرام تړلو نه پس ددشمن د ویرې څخه علاوه هم بل څه مانع پیښ شی نودهغه دپاره جائز دی چه هغه احرام پرانزی. نودا ددې خبرې دلیل دې چه د دشمن د ویرې نه علاوه داحصار (ګیریدلو) نور صورتونه هم شته، مثلا بیماری وغیره لکه څرنګه چه دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله مسلک دې

قوله: وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ:

دترمذی د قول راجحیت: که په دې باره کښې تعارض اومنلې شی نوبیا هم د ترمذی قول هذا حدیث حسنٌ، (داحدیث حسن دې) ته د بغوی په قول (یعنی داحدیث ضعیف دې) باندې ترجیح حاصل وی. بیا داچه په یوه نسخه کښې د ترمذی په قول کښې د لفظ حسنٌ نه پس لفظ صحیح هم دې. او توربشتی رحمه الله وئیلی دی چه دې حدیث ته ضعیف وئیل بالکل غلط دی

قوله: وَفِي "الْمَصَابِيحِ": ضَعِيفٌ:

دضعف مطلب: وَفِي "الْمَصَابِيحِ": ضَعِيفٌ: ددې مطلب دادې چه داحدیث بغوی په کوم سند سره ذکرکړې دې هغه سند ضعیف دې. لهذا د بغوی د سند ضعیف کیدو نه دانه لازمیږی چه د ترمذی وغیره سند هم ضعیف وی.

[٢٧١٤] دَ حج رکن اعظم وقوف عرفه ده

٢٧١٤-[٨] (١) ① وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَعْمَرَ الدِّيلِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ② "«الْحَجُّ عَرَفَةُ، مَنْ أَدْرَكَ عَرَفَةَ لَيْلَةَ جَمْعٍ قَبْلَ طُلُوعِ الْفَجْرِ فَقَدْ أَدْرَكَ الْحَجَّ. ③ أَيَّامُ مِنًى ثَلَاثَةٌ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ، وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ» ④". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَهَذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّالِثِ

ترجمه ① عبد الرحمن ابن یعمر دیلي رضی الله عنه وایي چې ما د نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي

(١) اخرجه ابوداود فی السنن رقم الحدیث ١٩٤٩، والترمذی فی السنن رقم الحدیث ٨٨٩، وابن ماجة رقم الحدیث ٣٠١٥، والدارمی رقم الحدیث ١٨٨٧، والنسائی فی السنن رقم الحدیث ٣٠٤٤

دي.[٢] چې حج عرفه ده (يعني د حج د ټولو څخه لوی رکن د ذي الحجه په نهم تاريخ کې قيام عرفات دی) چا چې د مزدلفه شپه (يعني د ذي الحجه په لسمه شپه) کې طلوع فجر (د سحر ختو، څخه مخکې وقوف عرفات و موندلی، [٣] هغه حج و موندلی، په منی کې د پاتې کيدو درې ورځې دي (يعني د ذي الحجه يولسم، دولسم، ديارلسم تاريخونه) چې هغه ته ايام تشريق وايي، په دې ورځو کې په منی کې قيام کولی شي، او رمي جمار کولی شي، نو کوم سړی چې جلتي وکړي اوددوو ورځو څخه مخکې لاړشي نوپه هغه څه گناه نشته .[٤] او څوك چې د دوو ورځو څخه روسته ولاړ شي، په هغه هم څه گناه نشته ، ترمذي، ابوداؤد ، نسائي،ابن ماجه الدارمي، او امام ترمذي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث حسن صحيح دی

حل اللغات: ① تَعَجَّلَ : جلتی اوتلوار اوکړی (دوه ورځې مخکښې لاړشی) ② تَأَخَّرَ: تاخير او روسته والي اوکړی (دوه ورځې روسته لاړشی) ③ فَلَا إِثْمَ: نوهيڅ گناه پرې نشته

تسهيلات:

قوله: مَنْ أَدْرَكَ عَرَفَةَ لَيْلَةَ جَمْعٍ..الخ:

د حج فرائض: په حج کښې درې ارکان فرض دی ① احرام تړل ② نيت کول فرض دی ③ وقوف عرفه فرض ده. او وقوف عرفه دَحج رکن اعظم دې که هغه په خوب کښې وی که په وينه وی که لږ وخت وی اوکه زيات دَ ورځې وی اوکه دَ شپې وی يا دَ راتلونکی شپې ترسحره پورې وی په دې سره دا فرض اداکيږی.

په مزدلفه کښې شپه تيرول او د حج نور مناسک: دَ نمرد ډوبيدونه پس دَعرفه نه بښکته مزدلفه ته راکوزيدل او په مزدلفه کښې شپه تيرول واجب دی بيا سحر دَ نمرراختونه مخکښې دَمنی طرف ته روانيدل دی اوهلته په جمره عقبه باندې کاڼړی ويشتل دی. بيا په منی کښې دَ لوئی اختر نه پس درې ورځې قيام کولوحکم دې ليکن دَ يولسم اودولسم تاريخ رمي لازمی ده. البته که داسې دَ ديارلسم تاريخ پورې په منی کښې پاتې شو نواوس به دې دَ هغه ورځې رمی هم کوی ليکن دَ نمر راختونه پس دَهغه ورځې کاڼړی ويشتل جائز دی په مذکوره حديث کښې هم دَدې مسائلو بيان دې. علماؤ ليکلی دی چه دَمنی دَ قيام باره کښې هم اهل جاهليت دَ خپل جاهلانه رسم مطابق به وخت تيرولو څه خلقو به دَ دوو ورځونه زيات وخت حصاريدل دگناه کار گڼړلو اوڅه خلقو به دَ دريو ورځونه مخکښې وتل گناه گڼړله. په قرآن کريم کښې الله تعالی دَ اعتدال لاراوخودله کومه چه په دې حديث کښې ده. دغه شان به قريش دَ مزدلفه نه پورته عرفات ته نه تلل اسلام دا منع کړل اودَعرفات وقوف ئې په هغوی باندې لازم کړو

وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّالِثِ

Maktaba Tul Ishaat.com

[۱۴] بَابُ حَرَمِ مَكَّةَ حَرَسَهَا اللّٰهُ تَعَالٰى

دَ حرم مکه دَ حرمت بیان

خلاصة الباب:

فيه اثنى عشر حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① ممنوعات حرم مكة: ۱، ۲، ۸، ۱۱۔

② الأمور الجائزة في حرم مكة: ۳۔

③ حكم دخول مكة بلا إحرام: ۳، ۴۔

④ أحاديث النبي ﷺ في عظمة مكة: ۵، ۶، ۷۔

⑤ حب النبي ﷺ لمكة: ۹، ۱۰۔

⑥ فضيلة تعظيم مكة: ۱۲۔

دمکې تعارف: ① مکه دَ بیت الله نه چاپیره دَ پوره ښارنوم دې دَ دې علاقې ځان له ګوزنږوي

د حرم تعارف: حرم دَ زمکې هغه مقدس ټکړې ته وائی چه دَمکې دَ ښار نه چاپیره دې دې ته حرم ځکه وائی چه الله تعالی دَ بیت الله دَوجې نه دا مقدس ټکړه هم دَ احترام واجب ګرځولې ده اودائی دَ عظمتونو بزرګونه ډکه کړې ده. دې ټکړې ته په دې وجه هم حرم وائی چه په دې کښې الله تعالی ډیرداسې کارونه حرام ګرځولی دی کوم چه دَدې ټکړې نه بهر جائزدی مثلاً دَ حرم شریف په حدود کښې ښکارکول یادَ څه قسم پخپله راختلې وابنه پرې کول یا یو انسان یاحیوان ته تکلیف رسول، جګړه اوفساد جوړول داټول حرام دی

د مسجد حرام تعارف: مسجدالحرام دَ بیت الله نه ګیرچاپیره چه کوم ډیر لوئی جمات جوړشوې دې دې ته مسجدالحرام وائی دَ موجوده سعودی حکومت نه وړاندې دَ مسجدالحرام رقبه یوولس زره پنځه سوه مربع میټر وه مګر دَ موجوده حکومت دَ توسیع نه پس دَ مسجدالحرام رقبه ۶۴ هزاز مربع میټر ده موجوده حکومت صفا مروه یعنی مسعی په حرم کښې شامل کړې ده دَمسعی رقبه ۱۶ زره میټر ده دغه شان په یووخت په مسجدحرام کښې دَ نهه لاکه مونځ ګذارو دَ مونځ کولوګنجائش دې دَ مسجدحرام صرف په پاس چت باندې یولاکهه اته شپیته زره مونځ ګذارو ګنجائش شته دې

د حرم د حرمت په تاريخ کښې اقوال: ① بعض علماء وائی چه حضرت آدم عليه السلام کوم وخت په زمکه باندې راکوزکړې شو نو په مکه کښې چه هغوی دَ پیریانو نه دَ ځان خطره محسوس کړه په دې باندې الله تعالی دَهغه دَحفاظت دَپاره دَهغه نه چاپیره فرښتې مقررکړې دې فرښتو مکه دَ څلورو واړو طرفونه په خپله ګیره کښې واخسته فرښتو چه د

خلورو وارو طرفونه په کوم کوم خاني کښي حدبندي اوکړه هغه خايونه د حرم حدود مقررشو

④ بعض حضرات دافرماني چه حضرت آدم ﷺ کوم وخت کعبه جوړه کړه اوهغوی په خپل لاس باندې حجر اسود کیخودو نوددې نه د نور یوه شغله راوچته شوه په کوم سره چه خلور واړه طرف ته زمکه روښانه شوه ترکوم خاني پورې چه دا رڼا اورسیده هم دغه خایونه د حرم حدودمقررشو چنانچه د حرم د زمکې حدودداسې دی د مدینې نه د تنعیم حد دې چه د مکې نه د درې میله په فاصله باندې دې اود مکې نه د یمن طرف ته اووه میله فاصله حددې، جده طائف اوجعرانه هم دغه شان اوه اوه میله دی بعض کتابونوکښې لیکلی دی چه د مکې جدې طرف ته لس میله حد دې اود جعرانه طرف ته نهه میله د حرم حد دې

د مسجدحرام ټول اوه لوئی میناري دی د مسجدحرام ټول ٩٥ دروازې دی په کوم کښې چه خلور لوئی دروازې دی یعنی باب الفتح باب العمره باب ملك فهد او باب ملك عبدالعزیز په مسجد حرام کښې دننه یو ګول میدان دې کوم ته چه مطاف واني د دې رقبه ١٥ زره مربع میټر ده د مطاف او آل سعود د عمارت په مینځ کښې د ترکود زماني مسجد حرام دې چه د ښائست مضبوطیازره راښکونکې اود قبولیت یوشاهکاردې د کوم په تعمیرکښې چه تعبیرهم دې اوتاریخ هم دې او په خاني ونیلی شوی دی چه دا یوښکلې تعمیرهم دې او په دې کښې د اسلاف او اسلام تاریخي تعبیرهم دې د ګول دائرې په ارت میدان کښې بالکل په مینځ کښې د عزت عظمت نه ډك يومربع شکل کښې عمارت دې چه ډیراوچت دې په کوم کښې چه یوه دروازه ده اوخلورواړه طرف ته په دیوالونو باندې چت هم دې په دیوالونوباندې دپورته نه واخله ترښکته پورې د ډیر ښکلې ریښمي تك تور غلاف خور دې په کوم باندې چه د قرآن پاك آیاتونه اواحادیث د سرو زرو او ریښمو په تار لیکلې شوی رازوړندی دی د ناوې په شان دا عظیم الشان عمارت د الله تعالی کور دې کوم ته چه کعبه هم واني اودې ته بیت الله هم واني چه په تخلیق د کائنات کښې د عبادت په توګه د ټولونه ړومبې د الله تعالی کوردې اقبال ونیلی دی اکلیات اقبال.

دنیا کے بت کدوں میں پہلا وہ گھر خدا کا   ہم اس کے پاسبان ہیں وہ پاسباں ہمارا   [ترانه ملی: ١٥٩.

صاحب تاریخ القدیم محمد طاهرالکردی چه کله د کعبې شریفې د ټولو دیوالونوکانړی اوشمیرل نود هغې مجموعه ١٦١٤شو په کوم کښې چه ٤١٩ کانړی د باب کعبه په مشرقي دیوال باندې لګیدلې دی په دې دیوال کښې د بیت الله دروازه ده د کعبه مغربي عقبي دیوال کښې ٤٢٩ کانړی لګیدلی دی دا دواړه دیوالونه یو بل ته مخامخ دی اود نورو دیوالونه اوږده دی د کعبه د شمالي میزابي دیوال کښې ٣١٨ کانړی لګیدلی دی دا د حطیم والا دیوال دې د کوم د پاسه چه میزاب رحمت دې د کعبې په جنوبي دیوال کښې

۴۲۸ کانړی لګیدلی دی دا دیوال دَ رکن یمانی اوحجر اسود په مینځ کښې دې دَدې مقابل دَحطیم والا دیوال دې دَ کعبې دَ اکثرو کانړو پیړوالې ۹۰ سنتی میټر دې څه په کښې دَدې نه واړه هم دی او اکثر کانړی په کښې هم هغه دی کوم چه حضرت ابراهیم علیه السلام په دیوال کښې لګولې وو دَ دومره مودې پورې دَ دغه کانړوباقی پاتې کیدل لوئی کرامت دې

د کعبې حدود: حضرت ابراهیم علیه السلام چه دَ بیت الله کوم تعمیر کړې وو دَهغې اوچتوالې نهه ګزه وو صرف دیوالونه وو پاس چت نه وو زمکې سره لګیدلې دوه دروازې وې یوه دَرکن یمانی طرف ته مغربی دیوال کښې وه اودویمه هم هلته وه چرته چه دا نن ده روستو قریشو صرف یوه دروازه پریخوده مګردَزمکې نه ئې کافی اوچته جوړه کړه اودویمه دروازه ئې بنده کړه

دَ حضرت ابراهیم علیه السلام په وخت دَ بیت الله پلنوالې دَ څلورو واړو طرفونه داسې ووچه دَ حجراسودنه واخله دَ رکن عراقی پورې ۳۲ګز فاصله وه هم په دې حصه کښې نن صب دروازه ده په دې پیمائش کښې دَ ګزنه شرعی ګز مراد دې چه یولاس یعنی دَ ګوتونه ترڅنګلې پورې دې دَ رکن عراقی نه دَ مغربی ګوټ رکن شامی پورې ۲۲ ګزفاصله وه هم په دې حصه کښې نن صباحطیم او میزاب رحمت دې دا پوره مغربی حصه ده دې ته مخ مخ بب عمره واقع ده دَ رکن یمانی نه دَ حجراسودپورې ۲۰ګزه فاصله وه دَدې حصې مخې ته نوې اذان خانه ده چرته چه امام اودریږی اودَ ماسپښین دَمونځ امامت کوی دا دَ جنوب طرف دې دَدې فاصلونه معلومه شوه چه دَ بیت الله دَ مشرقی اومغربی دیوالونوفصله دَ تولونه زیاته وه اودَدې په خپل مینځ کښې دَ یوګز فرق وو یعنی مشرقی دیوال ۳۲ اومغربی ۳۱ ګز وو دغه شان دَ جنوبی اوشمالی دیوالونو فاصلې دَ یوبل مقابل دی اوددې فاصلې کمې وې دَ شمال طرف ۲۲ اودَ جنوب طرف ۲۰ ګزباندې مشتمل وو دَ نن صبا په بیت الله کښې چونکه حطیم بهر دې په دې وجه به دَ دیوالونو په پیمائش کښې فرق وی حطیم ته حجر اسماعیل هم وائی

دَ خانه کعبې دَ تعمیر مختلف مراحل: ① دَتولونه اول فرښتودَ بیت الله بنیاد کښیښودو سره دَ لویو لویو کانړونه ډك کړو کله چه بنیادونه هوار شو نودَ پاس آسمانونونه بیت المعمور راکوز کړې شو په دغه بنیادونو باندې کیخودې شو قرین قیاس هم دغه دې چه په دې تعمیر کښې حضرت آدم علیه السلام موجود وو

② دې نه پس حضرت شیث علیه السلام دَ بیت الله خیال ساتلو خوچه کله طوفان نوح راغلو نودَالله تعالی په حکم باندې فرښتو بیت معمور واپس آسمانونوته اوچت کړو اودَ بیت الله بنیادونه دَ خاورې لاندې غیب شو

③ بیا الله تعالی حضرت ابراهیم علیه السلام دَ بیت الله په آبادولو باندې مقرر کړو هغوی خاوره

اوكښتله او بنيادونه ئې راښكاره كړل او بيا په دغې باندې كعبه جوړه كړه د كوم د حدود اربعه تفصيل چه تير شو

④ دې نه پس عمالقه بيا بنوجرهم بيا بنوخزاعه او بيا قصى بن كلاب د بيت الله د انهدام نه پس په خپل خپل وخت كښې آباده كړه

⑤ د حضرت ابراهيم عليه السلام د بيت الله ۲۶۲۵ كاله پس د بعثت نبوى نه پنځه كاله وړاندې قريشو د بيت الله تعمير اوكړو. په دې تعمير كښې حضورپاك حصه واخستله هغه وخت د حضورپاك عمر ۳۵ كاله وو. قريشو په دې تعمير كښې څه بدلون هم اوكړو چه د حطيم حصه ئې بهر كړه دروازه ئې يوه كړه او د زمكې نه ئې اوچته كړه د ديوالونو اوچتوالې ئې ۱۹ ګزه كړو د پاسه ئې د لرګى چت واچولو او د لرګى شپږ ستنې ئې اودرولې د حطيم طرف ته ئې يوه ناوه اولګوله دې د پاره چه د چت اوبه په محفوظ مقام حطيم كښې پريوتلو سره ډيرې نه خورېږى. د حطيم نه چاپيره ئې يو وړوكې غونډې ديوال جوړ كړو. د كعبه دروازه ئې څلور ګزه او يوليشت اوچتوالى باندې اولګوله او د دننه زمكه ئې د دروازې پورې د خاورو نه ډكه كړه دې د پاره چه د دروازې چوكاټ سره برابره كړې شى.

⑥ دې نه پس چه كله مكه فتح شوه نو حضورپاك د حضرت ابراهيم عليه السلام په طرز تعميرباندې د بيت الله د آبادولو خواهش ښكاره كړومګر دا خواهش د هغوى په ژوند مبارك كښې پوره نه شو.

⑦ بيا په ۶۴ هجرى كښې عبدالله بن زبير رضي الله عنه بيت الله شهيد كړو د رسول الله صلى الله عليه وسلم د خواهش مطابق ئې د حضرت ابراهيم عليه السلام په طرز باندې جوړه كړه.

⑧ كله چه حجاج بن يوسف حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه شهيد كړو نو د هغې نه پس هغه بيت الله شهيد كړو او بيائې په هغه طرز باندې جوړ كړو كوم وخت چه د جاهليت په زمانه كښې قريشو تعمير كړې وو او وئې وئيل چه زه د خپل دښمن يادګار باقى پاتې كيدو ته نه پرېږدم.

په خانه كعبه كښې د تبديلۍ راوستلو توقف: بيا چه كله د هارون الرشيد دورخلافت راغلو نو هغه د امام مالك رحمه الله نه اجازت اوغوښتلو چه بيت الله په هغه طرز باندې تعمير كوم كوم چه د حضورپاك خواهش وو. امام مالك رحمه الله يوعالم ته فتوى وركړه چه اوس بيت الله د دې طرز نه بدلول رابدلول حرام دى ځكه چه دغه شان به بيت الله د بادشاهانو په لاسونو كښې يو د لوبو ځيزپاتې شى.

دې نه پس په بيت الله كښې د تركى خليفه سلطان مراد خان څه مرمت اوكړو او ترنن پورې څه نه څه مرمت د ضرورت مطابق كيږى. ليكن د بيت الله په بنيادونو كښې هيڅ ادلون بدلون نه دې شوې حديث شريف كښې دى چه د قيامت نه وړاندې به يو تور حبشى غلام

Maktaba Tul Ishaat.com

په بيت الله راغوږزه وی اود ذدي خزانه به اوري شاه عبدالعزيز رحمه الله په تفسيرعزيزی کښې ليکلی دی چه د قيامت نه لږ وړاندې چه کله د بيت الله حقيقت د آسمانونو طرف ته اوچت کړی نود بيت الله تيريدل به په روضهٔ رسول باندې کيږی بيت الله به په روضهٔ رسول باندې داسې سلام کوی السلام عليك يارسول الله حضورپاك به جواب ورکوی وعليك السلام يابيت الله نه ماته اوښه په زما امت تا سره څه څه اوکړه اوتا زما د امت سره څه معامله اوکړه بيت الله به جواب ورکړی کوم امتی چه ماته رسيدلې دې زه د هغه د شفاعت ذمه واری اخلم اوکوم چه ماته اونه رسيدلې شو د هغه شفاعت تاسو ته پريږدم دې نه پس به قيامت قائم شی

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲۷۱۵] د مکې د حرم کيدو ثبوت

۲۷۱۵-[۱] ( )[۱] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ[۲] «لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ وَلٰكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ[۳] وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا»[۴] وَقَالَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ: إِنَّ هٰذَا الْبَلَدَ حَرَّمَهُ اللهُ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ، فَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللهِ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ،[۵] وَإِنَّهُ لَمْ يَحِلَّ الْقِتَالُ فِيهِ لِأَحَدٍ قَبْلِي،

ترجمه [۱] ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې نبی کريم ﷺ د مکې د فتح په ورځ وفرمايل[۲] چې اوس د مکې څخه مدينې ته، هجرت فرض نه دی. البته په جهاد او عمل کې د نيت اخلاص ضروري دی.[۳] هر کله چې تاسو د جهاد د پاره وبلل شي (يعني ستاسو امير تاسو ته د جهاد حکم درکړي) نو د جهاد د پاره راوځي،[۴] او نبی کريم ﷺ د فتح مکې په ورځ دا هم وفرمايل چې الله جل جلاله دا ښار (يعني د حرم ټوله زمکه حرامه کړيده) په دې طور چې په ټولو خلقو د دې مقدسې زمکې حصې بې حرمتی يې حرامه کړيده. او د ده تعظيم واجب دی. د هغه ورځې څخه کله چې هغه آسمانونه او زمکې پيدا کړي وو (يعني د زمکې د دې حصې حرمت د شروع څخه دی، نو دا خطه د زمکی د الله جل جلاله د عطا شوي حرمت په سبب تر قيامته حرام شويده.[۵] بيشکه د زمکې په دې حصه کې نه خو زما څخه مخکې د چا د پاره قتال حلال شوی وو.

حل اللغات ① لَا هِجْرَةَ: هجرت نشته (يعنی د مکې نه مدينې ته د هجرت کولو فرضيت پاتې نه شو ② جِهَادٌ يعنی د جهاد فرضيت (باقی دې) ③ نِيَّةٌ: يعنی خالص نيت کوم چه به هجرت او جهاد کښې ضروري دې هغسې خالص نيت په اعمالو کښې اوس هم باقی دې ④ اسْتُنْفِرْتُمْ: د مجهول صيغه ده. أي إذا طُلِبْتُمْ لِلنَّفْرِ وَهُوَ الْخُرُوجُ إِلَى الْجِهَادِ: کله چه د جهاد د پاره تاسونه د وتلو مطالبه اوکړې شی نوفوری توګه باندې اوځئ

( ) اخرجه البخاری فی كتاب الحج /باب إذا لم يجد الإزار. فليلبس السراويل (رقم-۱۸۴۳) ومسلم فی كتاب الحج /باب تحريم مكة وصيدها وخلاها وشجرها ولقطتها. إلا لمنشد على الدوام (رقم-۴۴۵ - (۱۳۵۳) وابن ماجة فی كتاب الجهاد باب بيعة النساء (رقم-۲۸۷۴) واحمد فی المسند:۱/۲۵۹

«وَلَمْ يَحِلَّ لِي إِلَّا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ، فَهُوَ حَرَامٌ بِحُرْمَةِ اللهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، [۲] لَا يُعْضَدُ شَوْكُهُ، وَلَا يُنَفَّرُ صَيْدُهُ، وَلَا يَلْتَقِطُ لُقَطَتَهُ إِلَّا مَنْ عَرَّفَهَا، [۳] وَلَا يُخْتَلَى خَلَاهَا، فَقَالَ الْعَبَّاسُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِلَّا الْإِذْخِرَ فَإِنَّهُ لِقَيْنِهِمْ وَلِبُيُوتِهِمْ، فَقَالَ إِلَّا الْإِذْخِرَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [۱] او نه زما د پاره حلال شوی دی، علاوه د فتح مکه په ورځ د یو ساعت د پاره، نو د دې ورځې څخه روسته دا د زمکې دا حصه د الله ﷻ د ورکړې شوې حرمت په سبب د قیامت تر ورځې (چې په اولني خل شپیلی پو شي) د هر سرې د پاره حرام کړل شوی دی. [۲] نه دی د دې زمکې خارداره (ازغی لرونکی) ونه دې پریکول شي (اګر چې هغه تکلیف ورکړي. نه دې ښکار زغلولی شي (یعني یو سړی دې د ښکار په غرض یا محض د تنګولو د پاره د دې خای یو ځاروی نه تنګوي) او نه دې د دې خای لویدلی شی پورته کول شي. هو هغه سړی (یې اوچتولی شي) چې د هغه اعلان وکړي. [۳] او نه دې د دې زمکې وابنه ریبل کیږی (د دې اوریدو سره) حضرت عباس ﷺ عرض وکړي چې یا رسول الله ﷺ مګر اذخر (یو قسم وابنه) خو داسې شی دی چې دآهینګرانو او زرګرانو د پاره (د اوسپنې و زرو ویلې کولو د پاره) په کار راځي، او د کورونو د بامونو (چتونو) په جوړولو کې د دې ضرورت راځي (د دې د ریبلو اجازت وکړي) [۴] نبی کریم ﷺ وفرمایل چې هو اذخر ریبلی شي. بخاری مسلم

حل اللغات: ⑤ لَا يُعْضَدُ: د باب ضرب نه د مجهول صیغه ده، أَيْ لَا يُقْطَعُ: یعني پرې کول به نه شي. ⑥ شَوْكُهُ: یعنی پخپله راټوکیدلې ازغې پرې کول هم منع دی ⑦ لَا يُنَفَّرُ: أَيْ لَا يُتَعَرَّضُ لَهُ بِالْإِصْطِيَادِ وَالْإِيحَاشِ وَالْإِيهَاجِ: یعنی دحرم ښکار به پریشانه کولې او زغلولې نشی که په هرڅه طریقه وی ⑧ لَا يَلْتَقِطُ: أَيْ لَا تُؤْخَذُ سَاقِطَتُهُ: یعنی دچا نه پریوتې او لویدلې څیز به هم نه شی راخستلې ⑨ عَرَّفَهَا: دا استثنی منقطع ده. یعنی پریوتلې څیزهغه کس پورته کولې چه دهغې تشهیر او اعلان اوکړی چه خپل مالک ته نې واپس کړی خان دپاره به نې نه راپورته کوی ⑩ لَا يُخْتَلَى: أَيْ: لَا يُقْتَطَعُ نَبَاتُهَا وَحَشِيشُهَا: پخپله راټوکیدلی وابنه اوبوټی مراد دی په حرم کښې ددې پرې کول جائزنه دی ⑪ الْإِذْخِرَ وَهُوَ نَبْتٌ عَرِيضُ الْأَوْرَاقِ: د پلنو پانړو والا وابنه دی لکه د کجورې د پانړو په شان. پښتو کښې ورته لونبه ورته وائی ⑫ قَيْنٌ: الْحَدَّادُ: لوهار، آهینګر چه ددې اذخر په بلولوسره اوسپنه ګرموی او نرموی.

تسهیلات:

قوله: الْإِذْخِرَ اذخر یوقسم وابنه دی داد لوهارانو په بهټوکښې دکوئلې اور تیزولوپه کارهم راځی او په کورونوکښې هم په دې کارکښې استعمالیږی په قبرونوکښې که نمی وی نو د مرولاندې هم خورولو په کارراځی

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: لاهجرة بعد الفتح:

د هجرت څخه مراد: يعنى د مكې نه چه د مدينې طرف ته کوم خاص هجرت په هر مسلمان باندې فرض وو اوس هغه هجرت فرض پاتې نه شو ځکه چه پخپله مکه معظمه دارالاسلام جوړشو ليکن دې سره دې ځوك دا نه ګڼړى چه جهاد ختم شو اوفرمائيلې شو چه جهاد اونيك اعمال اود جهاد نيت اوس هم باقى دې چه کله هم ضرورت پيښيږى هجرت کولوسره به جهاد کولې شى د بالى دنيا هجرتونه تردې وخته پورې باقى دى ترکومې پورې چه به جهاد جارى وى

٢٧١٦-( )[١] وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-: [٢] «لَا يُعْضَدُ شَجَرُهَا، وَلَا يَلْتَقِطُ سَاقِطَتَهَا إِلَّا مُنْشِدٌ».

ترجمه [١] او د ابوهريره رضي الله عنه په روايت کې دا الفاظ دي، [٢] او نه دى د دې خاى ونه پرى کړل شي اونه دى د دى لويدلى شى پورته شي، البته د دې مالك لټونکى يې پورته کولى شي

[٢٧١٧] بغير د ضرورت نه په مکه کښې وسله اوچتول منع دى

٢٧١٧-[٢] ( )[١] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [٢] «لَا يَحِلُّ لِأَحَدِكُمْ أَنْ يَحْمِلَ بِمَكَّةَ السِّلَاحَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [١] حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې ما د نبى کريم صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي [٢] چې په تاسو کې د هيچا د پاره دا حلال نه دي، چې په مکه کې وسله پورته کړي. مسلم

حل اللغات ① أَنْ يَحْمِلَ: چه پورته کړى، اوچته کړى ② السِّلَاحَ: وسله، توره، ټوپک وغيره

تسهيلات:

قوله لَا يَحِلُّ لِأَحَدِكُمْ أَنْ يَحْمِلَ بِمَكَّةَ السِّلَاحَ:

په مکه کښې د اسلحې په راويستلو کښې مذاهب:

① د حسن بصري رحمه الله په نزد په مکه کښې مطلقا اسلحه اوچتول جائز نه دى

② د جمهورو په نزد په مکه کښې بلا ضرورته اسلحه اوچتول جائز نه دى

د اول فريق دليل: حديث الباب د د دوى مستدل دې په دې کښې مطلقاً په مکه کښې د اسلحې اوچتولو ممانعت راغلې دې

د دويم فريق دليل: د عمرة القضاة په موقع نبى عليه السلام د اسلحې سره داخل شوې وو

د اول فريق د دليل جواب: دې څخه هغه اسلحه مراد ده چه ښکاره وى يا بل ته د تکليف رسولو خطره وى لکه ابن عمر رضي الله عنه په روايت کښې دى چه په ايام الحج کښې به ني د د يې نه منع کول د فتح مکه په کال د قتال د تيارى سره راغلې وو

---

[١] اخرجه مسلم فى صحيحه كتاب الحج /باب النهي عن حمل السلاح بمكة بلا حاجة (رقم-٤٤٩ - (١٣٥٥)

[٢] اخرجه مسلم فى صحيحه كتاب الحج /باب النهي عن حمل السلاح بمكة بلا حاجة (رقم-٤٤٩ - (١٣٥٦)

[۲۷۱۸] ابن خطل دکعبې دېوال سره قتل کړې شو

[۳] (١) وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «دَخَلَ مَكَّةَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَعَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ، فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَ رَجُلٌ وَقَالَ: إِنَّ ابْنَ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ. فَقَالَ: "اقْتُلْهُ"» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه انس رضي الله عنه فرمايي چې نبی کريم ﷺ د فتح مکه په ورځ په مکه معظمه کې داخل شو، نو په سر مبارک يې خود (جنګي خولۍ) وه، هرکله چې نبی کريم ﷺ هغه خود خکته کړي، نو يو سړی (يعني فضل ابن عبيد رضي الله عنه) حاضريدو سره عرض وکړي چې ابن خطل د کعبې پرده نيولې ده؟ نبی کريم ﷺ وفرمايل چې هغه قتل کړی. بخاري، مسلم [اخرجه البخاري: ۳/۸۶ ومسلم].

حل اللغات: ① الْمِغْفَرُ: شِبْهُ قَلَنْسُوَةٍ مِنَ الدِّرْعِ: جنګی ټوپۍ چه د اوسپنې نه جوړه وی. خود يا خول ورته وائی ② مُتَعَلِّقٌ: اينختې دې يعنی نيولې ئې ده ③ أَسْتَارُ: د ستر جمع ده. پردې ته وائی

تـشريحات:

قوله: ابْنَ خَطَلٍ:

د ابن خطل د قتلولو وجه: علامه طيبی رحمه الله ليکلی دی چه ابن خطل اول مسلمان وو بيا مرتد شو اويومسلمان ئی شهيد کړو بيا به اسلام پسې په بدوونيلوکښې لګياوو حضورپاک چه کله په مکه کښې فاتحانه اندازسره داخل شو نوحضورپاک يوڅوکسان سرې او څو ښځې واجب القتل اوګرځول هم په دوی کښې يو ابن خطل وو دې دکعبې غلاف پورې اونختلو اوپټ شو چا اوليدلو اوحضورپاک ته ئی خبر ورکړو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه لاړشئی اوهغه قتل کړئی چنانچه ابن خطل دکعبې ديوال پورې لګيدلې روچه هغه قتل کړې شو معلومه شوه چه دکافر قتل کول په جنګ کښې دَ ثواب کار دې ګناه نه ده لکه څنګه چه ئی تبليغی حضرات ګناه ګنړی دَ ابن خطل قتل دَ څه قصاص دَ ضابطه لاندې نه ووبلکه دَهغه وينه هدرګرځولې شوې وه لهذا په دې بحث کښې دَ پريوتلو ضرورت نشته دې چه په حرم کښې دننه قصاص شته که نه؟ [الکاشف: ۱۵/۵۷۰]

[۲۷۱۹] رسول الله ﷺ دَ فتح مکه په ورځ تورپټکې تړلې وو.

[۴] (٢) وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «دَخَلَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

(١) اخرجه البخاری فی صحيح رقم الحديث ۱۸۴۶، ومسلم فی صحيح رقم الحديث ۴۵۰ / ۱۳۵۷، والترمذی فی السنن رقم الحديث ۱۶۹۳

(٢) اخرجه مسلم فی صحيح رقم الحديث ۴۵۱ / ۱۳۵۸ والنسائی فی السنن رقم الحديث ۲۸۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه ① جابر ﷺ راوي دی چې نبی کریم ﷺ د فتح مکه په ورځ بغیر د احرام څخه په مکه کې داخل شو، ② او هغه وخت د نبی کریم ﷺ په سر مبارك توره پټکی وو، مسلم

تسهيلات:

قوله: وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ:

د تور رنګ کپړې د استعمال جواز: په ظاهره معلومیږي چه نبی کریم ﷺ په سر باندې خود (د اوسپنې جنګی ټوپۍ) په سر کړې وی او د هغې دپاسه به ئې پټکې تړلې وی، داحرام نه بغیر مکې ته د داخلیدو په باره کښې دحدیث نمبر: ۲۷۱۸ په تشریح کښې بحث تیرشوې دې، دا حدیث ددې خبرې دلیل دې چه د تور رنګ کپړې استعمالول مستحب دی لکه څرنګه چه د احنافو مسلک دې.

[۲۷۲۰] دکعبې تخريب سره متعلق پيشنګوئی

۲۷۲۰ — [٥] (١) ① وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «يَغْزُو جَيْشٌ الْكَعْبَةَ، ③ فَإِذَا كَانُوا بِبَيْدَاءَ مِنَ الْأَرْضِ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ. ④ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، وَكَيْفَ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ، وَفِيهِمْ أَسْوَاقُهُمْ وَمَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ؟ ⑤ قَالَ: يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ، ثُمَّ يُبْعَثُونَ عَلَى نِيَّاتِهِمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① بي بي عائشه ﷺ فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② چې (په آخره زمانه کی) یو لښکر به په خانه کعبې د حملې کولو اراده وکړي چې خانه کعبه ته نقصان ورسوی. ③ هر کله چې هغه لښکر د زمکې یوې میداني حصې ته ورسیږي، نو هغه به د اول څخه تر آخره (یعني پوره لښکر) په زمکه کې غرق کړل شي (د دې اوریدو سره) ④ ما عرض وکړو چې یا رسول الله! ﷺ هغه لښکر به د اول څخه تر آخره (یعني ټول) څرنګه په زمکه کې غرق کړل شي؟ چې په هغوئ کې به کاروباري خلق هم وي، او په هغوئ کې به هغه سړی هم وي، چې د هغوئ څخه نه دی (یعني په لښکر کې به داسې خلق هم شامل وي چې نه به د لښکر والا په شان کافران وي، او نه به کعبې ته په نقصان رسولو کې د هغوئ سره شريك وي. بلکه هغه به يې په زوره په لښکر کې شامل کړی وي، نو آيا داسې خلق به هم په زمکه کې غرقيږي ؟) ⑤ نبی کریم ﷺ وفرمایل چې هو د اول څخه تر آخره ټول به په زمکه کې غرق کړی شي، البته هغوئ به د خپل نيتونو مطابق پورته کړل شي، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① يَغْزُو: حمله به کوی (د حملې په قصد او اراده به راځی). ② جَيْشٌ: أَيْ: عَسْكَرٌ: لوئې لښکر (دا به په آخره زمانه کښې وی). ③ بَيْدَاءَ: أَيْ بُقْعَةٍ فَضَاءً وَمَفَازَةٍ وَسْعَاءَ مِنْهَا: هواره او فراخه زمکه، کهلاؤ میدان. ④ يُخْسَفُ: په زمکه کښې به غرق شي

---

(١) اخرجه البخاری فی کتاب الحج /باب هدم الکعبة (رقم-٢١١٨) ومسلم فی صحیح رقم الحدیث ٨/ ٢٨٨٤

تسهیلات:

قوله: يَغْزُوجَيْشُ الْكَعْبَةَ:

د جيش څخه مراد: ددې حدیث تفصیل به ان شاء الله کتاب الفتن کښې راشي دا سرې سفياني دې چه خپلې لښکرې به حضرت مهدی سره د جنګيدلودپاره ليګی مګر لښکر به نی په زمکه کښې ورخښ شي دوه کسان به بچ شي يوبه لاړ شي سفياني ته به خبر ورکړی اوبل به حضرت مهدی ته خبر کوی په دې ورخښيدو کښې به څه بې ګناه مسلمان هم وی هغوی به هم ورخښ شي ليکن په حشرکښې به سفياني سره نه وی بلکه د خپه عقيدې په بنيادباندې به فيصله وی

[۲۷۲۱] يوتورسړې به کعبه ورانوی

۲۷۲۰-[٦] ( )① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:② "«يُخَرِّبُ الْكَعْبَةَ ذُوالسُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل خانه کعبې ته نقصان رسونکی به د حبخيزونو څخه هغه سړی وي چې د هغه پنډۍ به وړه او نرۍ وي. بخاري. مسلم

حل اللغات: ① يُخَرِّبُ: خرابوی به. نقصان به رسوی. ② ذُوالسُّوَيْقَتَيْنِ: وړې. لنډې او کګې خپو والا

تسهیلات:

قوله: ذوالسُّوَيْقَتَيْنِ:

د حديث پيشګوئی: يعنی وړو نرو او کګو پنډووالا تك تور حقير سړې به راپاسی او بيت الله به وران کړی دې نه اندازه کيږی چه مسلمانان به څومره کمزورې وی د نن صباد ټولې دنيا مسلمانان اودهغوی حکمرانانو جهاد پريخودوسره هم د دغه کمزورئی طرف ته روان دی منډې وهی

[۲۷۲۲] د کعبی ورانونکی

۲۷۲۱-[۷] ( )① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -② قَالَ: "«كَأَنِّي بِهِ أَسْوَدَ أَفْحَجَ يَقْلَعُهَا حَجَرًا حَجَرًا» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه ① ابن عباس ﷺ د نبی کريم ﷺ څخه نقل کوي ② چې نبی کريم ﷺ وفرمايل ګويا زه د خانه کعبې تخريب کونکی (خرابونکی) وينم. هغه به د تور رنګ او چپليت چې دپښوتلي يي سره نزدې اودشاپوندي يي سره لرې وي) يو سړی به وي. چې د خانه کعبې يو يو کاڼی به وکاږي. بخاري

( ) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب هدم الكعبة (رقم-١٥٩٦)

( ) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب لا يعضد شجر الحرم (رقم-١٥٩٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات: ① كَأَنِّي بِهِ: أَيْ: مُلْتَبِسٌ إِلَيْهِ وَانْظُرْ إِلَيْهِ: يعنى گويا چه زه هغه وينم (څوک چه به خانه كعبه ورانوي، ② أَفْحَجَ: وَهُوَ الَّذِي يَتَدَانَى صُدُورُ قَدَمَيْهِ وَيَتَبَاعَدُ عَقِبَاهُ: دَ كوم سړي دَخپو پنجې چه يوبل سره نيزدې وي او گيتهى لرې وي داسې سړى ته افحج وائي يعني كجې، ③ يَقْلَعُهَا: د بيخ نه راويستلو ته قلع وائي، يويو كانړې به ئې راوباسي يعنى د بيخه به ئې ورانه كړي

تسهيلات: قوله: أَفْحَجَ:

خانه كعبې د نړولو كيفيت: په حديث كښې په دې صفت باندې موصوف كس حقارت او ذلت ته اشاره ده نو دا حبشي كس به د خانه كعبې يويوكانړې راؤباسي اوسمندر كښې به ئې غورزوي لكه چه څنگه ملاعلي قاري رحمه الله ليكلي دي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٧٢٢] په حرم كښې احتكار الحاد في الحرم دې

٢٧٢٣ - [٨] (١) عَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«احْتِكَارُ الطَّعَامِ فِي الْحَرَمِ إِلْحَادٌ فِيهِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① يعلي ابن اميه رضي الله عنه راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② په حرم كې د غلى احتكار (ذخيره كول يعنى د گران خرڅولو د پاره د غلي ذخيره كول) كجروي ده، ابوداؤد

حل اللغات: ① احْتِكَارُ: ذخيره كول، وَهُوَ اشْتِرَاءُ الْقُوتِ فِي حَالَةِ الْغَلَاءِ لِيَبَاعَ إِذَا اشْتَدَّ غَلَاؤُهُ: د ارزانۍ په وخت كښې د خوراک څيزونه اخستل او د گرانوالى په وخت كښې ئې خرڅول دې ته احتكار وائى ② إِلْحَادٌ: أَيْ: مَيْلٌ عَنِ الْحَقِّ: دحق نه مخ اړول، ظلم او زياتې

تسهيلات:

قوله: احْتِكَارُ الطَّعَامِ فِي الْحَرَمِ إِلْحَادٌ فِيهِ:

د احتكار تعريف او حكم: د دې مزيد تفصيل به په كتاب البيوع كښې راشي په مكه مكرمه كښې كر كيله نۀ كيږى هغه وادى غيرذى زرع ده هلته د غلې ديروالې نشته نو چې هركله په عامو خايونو كښې دا احتكار يعنى غله جمع كول ممنوع او مكروه دى نو په مكه مكرمه كښې به يقيناً سخت مكروه وى چې څنگه په مقدس مقاماتو كښې د نيكو اجر ډير زيات دې نو دغه شان د هغې ځائې د گناه وبال هم زيات دې په دې وجه ورته الحاد (ظلم او بدديني) ونيلې شوېده

(١) اخرجه ابوداود في السنن رقم الحديث ٢٠٢٠

[۲۷۲٤] دَمكي نه دَهجرت په وخت په حضورپاك باندې ډېر كيفيت

٢٧٢٤-[٩] (١) ‏وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِمَكَّةَ: «مَا أَطْيَبَكِ مِنْ بَلَدٍ وَأَحَبَّكِ إِلَيَّ، وَلَوْلَا أَنَّ قَوْمِي أَخْرَجُونِي مِنْكِ مَا سَكَنْتُ غَيْرَكِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې نبی کریم ﷺ د فتح مكه څخه روسته د هغه خای د تلو په وخت د مکي په نسبت وفرمایل چې ته څومره ښه ښار يې، او ته ماته ډير خوښ يې که زما د قوم (قريش) خلقو د دې خاى څخه نه وم ويستلى، نو زه به د دې ښار څخه علاوه بل هيچيرې نه اوسيدلم، امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړی دی، او ويلي يې دي چې دا حديث حسن، صحيح د اسناد د اعتبار څخه غريب دی

تسهيلات:

قوله: مَا أَطْيَبَكِ مِنْ بَلَدٍ وَأَحَبَّكِ إِلَيَّ:

د حديث فوائد: ① حضورپاك دَ بيت الله نه دَرخصت كيدو په وخت "حزوره" مقام باندې اودريدو سره ذكرشوي ارشاد اوفرمائيلو دكوم نه چه دَحضورپاك بيت الله سره دَ زړه دَميني اندازه كيږی اودې سره دَ حضورپاك دَ بې وسئى اندازه هم كيږی

② دكافرانودَ ظلمونو پته هم لګی اودَ حرم شريف اوبيت الله شريف دَ فضيلت او عظمت هم ښه اندازه كيږی

③ كوم سړي سخت مجبوره نه وی هغه به دَ بيت الله مجاورت او ګاوندی توب نه پريږدی اوكه يوسړي دَ دې مقدس زمكي احترام نه شی كولې او دَدې په حق كښې دَ كوتاهئی خطره وی نوبيا بيت الله سره نيزدې مقام اختيارول مكروه دی

④ مكه دَ مدينې نه افضل ده اوامام مالك رحمه الله مدينه افضل ګڼری

[۲۷۲۵] حرمين شريفين كښې كوم يوافضل دې

٢٧٢٥-[١٠] (٢) ‏وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ حَمْرَاءَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَاقِفًا عَلَى الْحَزْوَرَةِ، فَقَالَ: «وَاللهِ إِنَّكِ لَخَيْرُ أَرْضِ اللهِ، وَأَحَبُّ أَرْضِ اللهِ إِلَى اللهِ، وَلَوْلَا أَنِّي أُخْرِجْتُ مِنْكِ مَا خَرَجْتُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه عبد الله ابن عدي ابن حمرا رضي الله عنه وايي چې ما وليدل چې نبی کريم ﷺ په حزوره ودريدی (په مكه مكرمه كې د يو خايي نوم دی)، د مكي په نسبت يې) وفرمايل

---

(١) اخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى فضل مكة (رقم-٣٩٢٦)

(٢) اخرجه الترمذى فى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى فضل مكة (رقم-٣٩٢٥)واحمدفى المسند: ٣٠٥/٤

Maktaba Tul Ishaat.com

چې قسم په خدای ته د الله ﷻ د زمکې د ټولو څخه محبوبه حصه یې ② که زه در څخه ویستل شوی نه وي، نو زه به در څخه هیڅ کله نه وتم، ترمذي، ابن ماجه

حل اللغات: ① اَلْحَزْوَرَةُ أي مَوْضِعٌ بِمَكَّةَ: په مکه کښې د يوځائې نوم دې

تسهیلات:

قوله: لَخَيْرُ أَرْضِ اللهِ:

د حرمینو په افضلیت د امت اتفاق: په دې باندې د ټولو فقهاؤ اتفاق دې چه په دې کائنات کښې د ټولو نه افضل دوه ښارونه دی یومکه مکرمه ده اوبل مدینه منوره ده البته په دې کښې د فقهاؤ په مینځ کښې اختلاف دې چه په دې کښې کوم یوافضل دې

د حرم مکی او حرم مدنی په افضلیت کښې اختلاف: مسجد حرام او مکه مکرمه افضل دی یا مسجد نبوی او مدینه منوره ① د پورته مذکوره حدیث په وجه سره جمهور علماء د مکې مکرمې د فضیلت قائل دی ،(د مکې مکرمې یو مونځ د یو لاکھ مونځونو برابر دې او د مسجد نبوی د زرو مونځونو برابر دې) ځکه چې د مکاناتو شرف د عبادت د شرف تابع دې چې هرکله د مکې مکرمې عبادت د مدینې منورې د عبادت نه غوره او افضل دې نو په خپله به مکه مکرمه هم د مدینې منورې نه غوره وی

② دامام مالک یو روایت او د هغوی د بعضې ملګرو مسلک هم دا دې لکه ابن وهب او ابن حبیب مالکی لیکن د امام مالک مشهور قول او د هغوی د اکثرو ملګرو مسلک : دې برعکس دې یعنی د مدینې منورې د فضیلت قائل دی ځکه چې نبی ﷺ فرمانی **مابین قبری ومنبری روضة من ریاض الجنة** چې زما د قبر نه د منبر پورې دا ټوله حصه د جنت یوه حصه او د هغې باغ دې او په دویم حدیث کښې دی **موضع سوط فی الجنة خیر من الدنیا ومافیها**

د مالکیانو د مستدل جواب: ابن عبدالبر د دې جواب دا ورکړې دې چې دا صرف یو استنباط دې صریح نص نه دې په خلاف د مکه مکرمه چې د هغې په فضیلت باندې صریح نص موجود دې دکوم تخریج چې اصحاب السنن کړې دې **وصححه الترمذی** [١] وابن خزیمة وابن حبان او الفاظ ئې دا دی ((**عن عبدالله بن عدی بن الحمراء قال رایت رسول الله صلى الله عليه وسلم واقفا على الحزورة فقال والله إنك لخير أرض الله وأحب أرض الله إلى الله ولولا أني أخرجت منك ما خرجت**)) حزوره په مکه مکرمه کښې د یو ځائې نوم دې نبی ﷺ په دې حدیث کښې مکې مکرمې ته **خیر أرض الله** او **أحب أرض الله** فرمانی

[١] أخرجه الترمذی فی أواخر کتاب المناقب فی باب فضل مکة. ١٢

دغه شان دا چې كۀ زۀ د تا نه ويستلې شوې نۀ وې نو زۀ به د دې ځائې نه هيڅكله هم نه ووم وتلې حافظ ابن حجر فرمائى اكثرو(منصف مزاجو) مالكيانو مصنفينو (١)د دې قول نه رجوع كړې ده او د مكې مكرمې د فضيلت قائل شوې دى

د مدينې د افضليت بل دليل: دا حديث هم د مالكيانو دليل دې چې نبى ﷺ يو خل دا دعا اوفرمائيله چې اې الله! ابراهيم ﷺ ستا نبى وو هغوى د اهل مكه دپاره د بركت دعا كړې وه او زۀ ستا نه د اهل مدينه دپاره دعا غوارم او دوچنده(دبل) او څلور چنده زياته دعا غوارم اهـ اخرجه الترمذى ايضاً فى باب فضل المدينة

نوټ: د جسد اطهر سره د لګيدلې بقعې افضليت: قاضى عياض مالكى فرمائى ليكن د دې نه هغه بقعه مستثنى ده چې په كومه كښې نبى ﷺ دفن كړې شوې دې د هغې په خيرالبقاع كيدو باندې د ټولو اتفاق دې(تردې چې هغه حصه د عرش نه هم اعلى او غوره ده، په دې باندې حافظ ابن حجر فرمائى چې دا خبره د بحث نه خارج ده ځكه چې بحث په دې لحاظ سره كيږى چې كوم ځائې د عبادت دپاره غوره دې(ملخصاً من الفتح)

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٧٢٦]په حرم شريف كښې دَ قصاص مسئله

٢٧٢٦–[١١] (٢)[١]عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْعَدَوِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّهُ قَالَ لِعَمْرِو بْنِ سَعِيدٍ، وَهُوَ يَبْعَثُ الْبُعُوثَ إِلَى مَكَّةَ:[٢] ائْذَنْ لِي أَيُّهَا الْأَمِيرُ أُحَدِّثْكَ قَوْلًا قَامَ بِهِ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِلْغَدِ مِنْ يَوْمِ الْفَتْحِ، [٣]سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ، وَوَعَاهُ قَلْبِي، وَأَبْصَرَتْهُ عَيْنَايَ حِينَ تَكَلَّمَ بِهِ: حَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ

ترجمه [١] د ابو شريح عدوي رضي الله عنه په باره كې منقول دى، چې هغه عمرو بن سعيد ته (هغه وخت كله چې هغه د عبد الله ابن زبير رضي الله عنه په مقابله كې مكې ته لښكر ليږلى) دا اوويل چې اې زما سرداره! ماته اجازت راكړه، چې زه ستا په مخكې هغه خبره بيان كړم. چې هغه نبى كريم ﷺ د فتح مكه څخه يوه ورځ مخكې د يوې خطبې په دوران كې فرمايلې وه. هغه خبره زما غوږونو واوريده، زما زړه ياده كړه، او زما سترګو نبى كريم ﷺ په هغه خبره فرمايلو ليدلى دى، چې نبى كريم ﷺ د الله ﷻ حمد او ثناء بيان كړه.

حل اللغات: ① الْبُعُوثَ: أَيْ: الْجُيُوشَ: لښكرې. ② وَعَاهُ: أَيْ: حَفِظَهُ: محفوظ ئې كړو، ياد ئې اوستلو.

[٢]ثُمَّ قَالَ: "«إِنَّ مَكَّةَ حَرَّمَهَا اللهُ وَلَمْ يُحَرِّمْهَا النَّاسُ، [٢]فَلَا يَحِلُّ لِامْرِءٍ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يَسْفِكَ بِهَا دَمًا، وَلَا يَعْضِدَ بِهَا شَجَرَةً، [٣]فَإِنْ أَحَدٌ تَرَخَّصَ بِقِتَالِ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِيهَا. [۴]فَقُولُوا لَهُ: إِنَّ

---

(١) په فتح البارى كښې لفظ مصنفين دې قسطلانى كښې منصفين دې وهو الصحيح

(٢) اخرجه البخارى فى كتاب الحج/باب لا يعضد شجر الحرم (رقم-١٨٣٢) ومسلم فى كتاب الحج /باب تحريم مكة وصيدها وخلاها وشجرها ولقطتها، إلا لمنشد على الدوام (رقم-۴۴۶ - (١٣٥۴) والترمذى فى كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى حرمة مكة (رقم-٨٠٩) واحمدفى المسند: ٣٨٥/٦

Maktaba Tul Ishaat.com

اللّٰهَ قَدْ أَذِنَ لِرَسُولِهِ، وَلَمْ يَأْذَنْ لَكُمْ. ۵ وَإِنَّمَا أَذِنَ لِي فِيهَا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ،

ترجمه ۱ او بیا یې وفرمایل چې مکې ته الله ﷻ عظمت ورکړی دی، هغه ته خلقو بزرګي نه ده ورکړي. ۲ نو کوم سړی چې په الله ﷻ او د آخرت په ورځ ایمان لري، د هغه د پاره حلال نه دی، چې هغه په دې ښار کې خونریزي وکړي (یعني یو مسلمان دی په دې ښار کې څوك نه قتلوي اګرچې هغه د قتل قابل ولی نه وي، او کوم سړی چې د قتل قابل نه وي، هغه قتلول په هر ځای کې حرام دی، که په حرم مکه کې دننه وي. او که د هغه څخه بهر وي) او نه دا حلال دی، چې د هغه د زمکې ونې کټ کړي. ۳ او که یو سړی په دې ښار کې د قتل او قتال د پاره د نبی کریم ﷺ د عمل څخه (څرنګه چې په ۲۷۱۸ نمبر حدیث کې د ابن خطل د قتل واقعه تیره شوه) جواز پیدا کړي. ۴ نو هغه ته اووئیلو، چې الله ﷻ خپل رسول ته د دې اجازت ورکړی وو، او تاته اجازت نشته. ۵ او ماته هم د یوې ورځې یواځې د یو ساعت د پاره په دې ښار کې د قتل کولو اجازت راکول شوی وو،

حل اللغات: ③ لَا يَعْضِدَ: أَيْ: لَا يَقْطَعَ: نه به شی کټ کولې، ④ تَرَخَّصَ: اجازت ئې ورکړې وو. جائز کړی وو

۱ وَقَدْ عَادَتْ حُرْمَتُهَا الْيَوْمَ كَحُرْمَتِهَا بِالْأَمْسِ، ۲ وَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ» ۳ فَقِيلَ لِأَبِي شُرَيْحٍ: مَا قَالَ لَكَ عَمْرٌو؟ ۴ قَالَ: قَالَ: أَنَا أَعْلَمُ بِذٰلِكَ مِنْكَ يَا أَبَا شُرَيْحٍ ۵ أَنَّ الْحَرَمَ لَا يُعِيذُ عَاصِيًا وَلَا فَارًّا بِدَمٍ، وَلَا فَارًّا بِخَرْبَةٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، ۶ وَفِي الْبُخَارِيِّ: الْخَرْبَةُ: الْخِيَانَةُ.

ترجمه ۱ او اوس نن ورځ (هرکله چې دا خطبه ورکول کېږي) د دې ښار عظمت او حرمت بحاله دې چې تیره ورځ (د هغه مباح ساعت څخه علاوه) وو ۲ کوم خلق چې دلته موجود دي، هغوئ ته پکار دی، چې زما دا خبره هغه خلقو ته ورسوی، کوم چې دلته موجود نه دی. ۳ د ابو شریح رضی الله عنه څخه پوښتنه وشوه، چې عمرو ابن سعید (دا حدیث اوریدو سره) تاته څه وویل؟ ۴ هغه وفرمایل چې عمرو بن سعید ماته اوویل چې اې ابو شریح رضی الله عنه! زه دا (حدیث) ستا څخه زیات پیژنم. ۵ لیکن د حرم زمکه نافرمان ته پناه نه ورکوي، او نه هغه سړي ته پناه ورکوي، چې خون کولو سره تښتیدلی وي، یا څه تقصیر کولو سره فرار شوی وي. بخاري، مسلم

حل اللغات: ⑤ الشَّاهِدُ: أَيْ: الْحَاضِرُ: چه موجود وی ⑥ لَا يُعِيذُ: أَيْ: لَا يُجِيرُ: پناه نه ورکوی، نه ئې محفوظ کوی ⑦ عَاصِيًا: نافرمان، ⑧ لَا فَارًّا: أَيْ: هَارِبًا: چه تختیدلې وی، ⑨ بِخَرْبَةٍ: أَيْ قَتْلٍ: قتل کول، خون کول

د راوي مختصر تعارف:

حضرت ابوشریح خویلد بن عمرو رضی الله عنه: د دوی په نوم کښې اختلاف دې بعضې خویلد رضی الله عنه بعضې عمرو رضی الله عنه بنائی اوکنیت ئې ابوشریح دې او هم په دې سره ډېر مشهوردې. د

مکې د فتح نه اول مسلمان شو او په فتح مکه کښې شريك وو. (٢)
د هغوی سخاوت ډير مشهور وو هغه اعلان کړې ووچه څوك هم غوړي پني وغيره غواړی
بغير د اجازت او بې تکلفه ئې اوړې شی. (٣)
مرويات د هغوی نه شل روايات نقل دی. دوه په بخاری شريف اومسلم دواړوکښې دی په
يوکښې بخاری شريف او يوکښې مسلم شريف منفرد دی. (٤)
وفات ۶۸ھ کښې مدينه منوره کښې وفات شو (۵)

تسهيلات:

قوله: لِعَمْرِوبْنِ سَعِيدٍ:

دعمروبن سعيد د گورنرئ په تقررئ کښې اقوال:

① ملاعلی قاری رحمه الله شيخ عبدالحق مظاهر حق رحمه الله اونورو شارحينو عمرو بن سعيد د عبدالملك بن مروان د طرف نه دمدينې گورنر جوړ کړې وو

② بعض شارحينو ليکلی دی چه عمرو بن سعيد د يزيد بن معاويه رضي الله عنه د طرف نه د مدينې گورنروو اوداخبره د پوهيدو په لحاظ سره ډيره قابل فهم ده ځکه چه د مدينې نه په اول ځل په مکه باندې د حملې کولودپاره د يزيد فوجونه راغلی وو د يزيد د مرگ نه پس د مروان بن الحکم حکومت راغلو اودې نه پس د عبدالملك بن مروان حکومت راغلو هغه وخت حجاج بن يوسف د عبدالله بن زبير خلاف فوجونه روان کړل اوهغه ئې شهيد کړو ددې تفصيلات به ان شاء الله کتاب الفتن کښې راشی.

دحديث الباب پس منظر: اوس لږ شان ددې حديث پس منظرهم اوگورئ.
د حضرت علی رضي الله عنه د شهادت نه پس حضرت حسين رضي الله عنه د خلافت نه لاس اخستلو اعلان اوکړو نوحضرت معاويه رضي الله عنه د پوره امت خليفه جوړشو. هغوی په ډيربنه شان سره د اسلام خدمت اوکړو اواسلامی سلطنت ئې خورکړو. هغوی د خپل وفات نه لږ شان مخکښې خپل خوئی يزيد په دې وجه ولی عهد جوړ کړو چه د مخکښې په شان په مسلمانانوکښې د خلافت په مسئله جګړه جوړه نه شی.

دامير معاويه مدبرانه سوچ: هغوی يزيد راغوښتوسره د مستقبل باره کښې عجيبه مدبرانه مشوره ورکړه چه ستاد حکومت خلاف به څلور کسان راؤچتيږی

① محمدبن ابی بکر ليکن کيدې شی چه د هغه عمر وفا اونه کړی نوځکه خطره نشته

② عبدالله بن عمردې دا صوفی عابد او زاهد سړې دې د ده هم خطره نشته

③ حسين رضي الله عنه دې ياد ساته چه دا د نبی کريم صلی الله عليه وسلم نمسې دې د ده ډيرزيات احترام کوه.

④ عبدالله بن زبير دې دا ډيرزيات چالاك سړې دې ده نه بچ اوسيږه.

ديزيد د اهل مدينې څخه په زور بيعت اخستل: د حضرت معاويه رضي الله عنه د وفات نه پس

Maktaba Tul Ishaat.com

يزيد د اهل مدينه نه د توري په زور باندې بيعت اخستل شروع کړه د محمد بن ابى بکر ژوند واقعى چه وفا اونه کړه او هغه وفات شو حضرت ابن عمر ﷺ هم خاموشى اختيار کړه ليکن حضرت حسين ﷺ او حضرت عبد الله بن زبير ﷺ د مکې طرف ته په غرض د پناه لاړل حضرت حسين ﷺ ته د اهل کوفه د اتلس زرو سرو خطونه اورسيدل شو په کوم کښې چه کوفې ته د راتلو دعوت وو ددې نه باوجود اهل مشوره حضرت حسين ﷺ د تلونه منع کړو ليکن هغه د کوفې طرف ته روان شو اوهلته په کربلاکښې چه کوم څه اوشو هغه اوشو

د عبدالله بن زبير د قتل حکم: د حضرت حسين ﷺ نه چه فارغ شو نو يزيد د حضرت عبدالله بن زبير ﷺ د وژلو دپاره هغه پسې د فوجونو دليګلو حکم ورکړو مدينه کښې د يزيد د طرف نه عمرو بن سعيد ګورنر وو هغه چه کله فوجونه روان کړل نو حضرت ابوشريح صحابى ﷺ هغه ته ډير تيز او د مغزنه ډك تقرير اوکړو او د پوه کولو کوشش ئې اوکړو ليکن د هغه د اقتدار نشه وه هغه غلطې خبرې کولو سره په صحابى پورې توقې مسخرې اوکړې او ونى ونيل زه تا نه زيات پوهيږم عبدالله بن زبير باغى دې او يزيد خليفه دې د دغه باغى وژل په حرم کښې هم جائز دى ځکه چه حرم يو قاتل اوډاکوته پناه نه ورکوى عمرو بن سعيد ته د اشدق يعنى شليدلې خلې والا لقب ورکړې شو په دې وجه هغه ته لطيم الشيطان هم اوونيلې شو يعنى شيطان هغه له څپيړه ورکړه دا سړې نه صحابى دې اونه ده ته د تابعى مرتبه ملاؤ شوې ده حضرت ابوشريح ﷺ هم ده ته نصيحت فرمانى

قوله: فَأَمَرَبِهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حرم حرمت: دا د قول په معنى کښې دې "اي قولاقال به".

"الغد" يعنى د مکې د فتح په ورځ ئې اوفرمائيل "ترخص" يعنى که يوسړې په مکه کښې د جنګ دپاره د حضورپاك جنګ بنياد جوړوى اود خپل جنګ دپاره اجازت اورخصت حاصلول غواړى نوهغه له داسې کول جائز نه دى

قوله: وَلَافَارًّابِدَمٍ:

د حرم قاتل ته پناه نه ورکول: يعنى حرم هغه سړى ته پناه نه ورکوى چه د چاقتل کولوسره ددې طرف ته راتختيدلې وى

قوله: وَلَافَارًّابِخَرْبَةٍ:

د عمروبن سعيد دهوکه بازى: يعنى جنايت قصور اوفساد کولوسره په دې کښې پناه اخستونکى ته پناه نه ورکوى عمرو بن سعيد دلته ښکاره دروغ ونيلى دى ځکه چه عبدالله بن زبير ﷺ د يوشان والا صحابى دې نه معصيت کونکې وو اونه قتل اوفساد کونکې وو بلکه داکارونه تول پخپله د دغه فاسق لطيم الشيطان وو

قوله: لَا يُعِيذُ عَاصِيًا:

قاتل ته په حرم کښې د پناه ملاویدلو صورتونه: په دې جمله سره دَ فقهاؤ کرامو په مینځ کښې یو اختلاف پیدا شوې دې دَ فقهاؤ دَ اختلاف تفصیل داسې دې

① که څوک سړې دَحرم نه بهر جنایت کولو سره دننه حرم کښې پناه واخلی نو که چرې قتل دَ انسان نه علاوه جنایت وی نو اتفاقاً به قصاص اخستې شی

② که یو سړې په حرم کښې دننه دَ قتل یا زخمی کولو جنایت اوکړی نو دَ ټولو فقهاؤ اتفاق دې چه هم په حرم کښې به دَ هغه نه بدله اخستې شی او دَ هغه به قصاص اخستې شی

③که چرې بهر قتل کولو سره دننه راشی او په حرم کښې پناه واخلی نو په دې صورت کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې چه په هغه باندې به سزا نافذ کولې شی که نه؟

په دریم صورت کښې مذاهب:

① امام مالک رحمه الله او امام شافعی رحمه الله فرمائی په حرم کښې پناه اخستونکې داسې سړې به په قصاص کښې قتل کولې شی.

② امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمد رحمه الله فرمائی چه داسې سړی نه به په حرم کښې قصاص نه شی اخستې اونه ده ته په حرم کښې سزا ورکولې شی البته هغه سره به سوشل بائیکاټ کولې شی چه هغه دَ وتلو دَپاره پخپله مجبور شی او وتلو سره سزاته مخ شی

داول مذهب دلائل: ①شوافع اومالکیه دَ زیر بحث ابوشریح رضی الله عنه روایت کښې عمرو بن سعید دَ قول نه استدلال اخستې دې چه حرم یو نافرمان ته پناه نه ورکوی

جواب: د دې څخه جواب دا دې چه دا دَ یو فاسق فاجر سړی دَ قول نه استدلال دې دا صحیح نه دې په دې باندې مونږ دَ افسوس اظهار کوو چه دَ حدیث مرفوع په مقابله کښې اشدق لطیم الشیطان دَ قول نه څنګه استدلال کړې شوې دې.

② ابن خطل دَ بیت الله پردو سره اینختې اووژلې شو دې په قصاص کښې وژلې شوې وو ځکه چه ده اسلام قبولولو نه پس مرتد شوې وو او هغه یو مسلمان هم قتل کړې وو هم دَ هغه په قصاص کښې وژلې شوې وو.

جواب: دَ دې جواب دادې چه ابن خطل دَ ارتداد په بدله کښې قتل کړې شوې وو دَ قتل دَ وجې نه قصاص نه وو اخستې شوې.

د دویم مذهب دلائل:

دَ ابوشریح رضی الله عنه د روایت په بعضو طریقو کښې دا الفاظ هم راغلی دی "فلا یحل لامرئ یؤمن بالله والیوم الاخر لیسفك فیها دماً" دَدې نه معلومه شوه چه په حرم کښې په هیڅ شان سره قتل کول جائز نه دی دارنګ د آیت ﴿وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا﴾ نه هم دې حضراتو استدلال کړې دې

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٧٢٧] دَحرم په بې حرمتۍ سره به دا امت هلاکیږي

٢٧٢٧-[١٢] ( )[١] وَعَنْ عَيَّاشِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ الْمَخْزُومِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-: قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«لَا تَزَالُ هَذِهِ الْأُمَّةُ بِخَيْرٍ مَا عَظَّمُوا هَذِهِ الْحُرْمَةَ حَقَّ تَعْظِيمِهَا، [٣] فَإِذَا ضَيَّعُوا ذَلِكَ هَلَكُوا»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه [١] عیاش ابن ابي ربیعه مخزومي رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] دا امت به تر هغه وقته په خیر کې وي، تر څو چې د دې حرمت یعني د مکي او حرم مکي حرمت تعظیم کوي څرنګه چې د دې د تعظیم حق دی [٣] او هر کله چې خلق دا تعظیم پرېږدی. نو هلاك به شي، ابن ماجه

تسهیلات:

قوله: مَا عَظَّمُوا هَذِهِ الْحُرْمَةَ حَقَّ تَعْظِيمِهَا:

د بعضې سعودیانو کم فهمی: دعربو خلق سره ددې چه د بیت الله ډیر زیات احترام کوی لیکن اوس داسې محسوسیږی چه دنیا راغونډولي کیږی څکه خو عربو پخپله د بیت الله توهین او تحقیر کول شروع کړی دی بلکه بعض غافل څوانان وائی زمونږ په ترقئ کښې بیت الله رکاوټ دې. څکه چه ټول کال هم ددې دمیلمنو په خدمت کښې اخته یو د خپلو کرونودپاره اوزګارنه شو. دهغوی داوینا کول غلط دی بلکه حقیقت دادې د بیت الله او د محمد رسول الله ﷺ دوجې نه عربو ته ترقی ملاؤشوې ده که د بیت الله بې عزتی کوی نوتباه به شی. د ابن ماجه ددې حدیث هم دغه مطلب دې

[١] اخرجه ابن ماجة في كتاب المناسك باب فضل مكة (٣١١٠)

[١٥] بَابُ حَرَمِ الْمَدِينَةِ حَرَسَهَا اللّٰهُ تَعَالٰى

د حرم مدينه منوره بيان

خلاصة الباب:

فيه احد وثلاثون حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① محرمات حرم المدينة: ١، ٥، ١٨، ٢٢، أورده طردا -
② الفضلية السكنى فى المدينة النبوية: ٢، ٣، ٩، ٢٣، ٢٨-
③ دعاء النبي ﷺ للمدينة المنورة: ٤، ٧، ٨ أورده طردا -
④ العقوبة لمن لا يحترم المدينة المنورة: ٦، ٢٠، ٢١-
⑤ فضيلة المدينة المنورة وجبالها: ١٠، ١١، ١٢، ١٣، ١٤، ١٥، ١٦، ١٧، ١٨، ١٩، ٢٤، ٢٥، ٢٦، ٣٠، ٣١-
⑥ فضيلة زيارة قبر النبي ﷺ وهو فى المدينة: ٢٨، ٢٩-

د مكې د حرم او مدينې د حرم په حکم کښې فرق: دَ احناف په نيز مدينه منوره هم حرم دي دَ هغوی خلاف دا بهتان او الزام صحيح نه دي چه احناف مدينه حرم نه ګڼری. احناف مدينې منورې ته حرم وائی هم اومنی هم دَ عظمت احترام او شرافت او مقام په اعتبار سره مدينه منوره هم دغه شان حرم دي لکه چه مکه مکرمه حرم دي. ليکن احناف حرم مکه او حرم مدينه کښې ښکار او ونې پرې کول يا دَ ښکار کولو په سزا کښې فرق کوی او فرمائی چه مکه کښې ښکار کول او ونې پرې کول حرام هم دی او جنايت هم دي لهذا دَ جنايت په صورت کښې به جرم کول دَ جزاء په توګه وی ليکن په مدينه کښې دَ ښکار په صورت کښې داقسم جزاء لازم نه راځی لکه چه په حرم مکه کښې ده ائمه ثلاثه هم دَ دې قائل دی او د احنافو هم دغه موقف دي. په دې باب کښې مختلف قسم احاديث راغلی دی په دې کښې به دَ ائمه اختلاف بيا بيانولې شی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٢٧٢٨] دَ مدينې دَ حرم حدود

٢٧٢٨- [١] (¹) عَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: «مَا كَتَبْنَا عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِلَّا الْقُرْآنَ وَمَا فِيْ هٰذِهِ الصَّحِيفَةِ. ② قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ: اَلْمَدِيْنَةُ حَرَامٌ مَا بَيْنَ عَيْرٍ إِلٰى ثَوْرٍ، ③ فَمَنْ أَحْدَثَ حَدَثًا أَوْ آوٰى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ، ④ وَلَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ، ⑤ ذِمَّةُ الْمُسْلِمِيْنَ يَسْعٰى بِهَا أَدْنَاهُمْ،

¹) اخرجه البخاري فى كتاب الحج/باب حرم المدينة (رقم-١٨٧٠) ومسلم فى كتاب الحج /باب فضل المدينة. ودعاء النبي صلى الله عليه وسلم فيها بالبركة. وبيان تحريمها. وتحريم صيدها وشجرها. وبيان حدود حرمها (رقم-٤٦٧ - ١٣٧٠) - (١٣٧٣) وابوداود فى كتاب المناسك باب فى تحريم المدينة (رقم-٢٠٣٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه [١] حضرت علي وايي چې ما د نبی کریم ﷺ د طرف څخه علاوه د قرآن او هغه خبرو څخه چې په دي صحيفه کې دی نور هيڅ نه دي ليکلي. [٢] حضرت علي وفرمايل چې ما په دي صحيفه کې د نبی کريم ﷺ دا ارشاد گرامي هم ليکلي دي، چې مدينه د عير او ثور په منځ کې حرم دی. [٣] نو کوم سړی چې په مدينه کې بدعت پيدا کړي (يعني داسې خبره وکړي يا رائج کړي چې د قرآن کريم او حديث خلاف وي) يا يو بدعتي ته پناه ورکړي، نو په هغه د الله ﷻ د فرشتو او د ټولو خلقو لعنت دی. [۴] د هغه سړي څخه خو په کمل طور سره نه فرض اعمال قبليږي نه نفل. [۵] د مسلمانانو عهد يو دی، چې د هغه د پوره د هغوئ ادنی سړی هم کوشش کولی شي.

حل اللغات: ① الصَّحِيفَةِ: ليکلي شوي کاغذ، کتاب ② حَرَامٌ: أَيْ: مُحْتَرَمٌ: قابل د احترام او قابل دعزت، يا داچه د دې سپکوالي ممنوع او حرام دي ③ عَيْرٍإِلَى ثَوْرٍ: جَبَلَانِ عَلَى طَرَفَيِ الْمَدِينَةِ: د مدينې يو طرف او بل طرف ته دوه غرونه دي يو ته عير او بل ته ثور وائی ④ حَدَثًا: أَيْ: مُنْكَرًاأَوْبِدْعَةً: خلاف سنت يا بدعت ⑤ آوَى: ځاى ورکړی، ⑥ مُحْدِثًا: أَيْ: مُبْتَدِعًا: بدعتی. ⑦ صَرْفٌ: أَيْ فَرْضٌ: فرض مراد دي ⑧ عَدْلٌ: أَيْ نَافِلَةٌ: نفل مراد دي.

[١] فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ، [٢] وَمَنْ وَالَى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، [٣] لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۴] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: " «مَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ، أَوْ تَوَلَّى غَيْرَ مَوَالِيهِ، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، [٥] لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ» ".

ترجمه [١] نو کوم سړی چې د يو مسلمان عهد مات کړي، په هغه د الله ﷻ د فرشتو او د ټولو خلقو لعنت دی، نه خو د هغه فرض قبليږي، او نه نفل. [٢] او کوم سړی چې د خپلو ملګرو د اجازت څخه بغير د يو قوم سره موالات (دوستی) قائمه کړي، نو په هغه د الله ﷻ د فرشتو او د ټولو خلقو لعنت دی. [٣] نه خو د هغه فرض قبليږي او نه نفل. بخاري، مسلم. [۴] د بخاري او مسلم په يو بل روايت کې دا الفاظ هم دي کوم سړی چې د خپل پلار په ځای يو دويم طرف ته د خپل نسبت دعوی وکړي (يعني داسې اووائي چې زه د زيد خوی يم، او په حقيقت کې هغه د بکر خوی وي) يا د خپل مالك په ځای يو دويم طرف ته خپل ځان منسوب کړي (مثلاً دا اووائي چې زه د زيد غلام يا خدمتګاريم، او په حقيقت کې هغه د بکر غلام يا خدمتګار وي) نو په هغه د الله ﷻ د فرشتو او د ټولو خلقو لعنت دی. [٥] نه خو د هغه فرض قبليږي او نه نفل.

حل اللغات: ⑨ أَخْفَرَ: أَيْ نَقَضَ عَهْدَهُ: معاهده ئې ماته کړه او د هغې خلاف ورزی ئې اوکړه ⑩ وَالَى: دوستی قائم کړی، يا يو آزاد غلام د خپلو آزاديدو نسبت غير ولی ته اوکړی.

تسهیلات:

قوله: وَمَا فِي هٰذِهِ الصَّحِيفَةِ:

د حدیث پس منظر: خوځل داخبره لیکلې شوې ده چه د شیعه روافض داخیال دې چه حضوریاك د وفات نه لږ شان مخکښې حضرت علی ته د خلافت وغیره وصیت کړې وو د حضرت علی رضي الله عنه په زمانه کښې هم دا نظریه پیداشوې وه په دې وجه به خلقو د حضرت علی رضي الله عنه نه تپوسونه کول چه آیا حضوریاك تاسو ته د څه خیز وصیت فرمانیلې دې حضرت علی رضي الله عنه به همیشه دَدې تردید کولو لیکن شیعه ګان روافض دهغوی خبره هم نه منی

قوله: مَا بَيْنَ عَيْرٍ إِلَى ثَوْرٍ:

په مدینه کښې د جبل ثور وجود: علامه علی بن احمد سمهودی خپل کتاب وفاء الوفاء بأخبار دارالمصطفی کښې څو اقوال د معتبر علماؤ نه نقل کړی دی چاچه په مدینه کښې د ثور غر نه انکار کړې دې او په زیربحث حدیث کښې بې ځایه تاویلات کړی دی بیا علامه سمهودی رحمه الله دَ دغه اکابرینو اقوال هم نقل کړی دی چاچه په مدینه کښې ثور غر ثابت کړې دې

① ابوعبیده وائی "بلغني ان بالمدينة جبلاً يقال له ثور، قال المجد ثور جبل عند احد قال عبدالسلام البصري انه حذاء احد عن يساره جانحاً الى ورائه جبل صغير يقال له ثور، قال ابن تيمية رحمه الله عير جبل عند الميقات يشبه العير وهو الحمار وثور جبل في ناحية احد وهو غير جبل ثور الذي بمكة" [وفاء الوفاء: ١/٩٤].

② حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوی رحمه الله دَصاحب قاموس په حواله سره لیکلی دی او علامه ابن حجر رحمه الله دَ محققینو په حواله سره لیکلی دی چه عیر او ثور غرونه په مدینه منوره کښې دی احد سره یو وړوکې شان غر دې دکوم نوم چه ثور دې سره دَدې چه مشهور نه دې دَدې تحقیق نه پس دا اعتراض ختمیږی چه په مدینه کښې ثور غر نشته دې

قوله: ذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ:

معاهدته امن ورکول: یعنی دَ ټولو مسلمانانو ذمه واری هم یوه ده چاچه چاته امن ورکړو یانی څه معاهده اوکړه نو په ټولو مسلمانانو باندې دَدې احترام لازم دې

قوله: يَسْعَى بِهَا:

د هر مؤمن معاهده اوامان قابل قدر کیدل: یعنی مسلمان په منزله دَ یوجزء دې که چا ادنی یا اعلی یا قلیل یا کثیر معاهده اوکړه نوادنی اواعلی دَ هرطبقې فرد به هغه کامیاب جوړوی اودَهغې احترام به کوی

قوله: وَمَنْ وَالَى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ:

د ولاء معنی په مراد کښې دوه اقوال: ①دَ ولاء نه ولاء مولات هم مراد کیدې شی.

Maktaba Tul Ishaat.com

② او ولاء عتاقه هم مراد کيدې شي

مولاء دوه قسمونه: دَ "ولاء" دوه قسمونه دي

① اول قسم مولات دی يعنی که چا دَ بل سړی سره دَ دوستئی معاهده اوکړه په دورجاهليت کښې داسې معاهده کولوسره سړې دَ کورفرد جوړيدلو اودَ يوبل وارث به جوړيدو

② دويم قسم ولاء عتاقه ده هغه داچه يوسړې خپل غلام آزادکړی کله چه هغه مړشی نودَ هغه ميراث دَ هغه دَ آزادونکی کيږی په دې شرط چه دَ غلام څوك وارث نه وی اوس معتِق او معتَق دَ يوبل دوستان شو

په حديث کښې مراد ولاء: ① که په حديث اوله ولاء مراد وی نو مطلب داشو چه کوم سړی دَخپل معاهدينونه علاوه دَ بل چا طرف ته معاهده منسوب کړه نوهغه خپلو دوستانوته تکليف اورسولو په دې وجه داګناه ده اومنع ده

② اوکه چرې ولاء عتاقه مراد وی نودَحديث مطلب به دا شی چه کوم غلام دَ خپلې آزادئی نسبت دَ خپل آقانه علاوه دَ بل چاطرف ته منسوب کړو نو چونکه روستو به دَ ده دَ ميراث مسئله پيداکيږی په دې وجه دا دګناه کار دې اوناجائز دې علامه طيبی رحمه الله هم دغه دويم مطلب بيان کړې دې چه دانسبت داشان حرام دې لکه څنګه چه دَ خپل پلار په ځانی دَ غيرطرف ته نسب ناجائز دې. پاتې شوه دا خبره چه دَ خپل آقا دَ اجازت څه مطلب دې؟ آياکه دَهغه دَ طرف نه اجازت وی نودا نسبت به جائز شی؟ نوعلماؤ ليکلی دی چه دَهغه په اجازت ورکولوسره هم نه جائز کيږی.

[٢٧٢٩] دَمدينې حدوداوپه دې کښې دَ ښکارحکم

٢٧٢٩ــ [٢] (١) ① وَعَنْ سَعْدٍ ـ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ـ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "② «إِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لَابَتَيِ الْمَدِينَةِ: أَنْ يُقْطَعَ عِضَاهُهَا، أَوْيُقْتَلَ صَيْدُهَا ③" وَقَالَ: " الْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْكَانُوا يَعْلَمُونَ، ④ وَلَا يَدَعُهَا أَحَدٌ رَغْبَةً عَنْهَا إِلَّا أَبْدَلَ اللّٰهُ بِهَا مَنْ هُوَخَيْرٌ مِنْهُ، ⑤ وَلَا يَثْبُتُ أَحَدٌ عَلَى لَأْوَائِهَا وَجَهْدِهَا إِلَّا كُنْتُ لَهُ شَفِيعًا أَوْشَهِيدًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ① سعد ابن ابي وقاص رضی الله عنه راوي دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل② زه د مدينې د دوارو غرونو د غارو منځ حرام (باعظمت) ګرځوم، نو نه خو دی د دې زمکې (چې د دې دوارو غرونو په منځ کې ده) خار داري (يعني آزغی لرونکی) ونې پريکول کيږی، او نه دی . په دې کې ښکار کيږی (د ابوحنيفه رحمه الله په نزد دا ممانعت د نهي تنزيهي په طور دی)③ مدينه هغه خلقو د پاره چې په مدينه کې اوسي، بهتره ده (يعني د مدينې قيام د دنيا او عقبی د خير ضامن دی) په شرط د دې چې هغه د دې خير او بهترۍ وپيژني، نو د دې ښار

(١) اخرجه مسلم فی کتاب الحج /باب فضل المدينة. ودعاء النبی صلی الله عليه وسلم فيها بالبرکة. وبيان تحريمها. وتحريم صيدها وشجرها. وبيان حدود حرمها (رقم-٤٥٩ - (١٣٦٣) واحمد فی المسند: ١٨١/١

اقامت دې نه پریږدي، او د دنیا د آرام او راحت د پاره دا پریښودلو سره بل چیرته دي نه خي. ④ کوم سړی چې په بې رغبتي سره (یعنی بلا ضرورته) دا ښار پریږدی نو الله تعالٰی ﷻ به د هغه په ځاې بل دویم سړی مقیم کړی چې د هغه څخه بهتر وی (یعنی په بې رغبتي سره مدینه پرېښودل د مدیني د پاره نقصان نه دي، بلکه د دې د پاره مفید دی چې د هغه سړي په ځاې د هغه څخه بهتر سړی راتلو سره مقیم شي. چې د ضرورت او مجبوری تحت مدینه پرېښودل په دې حکم کې داخل نه دی) ⑤ او کوم سړی چې د مدیني په سختیو او لوږو باندې ثابت قدم اوسي (یعني په دې هري سختۍ او پریشانۍ صبر کوي) نو زه به د قیامت په ورځ د هغه شفاعت کوم، زه به د هغه د اطاعت ګواه یم. مسلم

① لَابَتَي: أَيْ: جَانِبَيْهَا: دواړه غاړې (دواړه غرونه)، ② عِضَاهُهَا: د عِضَة جمع ده. وَهِيَ كُلُّ شَجَرٍ عَظِيمٍ لَهُ شَوْكٌ: هرهغه اونه چه هغې کښې ازغی وی، ازغی داره اونه، ③ لَأْوَائِهَا: أَيْ: شِدَّةِ جُوعِهَا: سختې لوږې دمدیني، ④ جَهْدِهَا: أَيْ: مَشَقَّتِهَا: مشقت او تکلیف د مدیني

تسهیلات: قوله: إِنِّي أُحَرِّمُ:

د مدیني دحرمت بیان: دې نه وړاندې حدیث کښې لفظ حرام راغلې دې دلته دَ احرم لفظ دې او په حدیث نمبر: ۲۷۳۲ کښې دَ حرمت المدینة الفاظ دی اوس داکتل دی چه دَدې تحریم نه دَ مدیني حرم کیدل مراددی یا په دې کښې دَ ښکار دَ ممانعت طرف ته اشاره ده په دې دویم صورت کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

د مدیني د ونو کټ کولو په حرمت کښې مذاهب:

دَمدیني منورې په حرم کیدو کښې دَټولو فقهاؤ اتفاق دې البته دَ مدیني ونې پرې کول او ښکار کولو کښې اختلاف دې.

① امام شافعی رحمه الله امام احمد رحمه الله او امام مالک رحمه الله فرمائی چه دَ حرم مدینه حکم دَ مکې په شان دې لکه څنګه چه هلته ښکار وغیره ونې پرې کول منع دی دغه شان په مدینه کښې هم منع دی

② امام ابوحنیفه رحمه الله او سفیان ثوری رحمه الله فرمائی چه حرم مدینه دَ مکې دَ حرم په شان نه دې لهذا په حرم مدینه کښې ښکار کول او ونې پرې کول جائز دی البته دا مکروه تنزیهی یعنی خلاف اولی دی

داول مذهب دلائل: ① وَعَنْ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لَابَتَي الْمَدِينَةِ أَنْ يُقْطَعَ عِضَاهُهَا أَوْ يُقْتَلَ صَيْدُهَا،

په دې حدیث کښې صراحةً راغلی دی چې نبی کریم ﷺ ددې د بوټو کټ کول حرام ګرځولی دی.

② عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ فَجَعَلَهَا

Maktaba Tul Ishaat.com

حَرَامًا وَإِنِّي حَرَّمْتُ الْمَدِينَةَ حَرَامًا مَا بَيْنَ مَأْزِمَيْهَا أَنْ لَا يُهْرَاقَ فِيهَا دَمٌ وَلَا يُحْمَلَ فِيهَا سِلَاحٌ لِقِتَالٍ وَلَا تُخْبَطَ فِيهَا شَجَرَةٌ إِلَّا لِعَلَفٍ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

③ عَنْ عَامِرِ ابْنِ سَعْدٍ أَنَّ سَعْدًا رَكِبَ إِلَى قَصْرِهِ بِالْعَقِيقِ فَوَجَدَ عَبْدًا يَقْطَعُ شَجَرًا أَوْ يَخْبِطُهُ فَسَلَبَهُ فَلَمَّا رَجَعَ سَعْدٌ جَاءَهُ أَهْلُ الْعَبْدِ فَكَلَّمُوهُ أَنْ يَرُدَّ عَلَى غُلَامِهِمْ أَوْ عَلَيْهِمْ مَا أَخَذَ مِنْ غُلَامِهِمْ فَقَالَ مَعَاذَ اللهِ أَنْ أَرُدَّ شَيْئًا نَفَّلَنِيهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ وَأَبَى أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهِمْ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

استدلال: په دې درې واړه رواياتو کښې ښکار ممانعت ذکر دې اودَ ونو پرې کولو ممانعت هم دې دَ وسلې اوچتول اوجنګيدلو ممانعت هم موجود دې داتول دَدې دَحرم کيدلو دليل دې

جوابونه: چه دَ حضورپاك نه دَ مدينې په حرم کښې ښکار کول او ښکار په پنجره کښې دَ بندولو اجازت ثابت دې دَ احد غر دَ ونونه څه پرې کول اوخوړلو ترغيب ثابت دې دَ څناورو دَ خوراك دَپاره دَ ونو دَ پاڼرو پرې کولو اجازت ثابت دې نودَ ائمه ثلاثه په مستدلاتو کښې به تاويل کولې کيږي دې دَپاره چه په ټولو احاديثوکښې تطبيق راشي دغه تاويل به داسې وی

① چه حضورپاك دَ مدينې دَ کومو ونو پرې کولواوښکارکولونه منع کړې ده دا په نهي تنزيهي او خلاف اولى باندې محمول ده او په دې کښې حکمت اومصلحت دادې چه دَ مدينې منورې ښينوالې ختم نه شی لهذا دا ممانعت دَانتظامی مصحلت دَ وجې نه دې دَ حرم مدينه دَحرمت دَ وجې نه نه وو

نظير: داحکم هم داسې دې لکه چه حضورپاك دَ مدينې ښائسته غونډئی ختمولونه منع فرمائيلې وه لکه چه دَ حضرت ابن عمر ﷺ نه چا دَ حرم مدينه دَ ونو پرې کولوپاره کښې پوښتنه اوکړه نوهغوی اوفرمائيل چه دا دَ مدينې دَ غونډو دَ رانړولو په شان دی او ونی فرمائيل "انها زينة المدينة" دَ انتظامی مصحلت لاندې حضورپاك دَحرمينونه علاوه دَ طائف سره دَ وج علاقې ښکار اوونې پرې کولونه هم منع فرمائيلې وه داهم دغه شان دی.

② علامه توربشتی رحمه الله فرمائی چه حديث کښې "واني حرمت المدينة" چه کوم الفاظ دی دادَ حرمت تعظيم دَپاره دی دَ مکې په شان دَ حرمت دَپاره نه دی. بهرحال جمهورو دَ محتمل روايت نه استدلال کړې دې کوم چه يقينی نه دې.

③ الزامی جواب دادې چه دَ مکې په شان کفاره خودَجمهورو په نيزهم نه ده نوبيا وجوب څنګه؟

④ دَدې نه وړاندې حديث نه معلومه شوې وه چه دَ حرم مدينه حد بندی دَعير غر نه ترثورغر پورې ده په زير بحث حديث کښې "لابتی المدينة" الفاظ راغلی دی. دې نه پس بل حديث کښې "مازمها" الفاظ راغلی دی په دې الفاظو کښې دَ اطراف او جهات اندازه خودلې شوې ده خاص تحديدنه دې څکه چه دَ لابتی نه هغه دواړه طرفونه مراد دی چرته چه غرونه واقع دی.

ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی "لابة" توررو ورو کانړو ته وائی او "مازمیها" دَ دوو غرونو په مینځ کښې تنګ خائی ته وائی کوم چه په غرونو کښې راګیرشوې وی دَدې نه هم دَ مدینې منورې دوه طرفونه مراد دی په دې روایاتو کښې دَ حدود حرم اندازه خو شته مګر تحدید او تعین نشته دې

دَدې په مقابله کښې هغه احادیث په کوم کښې چه دَ مدینې منورې څلور واړه اطرافو تعین برید سره کړې شوې دې دا بهترین تحدید اوتعین دې خکه چه برید کښې څلور فرسخ وی او په یوفرسخ کښې درې میله وی لهذا یوبرید دولس میله فاصله ده یعنی حرم مدینه دَهرڅلورو واړو طرفونه دَ یو یو برید په اندازه دې دغه شان دَ مسلم شریف یوروایت دې "وجعل اثنی عشر میلا حول المدینة حمی" امام مالك رحمه الله فرمائی چه یوحرم الشجر دې او دویم حرم الصید دې دَ یوبرید په مسافت کښې ونې پرې کول ناجائز دی دا حرم الشجر دې او مابین اللابتین مسافت کښې ښکار کول منع دی هغه حرم الصید دې

بهرحال مدینه منوره دَ دې خایونو په مینځ کښې ده دَ دغه مقاماتو نومونه دادی ذات الجیش، شریب، اشراف المخیض، اشراف المجتهر، الحفیاء، ذوالعشیرة، یشب، ثنیة المحدث، مضرب القبة

دویم منهب دلائل: ① دَ عدم حرمت قائلین دَ سلمه بن اکوع دَ روایت نه هم استدلال کړې دې کوم چه ابن ابی شیبه او طبرانی نقل کړې دې. دَدې خلاصه داده چه حضرت سلمه بن اکوع رضی الله عنه دَ ښکار غوښه حضورپاك ته وړاندې کړه نوحضورپاك اوفرمائیل که چرې ته وادی عقیق ته ښکار له تللې نو دَ تګ په وخت به ما ته رخصت کولې او په واپسئ به ندې به مې دې استقبال کولو یاد لرئی چه وادی عقیق په حرم مدینه کښې ده

② عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ إِبْرَاهِيْمَ حَرَّمَ مَكَّةَ فَجَعَلَهَا حَرَامًا وَإِنِّيْ حَرَّمْتُ الْمَدِيْنَةَ حَرَامًا مَا بَيْنَ مَأْزِمَيْهَا أَنْ لَا يُهْرَاقَ فِيْهَا دَمٌ وَلَا يُحْمَلَ فِيْهَا سِلَاحٌ لِقِتَالٍ وَلَا تُخْبَطَ فِيْهَا شَجَرَةٌ إِلَّا لِعَلَفٍ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

په دې کښې په واضحه توګه ذکر دی چه دَ ګیاه دَ پاره دَ ونونه پاڼې شوکول جائز دی حالانکه په مکه کښې داسې کول جائز نه دی معلومه شوه چه په دواړو حرمین کښې فرق دې

③ دَ طبرانی یوحدیث دې دَ کوم الفاظ چه دادی "احد جبل یحبنا ونحبه فاذا جئتموه فکلوا من شجره ولو من عضاه" احد غریه حرم مدینه کښې داخل دې بیا دَدې دَ ونونه په لازمی توګه څه پرې کول اوخوړل دَدې خبرې دلیل دې چه په حرم مدینه اوحرم مکه کښې فرق دې

④ دَ مشکوة شریف باب المزاح کښې دَ حضرت انس رضی الله عنه دَ میرنی رور ابوعمیر دَ روایت نه استدلال کړې دې چه هغه په پنجره کښې یوه مرغئی ساتلې وه حضورپاك منع کړې نه وو بلکه دَمرغئی په مره کیدوباندې ئی تعزیت کړې او فرمائیل ئی "یا اباعمیرما فعل النغیر"؟

Maktaba Tul Ishaat.com

د حرم مدنی د ښکار کولو په جزا کښې اختلاف ① د جزا او سزا باره کښې د ائمه ثلاثه یو قول داسې دې چه د مکې په شان جزا او سزا په وی

② دویم قول داسې دې چه د جنایت کونکی سازوسامان او کپړې به په زور اخستې شی

[٢٧٢٠] د مدینې تکلیف برداشت کول د ثواب سبب دې

٢٧٢٠- [٣] ()[١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] «لَا يَصْبِرُ عَلَى لَأْوَاءِ الْمَدِينَةِ وَشِدَّتِهَا أَحَدٌ مِنْ أُمَّتِي [٣] إِلَّا كُنْتُ لَهُ شَفِيعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [١] ابوهریره ﷺ وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل زما په امت کې چې [٢] څوك هم په مدینه کې په سختې، لوږه او هلته په هر قسم تکلیف او مشقت صبر کوي، [٣] نو زه به د قیامت په ورځ د هغه شفاعت کوم. مسلم

حل اللغات: ① لَأْوَاءِ: أَيْ: بِشِدَّةِ جُوعِهَا: سخته لوږه (د مدینې).

تسهیلات:

نوټ: د دې حدیث تشریح را روانه ده چه په مدینه کښې د مشقت په بنا استوګنه اختیارولو والا ته به دا مذکوره اجر او ثواب ملاوېږي.

[٢٧٢١] د مدینې د پاره د رسول الله ﷺ د برکت دعا

٢٧٢١- [٤] ()[١] وَعَنْهُ قَالَ: «كَانَ النَّاسُ إِذَا رَأَوْا أَوَّلَ الثَّمَرَةِ جَاءُوا بِهِ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٢] - فَإِذَا أَخَذَهُ قَالَ: " اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي ثَمَرِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي مُدِّنَا، [٣] اللّٰهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ عَبْدُكَ وَخَلِيلُكَ وَنَبِيُّكَ، وَإِنِّي عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، وَإِنَّهُ دَعَاكَ لِمَكَّةَ وَأَنَا أَدْعُوكَ لِلْمَدِينَةِ بِمِثْلِ مَا دَعَاكَ لِمَكَّةَ وَمِثْلِهِ مَعَهُ [٤] ". ثُمَّ قَالَ: يَدْعُو أَصْغَرَ وَلِيدٍ لَهُ، فَيُعْطِيهِ ذَلِكَ الثَّمَرَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [١] ابوهریره ﷺ وایې چې د خلقو معمول وو، چې څه نوي میوه به یې لیده نو هغه به یې د نبی کریم ﷺ په خدمت کې راوړه، [٢] او نبی کریم ﷺ چې به هغه میوه واخسته، نو فرمایل به یې چې اې الله! ﷻ زمونږ په میوو برکت واچوي، زمونږ په ښار کې برکت واچوی، زمونږ په صاع کې برکت واچوی (صاع د یوې پیمانې نوم دی) [٣] زمونږ په مُد کې برکت واچوی (مُد هم د یوې پیمانې نوم دی)، او اې الله! ﷻ ابراهیم ﷺ ستا بنده وو ستا خاص دوست وو، او ستا نبي وو، او زه هم ستا بنده یم او ستا نبي یم، ابراهیم ﷺ ستا څخه د مکې د پاره دعا غوښتلې وه (چې دې ایت فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِنَ النَّاسِ الخ کې مذکوره

---

[١] اخرجه مسلم في باب الترغيب في سكن المدينة والصبر على لأوائها (رقم-٤٨٤ - (١٣٧٨) واحمد في المسند: ٢٨٨/٢

[٢] اخرجه مسلم في كتاب الحج /باب فضل المدينة، ودعاء النبي صلى الله عليه وسلم فيها بالبركة، وبيان تحريمها، وتحريم صيدها وشجرها، وبيان حدود حرمها (رقم-٤٧٣ - (١٣٧٣) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يقول إذا رأى الباكورة من الثمر (رقم-٣٤٥٤) وابن ماجة في كتاب الأطعمة/باب إذا أتي بأول الثمرة (رقم-٣٣٢٩) واحمد في المسند: ٣٣٠/٢

وه. او زه هم ستا څخه د مدینې د پاره دعا غواړم. دغه شان دعا چې ابراهیم ﷺ د مکې د پاره غوښتې وه. بلکه د هغه په شان نوره هم دعا یعني ابراهیم ﷺ چې کومه دعا غوښتلې وه. زه نه یواځې هغه شان دعا بلکه د هغه څخه هم دوچنده دعا غواړم، بیا ابوهریره ؓ او ویل چې د هغه څخه روسته به نبی کریم ﷺ د خپل خاندان د ټولو څخه کشر ماشوم را وغوښتلو. او هغه میوه به یې هغه ته ورکوله چې هغه وړوکي خوشحاله شي، مسلم

حل اللغات ① صَاعِنَا صاع د ناپ کولو یو مقدار او پیمانه ده چه د اته رطلو یعنی د اته پونډونو برابر دي. په دي کښې تقریبا ۱۱۲، ۵۲ سیره یا ۵۶ سیره کجوري راځی ② مُدِّنَا مد د ناپ کولو یو مقدار او پیمانه ده چه د دوه رطلو یعنی د دوو پونډونو برابر دي ③ أَصْغَرَ وَلِيدٍ: أَيْ وَلَدٍ صَغِيرٍ وړوکي ماشوم

تسهیلات: قوله: وَمِثْلَهُ مَعَهُ:

د مدینې د فضیلت مستدل: یعنی څه چه په مکه کښې دَ حضرت ابراهیم خلیل الله علیه السلام په دعا سره تا برکتونه نازل کړی دی هغه زما په دعا سره مدینې ته هم ورکړه بلکه دَ هغې په دوچنده باندې ورعطاکړه دَدې لفظ نه امام مالك رحمه الله استدلال کړې دې چه مدینه دَ مکې نه افضله ده ځکه چه کوم اجر اوثواب په مکه کښې دې دَهغې په دوچند دَ مدینې دپاره غوښتلې شوې دې مضبوط دلیل دې

[۲۷۳۲] دَمدینې دَحرمت ذکر

۲۷۳۲ - [۵] (۱) وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۲] - قَالَ: «إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ فَجَعَلَهَا حَرَامًا [۲] وَإِنِّي حَرَّمْتُ الْمَدِينَةَ [۳] حَرَامًا مَا بَيْنَ مَأْزِمَيْهَا أَنْ لَا يُهَرَاقَ فِيهَا دَمٌ، وَلَا يُحْمَلَ فِيهَا سِلَاحٌ لِقِتَالٍ [۴] وَلَا يُخْبَطَ فِيهَا شَجَرَةٌ إِلَّا لِعَلَفٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه [۱] ابوسعید ؓ د نبی کریم ﷺ څخه نقل کوي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل حضرت ابراهیم ﷺ مکې ته بزرګي ورکړه او هغه یې حرم وګرځولی یعنې د مکې بزرګی او حرمت یې ظاهر کړي [۲] او ما مدینې لره بزرګی ورکړیده. [۳] او د مدینې د دواړو غاړو د منځ د بزرګی (تقاضا) دا ده چې نه خو دې په دی کې خونریزي وشي نه دې هلته د جنګ د پاره وسله پورته کړل شي. [۴] او نه دې د دې ونو پاڼې وشنډل شي. البته د څارو د خوراك د پاره شنډل کیدی شي. مسلم

حل اللغات ① مَأْزِمَيْهَا: د مازم تثنیه د ه. أَيِ الْمَوْضِعُ الضَّيِّقُ بَيْنَ الْجِبَالِ: دَغرونو په مینځ کښې تنګ ځاني ته وائی. ددې نه مراد دواړه اطراف د مدینې دی ② لَا يُهَرَاقَ: نه به شی تویولې او بیهولې ③ لَا يُخْبَطَ: أَيْ لَا تُقْطَعُ: نه به شی شنډلې. نه به شی کټ کولې ④ لِعَلَفٍ: اسْمُ الْحَشِيشِ: د څارو وابنه. یعنی د مدینې اوني کټ کولې نه شی البته د څارو د ګیاه او ونو په طور نې شنډلې شي،

(۱) اخرجه مسلم في باب الترغيب في سكن المدينة والصبر على لأوائها (رقم-٤٧٥ - (١٣٧٤)) واحمد في المسند

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: وَإِنِّي حَرَّمْتُ الْمَدِينَةَ:

د تحريم څخه مراد: جمهور دَدې نه دَ ونو پرې کول اوښکار مراد اخلی چه دواړه ناجائز دی احناف دا لفظ په عظمت او احترام باندې حمل کوی او احترام په هر مسلمان باندې لازم دی

[٢٧٣٢]دَ حضرت سعدبن ابی وقاص رضي الله عنه عجيبه قصه

٢٧٣٢-[٦] (١) ① وَعَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ سَعْدًا رَكِبَ إِلَى قَصْرِهِ بِالْعَقِيقِ ② فَوَجَدَ عَبْدًا يَقْطَعُ شَجَرًا أَوْ يَخْبِطُهُ فَسَلَبَهُ ③ فَلَمَّا رَجَعَ سَعْدٌ جَاءَهُ أَهْلُ الْعَبْدِ فَكَلَّمُوهُ أَنْ يَرُدَّ عَلَى غُلَامِهِمْ أَوْ عَلَيْهِمْ مَا أَخَذَ مِنْ غُلَامِهِمْ، ④ فَقَالَ: مَعَاذَ اللهِ أَنْ أَرُدَّ شَيْئًا نَفَّلَنِيهِ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَبَى أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهِمْ. (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه ① عامر ابن سعد (تابعي) رحمه الله وايي چې (يوه ورځ) حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه چې په عشره مبشره کې يو جليل القدر صحابي دی، د خپلې حويلې طرف ته (چې مدينې ته نږدې) په مقام عقيق کې وه اوسيدو ته لاړو. ② په لار کې هغه يو غلام وليدلو. چې يوه ونه يې پريکوله، يا د هغه ونې څخه يې پاڼې څنډلې، حضرت سعد رضي الله عنه (په طور د سزا او تنبيه) د هغه غلام څخه جامې واخستې ③ بيا چې هغه (مدينې ته) واپس راغلو نو د غلام مالك د هغه په خدمت کې حاضر شو، او دا خبرې يې وکړې، او چې هغه کوم شی د هغه د غلام څخه اخيستی دی (يعني د هغه جامې) هغه دې غلام ته واپس ورکړي يا هغه مالکانو ته دې ورکړي. ④ حضرت سعد رضي الله عنه وفرمايل چې په الله جل جلاله پناه غواړم زه هغه څيز څرنګه واپس ورکولی شم، چې ماته نبی کريم صلی الله عليه وسلم راکړی دی، نو سعد رضي الله عنه د جامو د ورکولو څخه بالکل انکار وکړي. مسلم

حل اللغات: ① الْعَقِيقِ: اسْمُ مَوْضِعٍ قَرِيبٍ مِنَ الْمَدِينَةِ: مدينې ته نږدې د يوځائې نوم دی ② يَخْبِطُهُ: أَيْ يَخْبِطُ وَرَقَ شَجَرٍ: ونه نې څنډله چه پاڼې ترې راغورځيږی ③ فَسَلَبَهُ: أَيْ أَخَذَ ثِيَابَهُ: جامې نې ترې واخستلې. ④ نَفَّلَنِيهِ: اي جعلنيه اواعطانيه نفلا: چه دا نې زما دپاره نفل ګرځولې دی

تسهيلات:

قوله: أَنْ أَرُدَّ شَيْئًا نَفَّلَنِيهِ:

د مدينې ونې کټ کولو په کفاره کښې مذاهب:

يعنی دَ حضوراکرم صلی الله عليه وسلم وصيت ووکه چرې څوك سړې په مدينه منوره کښې ونه پرې کړی يادَهغې پاڼړې اوڅنډی نودَهغه سړی کپړې په زور واخلئی هم دغه دَ مدينې دَ ونو پرې کولوسزا ده نوما دَ حضورپاك دَ وصيت مطابق اخستې دی زه به دا کله هم واپس نه کړم

---

١) اخرجه مسلم في باب الترغيب في سكن المدينة والصبر على لأوائها(رقم-٤٦١ - (١٣٦٤))واحمد في المسند:١٦٨/١

که چرې ته د یرشورکوې نوزه به د خپل طرف نه ددې قیمت درکړم
① د امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نیز داسې سړې چه په مدینه کښې ونه پرې کړی د مکې په شان جزائی نه ده البته دا کار په مدینه کښې د کفاره اداکولونه بغیرحرام دې بعض نور علماء د مکې په شان د کفاره قائل دی
② د احنافو په نیز په مدینه کښې داعمل کول مکروه دی دلته د ونې پرې کولوذکر دې په راتلونکی حدیث نمبر(٢٧٢٥)کښې دی چه حضرت سعد رضي الله عنه د ښکارمتعلق د ښکاری سامان اخستې دې

[٢٧٢٤] دمدینې د هوادپاره د رسول اکرم ﷺ دعا

٢٧٢٤- [٧] (١) ① وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ " «لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمَدِينَةَ ② وُعِكَ أَبُو بَكْرٍ وَبِلَالٌ، فَجِئْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَخْبَرْتُهُ ③ فَقَالَ اللّٰهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الْمَدِينَةَ كَحُبِّنَا مَكَّةَ أَوْ أَشَدَّ ④ وَصَحِّحْهَا وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِهَا وَمُدِّهَا ⑤ وَانْقُلْ حُمَّاهَا فَاجْعَلْهَا بِالْجُحْفَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې نبی کریم ﷺ او صحابه رضي الله عنهم چې مکې څخه په هجرت مدینې ته راغلل، ② نو حضرت ابوبکر رضي الله عنه او بلال رضي الله عنه په تبه کې مبتلا شو، نو زه د نبی کریم ﷺ په خدمت کې حاضره شوم، او د هغوئ د ناجوړی څخه مې خبر کړي، ③ نو نبی کریم ﷺ دا دعا وغوښتله، اې الله! ﷻ ته مدینه زمونږ محبوبه جوړه کړې، څرنګه چې تا مکه زمونږ محبوبه جوړه کړې وه، بلکه د هغه څخه هم زیاته ④ او د مدینې اوبه او هوا درست کړې او د مدینې په صاع او مد کې زمونږ د پاره برکت عطا کړې، ⑤ او د مدینې تبه (یعني د تبې کثرت او وباء) د دی ځای څخه ویستلو سره جحفه ته منتقل کړې، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① وُعِكَ: الْوَعْكُ الْحُمّٰى: وَعْك سختې تبې ته وائی ② حُمَّاهَا: أَيْ وَبَاءَهَا وَشِدَّتَهَا: تبه د مدینې (د مدینې د تبې تکلیف او سختی) ③ بِالْجُحْفَةِ: جحفه د مکې او مدینې په مینځ کښې د یومقام نوم دې کوم ته چه نن صبا رابغ وائی هغه وخت به دلته یهود اوسیدل په دې وجه حضورپاك دا دعا اوکړه

تسهیلات: **قوله:** وُعِكَ:

د مدینې منورې دآب وهوا ناساپه راتلل: سختې تبې ته وائی دمکې مکرمې آب وهوا زیاته صحت منده وه ددې ځائی نه چه صحابه کرام کله مدینې ته لاړل نو بیماران شو ځکه چه مدینه د سمندر په غاړه ده ددې آب وهوا دومره صحت منده نه وه. نو بیا حضورپاك دمدینې وبائی مرضونه دجحفې طرف ته منتقل کولو دعا اوغوښتله. الله تعالی دعا قبوله کړه دعا دا وه "اللهم حبب الینا المدینة الخ"

١) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب كراهية النبي صلى الله عليه وسلم أن تعرى المدينة (رقم-١٨٨٩) ومسلم في باب الترغيب في سكن المدينة والصبر على لأوائها (رقم-٤٨٠ - (١٣٧٦) (١/٢/١٠٠١) واحمد في المسند: ٥٦/٦

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: وُعِكَ أَبُوبَكْرٍ وَبِلَالٌ:

په ابوبکر او بلال رضی الله عنهما تبه راتلل: د حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه اوحضرت بلال رضي الله عنه نوم نی په خاص توګه خکه واخستلو چه هغوی د تبې د مصیبت په وخت مکه یادولوسره یوځو شعرونه ونیلی وو حضرت ابوبکر رضي الله عنه اوفرمانیل

کل امرء مصبح فی اهله　　　والموت ادنی من شراك نعله

حضرت بلال رضي الله عنه د مکې د اوبو د چینو او وښو نوم اخستو سره داسې اوفرمانیل

الالیت شعري هل ابیتن لیلة　　　بوادوحولی اذخروجلیل

وهل اردن یوما میاه مجنة　　　وهل تبدون لی شامة وطفیل

[۲۷۳۵] د مدینې د پاره د رسول الله ﷺ دعاقبوله شوه

۲۷۳۵-[۸] (۱) ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ فِي رُؤْيَا النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْمَدِينَةِ ۲ «رَأَيْتُ امْرَأَةً سَوْدَاءَ ثَائِرَةَ الرَّأْسِ خَرَجَتْ مِنَ الْمَدِينَةِ حَتَّى نَزَلَتْ مَهْيَعَةَ، ۳ فَتَأَوَّلْتُهَا أَنَّ وَبَاءَ الْمَدِينَةِ نُقِلَ إِلَى مَهْيَعَةَ وَهِيَ الْجُحْفَةُ»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه ۱ عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما مدینې سره متعلق د نبی کریم ﷺ د خوب په سلسله کې دا حدیث نقل کوي ۲ چې نبی کریم ﷺ وفرمایل چې ما یوه توره ښځه ولیده. چې د هغه وښتان خواره واره (بیر) وو هغه د مدینې څخه ووتله مهیعه ته لاړه. ۳ بیا نبی کریم ﷺ وفرمایل چې ما د دې خوب تعبیر دا وخکلی، چې د مدینې وباء مهیعه یعنی د جحفه طرف ته منتقل کړل شویده. بخاري

حل اللغات: ① ثَائِرَةَ الرَّأْسِ: بیر سر والا. چې ویښته نې ګډ وډ وی ② مَهْيَعَةَ: هم دې ته جحفه وانی ③ فَتَأَوَّلْتُهَا: د دې نه مراد تعبیر کول دی.

[۲۷۳٦] مدینه پریښودل او بل ځانی سکونت اختیارول مناسب نه دی

۲۷۳٦-[۹] (۲) ۱ وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ أَبِي زُهَيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ۲ «يُفْتَحُ الْيَمَنُ فَيَأْتِي قَوْمٌ يَبُسُّونَ فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِيهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ، وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ، ۳ وَيُفْتَحُ الشَّامُ فَيَأْتِي قَوْمٌ يَبُسُّونَ فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِيهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ، وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ، ۴ وَيُفْتَحُ الْعِرَاقُ فَيَأْتِي قَوْمٌ يَبُسُّونَ فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِيهِمْ وَمَنْ أَطَاعَهُمْ، وَالْمَدِينَةُ خَيْرٌ لَهُمْ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ۱ سفیان ابن ابن زهیر رضي الله عنه وایي چې ما واوریدل. نبی کریم ﷺ فرمایل ۲ هر کله چې یمن فتح شي. نو په مدینه کې به داسې خلق پیدا شي چې د محنت او مشقت څخه

---

[1] اخرجه البخاری فی کتاب التعبیر/باب المراة السوداء (رقم-۷۰۳۹) والترمذی فی کتاب الرؤیا عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی رؤیا النبی صلی الله علیه وسلم المیزان والدلو (رقم-۲۲۹۰) وابن ماجة فی کتاب تعبیر الرؤیا/باب تعبیر الرؤیا (رقم-۳۹۲۴) واحمد فی المسند:۱۰۷/۲

[2] اخرجه البخاری فی کتاب الحج/باب من رغب عن المدینة (رقم-۱۸۷۵) واحمد فی المسند:۲۲۰/۵

نږې اوسیدو سره د دنیا د راحت او آرام طلب ګار به شي، نو هغه خلق به خپل اهل وعیال سره د مدینې څخه ولاړ شي، حالانکه مدینه به د هغوئ د پاره بهتر ځای وي. که هغوئ د مدینې بهترې وپیژني، نو مدینه به نه پرېږدي. ۲ هر کله چې شام فتح شي، نو یوه ډله به راشي، هغه خلق به د خپل اهل وعیال سره د مدینې څخه ولاړ شي. حالانکه مدینه به د هغوئ د پاره بهتر ځای وي، که هغه وربانديږ پوهه شي. ۳ دغه شان چې عراق فتح شي، نو یوه ډله به راشي، هغه خلق به د خپل اهل وعیال اخستو سره د مدینې څخه ولاړ شي. حالانکه مدینه به د هغوئ د پاره بهتر ځای وي. که هغه وربانديږ پوهیږي ،نو مدینه به نه پرېږدي، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① يَبُسُّونَ: أَيْ يَسِيرُونَ سَيْرًا شَدِيدًا: تیز او په منډه منډه به ځي ،دمدینې نه به اوځي، ② فَيَتَحَمَّلُونَ: أَيْ يَرْتَحِلُونَ: نو کوچ به اوکړي یعنی لاړ به شي ،د مدینې نه،

تسهيلات:

قوله: فَيَتَحَمَّلُونَ بِأَهْلِيهِمْ:

د حدیث په مطلب کښې دوه اقوال: ① دَدې جملې یومطلب دا کیدې شي چه کله یمن فتح شي نو په مدینه کښې به هغه وخت څه داسې خلق پیدا شوی وی چه دَ مدینې سکونت به پرېږدی اودَیمن طرف ته په منډه ځی حالانکه دَهغوی دَپاره به مدینه بهتره وی په دې صورت کښې دا دَ حضورپاك دَ طرف نه دَ مستقبل باره کښې پیشنګوئی ده

② دویم مطلب ئې دا کیدې شي چه کله یمن فتح شي نوڅه خلق به دَ مدینې نه یمن ته راشی اودَ دې معانئه به اوکړی دَهغوی به یمن خوښ شي نوواپس به لاړشی دَ مدینې نه به خپل بال بچ راوچت کړی او یمن ته به ئې راولی حالانکه دَهغوی دَپاره مدینه بهتر ده که په هغوی کښې لږ شان هم شعور وی

مدینه د پرېښودو ځاي نه دې: ځکه چه مدینه په دینی او دنیاوی هرلحاظ سره دَبرکتونو نه ډك ښاردې دا یومهبط وحی ده اودلته عظیم پیغمبر آرام فرمادې

بأخير من دفنت بالقاع اعظمه　　　فطاب من طيبهن القاع والاكم
نفسي الفداء لقبر انت ساكنه　　　فيه العفاف وفيه الجود والكرم
فلک پہ ڈھونڈتا تھا جس کو اختر　　　زمیں پہ وہ خزانہ مل گیا ہے

په حدیث کښې دشام او عراق ذکر: کومه تشریح چه دَ یمن پورته کړې شوې ده هم دغه تشریح دَ شام اوعراق متعلق هم ده حضورپاك پیشنګوئی فرمائیلې چه یمن شام اوعراق به فتح کیږی داعلاقې به ښنې او آبادې وی نودَمدینې څه خلق به هلته دَ تلو خواهش ښکاره کوی نبی کریم ﷺ داسې خلق په ترغیبی انداز کښې پوهه کړل مدینه بهتر ده دَدې خالی کولوسره نورو علاقو ته مه ځئی په دې سره به دَدې ښار رونقونه کم شي

Maktaba Tul Ishaat.com

[۲۷۳۷] كله چه مدينه دارالخلافه وی مسلمان به فاتح وی

٢٧٣٧-[١٠] ( )[١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:[٢] «وَأُمِرْتُ بِقَرْيَةٍ تَأْكُلُ الْقُرَى». يَقُولُونَ يَثْرِبَ وَهِيَ الْمَدِينَةُ تَنْفِي النَّاسَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه [١] ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] ماته د يوې داسې ابادۍ طرف ته د هجرت کولو حکم راکول شوی دی، چې په ټولو اباديو به غالبه وي، او هغه ابادۍ ته خلق يثرب وايي، [٣] او اوس هغه مدينه ده، چې خراب خلق د خان څخه داسې اوباسي، څرنګه چې بټۍ د وسپنې څخه خيرې اوباسي، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① تَأْكُلُ الْقُرَى: أَيْ تَغْلِبُهَا: غالب به راځي په نورو آبادو او ښارونو باندې لکه انصار د مدينې چه په اسلام راوړلو سره په نورو ښارونو غالب شو، ② يَثْرِبَ: فَهُوَ اللَّوْمُ وَالتَّوْبِيخُ: د يثرب معنی ده ملامتيا او زورونه، دا د مدينې زوړ نوم وو، د اسلام په برکت سره ددې نوم مدينه طيبه کېخودې شو يعنی پاک او عزت مند ښار ③ تَنْفِي النَّاسَ: أَيِ الْخَبِيثِينَ: تَنْفِي په معنی د نفی ده دلته ترې مراد ويستل دی اود الناس نه پليت او شرير خلق مراد دی، يعنی دا مدينه اوباسی هغه خلق چه پليت او شرير وی ④ الْكِيرُ: دلوهار بټۍ، ⑤ خَبَثَ: پليتئ ته وائی دلته ترې مراد د اوسپنې زنګ دې

تسهيلات:

قوله: تَأْكُلُ الْقُرَى:

د تاکل مفهوم: يعنی ماته الله تعالی دَداسې ښارطرف ته دَ هجرت کولوحکم راکړې دې چه دَ دنيا ټول ښارونه به اوخوری دَدې جملې مطلب دادې چه کوم خلق مدينه کښې دَ اوسيدو ځائی جوړوی نوهغه په نورو خلقو باندې غالب راځی اودَ مدينې ښاردَ دنيا ټول ښارونه فتح کوی اوخپل ماتحت ئی جوړوی

د مدينې خصوصيت: دَدې ښارخصوصيت دادې چه دا دَکومو خلقو مرکز جوړشو باقی علاقې به دَ دغه خلقو په لاس کښې وی چنانچه په تاريخی اعتبارسره علماؤ ليکلی دی

① کله چې عمالقه مدينه خپل مرکز جوړکړو نوهغوی دَ نورو علاقودَپاره فاتح پاتې شو

② کله چه يهوديانودا مرکز جوړکړو نوهغوی په عمالقه باندې غالب راغله

③ بيا چه کله اوس اوخزرج داخپل مسکن جوړکړو نوهغوی په يهودو باندې غالب راغله بيا چه کله حضورپاک خپلو مهاجرينو ملګرو سره مدينې ته تشريف راوړو نومهاجرين او انصار په يهودو باندې غالب راغله

[١]) اخرجه البخاری فی كتاب الحج/باب فضل المدينة وأنها تنفی الناس (رقم-١٨٧١)ومسلم فی كتاب الحج /باب المدينة تنفی شرارها (رقم-٤٨٧ - (١٣٨٢) والترمذی فی كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل المدينة(رقم--٣٩٢٠)واحمدفی المسند: ٢/٣٨٤

④ بيا چه كله دا ښار د اسلامي خلافت مركز جوړ شو نوهغوى د دنيا ټول ښارونه فتح كړل.
يعني دور نبوى دور صديقي دور عمرى او دورعثمانى كښې چه تركومې پورې مدينه
دخلافت مركز پاتې شو نواسلام په فاتحانه انداز سره وړاندې تللو
⑤ بيا دحضرت على رضي الله عنه په دوركښې مركز د مدينې په ځانى كوفه جوړشو نواسلامى
فتوحات رامنع شو

قوله: يَقُولُونَ يَثْرِبَ:

د يثرب نوم وئيلو د ممانعت وجه: دمدينې پخوانې زوړ نوم يثرب وو دكوم معنى چه هلاك
او فساد او د زجر اوتوبيخ راځى يا د يوظالم سړى په نوم باندې دا نوم وو حضورپاك د دې
نوم مدينه كيخودو ځكه چه يثرب د معنې په اعتبار سره ښه نوم نه وو يا د يوكافر په
تارځى يادګار باندې دا نوم وو اوحضورپاك به خراب نومونه په ښو نومونوسره بدلون. او س
ورته يثرب وئيل جائز نه دى.

قوله: الْكِيرُ:

د تشبيه وجه: لوهار چه كله اوسپنه په كوټله كښې ايږدى نوهغه كوټله د خاورې نه جوړه
يوه ګول چوتره كښې وى لكه چه دا يوه بهټئى وى په دې چوتره كښې د شاطرف نه يو
سوړې وړاندې كيخودې شوې كوټلې طرف ته راوځى په دې سورى كښې لوهار مشكيزه
ايږدى اوبوسرې دې مشكيزې له په دواړو لاسونو باندې حركت وركولوسره هوا وركوى او
بيائى وړاندې د بهټئى طرف ته ورپريږدى په كوم سره چه اوسپنه ګرميږى او نرمه شى هم
دغه مشكيزې ته په دې حديث كښې الكير وئيلې شوې دې

قوله: خَبَثَ الْحَدِيدِ:

د باطل پرستو دپاره په مدينه كښې د سكونت مشكل كيدل: دې نه مراد د اوسپنې خيرې
وغيره دې اوسپنه چه كله ګرمه شى سره شى نود هغې نه خيرې لاړشى اود خيزونود
جوړولودپاره اوسپنه خالص پاتې كيږى دغه شان مدينه منوره خبيث اوخرابې عقيدې والا
خلق د ځېل ځان نه بهر اوباسى

[٢٧٣٨] دالله تعالى د طرف نه دمدينې نوم

٢٧٣٨-[١١] (١) ① وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَقُولُ ② «إِنَّ اللّٰهَ سَمَّى الْمَدِينَةَ طَابَةَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ① جابر ابن سمره رضي الله عنه وايې چې ما واوريدل چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم دا فرمايل ② الله تعالى د مدينې نوم طابه ايښى دى او په يو بل روايت كې طيبه دى،، مسلم

حل اللغات: ① طَابَةَ: د طابه معنى د شرك څخه پاكه. اودانسانى طبعيتونو سره موافقه.

(١) اخرجه مسلم في كتاب الحج /باب المدينة تنفى شرارها (رقم-٤٩١ - (١٣٨٥) واحمد في المسند: ١٠٨/٥

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: إِنَّ اللهَ:

د مديني منورې بل نوم: يعنى الله تعالى دَ محمد عربى ﷺ په ژبه مبارکه باندې دَ مديني نوم طابه کيخودو او په يوروايت کښې دَ طيبه لفظ دې دَ کوم معنى چه پاك خوشحاله اوتازه راخى دَ مديني ښارهم دَ شرك نه پاك دې اودې اوسيدونکى هم خوشحاله اوتازه دى دَ مديني دَ ۹۴ نومونوذکر دې نه وړاندې تيرشوې دې

[٢٧٢٩] غلط خلق دَ مديني منورې نه تختي

٢٧٣٩ـ[١٢] (١) ① وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ «أَنَّ أَعْرَابِيًّا بَايَعَ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ② - فَأَصَابَ الْأَعْرَابِيَّ وَعَكٌ بِالْمَدِينَةِ، ③ فَأَتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ أَقِلْنِي بَيْعَتِي، ④ فَأَبَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ أَقِلْنِي بَيْعَتِي فَأَبَى. ⑤ ثُمَّ جَاءَهُ فَقَالَ أَقِلْنِي بَيْعَتِي فَأَبَى فَخَرَجَ الْأَعْرَابِيُّ فَقَالَ: رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِنَّمَا الْمَدِينَةُ كَالْكِيرِ تَنْفِي خَبَثَهَا وَيَنْصَعُ طِيبُهَا». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه ① جابر ابن عبد الله ﷺ وايي چې يوه صحرايي د نبى کريم ﷺ (په خدمت کې د ياتې کيدو د نبى کريم ﷺ سره) بيعت وکړي ② يو څه ورځي وروسته) هغه د مديني په سخت تبه کې مبتلا شو (او په دې صورت کې د هغه په مدينه کې اوسيدل خوښ نشو او د هغه ځاى څخه د تلو اراده يې وکړه) ③ نو د نبى کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو. هغه اوويل چې اې محمده ﷺ ته زما بيعت فسخ کړه، ④ خو نبى کريم ﷺ انکار وکړي، هغه بيا د نبى کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو، هغه اوويل چې زما بيعت منسوخ کړه. نبى کريم ﷺ دا خل هم انکار وکړي، د دې څخه روسته هغه بيا راغلو او هغه اوويل چې زما بيعت فسخ کړه. نبى کريم ﷺ بيا انکار وکړي، ⑤ نو هغه د نبى کريم ﷺ د اجازت څخه بغير د مديني څخه وتښتيدلى (نبي کريم ﷺ ته چې د دې علم وشو) نو وي فرمايل چې مدينه د بټۍ په شان ده چې خپلى خيرې لرې کوي او خپل ښه سرى ښائسته کوي (يعني خراب سړى بهر اوباسي، او پاك باطن او مخلص سړى د پليت ذهن او بد طينت سړي څخه جدا کوي) بخاري، مسلم

حل اللغات: ① وَعَكٌ: أي الحُمّى: وَعك سختې تبې ته وائى ② أَقِلْنِي: دا استعاره ده د إِقَالَةِ البَيْعِ نه، وَهُوَ إِبْطَالُهُ يعنى بيع فسخ کول. نوده هم د بيعت فسخ کولو مطالبه اوکړه ③ خَبَثَهَا: پليتۍ ته وائى دلته ترې مراد خيرې او زنګ دې ④ وَيَنْصَعُ: د يمنع په وزن دې خالص کوى، پاکوى

---

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب: لا يدخل الدجال المدينة (رقم-١٨٨٣) ومسلم في باب في خروج الدجال ومكثه في الأرض. ونزول عيسى وقتله إياه. وذهاب أهل الخير والإيمان. وبقاء شرار الناس وعبادتهم الأوثان. والنفخ في الصور. وبعث من في القبور(رقم-١٢٣ - (٢٩٤٣) وأحمد في المسند ٣٠٦/٣

[٣٧٤٠] د مديني څخه د خرابو خلقو وتل

[١٣] (١) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَنْفِيَ الْمَدِينَةُ شِرَارَهَا كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه ① ابو هريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② قيامت به تر هغه وقته نه راځي تر څو چې مدينه خپل شرير (يعني خراب) خلق داسې ونه اوباسي څرنګه چې بټۍ د وسپنې څخه خيري اوباسي، مسلم

حل اللغات: ① تَنْفِيَ: أَيْ تُخْرِجَ: تَنْفِيْ په معنى د نفى ده دلته ترې مراد ويستل دى اود الناس نه پليت او شرير خلق مراد دى. يعنى دا مدينه اوباسى هغه خلق چه پليت او شرير وى

تسهيلات:

قوله: أَقِلْنِي بَيْعَتِي:

د ايمان د بيعت د ماتولو عدم جواز: دې كلي وال دَ ايمان دا سودا لكه دَ تجاتر سودا ګڼړلي وه كه دَ اخستلونه پس ئې خوښ نه شي نو واپس به ئې كړى حضورپاك دَهغه مطالبه ختمه كړه ځكه چه دَاسلام دَ بيعت فسخ كول جائزنه وو دغه شان كه دا بيعت په مدينه كښې دَ اوسيدو وو نوبيا هم دَهغې فسخ كول مناسب نه ووځكه چه په دې سره به دَ مديني هجران لازم راتللو په دې وجه حضورپاك صفا انكاراوكړو هغه سړي بغيردَ اجازت نه لاړو نو حضورپاك اوفرمائيل چه دَمديني مثال دَ اوسپني دَ بهټۍ دې كه اوسپنه خيرنه وى نودَهغې خيري وغيره هم لرې كوى اوكه چرې اوسپنه صفا وى نوهغه نوره هم پرقه وى دغه شان كه په مدينه كښې خراب خلق اوسيږى نومدينه هغه بهر اوباسى اوكه چرې ښه خلق اوسيږى نومدينه هغوى نور صفا اوښائسته كوى

په مدينه كښې د خرابو خلقو په اوسيدلو اشكال: اوس سوال دادې چه دغه وخت په مدينه كښې ډيرزيات خبيث خلق پټ شوى دى دَاهل بدعت بريليانو ځايونه دى او ډيرزيات خلق چه دَ هغوى باطن خراب دې هلته اوسيږى دَ خراب باطن خلق هلته اوسيږى نودَ مديني دغه ذكر شوي خاصيت ولې نه ښكاره كيږى؟

جوابونه: ① رومبي جواب دادې چه دَ مديني داخاصيت دَ رسول الله ﷺ مباركې زماني سره وو

② دَ مديني دَ خاصيت دَ ظهوردا حكم به قرب قيامت كښې وى كله چه دجال مديني ته رانيزدې شي نو په مدينه كښې به درې ځل زلزله راځى دَ كوم په وجه چه دننه اوسيدونكي ټول منافقان مدينه پريخودوسره دجال سره دَ ملاقات دَ پاره ځى

(١) اخرجه مسلم في صحيح رقم الحديث ٤٨٧ / ١٣٨١

Maktaba Tul Ishaat.com

⑦ دا هم كيدې شي چې دَدې خاصيت تعلق هرې زمانې سره نه وي اومفسد خلق مدينه منوره وخت په وخت بره كوي اودَ زمانې حالات په دې گواه دي كه چرې داسې جملې بې راشي نوهغه هم د دې توضيح په رڼا كښې كنټرول پكاردي

[۲۷٤١] مدينه به دَدجال دَداخليدو اوطاعون دَمرض نه محفوظ وي

۲۷٤١-[١٤] ( ) ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②«عَلَى أَنْقَابِ الْمَدِينَةِ مَلَائِكَةٌ لَا يَدْخُلُهَا الطَّاعُونُ وَلَا الدَّجَّالُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② دَ مديني په لارو يا د هغه په دروازو په طور د نگهبان فرښتي متعين (مقرري) دي. نه خو به په مدينه كې د طاعون ناروغي داخليږي، او نه به هلته دجال داخليږي، بخاري، مسلم

حل اللغات ① أَنْقَاب: جمع د نَقْب ده په سكون د قاف سره. وَهُوَالطَّرِيقُ بَيْنَ جَبَلَيْنِ: د دوه غرونو په مينځ كښې لارې ته وائي، خو دلته ترې مطلق لار مراد ده. يا ددې نه مراد دروازې دي ② الطَّاعُونُ: طاعون يو وبائي مرض دې چه په دې كښې د بدن په نرم ځائې مثلاً ترخ، پندې يا خيټه وغيره بندې زخم پيدا كيږي

تسهيلات:

قوله: عَلَى أَنْقَابِ الْمَدِينَةِ مَلَائِكَةٌ:

د انقاب په مصداق كښې دوه اقوال:

① امام طيبي فرمائي چه ددې نه مراد مطلق لاره ده چه كومه هم مدينه طرف ته ورځي

② دأنقاب نه مراد د مديني دروازې دي.

قوله: لَا يَدْخُلُهَا الطَّاعُونُ.

دطاعون په مصداق كښې دوه اقوال: ① طاعون نه مراد د طاعون بيماري ده

② دطاعون نه هر يو وبائي مرض چه مدينه ته به يو مرض هم نشي داخليدې

[۲۷٤۲] د مديني حفاظت

۲۷٤۲-[١٥] ( ) ① وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②«لَيْسَ مِنْ بَلَدٍ إِلَّا سَيَطَؤُهُ الدَّجَّالُ إِلَّا مَكَّةَ وَالْمَدِينَةَ ③ لَيْسَ نَقْبٌ مِنْ أَنْقَابِهَا إِلَّا عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ صَافِّينَ يَحْرُسُونَهَا ④ فَيَنْزِلُ السَّبَخَةَ فَتَرْجُفُ الْمَدِينَةُ بِأَهْلِهَا. ثَلَاثَ رَجَفَاتٍ ⑤ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِ كُلُّ كَافِرٍ وَمُنَافِقٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1] اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب: لا يدخل الدجال المدينة (رقم-١٨٨٠) ومسلم في صحيح رقم الحديث ١٣٧٩/٤٨٥ واحمد في المسند ٢٩٣/٣

[2] اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب: لا يدخل الدجال المدينة (رقم-١٨٨١) ومسلم في باب في خروج الدجال ومكثه في الأرض. ونزول عيسى وقتله إياه. وذهاب أهل الخير والإيمان. وبقاء شرار الناس وعبادتهم الأوثان. والنفخ في الصور. وبعث من في القبور(رقم-١٢٣ - (٢٩٤٣) وأحمد في المسند ١٩١/٣

ترجمه [١] حضرت انس رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د مكې او مدينې څخه علاوه داسې هيڅ ښار نشته ، چې دجال يې پايمال (تر پښو لاندې) نه كړي مګر مكه اومدينه. [٣] او د مكې او مدينې دلارو څخه داسې يوه لار نشته ، چې په هغه صف ترلي فرښتې ولاړې نه وي، چې د دې ښار نګهباني كوي [٤] (هر كله چه) دجال (د مدينې څخه) بهر په ښرناكه زمكه كې معلوم شي، نو مدينه به دخپلو وسيدونكو سره (د زلزلې په صورت كې) درې ځله وخوزي، [٥] چې د هغه په نتيجه كې به هر كافر او منافق د مدينې څخه راووځي او دجال ته به ورشي، بخاري، مسلم

حل اللغات: ① سَيَطَئُوهُ: أَيْ يَدْخُلُهُ وَيُفْسِدُهُ: پائمال به نې كړي يعنې ورته به داخل شي او فساد به پكښې پيدا كړي ② صَافِّيْنَ: صف ترلي به ولاړې وي ③ يَحْرُسُونَهَا: أَيْ يَحْفَظُوْنَ أَهْلَهَا: د مدينې دخلقو حفاظت به كوي ④ السَّبِخَةَ: شاره اوبنجرزمكه، دا د مدينې نه بهر مدينې سره نزدې ځائې دي ⑤ فَتَرْجُفُ: د مضارع نه، أَيْ تُحَرِّكُهُمْ وَتُزَلْزِلُهُمْ: اوبه خوزيږي، اوبه جرقيږي.

قوله: فَيَنْزِلُ:

د دجال په سورلئ كښې اقوال: ① دَدې نزول نه ورداخليدل هم مراد اخستې شي

② ممكن ده چرته داسې سورلى وى چه دَ جهاز په شان په هوا كښې چليږى اوبيا په هغه مقام باندې راكوز شي.

③ بعض علماء فرمائى چه دَ دجال دَ خر نه يوقسم جهاز مراد دي

قوله: السَّبِخَةَ:

د سبخة مصداق: سبخه دَهغه ځائى دَ زمكې دا صفت دي. كيدې شي چه دَ مدينې ائيرپورټ سره خواوشا علاقه مراد وى.

[٢٧٤٣] اهل مدينه سره دَفريب كونكى سزا

٢٧٤٣-[١٦] (١) [١] وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «لَا يَكِيدُ أَهْلَ الْمَدِينَةِ أَحَدٌ [٢] إِلَّا انْمَاعَ كَمَا يَنْمَاعُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [١] حضرت سعد رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل كوم سړى چې د مدينې د اوسيدونكو سره مكر او فريب كوي، [٢] هغه به داسې ويلى شي، څرنګه چې مالګه په اوبو كې ويلې كېږي. بخاري، مسلم

حل اللغات: ① لَا يَكِيدُ: أَيْ بِالْمَكْرِ وَالْخِدَاعِ: دهوكه او فريب دې نه كوى ② انْمَاعَ: أَيْ ذَابَ وَهَلَكَ: په اوبوكښې د مالګې ويلى كيدل او ختميدلو ته انماع وائى. ددې نه مراد هلاكيدل او ختميدل دى

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحج / رقم الحديث ١٨٧٧، ومسلم في صحيح رقم الحديث ٤٩٤ / ١٣٨٧ وابن ماجة رقم الحديث ٣١١٤

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله انماع: يزيد د مديني خلق اوويرول اود هغوى خلاف ئى مكر اوفريب اوكرو نودحق تنكو اوسل بيمارئ كښې داسې راګيرشو چه په ويلى كيدوسره خوانى مرګ مرشو

ديزيدانجام: په تاريخ اسلام كښې چې كوم بدنام سړي تيرشوي دي يعنى يزيد هغه چې د اهل بيتو سره كوم ظلم اوكړو نو هم دا انجام ئې شو، چې د حره د واقعه څخه پس په يوه داسې بيمارئ بندې اخته شو چې د بدن غوښې به ئې رژيدلې اوپه داسې خراب مرګ بندې مړ شو امضـ هرحق

[٢٧٤٤] مديني سره د حضورپاك محبت

--س--[١٧] (١) وَعَنْ أَنَسٍ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ فَنَظَرَ إِلَى جُدُرَاتِ الْمَدِينَةِ أَوْضَعَ رَاحِلَتَهُ، وَإِنْ كَانَ عَلَى دَابَّةٍ حَرَّكَهَا مِنْ حُبِّهَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه [١] حضرت انس ﷺ وايي[٢] نبى كريم ﷺ چې به د يو سفر څخه واپس راتلو نو د مديني منورې ديوارونه (يعني د هغى آبادى) ليدو سره خپل اوښ به يې زغلولى.[٣] او كه په اس يا قچر به سور وو. نو هغه به يي تيزه وله او دا په دي وجه وو. چې نبى كريم ﷺ د مديني سره محبت وو. بخاري

حل اللغات ① جُدُرَاتِ: جمع د جُدُر ده او دا جمع د جِدَار ده، ديوال ته وائى ② أَوْضَعَ: أَيْ أَسْرَعَ سورلى ئې تيزه اوزغلوله

تسهيلات:

قوله أَوْضَعَ:

د نبى عليه السلام مديني سره محبت: سورلى تيز زغلولوپه معنى كښې دي د حضورپاك مديني منورې سره دومره محبت وو چه د دې آثار اونښانات د لرې نه په كتو سره په تادئى سره د رسيدو جذبه اوشوق به ئى رابيداريدو نواوښ يا اس به ئى تيز زغلولو دې د پاره چه زر اورسيږى

يوشاعر وئيلى دى

واعظم مايكون الشوق يوما   اذادنت الخيام من الخيام

ترجمه [١] په هغه ورځ د محبوب د ليدو شوق ډير زيات وى كله چې د عاشق خيمه د معشوقې د خيمې سره نزدې وى

---

[١]) اخرجه البخاري في كتاب الحج /باب: المدينة تنفي الخبث(رقم - ١٨٨٦) والترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم - ٣٤٤١) وأحمدفي المسند: ١٥٩/٣

[٢٧٤٥] دَاحد غر فضيلت

-[١٨] (١) وَعَنْهُ «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - طَلَعَ لَهُ أُحُدٌ ۲ فَقَالَ هٰذَا جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ، ۳ اللّٰهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ حَرَّمَ مَكَّةَ وَإِنِّي أُحَرِّمُ مَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ١ حضرت انس رضي الله عنه وايي د نبي كريم ﷺ نظر چې په أحد غره ولګيدي. ٢ نو وي فرمايل چې دا غر زمونږ سره محبت كوي، او مونږ د ده سره محبت كوو. ٣ بيا نبي كريم ﷺ وفرمايل چې اې الله! عزوجل حضرت ابراهيم عليه السلام مكه حرام كړله ، يعني د هغه حرم كيدل يې ښكاره كړل، او زه د زمكي دا ټكړه حرام كوم ، يعني قابل تعظيم يې ګرځوم چې د سنګستان دواړه طرفونه حرم جوړوم. بخاري، مسلم

حل اللغات: ① لَابَتَيْهَا: لَابَتَيْ د لابت تثنيه ده. أَيْ: جَانِبَيْهَا: دواړه غاړې (دواړه غرونه مراد دي)

تسهيلات:

قوله: جَبَلٌ يُحِبُّنَا:

داحد د غر محبت حقيقي وو: داجمله په خپله حقيقي معنى كښې ده چه واقعي غرمحبت كوي ځكه چه الله تعالى په جمادات او نباتات كښې هم دَهغوى دَحال مطابق شعورساتلي دي بيا دَ انبياءكرام عليهم السلام معامله خو څه بل شان ده اودَ محمد مصطفى دَ حال به څه وائي بعض عارفين وائي په احد غرباندې زيړ رنګ ختلي دې دا دَ هغه محبت اودَ حضورپاك سره دَعشق نښه ده ځكه چه دَ عاشق علامات دادي

عاشقاں را سہ علامت اے پسر	رنگ زرد و آہ سرد و چشم تر
عاشق سرې نه خطا كيږي	رنګي زيړيږي سترګي بيا بيا توږوينه

دَ احدغرمحبت خو وو چه هغه اويانفوسِ قدسيه په خپله غيږه كښې واخستل اودَ تولو قبرونه هم هلته جوړشو

[٢٧٤٦] داحد سره محبت

-[١٩] (٢) ١ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ «أُحُدٌ جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه ١ سهل بن سعد رضي الله عنه راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل أحد غر زمونږ سره محبت لري او مونږ د ده سره محبت لرو. بخاري

(١) اخرجه البخاري في كتاب التمنى/باب ما ذكر النبي صلى الله عليه وسلم وحض على اتفاق أهل العلم. وما أجمع عليه الحرمان مكة. والمدينة. وما كان بها من مشاهد النبي صلى الله عليه وسلم والمهاجرين. والأنصار. ومصلى النبي صلى الله عليه وسلم والمنبر والقبر (رقم-٧٣٣٣) وابن ماجة في كتاب المناسك/باب فضل المدينة (رقم-٣١١٥) واحمد في المسند: ١٤٩/٣

(٢) اخرجه البخاري في كتاب الزكاة/باب خرص الثمر (رقم-١٤٨٢) ومسلم في كتاب الحج /باب أحد جبل يحبنا ونحبه (رقم-٥٠٤-(١٣٩٣)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله: أُحُدٌ جَبَلٌ يُحِبُّنَا وَنُحِبُّهُ:

د احد د تخصيص وجه: د حد ذکر کولو تخصيص ددې وجې دې چه يو خل نبي عليه السلام د خلفاؤ ثلاثو سره د احد په غر اوختلو نو د احد غر د ډيرې خوشحالئ د وجې اوخوځيدو نونبي عليه السلام اوفرمائيل چه اي د احد غره خپل حرکت اودروه فإنما عليك نبي وصديق وشهيدان.

الْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٧٤٧] په مدينه کښې د ښکار کولو سزا

٢٧٤٧-[٢٠] ( )[١] «عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي عَبْدِ اللهِ قَالَ: [٢] رَأَيْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ أَخَذَ رَجُلًا يَصِيدُ فِي حَرَمِ الْمَدِينَةِ الَّذِي حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٣] - فَسَلَبَهُ ثِيَابَهُ فَجَاءَ مَوَالِيهِ فَكَلَّمُوهُ فِيهِ، [٤] فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرَّمَ هَذَا الْحَرَمَ، [٥] وَقَالَ مَنْ أَخَذَ أَحَدًا يَصِيدُ فِيهِ فَلْيَسْلُبْهُ، [٦] فَلَا أَرُدُّ عَلَيْكُمْ طُعْمَةً أَطْعَمَنِيهَا رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٧] - وَلَكِنْ إِنْ شِئْتُمْ دَفَعْتُ إِلَيْكُمْ ثَمَنَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه [١] سليمان بن ابي عبد الله (تابعي) رحمه الله وايي [٢] چې ما وليدل چې حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه يو سړی ونيولی، چې دی په حرم مدينه (يعني د مديني اطرافو) کې ښکار کوي. چې نبي کريم ﷺ حرام (يعني قابل تعظيم) ګرځولی دی. [٣] حضرت سعد رضي الله عنه: هغه سړي جامي (د زجر او تنبيه په طور) څني واخستلي، بيا د هغه سړي مالک راغلو، او: حضرت سعد رضي الله عنه سره يي په دي باره کې خبري وکړي [٤] سعد رضي الله عنه هغه ته اوويل چې نبي کريم ﷺ دا حرم حرام ګرځولی دی، [٥] او فرمايلي دي چې څوک داسې سړی ونيسي، چې په دي کې ښکار کوي، نو د هغه سامان دي څني واخلي. [٦] نو کوم شی چې نبي کريم ﷺ ماته راکړي دي (يعني کوم شی چې د نبي کريم ﷺ د حکم په پيروي کې ما حاصل کړي دي، هغه خو زه په هيڅ حال کې هم نه واپس کوم. [٧] خو که ته غواړي نو زه به د دې قيمت (د مروت او احسان له مخه) تاته درکړم. ابوداؤد

حل اللغات: ① حَرَمِ الْمَدِينَةِ: أي حَدَّهُ: د مديني د حرم نه د مديني حدود مراد دی کومه چه د دواړو غرونو په مينځ کښې ده ② فَسَلَبَهُ: أي أخذ ثيابه: جامې ئې ترې واخستلې. ③ طُعْمَةً: أي رزقًا: رزق، نعمت.

تسهيلات: قوله: فَسَلَبَهُ ثِيَابَهُ:

د مديني ونې نه کټ کولو وجه: په زيربحث حديث کښې د ښکارۍ قصه ده د هغه نه حضرت سعد رضي الله عنه سامان په زور واخستو دې نه وړاندې فصل اول حديث نمبر: ٢٧٣٣ کښې

---

[1] اخرجه ابوداود في كتاب المناسك باب في تحريم المدينة (رقم-٢٠٣٧) واحمد في المسند: ١٧٠/١

د ونو پرې كونكي سړي د قصې ذكر دې چه دهغه نه حضرت سعد ﷺ دهغه سامان واخستلو داسې معلوميږي چه د مدينې په حرم كښې د ښكار وغيره باقاعده جزا او سزا نشته دې لكه څنګه چه د مكې په حرم كښې دى دلته خلق صرف منع كول دى چه هغوى د مدينې حرم ښانسټ ته نقصان اونه رسوى هم په دې وجه احنافو ونيلي دى چه مدينه منوره حرم دې ليكن د احترام اوعظمت د وجې نه دې د كفارې اوبدلې د وجې نه نه دې كه چرې باقاعده كفاره وې نو د ښكار قيمت لګولو سره صدقه كول پكار وو لكه چه د حرم مكه حكم دې د حرم مدينه د مجموعى احاديثونه معلوميږى چه دلته د جنايت كولو جزا د سزا په توګه داده چه جنايت كونكى سامان دې واخستې شي

[٣٧٤٨] د حديث په سند كښې د يوسهو اصلاح

٢٥٠٠-[٢١] (١) وَعَنْ صَالِحٍ مَوْلَى لِسَعْدٍ «أَنَّ سَعْدًا وَجَدَ عَبِيدًا مِنْ عَبِيدِ الْمَدِينَةِ يَقْطَعُونَ مِنْ شَجَرِ الْمَدِينَةِ ② فَأَخَذَ مَتَاعَهُمْ ③ وَقَالَ: - يَعْنِي لِمَوَالِيهِمْ - سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ④ - يَنْهَى أَنْ يُقْطَعَ مِنْ شَجَرِ الْمَدِينَةِ شَيْءٌ ⑤ وَقَالَ: مَنْ قَطَعَ مِنْهُ شَيْئًا فَلِمَنْ أَخَذَهُ سَلَبُهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد.

ترجمه ①: د حضرت سعد ﷺ آزاد كړى غلام صالح وايي چې حضرت سعد ﷺ د مدينې د غلامانو څخه څه غلامان د مدينې د ونو په كټ كولو و موندل. ② نو هغه د هغوى سبب ضبط كړل. ③ بيا د هغوى مالكانو ته يې وفرمايل چې ما خپله اوريدلي دي. ④ چې نبى كريم ﷺ د مدينې د ونو څه حصه كټ كولو څخه منع فرمايلې ده. ⑤ او نبى كريم ﷺ فرمايلي دي چې كوم سړى چې د مدينې د ونو څه حصه هم كټ كړي. نو د هغه سبب د هغه سړي دي. كوم چې هغه ونيسي. ابوداؤد

حل اللغات: ① عَبِيدًا: غلام. ② مَتَاعَهُمْ: أي ثِيَابَهُمْ: متاع سامان ته وائى په دې كښې جامې وغيره د ضرورت سامان شامل دي

تسهيلات:

قوله: فَأَخَذَ مَتَاعَهُمْ

د حديث الباب څخه جواب: په ظاهره دا حديث د احنافو خلاف دې څكه چې په دې كښې سعد بن ابى وقاص دهغه غلامانو سامان اخستې وو كوموچې د مدينې منورې ونې كټ كړې وې خو امام ابوبكر بزار رحمه الله فرماني چې دا حديث د سعدبن ابى وقاص څخه سوا بل چا څخه نه دې مروى دويمه دا چې په دې حديث دجمهورو عمل نشته څكه چې د بل چا مال اخستل يوه لويه خبره ده په خبر واحد سره د دې جواز نشى ثابتيدې [الدرالمنضود جلد ٣ صفحه ٣٢٤]

(١) اخرجه ابوداود في كتاب المناسك باب في تحريم المدينة (رقم-٢٠٣٨)

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: وَعَنْ صَالِحٍ مَوْلٰی لِسَعْدٍ:

صاحب مشكاة څخه د سند په بيان كښې غلطي: په صحيح روايت كښې سند داسې دې ,وعن صالح عن مولى لسعد, شيخ جزري رحمه الله فرمائي چه دا حديث صالح دَ حضرت سعد رضي الله عنه دَ آزاد كړې شوي غلام نه روايت كړې دې دَ مشكوة دَ سند نه معلوميږي چه صالح دَ حضرت سعد رضي الله عنه آزاد كړې شوې غلام دې حالانكه داسې نه ده بلكه هغه دَ شيخ توامة رحمها الله آزاد كړې شوې غلام دې لهذا دلته صحيح سند داسې دې "وعن صالح عن مولى لسعد" يعنى صالح دَ حضرت سعد رضي الله عنه دَ آزاد كړې شوي غلام نه روايت كوي هغه غلام مجهول دې دلته دَ صالح نه پس دَ عن لفظ يا دَ كاتب غلطى نه پاتې شوې دې يا دَ مصنف مشكوة نه سهو دَ قلم شوې ده څكه چه (لكل جواد كبوة ولكل سيف نبوة) دلته دَ حضرت سعد رضي الله عنه غلام مجهول دې معلومه نه ده چه څوك دې البته صالح ثقه دې.

[٢٧٤٩] په مقام وج كښې دَ ښكار ممانعت

٢٧٤٩-[٢٢] (¹)[١] وَعَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[٢]- «إِنَّ صَيْدَ وَجٍّ وَعِضَاهَهُ حِرْمٌ مُحَرَّمٌ لِلّٰهِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ[٣] وَقَالَ مُحْيِي السُّنَّةِ: وَجٌّ ذَكَرُوا أَنَّهَا مِنْ نَاحِيَةِ الطَّائِفِ، وَقَالَ الْخَطَّابِيُّ: أَنَّهُ بَدَلَ أَنَّهَا.

ترجمه [١] حضرت زبير رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل[٢] د وَجّ ښكار او د هغه خاردار (آزغني) ونې حرامې دي، چې د الله جل جلاله د پاره (يعنې د الله جل جلاله د حكم په موجب) حرام كړل شوي دي، يا دا چې د الله جل جلاله د محبوب بنده ګانو يعنى غازيانو په وجه حرام شوي دي، ابوداؤد.

[٣] امام محى السنة رحمه الله فرمايي چې د وَجّ په باره كې علماؤ ليكلي دي چې وَجّ د طائف په غاړه يو مقام دى، او خطابي رحمه الله أَنَّهَا مِنْ نَاحِيَةِ الطَّائِفِ، كې د أَنَّهَا په ځاى أَنَّهُ ليكلى دى

حل اللغات: ① وَجٌّ: مَوْضِعٌ بِنَاحِيَةِ الطَّائِفِ: د طائف په اطرافو كښې يو ځائې دې ② عِضَاهَهُ أَيْ أَشْجَارُ شَوْكِهِ: ازغو والا ونه يا جاړه ③ حِرْمٌ: أَيْ حَرَامٌ: حِرْمٌ په كسرې د حاء سره او حَرَامٌ په فتحې د حاء سره، دا دوه جدا لغتونه دى. معنى ئې يوه ده، يعنى حرام دى.

تسهيلات:

قوله: قَالَ الْخَطَّابِيُّ: أَنَّهُ بَدَلَ أَنَّهَا:

د ضمير په تذكير او تانيث كښې اختلاف او د هغې تطبيق: يعنى علامه خطابى انه مذكر استعمال كړې دې او محى السنة انها مؤنث استعمال كړې دې په دې كښې هيڅ تعارض نشته دې څكه چه دَ ضمير قاعده دَ هاهو والا قاعده ده كه لفظ طرف ته ضمير راؤګرځولې

(¹) اخرجه ابوداود فى كتاب المناسك ،باب فى مال الكعبة (رقم-٢٠٣٢)واحمد فى المسند:١٦٥/١

شي نو مذكر دي اوكه چرې د كلمة طرف ته راؤګرځولې شي نومؤنث دې دلته كه د موضع په معنی کښې واخستلې شي نومذکر اوکه چرې دَ بقعة په معنی کښې واخستې شي نو مؤنث دي

قوله: صَيْدُ وَجٍّ:

د مقام وج د ښکار د ممانعت دوه تاويلات: ① علماؤ ليکلی دی په مقام وج کښې دَ ښکار ممانعت دَ حرمت دحمی په توګه سره وو يعنی دَ ممنوع علاقه په توګه وو خکه چه په دغه علاقه کښې به دَ غازيانو اسونه څريدل دَدې دَپاره ضروری وو چه دَ بل چا خناور دلته رانه شی دا يوه انتظامی معامله وه دَحرمت دَ وجې نه نه ووخکه چه طائف سره خوازشا علاقه حرم کښې شامل نه ده. احنافو دَ مدينې باره کښې دَ ښکار اوونو پرې کولوکوم حکم بيان کړی دي داحديث دَهغې تائيد کوی

② بعض علماؤ ليکلی دی چه مقام وج کښې دَ ښکار حرمت دَ حرم په توګه وو نودا به دَ شروع دَ وخت خبره وی روستوداحکم منسوخ شوې امام شافعی رحمه الله دَ مقام وج باره کښې هم فرمائی چه په دې کښې مه ښکارکوئی اومه ونې پرې کوئی ليکن هغوی دَ څه ضمان يا جزا اوکفارې ذکر نه دې کړې.

[٢٧٥٠] په مدينه منوره کښې دَمرکيدو فضيلت

٢٧٥٠–[٢٣] ()[١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[٢] -«مَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَمُوتَ بِالْمَدِينَةِ فَلْيَمُتْ بِهَا[٣]؛ فَإِنِّي أَشْفَعُ لِمَنْ يَمُوتُ بِهَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه [١] ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] کوم سړی چې په مدينه کې مړ کيدی شي، هغه ته په مدينه کې مړ کيدل پکار دي، [٣] ځکه چې کوم سړی په مدينه کې مړ شي، زه به د هغه شفاعت کوم. احمد، ترمذي

حل اللغات: ① فَلْيَمُتْ: أَيْ فَلْيُقِمْ بِهَا حَتَّى يَمُوتَ بِهَا: په مدينه کښې دې استوګنه اختيار کړي ترڅو چه هم دلته ورله مرګ راشي.

تسهيلات:

قوله: فَلْيَمُتْ بِهَا:

په مدينه کښې د مړ کيدو دعا کول: مرګ خودَ چا په اختيارکښې نه وی مګردَ حديث مطلب دادې چه څومره ممکن کيدې شی سړې دې دَهغه ځائی دَمرګ خواهش کوی دَدې دَپاره دې دعاکوی اوڅومره چه کيدې شی دَدې دَپاره دې اسباب راپيدا کوی.

() اخرجه الترمذی فی کتاب المناقب عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل المدينة(رقم-٣٩١٧) واحمدفی المسند: ٢/٧٤

Maktaba Tul Ishaat.com

دامام مالک رحمه الله په باره کښې راغلی دی چې د مدينې څخه به د سخت ضرورت څخه بغير په سفر چرته نه تلو، ددې ويرې چې هسې نه د مدينې څخه بهر راته مرګ راشي او د مدينې د مرګ د سعادت څخه محرومه شم

قوله أشفع:

په مدينه کښې مرګ د شفاعت سبب: د حضورپاک شفاعت خود تولو مسلمانانو دپاره عام دې لهذا دلته د شفاعت نه خاص شفاعت مراددې لکه چه دداسې سړی د شفاعت د کارتنګی خبره ده عام خبره نه ده داسې اوګڼرنی چه دې سړی ته د شفاعت سند ملاؤشو ددې حديث نه معلومه شوه چه د مدينې منورې لونی شان دې او په دې کښې د مړ کيدو سعادت ډير لونی سعادت دې په دې وجه د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دا دعا اوتمنا وه "اللهم ارزقني شهادة في سبيلك واجعل موتي في بلد رسولك".

[۲۷۵۱] د مدينې د ښار عمر د ټولو ښارونو نه اوږد دې

حديث-[۲٤] (١) ⑴ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ⑵ - «آخِرُ قَرْيَةٍ مِنْ قُرَى الْإِسْلَامِ خَرَابًا الْمَدِينَةُ» ⑶. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه ⑴ ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل ⑵ په وران او خراب کيدونکو اسلامي ښارونو کې د ټولو څخه آخري ځل به د مدينې وي. ⑶ امام ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړی دی او ويلي يي دي چې دا حديث حسن غريب دی

حل اللغات: ① خَرَابًا: خرابيدل. فنا کيدل.

تسهيلات:

قوله: خَرَابًا الْمَدِينَةُ:

د حديث مطلب: مطلب دادې چه قيامت سره نيزدې کله چه په کائنات کښې ماتيدل راماتيدل شروع شي نود دنيا ټول لونی واړه ښارونه به وران او فناه شي د ټولو نه په آخره کښې به د فناه دور په مدينه منوره باندې راشي دا عظمت دې ته د حضورپاک د وجود مسعود په برکت سره ملاؤ شوې دې

[۲۷۵۲] د رسول الله صلی الله عليه وسلم د هجرت دپاره د مدينې خوښول

حديث-[۲٥] (٢) ⑴ «وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ⑵ - قَالَ: إِنَّ اللَّهَ أَوْحَى إِلَيَّ ⑶ أَيَّ هَؤُلَاءِ الثَّلَاثَةِ نَزَلْتَ، فَهِيَ دَارُ هِجْرَتِكَ الْمَدِينَةِ أَوِ الْبَحْرَيْنِ أَوْ قِنَّسْرِينَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه ⑴ جرير بن عبدالله رضي الله عنه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم څخه نقل کوي ⑵ چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم

---

(١) اخرجه الترمذي في كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل المدينة(رقم-٣٩١٩)

(٢) اخرجه الترمذي في كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل المدينة(رقم-٣٩٢٣)

وفرمايل الله ﷻ په ذريعه د وحي زه خبر كړم، [٢] چې ته په دې دريو ښارونو ① مدينه ② بحرين ③ قنسرين كې په كوم ښار كې چې د اوسيدو د پاره خكته شي هغه به ستا د پاره دار الهجرت ،د هجرت كور، وي، ترمذي

حل اللغات: ① اَلْبَحْرَيْنِ: مَوْضِعٌ بَيْنَ بَصْرَةَ وَعُمَانَ: د جزيرة العرب د مشرقى ساحل نه تر قطر او عمان پورې واقع دې ټولې علاقې ته بحرين وائى، نن صبا په احساء سره مشهور دې ② قِنَّسْرِيْنَ: بَلَدٌ بِالشَّامِ: د شام د ملک د يو لوئى ښار نوم دې

تسهيلات: **قوله**: أُوْحِيَ:

د بحرين څخه مراد: يعنى الله تعالى دَوحى په ذريعه ماته خبراوكړو چه په دې دريو ښارونو كښې چه كوم يوهم تاسو اختياركړئى اوهجرت كولوسره هلته وركوزشئى نوهم هغه به ستاسو دَ هجرت خانى وى. په دې كښې يو بحرين دې ياد لرئى موجوده بحرين د ډيرو جزيرو مجموعي نوم دې چه دَخليج غربى جنوبى مغربى گوټ كښې واقع دې په دې جزيرو كښې دَ ټولو نه لويه جزيره منامه ده دكوم چه دويم نوم بحرين دې هم ددې جزيرې د نوم دَ وجې نه دَ پوره ملك نوم بحرين دې علماؤ ليكلى دى چه زير بحث حديث كښې اود تاريخ په نورو كتابونوكښې دَ بحرين دا لفظ دَ هغه علاقې دَپاره وئيلى شى چه د جزيرة العرب دَ مشرقى ساحل خليج بصره نه واخله دَ قطر اوعمان پورې خوره ده كوم چه د موجوده بحرين مغرب طرف ته واقع ده. نن صبا دې علاقې ته "احساء" وائى. په زير بحث حديث كښې دَ بحرين نه هم دغه احساء مراد دې چه دَ حكومت لاندې لوئى ښار دې

قوله: أَوْقِنَّسْرِيْنَ:

د قنسرين ښار محل وقوع: دَتاريخ دَ كتابونونه معلوميږى چه دا ښار دَ شام په ملك كښې لوئى مقدس ښار ګڼړلې شو كله چه صحابه كرامو ﷺ دا فتح كړو نوهغوى ډيرزيات خوشحال شو او هغوى ټولو ته اندازه اوشوه چه اوس پوره شام په لاس راتلونكي دې تاريخ مدينه كښې ليكلى دى چه حضورپاك ته دا اختيار په شروع كښې وركړې شوې وو روستو بياهم مدينه دَ هجرت دَپاره متعين كړې شوه

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٧٥٢] مدينه منوره به دَ دجال دَ ويرې نه محفوظ وى

حديث-[٢٦] (¹) [١] عَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] «لَا يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ رُعْبُ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، [٣] لَهَا يَوْمَئِذٍ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ عَلَى كُلِّ بَابٍ مَلَكَانِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

(¹) اخرجه البخارى فى كتاب الحج/باب: لا يدخل الدجال المدينة (رقم-١٨٧٩) واحمد فى المسند ٤٧/٥

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه [١]حضرت ابو بکر ﷺ د نبی کریم ﷺ څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل[٢] په مدينه کې به د رانده دجال خوف هم داخل نشي،[٣] په هغه ورځ (هر کله چې دجال ظاهر شي) د مدينې به اووه دروازې (يعني اووه لارې) وي او په هره دروازه (په هره لار) به (ښي او چپ طرف ته) دوه فرشتې د مدينې په حفاظت مامورې وي. بخاري

حل اللغات ① رُعْبُ: أَيْ خَوْفُهُ: ويره، دهشت ② الْمَسِيحِ: دا فَعِيل دې په معنى د مَفْعُول سره. يعنې مَسِيح په معنى د مَمْسُوح. ده ته مسيح څکه وائي چې يوه سترګه به ئې مسح شوې وي يعنې يوه سترګه به ئې هواره وي. يا دا چې په ده کښې به هيڅ خير نه وي دخيرنه به خالي وي ③ الدَّجَّالِ: أَيْ كَثِيرُ الْفَسَادِ: په دجل کښې مبالغه ده دهوکه او فريب ته وائي يعنې ډير زيات فساد خوروونکې

تسهيلات:

قوله: لَهَا يَوْمَئِذٍ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ:

د سبعة ابواب په مفهوم کښې دوه اقوال:

① د مدينې به په دغه وخت کښې اوه دروازې وي.

② د مدينې به اوه غريزې لارې وي.

قوله: عَلَى كُلِّ بَابٍ مَلَكَانِ:

د ملک په مصداق کښې دوه اقوال: ① د هرې دروازې په ښي او ګس طرف باندې دوه دوه فرشتې د مدينې د حفاظت د پاره مامورې وي.

② د هرې دروازې په ښي او ګس طرف باندې به دوه قسمه فرشتې د مدينې حفاظت کوي هغه فرشتې به دجال مدينه ته نه پريږدي

[٢٧٥٤] مدينه منوره کښې د برکت د پاره د حضور پاک دعا

[٢٧] (١)[١] وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[٢] - قَالَ «اللّٰهُمَّ اجْعَلْ بِالْمَدِينَةِ ضِعْفَيْ مَا جَعَلْتَ بِمَكَّةَ مِنَ الْبَرَكَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه [١]حضرت انس ﷺ د نبی کریم ﷺ څخه نقل کوي [٢]چې نبی کریم ﷺ (په طور د دعا) وفرمايل چې اې الله! ﷻ مدينې ته د هغه برکت څخه دوچنده برکت ورکړې، کوم چې تا مکې ته ورکړې دی. بخاري. مسلم

حل اللغات ① ضِعْفَيْ: أَيْ مِثْلَيْهِ: دوچنده

(١) اخرجه البخاری فی كتاب الحج/باب: المدينة تنفى الخبث(رقم-١٨٨٥) ومسلم كتاب الحج /باب فضل المدينة. ودعاء النبي صلى الله عليه وسلم فيها بالبركة. وبيان تحريمها. وتحريم صيدها وشجرها. وبيان حدود حرمها (رقم-٤۶۶ - (١٣۶٩)

تسهيلات:

قوله: فيخفى:

د مديني د فضليت دليل: داحديث دَ امام مالك رحمه الله دليل دي هغوى فرماني چه مدينه منوره دَ مكي معظمي نه افضل ده خكه چه دَ حضورپاك دعامقبول ده دَ جمهور امت په نيز مكه افضل ده خكه چه دَ حسنات په اعتبارسره مكي ته سبقت او وړانديوالي حاصل دي ليكن علماؤ ليكلى دى چه په مدينه كښې دَ رسول الله ﷺ مبارك بدن دَ روضې په كومه حصه كښې چه پيوست دي هغه حصه دَ زمكې دَ مكې نه څه چه دَ عرش نه هم افضل ده هم دغه شان په مرقات وغيره كتابونوكښې ليكلى دى اوهم دغه شان مونږ دَخپلو استاذانونه اوريدلى دى.

[٢٧٥٥] په مدينه كښې دَ سكونت اختيارولو فضيلت

٢٧٥٥-[٢٨] (١) [١] وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ آلِ الْخَطَّابِ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [٢] - قَالَ «مَنْ زَارَنِي مُتَعَمِّدًا كَانَ فِي جِوَارِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [٣] وَمَنْ سَكَنَ الْمَدِينَةَ وَصَبَرَ عَلَى بَلَائِهَا كُنْتُ لَهُ شَهِيدًا وَشَفِيعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [٤] وَمَنْ مَاتَ فِي أَحَدِ الْحَرَمَيْنِ بَعَثَهُ اللهُ مِنَ الْآمِنِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».

ترجمه: [١] د خطاب د خاندان يو سړى ناقل دى [٢] چې نبى كريم ﷺ وفرمايل، كوم سړى چې بالقصد زما زيارت وكړى، هغه به د قيامت په ورځ زما ګاونډي او زما پناه كې وي. [٣] كوم سړى چې په مدينه كې سكونت اختيارولو سره د هغه په سختيو صبر وكړي، د قيامت په ورځ به د هغه د اطاعت شاهد يم، او د هغه د ګناهونو د بخشش د پاره به شفاعت كوم. [٤] او كوم سړى چې په حرمين (يعني په مكه او مدينه) كې په يوه كې هم مړ شي د قيامت په ورځ به يې الله ﷻ په امن والاكې راپورته كړي (يعني د قيامت په ورځ د عذاب د خوف څخه مامون يعنى په امان وي)

حل اللغات: ① زَارَنِي: چه زما زيارت ني اوكړو ② مُتَعَمِّدًا: أَيْ لَا يَقْصِدُ غَيْرَ زِيَارَتِي: په قصد او پخه اراده سره يعنى بل څه مقصد ني نه وو. ③ جِوَارِي: أَيْ فِي مُجَاوَرَتِي أَوْ مُحَافَظَتِي: ددې معنى ده ګاونډتوب. يا ددې نه مراد حفاظت دي يعنى زما په ګاونډ يا زما په حفاظت كښې به وى ④ شَهِيدًا: أَيْ لِطَاعَتِهِ: ګواه به نم (د اطاعت دهغه)، ⑤ شَفِيعًا: أَى لِمَعْصِيَتِهِ: شفاعت كونكې به يم (د ګناهونو دهغه) ⑥ الْحَرَمَيْنِ: د حرم تثنيه ده، د عزت او اكرام والادوه ځايونه (يعنى مكه اومدينه).

تسهيلات: قوله: مُتَعَمِّدًا:

د نبى كريم د زيارت په اراده مديني ته د تلو فضيلت: يعنى قصداو اراده كولوسره دحضوراكرم دَ زيارت په غرض سره ئى دَ مديني سفراوكړو چ څه تجارت يا رياكارى

---

(١) اخرجه البيهقي في شعب الايمان

Maktaba Tul Ishaat.com

وغیره مطلوب نه وی دعلامه طیبی دکلام نه معلومیږی چه کوم سړی دَ حج دپاره خی نو بیا زیارت هم کیږی داد قصد او ارادې زیارت نه دې چه صرف مدینې منورې ته د حضورپاك دَ زیارت په غرض سفر اوکړی

[٢٧٥٦]دَ روضهٔ اطهر دَ زیارت فضیلت

٢٧٥٦—[٢٩]( )[١]وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ مَرْفُوعًا:[٢]«مَنْ حَجَّ فَزَارَ قَبْرِي بَعْدَ مَوْتِي كَانَ كَمَنْ زَارَنِي فِي حَيَاتِي». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه [١]ابن عمر ﷺ په طریق مرفوع یعنې د نبی کریم ﷺ ارشاد گرامي نقل کوي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل [٢]کوم سړي چې حج وکړی او بیا زما د وصال څخه روسته زما د قبر زیارت یې وکړي، نو هغه به د هغه سړي په مثل وي، چې هغه زما په ژوند کې زما زیارت وکړي، دا دواړه روایتونه بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړي دي.

حل اللغات ① فَزَارَ: زیارت کول، ورتلل

تسهیلات: قوله: فِي حَيَاتِي:

د نبی علیه السلام دحیات برزخی ثبوت: دَ وفات نه پس حضورپاك ته کامل اواکمل حیات حاصل دې ځکه چه چا دَ وفات نه پس دَ حضور پاك دَ قبر زیارت اوکړو لکه چه هغه په ژوند د حضورپاك زیارت اوکړو اوهم دغه دَ حیات النبی مطلب دې

دزیارة النبی فضائل: ① حدیث کښې دی چه کوم سړی حج اوکړو اوزما دَ قبر زیارت نی اونه کړو هغه ماسره بې وفائی اوکړه

② حدیث کښې دی، چه کوم خلق زمادَ قبرزیارت کوی دهغه دپاره زما شفاعت واجب او لازم کیږی

③ حدیث کښې دی کوم سړی چه دَ مکې یعنی حج قصد اوکړو اوبیائی زما دَ زیارت اوزما د مسجد د حاضرنی قصد اوکړو نودهغه دَ پاره دوه قبول شوی حجونه لیکلې کیږی

[٢٧٥٧]مدینه منوره دَرسول الله ﷺ په نظرکښې

٢٧٥٧—[٣٠]( )[١] وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ جَالِسًا وَقَبْرٌ يُحْفَرُ بِالْمَدِينَةِ،[٢] فَاطَّلَعَ رَجُلٌ فِي الْقَبْرِ فَقَالَ بِئْسَ مَضْجَعِ الْمُؤْمِنِ،[٢] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بِئْسَمَا قُلْتَ،[٣] قَالَ الرَّجُلُ: إِنِّي لَمْ أُرِدْ هَذَا، إِنَّمَا أَرَدْتُ الْقَتْلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ،

ترجمه [١]یحیی بن سعید ﷺ وايي چې ماته دا حدیث رسیدلی دی چې یوه ورځ په مدینه کې یو قبر کنیدل کیدو. او نبی کریم ﷺ هم هلته تشریف فرما وو. [٢]یو سړی په قبر کې

[١]) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان

[٢]) اخرجه مالک فی کتاب الجهاد/باب الشهداء فی سبیل الله(رقم-٣٣)

وکتل او هغه اوویل چې دا قبر خو د مؤمن د پاره خراب خواب ګاه د خوب خای، دی د دی وریدو سره [٣] نبی کریم ﷺ وفرمايل چې ډيره خرابه خبره دي وکړه. [۴] هغه سړي عرض وکړي چې زما اراده دا نه وه، بلکه زما مطلب د الله ﷻ په لار کې د شهيد کيدو فضيلت بيکاره کول وو.

حل اللغات: ① يَنْظُرُ: کنستلي کيدو ② مضجع: أي مرقدة: د خوب خاني ③ لم أرد: زما دا اراده يا دا مطلب نه وو

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: لَا مِثْلَ الْقَتْلِ فِي سَبِيلِ اللهِ، [٢] مَا عَلَى الْأَرْضِ بُقْعَةٌ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يَكُونَ قَبْرِي بِهَا مِنْهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ». رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا.

ترجمه [١] نبی کریم ﷺ وفرمايل [٢] چې هو دا خبره خو صحيح ده، چې د الله ﷻ په لار کې د شهيد کيدو څخه بهتر هيڅ څيز نشته. ليکن (دا خبره هم ده چه) د زمکي په مخ هيڅ ټکړه داسې نشته، چې په هغه کې زما قبر جوړ شي او هغه ماته د مديني څخه زيات محبوب وي، نبی کريم ﷺ دا خبره دري خله وفرمايله. دا روايت امام مالك رحمه الله په طريق د ارسال نقل کړی دی

حل اللغات: ③ بُقْعَةٌ: يوه ټکره، يوه حصه

تسهيلات: قوله: بِئْسَ مَضْجَعُ الْمُؤْمِنِ:

د سړی دوينا مقصد: هغه سړی اووئيل چه قبر دَ مؤمن دَپاره خراب دَ خوب خائی دې په دې مطلق اطلاق کښې دَمؤمن هغه قبر هم راغلوکوم چه دَ جنت دَ باغيچونه يوه باغيچه وی په دې وجه حضورپاك دَ خفګان اظهارکولوسره اوفرمائيل چه تاډيره خرابه خبره اوکړه خکه چه قبر دَ مؤمن دَ پاره جنت دې په دې باندې هغه سړی وضاحت اوکړو چه زما مقصد داوو چه دا سړې په مدينه کښې په خپل مرګ باندې مرکيدوسره قبرکښې دفن شو دَ دې په خائی که هغه شهيدشوې وې اودَهغه قبر بهرپه يوخائی کښې دَ شهيد قبر جوړ شوې وې نو ښه به وه

مدينه مدفن جوړيدل: په دې باندې حضورپاك دَ دغه سړی په خبره باندې تحسين اوکړو چه او داخبره صحيح ده چه دَ الله تعالی په لارکښې دَ قتل کيدونه بهتر څه څيزنشته دې ليکن داخبره هم شته چه په پوره دنياکښې داسې يوخائی نه وی چه په هغې کښې زما قبر جوړشی اوهغه دَ مدينې نه زيات محبوب وی حضورپاك داجمله درې خل اوفرمائيله په دې کلام سره حضور پاك پهَ مدينه منوره کښې مرګ راتلل او په مدينه کښې دَ دفن کيدو فضيلت بيان کړو حضرت ابوسفيان بن حارث دَ رسول الله ﷺ په وفات باندې حضرت فاطمه رضي الله عنها سره داسې تعزيت اوکړو

أَفَاطِمُ إِنْ جَزِعْتِ فَذَاكَ عُذْرٌ وَإِنْ لَمْ تَجْزَعِي ذَاكَ السَّبِيلُ
فَقَبْرُ أَبِيكِ سَيِّدُ كُلِّ قَبْرٍ وَفِيهِ سَيِّدُ النَّاسِ الرَّسُولُ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه. اې فاطمې كه ته ژړا كوې نوبه دې كښې ته معذوره يې اوكه ته ژړا انګولانه كوې نو دا د شريعت طريقه ده ستا د والد صاحب قبر د ټولو قبرونو سردار دې څكه چې په دې كښې د ټولو خلقو سردار مدفون دې

[۲۷۵۸] د وادى عقيق فضيلت

۲۷۵۸ –[۳۱] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: [٢] سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَهُوَ بِوَادِي الْعَقِيقِ [٣] يَقُولُ أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتٍ مِنْ رَبِّي [٤] فَقَالَ: صَلِّ فِي هَذَا الْوَادِي الْمُبَارَكِ، [٥] وَقُلْ عُمْرَةٌ فِي حَجَّةٍ وَفِي رِوَايَةٍ وَقُلْ عُمْرَةٌ وَحَجَّةٌ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه [١] ابن عباس رضي الله عنهما راوي دى چې حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه اوويل [٢] چې ما په وادي عقيق كې (چې د مديني يو جنګل دى) د نبى كريم صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل [٣] چې نن شپه زما د پروردګار د طرف څخه يو راتلونكي (يعنى فرښته) ماته راغله. [٤] او هغې اوويل چې په دې مبارك وادي كې مونځ وكړه. [٥] او هغه عمره وكړه كومه چې حج سره كېږي. او د يوه روايت الفاظ دا دي چې د دې ثواب د هغه عمري برابر دى، كومه چې حج سره كېږي. يا عمره او حج (دواړه) برابر دى، بخاري

حل اللغات: ① بِوَادِي الْعَقِيقِ : مَحَلٌّ قَرِيبٌ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ: دا د مديني په واديانو كښې يوه مشهوره او لويه وادى ده اوذوالحليفه چې داهل مديني ميقات دې په دې وادى كښې داخل دې ② صَلِّ : د امر حاظر صيغه ده. يعنى مونځ اوكړه ③ قُلْ: دلته قُلْ فعل امر دَ اِفْعَلْ په معنى كښې دې. يعنى حساب كړه. ④ عُمْرَةٌ فِي حَجَّةٍ: أَيْ حُسِبَتْ: يعنى دا مونځ د عمرې اوحج برابر شماركړه

تسهيلات:

قوله: أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتٍ:

د پيغمبر د خوب حكم: دې نه مراد دادې چه ماته په تيره شوې شپه كښې داسې خوب راغلو اوښكاره خبره ده چه دَ انبياء كرام عليهم السلام خوب دَ وحى په حكم كښې وى نودَ وادى عقيق فضيلت ښكاره شو كه چرې رسول الله صلى الله عليه وسلم په بيدارئى كښې داسې عمل كولو نودَ هغې به هم دغه حكم وو كوم چه په خوب كښې حضورپاك عمل اوكړو

① **په وادى عقيق كښې د مونځ كولو شرعى حيثيت**: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته جبرائيل آمين حكم وركړو چه په دې وادئى كښې مونځ اوكړه اوبيا دا مونځ دَعمرې اوحج برابر شمير كړه عربى كلام كښې كله كله توضيح "قل" دَ افعل په معنى كښې راځى دلته دَ افعل په معنى

(١) اخرجه البخاري في كتاب الحج/باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «العقيق واد مبارك» (رقم-١٥٣٤) وابوداود في كتاب المناسك/باب في الإقران (رقم-١٨٠٠) وابن ماجة في كتاب المناسك/باب التمتع بالعمرة إلى الحج (رقم-٢٩٧٦) واحمد في المسند: ١/٢٤

کښې دي چه دوه رکعته مونځ اوکړه اودا د عمرې اوحج برابر شمیرکړه ملاعلی قاری ﷫ فرماني وادي عقیق کښې د مونځ کولوحکمت مفوض الی الشارع دي بلکه داچه حضوراکرم ﷺ ته سره د دي چه جبرائیل ﷤ د مونځ کولوحکم ورکړو لیکن دي نه پس خواص اوعوام ته هیڅ هم پته نشته چه دا د مونځ کولوځائی دي اود دي فضیلت دي چاهم په دي باندي عمل نه دي کړي اونه د باقی مقاماتو په شان دا ځائی چه څه زیارت جوړشوي د دي نه معلومیږی چه داعمل د حضورپاك د خصوصیاتو نه یوخصوصیت وو

② **حج قران طرف ته اشاره:** د دي حدیث دا مطلب هم اخستې شي او شارحینو د دي طرف ته اشاره هم کړي ده او د حدیث سیاق اوسباق هم د دي تائیدکوی هغه دا چه حضرت جبرائیل آمین حضورپاك ته د حج قران اشاره کړي ده چه د عمره اوحج نیت په یوځائی اوکړه اوهم دغه قران دي کوم چه د احنافو په نیزافضل دي دي نه مخکښې حضورپاك داسې الفاظ استعمال کړی وو دکوم نه چه معلومیدله چه حضورپاك یا مفرد دي یا متمتع دي

[١٢] كِتَابُ البُيُوعِ

د بیوعاتو بیان

اشکال:- لفظ د بیع مصدر دي اود مصدر تثنیه او جمع نه راځي حالانکه دلته کښې بیوع د جمع په صیغه سره ذکر شوي دي؟

د اشکال دوه جوابونه:- ① بیع بې شکه مصدر دي خود بیع د مختلف انواعو په وجه دا دجمع په صیغه سره ذکر شوي دي.

② ..بیع .. د مبیع اسم مفعول په معنی کښې دي اود مبیعات ډیر قسمونه او انواع دی په دي وجه دا دجمع په صیغه سره ذکر شوي دي.

د بیعې دوه مصداقات:- ① لفظ د ..بیع.. د اضدادو خنې دي په لغت کښې د بیع لفظ د (إدخال الشئ في الملك بمال) دپاره وئیلې شي.

② اود (إخراج الشئ عن الملك بمال) یعنی د مال په عوض سره یوڅیز په ملك کښې د داخلو دپاره هم وئیلې شي او دمال په عوض څه څیز د ملك نه ویستلو ته هم وئیلې شي.

د شراء د لفظ په اضدادو کښې استعمال:- دغه شان لفظ د ..شراء.. او ..اشتراء.. د اضدادو خنې دی یعنی دا لفظ هم د خرڅولو او اخستلو په معنی کښې مشترك دی مثلاً

① ﴿ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهِ أَنْفُسَهُمْ ﴾ کښې هم په دي معنی کښې استعمال شوي دي یعنی .. ډیر بد څیز دي چه د هغې په بدله کښې خرڅ کړو دوی خپل ځان.. (البقره٢: ١٠٢) دغه شان لفظ د شراء او اشتراء په ډیرو آیاتونوکښې د اخستلو په معنی کښې استعمال شوي

Maktaba Tul Ishaat.com

دي مثلاً

② (وَاشْتَرَوْا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُوْنَ) . . او واني خستلو ددي په بدله كښي لږشان مال نو خومره بد دي هغه چه دوى ئي اخلى . . په دي كښي اشتراء په معنى د اخستلو كښي مستعمل دي

د بيع شرعى تعريف: -د شريعت په اصطلاح كښي . . بيع . . (مبادلة المال بالمال بالتراضي بطريق التجارة) ته وائي يعني .د يوبل په رضامندئ سره د تجارت په طريقه باندي مال د مال په بدله كښي اخستل . .

د بيعي په تعريف كښي د قيودانو فوائد: -د (مبادلة المال بالمال) په قيد سره اجاره او نكاح خارج شو ځكه چه په اجاره كښي (مبادلة المال بالمنافع) وى او په نكاح كښي (مبادلة المال بالبضع) وى اود (بالتراضي) په قيد سره د مكره بيع خارجه شوه ځكه چه مقصود نافذه بيع بيانول دى او . .مبادلة بلا تراضى . . شرعى بيع نه ده د (بطريق التجارة) په قيد سره . .هبه بشرط العوض . .خارجه شوه ځكه چه په . . هبه بشرط العوض . . كښي هم (مبادلة المال بالمال) وى خو د تجارت په طريقه باندي نه وى دا خيال ساتل پكار دى چه په تعريف كښي د مبادله نه مراد تمليك دي يعني د مال په بدله كښي د مال مالك كول د بيع مشروع كيدل د قرآن حديث .او اجماع دريو وارو نه ثابت دى

د قرآن ځخه د بيعي ثبوت: -د قرآن نه ددي ثبوت په دي آيت سره كيږى (أَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَوٰا) . . الله تعالى حلال كړي ده بيع .او حرام كړي ئي دي سود . . دا آيت د بيع په جواز باندي دلالت كوى

د سنت ځخه د بيعي ثبوت: -د حديث نه د دي ثبوت (عن ابى سعيد عن النبى ﷺ قال التاجر الصدوق الأمين مع النبيين والصديقين والشهداء) ابوسعيد خدرى رضي الله عنه فرمائى چه رسول اكرم ﷺ فرمانيلى دى چه رشتوني او امانت داره سوداګر به د قيامت په ورځ نبيانو . صديقينو . او شهيدانو سره وى (ترمذى ج١ص٢٢٩) .

د استدلال طريقه: -په دي روايت كښي د رشتونى او ديانت داره سوداګر مقام او مرتبه بيان شوي ده او دده تعريف شوي دي دريو وارو روايتونه د تجارت اود بيع په جواز باندي دلالت كوى

د اجماع ځخه د بيعي ثبوت: - اجماع هم د بيع په جواز باندي دلالت كوى ځكه چه د رسول الله ﷺ د زماني واخله. ترننه پوري ټول مسلمانان د بيع په جواز باندي متفق راروان دى لكه چه سيرت نګارو ليكلى دى چه د نبوت نه پنځلس كاله وراندي نبى

کریم ﷺ د ام المؤمنین حضرت خدیجة الکبری رضی الله عنها دپاره تجارت کړې وو او اکابرو اصحابو. تولو تجارت کړې دې لکه چه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د کپړو سوداګر وو او حضرت عمر رضی الله عنه د غلې سوداګر وو حضرت عثمان رضی الله عنه کپړو. اود کجورو تجارت کولو ملاعلی قاری رحمه الله په شرح نقایه کښې لیکلی دی چه احنافو عالمانو فرمائیلی دی چه د جهاد نه پس د تولو نه بهتره ګټه تجارت دې بیا زمینداری ده بیا صنعت وحرفت (هنراوفن) دې. ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه زما په نیز افضل کسب کتابت (خوشخطه لیکل) دې

د بیع د مشروعیت سبب:- د بیع مشروع کیدلو سبب (تعلق البقاء المعلوم لله تعالی علی وجه جمیل) دې یعنی ..کوم ژوند چه الله تعالی ته معلوم دې دا په ښه طریقه باندې باقی ساتل دی ددې مطلب دادې چه د ژوند د بقاء دپاره د کوموخیزونو ضرورت وی دا تول څه د یوکس په کور کښې نه تیاریږی بلکه یو قسم سامان یو کس تیاروی او بل قسم سامان بل خوك تیاروی.نود ژوند د ضروریاتو د پوره کولو دپاره هرکس د بل محتاج دې اوس د بل کس نه د خپلو ضروریاتو څیزونه حاصلول. به یا په حرام طریقه باندې وی.یا به په حلال طریقه باندې وی.په حرام طریقه سره حاصلول خو شرعاً ممنوع دی په دې وجه د بیع حلال طریقه مشروع کړې شوه

د بیع حکم:- د بیع حکم ملك دې.یعنی مشتری ته د.. مبیع ..په تصرف باندې قدرت ورکول.

د بیع رکن:- د بیع رکن ایجاب او قبول دې.ایجاب هغه کلام دې کوم چه وړاندې اوونیلی شی.که د بائع د طرفه وی.او که د مشتری د طرفه وی او ددې متعلق دویم کلام ته قبول وائی

د بیع د جواز شرطونه:- د ..بیع .. دجواز شرطونه دا دی ی

① د عاقد عاقل کیدل ② د مبیع مال متقوم.او مقدور التسلیم کیدل.

دذات په اعتبار سره د بیع څلور قسمونه:- بیع د ذات په اعتبار سره ددې څلور قسمونه دی ① بیع نافذ ② بیع موقوف ③ بیع فاسد ④ بیع باطل۔

ددې څلورو واړو قسمونو احکام به په خپلو موقعو باندې ذکرکولې شی

د مبیع په اعتبار سره د بیع څلور قسمونه:-

① بیع مطلق. یعنی بیع العین بالثمن

② بیع مقائضه. یعنی بیع العین بالعین

③ بیع صرف. یعنی بیع الثمن بالثمن

④ بیع سلم. یعنی بیع الدین بالعین.

Maktaba Tul Ishaat.com

د ثمن په اعتبار سره د بیع څلور قسمونه :-

① بیع مرابحه، یعنی د ثمن اول نه په زیاتی
عوض باندې خرڅول

② بیع تولیه، یعنی د ثمن اول په عوض باندې خرڅول

③ بیع وضیعه، یعنی د ثمن اول نه په کم عوض باندې خرڅول

④ بیع مساومه، یعنی د هغه ثمن په عوض باندې خرڅول، په کوم چه عاقدین اتفاق اوکړی.

[١] بَابُ الْكَسْبِ وَطَلَبِ الْحَلَالِ

دَ کَټَې او دَحلال رزق لټون بیان

خلاصة الباب :-

فیه ثلاثون حدیثاً مشتملة علی خمس مسائل:

① فضل الکسب الحلال: ١، ١١، ١٢، ٢٣، ٢٤، ٢٥، ٢٦، ٢٧.

② فضل أکل الحلال: ٢.

③ الإجتناب من أکل المشتبهات: ٢، ٣، ٤، ١١،٧، ١٣، ١٤، ١٥، ١٧، ٢٨، ٢٩، ٣٠.

④ بعض المحرمات: ٥، ٦، ٧، ٨، ٩، ١٠، ١٨، ١٩، ٢٠، ٢١، ٢٢، ٢٨.

⑤ المنع عن الحیل لتحلیل الحرام: ٨، ٩.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٢٧٥٩] دَ خپل لاس د کټې غوره والی

٢٧٥٩-[١] (١) ① عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " ② «مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ» ③ «وَإِنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ دَاوُدَ - عَلَيْهِ السَّلَامُ - كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت مقدام ابن معدي کرب رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هيڅ کله چا د خپل لاس د محنت څخه ښه روزي نه ده خوړلې ③ دا وجه ده چې د خدای ﷻ نبي حضرت داود عليه السلام به د خپلو لاسونو په محنت سره ګټلې روزی خوړله، بخاري

حل اللغات: - ① قَطُّ: هیڅ کله، د تاکید دپاره استعمالیږی ② عَمَلِ يَدَيْهِ: د خپلو لاسونو په محنت سره روزی ګټلو ته وائی

(١) اخرجه البخاري في كتاب البيوع /باب كسب الرجل وعمله بيده (رقم-٢٠٧٢)

تسهيلات:

قوله: مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ:

د داؤد عليه السلام د خپل لاس کټې شروع کولو سبب:-يعنې داؤد عليه السلام به په خپل لاس محنت سره ګټه کوله او بيا به ئې خوړله الله تعالى حضرت داؤد عليه السلام ته لويه بادشاهي ورکړې وه هغوى به هره ورځ د هرچانه د خپل خان باره کښې تپوس پوښتنه کوله چه اوښايه داؤد څنګه بادشاه دې د هغه عادت او اخلاق څنګه دى؟ يوه ورځ الله تعالى د انسان په شکل کښې فرښته راؤليګله هغه په جواب کښې اوفرمائيل داؤد ډيرښه سړې دې مګر افسوس چه هغه د بيت المال نه وظيفه نه خوړله په دې خبره باندې د حضرت داؤد عليه السلام په زړه اودماغو کښې لکه د بجلئ يوپرق غوندې تيرشو او هغوى وعده اوکړه چه بيا به وظيفه نه اخلم نو الله تعالى هغه ته د زغرې جوړولو هنر اوخودلو او د هغه په لاس کښې ئې اوسپنه لکه د موم نرمه جوړه کړه. وئيلى شى چه هغه به روزانه يوه زغره جوړوله او بيا به ئې په څلور پنځه زره کښې خرڅوله. څه به ئې پخپله خوړلې او باقى پاتې به ئې د بنى اسرائيلو په فقيرانو تقسيم کولې.

د مختلفو انبياء کرامو د آمدن ذرائع: حضرت شاه عبدالعزيز رحمه الله په تفسيرعزيزى کښې د مختلفو انبياء کرامو پيشې او کسب داسې ليکلې دې

① د حضرت آدم عليه السلام پيشه زميندارى وه.

② د حضرت ادريس عليه السلام پيشه او ذريعه معاش درزى توب وو

③ د حضرت نوح عليه السلام پيشه او د معاش ذريعه ترکهانى وه.

④ د حضرت هود عليه السلام اوحضرت صالح عليه السلام دواړو پيشه تجارت وو

⑤ د حضرت ابراهيم عليه السلام پيشه زميندارى وه

⑥ د حضرت لوط عليه السلام هم دغه پيشه وه

⑦ د حضرت شعيب عليه السلام پيشه او د معاش ذريعه چيلئ ساتل وو

⑧ د حضرت موسى عليه السلام پيشه هم چيلئ ساتل وو

⑨ د حضرت داؤد عليه السلام پيشه زغرې جوړول وو

⑩ د حضرت سليمان عليه السلام پيشه توکرئ جوړول وو

⑪ حضرت پاك محمدعربى صلى الله عليه وسلم ذريعه معاش جهاد فى سبيل الله وو او الله تعالى د حضورپاك رزق د هغوى د نيزې لاندې ايخودې وو چنانچه په مدنى دور کښې حضورپاك ته دا روزى ورکړې شوه [تفسيرعزيزى، ۱/۲۴۵]

Maktaba Tul Ishaat.com

[۲۷۶۰] د حرام خور د دعا نه قبلیدل

۲۷۶۰ - [۲] ( ) ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ۲ إِنَّ اللَّهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا، ۳ وَأَنَّ اللَّهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ، ۴ فَقَالَ: ﴿يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا﴾ [المؤمنون: ۵۱] ۵ وَقَالَ: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ﴾ [البقرة: ۱۷۲]

ترجمه: حضرت ابوهریره وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ بلا شبه الله ﷻ د ټولو نقصانو او عیبونو څخه، پاك دى. د هغه پاك ذات په بارګاه کې صرف صدقات او اعمال قبلیږي چې د شرعي عیبونو او د نیت د فساد څخه، پاك وي ۳ یاد لرئ، الله ﷻ چې کوم څيز يعني د حلال مال خوړلو او نیکو اعمالو کولو حکم، خپلو رسولانو ته ورکړي دى د هغه شي حکم یې ټولو مؤمنانو ته هم ورکړي دى. ۴ د الله ﷻ ارشاد دی: يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا يعني اې رسولانو حلاله روزي خورئ او نیك اعمال کوئ ۵ همدارنګه الله ﷻ فرمایلي دي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ يعني اې مؤمنانو تاسو صرف هغه پاك او حلال رزق خورئ کوم چې مونږ تاسو ته در کړي دي.

۱ ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ، أَشْعَثَ، أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ: يَا رَبِّ! يَا رَبِّ! ۲ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟!» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ بیا حضور ﷺ د مثال بطور، د یو سړي حال ذکر کړي چې هغه اوږد اوږد سفر ختې ر وي خواره واره ویښتان او په ګرد لړلی هغه خپل دواړه لاسونه د آسمان طرف ته اوچتوي او وایي چې اې خما ربه، اې خماربه، يعني هغه د خپلو مقاصدو د پاره دعا، غواړي ۲ حالانکه طعام د هغه حرام لباس د هغه حرام، د شروع څخه د اوسه پورې، د هغه پرورش په حرامو غذاګانو سره، شوی وي. نو بیا څنګه د هغه دعا، قبوله شي. مسلم

حل اللغات - ① يُطِيلُ السَّفَرَ: اوږدي اوږدي سفرې ئې کړي وي د حج، عمرې، د جهاد او علم وغیره دپاره ② أَشْعَثَ خېرنو ګډ وډ ویښتو والا. بېرسر. ③ أَغْبَرَ أغبر. ګرد آلوده چې دوړې پرې الوتي وی ④ يَمُدُّ يَدَيْهِ أي مَادًّا يَدَيْهِ: خپل دواړه لاسونه د آسمان طرف ته اوچتوی ⑤ مَطْعَمُهُ: مصدر میمی دې په معنی د مفعول سره، مطعوم يعني خوارک. ⑥ مَشْرَبُهُ څکاک. ⑦ مَلْبَسُهُ: لباس، جامه. ⑧ غُذِيَ أي رُبِّيَ پرورش ئې شوی وی

تسهيلات: قوله: وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ:

د دعا د قبلیدو شرط حلال خوراک: - چې یو سړي عابد هم دې او مسافرهم دې په اوږد سفر کښې ډیرلونی مشقت هم اوچت کړې دې خیرن ویښته دی او مجبوردې په ډیره

---

[۱]) اخرجه مسلم في كتاب الزكاة/باب قبول الصدقة من الكسب الطيب وتربيتها (رقم) ۶۵ - (۱۰۱۵) و الترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة البقرة (رقم-۲۹۸۹) واحمد في المسند:۲/۳۲۸

زارنی او ژړا سره دعا هم غواړی دواړه لاسونه ئی د الله تعالی په وړاندې خواره کړی دی په داسې حالت کښې د دعا د قبلیدو ډیر زیات امیدوی لیکن حضور پاک او فرمائیل د دغه سړی دعا څکه نه قبلیږی چه خوراك څښاك ئی حرام دې او په بدن باندې چه کومې کپړې دی هغه هم حرامې دی نو د دغه سړی دعا څنګه قبلیدې شی عارفینو مقوله ده چه د دعا دوه وزرې دی که هغه وی نو دعا پورته خیژی یو حلال خوراك او بل رښتیاوئیل یعنی چه په خیټه کښې حلال وی او ژبه ئی رښتونې وی نو دعا قبلیږی ګنی نه قبلیږی

[۲۷۶۲] په آخره زمانه کښې د حلالو او حرامو تمیز ختمیدل

۲۷۶۲ــ[۲] (١) ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ② «يَأْتِي عَلَى الْمَرْءِ زَمَانٌ ③ لَا يُبَالِي الْمَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ، أَمِنَ الْحَلَالِ أَمْ مِنَ الْحَرَامِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② په خلقو به یوه داسې زمانه راشي ③ چې سړي ته کوم مال حاصل شي د هغه په باره کې به هغه دا پروا نه کوي چې دا حلال دی یا حرام، بخاري

حل اللغات: - ① لَا يُبَالِي: پرواه نه کوی، څه اهمیت نه ورکوی ② مَا أَخَذَ: هغه مال چه حاصل ئې کړی

تسهیلات:

قوله لَا يُبَالِي الْمَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ، أَمِنَ الْحَلَالِ أَمْ مِنَ الْحَرَامِ

د حلال او حرامو تمیز ختمیدل: - د قرب قیامت په وخت چه یو طرف ته فتنې او ګمراهنی وی نو بل طرف ته به دا ګمراهنی هم ښه په ترقئی وی چه خلق به د حلال او حرام فرق ختم کړی بس پیسه به پکاروی د کوم ځائی نه چه هم وی او څنګه چه هم وی چه راشی لکه چه د مزارد منجاور باره کښې وئیلی شوی دی اخون له خو بس پیسې د خرې وی او که د سپنی یعنی منجاور له پیسې پکار دی که هغه د خرې وی او که د سپنی وی چه پیسې وی

[۲۷۶۳] د مشتبه څیزونو څخه ځان ساتل

۲۷۶۳ــ[۳] (١) ① وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " «الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، ③ فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ، ④ وَمَنْ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ كَالرَّاعِي يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يَرْتَعَ فِيهِ،

(١) اخرجه البخاري في كتاب البيوع/باب من لم يبال من حيث كسب المال (رقم-٢٠٥٩)

(١) اخرجه البخاري في كتاب الإيمان/باب [ص:٢٠] فضل من استبرأ لدينه (رقم ٥٢) ومسلم في كتاب المساقاة/باب أخذ الحلال وترك الشبهات (رقم-١٠٧ - (١٥٩٩) وابوداود في كتاب البيوع/باب في اجتناب الشبهات (رقم-٣٣٢٩) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في ترك الشبهات (رقم-١٢٠٥) والنسائي في كتاب البيوع/باب اجتناب الشبهات في الكسب (رقم-٤٤٥٣) وابن ماجة في كتاب الفتن/باب الوقوف عند الشبهات (رقم-٣٩٨٤) واحمد في المسند: ٤/٢٦٧

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه:[١] او حضرت نعمان ابن بشير راوي ﷺ دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل حلال هم ښکاره دی او حرام هم ښکاره دی، او د دې دواړو په منځ کې مشتبه څيزونه دي چې ډير خلق يې نه پيژني[٢] نو کوم سړی چې د مشتبه څيزونو څخه پرهيز وکړي هغه خپل دين او خپل عزت پاك او محفوظ کړي (يعني د مشتبه څيزونو څخه ساتونکي ته به نه د دين د خرابي څه خوف وي او نه به څوك طعن باندې وايي) [٣] کوم سړی چې په مشتبه څيزونو کې مبتلا شو هغه په حرامو کې مبتلا شو[٥] او د هغه مثال د هغه شپونکي دی چې د ممنوعه ورشو (چراګاه) په کناره (خپل څاروي) څروي او هر وخت د دې امکان وي چې د هغه څاروي په هغه ممنوعه ورشو کې په ننوتلو سره څرند شروع کړي،

حل اللغات:- ① بَيِّنٌ: أَيْ: وَاضِحٌ: ښکاره، واضحه. ② مُشْتَبِهَاتٌ: أَيْ: أُمُورٌ مُلْتَبِسَةٌ غَيْرُ مُبَيَّنَةٍ: داسې کارونه چه واضحه اوښکاره نه وی چه دا حلال دي اوکه حرام. ③ اسْتَبْرَأَ: أَيْ: حَصَّلَ الْبَرَاءَةَ بِالصِّيَانَةِ: برا ءت ئې حاصل کړوبه دي بچ کيدلوسره (يعنی چه خان ئې دمشتبهاتو نه اوساتلو نوخپل دين اوخپل عزت ئې هم محفوظ کړو) ④ عِرْضِهِ: خپل عزت (د طعن کونکو او ملامته کونکونه). ⑤ الرَّاعِي: شپونکې، څاروی څرونکې. ⑥ الْحِمَى: أَيِ الْمَرْعَى: چراګاه يعنی ورشو، د څرن ځائې، بار، شپول. ⑦ يُوشِكُ: أَيْ: يَقْرُبُ: نزدې ده، زر ده، ⑧ يَرْتَعَ: چه اونې څروی، څرن شروع کړی،

> [١] أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى، أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللهِ مَحَارِمُهُ، [٢] أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلُحَتْ صَلُحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ [٣] وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، [٤] أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١] پوهه شئ! چې د هر بادشاه يوه ممنوعه ورشو (چراګاه) وي او ياد لرئ د الله ﷻ ممنوعه ورشو حرام څيزونه دي [٢] او د دې خبري هم خيال ساتئ چې د انسان په جسم کې د غوښي يوه ټکړه ده هر کله چې هغه په درست حالت کې وي (يعني هغه چې په ايمان، عرفان او د يقين په نور سره منور وي) نو (د اعمال خير او حسنِ اخلاق واحوال په وجه) پوره جسم په درست حالت کې وي[٣] او هر کله چې په دې ټوکړه کې خرابي پيدا شي نو پوره جسم خراب شي [٤] ياد لرئ د غوښي هغه ټکړه زړه دی. بخاري مسلم

حل اللغات -⑨ مَحَارِمُهُ: وَهِيَ أَنْوَاعُ الْمَعَاصِي: حرام کړی څيزونه (ددې نه مراد د نافرمانئ کارونه دي). ⑩ مُضْغَةً: وَهِيَ قِطْعَةٌ مِنَ اللَّحْمِ: دغوښي يوه ټکره (ددې نه مراد زړه دې).

تسهيلات: قوله: الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ:

د حلال او حرام ښکاره والې:- يعنی واضح حلال هغه څيزونه دی دکوم په حلت چه د شريعت واضح دلائل موجودوی په هغې کښې د هيڅ قسم شك نه وی لکه نکاح کول اود حلال ښناور غوښه خوړل په وخت اوده کيدل اود مخلوق خدا خدمت کول وغيره وغيره.

((والحرام بين وهوالذين توجدفيه دلائل الحرمة فقط))يعنی چه واضح دلائل موجود وی په هغې کښې څه شك نه وی لکه زنا کول غلاکول دروغ ونيل او چغلی خوړل وغيره.

قوله:- وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ

د مشتبهاتو تعريف:- د مشتبهاتو تعريف عالمانو داسې کړې دې «هي ماتعارضت فيها أدلة الحل والحرمة ولم يتضح وجه الترجيح» يعني مشتبهات هغه امور دي په کوم کښې چه حلت اوحرمت دواړه ارخونه موندلې شي مثلاً چه يوارخ ته نې اوکتلې شي نوداسې معلوميږي چه حلال دی اوکه چرې بل ارخ ته نې اوکتلې شي نوداسې محسوس کيږي چه حرام دی اوس په دې کښې شك پيدا شوکوم چه ډير خلق نه پيژني اونه دَهغې باره کښې څه فيصله کولې شي. اوجيدعلماء او مجتهدين په خپل قوت اختياری سره يوطرف راجح ګرځولو سره فيصله کوی يا مثلاً داسې دلائل دی چه دَمجتهدينو دَ اجتهاد په هغې کښې ګنجائش وی نودَ يومجتهد دَ اجتهاد په رڼاکښې هغه څيزونه حلال کيږی. په دې کښې اوس شك راغلو نودَ احتياط تقاضا داده چه دا ترك کړې شي.

د دواړو قاعدو مثالونه:- دَ پورته دواړو قاعدو دوه مثالونه داسې اوګنړئ

① يوسړی سره څه پيسې دَحلال ګټې وی اوڅه دَحرام ګټې وی نودَ ټولو نه ځان ساتل بهتر دی.

② يوې ښځې ګواهی ورکړه چه ما فلانکی هلك او فلانکې جينئې له پيئی ورکړی دی لهذا دَدوی نکاح صحيح نه ده. اوس يوطرف نه دَدې ښځې وينا ده بل طرف ته قاعده داده چه دَ يوې ښځې ګواهی معتبر نه ده. لهذا دَ دوی په نکاح کښې جائز اوناجائز شك راغلو نوترك کول نې بهتر دی.

د مشتبهاتو په باره کښې درې اقوال:- بهرحال دَ مشتبه څيزونو باره کښې دَعلماؤ اقوال په درې قسمه باندې دی.

① چه مشتبه څيزونه حرام اوګرځولې شی صرف په اضطراری حالت کښې دَ ځان بچ کولو دَپاره استعمال کړې شي.

② چه داسې مشتبه څيزونه مباح اوګنړلې شی چه دَ دې استعمالول اونه استعمالول دواړه جائز دی

③ چه داسې مشتبه څيزونه نه حرام اوګنړلې شی اونه حلال لکه څنګه چه په مشتبه حالت کښې دی هم هغه شان پريخودې شي

قوله: كَالرَّاعِي:

د حمی مطلب:- پخوا زمانه کښې به ،،حمی،، هغې چراهګاه ته وئيلې شوه کومه چه به يو ملك بادشاه يا حاکم يا سردار دخپل ځان دپاره خاص کړې وه اودا اعلان به ئې کولو چه په دې چراهګاه کښې بل چاته دخپلو څاروو څرولو اجازت نشته.

دحمی جوړولو طريقه:- اود ،،حمی،، جوړولو طريقه به دا وه چه په کومه علاقه کښې به

Maktaba Tul Ishaat.com

هغې سردار يا بادشاه د خپل خان دپاره ، ،حمى، ، جوړوله نوهلته به يوې اوچتې ديرئ نه ورغلو اوخپل خان سره به ئې داوجت آواز سپې بوتلو هلته کښې به ئې هغه سپې غپلو نه تيار کړلو بيا چه به تر کوم خائې پورې د سپى د غپارآواز رسيدلو د هغې خائې پورې به د هغې سردار ، ،حمى ، ، جوړه شوه بيا به عامو خلقو ته په هغې کښې د دننه ورتلو او په هغې کښې د خپلو څاروو څرولواجازت نه وو

دحمى د رسم ختمول:- خوچه کله نبى عليه السلام تشريف راوړلو نو هغه رسم ئې ختم کړلو او اعلان ئې اوکړلو ((لاحمى إلا لله ولرسوله)) (٢) يعنى دالله تعالى او پيغمبر نه سوا به بل څوك أننده دپاره د خان دپاره داسې، ،حمى، ،نشى جوړولې يعنى د بيت المال دپاره خو، ،حمى ، ، جوړولى شى د بيت المال نه سوا د بل څه دپاره يا دخپل خان دپاره به څوك ، ،حمى، ، نشى جوړولې

د حمى مثال بيانول:-په د حديث کښې د مثال په رنړا کښې په دې باندې پوهول کوى چه لکه څنګه د جاهليت په دور کښې به دسردارانو ، ،حمى، ، وه او عام سړى ته به هغه ، ،حمى، ،کښې دخپلو څاروو څرولو اجازت نه وو نو عام سړى به د دې ويرې د هغې ، ،حمى، ، نه ګيرچاپيره هم خپل څاروى نه څرول چه هغې نه څاروى اوبرويږى او دغې ، ،حمى، ، ته دننه ورشى نو د سردار يا د بادشاه د سزا مستحق به شى د مشتبه امورو ارتکاب هم دغه شان دې

د تشبيه غرض:- لکه چه دالله تعالى د ، ،حمى، ، نه ګيرچاپيره څريدل په دې کښې ددې خيرې خطره ده چه هغې نه د محرماتو ارتکاب اوکړى او دالله تعالى د سزا مستحق شى امام ابوداود رحمه الله دا حديث د دين دريمه حصه ګرخولې ده

د مشتبهاتو څخه د ځان بچ ساتلو د حکم دوه قسمونه:-په دې حديث کښې نبى کريم ﷺ د مشتبهاتو نه د بچ کيدو حکم کړې دې په بعضې حالاتو کښې دا حکم وجوبى وى او په بعضې حالاتو کښې دا حکم استحبابى وى

د مشتبهاتو څخه د ځان بچ ساتلو د وجوب يو مثال:-که يوعالم يا مجتهد د يو څيز په باره کښې تحقيق کوى چه دا څيزحلال دې که حرام؟ اوددې تحقيق په دوران کښې هغه ته دواړه قسم دلائل مخکښې راشى بعضې دلائل په حلت باندې دلالت کوى او بعضې دلائل په حرمت باندې او د موازنې په نتيجه کښې د دواړه طرف دلائل د وزن په اعتبار باندې برابر معلوميږى اويوطرف ته ترجيح نشى ورکولې نوپه داسې صورت کښې هغه څيز مشتبه شو او په داسې صورت کښې هغې عالم يا متجهد ته پکار دى چه د حرمت طرف ته ترجيح ورکړى اود هغې د حرمت فيصله اوکړى څکه چه په داسې صورت کښې د مشتبه نه د بچ کيدو حکم وجوبى دې

د مشتبهاتو څخه د ځان بچ ساتلو د وجوب دویم مثال:- یا یو عام سړی په یوه مسئله کښې د دوو عالمانو نه فتوی واخستله یو عالم د هغې د جوازفتوی ورکړه او بل دحرمت فتوی ورکړه که د دغې عام سړی په دغه دواړو عالمانو کښې د یو په علم اوتقوی باندې زیات اعتماد وو نو په دې صورت کښې هغه ته د هغې عالم په فتوی باندې عمل کول پکار دی په چا باندې چه ئې زیات اعتماد وی خو که دهغه په نظر کښې دواړه عالمانو په علم او تقوی کښې برابر وو نو په داسې صورت کښې په هغې عامی سړی باندې واجب ده چه هغه د هغې عالم په فتوی باندې عمل اوکړی ځوك چه د عدم جواز فتوی ورکوی خکه چه په دې صورت کښې دا مسئله د مشتهباتونه شوه اوداسې مشتبه شوه چه د هغې نه د ځان ساتلو حکم وجوبی دې

د مشتبهاتو څخه د بچ کیدو د استحباب یومثال:- په بعضې حالاتو کښې د مشتبهاتو نه د بچ کیدو حکم استحبابی وی مثلا که په یوه مسئله کښې دحلت او حرمت دواړه دلائل متعارض وی اودحلت د جانب دلائل د حرمت ددلائلو په مقابله کښې زیات قوی او راجح وی اوپه داسې صورت کښې یومفتی او یو عالم دحلت د دلائلو د ترجیح دوجه د هغې د حلت فتوی ورکړه لیکن د حرمت په طرف کښې هم څه دلائل موجود وو د هغې دوجه دا مسئله مشتبه شوه اود هغې نه د بچ کیدو حکم استحبابی شو نود تقوی تقاضا دا ده چه سړې د هغې نه پرهیز اوکړی او دحرمت په طرف عمل اوکړی

دانګریزی سیاهئ حکم:- حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی قدس سره به په فتوی کښې ددې خبرې کوشش کولو چه عامو خلقو ته چه څومره زیاته آسانتیا ملاویدې شوه هغه به ئې ورته ورکوله خود خپل ځان دپاره به ئې د سختئ طرف غوره کولو په هغه زمانه کښې د سیاهئ رواج شروع شو کومه چه نن مونږ خلق د سیاهئ په قلم کښې استعمالوو نود دې سیاهئ د جوازاو عدم جواز مسئله پیدا شوه خکه چه په دې سیاهئ کښې سپرټ وی او په سپرټو کښې الکحل ګروی او هغه د شرابو یوقسم دې او شراب نجس دی نوسپرټ هم پلیت شو نود سپرټ نه جوړه شوې سیاهئ هم پلیته کیدل پکار وو نود دې سیاهئ استعمال ناجائز کول پکار وو

حضرت تهانوی رحمه الله ددې مسئله دتحقیق نه پس یوه مستقله فتوی اولیکله په هغې کښې ئې اوفرمائیل چه په سیاهئ کښې الکحل ګروی اوهغه په اشربه اربعه کښې دیو نه هم نه جوړیږی نه هغه د کهجورو وی او نه د انګورو ددې وجه دامام اعظم رحمه الله د قول مطابق دا سیاهی پلیته نه ده نوددې استعمال هم جائز شو اوکه په یوه جامه باندې اولګی نوهغه نه پلیتیږی خوحضرت تهانوی رحمه الله چه تقریبا زر تصنیفات ئې پریخی دی ټول عمر ئې دا سیاهی نه ده استعمال کړې بلکه د سیاهئ قلم به ئې هم نه استعمالولو همیشه دپاره به

نې د لرګی قلم او دیسی سیاهی استعمالوله اوپه هغې باندې نې ټول تصنیفات لیکلی دی دې طرف ته رسول الله ﷺ په دې حدیث کښې اشاره کړېده

((دع ما یریبك إلا ما لا یریبك)) (٣) یعنی کوم څیزونه چه دې په شك کښې اچوی هغه پرېږده اوهغه څیزونه اختیار کړه کوم چه دې په شك کښې نه اچوی

د جائز او ناجائز پنځه مراحل او په هغې کښې ترتیب: - شیخ علی متقی رحمه الله ددې حدیث په رڼاکښې جائز اوناجائز حدود په پنځو مرحلوباندې مشتمل یوترتیب داسې لیکلې دې ① ضرورت ② مباح ③ مکروه ④ حرام ⑤ کفر. فرمائی چه کله انسان دخپلې بقاء اوخپل عزت دحفاظت دحده پورې په ضروری څیزونو باندې اکتفاء کوی نوهغه دهرې فتنې او خطرې نه محفوظ وی خوچې کله انسان د خپل ضروری حد نه تجاوز اوکړی اومخکښې تیر شی نوهغه دمباح په حدودو کښې ورداخل شی اوکه چرې هغه حد د اباحت باندې هم صبر نه کوی نوهغه په حدد کراهت کښې داخلیږی اوکله چه هغه په حد دکراهت باندې هم صبر نه کوی نوهغه وړاندې کیږی اوحد د حرام ته وررسیږی دکوم نتیجه چه دا راوځی چه دې نه په وړاندې مرحله کښې هغه د کفر حد کښې داخلیږی.

قوله: أَلَاوَهِيَ الْقَلْبُ:

د زړه اهمیت او عظمت: - دحدیث په آخری جمله کښې د نتیجې په توګه اوخودلې شوچه: حرام اومشتبه شیونو په استعمال سره په انسانی بدن کښې یوه ټکړه ده هغه متاثره کیږی په حرام خوراك سره په دې باندې تیارې خوریږی اوهغه ټکړه خرابیږی هغه د پوره بدن دپاره په منزله د پاورهاؤس دې که هغه خراب شونو پوره بدن به خرابیږی هغه ټکړه په منزله د بادشاه ده که د بادشاه ارادې بنه پاتې نه شوې نود بدن د یو اندام اراده صحیح نه شی پاتې کیدې ونی فرمائیل هغه زړه دې د دې احساسات جذبات او رحجانات سره پوره بدن حرکت کوی لهذا ددې د اصلاح کوشش کوئی د حرامو څیزونو نه بچ شئی اوحلال څیزونه استعمالوئی دې دپاره چه زړه مو نیك پاتې شی اوکله چه زړه صالح وی نود هغې خدام یعنی د بدن ټول اعضاء به صالح وی

[٢٧٣]دزنا کارې ښځې داجرت حرمت

٢٧٣—[د] ( ) [١]وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " [٢]«ثَمَنُ الْكَلْبِ خَبِيثٌ، [٣]وَمَهْرُ الْبَغِيِّ خَبِيثٌ، [٤]وَكَسْبُ الْحَجَّامِ خَبِيثٌ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١]حضرت رافع رضي الله عنه ابن خدیج وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] د سپي

---

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب المساقاة/باب تحریم ثمن الکلب. وحلوان الکاهن. ومهر البغی. والنهی عن بیع السنور(رقم-٤١ - (١٥٦٨)وابوداود فی أبواب الإجارة/باب فی کسب الحجام (رقم-٣٤٢١) والترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی ثمن الکلب (رقم-١٢٧٥) واحمد فی المسند: ٣/٤٦٤

قیمت ناپاك دی، [٣] د زناکاري ښځي مزدوري حرام مال دی [۴] د ښکر راؤښکلو (د وینې وحکونکی) ګټه ناخوښه مال دی. مسلم

حل اللغات - ① ثَمَنُ الْكَلْبِ: د سپي ګټه یعني دسپی په اخستلو خرخولو باندې پیسې ګټل ② خَبِيثٌ دا لفظ په ګڼرومعانیوکښې مستعمل دي دلته تري مراد حرام دي ③ مَهْرٌ: هغه مال یا قیمت کوم چه زنانه ته په بدل د بُضعه (فرج) کښې ملاؤ شی ④ الْبَغِيِّ: زناکاره ښځه ⑤ كَسْبٌ: کار، روزګار. ⑥ الْحَجَّامِ ښکر لګونکي، یعنی د رګ څخه وینه راویستونکې

تسهیلات: قوله: وَمَهْرُ الْبَغِيِّ خَبِيثٌ:

د خبیث لفظ اطلاق:- په لغوی اعتبارسره لفظ خبیث دَ ناپاك دَ پاره ونیلې شی لیکن نقهی اصطلاح کښې فقهاء کرام اومجتهدین دا لفظ په موقع اومحل سره کله په حرام باندې حمل کوی کله ئې په مکروه باندې حمل کوی کله ئې په خلاف اولی اوناخوښه عمل باندې حمل کوی

قوله ثَمَنُ الْكَلْبِ خَبِيثٌ:

د سپو د ګټې په حکم کښې اختلاف:- ① دَ احنافو فقهاؤ دا لفظ په مکروه باندې حمل کړې دې ② نورو ائمه حضراتو دَ خپل خپل اجتهاد مطابق په حرام باندې حمل کړې دې اختلاف په راتلونکی حدیث کښې راروان دې

قوله: وَكَسْبُ الْحَجَّامِ خَبِيثٌ:

د حجام د ګټې حکم:- دَ حجام کسب خکه خلاف اولی ګرخولې شوې دې چه اسلام مسلمانانو ته اوچت اخلاق او اوچت مقام ورکوی لهذا اسلام دَ مسلمانانودپاره داسې پیشه اختیارول نه خوښه وی دَ کوم په اختیارولو سره چه دَ مسلمان په لوړ مقام کښې کوتهی راخی مثلاً خلق به وائی فلانکی صاحب دَ سپو فارم کولاؤکړې دې فلانکی صاحب دَ پیشوګانو داخستو خرخولوفارم کولاؤکړې دې اوفلانکي صاحب په وینه راښکلو راښکلو سره خپل رزق ګټی په دې سره دَمسلمان اوچت شان ته نقصان رسیږی

[٢٧٠٣] دَسپوڎ خرخولو اخستلو ممانعت

٢٧٠٣-[١] (١)[١] وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- [٢] «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، [٣] وَمَهْرِ الْبَغِيِّ، [٤] وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

١) اخرجه البخاري فی كتاب البيوع/باب ثمن الكلب(رقم ٢٢٣٧) ومسلم فی كتاب المساقاة/باب تحريم ثمن الكلب. وحلوان الكاهن، ومهر البغي، والنهي عن بيع السنور(رقم-٣٩ (١٥٦٧) وابوداود فی أبواب الإجارة/باب فی حلوان الكاهن (رقم-٣٤٢٨) والترمذي فی كتاب البيوع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی ثمن الكلب (رقم-١٢٧٦) وابن ماجة فی كتاب التجارات /باب النهي عن ثمن الكلب ومهر البغي وحلوان الكاهن وعسب الفحل (رقم-٢١٥٩) ومالک فی الموطا كتاب البيوع/باب ماجاء فی ثمن الكلب (رقم-٦٨)واحمد فی المسند: ١١٨/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: ① حضرت ابو مسعود انصاري رضي الله عنه وايي ② چې رسول الله ﷺ د سپي قيمت ③ د بدكارې ښځې مزدوري، ④ او د كاهن حلوان (يعنې د هغه ځخه د أجرت په طور حاصليدونكي مال ځخه يې د استعمالولو) منع فرمايلې ده. بخاري مسلم

حل اللغات - ① حُلْوَانِ: مَايُعْطَاهُ عَلَى كَهَانَتِهِ: كاهن چې په خپل كهانت باندې كوم اجرت اخلى هغې ته حلوان وائى ② الْكَاهِنِ: هُوَالَّذِي يَتَعَاطَى الْأَخْبَارَعَنِ الْكَائِنَاتِ فِي الْمُسْتَقْبَلِ: كاهن هغه سړى ته وائى چه د راتلونكى وخت د غيبو خبرې كوى. ده ته فال گر او لاس كتونكې هم وائى

تسهيلات:

قوله: نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ:

د سپي د خرڅولو او اخستلو حرمت:- يعنى حضورپاك د سپى د قيمت اخستلو نه مسلمانان منع كړى دى دكوم مطلب چه دا شو د سپى اخستل اوخرڅول جائز نه دى

د سپى د بيع او شراء د جواز او عدم جواز صورتونه:- ① د ټولو فقهاؤ كرامو په دې باندې اتفاق دې چه كلب عقور د ليونى سپى اخستل خرڅول ناجائزدى د شوقيه ساتلې شوو سپو اخستل خرڅول هم ناجائز دى اوداسې سپى په كورونوكښې ساتل هم ناجائز دى

② شريعت دكومو سپو په كورونوكښې د ساتلو او پاللو اجازت وركړې دې لكه كلب معلم كلب صيد دې كلب ماشيه اوكلب حراسه دې. د دې بيع او شراء په جواز او عدم جواز كښې اختلاف دې

د ثمن الكلب په حكم كښې مذاهب:-

① په دې حديث كښې د بيع كلب نه منع كړې شوې ده، د امام شافعي او احمد رحمهما الله مذهب هم دا دې چې د سپى تجارت ناجائز دى.

② د احنافو په نزد بيع د كلب جائز ده كه هغه معلم وى او كه غير معلم.

③ د امام مالك رحمه الله درې روايتونه منقول دى د جواز او د عدم جواز ، او دريم روايت دا دې چې

((والثالث يجب القيمة لا الثمن)) يعنى بيع خو نې اگر كه جائز بالكل هم نه ده خو كه يو سړې د بل چا سپې مر كړى يا ئې ضائع كړى، نو بيا د هغې قيمت يعنى ضمان وركول واجب وى،

④ د امام ابو يوسف رحمه الله نه يو روايت دا دې چه د كلب عقور بيع جائز نه ده

⑤ عطاء او ابراهيم نخعى فرمائى ((يجوز بيع كلب الصيد دون غيره))

ويدل عليه ما اخرجه النسائى من حديث جابر قال نهى رسول الله ﷺ عن ثمن الكلب الا كلب صيد) الى آخر ما في العون.

حديث الباب د حديث د شوافعو او د حنابله مستدل دې

د ثمن الکلب د حرمت دلائل :- ① حدیث الباب د عدم جواز د قـائلینو مستدل دې په دې کښې په واضحه توګه د سپی د قیمت اخستلو نه منع راغلې ده

② هغه احادیث هم د دوی مستدل دی په کومو کښې چه لفظ خبیث استعمال کړې شوې دې او د خبیث معنی په دې باب کښې حرمت دې

د خصم د دلائلو دری جوابونه :

① یوه توجیه دا ده چه په دې حدیث کښې هغه سپې مراد دي چه د کوم ساتل جائز نه وی

② دویمه توجیه دا ده چه دا حدیث منسوخ دې او د دې تاریخ هغه احادیث دی په کومو کښې چه د ..الا کلب صید.. استثناء راغلې ده او د منسوخ یوه وجه دا هم ده چه تاسو په ګڼرو احادیثو کښې لوستلې دی چه د نبی علیه السلام په زمانه کښې د سپو احکام د تشدید نه تخفیف ته راتلل په اول کښې حکم دا وو چه دا سپی مړه کړئ بیا دا حکم وشو چه صرف تور سپی مړه کړئ او بیا د سپی د ساتلو مطلقا ممانعت راغلو ددې نه پس د ښکار او د فصل د سپی د ساتلو استثناء راغله هم دغه شان دا احکام تخفیف طرف ته روان وو نو دغه شان دلته کښې هم وئیلی شی چه په اول کښې د هر قسم سپی د خرڅولو ممانعت وو او بیا د ددې اجازت ملاو شو ددې دلیل دا دې چه د رسول الله ﷺ نه پس صحابه کرامو ددې تاوان اخستې دې.

③ دریمه توجیه دا ده چه نهی تحریمی نه ده بلکه تنزیهی ده ددې دلیل دا دې چه په روستو د حضرت جابر رضی الله عنه نه یو حدیث نقل کیږی د هغې الفاظ دا دی ((نهی رسول الله ﷺ عن ثمن الکلب والسنور)) په دې حدیث کښې د سپی سره پیشو هم شامله شوې ده حالانکه د پیشو بیع د چا په نزد هم ناجائز نه ده نو په دې حدیث کښې به نهی په کراهت تنزیهی باندې حمل کول وی او ددې تائید ددې نه هم کیږی چه په بعضې روایاتو کښې نې ثمن الکلب د ..اجری الحجام.. سره یوځائې کړې دې حالانکه د حجام اجرت په اجماع باندې جائز دې او پخپله د نبی علیه السلام نه ثابته ده چه هغوی حجام ته اجرت ورکړې وو نو په دې روایت کښې به هم ممانعت په کراهت تنزیهی باندې حمل کړې شی بهر حال دا درې واړه توجیهات په دې حدیث کښې کیدې شی

د ثمن الکلب د جواز دلائل :- ① ((عن جابر رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم نهی عن ثمن السنور والکلب الاکلب الصید)) (نسائی)

② د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما حدیث دې د کوم الفاظ چه دا دی ((عن ابن عباس رضی الله عنه قال رخص رسول الله صلی الله علیه وسلم فی ثمن الکلب الصید)) (مسند امام اعظم)

Maktaba Tul Ishaat.com

③ ,,عن جابر رضي الله عنه نهى عن ثمن الكلب الا الكلب المعلم،، (احمد ونسائي)

④ دَ حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه واقعه ده چه هغوی څلويښت درهم دَ سپي په تاوان کښې وصول کړی وو دَحضرت عمر رضي الله عنه فيصله مستدرك حاكم اوطحاوی کښې ذکرده چه هغوی دَ کلب الصيد په قتل باندې څلويښت درهم معاوضه کيخودې وه او دَ کلب ماشيه په قتل باندې دوه ګډان ايخودې وو

⑤ دَ ابن شهاب زهري رحمه الله فتوی ده که يوسړی دَ ښکاری سپي قتل کړو نو په قتل باندې به دَهغې دَ قيمت تاوان راځي (طحاوی)

⑥ دَ قياس هم دغه تقاضا ده چه دَ سپي قيمت جائز دې ځکه چه کله شريعت دَ سپي نه دَ فائدې اوچتولودَپاره دَ دې ساتل جائز ګرځولی نودَهغې مال کيدل هم ثابت شو اوکله چه يوڅيز دَ شريعت په نظر کښې مال وی نودَهغې اخستل اوخرڅول هم جائز دی

قوله: وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ:

کاهن ته د ورکړلو حرمت:- کاهن ته چه دَ ده دَدې عمل په عوض کښې کوم څه ورکولې شي هغې ته حلوان اوونيلې شو يعنی دَ نجومي متهائی او شيرينی بهرحال نجومي له تلل او دَهغه نه دَمستقبل باره کښې تپوس کول اودَهغه خبره منل ټول حرام دی دا نجومي پخپله اسـ ن دې ده ته دَ غيب څنګه علم کيدې شي

کاهن د خپل کور نه ناخبره:- شيخ سعدی بابا په ګلستان کښې يوه قصه ليکلې ده دَ يونجومي کورته يو بدکاره سړې راننوتلو اودَ نجومي ښځې سره ئی په ګپ شپ کښې مزې اخستې او نجومي په بازارکښې خلقو ته دَآسمان خبرې خودلې

[٢٧٦٥] د ويني خرڅولو حرمت

٢٧٦٥-[٤](١) ١وَعَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ٢«أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنْ ثَمَنِ الدَّمِ، ٣وَثَمَنِ الْكَلْبِ، ٤وَكَسْبِ الْبَغِيِّ، ٥وَلَعَنَ آكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ، ٦وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ، وَالْمُصَوِّرَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١حضرت ابوجحيفه رضي الله عنه وايي٢ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د وينې قيمت، ٣ د سپي قيمت، ٤ او د بدکارې ښځې اجرت (په طورد اجرت حاصل کيدونکی مال د استعمال) څخه منع فرمايلې ده ٥ او حضور صلى الله عليه وسلم سود آخستونکی او سود ورکونکی ٦ خال وهونکی (خان ته يابل ته) او په تصوير اخستونکې لعنت ويلی دی. بخاري

حل اللغات- ① ثَمَنِ الدَّمِ: د وينې ګټه (يعنی وينه اخستل يا خرڅول. يا ددې نه مراد ښکر لګولو سره د وينې رابنکلو کار کول دی) ② آكِلَ: أي: آخِذَهُ: يعنی اخستونکې. ③ مُوكِلَهُ: أي: مُعْطِيَهُ: يعنی

(١) اخرجه البخاري في كتاب البيوع/باب ثمن الكلب(رقم-٢٢٣٨) واحمد في ٣٠٩/٢

ورکونکې. ⑦ اَلْوَاشِمَةَ: أَيِ الْمَرْأَةُ الَّتِي تَشِمُ: خپل بدن کښې خالونه لګونکې ښځه، وَالْوَشْمُ أَنْ يُغْرَزَ الْجِلْدُ بِإِبْرَةٍ. وشم دې ته وائی چه څرمن په ستن سره کندې کندې کړی بیا هغه په رانجو یا نیل سره رنګ کړی ⑧ اَلْمُسْتَوْشِمَةَ: أَيِ الَّتِي يُفْعَلُ ذٰلِكَ بِهَا: د بلې ښځې نه دخالونه لګولو مطالبه کونکې ښځه. ⑨ اَلْمُصَوِّرَ: تصویرونه جوړونکې

د راوي مختصر تعارف:

حضرت ابوجحیفه وهب بن عبدالله نوم ئې وهب دې کنیت ئې ابوجحیفه دې دَ پلار نوم ئې عبدالله دې بعضو وئیلی دی چه دا اصل وهب السوائی دې کله چه رسول الله ﷺ دَ دنیا نه رخصت شو هغه وخت دې ورکې وو.دَ اسماء الرجال والا فرمانی بالغ شوې نه وو حضرت علی ﷜ به هغه سره ډیره مینه کوله او بیانی هغه کوفې ته اولیګلو کوفه دغه وخت دَ دین مرکز وو.

وفات:- ٧٢ هجری کښې هم په کوفه کښې وفات شوې دې.

روایات:- دَ هغوی نه ۴۵ روایات نقل دی په دې کښې په دوو باندې دَ بخاری اومسلم اتفاق دې او په بخاری کښې دوه او مسلم کښې درې احادیث منفرد دی.

تسهیلات: قوله: ثَمَنِ الدَّمِ

د ثمن الدم په مفهوم کښې دوه احتمالات:-

① که دم نه مراد وینه وی نودَ وینې خرڅول اخستل حرام دی ځکه چه دا مال نه دې

② اوکه دَ دم نه مراد دَ ښکر راښکلو اجرت دې نوبیا دامکروه تنزیهی دی لکه چه اول لیکلې شوی دی دَ سود او ربوا خبره وراندې راغې

قوله:- اَلْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ،

د خال لګولو طریقه:- دَ وشم طریقه دا وی چه مثلاً یوسړې یا ښځه دَ بدن په یوه حصه کښې په ستن باندې زخم کوی بیا په دغه زخم کښې رانجه یا نیل وغیره اچوی کله چه زخم تیک شی نو دغه رانجه او نیل دَ څرمن لاندې پاتې کیږی په کوم سره چه په بدن باندې یو خال او نشان جوړیږی اسلام دَدې نه ځکه منع کړې ده چه په دې سره دَ الله تعالی په تخلیق کښې تغیر راځی او په دې کښې کافرانو اوفاسقانو سره مشابهت هم دې بهرحال واشمه هغه رنګ اچونکی ښځې ته وائی چه په دې کار باندې پوهیږی اودَدې کاریګره وی او مستوشمة دا کار په چا کونکی ښځې ته وائی دَدې ترجمه داده چه حضورپاك هغه ښځه چه کومه دا کار کوی او کومې ښځې له چه ئې کوی په دواړوباندې لعنت وئیلې دې.

د خال لګولو رسم:- دَ وشم دا قبیح رسم مصر لیبیا او افغانستان وغیره ملکونوکښې ډیر زیات دې بعض توریان خلق مخ ځیرلو سره په دې باندې کربښې اوکندې جوړوی داکار هم په تغیر خلق الله کښې داخل دې او حرام دې

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله - وَالْمُصَوِّرَ

په تصویر جوړونکی باندې لعنت: - په دې حدیث کښې په مصور باندې هم لعنت کړې شوې دې دې نه مراد هغه خلق دی چه د خناورو تصویران جوړوی د دې جوړول خرڅول او اخستل ټول ناجائز دی

[۲۷۶۳] د حرام څیز د خرڅولو او اخستلو حرمت

۲۷٦۳—[۸] ( ) ۱ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ عَامَ الْفَتْحِ وَهُوَ بِمَكَّةَ: ۲ «إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ وَالْمَيْتَةِ وَالْخِنْزِيرِ وَالْأَصْنَامِ ۳: فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ شُحُومَ الْمَيْتَةِ؟ فَإِنَّهُ تُطْلَى بِهَا السُّفُنُ، وَيُدْهَنُ بِهَا الْجُلُودُ، وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ؟

ترجمه: ۱ او د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې هغوی د مکې د فتحې په کال د حضور ﷺ څخه واوریدل ۲ چې الله ﷻ او د هغه رسول شراب مردار خنزیر او د بتانو خرڅول او واخستل حرام ګرځولی دی، ۳ کوم وخت چې حضور ﷺ ته عرض وشو چې یا رسول الله ﷺ مونږ ته د مردارو دوازګي حکم هم وښايي چې په کشتو مږل کېږي. او په دې سره څرمني غوړېږي او خلق (په کورونو کې) په دې سره ډيوى بلوي.

حل اللغات - ① عَامَ الْفَتْحِ: أَيْ: فَتْحِ مَكَّةَ: يعنی د فتح مکې په کال. ② شُحُومَ: جمع د شحم ده. وازګه ③ تُطْلَى: مږلې شی ④ السُّفُنُ: جمع د سفينة ده. کشتئ (دلته د کشتئ نه مراد د هغې تختې دی أَيْ أَخْشَابُهَا) ⑤ يُدْهَنُ: غوړولې شی ⑥ الْجُلُودُ: دا د جلد جمع ده. څرمن ⑦ يَسْتَصْبِحُ: أَيْ: يُنَوِّرُ: رڼرا حاصلوی. یعنی د دې په تیلو باندې ډیوې بلوی.

۱ فَقَالَ: " لَا، هُوَ حَرَامٌ " ۲ ثُمَّ قَالَ عِنْدَ ذَلِكَ " ۳ قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ، ۴ إِنَّ اللَّهَ لَمَّا حَرَّمَ شُحُومَهَا أَجْمَلُوهُ ثُمَّ بَاعُوهُ فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ نو حضور ﷺ وفرمایل د مردار وازګه هم مرداره ده څکه د دې څخه دا فائده اخستل جائز نه دی. ۲ بیا حضور ﷺ هغه وخت دا هم وفرمایل ۳ الله دې په یهودو لعنت وکړي ۴ هرکله چې الله ﷻ د مرداري وازګه حرامه کړه نو یهودو (دا حیله اختیار کړه چې هغو) وازګه ویلي کوله او خرڅوله یې د هغې قیمت به یې خوړلو. بخاري مسلم

حل اللغات - ⑧ أَجْمَلُوهُ: دا د اجمال نه دې د باب افعال نه. أَيْ أَذَابُوهُ: ویلې کوله به نې وازګه ⑨ بَاعُوهُ: خرڅوله به نې وازګه

تسهیلات: **قوله** بَيْعَ الْخَمْرِ:

د لهو لعب آلات مثلاً ډهول، باجې وغیره د خرڅولو حکم: - شیخ عطاء رحمه الله لیکلی دی د شرابو خرڅول چه څنګه حرام دی دغه شان د لهولعب آلات مثلاً ډهول، باجې وغیره خرڅول

[۱]) اخرجه البخاری فی صحیحه رقم الحدیث ۲۲۳٦ ومسلم فی کتاب المساقاة/باب تحریم بیع الخمر، والمیتة، والخنزیر، والأصنام (رقم-۷۱ - (۱۵۸۱) والنسائی فی السنن رقم الحدیث ۴۲۵٦

هم ناجائز دی هغوی داهم ليکلی دی که چا د لهو لعب دا سامان مات کړو نو په هغه باندې ضمان اوتاوان نشته دې

قوله: وَالْمَيْتَةِ:

د کافر د نعش د خرڅولو حرمت:- دمردارې اخستل اوخرڅول چه څنګه ناجائز دی دغه شان د يو کافرنعش خرڅول هم ناجائز دی غزوه خندق کښې د نوفل کافر نعش په عوض کافرانو د لس زره درهمو پيش کش کړې وو حضورپاک منع کړل اونعش ئی ورته مفت کښې ورواپس کړو

قوله: وَالْأَصْنَامِ:

مصنوعی ګډيانو د خرڅولو حکم:- د بتانو د خرڅولو اخستلو کاروبار ممانعت د لاندې د پلاسټک وغيره ګډيانې اونورې مجسمې راتلې شی.

قوله: فَقَالَ: "لَا:

د حرام الاصل څخه د فائدې اخستلو عدم جواز:- يعنی کله چه يوڅيز په اصل کښې حرام دې نو د هغې نه فائده اوچتول په هيڅ صورت هم جائز نه ده

د حرام څيز بالتبع استعمال کښې مذاهب:-

① امام شافعی رحمه الله فرمائی چه که په يوه کشتئی باندې څه نجس وازګه وغيره مرلې شوې وی په دې سره چراغ روښانه کړې شی نودا جائزدی مګردې اخستل خرڅول جائز نه دی

② جمهور فرمائی چه نه اخستل خرڅول جائز دی اونه نوره فائده اخستل جائز ده البته دمردارې څرمن چه کله دباغت ورکړې شی نود مستقل حديث دحکم د وجې نه ددې استعمال جائز دې

قوله: أَجْمَلُوهُ:

ديهوديانو د شريعت په احکاماتو کښې حيلې کول:- دا د اجمال نه دې اواجمال د باب افعال صيغه ده د ويلې کولو په معنی کښې دې دا صيغه دمجردنه هم راځی مګر په مزيد کښې مبالغه ده يعنی يهود د عيارنی اومکارنی اوحيله سازنی لاندې يوشان دا ويلې کوله اودا بهانه ئی جوړه کړه چه اوس خودا وازګه نه ده بلکه تيل دی حالانکه په ويلې کولوسره دهغې حقيقت نه وو بدل شوې

د حديث نه مستنبط قواعد:- ① دې نه معلومه شوه چه هره هغه حيله په کوم سره چه د يوحرام څيز د حلال کيدو کوشش اوکړې شی هغه حيله ناجائز ده

② ددې حديث نه داهم معلومه شوه چه د يوڅيز قيمت د هغه څيز تابع دې که چرې هغه څيز حرام دې نو د هغې قيمت هم حرام دې

Maktaba Tul Ishaat.com

[۲۰۶۷] د يهودو مكاري

۲۰۶۷—[۱] (۱) وَعَنْ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[۲] قَاتَلَ اللّٰهُ الْيَهُودَ حُرِّمَتْ عَلَيْهِمُ الشُّحُومُ فَجَمَلُوهَا فَبَاعُوهَا» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت عمر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله ﷻ دي يهود هلاك كړي په هغوئ د مردار وازګه حرامه شوه نو هغوئ هغه ويلي كړه چې دوازګي نوم پټې نشي او بيا د هغه خرخول او واخستل يې شروع كړه د دې پوره وضاحت په حديث كې شوى دى. بخاري مسلم

حل اللغات - ① فَجَمَلُوهَا: أي: أذابوهَا بالنار: ويلې كوله به ئې وازګه به ئې ويلې كړه دې دپاره چه نوم ئې بدل شي دل او غوړى ترې جوړشي يعنى حيله به ئې كوله چه حرام څيز خان دپاره حلال كړي.

تسهيلات:

قوله فَجَمَلُوهَا فَبَاعُوهَا

داحنافو دليل: - دا به ئې په اور ويلى كړه نو د چربې نوم به ترې ختم شو دا حديث د احنافو دليل دې چه د مردارې د چربې نه هم فائده نشي اخستلې

[۲۰۶۸] د پيشو د خرڅولو اخستلو ممانعت

۲۰۶۸—[۲] (۲) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَالسِّنَّوْرِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر ﷺ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د سپي او د پيشو قيمت په استعمال كې د راوستلو څخه منع فرمايلي ده. مسلم

حل اللغات - ① ثَمَن: قيمت. ګټه. ② الْكَلْب: سپي (كه معلم وى او كه غير معلم). ③ السِّنَّوْر: پيشو

تسهيلات: قوله وَالسِّنَّوْر:

د پيشو د خرڅولو او اخستلو حكم: - د پيشو خرڅول اخستل د ټولوعلماؤ اوفقهاؤ په نيز جائز دي صرف خلاف اولى دي اومكروه تنزيهى دي اوحضرت ابوهريره ﷺ د هره خرڅولو قائل نه وو په دې حديث سره د احنافو د مسلك تائيد كيږى چه قابل انتفاع سپى

---

(۱) اخرجه البخاري في كتاب احاديث الأنبياء/باب ما ذكر عن بني إسرائيل (رقم-۲۲۲۳) ومسلم في كتاب المساقاة/باب تحريم بيع الخمر، والميتة، والخنزير، والأصنام (رقم ۷۲ (۱۵۸۲) والنسائي في كتاب البيوع/باب ما يجب على التجار من التوفية في مبايعتهم (رقم ٤٤٥۷) واحمد في المسند: ۱/۲۵

(۲) اخرجه مسلم في كتاب المساقاة/باب تحريم ثمن الكلب، وحلوان الكاهن، ومهر البغي، والنهي عن بيع السنور (رقم-٤۲ - (۱۵٦۹) وابوداود في أبواب الإجارة/باب في ثمن السنور (رقم-۳٤۷۹) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية ثمن الكلب والسنور (رقم-۱۲۷۹) وابن ماجة في كتاب التجارات/باب النهي عن ثمن الكلب ومهر البغي وحلوان الكاهن وعسب الفحل (رقم-۲۱٦۱)

اخستل خرخول مكروه تنزيهي دى يعنى خلاف اولى دى حرام نه دى د استدلال طرز داسې دي چه څنګه الفاظ د پيشو د خرخولو او اخستلو دپاره استعمال شوى دى بالكل هم هغه الفاظ د سپى دپاره هم استعمال شوى دى خو جمهور د پيشو سره متعلق الفاظ مكروه تنزيهي باندې حمل کولوسره تاويل کوى نو احنافو هم د سپى باره کښې راغلي الفاظوکښې هم هغه تاويل اوکړو فرق صرف دومره دي چه د پيشو متعلق فيصله د جمهورو ده او د سپى متعلق فيصله د احنافو ده

[٢٨٠٩] د ښكر لګولو اجرت اخستلو جواز

٢٨٠٣-[١] () [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «حَجَمَ أَبُو طَيْبَةَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] فَأَمَرَ لَهُ بِصَاعٍ مِنْ تَمْرٍ، [٤] وَأَمَرَ أَهْلَهُ أَنْ يُخَفِّفُوا عَنْهُ مِنْ خَرَاجِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت انس ﷜ وايي [٢] چې ابوطيبه حضور ﷺ ته ښكر ولګوى [٣] نو حضور ﷺ د يو صاع خرما په ورکولو حکم وکړي [٤] او حضور ﷺ د هغه مالکانو ته حکم ورکړي چې هغه دي د ابو طيبه د ګټې څخه کمه حصه اخلي. بخاري مسلم

حل اللغات: - ① حَجَمَ: ښكر ئي اولګولو (ښكر لګولوسره ئي ترې وينه اوويستله) ② يُخَفِّفُوا: چه سپک کړى، کم کړى. ③ خَرَاجِهِ: خراج ټيکس ته وائي.

تسهيلات:

قوله: أَبُو طَيْبَةَ:

دابوطيبه مصداق: - دا د حضورپاك خاص حجام وو دي په سرخرولو او ښکرلګولوکار کښې ماهر وو

د حجام پيشه حلال ده: "امرله بصاع" دي نه معلومه شوه چه د حجام پيشه حلال ده ګنې حضورپاك به ورته اجرت نه ورکولو

قوله: مِنْ خَرَاجِهِ: خراج ټيکس ته وائى د عربو عادت وو چه هغوى به حپل غلامان په مختلفو کسبونوکښې لګول او هغوى سره به ئي دا فيصله کوله چه د روزانه په ګټه کښې به دومره حصه زمونږ وى او دومره به ستاسو وى ابوطيبه د بنوبياضه غلام وو هغه چه په ده باندې کوم ټيکس لګولې وو حضورپاك د هغې د کمولو سفارش اوکړو هغه کم کړو حضورپاك خو رحمة للعالمين وو دلته د يو رحمت ظهور اوشو

¹) اخرجه البخارى فى كتاب البيوع/باب ذكر الحجام (رقم-٢١٠٢) ومسلم فى كتاب المساقاة/باب حل أجرة الحجامة (رقم-٦٤ - (١٥٧٧) وابوداود فى أبواب الإجارة/باب فى كسب الحجام (رقم-٣٤٢٤) والترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الرخصة فى كسب الحجام (رقم-١٢٧٨) ومالك فى الموطا كتاب الاستئذان/باب ما جاء فى الحجامة وأجرة الحجام (رقم-٢٦) واحمد فى المسند: ١٧٤/٣

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۷۷۰]د اولاد ګټه او مورپلار

۲۷۷۰-[۳] ()① وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -② «إِنَّ أَطْيَبَ مَا أَكَلْتُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ، ③ وَإِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ» "④ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ. ⑤ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ وَالدَّارِمِيِّ " «إِنَّ أَطْيَبَ مَا أَكَلَ الرَّجُلُ مِنْ كَسْبِهِ وَإِنَّ وَلَدَهُ مِنْ كَسْبِهِ» ".

ترجمه: ① بي بي عائشه رضي الله عنها راویه ده چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② څه چې تاسو خورئ په هغه کې د ټولو ښه هغه څيز دی چې تاسو ته د ګټې څخه حاصل شوی وي ③ او ستاسو اولاد هم ستاسو ګټه ده، ④ ترمذي نسائي ابن ماجه، ⑤ د ابوداود او د دارمي د یو روایت الفاظ دا دي چې انسان څه خوري په هغه کې د ټولو ښه هغه څيز دی چې د هغه د ګټې څخه حاصلیږي او هغه اولاد هم د هغه ګټه ده.

حل اللغات: - ① كَسْبِكُمْ: د کار روزګار مزدوري اوګټه مراد ده

تسهیلات:

قوله: وَإِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ:

د والدینو د کفالت حکم: - مورپلار دَ بچي دَ وجود دَ پاره ثانوي سبب دي نوچه دکوم بچي وجود دَ مور پلار مرهون منت وي نوکه مور پلار دَ اولګي نه پريشانه وي نوبچي له خپل محنت دَهغوی مخې ته پيش کول پکاردي. دامناسب نه دی چه بچي دې آسوده حال وي او مورپلار ني اولګې تيروي. په دې حديث کښې هم دغه فرمائيلي شوی دی چه دَ اولاد مال دَ مورپلار دَ پاره حلال طيب دې. که چرې والدين محتاج وي نو په اولاد باندې دَهغوی کفالت واجب دې ليکن که والدين آسوده حال وي نوهغوی دې هسې په خپل اولاد باندې بوج نه جوړيږي

[۲۷۷۱]دَ حرام مال د صدقې عدم جواز

۲۷۷۱-[۴] ()① وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " ② «لَا يَكْسِبُ عَبْدٌ مَالًا حَرَامًا فَيَتَصَدَّقُ مِنْهُ فَيُقْبَلُ مِنْهُ، ③ وَلَا يُنْفِقُ مِنْهُ ; فَيُبَارَكُ لَهُ فِيهِ، ④ وَلَا يَتْرُكُهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ إِلَّا كَانَ زَادَهُ إِلَى النَّارِ، ⑤ إِنَّ اللَّهَ لَا يَمْحُو السَّيِّئَ بِالسَّيِّئِ، وَلَكِنْ يَمْحُو السَّيِّئَ بِالْحَسَنِ، ⑥ إِنَّ الْخَبِيثَ لَا يَمْحُو الْخَبِيثَ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ وَكَذَا فِي " شَرْحِ السُّنَّةِ ".

[1]) اخرجه الترمذي في كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن الوالد يأخذ من مال ولده (رقم-١٣٥٨) والنسائي في كتاب البيوع/باب الحث على الكسب (رقم-٤٤٥٠) وابن ماجة في كتاب التجارات/ باب ما للرجل من مال ولده (رقم-٢٢٩٠) واحمد في المسند: ١٦٢/٦

[2]) اخرجه البغوي في شرح السنة رقم الحديث: ٢٠٣٠ واحمد في المسند: ٢٨٧/١

ترجمه: [۱] حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي [۲] چې حضور ﷺ وفرمايل داسې هيڅ کله نه کېږي چې يو بنده دي د حرام مال په ګټلو سره د هغه څخه صدقه او خيرات کوي او د هغه صدقه دي قبوله شي (يعني که يو سړی د حرامو ذرائعو سره ګټلی خراب مال صدقه او خيرات کوي نو د هغه صدقه قطعًا نه قبليږي او نه هغه ته څه ثواب حاصليږي) [۳] او نه کله داسې کېږي چې هغه سړی دي هغه حرام مال (په خپل ذات او اهل وعيال) خرڅ کوي او په هغه کې دي برکت وي (يعني په حرام مال کې چې څه خرڅ کړي په هغه کې برکت بالکل نه وي) [۴] او کوم سړی چې د خپل مرګ څخه وروسته حرام مال پريږدي نو د هغه حيثيت د دې څخه علاوه نور هيڅ نه دی چې هغه مال د هغه سړي د پاره يوه داسې توښه جوړيږي چې هغه د دوزخ اور ته رسوي [۵] (او دا خبره ياد لرئ چې) الله ﷻ بدي د بدۍ په ذريعه نه لرې کوي، بلکه بدي د نيکۍ په ذريعه لرې کوي. [۶] د غه شان ناپاک مال ناپاک نه لرې کوي (يعني حرام مال خرابي نه لرې کوي. بلکه حلال مال ناپاک لرې کوي) احمد، شرح السنه.

حل اللغات: - ① يَتَصَدَّقُ: صدقه او خيرات کوی ② خَلْفَ ظَهْرِهِ: كِنَايَةٌ عَنِ الْمَوْتِ: دخان نه روسته. دا کنايه ده د مرګ نه، ③ لَا يَمْحُو: نه لرې کوی، نه ختموی، ④ السَّيِّئَ: بدی، ګناه، ⑤ الْحَسَنَ: نيکی. ⑥ الْخَبِيثَ: ناپاک، حرام.

تسهيلات:

قوله: فَيَتَصَدَّقُ مِنْهُ فَيُقْبَلُ مِنْهُ،

د حرام مال په صدقه کښې د ثواب د نيت کولو حکم: - فقهاؤليکلی دی که چرته چاسره حرام مال وی اودَهغې نه ځان خلاصول غواړی نو هغه دې دَ ثواب دَ نيت نه بغير چا فقيرته ورکړی که دَ ثواب نيت ئې اوکړو نو په دې کښې دَ کفرخطره ده دَ ذمه وارئی نه دَ خلاصيدو نيت کول پکاردی. بل که حرام مال اخستونکي فقيرته دا معلومه شی چه دا دَ حرام صدقه ده نوهغه دې دَ صدقه ورکونکی دَ پاره دَخيردعانه کوی که چرې هغه دعااوکړه نود کفرخطره ده

قوله: لَا يَمْحُو السَّيِّئَ:

په نيکو سره د ګناهونو معاف کيدل: - په دې جمله کښې حضورپاک يوه ضابطه بيان کړه چه دين دَ ديندارئی په لارکښې حاصليږی دَ بې دينئی په لارکښې دَ دين ترقی نه شی کيدې مثلاً يوسړې دَ خپلو ګناهونو دَ بخښنې کوشش کوی نوهغه له پکاردی چه دَ حلال څيزصدقه اوکړی دې دَپاره چه ګناه ئې اووينځلې شی اوثواب ملاؤشی ليکن دا ممکن دی چه صدقه خو دَحرام څيزکوی اواميدئی دَ ثواب مخې ته کړې دې په دې حديث کښې ﴿اِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ﴾ [سورت هود، ۱۱۴] دَ آيت طرف ته اشاره ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٧٧٣] دحرام مال خوړلو عذاب

٢٧٧٣-[٣] ()[١] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -[٢] «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ لَحْمٌ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ،[٣] وَكُلُّ لَحْمٍ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ كَانَتِ النَّارُ أَوْلَى بِهِ»[٣]" رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه: [١] حضرت جابر ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] هغه غوښه چې په حرام مال سره یې پرورش شوی وي په جنت کې به نه داخلیږي (یعني د کوم سړي جسماني نش ونما چې د حرام مال په خوړلو سره شوی وي هغه به په جنت کې نه داخلیږي)[٣] او کومه غوښه (یعني کوم جسم) چې په حرام مال سره نش ونما پیدا کړي (وده وکړي) هغه د دوزخ د اور لائق دی،[٤] (احمد دارمي بیهقي)

حل اللغات:- ① لَحْمٌ: أَيْ صَاحِبُ لَحْمٍ: ذکر د غوښې دې مراد ترې غوښې والا یعنی انسان دې ② نَبَتَ: نشونما، پرورش ③ سُحْتٍ: أي الْحَرَامُ: حرام مال ④ أَوْلَى: لائق دې، همدا ورسره مناسب دی

تسهیلات:

قوله: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ لَحْمٌ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ

دعدم دخول په مفهوم کښې څلور اقوال:- ① د نجات یافته خلقو سره به په اول کښې جنت ته نه داخلیږی د حرام مال خوړولو په مقدار به چه کله سزا اوخوری نو جنت ته به داخل شي.

② هغه خلق به جنت ته نه داخلیږی کوم چه په حرامو باندې د حلالو اعتقاد ساتی ځکه چې تحلیل د حرامو کفر دې اوکافرجنت ته نشی داخلیدې.

③ داسې کس به د جنت په اعلی درجو کښې نه داخلیږی نور نفس دخول به وی

④ دا زجر او توبیخ دې چې امت د حرامو څخه ځان اوساتی.

[٢٧٧٤] د مشتبه څيزونو څخه ځان ساتل

٢٧٧٤-[٥] (٢)[١] وَعَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [٢] حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "[٣] «دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ، فَإِنَّ الصِّدْقَ طُمَأْنِينَةٌ، وَإِنَّ الْكَذِبَ رِيبَةٌ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ وَرَوَى الدَّارِمِيُّ الْفَصْلَ الْأَوَّلَ.

ترجمه: [١] حضرت حسن ابن علي ﷺ وایي[٢] چې ما د رسول الله ﷺ دا ارشاد خپله اوریدلی دی او یاد کړي مې دي[٣] چې کوم څیز تا په شک کې اچوي هغه پریږده او د هغه شي طرف ته میلان ساته چې تا په شک کې نه اچوي ځکه چې حق د زړه د اطمینان باعث

[١]) اخرجه الدارمي في الحديث (رقم-٢٧٧٦) واحمد في السند: ٣/٣٢١

[٢]) اخرجه الترمذي في السنن رقم الحديث ٢٥١٨ والدارمي في السنن (رقم-٢٥٣٢) واحمد في السند: ١/ ٢٠٠

دي او بطل د شك او تردد موجب دي، احمد ترمذي نسائي، او دارمي د دې حديث براخې مخكنۍ حصه يعني دع ما يريبك الى ما يريبك، نقل كړي ده

حل اللغات ① دَعْ: أي اترك پريږده، ② يَرِيْبُكَ: الرَيْبُ الشَكُّ: ريب شك ته وائي يعنى چه تا په شک کښې اچوی ③ طُمَأنِيْنَةٌ: اطمينان. د زړه تسلی ④ رِيبَةٌ: اى قَلَقُ النَفْسِ وَاضْطِرَابُهَا: د زړه تردد او شک ته وائي

د راوي مختصر تعارف:

حسن بن علي:- دحديث د راوی نوم حسن د پلار نوم علی کنيت ئې ابومحمد لقب ئې شبيه رسول الله ﷺ خطاب ئې رياضة النبى ﷺ د مور نوم ئې فاطمه الزهرا وو د هجرت په دريم كال باندې په مدينه منوره کښې د رمضان په مياشت کښې پيدا شوې وو د دوی په پيدائش باندې نبی کریم ﷺ د فاطمې كور ته تشريف يوړلو اوتپوس ئې اوكړو څه نوم مو ورته كيخودې دې؟ نو اووئيل شو، حرب،، نبی کریم ﷺ اوفرمائيل دده نوم، حسن،، دې د پيدائش په اوومه ورځ ئې عقيقه اوشوه حضرت حسن لاد اووه كالو وو چه نبی کریم د دنيا نه رخصت شو.

حسن بن علي د ابوبكر زمانه کښې:- د نبی کریم ﷺ د فات نه پس به ورسره حضرت ابوبكر رضي الله عنه ډير محبت كولو يو خل ئې په اوږه سور كړو او وې فرمائيل په الله قسم دې د نبی كريم ﷺ پشان دې د علی پشان نه دې په دې اوريدو سره حضرت علی رضي الله عنه په خندا شو.⁵

حضرت عمر رضي الله عنه به هم دوی سره ډير محبت كولو د دوی وظيفه ئې د مياشتې پنځه زره روپۍ مقرر كړې وه.⁶

حضرت حسن رضي الله عنه د حضرت عثمان رضي الله عنه د محاصرې په وخت کښې د حفاظت خدمت هم كړې وو

حضرت حسن رضي الله عنه د جنګ جمل نه خپل پلار حضرت علی رضي الله عنه منع كړې وو دحضرت علی رضي الله عنه په وفات باندې د هغوی د جنازې مونځ هم حضرت حسن رضي الله عنه كړې وو اوبيا خلقو د دوی په لاس باندې د خلافت بيعت اوكړو

بل طرف ته حضرت امير معاويه رضي الله عنه د حضرت علی رضي الله عنه د شهادت نه پس د فوځ پيش قدمی شروع كړه په دغه وخت کښې حضرت حسن رضي الله عنه په كوفه کښې وو هغوی حضرت اميرمعاويه رضي الله عنه سره صلح اوكړه اود خلافت نه دستبردار شو چه د مسلمانانو وينه عبث تونې نشي په دې كولو سره د نبی كريم ﷺ دا پيشنګوئي پوره شوه چه،، زما دا بچې سيد دې الله تعالى به د ده په ذريعه د مسلمانانو د دوو ډلو په مينځ کښې صلح اوكړی،،⁽¹⁾

د دوی د خلافت مودهٔ د پنځه يا شپږو مياشتو نه لږ غونډې زياته وه په حضرت حسن #

(¹)(مشكوٰة) _ (٢) استيعاب (١\١٤٥) واسد الغابة (١٢\١٥) - (٣) تهذيب التهذيب (١٢\٣٠) -

Maktaba Tul Ishaat.com

کښي ډیر ښه صفتونه وو په هغې کښې بعضې دا دی ① د اوچتې درجې خطیب وو ② د دوی اشعار او د حکمت خبرې هم ډیرې منقول دی ③ د دنیا نه استغناء او بې نیازی په کښې وه ④ صدقې به ئې په کثرت سره ورکولې ⑤ زیات وخت به ئې د الله تعالی په عبادت کښې تیرولو ⑥ خلقو سره د ښه اخلاقو سلوک کولو کښې د ده مثال نه وو

وفات:- په ٥٠ هجر ی کښې دوی ته زهر ورکړې شود دې په دریمه ورځ پس دوی وفات شو د وفات په وخت کښې د دوی عمر ۴۷ یا ۴۸ کاله وو د دوی تمنا دا وه چه د خپل نیکه په اړخ کښې دفن کړې شی د خپلې نیا حضرت عائشې نه ئې اجازت اوغوښتلو نو مروان ئې مخالفت اوکړو بیا دوی په جنت البقیع کښې د خپلې مور په خوا کښې دفن کړې شو (٢)

جنازه:- په جنازه کښې دومره رش وو چه په مدینه کښې د دې نه وړاندې دومره رش نه وو لیدلې شوې که ستن به هم غورځولې شوه نو په زمکه به نه لګیدله (٣)

تسهیلات: قوله: دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ:

د مشتبه څیز ترک کول: یعنی چه د یو څیز په استعمال کښې پخپله سړی ته شک اوترد د کیږی چه آیا دا جائز دې که ناجائز دې. مناسب دې که نامناسب نو داسې سړی له پکار دی چه داسې په شك کښې اچونکې څیز پریږدی او هغه صورت اختیار کړی په کوم کښې چه د ده تسلی وی څه تردد نه وی

نوټ:- د دې حدیث مضمون د دې نه پس راتلونکی حدیث په شان دې. پوره تشریح به هلته وی.

[٢٧٧٣] د نیکئ او د بدئ پیژندګلو به څنګه کیږی؟

٢٧٧٣-[٦] (١) ١ «وَعَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢ "يَا وَابِصَةُ جِئْتَ تَسْأَلُ عَنِ الْبِرِّ وَالْإِثْمِ؟" ٣ قُلْتُ: نَعَمْ ٤ قَالَ: فَجَمَعَ أَصَابِعَهُ، فَضَرَبَ بِهَا صَدْرَهُ ٥ وَقَالَ: (اسْتَفْتِ نَفْسَكَ، اسْتَفْتِ قَلْبَكَ) ثَلَاثًا. ٦ الْبِرُّ مَا اطْمَأَنَّتْ إِلَيْهِ النَّفْسُ، وَاطْمَأَنَّ إِلَيْهِ الْقَلْبُ، ٧ وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي النَّفْسِ وَتَرَدَّدَ فِي الصَّدْرِ، وَإِنْ أَفْتَاكَ النَّاسُ») رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت وابصه رضي الله عنه ابن معبد وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ ې وابصه! ته دې پوښتنې ته راغلی یې چې نیکې څه ده او ګناه څه ده ٣ ما عرض اوکړو چې هو ٤ د هغه بیان دی (د دې اوریدو سره) حضور ﷺ خپلې ګوتې یو ځای کړې او څما په سینه وهلو سره یې وفرمایل ٥ د خپل ځان څخه پوښتنه وکړه او د خپل زړه څخه پوښتنه وکړه حضور ﷺ دا الفاظ درې ځله وفرمایل ٦ بیا یې وفرمایل چې نیکې هغه ده چې په هغه سره انسان خپله مطمئن شی او په هغه سره یې زړه ته سکون حاصل شي ٧ او ګناه هغه ده چې

(١) اخرجه الدارمی فی الحدیث (رقم-٢٥٣٣) واحمد فی المسند: ٢٢٨/٤

په هغه سره د انسان وجود خلش محسوس کړي او په هغه سره د هغه زړه او په سینه کې شك او تردد پيدا شي اګر چې خلق درته دصحيح فتوي، درکړي

حل اللغات:- ① اَلْبِرِّ: أي الإِحْسَانِ: نيکي، اطاعت. ② اَلْإِثْمِ: أي الذَّنْبِ: ګناه، نافرماني. ③ فَجَمَعَ أَصَابِعَهُ: راټولې کړې ګوتې مبارک. ④ اِسْتَفْتِ: أي: اطْلُبِ الْفَتْوَى: فتوی اوغواړه يعنې تپوس اوکړه. ⑤ اطْمَأَنَّتْ: مطمئن شي نفس، ⑥ حَاكَ: أي أَثَّرَ: ويره پيدا کړي، شک شبه پيدا کړي. ⑦ تَرَدَّدَ: شک او بې چيني پيدا شي (د زړه تسلي نه راځي)

دراوي مختصر تعارف:

حضرت وابصه بن معبد: نوم وابصه دې دَ پلار نوم معبدابن مال بن عبدالاسدی دې. کنيت ابوشدادی دې اول په کوفه کښې اوسيدو بياجزيرې ته لاړو. دَحضور ﷺ په خدمت کښې دَلسوکسانودَوفدسره حاضرشواومسلمان شو.دا دَټولونه زيات ژړاکونکي صحابي رضي الله عنه وو.

وفات:- دَ دوی انتقال په مقام رقه کښې اوشو اودَ هغه ځائ په جامع مسجد کښې منارې سره دفن دې.

مرويات:- دَهغوی نه ١١ احاديث نقل دی. دَهغوی نه زيات تر فرهاد بن ابی الجعد روايت نقل کوی.

تسهيلات:

قوله تَسْأَلُ عَنِ الْبِرِّ وَالْإِثْمِ:

د نيکئ اوبدئ آسان علامت:- په دې حديث کښې دَ نيکئ او بدئ يوداسې علامت خودلې شوې دې چه هرنيك اوصالح انسان ئې معلومولې شی چه آياداقول اوفعل جائزدې که ناجائزدې. چنانچه فرمائيلې شوی دی په کوم قول اوفعل سره چه زړه مطمئن شی او زړه پرې فرحت اوخوشحالی محسوس کړی نودا ګنړل پکاردی چه داقول اوفعل بنه دې اوجائزدې او په کوم قول اوفعل سره چه زړه مطمئن نه وی بلکه په طبيعت کښې يوکشمکش پيداشي او په زړه اُودماغو کښې دَ شك يوکيفيت پيداشي يوقسم شك پيداشي نو ګنړل پکاردی چه دا قول اوفعل غلط دې. که دَ دغه قول اوفعل باره کښې مفتيانو صاحبانودَ طرف نه فتوي موجودوی چه دا جائزدې. دَ زړه دَ اضطراب په موجودګنی کښې فتوي ته نه دی کتل پکار ځکه چه يوه فتوي ده او بل تقوي ده دَ دواړو حدونه جدا جدا دی "ياوابصة جئت تسال" په دې جمله کښې دَ رسول الله ﷺ دَ يوې معجزې پته لګی ځکه چه حضرت وابصه رضي الله عنه دَ رسول الله ﷺ په وړاندې دَ خپل مطلوب اومقصود نه خو تذکره کړې وه اونه ئې اشاره کړې وه حضورپاك پخپله اوخودل چه اې وابصه! آيا ته دَدې سوال دَ پوښتنې دَپاره راغلې ئې.

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله اسْتَفْتِ نَفْسَكَ، اسْتَفْتِ قَلْبَكَ

د زړه څخه د فتوی طلب کولو مطلب: - دَ زړه نه استفتا، غوښتل هغه وخت دی کله چه په شریعت کښې څه واضح حکم موجودنه وی ګنی که په شریعت کښې څه واضحه حکم موجود وی نوهم په هغې به عمل کول وی بیاکه دَ قرآن پاك په آیاتونوکښې تعارض ښکاره شی نوواجب دی چه دَ احادیثوطرف ته رجوع اوکړې شی که په احادیثوکښې هم په ظاهره تعارض وی نوواجب دی چه دَ فقهاؤ دَ اقوالوطرف ته رجوع اوکړې شی اوکه چرې دَعلماؤ اوفقهاؤ په اقوال کښې هم په ظاهره تعارض وی نوبیا دَ خپل زړه نه فتوی معلومول پکاردی په کوم طرف چه دَ زړه تسلی حاصله وی هم په هغې باندې عمل کول پکاردی

قوله: وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي النَّفْسِ:

د حرام څخه په زړه کښې کرکه پیدا کیدو صفت: - داکیفیت هغه خلقوته حاصلیدې شی دَ چې زړونه چه دَ آئینه په شان صفا او روښانه وی متقی اوپرهیزګاروی دَالله والا په مجالسوکښې پاتې کیدو سره هغه دَ زړه دَ صفاکولو ښه محنت کړې وی داسې زړونه دا فیصله کولې شی چه دا څیز حلال دې یا حرام دې دادَ هرسړی کارنه دې

د مولنا احمد علی لاهوری د کشف واقعه: - نقل دی چې په عوامو اوخواصو کښې مشهوره وه چه حضرت مولانا احمدعلی لاهوری رحمه الله به حرام اوحلال دَ کشف په توګه معلومول په دې وجه مونږ دَ حضرت مولانا احمدعلی لاهوری رحمه الله امتحان کول غوښتل یو درجن حلال مالټې مو هغوی له یوړې مګر هغې سره مو یودرجن حرام مالټې یوځائی کړې دواړه مو ګډې وډې کړې او پیش موکړې حضرت مولانالاهوری رحمه الله دواړه یوځائی کړې او یوه دانه به ئې یوطرف ته کړه چه دا حلال ده بله به ئې بل طرف ته کیخوده چه دا حرام ده مونږ حیران شو

[٢٧٧٥] دَ تقوی تعریف اومراتب

[-]( )[١] وَعَنْ عَطِيَّةَ السَّعْدِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[٢] «لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْمُتَّقِينَ [٣] حَتَّى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهِ حَذَرًا لِمَا بِهِ بَأْسٌ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت عطیه سعدي رضي الله عنه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] بنده هغه وخته پورې دَ کامل، پرهیزګارۍ درجې ته نشي رسیدی [٣] دَ خو پورې چې هغه څیزونه پرې نه ږدي چې په هغه کې څه قباحت نشته. او دغه شان دَ هغه څیزونو څخه هم وساتل شي په کومو کې چې قباحت دی. (ترمذي ابن ماجه)

( ) اخرجه الترمذی فی کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٤٥١) وابن ماجة كتاب الزهد/باب الورع والتقوى (رقم-٤٢١٥)

حل اللغات - ① لَا يَبْلُغُ: أَيْ: لَا يَصِلُ: نه رسیږي، کمال ته، ② يَدَعَ: أَيْ يَتْرُكَ: چه پرېږدي، ③ لَا بَأْسَ: نشته قبحت، نشته بدي ④ حَذَرًا: أَيْ: خَوْفًا: ویره، بچ کیدو دپاره، د احتیاط په طور

تسهیلات:

قوله: مِنَ الْمُتَّقِينَ:

د تقوی تعریف: - دَ الله تعالی دَ نافرمانئی نه دَ خان بچ کولونوم تقوی ده دَدې حدیث مطلب دادې چه سړې ترهغه وخته پورې دَ تقوی مقام ته نه شی رسیدې ترکومې پورې چه هغه دَ الله تعالی دَ ویرې نه بعض هغه جائز شیونه پرېنږدی دکوم په کولوسره چه په ناجائزکښې دَ پریوتلوخطره وی یعنی چه بعض مباحات په دې وجه ترک کړی دَ کوم په وجه چه په ناجائزکښې دَ واقع کیدو خطره وی

د تقوی درې مراتب: - ملاعلی قاری رحمه الله دَ تقوی درې درجې لیکلې دی

① دَ شرک اوکفرنه خان ساتل تقوی ده لکه چه فرمائی ﴿وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى﴾ یعنی الله تعالی صحابه کرام رضی الله عنهم دَ شرك نه بچ کړل او په توحید باندې واچول

② دَهرې کبیره گناه نه خان ساتل دَ تقوی دویمه مرتبه ده بلکه دَ بعض علماؤ په نیزدَ تقوی دَدې مرتبې دَ حاصلولودَپاره ضروری دی چه دَ صغائرونه هم خان اوساتی

③ دَتقوی دریمه درجه چه سړې هرهغه خیز ترك کړی کوم چه دَ الله تعالی طرف ته په توجه کښې بندیز جوړیږی بلکه چه دا سړې په هغه درجه کښې وی چه دَ زړه دَ پوره توجه سره دَ الله تعالی طرف ته متوجه وی دَ هغه دَ زړه احساسات او رجحانات دَ الله تعالی نه سوا په بل خیزکښې مشغول نه وی

د تقوی تعریف د حضرت کعب رضی الله عنه په ژبه: -حضرت عمر رضی الله عنه دَ حضرت کعب رضی الله عنه نه دَتقوی باره کښې تپوس اوکړونوهغوی دا تعریف اووکړو چه دَ تقوی حقیقت داسې دې لکه مثلاً یوسړې دَ ازغو په جاړه کښې ورننوخی اوتیریږی او هغه خپلې کپړې او خپل خان یوشان بچ کوی دَ بعض احادیثونه دَتقوی تعریف داسې معلومیږی چه "ان لایراك مولاك حیث نهاك" یعنی ظاهراً باطناً خپله معامله خپل رب سره دَ صفاساتلونوم تقوی ده

[٢٧٧٦] دَ یوشرابی سړی دَوجې لس کسان ملعون گرځیدل

٢٧٧٦—[١٨] ( )[1] ١ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْخَمْرِ عَشَرَةً: ٣ عَاصِرَهَا، ٤ وَمُعْتَصِرَهَا، ٥ وَشَارِبَهَا، ٦ وَحَامِلَهَا، ٧ وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ، ٨ وَسَاقِيَهَا، ٩ وَبَائِعَهَا، ١٠ وَآكِلَ ثَمَنِهَا، ١١ وَالْمُشْتَرِي لَهَا، وَالْمُشْتَرَى لَهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

---

[1]) اخرجه الترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب النهی أن یتخذ الخمر خلا (١٢٩٥) وابن ماجة فی کتاب الأشربة /باب لعنت الخمر علی عشرة أوجه (رقم-٣٣٨١)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [١]حضرت انس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ د شرابو په معامله کې په لسو سړو لعنت ويلې دی [٢]١ شراب کشيد کونکی د خان د پاره [٣]٢ شراب کشيده کونکی د بل د پاره [٤]٣ شراب څکونکی[٥] ٤ شراب پورته کونکی [٦]٥ شراب په بل اخستونکی(يعنی هغه سړی چې چاته د شراب راوړلو حکم ورکړي)[٧] ٦ په بل شراب څکونکی ٧[٨] شراب خرخونکي[٩] ٨ د شرابو قيمت خوړونکی[١٠] ٩ شراب خريد کونکی يعنی هغه سړی چې د بل سړي د څکلو د پاره يا د هغه د تجارت بطريق ولايت شراب خرخ کړي ١٠[١١] په بل خرخونکی(يعنی هغه سړی چې په دويم سړي د خپلو څکلو يا خپل تجارت د پاره شراب خرخ کړي،) (ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات: - ① عَاصِرَهَا: وَهُوَمَنْ يَعْصِرُهَا بِنَفْسِهِ لِنَفْسِهِ أَوْلِغَيْرِهِ: څوک چه شراب نچوړوی که خان دپاره وی اوکه بل چا دپاره، ② مُعْتَصِرَهَا: أَيْ مِنْ يَطْلُبُ عَصْرَهَا لِنَفْسِهِ أَوْغَيْرِهِ: څوک چه دشراب نچوړولو مطالبه کوی که مطالبه دخان دپاره کوی اوکه بل چا دپاره. ③ شَارِبَهَا: شراب څکونکې، ④ حَامِلَهَا: شراب اوچتونکې. ⑤ الْمَحْمُولَةَ: أَيْ: مَنْ يَطْلُبُ أَنْ يَحْمِلَهَا أَحَدٌ إِلَيْهِ: د پورته کولو مطالبه کونکې چه دا شراب راته راوچت کړه ⑥ سَاقِيَهَا: چه شراب په خلقو څکوی، ⑦ بَائِعَهَا: أَيْ: عَاقِدَهَا: د شراب داخستلو يا خرخولو بيعه کونکې (که هغه وکيل وی او که دلال وی). ⑧ آكِلَ ثَمَنِهَا: د شرابو ګټه خوړونکې. ⑨ الْمُشْتَرِي لَهَا: شراب اخستونکې (د لها ضميرنه مراد شراب دی). ⑩ الْمُشْتَرَي لَهُ: أَي: الَّذِي اشْتُرِيَ لَهُ بِالْوَكَالَةِ: دچا دپاره چه شراب اخستلې شی.

تسهيلات:

قوله: وَالْمُشْتَرِى لَهَا:

ديوشريى په وجه لس کسان ملعون ګرځيدل:-دې پسې حديث کښې دَ "مبتاعها" لفظ راغلې دې دې نه مراد دَ شرابو اخستونکې سړې

دې دَ زير نظر حديث نه معلومه شوه چه دَ يوشراب خور سړى دَ وجې نه لس کسان ملعون جوړيږى سوچ کول پکاردى چه شراب دَ يومسلم معاشرې دَپاره څومره لوئى لعنت دې اودَ عام اوخاص دَ پاره څومره همه ګيرلعنت دې عام خلق ګنړى چه دَ شرابو څکلوسره شرابى سړې ګناهګاريږى مونږ خو صرف دَ راوړلو والا يا نچوړى کولو والا يا دَ تقسيم کولو والا يو يادلرنى په شرابو کښې دَهرقسم امداد کونکې سړې ملعون جوړيږى اولکه څنګه چه دَ شرابو په ګناه کښې لس کسان ملعون اودَلعنت مستحق کيږى دغه شان په سودى کاروبار کښې هم ډير خلق ملعون جوړيږى.

[٢٧٧٧] په شرابو او متعلقينو د شرابو باندې لعنت

٢٧٧٧—[٩] (١) [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢] «لَعَنَ اللَّهُ الْخَمْرَ، وَشَارِبَهَا، وَسَاقِيَهَا، [٣] وَبَائِعَهَا، وَمُبْتَاعَهَا، [٤] وَعَاصِرَهَا، وَمُعْتَصِرَهَا، [٥] وَحَامِلَهَا، وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت ابن عمر رضي الله عنهما راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] الله تعالیٰ لعنت فرمايلی دي په شرابو او په شراب څکونکي [٣] وپر شراب خرخونکي او په شراب اخستونکي [٤] اوپر شراب کشيد کونکی د خان د پاره اوپر شراب کشيد کونکي باندې د بل د پاره [٥] وپر شراب پورته کونکي باندې اود چا د پاره چې شراب ورل کيږي. (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات - ① مُبْتَاعَهَا: أَيْ مُشْتَرِيَهَا: اخستونکي دشرابو. ② الْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ: دچا دپاره چه شراب اوچتولي يا وړلي شي

تسهيلات: قوله: لَعَنَ اللَّهُ الْخَمْرَ

د اعتراض جواب: - په ماقبل حديث کښې د لسو ذکر دی او دلته د لږو ذکر دی نو عدد اقل د اکثر منافی نه وی.

[٢٧٧٨] دَ ښکرلګونکی دَ کټې حکم

٢٧٧٨—[١٠] (٢) [١] «وَعَنْ مُحَيِّصَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - [٢] أَنَّهُ اسْتَأْذَنَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي أُجْرَةِ الْحَجَّامِ [٣] فَنَهَاهُ [٤] فَلَمْ يَزَلْ يَسْتَأْذِنُهُ [٥] حَتَّى قَالَ: [٦] (اعْلِفْهُ نَاضِحَكَ، وَأَطْعِمْهُ رَقِيقَكَ) » ، رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] د حضرت محيصه په باره کې منقول دی [٢] هغه د رسول الله ﷺ څخه د ښکر لګونکي د کټی خوړلو اجازت اوغوښتلو [٣] نو حضور ﷺ هغه منع کړي [٤] هغه چې بار بار د حضور ﷺ څخه اجازت غوښتی [٥] نو حضور ﷺ هغه ته داحکم ورکړي [٦] چې دا ګټل شوی مال په خپل اوښ وخوره يا په خپل غلام يا په وينځې باندې يې خوره. (مالك ترمذي ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات - ① أُجْرَةِ الْحَجَّامِ: د ښکر لګونکی ګټه او مزدوری ② اعْلِفْهُ: أَيْ أَطْعِمْهُ: اوخوره وه دا ګټه. ③ نَاضِحَكَ: وَهُوَ الْجَمَلُ الَّذِي يُسْقَى بِهِ الْمَاءُ: ناضح هغه اوښ ته وائی چه اوبه خوړ پرې کولی شی يعنی آرهټ ④ رَقِيقَكَ: أَيْ عَبِيدَكَ وَإِمَاءَكَ: غلامان او وينځې

---

[١]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأشربة/باب العنب يعصر للخمر (رقم-٣٦٧٤) وابن ماجة في كتاب الأشربة/باب لعنت الخمر على عشرة أوجه (رقم-٣٣٨٠) واحمد في المسند: ٢/٢٥

[٢]) اخرجه ابوداود في أبواب الإجارة/باب في كسب الحجام (رقم-٣٤٢٢) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كسب الحجام (رقم-١٢٧٧)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله مُحَيِّصَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-:

دمحيصه تعارف: -په ميم باندې ضمه ده اوياء باندې شد اوكسره ده دَ يوصحابی نوم دې

قوله اسْتَأْذَنَ:

په مريو كښې د ښكر لګولورواج: - يعنی دَ ښكر رانښكلوكاروبار اودَدې دَ ګټې دَ حلت اجازت ئې اوغوښتلو دَدې صورت به دا وو چه عربو به په خپلو غلامانو باندې ټيكس مقرركولو هغوی به ګټه كوله اومقرر حصه به ئې خپل مالك ته وركوله اوهم په دا سې صورت كښې حضرت محيصه رضی الله عنه دَخپل غلام دَ ګټې خوړلواجازت غوارې كوم چه دَ ښكرلګولو په عمل سره حاصليدلو حضورپاك اجازت ورنه كړو اودَ هغه په بار بار اصرار باندې حضورپاك اوفرمائيل چه دَ ده ګټه واخله اودَ خپلو غلامانو په خوراك كښې استعمال كړه اودَ اسونو په وابنيو كښې ...چ كوه

د حديث توجيه: -دَدې حديث دَ ظاهرنه معلوميږی چه دَ حجامه ګټه جائز نه ده ليكن ټولو فقهاؤ او ټولو علماؤ نورو احاديثو ته په كتلوسره دَدې دَ جائز كيدو فتوی وركړې ده دې وخت كښې به دَدې حديث حكم خلاف اولی او مكروه تنزيهی باندې محمول وی دَدې حديث نه داهم معلومه شوه چه دَغلامانو حيثيت دومره اوچت نه دې چه دَ يوناكاره پيشې په ګټې سره به هغوی ته نقصان اورسی. ليكن دَ شريفانو او آزادوخلقو شان خو چونكه اوچت وی په دې وجه داګټه دَهغوی دَ شان منافی ده.

د نايانو د ګټې حكم: - دَدې حديث نه داخبره هم معلومه شوه چه دَ نايانو هغه ګټه كومه چه په ږيره خرولو او دَ سر ويښته انګريزی جوړولو سره حاصليږی هغه هم جائز نه ده ځكه چه په وينه رانښكلوكښې صرف دَ پيشې حقارت دې په شريعت كښې دَدې ممانعت نشته دې ليكن ږيره خرول خو په شريعت كښې حرام دی لهذا دَدې ګټه هم حلال كيدې نه شی

[٢٧٧٩]دَسندرو ويونكوښځودَګټې حكم

٢٧٧٩—[٢٠]( )[١]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ[٢]: «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، وَكَسْبِ الزَّمَّارَةِ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايی [٢] چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د سپي قيمت او د سندر غاړو ښځو د ګټې څخه منع فرمايلي ده. (شرح السنه)

حل اللغات: - ① الزَّمَّارَةِ: أي: الزَّانِيَةِ: سندري او لوبې ويونكې ښځه، زناكاره ښځه

( ) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث :١٢٨٢ واحمد فی المسند: ٧٣٣/٢

تسهیلات:

قوله: وَكَسْبِ الزَّمَّارَةِ:

د زماره په مصداق کښې دوه اقوال:- ① زماره سندرې ویونکې ښځې ته وائی زمارې په اصل کښې شپیلئ ته وائی چونکه سندرې ویونکې ښځې دا غږه وی په دې وجه د دې نوم واخستې شو کنې د سندرو ویونکی تول آلات هم مغنیه استعمالوی په عربو کښې دا هم دستور وو چه هغوی به د مغنیه په ذریعه پیسې راټولولې لکه چه د غلامانو او وینخو په نورو پیشو سره پیسې حاصلولې په دې وجه حضور پاک دا منع کړل

② ملاعلی قاری رحمه الله د زماره مصداق زناکاره ښځه هم ګرځولې ده چه د وینخو اوکنجریانو کټه جائزنه ده تول احتمالات صحیح دی البته که د دې مصداق چرته مغنیه اوګرځولې شی نو د تولونه واضح ده د دې نه معلومه شوه چه تیلی ویژن وی سی آر اوکیبل وغیره آلات لهوا و د غنا کټه او د دې کار روزګار حرام دي

[۲۷۸۰]د سندرغاړو د اجرت حرمت

۲۷۸۰-[۲۲] ( )[۱]وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲]«لَا تَبِيعُوا الْقَيْنَاتِ، وَلَا تَشْتَرُوهُنَّ،[۳] وَلَا تُعَلِّمُوهُنَّ،[۴] وَثَمَنُهُنَّ حَرَامٌ، وَفِي مِثْلِ هَذَا نَزَلَتْ ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ﴾ [لقمان:٦]» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ،

ترجمه: [۱]حضرت ابو امامه رضی الله عنه وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل[۲] سندرغاړې وینځې مه خرڅوئ مه یې خرید کوئ[۳] او مه وینځوته غزلې وربنایئ[۴] او د دې غزلو والا وینخو حاصلیدونکې قیمت حرام مال دی[۵] او په دې سلسله کې (یعنې د غزلو والاوو وینځو د خرید په مذمت کې) دا آیت نازل شوی دی وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ ترجمه او په انسانانو کې بعضې داسې (نادان او غلط کار والا) خلق هم دي چې بې کاره خبرې اخلي (احمد ترمذي ابن ماجه)

حل اللغات:- ① الْقَيْنَاتِ: أَيِ الْأَمَةُ الْمُغَنِّيَةُ: سندرې او لوبې ویونکې وینځه ② لَهْوَ الْحَدِيثِ: أَيِ الْغِنَاءَ وَالْأَصْوَاتَ الْمُحَرَّمَةَ الَّتِي تُلْهِي عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ: لوبې. سندرې او حرام خبرې کومې چه انسان دالله تعالى د ذکرنه غافل کوی. لکه د شپې قصې. فضول ګپ شپ یا تې وی کتل وغیره

[۱]وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ،[۲] وَعَلِيُّ بْنُ يَزِيدَ الرَّاوِي يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ.[۳] وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ جَابِرٍ: نُهِيَ عَنْ أَكْلِ الْهِرِّ فِي بَابِ "مَا يَحِلُّ أَكْلُهُ" إِنْ شَاءَ اللَّهُ -تَعَالَى-.

ترجمه: [۱] امام ترمذي رحمه الله فرمایي چې دا حدیث غریب دی [۲] او د دې یو راوي علي ابن

) اخرجه الترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلى الله علیه وسلم/باب ما جاء فی بیع فضل الماء (رقم-۱۲۷۲) وابن ماجة فی کتاب التجارات /باب ما لا یحل بیعه (رقم-۲۱۶۸) واحمد فی المسند: ۲۶۴/۵

Maktaba Tul Ishaat.com

زید د روایت حدیث په سلسله کې ضعیف شمیرل شوی دی. [٣]وحدیث دجابر رضي الله عنه نهی عن اکل الهرة - به په باب مایحل اکله کې ذکرکړو ان شاء الله تعالی.

تسهیلات: قوله: لَاتَبِيعُواالْقَيْنَاتِ:

د قینات څخه مراد:- دا جمع ده په دواړو کښې تخفیف دې مشددنه دی قینه مطلق وینځې ته وائی که دَ سندرو ویونکې وی اوکه نه وی، البته دلته دَ سندرو ویونکې وینځه مراد ده څکه که دَسندرو والانه وی نودَ هغې اخستل اوخرڅول منع نه دی دَ بیع او شراء ممانعت دَدې خبرې دلیل دې چه دَ سندرو والاوینځه مراد ده.

قوله: وَثَمَنُهُنَّ حَرَامٌ:

د سندغاړو وینځو د کاروبار حکم:- یعنی دَدې وینځو په اخستلو اوخرڅولوسره یا په ګډاګانو او سرودونو سره چه کومه پیسه حاصله شی هغه حرام ده. قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه دَاخستلو اوخرڅولو دا ممانعت په هغه صورت کښې دې کله چه وینځه صرف او صرف هم دَ ګډاګانو اوسرودونودَپاره حاصلولې شی. دَدې حدیث ظاهری حکم هم دغه دې چه دَ ګانو ویونکو وینځو اخستل اوخرڅول ناجائز دی لیکن دَ جمهور علماؤ په نیز بیع اوشراء جائز ده. هغوی دَدې حدیث دَ ضعیف کیدو باوجود په دې کښې تاویل کړې دې چه دلته بیع اوشراء مراد نه ده بلکه دَ هغوی په ګانو بجانو باندې اجرت اخستل جائز نه دی لکه چه په نورو احادیثوکښې دی.

قوله: وَمِنَ النَّاسِ:

د آیات شان نزول:- دا آیت دَ سورت لقمان دې چه دَ نضر بن حارث باره کښې نازل شوې دې سړې به دَ قرآن پاك سخت مخالفت کولو اودَ عجم ښاروته به لاړو او دَ رستم دَ قصو کتابونه به ئی راوړل او دې عربئی ته به ئی منتقل کول اووئیل به ئی چه "محمد" تاسو ته دَ عادیانو اوثمودیانو قصې اوروی زه دَ رستم اسفندیار او بادشاهانو قصې درته اوروم. دې سړی به دَ ګانو وئیلو دَ وینځو محفلونه جوړول اوچرته چه به ئی اوریدل چه څه خلق دَ قرآن طرف ته مائل کیږی هلته به ئی دغه وینځې لیګلې اودَ قرآن پاك اثر به ئی کمول غوښتلو لکه چه نن صبا ګمراه حکمرانانو شروع کړې دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٧٨١]د حلال رزق ګټلو فرضیت

٢٧٨١-[٢٣]()[١]عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[٢]«طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِيضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ» "رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

() اخرجه البیهقی فی شعب الایمان (رقم-٨٧٤١)

ترجمه: [١] حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] حلاله روزي گټل د فرض څخه وروسته يو فرض دى. (بيهقي)

حل اللغات: - ① كَسْبِ الْحَلَالِ: حلاله روزي گټل

تسهيلات: قوله: طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِيضَةٌ:

د كسب حلال د فرضيت صورت:-

دكوم سړي په ذمه چه دَ بل سړي يا دَ خپل اهل وعيال نفقه واجب وي په هغه باندې فرض دى چه هغه دې محنت اوكړي اودَ هغوى رزق اوگټي اوكه دَ گټې نه بغيرپه څه ذريعه باندې انتظام كيدې شي نوبيا فرض نه دې

قوله: بَعْدَ الْفَرِيضَةِ:

د بعد الفريضه مفهوم:- دَدې جملې مطلب دادې چه مال گټل بې شكه فرض دى ليكن دَاسلام دَ نورو مقرركړې شوو فرائضو نه پس فرض دى مثلاً مونځ روژه عبادات په ځائې راوړلونه پس گټه كول فرض دى. دامطلب ئې نه دې چه باقي پاتې فرائض پريږدى اوگټې پسې اولگى اوخوشحاليږى چه زه هم دَ يوفريضې په پوره كولوكښې لگيايم دَ مانځه دَ قيام په دوران كښې گټه كښې لگياكيدل جائزنه دى. پاكستانى نوټونو باندې چه دا ليكلى دى حصول رزق حلال عبادت دې. داهغه وخت عبادت دې چه كله نور عبادات په ځائې راوړلې شوى وى گنى هم دغه رزق به دې دَعذاب سبب جوړيږى.

[٢٧٨٢] دَ قرآن پاک په کتابت داجرت اخستلو جواز

٢٧٨٢ - [٢٢] ( )[١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - [٢] أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ أُجْرَةِ كِتَابَةِ الْمُصْحَفِ [٣] فَقَالَ: لَا بَأْسَ، [٤] إِنَّمَا هُمْ مُصَوِّرُونَ، وَإِنَّهُمْ إِنَّمَا يَأْكُلُونَ مِنْ عَمَلِ أَيْدِيهِمْ. رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [١] د حضرت ابن عباس ﷺ په باره كې منقول دى [٢] چې د هغه څخه د كتابت قرآن د اجرت حكم وپوښتل شو (چې د قرآن د كتابت مزدوري خوړل جائز دى كه نه؟) [٣] نو هغه وفرمايل په دې كې څه حرج نشته [٤] ځكه چې كاتب سړى خو يواځې نقش كونكى دى چې د خپلو لاسونو گټه خوري. (رزين)

حل اللغات: - ① أُجْرَةِ: أَيْ عَنْ أَخْذِهَا: يعنى د قرآن د ليكلو مزدورى اخستل او خوړل ② الْمُصْحَفِ: قرآن ③ مُصَوِّرُونَ: أَيْ يَنْقُشُونَ صُوَرَ الْحُرُوفِ: يعنى د قرآن د حروفو نقوش نقل كوى. ④ عَمَلِ أَيْدِيهِمْ: د لاسونو د مزدورئ گټه

تسهيلات:

قوله: إِنَّمَا هُمْ مُصَوِّرُونَ، وَإِنَّهُمْ إِنَّمَا يَأْكُلُونَ مِنْ عَمَلِ أَيْدِيهِمْ:

( ) رواه رزين

Maktaba Tul Ishaat.com

دقرآن په کتابت د اجرت اخستلو جواز: قرآن کریم د الفاظواومعانیود مجموعې نوم دې دا خیال کېدو شو چې د قرآن کریم د الفاظو په لیکلو سره اجرت اخستل به جائز نه وی نودا خیال اووهم ابن عباس رضی الله عنهما ختم کړلو چې د قران پاک لیکونکې نقش جوړوی په کوم کښې چې هغه ته د ډیر مشقت برداشت کول وی نودا کار اوپه دې باندې معاوضه اخستل جائز دی

[٢٧٨٣]ذلاس د کټې الفضیلت

٢٧٨٣-[٢٥]( )[١]وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ:[٢]أَيُّ الْكَسْبِ أَطْيَبُ؟[٣] قَالَ: "عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ، وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُورٍ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١]حضرت رافع ابن خدیج راوي دی چې د رسول الله ﷺ څخه دا پوښتنه وشوه[٢] چې کوم کسب پاک (یعنې افضل) دی؟[٣] نو حضور ﷺ وفرمايل چې د انسان په خپل لاس سره ګټل او هر هغه تجارتونه چې مقبول وي (یعنې د شرعي اصولو او قواعدو مطابق وي) (احمد)

حل اللغات - ① أَطْيَبُ: أَيْ أَحَلُّ وَأَفْضَلُ: پاک اوفضیلت والا② بَيْعٍ: تجارت، اخستل خرڅول. ③مَبْرُورٍ: أَيْ مَقْبُولًا فِي الشَّرْعِ: چه په شریعت کښې مقبول وی (یعنی د دروغ، خیانت او دهوکې نه پاک وی)

تسهیلات:

قوله عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ:

په دوه روایاتو کښې د تعارض دفع: -لکه چه وړاندې لیکلې شوی دی چه په نص صریح سره ثابت دی چه دَ ټولونه غوره ګټه دهغه ده چه په جهاد کښې چامسلمان ته دَ مال غنیمت نه په لاس ورکوی دلته دَ لاس ګټه دَ ټولونه غوره ګرځولې شوې ده په دې کښې هیڅ منافت نشته دې په جهاد کښې چه کوم مال په لاس راشی هغه خو دَ سخت محنت اوډ خون نه په تیریدو باندې راځی نوهغه هم دَ لاس اوچته ګټه ده

[٢٧٨٤]په جائزروزګار کښې شرم نه کول

٢٧٨٤-[٢٦]( )[١]وَعَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ:[٢]«كَانَتْ لِمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ جَارِيَةٌ تَبِيعُ اللَّبَنَ[٣]وَيَقْبِضُ الْمِقْدَامُ ثَمَنَهُ،[٤]فَقِيلَ لَهُ: سُبْحَانَ اللَّهِ![٥]أَتَبِيعُ اللَّبَنَ؟ وَتَقْبِضُ الثَّمَنَ؟[٦]فَقَالَ: نَعَمْ وَمَا بَأْسٌ بِذَلِكَ،[٧]سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ[٨] "لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَنْفَعُ فِيهِ إِلَّا الدِّينَارُ وَالدِّرْهَمُ»" رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] حضرت ابوبکر ابن ابي مریم (تابعي) وایي[٢] چې د حضرت مقدام ابن معدي کرب رضی الله عنه (صحابي) یوې وینځې به د هغه د څارویو پۍ خرڅولې.[٣] او مقدام به د هغه

[١] اخرجه احمد في المسند: ٤/١٤١

[٢] اخرجه احمد في المسند: ٤/١٣٣

ښځه د پینو حاصلیدونکي قیمت آخستلو ④نو یوه ورځ مقدام ته اوویل شوه چې سبحان الله خومره د تعجب خبره ده ⑤چې وینځه پی: خرڅوي او ته د هغه قیمت اخلي ⑥مقدام اوویل چې صحیح خو دی په دې کې څه حرج نشته ⑦ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي ⑧چې یوه داسې زمانه به راشي چې په هغه کې به د درهم ودینار څخه علاوه بل هیڅ څیز فائده نه ورکوي. (احمد)

حل اللغات: - ①اللَّبَنَ: پی، شیدې، ②نَقبِض: قبض کولوبه یې. اخستلو به ئې (رقم د پینو)

تسهیلات:

قوله: اتبیع اللبن ؟:

د صحابه کرامو په دور کښې د پینو خرڅولو آغاز: -په کلوکښې اوډعریوبه قبائلوکښې به پینوباندې د یوانسان امدادبه بغیرد څه معاوضه نه کیدلو لکه چه نن صبا د پاکستان په کلوکښې رواج دې حضرت مقدام ﷺ چه کله د پینو خریداوفروخت کار شروع کړو نود معاشرې خلقو دا بد اوګڼل حضرت مقدام ﷺ دډې جواب ورکړوچه په دې کښې د شرم څه خبره ده یوجائز کاروبار دې په کوم سره چه زه د خپل عزت او دین حفاظت کوم د حضورپاك پیشنګوئی ده چه یوه زمانه به داسې راځي چه په هغې کښې به صرف پیسه کارورکوي یعنی خپل عزت اوخپل دین اوډعبادت حفاظت به په حلال پیسو باندې کیږي که چرې مال نه وی نوډټولونه اول به د سړی دین ځي اوبیابه ئې عزت اوعظمت ځي

[٢٧٨٥] بلا وجه د کاروبار د بدلولو حکم

٢٧٨٥-[٤٠] (١) ①وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ: كُنْتُ أُجَهِّزُ إِلَى الشَّامِ، وَإِلَى مِصْرَ. ② فَجَهَّزْتُ إِلَى الْعِرَاقِ ③ فَأَتَيْتُ إِلَى أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ عَائِشَةَ، فَقُلْتُ لَهَا: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ! ④كُنْتُ أُجَهِّزُ إِلَى الشَّامِ ⑤فَجَهَّزْتُ إِلَى الْعِرَاقِ، فَقَالَتْ: لَا تَفْعَلْ! ⑥مَا لَكَ وَلِمَتْجَرِكَ؟ ⑦فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " ⑧«إِذَا سَبَّبَ اللهُ لِأَحَدِكُمْ رِزْقًا مِنْ وَجْهٍ فَلَا يَدَعْهُ حَتَّى يَتَغَيَّرَ لَهُ أَوْ يَتَنَكَّرَ لَهُ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ①حضرت نافع وايي مابه د خپل تجارت مال او اسباب تیارولو سره (د خپلو ملازمانو او وکیلانو په سپردګی کې) شام او مصر ته لیږلی ②بیا روسته (یو ځل) ما د خپل تجارتي سامان عراق طرف ته د لیږلو اراده وکړه ③او د أم المؤمنین بي بي عائشې ﷺ په خدمت کې حاضر شوم عرض مې اوکړو چې ام المؤمنین! ④(مخکې خو) خپل تجارتي سامان به ما شام ته لیږي ⑤خو اوس خما اراده ده چې خپل تجارتي سامان عراق طرف ته ولیږم (د دې اوریدو سره) بي بي عائشه ﷺ وفرمایل داسې مه کوه ⑥ستا او ستا تجارت ته څه شوي دي (چې ته د شام تجارت پریږدې) ⑦ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي

(١) اخرجه ابن ماجة في السنن كتاب التجارات /باب باب إذا قسم للرجل رزق من وجه فليلزمه (رقم-٢١٤٨)

Maktaba Tul Ishaat.com

دي⑧ چې کله الله ﷻ په تاسو کې د چا د رزق څه سبب په څه صورت کې پيدا کړي نو هغه پرينبودل نه دي پکار⑨ د دي پورې چې په هغه کې څه تبديلي پيدا شي يا نقصان ورته ورسيږي، ‹احمد ابن ماجه›

حل اللغات: - ① أَجْهِزْ: أَيْ أَهِيِّءُ الْبِضَاعَةَ: دتجارت مال اسباب به مې تيارولو ② وَلِمَتْجَرِكَ؟: دا ظرف مکان دي يعنی ستا دتجارت والا خائې ‹شام› باندې څه چل شوې دې؟ ‹چه ته دغه تجارت پريږدې› ③ سَبَّبَ اللهُ: يعنی چه کله دَ يوطرف او اړخ نه الله تعالی رزق ورکوی اوهغه خائې سبب اوذريعه جوړه کړې ده نودا ولې بدلوې ④ يَتَغَيَّرَ: أَيْ بِعَدَمِ الرِّبْحِ: يعنی چه نفع نې بنده شی ⑤ يَتَنَكَّرَ: بِخُسْرَانِ رَأْسِ الْمَالِ: خراب صورت حال پيدا شی لکه اصل سرمايه کښې نقصان اوشی

تسهيلات:

قوله: أُجَهِّزُ:

دتجارتی سفر دپاره دعائشې رضی الله عنها مشوره :-داسې فرمائی چه ما به دَ تجارت مال دَ شام اومصروغيره دَ پاره پخپله تيارولوسره روانولويابه مې دَ خپلو وکيلانو په ذريعه سره تيارولو. يوځل ما اراده اوکړه چه اوس تجارتی مرکز عراق جوړ کړم نودَ هغه خائې دپاره ما سامان تيارکړوليکن په زړه کښې مې خيال راغلوچه حضرت عائشه ؓ سره مشوره اوکړم چنانچه ما مشوره اوغوښتله نوحضرت عائشه ؓ منع کړم چه يوخوعراق ډير لرې دې بل دا چه په دې بدلون کښې حرص ښکاری.

قوله: وَلِمَتْجَرِكَ:

د متجر په مصداق کښې دوه اقوال :- ①دَتجارت دَپاره هم يادولې کيږی
② دلته دَ تجارت ځائی مراددې يعنی دَدې بدلون څه ضرورت دې کله چه الله تعالی دَ يوځائی نه رزق ورکوی نودَ هغې بدلون مناسب نه دې.

قوله: إِذَا سَبَّبَ اللهُ:

د رزق په حصول کښې دالله تعالی نظام :-دَ الله تعالی يونظام دې نو هره ورځ دَ هغې په بدلون سره په دغه نظام کښې خلل راځی دَ چرته نه چه الله تعالی درکوی هم دَهغه ځائی نه اخلې.

[٢٧٨٦] دَ نااهل کاريګر دَ کټې حکم

٢٧٨٦—[٢٨] (¹) ①وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: ②كَانَ لِأَبِي بَكْرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - غُلَامٌ③ يُخْرِجُ لَهُ الْخَرَاجَ④ فَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَأْكُلُ مِنْ خَرَاجِهِ⑤ فَجَاءَ يَوْمًا بِشَيْءٍ، يَأْكُلُ مِنْهُ أَبُو بَكْرٍ⑥ فَقَالَ لَهُ الْغُلَامُ: تَدْرِي مَا هَذَا؟⑦ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: وَمَا هُوَ؟

¹) اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب أيام الجاهلية (رقم-٣٨٤٢)

ترجمه: ١ بي بي عائشه رضي الله عنها وايي ٢ چې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه سره يو غلام وو ٣ چې د خپلې گټې څخه يوه مقرره حصه به يې حضرت ابوبکر ته ورکوله (لکه څنګه چې د اهلِ عربو دا معمول وو چې هغوئ به خپل غلامان په کار لګول او د هغوئ د حاصل شوي مزدورئ څخه به يې څه حصه د خان د پاره مقرروله) ٤ نو حضرت ابوبکر صديق به د هغه غلام راوړل شوی څيز خوړلو ٥ يو وخت هغه غلام څه څيز راوړو چې د هغه څخه حضرت ابوبکر رضي الله عنه هم خوراك وكړي (د خوراک څخه وروسته) ٦ غلام ورته اوويل چې ته پوهيږئ چې دا څنګه شی دی؟ ٧ حضرت ابوبکر رضي الله عنه وفرمايل چې ماته څه معلومه وه ته وښايه چې دا څنګه څيز دی

حل اللغات: - ① يُخْرِجُ الْخَرَاجَ: أَيْ يَكْسَبُ لَهُ مَالَ الْخَرَاجِ: اهلِ عربو به خپل غلامان په کار لګول او د هغوئ د حاصل شوی مزدورئ څخه به ئې څه حصه د خان د پاره مقرروله، هغې ته به ئې خراج ويل ② تَدْرِي: أَيْ: تَعْلَمُ: تاته پته ده.

١ قَالَ: كُنْتُ تَكَهَّنْتُ لِإِنْسَانٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، ٢ وَمَا أُحْسِنُ الْكِهَانَةَ، إِلَّا أَنِّي خَدَعْتُهُ ٣ فَأَعْطَانِي بِذَلِكَ، ٤ فَهَذَا الَّذِي أَكَلْتَ مِنْهُ، ٥ قَالَتْ: ٦ فَأَدْخَلَ! أَبُوبَكْرٍ يَدَهُ، ٧ فَقَاءَ كُلَّ شَيْءٍ فِي بَطْنِهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ غلام اوويل ما به د جاهليت په ورځو کې (يعني خپل د کفر په حالت کې) يو سړي ته د غيب خبري ښودلي ٢ حالانکه زه د کهانت په فن (يعني د پټو خبرو ښودلو په فن) ښه نه پوهه يدلم بلکه ما به هغه ته (غلطي خبري ښودلو سره) دهوکه ورکولی (اتفاقًا نن) ٣ د هغه سړي سره خما ملاقات وشو نو هغه ماته دا شی راکړي ٤ دا هغه څيز دی چې تا وخوړلی. ٥ بي بي عائشه رضي الله عنها وايي (د دي اوريدو سره) ٦ حضرت ابوبکر رضي الله عنه په خپله خوله (يعني په حلق) کې ګوته دننه کولو سره هغه قي کړل. ٧ او څه چې يې په خيټه کې وه د احتياط له مخه ټول يې بهر راوغورځول. (بخاري)

حل اللغات: - ① تَكَهَّنْتُ: أَيْ: أَخْبَرْتُ بِغَيْبٍ مُوهِمًا: کهانت به مې کولو يعنی دخانه به مې دغيب خبر ورکولو ② خَدَعْتُهُ: دهوکه به مې ورکوله ⑤ فَقَاءَ: نو قئ ئې کړو (د ډيري پرهيزګارئ په وجه ئې خوراک د خيټي نه بهر راوغورځولو)

تسهيلات: قوله: فَقَاءَ:

د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د قي کولو توجيه: — حضرت ابوبکر رضي الله عنه په څه حيله سره دَخيټي دننه نه دغه مشتبه پيئی قي کړل دا دَ احتياط او تقویٰ په توګه وو خکه چه په دې ګټه کښې خوړودَ کهانت ګناه راغلې وه اودويمه ګناه دَ دهوکې وه خکه چه هغه سړي په دې فن کښې نااهل وو

په مذکوره صورت کښې د حرام څيزه القئ کولو حکم: — امام شافعی رحمه الله فرمائی چه داسې صورت پيښيدو دَ وجې نه قي کول لازم او واجب دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

ليكن امـ م غزالي ﷫ دا په خپل کتاب منهاج العارفين کښي په تقوی او احتياط باندې حمل کړې دې

فائده: -د دې حديث نه دا خبره معلومه شوه چه د چانه يوسړې څه اخلي نو هغه له پکار دي چه ښه چهان بين اوکړی چه چرته دې کښې خود حرام څه ګډون نشته دې راتلونکی حديث کښې داخبره په واضحه توګه موجود ده چه حضرت عمر ﷜ قي اوکړو

[٢٤٨٧] د حضرت عمر فاروق ﷜ تقوی

٢٤٨٧-[٢٩] (١) [١] وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٢] «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ جَسَدٌ غُذِّيَ بِحَرَامٍ» رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: [١] حضرت ابوبکر ﷜ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] کوم بدن چې په حرام مال سره پرورش وکړي هغه به (په اول کې د نجات يافته خلقو سره او د سزا تيرولو څخه بغير په) جنت کې نه داخليږي

حل اللغات: -① جَسَدٌ: أَيْ لِآدَمِيٍّ: بدن د سړی، ② غُذِّيَ: أَيْ رُبِّيَ: چه پرورش او نشونما ئې موندلې وی

تسهيلات:

قوله: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ

نوټ: -د عدم دخول شرح د حديث نمبر (٢٧٧٢) په تسهيل کښي تير شوي ده

[٢٤٨٨] د حرامې کټې د سیره والی په عبادت اثر

٢٤٨٨-[٣٠] (٢) [١] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: [٢] شَرِبَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- لَبَنًا، وَأَعْجَبَهُ، [٣] وَقَالَ لِلَّذِي سَقَاهُ: [٤] مِنْ أَيْنَ لَكَ هَذَا اللَّبَنُ؟ [٥] فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ وَرَدَ عَلَى مَاءٍ قَدْ سَمَّاهُ، [٦] فَإِذَا نَعَمٌ مِنْ نَعَمِ الصَّدَقَةِ وَهُمْ يَسْقُونَ، [٧] فَحَلَبُوا لِي مِنْ أَلْبَانِهَا، فَجَعَلْتُهُ فِي سِقَائِي، وَهُوَ هَذَا. [٨] فَأَدْخَلَ عُمَرُ يَدَهُ فَاسْتَقَاءَهُ. [٩] رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [١] حضرت زيد ابن اسلم ﷫ (چې د حضرت عمر فاروق ﷜ ازاد کړده غلام وو) دی وايي [٢] يو خل حضرت عمر ابن خطاب ﷜ پئ وڅکلي چې هغه ته ډيري ښه معلومې شوي. [٣] نو هغه د هغه سړي څخه چې هغه ورباندې پئ څکلي وې پوښتنه وکړه [٤] چې دا پئ تاته د کوم خای څخه حاصلې شوي؟ [٥] نو هغه ورته وښودل چې هغه (يعني زه)، د اوبو يوې چينې يا کوهي ته تلی وم (هغه د چشمې يا کوهي نوم هم وښودلو) [٦] هلته ما وليدل چې د زکوه څه څاروي (يعني اوښان او بزې (چيلې) وغيره) اوبو څکلو ته راغلی وې او د هغه څارويو نګران پئ لوشلي او په خلقو ئې څکلي [٧] نو هغه زما د پاره هم پئ ولوشلي ما

١) اخرجه البيهقي في شعب الايمان
٢) اخرجه البيهقي في شعب الايمان (رقم-٥٧٧١)

په مشك كې واچولې دا هغه پی دی په دې اوريدو سره [٨] حضرت عمر رضي الله عنه په خپل حلق كې گوته دننه كولو سره قې كړلي او هغه پی يې د خيټې څخه وايستلې ځكه چې هغه د زكوة مال وو چې د هغه د پاره جائز نه وو، [٩] دا دواړه روايتونه بيهقي په شعب الايمان كې نقل كړي دي

حل اللغات - ① أَعْجَبَهُ: ډير ښه ورباندې اولگيدل ② سَقَاهُ: چه ورباندې ئې څكلې وو ③ وَرَدَ: أي: مَرَّ: تلې ووم. ④ نَعَمٌ: د أَنْعَام نه دي. څاروی اوښان يا گډې، بزې وغيره. ⑤ يَسْقُونَ: څاروو ته ئې ربه وركولې. يا دا چه د څاروو پی ئې په خلقو باندې څكل ⑥ حَلَبُوا: نو يې راولوشل هغه مالكانو د څاروو. ⑦ فَاسْتَقَاءَهُ: نو قې ئې كړل دغه پی يعنى عمر رضي الله عنه څكلى پی واپس راوغورځول

تسهيلات:

قوله فَأَدْخَلَ عُمَرُ يَدَهُ:

حضرو رضي الله عنه تقوى :- دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه لوئى شان وو تاسو دې واقعه ته اوگورئى چه بالكل په خالي خيټه سره د پيئو يو څوگوټونه كول اوقې كول څومره گران كار دې بيا د دې مسئله خالص د حرمت هم نه ده صرف شك راغلې وو چه د صدقې د اوښانو نه حصل شوو پيشوكيدې شى د زكوة نه وى د كوم استعمالول چه دهغوى د پاره جائز نه وو

[٢٧٨٩] د حرامو كټې سپيره توپ

٢٧٨٩ - [٣] (١) [١] «وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [٢] مَنِ اشْتَرَى ثَوْبًا بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ [٣] وَفِيهِ دِرْهَمٌ حَرَامٌ [٤] لَمْ يَقْبَلِ اللَّهُ لَهُ صَلَاةً مَا دَامَ عَلَيْهِ. [٥] ثُمَّ أَدْخَلَ أُصْبُعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ [٦] وَقَالَ: صُمَّتَا إِنْ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَمِعْتُهُ يَقُولُهُ»: رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" وَقَالَ: إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي [٢] كه يو سرى مثلاً يوه كپړه په لس درهمه واخلي [٣] او په هغه كې يو درهم هم د حرام مال وي [٤] نو الله تعالى د هغه وقته پورې د هغه سړي مونځ نه قبلوي د څو پورې چې د هغه سړي په بدن هغه كپړه وي [٥] د دې څخه وروسته حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د شهادت دواړې گوتې په خپلو غوږونو كې كينولي [٦] او وي فرمايل چې دا دواړه غوږونه دې كاڼه شي كه ما دا د رسول الله ﷺ څخه نه وي اوريدلي.

(احمد بيهقي، او بيهقي رحمه الله ويلي دي چې د دې حديث اسناد ضعيف دي)

حل اللغات:- ① صُمَّتَا: په دې كښې ضمير د تثنيه أذنين ته راجع دې يعنى كاڼه دې شى دواړه غوږونه زما. (دخپلې خبرې د تاكيد او اثبات دپاره به عربو دغسې وئيل)

[١] اخرجه البيهقي في شعب الايمان (رقم-٦١١٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات:

قوله: لَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ:

دعدم قبول مطلب: -یعنی دَ قرض مونځ ثواب به دغه سړی ته نه حاصلیږی اداکړې شوې مونځ خوبه اوشی قضا کول نی لازم نه دی خوقبولیت او ثواب به نه ملاویږی

قوله: صُمُتًا:

د مذکوره جملې غرض: -یعنی که چرې ماداحدیث دَحضورپاك نه پخپله نه وې اوریدلې نوزما غوږونه دې کاڼړی شی. صحابه کرامو به داقسم کلام ځکه کولوچه اوریدونکوته بنه یقین راشی او یوسړې په غلطو اندازوسره احادیث بیانول شروع نه کړی

[٢] بَابُ الْمُسَاهَلَةِ فِي الْمُعَامَلَةِ

په معاملاتوکښې دَ نرمۍ بیان

خلاصة الباب:-

فیه ثمانیة أحادیث مشتملة علی ثلاث مسائل:

① الترغیب للمساهلة: ١، ٢-

② شناعة كثرة الحلف والحلف الكاذب وهذا من عدم المساهلة: ٣، ۴، ۵، ٧-

③ فضیلة التاجر الصادق وهو المساهل: ۶، ٨-

د مساهله معنی: - خرڅول اخستل او قرض ورکول اواخستلوکښې نرمی کول او سترګې پټولوسره نرمی اختیارولو ته مساهله وائی. ای المجاملة والمسامحة

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٢٧٩٠] معاملاتوکښې نرمی کونکی ته دَرسول الله ﷺ دعا

٢٧٩٠-[١] (١) ① عَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ "قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "② «رَحِمَ اللّٰهُ رَجُلًا ③ سَمْحًا إِذَا بَاعَ وَإِذَا اشْتَرَى وَإِذَا اقْتَضَى». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت جابر ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② الله ﷻ دي په هغه سړي خپل رحمت نازل کړي ③ چې په خرڅولو کې او رانیولو کې او په غوښتنه کې نرمي کوي (بخاري)

حل اللغات: - ① سَمْحًا: أي سَهْلًا وَجَوَادًا: نرمی اوسخاوت کوی ② اقْتَضَى: أي إِذَا طَلَبَ دَيْنًا: چه کله تري خپل قرض اوغواړی

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب البیوع/باب السهولة والسماحة فی الشراء والبیع، ومن طلب حقا فلیطلبه فی عفاف (رقم-٢٠٧۶) وابن ماجة فی کتاب التجارات/باب السماحة فی البیع (رقم-٢٢٠٣)

تسهيلات: قوله: سَمْحًا:

د سمحا مفهوم: آساني کونکي چشم پوشي کونکي نرمي کونکي او سخاوت کونکي سړی دپاره د حضورپاك دعا هغه حالت سره مشروط ده چه هغه سړی په اخستلو خرڅولو کښې نرمي کوی

[٢٧٩] په لين دين کښې نرمي کولو باندې جنت ته داخليدل

٢٧٩٠-[٢] ( )[١]وَعَنْ حُذَيْفَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢]«إِنَّ رَجُلًا كَانَ فِيمَنْ قَبْلَكُمْ[٣] أَتَاهُ الْمَلَكُ لِيَقْبِضَ رُوحَهُ،[٤] فَقِيلَ لَهُ: هَلْ عَمِلْتَ مِنْ خَيْرٍ؟[٥] قَالَ: مَا أَعْلَمُ. [٦] قِيلَ لَهُ: انْظُرْ.[٧] قَالَ: مَا أَعْلَمُ شَيْئًا،[٨] غَيْرَ أَنِّي كُنْتُ أُبَايِعُ النَّاسَ فِي الدُّنْيَا وَأُجَازِيهِمْ[٩] فَأُنْظِرُ الْمُوسِرَ، وَأَتَجَاوَزُ عَنِ الْمُعْسِرِ،[١٠] فَأَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١]حضرت حذيفه ﷺ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل [٢]ستاسو څخه مخکې تير شوی خلقو (يعني په تيرو امتونو) کې د يو سړي واقعه ده [٣]کوم وخت چې هغه ته د مرګ فرشته د هغه د روح قبض کولو ته راغله[٤] نو د هغه څخه پوښتنه وشوه چې آيا تا يو نيك کار کړي دی؟ [٥]هغه اوويل چې ماته ياد نه دی (چې ما دی څه نيك کار کړي وی)[٦] د هغه څخه بيا پوښتنه وشوه چې ته ښه سوچ وکړه[٧] هغه اوويل چې ماته قطعًا نه ياديږي[٨] هو (دومره ضرور پوهيږم چي) ما په دنيا کې د خلقو سره (د رانيولو او خرڅولو) معاملات کول د تقاضا په وخت (يعني د مطالباتو په وصولۍ کې) د هغوئ سره به مي احسان کوی[٩] په دي طور چي صاحب استطاعت خلقو ته به مي مهلت ورکوی او څوك چې به مجبوره وو هغوئ ته به مي معاف کول (يعني د خپلو مطالباتو څه حصه يا پوره مطالبات به مي د هغوئ د پاره معاف کوله) [١٠]نو الله ﷻ (په دي عمل سره په خوشحاليدو سره) په جنت کې داخل کړي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① أُبَايِعُ: أَيْ أُعَامِلُهُمْ: معاملات به مې کول. اخستل خرڅول به مې کول ② أُجَازِيهِمْ: أَيْ أُحْسِنُ إِلَيْهِمْ حِينَ أَتَقَاضَاهُمْ: د وصولي د تقاضا او مطالبې په وخت به مې ورسره احسان کولو ③ فَأُنْظِرُ: دا د إِنْظَارٌ نه دي، أَيْ أُمْهِلُ الْغَنِيَّ: مهلت به مې ورکولو ④ الْمُوسِرَ: أَيْ الْغَنِيَّ: مالدار. ⑤ أَتَجَاوَزُ: أَيْ أَعْفُو: معاف کول به مي. ⑥ الْمُعْسِرِ: أَيْ الْفَقِيرِ: محتاج، تنګدسته

٢٧٩١-( )[١]وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ نَحْوَهُ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ وَأَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ: "[٢]«فَقَالَ اللّٰهُ أَنَا أَحَقُّ بِذَا مِنْكَ،[٣] تَجَاوَزُوا عَنْ عَبْدِي» ".

---

[١]) اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب ما ذكر عن بني إسرائيل (رقم-٣٤٥١) ومسلم في كتاب المساقاة/باب فضل إنظار المعسر (رقم-٢٦ - (١٥٦٠) والدارمي في (رقم-٢٥٤٦) واحمد في المسند: ٣٩٥/٥

[٢]) اخرجه مسلم في كتاب المساقاة/باب فضل إنظار المعسر (رقم-٢٦ - (١٥٦٠) واحمد في المسند: ١١٨/٤

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [١] او د مسلم په يو بل روايت کې چې عقبه ؓ ابن عامر او ابو مسعود انصاري ؓ د ده په مثل (يعني د يو څه الفاظو د کموالي او زياتوب سره نقل کړي دی) دا الفاظ دي چې کوم وخت هغه سړی دا عمل بيان کړي [٢] نو الله ﷻ وفرمايل زه د دې (يعني د معاف کولو) حق ستا څخه زيات لرم (او بيا فرشتو ته اوويل چې) [٣] څما دا بنده معاف کړي

حل اللغات: - ① تَجَاوَزُوا: أي أعفو: معاف کړئ

تسهيلات: قوله: الْمَلَكُ:

د ملک مصداق: - حضرت عزرائيل ؑ هم مراد کيدې شي او دَ الملك نه هغه فرښتې هم مراد اخستې شي چه دَ حضرت عزرائيل ؑ ماتحت دَ مرگ په اموروباندې مقرردی دَ مرگ نسبت دَ فرښتې طرف ته اسناد مجازی دې گنی په حقيقت کښې مرگ ورکونکې خو صرف دَ الله تعالى ذات دې

[٢٧٣] په خرڅولو او اخستلو کښې د قسمونو کولو ممانعت

٢٧٣ - [٣] () [١] وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢] «إِيَّاكُمْ وَكَثْرَةَ الْحَلِفِ فِي الْبَيْعِ، [٣] فَإِنَّهُ يُنَفِّقُ ثُمَّ يَمْحَقُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت ابو قتاده ؓ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] په خپل تجارتي ژوند کې د قسمو اخستلو څخه پرهيز کوی [٣] ځکه چې په تجارتي معاملاتو کې زيات قسمونه اخستل (خو اول) کاروبار لره رواج ورکوي خو برکت يې ضائع کوي، (مسلم)

حل اللغات: - ① إِيَّاكُمْ: أي: اتقوا: پرهيز اوکړئ، خان اوساتئ، ② الْحَلِفِ: قسمونه ③ يُنَفِّقُ: دا د تَنْفِيق نه دې. او د تَنْفِيق معنى ده. التَّرْوِيج: يعنى رواج ورکول او مشهور کول. أَيْ يُرَوِّجُ الْمَتَاعَ وَيُكْثِرُ الرَّغَبَاتِ فِيهِ: يعنى سامان مشهورول چه دخلقو توجو او شوق ددې سامان طرف ته زياته شی ④ يَمْحَقُ: أي: يُذْهِبُ الْبَرَكَةَ: برکت ختموی

تسهيلات: قوله: وَكَثْرَةَ الْحَلِفِ:

دکثرت حلف د ممانعت وجه: - دَ ډيرو قسمونو ممانعت ځکه اوکړې شو چه په لين دين کښې څه نه څه قسمونه وی دَ کثرت نه بچ کيدل پکاردی اوکه دَ دروغو قسم يو هم وی هغه زياته تباهی راولی

قوله: يَمْحَقُ:

په کثرت سره د قسم خوړلو نحوست: - محق دَ ختميدو په معنی کښې دې يعنی دَ هغې برکت خی دَ ډيرو قسمونو خوړلو سره دَ نحوست هم دغه اثر وی "ای ينفق حالا ويمحق مآلا" که

---

[١] اخرجه مسلم فی کتاب المساقاة/باب النهی عن الحلف فی البيع (رقم-١٣٢ - (١٦٠٧) وابن ماجة فی السنن کتاب التجارات/باب ما جاء فی کراهية الأيمان فی الشراء والبيع (رقم-٢٢٠٩) واحمد فی المسند: ١١٨/٤

چرې د دروغو قسم وى نو يو قسم هم د برکت ختمولو دپاره کافي دي اوکه څه رښتونى وى نو بيا په کثرت د قسمونو سره برکت ځي

[۲۷۰۳] په قسمونو سره د تجارت برکت ختميدل

۲۷۰۳ - [٦] ( ) ١«وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " ٢«الْحَلِفُ مَنْفَقَةٌ لِلسِّلْعَةِ، ٣مَمْحَقَةٌ لِلْبَرَكَةِ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ چې قسم خوړ په اول کې د مال واسباب د منفعت سبب جوړيږي، ٣ ليکن آنجام کار د برکت د خاتمي سبب جوړيږي، (بخاري مسلم)

حل اللغات - ① الْحَلِفُ: قسم. ② مَنْفَقَةٌ: أَيْ مَظِنَّةٌ وَسَبَبٌ: سبب اوذريعه ③ لِلسِّلْعَةِ: سامان. سودا. ④ مَمْحَقَةٌ: أَيْ سَبَبٌ لِذَهَابِ بَرَكَةٍ: د سامان برکت ورسره ختميږي

تسهيلات:

نوټ: - يدحديث مفهوم د ترجمي څخه واضح دي باقي دګرانو ټکو حل په حل اللغات کښي شوي دي

[۲۷۰۵] په دروغه قسم خوړونکي سره د الله تعالى خبرې نه کول

۲۷۰۵ - [د] ( ) ١«وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢" ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ٣وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ، وَلَا يُزَكِّيهِمْ، ٤وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ". ٥قَالَ أَبُو ذَرٍّ: خَابُوا وَخَسِرُوا مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ ٦قَالَ: " الْمُسْبِلُ، ٧وَالْمَنَّانُ، ٨وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ حضرت ابوذر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ درې خلق دي چې الله ﷻ به د قيامت په ورځ نه د هغوى سره (د مهربانۍ او عنايت) کلام وکړي ٣ نه به (د رحمت په نظر سره) د هغوى طرف ته وګوري او نه به هغه (د ګناهونو څخه) پاک کړي. ٤ او د دې دريو سرو د پاره دردناک عذاب دى. ٥ ابوذر رضي الله عنه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ د خير څخه محرومه او په دې تاوان کې پراته کوم سړي دي؟

( ) اخرجه مسلم في كتاب الإيمان/باب بيان غلظ تحريم إسبال الإزار. والمن بالعطية. وتنفيق السلعة بالحلف. وبيان الثلاثة الذين لا يكلمهم الله يوم القيامة. ولا ينظر إليهم. ولا يزكيهم ولهم عذاب أليم (رقم-١٧١ - (١٠٦) وابوداود في السنن كتاب البيوع/باب في كراهية اليمين في البيع (رقم ٣٣٣٥) والنسائي في كتاب البيوع/باب ما يجب على التجار من التوفية في مبايعتهم (رقم-٤٤٦١)

( ) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ٢٠٨٧. مسلم في كتاب الإيمان/باب بيان غلظ تحريم إسبال الإزار. والمن بالعطية. وتنفيق السلعة بالحلف. وبيان الثلاثة الذين لا يكلمهم الله يوم القيامة. ولا ينظر إليهم. ولا يزكيهم ولهم عذاب أليم (رقم-١٣١ - (١٦٠٦) والنسائي في كتاب البيوع/باب ما يجب على التجار من التوفية في مبايعتهم (رقم-٤٤٥٨) وابن ماجة في كتاب التجارات/باب ما جاء في كراهية الأيمان في الشراء والبيع (رقم-٢٢٠٨) والدارمي في (رقم-٢٦٠٥) واحمد في المسند: ١٥٨/٥

Maktaba Tul Ishaat.com

حضور ﷺ وفرمايل[٦] يو پينځي لاندي ساتونکی. [٧]دويم هغه څوک چې يو څا ته څ خيز ورکولو سره، په هغه احسان اچوي. [٨]او دريم په دروغه قسمونو اخستلو سره خپل تجارت زياتونکی. (مسلم)

حل اللغات - ① لَا يُزَكِّيهِمْ: أَيْ لَا يُطَهِّرُهُمْ مِنَ الْخَبَائِثِ: پاک به نې نه کړی دګناهونونه. ② خَابُوا: أَيْ حُرِمُوا مِنَ الْخَيْرِ: چه دخيرنه محرومه وی ③ خَسِرُوا: تاوانيان، نقصان موندونکی. ④ الْمُسْبِلُ: الْمُطَوِّلُ ثَوْبَهُ إِلَى الْأَرْضِ كِبْرًا وَاخْتِيَالًا: چه دکبر اوغرور په وجه لنګ يا پاجامه د ګيټونه ښکته زوړنده ساتی ⑤ الْمَنَّانُ: أَيْ يَمُنُّ بِمَا يُعْطِيهِ لِغَيْرِهِ: چاسره چه نيکی اوکړی هغه باندې خپل احسان ضباطل

تسهيلات:

قوله وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ

نوټ:- د حديث د نورو الفاظو تشريح د نورو بابونو سره تعلق ساتی په خپل متعلقه بابونوکښې ئې تشريح شوې ده يا به راروانه وی البته د حلف الكاذب وضاحت ليکم

د دروغو قسم خوړلو صورت:- په دروغو قسمونو باندې خپل څيز خرڅوی يو څيز ئې په (١٠٠٠) روپۍ اخستې وی اوګاهګ ته قسم خوری چې په الله تعالی دا څيز ماته په خپله په ١٥٠٠ پريوتې دې نوګاه پرې ګمان اوکړی چې دې خو به په دروغه قسم نه خوری اوهغه څيز ترې په ګران قيمت واخلی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٧٩]د رښتونی او امانت دار تاجر فضيلت

٢٧٩-[٦]()[١]وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ: رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢]«التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الْأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ» ".[٣]رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَالدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه:[١] حضرت ابوسعيد رضی الله عنه وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل[٢] په قول او فعل کې ډير رښتيا او ښه ديانتداري سره کاروبار کونکی سری به د نبيانو صديقينو او شهداوو سره وي.[٣] (ترمذي دارمي دارقطني)

حل اللغات - ① الصَّدُوقُ: أَيْ كَثِيرُ الصِّدْقِ: ډير رښتونې (په قول اوفعل هرحالت کښې) ② الْأَمِينُ: أَيِ الْمَحْفُوظُ مِنَ الْخِيَانَةِ: امانتدار يعنی چه د خيانت نه محفوظ وی ③ الصِّدِّيقِينَ: رښتيا ويونکی خلق. ④ الشُّهَدَاءِ: شهيدان

---

١) اخرجه الترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في التجار وتسمية النبي صلى الله عليه وسلم إياهم (رقم-١٢٠٩)والدارمي في رقم_٢٥٣٩

تسهيلات:

قوله: التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الْأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ

د مذكوره خلقو سره د رشتيني سوداګره حشر وجه:- داسې سوداګر چې په خپل تجارت كښې د صداقت او د امانت خيال ساتي نو هغه ته به د قيامت په ورځ د انبياؤ، صديقينو او د شهداؤ رفاقت ملاويږي دا بدله تاجرِ صدوق او امين له په دې وجه وركړې شوه چه دې كس د انبياؤ اطاعت اوكړو، د صديقنو سره به د خپل صدق په وجه وي. او د شهداؤ سره به خكه وي چه شهدا به ددې كس د صدق او امانت ګواهي وركوي

رشتيني سوداګره عرش د سورى لاندې:- په مسند ديلمى كښې د حضرت انس حديث دې چه التاجر الصدوق تحت ظل العرش يوم القيامة. (مرقات ج ۶ ص ۵۴)

۲۷۹۷–( )[١] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنِ ابْنِ عُمَرَ. [٢] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] او ابن ماجه دا روايت د حضرت ابن عمر ﷺ خخه نقل كړي دى [٢] او ترمذي فرمايلي دي چې دا حديث غريب دى

[۲۷۹۸] تاجرانو ته د صدقې كولو حكم

۲۷۹۸–[۷] ( )[١] وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي غَرَزَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «كُنَّا نُسَمَّى فِي عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - السَّمَاسِرَةَ، [٣] فَمَرَّ بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] فَسَمَّانَا بِاسْمٍ هُوَ أَحْسَنُ مِنْهُ، [۵] فَقَالَ: "يَا مَعْشَرَ التُّجَّارِ! [٦] إِنَّ الْبَيْعَ يَحْضُرُهُ اللَّغْوُ وَالْحَلِفُ [٧] فَشُوبُوهُ بِالصَّدَقَةِ» ". [٨] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] قيس بن غرزه ﷺ (چې سوداګري به يې كوله) دى وايي [٢] د رسول الله ﷺ په زمانه كې به مونږ خلقو (يعني سوداګرو) ته سماسره ونيل كيده [٣] يوه ورځ) رسول الله ﷺ زمونږ په طرف تير شو [۴] نو حضور ﷺ زمونږ طبقي ته يو داسې نوم را كړي چې زمونږ د مخكي نوم خخه ډير ښه دى [۵] حضور ﷺ وفرمايل چې اې د تاجرانو طبقې! (د تاجرانو دلې) [٦] په تجارت كې اكثره بې فائدې خبرې او ډير زيات قسمونه يا كله كله د دروغو قسم اخستلو صورتونه پېښيږي [٧] نو تاسو تجارت صدقه او خيرات سره يو ځاى ساتئ، [٨] ابوداؤد ترمذي نسائي ابن ماجه)

حل اللغات:- ① السَّمَاسِرَةَ: دا د سِمْسَار جمع ده، اصل كښې محافظ او قيّم ته وائى بيا د مُتَوَسِّط دپاره

( ) اخرجه ابن ماجة فى كتاب التجارات /باب الحث على المكاسب (رقم-٢١٣٩)

( ) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب البيوع /باب فى التجارة يخالطها الحلف واللغو (رقم-٣٣٢٦) والترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى التجار وتسمية النبى صلى الله عليه وسلم إياهم (رقم-١٢٠٨) والنسائي فى كتاب البيوع /باب ما يجب على التجار من التوقية فى مبايعتهم (رقم-٤٤٦٣) وابن ماجة فى كتاب التجارات /باب التوقي فى التجارة (رقم-٢١٤٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

مستعمل شو. د اخستونکی اوخرڅونکی په مینځ کښې واسطه یعنی دلال ② مَعْشَرَ: ډله. يَحْضُرُهُ: پېښيږي په تجارت کښې ③ اللَّغْوُ: أي الْمُرَادُ مِنْهُ مَا لَا يَعْنِيهِ: بې فائدې خبرې. ⑤ فَشُوبُوهُ: دَباب تفعيل نه دَ يوځائى کولو او ګډوډ کولو په معنى کښې دې، أي اخْلُطُوا: يوځائې ساتئ، تجارت سره ګډ ساتئ.

تسهيلات:

قوله: التَّمَاسِرَةَ:

د اسلام نه مخکښې د تاجرانو نوم: - دَ اسلام نه مخکښې به دَ تاجرانو نوم دلال وو حضور پاك ﷺ دوى دَ تاجر په نوم سره ياد کړل دَ حضورپاك په تاجرانو باندې دا لوئى احسان دې

قوله: فَشُوبُوهُ: يعنى فضول خبرې اوقسمونه عموماً په تجارت کښې کيږى. په دې وجه دَ دې خرابو اثراتو دَ ختمولودَپاره صدقه کوئى ځکه چه په صدقه سره دَ الله تعالى دَ غضب اور مړکيږى

[٢٧٩]دكامياب سوداګر تعارف

٢٧٩٠-[٩] ()١ وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ رِفَاعَةَ، عَنْ أَبِيهِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- ٢ عَنِ الرَّسُولِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "٣ «التُّجَّارُ يُحْشَرُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فُجَّارًا، ٤ إِلَّا مَنِ اتَّقَى وَبَرَّ وَصَدَقَ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت عبيد ابن رفاعه ﷬ (تابعي) دخپل پلار محترم حضرت رفاعه ابن رافع انصاري صحابي ﷠ څخه ٢ او هغه د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل ٣ د قيامت په ورځ به د تاجرانو خلقو حشر به د فاجرانو (يعني دروغجنو او نافرمانه خلقو سره وي) ٤ هو (هغه تاجر به د دې څخه مستثنى وي) چې هغه پرهيزګاري اختيار کړي وي (يعني په خيانت او دهوکه ورکولو کې مبتلا شوي نه وي) او نيکي يې کړي وي. يعنى په خپلو تجارتي معاملاتو کې دخلقو سره يې نيك سلوك وکړي يا دا چې د الله ﷻ عبادت يې کولى او په ريښتيا قائم وو (ترمذي ابن ماجه دارمي)

حل اللغات: - ① يُحْشَرُونَ: حشربه کولې شى د تاجرانو. ② فُجَّارًا: دا د فُجُور نه دې، د فَاجِر جمع ده، فاسق اونافرمان ته وائى ③ اتَّقَى: اويريدو د الله تعالى نه (يعنى څه ملاوټ او خيانت ئې په تجارت کښې اونه کړو). ④ بَرَّ: أَيْ: أَحْسَنَ إِلَى النَّاسِ: دخلقو سره ئې نيکى اوکړه ⑤ صَدَقَ: يعنى خلقو سره په عامو خبروکښې ئې هم دَ دروغونه ځان اوساتلو هميشه ئې ريښتيا ونيلى او په تجارت کښې هم ريښتيا اوونيل

---

١) اخرجه الترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى التجار وتسمية النبى صلى الله عليه وسلم إياهم (رقم-١٢١٠) وابن ماجة فى كتاب التجارات /باب التوقى فى التجارة (رقم-٢١٤٥) واحمد فى المسند: ٤٢٨/٣

تسهیلات: قوله: وَبَرَّوَصَدَقَ:

دقیامت په ورځ د صادق سوداګر مقام: -قاضی عیاض رحمه الله فرمانی چونکه دَ تجارت عادت وی چه معیوب څیزخرڅوی په تجارت کښې ګړېړ کوی اودَ دَرغو په قسمونو سره په هرصورت کښې خپل تجارت لـه ترقی ورکولو ېسې لګیدلې وی په دې وجه په هغوی باندې عمومی توګه باندې دَ فسق اوفجور حکم اولګولې شو بیا چه په هغوی کښې کوم نـه تاجران وو دَهغوی استثناء اوکړې شوه چه څوك دَ دې حرام څیزونودَ ارتکاب نـه بچ شو اوصداقت ئې اختیارکړو نوهغه به دَقیامت په ورځ نه فاسق تاجرجوړیدو سره راؤچتیږی او نه به په بل څه جرم کښې ککړ کیدوسره راځی هغه به دَ الله تعالی په نیزکامیابیدوسره راځی

٢٨٠٠-()[١] وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" عَنِ الْبَرَاءِ.[٢] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَهَذَا الْبَابُ خَالٍ مِنَ الْفَصْلِ الثَّالِثِ

ترجمه:[١] او بیهقي په شعب الایمان کې دا روایت د حضرت براء رضي الله عنه څخه نقل کړې دی [٢] او امام ترمذي رحمه الله ویلي دي چې دا حدیث حسن صحیح دی

[۳] بَابُ الْخِيَارِ

دَ خیاربیان

خلاصة الباب:-

فيه ستة أحاديث مشتملة على مسئلتين:

① ثبوت الخيار: ١، ٢، ٤، ٦.

② وجه ثبوت الخيار: ٣، ٥.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[٢٨٠١] دَ خیارمجلس حکم

٢٨٠١-[١]()[١] عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[٢] «الْمُتَبَايِعَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ عَلَى صَاحِبِهِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا [٣] إِلَّا بَيْعَ الْخِيَارِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1] اخرجه الترمذی فی كتاب البیوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی التجار وتسمية النبي صلى الله عليه وسلم إياهم (رقم-١٢٠٨)

[2] اخرجه البخاری فی كتاب البیوع/باب: كم يجوز الخيار (رقم-٢١٠٧) ومسلم فی باب ثبوت خيار المجلس للمتبايعين (رقم-٤٣ - (١٥٣١) وابوداود فی السنن أبواب الإجارة/باب فی خيار المتبايعين (رقم-٣٤٥٤) والترمذی فی كتاب البیوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی البيعين بالخيار ما لم يتفرقا (رقم-١٢٤٥)والنسائی كتاب البیوع/باب ما يجب على التجار من التوقية فی مبايعتهم (رقم-٤٤٦٥) ومالك فی الموطا كتاب البیوع/باب بيع الخيار(رقم-٧٩) واحمد فی المسند: ٥٢/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: ١ حضرت ابن عمر ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ خرڅونکی او آخستونکی په دواړو کې هر یو په خپل دویم صاحب معامله باندې (د دې خبرې) اختیار لري چې کله غواړي د رانیولو او خرڅولو معامله باقي وساتي اوکه ختم یې کړي، د څو پورې چې هغه د یو بل څخه جدا نشي (یعني په کوم مجلس کې چې هغه معامله فیصله شي د څو پورې چې هغه ختم نشي په دې طور چې هغوئ د یو بل څخه جدا نشي نو په هغوی کې به یوه ته دا اختیار حاصل نه وي) ٣ هو خیار بیع د دې څخه مستثنی دی (یعني په بیعه کې خریدار د دې خیار شرط فیصله کړي وي که زه وغواړم نو دا خرید شوی څیز به وساتم او که ونه غواړم نو واپس به یې ورکړم په دې بیعه کې د یو بل د جدا کیدو څخه وروسته هم اختیار باقي دی) (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① اَلْمُتَبَایِعَانِ : أَيِ الْبَائِعُ وَالْمُشْتَرِي: بیعه کونکی یعنی خرڅونکې او اخستونکې. ② بِالْخِيَارِ: أَيْ خِيَارُ الْقَبُولِ: اختیارمند (چه دقبلولو او فسخ کولو اختیار ورته حاصل وی) ③ بَيْعَ الْخِيَارِ: په بیعه کښې د اخستلو یا واپس کولو اختیار ساتلو ته بیع خیار وائی

١ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: "٢ «إِذَا تَبَايَعَ الْمُتَبَايِعَانِ ٣ فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ مِنْ بَيْعِهِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا ٤ أَوْ يَكُونَ بَيْعُهُمَا عَنْ خِيَارٍ، فَإِذَا كَانَ بَيْعُهُمَا عَنْ خِيَارٍ فَقَدْ وَجَبَ» ". ٥ وَفِي رِوَايَةٍ لِلتِّرْمِذِيِّ " «الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا أَوْ يَخْتَارَا» " ٦ وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ " أَوْ يَقُولَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: اخْتَرْ" بَدَلَ " أَوْ يَخْتَارَا".

ترجمه: ١ او د مسلم په یو روایت کې دا الفاظ دي ٢ چې هر کله خرخونکی او آخستونکی دخرڅولو رانیولو څه معامله وکړي ٣ نو په هغوئ کې هر یوه ته (د معاملې باقي ساتلو یا فسخ کولو) اختیار حاصل وي ٤ که هغوئ په خیار شرط سره څه تجارتي معامله کوي نو په دې صورت کې د جدایي څخه وروسته هم د اختیار حق به ورته حاصل وي.

٥ د ترمذي په روایت کې داسې دی چې خرڅونکی او آخستونکې دواړه د څو پورې چې یو د بل څخه جدا نشي هغوئ ته اختیار حاصل دی خو دا چې په خپله تجارتي معامله کې خیار شرط یې اینبي وی (یعني که هغوئ په خپله تجارتي معامله مذکوره بلا اختیار شرط سره فیصله کوي نو هغوئ ته به د جدائي څخه وروسته هم اختیار حاصل وي) ٦ لیکن د بخاري او مسلم په یو روایت کې د ترمذي د دې روایت د اخري الفاظو ، اویختارا ، خو دا چې هغه د خیار شرط فیصله وکړي د هغه په ځای دا الفاظ دي، چې په هغه دواړو کې یو خپل دویم صاحب معامله ته دا اووائي چې خیارشرط وکړه او هغه دویم اووائي چې ماته منظوره ده

حل اللغات: - ④ وَجَبَ: یعنی حق به ورته حاصل وی.

تسهیلات: قوله: فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ:

د خیار لغوی او اصطلاحی تعریف: - "کل واحد منهما بالخیار" خیار د اختیار نه مشتق دي په

دوو څيزونو کښې د يوښه څيز خوښولوسره خوښيدو ته په لغوی توګه باندې خيارواني د فقهاؤ په اصطلاح کښې دخيار تعريف داسې دې "يوه تجارتی معامله باقی ساتل يا فسخ کولو نوم خيار دې". داخيارپه بيع اوشراء کښې بائع او مشتری دواړو ته حاصل وی

دَ خيارشپږ قسمونه:- دَ خيار لوئی لوئی شپږ قسمونه دی

① **خيارشرط:** دَعقدمکمل کيدونه پس طرفين له دغه معامله باقی ساتلو يا ختمولو نوم خيارشرط دې

② **خيارعيب:** په يواخستې شوی څيزکښې عيب ښکاره کيدوباندې مشتری ددې په ساتلو يا واپس کولودَ اختيار نوم خيارعيب دې

③ **خياررؤيت:** بغيردکتلو اخستې شوي څيز کله چه مشتری اوګوری نودَهغې دَ ساتلو يا واپس کولوچه کوم اختيار مشتری ته حاصل وی دَهغې نوم خياررؤيت وی

④ **خيارتعيين:** دَ يوڅوڅيزونو په سوداکولوکښې بعض خان سره ساتل او بعض واپس کولوچه کوم اختيارمشتری ته وی هغې ته خيارتعيين وائی

⑤ **خيارقبول:** دَ بائع دَ ايجاب نه پس مشتری ته دَ قبلولو يا نه قبلولو چه کوم اختياروی دا خيارقبول دې

⑥ **خيارمجلس:** په يومجلس کښې دَ بائع او مشتری په مينځ کښې معاملې فيصله کيدو نه پس دَ مجلس په ختميدو باندې هريوته ددې عقد ختمولو يا باقی ساتلو دَ اختيارنوم خيارمجلس دې دَ خيار په دې آخری قسم کښې دَ فقهاؤ کرامو لوئی احتلاف دې

د آخری قسم خيار په حکم کښې مذاهب:-

① شوافع او حنابله فرمائی چه بائع اومشتری دَ عقد نه پس ترکومې پورې چه په مجلس کښې ناست وی هريوته دَ عقد فسخ کولو يا باقی ساتلو اختيارحاصل دې اودَ مجلس ختميدو نه پس دَ فسخ اختيار ختميږی او "مالم يتفرقا" کښې تفرق بالابدان مراد دې

② احناف او مالکيه فرمائی چه دَ ايجاب اوقبول نه پس کله چه عقد مکمل شی نواوس چاته هم دَ فسخ کولوحق حاصل نه دې که هغه دواړه په مجلس کښې ناست ولې نه وی او دَ "مالم يتفرقا" سره تفرق بالاقوال مراد دې

د اول فريق دليل:- دې حضراتو دَ خيارمجلس دَ ثبوت دَپاره هم ددې حديث نه استدلال کړې دې هغوی دَ خيار دَ لفظ نه خيار مجلس مراد اخلی او په "مالم يتفرقا" کښې دَ تفرق ابدان تفرق مراد اخلی مطلب دا شوچه دَعقد نه پس بائع اومشتری ترکومې پورې چه په مجلس کښې ناست وی هغوی ته به دَ عقد دَ فسخ کولو اختيارحاصل وی ليکن هغوی په بدنی توګه باندې دَيوبل نه جدا شو نواوس به دَ عقد دَ فسخ کولو اختياردَ دواړو نه ختم

Maktaba Tul Ishaat.com

شی او دَ "الابيع الخيار ياالاان يختارا" چه کومه استثناء ده دَ هغې مطلب دادې که دواړو دَعقدنه روستو دَ ريو ورځو وغيره خيارشرط کيخودې دې نواوس دَ مجلس دَ برخاست کيدونه پس هم هغه خيار باقي وی دغه شان دې حضراتو دَ حديث مفهوم اومضمون بيان کړې دې

داول فريق د دليل دوه جوابونه:- ① چونکه احناف هم دَدې حديث نه استدلال کوی لهذا دَدې دَجواب ورکولو ضرورت نشته دې خوبياهم شارحين حديث يو جواب ورکړې دې چه دلته "مالم يتفرقا" سره تفرق بالاقوال مراد دې نه چه "تفرق بالابدان تفرق بالاقوال" کښې دا لفظ حقيقت دې او په تفرق بالابدان کښې مجازدې نو په حقيقت باندې چه ترکومې پورې عمل کيدې شی دَمجاز طرف ته دَ تلو ضرورت نشته دې تفرق بالاقوال داسې کيږی چه دَايجاب اوقبول نه پس عقد بيع دَخبرې نه علاوه نورې خبرې شروع شوې او طرفين په نورو خبرو کښې اخته شو بعض رواياتو کښې "مالم يتفرقا من بيعهما" الفاظ موجود دی چه دَدې خبرې قرينه ده چه تفرق بالاقوال مراد دې بل دَ ابراهيم نخعی رحمه الله نه نقل دی "مالم يتفرقا عن منطق البيع".
② که چرې خيار مجلس مراد دې دادَ اخلاقياتو په توګه باندې مستحب امردې قانون اوقاعده نه ده

د دويم فريق دلائل:- ① احناف اومالکيه هم د دې حديث نه استدلال کوی لکه څنګه چې د اول فريق طريقه داستدلال جدا ده .اګرچې حديث يو دې دغه شان د دويم فريق مستدل هم دا حديث دې خو طريقه د استدلال ئې جدا ده.نو دا نه شی وئيلې کيدې چه داحديث صرف هم دَ يوطرف دَ فقهاؤ دليل دې. اګرچه ظاهری الفاظوته په کتوسره داسې معلوميږی چه داحديث دَ شوافع او حنابله دليل دې
② حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه دَحديث کوم چه هم دَدې زير بحث حديث مختلف طرق کښې يوطريق دې الفاظ ئې داشان دی "ولايحل له ان يفارق صاحبه خشية ان يستقيله" دا لفظ په واضح توګه باندې په اقاله باندې دلالت کوی معلومه شوه چه په مجلس کښې که چرې يو فريق عقد فسخ کول غواړی نودا به اقاله وی او په اقاله کښې دَ دويم ملګری رضامندی ضروری ده

بهرحال تفرق بالاقوال اخستو سره دَدې حديث نه احناف استدلال کولې شی په کوم سره چه دَ خيار مجلس دَدعوی نفی کيږی
③ دَ بيوعات او عقود اوفسوخ اَصولی قواعدهم دليل دې اودا استدلال ډير مضبوط دې هغه داسې چه دَ ټولو عقودو حقيقت ايجاب اوقبول دې دَ ايجاب اوقبول نه علاوه بل څه خيز دَعقد رکن نه دې په بيع کښې هم دغه شان دې چه کله دَ بيع دا دواړه رکن متحقق شو نوعقد مکمل شو اوس دَ قرآن کريم دَآيت دَ حکم مطابق عقدپوره کول ضروری دې

ارشاد دي ﴿ يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ ﴾ [سورة مائده: ١]
اوس که یو فریق بیع فسخ کول غواړي نو دا به اقاله وي چه دَ بائع په رضا باندي موقوف ده.
③ دَدې باب فصل ثالث آخری حدیث په کوم کښي چه صفا الفاظ دی چه حضور پاك عقد دَ بیع نه پس کلي وال ته اختیار حق ورکړو که چرې دا حق پخپله حاصل وو نو حضور پاك هغه ته ولي ورکړو؟
④ عقلي دلیل دا دې چه کله کله طرفین په مجلس دَعقد کښي په ګهینټو ناست وي او یل طرف ته په مارکیټ کښي په یو یو منټ حساب سره قیمتونو کښي اوچتیدل او ښکته کیدل راځي اوس به دا حضرات ناست وي چه قیمت به زیات شوې وي یا به کم شوې وي نو اوس به یو فریق عقد فسخ کوي او دویم فریق به انکار کوي دغه شان به جګړه جوړه شي او دَ عقد بیع حیثیت به مشکوك کیدو سره پاتې شي چه یو وخت هم دا ختمیدې شي هم دغه وجه ده چه شیخ الهند رحمه الله دا صورت دَ اخلاقیاتو دَ قبیل نه ګرځولې دې هغوی فرمائي چه خیار په قانوني حیثیت سره نه دې اخلاقي اعتبار سره دې
بهرحال احناف دَ خیار نه خیار قبول مراد اخلي او تفرق نه تفرق بالاقوال مراد اخلي او المتبائعان نه مشغولین فی البیع مراد اخلي

قوله: إِلَّا بَيْعَ الْخِيَارِ:

د استثناء دوه مطلبونه:- ① دا استثناء دَ ماقبل حدیث دَ پوره مفهوم نه ده دَحدیث نه مفهوم کیدلو چه تفرق نه پس خیار باقی نه پاتې کیږي. په دې جمله کښي استثناء راغله چه که چرته څه شرط کیخودې شوې دې نو بیا به دَهغه شرط لحاظ کیږي. دا مطلب دَټولو فقهاؤ دَمسلك مطابق دې
② بائع مشتری ته دَ عقد په وخت اووئیل چه هم اوس سوچ او فکر سره فیصله او کړه روستو به اختیار نه وي. مشتری اووئیل چه ما ښه په سوچ او فکر سره فیصله کړې ده دغه شان کولو سره دَ ایجاب او قبول نه پس چاته دَ خیار مجلس حق باقی نه پاتې کیږي. دا مطلب بیان کړې دې

[٢٨٠٢] په تجارت کښي د ریښتیا ویلو برکت

٢٨٠٢ - [٢] (١) ① وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ② «الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا ③ فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا، ④ وَإِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[١] اخرجه البخاری فی کتاب البیوع/باب إذا بین البیعان ولم یکتما (رقم-٢٠٧٩) ومسلم فی باب الصدق فی البیع والبیان (رقم-٤٧ - (١٥٣٢) والترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی البیعین بالخیار ما لم یتفرقا (رقم_١٢٤٦)واحمد فی المسند ٤٠٣/٣

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [۱]حضرت حکیم ابن حزام رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲]خرڅونکی او اخستونکی دواړو ته د خپلې تجارتي معاملې باقي ساتلو یا فسخ کولو اختيار حاصل دی. لیکن دا اختیار تر یو وخته ورته حاصل دی، د څو پورې چې هغه جدا نشي [۳]او بیا د لرې، د څو پورې چې خرڅونکی او خرید کونکی دواړه (فروخت کړي شی او د هغه په تعریف کې) ریښتیا وایې او (هغه څیز او په قیمت کې چې کوم عیب او نقصان وي هغه ښکاره کوي (چې څه دهوکه په کې پاتې نشي) نو د هغوی په تجارتي مال کې برکت اچولي کیږي، [۴]او هر کله چې هغه عیب پټوي او دروغ وايي نو د هغوی په خرڅولو او رانیولو کې برکت ختمیږي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① اَلْبَيِّعَانِ: أي البَائِعُ وَالْمُشْتَرِي: بيعه كونكى يعنى خرڅونكي او اخستونكي. ② صَدَقَا: دواړه رشتيا وائی ③ بَيَّنَا: أي: عَيْبَ الثَّمَنِ وَالْمَبِيعِ: دواړو ښکاره کړو (يعنى د ثمن يا د مبيع عيب ئې ښکاره کړو چه يوبل ته نقصان ورنکړی) ④ بُورِكَ: أي: كَثُرَ النَّفْعُ: برکت به ورله واچولې شی. ⑤ كَتَمَا: دواړه پټوی (عيب د ثمن يا د مبيع لره) ⑥ مُحِقَتْ: أي: يَذْهَبُ الْبَرَكَةُ: برکت ختموی

تسهيلات:

نوټ: —د دې حدیث لاندې چه کومه مسئله ده هغه په ماقبل کښې په تفصیل سره ذکر شوه او د هغې جوابات هم تیر شو. دا حدیث د امام شافعی رحمه الله مستدل دې چه خیار مجلس ثابت دې

[۲۸۰۳]په غبن فاحش سره د بیع فساد

(۱)[۳] [۱]وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-قَالَ: «قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]إِنِّي أُخْدَعُ فِي الْبُيُوعِ [۳]فَقَالَ: [۴]" إِذَا بَايَعْتَ [۵]فَقُلْ: لَا خِلَابَةَ " [۶]فَكَانَ الرَّجُلُ يَقُولُهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې يو سړي رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو زه [۲]د خرڅولو رانيولو په معامله کې دهوکه خورم [۳]حضور ﷺ ورته وفرمايل [۴]هر کله چې ته د خرڅولو رانيولو څه معامله کوې [۵]نو هغه وخت دا وايه چې (په دين) کې د دهوکې د پاره هيڅ ګنجائش نشته [۶]نو هغه سړی به دغه شان ويل. (بخاري مسلم)

حل اللغات - ① لَا خِلَابَةَ: أي: لَا غَبْنَ وَلَا خَدِيعَةَ لِي فِي هَذَا الْبَيْعِ: په خاء باندې کسره ده او ضمه هم ده دهوکه اوغبن ته وائي

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب البیوع/باب ما یکره من الخداع فی البیع (رقم-۲۱۱۷) ومسلم فی کتاب البیوع/باب من يخدع فی البیع(رقم-۴۸ - (۱۵۳۳) وابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی فضل الرباط (رقم-۲۵۰۰) والنسائی فی کتاب البیوع/باب ما یجب علی التجار من التوقية فی مبايعتهم (رقم-۴۴۸۴) ومالک فی الموطا کتاب البیوع/باب جامع البیوع (رقم-۹۸) واحمد فی المسند: ۸/۲

تسهیلات:

قوله قَالَ رَجُلٌ

د رجل مصداق او د حدیث پس منظر: داسړي حضرت حبان بن منقذ انصاری رضي الله عنه وو دَدوی عمر ۱۳۰ کال وو بعض غزوات کښې دې په سر په کانړی لګیدلې وو په کوم سره چه دَهغه خیالی قوت متاثرشوې وو دَ ده اخستلو اوخرڅولو سره ډېرشوق وو مګر دَ تجربې دَ نشت والی دَ وجې نه به نی اکثر دهوکه خوړله دَدوی خاندان حضورپاك ته عرض اوکړو چه په ده باندې دَ بیع اوشراء پابندی اولګوی حضورپاك چه کله هغه سره خبره اوکړه نوهغه ونیل یارسول الله ﷺ! زه دَ بیع اوشراء نه نه شم صبریدې

دحدیث په مفهوم کښې دوه اقوال:- ① بیا حضورپاك اوفرمائیل چه ته کله بیع اوشراء عقد کوې نوداسې وایه "لاخلابة" یعنی ماسره به دهوکه نه کیږی که چا څه دهوکه اوکړه نو تردریو ورځو پورې به ماته دَ واپس کولو اختیاروی زه به نی تجربه کارو خلقوته ښایم که سودا مناسب وه نوقبوله ګنی واپس کوم به "اي لاخداع في الدين لان الدين النصيحة" لکه چه الفاظ دَدې سړی دَپاره دَ شرط په توګه وو په دې وجه بعض روایاتوکښې "ولي الخيار ثلاثة أيام" الفاظ هم دې لفظ سره دی. هم په دې وجه به خلقو دَ ده سره دَدهوکې کولو نه ځان بچ ساتلو هم دَدې مقصد دَپاره به دغه الفاظ استعمالیدل بعض شارحینو دَ حدیث هم دغه مطلب اخستې دې.

② بعض شارحینو لیکلی دی "لاخلابة" ونیلو سره خیارشرط ایږدل مقصودنه وو بلکه دَخیار شرط دَپاره دا الفاظ په توګه دَتمهیدوو دَ شرط ذکر به جدا کیدلو دَ جمهورو په نیز دې لفظ نه خیارشرط نه ثابتیږی دَدې ذکر جدا کول ضروری دی دَدې لفظ په ونیلوسره به مقصود دومره کیدلو چه خلقو ته معلومه شی چه دا سړې تجربه کارنه دې په دې وجه ده سره دهوکه مه کوئی هغه وخت خلق ښه وو دَدې وضاحت نه پس به نی دهوکه نه کوله

په صورت مذکوره کښې د بیع په فسخ کښې مذاهب:-

① اوس فقهی نقطه نظر سره امام احمد رحمه الله فرمائی چه که په وخت دَ بیع دا الفاظ اوونیل اوبیا هغه سره دهوکه اوشوه نوهغه بیع فسخ کولې شی

② جمهور وانی داسې سړې په هیڅ یوصورت باندې بیع نه شی فسخ کولې او احناف دَدې قائل دی چه که چاسره غبن فاحش اوشی نوهغه ته حق حاصل دې چه بیع فسخ کړی ملاعلی قاری رحمه الله لیکی "اقول الغبن الفاحش يفسد البيع ويثبت الخيار عند القائل به وقال ابوثور اذا كان الغبن فاحشا لا يتغابن الناس بمثله فسد البيع".

Maktaba Tul Ishaat.com

الفصل الثاني

[٢٨٠٣] د خیار مجلس په نفي دلیل

٢٨٠٣ــ[٣] ()[١] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ[٢] أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "[٣]«الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا،[٤] إِلَّا أَنْ يَكُونَ صَفْقَةَ خِيَارٍ، [٥]وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يُفَارِقَ صَاحِبَهُ خَشْيَةَ أَنْ يَسْتَقِيلَهُ»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت عمرو ابن شعیب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل نیکه څخه نقل کوي[٢] چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٣] خرڅونکی او اخستونکی دواړه د هغه وقته (د بیع باقي ساتلو یا د هغه د فسخ کولو) اختیار لري د څو پورې چې هغوی جدا نشي،[٤] خو دا چې د هغوی بیع بشرط خیار وي (نو په دي کې د جدائي څخه وروسته هم اختیار باقي وي) [٥] او په هغه دواړو کې د هیڅ یوه د پاره (د تقوی له مخه) دا جائز نه دی چې هغه معامله کولو سره د خپل ځای څخه پاڅیږي د دې خوف څخه چې داسې نه دویم فریق د معاملې د فسخ کولو اختیار وغواړي (یعني د څو پورې چې په یوه معامله کې دواړه فریق په پوره طور سره مطمئن نشي په ایجاب اوقبول کې په هغوی کې څوك خاص په دې وجه تلواري ونکړي چې داسې نه فریق ثاني معامله فسخه کړي یا معامله فیصله کولو سره په هغوی کې څوك خاص په دې وجه ونه تښتي چې چرته دویم فریق د بیع فسخ کولو اختیار شرط ونه غواړي) ابوداؤد نسائي.

حل اللغات:- ① صَفْقَةَ: أَيْ: بَيْعَةً: معامله، لین دین (د اخستونکی او خرڅونکی خپل مینځ کښې بیع کولو ته صفقه وائی) ② يُفَارِقَ: بِأَنْ يَقُومَ مِنَ الْمَجْلِسِ وَيَخْرُجَ: جدا شي یعنی د مجلس نه پاسی او لاړشی ③ خَشْيَةَ: ویره، ④ يَسْتَقِيلَهُ: أَيْ: يَطْلُبُ مِنْهُ الْإِقَالَةَ: چه د بیع فسخ کولو اختیار به اوغواړی

تسهیلات:

قوله: الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ:

د حدیث څخه د دوو مذاهبو استدلال:- ① دا حدیث البیعان بالخیار مالم یتفرقا د جملې د وجې د امام شافعي رحمه الله مستدل دی

② لایحل له ان یفارق صاحبه خشیة أن یستقیله د جملې د وجې د احنافو مستدل دی څکه چه إقاله د بیع تام کیدو نه پس کیږی نه که د تام کیدو نه مخکښې.

[١]) اخرجه ابوداود في السنن أبواب الإجارة/باب في خيار المتبايعين (رقم-٣٤٥٦) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في البيعين بالخيار ما لم يتفرقا (رقم_١٢٤٧) والنسائي في كتاب البيوع/باب ما يجب على التجار من التوفية في مبايعتهم (رقم-٤٤٨٣)واحمد في المسند: ١٨٣/٢

[٢٨٠٥] په بیع کښې د متبایعینو د رضامندۍ ضرورت

٢٨٠٥ـــ[٥] ( )[١]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "[٢]«لَا يَتَفَرَّقَنَّ اثْنَانِ إِلَّا عَنْ تَرَاضٍ»" رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [١]حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢]خرخونكى او آخستونكي دواړه دي په خپل منځ كښې د رضامندۍ څخه بغير نه جدا كېږي. (ابوداؤد)

تسهیلات:

قوله: إِلَّا عَنْ تَرَاضٍ:

مذكوره جملې مفهوم: -يعنى دَ متعاقدينونه چه هريوبل ته دا اووائى آيا ته خوشحاله ئى څه خفګان خو نشته دې نودَ ايجاب اوقبول سره عقد تام شى بيا چانه دَعقد دَ فسخ كولوحق حاصل نه دې اودا كلام دَ اخلاقياتودَ قبيل نه دې چه يو استحبابى حكم دې

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٨٠٦] دَ خيارشرط دَ مودې اندازه

٢٨٠٦ـــ[٦] ( )[١]عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - [٢]«أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَيَّرَ أَعْرَابِيًّا بَعْدَ الْبَيْعِ» [٣]رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١]حضرت جابر ﷺ وايي[٢] چې رسول الله ﷺ يو اعرابي (باندچي، كليوال) ته د رانيولو او خرخولو د معاملي كيدو څخه وروسته د دويم فريق د رضامندۍ سره د هغه معاملي د فسخ كولو اختيار وركړي وو، [٣]ترمذي ﷫ دا روايت نقل كړي دى او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دى.

حل اللغات: - ① خَيَّرَ: اختيار ني وركړي وو (د بيع د باقى ساتلو يا دفسخ كولو، ② أَعْرَابِيًّا: أي: بَدَوِيًّا: باندېچى، كلى وال

تسهیلات: **قوله:** خَيَّرَ أَعْرَابِيًّا:

د خيار شرط په موده كښې مذاهب: -

دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَخيارمجلس هيڅ قانونى حيثيت نشته كنى حضورپاك به دغه سړى ته خيار نه وركولو بلكه هغه ته خپل پخپله دَ خيارمجلس حق حاصليږى اوس پاتې شوه دَ خيارشرط خبره نودا داسې اوګڼړئ چه په يوعقدكښې په وخت دَعقد خيارشرط ساتل دَ شريعت په رڼا كښې جائز دې په دې باندې دَ ټولو فقهاؤ اتفاق دې البته دَ خيارشرط په موده كښې اختلاف دې

[١] اخرجه ابو داود فى السنن أبواب الإجارة/باب فى خيار المتبايعين (رقم-٣٤٥٨)
[٢] اخرجه الترمذي فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم_١٢٤٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

① امام ابوحنيفه رحمه الله او امام شافعي رحمه الله دَ درې ورځو دَ خيارشرط قائل دی دَدې نه زيات جائز نه دې

② امام احمد رحمه الله او صاحبين فرمائی چه دَ بائع اومشتری مرضی ده څومره موده چه دَخيارشرط ايږدل غواړی کيخودې شی

③ دَ امام مالک رحمه الله په نيزدَ يوې مودې مقررکول مناسب نه دی بلکه دَ ضرورت مطابق موده زياتيدې اوکميدې شی دارومدار په مبيعات باندې دې لهذا په کور او زمکه کښې ۳۶ ورځې دې په غلام کښې ۱۰ ورځې په کورنی سامان وغيره کښې ۵ ورځې خيارشرط دې او څناورو کښې دوه ورځې دَخيارشرط حق حاصل دې

[۴] بَابُ الرِّبَا

دَ سود بيان

خلاصة الباب: -

فيه سبعة وعشرون حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① قباحة الربا وأهله: ۱، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳.

② الأموال الربوية وحكمها: ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۱۰، ۱۱، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۸، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸.

③ ما يجوز فيه التفاضل: ۹، ۱۷.

④ عموم فتنة الربوا: ۱۲.

قال الله تعالى ﴿ وَأَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا ﴾ [سورة بقره الايه: ۲۷۵] وقال الله تعالى ﴿ يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ ﴾ [سورة بقره الايه ۲۷۶].

دَ ربوا لغوي تحقيق او معنی: ربا الف مقصوره سره ربا يربوا نصر نه دې دَعربو مشهور قبائل اهل حيره په لغت کښې دا لفظ په واؤ سره ربوا ليکلې کيږی بيا اهل حيره اهل حجاز ته دا لغت اوخودلو لهذا په مصاحف کښې دا لفظ واؤسره ليکلې شوې دې دَ عربو په يولغت کښې دالفظ "رما" ميم سره دې هغه هم ربا ده ربا ته ربية هم وائی په لغت کښې ربا دَ زياتوالی او وړاندې کيدو په معنی کښې دې

د ربا اصطلاحی تعريف: -دَ ربا اصطلاحی تعريف داشان دې

"اَلرِّبَا هُوَ فَضْلٌ خَالٍ عَنِ الْعِوَضِ شُرِطَ لِأَحَدِ الْعَاقِدَيْنِ" ميرسيد شريف رحمه الله په خپل کتاب التعريفات کښې دَ ربا دغه تعريف ليکلې دې بعض علماو داتعريف ليکلې دې "الربا هو مبادلة المال بالمال مع الفضل بلاعوض" ربا يو عام مفهوم دې په کوم کښې چه بغيرد

عوض نه اضافي مال حاصلولې شي مروجه سود دَدې دَ شاخونونه يوځانګه ده او دَدې دَ قسمونونه يوقسم دي لهذا دَ ربا ترجمه په سود سره کول په دې کښې منحصر کول غلط فهمي راپيدا کوي

دَ لفظ ربا اطلاق: قرآن اوحديث کښې دَ ربوا لفظ په پنځو مفهوماتواو پنځومعانو باندې ونيلې شي

① رومبي مفهوم رِبَاالنَّسِيْئَةِ دې اوهم دَدې نوم ربا القرض هم دې کوم چه الله تعالى په قرآن پاك کښې حرام کړې دې اودَ سورت بقره په آخرى حصه کښې دَ دې په حرمت باندې ډير آياتونه رانازل شوى دى. لکه دَ سورت بقره آيت ۲۷۵ او آيت ۲۷۸ او آيت ۲۷۹ او آيت ۲۸۰ کښې مکمل تفصيل ذکردې.

دَ ربا القرض صورت داوو چه يوسړى به بل سړى ته دَ يوخاص مودې پورې روپئې ورکولې اودا شرط به ئې لګولو چه کله قرض واپس کوې نودومره زياتى روپئې به راکوې اوکه په مقرروخت باندې دې قرض ادانه کړو بيابه دَدې ډبل راکوې مثلاً دَ دوو زرو په ځائى به څلور زره راکوې. په جاهليت کښې دَربوا هم دغه صورت مشهوروو او په قرآن عظيم کښې هم دَدې په حرمت باندې آياتونه نازل شوى دى. نن صبا په ربا القرض کښې سودى لين دين نبه په زور او شور سره جارى دې

② **ربا الفضل:** دَ ربا دويم قسم اودَدې دويم اطلاق په ربا الفضل باندې دې کوم ته چه ربوا المعاملات هم وائى متحد الجنس والنوع او متحد القدر اشياء بدلون کښې چه کوم زيات مال حاصلولې شي هغې ته ربا الفضل وائى زيات تر دَ احاديثو تعلق دَ سود هم دې قسم سره دى لکه دَيوسير غنمو په ځائى دوه سيره غنم اخستل وغيره وغيره تفصيل وړاندې راروان دې

③ **ربوا العطية:** دَ ربا دريم قسم اودَدې دريم اطلاق په ربوا العطية باندې کيږى دَ دې صورت داوى مثلاً يوسړې بل ته عطيه کوى خو په زړه کښې ئې دا خيال پټ پروت وى چه ماته به دَدې په بدله کښې زيات ملاويږى دَدې دَپاره په قرآن کښې دا آيت دې

﴿ وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَاْ فِيْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ ﴾ [سورت روم: ۳۹]

④ **ربوا الاعمال المالية:** دَ ربوا څلورم اطلاق په هرناجائز مالى معامله باندې هم کړې شوې دې لکه چه دَقرآن آيت دې کوم چه دَ يهودو په مذمت کښې راغلې دې ﴿ وَّاَخْذِهِمُ الرِّبٰوا وَقَدْ نُهُوْا عَنْهُ ﴾ [سورت نساء الايه: ۱۶۱]

⑤ **ربوا الافعال الغير المشروعة:** دَ ربوا پنځم اطلاق کله کله به هغه ناجائز کارباندې هم کړې شوې دې په کوم کار کښې چه دَ زيادت معنى موندلې شي لکه چه يوحديث کښې دى "ان اربى الربوا استطالة الرجل في عرض أخيه" [الحديث]

Maktaba Tul Ishaat.com

په قرآن اوحديث کښې د لفظ ربوا دا پنځه اطلاقات راغلی دی ليکن شريعت چه کوم څيز سود او ربوا ګرځولې دې هغه صرف اول دوه قسمونه دی يعنی ربا القرض او ربا الفضل دَدې دوو قسمونولاندې ټول سودی کاروبار راځی هم په دې کښې ربا الرهن داخل دې چه يوسړې دَ مرهونه څيزنه فائده اوچته وی او رأس المال محفوظ دې دَ ربوا دَ دغه پورتنی دواړه قسمونه قرآن حديث او اجماع امت نه مطلقًا حرام دی قرآن عظيم الشان کښې الله رب العزت ربوا القرض بيان کړې دې اودانی حرام ګرځولې دی تورات زبور او انجيل غوندې آسمانی کتابونو دا حرام ګرځولی دی

د ربوا القرض تعريف: -علامه جصاص رحمه الله دَ رب القرض تعريف داسې کوی "هوالقرض المشروط فيه الاجل وزيادة مال على التقرض" يعنی ربا القرض دې ته وائی چه چاته دې قرض مال ورکړو او په هغې کښې دَ واپسنی وخت مقرر کړې شو مګر په مديون باندې دَ قرض دَ واپسنی په وخت څه زيات مال مقرر کړی.

د قرآنی وعيداتو محل او مصداق: -علماؤ ليکلی دی قرآن کريم کښې چه الله تعالی دَ ربوا کوم سختوالی سره وعيدونه بيان کړی دی هغه هم دغه دَ ربا القرض صورت دې هغه وخت په جاهليت کښې هر سړی دا پيژندلو اوکله چه دَ قرآن اياتونه نازل شو نوخلقو دا قسم ربا ترک کړه لهذا نن صباد ملحدانو دا وينا هيڅ معنی نه لری چه قرآن دَ قرض نه علاوه دَ يوبل صورت ترديد کړې دې او ربا القرض جائز دې.

د موجوده بينکونولين دين: -علماؤ ليکلی دی نن صباچه دَ بينکونو کوم کاروبار دې هغه هم دَدې دَ قسم نه دې چاچه قرض ورکړو يا ئی قرض واخستلو او په واپسنی باندې پوره رأس المال هم واخستو اودَ سود په توګه ئی اضافی پيسې هم واخستې دَ جاهليت سودی کاروبار هم دغه شان وو او په قرآن کريم کښې هم دَدغه صورت بيان دې اوهم دغه حقيقی سود اوربوا دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۸۰۷] په سودی لين دين کښې څلور کسان ملعون ګرځيدل

۲۸۰۷-[۱] (۱) [۱]عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲]«لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[۳] - آكِلَ الرِّبَا وَمُوْكِلَهُ وَكَاتِبَهُ وَشَاهِدَيْهِ،[۴]وَقَالَ: (هُمْ سَوَاءٌ)» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]حضرت جابر رضي الله عنه وايې[۳] رسول الله ﷺ په سود اخستونکی په سود ورکونکې د سودې لين دين کاغذ ليکونکې او د هغه په شاهدانو تولو باندې[۲] لعنت ويلی دی،[۴]او

(۱) اخرجه مسلم فی كتاب المساقاة/باب لعن آكل الربا ومؤكله (رقم-۱۰۶ - (۱۵۹۸) والترمذی فی كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی أكل الربا (رقم_۱۲۰۶)

حضور ﷺ وفرمايل چې دا ټول (په اصلي ګناه کې) يو شان دي اګر چې د کار د اعتبار په وجه مختلف دي. (مسلم) [اخرجه مسلم، ١/ ٦٩٧]

حل اللغات: - ① آكِلَ الرِّبَا: أَيْ آخِذَهُ: سود اخستونکي (که خوری ئې اوکه نه يعنې د خوړلو نه مراد اخستل دی) ② مُوْكِلَهُ: أَيْ مُعْطِيَهُ: سود ورکونکي (که هغه ئې خوری اوکه نه ئې خوری) ③ كَاتِبَهُ: د سود معامله ليکونکي. ④ شَاهِدَيْهِ: د سود په معامله کښې ګواهان جوړيدونکی

تسهيلات: قوله: وَشَاهِدَيْهِ:

دسود د ګواه جوړيدونکي باندې لعنت: -يعنې په سودی لين دين کښې ګواه جوړيدونکي سړي هم ملعون کيږی د دې نه معلومه شوه چه سودی کاروبار کښې د څه قسم په امداد سره سړې به په سودکښې شريك ګڼړلې شی لهذا په دې کښې د هرقسم تعاون کول حرام دی د بينکونو د مختلف شعبوکارندې دې ښه سوچ اوکړی چه هغوی خو چرته په دغه کاروبار کښې معاون خونه جوړيږی

[٢٨٠٨] دسودی څيزونو تفصيل

٢٨٠٨—[٢] (¹) [١] وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[٢] «الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ [٣] وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ [٤] مِثْلًا بِمِثْلٍ، سَوَاءً بِسَوَاءٍ يَدًا بِيَدٍ، [٥] فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هَذِهِ الْأَصْنَافُ، [٦] فَبِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ [٧] إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] سره زر د سرو زرو په بدله کې سپين زر د سپينو زرو په بدله کې [٣] غنم د غنمو بدله کې اوربشې د اوربشو په بدله کې او مالګه د مالګې په بدله کې که واخستی شي او ورکول شي. [٤] نو د دې لين دين په مقدار کې مثل په مثل يعنې برابر برابر او لاس په لاس کيدل پکار دي [٥] او که دا قسمونه مختلف وي مثلًا د غنمو تبادله په اوربشو سره وي يا د اوربشو تبادله په کجورو سره [٦] نو بيا اجازت دی چې څنګه غواړئ خريد وفروخت وکړي (يعنې برابر برابر کيدل ضروري نه دی) [٧] البته د لين دين لاس په لاس کيدل په دې صورت کې هم ضروري دی. (مسلم)

حل اللغات: - ① الذَّهَبُ: سره زر. ② الْفِضَّةُ: سپين زر. ③ الْبُرُّ: أَيْ الْحِنْطَةُ: غنم. ④ الشَّعِيرُ: وربشې. ⑤ التَّمْرُ: کهجوري. ⑥ الْمِلْحُ: مالګه. ⑦ مِثْلًا بِمِثْلٍ: چه جنس ئې يو وی ⑧ سَوَاءً بِسَوَاءٍ: أَيْ: مُتَسَاوِيَيْنِ فِي الْقَدْرِ: چه په مقدار کښې برابر وی ⑨ يَدًا بِيَدٍ: لاس په لاس يعنې نغد وی او په يو مجلس کښې وی

تسهيلات: قوله: الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ:

د مذکوره جملې ترکيب: - که چرې يباع فعل محذوف اومنلې شی نو الذهب به د دې نائب

¹) اخرجه مسلم في كتاب المساقاة/باب الصرف وبيع الذهب بالورق نقدا (رقم-٨١ - (١٥٨٧)

Maktaba Tul Ishaat.com

فاعل مرفوع شي اوکه چرې بیعوا دَ امر صیغه محذوف اومنلې شي نوالذهب به منصوب وی تر آخره پورې به اعراب هم دغه شان وی

دتجارتی اجناسو درې قسمونه:- ① دتجارتی جنس لین دین په وزن سره کیږی ددې مثال سره زر اوسپین زر وغیره دی دې ته موزونی وائی

② دتجارتی جنس اخستل خرڅول په ناپ سره کیږی ددې قسم مثال غله ده دې ته مکیلی وائی

③ دتجارتی جنس اخستل خرڅول نه په ناپ کښې راځی اونه په وزن کښې راځی ددې مثال هغه څیزونه دی په کوم کښې چه نه وزن وی اونه کیل وی یعنی نه موزونی وی اونه مکیلی وی

نوټ:- بیا داخبره هم په ذهن کښې ساتل پکاردی شریعت چه کوم څیزته موزونی یامکیلی اوونیل هغه به همیشه موزونی اومکیلی وی دَ زمانې په بدلیدوسره به هغه بدلولې نه شی اونه دَخلقو په رواج سره هغه بدلولې شی

د جنس او قدر وضاحت:- بیا داخبره هم یاد ساتئی چه په یوڅیزکښې دَهغې وزن اوکیل صفت ته قدر وائی اودَ یوڅیز حقیقت اوماهیت ته جنس وائی نودَ لین دین څیزونه یا په قدرکښې راځی او یا جنس کښې راځی

د ربوالفضل د حرمت وجه: ددې حدیث پس منظر دادې چه دا حدیث د ربا د تحریم دنزول نه پس فرمائیلې دې اصلی ربا هغه وه کومه چه قرآن پاك حرامه کړې وه الله تعالی فرمائی ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ))(البقرة،۲۷۸)یعنی کوم قرض چه ورکړې شی په هغې باندې دزیادت مطالبه مه کوئ دا د ربا حقیقت وو کومه چه قرآن کریم حرامه کړې ده خکه دې ته ،، ربالقرآن ،، هم وئیلی شی

په مذکوره څیزونوکښې تفاضلا اونسیئة دعدم جواز علت:- د ،، ربالقرآن ،، د سد باب دپاره نبی علیه السلام ددې شپږو څیزونو په خپل مینځ کښې دتبادلې په صورت کښې ،، تفاضل اونسئة،،ناجائز اوګرځولو او تماثل او ید بید ئې ضروری اوګرځولو ددې منع کولو حکمت نبی علیه السلام په یو بل حدیث کښې بیان کړې دې ((انی أخاف علیکم الربوا))(۶۸) یعنی زه ددې وجه دامنع کوم چه په تاسوباندې دسود نه ویریږم خکه که داسې معاملات تاسوکوئ نوکیدې شی په څه وخت کښې په سود کښې اخته شئ ددې نه بنکاره شوه چه په دې شپږو څیزونو کښې د تفاضل او نسیئة،،دحرمت حکمت د سود سد باب دې

دحدیث پس منظر:- خکه چه په کومه زمانه کښې نبی علیه السلام دا حدیث بیان کړې وو په هغه زمانه کښې به خلقو او بیا خاص کر دکلو خلقو سره نقدې پیسې کمې وې

اوهغوی به عام طور دخیزونو په بدله کښې خیزونه ورکول.مثلا که د جامو ضرورت به ورته وو نو د غنمو په بدله کښې به ئې کپړې واخستل د وروژو په بدله کښې به ئې غنم اخستل د کهجوور په بدله کښې به ئې اوربشې اخستل گویا چه په هغه زمانه کښې به دا خیزونه د ثمن په طور استعمالیدل.که په هغه وخت کښې دا خیزونه تفاضل سره بدلول جائز گرخولې شوی وو نو خلقو به د سود حاصلولو دپاره دا حیله استعمالوله.او د یو صاع غنمو په بدله کښې به ئې دوه صاعه غنم اخستل او دغه شان به په دې طریقه د سود دروازه پرانستې شوې وه.نو خکه نبی علیه السلام په دې شپږو خیزونو کښې تفاضل منع کړلو.

په اشیاء سته کښې د حرمت سود په تخصیص اوعدم تخصیص کښې مذاهب:-

① دبعضې تابعینو دا مسلك دې.چه دا حکم صرف ددې شپږو خیزونو سره مخصوص دې که ددې نه علاوه سرې په نورو خیزونو کښې تبادله کوی نوکه یو جنس وی نو هم په کښې تفاضل او نسیئة،،حرام نه ده.مثلا په دې حدیث کښې داوربشو ذکر نشته.نو که د اوربشو تبادله په جوارو سره وی.نو تفاضل او نسیئة،، په کښې هم جائز ده.دا دحضرت قتاده رحمه الله مسلك دې.

② فقهاء کرام فرمائی.چه دا حکم صرف په دې شپږو خیزونو پورې خاص نه دې بلکه دا معلول بعلة،، دې.یعنی یوعلت دې.چه هغه په دې شپږو خیزونو کښې مشترك دې.اوس چه هغه علت په کوم خائې کښې موجود شی.د حرمت حکم به په هغې باندې لگی او تفاضل او نسیئة،،به حرام وی.

د حرمت سود په علت کښې مذاهب:-

① دامام ابوحنیفه رحمه الله هغه علت .. قدر او ..جنس دې د .. قدر.. مطلب دا دې چه یو خیز کیلی یا وزنی وی نوچه کوم خیز چه په پیمانه یا په وزن په ذریعه تللې شی دهغې په باره کښې دا ونیلی شی.چه په دې کښې ..قدر.. موجود دې او د ..جنس.. مطلب دا دې.چه دیو خیز تبادله دخپل هم جنس سره کولې شی.نو په کوم خائې کښې چه دا دواړه خیزونو موجود شی.هلته به د حرمت تفاضل او نسیئة،، حکم راخی نولکه خنگه چه غنم په غنمو خرخولو کښې تفاضل او نسیئة،،حرام ده دغه شان چه اوربشو په جوارو خرخولې شی.نو په دې کښې به هم تفاضل اونسیئة،،حرامه وی که د باجرې تبادله په باجره باندې کولې شی.نوبیا هم دا حکم دې.که د سیوو تبادله په سیوو کیږی.نوبیا هم دا حکم دې.که د عام په بدله کښې آم خرخولې شی.نو بیا هم دا حکم دې.امام صاحب فرمائی.چه په دې حدیث کښې نبی علیه السلام د کومو شپږو خیزونو حکم کړې دې.په

Maktaba Tul Ishaat.com

دې كښې څلور څيزونه كيلى دى.هغه حنطه ، شعير، تمر، اوملح دى.او ذهب او فضه وزنى دى.نو په كوم ځائې كښې چه پيمانه يا وزن وى.او دجنس تبادله په جنس باندې كيږى.نو هغې ته به دحرمت تفاضل او حرمت نسيئة،حكم متوجه كيږى.

② امام شافعى رحمه الله فرمائى.چه دحرمت علت طعم او ثمنيت دې.اوچه د جنس تبادله په جنس باندې وى.ځكه چه په دې شپږو څيزونو كښې څلور د خوراك دى.هغه څلور دا دى.حنطه ، شعير، تمر، ملح، او په دوه څيزونو كښې ثمنيت دې.يعنى ذهب او فضه.نو كوم څيز چه د خوراك قابل وى.په هغې كښې به هم دحرمت علت وى.اوچه كوم څيزكښې ثمنيت وى.په هغې كښې به هم د حرمت علت وى.نوچه په كومو څيزونو كښې طعم يا ثمنيت وى.هلته به په هم جنس سره د تبادلې په صورت كښې تفاضل جائز نه وى.

③ امام مالك رحمه الله فرمائى.چه دحرمت علت ،،اقتياة،، او .. ادخار.. مع الثمنيت وى.د ،، اقتياة،، مطلب دا دې.چه هغه څيز د غذا قابل وى.او د.، ادخار.، مطلب دا دې.چه هغه ذخيره كيدې شى.او هغه څيز خرابيږى نه.نو په كومو څيزونو كښې چه دا علت موجود وى.هلته به دحرمت حكم موجوديږى.

داول فريق دليل:- نبى عليه السلام په حديث كښې دكومو شپږو څيزونو ذكر كړې دې.په هغې كښې څلور څيزونه دخوراك دى.غنم، اوربشې، مالګه او كهجورې.او د خوراك څيزونه په څلور قسمه وى.يو قسم هغه دې.چه كوم بنه مالدار كسان خورى.دويم قسم هغه وى.چه هغه غريبانان خلق خورى.دريم قسم هغه وى.چه هغه د مصالحې په طور استعماليږى.پخپله مقصود بالذات نه وى.اوڅلورم قسم هغه وى.كوم چه ..تفكه.. دپاره خوړلې شى.چه دخوراك نه پس دخولې خوند بدل شى.نبى عليه السلام د خوراك څلور څيزونه بيان كړل.او دخوراك په دې څلورو قسمونوكښې ئې دهر يو قسم نه يو يو فرد بيان كړلو.نو غنم دمالدارو خلقو خوراك دې.او اوربشې دغريبانانو خلقوخوراك دې.اومالګه دمصالحې يو فرد دې.او كهجورې د ..تفكه،، يو فرد دې.او دوه څيزونه سره اوسپين زر دا دواړه د ثمينت نمائندګى كوى.نو ځكه امام شافعى رحمه الله طعم اوثمنيت علت اوګرځولو.

د دويم فريق دليل:- دوى ،،اقتياة او .. ادخار.. مع الثمنيت علت ګرځولې دې.او هغه ددې په باره كښې فرمائى.چه زمونږ بيان شوې علت د ربا د تحريم علت سره زيات نزدې دې.ځكه چه ربوالفضل نبى عليه السلام د سد باب په طور باندې حرام كړې ده.چه سرې ربالقرآن كښې اخته نشى.نوكوم څيزونه چه خلق د ثمن په طور استعمالوى.نو هغې ته هم هغه حكم وركول پكار دې.كوم حكم چه د سرو او سپينو زرو دې.يعنى په دې كښې هم تفاضل حرام كيدل پكار دى.او د ثمن په طور چه كوم څيزونه استعماليږى.نو

هغه عام طور داسې خيزونه وی.کوم چه غذا په کار راځی.او یا داسې وی.چه هغه ذخیره کیدې شی.نوځکه هغوی ،، اقتیاة،، او ادخار،، د حرمت علت اوګرځولو.

داول او دویم فریق د دلائلو جواب:- ترکومې پورې چه دامام شافعی او امام مالک رحمهما الله خبره ده.نو هغوی چه د حرمت کوم علت بیان کړې دې. په هغې ورسره څه نص نشته. بلکه هغوی دا علت په خپل اجتهاد او استنباط سره راویستې دې اودا اجتهاد او استنباط دهغه دوو حدیثونو په مقابله کښې حجت نشی جوړیدې کوم چې د امام ابوحنیفه په دلائلو کښې پیش کولی شی.

د دریم فریق اول دلیل:- ① اودریم فریق چه کوم علت بیان کړې دې.یعنی ،، قدر،، او ،، جنس،، د هغې په تائید کښې یوحدیث په مسلم کښې باب بیع الطعام مثلا بمثل،، کښې دې.په دې کښې نبی علیه السلام ددې شپږو ځیزونو د بیانولو نه پس فرمائیلی دی ..وکذلك المیزان،، ددې مطلب دا دې.چه هم دا حکم دهغه ځیزونو دې.چه هغه وزنی وی.په دې کښې نبی علیه السلام پخپله اوخودله.چه یو خیزوزنی وی.نو دا د تفاضل دحرمت علت دې.

د دریم فریق دویم دلیل:- په مستدرك حاکم جلد ٢صفحه ٤٢کښې باب النهی عن عسب الفحل،، کښې هم دا حدیث راغلې دې.اوهلته په آخر کښې دا الفاظ دی.. وکذلك ما یکال و یوزن،، یعنی دا حکم په هغه ځیزونو کښې دې.چه هغه پیمانه کولی شی.یا وزن کولی شی.ددې حدیث نه ښکاره معلومیږی.چه د اشیاء سته نه علاوه په کومو ځیزونو کښې دحرمت دا حکم جاری کولې شی.هغه به د کیل اووزن په بنیاد باندې وی.

په دویم دلیل اعتراض:- د مستدرك حاکم په روایت باندې امام ذهبی رحمه الله دا اعتراض کړې دې.چه ددې راوی ،، حیان،، ضعیف دې.

داعتراض جواب:-لیکن په ،، تکمله فتح الملهم،، کښې په دې باندې تفصیلی بیان کړې دې.دهغې نه دا نتیجه راوځی.چه دا حدیث قابل استدلال دې.او ددې تائید د صحیح مسلم او صحیح بخاری په روایاتو سره کیږی.په صحیح بخاری ،،کتاب الوکالة باب الوکالة فی الصرف والمیزان،،کښې چه کوم حدیث دې.د هغې حدیث په آخر کښې دا الفاظ دی.،، وقال فی المیزان مثل ذلك،، بهر حال د دې احادیثو په وجه احنافو ،، کیل او وزن علت ګرځولې دې.

د د قدر او جنس علت ګرځولو د ترجیح دوه وجوهات:- ① دنورو فقهاو سره نص موجود نه دې.او د احنافو سره نص موجود دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

② دجمهور فقهاو په نزد په اتفاق سره دا خبره منلې شوې ده.چه د حرمت تفاضل دا حکم صرف په دې شپږو څیزونو سره خاص نه دې.بلکه معلول بعلة« دې.نو داحتیاط تقاضا دا ده چه داسې څیزعلت مقرر کړې شي.چه دهغې د وجه دتفاضل حرمت زیات او عام وي.ځکه چه نبي عليه السلام خو په خپله علت نه دې بیان کړې.نو په هر څیزکښې دا احتمال شته چه کیدې شي.دا هم د حرمت تفاضل په علت کښې شامل وي.چه په احتیاط باندې عمل اوشي.ځکه چه په کوم ځائې کښې د حلت اوحرمت احتمال وي.نوهلته د احتیاط تقاضا دا ده.چه دحرمت طرف ته ترجیح ورکړې شي. نو علت هم داسې کیدل پکار دي.چه هغه زیات وسیع او عام وي.چه دهغې دوجه په زیاتو څیزونو کښې تفاضل حرام شي.که ،، طعم یا ،،اقتیاة،، علت جوړ کړې شي.نودې دائره ډیره تنګه ده.اوچه ،، کیل او وزن،، علت مقرر کړې شي.نو د حرمت دائره به کولاو شي.او د احتیاط تقاضا هم دا ده.حضرت عمر فاروق ﷺ فرمائیلی دی.((قبض رسول الله صلى الله عليه وسلم ولم يبين لنا أبواب الربا،فدعوا الربوا والريبة))(٦٩)

یعنی نبي عليه السلام د دنیا نه په داسې حالت کښې رخصت شو چه د سود ټول بابونه ئې نه وو کړي.اود ربا نه مراد ربالفضل دې.یعنی نبي عليه السلام دا بیان نه دې کړې.چه ددې شپږو څیزونو سوا په نورو کومو څیزونو کښې ربالفضل حرام ده نو سود پریږدئ.او په شك باندې هم عمل پریږدئ.یعنی په کوم ځائې کښې چه د سود ویره وي.هغه هم پریږدئ.نو ځکه احنافو په احتیاط عمل اوکړلو.او ،، قدر او ،، جنس،، ئې علت مقرر کړلو.

د دریم فریق په علت باندې اولنی اعتراض:- اګرچه احنافو ،، قدر او جنس،، علت اوګرځولو نوپه دوی باندې ځواعتراضات کولی شي.ځکه چه دا علت اوګرځولې شي.نو ددې تقاضا دا ده.چه بیا خوځومره موزونات دي. په هغې کښې په یو کښې هم ،،بیع سلم ،، جائز نه ده.ځکه چه د ،، بیع سلم ،، مطلب هم دا دې.چه پهدې کښې درهم او دینار في الحال بائع ته ملاویږي.او مبیع او موزون به څه وخت پس مشتری ته ملاویږي. اوس بنکاره خبره ده.چه درهم او دینار چه سره اوسپین زر دي.نو وزنی دي. اوکوم څیزچه اخستلې شي.هغه هم وزنی دې.اګرچه په دې تبادله کښې جنس جدا جدا دې لیکن په،، قدر،، کښې اشتراك دې نوځکه په خپل مینځ کښې دتبادلې په وخت کښې پکار ده چه تفاضل جائز شي لیکن پکار ده.چه قرض حرام شي.نو په موزوناتو کښې ،، بیع سلم،، کول ناجائزه ګرځول پکار دي.حالانکه تعامل دا دې.چه داحنافوپه نزد هم په موزوناتو کښې ،، بیع سلم،، جائز ګنړلې شي.

دااعتراض دوه جوابونه:- ① په اصل کښې ددې علت تقاضا خو دا وه.چه مونږ په

موزوناتو کښې بيع سلم ناجائز کړې وه.خو د دې په جواز باندې اجماع شوې ده.نو ځکه مونږ په موزونانو کښې بيع سلم کول ددې حکم نه مستثنى کړله.

② که دا دراهم او دنانير هم وزني وي.او نور موزون څيزونه هم وزني وي.ليکن د دواړو دتللو اوزار مختلف دی سره او سپين زره په وړو وړو تلو کښې تللي شي.او نور څيزونه په غټوغټو تلوکښې تللي شي.نو اګرچه په دې کښې دواړه متحد دی.چه وزني دی.ليکن ددواړو د وزن آلات مختلف دی.نوځکه په حکم کښې دا مختلف القدر شو.او په دې کښې بيع سلم جائز ده.

د دريم فريق په علت باندې دويم اعتراض:-دراهم او دنانير وزني وو.ددې په باره کښې دا وينا کول آسان وو.چه ددې په خپل مينځ کښې د تبادلې په وخت کښې تفاضل جائز نه دې خو کله چه سکې رائجې شوې.او دا د سرو او سپينو زرو نه وې.بلکه د تانبې او پيتلو نه به جوړې وې.اوددې قيمت اصلي ددې ذاتي قيمت سره برابر نه وو.بلکه کمې زياتې به په کښې وو.لکه دلته زمونږ په ملك پاکستان کښې د اته آنې سکه رائج ده.او دا داوسپنې نه جوړه شوې ده.اوس کومه اوسپنه چه په دې کښې استعمال شوې ده.دا ضروری نه ده.چه د اته آنو دې وی.کيدې چه هغه د دوو آنو وی.خو ددې قيمت اسميه اته آنې دی.او عام طور داسې وی.چه ددې قيمت اسميه ددې د ذاتي قيمت نه زيات وی.او دا سکې نه .کيلي دی او نه وزني دی.بلکه ،، عددی.، دی.نوهر کله چه دې سکو کښې د وزن صفت نشته.نو بيا خوبه دې کښې د حرمت علت کوم چه احنافو ګرخولې دې.هغه هم نشته.يعنی قدر په کښې نشته.اوچه کله د حرمت علت نشته. نو بيا ددې سکو په خپل مينځ کښې تفاضل هم جائز کيدل پکار دی.او دغه د نن سبا رائج شوې کاغذی نوټ هم دې.اودا جائز ده.چه د يو روپئ نوټ د دوو يا پنځو روپو په نوټ باندې بدل کړې شی.ځکه چه په دې کښې ،، کيل او وزن.، نشته.نود تحريم ربا علت مفقود دې.

د دويم اعتراض جواب:- په اصل کښې خبره دا ده.چه ،، قدر او جنس.، دحرمت ربا علت ګرخولو په باره کښې کومې کيږی دا د ،، ربا الفضل.، په باره کښې دی.يعنی دکوم سود چه د حديث نه ثابت دې.ليکن هغه سود دکوم ذکر چه په قرآن پاك موجود دې.او هغې ته ،،رباالنسيئة،، وائی.نو هغه دا ده.چه په قر باندې هرقسمه زيادت حاصلولو سود دې.ددې صحيح تعريف دا دې ،، الفضل الخالی عن العوض.، يعنی هغه زيادت چه دعوض نه خالی وی.چه دهغې په مقابله کښې څه عوض نه وی.نو هغه سود دې.ددې "رباالنسيئة،، او ،، رباالقرآن.، دپاره د قدر او جنس موجودوالې ضروری نه دې.بلکه چه په کوم ځائې کښې هم فضل خالی عن العوض وی.نو د سود دا قسم به متحقق وی.البته په

Maktaba Tul Ishaat.com

.، رِبالفضل.، کښې د قدر اوجنس موجود والې ضروري دی.

اوله قاعده:دثمن عدم تعين:- سکې د ثمن په ځائې استعماليږی.او په ثمن کښې دا قاعده ده چه دا په متعين کولو سره نه متعين کيږی.مثلا ما يو دوکان ته د لسو روپو نوټ اوخودلو.چه ددې په بدله کښې فلانې کتاب راکړه.هغه ماته هغه کتاب راکړلو.ماهغه نوټ واپس په جيب کښې کيخودلو.اوبل نوټ مې راويستلو.اوهغه ته مې ورکړلو.دوکاندار ته دا حق نه دې حاصل.چه هغه اووائی زه خو به هم هغه نوټ اخلم.کوم چه تا ما ته په اول خل خودلې وو. ځکه چه مقصود ثمنيت دې.او ثمنيت په دواړو کښې برابر دې.نو ځکه په ثمن کښې تعين نشی راتلې.

دويمه قاعده:د ثمن د اوصافو عدم اعتبار:- په ثمن کښې اوصاف هدر وی.يعنی د يو شمار چه څومره نوټونه او سکې وی.هغه ټولې د يو قيمت تصور کولې شی.اوپه دې کښې که په يو کښې څه صفت زيات وی.نو هغه دهې په قيمت کښې د زياتی سبب نشی جوړيدې.او په وصف کښې کمې دهغې په قيمت کښې د کمی سبب نشی جوړيدې.مثلا يو نوټ بيښی نوې وی.او بل نوټ شليدې او زوړ وی.چه د څو کالو نه چليږی.د قيمت په اعتبار سره دا دواړه برابر دی.ځکه چه په ثمن کښې صفتونه هدر وی.ځکه بعضې فقهاء د ثمن په باره کښې فرمائی. «أمثال متساوية قطعاً»

په نورو څيزونو کښې د اوصافو اعتبار:- د ثمن نه علاوه په نورو څيزونو کښې اوصاف معتبر دی.مثلا که د يو کتاب په بدله کښې دوه کتابونه بدل کړې شی.نودا ونيلی شی.چه يو کتاب د کتاب په بدله کښې شو.او دويم کتاب د وصف په عوض کښې شو.کوم چه په دې يو کتاب کښې موجود دې.نودلته کښې فضل خالی عن الصفت نه دې.ليکن په اثمانوکښې چه کوم زيادت وی.هغه د صفت په مقابله کښې نه وی.بلکه هغه زيادت خالی عن العوض وی.

د درهم په درهمينو د خرڅولو دحرمت وجه:- ①دا ثمن عرفی دې.او په تعين سره نه متعين کيږی. مثلا چه زيد عمر ته يوه روپئ ورکړی.او دهغه نه دوه روپئ واخلی. نو زيد چه عمر ته کومه يوه روپئ خودله وه.هم هغه ضروری نه ده.بلکه دويمه روپئ هم ورکولې شی.که زيد عمر ته يوه روپئ اوخودله او بيا هغه د عمر نه دوه روپئ واخستلې.او بطور ثمن هغه ته د دوو روپو نه يوه روپئ واپس عمر ته ورکړی.نو اوس ته په حقيقت کښې د بيع روح يعنی تبادله نشته.ځکه چه د زيد د جيب نه خو يوه روپئ هم لا نړه.بلکه هغه د عمر د دوو روپو نه يوه روپئ هغه ته واپس کړه.نو د تبادلې د نه موجودوالی دوجه دا بيعه نشوه.په خلاف ددې .چه يو قلم په دوو قلمونو باندې خرڅولې شی.نو دا جائز ده.ځکه چه قلم متعين کيدې شی.نو که زيد د عمر نه دوه قلمونه واخلی.او هغه ته يو

قلم ورکړي نو هغه به خامخا هغه قلم ورکوي.کوم چه ورته هغه د عقد په وخت کښې خودلې وو.داسې نشي کيدي چه دعمر د ورکړې شوې دوو قلمونو نه يو قلم عمر ته واپس کړي. نو په دې صورت کښې تبادله موجود يږي.او بيع به ټيک وي.(والله اعلم)
نو که يوه روپۍ په دوو روپو باندې خرخولې شي.نو د يوې روپۍ په مقابله کښې به يوه روپۍ راشي او دويمه روپۍ به خالي عن العوض وي نو په دې صورت کښې د سود رومبې قسم کوم چه قرآن خودلې ده.هغه متحقق شو .او په دې کښې د کيلې يا وزنې څه قيد نشته.نو يوه روپۍ په دوو روپو يا يو نوټ په دوو نوټونو خرخول د .. ربوالقرآن.. دوجه حرام او ناجائز ده.

نوټ:-ليکن دا حکم ترهغه وخته پورې دې چه تر څو پورې د دې روپو او نوټونو ثمنيت باقي وي.او هغه په متعين کولو سره نه متعين کيږي.ځکه چه د نه متعين کيدو نتيجه دا راوخي.چه صفتونو هدر شي.دا دواړه په خپل مينځ کښې لازم او ملزوم دي.ځکه چه دعدم تعين فائده ده.د صفتونو هدر کيدل .او د تيعين فائده ده.د صفتونو اعتبار.نو ترکومې پورې چه متعين وي.ترهغه وخته پورې به ددې صفتونو هدر وي.

د ثمنيت په ابطال کښې د امام محمد او شيخينومذاهب:-

① شيخين دا فرمائي.چه دا سکې او روپۍ خلقي ثمن نه دي.بلکه اصطلاحي ثمن دي.ځکه متعاقدينو ته اختيار دې.چه هغوي په خپل مينځ کښې دا اصطلاح ختمه کړي.او ددې سکو د تعين په ذريعه ددې ثمنيت باطل کړي.نو په دې صورت کښې به دا سکې او روپۍ د عروض او سامان په حکم کښې شي.او بيا په دې کښې دکمې زياتي سره معامله کول جائز دي.

②امام محمد رحمه الله فرمائي.چه کله دا روپۍ او نوټونه ثمن اصطلاحي جوړې شي او رائجې شي.نو ترکومې پورې چه ټول خلق ددې ثمنيت باطل نکړي.نو ترهغه وخته پورې صرف د متعاقدينو په ابطال سره ددې ثمنيت نه باطليږي.اوچه کله ثمنيت نه باطليږي.نو په تعين کولو سره نه متعين کيږي.نود يوې روپۍ په دوو روپو يا د يو نوټ په دوو نوټونو تبادله کول د امام محمد رحمه الله په نزد جائز نه ده.

دمفتي تقي عثمان مدظله العالي رائې:-مفتي تقي عثماني صاحب فرمائي زما په رائې کښې د روپو او کرنسي نوټونو په مسئله کښې د امام محمد رحمه الله قول اختيارول مناسب دي.ځکه چه د شيخينو مسلك اختيارولو سره به د سود دروازه پرانستې شي.البته که په يوه موقعه کښې په بيع الفلس بالفلسين کښې ثمنيت حاصلول مقصود نه وي.بلکه د روپو ذات مقصود وي.مثلا يو روپۍ د ۱۹۹۶ عيسوي ده.او دوه روپۍ د ۱۹۵۰عيسوي دي.يوکس د شوق د وجه زړې روپۍ جمع کول غواړي.اوهغه د ۹۶عيسوي دوه روپۍ

Maktaba Tul Ishaat.com

وركول غواړي او دهغې په بدله كښې ۵۰ عيسوي يوه روپۍ حاصلول غواړي.نو دلته په دې روپو كښې ثمنيت مقصود نه دې.بلكه ددې ذات مقصود دې. نو په دلته د شيخينو په مسلك باندې غور كولې شي.كه دا روپۍ متعين كړې.نو متعين كيږي به.او ددې ثمنيت به باطل شي.اوس به ددې حيثيت صرف د يوې اسپنې پاتې شي.نو ځكه په كښې تفاضل جائز دې.

د بينك د ملازمت په عدم جواز باندې اعتراض:- خو په دې باندې دا اعتراض كيږي.كه د بينك ملازمت ولې حرام دې.ځكه چه نن سبا خو دهر ځاې نه پيسه د بينك په ذريعه باندې راځي.هيڅ يوڅيز د سود نه پاك نه دې.نو بيا خو هر څيز حراميدل پكار دي.

داشكال جواب:- شريعت دهر څيزدپاره يوه اندازه مقرر كړې ده.چه ددې حده پورې جائز دې.او ددې نه اخوا ناجائز دې.نود بينك د نوكرئ د ناجائزوالي وجه دا ده.چه په بينك كښې سودي لين دين كيږي.اوكوم كس چه په بينك كښې نوكر وي.نو هغه دځه نا ځه حده پورې په سودي لين دين كښې تعاون كوي.او په هيڅ يوه ګناه كښې تعاون كول د قرآن پاك د حكم مطابق حرام دې.فرمائي. ((ولا تعاونوا على الإثم والعدوان)) المائدة ٢) ددې وجه د بينك نوكرې ناجائزه ده.او تركومې پورې چه ددې اعتراض تعلق دې.چه هره يوه پيسه مونږ ته د بينك په ذريعه باندې رارسي.نوهره يوه پيسه حرام كيدل پكار دي.ددې جواب دا دې.چه د بينك نه پيسې په جائزاوحلاله طريقه باندې راځي.نو ددغې پيسو په استعمال كښې څه ګناه نشته.اوكه په ناجائزه اوحرامه طريقه باندې راځي.نود هغې استعمال به حرام وي.

په قرآن او حديث كښې بيان شوي ربا:- د ،، ربوا،، لفظ په لغت كښې دزيادت په معنى راځي.او دشريعت په اصطلاح كښې ددې استعمال په پنځه قسمه معانيو كښې راځي.خو زيات طور ددې استعمال په دوو معانيو كښې راځي.يود «ربوالنسية»په معنى كښې او بل د ،، ربو الفضل ،، په معنى كښې.د «ربوالنسية» تعريف دا دې.چه ((هوالقرض المشروط فيه الأجل وزيادة مال على المستقرض)) دې ته «ربوالقرآن» هم وائي.او د ،، ربوالفضل،، تعريف دا دې.چه هغه د هم جنس څيزونو په خپل مينځ كښې يو بل سره د بدلولو په وخت كښې كمي زياتي كول دي.دې ته ،،ربوالحديث،، هم وائي.ځكه چه اولنې قسم ربا په قرآن پاك او دويم قسم ربا په حديث سره حرامه شوې ده.

د سود په حرمت اعتراض:- بعضې خلق دا اعتراض كوي.چه قرآن پاك صرف مركب سود حرام كړې دې.سود مفرد ئې نه دې حرام كړې.او د قرآن پاك په دې آيت استدلال كوي.((يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُواْ ٱلرِّبَوٰٓاْ أَضۡعَٰفٗا مُّضَٰعَفَةٗ))(آل عمران،١٣٠)

په دې آيت كښې د ربا سره د «اضعافا مضاعفة» قيد لګيدلې دې.او نهى په قيد باندې

داخله شوې ده نو صرف هغه ربا به حرامه وی چه په هغې کښې رقم د راس المال نه کم از کم دوچنده زیاتیږی.

د اعتراض جواب:- ا استدلال صحیح نه دې ځکه چه د ،،اضعافا مضاعفة،، قید دامت دعالمانو په اجماع سره احترازی نه دې بلکه اتفاقی دې او دا قید بیښی داسې دې لکه دقرآن پاك په یو بل آیت کښې چه ئے فرمائیلی دی ((وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا)) (البقرة،٤١) په دې آیت کښې اګرچه د ثمن قلیل قید هم لګیدلې دې خوهیڅ عقلمند انسان به ددې آیت نه دا مطلب وانخلی چه قرآنی آیاتونه خو په ثمن قلیل باندې خرڅول جائز نه دی خو په ثمن کثیر سره ئې خرڅول جائز دی.

د اضعافاً مضاعفة قیداتفاقي کیدو دلائل- ① د قران کریم آیت دې ((يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰوٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ)) (البقرة،٢٧٨) په دې آیت کښې د ،،ما،، کلمه عامه ده دا د ربا قلیل اوکثیر مقدار دواړو ته شامل دې.

② دحجة الوداع په موقع باندې رسول الله ﷺ دا اعلان کړې وو.((الربوا موضوع كله واول الربوا أضعه ربوا العباس بن عبدالمطلب فإنه موضوع كله)) دلته کښې د ،،کل،، کلمه د ربا د هرخومره مقدار په حرمت کښې صریح دې.

③ د حضرت علی رضی الله عنه نه یو حدیث منقول دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ((كل قرض جرنفعاً فهو ربوا)) په دې حدیث کښې د ،،نفعا،، کلمه په دې خبره دلیل دې چه دنفع هر مقدار حرام دې ددې تفصیل نه معلومه شوه چه آیت کښې د ،،اضعافا مضاعفة،، قید احترازی نه دې بلکه اتفاقی دې.

سودخورو ته د جنګ اعلان:- د ربا دحرمت آیاتونه قطعی الدلالت دی او د سود لین دین کونکو په باره کښې چه خومره سخت وعید په قرآن پاك کښې راغلې دې داسې سخت وعید کیدې شی په بله ګناه باندې نه وی راغلې الله تعالی فرمائی ((يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰوٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَاْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ)) (البقرة،٢٧٨،٢٧٩) په دې آیت کښې ښکاره اعلان دې که تاسو سودی لین دین نه پریږدئ نو بیا د الله تعالی او رسول الله ﷺ جنګ ته تیار شئ.

آیا دموجوده بینکونو سود حرام نه دیګ؟

نن تولہ دنیا دسود په پنجه کښې انختې ده او دسرمایه دارانه نظام بنیاد هم په سود باندې دې ټول بینکونه د سود په بنیاد باندې چلیږی ټولې سوداګرئ د سود په بنیاد باندې چلیږی لوئې لوئې سرمایه داران او غټې غټې کمپنئ د سود په بنیاد باندې د بینك نه قرضې اخلی او په هغې باندې خپل کاروبار چلوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

د موجوده سود د جواز دعوی:- په عالم اسلام کښې بعضې کسان داسې پیدا شوی دی هغوی دا دعوی کړې ده چه په موجوده بینکونو کښې چه کوم سود کیږی دا هغه سود نه دې کوم چه قرآن کریم حرام کړې دې

د مذکوره دعوې دلیل:- دلیل دا پیش کوی چه په هغه زمانه کښې به خلقو د ذاتی ضروریاتو دپاره قرض اخستلو مثلا که یو سړی سره به د خوراك دپاره پیسې نه وې نو هغه به د لوږې په حالت کښې یو مالدار سړی ته ورغلو اودا به ئې ورته اوئیل چه زه اوږې یم ماته څه پیسې قرض راکړه چه خپل بال بچ ته روټئ ورکړم نو په جواب کښې به مالدار اوونیل چه زه به درته په سود باندې قرض درکړم ته دا وعده اوکړه چه ددې قرض سره به دومره سود راکوې ښکاره ده چه دا د ظلم خبره وه چه یو سړې اوږې دې او هغه د لوږې دختمولو دپاره ستا نه قرض غواړی او ته دهغه نه د سود مطالبه کوې حالانکه ستا اصلی فرض خو دا وو چه تا دخپل طرف نه د هغه دلوږې ختمولو انتظام کړې وی داسې نه چه هغه ته دې قرض ور کړې اوالته دهغه نه د سود مطالبه کوې د داسې سود په باره کښې قرآن کریم فرمائیلی دی که تاسو دا نه پریږدئ نو ستاسو خلاف دالله تعالی او دهغه درسول د طرف نه دجنګ اعلان دې

په تجارتی قرضونو باندې د سود اخستلو حکم:- لیکن ترکومې پورې چه په موجوده دور کښې د بینکونو دسود تعلق دې نو په دې کښې قرض اخستونکې غریبانان نه وی چه هغوی سره د خوراك دپاره څه نه وی او هغوی سره د مړی د کفن دفن دپاره پیسې نه وی داسې غریبانانو ته خو بینك قرض نه ورکوی که په ما او په تا کښې څوك د بینك نه د قرض اخستو دپاره لاړ شی نو د بینك خلق به مونږ اووهی او بهر ته به مو راوباسی بلکه د بینك نه قرض اخستونکی ډیر لوئې لوئې سرمایه دار او دولت مند خلق وی هغوی د لوږې لرې کولو او کفن دفن دپاره قرض نه اخلی بلکه دهغوی مقصد دا وی چه د بینك نه قرض واخلی او هغه په خپله سوداګرئ کښې اولګوی او هغې ته نوره ترقی ورکړی اوزیاته ګټه اوکړی مثلاچه د بینك نه یو لاکهه روپئ واخلی او د هغې نه دوه لاکهه جوړې کړی

بل طرف ته هغه روپئ چه سرمایه دار ئې د بینك نه قرض اخلی هغه د عوامو روپیه وی هغوی دخپل آمد نه په لږه لږه دا جمع کړې وی او په بینك کښې ئې د امانت په طور ایخې وی نوکوم سرمایه دار چه د بینك نه قرضه اخلی او د هغه نه دا مطالبه اوشی چه ددې قرض په ذریعه سوداګری کوه اوچه کومه ګټه اوشی نو په هغې کښې دومره فیصد ګټه ته بینك ته د سود په طور ادا کړه نو په دې کښې به کوم ظلم وی اوپه هغه زمانه کښې چه کوم سود رائج وو په هغې کښې به په قرض اخستونکی باندې ظلم کیدلو ددې وجه قرآن کریم هغه سود حرام کړلو نو د موجوده دور د بینکونو سود حرام نه دې

مذکوره تقرير په بل انداز کښې: –په نورو الفاظو کښې دا خبره داسې هم کولې شي چه يو قرض هغه دې چه هغه انسان دخپل ذاتي ضروورياتو پوره کولو دپاره اخلي داسې قرض ته صرفي قرض واني. دويم قرض هغه دې کوم چه انسان د سوداګرئ کولو او ګټې کولو دپاره اخلي داسې قرض ته تجارتي او پيداواري قرض واني. د سود د جواز د قائلينو وينا ده چه قرآن کريم صرفي قرض باندې سود اخستل حرام کړې دی. په تجارتي قرض باندې سود اخستل په دې حرمت کښې داخل نه دې.

د موجوده سود د جواز دليل: – د سود دقائلينو جواز د قرآن کريم ددې آيت نه استدلال کوی چه ((احل الله البيع وحرم الربوا))(البقرې رقم. ٢٧٥) په دې آيت کښې ..الربوا.. معرف باللام ده او په الف لام کښې اصل دا دې چه دا دعهد دپاره وی. نو د .. ربا.. دلفظ نه به هغه مخصوصه ربا مراد وی. کومه چه زمانه د جاهليت او د نبي عليه السلام په ابتدائي دور کښې رائج وه. او په هغه زمانه کښې صرف .. صرفي قرض.. او په هغې باندې د سود اخستلو رواج وو. دتجارتي قرض او په دې باندې د سود اخستو رواج نه وو. اوکوم څيزچه په هغه زمانه کښې رائج نه وو. نو قرآن کريم هغه څنګه حراموليې شي. نو د سود د حرمت اطلاق صرف په .. صرفي قرض.. باندې کيږی په تجارتي قرض باندې سود اخستو باندې ئې اطلاق نه کيږی.

د سود د جواز قائلين: – دا هغه استدلال دې. کوم چه د ه تعليمافته خلقو د طرف نه شوې دې. او ددې په بنياد باندې دا وئيلې شوی دی. چه د بينکونو سود جائز دې. تردې چه د مصر موجوده مفتي اعظم هم د بينکونو د سود دحلالوالي فتوی ور کړې ده او ددې فتوی دوجه په ټولو عربو کښې يو شور جوړ دې. او ددې شهرت دې. ددې نه علاوه د عالم اسلام په هر ګوټ کښې ددې نظرې کسان پيدا کيږی په هندوستان کښې سرسيد احمد خان. په عربو کښې مفتي عبده رشيد رضا هم ددې نظرې قائل تير شوې دې په پاکستان کښې د ډاکټر فضل الرحمان صاحب موقف هم دا وو او جسټس قدير الدين ددې په جواز باندې يوه رساله ليکلې وه. که سړې په غور سره اوګوری. نو په ظاهر د جواز د قائلينو استدلال زړه ته دا اپيل کوی. که يو سرمايه درا د بينک نه قرض واخلي. او ګټه کوی. نو دهغه نه د سود په مطالبه کښې کوم ظلم او جرم دې. نو کوم کسان چه د نوئې تعليم حاملين دی. هغوی ددې استدلال نه مرغوبه کيږی. او ددې حاميان جوړيږی.

د حکم تګيدل په حقيقت وې نه په صورت: – حقيقت دا دې چه د جواز د قائلينو استدلال په يوه زبردسته غلطئ باندې مبني دې. د هغوی د استدلال صغری اوکبری دواړه غلطې دی. دهغوی د استدلال صغری دا ده. چه په عهد رسالت کښې تجارتي سود رائج نه وو. او کبری دا ده. چه کوم څيز په عهد رسالت کښې رائج نه وو. په هغې باندې د حرمت اطلاق نشې کيدې. دا صغری او کبری دواړه غلطې دی. نو د دوی استدلال هم صحيح نه دې. اول

په کبری خان پوهه کړئ چه دا کبری غلطه ده گورئ اصول دا دی چه قرآن او حدیث کله یو ځیز باندې دحلت اوحرمت حکم اولگوی نو هغه حکم ددغې ځیزپه یو خاص شکل و صورت باندې نه لگوی بلکه د هغې ځیز په حقیقت ئې لگوی نو کله چه هغه حقیقت موجودیږی هلته به هغه حکم هم راځی.

مذکوره تحقیق د مثال په رڼړا کښې:-مثلا شراب راواخله په کومه زمانه کښې چه شراب حرام شوی وو په هغه زمانه کښې به خلقو په خپلو کورونو کښې دننه د انگورو رس په خپلو لاسونو باندې نچوړکړلو اوهغه به ئې زاړه کړلو اوشراب به ئې ترې جوړول نوکه اوس په موجوده وخت کښې یو کس اووائی چه په هغه زمانه کښې به خلقوپه خپلو لاسونو په خپلو کورونو کښې شراب جوړولو او په هغې کښې به ئې د صحت دحفاظت داصولوخیال نه ساتلو نوځکه شراب حرام شوی وو اوس چونکه په عجیبه مشینونو باندې د صحت دحفاظت د ټولو اصولو خیال ساتلې شی اوډیر په پاکئ سره شراب جوړولېشی نوځکه د شرابو دحرمت اطلاق د موجوده دور په شرابو باندې نه کیږی ښکاره خبره ده چه دا استدلال بالکل د کم عقلتوب دې ځکه چه شریعت د شرابو یو خاص شکل او صورت نه دېحرام کړې بلکه د هغې حقیقت ئې حرام کړې دې نوچه په کوم ځیز کښې د شرابو هغه حقیقت موجود وی په هغې باندې به د حرمت اطلاق کیږی برابره ده که د هغې مخصوص صورت دنبی علیه السلام په زمانه کښې موجود وو او که نه وو نو که نن یو سړې دا اووائی چه د نبی علیه السلام په زمانه کښې وهسکی، بیئر او براندی موجود نه وو. نوځکه به دا حرام نه وی ښکاره ده چه دا خبره صحیح نه ده ځکه چه د نبی علیه السلام په زمانه کښې اگرچه په دې نوم او په دېشکل کښې موجود نه وو خو د هغې حقیقت یعنی داسې مشروب چه نشه راولی موجود وو او نبی علیه السلام دا حقیقت حرام کړې وو اوس دا حقیقت همیشه دپاره حرام شو که په هره زمانه کښې وی او په کوم نوم چه وی.

یوه لطیفه چه سندره حرام نه ده:-دهندوستان یو سندرغاړې یو ځل حج ته لاړلو دحج د کولو نه پس د مکې نه مدینې منورې ته تلو په هغه زمانه کښې به په لاره کښې د ایساریدو دپاره سرائې گانې وې هغه هم د شپې تیرولو دپاره په یوه سرائې کښې قیام اوکړلو لږ وخت پس هم هغې سرائې ته یو عربی سندرغاړې راغلو سندرغاړې هم هلته وو هندوستانی سندرغاړی ته د هغه د آواز نه ډیر سخت نفرت او کرکه ورغله کله چه هغه سندره وئیل بند کړل نوهندوستانی سندرغاړی اووئیل نن دا خبره زما په ذهن کښې راغله چه نبی علیه السلام سندرې وئیل ولې حرام کړې وی ځکه چه هغوی د داسې میرو والو سندرې اوریدلې وې که زما سندره ئې اوریدلې وې نو هیڅ کله به ئې سندرې نه

وي حرامې کړي.

د سود د حلت قائلينو ته الزامي جواب:- نن سبا دا يو مزاج جوړ شوي دي.چه د هرڅيز په باره کښې خلق وائي.چه صاحبه! د نبی عليه السلام په زمانه کښې دا څيز يا دا عمل داسې وو.ځکه نبی عليه السلام دا حرام کړي وو.او نن سبا چونکه دا عمل هغه شان نه دې پاتې شوې.نو دا حرام نه دې.تردې چه ويونکو تر دې پورې وئيلی دی.چه شريعت خنزير د دې وجه حرام کړې وو.چه خنزيز به ګنده وو.پليتی به ئې خوړله.او په ګنده ماحول کښې به د هغې خسمانه کيدله.خو نن سبا خو ډير په پاك صفا ماحول کښې د دې تربيت کيږی.او ددې د تربيت دپاره ئې ډير ښه فارمونه جوړ کړی دی.نواوس ددې د حرام والی څه علت نشته.نو ځکه پکار دی.چه دا حلال شي.

بيننی هم د سود په باره کښې دا وئيلی شی.که دا تجارتی سود د نبی عليه السلام په زمانه کښې وو.نو نبی عليه السلام به دا نه وو حرام کړې.ددې جواب وړاندې ور کړې شوې دې.چه شريعت کوم څيز حرام کړی.نو د هغې حقيقت حراموی.د هغې خاص شکل اوصورت نه حراموی.هم دغه شان ئې د سود حقيقت حرام کړې دې.نو په کوم ځاې کښې چه دغه حقيقت موجوديږی.هلته به حرمت راځي.برابره ده که د سود دغه مخصوص صورت د نبی عليه السلام په زمانه کښې موجود وو او که نه.

د سود حقيقت:- اوس دا کتل پکاردی.چه د سود حقيقت څه دې.کوم چه شريعت حرام کړې دې.او دا حقيقت په موجوده تجارتی سود کښې موجود دې او که نه؟ د سود حقيقت دا دې.چه يوکس ته کوم قرض ور کړې شی.او په هغې کښې دڅه قسم زيادت زيادت مطالبه کولې شی.مثلا ما يوکس ته سل روپئ قرض ورکړې اوهغه سره مې دا فيصله اوکړه.چه يوه مياشت پس به ستا نه پنځه دپاسه سل روپئ واپس اخلم.نو دا سود دې.خو که فيصله مې نه وه کړې.او ما ورته دغه شان سل روپئ ورکړې.خوقرض اخستونکی په واپسئ کښې په خپله خوشحالئ باندې يو سل پنځه روپئ راکړې.نو دا سود حرام نه دې.

د قرض دواپسئ ښه صورت:-په خپله د نبی عليه السلام نه ثابته ده.چه کله به هغوی د چا مقروض شو.او د قرض مالك به د قرض د واپسئ مطالبه اوکړله.نو نبی عليه السلام به ورته د څه زيادت سره قرض واپس کولو.چه دهغه زړه خوشحاله شی.خو چونکه دا زيادت داول نه مقرر شوے نه وو.نو ددې وجه به سود نه وو.د حديث په اصطلاح کښې دې ته ،، حسن القضاء،، وئيلې شی.يعنی په ښه طريقه قرض واپس کول.بلکه نبی عليه السلام خو تر دې پورې فرمائيلی دی. ((إن خيارکم أحسنکم قضاء)) يعنی په تاسوکښې بهترين خلق هغه دی.چه د قرض په واپس کولو کښې ښه سلوك اوکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې نه معلومه شوه چه په مقررتیا سره زیات واپس کول سود دې او بغیر د مقررولو نه زیات واپس کول سود نه دې بلکه ،،حسن القضاء،، ده.په هر حال د سود پورتني حقیقت په موجوده بینکونو کښې موجود دې نو تجارتی سود هم حرام شو د پورتنی تفصیل نه د تجارتی سود دجوازد قائلینو صغری غلطه ثابته شوه.

د نبی علیه السلام په وخت کښې تجارتی وسعت:- د هغوی د دلیل صغری دا وه.چه د نبی علیه السلام په زمانه کښې تجارتی سود موجود نه وو دا صغری هم غلطه ده.ځکه چه د عربو هغه معاشره چه نبی علیه السلام ورته تشریف راوړې وو.په هغې کښې هم د نن نوی دور د تجارت تقریبا د ټولو بینادونه موجود وو.مثلا نن سبا مشترکه کمپنیانې جوړیږی کومو ته چه ،،جوائنټ اسټاك کمپنیان،، وائی.ددې په باره کښې دا خیال دې چه دا د څوارلسمې صدۍ پیداوار دې.ددې نه وړاندې ددې وجود نه وو.خو چه کله مونږ د عربو تاریخ راواخلو او اوګورو.نو دا په نظر راځی.چه د عربو هره قبیله یوه ځان ته ،، جوائنټ اسټاك کمپنی ،، وه.ځکه چه په هره قبیله کښې به د تجارت طریقه دا وه چه د قبیلې هر یوکس به یوه یوه روپۍ او یو یو دینار راوړل.او په یو ځاې کښې به ئې جمع کړل.بیا به دغه روپۍ د قافلې کسانو شام ته یوړې.اومال تجارت به ئې واخستلو.تاسوبه د تجارتی قافلو نوم اوریدلې وی.هغوی به هم دا کار کولو.په قرآن پاك کښې چه کوم دا یو آیت دې. ((لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ))(القریش:٢)

په دې آیت کښې چه د ګرمۍ او یخنۍ د کومو سفرونو ذکر دې.ددې نه مراد هم دا تجارتی قافلې دی.کومې چه به په یخنۍ کښې یمن طرف ته او په ګرمۍ کښې شام طرف ته سفر کولو.او په هغه ځاې کښې به ئې سامان تجارت واخستلو.او په مکه کښې به ئې خرڅولو.په دې قافلو کښې به بعضې وخت یو یو کس د خپلې قبیلې نه لس لاکهه روپۍ قرض اخستل.ښکاره خبره ده.هغوی به دا قرض د خوراك څکاك د ضرورت دپاره یا د کفن دفن د انتظام دپاره نه اخستلو بلکه د تجارتی مقصد دپاره به ئې اخستلو.

دحضرت ابوسفیان تجارتی قافله:- حضرت ابوسفیان رضي الله عنه چه د کومې تجارتی قافلې سره دشام نه مکې معظمې ته راتللو.په هغې باندې مسلمانانو دحملې اراده اوکړله.د هغې په نتیجه کښې دمسلمانانو اوکافرانو په مینځ کښې جنګ بدر پیښ شو.ددے قافلې په باره کښې محدثینو اواصحاب السیرولیکلی دی. ((لم یبق قرشی ولا قرشیة عنده درهم إلا بعث به فی العیر)) یعنی دکوم قریشی سړی یا ښځې سره یوه روپۍ هم وه.نوهغه ئې په دې تجارتی قافله کښې لیږلې وه.ددې نه معلومه شوه.چه دې تجارتی قافلو به داسې مشترکه تجارت کولو.

په روایاتو کښې راځی.چه په بنو مغیره او بنو ثقیف قبیلو کښې به په خپل مینځ کښې د

سود لين دين وو يوې قبيلې به د بلې قبيلې نه په سود باندې قرض اخستلو.او بلې قبيلې به ورته قرض ورکولو.يوې قبيلې به د سود مطالبه کوله.او بلې قبيلې به سود ورکولو او دا ټول تجارتی قرض وو.

دټولو څخه رومبې معاف شوې سود:- د حجت الوداع په موقع باندې چه کله رسول الله ﷺ د سود د حرمت اعلان اوکړلو.نو په هغه وخت کښې هغوی دا ارشاد فرمائيلې وو.

((وربوا الجاهلية موضوع،وأول ربوا أضعه ربوا العباس بن عبد المطلب فإنه موضوع کله))يعنى نن ورځ د جاهليت سود معاف شو.او د ټولونه اول سود کوم چه زه معاف کوم دحضرت عباس رضی الله عنه سود دې.هغه ټول ختم شو.حضرت عباس رضی الله عنه به خلقو ته په سود باندې قرض ورکولو.ددې وجه نبی عليه السلام اوفرمائيل چه زه نن ورځ د هغوی هغه سود معاف کوم.کوم چه دخلقو په ذمه دې.په رواياتو کښې راغلی دی.چه هغه سود لس زره مثقاله سره زر وو.او يو مثقال تقريبا څلور ماشې وی.اودا لس زره مثقاله سره زر سرمايه او راس المال نه وو.بلکه دا هغه سود وو.کوم چه په اصل رقم باندې واجب شوې وو ددې نه اندازه اولګوئ.چه هغه قرض چه په هغې لس زره مثقاله سره زر سود خيژی.هغه به صرف د خوراك څکاك د ضرورت پوره کولو دپاره اخستې شوې وو؟ښکاره خبره ده چه دا قرض د تجارت په غرض اخستې شوې وو.

دصحابو په دور کښې د بينکارئ يو مثال:- د صحيح البخاری په کتاب الجهاد کښې دی.چه حضرت زبير بن عوام خپل ځان ته بينبی داسې نظام جوړ کړې وو.لکه څنګه چه نن سبا د بينکونو نظام دې.خلقوبه دهغه سره ډيرې لوئې رئيبې د امانت په شکل کيخودلې.نوهغوی به ورته وئيل. ((لا ولکن هو السلف))دا امانت نه بلکه قرض دې يعنى زه دا رقم ستا نه بطور د امانت نه بلکه دقرض اخلم.دا به زما په ذمه قرض وی.ليکن هغوی به داسې ولې کولو؟حافظ بن حجر رحمه الله په فتح البارى کښې ددې وجه دا ليکی. چه دقرض په صورت کښې د دواړو طرفونو فائده وه.دامانت کيخودونو دپاره خو دا فائده وه.که دا رقم د امانت په طور کيخودې شوې.نو په دې صورت کښې که دحفاظت باوجود که هلاك شوې وې.يا غلا شوې وې.نو د هغې ضمان په حضرت زبير بن عوام رضى ا لله عنه باندې نه راتلو.ځکه چه دامانت ضمان نه وی.په خلاف د قرض د رقم.ځکه که قرض هلاك شوې وې.يا غلا شوې وې.نو ددې ضمان په قرض اخستونکی باندې راځی.نو د امانت کيخودو والا به دا فائده وه.چه د هغوی رقم به محفوظ او مضمون شو.اوبل طرف د حضرت زبير بن عوام رضى الله عنه دا فائده وه.چه هغه ته به د دې خبرې اختيار حاصل شو.چه هغه به هغه رقم په کوم ځاې کښې چه خوښه وه.خرچ کولې شو.او په تجارت کښې به ئې لګولې شو.ځکه که دغه رقم به بمبنت وو.نو امانت

Maktaba Tul Ishaat.com

محضه په تجبرت کښې لګول جېنز نه دی کله چه حضرت زبیر رضی ﷲ عنه وفېت شو نو : هغه خوی حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه دهغه د قرضونو حساب اولګولو. هغوی فرمائی ((فحسبت ماعلیه من الدیون،فوجدته ألفي ألف ومأتي ألف)) یعنی ما چه کله دهغه په ذمه د واجب الاداء قرضونو حساب اولګولو. نو دویشت لاکهه دیناره وو.ښکاره خبره ده.چه دومره لوئې قرض تجارتی قرض وو.صرفي قرض نه وو.معلومه شوه.چه د.نبی علیه السلام په زمانه کښې د تجارتی قرضونو رواج وو.

په عهد فاروقی کښې د تجارت دپاره د قرض اخستلو مثال:-په تاریخ طبری کښې ئې د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د دور خلافت په حالاتو کښې لیکلی دی.چه هنده بنت عتبه چه حضرت ابوسفیان رضي الله عنه ښځه وه.حضرت عمر رضي الله عنه ته راغله.او د بیت المال نه ئې د قرض اخستلو اجازت طلب کړلو.حضرت عمر رضي الله عنه د قرض اخستلواجازت ورکړلو. هغې د قرض دا روپئ واخستې.او،، بلاد کلب،، ته لاړله.اوتجارت ئې اوکړلو.ددې نه ښکاره شوه.چه دا قرض د لوږې لرې کولو دپاره یا د کفن دفن دپاره نه وو اخستې شوي.بلکه دتجارت دپاره اخستې شوي وو.هم دغه شان نور ډیر مثالونه د نبی علیه السلام او صحابه کرامو د زمانې موجود دی.کوم چه په تکمله فتح الملهم کښې په تفصیل سره لیکلی دی.هلته دې اوکتلې شی.

د پورتنی تفصیل نه ښکاره شوه.چه دا وینا بیښی غلطه ده.چه په عهد رسالت کښې به تجارتی قرضې نشوې اخستې.بلکه دتجارتی قرضو رواج وو.خود نبی علیه السلام د سود د حرمت داعلان نه پس په هغې باندې د سود لین دین بند شوې وو.نو د تجارتی سود د جواز قائلینو چه کوم دلیل پیش کړې وو.د هغې صغری او کبری دواړه غلطې ثابتې شوې.

د سود دجواز د قائلینو یو بل استدلال:-د سود د جواز د قائلینو د طرف نه یو استدلال دا هم کولې شی.که یو کس د خپل ذاتی ضروریاتو دپاره یا د خوراك څكاك د ضروریاتو دپاره قرض غواړی.او قرض ورکونکےکس دقرض ورکولو نه وړاندې د هغه نه د سود مطالبه کوی.نو دا د ظلم او بې انصافئ خبره ده.او یو غیر انسانی حرکت دې.لیکن کوم کس چه د تجارت دپاره قرض غواړی.چه ددې قرض دا روپئ په تجارت کښې اولګوی.اود زیاتې نه زیاته ګټه اوکړی.که دهغه نه د سود مطالبه او کړې شی.نو په دې کښې د ظلم څه خبره نشته.او ددې استدلال په تائید کښې د قرآن پاك دا آیت پیش کوی. ((وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ))(البقرة «٢٧٩») یعنی که تاسو د سود نه تویه اوباسئ.نو بیا چه ستاسو کوم راس المال دې.هغه ستاسو حق دې.نه به تاسو ظلم کوئ.او نه به په تاسو ظلم اوشی.ددې آیت نه دا معلومیږی.چه د سود د حرمت علت ظلم

دي او دا ظلم صرف په صرفي سود کښې دې.په تجارتي سود کښې نشته.ددې وجه تجارتي سود حرام نه دې
په علت او حکمت کښې فرق:-په دې دليل کښې پرله پسې څو غلطئ دي اوله غلطي دا ده چه په دې دليل کښې ئې ظلم د ،، ربا،، د حرمت دپاره علت ګرځولې دې.حالانکه ظلم لرې کول د ،، ربا،، د حرمت دپاره علت نه دې بلکه ددې حکمت دې او د حکم دارومدار په علت وي په حکمت نه وي.ددې ساده غوندې مثال داسې اوګنړئ.تاسو به کتلې وي چه په سړکونو باندې اشارې لګيدلې وي.په هغې کښې درې رنګه باتئ وي.سره .پيکه سره ، او شنه. کله چه سره باتئ اولګي.نوپه دغه وخت کښې دا حکم وي چه اودريږه.او کله چه شنه باتئ اولګي. نو په هغه وخت کښې دا حکم وي چه روان شه.اود اشارې دا نظام ئې ددې دپاره مقرر کړې دې.چه ددې په ذريعه په ټريفك کښې نظم وضبط قائم کړي.او د حادثاتو مخ نيوې اوشي.او د جنګيدو خطره کمه شي.په دې کښې چه دا خبره اوشوه.چه په سره باتئ باندې اودريږه.دا حکم دې.او سره باتئ ددې حکم علت دې.اوددې په ذريعه د حادثاتومخ نيوې ددې حکم حکمت دې.اوس يو سړې د شپې دولس بجې ګاډې چلوي.اودې اشارې ته راورسيدو.نو سره باتئ لګيدلې ده خو د خلورو واړه طرفونو نه ټريفك او ګاړي نه راځي.او د جنګيدو څه خطره نشته په دې وخت کښې اګرچه ددې حکم حکمت نشته.خو بيا هم د هغې ډرائيور دپاره ګاړې اودرول ضروري دي.ځکه چه د اودريدو د حکم چه کوم علت دې.يعني سره باتئ هغه شته.که هغه اونه دريدو نو د قانون د خلاف ورزئ په سزا کښې به نيولې شي.
دشرابو د حرمت حکمت:-دغه شان چه دشريعت څومره احکام دي.په دې ټولو کښې د حکم مدار په علت وي.په حکمت نه وي.د دنيا په قوانينونو کښې هم دا اصول موجود دي.او د شريعت په قانون کښې هم دا اصول جاري دي.قرآن کريم د شرابو په باره کښې فرمائيلي دي ((اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ))(المائده).

د شرابو د حرمت دوه علتونه:-(١) په دې آيت کښې الله تعالى د شرابو اوجوارئ دحرمت دوحکمت دابيان کړي دي.چه ددې دوجه په خپل مينځ کښې بغض اودشمني پيدا کيږي.
(٢) انسان ددې د وجه دالله تعالى د ذکر نه غافله کيږي.
يوغلط استدلال:-اوس که يوکس دا اووائي.چه شراب او جواري په هغه وخت کښې حرامه ده.چه ددې د وجه دشمني او بغض پيدا کيږي.اوکه دشمني اوبغض نه پيدا کيږي.نوحرام به نه وي.ښکاره ده.چه دا استدلال صحيح نه دې.ځکه چه د دشمني او بغض پيدا کيدل د شرابو او جوارئ حکمت دې علت نه دې.ګنې نن سبا څو خلق

Maktaba Tul Ishaat.com

واني چه شراب د دشمنۍ پیدا کولو په ځاي محبت اودوستي پیدا کوي.کله چه دوه دوستان په خپلو کښې ملاو شي.نو د شرابو جامونه د یو بل د جام سره اوجنګوي.او دا ددې خبرې علامت دې چه زمونږ دواړو په مینځ کښې دوستي جوړه شوه.دا خبره یو شاعر بیانوي اوفرمائي.

(پیانه وفابر سر پیانه بوا تها)

د اولې پیمانې نه مراد عهد او د دویمې پیمانې نه مراد د شرابو جام دې.یعنی د شرابو په جام باندې د وفا عهد شوې وو.سوال دا دې.که شراب د بغض او دشمنۍ په ځاي د دوستۍ پیدا کولو ذریعه وي.نو په دې صورت کښې خوبه بیا شراب حلال شي؟

دویم غلط استدلال:-یا یوسړې داسې اووائي.چه زه شراب څکم.خو د الله تعالی دیاد نه نه غافله کیږم.نو څکه زما دپاره شراب حلال دي.نو آیا د داسې سړي دپاره به شراب حلال شي؟څکه د الله تعالی د ذکر نه غفلت د شرابو د حرمت حکمت دې.علت نه دې.او د حکم دارومدار په علت وي په حکمت نه وي.

د سود په باب کښې هم دغه غلط استدلال:-بیښی هم داسې د سود د حرمت په باره کښې قرآن کریم کښې فرمائي.چه ((لَا تَظْلِمُوْنَ وَلَا تُظْلَمُوْنَ)) (البقرة،٢٧٩) دا ئې په طور د حکمت بیان کړې دې.په طور د علت ئې نه دې بیان کړې.نو د سود د حراموالي دارومدار په ظلم او نه ظلم باندې نه دې.بلکه د سود د حقیقت په موجودوالي باندې دې.په کوم ځاي کښې چه د سود حقیقت موجود وي.هلته به حرمت وي.که ظلم راشي اوکه رانشي.دا خو اولنۍ غلطي وه.

په شرعي احکامو کښې د امیر او غریب عدم فرق:-دویمه غلطي دا ده.چه د سود دجواز قائلین واني.که په .. صرفي قرضونو ..کښې څوك د سود مطالبه کوي.نوچونکه صرفي قرض.. غوستونکي غریب دې.ددې وجه دهغه نه د سود مطالبه کول ظلم دې.د تجارتي قرضونو په خلاف څکه چه په دې کښې د قرض طلبګار سرمایه دار او مالدار وي.او دده نه د سود مطالبه کول ظلم نه دې.دا هم یوه غلطي ده.چه په یو ځاي کښې سود اخستل ظلم دې.او په بل ځاي کښې ظلم نه دې.حالانکه اصل سوال دا دې.چه په قرض باندې د سود مطالبه کول جائز ده که نه ده؟ که ته دا واېې چه په قرض باندې د سود مطالبه کول جائز نه ده.نو بیا په دې کښې د مالدار او غریب په مینځ کښې څه فرق نه دې کول پکار.

د مثال په رڼرا کښې وضاحت:-دا خبره د یو مثال نه اوپیژنئ.څنګه چه یو نانبائ روټئ خرڅوي.او د یوې روټۍ خرڅه دولس آنې راخي.او څلور آنې هغه د خپلې ګټې مقرر کړي.او په یوه روپۍ روټئ خرڅوي.او هغه د غریب او مالدار په مینځ کښې څه فرق نه وي مقرر کړې.بلکه تولو ته ئې په یو قیمت باندې ورکوي.لیکن څوك هم هغه ته دا نه

واني چه نه په غريب باندې په يوه روپۍ روتۍ خرڅوې او ظلم کوې.ځکه چه هغه خپل حق اخلی او د مالدار او غريب دواړو نه د ګټې مطالبه کول جائز ده ظلم نه دې

مقصودی څېړه:-بالکل هم داسې يو غريب سړې د بل نه د قرض مطالبه کوی.او هغه دويم کس په دې قرض باندې د سود مطالبه کوی نوته دا وانې چه چونکه قرض اخستونکې غريب دې نو دهغه نه دسود مطالبه کول ظلم دې.سوال دا دې چه يونانبائی په غريب سړی باندې په يوه روپۍ روتۍ خرڅوی نو دا ظلم نه دې اوبل کس د غې غريب نه په قرض باندې د سود مطالبه کوی.نو ته وايې چه دا ظلم دې.

د بحث نتيجه:-ددې نه معلومه شوه چه د ظلم علت د کاروبار کونکی غربت نه دې بلکه د ظلم اصل علت روپۍ دی.اودا علت چه لکه څنګه دغريب په قرض کښې موجود دې دغه شان د مالدار په قرض کښې هم موجود دې.حاصل د بحث دا شو چه په روتۍ باندې د ګټې مطالبه کول او د خپلې خرچې نه په زيات قيمت باندې خرڅول څنګه ظلم نه دې بلکه جائز دې.او دانصاف مطابق خبره ده.ليکن په روپو باندې د زيادت مطالبه کول د انصاف نه هم خلاف ده.اود شريعت نه هم خلاف ده.ځکه چه روپۍ داسې څيز نه دې چه په دې باندے د ګټې مطالبه اوشی.نو روپيۍ چه څوک قرض اخلی.که هغه غريب وی او که مالدار په دواړو صورتونو کښې پرې د حرمت حکم جاری کيږی.

په ګټه اونقصان دواړو کښې د شرکت لزوم:-د تجارتی سود د جواز قائلين يوه خبره دا هم کوی چه په تجارتی سود کښې ظلم نشته.دا هم يوه غلطی ده.د دې لړ په تفصيل سره د پيژندو ضرورت دې .شريعت دا اصول مقرر کړې دی.که ته يو کس ته روپۍ قرض ورکوې نوته د وړاندې نه دا فيصله اوکړه.چه په دې روپو باندې ته دهغه امدادکول غواړې اوکه هغه سره په کاروبار کښې شريکيدل غواړې.که د قرض ورکولو نه ستا مقصد هغه سره مدد کول وی.نو بيا هغه صرف امداد پاتې کيدل پکار دې په هغې باندې ستا دپاره د زيادت مطالبه کول جائزنه دی.اوکه ددې روپو په ذريعه ته دهغه سره په کاروبار کښې شريکيدل غواړې.نو بيا به ستا دپاره په دې کاروبار کښې په ګټه او تاوان دواړو کښې شريکيدل وی.دا نشی کيدې چه ته دا اووايې.چه په ګټه کښې به حصه دېر يم.هو په تېوبن کښې به حصه دېر نه يم

په تجبرتی سود کښې قرض ورکونکې بينک سرمبيه دېر ته وېنی.چه په دې قرض به ستا نه پنخلس فيصده سود اخلم.که تاته په دې تجارت کښې ګټه کيږی او که نقصان. زما ستا ګټې اوتاوان سره څه غرض نشته زما غرض صرف خپل سود سره دې.ښکاره خبره ده.چه دا خبره د شريعت داصولو نه خلاف ده.

په موجوده سود کښې د طرفينو د ظلم وجوه:- ددې تجارتی سود معمه داسې ده.چه ددے په هر صورت کښې ظلم دې.که سرمايه دار سوداګر ته ګټی وی.نو بيا هم ظلم

Maktaba Tul Ishaat.com

دي او که نقصان وی نوبیا هم ظلم دې د گټې په صورت کښې قرض ورکونکی باندې ظلم
دې او د نقصان په صورت کښې قرض اخستونکی باندې ظلم دې.نن چه په دنیا کښې
په بینکونو کښې څنګه مالیاتی نظام چلیږی.په دې کښې په قرض ورکونکی باندې
زیات ظلم دی

په قرض ورکونکی باندې د ظلم د زیادت وضاحت: -په دې خبره د پوهیدلو دپاره اول دا
خبره زده کړئ چه عام طور په بینکونو کښې د خلقو امانتونه کیخودې شوی وی. لکه
چه د خلقو د روپو دوجه بینکونه جوړ شوی دی.لیکن که هم دا عوام د بینك نه د قرض
اخستلودپاره ورشی.نو بینك دوی ته قرض نه ورکوی.بلکه بینك هغه سرمایه دارانو ته
قرض ورکوی.چا سره چه د وړاندې نه سرمایه موجوده وی.لیکن د بینك نه قرض
واخلی او په ډیره لویه پیمانه باندې تجارت کول غواړی.یا هغه سرمایه دار چه دهغوی
فیکټریانې اوملونه چلیږی.هغوی په هغې کښې د نور زیادت دپاره دبینك نه قرضه اخلی.

د سوداګر د ګټې صورت: -اوس داسې کیږی.مثلا که یو سرمایه دار د بینك نه یو لاکهه
روپئ په پنځلس فیصد سود په بنیاد باندې قرض اخستې وی.او په هغې کښې څه روپئ
دخپل طرفه ملاو کړی.او کاروبار شروع کړی.بعضې وخت په کاروبار کښې سل فیصده
ګټه اوشی.اوبعضې وخت کمه هم اوشی.اوس فرض که دغې سرمایه دار ته په دې
کاروبار کښې سل فیصده ګټه اوشوه.چه د هغې په وجه د یولاکهه روپو نه دوه لاکهه
روپئ جوړې شوې.یو لاکهه دغه سرمایه او یو لاکهه ګټه.او په دې ګټه کښې هغه بینك
ته پنځلس زره د سود په طور باندې ورکړې.او باقی ۸۵ زره روپئ ئې په خپل جیب کښې
کیخودلې اوبیا بینك د دغې پنځلس زره روپو نه خپل اخراجات او مصارف اوباسی.اود
هغې نه پس صرف اووه زره روپئ هغې عوامو ته ورکړی.د چا په پیسو چه سوداګر
تجارت اوکړلو اویو لاکهه روپئ ئې اوګټلې. اوپه هغې کښې په خپله سوداګر پنځه اتیا
زره روپئ واخستې ددې نه اندازه اوکړئ چه دا په عوامو باندې څومره لوئې ظلم
دې لیکن دا عوام ډیر خوشحاله دی چه هغه ته په یو لاکهه روپئ اووه زره روپئ ګټه
ملاو شود حالانکه د هغه په یو لاکهه روپو باندې د یو لاکهه روپو ګټه شوې ده.

د عوامو په ګټه دوباره قبضه: -بیا بل طرف ته چه عوامو ته کومې اووه زره روپئ ملاو
شی سرمایه دار دغه اووه زره روپئ هم په بل طرف قبضه کړی.او هغه داسې چه د
سوداګرو اصول دا دی چه هغه کوم سود بینك ته ورکوی.نو هغه دغه سود په خپلو تیار
کړو څیزونو په خرچه کښې حسابوی.مثلا فرض کړه چه دې سوداګر په لاکهه روپئ
باندې کپړه تیاره کړه.د هغې کپړې د نرخ لګولو نه وړاندې هغه په دغه کپړه باندې د
راغلی خرچ حساب لګوی.او په دغه خرچه به دغه پنځلس زره سود هم شاملوی.کومې
چه هغه د سود په طور بینك ته ور کړې وې.او بیا په هغې باندې خپله ګټه مقرر کړی.او

دکېږي قيمت اولګوي هم دغه شان د کېږي په قيمت کښې په خپله د پنځلس فيصد سود زيادت راغې او په بازار کښې چه دغه کېږه کله عوام اخلي نو هغه پنځلس فيصده سود به ورکوي کوم چه ده د بينك نه اخستې وو نو په دې طريقه يو طرف ته سرمايه دار عوامو ته اووه فيصده ګټه ورکړي.اوبل طرف ته د دغې عوامو نه پنځلس فيصده اخلي خو دا عوام بيا هم خوشحاليږي چه ماته اووه فيصده ګټه ملاو شوه حالانکه په حقيقت کښې :وي ته په يو لاکهو روپو کښې د ۹۳ زرو روپوګټه ملاو شوه

د سوداګرد نقصان صورت:- دا تفصيل خو په هغه صورت کښې وو چه سوداګر ته ګټه شوې وه.او که نقصان ورته اوشي.نو د نقصان د پوره کولو دپاره هغه نور قرض د بينك نه واخلي.او د قرض په رقم کښې زيادت کيږي.د هغې په نتيجه کښې هغه بينك ديواليه شي.او د بينك د ديواليه کيدو مطلب دا دې.چه کومو خلقو په دغه بينك کښې روپئ جمع کړې وې.اوس به ورته هغه واپس نه ملاويږي.لکه يو څو کاله وړاندې ،، بي سي سي آئي ،، بينك کښې شوې وو.لکه چه په دې صورت کښې ټول نقصان د عوامو کيږي.دسودګر څه نقصان اونشو.ددې نه اندازه اولګوئ.چه د تجارتي سود په صورت کښې چه کوم ظلم کيږي.نو دې د ،، صرفي سود ،، ظلم ته هم شکست ورکړلو.ځکه چه په تجارت کښې پيسې ټولې د عوامو استعماليږي.او بيا که ګټه وي.نو د سرمايه دار وي.اوکه نقصان وي.نو دعوامو وي.ددې نه زيات ظلم بل څه کيدې شي؟

دا خو د نقصان هغه صورت وو.په کوم کښې چه بينك ديواليه شي.ليکن که ددې تجارت په مينځ کښې د سرمايه دار څه معمولي نقصان اوشي.مثلا هغه د کېږې جوړلو دپاره مالوچ اخستې وو.اومالوچو ته اور اولګيدو.نو ددې نقصان د کمي پوره کولو دپاره دې سرمايه دار يوه بله لار اختيار کړې ده.هغه ده ،، انشورنس کمپني،، نو هغه بيمه کمپني .. به د دې نقصان تلافي کوي.او په بيمه کمپنئ کښې چه کومې روپئ دي.نو هغه هم د عوامو دي.هغه عوام کوم چه خپل ګاډې تر هغه وخته پورې په سړك باندې نشي چلولې.ترڅو پورې چه ئې بيمه کړې نه وي.د عوامو د ګاډو حادثه خو ډيره کمه پېښيږي.ليکن هغه د بيمې قسطونه هره مياشت مجبورا جمع کوي.نو دغه سرمايه دار هم ددې عوامو په پيسو باندې دخپل نقصان کمي پوره کوي.

د سود ادنی حصه دخپلې مور سره د زنا برابر يدل:- دا ټوله معمه ددې دپاره کولې شي.که ګټه وي.چه د سرمايه دار وي.اوکه تاوان وي.چه د عوامو وي.اوددې په نتيجه کښې دولت دغريبانانو خلقو په ځاې مالدارانو ته ځي.هغوي ورځ په ورځ مالداريږي.او غريبانان ورځ په ورځ غريبيږي.هم ددې مفاسدو دوجه نبي عليه السلام فرمائيلي دي.

((إن الربوا بضع وسبعون شعبة أدناها كالذي يقع على أمه)) يعني د سود څه دپاسه اويا حصې دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

او ددې د ټولو نه وړه حصه داسې ده لکه چه خپلې مور سره زنا کول العياذ بالله. نو دا
ونيل چه په تجارتي سود کښې ظلم نشته بالکل غلطه ده ددې نه به زيات ظلم نور کوم
وی چه اجتماعی طور ټول قوم په معاشی بدحالئ کښې اخته کولی شی.نن په ټوله دنيا
کښې سودی نظام شروع دې.او دې نظام ټوله دنيا د تباهئ په غاړه اودرولې ده.او انشاء
الله يو وخت به داسې راشی.چه خلقو ته به ددې حقيقت معلوم شی.او دوی ته به پته
اولګی چه قرآن پاك د سود خلاف د جنګ اعلان ولې کړې وو؟

[۲۸۰۹] په شپږو څيزونو کښې د سود راتلل

۲۸۰۹-[۳] (١) [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [٢] «الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ، [٣] وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ، [٤] وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ، وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ، [٥] مِثْلًا بِمِثْلٍ، يَدًا بِيَدٍ، [٦] فَمَنْ زَادَ أَوِ اسْتَزَادَ فَقَدْ أَرْبَى، [٧] الْآخِذُ وَالْمُعْطِي فِيهِ سَوَاءٌ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوسعيد خدري رضی الله عنه وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] سره زر د سرو زرو په بدله کې سپين زر د سپينو زرو په بدله کې [٣] غنم د غنمو په بدله کې اوربشې د اوربشو په بدله کې [٤] کجوري د کجورو په بدله کې او مالګه د مالګې په بدله کې که ورکول شي [٥] نو د دوئ لين دين برابر برابر او لاس په لاس کيدل پکار دی [٦] نو چا چې داسې ونه کړل بلکه، زيات يې ورکړل يا زيات يې طلب کړل او وايې خستل نو ګوياکې هغه سود واخستلو او سود يې ورکړې [٧] او اخستونکی او ورکونکي دواړه په دې کې برابر دي. (مسلم)

حل لغات: - ① زَادَ: أَيْ: أَعْطَى الزِّيَادَةَ: زيات ئې ورکړل ② اسْتَزَادَ: أَيْ: طَلَبَ الزِّيَادَةَ: زيات ئې اوغوښتل ③ أَرْبَى: أَيْ: عَلَبَ الرِّبَا: سود ئې واخستلو يا خان ئې په سود کښې اخته کړو ④ الْآخِذُ: اخستونکې د سود. ⑤ الْمُعْطِي: ورکونکې د سود.

[۲۸۱۰] د سرو زرو او سپينو زرو په خپل منځ کښې د بدلولو حکم

۲۸۱۰-[۴] (٢) [١] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [٢] «لَا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ، [٣] وَلَا تُشِفُّوا بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ، [٤] وَلَا تَبِيعُوا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ، [٥] وَلَا تُشِفُّوا بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ، [٦] وَلَا تَبِيعُوا مِنْهَا غَائِبًا بِنَاجِزٍ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [٧] وَفِي رِوَايَةٍ " «لَا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ، وَالْوَرِقَ بِالْوَرِقِ، إِلَّا وَزْنًا بِوَزْنٍ» ".

ترجمه: [١] حضرت ابوسعيد خدري رضی الله عنه وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] سره زر د سرو

(١) اخرجه مسلم فى كتاب المساقاة/باب الصرف وبيع الذهب بالورق نقدا (رقم-٨٢ - (١٥٨٤)
(٢) اخرجه البخارى فى كتاب البيوع/باب بيع الفضة بالفضة (رقم-٢١٧٧) ومسلم فى كتاب المساقاة/باب الربا (رقم-٧٥ - (١٥٨٤) والنسائى فى كتاب البيوع/باب بيع الذهب بالذهب (رقم-٤٥٧٠) ومالك فى الموطا كتاب البيوع/باب بيع الذهب بالفضة تبرا وعينا (رقم_٣٠) واحمد فى المسند: ٩٣/٣

زرو په بدله کې مه خرخوئ خو دا چې دواړه په وزن کې برابر برابر وي [۳]نو په دې دواړو کې کمي زیاتی مه کوئ [۴]د غه شان سپین زر د سپینو زرو په بدله کې مه خرخوئ خو دا چې دواړه برابر وي [۵]نو په دواړو کې کم والی زیاتوالی مه کوئ[٦] او په دې (سرو زرو او سپینو زرو) کې د هیڅ یوه په خپلو کې لین دین داسې مه کوئ چې یو نقد وركړي او بل قرض. (بخاري مسلم)

[۷]او په یوروایت کې دا الفاظ دی چې سره زر د سرو په بدله کې سپین زر د سپینو زرو په بدله کې مه خرخوی که څه هم چې په وزن کې برابر برابر وی (بخاري مسلم)

حل اللغات - ① لَاتُشِفُّوا: أَيْ: لَاتُفَضِّلُوا: اضافه مه کوئ (یعنی برابر سرابر لین دین کوئ) ② اَلْوَرِقُ: أَيْ: اَلْفِضَّةُ: چاندی، سپین زر، ③ مِثْلُ بِمِثْلٍ: چه جنس ئې یو وی ④ غَائِبًا: أَيْ: نَسِيئَةً: قرض ⑤ بِنَاجِزٍ: أَيْ بِحَاضِرٍ وَنَقْدٍ: حاضر اونقد ته ناجز وئیلې شوې دې

تسهیلات:

قوله: وَلَاتُشِفُّوا:

د مذکوره جملې ترکیبی حیثیت: -ملاعلی قاری رحمه الله لیکی چه دا جمله ماقبل "مثلاً بمثل" د پاره تاکید دې او هاء ضمیر ذهب طرف ته راجع دې ددې طرف ته دمؤنث ضمیرهم راگرځولې شی

قوله: غَائِبًا:

د یوې فقهی مسئلې استنباط: -ددې حدیث نه علماؤ داخبره راویستې ده چه د سرو زرو په کلو اود سرو زرو په خینته کښې هم وزن کولوکښې برابری ضروری ده د کلو جوړولو اضافی رقم اخستل جائز نه دی

[۲۸۰]د هم جنس څیزونو تبادله برابر برابر کوئ

٢٨٠-[د]( )[۱]وَعَنْ مَعْمَرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -، قَالَ: [۲]كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "[۳]«الطَّعَامُ بِالطَّعَامِ مِثْلًا بِمِثْلٍ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]حضرت معمر ابن عبد الله رضي الله عنه وایې [۲]ما به د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دا اوریدل [۳]چې غذا د غذا په بدله کې (یعني غله د هم جنس غلې په بدله کې، که وآخستی شي ورکول شي نو دا لین دین برابر برابر کیدل پکار دی. (مسلم)

حل اللغات - ① اَلطَّعَامُ: هُوَ اسْمُ مَا يُؤْكَلُ: دخوراک هرڅیز ته شامل دې خوددې اطلاق په غله یعنی غنمو او وربشو باندې کیږی

( ) اخرجه مسلم فی کتاب المساقاة/باب بیع الطعام مثلا بمثل (رقم-۹۳ - (١٥٩٢) ومسلم فی کتاب المساقاة/باب بیع الطعام مثلا بمثل (رقم-۹۳ - (١٥٩٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۲۸۲]په هم جنس څيزونوکښې د قرض لين دين عدم جواز

۲۸۰—[۰] ( )[۱]وَعَنْ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲]«اَلذَّهَبُ بِالذَّهَبِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ،[۳]وَالْوَرِقُ بِالْوَرِقِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ،[۴]وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ،[۵]وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ[۶]وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱]حضرت عمر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] د زرو په خپل منځ کښې (برابر برابر هم) تبادله سود دی خو دا چې لين دين لاس په لاس وي (يعني که د دواړو طرفو څخه برابر برابر او لاس په لاس وي نو بيا سود نه دی)[۳] دغه شان د سپينو زرو د سپينو زرو سره تبادله سود دی خو دا چې لين دين لاس په لاس وي [۴]د غنمو غنمو سره تبادله سود دی خو دا چې لين دين لاس په لاس وي [۵]د اوربشو د اوربشو سره تبادله سود دی خو دا چې لين دين لاس په لاس وي [۶]د کجورو د کجورو سره تبادله سود دی خو دا چې لين دين لاس په لاس وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① هَاءَ وَهَاءَ: دا اسم فاعل دې په معنی د خُذْ سره، يعنی لاس په لاس، نغد

تسهيلات:

نوټ:- دحديث د اجزاء تشريح د مذاهبو په بيان کښې ذکرشوې ده البته صرف د ها وها، لغت دې هغه په حل اللغات کښې اوګورئ.

[۲۸۳]په ښه او خراب کښې د تفاضل عدم جواز

۲۸۰—[-] ( )[۱]وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ،[۲]«أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-اسْتَعْمَلَ رَجُلًا عَلَى خَيْبَرَ[۳]فَجَاءَهُ بِتَمْرٍ جَنِيبٍ،[۴]فَقَالَ: أَكُلُّ تَمْرِ خَيْبَرَ هَكَذَا؟[۵]قَالَ: لَا وَاللّٰهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ[۶]إِنَّا لَنَأْخُذُ الصَّاعَ مِنْ هَذَا بِالصَّاعَيْنِ وَالصَّاعَيْنِ بِالثَّلَاثِ.[۷]فَقَالَ: لَا تَفْعَلْ،[۸]بِعِ الْجَمْعَ بِالدَّرَاهِمِ[۹]ثُمَّ ابْتَعْ بِالدَّرَاهِمِ جَنِيبًا»". وَقَالَ فِي الْمِيزَانِ مِثْلَ ذَلِكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱]حضرت ابوسعيد او ابوهريره ﷺ راويان دي [۲]چې رسول الله ﷺ يو سړی د خيبر عامل جوړولو سره وليږلی [۳]هغه سړی چې د هغه ځای څخه واپس راغلو نو د حضور ﷺ په خدمت کې په ډير ښه قسم کجورو سره حاضر شو[۴] حضور ﷺ (هغه کجوره

( ) اخرجه البخاری فی كتاب البيوع/باب ما يذكر فی بيع الطعام والحكرة (رقم-٢١٣٤)ومسلم فی كتاب المساقاة/باب الصرف وبيع الذهب بالورق نقدا (رقم-٧٩ - (١٥٨٦) وابوداود فی السنن كتاب البيوع/باب فی الصرف (رقم-٣٣٤٨) والترمذی فی كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الصرف (رقم_١٢٤٣)والنسائی فی كتاب البيوع/باب بيع التمر بالتمر متفاضلا (رقم-٤٥٥٨) وابن ماجة فی كتاب التجارات/باب صرف الذهب بالورق (رقم-٢٢٥٩) ومالک فی الموطا كتاب البيوع/باب ما جاء فی الصرف (رقم-٣٨)

( ) اخرجه البخاری فی كتاب البيوع/باب إذا أراد بيع تمر بتمر خير منه (رقم-٢٢٠١) ومسلم فی كتاب المساقاة/باب بيع الطعام مثلا بمثل (رقم-٩٥ - (١٥٩٣) والنسائی فی كتاب البيوع/باب بيع التمر بالتمر متفاضلا (رقم-٤٥٥٣) ومالک فی الموطا كتاب البيوع/باب ما يكره من بيع التمر (رقم-٢١)

ليدو سره، د هغه څخه پوښتنه وکړه چې آيا د خيبر ټولې كجورې داسې (ښې) دي؟[٥] هغه اوويل چې يا قسم په خداى ټولې كجورې داسې (ښې) نه دي[٦] بلكه مونږ داسې كوو چې د دوه صاع د خرابو كجورو په بدله كې يو صاع ښې كجورې او د دريو صاع (خرابو) كجورو په بدله كې دوه صاع ښې كجورې اخلو. [٧]حضور ﷺ ورته وفرمايل چې داسې مه كوه [٨]بلكه مخكې ټولې كجورې يو ځاى كولو سره د درهمو په عوض كې خرڅې كړه[٩] بيا د هغه درهمونو په عوض كې ښې كجورې واخله. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① اسْتَعْمَلَ: أَيْ جَعَلَهُ عَامِلًا: عامل ئې مقرركړو. په مال راجمع كولو ئې مقرر كړو ② جَنِيبٍ: نَوْعٌ جَيِّدٌ مِنْ أَنْوَاعِ التَّمْرِ: اعلى او عمده قسم كهجورې ③ بِعْ: خرڅې كړه. ④ الْجَمْعَ: أَيْ تَمْرٌ رَدِيءٌ: ردى كجورې. معمولى كجورې. ⑤ ابْتَعْ: أَيْ اشْتَرِ: واخله. خريد كړه

تسهيلات: قوله: بِعِ الْجَمْعَ:

په كجورو كښې د سود نه د بچ كيدلو حيله او تدبير:—جمع دَردى كهجورو مجموعې ته وائى يعنى خرابې كهجورې اول په دراهم باندې خرڅې كړه او په دراهم باندې بيا ښه كهجورې واخله دَدې حديث په تعليم سره هرمسلمان له سوچ پكاردې كه په حلال اوحرام كښې يو سړې فرق كول غواړى اودَ حرام نه دَ بچ كيدو كوشش اوكړى نودا څه ګران كار نه دې بلكه دَمعمولى حيلې په ذريعه سره سړې دَحرام نه بچ كيدې شى نن صبا ملحدين وائى شرعى احكام په دې دوركښې نه شى چليدې دَهغوى داخبره غلطه ده دَ دين په دښمنئ كښې ده ګنى كار ډير آسان دې

قوله: فِي الْمِيزَانِ مِثْلَ ذَلِكَ:

په موزونى څيزونوكښې د ښه او ردى برابرى:—يعنى څنګه چه په مكيلى څيزونوكښې جيد او ردى برابردى دغه شان په موزونى څيزونوكښې هم جيد او ردى مساوى دى دا جائز نه دى چه عمده سرو زرو سره ردى سره زر په تبادله كښې ردى زيات واخستې شى دا سود دې څكه چه "جيدها ورديها سواء" واضح حكم دې احناف په شپږو څيزونوكښې كيل او وزن چه كوم په توګه دَ علت راويستې دې دَهغې تائيد په دې لفظ سره كيږى څكه چه دلته دَ وزن واضح لفظ موجود دې

[۲۸۳]په خراب اوښه كښې په كمى زياتى سره سود راتلل

٢٨٣—[٨] (١) [١]وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: [٢]«جَاءَ بِلَالٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِتَمْرٍ بَرْنِيٍّ [٣]فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنْ أَيْنَ هَذَا؟ [٣]قَالَ: كَانَ عِنْدَنَا تَمْرٌ رَدِيءٌ فَبِعْتُ مِنْهُ صَاعَيْنِ بِصَاعٍ [٥]فَقَالَ: أَوَّهْ عَيْنُ الرِّبَا عَيْنُ الرِّبَا، لَا تَفْعَلْ [٦] وَلَكِنْ إِذَا أَرَدْتَ أَنْ تَشْتَرِيَ فَبِعِ التَّمْرَ بِبَيْعٍ آخَرَ ثُمَّ اشْتَرِهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[١] اخرجه البخارى فى كتاب الإجارة/باب: إذا باع الوكيل شيئا فاسدا. فبيعه مردود (رقم-٢٣١٢) ومسلم فى كتاب المساقاة/ باب بيع الطعام مثلا بمثل (رقم-٩٦ (١٥٩٤) والنسائى فى كتاب البيوع/باب بيع التمر بالتمر متفاضلا (رقم٤٥٥٧)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [١] حضرت ابو سعيد رضي الله عنه وايي[٢] چې (يو ځل) بلال رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې بنه قسم کجوري راوړي [٣] نبی عليه السلام ورته ووئيل دا قجورې دې دکوم ځائې حاصلې کړی دی؟[۴] هغه عرض اوکړو چې زما سره ځه خرابې کجورې وې د هغه ځخه ما دوه صاع کجورې ورکولو سره د هغه په بدله کې مې دا يو صاع ښې کجورې واخستې [۴] حضور صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل اوه دا خو بالکل سود دی داسې مه کوه [٦] البته چې ته خرابې کجورې، بدلول غواړې نو دا طريقه اختيار کړه چې مخکې خپلې خرابې کجورې د درهم يا د روپو په عوض کې خرڅې کړه بيا د هغه درهم يا روپو په ذريعه کجورې واخله. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① بَرْنِيّ: وَهُوَ مِنْ أَجْوَدِ التَّمْرِ: برنی دَمدينې منورې يو قسم مشهورې کهجورې دی ② رَدِيءٌ: د فَعِيلٌ په وزن باندې د رَدَاءَةٌ نه ماخوذ دې، ادنی او معمولی ته وائی ③ أَوَّهْ: وَهِيَ كَلِمَةُ تَحَسُّرٍ وَتَنَدُّمَةٍ: دا فسوس، خپيمانتيا اونقصان رسيدودَاظهاردَپاره داکلمه وئيلی شی ④ عَيْنُ الرِّبَا: أَيْ حَقِيقَةُ الرِّبَا الْمُحَرَّمِ: يعنی دا خوخالص سود دې کوم چه حرام د ې،ځکه چه دَ جنس اتحاد سره تفاضل راغلو

تسهيلات:

قوله: بِتَمْرٍ بَرْنِيٍّ:

په مدينه کښې د برنی قجورو وجود:- دا قجورې اوس هم د مدينې د کهجورو په منډئ کښې برنی کهجورې موجود دی دکوم ذکرچه په دې حديث کښې دې. دا دَ درميانه درجې ښکلې کهجورې دی

[٢٨٥] دَ يوغلام په بدله کښې د دوو غلامانو د ورکولو حکم

٥ —[٩]( ) [١] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: [٢] «جَاءَ عَبْدٌ فَبَايَعَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى الْهِجْرَةِ، [٣] وَلَمْ يَشْعُرْ أَنَّهُ عَبْدٌ [۴] فَجَاءَ سَيِّدُهُ يُرِيدُهُ [٥] فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بِعْنِيهِ [٦] فَاشْتَرَاهُ بِعَبْدَيْنِ أَسْوَدَيْنِ [٧] وَلَمْ يُبَايِعْ أَحَدًا بَعْدَهُ حَتَّى يَسْأَلَهُ أَعَبْدٌ هُوَ أَوْ حُرٌّ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه وايي [٢] يوغلام د نبی کريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو او هغه د حضور صلى الله عليه وسلم ځخه په هجرت بيعت وکړي (يعني هغه عهد وکړي چې زه د خپل وطن پرينبودلو سره به ستا په خدمت کې حاضر يم، [٣] او حضور صلى الله عليه وسلم ته دا معلومه نه وه چې دی غلام دی (ځه ورځې وروسته) [۴] چې د هغه مالك د هغه په لټون کښې راغلی نو حضور صلى الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل چې دا غلام په ما باندې را خرڅ کړه [٦] نو حضور صلى الله عليه وسلم هغه د دوو تور رنګه غلامانو په بدله کې رانيوی بيا د دې ځخه وروسته حضور صلى الله عليه وسلم د هيچا ځخه

[١] اخرجه مسلم فی كتاب المساقاة /باب جواز بيع الحيوان بالحيوان من جنسه متفاضلا(رقم-١٢٣ - (١٦٠٢) والترمذی فی كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی شراء العبد بالعبدين (رقم_١٢٣٩) وابن ماجة فی كتاب الجهاد/باب البيعة (رقم-٢٨٦٩)

بیعت نه آخستلو د څو پورې چې دا به یې معلومه کړې نه وه چې هغه غلام دی که آزاد. (مسلم)

حل اللغات:- ① فَبَايَعَ: أي عَاهَدَ: بیعت ئې اوکړو یعنی عهد ئې اوکړو ② لَمْ يَشْعُرْ: أي: لَمْ يَدْرِ: پوهه نه شو نبی علیه السلام. ③ سَيِّدُهُ: مالک د غلام. ④ يُرِيدُهُ: أي يَطْلُبُهُ: تلاش او لټون ئې کولو دخپل غلام. یا دا مطلب چه دغلام نه ئې دخپل خدمت اخستلو اراده وه ⑤ بِعْنِيهِ: راخرڅ کړه په ما باندې دا غلام. ⑥ لَمْ يُبَايِعْ: نه به بیعت کولو نبی علیه السلام. ⑦ عَبْدٌ: غلام. ⑧ حُرٌّ: آزاد

تسهيلات:

قوله: حَتَّى يَسْأَلَهُ أَعَبْدٌ هُوَ أَوْ حُرٌّ

دمالک د اجازت څخه بغیره د غلام په جهاد کښې د شرکت عدم جواز:- غلام چونکه دَ یوانسان په ملکیت کښې وی په دې وجه هغه نه دَ مولی دَ اجازت نه بغیرجهاد ته تللې شی نه حج کولې شی نه هجرت کولې شی. په زیربحث حدیث کښې هم دغه مسئله ده چه یوغلام دَ حضورپاك په لاس مبارك باندې دَ جهاد بیعت اوکړو حضورپاك ته معلومه نه وه چه دا غلام دې اودَ مولی اجازت ضروری دې روستو بیا دَهغه مالك راغلو دَحضورپاك مکارم اخلاق دابرداشت نه کړه چه غلام ناامیده کړی او هغه واپس دَ مالك په لاس کښې ورکړی چنانچه حضورپاك هغه مالك ته دوه غلامان ورکړل اودا غلام ئې واخستلو

په حدیث کښې د هجرت دوه مطلبونه:- ① غلام دَخپلې علاقې نه دَ هجرت کولواو دَ حضور په خوا کښې دَ اوسیدلو بیعت اوکړو دَملاعلی قاری رحمه الله دَ کلام نه دَدې مطلب طرف ته معمولی اشاره کیږی سره دَدې چه دَ هجرت دامفهوم عام نه دې

② غلام دَ مکې نه دَ مدینې طرف ته په هجرت باندې بیعت واخستو دامفهوم عام اومشهوردې

یو غلام د دوو غلامانو په عوض کښې د ورکولو او اخستلو حکم:-دَدې حدیث نه دا مسئله هم معلومه شوه چه یوغلام دَ دوو غلامانو په عوض ورکول اواخستل جائز دی په دې کښې تفاضل جائزدې

دخناورو په تبادله کښې د نقد شرطیت:-اودَ خناورو هم دغه حکم دې بلکه ټول اموال حکم هم دغه شان دې شرط دادې چه لین دین نقد وی قرض نه وی

قرض کښې دَ فقهاء معمولی شان اختلاف دې چه آیا دَ خناورو په بدله کښې دَ خناورودَ قرض لین دین جائزدې که نه؟دَدې تفصیل روسته دحدیث نمبر(۲۸۲۱) په تسهیل کښې راځی

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٨٠٣] دهم جنس څیزونو په لین دین کښې د تفاضل حرمت

٢٨٠٣ - [٠] ( ) [١] وَعَنْهُ قَالَ: "[٢] «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَيْعِ الصُّبْرَةِ مِنَ التَّمْرِ [٣] لَا يُعْلَمُ مَكِيلَتُهَا بِالْكَيْلِ الْمُسَمَّى مِنَ التَّمْرِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه وايي [٢] چې رسول الله ﷺ د کجورو يو داسي ډهير [٤] چې د هغه مقدار معلوم نه وي [٥] د يوي معلومي پيماني د کجورو په بدله کې د اخستلو او ورکولو څخه [٦] منعه کړي ده، (مسلم)

حل اللغات - ① الصُّبْرَةُ: وَهِيَ الطَّعَامُ الْمُجْتَمِعُ كَالْكُومَةِ: دخوراک څيز چه په يو ځاني راجمع وی يعنی د خوراک ډيري. ② مَكِيلَتُهَا: أَيْ مِقْدَارُ كَيْلَتِهَا: د پيماني مقدار

تسهيلات:

قوله الصُّبْرَةُ:

د مجهولې بيعې عدم جواز: -صبرة نه دلته دکهجورو نامعلومه ډيري مراددي د بيوعتو داصولي قواعدونه دا دی چه مبيعه معلوم وی ثمن هم معلوم وی په دې دواړو څيزونو کښې جهالت نه دې پکار ځکه چه په دې کښې راتلونکې وخت کښې جګړه پيداکيدې شی او شريعت دمعاملاتو هرهغه صورت ناجائز ګرځولي دې په کوم کښې چه جګړه راپيدا کيدې شی په زير بحث حديث کښې "لايعلم مكيلتها" الفاظ نه دغه ضابطې طرف ته اشاره ملاويږی چه کله د کهجورو د ډيری د مقدارپته نه وی نو په هغې کښې د کم يا زيات کيدو احتمال شته د کوم په وجه چه په سود کښې د پريوتلوخطره ده دا هغه وخت کښې دی چه کله دواړه څيزونه هم جنس وی که چرې جنس ئی جدا جدا دې نو بيا تفاضل جائزدې

[٢٨٠٤] د سرو زرو په بدله کښې د سرو زرو دلين دين حکم

٢٨٠٤ - [٠] ( ) [١] «وَعَنْ فَضَالَةَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ: اشْتَرَيْتُ يَوْمَ خَيْبَرَ قِلَادَةً بِاثْنَيْ عَشَرَ دِينَارًا [٢] فِيهَا ذَهَبٌ وَخَرَزٌ [٣] فَفَصَّلْتُهَا فَوَجَدْتُ فِيهَا أَكْثَرَ مِنَ اثْنَيْ عَشَرَ دِينَارًا [٤] فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ [٥] "لَا تُبَاعُ حَتَّى تُفَصَّلَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] حضرت فضاله ابن عبيد رضي الله عنه وايي چې ما د خيبر په کال يو هار په دولس دينارو واخستی. [٢] د سرو زرو وو او په هغه کې غمی لګيدلی وو [٣] بيا چې ما هغه جدا

---

[١] اخرجه مسلم فی كتاب البيوع/باب تحريم بيع صبرة التمر المجهولة القدر بتمر(رقم-٤٢ - (١٥٣٠) والنسائی فی كتاب البيوع/باب بيع الصبرة من التمر لا يعلم مكيلها بالكيل المسمى من التمر (رقم-٤٥٤٧)

[٢] اخرجه مسلم فی كتاب المساقاة/باب بيع القلادة فيها خرز وذهب (رقم-٩٠ - (١٥٩١) وابوداود فی السنن كتاب البيوع/باب فی حلية السيف تباع بالدراهم (رقم-٣٣٥٢) والترمذی فی كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی شراء القلادة وفيها ذهب وخرز (رقم-١٢٥٥) والنسائی فی كتاب البيوع/باب بيع القلادة فيها الخرز. والذهب بالذهب (رقم-٤٥٧٣) واحمد فی المسند: ٢١/٦

جدا کړل، یعنې غمی مې د سرو زرو څخه ؤنښکل، نو هغه سره زر د دولس دینارو څخه د زیات قیمت وختله [٣] ما د هغه ذکر رسول الله ﷺ ته وکړي نو رسول الله ﷺ وفرمایل [۵] چې، داسې هار دې، د هغه وقته خرڅ نه کړل شي د څو پورې چې سره زر او غمی جدا جدا نه شي. (مسلم)

حل اللغات:- ① قِلَادَةً: مَا يُقَلَّدُ فِي الْعُنُقِ: څه چه په غاړه کښې راځوړندولې شي یعنی هار. امیل ② خَرَزٌ: غمی، مشکنري. ③ فَفَصَّلْتُهَا: أَيْ مَيَّزْتُ ذَهَبَهَا وَخَرَزَهَا: جدا جدا مې کړل. یعنی د امیل نه مې سره زر او غمی جدا جدا کړل ④ تُفَصَّلَ: چه جدا جدا کړې شي

تسهیلات:

قوله: لَا تُبَاعُ حَتَّى تُفَصَّلَ

په مذکوره حدیث کښې د بیع د جواز صورت:-دَ مثال په توګه دَ سرو زرو یوامیل دې په هغې کښې سره زر هم دی اونور جواهرات هم دی که دا یوسړې دَ سرو زرو په بدله کښې اخستل غواړی نو په شرعی توګه داضروری دی چه اول دَ دې امیل سره زر جدا کړې شی دَدې برابر سره زر وزن کولوسره دې سودا اوکړی چه سره زر دَ سرو زرو په مقابله کښې بالکل یوشان برابر شی اودَ ربوا صورت پیدا نه شی دَ امیل دَ نورو څیزونو جدا قیمت لګولوسره اخستلې شی بل که دَ سرو زرو امیل دَ چاندي بدله کښې یا دَ نقدو روپوبدله کښې واخستلې شی نودغه صورت جائزدې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٨١٨] دَ سود د عام کیدو پیشنګوئی

٢٨١٨-[۴] (١) [١] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[٢] «لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا أَكَلَ الرِّبَا [٣] فَإِنْ لَمْ يَأْكُلْهُ أَصَابَهُ مِنْ بُخَارِهِ [۴] وَيُرْوَى مِنْ غُبَارِهِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهریره ؓ وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] په خلقو به یوه داسې زمانه راشي چې د سود خوړلو څخه به هیڅوك پاتې نشي [٣] او که یو سړی داسې هم پاتې شی چې هغه ددې کاروبارنه کوي نو هغه ته به د سود بخار ضروررسیږي [۴] او (په څینو کتابونو کې د لفظ من بخاره په ځای) من غباره (یعنې هغه ته به د سود ګرد وغبارضروررسیږي) نقل شوی دی. (احمد ابوداود نسائي ابن ماجه)

حل اللغات:- ① بُخَارِهِ: أَيْ أَثَرِهِ: بهراس. ددې نه مراد د سود اثر دې ② غُبَارِهِ: ګرد. دوړه. ددې نه هم د سود اثر مراد دې

(١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الدیات/باب دیات الأعضاء (رقم-٤٥٦٠) وابن ماجة فی کتاب التجارات/ باب الصرف وما لا یجوز متفاضلا یدا بید (رقم-٢٢٥٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات

قوله بُعثوا فجاراً او غُبَاره

د سود عام کیدو پیشنګوئی: - یعنی داسې وخت به راشي چه د سود لعنت به عام شي څه خلق خو به بیع به نیعه سودخوری اوڅه خلق به په څه واسطه سره په خوړلوکښې اخته وي اوڅه خلق به په غیرشعوری توګه د سود په جال کښې اونخلي دا پیشنګوئي نن صبا په مکمل توګه باندې صدق ده اوس خود تجارت بنیاد په بین الاقوامي توګه باندې په سودباندې قائم دې دنیا په منډیانوکښې په ناجائز طریقه باندې کاروبار په هرتجارت باندې اثر کونکې دې يوه معمولي شعبه هم د سودنه پاك نه شي ګرځولې د بیع نه چه کله میوه راخي نوهغه په ناجائزطریقه باندې راخي ددې سودنه څوك بچ کیدې نه شي

[۳۰]د بعضې مخصوص څیزونو په خپل مینځ کښې په برابرۍ سره د تبادلې عدم جواز

٣ — [٣٠] (١) [١] وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "[٢] «لَا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ وَلَا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ [٣] وَلَا الْبُرَّ بِالْبُرِّ وَلَا الشَّعِيرَ بِالشَّعِيرِ [٤] وَلَا التَّمْرَ بِالتَّمْرِ وَلَا الْمِلْحَ بِالْمِلْحِ [٥] إِلَّا سَوَاءً بِسَوَاءٍ عَيْنًا بِعَيْنٍ يَدًا بِيَدٍ،

ترجمه: [١] حضرت عبده ابن صامت رضي الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمیل [٢] مه سره زر د سرو زرو په بدله کې خرڅوئ نه سپین زر سپینو زرو په بدله کې. [٣] نه غنم د غنمو په بدله کې. نه اوربشې د اوربشو په بدله کې. [٤] نه کجورې د کجورو په بدله کې. او نه مالګه د مالګې په بدله کې [٥] هو برابر برابر نقد په نقد یعنی لاس په لاس لین دین جائز دی.

حل اللغات - ① اَلْوَرِقَ أَيِ الْفِضَّةَ: چاندی، سپین زر. ② عَيْنًا بِعَيْنٍ: أَيْ حَاضِرًا: چه موجود وی. په یومجلس کښې وی ③ يَدًا بِيَدٍ: لاس په لاس یعنی نقد وی او په یومجلس کښې وی

[١] وَلٰكِنْ بِيعُوا الذَّهَبَ بِالْوَرِقِ وَالْوَرِقَ بِالذَّهَبِ [٢] وَالْبُرَّ بِالشَّعِيرِ وَالشَّعِيرَ بِالْبُرِّ [٣] وَالتَّمْرَ بِالْمِلْحِ وَالْمِلْحَ بِالتَّمْرِ [٤] يَدًا بِيَدٍ كَيْفَ شِئْتُمْ». رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ.

ترجمه: [١] سره زر د سپینو زرو په بدله کې او سپین زر د سرو زرو په بدله کې [٢] او غنم د اوربشو په بدله کې او اوربشې د غنمو په بدله کې [٣] او کجورې د مالګې په بدله کې او مالګه د کجورې په بدله کښې [٤] لاس په لاس څنګه چې غواړئ خرید او فروخت کوئ. (نسائي)

تسهيلات

قوله لَا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ:

د مبادلة المال بالمال دوه صورتونه: - ① دحدیث خلاصه داده چه که چرې د داسې دوه

(١) اخرجه النسائي في السنن كتاب البيوع/باب بيع البر بالبر (رقم-٤٥٦٠) وابن ماجة في كتاب التجارات/ باب الصرف وما لا يجوز متفاضلا يدا بيد (رقم-٢٢٥٤)

خرونو په خپل مينځ كښي لين دين كوئ كوم چه د يو جنس وى لكه غنم د غنمو په بدله كښې نو په دې صورت كښې برابر برابر او لاس په لاس كيدل ضروري دى

② اوكه د داسې دوه څيزونو خپل منځ كښې لين دين كولې شي كوم چه يو جنس نه وى بلكه د جدا جدا جنس وى لكه غنم د وربشو په بدله كښې. نو په دې صورت كښې صرف لاس په لاس كيدل ضروري دى برابر برابر كيدل ضروري نه دى

[۲۸۳۰] د اوچو او تازه ميوو خپل مينځ كښې د لين دين حكم

٢٨٣٠-[٥] (١) وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، قَالَ: «سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - (٢) سُئِلَ عَنْ شِرَاءِ التَّمْرِ بِالرُّطَبِ " (٣) فَقَالَ " أَيَنْقُصُ الرُّطَبُ إِذَا يَبِسَ " (٤) فَقَالَ نَعَمْ (٥) فَنَهَاهُ عَنْ ذَلِكَ». (٦) رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: (١) حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه وايي چې ما د حضور ﷺ څخه واوريدل (٢) كله چې د تازه كجورو په بدله كې د وچو كجورو خريد كولو مسئله ويوښتل شوه (٣) نو حضور ﷺ وفرمايل آيا تازه كجوري د وچيدلو څخه وروسته كميږي؟ (٤) عرض وشو چې هو. (٥) نو حضور ﷺ د داسې لين دين څخه منعه وكړه. (٦) مالك ترمذي ابوداود نسائي ابن ماجه

حل اللغات - ① بِالرُّطَبِ: لمدي يعنى تازه كجوري ② أَيَنْقُصُ: آيا كميږي؟ ③ يَبِسَ: چه اوچې شي

تسهيلات:

قوله سُئِلَ عَنْ شِرَاءِ التَّمْرِ بِالرُّطَبِ:

د لمدو كهجورو بيع د اوچو كهجورو په بدله كښې جائز ده كه ناجائز؟ په دې كښې د فقهؤ اختلاف دې

د بيع الرطب بالتمر په بيع كښې مذاهب:-

① د ائمه ثلاثه او صاحبينو په نيز بيع الرطب بالتمر جائز نه ده ② د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز جائز ده

د اول فريق دليل:- زيربحث حديث دليل دې د كوم خلاصه چه دا ده چه د رسول الله ﷺ نه د بيع الرطب بالتمر باره كښې تپوس اوشو نو حضور پاك پوښتنه اوكړه چه لمدې كهجورې اوچيدو سره كميږى كه نه؟ صحابه كرامو عرض اوكړو كميږى نو بيا حضور پاك دا بيع منع كړه

---

[١] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب البيوع/باب فى التمر بالتمر (رقم ٣٣٥٩) والترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى النهى عن المحاقلة. والمزابنة (رقم: ١٢٢٥) والنسائى فى كتاب البيوع/باب اشتراء التمر بالرطب (رقم-٤٥٤٥) وابن ماجه فى كتاب التجارات/ باب بيع الرطب بالتمر (رقم-٢٢٦٤) ومالك فى الموطا كتاب البيوع/باب ما يكره من بيع التمر (رقم-٢٢) واحمد فى المسند: ١٧٥/١

Maktaba Tul Ishaat.com

په اصل کښې دَ ائمه ثلاثه په نیز بیع کښې حالاً او مآلاً مساوات ضروري دي اودلته چه لمدې کهجورې کله اوچې شي نومساوات باقي نه پاتې کیږی په دې وجه ناجائز دی

دوه جوابونه: - ① دَدې تعلق قرض سره دې اودَدې تائید هم دَحضرت سعد رضي الله عنه دَهغه حدیث سره کیږی په کوم کښې چه حضورپاك دَ تازه کهجورو په بدله کښې دَ اوچو کهجورو لین دین په قرض او نسیئة کښې منع فرمائیلي دي الفاظ دادی «عن سعد بن ابی وقاص ان رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی عن بیع الرطب بالتمر نسیئة» (ابوداؤد)

② امام ابوحنیفه رحمه الله دَ اهل بغداد دَ استدلال په جواب کښې دا هم فرمائیلی چه زیر بحث حدیث دَ ابو عیاش راوی دَ وجې نه ضعیف هم دې لهذا دَ قواعد بیوع خیال به ساتلې شی او په جزئیات کښې به تاویل کولې شی لکه څنګه چه دَ امام صاحب فقهی سوچ دې

د ائمه اربعه فقهی سوچونه: - ①دَ امام ابوحنیفه فقهی سوچ خو تیر شو

② دَ امام مالك رحمه الله دَ فقهی سوچ مدار دَ اهل مدینه په تعامل باندې دې

③ دَ امام شافعی رحمه الله فقهی سوچ مدار دَ اهل مکه په تعامل باندې دې

④ دَ امام احمد رحمه الله فقهی سوچ مدار په ظاهر دَحدیث باندې دې هم دغه وجه ده چه هغوی په یوه مسئله کښې ډیر اقوال او احوال باندې فتویٰ ورکوی

د دویم فریق دلیل: - دَ بیوعاتو شرعی قاعده او ضابطه ده د کومې چې په هرحال کښې خیال ساتلې شی هغه دا چې دکهجورې لوندوالي اوچوالي دا په دې کښې وصف زائده دې اودَ وصف زائد اعتبارنشته دې په حدیث کښې راغلی دی "جیدها وردیها سواء" لهذا په مستقبل اومآل کښې دَمساوات ضرورت نشته دې

دامام ابوحنیفه سره په زیربحث مسئله کښې بحث: - امام ابوحنیفه رحمه الله چه کله بغدادته تشریف یوړو نودَ هغه ځائی علماؤ په دې مسئله کښې امام صاحب سره بحث اوکړو اوسخت مخالفت ئې اوکړو هغوی ورته اوفرمائیل چه دا راته اوښایئې چه رطب اوتمر یوجنس دې که جدا جدا جنس دې که چرې یوجنس دې نوحدیث التمر بالتمر مثلاً بمثل دَ وجې نه دابیع جائز ده اوکه چرې رطب دَ تمر دَ جنس نه نه دې نوحدیث «اذا اختلف النوعان فبیعوا کیف شئتم» دَ وجې نه دا بیع جائز کیدل پکاردی امام صاحب داهم فرمائی چه که چرې په رطب کښې نقص راغلو نودَدې ذمه واری دَ بائع نه ده دا نقص خودَ مشتری په لاس کښې راغلې دې دکوم نه چه بائع خلاص دې په وخت دَ بیع نقص نه وولهذا بیع جائز ده

د نورو میوؤ حکم: - هم دغه شان مسئله دَنورو میوو هم ده اودغه شان حکم دَ تازه او اوچې غوښې هم ده بهرحال جمهور هم یوطرف ته دی اوصاحبین هم هغوی سره دی حدیث هم واضح دې که فتویٰ دَ صاحبینو اوجمهورو په مسلك باندې ورکړې شی نو بعید به نه وی

[۲۸۳] دَ غوښې اوژوندې څاروې دَ بدلون حکم

۲۸۲۰-[۱۵] ( ) ① وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ مُرْسَلًا، ② «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ بَيْعِ اللَّحْمِ بِالْحَيَوَانِ» " ③ قَالَ سَعِيدٌ: ④ كَانَ مِنْ مَيْسِرِ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ① حضرت سیعد بن مسیب رحمه الله بطریق ارسال نقل کوي ② چې رسول الله ﷺ د څارویو په بدله کې د غوښې د لین دین څخه منعه فرمایلي ده، ③ او د حضرت سعید رحمه الله بیان دی ④ چې د حیوان په بدله کې د غوښې لین دین د جاهلیت د زماني د جوارۍ د قسم څخه وو، (شرح السنه)

حل اللغات:- ① اللَّحْم: غوښه، ② الْحَيَوَانِ: څاروې.

تسهیلات: قوله: مَيْسِرِ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ:

د میسر اهل الجاهلیة مطلب او معنی:- دَدې مطلب دادې لکه څنګه چه په غلطه طریقه سره به اهل جاهلیت دَ خلقو مالونه خوړل په دې بیع کښې هم دغه شان دی سره دَدې چه دَ جوارئ طریقه جداده. هلته به دَ غشو په ذریعه سره جوارې کیدله اودلته لین دین کیږی په غلطه طریقه سره دَمال دَ حصول تشبیه ده

د بیع بالحیوان اللحم په حکم کښې مذاهب:-

په دې مسئله کښې چې دَ ژوندی څاروی بدلون په غوښې سره جائز دې که نه؟ د فقهاؤ اختلاف دې

① امام شافعی رحمه الله دا بیع مطلقًا حرام او ناجائز ګرځوی.

② امام احمد رحمه الله فرمائی که غوښه دَ څاروی دَ غوښې نه زیاته کیځودې شی چه دَ غوښې په مقابله کښې غوښه راشی اودَ حیوان دَ زیاتی حصول په بدله کښې اضافی غوښه راشی نودا صورت جائزدې کنی جائزنه دې

③ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه دَ غوښې په بدله کښې دَ ژوندی څاروی لین دین کول نقدًا جائزدی قرض جائزنه دې

نوټ: اصل اختلاف دلته دشوافعو اواحنافو دې شوافع د عدم جوازقائلین دی او احناف نقدًا دجواز اونسیة دعدم جوازقائلین دی نودلته دفریق اول اوفریق ثالث دلائل ذکر کولی شی

داول فریق دلائل:- زیربحث حدیث داول فریق دپاره بنه واضح دلیل دې

جوابونه:- ① داحدیث دَ قرض په لین دین باندې محمول دې اودَ قرض دَ عدم جواز احناف هم قائل دی چه یوطرف ته څیز موجوددې اوبل طرف ته صرف وعده وی څیز موجود نه وی نودا ناجائز دی

( ) اخرجه مالک فی الموطا کتاب البیوع /باب بیع الحیوان باللحم (رقم - ٦٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

⑥ اهل حديث به دا دې نه جوازي جوړوله او كوله به ني په دې وجه دَ جوازني بندولو دپاره دَ ممانعت راغلي دي

د فريق ثالث دليل: -دَ امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دَ بيوعاتو دَ اصولي قواعدو رعايت دې هغوي فرماني چه غوښه موزوني ده او حيوان غيرموزوني دې لهذا دَ اتحاد قدر دَ نشت والي د وجې نه كمي بيشي باوجود دلته سود نشته دې لهذا جائزدى

[۲۸۲۲] دَ بيوعاتو په قاعدو كليو باندې دَ احنافو دليل

۲۸۲۲-[۱۰] (۱)① وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى② عَنْ بَيْعِ الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ نَسِيئَةً». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① حضرت سمره ابن جندب رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ② حيوان د حيوان په بدله كې د قرض نيں دين كولو څخه منعه فرمايلي ده، ترمذي ابوداود نسائي ابن ماجه دارمي

تسهيلات:

قوله: نَهَى عَنْ بَيْعِ الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ نَسِيئَةً

متعارض احاديثو كښې تطبيق: -دَ احناف دا حديث دَ سود په بابونو كښې په بنيادي توګه بنسټ اخستې دې اودَ بيوعاتو دَ قواعدو كليو دَحفاظت دَ پاره په ډيرو جزني احاديثو كښې تاويل كړې دې دلته په حديث كښې په واضحه توګه دَ قرض لفظ موجود دې نوچه كوم ځائي دا لفظ نشته دې هلته به هم دا مراد اخستې شي دې دَ پاره چه په احاديثو كښې تطبيق راشي

[۲۸۲۳] دَ غيرمثلي څيزونو دَ قرض اخستلو حكم

۲۸۲۳-[۱۱] (۲)① وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، ② «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَمَرَهُ أَنْ يُجَهِّزَ جَيْشًا ③ فَنَفِدَتِ الْإِبِلُ ④ فَأَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ عَلَى قَلَائِصِ الصَّدَقَةِ ⑤ فَكَانَ يَأْخُذُ الْبَعِيرَ بِالْبَعِيرَيْنِ إِلَى إِبِلِ الصَّدَقَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① د حضرت عبد الله ابن عمرو ابن عاص رضي الله عنه په باره كې روايت دى ② رچې د يوې غزا په موقع رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته وفرمايل د لښكر سامان تيار كړه ريعني په لښكر كې د شامليدو د پاره سوارلي او اسلحه وغيره تيار كړه ③ نو كوم وخت چې د اوښانو كمي شوه يعني څومره اوښان چې وو هغه په اكثره خلقو كې تقسيم شو او څه خلق چې په هغوى كې

---

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الصلاة باب من قال: يقوم صف مع الإمام وصف وجاه العدو (رقم-۱۲۳۷) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية بيع الحيوان بالحيوان نسيئة (رقم: ۱۲۳۷) والنسائي في كتاب البيوع/باب بيع الحيوان بالحيوان نسيئة (رقم-۴۶۲۰) وابن ماجة في كتاب التجارات/ باب كتاب التجارات/ باب الحيوان بالحيوان نسيئة (رقم-۲۲۷۰) واحمد في المسند: ۱۲/۵

(۲) اخرجه ابوداود في السنن كتاب البيوع/باب في الرخصة في ذلك (رقم-۳۳۵۷) واحمد في المسند: ۱۷۱/۲

حضرت عبد الله ابن عمرو ابن عاص ﷺ هم شامل وو اوبنان ورته حاصل نه شو، ④نو حضور ﷺ حضرت عبد الله ﷺ ته حکم ورکړي چي هغه د زکوة د اوبنانو په بدله کي اوبنان (قرض) واخلي ⑤نو حضرت عبد الله ﷺ د زکوة د اوبنانو د راتلو پوري (په وعده) د دوو اوبنانو په عوض کي يو اوبن واخستي. (ابوداؤد)

حل اللغات - ① يُجَهِّزَ: چه تيارکړي (سامان) ② جَيْشًا: لښکر ③ فَنَفِدَتْ: کم شو ④ قِلَاصِ: قلائص جمع ده دَدي مفرد قلوص دي ځوان اوبن ته وائي

تسهيلات:

قوله: قِلَاصِ الصَّدَقَةِ:

دمذکوره جملې مطلب:- دَ صدقه نه مراد دَ زکوة اوبنان دی يعنی حضورپاك عمروبن العاص ﷺ ته اوفرمائيل چه دَ يوسړي نه اوبن قرض واخله او په مجاهدينو باندې تقسيم کړه دې دَپاره چه دَ جهاد لښکر روان شي اوکله چه دَصدقه اوزکوة اوبنان بيت المال ته راشي بيا دَ دغه سړي قرض اداکړه.

قوله: بِالْبَعِيرَيْنِ:

دعمروبن العاص عمل په جهاد کښې حصه اخستل:- يعني حضرت عمرو بن العاص ﷺ به دَ دوو اوبنانو په بدله کښې يو اوبن اخستلو او په مجاهدينو کښې به ئې تقسيم کول.

په غير مثلی څيزونو کښې د قرض د اخستلو په حکم کښې مذاهب:-

① د شوافعو په نيزپه غيرمثلی څيزونو کښې قرض اخستل ناجائزدی

② د احنافو په نيز جائز دی. د دې وضاحت دا دې چې دَ قرض اخستلو باره کښې دا اصولی خبره ياد ساتل پکاردی چه قرض صرف دَهغه څيز اخستلي شي کوم څيزچه خپل مثل لری مثلاً هګئی دی دا مثلی دی غله مثلی ده روپئی پيسې مثلی دی اودَدې څيزونو قرض اخستل ورکول جائزدی ځکه چه نن ئې قرض واخستو نو ځو ورځې پس به دَدغه څيزيه شان په قرض کښې واپس کړی ځکه چه مثل موجوددې خوچه دَ کومو څيزونو مثل موجودنه وی نودَهغې قرض اخستل ورکول هم ناجائزدی ځکه چه که صباقرض ورکونکي خپل قرض اخستل غواړی نومثل ورکول به ګران شی لکه چه په زير بحث حديث کښې د خاروی مسئله ده حيوان مثلی نه دې بلکه دَ ذوات القيم اشياء نه دې اوس په قرض کښې دَدې مثل ورکول ګران دی لهذا دَدې قرض اخستل ورکول ناجائزدی

داول فريق دليل:- زيربحث حديث د دوی مستدل دي

د اول فريق د دليل جواب:- دَدې حديث باره کښې احناف تاويل کوی دې دَپاره چه په احاديثو کښې تطبيق راشي يوجواب داورکوی چه دَ يوخاروی په بدله کښې دوه خاروی ورکول دَ قرض په توګه هغه وخت جائز وو کله چه دَ ربوا اوسود دَ ممانعت حکم نه وو

Maktaba Tul Ishaat.com

راغلي بیا چه کله سود حرام شو نو دا قسم بیوعات هم ختم شو علامه توربشتي رحمه الله هم دغه جواب ورکړی دی هغوی دا حدیث ضعیف هم ګرځولي دی

د دویم فریق دلیل: - دَ حضرت سمرة بن جندب رضي الله عنه دَ حدیث نه استدلال کوی کوم چه د دی نه وړاندي تیر شوي دی او دا مسئله هم سره دَ اختلاف او دلائلو لکلي شوي ده

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٨٢٣] دَ قرض په لین دین کښي دَ سود حکم

٢٨٢٣ — [٨] ( ) ١ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "٢ «الرِّبَا فِي النَّسِيئَةِ" ٣ وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ "لَا رِبًا فِيمَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت اسامه بن زید رضي الله عنه وایي چي رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ٢ په قرض لین دین کي سُود کیږي ٣ او په یوبل روایت کي داسي دی چي په هغه لین دین کي سُود نه وي کوم چي لاس په لاس وي، (بخاري مسلم)

حل اللغت - ① اَلنَّسِیئَة: قرض لین دین ② یَدًا بِیَدٍ: لاس په لاس، نغد

تسهیلات:

قوله: اَلرِّبَا فِي النَّسِیئَةِ:

په قرض کښي د سود راتلل: یعنی دوه څیزونه چه کله دَ یوجنس نه وی او برابر سرابر وی او نقد وی قرض نه وی نو په دې صورت کښي سود نه دی بل په دې صورت کښي هم سود نه دی چه دوه څیزونه په مختلف جنس کښي وی نو دَ اختلاف دَ وجې نه به بیا هم سود نه راځی البته سود به هغه وخت راځی چه کله دَ یوجنس دَ دوو څیزونو لین دین په قرض کښي وی حضرت اسامه رضي الله عنه هم دغه صورت بیان کړی دی

د حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما د خپلې رائې څخه رجوع: - دَ حضرت اسامه رضي الله عنه په کلام سره دَ ابن عباس رضي الله عنهما شك شو او هغه په نقد کښي دَ ربا انکار او کړو او ونی فرمایل چه ربا صرف دَ قرض په صورت کښي ده لیکن حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه هغه سخت اورټلو او په سختنی سره ئی منع کړو نو هغوی د خپلې رائې نه رجوع اوکړه او وئی فرمایل چه ما دَ اسامه رضي الله عنه دَ کلام نه داسي ګڼرلي وو حضرت ابی رضي الله عنه دا هم اوفرمایل آیا داسي کیدې شی چه تا دَ حضورپاك نه یوحکم اوریدلي وی یا دَ هغې مشاهده دې کړې وی او موږ نه

(١) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب الاشتراك في الذهب والفضة وما يكون فيه الصرف (رقم-٢١٧٩) ومسلم في كتاب المساقاة/باب بيع الطعام مثلا بمثل (رقم-١٠٢ - (١٥٩٦) والنسائي في كتاب البيوع/باب بيع الفضة بالذهب وبيع الذهب بالفضة (رقم-٤٥٨٠) وابن ماجة في كتاب التجارات/ باب من قال: لا ربا إلا في النسيئة (رقم-٢٢٥٧) واحمد في المسند: ٥/٢٠٠

اوريدلي وي اونه مو مشاهده كړې وي حالانكه زمونږ ملګرتيا حضورپاك سره ډيره اوږده ده؟ بيا حضرت ابی بن كعب رضي الله عنه هغوی ته د ربا متعلق صريح حديث واورولو نوهغوی اوفرمائيل چه ته ګواه اوسيږه زه هم دې ربا ته حرام وايم اوددې نه ويزاره يم

[٢٨٧٥] د سود يوې روپۍ خوړلو د ګناه سختوالي

٢٨٧٥—[١٩] ( )١ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حَنْظَلَةَ غَسِيلِ الْمَلَائِكَةِ قَالَ: ٢ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "٣«دِرْهَمُ رِبًا يَأْكُلُهُ الرَّجُلُ وَهُوَ يَعْلَمُ ٤ أَشَدُّ مِنْ سِتَّةٍ وَثَلَاثِينَ زَنْيَةً» " رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارَقُطْنِيُّ. ٥ وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ٦ وَزَادَ وَقَالَ: "«مَنْ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنَ السُّحْتِ فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ»".

ترجمه: ١ حضرت عبد الله ابن حنظله رضي الله عنه غسيل ملائكه وايي ٢ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ٣ د سود يو درهم د دې پوهه يدو باوجود خوړل چې دا سود دی ٤ د شپږ دېرش خله زنا كولو څخه هم زياته لويه ګناه ده. احمد دارقطني ٥ دا روايت بيهقي رحمه الله په شعب الايمان كې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل كړې دی ٦ او بيهقي رحمه الله په دې روايت كې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دا الفاظ هم نقل كړي دي چې حضور صلى الله عليه وسلم دا هم وفرمايل چې د كوم سړي غوښه د حرام مال څخه پيدا شوی وي يعنی د كوم سړي چې جسماني نشو ونما د حرام مال مثلاً سود او رشوت وغيره څخه شوی وي. هغه سړی د دوزخ لائق دی

حل اللغات: - ١ نَبَتَ: زرغونيدل، نشونما، ٢ السُّحْتِ: حرام.

تسهيلات: قوله: غَسِيلِ الْمَلَائِكَةِ:

د حضرت حنظله رضي الله عنه تعارف او مناقب: – حضرت حنظله رضي الله عنه يودَ لوئی شان والا صحابی دې دَ ابوعامر فاسق خوئی دې دَهغه پلار دَ حضور اكرم او دين اسلام ډير لوئی مخالفت كړې اول ابوعامر دَ راهب په نوم باندې مشهور وو بيا دَحضورپاك صلى الله عليه وسلم دَ مخالفت دَ وجې نه هغه دَ ابوعامر فاسق په نوم سره يادولو دَ احد په ميدان كښې هغه كندې كنستلې وې په كوم كښې چه ډير مسلمانان پريوتو سره شهيدان شوی وو دَهغه خوئی حنظله رضي الله عنه كافرانو شهيدكړوليكن ابوعامر دَهغه مړ وجود دَ ازغنويه ښاخونو نور هم اووهلو الله تعالی دغه صحابی ته ډيرلوئی شان وركړو كوم وخت چه حضورپاك دَ احد دَميدان طرف ته دَ وتلو اعلان اوكړو نودَ دې صحابی په ذمه فرض غسل وو هغه غسل پريخودو اودَ حضورپاك په اعلان ئی لبيك اوونيل اولاړو كافرانو سره په ميدان جنګ كښې جنګيدلوسره شهيدشو چونكه په جنابت كښې وو په دې وجه فرښتو ده ته غسل وركړو نوغسيل الملائكه مشهور شو

[١] اخرجه احمد في المسند:٥/٢٢٥

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: وَهُوَيَعْلَمُ: د علم بلوجود د سودی کاروبار کولو وعید:- دَدې مطلب دادې چه دغه سړی ته معلومه وه چه دا دَ سود پیسې دی اوبیائی هم خوری نودا لویه گناه ده دَدې نه معلومه شوه که یوسړی ته په صحیح توگه معلومه نه وی چه دادَ سود پیسې دی اوهغه اوخوړلې نودَدې غلطئی دَ وجې نه دې معذوردې اوکوم سړې چه په دارالاسلام کښې اوسیږی اودَ سود دَ حکم نه جاهل دې او دَدې دَ حرام اوحلال دَ صورتونو زده کولوکوشش نه کوی نوهغه سړې هم په دې وعید کښې شامل دې

قوله: مِنْ سِتَّةٍوَثَلَاثِيْنَ: د سود یوه روپۍ خوړل مورسره شپږ دیرش ځله زنا کول:- یعنی شپږ دیرش ځل زنکولونه دَ سود گناه لویه ده. دَ ۳۶ځل تعداد تحدید اوتعین دَ شارع کار دې هم هغه دَدې په حکمت باندې پوهیږی مونږ دَ دغه حکمت په لټون باندې مکلف نه یو. ملاعلی قاری ﷫ فرمائی چه په دې حدیث کښې دَ سود حرمت اودَدې دَ خوراك په ممانعت کښې دَ سختئی او زورنې په توگه مبالغه کول مقصود دی دې دَپاره چه دَدې حرام نه سړې بچ شی او دَحلال طرف ته لاړ شی.

د حدیث لره په تهدید باندې حمل کول :- ملاعلی قاری ﷫ دا هم لیکلی دی چه دَ سود په معـمله کښې دَ سودخورسره دَ جنگ اعلان کړې دې دا صورت هم دَ ډیرو زناگانونه سخت دې بل علماء لیکی چه کوم سړې سودی کاروبارکوی نوهغه دَ بیوعاتو دَ پیچیده مسـائلو دَ وجې نه دا حلال گنړی اوعقیده لری چه دا جائز دی

زنا سره د تشبیه ورکولو وجه:- بل طرف ته زنا دَ هرمذهب خلق عیب گناه او ناجائز گنړی په دې وجه سره هم دَ سود نوعیت دَ زنانه خراب دې کوم چه په دې حدیث کښې بیان کړې شوی دی

[۲۸۲۶] د سود د گناه یوه حصه مور سره زنا کول

۲۸۲۶—[۱۰] ( ) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "[۲] «الرِّبَا سَبْعُونَ جُزْءًا [۳] أَيْسَرُهَا إِنَّمَا أَنْ يَنْكِحَ الرَّجُلُ أُمَّهُ»".

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره ﷜ وایې چې رسـول الله ﷺ وفرمایل [۲] د سُود د گناه اویا درجي دي [۳] او په دي کې چې کومه ادنی درجه ده هغه داسې ده لکه چې یو سړی د خپلې مور سره زنا وکړي

(۱) اخرجه ابن ماجة في كتاب التجارات/ باب التغليظ في الربا (رقم- ٢٢٧٤)

تسهيلات:

قوله أَيْسَرُهَا إِثْمًا:

د سود خوراک مور سره د زنا کولو پشان: – قباحت وشناعت کښي دا تشبيه په خپل آخرى مقام باندي واقع ده ددي نه زيات څوك څنګه پوهه کولي شي خپله مور او هغي سره زنا کول استغفرالله

قوله أَنْ يَنْكِحَ:

د نکاح څخه مراد: – دَ نکاح په معنى کښي نه دي بلکه لغوى معنى جماع کول مراد دي دا خو په اويا درجي ګناه کښي کمه درجه ده نوري درجي به څه وي؟ نعوذبالله منها.

[۲۸۲۷] د سود مال د کميدو پيشنګوئى

۲۸۲۷–[۳۱] ()[۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲] «إِنَّ الرِّبَا وَإِنْ كَثُرَ[۳] فَإِنَّ عَاقِبَتَهُ تَصِيرُ إِلَى قُلٍّ» [۴]" رَوَاهُمَا ابْنُ مَاجَه، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ وَرَوَى أَحْمَدُ الْأَخِيرَ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن مسعود رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د سود (څخه حاصل شوى مال) خواه هر څومره زيات وي [۳] خو آخر په هغه کي کمى (يعني بې برکتي) راځي [۴] او دا دواړه روايتونه ابن ماجه او په شعب الايمان کي بيهقي نقل کړي دى او دويم روايت امام احمد هم نقل کړي دى.

حل اللغات: - ① قُلٍّ: کموالي، بې برکتي

تسهيلات:

قوله فَإِنَّ عَاقِبَتَهُ تَصِيرُ إِلَى قُلٍّ:

د سود د تباهى پيشنګوئى: – دا حديث دَ پيشنګوئى په درجه کښي دي چه دَ سودى کاروبار انجام تباه کن وى او سودخور په آخره کښي پيسي پيسي ته محتاج شي دَ الله تعالى ارشاد دي ﴿ يَمْحَقُ اللهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ ﴾ [سورت بقره، الايه: ۲۷۶]

دَ تجربه نه ثابته ده چه لوئى لوئى سودخواره او دَ هغوى غټ غټ محلونه او لوئى لوئى ستي په آخره کښي تباهئى سره مخ شوى دى داخوئى دَ دنيا رسوائى ده او که په دنيا کښي هيڅ هم نه وى نو دَ آخرت خساره خو دومره يقينى ده لکه چه دَ ورځ نه پس دَ شپي راتلل يقينى دى

حقيقى مالدارى: – مال دَ هغه څيزنوم نه دي چه دا او شميرلي شى او سري پخپله ددي څوکيدار جوړ شى بلکه مال دَ هغه خوشحالى ورکونکى څيزنوم دي چه دَ انسان دَ پاره دَ

() اخرجه ابن ماجة في كتاب التجارات/ باب التغليظ في الربا (رقم-۲۲۷۹) واحمد في المسند: ۳۹۵/۱

Maktaba Tul Ishaat.com

روح خوشحالی جوړه شی سودخور کله هم په دنیاکښې دَمال دَ وجې نه په راحت کښې نه وی داهم دَخراب انجام نشانی ده سودخورسره خودَ راحت ډیرسامان وی لیکن هغه پخپله دَ راحت نه محروم پاتې وی او په سامان راحت او راحت کښې ډیر لوئی فرق دې یوغریب سړې حلال رزق گټلوسره دَ شکوپه ډیری باندې بې پرواه خرڅیږی اوده وی خوسودخور اومالدارسړې قسم قسم دوایانې خوړلوسره هم دَ خوب دَ لذت اوخوند نه محروم پاتې وی سودخور سړې دَ معاشرې دَپاره دَ زهریله مار نه زیات زهریله جوړیږی. دَ همدردئی او خیرخواهئی خو هډو نوم دَهغه په ذات کښې باقی نه پاتې کیږی بلکه هغه دَ یوغریب سړی دَ وینو څکلودَپاره هروخت سرگردان وی.

[۲۸۲۸] دَ سودخور په خیټه کښې زهریله ماران اچول

٢٨٢٨—[٣٣] (١) ⓵ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "⓶ «أَتَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي عَلَى قَوْمٍ بُطُونُهُمْ كَالْبُيُوتِ ⓷ فِيهَا الْحَيَّاتُ تُرَى مِنْ خَارِجِ بُطُونِهِمْ ⓸ فَقُلْتُ: مَنْ هَؤُلَاءِ يَا جِبْرِيلُ؟ ⓹ قَالَ: هَؤُلَاءِ أَكَلَةُ الرِّبَا» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ⓵ حضرت ابوهریره ﷛ وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ⓶ د معراج په شپه خما تیریدل په داسې خلقو وشوه چې د هغوئ خیټې د کورونو په شان (غټې غټې) وې ⓷ او د هغوئ خیټې د مارانو څخه ډکې وې چې د خیټو څخه بهر په نظر راتلل ⓸ ما (د هغه په لیدو سره په لوی حیرت سره د جبرائیل ﷷ څخه) پوښتنه وکړه چې اې جبرائیل! دا کوم خلق دي؟ ⓹ هغه وفرمایل چې دا سود خواره دي. (احمد ابن ماجه)

حل اللغات: - ① الْحَيَّاتُ: ماران.

نوټ- دحدیث د ترجمې څخه د سودخورو د عذاب مطلب ښکاره دي

[۲۸۲۹] په سودخوریاندې د رسول الله ﷺ لعنت ویل

٢٨٢٩—[٣٤] (٢) ⓵ وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "⓶ «لَعَنَ آكِلَ الرِّبَا وَمُوكِلَهُ ⓷ وَكَاتِبَهُ وَمَانِعَ الصَّدَقَةِ ⓸ وَكَانَ يَنْهَى عَنِ النَّوْحِ» " رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ⓵ د حضرت علي کرم الله وجهه په باره کې منقول دي چې هغه واوریدل ⓶ چې رسول الله ﷺ په سود اخستونکو سود ورکونکو ⓷ د سود استام لیکونکو د سود حساب کتاب لیکونکو او د صدقه څخه منع کونکو باندې لعنت فرمایلی ⓸ او حضور ﷺ به د ژړا (په مړي باندې ویر) کولو څخه منعه فرمایله. (نسائي)

حل اللغات: - ① النَّوْح: نوحه. په مړی باندې واویلا کول. او ژړا کول.

---

(١) اخرجه ابن ماجة فی کتاب التجارات/ باب التغلیظ فی الربا (رقم-٢٢٧٤) واحمد فی المسند: ٣٦٣/٢

(٢) اخرجه النسائی فی کتاب الزینة/باب الموتشمات وذکر الإختلاف علی عبد الله بن مرة والشعبی فی هذا (رقم-٥١٠٣)

تسهیلات:

قوله: وَمَانِعَ الصَّدَقَةِ:

د صدقې مانع جوړیدو وعید:- یعني یوخیرات نه برداشت کونکی بلکه هغه منع کونکې یعني داسې سړې چه نه پخپله صدقه کوی او نه بل څوك کولوته پریږدی.

قوله: عَنِ النَّوْحِ:

د نوحې معنی او حکم:- په مړی ژړا کونکې، دمړی صفتونه کولوسره په چغو چغوژړا کونکی ته نائح ونیلې شی اودَ ده دَ دې عمل نوم "نوحه" ده چه ناجائز اوحرام کاردې

د دریو ورځو څخه زیات د ماتم عدم جواز:- درې ورځې ماتم کول په یومړی باندې جائزدې دَ دریو ورځونه زیات ماتم اوخفګان کول جائزنه دی البته غم او دَ سترګونه اوښکې توئیدل جدا څیزدې کوم چه جائز دې بل ښځې له دَ خپل خاوند په مرګ باندې لس ورځې او څلور میاشتې ماتم کول یعني ؤول سنګارپریخودل کول جائز دی

[٢٨٣٠] حضرت عمر رضی الله عنه او دَ سود ضابطه نبودل

٢٨٣٠-[٣٠] (١) [١] وَعَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ" [٢] إِنَّ آخِرَمَا نَزَلَتْ آيَةُ الرِّبَا، [٣] وَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قُبِضَ وَلَمْ يُفَسِّرْهَا لَنَا، [٤] فَدَعُوا الرِّبَا وَالرِّيبَةَ". (رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ).

ترجمه: [١] د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه څخه دا ارشاد منقول دی [٢] چې آخري کوم څیز نازل شوی دی (یعني دقرآن کریم) د هغه معاملاتو سره متعلق چې کومه حصه د ټولو څخه په آخر کې نازله شویده هغه د ربا آیت دی [٣] اوداچې رسول الله ﷺ د دې دنیا څخه په داسې حالت کې تشریف یووړی چې حضور ﷺ د دې تفصیل بیان نه کړې [٤] نو سود هم پریږدئ او په کوم څیز کې چې د سود شك شبهه وي هغه هم پریږدئ. (ابن ماجه دارمي)

حل للغات:- ① الرِّيبَةَ: شک شبهه

تسهیلات: قوله: وَلَمْ يُفَسِّرْهَا:

دعدم تفسیر څخه مراد:- دَدې مطلب دانه دې چه حضوراکرم دَ سود متعلق قاعدې او ضابطې نه دی بیان کړې بلکه مطلب دادې چه حضورپاك باندې دَ رباحکم په آخری عمرکښې نازل شوې حضورپاك دَدې قاعدو خو بیان کړی دی لیکن دَ دې تفصیلات نی تردغه وخته پورې نه وو بیان کړې چه دَ دنیا نه نی تشریف یوړو لهذا سود هم پریږدئ او چرته چه دَ سود شك او احتمال وی هغه صورت هم پریږدئ نوحضورپاك دَ ضابطه په توګه شپږو څیزونوکښې دَ سود ذکر اوفرمائیلو په کوم سره چه دَ یوضابطه او قاعده طرف ته اشاره اوکړې شوه. دَدې اشارې تفصیلات ائمه مجتهدین دَ خپل اجتهاد په ذریعه بیان

(١) اخرجه ابن ماجة في كتاب التجارات / باب التغليظ في الربا (رقم-٢٢٧٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

کړل اوس هر یو ګوټ ددې قاعده کلیه لاندې راغلو لهذا چرته چه د سود قاعده جاری کیږی دهغې نه به خان ساتلې کیږی دحضرت عمر رضی الله عنه د قول هم دغه مطلب دې ملحدینو چه ددې قول نه د سود دمعاف کیدو کوم مطلب راویستې دې هغه الحاد او زندقه دې کوم چه د هغوی خپله ورثه ده

[٢٨٣١] د قرض داری څخه د فائدې حاصلولو حرمت

٢٨٣١—[٢٥] (١) ١ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ «إِذَا أَقْرَضَ أَحَدُكُمْ قَرْضًا ٣ فَأَهْدَى إِلَيْهِ أَوْ حَمَلَهُ عَلَى الدَّابَّةِ ٤ فَلَا يَرْكَبْهُ وَلَا يَقْبَلْهَا ٥ إِلَّا أَنْ يَكُونَ جَرَى بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ قَبْلَ ذَلِكَ» (رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ١ او حضرت انس رضی الله عنه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ٢ کله چې په تاسو کې یو سړی چاته قرض ورکړي ٣ او بیا قرض اخستونکی (هغه قرض ورکونکي ته څه تحفه ولیږله یا د سوارلۍ د پاره څه شی ورته ولیږلو ٤ نو هغه (قرض ورکونکی) دې نه په هغه حیوان سوریږي او نه دې د هغه تحفه قبلوي، ٥ خو کـه د قرض ورکونکی او قرض اخستونکی د دواړو منځ کې د مخکې څخه د تحفې یا د سوارلۍ د حیوان لین دین (راکړه ورکړه) جاري وو (نو بیا د هغه په قبلولو کې څه حرج نشته) ابن ماجه بیهقي.

حل اللغات: - ١ جَرَى: جاري وی.

تسهیلات:

قوله فَأَهْدَى إِلَيْهِ أَوْ حَمَلَهُ عَلَى الدَّابَّةِ فَلَا يَرْكَبْهُ وَلَا يَقْبَلْهَا:

د حدیث نه د یوې شرعی قاعدې استنباط: -یعنی د قرض ورکولو دوجې نه مدیون دغه دائن سره کومه هم د نرمئی معامله کوی هغه د سود په زمره کښې راځی ځکه چه قرض خواد خپل قرض د وجې نه دهغه نه دا فائده حاصله کړه او "کل قرض جرنفعا فهوربا" دعلماؤ متفقه قاعده ده کوم چه یوحقیقت دې که د دغه قرض د لین دین نه وړاندې مدیون دغه دائن سره د تحفه اوهدیه معامله کوله نود قرض نه پس هم جائز دی.

حدیث الباب او د امام ابو حنیفه رحمه الله عمل: - حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دخپل مدیون د مکان دسوری لاندې نه اودریدلو حالانکه سخت نمر هغه تنګ کړې وو. دا د دې ویرې نه وو چه چرته مدیون نه د دین د وجې نه څه نفع حاصله نه کړی. ددې نه معلومه شوه چه کوم خلق نن دورکښې د مدیون کورته ورځی د قرض دپاره شپه تیره وی اود قرض داری نه خوراك وغیره کوی دا ټول ناجائز اوحرام دی اوکه د اول نه ئې تعلقات وی نوهغه جدا خبره ده

(١) اخرجه ابن ماجة فی کتاب الصدقات/باب القرض (رقم-٢٤٣٢) والبیهقی فی شعب الایمان

[۲۸۳۲] د مقروض څخه د هديه اخستلو ممانعت

۲۸۳۲ - [۲۰] ()[۱] وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "[۲] «إِذَا أَقْرَضَ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فَلَا يَأْخُذْ هَدِيَّةً» "[۳] رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي تَارِيخِهِ، هَكَذَا فِي الْمُنْتَقَى.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړى چې چاته قرض ورکړي نو هغه دي د خپل قرضدار څخه بطور تحفه هم څه څيز نه قبلوي. [۳] امام بخاري رحمه الله دا روايت په خپل تاريخ كې نقل كړي دى او په منتقى كې هم دغه شان روايت منقول دى

نوټ: - ددې حديث وضاحت وړاندې د حديث نمبر (۲۸۴۱) په تسهيل كښې تيرشوي دي

[۲۸۳۳] د مقروض څخه د ډالۍ اخستلو ممانعت

۲۸۳۳ — [۲۱] ()[۱] وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى قَالَ: [۲] قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ [۳] فَلَقِيتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ سَلَامٍ [۴] فَقَالَ: "«إِنَّكَ بِأَرْضٍ فِيهَا الرِّبَا فَاشٍ، [۵] فَإِذَا كَانَ لَكَ عَلَى رَجُلٍ حَقٌّ فَأَهْدَى إِلَيْكَ حِمْلَ تِبْنٍ أَوْ حِمْلَ شَعِيرٍ أَوْ حِمْلَ قَتٍّ [۶] فَلَا تَأْخُذْهُ [۷] فَإِنَّهُ رِبًا» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوبرده ابن ابي موسى (تابعي رحمه الله) وايي [۲] زه چې مديني ته راغلم [۳] او د حضرت عبد الله ابن سلام (صحابي رضی الله عنه) سره يو ځای شوم [۴] نو هغه راته وفرمايل [۵] چې ته په يو داسې وطن كې يې چې هلته د سُود رواج ډير دى [۵] كه په چا ستا حق وي. يعني څوك ستا قرضدار وي) او هغه تاته د بوسو يا د اوربشو يا د وښو يو ګاډى د تحفې په طور دركوي [۶] نو هغه مه قبلوه [۷] ځكه چې هغه د سود حكم لري. (بخاري)

حل اللغات: - ① فَاشٍ: عام، ډير زيات. ② حِمْلَ: په معنى د محمول سره، بار، بوج. ③ تِبْنٍ: بهوس. بوره. ④ شَعِيرٍ: اوربشې. ⑤ قَتٍّ: شنه وابنه، شنه ګيا.

د راوي مختصر تعارف:

حضرت ابوبرده بن ابوموسى اشعرى رضی الله عنه: نوم عامر ابوبرده كنيت. دى د مشهورصحابى ابوموسى اشعرى رضی الله عنه ځوئ وو. حضرت ابوبرده رحمه الله زيات علم د حضرت عبدالله بن سلام رحمه الله نه زده كړې وو او دې سره سره ئې د خپل پلار نه هم علم حاصل كړې وو حافظ ذهبى رحمه الله ليكي: "ابوبردة ابن ابي موسى الاشعري الفقيه احدالائمة الاثبات". امام نووى رحمه الله په تهذيب الاسماء كښې فرمائى چه د هغه په توثيق او جلالت باندې د ټولو اتفاق دې. علامه ابن سعد رحمه الله فرمائى "كان ثقة كثيرا الحديث" احاديث په كثرت سره روايت كوى ثقه دې. د قاضى شريح رحمه الله نه په كوفه كښې قاضى جوړشو ددې نه پس د هغه ځوئ بلال قاضى جوړشو.

[۱]) لم اظفر على تخريجه في التاريخ الكبير للبخاري ولافي غيره من الكتب .شاه فيصل
[۲]) اخرجه البخاري في كتاب المناقب /باب مناقب عبد الله بن سلام رضى الله عنه (رقم-۳۸۱۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

وفات:-۱۰۴ھ کښې وفات شو. (۱) دَ راوی حدیث حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه حالات حدیث نمبر (۲۸۳) کښې تیرشوی دی.

تسهیلات: قوله: جَمَلَ تِبْنٍ:

مذکوره جملې مطلب:-یعنی چه مقروض دَ خر او قچر دَ بار برابر بهوس راوړی درکړی یا چه څه راوړی درکړی

قوله: أَوْجَمَلَ قَتٍّ:

د قت څخه مراد:- قت دَ یوښکلی وابنو نوم دې چه تك شنه وی کوم ته چه رطبه هم وائی مراد ترې نه ښکلې وابنه دی. کوم چه څناور په ډیر شوق سره خوری حبل دَمحبول په معنی کښې دې دَ ښکلې وښو تړلې شوې پنډ مراد دې.

قوله: فَلَاتَأْخُذْهُ فَإِنَّهُ رِبًا

دقرضداری څخه د نفعې احستلو حکم:- یعنی دَ قرض په دباؤ کښې چه کومه نفع هم حاصله شی هغه دَ سود په زمره کښې راځی اوکه دَ پخوانی دستور او رواج مطابق وی اودَمروت او احسان لاندې وی نو په دې کښې مضائقه نشته دې اوکوم خلق چه قرض ورکولوسره دَ څه نفع شرط لګوی دَهغې په حراموالی کښې هیڅ شك نشته دې

[٥] بَابُ الْمَنْهِيِّ عَنْهَا مِنَ الْبُيُوعِ

دَ ممنوع بیوعاتو بیان

خلاصة الباب:-

فيه أربعون أحاديث مشتملة على ثلاث مسائل:

① البیوع المنهية عنها: ۱، ۲، ۳، ۴، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۳۱، ۳۲، ۳۳، ۳۴، ۳۵، ۳۶.

② البیوع الجائزة: ۵، ۳۷، ۳۸، ۳۹.

③ الزجر على الغش: ۲۶، ۴۰.

د ژوند تیرولو دپاره د اسلام کامل نظام:- اسلام چونکه یوژوندې او آباد مذهب دې اودا کامل مکمل بالکل کامله دَ ژوند یوضابطه ده په دې وجه په دې کښې دَ انسان دَ ژوند دَ تولوا ړخونو دَ ضروریاتو او مشکلاتو حل موجود دې هم په دې سلسله کښې اسلام دَ هر

(۱) ابن سعد۵/۱۸۷).(۲) البخاری فی المغازی باب من قال فی الخطبة بعد الثناء أما بعد).
(۳) روضة المتیقین۲/۷۹.

انسان د لين دين او د اخستلو خرخولو هره يوه زاويه د نظر لاندې ساتي او هروخت د انسان لازخودنه كوي چه داسې كوه په دې كښې فائده ده او داسې مه كوه په دې كښې نقصان دې اوس چه په بيوعاتو كښې د نه كولو كوم ممنوعه صورتونه دي په شريعت كښې د هغې ښه وضاحت كړې شوې دې بعض صورتونه خو هغه دي د كوم ممانعت چه د حرام په توګه دې او د بعض ممانعت د كراهت په توګه دې هم دا په زيربحث باب كښې بيانولې شي

په عباداتو ه باطل او فاسد مفهوم:- په عباداتو كښې چې كله لفظ باطل او فاسد استعماليږي نو په دې كښې هيڅ فرق نشته دې دواړه الفاظ د غيرمقبول او ناجائز د پاره استعماليږي

په بيوعاتو كښې ه باطل او فاسد مفهوم:- د بيوعاتو او معاملاتو معامله بل شان ده دا الفاظ چه كله په بيوعاتو كښې راځي نو په باطل او فاسد كښې فرق وي بيع فاسد هغه وي چه اصلاً صحيح وي مګر وصفاً صحيح نه وي او بيع باطل هغه وي چه نه اصلاً صحيح وي او نه وصفاً صحيح وي

مزيد وضاحت:- په نورو الفاظو كښې داسې او ګڼړئ چه بيع فاسد كښې خرڅ كړې شوې څيز د قبض كولو نه پس د مشترى په ملكيت كښې راځي سره د دې چه حرام وي ليكن په بيع باطل كښې يو خرڅ شوې څيز د مشترى په ملكيت كښې نه راځي په ممنوع بيوعاتو كښې دا هم دي چه كوم څيز مال نه دې د هغې بيع كول صحيح نه دي او كوم څيز چه د چا په لاس كښې نه دې د هغې بيع صحيح نه ده كومه بيع چه جګړه او فساد پيدا كوي هغه جائز نه ده په معاملاتو كښې دروغ دهوكه او وعده خلافي كنځلې وغيره كول هم حلال مال خرابه وي لهذا د دې نه ځان ساتل ضروري دي دغه شان په بيوعاتو كښې د عقد بيع منافي شرط لګول هم باطل دي

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[٢٨٣٣] د بيع مزابنه تعريف او ممانعت

٢٨٣٣- [١] (١) ① عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُزَابَنَةِ: ② أَنْ يَبِيعَ تَمْرَ حَائِطِهِ إِنْ كَانَ نَخْلًا بِتَمْرٍ كَيْلًا ③ وَإِنْ كَانَ كَرْمًا أَنْ يَبِيعَهُ بِزَبِيبٍ كَيْلًا أَوْ كَانَ ④ وَعِنْدَ مُسْلِمٍ وَإِنْ كَانَ زَرْعًا أَنْ يَبِيعَهُ بِكَيْلِ طَعَامٍ ⑤ نَهَى عَنْ ذٰلِكَ كُلِّهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

١) اخرجه البخاري في كتاب البيوع/باب بيع الزرع بالطعام كيلا (رقم ٢٢٠٥) ومسلم في كتاب البيوع/باب تحريم بيع الرطب بالتمر إلا في العرايا (رقم-٧٦ - ١٥٤٢) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في العرايا والرخصة في ذلك (رقم: ١٣٠٠) والنسائي في كتاب البيوع/باب بيع الزرع بالطعام (رقم-٤٥٤٩) وابن ماجة في كتاب التجارات/ باب المزابنة والمحاقلة (رقم-٢٢٦٥) ومالك في الموطا كتاب البيوع/باب ما جاء في المزابنة والمحاقلة (رقم-٢٣) واحمد في المسند: ٧/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [١] حضرت ابن عمر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ د مزا بنه څخه منع فرمايلي ده [٢] او مزابنه دا ده چې يو سړی د خپل باغ ميوه (تازه ميوه) که هغه کجوري وي د وچو کجورو په بدله کې د پيمانې په ذريعه (مثلًا د لس پيمانې په قدر) خرڅه کړي (يعني د يو سړي په باغ کې تازه کجوري لګيدلي دي او د يو بل سړي سره اوچې کجوري پرتې دي نو باغ والا سړی د هغه دويم سړي څخه لس پيمانې د کولو سره اوچې کجوري واخلي او د هغه په عوض کې په خپله ونه کې تازه کجوري د هغه پيمانې مطابق اندازه کړي خرڅې کړي) [٣] او که ميوه انګور وي نو د هغه د وچو انګورو په بدله کې د پيمانې په ذريعه يې خرڅ کړي (حاصل دا چې د بيع مزابنه مطلب دا دی چې په ونه باندې لګيدلي ميوي که هغه کجوري وي يا يو بله ميوه وي د اوچې ميوي په عوض کې خرڅول) [٤] او په مسلم کې دا هم دي که فصل وي نو (په هغه کې د بيع مزابنت شکل دا دی چې) هغه د غلې په عوض کې د پيمانې په ذريعه خرڅ کړي (يعني په کښې تې کې ولاړه غله د ايښودل شوي غلې په عوض کې خرڅه کړي مثلًا د يو سړي په کښې تي کې غنم ولاړ دی او د يو بل سړي سره غنم پراته دي نو مخکني سړی په خپله کښې تي کې د ولاړو غنمو اندازه کولو سره هغه د دويم سړي په لاس خرڅ کړي او د هغه په عوض کې د هغه سړي څخه هغه پراته غنم د خپلې اندازې مطابق پيمانه د کولو سره واخلي) [٥] حضور ﷺ د بيع دا ټول قسمونه منع فرمايلي دي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① اَلْمُزَابَنَةِ: د زبن نه په معنی د دفع کولو، فسخ کولو ② كَرْمًا: انګور

> [١] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: [٢] نَهَى عَنِ الْمُزَابَنَةِ [٣] قَالَ: "وَالْمُزَابَنَةُ: أَنْ يُبَاعَ مَا فِي رُؤُوْسِ النَّخْلِ بِتَمْرٍ بِكَيْلٍ مُسَمًّى [٤] إِنْ زَادَ فَلِي وَإِنْ نَقَصَ فَعَلَيَّ"، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او د بخاري او مسلم په يو بل روايت کې داسې دي [٢] چې حضور ﷺ د بيع مزابنت څخه منع فرمايلي ده [٣] او فرمايلي يې دي چې بيع مزابنه دا ده چې يو سړی په خپلو ونو کې لګيدلي تازه کجوري د يو سړي په لاس د هغه سره د ايښودل شوو اوچو کجورو په عوض کې پيمانه معين کولو سره خرڅې کړي [٤] او خريدار ته اووائي که د ونې کجوري د معين مقدار څخه زياتې شوي نو ځما دي (يعني زه به هغه اخلم او که کم وختلې نو د هغه هم ذمه واريم چې هغه کمی به زه پوره کوم)

تسهيلات:

قوله: عَنِ الْمُزَابَنَةِ:

ﻫ مزابنه لغوي معنی: —دا دَ زبن نه دي دَ دفع په معنی کښې دې ځکه چه په دې عقد کښې کوم سړی دهوکه خوړلې هغه ته دَ خبر کيدونه پس عقد دفع او فسخ کول پکار دي.

ﻫ مزابنه اصطلاحي تعريف: —دَدې اصطلاحي تعريف دادې چه په ونو باندې لګيدلي تازه

ميوې كه هغه عام ميوې وي او كه خاص كهجورې وي هم دَ دغه جنس كيخودې شوو اوچو ميوو په عوض دَ خرخولو نوم مزابنه دې دَدې نه لږ شان مختصر تعريف داسې دې چه په ونوباندې لګيدلې ميوې هم دَ هغه جنس دَ راشوكولو ميوو په بدله كښې خرڅولو نوم مزابنه دې

بهرحال په ونو باندې لګيدلې ميوې وي او كه فصل يا دَدې قسم نور څيزونه وي په ټولو باندې مزابنه صادق راځي كله دَ مزابنه اطلاق محاقله باندې هم كيږي

د بيع مزابنه د ممانعت وجه:- دَ مزابنه دَ ممانعت وجه داده چه په دې كښې په ونوباندې لګيدلې شوې ميوې معلوم نه دي په دې كښې جهالت دې صرف په اندازه سره وركولې شي اوهره هغه بيع په كومه كښې چه مبيعه يا ثمن مجهول وي هغه مفضى الى النزاع وي اومفضى الى النزاع بيع جائز نه ده لهذا مزابنه جائز نه ده دَ محاقله دَ ممانعت وجه هم دغه ده دَ مزابنه او محاقله تعريف پخپله په حديث كښې مذكور دې لهذا هم دغه كتل پكار دي

[٢٨٣٥] دَبيع محاقله ممانعت

٢٨٣٥ —[٢] ()[١] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: [٢]«نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنِ الْمُخَابَرَةِ وَالْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ [٣]وَالْمُحَاقَلَةُ أَنْ يَبِيعَ الرَّجُلُ الزَّرْعَ بِمِائَةِ فَرَقٍ حِنْطَةً [٤]وَالْمُزَابَنَةُ: أَنْ يَبِيعَ التَّمْرَ فِي رُءُوسِ النَّخْلِ بِمِائَةِ فَرَقٍ [٥]وَالْمُخَابَرَةُ كِرَاءُ الْأَرْضِ بِالثُّلُثِ وَالرُّبُعِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١]حضرت جابر رضي الله عنه وايي[٢] چې رسول الله ﷺ دمخابرت محاقلت او د مزابنت څخه منع فرمايلي ده [٣]او محاقلت دا دی چې يو سړی خپل فصل د سل فرق غنمو په بدله كې خرڅ كړي[٤] او مزابنت دا دی چې يو سړی په ونو كې لګيدلي كجورې د سل فرق اينودل شوو كجورو په بدله كې خرڅ كړي [٥]او مخابرت دا دی چې يو سړی خپله زمكه به يوه معينه حصه لكه دريمه يا څلورمه باندې كاشت د پاره وركړي. (مسلم)

حل اللغات:- ① الْمُخَابَرَةُ: زمكه په كرايه يا مزارعه باندې د وركولو يو ناجائز قسم. ② الْمُحَاقَلَةُ: د ولاړ فصل د خرڅولو د معاملې يو ناجائز قسم. ③ فَرَقٌ: يوه پيمانه چه د ١٦ رطل يعنى اته سيره برابرده

تسهيلات: قوله: وَالْمُحَاقَلَةُ:

د محاقله لغوى معنى:- دَباب مفاعله نه دې حقل آبادې زمكې ته هم وائى اوحقل مزارعت اوزميندارئى ته هم وائى دلته په زميندارئى كښې معامله كول مراددى.

() اخرجه مسلم فى كتاب البيوع/باب النهى عن المحاقلة والمزابنة، وعن المخابرة، وبيع الثمرة قبل بدو صلاحها، وعن بيع المعاومة وهو بيع السنين (رقم-٨١ - (١٥٣٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

د محاقله اصطلاحی تعریف: - دَ دې اصطلاحی تعریف داسې دې ولاړ فصل هم دَ هغه جنس دَ وتلې شوې غلې په بدله کښې دَ خرڅولو نوم محاقله دې دَ سود احتمال، دَ جګړې مکان او دَ جهالت مبیع دَ وجې نه دا بیع ناجائز ده

قوله: فَرَقٍ:

د لفظ فرق لغوي تحقيق او مصداق: -په راء باندې زبردې دادَ یوپیمانې نوم دې په کوم کښې چه ۱۶ رطل یعنی اته سیره غله راځی په دې کښې یولفظ دَ راء په سکون سره هم دې هغه دَ هغه پیمانې نوم دې په کوم کښې ۱۲۰ رطل غله راځی په دې حدیث کښې دَ فرق ذکر دَ مثال په توګه دې څه تحدید اوتعین نشته دې

[۲۸۳۶] دَ کلونو دَپاره د باغونو د خرڅولو ممانعت

۲۸۳۶ - [۳] ( ) [۱] وَعَنْهُ قَالَ «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَالْمُخَابَرَةِ وَالْمُعَاوَمَةِ وَعَنِ الثُّنْيَا [۲] وَرَخَّصَ فِي الْعَرَايَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه: [۱] حضرت جابر ﷺ وايي رسول الله ﷺ د محاقلت مزابنت مخابرت معاومت او ثنيا څخه منع فرمايلي ده [۲] ليکن حضور ﷺ د عرايا اجازت ورکړي دی. (مسلم)

حل اللغات: - ① الْمُعَاوَمَةِ: د ميوو ونې دکال يا دکال نه زيات په کرايه باندې ورکول ② الثُّنْيَا: استثنى کول. څه خاص حصه مستثنى کول ③ رَخَّصَ: اجازت ورکول. ④ الْعَرَايَا: عطيه ورکول

تسهيلات:

قوله: وَالْمُعَاوَمَةِ:

د بيع معاومه تعريف: - محاقله مزابنه او مخابره معنی دَدې نه وړاندې بيان شوی دی دلته په دې حدیث کښې دَ معاومه لفظ راغلې دې دادَباب مفاعله نه دې دَدې په ماده کښې لفظ عام پروت دې کوم چه دَ کال په معنی کښې دې لکه چه په مشاهره کښې "شهر" لفظ پروت دې علامه ابن اثير رحمه الله په نهايه کښې ليکلی دی چه دَ کهجورو وغيره ونو ميوې دوه کاله يا درې کاله يا دَدې نه زيات کلونو دَپاره خرڅولونوم معاومه دې

د بيع معاومه د ممانعت وجه: -دا بيع ناجائز ده خکه چه دَ مبيعه وجودنشته دې اودَ معدوم بيع ناجائزده خکه چه دا مفضی الی النزاع دې نن صبا تهيکداران خلق باغونه دَ دريو خلورو کالو په تهيکه باندې اخلی اوپيسې اول ورکوی کله په کال کښې ميوه راشی اوکله پيسې ضائع شی دا ناجائز او حرام دی

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب البیوع/باب النهی عن المحاقلة والمزابنة، وعن المخابرة، وبيع الثمرة قبل بدو صلاحها، وعن بيع المعاومة وهو بيع السنين (رقم-٨٥ - (١٥٣٦) والترمذی فی کتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی المخابرة والمعاومة (رقم: ١٣١٣) واحمد فی المسند: ٣١٣/٣

د بيع معلومه جائز صورت:- ددي آسان او جائز صورت دادي چه زمکه دې په اجاره باندې حاصله کړی د معاومه دويم نوم بيع السنين هم ده چه په راتلونکواحاديثوکښې ذکر دې

قوله وَعَنِ الثُّنْيَا:

د بيع ثنيا تعريف او د حرمت وجه:-ثاء باندې پيش اونون ساکن دې داد استثناء په معنى کښې دې ددې مطلب دادې چه په ونوکښې موجود ميوې خرڅې کړې شی ليکن په دې کښې غيرمعين مقدار مستثنى کړې شی مثلاً داسې اوونيلې شی چه مادا باغ په تاباندې خرڅ کړومګر يو څو ونې نه په دې کښې په مبيع کښې جهالت راغلو چه د جګړې سبب دې لهذا بيع فاسد ده دعرايا بحث په وربسې حديث کښې را روان دې

[٢٨٣٤] د بيع عرايا حکم

٢٨٣٤-[٥] (١) وَعَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ قَالَ (٢) «نَهَى رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ (٣) إِلَّا أَنَّهُ رَخَّصَ فِي الْعَرِيَّةِ أَنْ تُبَاعَ بِخَرْصِهَا تَمْرًا (٤) يَأْكُلُهَا أَهْلُهَا رُطَبًا» (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه: (١) حضرت سهل ابن ابي حثمه وايي (٢) چې رسول الله ﷺ په ونه کې د لګيدلو کجورو د وچو کجورو په بدله کې د خرڅولو څخه منع فرمايلي ده (٣) ليکن حضور ﷺ د عريه (يو محتاج ته د ورکول شوي ونې) متعلق دا اجازت ورکی چې هغه په ونې باندې لګيدلې ميوه د هغه د وچيدو (څخه وروسته مقدار) آندازه کولو سره خرڅ شي (يعني دا اندازه وشي چې په هغه ونه باندې لګيدلې تازه کجوري د وچيدو څخه وروسته به څومره وي او بيا په هغه مقدار کې وچې کجورې هغه محتاج ته ورکولو سره په هغه ونې باندې کجورې وآخستی شي) (٤) دغه شان د هغه مالك د هغه ونې ميوه تازه وخوري. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① الْعَرِيَّة: ددې جمع عرايا راځي، په معنى دخالى کولوسره. ② بِخَرْصِهَا: په اندازه کولو دهغې.

تسهيلات: قوله: الْعَرِيَّة:

د العرايا لغوى تحقيق:-داجمع ده ددې مفرد عرية دې کوم چه په دې حديث کښې ذکردې په نورو احاديثوکښې د جمع صيغه راغلې ده العرية والعرايا د الاضحية والضحايا او المطية والمطايا په شان دې عريه دتعرى نه دې چه د بربنډولو او خالى کولويه معنى کښې دې چونکه د باغ مالك د يوڅوکهجورو نه لاس راکاږی خالى کوی په دې وجه دې ته په لغوى توګه باندې عريه اووئيلې شو

(١) اخرجه البخارى فى كتاب البيوع/باب بيع الثمر على رءوس النخل بالذهب أو الفضة (رقم-٢١٩١) ومسلم فى كتاب البيوع/باب تحريم بيع الرطب بالتمر إلا فى العرايا (رقم-٦٧ - (١٥٤٠) والنسائى فى كتاب البيوع/باب بيع العرايا بالرطب (رقم-٤٥٤٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

د عرايا په تفسير کښې مذاهب:-

په دې باندې دَ ټولو فقهاؤ اتفاق دې چه عرايا جائز ده البته توضيح تشريح اودَې تفسير اوتصوير کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې

① امام شافعي رحمه الله فرمائی چه په اصل کښې عريه دَ هغه محتاج خلقودَپاره وه چاسره چه نه څه باغ وو نه ورسره پيسه وه اوهغوی سره به اوچې کهجورې وې کله چه به دَ کهجورو موسم راتلو نودَهغوی به دَ رطب خوړلو شوق پيدا کيدو دَ اخستلو گنجائش دَنشتوالي دَ وجې نه هغوی حضورپاك ته درخواست اوکړو چه دَ اوچوکهجورو په بدله کښې که موږ ته رطب ملاؤ شي نو حضورپاك اجازت ورکړو اودا شرط ئې اولګولو چه دَ اوچو کهجورو وزن دې معلوم وی کيل دې معلوم وی اودا معامله دې په پنځو وسق کښې وی چونکه دا دَ ضرورت لاندې اجازت وو لهذا دَ ضرورت په رڼړا کښې دا بيع مزابنه نه مستثنی اوګرځولې شوه ګنې په حقيقت کښې داهم مزابنه ده لکه چه مزابنه په دوه قسمه باندې ده يوه مزابنه ناجائز ده او دويمه مزابنه جائز ده دکوم نوم چه عريه دې.

② دَامام مالك رحمه الله نه دَ عريه دوه تفسيرونه نقل دی اول تفسير اوتصوير دادې چه دَ عريه صورت به داشان وومثلاً دَ يوسړی به لوئی باغ وو په دغه لوئی باغ کښې به دَ دويم سړی په توګه دَملکيت دَ کهجورو يوځو ونې وې دَ عربو دستور وو چه دَ ميوې دَراشوکولو په موسم کښې دَ خپل بال بچ سره خپلو باغونو ته راتله خيمې لګولوسره به اوسيدل اوس به دا مشکل پيښيدو چه باغ ته به هغه سړې هم تلو راتلو دَ چا چه يوځو ونې ملکيت وې دې سره به دَ لوئي باغ والاته تکليف کيدو. په دې وجه به هغه دغه سړی ته اوچې کهجورې ورکولوسره دَهغه دَ هغه ونې اخستلې. چونکه دا خالص مجبوری وه په دې وجه حضورپاك ددې اجازت ورکړو لکه چه دا هم دَ مزابنه يو صورت وو ليکن دَ مجبورئی دَ وجې نه خلاص ګرځولې شوې

③ امام مالك رحمه الله دَ عريه دويم تفسير داسې هم بيان کړې دې کوم چې احنافو امامانو اختيار کړې دې هغه داسې چې دې وخت کښې مثلاً دَ باغ مالك په باغ کښې يوسړی ته دَ هبه په توګه اوعطيه کښې يو څوکهجورې ورکولې بيا دَ موهوب له سړی په تګ راتګ سره دَ باغ مالك ته تکليف کيدلو په دې وجه دَ باغ مالك دَ خپل کور نه اوچې کهجورې ورکولوسره هغه فارغ کولو ددې مجبورئی دَ وجې نه حضورپاك دَمزابنه ددې صورت اجازت ورکړې وو

د امام مالك د تفسير اختيارولو وجه:- احنافو دَ امام مالك رحمه الله دا تفسير څکه اخستې دې چه امام مالك رحمه الله دَاهل مدينه لغت ته دَ ټولو نه بهترين لغت وئيلو او په اهل مدينه کښې دَعريه هم دغه تفسير شائع وو لهذا دَ هغې اخستل دَټولو نه بهتر دی

اعتراض: - دَ احنافو دَ تفسیر مطابق دَهبه نه رجوع کول لازم راځي چه دَ باغ مالك اول ونې هبه کړې بیا رجوع کولو سره اوچې کهجورې ورکړې دا څنګه جائزشو؟

داعتراض جواب: - دلته اول دَهبه نه رجوع نه ده کړې شوې بلکه دا نی فسخ کړې ده ځکه چه تراوسه پورې دَ دې قبضه نه وه شوې نودا استردادالهبة بالهبة دې. دَ یوې عطیه په ځائی بله عطیه ورکړه په دې کښې هیڅ مضائقه نشته دې

د مالکیانو او احنافو په تنقیح کښې فرق: - لیکن دَمالکیه او احناف تنقیح اوتخریج کښې لږ شان فرق دې

① هغه دا چه مالکیه دې ته بیع جدید وائی اودا بالکل مزابنه ګرځوی مګر دَ ضرورت دَ وجې نه دا دَ مزابنه نه مستثنی ګرځوی.

② لیکن احناف دا صورت هبه اوعطیه ګرځوی اووائی چه دلته دَ یوې هبې بلې هبې سره تبادله شوې ده نودا استردادالهبة بالهبة دې. اګرچه دَ بیع صورت دې مګر حقیقت کښې عطیه ده دلته دَمزابنه هډو سوال نه پیداکیږی او په حدیث کښې دَ مزابنه نه دَعرایا استثناء منقطع ده. لهذا عرایا په مزابنه کښې بالکل داخل نه ده ځکه چه دَمزابنه ممانعت په ډیرو زیاتو احادیثوکښې راغلې دې.

د عری تفسیر په عطیه سره د اهل لغت د اقوالو په رڼرا کښې: -

① امام لغت ابوعبید رحمه الله فرمائی العریة العطیة.

② امام لغت ازهری رحمه الله هم دا شان تفسیر کړې دې.

③ ابن سیده هم عریه ته عطیه وئیلې ده

④ جوهری رحمه الله هم عریه ته عطیه وائی

⑤ په صحاح کښې هم دغه قول نقل دې

⑥ صاحب قاموس متشدد شافعی دې هغه دَ عریه تعریف په عطیه سره کړې دې چه دا عریه عطیه ده.

⑦ علامه ابن منظور لسان العرب کښې لیکلی دی "أَعْرَاهُ النَّخْلَةَ وَهَبَ لَهُ ثَمَرَةَ عَامِهَا" یعنی دَ پوره کال دَپاره میوه عطیه کولونوم عریه دې

⑧ امام طحاوی رحمه الله یو حدیث نقل کړې دې په کوم کښې چه په واضح توګه دَ عریه تصویر دَعطیه دې فرمائی ((رخص فی العرایا فی النخلة والنخلتین توهبان للرجل بیبعهما بخرصهما تمرًا))

د پنځو وسقو نه په کم مقدار کښې د عرایا د اجازت وجه: - دَدې حدیث نه پس والاحدیث کښې پنځه وسق نه کم کښې دَعریه حکم ورکړې شوې دې چونکه عریه دَ حاجت اوضرورت دَ وجې نه جائزګرځولې شوې ده او ضرورت هم په دې مقدارکښې پوره کیدلو په دې وجه

Maktaba Tul Ishaat.com

دَدې ذکر کړې شوې دې يو وسق دَ ۶۰ صاع وی او په يو صاع کښې دَ انګريزی سير په حساب سره درې نيم سيره غله راځی او په پنځه وسقو کښې ۲۶ من غله راځی (بخاري: ۲/۹۹ و مسلم: ۱/۶۶۸)

[۲۸۳۸] د بيع عرايا مسئله

٢٨٣٨ — [د] (¹) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «أَرْخَصَ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا بِخَرْصِهَا مِنَ التَّمْرِ ② فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ أَوْ فِي خَمْسَةِ أَوْسُقٍ» ③ شَكَّ دَاوُدُ بْنُ الْحُصَيْنِ. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه: ① حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ عرايا (محتاجو ته عاريتاً د ورکول شوو ونو ميوه) په وچو کجورو سره اندازه کولو سره د خرڅولو اجازت ورکړې دی (يعني که په عرايا باندې لګيدلې کجورې په وچو کجورو سره بدلول وي نو مخکښې دې دا اندازه وشي چې دا تازه کجورې وچيدو څخه وروسته به څومره وي بيا په هغوی مره مقدار کې وچې کجورې په اخستو سره تازه کجورې ورکول شي ② خو د دې اجازت تعلق د دې صورت سره دی کله چې هغه د پنځه وسق څخه کمې وي يا پنځه وسق وي ③ د دې حديث يو راوي داؤد د ابن حصين ته شک دی (چې حضور ﷺ په ارشاد کې د پنځه وسق څخه د کم تذکره وه يا د پنځه وسق تذکره وه)، بخاري مسلم.

حل اللغات - ① أَرْخَصَ: اجازت ورکول. ② الْعَرَايَا: د دې مفرد عرية راځی. په معنی د خالی کولو سره. ③ بِخَرْصِهَا: په اندازه کولو د هغې ④ أَوْسُقٍ: د وَسق جمع ده. يو خاص پيمانه چه د شپيتو صاع برابر وی

تسهيلات:

نوټ: — د حديث نمبر (۲۸۳۷) په تسهيل کښې د دې حديث شرح ذکر شوې ده

[۲۸۳۹] د ميوې د پخيدو څخه وړاندې د هغې د خرڅولو ممانعت

٢٨٣٩ — [١] (²) ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ: ② «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُهَا، ③ نَهَى الْبَائِعَ وَالْمُشْتَرِيَ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: «نَهَى عَنْ بَيْعِ النَّخْلِ حَتَّى تَزْهُوَ، وَعَنِ السُّنْبُلِ حَتَّى يَبْيَضَّ وَيَأْمَنَ الْعَاهَةَ».

¹) اخرجه البخاري في كتاب البيوع/باب بيع الثمر على رءوس النخل بالذهب او الفضة (رقم-٢١٩٠) ومسلم في كتاب البيوع/باب تحريم بيع الرطب بالتمر إلا في العرايا (رقم-٧١ - (١٥٤١) ابوداود في السنن كتاب البيوع/باب في مقدار العرية (رقم-٣٣٦٤) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في العرايا والرخصة في ذلك (رقم: ١٣٠١) ومالك في الموطا كتاب البيوع/باب ما جاء في بيع العرية (رقم-١٤)

²) اخرجه البخاري في كتاب البيوع/باب بيع الثمار قبل أن يبدو صلاحها (رقم-٢١٩٤) ومسلم في كتاب البيوع/باب النهي عن بيع الثمار قبل بدو صلاحها بغير شرط القطع (رقم-٤٩ - (١٥٣٤) وابوداود في السنن كتاب البيوع/باب في بيع الثمار قبل أن يبدو صلاحها(رقم: ٣٣٦٧) وابن ماجه في كتاب التجارات/ باب النهي عن بيع الثمار قبل أن يبدو صلاحها (رقم-٢٢١٤)

ترجمه: [١] حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه وايي [٢] چې رسول الله ﷺ د ميوو هغه وخته پورې د خرڅولو څخه منع فرمايلي ده د څو پورې چې د هغه پوخ والى ښكاره نشي [٣] دا ممانعت د خرڅونكو او د خريدار دوارو د پاره دى. بخاري مسلم. د مسلم په يو روايت كې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ د كجورو ميوه هغه وخته پورې د خرڅولو څخه منع فرمايلي ده د څو پورې چې هغه سره او زيړه نشي او حضور ﷺ د فصل د وږو هغه وخته پورې د خرڅولو څخه منع فرمايلي ده د څو پورې چې هغه پاخه نشي او د يو آفت څخه محفوظ نشي

حل اللغات: - ① يَبْدُوَ: چه ښكاره شي، ② صَلَاحُهَا: پوخ والي دهغې، ③ تَزْهُوَ: ميوه زيړه يا سره كيدل. ④ السُّنْبُل: وږي، ⑤ يَبْيَضَّ: سپينيدل، پخيدل، ⑥ الْعَاهَةُ: آفت

تسهيلات:

قوله: يَبْدُوَصَلَاحُهَا: يعنى تركومې پورې چه په ميوه كښې پوخوالي نه وى ښكاره شوي دَدې نه مخكښې دَدې خرڅول حرام دى

د بدؤ الصلاح په تفسير كښې اقوال:

① تفسيرد شوافع په نيزدادې چه ميوه پخيدل شروع شي

② احناف دا تفسيركړې دې چه ميوه دَعام آفت او تباهئى نه محفوظ شي

د ميوې پخيدو دپاره د مختلفو الفاظو استعمال: - دې حديث كښې دَ يبدوالصلاح لفظ راغلي دې په نورو روايتونوكښې نور هم الفاظ راغلى دى مثلاً ① حتى يزهو ② حتى يبيض ③ حتى تزهى ④ حتى تحمر ⑤ حتى يحمارّ ⑥ حتى يشتد ⑦ حتى يسود. دَ دې ټولو احاديثو اودې ټولو الفاظوسره هم يوه خبره بيانول مقصود دى هغه دا چه "بُدُوَّالصَّلَاحِ" نه مخكښې بيع مه كونى يعنى تركومې پورې چه ميوه دَخه آفت نه مامون اومحفوظ نه وى هغه مه خرڅونى

د آفت څخه د محفوظ كيدو علامات: - دَ آفت نه محفوظ كيدو دَپاره مختلف علامات دى

① بعض ميوه او فصل په سپينيدو باندې دَ آفت نه محفوظ كيږى

② بعض په سره كيدو باندې

③ بعض په توريدو باندې

④ بعض په زيړيدو باندې محفوظ كيږى دې مختلف الفاظو سره هم دې مختلف حقائق طرف ته اشاره كړې شوې ده

د ميوې خرڅولو دوه صورتونه: - دَ فصل اوميوو خرڅولو دوه صورتونه دى

① بيع قبل بدوالصلاح

② بيع بعدبدوالصلاح

Maktaba Tul Ishaat.com

په هر صورت کښې هرڅ صورتونه :- بيا په دوو صورتونو کښې درې صورتونه دی

① يعنی بيع بشرط القطع چه بائع شرط اولګوی چه ميوه به فوری توګه باندې دَ ونو نه پرې کوې

② بيع بشرط الترك يعنی په عقد کښې دا شرط وی چه په ونو کښې دا ميوه به دَ فلانکی وخته پورې لګيدلې وی

③ بيع بالاطلاق يعنی عقد کښې نه دَ ميوې پرې کولو ذکر وی اونه دَترك ثمر ذکر وی دغه شان ټول شپږ صورتونه جوړشو درې قبل بدوالصلاح او درې بعدبدوالصلاح په دې مسئله کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې

د ميوې د خرڅولو په حکم کښې مذاهب :-

① دَ شوافع اوحنابله په نيز بعدبدوالصلاح دريواړه صورتونه جائز دی او دَ قبل بدوالصلاح دريواړه صورتونه ناجائز دی. البته قبل بدوالصلاح يوصورت عقلاً مستثنٰی ګرځولې شوې دې يعنی بشرط القطع ځکه چه په دې کښې دَ جګړې امکان نشته دې

② دَ احنافو په نيز دارومدار په قطع ثمر اوترك ثمر باندې دې که چرې بيع بشرط قطع الثمر وی نو قبل بدوالصلاح هم جائز دې او بعدبدوالصلاح هم جائز ده اوکه چرې بيع بشرط ترك الثمر وی نو قبل بدوالصلاح هم ناجائز ده او بعدبدوالصلاح هم ناجائز ده.

③ دَ مالکيه په اقوالو کښې انضباط نشته دې په دې وجه دا نشی ليکلې.

دَ فقهاؤ اختلاف په اصل کښې بشرط ترك الثمر کښې دې

داول فريق دليل :- ((نهی رسول الله صلی الله عليه وسلم عن بيع وشرط)) دا معروف حديث دې دې کښې بيع صلب عقد کښې دَ شرط لګولونه ممانعت راغلې دې دا شرط دَ عقد بيع منافی دې اوپه دې کښې دَمشتری دَپاره فائده ده ځکه چه هغه وائی زه ميوه اخلم مګر په دې شرط چه ميوه به دَدومره مودې پورې پخپلو ونوکښې پريخودې پريږدې دغه شان بيع اوشرط ناجائز دې

د اول دليل هغه دوه جوابونه :- ①دَ زير بحث حديث تعلق بشرط ابقاء الثمر نه دې اودا ناجائز ده دَ باقی صورتونونه نه دې

②امام طحاوی رحمه الله دا حديث بيع سلم باندې حمل کړې دې ځکه چه په سلم کښې بدوالصلاح په اتفاق سره ضروری دې

د دويم فريق دليل :- د دويم فريق دليل د نبی کريم ﷺ ارشاد دې ((من باع نخلا بعد أن تؤبر فثمرها للبائع إلا أن يشترط المبتاع)) (٣٠) په دې حديث کښې نبی عليه السلام د مشتری د

شرط لګولو په صورت کښې ميوه په بيع کښې داخل کړې ده.حالانکه چه په کوم وخت کښې د کهجورې تابير کيږي.په هغه وخت کښې په ميوه کښې ،، بدو صلاح،، نه وي.او په هغه وخت کښې نبي عليه السلام ددې بيع جائز کړې ده.د دې نه معلومه شوه که په ونه باندې د پريخودوشرط او نه نشي لګولې نو د ،، بدو صلاح ،، نه وړاندې د ميوې خرڅول جائز دي.

په دليل اعتراض:- دلته کښې رسول الله ﷺ د ميوې بيع د کهجورې د بيعې په ضمن کښې جائز ګرځولې ده.مستقل ئې نه ده ګرځولې.او داسې ډير څيزونه دي.چه په هغې کښې د يوڅيز بيع ضمنا خوجائز وي.خومستقلا جائز نه وي.مثلا د شرب طريق او مسيل بيع مستقلا جائز نه ده.ليکن د زمکې او مکان د بيعې په ضمن کښې جائز ده.

د اعتراض جواب:- په فقه کښې دا خبره منلې شوې ده.چه کوم څيز په بيع کښې د شرط لګولونه بغير داخليږي.نودهغې بيع مستقلا هم جائز وي.او په حديث کښې رسول الله ﷺ دا خبره ښکاره کړې ده.چه د شرط نه بغير ميوه د ونې په بيع کښې نه شامليږي.ددې نه معلومه شوه. چه د ميوې بيع مستقلا بغيرد شرط لګولوڅخه د ونې په بيع کښې داخل نه ده.نود ميوې بيع مستقلا هم جائز ده.

[٢٨٣٠] باغ کښې د ميوې پخيدوڅخه روسته د خرڅولو جواز

٢٨٣٠—[٤] ()[١] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: "«نَهَى[٢] رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ حَتَّى تُزْهِيَ.[٣] قِيلَ: وَمَا تُزْهِيَ؟[٤] قَالَ: حَتَّى تَحْمَرَّ.[٥] وَقَالَ: أَرَأَيْتَ إِذَا مَنَعَ اللهُ الثَّمَرَةَ[٦] بِمَ يَأْخُذُ أَحَدُكُمْ مَالَ أَخِيهِ؟»". (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه:[١] حضرت انس رضی الله عنه وايي[٢] چې رسول الله ﷺ ميوې په ونو هغه وخته پورې د خرڅولو څخه منع فرمايلي ده د څو چې هغه خوش رنګه نشي، [٣] عرض وشو د خوش رنګ کيدو څه مطلب دی؟[٤] حضور ﷺ وفرمايل چې د څو هغه سرې نشي يعنی پخې نشي[٥] او بيا يې وفرمايل چې تاسو وښايئ که الله ﷻ ميوې (د پخيدلو څخه) منع کړې[٦] نو په تاسو کښې به يوڅوك د خپل ورور مال په کومه وجه واخلي ، (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① تُزْهِيَ: ميوه زيړه يا سره کيدل. ② تَحْمَرَّ: چه سره شي

تسهيلات: **قوله:** عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ حَتَّى تُزْهِيَ:

د کچه باغ د خرڅولو د ممانعت وجه:- مطلب دادې چه د ميوو د پخيدلو نه مخکښې دهغې په خرڅولوکښې ددې خبرې خطره وی چه شايد څه آفت مثلا تيزه هوا ، باران وغيره

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب البيوع/باب إذا باع الثمار قبل أن يبدو صلاحها، ثم أصابته عاهة فهو من البائع (رقم-٢١٩٨) ومسلم فی کتاب المساقاة/باب وضع الجوائح(رقم-١٥ - (١٥٥٥) والنسائی فی کتاب البيوع/باب شراء الثمار قبل أن يبدو صلاحها على أن يقطعها، ولا يتركها إلى أوان إدراكها(رقم: ٤٥٢٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

راشي او ميوې د وونو نه راوغورزيږي او ضائع شي په دې صورت کښې چه خرخونکې د اخستونکي نه د ميوو د قيمت په طور باندې څه هم اخلي هغه به ده ته بغير د عوض نه په مفت کښې ملاويږي، لهذا دا ضروري ده چه د ميوو د پخيدلو پورې صبر اوانتظار اوکړې شي، کله چه هغه پخې شي نوهغه وخت د اخستلو خرڅولو څه معامله کول پکار دي

[٢٨٣] دَ ډيرو کلونودَپاره دَباغ ميوه د خرڅولو ممانعت

٢٨٣١ — [٨] () ① وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: ② «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَيْعِ السِّنِينَ ③ وَأَمَرَ بِوَضْعِ الْجَوَائِحِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جابر ﷺ وايي ② چې رسول الله ﷺ د څو کلونو د پاره ميوه د خرڅولو څخه منع فرمايلي ده (يعني يو کال يا دوه کاله يا درې کاله يا د دې څخه زيات کلونو د پاره د ونو ميوه پيشګي خرڅول نه دي پکار) ③ او حضور ﷺ د آفت څپلی سره د رعايت حکم ورکړې دی، (مسلم)

حل اللغات: - ① السِّنِينَ: د کلونو پورې، ② وَضْع: کمول، پريخودل، ③ الْجَوَائِح: دَ جائحة جمع ده يعني اوميوه وغيره باندې آسماني آفت راتلل، او نقصان کيدل،

تسهيلات: قوله: بِوَضْعِ الْجَوَائِحِ:

د حديث د دوه اجزاو دوه حکمونه: -په دې حديث کښې دوه حکمونه ذکردی

① د ميوې او باغونه دَ ډيرو کلونودَپاره پيشګی خرڅول جائزنه دی ځکه چه که ميوه رانغله نومالك او بايع دَ کوم اصول لاندې دَ مشتري پيسه اوخوړله داناجائزدي

② په "وامربوضع الجوائح" کښې بيان کړې شوې ده

دحديث مطلب: - دَحديث مطلب دا شوچه حضورپاك اوفرمائيل که يوسړی دَ چانه باغ واخستلو او په هغې کښې ميوه هم راغله مګر دَ څه وجې نه دَ حادثه ښکارشويا يع تردغه وخته پورې دَ مشتري نه پيسې نه دی وصول کړی اومال تباه شو نوحضورپاك بايع ته دَ اخلاقو تلقين کړې چه اوس ته دَ مشتري په پيسوکښې څه کمې اوکړه ځکه چه دَهغه لاس ته هيڅ هم رانغلل داحکم هم د اخلاقياتو حسن سلوك او مروت په بنياد دې ګنی دَ قاعده اوقانون لاندې خو به مشتري ته هيڅ هم نه ملاويږی ځکه چه مبيع دَ مشتري دَ قبضې نه پس هم دهغه په لاس کښې ضائع شوه نودَ دې مسؤليت هم دَ هغه په ذمه دې ځکه چه دَ شريعت عام ضابطه ده چه "الغنم بالغرم والخراج بالضمان" يعنی تاوان به هم هغه سړې برداشت کوی چه دَ ګټې حقدار وی

() اخرجه مسلم فی کتاب البيوع/باب کراء الأرض (رقم-١٠١ - (١٥٣٦) وابوداود فی کتاب البيوع/باب فی بيع السنين (رقم-٣٣٧٤) والنسائی کتاب البيوع/باب بيع الثمر سنين (رقم-٤٥٣١) وابن ماجة کتاب التجارات/ باب بيع الثمار سنين والجائحة (رقم-٢٢١٨) واحمد فی المسند: ٣٠٩/٣

[٢٨٣٢] دَ ضائع کیدو نکی مبیعې ذمه وار

٢٨٣٢-[١] ()[١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "[٢] «لَوْ بِعْتَ مِنْ أَخِيكَ ثَمَرًا فَأَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ[٣] فَلَا يَحِلُّ لَكَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا، بِمَ تَأْخُذُ مَالَ أَخِيكَ بِغَيْرِ حَقٍّ»؟". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[١] او حضرت جابر ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل[٢] که تاسو په یو مسلمان ورور میوه خرڅه کړه او څه داسې آفت راغلی چې هغه میوه ضائع شوه[٣] نو ستاسو د پاره د هغه څخه څه آخستل حلال نه دي (تاسو خپله سوچ وکئ چې په داسې صورت کې) د یو ورور مال به ناحق څنګه اخلئ. (مسلم)

حل اللغات: - ① جَائِحَةٌ: پتی او میوه وغیره باندې آسمانی آفت راتلل، او نقصان کیدل.

تسهیلات:

قوله: فَلَا يَحِلُّ لَكَ:

دهلاکت قبل القبض حکم: -یعنی که یوسړې په بل سړی باندې میوه یا فصل خرڅ کړی مګر دَمشتری دَ قبضه کولونه وړاندې دَ بایع په لاس کښې مبیع هلاك شی په دې صورت کښې دَ دې حدیث حکم بالکل واضح دې دَ څه تاویل ضرورت نشته دې

د مشتری په قبضه کښې د مبیع د هلاکیدو په صورت کښې مذاهب: -

① امام مالك رحمه الله فرمائی که چرې په باغ کښې دَ یو یه درې نه زیات نقصان شوې دې نو بیا دَ نقصان ذمه وار به بایع دې او که دَ یو یه درې نه کم نقصان شوې دې نو بیا دَ نقصان ذمه وار مشتری دې

② چه دَ بایع نه مشتری مبیع په قبضه کښې واخستو او بیا دَهغه په لاس کښې هلاك شو نو دَ احناف او شوافع په نیز به مشتری ذمه وار وی چه بایع ته قیمت ادا کړی

داول فریق دلیل: - دمالکیانو د مسلک مطابق دغه شان به په ټولو احادیثو کښې تطبیق راشی چه دَ زیات نقصان والا روایاتو تعلق بایع سره دې چه هم هغه ذمه وار دې او دکم نقصان والا روایاتو تعلق مشتری سره دې چه هغه ذمه وار دې

دحدیث الباب جواب: - دَ حدیث تعلق تقویٰ احسان، حسن اخلاق او مروت سره دې چه د اخلاق او مروت تقاضا داده چه بایع دې دَ مشتری نه هیڅ نه اخلی ځکه چه دَمشتری لاس ته هیڅ نه دی راغلی سره دَدې چه دَ ضابطه قانون او قاعدې مطابق دَده نه قیمت وصول کیدې شی

[١]) اخرجه مسلم فی کتاب المساقاة/باب وضع الجوائح(رقم- ١٤ - (١٥٥٤) أبواب الإجارة/باب فی وضع الجائحة (رقم-٣٤٧٠) والنسائی کتاب البیوع/باب وضع الجوائح (رقم-٤٥٢٧) وابن ماجة فی کتاب التجارات/ باب بیع الثمار سنین والجائحة (رقم-٢٢١٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

د دويم فريق دليل: - په مسلم شريف ج۲ص۱۶ کښې دَحضرت ابوسعيدخدري رضي الله عنه روايت د دې دليل دې چه حضورپاك مشترى ذمه وارګرځولې وو او خلقوته ئې دَهغه دَ پاره دَ صدقه کولو اپيل کړې وو

[۲۸۴۳] په منقولې څيزونوکښې د بيع قبل القبض عدم جواز

۲۸۴۳—[۱۰] (۱) «وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: كَانُوا يَبْتَاعُونَ الطَّعَامَ فِي أَعْلَى السُّوقِ فَيَبِيعُونَهُ فِي مَكَانٍ فَنَهَاهُمْ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَيْعِهِ فِي مَكَانِهِ حَتَّى يَنْقُلُوهُ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَلَمْ أَجِدْهُ فِي الصَّحِيحَيْنِ.

ترجمه: او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وائي د بازار په هغه حصه کې چې پورته خوا ته واقع وه خلقو به غله واخسته او بيا هغه ، په هغه ځای کې (په قبضه کې د اخستلو څخه مخکې) به يې خرڅوله، نو حضور صلى الله عليه وسلم هغه د دې خبرې څخه منع کړل چې د څو پورې غله (د خريد کولو څخه وروسته) د هغه ځای څخه منتقل نه شي په هغه ځای دې يې نه خرڅوي، دا روايت ابوداود نقل کی او ماته دا روايت په بخاري او مسلم کې نه دی حاصل شوی

حل اللغات: - ① يَنْقُلُوهُ: نقل کول (مبيع لره)

تسهيلات: **قوله:** حَتَّى يَنْقُلُوهُ:

د مبيع د نقل کولو مطلب: - مبيع نقل کولومطلب دادې چه ترکومې پورې دا مشترى په خپله قبضه کښې اخستې نه وى دَهغې خرڅول جائز نه دى.

د مبيع قبل القبض د بيعې او شراء صورتونه: -

① که چرې مبيع غله او خوراکی څيزونه وى نو مخکښې دَ قبضې اخستونه خرڅول جائز نه دى دا اتفاقى مسئله ده

② که چرې مبيع غلې او طعام نه علاوه څيز وى نو په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې

په دويم صورت کښې مذاهب: -

① امام شافعي رحمه الله اوامام محمد رحمه الله فرمائى چه څنګه دَ غله او طعام خرڅول مخکښې په قبضه کښې دَ راتلونه جائز نه دى دغه شان نور غيرمنقوله څيزونه زمکه اوکور وغيره خرڅول هم د قبضې نه مخکښې جائز نه دى

② دَ امام مالك رحمه الله په نيزغله اوطعام نه علاوه ټول څيزونه خرڅول مخکښې دَ قبضې نه جائز دى

(۱) اخرجه البخاري فى كتاب البيوع/باب منتهى التلقى (رقم-۲۱۶۷) ومسلم فى كتاب البيوع/باب بطلان بيع المبيع قبل القبض (رقم-۳۳ - (۱۵۲۷) وابوداود أبواب الإجارة/باب فى بيع الطعام قبل أن يستوفى (رقم-۳۴۹۳) والنسائى كتاب البيوع/باب بيع ما يشترى من الطعام جزافا قبل أن ينقل من مكانه (رقم-۴۶۰۶) ومالك فى الموطا كتاب البيوع/باب العينة وما يشبهها (رقم-۴۲)

④ امام ابوحنيفه رحمه الله امام ابويوسف رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيزدَ منقوله څيزونو خرڅول مخکښې دَ قبضې ناجائز دی ليکن غيرمنقوله څيزونه مثلاً زمکه کور وغيره خرڅول دَ قبضې نه مخکښې جائز دی

د اول فريق دلائل:- ① زير بحث حديث د اول فريق دليل دې

② دغه شان راتلونکې حديث نمبر(٢٨٤٣) کښې هم "حتى يستوفيه اوحتى يكتاله" الفاظ راغلی دی

③ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه "ولا احسب كل شئ الا مثله" يعنی دَتولو څيزونو هم دغه حکم دې دَدې تولو رواياتونه شوافع استدلال کوی

د اول فريق د دريم دليل جواب:- حضرت ابن عباس رضي الله عنهما چه څنګه حکم په منقوله اوغيرمنقوله تولو څيزونوکښې عام منلې دې دادَ هغوی خپله رائې او اجتهاد دې چه هغوی په غله باندې غيرغله قياس کړه.

د دويم فريق دليل:- امام مالك رحمه الله دَ زير بحث حديث نه استدلال کړې دې اوداحکم ئې صرف غله اوطعام کښې منحصرمنلې دې په نوروڅيزونوکښې پابندی نشته دې

د اول او دويم فريق د دلائلو څخه مجموعی جوابونه:- ① په دې حديث کښې دَ ممانعت اصل علت دَ مبيع دَ هلاکت ويره ده اودا علت په منقوله څيزونوکښې په فوری توګه باندې دې نوحکم اوشو چه اول قبضه کښې واخله بيا خرڅول کوه او په غيرمنقوله څيزونوکښې په فوری توګه باندې دَ هلاکت ويره نه وی لهذا دَدې دَ قبضه کولونه مخکښې دَدې خرڅول جائزدی

② دَهرڅيزدَ قبضه کولوجدا صورت وی. بعض څيزونوکښې صرف په کتلوسره قبضه راځی دَهغې نقل کول ممکن نه وی لکه زمکه وغيره او بعض ته نقل کولوسره قبضه ونيلی شی بعض کښې تول کول يا ناپ کولوته قبضه ونيلی شی. په دې وجه احنافو منقوله اوغير منقوله قاعده راويستلوسره حکم عام کړو چه دَحديث په تولو صورتونو باندې عمل اوشی شوافع صرف يوصورت خپل کړې دې

د دريم فريق دليل:- په زير بحث حديث کښې چه دَ غله او طعام ذکردې دادَ منقوله څيزونوطرف ته اشاره ده. لهذا په تولو منقوله څيزونوکښې قبل القبض بيع ناجائز ده

د ابن عمر حديث ته د ترجيح ورکولو وجه:- دريم فريق چې احناف دی دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما رائې ته ترجيح ورکړې ده هغوی فرمائی چه بيع قبض القبض کښې دَممانعت علت "ربح مالم يضمن" دې کوم چه ناجائز دې ځکه چه نفع شته اونقصان نشته دې. بهرحال که چرې مبيع دَمشتری په مخکښې وزن کړې شی يا ناپ کړې شی نودَمشتری دَپاره دوباره وزن کول او ناپ کول يا کيل کول ضروری نه دی. که چرې څوك ئې اوکړی نو استحبابی حکم دې

Maktaba Tul Ishaat.com

٢٨٣٤—[١] (١) ١ وَعَنْهُ قَالَ: ٢ قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٣ «مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ».

ترجمه: ١ او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي ٢ چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٣ كوم سړی چې غله واخلي نو هغه دي د هغه وخته پورې نه خرڅوي د څو پورې چې هغه په پوره طورسره وانخلي

حل اللغات: - ١ يَسْتَوْفِيَهُ: پوره طور سره اخستل

٢٨٣٥—(١) ١ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ: حَتَّى يَكِيلَهُ. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه: ١ او د حضرت ابن عباس رضي الله عنه په روايت كې دا الفاظ دي چې د څو پورې هغه ناپ تول نه كړي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ١ يَكِيلَهُ: ناپ تول كول

تسهيلات: قوله: حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ:

نوټ: - د بيع قبل القبض د مسئلې تفصيل د حديث نمبر (٢٨٢٣) په په شرح كښې تيره شوې ده

[٢٨٣٦] د طعام قبل القبض د بيع ممانعت

٢٨٣٦—[٢] (٢) ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: ٢ "أَمَّا الَّذِي «نَهَى عَنْهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٣ فَهُوَ الطَّعَامُ أَنْ يُبَاعَ حَتَّى يُقْبَضَ» ٤ " قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَلَا أَحْسِبُ كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا مِثْلَهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي ٢ رسول الله ﷺ چې كوم څيز منع كړي دی ٣ هغه غله ده چې د هغه په قبضه كې د راوستو څخه مخكې خرڅ شي ٤ حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي چې خما ګمان دی چې (په دې باره كې) هرڅيز د غلې په شان دی، (بخاري مسلم)

تسهيلات: قوله: فَهُوَ الطَّعَامُ أَنْ يُبَاعَ حَتَّى يُقْبَضَ

د طعام قبل القبض مسئله: - په دې مسئله كښې د ائمو اتفاق دي چه طعام د قبضې نه مخكښې خرڅول جائز نه دی

١) اخرجه البخاري في كتاب البيوع/باب الكيل على البائع والمعطي (رقم-٢١٢٦) ومسلم في كتاب البيوع/باب بطلان بيع المبيع قبل القبض (رقم-٣٢ - (١٥٢٦) وابوداود أبواب الإجارة/باب في بيع الطعام قبل أن يستوفى (رقم-٣٤٩٢) والنسائي كتاب البيوع/باب النهي عن بيع ما اشترى من الطعام بكيل حتى يستوفى (رقم-٤٦٠٤) ومالك في الموطا كتاب البيوع/باب العينة وما يشبهها (رقم ٤٠)واحمد في المسند: ٢٢/٢

٢) اخرجه مسلم في كتاب البيوع/باب بطلان بيع المبيع قبل القبض (رقم-٣١ - (١٥٢٥) وابوداود أبواب الإجارة/باب في بيع الطعام قبل أن يستوفى (رقم-٣٤٩٦) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية بيع الطعام حتى يستوفيه (رقم: ١٢٩١) والنسائي كتاب البيوع/باب بيع الطعام قبل أن يستوفى (رقم-٤٥٩٧) وابن ماجة كتاب التجارات/ باب النهي عن بيع الطعام قبل ما لم يقبض (رقم-٢٢٢٧)

٣) اخرجه البخاري في كتاب البيوع/باب بيع الطعام قبل أن يقبض. وبيع ما ليس عندك (رقم-٢١٣٥) ومسلم في كتاب البيوع/باب بطلان بيع المبيع قبل القبض (رقم-٣٠ - (١٥٢٥)

[٢٨٠٧] د بیع مُصَرَّات مسئله

٢٨٠٧ - [٣] ( ) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] «لَا تَلَقَّوُا الرُّكْبَانَ لِبَيْعٍ، [٣] وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، [٤] وَلَا تَنَاجَشُوا، وَلَا يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ، [٥] وَلَا تُصَرُّوا الْإِبِلَ وَالْغَنَمَ، [٦] فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدَ ذَلِكَ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْلُبَهَا، فَإِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا وَإِنْ سَخِطَهَا رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] تاسو مخکې ورتلو سره دغلې وغیره راوړونکي قافلې سره دخرید وفروخت د پاره مه یوځای کېږئ [٣] او په تاسو کې دې هیڅوك د بل سړي په بیع باندې بیع نه کوي [۴] او قیمت زیاتول مه کوئ او د ښار سړی دې د کلي والا مال نه خرڅوي [۵] او د اوښې او بزې (چیلۍ) په غولانځه کې پۍ مه جمع کوئ [٦] او که یو سړی داسې حیوان واخلي چې د هغه په غولانځه کې پۍ جمع شوي وي نو د پیئو لوشلو څخه وروسته د هغه حیوان د ساتلو یا واپس ورکولو اختیار به وي. یعني که د هغه رضا وي نو هغه حیوان دې وساتي او که رضا يې نه وي نو هغه ته دې واپس ورکړي، او د هغه سره دې یو صاع (درې نیم سیره) کجورې ورکړي. (بخاري مسلم)

حل اللغات - ① تَلَقَّوْا: ملاقات کول. ② الرُّكْبَانَ: قافله. ③ تَنَاجَشُوا: شړل. دهوکه کول. قیمت زیاتول. ④ حَاضِرٌ: د ښار والا. ⑤ لِبَادٍ: کلي والا، د باندې اوسیدونکي. ⑥ تُصَرُّوا: غلانځه کښې پۍ شودې جمع کول. ⑦ النَّظَرَيْنِ: دوه اختیارونه. ⑧ يَحْلُبَهَا: چه اولوشي دا څاروي.

[١] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: "[٢] «مَنِ اشْتَرَى شَاةً مُصَرَّاةً [٣] فَهُوَ بِالْخِيَارِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ [٤] فَإِنْ رَدَّهَا رَدَّ مَعَهَا صَاعًا مِنْ طَعَامٍ لَا سَمْرَاءَ»".

ترجمه: [١] د مسلم په یو روایت کې داسې دي چې [٢] کوم سړی داسې بزه واخلي چې د هغه په غولانځه کې پۍ جمع شوي وي [٣] نو هغه ته دبزې (چیلۍ) د ساتلو یا واپس ورکولو د دریو ورځو پورې اختیار دی [۴] که په دریو ورځو کې هغه بزه واپس ورکړي نو د هغه سره دې یو صاع طعام دې ورکړي خو غنم دې نه ورکوي

حل اللغات - ① مُصَرَّاةً: هغه څاروي چه غلانځه کښې ئې پۍ جمع کړې شوې وی. ② سَمْرَاءَ: غنم.

تسهیلات: **قوله:** لَا تَلَقَّوُا الرُّكْبَانَ:

په حدیث کښې د پنځو مسائلو بیان: په دې حدیث کښې د پنځو اهم مسائلو ذکر کړې شوې دې په کوم کښې چه د ټولو نه اهم او تفصیل طلب مسئله بیع مُصَرَّات ده مګر د دې د

---

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب البیوع/باب النهی للبائع أن لا یحفل الإبل. والبقر والغنم وکل محفلة (رقم-٢١٥٠) ومسلم فی کتاب البیوع/باب تحریم بیع الرجل علی بیع أخیه. وسومه علی سومه. وتحریم النجش. وتحریم التصریة (رقم-١١-١٥١٥) و ابوداود أبواب الإجارة/باب من اشتری مصراة فکرهها (رقم-٣٤٤٣) والنسائی فی کتاب البیوع/باب المحفلة (رقم-٤٤٨٧) وابن ماجة فی کتاب التجارات/ باب بیع المصراة (رقم-٢٢٣٩) ومالک فی الموطا کتاب البیوع/باب ما ینهی عنه من المساومة والمبایعة (رقم-٩٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

تفصيل نه مخکښې نورو څلورو مسائلو څه تذکره کول ضروري دي

قوله لَا تَلَقَّوُا الرُّكْبَانَ:

① **د تلقي رکبان مطلب:** - دَ اخستلو خرڅولو په غرض سره قافلې سره ملاقات کول دې فعل ته تلقي بيوع اوتلقي السلع اوتلقي جلب هم وائي مطلب دادې چه مثلاً سوداګروته معلومه شي چه دَ ښاردَ منډو طرف ته دَ بهر نه يوه تجارتي قافلې غله راخستې راوان دي منډئي ته دَ رسيدو نه مخکښې دَ ښار يو سوداګربهرلاړشي هغوی سره سوداکولوسره ټوله غله واخلي

دتلقي الرکبان د ممانعت دوه وجوهات: - ① اسلام دا منع کړی دی اودَمنع کولويوه وجه داده چه په دې سره دَ ښاروالوته نقصان رسيدې شي. دَ غلې قيمت به زيات شي ځکه چه مال دَ کولاؤ منډئي په ځائې به يوسړی له لاړشي.

② دَ ممانعت دويمه وجه داده په دې صورت کښې پخپله دَ قافلې والوته دَ نقصان رسيدو خطره ده ځکه چه هغوی ته به دَ ښار ريټ معلوم نه وي اودَ ښار سوداګر به هغوی ته غلط ريټ خودلو سره غله واخلي. په دې وجه حضورپاك دا طريقه ممنوع ګرځولې ده دَدې دوو حکمتونو په رڼاکښې دَدې عمل په مکروه کيدوباندې دَ ټولو فقهاؤ اتفاق دې احناف هم دې ته مکروه وائي ليکن پورته چه دا کوم دوه حکمتونه ذکر شو په دې کښې به کراهت نه وی امام ابوحنيفه رحمه الله تلقي رکبان ته هيڅ کله هم جائز نه دی وئيلی ليکن حديث کښې دممانعت کوم علت ذکر دې دکوم چه عاموخلقو ته نقصان دې که چرې دغه علت نه وی نوبيا به ممانعت هم نه وی.

د فسخ بيع دَاختيار صورت: - بهرحال دَ مسلم شريف په روايت کښې دی که دَ قافلې والا سره دهوکه اوکړې شوه نوهغه به ښارته راځي دَدې سودا دَ فسخ کولو اختيارلری لکه چه راتلونکی حديث نمبر(۲۸۳۸) کښې راځي جمهورفقهاء فرمائي چه که دَ غبن فاحش په درجه کښې خساره شوې وی نوقافلې والاسودا ختمولې شي امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائي چه اخلاقاً اومروةً اوديانةً حکم هم دغه دې کوم چه په حديث کښې ذکر دی ليکن دَقضاء په توګه به هغوی ته دَ سودا فسخ کولوحق نه وی هغوی په خپل هوش اوحواس سره سودا کړې ده کوم چه لازم شوې ده هم هغه په شريعت کښې دَ بيوعاتودَپاره عام ضابطه ده علماؤ دَ تلقي رکبان مسافت هم خودلې دې بعض دوه فرسخ دَ ښارنه بهرتلوته تلقي وئيلې دې بعض دوه ورځې اوبعض يوميل وئيلې دې

قوله: وَلَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ:

② **د بل چا د بيع د عقد په دوران کښې د د اخليدو کراهت:** - مثلاً چه دوه کسان په خپل مينځ کښې سوداکوی ثمن متعين شوې دې صرف اخستل ورکول باقي دی چه دريم سړې

راضي او بائع او مشتري ته لالچ ورکولو سره دَ سودا خرابولوکوشش کوي. دا عمل مکروه دي خکه چه په دې سره بغض او عداوت دروازه کولاویږي. اوکه دَ بائع اومشتري په سودا باندې اتفاق اونه شي نواوس دريم سړي خپله خبره پيش کولې شي دَ نکاح دَ پيغام حکم هم داسې دې

قوله وَلَاتَنَاجَشُوا

③ **د تناجش لغوی معنی:-** ①تناجش: "النجش"نون باندې فتحه ده اوجيم ساکن دې اوفتحه هم جائز ده په لغت کښې نجش معنی "اثارة الصيد من مکان الی مکان" ده يعنی ښکار ديخوانه اخوا تختول او پره کول

② بعض علماؤ دَ نجش لغوی معنی دهوکه خودلې ده

③ بعضې علماؤ مدح کول ليکلی دی. [رحمة الامة في اختلاف الائمة ص: ١٤٣]

دنجش اصطلاحی تعريف:- "هوان يزيد في الثمن لالرغبة بل ليخدع" وغيره يعنی نجش هغې ته وائی چه يوداسې سړې دَ سودا قيمت په مشتري باندې زيات کړي چه پخپله ئی اخستل نه غواړي دې دَپاره چه بل سړې دَاخستلودَپاره په دهوکه باندې تيارکړي. په دې عمل کښې مشتري په سودا اخستلو باندې تيارول هم دی دې سره دهوکه هم ده اوبې ځايه دَ سودا اوسامان مدح اوتعريف هم دې. دا دروېواړه مفهوم دَنجش لغوی معنی کښې هم دی اوپه اصطلاحی تعريف کښې هم دی. په عام توګه نجش کښې دهوکه مشتري ته ورکولې شي

د نجش حرمت:- دَ فقهاؤ په نيز په اتفاق سره نجش حرام دې کـه دَ بائع او نجش دواړه په رضامندئی سره دا عمل شوې وی نودواړه بـه ګناه ګار وی ګنی صرف ناجش بـه ګناهګار وی علماؤ ليکلی دی چه دَ ناجش دَپاره تعزير ضرروری دې.

دَ بيع نجش حکم: دَ نجش په نتيجه کښې دَ دغه بيع حکم دادې چه دَ احناف او شوافع په نيز نفس بيع صحيح او جائز ده. مګر داعمل مکروه اوګناه ده ليکن حنابله اومالکيه او اهل ظواهر په نيز دا بيع باطل ده او مشتري تـه دَ بيع فسخ کولو اختيار دې احناف او شوافع فرمائی چه قانوناً دَ بيع دَ فسخ حق نشته دې اوديانةً او اخلاقاً شته بهرحال دَ غرر او دهوکې دوه قسمونه دی يو غرر فعلی دې او بل غرر قولی دې په غررفعلی کښې بيع ديانةً فسخ کولې شی اوغررقولی کښې قضاء دَ فسخ کولې شی دلتـه غرر فعلی دې لهذا فسخ ديانةً ده.

قوله: وَلَايَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ:

④ **د بيع الحاضر للبادی حکم:-** يعنی ښارې سړې دَ يوشار کلی وال دَپاره مال خرڅوی دا ناجائز دی. علماؤ دَ دې بيع دوه تفسيرونه ليکلی دی اول تفسير اومطلب دادې چه يو

Maktaba Tul Ishaat.com

بنارې په خپل ځان باندې دا خبره لازم کوی هغه به د مال ارزان اخستو په غرض سره
همیشه صرف د کلی وال نه سودا اخلی چه ګټه زیاته اوشی صاحب د هدایه هم دغه
تعریف لیکلې دې هم په دې صورت کښې د دغه بیع ممانعت هغه وخت وی کله چه د بنار
والوته د مال سخت ضرورت وی یا په بنار کښې قحط وی
د بیع الحاضر للبادي په حکم کښې دويم تفسير :- د دې بیع دويم تفسير اودويم مطلب ئې
محدثینو او فقهاؤ دابیان کړې دې چه مثلاً څوک بنارې سړې یوکلی وال ته وائی ته خپله
غله وغیره ماسره کیږده زه به په ښه مهارت سره ښه د ګټې په حلاتو کښې په تسلئ سره
ستادپاره خرڅ کړم اوس دا بنارې لکه چه د کلی وال وکیل جوړشو په حدیث کښې هم دې
د دلال وکیل او سمسار په نوم باندې یاد کړې شوې دې د حدیث دا تفسیر اودا مطلب
واضح اوراجح دې خاص کر کله چه "لِبَادٍ" کښې لام خو په کیل باندې دلالت کوی شمس
الائمه حلوانی رحمه الله او ابن همام رحمه الله او ابن نجیم رحمه الله صاحب د هدایه قول مرجوح ګرځولې
دې دا بیع او دا عمل د جمهور په نیز اود اهل ظواهر په نیز دا بیع باطل واجب الفسخ وی
جمهور وائی چه د قضا په توګه بیع صحیح ده البته د دیانت په توګه فسخ کیدې شی د
فقهاؤ په نیزدا ضابطه ده چه دغرر دهوکې دوه قسمونه دی یوغرر فعلی او دويم غرر
قولی دې په غرر فعلی کښې بیع دیانةً فسخ کولې شی او غرر قولی کښې قضاءً فسخ
کولې شی دلته غرر فعلی دې

قوله: بَيْعُ الْمُصَرَّاتِ:

⑤ **د بیع مصرات مسئله :-** په دې حدیث کښې چه کومه اهم او تفصیل طلب مسئله ده هغه
د مصرات مسئله ده

د مصراة لغوی معنی :- مصرات د باب تفعیل نه د اسم مفعول صیغه ده صَرَّي يُصَرِّ تَصرِ
وَمُصَرَّاةٌ د یوڅیز منع کولواو بندولوته وائی "يقال صريت الماء في الحوض اي حبسته"

د مصراة اصطلاحی تعریف :- د دې اصطلاحی تعریف داسې دې "هو حبس اللبن في الضرع
ليغتر به المشتري" یعنی د یوڅاروی پینې یو دوو ورځو پورې په تینوکښې زامنع کول دې
دپاره چه کله مشتری دا وینی نو چه اوګنړی دا خو د پینوخزانه ده دې عمل ته تحفیل هم
وائی اوداسې څناور ته مصراة اومحفلة وائی
مصراة صفت دې د دې موصوف ناقة مصراة دې یا بقرة مصرات دې یا شاة مصراة دې
دتصریة په دې عمل سره مشتری ته دهوکه ورکولې شی په دې وجه اسلام دا منع کړی دی
اوداعمل ئې حرام ګرځولې دې

د حدیث مطلب :- دحدیث مطلب اوخلاصه دا شان ده چه تصریه ناجائز او حرام دې لیکن
که څوک داسې عمل اوکړی اوروستو مشتری ته معلومه شی چه په دې کښې د تصریه

عمل کړي شوي دي نومشتری له دَ دوو خبرو اختیار دي یاخودي هم دغه شان عیب والا څاروي خان سره اوساتی ځکه چه سودا خوشوي ده اویادي څناور واپس کړی او یوصاع کهجورو سره دې واپس کولوسره بائع ته ورکړی داد حدیث مطلب دي

که یو مشتری مصراة واخستله نو ده ته د بیعي فسخ کولو په اختیار کښي اختلاف دي

د مصراة په واپس کولو کښي مذاهب:-

① امام شافعی رحمه الله امام احمدبن حنبل رحمه الله امام مالک رحمه الله او امام ابویوسف رحمه الله یعنی جمهورو فرمائیلی دی چه مشتری ته دَ خیارشرط کیخودو نه بغیرد حق حاصل دې چه هغه دې بیع فسخ کړی ځکه چه تصریه عیب دې او دَعیب په معلومیدو باندي مشتری اختیارمند دې چه یا دې مبیع خان سره اوساتي یا دې واپس کړی لیکن چونکه مشتری دَ څو ورځو پورې دَ څاروی نه پیئی څکلی دی په دې وجه دَهغې په بدله کښي دَ څاروی دَ واپس کولوسره یوصاع کهجورې هم واپس کړی

② امام ابوحنیفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله فرمائی چه څاروي بائع ته واپس کولو په صورت کښي دا صرف اقاله ده دَمشتری دَ طرف نه بائع باندي نه څه جبر کیدي شی اونه هغه ته دَ بیع فسخ کولواختیار دي اونه څه جرمانه ده نه صاع دي اونه تمروسمراء شته

د اول فریق دلیل:- اول فریق د زیربحث حدیث په ظاهرباندي عمل کړي دي اوبیا ئی دَ ډیرې زیاتي غصې اظهارکړې دي چه احنافوصریح حدیث پریخودوسره قیاس خپل کړي دي

د فریق اول د دلیل څخه جوابونه:- احناف دَحدیث مصرات محمل دَیوڅو وجوهاتو سره بیان کړي دي

① داحکم دَ دیانت په توګه دي دَعدالت اوقضا په توګه نه دي محقق ابن همام یو ضابطه لیکلي ده فرمائي چه دَ غرر اودهوکي دوه قسمونه دی یو غرر قولی او دویم غرر فعلی دَ غرر قولی په وجه سره مشتری به بائع ته مبیع قضاءً په زور دَعدالت واپس کولي شی او په غرر فعلی کښي هغه بائع ته مبیع دیانةً واپس کولي شی لیکن جبراً او قضاءً ئی نه شی واپس کولي لکه چه دلته دَ رسول الله ﷺ فرمان دَ دیانةً دَ اصول لاندې دي

② داحکم اخلاقاً دَ حسن خلق دَ قبیل نه دې اوپه دې باندي دریو ورځو پورې دَ خیار والا روایت دال دې ځکه چه خیار عیب دریو ورځو پورې محدود نه دي لکه چه دا استحبابی حکم دي ③ دَ مصراة حکم دَ ربوا دَ حرمت نه دَمخکښي وخت دې کله چه ربوا حرام شوه نومصرات هم حرام شو

④ داحدیث دَ بیوعاتو دَ اصولی قاعدو نه معارض دې په دې وجه باندي په ظاهری توګه پریخودي شی

⑤ دَدې روایت په الفاظوکښي اضطراب دې چرته دَ صاعٍ من تمرٍ الفاظ دی نو چرته صاعٍ من

طعام لا بمراء دی چرته مثلاً لبنها قمحاً الفاظ دی چرته مثل لبنها قمحاً الفاظ دی
⑨ دا دَ صلح یو صورت دي خلاصه دا چه حضورپاك خلق دَدې دهوکې والا دَعمل نه منع کولو دَپاره په حکمت سره په استثنائی توګه داسې فیصله کړې ده اودا دَخلقو دَ حالاتو عین مطابق ده اونن هم دَدې دهوکې نه دَ بچ کیدو دپاره دَدې نه بهترڅه فیصله نه شي کیدې
د دویم فریق دلائل:- ① دویم فریق دَ بیوعات قواعد کلیه اصولیه شرعیه ته کتلو سره په دې باندې عمل کړې دې او په جزئیاتو کښې ئې تاویل کړې دې
قرآنی ضابطې:-① په قرآن پاك کښې یوه ضابطه داسې ده
﴿ فَمَنِ اعْتَدٰی عَلَیْکُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَیْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰی عَلَیْکُمْ ﴾ اسورة بقره: ١٩٦ا
② یوه ضابطه داده ﴿ وَجَزٰٓؤُا سَیِّئَةٍ سَیِّئَةٌ مِّثْلُهَا﴾ اسورة الشوری: ۴٠.
③ یوه ضابطه داده ﴿وَاِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا عُوْقِبْتُمْ بِهٖ﴾ اسورة نحل: ١٢۶ا په دې ټولو آیاتونو کښې دَ څه قسم نقصان په صورت کښې تاوان ورکولو کښې مثل اومساوات لازم کړې شوي دې که هغه مثل صوری وی یا معنوی وی
قرآنی ضابطه او مسئله د مصرات:- په مسئله دَ مصرات کښې دَ خاروی دَ پینو مقابله کښې یوصاع کهجورې واپس کول نه مثل صوری دې اونه معنوی دې څکه چه پیئی ذوات امثال نه دی نودَ کهجورو په ځائی هم پیئی واپس کول پکاردی نودَ پینو دَ قیمت برابر کهجورې واپس کول پکاردی یوصاع متعین کول دَ بیوعاتو دَ اصول خلاف دی څکه چه پینی کله کم شی اوکله زیاتیدې شی مثلاً مشتری دَ دوو سوو روپوپینی اوڅکل یا دَ شلو روپوپینی اوڅکل او بیائی یوصاع کهجورې واپس کړې نونه مثل صوری دې اونه مثل معنوی یعنی قیمت دې بل په دې کښې دا عجیبه صورت هم پیښیدې شی چه مثلاً یو کمزورې چیلئی وی اودهغې قیمت هم دَ یوصاع کهجورو برابر وی کله چه چیلئی واپس کړې شوه او یوصاع کهجورې هم واپس کړې شوې نو په دې دَ بدل او مبدل منه اجتماع دَ یوسړی په لاس کښې راغله کوم چه ناجائز دی اودَ بیوعاتو دَ اصول خلاف دی
② حدیث دادې "الخراج بالضمان" دَدې حدیث مطلب دادې چه دا نفع اومنافع دَ دغه سړی حق دې په چاچه تاوان راځی دَمصرات په صورت کښې که چیلئی مړه شوه نو تاوان په مشتری باندې راځی لهذا دَدې چیلئی نفع کوم چه پینی دی هغه هم دَمشتری حق دې بیادې په بدله کښې کهجورې په توګه دَ تاوان ورکول دَدې حدیث د ضابطه نه خلاف دی دویم فریق دَدې حدیث نه هم استدلال کړې دې
یوه فقهی قاعده:- دَفقهاؤ په کتابونو کښې یوه عربی جمله ده (الغنم بالغرم) ددې مطلب دا دې چه دَنفع تعلق تاوان سره دې کوم سړې چه دَ تاوان ذمه وار دې هم هغه دَ نفع حقداردې

زير بحث حديث كښې دَ تاوان ذمه دار مشترى دي لهذا دَ قواعد بيوع لاندې په دې باندې دَ پينو څکلو بدله ورکول لازم نه دى

ماصول فقه په بعضې کتابونو کښې يوه غلطى تنبيه :- باقى دَ اصوليه کوموکتابونو کښې چه ليکلى دى دَدې حديث راوى ابوهريره ﷺ غيرفقيه دې اودَ غيرفقيه راوى روايت که چرې په قياس سره مقابل وى نوقياس مقدم وى دا قول دَاحنافو دَمسلك خلاف دې احناف خو دَ صحابى قول هم په قياس باندې مقدم منى نوځه چه مرفوع حديث دَ احنافو دَ مسلك لونى انمو نه چادا خبره نه ده کړې صرف دَ امام محمد شاګرد عيسى بن ابان طرف ته دا قول منسوب دې اودا نسبت هم غلط دې لهذا مونږ توبه کوو اودَ الله تعالى نه پناه غواړو چه مونږ دَحضرت ابوهريره ﷺ غوندې فقيه صحابى بلکه دَ صحابه کرامو مفتى ته غيرفقيه اووايو نعوذبالله من ذلك

[٢٨٣٨] دَ بوڅيز اخستلوپاره دَ ښار څخه دَ بهروتلو حکم

٢٨٣٨ــ[٣] ()[١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " [٢]«لَا تَلَقَّوُا الْجَلَبَ، [٣]فَمَنْ تَلَقَّاهُ فَاشْتَرَى مِنْهُ[٤]فَإِذَا أَتَى سَيِّدُهُ السُّوقَ فَهُوَ بِالْخِيَارِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره ﷺ وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] تاسو مخکې ورتلو سره دغله وغيره راوړونکي قافلې سره مه يو ځاى کېږئ [٣] که يو سړى ورشي او څه سامان ترې نه واخلي [٤] او بيا د سامان مالك بازار ته راشي نو هغه ته به اختيار وي (که بيع قائم وساتي ، بيا يې فسخ کړي)، (مسلم)

حل اللغات: - ① الْجَلَبَ: د دې لغوى معنى راښکلو سره راوړل دى .د دې معنى مختلف دى دلته ترې مراد د سوداګرد کلى وال څخه يوڅيز په لاره کښې په کم قيمت باندې اخستل

تسهيلات:

نوټ:- دَدې حديث توضيح اوتشريح د حديث نمبر(٢٨٣٧) په شرحه کښې تيره شوې ده

[٢٨٣٩] د يوڅيز بازارته دراتلو نه وړاندې دهغې خرڅونکو سره د ملاقات ممانعت

٢٨٣٩ــ[٥] ()[١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢]«لَا تَلَقَّوُا السِّلَعَ [٣] حَتَّى يُهْبَطَ

---

[١]) اخرجه مسلم فى كتاب البيوع/باب تحريم تلقى الجلب (رقم-١٧ - (١٥١٩) وابو داود فى السنن أبواب الإجارة/باب فى التلقى (رقم-٣٤٣٧) والترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية تلقى البيوع (رقم: ١٢٢١) والنسائى فى كتاب البيوع/باب التلقى (رقم-٤٥٠١) وابن ماجة فى كتاب التجارات/باب النهى عن تلقى الجلب (رقم-٢١٧٨)

[٢]) اخرجه البخارى فى كتاب البيوع/باب النهى عن تلقى الركبان وأن بيعه مردود لأن صاحبه عاص آثم إذا كان به عالما وهو خداع فى البيع. والخداع لا يجوز (رقم-٢١٦٥) ومسلم فى كتاب البيوع/باب تحريم تلقى الجلب (رقم-١٤ - (١٥١٧) وابوداود فى أبواب الإجارة/باب فى التلقى (رقم-٣٤٣٦) والترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية تلقى البيوع (رقم: ١٢٢٠)واحمد فى المسند:٩١/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

بِهَا إِلَى السُّوقِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عمر ﷺ وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل [٢] سامان راوړونکو سره د هغوئ بنار ته را رسیدو څخه مخکې په لار کې ورتلو سره د هغوئ سره مه یو ځای کیږئ [٣] او هغه وخته پورې د هغوسره څه معامله مه کوئ د څو پورې چې د هغوئ سامان بازار ته راوړلو سره خکته نه کړی شي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① السِّلَع: سامان ته ونیلی کیږی یا هغه څیز ته چه د هغې تجارت کیږی ② يُهْبَطَ: چه کوز کړې شی،

تسهیلات:

نوټ: - دحدیث مطلب واضح دې د شرحې څه ضرورت نشته.

[٢٨٥٠] دبل په سودا کښې عدم مداخلت

٢٨٥٠—[٦] (١)[١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] «لَا يَبِعِ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ [٣] وَلَا يَخْطِبْ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عمر ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] هیڅ سړی دې د خپل (مسلمان) ورور بیع باندې خپله بیع نه کوي [٣] او نه دې هیڅ سړی د خپل (مسلمان) ورور د نکاح په پیغام باندې د خپلې نکاح پیغام لیږلو خو دا چې هغه ده ته د دې اجازت ورکړي. (مسلم)

حل اللغات: - ① خِطْبَة: دنکاح پیغام ورکول،

تسهیلات:

قوله. وَلَا يَخْطِبْ:

د بل چا په خِطبه نکاح (دنکاح پیغام) دپاسه د پیغام لیږلو مطلب: - یعنی یو سړی مثلاً یوې ښځې ته دنکاح پیغام ورکړو نوتر کومې پورې چه دهغې فیصله نه وی شوې دبل سړی دپاره جائزنه دی چه د هغوی په مینځ کښې کار اولری په دې سره بغض حسد او دښمنی پیدا کیږی د بیع حکم هم دغه شان دې تفصیل وړاندې تیرشوې دې

(١) اخرجه البخاری فی کتاب النکاح/باب لا یخطب علی خطبة أخیه حتی ینکح أو یدع (رقم-٥١٤٢) ومسلم فی کتاب البیوع/باب تحریم بیع الرجل علی بیع أخیه، وسومه علی سومه، وتحریم النجش، وتحریم التصریة (رقم-٨ - (١٤١٢) وابوداود فی کتاب النکاح/باب فی کراهیة أن یخطب الرجل علی خطبة أخیه (رقم-٢٠٨١) والنسائی کتاب البیوع/باب المحفلة (رقم-٤٤٨٧) وابن ماجة فی کتاب التجارات/ باب بیع المصراة (رقم-٢٢٣٩) ومالک فی الموطا کتاب البیوع/باب ما ینهی عنه من المساومة والمبایعة (رقم-٩٦)

[۲۸۵۰] د مسلمان د سودا په مینځ کښې د مداخلت ممانعت

۲۸۵۰-[۷] ()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ[۲] «لَا يَسُمِ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ أَخِيهِ الْمُسْلِمِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هيڅ سړی دي د خپل مسلمان ورور په سودا سودا نه کوي (يعني د چا سره د خرڅولو رانيولو معامله وي نو په هغه کې دي مداخلت نه کوي او د هغه شي زيات قيمت دي نه لګوي) مسلم

حل اللغات - ① سَوْمٌ: سودا کول. د اخستلو معامله کول.

تسهيلات:

قوله لَا يَسُمِ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ أَخِيهِ الْمُسْلِمِ

د مذکوره ممانعت محمل:- دا حکم په هغه صورت کښې دي کله چه خرڅونکي او اخستونکي دواړه په يو قيمت باندې راضي شوی وی، نواوس دبل چا دپاره دا مناسب نه دی چه هغه ددې څيز داخستلو اراده اوکړی او زيات قيمت لګولوسره دهغوی معامله خرابه کړی، داسې کول مکروه دی اګرچه بيع به صحيح وی

په مذکوره حکم کښې د غير مسلم دخول:- علامه ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په دې باره کښې د مسلمان په حکم کښې ذمی او معاهد او مستامن [۲] هم داخل دی

[۲۸۵۱] د ښار سړی دې د کلی والا مال نه خرڅوي

۲۸۵۱-[۸] ()[۱] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] «لَا يَبِيعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ، [۳] دَعُوا النَّاسَ [۴] يَرْزُقِ اللهُ بَعْضَهُمْ مِنْ بَعْضٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او جابر رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] ښاري سړی دي د باندچي (کليوال) مال نه خرڅوي [۳] خلق د هغوی په حال پريږدی [۴] چې الله تعالی د چا په ذريعه چاته رزق رسوي. (مسلم)

حل اللغات - ① حَاضِرٌ: د ښار اوسيدونکي. ② لِبَادٍ: دکلی اوسيدونکي.

---

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب البیوع/باب تحریم بیع الرجل علی بیع أخیه. وسومه علی سومه. وتحریم النجش. وتحریم التصریة (رقم ۹ - (۱۵۱۵)) وابن ماجه فی کتاب التجارات /باب لا یبیع الرجل علی بیع أخیه. ولا یسوم علی سومه (رقم-۲۱۷۲) واحمد فی المسند. ۲/۵۲۹

[۲]) غیرمسلم کوم چه په اسلامی حکومت کښې اوسيږی او جزیه ورکوی چه هغه سره دیو مسلمان معاهده شوې وی چه هغه د یو مسلمان په پناه کښې وی)

[۳]) اخرجه مسلم فی کتاب البیوع/باب تحریم بیع الحاضر للبادی (رقم-۲۰ - (۱۵۲۲)) وابوداود فی أبواب الإجارة/باب فی النهی أن یبیع حاضر لباد (رقم-۳۴۴۲) والترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء لا یبیع حاضر لباد (رقم: ۱۲۲۳) والنسائی فی کتاب البیوع/باب بیع الحاضر للبادی (رقم-۴۴۹۵) وابن ماجه فی کتاب التجارات/باب النهی أن یبیع حاضر لباد (رقم-۲۱۷۶)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله دَعُوا النَّاسَ يَرْزُقُ اللهُ بَعْضَهُمْ مِنْ بَعْضٍ:

کلیوال لره په ځپله په ښار کښې خرڅولو ته د پرېښودو حکم: – د حدیث د آخری جملې مطلب دا دې چه کلی وال په خپل حال باندې پرېږدئ چه هغوی د بهر نه غله راوړی او په ښار کښې نې په آرزان نرخ باندې خرڅه کړی او په دې طریقه هغوی د ښار د خلقو د رزق د فراخۍ ذریعه جوړ شی، د باقی حدیث وضاحت د حضرت ابوهریره ﷺ په روایت نمبر ۲۸۴۷ کښې تیر شوې دې

[۲۸۵۳] د جاهلیت زمانې څو ممنوعې بیعې

۲۸۵۳—[۸] ( ) ①وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ ②«نَهَى رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ لِبْسَتَيْنِ وَعَنْ بَيْعَتَيْنِ، ③نَهَى عَنِ الْمُلَامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ فِي الْبَيْعِ». ④وَالْمُلَامَسَةُ: لَمْسُ الرَّجُلِ ثَوْبَ الْآخَرِ بِيَدِهِ بِاللَّيْلِ وَبِالنَّهَارِ ⑤وَلَا يَقْلِبُهُ إِلَّا بِذَلِكَ،

ترجمه: ①او حضرت ابو سعید خدري ﷺ وایې ②چې رسول الله ﷺ د دوه قسمه اغوستلو څخه او دوه قسمه بیع څخه منع کړي ده ③او په بیع کې یې د ملامست او منابذت څخه منع کړي ④او ملامست دا دی چې یو سړی (یعني خریدار) د دویم سړي یعني تاجر کپړې (چې هغه یې اخستل غواړي) په ورځ کې یا په شپه کې یواځې په لاس سره مسه کړي هغه کولاؤولو اړولو راړولو سره ونه ګوري⑤ او د هغه دا مس کول د بیع د پاره وي

حل اللغات: - ①لِبْسَتَيْنِ: دوه قسمه اغوستل. ②الْمُلَامَسَة: لاس اېښودلو سره د یو څیز د اخستلو یو ناجائز قسم. ③الْمُنَابَذَة: په کپړه غورزولو سر د څه څیز اخستلو یو بل ناجائز قسم.

①وَالْمُنَابَذَةُ: ②أَنْ يَنْبِذَ الرَّجُلُ إِلَى الرَّجُلِ بِثَوْبِهِ وَيَنْبِذَ الْآخَرُ ثَوْبَهُ ③وَيَكُونُ ذَلِكَ بَيْعَهُمَا عَنْ غَيْرِ نَظَرٍ وَلَا تَرَاضٍ ④وَاللِّبْسَتَيْنِ اشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ، ⑤وَالصَّمَّاءُ أَنْ يَجْعَلَ ثَوْبَهُ عَلَى أَحَدِ عَاتِقَيْهِ ⑥فَيَبْدُو أَحَدُ شِقَّيْهِ لَيْسَ عَلَيْهِ ثَوْبٌ ⑦وَاللِّبْسَةُ الْأُخْرَى احْتِبَاؤُهُ بِثَوْبِهِ وَهُوَ جَالِسٌ ⑧لَيْسَ عَلَى فَرْجِهِ مِنْهُ شَيْءٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او منابذت دا دی ②چې په معامله کونکو کې هر یو خپله کپړه د دویم سړي طرف ته اوغورځوي ③او دغه شان بغیر د کتلو او بغیر د اظهار د رضامندۍ بیع اوشي④ او د کوم دوه قسمه اغوستلو څخه چې یې منع فرمایلې ده په هغه کې یو څو د صماء په طور اغوستل دي⑤ او د صماء طریقه دا ده چې یو سړی په خپله یوه اوږه کپړه داسې واچوي ⑥چې د هغه دویم طرف چې په هغه کې کپړه نه وي ظاهر او بربنډ وي⑦ او دویمه

---

[1] اخرجه البخاري في كتاب اللباس/باب اشتمال الصماء (رقم-۵۸۲۰) ومسلم في كتاب البيوع/باب إبطال بيع الملامسة والمنابذة (رقم-۳ - (۱۵۱۲) وابوداود في كتاب البيوع/باب في بيع الغرر (رقم-۳۳۷۷) والنسائي في كتاب البيوع/باب تفسير ذلك (رقم-۴۵۱۵) وابن ماجة في كتاب التجارات /باب ما جاء في النهي عن المنابذة والملامسة (رقم-۲۱۷۰) واحمد في المسند: ۹۵/۳

غوستنه چې د هغه څخه منع شوي ده، دا دی چې يو سړی د خان څخه چاپيره کپړه داسې واچوي چې کله هغه کيني [٨] نو د هغه شرمگاه هغه کپړي څخه بالکل برښد وي چې دی ته احتباء ونيل کيږی. (بخاري مسلم)

حل اللغات -④غَيْرِ نَظَرٍ: بغير د کتلو نه. ⑤لَاتَرَاضٍ: بغير د رضامندئ نه. ⑥اِشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ: چې يو سړی به خپله يوه اوږه کپړه داسې واچوي چې د هغه دويم طرف چې به هغه کې کپړه نه وي ظاهر او برښد وي ⑦عَاتِقِهِ: په اوږه باندې. ⑧شِقِّهِ: د کپړې اړخ. گوټ. ⑨اِحْتِبَاؤُهُ: په ناسته باندې کپړه دخان نه داسې تاوول چه عورت پکښې ښکاره ري.

تسهيلات:

قوله: عَنِ الْمُلَامَسَةِ:

د بيع ملامسه تعريف:-دَ جاهليت په زمانه کښې دا رواج وو چه مثلاً دَدوو کسانو په مينځ کښې دَ يوې سودا خبره کيدله نو يوفريق به مبيع ته لاس لگولو اوس به په دې سره دا گنړلې شوچه بيع لازم شوه اوس به نی بل فريق منی که هغه خوشحال وی اوك که خوشحال نه وی دَدواړو دَطرف نه به غيراختياری بلکه جبری بيع کيدله نوحضورپاك دې نه منع اوفرمائيله

قوله: وَالْمُنَابَذَةِ:

د بيع منابذه تعريف او صورتونه:-دَ منابذه خو به يوصورت هم دا وو کوم چه په دې حديث کښې ذکر دې چه يوفريق به خپله کپړا دَبل فريق طرف ته غورزوله هغه به دَ ده طرف ته خپله کپړا ورغورزوله دې سره به بيع کيدله. مخکښې به دَ کتلو اولټولو اجازت نه وو دَ منابذه دويم صورت به دا وو چه يوسړی به دَ چا په سامان يا کپړا باندې کانړې غورزولو دې سره به بيع لازم کيدله په دې بيوعاتو کښې چونکه دَ طرفين دَ طرف نه رضامندی نه وه نه به دا بيع تعاطی وه نه به په دې کښې ايجاب او قبول وو نه په دې کښې خيار شرط نه خيار رؤيت په دې وجه رسول الله ﷺ دا منع اوگرځوله

قوله: اِشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ:

د اشتمال الصماء دوه تفسيرونه:-

① دَدې يوتفسير خوپخپله په حديث کښې ذکر دې اوددې

② دويم تفسيردادې چه يوسړی به خپل خان په يوڅادر يا کمبل کښې داسې را اينغښتې ساتلو چه دَ هغه ټول خپې لاسونه به بندشوی وو اوسړې به بالکل شل پاتې کيدلو که دښمن راتلو سره راگيرولو نودې به بې وسه وو. په دې وجه حضورپاك دَدې نه منع اوکړه دا تفسير زيات واضح دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله: اَحْتِبَاؤُهُ:

د احتباء صورت:—دا داسې کیناستو ته وائی چه مثلاً چه یوسړی زنګونونه اودروی په کناتوباندې کینی او دَ پاسه حصه باندې څادر اچولوسره ښکته حصه کولاؤ پریږدی دغه شان ستر ښکاره وی په دې وجه نبی منع اوکړه.

[٢٨٥٣] دَبیع حصاة او بیع غرر ممانعت

٢٨٥٣—[٢٠] () [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ [٢] «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَيْعِ الْحَصَاةِ وَعَنْ بَيْعِ الْغَرَرِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] و حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایې [٢] چې رسول الله ﷺ د بیع حصاة او بیع غرر څخه منع فرمایلې ده. (مسلم)

حل اللغات: - ① اَلْحَصَاةِ: وړوکې کانړې، ② اَلْغَرَرِ: دهوکه،

تسهیلات:

قوله: بیعِ الْحَصَاةِ:

د بیع الحصاة تعریف:– حصاة وړوکی کانړی ته وائی دَ بیع حصاة صورت داوی چه مثلاً خریدار دوکاندار ته اووائی کله چه زه ستا په دغه مال باندې کانړې درګذارکړم نوته پوهه شه چه بیع اوشوه یا دوکاندار خریدار ته وائی چه ما په خپل مال کښې هغه څیز په تاباندې خرڅ کړوبه کوم چه ستا راګذارکړې کانړې راپریوځی. یا به زه دَ خپلې زمکې هغه حصه په تا باندې خرڅوم ترکومې پورې چه ستا کانړې لاړشی پریوځی داد جاهلیت بیع وه حضورپاك منع کړه بیع منابذه او بیع حصاة تقریباً یوڅیزدې

قوله: بَيْعِ الْغَرَرِ:

د بیع الغرر تعریف:—داهغه بیع وی په کوم کښې چه مبیع مجهول وی یاپه کوم کښې چه مبیع دَ بایع په قبضه کښې نه وی لکه په سمندرکښې کبان خرڅول په هواکښې مرغئی خرڅول په اول قسم کښې جهالت دې او دویم قسم دَ قدرت نه بهر دې په دې بیع کښې دهوکه ده په دې وجه منع ده دَ غرر نه لویه دهوکه مرادده دَ وړوکی او معمولی غرر نه خو څوك بچ کیدې نه شی بل لوئی غرر مفضی الی النزاع دې او وړوکې نه دې

() اخرجه مسلم فی کتاب البیوع/باب بطلان بیع الحصاة، والبیع الذی فیه غرر (رقم-٤ - (١٥١٣) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب البیوع/باب فی بیع الغرر (رقم-٣٣٧٦) والترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة بیع الغرر (رقم: ١٢٣٠) والنسائی فی کتاب البیوع/باب بیع الحصاة (رقم-٤٥١٨) وابن ماجة فی کتاب التجارات/باب النهی عن بیع الحصاة، وعن بیع الغرر(رقم-٢١٩٤) واحمد فی المسند: ٢٥٠/٢

[٢٨٥٥] د بيع حبل الحبلة حكم

٢٨٥٥—[٢] () [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: [٢] «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَيْعِ حَبَلِ الْحَبَلَةِ»، [٣] وَكَانَ بَيْعًا يَتَبَايَعُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ، [٤] كَانَ الرَّجُلُ يَبْتَاعُ الْجَزُورَ إِلَى أَنْ تُنْتِجَ النَّاقَةُ [٥] ثُمَّ تُنْتِجَ الَّتِي فِي بَطْنِهِ. (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه: [١] و حضرت ابن عمر ﷺ وايي [٢] چې رسول الله ﷺ د بيع حبل الحبله (يعني د حيوان د حمل د حمل) د خرڅولو څخه منع فرمايلي ده [٣] ابن عمر ﷺ وايي چې بيع حبل الحبله په ايام جاهليت کې يوه رائج بيع وه [٤] د هغه صورت دا وو چې يو سړى به د هغه وخته پورې اوښه واخسته چې د هغه د خيټې څخه بچى پيدا شي [٥] او بيا د هغه بچي د خيټي څخه بچى پيدا شي (يعني هغه به په دې وعده او ښه خريد کوله چې کله د هغه اوښې د خيټي څخه د پيدا کيدونکى بچي د خيټي څخه بچى پيدا شي نو هلته به د دې قيمت اداء کوم) بخاري مسلم.

حل اللغات:- ① حَبَل: په خيټه کښې بچى ته وائى ② الْجَزُورَ: اوښه. ③ تُنْتِجَ: بچي پيدا کيدل. ④ النَّاقَةُ: اوښه

تسهيلات:

قوله: حَبَلِ الْحَبَلَةِ: په حاء باندې زبر دې او باء باندې هم زبر دې سکون سره وئيل غلط. حبل اوحمل په خيټه کښې دننه علوق او بچى ته وائى. په لغوى توګه باندې لفظ حبل دَ ښځو دپاره استعمالولې شى اولفظ حمل ښځو اوحيواناتو دوارو دپاره استعماليږى

قوله: حَبَلِ الْحَبَلَةِ:

د بيع حبل الحبلة دوه صورتونه:- ① يو سړى خپل څه څيز خرڅولو اودَ پيسو وصول کولودپاره به نى نيټه داسې مقررکوله چه کله دَ اوښې بچې پيدا شى اودَهغه بچى بچې پيدا شى هغه وخت به پيسې اداکوې. امام مالك ﷫ او امام شافعي ﷫ دا تشريح خوښه کړې ده اودَ حضرت ابن عمر ﷠ نه دا تفسير نقل دې دا دَ جاهليت دَبيوعاتونه يوه بيع وه رسول الله ﷺ دا په دې وجه منع کړه چه په دې کښې اجل مجهول دې کوم چه مفضى الى النزاع دي

() اخرجه البخاري في كتاب البيوع/باب بيع الغرر وحبل الحبلة (رقم-٢١٤٣) ومسلم في كتاب البيوع/باب تحريم بيع حبل الحبلة (رقم-٥ - (١٥١٤) اخرجه ابو داود في السنن كتاب البيوع/باب في بيع الغرر (رقم-٣٣٨٠) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في النهى عن بيع حبل الحبلة (رقم: ١٢٢٩) والنسائي في كتاب البيوع/باب تفسير ذلك (رقم-٤٦٢٥) وابن ماجة في كتاب التجارات/باب النهى عن شراء ما في بطون الأنعام وضروعها. وضربة الغائص (رقم-٢١٩٧) ومالك في الموطا كتاب البيوع/باب ما لا يجوز من بيع الحيوان (رقم-٦٢) واحمد في المسند: ١٥/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

② دَ "حبل الحبلة" دَ اوښې په خېټه چه کوم حمل دې یا دَدې په خېټه کښې چه کوم حمل وي هغه پوسرې خرڅوی

بیع حبل الحبلة د ممانعت وجه:- دا بیع ناجائز ده ځکه چه په دې کښې مبیع مجهول ده نه معلومه چه بچې به راځی اوکه نه اودَ دې دَ خیټې نه بچې پیدا کیږی اوکه نه دا دَ جهالت دَپاسه جهالت دې په دې وجه منع کړې شو امام احمدبن حنبل رحمه الله هم دا تفسیرخوښ کړې دې اوامام ترمذی رحمه الله هم دا راجح ګرځولې دې او دَحدیث ظاهری الفاظ هم دَدې تائیدکوی بهرحال دَ ممانعت وجه "بِأجهالة الاجل في الثمن" ده "بأجهالة المبيع" ده

[٢٨٥٦] نر خاروي په ښځې دَ پریښودو اجرت اخستلو ممانعت

٢٨٥٣—[٢٢] (¹) ① وَعَنْهُ قَالَ ② «نَهَى رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وایې ② چې رسول الله ﷺ د نر په ماده د پریښودلو د اجرت څخه منع فرمایلې ده، (بخاري)

حل اللغات:- ① عَسْب: جفتی کول، مال کول، ② الفَحْل: نر خاروي،

تسهیلات: قوله: عَسْبِ الفَحْلِ:

د عسب الفحل معنی او د ممانعت وجه:- اوضراب الفحل هم پوځیز دې فحل نر ته وائی نرکه اوښ وی که غوایه وی یا سنډا وی یا چیلې وی دا په ماده باندې وریریخودلو بدله کښې پیسې اخستل منع دی ځکه چه دلته په ډیر مقام باندې معامله مجهول ده کله خاروې جفت کوی او کله نه کوی، کله دَ ماده حمل حصاریږی اوکله نه حصاریږی په دې وجه منع دی بل دا پوخسیس او ذلیل بیوپارهم دې کوم چه دَمسلمان دَ شان خلاف دې نن صبا دَ نسل دَ زیاتولو په غرض سره دامعامله کیږی. بهرحال که یوسرې خپل غوایه یا سنډا دَ رعایت په توګه ورکوی اوخلق دَا کرام په توګه هغه ته څه ورکوی نودا جائز دی لکه چه په حدیث نمبر (٢٨٦٦) کښې راځی

[٢٨٥٤] د اوبو او زمکې د خرڅولو ممانعت

٢٨٥٤—[٢٣] (²) ① وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: ② «نَهَى رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-عَنْ بَيْعِ ضِرَابِ الْجَمَلِ ③ وَعَنْ بَيْعِ الْمَاءِ وَالْأَرْضِ لِتُحْرَثَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الإجارة/باب عسب الفحل (رقم-٢٢٨٤) اخرجه ابو داود فی السنن أبواب الإجارة/باب فی عسب الفحل (رقم-٣٤٢٩) والترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة عسب الفحل (رقم: ١٢٧٣) واحمد فی المسند: ١٤/٢

²) اخرجه مسلم فی کتاب المساقاة/باب تحریم بیع فضل الماء الذی یکون بالفلاة ویحتاج إلیه لرعی الکلأ، وتحریم منع بذله، وتحریم بیع ضراب الفحل (رقم-٣٥ - (١٥٦٥) والنسائی فی کتاب البیوع/باب بیع ضراب الجمل (رقم-٤٦٧٠)

ترجمه: [١] او حضرت جابر رضی الله عنه وايي [٢] رسول الله ﷺ اوښ د جفتي ختلو، د پاره په كرايه باندې وركولو [٣] او اوبه او زمكه د كاشت د پاره د خرڅولو څخه منع فرمايلي ده. (مسلم)

حل اللغات - ① ضِرَاب: جفتي كول، مال كول. ② الْجَمَل: نر اوښ.

تسهيلات: قوله عَسْبِ الْفَحْلِ:

د بيع الماء والارض صورت: - عسب الفحل او ضراب الجمل هم يو شيز دي او د بيع الماء والارض صورت دا دي چه يو سړې د زمكې مالك دې او اوبه هم په دغه زمكه كښې دى دا سړې اوبه او زمكه د محنت او كروندې په بدله كښې يو بل سړى ته وركوى او معامله د كروندې كوى چه دومره حصه زما او دومره ستا به وى دا په حقيقت كښې مزارعت او مخابرت دې د كوم تفصيل چه وړاندې راروان دي

[٢٨٥٨] د قدرتي اوبو د خرڅولو ممانعت

٢٨٥٨—[٣٣] (١) [١] وَعَنْهُ قَالَ: [٢] «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَيْعِ فَضْلِ الْمَاءِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت جابر رضی الله عنه وايي [٢] چې رسول الله ﷺ د خپل ضرورت څخه د زياتو اوبو خرڅولو څخه منع فرمايلي ده، (مسلم)

حل اللغات: - ① فَضْل: زياتي،

تسهيلات: قوله: عَنْ بَيْعِ فَضْلِ الْمَاءِ:

د فضل الماء څخه مراد: - يعنى كه د يو سړي په ملكيت كښې دومره اوبه وى چه د هغه د ضرورت نه زياتي وى او اوبه هم د قدرتي چينې نه وى او خلق د دې نه څكلو او څناورو ته وركولو كښې سخت محتاج هم وى نو په داسې صورت كښې دا اوبه منع كول او په خلقو باندې خرڅول منع دى. ځكه چه اوبه داسې څيز دې چه په دې كښې ټول مخلوق برابر شريك دې او كه د هغه د كوهى اوبه څوك خپل پټى يا باغ كښې استعمالول غواړى نو د دې معاوضه اخستل صحيح دى بل په لوښو كښې جمع كړې شوې اوبه خرڅول جائز دى

[٢٨٥٩] داويه خور دپاره د اوبو خرڅولو ممانعت

٢٨٥٩—[٣٥] (٢) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] لَا يُبَاعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيُبَاعَ

---

[١] اخرجه مسلم فى كتاب المساقاة/باب تحريم بيع فضل الماء الذى يكون بالفلاة ويحتاج إليه لرعى الكلأ. وتحريم منع بذله. وتحريم بيع ضراب الفحل (رقم-٣٤ (١٥٦٥) وابن ماجة فى كتاب الرهون/باب النهى عن بيع الماء (رقم-٢٤٧٧)

[٢] اخرجه البخارى فى كتاب الإجارة/باب من قال: إن صاحب الماء أحق بالماء حتى يروى لقول النبى صلى الله عليه وسلم: «لا يمنع فضل الماء» (رقم-٢٣٥٣) ومسلم فى كتاب المساقاة/باب تحريم بيع فضل الماء الذى يكون بالفلاة ويحتاج إليه لرعى الكلأ. وتحريم منع بذله. وتحريم بيع ضراب الفحل (رقم-٣٨ - (١٥٦٦) والترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى بيع فضل الماء (رقم-١٢٧٢)وابن ماجة فى كتاب الرهون/باب النهى عن منع فضل الماء ليمنع به الكلأ (رقم-٢٤٧٨) ومالك فى الموطا كتاب الاقضية/باب القضاء فى المياه (رقم-٢٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

بِهِ الْكَلَأُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] چې د خپل ضرورت څخه زیاتي اوبه مه خرڅوئ چې د هغه په وجه واښه خرڅول لازم نشي. (بخاري مسلم)

حل اللغات - ① الْكَلَأُ: واښه گیا

تسهیلات: **قوله** لِيُبَاعَ بِهِ الْكَلَأُ:

دوښو خرڅولو حکم: - الکلا، وښوته وائي پخپله راټوکیدونکی واښه خرڅول منع دی ددې دپاره خلق حیلې کوی اوخرڅوی دلته هم د دغه حیلونه د یوحیلې ممانعت راغلې دې مثلاً یوسړې دې هغه خپل څاروی دبل سړی د کوهی خواته د وښود څرن دپاره راولی اوس ښکاره خبره ده چه د څرن نه پس به څناور اوبه څکی لیکن د اوبو مالك وائي ماله داوبو معوضه راکړه هغه مجبوره کیدوسره د اوبو قیمت ورکوی مګر په حقیقت کښې دغه هم ددې وښو قیمت دې دغه شان هغه زیاتی اوبه خرڅولوسره په حقیقت کښې هم هغه واښه خرڅ کړل اود وښو خرڅول منع دی. علماؤ دا ممانعت په کراهت تنزیهی باندې حمل کړې دې

[٢٨٦٠] په تجارت کښې د دهوکې کولو حرمت

٢٨٦٠ - [٢٠] (١) [١] وَعَنْهُ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ [٢] فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا [٣] فَقَالَ: "مَا هَذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ؟" [٤] قَالَ: أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. [٥] قَالَ: أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ حَتَّى يَرَاهُ النَّاسُ؟ [٦] مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي (یو خل) رسول الله ﷺ د غنمو په یو ډهیر تیر شو [٢] او خپل لاس مبارك یې په هغه ډهیر کې دا خل کړي نو ګوتو مبارکو ته یې لوندوالی محسوس شو [٣] رسول الله ﷺ وفرمایل چې اې د غلی مالکه! دا لوندوالی څنګه دی؟ یعنی د غلی ډهیر ته دا لوندوالی څنګه راورسیدو ؟ او تا غله ولی لونده کړه؟ [٤] هغه عرض اوکړو چې یا رسول الله ﷺ دې ته د باران اوبه رسیدلي وي (چې د هغه په وجه: غلي څه حصه لونده شوي وه. ما قصداً نه ده لونده کړي) [٥] حضور ﷺ ورته وفرمایل چې بیا تا لانده غنم برسیره ولې نه کینبودل چې خلقو هغه لیدلي وایی (او په څه دهوکه کې نه مبتلا کیدل. [٦] یاد لرئ کوم سړی چې دهوکه ورکړي هغه زما څخه نه دی (یعنی زما په طریقه نه دی) مسلم

حل اللغات - ① صُبْرَةِ طَعَامٍ: ډهیري. ② بَلَلًا: لوندوالی. ③ السَّمَاءُ: آسمان، باران. ④ غَشَّ: ملاوټ کول.

---

[١]) اخرجه مسلم في كتاب الإيمان/باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «من غشنا فليس منا» (رقم-(١٠٢)) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية الغش في البيوع (رقم: ١٣١٥) وابن ماجة في كتاب التجارات/ باب النهي عن الغش (رقم - ٢٢٢٤)

تسهيلات:

قوله فَلَيْسَ مِنِّي:

د دهوکې ورکولو وعيد:- يعنى کوم سړي چه په اخستلو خرڅولو کښې دهوکه کوی هغه مانه نه دي هرمسلمان اوهر سوداګرله سوچ پکاردي چه دلته په معمولى خبره باندې رسول الله ﷺ څومره لوئى وعيداورولي دي اومونږ څومره لوئى لوئى دهوکې خلقونه ورکوو مال لاندې کراچئى کښې جوړشوي وى اومونږ په هغې باندې د جاپان نوم ليکلې وى اويا په هريوخيزکښې دونمبرمال د اول نمبر په مال باندې خرڅه وو په دې کښې تولد خساره ده

فليس منى کښې توجيهات:- ① فليس منى مطلب دادې چه صرف دغه خاص کار اودغه خاص شعبه کښې هغه مانه نه دې او زما امت سره ئې هيڅ تعلق نشته دې ځکه چه هغه په دغه کارکښې د غيرو په لار روان دې دا مطلب نه دې چه هغه پوره په اسلام کښې زمونږ سره نه دې اود اسلام نه خارج شو

② حضورپاك کلام د اسلوب حکيم په اندازکښې ارشاد فرمائيلې دې ځکه چه د يوامتى د پاره حضورپاك د ځان نه هم زيات محبوب دې کله چه حضورپاك دا اوفرمائيل چه د دغه سړى ماسره څه تعلق نشته نوهغه سړې به په ترقيدو شى اودا ګناه به بالکل پريږدى اوهم دغه مقصود وى

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۸۶] د بيع ثنيا ممانعت

> ۲۸۶—[۲۰] (¹) [١] عَنْ جَابِرٍ قَالَ: [٢] «إِنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنِ الثُّنْيَا [٣] إِلَّا أَنْ يُعْلَمَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت جابر رضي الله عنه وايي [٢] چې رسول الله ﷺ د بيع ثنيا يعنى د استثناء کولو څخه منع فرمايلي ده [٣] خو دا چې مقدار متعين کړل شي. (ترمذي)

يا دومره سير دومره من ما د خان د پاره مستثنى کړي دى چې نه يې خرڅوم نو داجائز دى

حل اللغات.- ① الثُّنْيَا: استثنى کول، څه خاص حصه مستثنى کول

(¹) اخرجه مسلم فى كتاب البيوع/باب النهى عن المحاقلة والمزابنة، وعن المخابرة، وبيع الثمرة قبل بدو صلاحها، وعن بيع المعاومة وهو بيع السنين (رقم -۸۵ - (۱۵۳۶) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب البيوع/باب فى المخابرة (رقم- ۳٤۰٤) والترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى النهى عن الثنيا (رقم: ۱۲۹۰) والنسائى فى كتاب البيوع/باب النهى عن بيع الثنيا حتى تعلم (رقم- ٤٦۳۳) واحمد فى المسند: ۳/۳٦٤

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات: قوله: الثُّنْيَا:

د ثنيا معنى او د ممانعت وجه: ـ دَ استثناء کولوپه معنى کنبې دې مثلاً يوسړې څه څيزخرڅوی او وائی چه ما داڅيز په تاباندې خرڅ کړو مگر يوه حصه مې نه ده خرڅه کړې په مبيع کنبې هم دغه استثناء ته ثنيا ونيلې شوې ده په دې سره په بيع کنبې جهالت راځي کوم چه مفضي الى النزاع دې په دې وجه ممنوع دی اوکه چرې دَمبيع نه بائع څه متعين څيز استثناء کړی او اووائی چه دا څيز زه په تاباندې خرڅوم ليکن لس کلوگرام درباندې نه خرڅوم يا يوگز درباندې نه خرڅوم نوداسې جائز دی

[٢٨٣] ميوه او فصل دې د پخيدلو څخه وروسته خرڅ کړې شي

٢٨٣ــ[٢٨] ()[١] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ[٢] «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَيْعِ الْعِنَبِ حَتَّى يَسْوَدَّ[٣] وَعَنْ بَيْعِ الْحَبِّ حَتَّى يَشْتَدَّ». [٤] هَكَذَا رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ عَنْ أَنَسٍ.[٥] وَالزِّيَادَةُ الَّتِي فِي الْمَصَابِيحِ وَهِيَ قَوْلُهُ " «نَهَى عَنْ بَيْعِ التَّمْرِ حَتَّى تُزْهِرَ» " إِنَّمَا ثَبَتَتْ فِي رِوَايَتِهِمَا[٦] عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «نَهَى عَنْ بَيْعِ النَّخْلِ حَتَّى تَزْهُوَ». [٧] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] او حضرت انس ﷺ وايې چې رسول الله ﷺ دانګورو هغه وخته پورې د خرڅولو څخه منع فرمايلې ده[٢] د څو پورې چې هغه تورنشي (يعني پاخه نشي) [٣] دغه شان حضور ﷺ غله هم هغه وخته پورې د خرڅولو څخه منع فرمايلې ده د څو پورې چې هغه سخته نشي (يعني د فائدي اخستو قابله نشي)[٤] دا روايت ترمذي او ابوداود د حضرت انس ﷺ څخه داسې نقل کړي دی، [٥] او صاحب مصابيح په دي روايت کې دا الفاظ، حضور ﷺ کجورې هغه وخته پورې د خرڅولو څخه منع فرمايلې ده د څو پورې چې هغه خوش رنګه نشي. يې مزيد نقل کړي دی چې په ترمذي او ابوداود کې (د حضرت انس ﷺ څخه نقل نه دي[٦] بلکه، د حضرت ابن عمر ﷺ څخه منقول دی او هغه هم داسې دی چې حضرت ابن عمر ﷺ اوويل حضور ﷺ کجورې هغه وخته پورې دخرڅولو څخه منع فرمايلې ده د څو چې خوش رنګه نشي، [٧] امام ترمذي ﷫ ويلي دي چې دا حديث حسن غريب دی

حل اللغات - ①يَسْوَدَّ: چه تور شي، پوخ شي. ②الْحَبّ: غله. ③يَشْتَدَّ: سخته شي. ④تُزْهِرَ: چه خوش رنګه، ښائسته ښکاره شي. ⑤تَزْهُوَ: ميوه زيړه يا سره کيدل.

تسهيلات:

نوټ: ـ د حديث تفصيل د حديث نمبر (٢٨٣٩) په تسهيل کنبې تيرشوي دي.

[١]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب البيوع/باب فى بيع الثمار قبل أن يبدو صلاحها(رقم: ٣٣٧١) والترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية بيع الثمرة حتى يبدو صلاحها(رقم: ١٢٢٨) وابن ماجة فى كتاب التجارات/ باب النهى عن بيع الثمار قبل أن يبدو صلاحها (رقم-٢٢١٧) واحمد فى المسند، ٢٢١/٣

قوله وَالزِّيَادَةُ الَّتِي فِي الْمَصَابِيحِ
دصاحب مشكاة په امام بغوی دوه اعتراضونه:-

① دا روايت چه په کومو الفاظو سره نقل شوي دي نو ددي ناقل ني حضرت انس رضي الله عنه خودلي دي حالانکه داسي الفاظ د حضرت ابن عمر رضي الله نه منقول دی

② امام بغوی د بيع التمر الفاظ نقل کړی دی او په اصل روايت کښي بيع النخل الفاظ راغلي دی

[٢٨٠٣] د بيع الکالی بالکالی ممانعت

٢٨٣—[٢٩] (١) ①وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ②«أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنْ بَيْعِ الْكَالِئِ بِالْكَالِئِ». رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت ابن عمر ﷺ وايي [٢] چي رسول الله ﷺ د قرض په قرض د خرڅولو څخه منع فرمايلي ده. (دار قطني)

حل اللغات: - ① بَيْعِ الْكَالِئِ: قرض په قرض باندي خرڅول

تسهيلات:

قوله نَهَى عَنْ بَيْعِ الْكَالِئِ

د بيع الکالئ بالکالئ صورت: -الکالئ همزه سره هم لوستلي کيږی اوبغير همزه هم صحيح دي دا د قرض په معنی کښي دي مطلب دادي قرض په قرض باندي خرڅول منع دی ددي صورت داوی مثلاً يوسړی د چانه قرض تويك واخستو سودا اوشوه مگر تويك ئي قبضه نه کړو او د پيسو دپاره ئي يو تاريخ مقرر کړو خو په دغه تاريخ باندي پيسي ورنه کړي شوي او بايع اوونيل چه د يوې بلي مودي پورې داتويك بيا په ماخرخ کړه زه به زياتي پيسي درکړم دابيع ناجائزده څکه چه دي کښي نه د مبيع قبضه شوي ده اونه د ثمن قبضه شوي ده يود قرض معامله د قبضه ورکولو نه وړاندي بلي قرض معامله سره خرڅولي شی کوم چه ناجائزدی

[٢٨٠٣] د بيع العربان ممانعت

٢٨٣—[٣٠] (٢) ①وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: ②«نَهَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَيْعِ الْعُرْبَانِ». رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ①او حضرت عمرو ابن شعيب د خپل پلار او هغه د خپل نيکه څخه نقل کوي ② چي رسول الله ﷺ د بيع عربان څخه منع فرمايلي ده. (مالك ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات: - ① الْعُرْبَانِ: بيعانه او ساتی ورکول.

[١] اخرجه الدار قطني في كتاب البيوع (رقم-٢٦٩)
[٢] اخرجه ابوداود في السنن أبواب الإجارة/باب في العربان (رقم-٣٥٠٢) وابن ماجة في كتاب التجارات/باب بيع العربان (رقم-٢١٩٢) ومالك في الموطا كتاب البيوع/باب ما جاء في بيع العربان (رقم-١)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات

قوله الْعُرْبَانِ

په بيع العربان كښې لغات او ددې تعريف: -په عين پيش او راء ساكن ده دا لفظ عربون او اربون هم لوستلې شوې دې اوعربان او اربان هم لوستلې شوې دې داد جاهليت په دور كښې دَ عربويوه بيع وه او نن صبا په جديد جاهليت كښې هم دا بيع روانه ده كه قيمت وركولوسره سودا مكمل شوه نودا رقم به په اصل قيمت كښې شميرلې شي اوكه سودا مكمل نه شوه نودارقم به په مفت كښې بايع سره پاتې شي دې ته دَ نن صبا په اصطلاح كښې سائي او بيعانه ونيلې شي

د بيع العربان عدم جواز: -دَ جمهور فقهاؤ په نيزدا بيع منع ده خكه چه په دې كښې فـسـد شرط كيخودې شوې دې بل په دې كښې په باطله طريقه دَبل مال خوړل دى او﴿وَلَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ﴾ [سورت بقره الايه:١٨٨] آيت دا منع كوى اوامام احمد رحمه الله دَ ابن عمر رضي الله عنه دَ يوروايت دَ وجې نه دَدې بيع دَ جواز قول كړې دې

دَ احنفو په نيز هم دا بيع قطعًا منع ده لكه چه دَجمهور فقهاؤ قول دې ليكن كه دَ بايع او مشترى دَ طرف نه دا وضاحت اوشى چه سودا دنه مكمل كيدو په صورت كښې به سائى اوبيعانه واپس مشترى ته ملاويږى نوبيا معامله جائز ده

[٢٨٦٥] دَ مجبوره كس د بيع حكم

٢٨٦٥ - [٣٠] (١) [١] وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَيْعِ الْمُضْطَرِّ [٢] وَعَنْ بَيْعِ الْغَرَرِ وَعَنْ بَيْعِ الثَّمَرَةِ قَبْلَ أَنْ تُدْرِكَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت علي كرم الله وجهه وايي چې رسول الله ﷺ د بيع مضطر بيع غرر [٢] او د راوتلو څخه مخكې د ميوو د بيع څخه منع فرمايلې ده. (ابوداؤد)

حل اللغات - ① الْمُضْطَرّ مجبور.

تسهيلات

قوله بَيْعِ الْمُضْطَرِّ

د بيع المضطر دوه مطلبونه او حكم: -يعنى دَ مجبور بيع ناجائزده دَدې دوه مطلبونه دى ① رومبې مطلب دادې چه دَ چانه په زور دَهغه څه څيز اخستل منع دى مثلاً هغه نى خرخول نه غواړى او بل سړې په هغه باندې دباؤ اچولوسره په خرخولو مجبور وى دې دَپاره چه دې پخپله دغه څيزواخلى داحرام دى اودا بيع فاسد اونهى تحريمى ده

[١] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب البيوع/باب فى بيع المضطر (رقم-٣٣٨٢) واحمد فى المسند: ١١٦/١

⑥ دویم مطلب دادی مثلاً یو سړی مجبور او مضطر دی په ده باندی د قرض او مصیبتونو ... رنګیدلی دی او س هغه خپل قیمتی څیزونه په ډیر ارزان قیمت باندی د مجبورنی نه خرخوی او دویم سړی د دغه مجبور د مجبورنی نه ناجائزه فائده اوچته وی ددی نه حضور ﷺ منع فرمائیلی ده بلکه دا تعلیم ورکول مقصود دی چه دی مجبوره سړی سره همدردی اوکړه اوده ته قرض ورکړه یا د هغه څیزیه هغه قیمت واخله په کوم چه په مارکیټ کښی اخستلی شی په دی صورت کښی که چاد یو مجبور نه مال ارزان واخستلو نو سره ددی چه بیع صحیح ده لیکن علماؤ دا مکروه ګرځولی ده دلته نهی د حرمت د پاره نه بلکه کراهت دپاره ده

[۲۸۶۳] نر څاروی په ماده د پریښودلو د پاره اُجرت اخستل ممنوع دی

۲۸۶۳ـ[۳۲] (١) [١] «وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا مِنْ كِلَابٍ سَأَلَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ [٢] فَنَهَاهُ [٣] فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا نُطْرِقُ الْفَحْلَ فَنُكْرَمُ [٤] فَرَخَّصَ لَهُ فِي الْكَرَامَةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت انس ﷺ وایی د قبیله کلاب څخه یو سړی د رسول الله ﷺ څخه نر په ماده د پریښودلو د پاره د اجرت اخستو په باره کی پوښتنه وکړه [٢] نو حضور ﷺ هغه منع کړی چی اجرت مه اخله، [٣] بیا هغه عرض اوکړو چی یا رسول الله ﷺ مونږ نر عاریتا ورکوو او مونږ ته په دی سلسله کی په طور د انعام څه راکول کیږی؟ یعنی مونږ د څه اجرت مقررولو سره خپل نر نه ورکوو بلکه عاریتا یی ورکوو خو حیوان بوتلونکی بلا طلب مونږ ته په طور د انعام څه راکوی نو آیا مونږ هغه هم نه اخلو؟ [٤] نو حضور ﷺ ورته د انعام اخستو اجازت ورکړو، ترمذی.

حل اللغات: - ① عَسْب: جفتی کول، مال کول. ② الْفَحْل: نر څاروی. ③ نُطْرِقُ: عاریة او مفت پریښودل. ④ الْفَحْلَ: نر څاروی. ⑤ فَنُكْرَمُ: په طور د انعام او اکرام څه راکولی شی

تسهیلات:

نوټ: ــددی حدیث وضاحت دی نه مخکښی حدیث نمبر ۲۸۵۶، کښی شوی دی

[۲۸۶۴] کوم څیز چه خپله درسره نه وی د هغه بیع مه کوی

۲۸۶۴ـ[۳۳] (٢) [١] «وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ: [٢] نَهَانِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَبِيعَ مَا لَيْسَ عِنْدِي. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ [٣] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ وَلِأَبِي دَاوُدَ وَالنَّسَائِيِّ [٤] قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ يَأْتِينِي الرَّجُلُ فَيُرِيدُ مِنِّي الْبَيْعَ وَلَيْسَ عِنْدِي فَأَبْتَاعُ لَهُ مِنَ السُّوقِ. قَالَ: لَا تَبِعْ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ».

¹) اخرجه الترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة عسب الفحل (رقم: ۱۲۷۴)
²) اخرجه ابوداود فی السنن أبواب الإجارة/باب فی الرجل یبیع ما لیس عنده (رقم-۳۵۰۳) والترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة بیع ما لیس عندک (رقم: ۱۲۳۳) والنسائی فی کتاب البیوع/باب بیع ما لیس عند البائع (رقم-۴۶۱۳) وابن ماجة فی کتاب التجارات/باب النهی عن بیع ما لیس عندک. وعن ربح ما لم یضمن (رقم-۲۱۸۷) واحمد فی المسند: ۴۰۲/۳

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه:[١]او حكيم بن حزام ﷺ وايي [٢]چې رسول ﷺ زه د دې څخه منع كړم چې هغه څيز خرڅ نه كړم كوم چې زما سره نه وي، (ترمذي)

[٣]د ترمذي ابوداود او د نسائي په يو روايت كې داسې دي [٤]چې حضرت حكيم ﷺ وايي ما عرض اوكړو چې يا رسول الله! ﷺ يو سړى ماته راځي او زما څخه د يو داسې څيز د رانيولو اراده كوي كوم چې زما سره نه وي نو زه هغه څيز د بازار څخه اخلم (يعني زه د هغه شي معامله د هغه سره كوم بيا هغه څيز بازار څخه اخلم او هغه سړي ته يې حواله كوم) [٥]حضور ﷺ (د دې اوريدو سره) وفرمايل چې ته يو داسې څيز مه خرڅوه كوم چې ستا سره نه وي

حل اللغات: - ①السُّوق: بازار،

تسهيلات: قوله: مَالَيْسَ عِنْدَكَ:

د ما ليس عندك مفهوم: –دې نه هغه ټول بيوعات مراد دى دكوم په حواله كولوسره چه سړې قادر نه وى ځكه چه دَ صحت بيع دَپاره دا ضرورى ده چه سړې كوم څيزخرڅوى هغه دا دَمشترى په حواله كولې هم شى. كه چرې بائع دَمبيع دَ حواله كولونه قاصر دې نوهغه دَدې قيمت ځنكه اخستې شى لهذا داسې صورت ناجائز دې

[٢٨٦٨]په يوه بيع كښې دوه بيعې كول منع دى

٢٨٦٨–[٣٠] ()[١]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: [٢]«نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِي صَفْقَةٍ وَاحِدَةٍ». رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه:[١]او حضرت ابوهريره ﷺ وايي[٢] چې حضور ﷺ په يوه بيع كې د دوو بيعو كولو څخه منع فرمايلې ده . (مالك ، ترمذي ، ابوداود ، نسائي)

حل اللغات: - ①صَفْقَة: يوعقد ي،، معامله

تسهيلات:

قوله: عَنْ بَيْعَتَيْنِ:

د بيعتين فى بيع دوه صورتونه: –يعنى په يوه بيع كښې دَدوو بيع كولونه حضورپاك منع فرمائيلې ده

① دَدې بيع يو صورت دادې چه مثلاً يوسړې بل ته وائى چه زه خپله ميخه په زر روپيئى باندې ستا په لاس خرڅوم ليكن په دې كښې دا شرط دې چه ته به خپله غوا په ما باندې په پنځه سوا روپې عوض خرڅوې. دا بيع په دې وجه ناجائز ده چه په دې كښې دَعقد منافى.

---

[١]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الجنائز. باب فى الفسل من غسل الميت(رقم-٣٤٦١) والترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى النهى عن بيعتين فى بيعة(رقم: ١٢٣١)والنسائى فى كتاب البيوع/باب بيعتين فى بيعة. وهو أن يقول: أبيعك هذه السلعة بمائة درهم نقدا، وبمائتى درهم نسيئة (رقم-٤٦٣٢)

شرط کیخودې شوې دې نن صبا خلق دغه شان بیع اوشراء کنبې سودی کاروبار هم کوی هغه داسې چه یوغریب سړې دَ مالدار سړی نه قرض پیسې اخستل غواړی هغه ورته وائی چه زه به قرض پیسې درکړم لیکن دَهغې دَپاره دا شرط دې چه ته به زما غوا په لس زره روپیئی قیمت باندې اخلې حالانکه هغه غوا دَ پنځو زرو وی دا سود اوحرام دی

④ بیعتین فی بیعة: دویم صورت دادې چه مثلاً یو سړې بل ته وائی چه زه په تاباندې دا کپړا په لس درهم نقد روپو باندې خرخوم او په قرض باندې په شل درهم باندې خرخوم هغه سړې دَ یوې بیع تعیین نه کوی بلکه وائی زه ئی اخلم په دې معامله کنبې په ثمن کنبې جهالت راغلو او معلومه نه شوه چه دې مشتری کوم یو صورت قبول کړې دې لهٰذا دا هم ناجائز ده اوکه چرې یوه معامله فیصله شی اومعامله صفا شی چه مشتری دَ نقدو والا صورت اختیار کړې دې یا دَ قرض والا صورت ئی خپل کړې نوبیا دامعامله جائز ده دَ راتلونکی حدیث تشریح هم دغه شان ده.

[۲۸۷۹] په یوعقد کښې د دوو عقودو د معاهدې ممانعت

۲۸۷۹ــ [۳۰] (١) ⓵ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: ⓶ «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِي صَفْقَةٍ وَاحِدَةٍ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ⓵ او حضرت عمرو بن شعیب رحمه الله دخپل پلار (شعیب) څخه او هغه دَ خپل نیکه (حضرت عبد الله ابن عمرو رضي الله عنهما) څخه نقل کوي ⓶ چې رسول الله ﷺ په یوه بیع کې د دوو بیعو کولو څخه منع فرمایلي ده. (شرح السنة)

[۲۸۸۰] د بیع او سلف ممانعت

۲۸۸۰ــ [۳۱] (٢) ⓵ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⓶ " «لَا يَحِلُّ سَلَفٌ وَبَيْعٌ، ⓷ وَلَا شَرْطَانِ فِي بَيْعٍ، ⓸ وَلَا رِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنْ، ⓹ وَلَا بَيْعُ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ» " ⓺. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: ⓵ او حضرت عمرو ابن شعیب رحمه الله ناقل دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل قرض ⓶ او بیع (د یو بل سره متعلق کولو سره) حلال نه دی، ⓷ په بیع کې دوه شرطونه کول صحیح نه دي ⓸ د هغه شي څخه نفع اخستل صحیح نه دي چې اوس لا په خپل ضمان (قبضه) کې نه وي راغلی ⓹ او هغه څیز خرڅول جائز نه دی چې ستا سره نه وي (یعني ستا په ملکیت

(١) اخرجه البغوی فی شرح السنة (رقم-٢١١٢)

(٢) اخرجه ابوداود فی السنن أبواب الإجارة/باب فی الرجل يبيع ما ليس عنده (رقم-٣٥٠٤) والترمذی فی كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی كراهية بيع ما ليس عندک (رقم: ١٢٣٤) والنسائی فی كتاب البيوع/باب بيع ما ليس عند البائع (رقم-٤٦١١) وابن ماجة فی كتاب التجارات/باب النهی عن بيع ما ليس عندک وعن ربح ما لم يضمن (رقم-٢١٨٨) واحمد فی المسند: ١٧٨/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

کي نه وي.[٦] ترمذي ابوداود نسائي، او امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث صحيح دی

حل اللغات - ①سَلَفٌ: قرض باندي معامله کول. ②بَيْعٌ: گته اخستل.

تسهيلات: قوله سَلَفٌ وَبَيْعٌ:

د سلف وبيع مطلب او صورت: -يعنی قرض اوبيع حلال نه ده دَدې مطلب دادې چه قرض ورکول او بيع کول دوه جدا جدا معاملې دی دا يوبل سره منسلك کول جائز نه دی مثلاً يو سړې چاته قرض ورکوی اووائی چه ته به ماته خپله غوا په پنځه زره روپيئی عوض باندې راکوې حالانکه هغه غوا دَ لسو زروده يا دا وائی چه ته به زما فلانکې کارکوې اوسل روپۍ دهيارې به اخلې حالانکه دَ روزمره دهيارې دوه سوا روپيئی ده يا داسې وائی چه ته به زما فلانکې غوا په لس زره روپيئی اخلې حالانکه هغه غوادَ پنځو زرو ده دا ټول صورتونه نن صبا پاکستان کښې رائج دی اودا خالص ربوا او سود دې ځکه چه داسې دَ قرض په بهانه کښې سوداگری کولوسره گته کوی او "کل قرض جرنفعاًفهوربوا" په زد کښې راځی يعنی چه کوم قرض کومه گټه دَمالك طرف ته راښکله هغه سود او ربوا ده

قوله: وَلَا شَرْطَانِ فِي بَيْعٍ:

په عقد کښې د شرط دوه قسمونه: -① په عقدکښې شرط دوه قسمه وی يوهغه شرط چه عقد بيع سره هوار او مناسب وی دَ هغې علامت او پيژندګلو دا وی چه شرط لګول يا نه لګولوسره په عقدباندې هيڅ اثر نه پريوځی په عقدکښې که چرې دا قسم شرط که څوك اولګوی نومنع نه دې که هغه يوشرط وی اوکه لس وی

② دويم قسم شرط دادې چه دَ مقتضاء عقد منافی وی او په هغې کښې دَ بائع يا مشتری څه فائده نه وی داشان شرط عقد بيع فاسدکوی ليکن په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې

په دويم صورت کښې مذاهب: -

①دَ امام مالك رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز که چرې عقدکښې دوه شرطونه اولګوی نوعقدبه باطل وی ليکن که چرې يو شرط اولګوی نو جائز دې مثلاً که چا دَ دوکاندار نه دکپړې اخستو په وخت اووئيل چه کپړا راکړه مگر شرط دادې چه وينځلوسره به سلائی هم کوې دا باطل دې اوکه چرې دائی اووئيل چه کپړا راکړه او وينځلوسره ئې راؤړه نودا جائز دی ځکه چه يو شرط دې

② دَ احناف او شوافع په نيز په دوران عقدکښې دَعقد منافی يوشرط هم مفسد بيع دې او دوه يا زيات شرطونه هم مفسدبيع دی

د اول فريق دلائل: -① اول فريق دَ زير بحث حديث دَمفهوم مخالف نه استدلال کړې دې چه دوه شرطونه مفسد دی لهذا يو مفسد نه دې

④ حضرت جابر رضي الله عنه دَ اوښ په خرخولو کښې مدينې پورې دَ سورلئ کولو شرط لګولوو او نبي کريم ﷺ پرې څه اعتراض نه وو کړې نو دا د صحت عقد دليل دې

د دويم فريق دليل: - دويم فريق د دې حديث نه استدلال کړې دې ان النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن بيع وشرط «اعلاء السنن»

د اول فريق د دلائلو څخه جواب: - دَ زيربحث حديث نه دا جواب دې چه دلته دَ شرط نه قيد اتفاقي دې احترازي نه دې بل دَ مفهوم مخالف نه استدلال کول احناف قطعاً نه مني دَ حضرت جابر رضي الله عنه دَ واقعه تفصيل او صورت حال بيان وړاندې راځي هلته به جواب کيږي

قوله وَلَا رِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنْ:

د بيوعاتو متعلق يوه قاعده: - يعني چه کله يوڅيز دَچا په ضمان کښې نه راځي هغه دَ هغې نه نفع نه شي اوچتولې مثلاً يو سړي دَ چانه څاروې واخستلو ليکن تر دغه وخته پورې ئې لا په خپله قبضه کښې نه دې راوستې اودَ بائع نه دَهغې دَ پېئو يا دَ سورلئ کرايه غواړي نودا جائز نه دې ځکه چه دغه وخته پورې دا څاروې دَ دغه مشترى په ضمن کښې نه دې راغلې که چرې دا څاروې مړ شو نودَ بائع نقصان به کيږي په مشترى باندې به څه نه راځي لهذا چه کله په ده باندې تاوان نشته نودَ هغې نفع به هم هغه ته نه ملاويږي

دَحديث دا جمله دَ ټولو بيوعاتو دَپاره ضابطه اوقاعده کليه ده کوم چه احناف خپل کړې دې اودَدې خلاف په ټولو جزئيات کښې تاويل کړې دې دې دَپاره چه دَ ضابطه حفاظت اوشي په بيع مصراة کښې تاويل هم دَدې قاعده دَ وجې نه کړې شوې دې دغه شان دويمه قاعده "الغنم بالغرم" ده او "الخراج بالضمان" هم مضبوطه قاعده ده

[٢٨١٧] دَ قيمت په اداکولو کښې دَ پيسو د بدلولو جواز

٢٨١٧ - [٣٠] ( ) [١] عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: [٢] كُنْتُ أَبِيعُ الْإِبِلَ بِالنَّقِيعِ بِالدَّنَانِيرِ [٣] فَآخُذُ مَكَانَهَا الدَّرَاهِمَ [٤] وَأَبِيعُ بِالدَّرَاهِمِ فَآخُذُ مَكَانَهَا الدَّنَانِيرَ [٥] فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ " [٦] قَالَ: «لَا بَأْسَ أَنْ تَأْخُذَهَا بِسِعْرِ يَوْمِهَا مَا لَمْ تَفْتَرِقَا وَبَيْنَكُمَا شَيْءٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي [٢] چې ما به په نقيع (چې مدينې ته نزدې يو ځاى دى ، کې اوښان د دېنارونو په بدله کې خرڅول [٣] او د دېنارونو په بدله کې به مې درهمونه اخستل [٤] دغه شان چې اوښان به مې د درهمونو په عوض کې خرڅول نو د درهمونو په بدله کې به مې دينارونه اخستل [٥] بيا چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم نو

( ) اخرجه ابوداود في السنن كتاب البيوع/باب في اقتضاء الذهب من الورق (رقم-٣٣٥٤) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الصرف (رقم_١٢٤٢) والنسائي في كتاب البيوع/باب بيع الفضة بالذهب وبيع الذهب بالفضة (رقم-٤٥٨٢) وابن ماجة في كتاب التجارات/ باب اقتضاء الذهب من الورق، والورق من الذهب (رقم-٢٢٦٢)

Maktaba Tul Ishaat.com

ما ⑥ حضور ﷺ ته د دې ذکر وکړې حضور ﷺ وفرمايل چې په دې کې څه حرج نشته چې ته د دينارونو په بدله کې درهمونه او د درهمونو په بدله کې دينارونه واخلې هر کله چې نرخ د هغه ورځې مطابق وي او تاسو دواړه د يو بل څخه په داسې حال کې جدا شئ چې ستاسو په منځ کې هيڅ څيز نه وي. (ترمذي ، ابوداود ، نسائي)

حل للغات: - ① بِالنَّقِيعِ: مديني منورې ته نژدې يو ځائې دې. ② سعر: قيمت، نرخ.

تسهيلات: قوله: بِالنَّقِيعِ:

د لفظ نقيع مصداق: -مديني منورې سره نيژدې يوځائې نوم نقيع دې دې ځائې کښې دَ خارِوو مندئې لګيدله درهم دَ چاندئې يوه سکه ده اودينار دَ سرو زرو سکه ده نن صبا په کويت کښې دينار چليږي او په دوبئې کښې دَ درهم رواج دې

د حديث مطلب: دَحديث مطلب دادې چه که يوسړې مثلاً څه څيز دَ درهم په عوض واخلي او بيا په قيمت کښې دينار ورکړي يا دَ دې برعکس اوکړي نودا جائز دى

قوله: بِسِعْرِ يَوْمِهَا:

د مذکوره حکم محمل: -يعنې چه کله نرخ دَهغه ورځې مطابق وی، داحکم استحبابی دې کنې جائز داهم دی چه په کوم نرخ باندې اخستل غواړی اخستې شی

قوله: وَبَيْنَكُمَا شَيْءٌ:

په مجلس کښې مبيعه په قبضه کښې راوستل: - دا جمله دَمالم يتفرقا نه حال واقع ده يعنې چه په کوم مجلس کښې دَ اخستلو اوخرڅولومعامله شوې ده اودَ سکې دَ بدلون صورت پيښ شوې دې دَهغې دپاره دا شرط دې چه هم په دغه مجلس کښې دې فريقين په خپل خپل څيزباندې قبضه واچوی دې دَپاره چه دَ مجلس نه دَ جدا کيدو په صورت کښې دَنقد بيع دَ قرض سره لازم رانه شی کوم چه سود دې لهذا هم په مجلس کښې بيع اوقيمت باندې قبضه کول ضروری دی. علامه ابن همام رحمه الله ليکلی دی چه درهم او دينارچونکه غيرمعين سکې دی په دې وجه يو درهم يا دينار يا روپيئی يا مثلاً دَ ريال په ځائې دويم درهم يا دينار يا روپيئی يا ريال ورکول جائز دی په دې شرط چه په خپل خپل مينځ کښې په ماليت کښې برابر وی.

[٢٨٤٧] دَ حضوراکرم ﷺ دَ يوې بيع تذکره

٢٨٤٧—[٣٨] (١) ① وَعَنِ الْعَدَّاءِ بْنِ خَالِدِ بْنِ هَوْذَةَ أَخْرَجَ كِتَابًا: ② هَذَا مَا اشْتَرَى الْعَدَّاءُ بْنُ خَالِدِ بْنِ هَوْذَةَ مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③ اشْتَرَى مِنْهُ عَبْدًا أَوْ أَمَةً لَا دَاءَ وَلَا غَائِلَةَ وَلَا خِبْثَةَ بَيْعَ ④ الْمُسْلِمِ الْمُسْلِمَ. ⑤ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

(١) اخرجه البخاری فی کتاب البيوع/باب إذا بين البيعان ولم يكتما والترمذی فی كتاب الجهاد/باب فی الجلب علی الخيل فی السباق (رقم-٢٥٨١) وابن ماجة فی كتاب التجارات/ باب شراء الرقيق (رقم-٢٢٥١)

ترجمه: [١] او د حضرت عداء بن خالد بن هوذه په باره کې منقول دی هغه يو تحرير راووخکلو [٢] چې په هغه کې دا ليکلي وو چې دا بيعنامه ده، چې د رسول الله ﷺ سره د عداء بن خالد بن هوذه ﷺ د خريدارۍ متعلق ده [٣] عداء د محمد ﷺ څخه يو غلام يا وينځه خريد کړه چې په هغه کې څه مريضي نشته څه بدي نشته او څه خرابي نشته [٤] عداء دا داسې خريد کړي دی څنګه چې يو مسلمان ديو مسلمان څخه خريد کوي. [٥] امام ترمذي ﷫ دا روايت نقل کړي دی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: - ① غَائِلَةٌ: عيب، نقصان، ② خِبْثَةٌ: خباثت، پليتي، اصل نسل نه خراب.

تسهيلات: **قوله:** الْعَدَّاءِ:

د عداء تعارف: - په عين باندې فتحه او دال باندې شد دی په آخره کښې همزه دی دا ډير کم روايت کونکې صحابی وو. دَ بصره په اطراف کښې اوسيدونکې او دَ غزوه حنين نه پس ئې اسلام راوړلې وو.

قوله: لَادَاءَ:

د مرض څخه سلامتيا: - يعنى دَ څه ليوتتوب جذام يا برګى مرض وغيره څه بيمارى په هغه کښې نه وى مراد دا چه داسې عيب نشته کوم چه موجب للخيار وى.

قوله: وَلَا غَائِلَةَ:

دمال عدم ضياع: - يعنى څه داسې عيب نه وى چه دَ مشترى مال تباه کړى لکه غل کيدل، زناکار کيدل، شرابى کيدل، بهګوړا کيدله.

قوله: وَلَا خِبْثَةَ:

د عدم خباثت شرط: - يعنى دَ اصل نسل په اعتبارسره په هغې کښې څه خباثت نه وى دکوم نه چه دَ قبيح اعمالو دَ صادرکيدو احتمال وى. يعنى فاسق فاجرنه دې، ولدالزنا نه دې، دروغژن نه دې او جوارګرنه دې.

دادَ مسلمان دَ بل مسلمان سره معامله ده په دې وجه به په دې کښې دَ شريعت دَتولو تقاضو خيال ساتلې شى. خلاصه دا چه غلام بنه دې په ده کښې هيڅ عيب نشته او فريقين دَ يو بل سره څه دهوکه نه ده کړې.

[٢٨٤٣] دَ نيلام په توګه د بيع جواز

٢٨٤٣—[٣٩] (١) [١] وَعَنْ أَنَسٍ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَاعَ حِلْسًا وَقَدَحًا [٢] فَقَالَ مَنْ يَشْتَرِي هَذَا الْحِلْسَ وَالْقَدَحَ؟ [٣] فَقَالَ رَجُلٌ: أَخَذْتُهُمَا بِدِرْهَمٍ [٤] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَنْ يَزِيدُ عَلَى

[1]) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الزكاة/باب ما تجوز فيه المسألة(رقم-١٦٤١) والترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى بيع من يزيد (رقم: ١٢١٨) والنسائى فى كتاب البيوع/باب البيع فيمن يزيد (رقم-٤٥٠٨) وابن ماجة فى كتاب التجارات/باب بيع المزايدة(رقم-٢١٩٨) واحمد فى المسند: ١١٤/٣

Maktaba Tul Ishaat.com

دِرْهَمٍ؟ «فَأَعْطَاهُ رَجُلٌ دِرْهَمَيْنِ فَبَاعَهُمَا مِنْهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او حضرت انس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ يو ټاټ او يوه پياله خرخول. [٢] نو وي فرمايل چې د دې ټاټ او پيالې خريدار څوك دى؟ څوك چې خريد كول غواړي د دې قيمت دې ولګوي [٣] يو سړي عرض اوكړو چې زه دا دواړه څيزونه د يو درهم په عوض كې آخلم [٤] حضور ﷺ بيا وفرمايل چې د يو درهم څخه زيات قيمت وركونكى څوك دى؟ [٥] نو يو بل سړي حضور ﷺ ته دوه درهمه پيش كړل او حضور ﷺ هغه دواړه څيزونه په هغه سړي په دوه درهمه خرڅ كړل. (ترمذي ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات - ① حِلْسًا: ټاټ، دړى. ② قَدَحًا: پيالې.

تسهيلات:

قوله مَنْ يَزِيدُ عَلَى دِرْهَمٍ:

د حديث پس منظر او شان ورود:- يعنى د يو درهم نه زيات قيمت څوك دركوى د دې حديث پس منظر دادې چه يوسړى تنګدستيا د وجې نه د حضورپاك نه سوال اوكړو حضورپاك اوفرمائيل چه تاسره څه سامان شته هغه ونيل يود بوجې ټكړه شته او يوه پيالئ ده رسول الله ﷺ اوفرمائيل دغه دواړه څيزونه خرڅ كړه اودې نه پس كه مجبوره شوې بيا سوال كوه هغه سړى دواړه څيزونه راوړل حضورپاك د نيلام كولو په توګه هغه خرڅ كړل كوم ته چه د فقهاء په اصطلاح كښې بيع من يزيد وائى داحديث د دې خبرې دليل دې چه د نيلام په توګه څيزخرڅول جائز دى دا د لاترنى صورت نه دې نه انعامى بانډ دې هغه ناجائز دى

د مذكوره صورت اصطلاحى نوم: دلته د يوسړى په سودا باندې د بل سړى د سودا كولو صورت نشته دې بلكه دلته د شروع نه بائع په دې اراده سره مال وړاندې كوى چه كوم سړې زيات قيمت وركوى بيع به هم هغه ته وركوى دلته چرته يو سړى سره خبره نه ده بلكه د پوره دلې په مخكښې مبيع كيخودو سره زيات قيمت وركونكى سره معامله ده كوم ته چه "بيع بالمزايدة" او "بيع من يزيد" وائى د دې په جواز كښې څه شبه نشته دې بيع على سوم الشراء هغه وى چه بائع اومشترى راضى شوې وى اودريم سړې راشى اود سودا لګولو كوشش كوى دغه منع دى

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٨٧٠] دعیب دار څیز د خرڅولو وعید

٢٨٧٠-[٢٠]( )[١]عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "[٢]«مَنْ بَاعَ عَيْبًا عَنْهُ لَمْ يُنَبِّهْ[٣]لَمْ يَزَلْ فِي مَقْتِ اللهِ[٤]أَوْلَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تَلْعَنُهُ». "رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١]حضرت واثله ابن اسقع رضي الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوریدل[٢] چې کوم سړی یو عیب دار څیز داسې خرڅ کړي چې د هغه د عیب څخه خریدار خبر نه کړي [٣]نو هغه همیشه د الله جل جلاله په غضب کې وي [٤]یا دا یې وفرمایل چې فرښتې همیشه په هغه لعنت لیږي، (ابن ماجه)

حل اللغات:- (١)مَقْتِ اللهِ: غضب د الله.

تسهیلات:

قوله: لَمْ يَزَلْ فِي مَقْتِ اللهِ:

په مبیع کښې د عیب پټولو وعید:- که چرته په یو څیز کښې عیب وی او څوك ئی خرڅول غواړی نو په هغه لازم ده چه دهغې دعیب ذکر دمشتری په وړاندې اوکړی که چرې عیب خودلونه بغیربایع په مشتری باندې څه څیز خرڅ کړو نودا بایع به همیشه دالله تعالی په غضب او دفرښتو په لعنت کښې وی. مسلمانانو تجارت پیشه خلقو له په هوش کښې راتلل پکار دی په دوی کښې اکثر ددې وعید په زد کښې دی

---

(١) اخرجه ابن ماجة في السنن كتاب التجارات/ باب من باع عيبا فليبينه (رقم-٢٢٤٧)

Maktaba Tul Ishaat.com

باب (فی البیع المشروط)

د مشروط بیوعاتو بیان

خلاصة الباب:-

فیه ثمانیة أحادیث مشتملة علی خمس مسائل:

① ما یجوز من الشروط: ١، ٢.

② النهي عن بعض الشروط: ٣، ٤. اورده طرداً للثالث: ٥.

③ الحکم عند اختلاف المتبایعین: ٦.

④ الترغیب فی الإقالة: ٧.

⑤ مایدخل فی البیع ولا یدخل: ١.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٢٨٤٨] دَ میوه دارې ونې دَ بیع حکم

٢٨٤٨—[ ] ( ) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② «مَنِ ابْتَاعَ نَخْلًا بَعْدَ أَنْ تُؤَبَّرَ فَثَمَرَتُهَا لِلْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ ③ وَمَنِ ابْتَاعَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ فَمَالُهُ لِلْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ ④ وَرَوَى الْبُخَارِيُّ الْمَعْنَى الْأَوَّلَ وَحْدَهُ.

ترجمه: ① حضرت ابن عمر ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② که یو سړی تابیر کړي د کجوري ونه رانیسی نو د هغه میوه د خرخونکي ده خو دا چې خرید کونکی میوه مشروط کړي ③ او داسي که یو سړی یو داسې غلام واخلی چې د هغه سره مال وي نو د هغه هغه مال د خرخونکي دی. مګر که خرخونکي د هغه مال خپل خان دپاره شرط ولګوي چې مال به یې زما وي ④ مسلم، بخاري د دي حدیث یواځی مخکنی جز، (یعني مَنِ ابْتَاعَ نَخْلًا الخ) نقل کړي دی

حل اللغات - ① تُؤَبَّرَ اصلاح او پیوندکاری کول. په وونه کښې قلم لګول

تسهیلات: قوله أَنْ تُؤَبَّرَ

د لفظ تابیر تحقیق: -د باب تفعیل نه مستعمل دي او په مجرد کښې دَ نصر ینصر نه هم راخی دَ اصلاح او پیوندکارنی په معنی کښې دي دَعربو عادت وو چه دَ کهجورو په باغ

١) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب الرجل يكون له ممر أو شرب في حائط أو في نخل (رقم-٢٣٧٩) ومسلم في كتاب البيوع/باب من باع نخلا عليها ثمر (رقم-٨٠ - (١٥٤٣)) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في ابتياع النخل بعد التأبير والعبد وله مال (رقم: ١٢٤٤) والنسائي في كتاب البيوع/باب العبد يباع ويستثني المشتري ماله (رقم-٤٦٣٦) وابن ماجة في كتاب التجارات/ باب ما جاء فيمن باع نخلا مؤبرا، أو عبدا له مال (رقم-٢٢١١) واحمد في المسند: ٧٨/٢

كښې به نې د نر ونې ګل د مادي ونې په ګلونو او غوټو كښې پيوند لګولو سره يوځاني كول كوم سره چه به فصل زيات راتلو په كهجورو كښې د انسانانو په شان نر او ماده ونې وي كه په پوره باغ كښې د نركهجورې يوه ونه هم نه وي نو د وى باغ فصل خرابيږي

د تابير په مسئله كښې مذاهب:-

كه چا په ونو كښې قلم اولګولو او د قلم لګولو څخه روستو يا مخكښې نې ونې خرڅې كړې نو ددې نه پس پيدا كيدونكي ميوه به د غه ونو كښې راتلونكې ميوه د باغ د مالك بائع وى يا د اخستونكى مشترى به وى په دې كښې د فقهاؤ كرامو اختلاف دې

① د جمهورو په نيزكه چرې نخل مؤبر خرڅه كړې شى نو په ونو كښې موجود ميوه د بائع حق دې اوكه چرې مشترى شرط اولګوى چه ونوسره به ميوه هم زما وى بيا به هم د هغه وى اوكه د باغ مالك نخل غيرمؤبرخرڅې كړې اوميوه لګيدلې وى نودا ميوه د مشترى حق دې اوكه چرې بائع شرط اولګولو چه ميوه به زما وى ياد ساتنې چه په كومه ميوه كښې اختلاف دې داهم هغه ميوه ده چه په ونوباندې د بيع په وخت موجود ده د جمهورو په نيز كه چرې دا موجوده ميوه د تابير په نتيجه كښې راغلې وى نودا د بائع ده اوكه د تابير نه بغيرراغلې ده نودا د مشترى ده اوكه مشترى شرط اولګوى نو هغه جدا خبره ده

② احناف په دې كښې فرق نه كوى بلكه فرمائى چه كه تابير وى اوكه نه وى موجوده ميوه د بائع حق دې اوكه مشترى شرط اولګوى نو هغه جدا خبره ده

د اول فريق دليل:- اول فريق د زير بحث حديث نه استدلال كوى او استدلال د مفهوم مخالف په توګه باندې دې كه چرې تابيرشوې نخل وى نوميوه د بائع ده د دې مفهوم مخالف دا دې كه چرې تابيرشوې نخل نه دى نوبيا ميوه د بائع نه بلكه د مشترى ده

د فريق اول د دليل څخه جوابونه:- ① مونږ ډير خل ونيلى دى زمونږ په نيز مفهوم مخالف حجت نه دې نو ددې نه استدلال معتبر نه دې

② چه په ونو باندې كومه ميوه لګيدلې ده په هغې كښې اتصال قرار نه دې بلكه دا د اتصال او جدا كيدو او د قطع د پاره دې

د دويم فريق دلائل:- دويم فريق د هغه حديث نه استدلال كوى كوم چه موطا امام محمد كښې په دې الفاظو سره ذكر دې ‹‹عن النبي صلى الله عليه وسلم قال من اشترى ارضاً فيها نخل فالثمر للبائع الا ان يشترط المبتاع›› په دې حديث كښې د تابير هيڅ قيد نشته دې

قوله وَلَهُ مَال:

عبد ته د مال د نسبت وجه:- د عبد طرف ته د مال نسبت د تمليك د پاره نه دې بلكه د قبضه په توګه مجاز دې ځكه چه څوك غلام د مال مالك نه وى عبد سره چه كومې كپړې بوټان وغيره دى هغه په وخت د خرڅ د هغه د مالك دى اوكه چرې مبتاع يعنى مشترى د دې د اخستلو شرط اولګوى نو بيا به هم د هغه وى

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٨٤٦] د مشروط بيع حکم

٢٨٤٦-[٢] ()[١] وَعَنْ جَابِرٍ «أَنَّهُ كَانَ يَسِيرُ عَلَى جَمَلٍ لَهُ قَدْ أَعْيَا[٢] فَمَرَّ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِهِ، فَضَرَبَهُ، [٣] فَسَارَ سَيْرًا لَيْسَ يَسِيرُ مِثْلَهُ[٤] ثُمَّ قَالَ: "بِعْنِيهِ بِوُقِيَّةٍ"[٥] قَالَ: فَبِعْتُهُ فَاسْتَثْنَيْتُ حُمْلَانَهُ إِلَى أَهْلِي[٦] فَلَمَّا قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ أَتَيْتُهُ بِالْجَمَلِ وَنَقَدَنِي ثَمَنَهُ،[٧] وَفِي رِوَايَةٍ: فَأَعْطَانِي ثَمَنَهُ وَرَدَّهُ عَلَيَّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه:[١] او د حضرت جابر ﷺ په باره کې روايت دی چې هغه (د يوسفر په دوران کې چې مديني ته راتلی) په خپل اوښ سور روان وو او هغه اوښ دومره ستړی شوی وو (چې د تلو څخه هغه معذور شوی وو) [٢] رسول الله ﷺ چې د جابر ﷺ سره نزدې تير شو نو حضور ﷺ د هغه اوښ (په لرګي يا په هغه) چابك سره (چې د حضور ﷺ په لاس مبارك کې وو) او وهلی [٣] نو هغه (د حضور ﷺ د لاس مبارك په برکت سره) په دومره تيز رفتاری سره روان شو چې مخکې په دومره تيز رفتاری سره هيڅکله نه وو تللی، [٤] بيا د دې څخه وروسته حضور ﷺ حضرت جابر ﷺ ته وفرمايل چې ته دا اوښ په ما په يوه وقيه عوض کې خرڅ کړه [٥] حضرت جابر ﷺ اوويل چې ما دا اوښ په تا خرڅ کړي، ليکن زه د خپل کور پورې په دې سورلی مستثنی کوم (يعني زه يې په دې شرط خرڅوم چې د خپل کور پورې به په دې اوښ سور ځم) [٦] حضرت جابر ﷺ وايي چې کوم وخت زه مديني ته راغلم نو د هغه اوښ سره د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او حضور ﷺ ماته د هغه قيمت اداء کړي، [٧] په يو روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ ماته قيمت هم راکړي او اوښ يې هم واپس راکړي (يعني د هغه قيمت يې هم راکړي او اوښ يې هم راته راکړي) بخاري مسلم

حل اللغات: - ① أَعْيَا: ستړې شوه سورلی. ② وُقِيَّةٌ: اوقيه د څلوېښتو درهمو برابر وی. ③ فَاسْتَثْنَيْتُ: نو ما مستثنی کړل. ④ حُمْلَانَهُ: څوريدل ددې. ⑤ وَنَقَدَنِي: او نغد نې راکړو. ⑥ ثَمَنَهُ: قيمت ددې.

[١] وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ أَنَّهُ قَالَ لِبِلَالٍ: "[٢] «اقْضِهِ وَزِدْهُ" فَأَعْطَاهُ، وَزَادَهُ قِيرَاطًا».

ترجمه:[١] د بخاري په يو روايت کې دا الفاظ دي چې کوم وخت حضرت جابر ﷺ حضور ﷺ ته اوښ ورکړي نو حضور ﷺ حضرت بلال ﷺ ته وفرمايل [٢] چې جابر ﷺ ته د اوښ قيمت ورکړه او څه زيات هم ورکړه نو حضرت بلال ﷺ هغه ته د اوښ قيمت هم ورکړي او يو قيراط (چې د درهم شپږمه حصه کېږي) زيات يې هم ورکړي.

[١]) اخرجه البخاري في كتاب الشروط /باب إذا اشترط البائع ظهر الدابة إلى مكان مسمى جاز (رقم-٢٧١٨) ومسلم في كتاب المساقاة /باب بيع البعير واستثناء ركوبه (رقم-١٠٩ - (٧١٥)

تسهيلات:

قوله فَاسْتَثْنَيْتُ حُمْلَانَهُ:

د مذکوره جملې مطلب:- يعنی دَ مدينې پورې سوريدل او تلل ما دَ بيع نه مستثنی کړل يعنی اوبن ئې په دې شرط باندې خرڅ کړو چه دَمدينې پورې به حضرت جابر ﷛ په دې باندې سورخی.

سورلی د څه وخته پورې د بائع په قبضه کښې د پاتې کيدود شرط په حکم کښې مذاهب:- که يوسړې خپله سورلی که هغه څناور وی اوکه ګاډې وی په دې شرط باندې خرڅوی چه دَ فلانکی وخته پورې به دا خرڅ شوې څيز زما په استعمال کښې وی نويه دې شرط کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې

① دَ امام مالك ﷫ په نيزکه فاصله کمه وی نوداسې مشروط بيع جائز ده لکه چه دلته دَ مدينې پورې مسافت کم وو اوکه چرې مسافت زيات وی نوبيا ناجائز ده

② امام احمدبن حنبل ﷫ په نيز داسې مشروط بيع مطلقًا جائز ده

③ دَ امام ابوحنيفه ﷫ او امام شافعی ﷫ په نيزداسې مشرط بيع بالکل ناجائز ده

داول فريق دليل:- امام احمد بن حنبل ﷫ دَ زير بحث حديث نه استدلال کړې دې چه په خپله مدعی باندې په واضح توګه دلالت کوی

د دويم فريق دليل:- ① دَ مالکيه هم دغه زير بحث حديث مستدل دې

د زير بحث حديث څخه څلور جوابونه:- ① شرط په صلب عقد کښې نه وو بلکه دَعقد کيدونه پس حضرت جابر ﷛ دَمدينې پورې دَ سوريدو اجازت اوغوښتو نوحضورپاك ورکړو دَ حديث الفاظ هم په دې دلالت کوی ((فبعته فاستثنيت حملانه))

② دا شرط حضرت جابر ﷛ نه وو لګولې بلکه حضوراکرم ﷺ هغه ته دَخپل طرف نه يورعايت ورکړې وو. دَدې حديث په بعض طرق کښې دا الفاظ راغلی دی ((قد اعرتك ظهره الى المدينة))

③ حضرت جابر ﷛ مديون خسته حال وو نوې واده ئې هم شوې وو نوحضورپاك غوښتل چه دَهغه امداداوکړی ليکن دَهغه دَعزت نفس خيال ئې اوساته او صورةً ئې دَ بيع شکل جوړکړو اوبيائې اوبن او پيسې دواړه ورواپس کړې نودا دَحضرت جابر ﷛ دَ خصوصيت يو خصوصی جزئی واقعه ده په دې سره دَبيوعاتو قاعدې کليې متاثرکولې نه شی

④ دا واقعه په بيعه کښې دَ حرمت شرط نه دَ مخکښې زمانې ده

د دريم فريق دليل:- مشهور حديث د دريم فريق مستدل دې دکوم الفاظ چه دادی ((نهی رسول الله صلی الله عليه وسلم عن بيع وشرط)).

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٨٧٧] د ولاء حق آزادونكي مالكانو ته حاصل وي

٢٨٧٧ — [٢] (١) [١] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: [٢] «جَاءَتْ بَرِيرَةُ فَقَالَتْ: إِنِّي كَاتَبْتُ عَلَى تِسْعِ أَوَاقٍ فِي كُلِّ عَامٍ وُقِيَّةٌ فَأَعِينِينِي. [٣] فَقَالَتْ عَائِشَةُ: إِنْ أَحَبَّ أَهْلُكِ أَنْ أَعُدَّهَا لَهُمْ عَدَّةً وَاحِدَةً وَأُعْتِقَكِ فَعَلْتُ [٤] وَيَكُونُ وَلَاؤُكِ لِي. فَذَهَبَتْ إِلَى أَهْلِهَا فَأَبَوْا [٥] إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْوَلَاءُ لَهُمْ. [٦] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " خُذِيهَا وَأَعْتِقِيهَا "

ترجمه: [١] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې يوه ورځ بريره ماته راغله، [٢] هغه ماته اوويل چې ما خو په نه ⑨ اوقيه باندې شرط مكاتبت كړي دي چې هر كال به يوه اوقيه اداء كوم، نو تاسو خما مدد وكړي، [٣] بي بي عائشه رضي الله عنها وايي (د دي اوريدو سره ما) اوويل كه ستا مالكان داخوښوي نو زه به ټولې اوقيې په يو ځل هغوئ ته وركړم او بيا به تا آزاده كړم، نو داسې كولى شم [٤] ليكن په دې صورت كې حق ولاء به زه اخلم (د دې اوريدو سره) بريره خپلو مالكانو ته ورغله (او د هغوئ مخې ته يې دا صورت حال پيش كړي) خو هغوئ داخبره نامنظوره كړه، [٥] و هغوئ اوويل چې مونږ په دې شرط تا خرڅولى شو چې حق ولاء به مونږ ته حاصل وي، [٦] حضور صلى الله عليه وسلم (ته چې د دې علم وشو نو) بي بي عائشې رضي الله عنها ته يې وفرمايل چې ته هغه واخله آزاده يې كړه (د هغې حق ولاء به تا ته حاصليږي)

حل اللغات: - ①أَوَاقٍ: د اوقيه جمع ده، دڅلوېښتو درهمو برابر وي ②فَأَعِينِينِي: (صيغه د امر) نو تاسو زما مدد اوكړئ.

[١] ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي النَّاسِ [٢] فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ " أَمَّا بَعْدُ [٣] فَمَا بَالُ رِجَالٍ " يَشْتَرِطُونَ شُرُوطًا لَيْسَتْ فِي كِتَابِ اللهِ [٤] مَا كَانَ مِنْ شَرْطٍ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ فَهُوَ بَاطِلٌ وَإِنْ كَانَ مِائَةَ شَرْطٍ [٥] فَقَضَاءُ اللهِ أَحَقُّ وَشَرْطُ اللهِ أَوْثَقُ [٦] وَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] بيا حضور صلى الله عليه وسلم د خلقو مخكې خطبه وركړله [٢] او د الله عزوجل حمد وثناء ئې وروسته يې وفرمايل [٣] چې خلقو له څه شوي دي چې داسې شرطونه كوي چې په كتاب الله كې نشته (يعني نامشروع دي) [٤] كوم شرط چې په كتاب الله كې نشته هغه باطل دى اګر چې هغه سل شرطونه وي (يعني كوم شرط چې ناجائز او نا مشروع دي) هغه څوك سل ځله عائد ولې نه كړي، هغه به باطل وي (او د هغه څه حيثيت نه پاتې كيږي) [٥] او د الله جل جلاله حكم د ټولو ځخه زيات د دې لائق دى چې عمل ورباندې وشي او د الله جل جلاله شرط د ټولو ځخه زيات مضبوط دى (يعني د بيع او شراء په معاملاتو كې الله جل جلاله چې كوم احكام

---

[١]) اخرجه البخاری في كتاب البيوع/باب إذا اشترط شروطا في البيع لا تحل (رقم-٢١٦٨) ومسلم في كتاب العتق/باب إنما الولاء لمن أعتق (رقم) ٦ - (١٥٠٤) واخرجه ابو داود في السنن كتاب العتق/ كتاب الطب/باب في بيع المكاتب إذا فسخت الكتابة (رقم-٣٩٢٩) وابن ماجة في كتاب العتق/باب المكاتب (رقم-٢٥٢١) ومالك في الموطا كتاب العتق والولاء/باب مصير الولاء لمن أعتق (رقم-١٧) واحمد في المسند: ٢١٣/٦

ورکړي دی، په هر صورت د هغه تعمیل ضروري دی. او الله ﷻ چې کوم شرائط مقرر کړي دي، پواخې د هغه لحاظ ضروري دی، د خپل طرف څخه عائد کړه هیڅ شرط به هم قابل عمل نه وي، ⑤ یوهه شی چې حق ولاء هغه چانه حاصلیږي چې څوك یې آزاد کړي

حل اللغات - ⑥ أَوْثَقُ: زیات مضبوط.

تسهیلات: **قوله**: بَرِيرَةُ:

د بريره تعارف: – دحضرت عائشه رضي الله عنها د یوې وینځې نوم بریره وو دا د یوه یهودی وینځه وه دې نه حضرت بریره رضي الله عنها په ۹ اوقیه بدله بدل کتابت حاصل کړې وو لیکن روستو بیا د بدل کتابت نه عاجزه راغله هم ددې تذکره هغې حضرت عائشه رضي الله عنها ته اوکړه دې دپاره چه هغه ددې امداد اوکړی حضرت عائشه رضي الله عنها اوفرمانیل چه زه به ستا بدل کتاب یکمشت یعنی په یوځل ادا کړم اوتابه آزاده هم کړم که چرې ستا آقا خبره اومنله بریره رضي الله عنها خپل یهودی آقا ته ددې تذکره اوکړه نویهودی دا شرط اولګولو چه د بریره رضي الله عنها د مرګ نه پس به د هغې د ولاء حق ماته ملاویږي. دا پوره قصه په مشکوة دویم جلد کتاب النکاح باب المباشرت کښې ذکر ده.

قوله: الْوَلَاءُ:

د ولاء تعریف: – دهغه حق نوم دې مثلاً یوغلام چا آزاد کړو هغې نه پس دغه غلام مرشو او د هغه څه مال پاتې شو د هغه عصبه موجودنه وی نود هغه ټول مال به د هغه آزادونکی ته ملاویږي هم دغه حق ولاء دې. مکاتب چه کله د بدل کتابت د اداکولونه عاجز راغلو نود هغه د آقا دپاره د هغه خرڅول جائز کیږي

[٢٨٤٨] د ولاء حق خرڅولو او هبه کول ممانعت

> ٢٨٤٨–[٠] (١) ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: ② «نَهَى رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَيْعِ الْوَلَاءِ وَعَنْ هِبَتِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما ② وایي چې رسول الله ﷺ د ولاء د خرڅولو یا د هبه کولو څخه منع فرمایلي ده. (بخاري مسلم)

تسهیلات: **قوله** بيع الْوَلَاءِ:

د بیع الولاء د ممانعت وجه: – د ولاء خرڅول داسې دی چه مثلاً یوسړی خپل غلام آزاد کړو دکوم په وجه چه د هغه حق ولاء د هغه دپاره ثابت شو اوس دا سړي دغه حق ولاء په چا باندې خرڅول غواړی چه ماته دومره پیسې راکړه اوکله چه دا آزاد کړې شوې غلام مرشي

(١) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ٢٥٣٥. ومسلم في صحيحه رقم الحديث ١٦/١٥٠٦ وابوداود في السنن رقم الحديث ٢٩١٩. والترمذي في السنن رقم الحديث ١٢٣٦

Maktaba Tul Ishaat.com

نود ده حق ولاء هم ته واخله دا سودا ناجائز ده دغه شان د ولاء هبه كول هم ناجائز دي ځكه
چه ولاء څه داسې مال نه دې دكوم چه په خارج كښې څه وجود وى كوم چه هبه يا خرڅ كړې شى

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۸۷۹] تاوان د ګټې په بدله كښې

۲۸۷۹ — [۵] () [۱] عَنْ مَخْلَدِ بْنِ خُفَافٍ قَالَ: [۲] ابْتَعْتُ غُلَامًا فَاسْتَغْلَلْتُهُ [۳] ثُمَّ ظَهَرْتُ مِنْهُ عَلَى عَيْبٍ، فَخَاصَمْتُ فِيهِ إِلَى عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ [۴] فَقَضَى لِي بِرَدِّهِ، وَقَضَى عَلَيَّ بِرَدِّ غَلَّتِهِ، [۵] فَأَتَيْتُ عُرْوَةَ فَأَخْبَرْتُهُ [۶] فَقَالَ: أَرُوحُ إِلَيْهِ الْعَشِيَّةَ فَأُخْبِرُهُ [۷] «أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْنِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَضَى فِي مِثْلِ هَذَا: "أَنَّ الْخَرَاجَ بِالضَّمَانِ» [۸] "فَرَاحَ إِلَيْهِ عُرْوَةُ [۹] فَقَضَى لِي أَنْ آخُذَ الْخَرَاجَ مِنَ الَّذِي قَضَى بِهِ عَلَيَّ لَهُ. رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] حضرت مخلد ابن خفاف وايي ما يو غلام واخستي چې د هغه ګټه ما وصولوله. [۲] بيا ماته د هغه د يو داسې عيب علم وشو (چې په هغه كې د خريدارۍ څخه مخكې وو) او خرڅونكي زه د هغه څخه خبر كړې نه وم، [۳] د هغه غلام معامله ما د حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله (خليفه وخت) په خدمت كې پيش كړه، [۴] هغوئ ماته دا فيصله واوروله چې غلام دې واپس وركول شي او د هغه سره د هغه ګټه دې هم واپس وركړل شي. [۵] بيا زه د حضرت عروه ابن زبير رحمه الله په خدمت كې حاضر شوم (چې يو جليل القدر تابعي او د فقهاء څخه وو) او د حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله د فيصلې څخه مې هغه خبر كړې. [۶] حضرت عروه رحمه الله وفرمايل چې زه به مابنام ته د حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله په خدمت كې حاضريږم [۷] او هغه ته به وښايم چې بي بي عائشه رضي الله عنها ماته دا نقل كړي دي چې حضور ﷺ د دې قسم په يوه معامله كې دا فيصله وركړې وه چې منفعت د ضمان (تاوان) سره دى. [۸] نو حضرت عروه رحمه الله حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله ته تشريف يوووړي (او هغه يې د حضور ﷺ د دې ارشاد څخه خبر كړې) [۹] حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله (د ارشاد ګرامي اوريدو څخه وروسته) ماته دا حكم وكړې چې د دې غلام ګټه د هغه سړي څخه واخلم چې د هغه د وركولو د پاره ماته مخكې حكم شوى وو، (شرح السنه)

حل اللغات: - ① فَاسْتَغْلَلْتُهُ: نو ما د هغه نه ګټه وصولول شروع كړل، ② فَخَاصَمْتُ: نو ما قضيه او فيصله يوړله، ③ بِرَدِّ غَلَّتِهِ: سره د واپس كولو د ګټې د دې، ④ أَرُوحُ: د رَاحَ يَرُوحُ نه، زه به مابنام ته ورشم ⑤ الْعَشِيَّةَ: مابنام. ⑥ الْخَرَاجَ: منفعت، ګټه ⑦ الضَّمَانِ: تاوان، نقصان.

تسهيلات:

نوټ: - په حديث كښې چې كومه قاعده ذكر شوې ده د هغې وضاحت وړاندې شوې دي.

() اخرجه ابو داود في السنن أبواب الإجارة/باب فيمن اشترى عبدا فاستعمله ثم وجد به عيبا (رقم-۳۵۰۹) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن يشترى العبد ويستغله ثم يجد به عيبا (رقم: ۱۲۸۵) والنسائي في كتاب البيوع/باب الخراج بالضمان (رقم-۴۴۹۰) واحمد في المسند: ۴۹/۶

[۲۸۸۰] د بائع او مشتری د نزاع په صورت کښې د بائع د قول اعتبار

۲۸۸۰—[۰] ( ) ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "② «إِذَا اخْتَلَفَ الْبَيِّعَانِ فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْبَائِعِ ③ وَالْمُبْتَاعُ بِالْخِيَارِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. ④ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيِّ قَالَ: «الْبَيِّعَانِ إِذَا اخْتَلَفَا وَالْمَبِيعُ قَائِمٌ بِعَيْنِهِ وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا بَيِّنَةٌ فَالْقَوْلُ مَا قَالَ الْبَائِعُ أَوْ يَتَرَادَّانِ الْبَيْعَ».

ترجمه: ① او حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر کله چې د خريدار او خرڅونکي په منځ کې اختلاف پيدا شي نو په دې صورت کې به د خرڅونکي قول معتبر وي ③ او خريدار ته به (د بيع فسخ کولو يا باقي ساتلو) اختيار حاصل وي. (ترمذي) ④ د ابن ماجه او دارمي په روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمايل هر کله چې د خريدار او خرڅونکي په منځ کې اختلاف پيدا شي او مبيع (خرڅ شوی مال) هم هغه شان باقي وي او د هغه دوارو په منځ کې يو شاهد نه وي. نو په دې صورت کې به د خرڅونکي قول معتبر وي، يا بيا هغه دواړه دې بيع فسخ کړي. (ترمذي)

حل اللغات: - ① اَلْمُبْتَاعُ: خريدار، اخستونکي.

تسهيلات:

قوله: إِذَا اخْتَلَفَ الْبَيِّعَانِ:

د بائع او مشتري په مينځ کښې د اختلاف صورت: - بائع او مشتری په مينځ کښې جګړې کيږي مثلاً بائع وائي ما خپل مال د سلو روپو په عوض خرڅ کړي وو مشتری وائي چه تا په پنځوس روپينی باندې خرڅ کړي وو کله په خيار شرط کيخودلو او نه کيخودلو او کله په موده کښې جګړه پيدا کيږي

د بائع او مشتری د نزاع دې صورت په حکم کښې مذاهب: -

① امام شافعی ﷫ فرمائی په دې صورت کښې د بائع قول معتبر دې په دې شرط چه هغه به قسم هم خوری بيا به مشتری ته اختيار حاصل وی چه هغه بيع نافذ اومنی يا هغه هم په خپل حق کښې قسم خوری که چرې هغه قسم اوخورلو نو قاضی به د دواړو عقد فسخ کړی که مبيع قائم وی او که نه وی قائم بهرحال امام شافعی ﷫ د يوځو قيودو سره د بائع قول معتبر ګنړلې دې

( ) اخرجه ابو داود فی السنن أبواب الإجارة/باب إذا اختلف البيعان والمبيع قائم (رقم-٣٥١١) والنسائی فی كتاب البيوع/باب إختلاف المتبايعين فی الثمن (رقم-٤٦٤٨) وابن ماجة فی كتاب التجارات/باب البيعان يختلفان (رقم-٢١٨٦) واحمد فی المسند: ٤٦٦/١

Maktaba Tul Ishaat.com

② لیکن امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام مالک رحمه الله په نیز که چرې مبیع قائم نه وی نو بیابه د مشتری قول معتبر وی په دې شرط چه هغه قسم اوچت کړی په دې حدیث کښې دا مسئله اجمال سره ذکر ده صاحب د هدایه دا ښه په تفصیل سره بیان کړې ده. هدایه طرف ته رجوع ضروری ده

[۲۸۸] د بیع اقاله کولو فضیلت

۲۸۸۳—[۱۰] (۱) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "② «مَنْ أَقَالَ مُسْلِمًا أَقَالَ اللهُ عَثْرَتَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ. وَفِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" بِلَفْظِ الْمَصَابِيحِ "عَنْ شُرَيْحٍ الشَّامِيِّ مُرْسَلًا.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② کوم سړی چې د مسلمان بیع واپس کړی الله جل جلاله به د قیامت په ورځ د هغه گناه وبخښي، (ابوداؤد ابن ماجه)

او په شرح السنه کې دا روایت په دې الفاظو کې ذکر شوی دی، کوم چې په مصابیح کې د شریح شامي څخه بطریق ارسال منقول دی.

حل اللغات - ① أَقَالَ: ای فسخ العقد، بیعه واپس کړی، ② عَثْرَتَهُ: گناه د هغه.

تسهیلات:

قوله مَنْ أَقَالَ مُسْلِمًا:

د اقاله تعریف: - إقاله وئیلې کیږی چه د بیع واپسی اوشی یا بیع فسخ کړې شی. په شرح السنه کښې دی چه مطلق بیع او سلم کښې د قبضې نه مخکښې جائز ده او د قبضې نه پس دې فسخې ته هم بیع وائي.

قوله وَفِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" بِلَفْظِ الْمَصَابِيحِ:

د مذکوره عبارت مطلب: - چه ابو داؤد او حاکم وغیره دا د ابو هریره رضي الله عنه نه متصل نقل کړې دې لیکن مصابیح کښې دا په طریق د ارسال نقل دې، گویا چه د مشکاة مؤلف په مصنف د مصابیح علامه بغوی باندې اعتراض کړې دې چه هغوی خپل کتاب کښې اولی ترک کړې دې هغه داسې چې د ابو داؤد او ابن ماجه متصل روایت نې نقل نه کړو بلکه حدیث مرسل نې نقل کړو

(۱) اخرجه ابو داود فی السنن ابواب الإجارة/باب فی فضل الإقالة (رقم-۳۴۶۰) وابن ماجة فی کتاب التجارات/باب الإقالة (رقم-۲۱۹۹) واحمد فی المسند: ۲/۲۵۲

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٨٧] يوه عبرتناكه واقعه

٢٨٧—[٨] ()[١] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[٢] «اشْتَرَى رَجُلٌ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ عَقَارًا مِنْ رَجُلٍ[٣] فَوَجَدَ الَّذِي اشْتَرَى الْعَقَارَ فِي عَقَارِهِ جَرَّةً فِيهَا ذَهَبٌ[٤] فَقَالَ لَهُ الَّذِي اشْتَرَى الْعَقَارَ: خُذْ ذَهَبَكَ عَنِّي[٥] إِنَّمَا اشْتَرَيْتُ الْعَقَارَ وَلَمْ أَبْتَعْ مِنْكَ الذَّهَبَ.

ترجمه: [١] د حضرت ابو هريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ دا واقعه بيان وفرمايله [٢] چې ستاسو څخه د مخکې زماني په خلقو کې يو سړى د بل سړي څخه د زمکي يوه ټکړه واخسته او هغه يې په خپل تصرف کې را وسته [٣] د اتفاق خبره ده چې کوم سړي زمکه واخستله هغه په هغه خپلي اخستي زمکه کې يو داسې منګې پيدا کړي چې د سرو زرو څخه ډك وو [٤] هغه زمکي خرڅونکي ته يي اوويل چې ته خپل دا سره زر واخله [٥] ځکه چې ما خو يواځي زمکه واخستي وه دا سره زر خو ما نه وه واخستي .

حل اللغات: - ① عَقَارًا: د زمکي يوه ټکړه، حصه. ② جَرَّةً: منګې. کټوى.

[١] فَقَالَ بَائِعُ الْأَرْضِ: إِنَّمَا بِعْتُكَ الْأَرْضَ وَمَا فِيهَا،[٢] فَتَحَاكَمَا إِلَى رَجُلٍ[٣] فَقَالَ الَّذِي تَحَاكَمَا إِلَيْهِ: أَلَكُمَا وَلَدٌ؟[٤] قَالَ أَحَدُهُمَا لِي غُلَامٌ وَقَالَ الْآخَرُ لِي جَارِيَةٌ[٥] قَالَ: أَنْكِحُوا الْغُلَامَ الْجَارِيَةَ[٦] وَأَنْفِقُوا عَلَيْهِمَا مِنْهُ وَتَصَدَّقُوا» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] خرڅونکي ورته اوويل چې ما خو په تا يواځي زمکه نه وه خرڅه کړي بلکه هرهغه څيز مي خرڅ کړي وو کوم چې په دي زمکه کې دى ،ځکه دا سره زر هم ستادى دا ته وساته خو اخستلو ته تيار نه شو، [٢] د دي پورې چې دواړو خپله معامله يو ثالث سړي ته يووړه [٣] هغه دريم ،ثالث، د واقعي تفصيل اوريدو سره د هغه دواړو څخه يې پوښتنه وکړه چې ستاسو د دواړو څه اولاد شته؟ [٤] په هغوئ کې يوه اوويل چې څما يو څوى شته او دويم اوويل چې څما يوه لور شته [٥] په دي اوريدو سره ثالث اوويل چې د دې هلك نکاح د دې جينۍ سره وکړئ، [٦] او دا سره زر په دي دواړو خرڅ کړئ او بيا څه چې پاتې شي هغه د الله ﷻ په لار کې صدقه کړئ، ،بخاري مسلم،

تسهيلات: قوله: قَبْلَكُمْ:

په انساني معاشره کښې د ديانت وجوه د الله تعالى رحمت؛ - يعنى دَ پخوانوقومونودَ يو سړى قصه ده چه دَ عبرت او ديانت نه ډکه ده. واني چه دَدې فيصلې اورولو اختيارحضرت

() اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب حديث الغار (رقم-٣٤٧٢) ومسلم في باب استحباب إصلاح الحاكم بين الخصمين (رقم-٢١ - (١٧٢١) وابن ماجة في كتاب اللقطة/باب من أصاب ركازا (رقم-٢٥١١) واحمد في المسند: ٣١٦/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

داؤد علیہ السلام ته ورکړې شوې وو اوهغوی داسې حکیمانه اوناصحانه فیصله اوکړه چه په دیراوچت ذ هانت باندې مبنی ده

د متبایعینو په مینځ کښې د نزاع ختمولو فضیلت: - علامه نووی رحمه الله فرمائی چه داحدیث د بائع اومشتری په مینځ کښې د جګړې حل کولو په فضیلت باندې دلالت کوی. زه وایم چه دیانت او شرافت کله په انسانانو کښې راخی نوهغوی د یو بل دپاره رحمت جوړیږی. دلته اوګورئی چه هریو بل ته د سرو زرو خزانه ورکوی اودویم د اخستونه انکارکوی دادَ اسلام او ایمان تعلیم اودَ الله تعالی نه د ویرې یوه کرشمه ده چه دآسمانی کتابونونه حاصلیږی دکوم دپاره چه دې وخت کښې قرآن عظیم متعین دې اودَ دینی مدارس علماء اوطلباء ددې ژوندې مثال دې.

[۶]بَابُ السَّلَمِ وَالرَّهْنِ

دبیع سلم اورهن(دګانړې)بیان

خلاصة الباب: -

فیه ثمانیة أحادیث مشتملة علی خمس مسائل.

① جواز السلم بتقریر النبی ﷺ : ١-

② جواز الرهن بعمل النبی ﷺ : ٢، ٣-

③ حکم منافع المرهونة، ۴، ۵-

④ تعین الکیل والوزن فی السلم وما یتعلق بهما: ١، ۶، ٧-

⑤ عدم جواز تبدیل المسلم فیه :٨-

درهن ثبوت او قرآن کریم. -

د سلم لغوی معنی: - سلم په لغت کښې د تسلیم نه د حواله کولوپه معنی کښې دې

دبیع سلم اصطلاحی تعریف: - په اصطلاح کښې د سلم تعریف دادې "السلم هو بیع الاجل بالعاجل" اجل د قرض په معنی کښې دې دکوم نه چه مبیع مراددې اوعاجل د نقد په معنی کښې دې د کوم نه چه ثمن مراددې سلم ته سلف هم وائی په اردوکښې دې ته بدهنی هم وائی

د بیع سلم یو څو اصطلاحات: -په دې بیع کښې خریداریعنی مشتری ته رب سلم وائی اوبایع ته مسلم الیه وائی. مبیع ته مسلم فیه وائی اوثمن ته رأس المال وائی.

د بیع سلم شرعی حیثیت: - بیع سلم د قرآن اوحدیث نه ثابته ده او پورته ذکرشوې آیت د قرآن پاك دتولونه اوږد آیت د بیع سلم باره کښې نازل شوې دې. په بیع سلم کښې چونکه مبیع غائب وی په دې وجه د بیوعاتو د اصول اوقواعدو داخلاف ده لیکن د انسانانو د

سختي مجبورتي په وجه دا جائز گرځولي شوي ده

• بيع سلم شرطونه : - هم دغه وجه ده چه دَ مبيع جهالت کمولودَپاره په سلم کښي څوشرطونه کيخودې شوي دي دې دَپاره چه مبيع معدوم موجودشي ټول ۱۲ شرطونه دي په کوم کښې چه دَ شپږو تعلق رأس المال يعنى قيمت سره دې اودَ لسو تعلق مسلم فيه يعنى مبيع سره دې

رأس المال يعنى دَ قيمت متعلق شپږ شرائط دا دي

① په مجلس عقد کښې دَ بايع ثمن باندې قبضه کول

② دا شرط چه روپئى به نقدې اداکول وي قرض به نه وي

③ صفت بيانول چه آيا روپئى کهره دي که کوته دي.

④ مقدار بيانول يعنى دا واضح کول چه دا روپئى سل دي که دوه سوه دي.

⑤ نوع بيانول يعنى دا بيانول چه دا روپئى دَ چاندئى دي که دَ گلټ دي اوکه نوټ دي

⑥ دَ ثمن جنس بيانول چه درهم دي که دينار يا روپئى دي.

د مسلم فيه يعنى مبيع شرائط.

① دَ مبيع جنس بيانول مثلاً دا بيانول چه غنم دي وريژې دي يا جوار دي

② دَ مبيع مقدار بيانول چه لس منه غنم دي يا پنځه منه دي.

③ نوع بيانول يعنى دا خودل چه غنم دَ فلانکى قسم يا دَ فلانکى ځائى دي جوار دَ فلانکى قسم زيړ دوگر يا کاغانى دي.

④ دَ مبيع دَحواله کولوځائى مقررکول په دې شرط چه مبيع دَ وزن او بوج والاڅيزوى

⑤ دَمودې بيانول چه دومره وخت بعدبه په فلانکى تاريخ باندې اداکولې شى مگر دَ يومياشت نه کم وخت مقررکول جائزنه دي.

⑥ دَ عقددَ وخت نه دَ اداکولو وخت اوچه هغه څيز په بازارونوکښې موجود وى معدوم نه وى.

• رهن لغوي معنى : - رهن په لغت کښې حبس الشئ ته وائى

• رهن اصطلاحي تعريف : - په اصطلاح کښې رهن "جعل الشئ محبوسا بحق يمكن استيفائه منه"

رهن ته گانړه وائى دا دَ قرآن پاك نه ثابت دي. ﴿ فَرِهٰنٌ مَّقْبُوضَةٌ ﴾

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۲۸۸۳] د بیع سلم درې شرطونه

۲۸۸۳—[۱] (۱) ① (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «قَدِمَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمَدِينَةَ ② وَهُمْ يُسْلِفُوْنَ فِي الثِّمَارِ السَّنَةَ وَالسَّنَتَيْنِ وَالثَّلَاثَ، ③ فَقَالَ: "مَنْ أَسْلَفَ فِي شَيْءٍ فَلْيُسْلِفْ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت ابن عباس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ (د مکې څخه د هجرت کولو سره) مدينې ته تشريف راوړو، ② نو اهل مدينه به په ميوو کې د يو کال، دوه کاله درې کاله بيع سلم کوله (يعني پيشګي رقم ورکولو سره به يې وئيل چې يو کال، دوه کاله يا درې کاله وروسته ميوه راوړسوه) ③ نو حضور ﷺ وفرمايل چې کوم سړی يو څيز بيع سلم کړي هغه ته پکار دی چې معينه پيمانه د معين وزن او معيني مودې سره يې سلم کړي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① يُسْلِفُوْنَ: بيع سلف به ئې کوله، يعنی په نغدو باندې بيع کول او تاخير سره مبيع وصولول

تسهيلات: **قوله:** إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ:

د اجل معلوم په شرطيت کښې مذاهب: -

ددې حديث نه معلوميږي چه بيع سلم کښې وزن اوکيل او دمودې تعين ضروری دې

① د جمهور علماؤ په نيز د سلم دپاره دا شرطونه ضروري دی

② ليکن امام شافعي ﷫ سلم کښې اجل يعنی د مودې د تعين په توګه شرط نه مني اسلف يسلف اسلاف بيع سلم ته وائی

[۲۸۸۴] د کافرانو او ذميانو سره د تجارت حکم

۲۸۸۴—[۲] (۲) ① وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: «اشْتَرَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا مِنْ يَهُوْدِيٍّ إِلَى أَجَلٍ ② وَرَهَنَهُ دِرْعًا لَهُ مِنْ حَدِيْدٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

١) اخرجه البخاری فی کتاب السلم/باب السلم فی کیل معلوم (رقم-٢٢٣٩) ومسلم فی کتاب المساقاة/باب السلم (رقم-١٢٧ - (١٦٠٤) واخرجه ابو داود فی السنن أبواب الإجارة/باب فی السلف (رقم-٣٤٦٣) والترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب ما جاء فی السلف فی الطعام والتمر(رقم: ١٣١١) والنسائی فی کتاب البیوع/باب السلف فی الثمار (رقم-٤٦١٦) وابن ماجة فی کتاب التجارات/ باب السلف فی کیل معلوم، ووزن معلوم إلی أجل معلوم (رقم-٢٢٨٠) واحمد فی المسند: ٢١٧/١

٢) اخرجه البخاری فی کتاب البیوع/باب شراء النبی صلی الله علیه وسلم بالنسیئة (رقم-٢٠٦٨) ومسلم فی کتاب المساقاة/باب الرهن وجوازه فی الحضر کالسفر (رقم-١٢٦ - (١٦٠٣) والنسائی فی کتاب البیوع/باب الرجل یشتری الطعام إلی أجل ویسترهن البائع منه بالثمن رهنا (رقم-٤٦٠٩) وابن ماجة فی کتاب الرهون/باب (رقم-٢٤٣٦) واحمد فی المسند: ١٦٠/٦

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ د يو يهودي څخه څه غنم په يو معينه موده په قرض واخستل [۲] او د اوسپنې خپله زغره يې د هغه (يهودي) سره گانړه کړه. (بخاري مسلم)

حل اللغات - ① درعًا: زغره، د اوسپنې جنگي لباس.

تسهيلات:

قوله: وَرَهَنَهُ دِرْعًا لَهُ:

د حديث نه د يو څو مسائلو استنباط:- ① دَ گانړې معامله څنگه په سفرکښې مشروع شوه نو په حضرکښې هم جائز ده. قرآن کښې ﴿وَاِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ﴾ قيد اتفاقي دې

② دَ چانه څه څيز قرض اخستل اوبيا دَ دې په بدله کښې خپل څه څيز په توگه دَ گانړې کيخودل جائز دي.

③ اهل ذمه سره لين دين معاملات جائزدي په دې شرط چه هغوی سره کوم مال دې هغه دَحلال وي اودَ اهل حرب سره دَ لين دين باره کښې دَ علماؤ اتفاق دې چه په هغوی باندې وسله خرڅول بلکه کچه اوسپنه خرڅول جائز نه دي علماؤ داهم ليکلي دي چه مطلقاً په يو کافرباندې داسې څه څيز خرڅول جائز نه دي په کوم سره چه دَهغوی دَمذهب تقويت کيږي.

د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د يهودی سره د معامله کولو وجه:- رسول الله ﷺ يهودوسره معامله ياخودَدې دَپاره کوله چه مسلمانانوسره غله نه وه يهوديان دَمدينې په غله باندې قابض وو يا حضورپاك دَ جواز دَ بيانولو دَپاره هغه يهودی سره معامله اوکړه

[۲۸۸۵] دنبی عليه السلام زهد في الدنيا

٢٨٨٥ - [٢] (١) [١] وَعَنْهَا، قَالَتْ: «تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] وَدِرْعُهُ عِنْدَ يَهُودِيٍّ بِثَلَاثِينَ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او ام المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ په داسې حال کې وفات شوی دی [۲] چې زغره يې د يو يهودي سره د ديرش صاع کجورو په بدله کې گروي اينبودل شوي وه. (بخاري)

تسهيلات:

نوټ:- د حديث مفهوم په تير شوي حديث کښې بيان شوي دي

١) اخرجه البخاري في كتاب المغازي/باب (رقم-٤٤٦٧)

Maktaba Tul Ishaat.com

[۲۸۸۶] د مرهون څيز څخه د فائدې اخستلو حکم

۲۸۸۶—[۶] (١) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢] «الظَّهْرُ يُرْكَبُ بِنَفَقَتِهِ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا، [٣] وَلَبَنُ الدَّرِّ يُشْرَبُ بِنَفَقَتِهِ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا، [٤] وَعَلَى الَّذِي يَرْكَبُ وَيَشْرَبُ النَّفَقَةُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٢] که د سوارلي حيوان گرو شوی وي، نو په هغه چې څه خرچ کول کيږي د هغه په بدله کې دې په هغه سورلي کول کيږي [٣] او که پينو والا حيوان گرو وي نو په هغه چې څه خرچ کولی شي د هغه په بدله کې د هغه پي دې څکل کيږي [٤] او کوم سړی چې سورلي کوي او پي څکي هغه د هغه د اخراجاتو ذمه وار دی. (بخاري)

حل اللغات - ① الظَّهْرُ: شاته والی مراد ترې د خناور شا ده ② يُرْكَبُ: خوريږي به. وَلَبَنُ الدَّرِّ: پئيو والا خاروي (د پئيو چيلۍ)

تسهيلات: قوله: بِنَفَقَتِهِ:

د حديث په مطلب کښې درې اقوال:- ① ملاعلي قاري رحمه الله د دې حديث دا مطلب بيان کړې دې او هم دغه د امام ابوحنيفه رحمه الله امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله مسلك دې چې با، د سببيت د پاره ده مطلب دا دې که يو سړې خپل خناور چاسره د گانړې په توگه کيږدی نو د دغه خناور مصارف او خرچ چونکه هم د هغه راهن په ذمه وی په دې وجه هغه د خناور نه د بوج اوړلو او سورلئی کار اخستې شي

② که گانړه کيخودې شوې خناور باندې نفقه او خرچه راهن کوی نو راهن د دې نه د سورلئی وغيره فائده اوچتولې شی دامطلب خو هم هغه دې کوم چه پورته جمهورو بيان کړې دې

③ که چرې مرتهن په دغه خناور باندې خرچ او نفقه کوی نو هغه هم د دې مرهون خناور نه فائده اوچتولې شی د زير بحث حديث نه دا مطلب هم اخذ کولې شی [اشعة اللمعات]

په انتفاع بالمرهون کښې مذاهب:-

① امام احمد بن حنبل رحمه الله او اسحاق بن راهويه په نيز د خاروی پيئې او په دې باندې سورلئ د حده پورې مرتهن فائده اوچتولې شی دې نه علاوه عام فائده اوچتول جائز نه دی

② د امام ابوحنيفه رحمه الله امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نيز د مرهون څيز نه مطلقًا نفع

١) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب الرهن مركوب ومحلوب (رقم-٢٥١٢) واخرجه ابو داود في السنن أبواب الإجارة/باب في الرهن (رقم-٣٥٢٦) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الانتفاع بالرهن (رقم: ١٢٥٤) وابن ماجة في كتاب الرهون/باب الرهن مركوب ومحلوب (رقم-٢٤٤٠) واحمد في المسند: ٤٧٢/٢

اوچتول دمرتهن دپاره ناجائز دي
داول فريق دليل: - امام احمد بن حنبل رحمه الله د زيربحث حديث نه استدلال کړي دي سره ددي چه دليل محتمل دي.
داول فريق د مستدل هغه جوابونه: - ① زيربحث حديث کښې مرتهن سره معامله کول مراد دي هغه داسې چه مرتهن خومره پيښى حاصلوى د هغې معاوضه به د هغه نه اخستي شى او د هغه د قرض نه به کټ کولې شى دامعامله جائز ده.
② دادې زيربحث حديث په هغه وخت باندې محمول دې کوم وخت چه د ربا د حرمت حکم نه وو راغلې. کله چه د ربا د حرمت حکم راغلو نو انتفاع مرهون هم حرام اوګرځولې شو لهذا د راتلونکى روايت سره او حرمت د ربوا سره حديث منسوخ شوې دې.
د دويم فريق دلائل: - دې حديث سره متصل راتلونکې حديث نمبر (٢٨٨٤) د دويم فريق مستدل دې دکوم مطلب چه دادې راهن د هغه مرهون څيز مالك دې هم هغه د دې نه د نفع اونقصان ذمه وار دې. معلومه شوه چه د مرتهن داکار نه دې
② «كل قرض جر نفعاً فهو ربا» دا حديث د دويم فريق مستدل دې څکه چې په دې کښې ښکاره خبره ده چه مرتهن راهن ته قرض ورکړې دې اوراهن په توګه د وثيقه خپل څه څيز مرتهن سره کيخودې دې. که چرې مرتهن د هغې نه فائده اوچتوى نو داد خپل قرض نه فائده اوچتول شو کوم چه حرام دى
اشکال: - هدايه وغيره کښې ليکلى دى که چرې راهن مرتهن ته د انتفاع بالمرهون اجازت ورکړى نوبيابه دا نفع جائز وى؟
داشکال جواب: - فقهاؤ دا اصل اوضابطه ليکلې ده چه "المعروف كالمشروط" لهذا په کومو ملکونو کښې چه د راهن معامله دمرهون نه هم د انتفاع دپاره کولې شى نوهلته دمرهون نه د انتفاع څه ګنجائش نشته دې. که څوك چاته اجازت ورکړى اوکه ورنه کړى ليکن چه په کومو ملکونو کښې چه د مرهون نه د انتفاع تصورهم نه وى که چرې هلته راهن مرتهن ته اجازت ورکړى چه دمرهون نه فائده اوچته کړه نو په دې صورت کښې جائز کيدې شى نواحتمال شته چې د هدايه د عبارت مقصد هم دغه وى.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٨٨٤] مرهون څيزاو د راهن ملکيت

[٥] (١) ① عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ " ② «لَا يَغْلَقُ الرَّهْنُ الرَّهْنُ مِنْ صَاحِبِهِ الَّذِي رَهَنَهُ ③ لَهُ غُنْمُهُ وَعَلَيْهِ غُرْمُهُ». رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ مُرْسَلًا.

١) اخرجه الدار قطنى فى السنن فى كتاب البيوع (رقم-١٣٣)

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [١] حضرت سعيد ابن مسيب رحمه الله (تابعي) وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] بو څيز گرو اينبودل، د مالك (چې هغه څيز يې گرو اينبي دي) د ملكيت څخه نه منع كوي يعني يو څيز گرو اينبودلو سره د راهن ملكيت نه ختموي، [٣] ځكه چې د هغه گرو اينبودل شوي څيز د هري نفع او زياتي حقدار راهن دى او هغه د دې د نقصان هم ذمه وار دى. دا روايت امام شافعي رحمه الله بطريقِ ارسال نقل كړي دى

حل اللغات: - ① يَغْلَقُ: منع كول، بندول. ② الرَّهْنُ: گروى، گانړه ③ غُنْمُهُ: گټه، فائده. ④ غُرْمُهُ: نقصان.

تسهيلات:

قوله: الرَّهْنَ

د رهن اول او د رهن ثاني څخه مراد: - رهن اول په مصدرى معنى كښې دې دې نه عقدِ رهن مراد دې او دا دَيغلق فاعل دې. او د رهن ثانى نه مرهون شئ مراد دې.

قوله: مِنْ صَاحِبِهِ:

د صاحب څخه مراد: - دې نه راهن مراددې يعنى دَ رهن كيخودودَوجې نه دَ مرهون څيزنه دَ راهن دَ ملكيت ازاله نه كيږي بلكه راهن اوس هم دَ مرهون نه نفع اوچتولې شي

٢٨٨٠ - (١) وَرُوِيَ مِثْلُهُ أَوْ مِثْلُ مَعْنَاهُ لَا يُخَالِفُهُ عَنْهُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مُتَّصِلًا.

ترجمه: او د دې قسم يو بل حديث (يعني هم معنى هم او هم لفظ هم) د حضرت سعيد ابن مسيب رحمه الله څخه روايت شوى دى چې سعيد ابن مسيب رحمه الله د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه بطريقِ اتصال نقل كړي دى يا هغه روايت هم معنى دى (او د هغه الفاظ مختلف دي) خو د الفاظو دا اختلاف داسې نه دى چې د هغه د هم معنى كيدو خلاف دي وي.

[٢٨٨١] په حقوقِ شرعيه كښې د مكې او مدينې د اوزانو اعتبار

٢٨٨١ - [١] (٢) [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " «الْمِكْيَالُ مِكْيَالُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ [٢] وَالْمِيزَانُ مِيزَانُ أَهْلِ مَكَّةَ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما راوي دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل پيمانه د اهلِ مدينه وو پيمانه معتبره ده [٢] او وزن د اهلِ مكه وو معتبر دى. (ابوداؤد نسائي)

حل اللغات: - ① مِكْيَالُ: پيمانه، ناپ كول ② مِيزَانُ: تله، د وزن كولو، او تللو آله.

١) اخرجه الحاكم فى المستدرك: ٥١/٢

٢) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب البيوع/باب فى قول النبى صلى الله عليه وسلم المكيال مكيال المدينة (رقم-٣٣٤٠) والنسائى فى كتاب البيوع/باب الرجحان فى الوزن (رقم-٤٥٩٤)

تسهيلات

قوله الْمِكْيَالُ مِكْيَالُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ...الخ:

په وزن کښې د اهل مکې اعتبار او په پيمانې کښې د اهل مدينې اعتبار:- يعنې په پيمانه کښې د اهل مدينه د پيمانې اعتبار دې او په وزن کښې د اهل مکه د وزن اعتبار دې د مکې او مدينې په پيمانه او وزن کښې څه تفاوت او اختلاف وو د کوم په وجه سره چه کيدې شي صدقت او فطرانه کښې څه ګړبړ پيدا کيدلو په دې وجه حضور پاک دا ارشاد جارې کړو چه په وزن کښې به د اهل مکه د وزن اعتبار وي ځکه چه اهل مکه اکثر تجاران وو او د وزن زيات تر استعمال د تجارت په مال سرو زرو او سپينو زرو کښې کيږې او اهل مدينه اکثر زميندارنې پيشې سره تړلې خلق وو او په زميندارنې کښې د پيمانې استعمال زيات کيږې لهذا حضور اکرم په وزن کښې د اهل مکه اعتبار اوکړو او پيمانه کښې ئې د اهل مدينه اعتبار اوکړو دې خلقو دا څيزونه پيژندل

[٢٨٩٠]په ناپ تول کښې د کمى کولو انجام

٢٨٩٠-[٤٠] (١) ①وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-لِأَصْحَابِ الْكَيْلِ وَالْمِيزَانِ: "②إِنَّكُمْ قَدْ وُلِّيتُمْ أَمْرَيْنِ هَلَكَتْ فِيهِمَا الْأُمَمُ السَّابِقَةُ"». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت ابن عباس ﷺ راوي دى چې حضور ﷺ د ناپ تول کونکوته وفرمايل ②تاسو په ذمه داسې دوه کارونه دي يعنې ناپ کول او تول کول چې د هغه په سبب ستاسو څخه مخکې امتونه هلاک شوي دي. (ترمذي)

تسهيلات

قوله إِنَّكُمْ قَدْ وُلِّيتُمْ أَمْرَيْنِ هَلَكَتْ فِيهِمَا الْأُمَمُ السَّابِقَةُ

په ناپ تول کښې د کمی په وجه د قومونو هلاکت:- د امت محمديه نه مخکښې بعضې داسې قومونه تيرشوى دى چه دهغې خلق په دې خراب عادت کښې مبتلا ووچه کله به هغوى څه څيز دخلقو نه اخستلو نوهغه به ئې پوره پوره ناپ کولو او تللو. خوکله چه به ئې چاته څه څيز ورکولو نودهغې په ناپ تول کښې به ئې کمى کولو. دهغوى په دې عامې خرابئ په وجه په هغوى باندې د الله تعالى عذاب نازل شو او تباه او برباد کړې شو په داسې قومونو کښې اول دحضرت شعيب عليه السلام د قوم نوم راځي په دې وجه نبى کريم ﷺ دخپل امت خلق خبردار کړل چه تاسو په ناپ تول کښې د کمى کولو نه پوره خان ساتئ چه په دې لعنت کښې د مبتلا کيدو په وجه چرته په تاسو هم د الله تعالى قهر او غضب (يعنى عذاب) رانه شى

١) اخرجه الترمذي في السنن كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في المكيال والميزان (رقم: ١٢١٧)

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٨٩] دَ سلم مبيعې لره قبل القبض د خرڅولو ممانعت

٢٨٩-[١] (١) ١ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ٢ «مَنْ أَسْلَفَ فِي شَيْءٍ ٣ فَلَا يَصْرِفْهُ إِلَى غَيْرِهِ قَبْلَ أَنْ يَقْبِضَهُ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ حضرت ابوسعيد خدري ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ کوم سړی چې د څه شي د پاره د بيع سلم معامله وکړي ٣ نو په هغه څيز د قبضه کولو څخه مخکې کوم دويم طرف ته دي نه منتقل کوي. (ابوداؤد ابن ماجه)

تسهيلات: قوله: فَلَا يَصْرِفْهُ:

دعدم صرف مطلب: - دَدې مطلب دادې چه په بيع سلم کښې ترکومې مبيعه په لاس کښې قبضه کولوسره رانه شي په بل سړی باندې دَهغې خرڅول جائزنه دی نه هبه کول جائز دی يا چه په کوم څيزکښې بيع سلم شوې دې دغه څيز په بل څيز سره بدل نه کړی بلکه په کوم څيزکښې چه معامله شوې ده دَ معاملې مطابق هم هغه څيز اخستل ورکول پکاردی دَ دواړو مطلب مرادکيدې شي.

[٧] بَابُ الِاحْتِكَارِ

دَذخيره اندوزئی کولو بيان

خلاصة الباب: -

فيه سبعة أحاديث مشتملة على مسئلتين:

① قباحة الإحتكار: ١، ٢، ٤، ٥، ٦، ٧.

② حرمة الاحتكار: ٣.

داحتکارلغوی معنی: - په لغوی توګه احتکاردَ حکرنه دې چه دَ منع کولو په معنی کښې دې

د احتکار اصطلاحي تعريف: - د احتکار چه په کوم حديث کښې ممانعت دې د هغې تعريف امام نووی رحمه الله دا ليکلې دې چه غلې لره د ګرانئ په زمانه کښې د تجارت په نيت باندې اخستلو سره ږدل او فی الحال هغه نه خرڅول د نورې ګرانئ په انتظار چه پيسې زياتې حاصل شی.

د احتکار د حرمت شرطونه: - شريعت احتکار اوذخيره کول حرام ګرځولې دی ليکن داحرمت يو څو شرائطوسره مشروط دې

١) اخرجه ابو داود فی السنن أبواب الإجارة/باب السلف لا يحول (رقم-٣٤٦٨) وابن ماجة فی كتاب التجارات/ باب من أسلم في شيء فلا يصرفه إلى غيره (رقم-٢٢٨٣)

① ذخیره کړې شوې غله هم دَ دغه ښاروی که دَ بل ښارنه نی غله راوړلې ده نو په هغې کښې احتکار دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز جائز دې دَ امام ابویوسف رحمه الله په نیز مکروه دې او امام محمد رحمه الله فرمائی که دا غله عموماً هم دې ښار ته راځی خانی نیزدې دې نو بیا ناجائز ده او که چرې داسې نه وی نو بیا جائز ده

② په کوم مال کښې یوسړې ذخیره اندوزی کوی هغه مال هغه اخستې وی که چرې هغه اخستې نه وی بلکه دَخپلې زمکې غله ده یا دَباغونو میوې دی نو په دې کښې احتکار منع نه دې

③ احتکار دَ خوراك په څیزونوکښې وی په نورو څیزونوکښې احتکار دَ جمهورو په نیز حرام نه دې اودَ خناورو په ګیا کښې احتکار مکروه دې اودَ امام مالك رحمه الله په نیزپه پانړو کښې احتکار منع دې

④ دغه ذخیره کولوسره دَ ښار عواموته ضرر رسیږی تنګی راځی که چرې داسې نه وی نو بیا جائزده

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۸۴] احتکار کونکی ګنهګار دی

۲۸۴۲–[۱] (۱) [۱] عَنْ مَعْمَرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] «مَنِ احْتَكَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [۳] وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ " «كَانَتْ أَمْوَالُ بَنِي النَّضِيرِ فِي بَابِ الْفَيْءِ» " إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى.

ترجمه: [۱] حضرت معمر رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې احتکار وکړي هغه ګنهګار دی، (مسلم) [۳] او د حضرت عمر رضی الله عنه روایت کانت اموال بني النضير الخ به مونږ انشاء الله تعالی په باب الفيئ کې نقل کړو

حل اللغات: - ① احْتَكَرَ: زخيره کولونې، جمع کولو نې

تسهيلات: قوله: مَنِ احْتَكَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ:

د احتکار د حرمت د طعام سره تخصیص: - دَ خوراك په څیزونوکښې احتکار دَ ګناه سبب دې دَ جمهورو علماؤ په نیز دَ احتکار حکم طعام سره خاص دې امام مالك رحمه الله فرمائی چه څنګه دَ انسان په غذائی څیزونواحتکار منع دې دغه شان دَ خناورو په وښو او پانړو کښې هم دَ احتکار حکم جاری کیږی

۱) اخرجه مسلم فی کتاب المساقاة/باب تحريم الاحتكار فی الأقوات (رقم-۱۲۹ - (۱۶۰۵) اخرجه ابو داود فی السنن أبواب الإجارة/باب فی النهی عن الحكرة (رقم-۳۴۴۷) وابن ماجة فی کتاب التجارات /باب الحكرة والجلب (رقم-۲۱۵۴) واحمد فی المسند: ۴۰۰/۶

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۸۰۳] ذخیره کونکي لعنتي کیدل

۲۸۰۳ - [۷] (۱) [۱] عَنْ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ -، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [۲] «الْجَالِبُ مَرْزُوقٌ وَالْمُحْتَكِرُ مَلْعُونٌ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت عمر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] تاجر ته رزق ورکول کيږي احتکار کونکی ملعون دی. (ابن ماجه دارمي)

حل اللغات - ① الْجَالِبُ: غله راغونډونکي، تاجر ② مَرْزُوقٌ: رزق ورکولي شي. ③ الْمُحْتَكِرُ: ذخيره کونکي. جمع کونکي

تسهيلات:

قوله الْجَالِبُ:

د جالب په رزق کښې برکت: - يعنی يوسړی د تجارت په غرض سره اود خلقو د خدمت او سهولت په نيت سره د بهر نه غله راوړی او په مروج قيمت باندې خرڅه وی اود خلقو د مجبورئی نه ئې نزفائده نه اوچته وی نو الله تعالی د هغه په رزق کښې برکت اچوی او دغه سړی ته رزق ورکوی خو که يوسړې دخلقو د مجبورئی نه غلطه او ناجائزه فائده اوچته وی مثلاً په ښار کښې چه څومره مال دې هغه اخلی او ذخيره کولوسره د ګرانئی په نيت هغه ذخيره کوی اوايږدی دا سړې ملعون دې د قيامت په ورځ به د الله تعالی د رحمت نه لرې وی او په دنيا کښې به هم خلق په هغه باندې لعنتونه وائی

[۲۸۰۴] د حکومت د طرفه د څيزونو نرخ مقرر کولو حکم

۲۸۰۴ - [۸] (۲) [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: «غَلَا السِّعْرُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! سَعِّرْ لَنَا، [۳] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۴] " إِنَّ اللهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الرَّازِقُ، [۵] وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَلْقَى رَبِّي وَلَيْسَ أَحَدٌ مِنْكُمْ يَطْلُبُنِي بِمَظْلِمَةٍ، بِدَمٍ وَلَا مَالٍ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې (يو ځل) د رسول الله ﷺ په زمانه کې نرخ ګران شو. [۲] نو صحابه وو رضي الله عنهم عرض اوکړو چې يارسول الله ﷺ زمونږ د پاره نرخ مقرر کړه يعنی تاجرانو ته حکم ورکړه چې هغه په دې نرخ غله خرڅوي. [۳] رسول الله ﷺ ورته

---

۱) اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب التجارات /باب الحکرة والجلب (رقم - ۲۱۵۳)

۲) اخرجه ابو داود فی السنن ابواب الإجارة /باب فی التسعير (رقم - ۳٤٥۱) والترمذی فی کتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فی التسعير (رقم: ۱۳۱٤) وابن ماجة فی کتاب التجارات /باب من کره أن يسعر (رقم - ۲۲۰۰) واحمد فی المسند: ۱٥٦/۳

وفرمايل ۲ چې الله ﷻ نرخ مقرر کونکی دی. الله ﷻ تنګي پيدا کونکی دی. الله ﷻ فراخي ورکونکی دی او الله ﷻ رزق ورکونکی دی ۵ زه د دې خبرې اميد وار او خواهشمند يم چې زه د الله تعالی ﷻ سره په داسې حال کې يو ځای شم چې په ما په تاسو کې د هيچا د وينې او مال څه مطالبه نه وي. ترمذي ابوداود ابن ماجه.

حل اللغات - ① غَلَا: ګران شو. ② السِّعْرُ: نرخ، قيمت. ③ الْمُسَعِّرُ: نرخ مقررونکي. ④ الْقَابِضُ: تنګی پيدا کونکي. ⑤ الْبَاسِطُ: فراخي راوستونکي.

تسهيلات:

قوله إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ:

د حديث شان ورود او پس منظر: - د دې حديث حاصل دا دې چه يو ځل د مدينې منورې په بازارونو کښې نرخ زيات شو نو صحابه کرامو رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه تاسو نرخ مقرر کړئ حضور پاک اوفرمائيل چه قيمتونه کمونکې اوزياتونکې الله تعالی دې هغه کله په خلقو باندې تنګی مسلط کوی او کله پرې وسعت راولی لهذا په دې معاملاتو کښې الله تعالی ته رجوع کول پکار ده زه غواړم چه د خلقو په معاملاتو کښې مداخلت اونه کړم دې د پاره چه د قيامت په ورځ د خپل رب سره داسې ملاقات اوکړم چه د خلقو د مال او ځان باره کښې مانه د چا څه ګيله نه وی.

د قيمتونو (نرخونو) د تعين ضرورت: - بهرحال علماء ليکی چه تسعير يعنی قيمتونه په مارکيټ کښې مقرر کول مناسب نه دی چه په کولاؤ بازارونو کښې د طبعی نظام لاندې يو دستور قائم شی او خلق د دغه نظام لاندې اوسيږی او آزادانه تجارت کوی او که چرې خلقو په دغه طبعی نظام کښې ګړبړ شروع کړو او په مارکيټ کښې د هرسړی د خپلې خوښې کار شروع شو نو بيا به د مجبورئی د وجې نه او په اندازه د ضرورت حکومت له پکار دی چه قيمتونه مقرر کړی په سعودی عرب کښې د قيمتونو يو مثالی نظام په کوم کښې چه استحکام دې او په پاکستان کښی مثالی بدنظمی ده

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۸۹۵] ذخيره اندوزئی سزا

۲۸۹۵ - [۲] (۱) ۱ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " ۲ «مَنِ احْتَكَرَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ طَعَامَهُمْ ۳ ضَرَبَهُ اللَّهُ بِالْجُذَامِ وَالْإِفْلَاسِ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ ". وَرَزِينٌ فِي كِتَابِهِ.

۱) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب التجارات /باب الحكرة والجلب (رقم-۲۱۵۵) واحمد في المسند: ۲۱/۱

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [١] حضرت عمر ابن خطاب ﷺ وايي چې ما واوريدل چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] كوم سړی چې غله انتظار كولو سره په ګران نرخ په مسلمانانو خرخوي [٣] الله ﷻ به هغه په جذام او افلاس كې مبتلا كوي. (ابن ماجه بيهقي رزين)

حل اللغات: - ① الْجُذَامِ: داءٌ يصيب الجسم وقد تتساقط منه الأطراف، مرض تأكل أعضاء الجسم، جذم، دضرب يضرب نه په تيزئ سره پرې كيدل. جذام يو خطرناكه بيماري چه دَ بدن اندامونه چاقيدو سره پرسيږی او بيا ټكړې ټكړې كيږی ② الإِفْلَاسِ: ذهاب المال والعجز عن أداء القرض، غريبي، محتاجي.

تسهيلات:

قوله ضَرَبَهُ اللّٰهُ بِالْجُذَامِ وَالْإِفْلَاسِ

دحديث مفهوم: - چه كوم مسلمان مخلوقِ خدا ته تكليف او نقصان رسوی نو الله تعالى به دې جسمانی و مالی مصيبتونو كښې مبتلا كوی چه كوم كس مخلوق ته نفع وركوی نو الله تعالى د ده په جسم او مال كښې خير و بركت وركوی لكه چه حديث كښې راغلی دی ارحموا من في الارض يرحمكم من في السماء چه زمكې والو باندې تاسو رحم اوكړئ الله به په تاسو مهربانه شی

[٢٨٣] د طعام ذخيره كونكی د څلويښت ورځو د مونځ نه قبليدل

٢٩٠٣ - [د] ( ) [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢] «مَنِ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِينَ يَوْمًا يُرِيدُ بِهِ الْغَلَاءَ [٣] فَقَدْ بَرِءَ مِنَ اللّٰهِ وَبَرِءَ اللّٰهُ مِنْهُ» ". رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عمر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] كوم سړی چې تر څلويښتو ورځو د ګرانی په خيال غله بنده كړه [٣] ګويا هغه د الله ﷻ څخه بيزاره شو او الله ﷻ د هغه څخه بيزاره شو. (رزين)

حل اللغات: - ① احْتَكَرَ: زخيره كوی، جمع كوی. ② الْغَلَاءَ: ګرانيدل. قيمته كيدل.

تسهيلات:

قوله فَقَدْ بَرِءَ مِنَ اللّٰهِ

دالله تعالى څخه د بيزاره كيدو مفهوم: - د الله تعالى نه د بيزاره كيدو مطلب دا دې چه دۀ د الله تعالى هغه عهد مات كړو كوم چه ده د احكاماتو منلو او د مخلوق خدا سره د همدردۍ عهد كړې وو

قوله وَبَرِءَ اللّٰهُ مِنْهُ

دمذكوره جملې مطلب: - يعنى الله د ده نه خپل حفاظت اوچت كړو او د نظر او كرم نه ئې لرې كړو

---

[١] لم أظفر على تخريجه. شاه فيصل

[۲۰۰۷] د څيزونو په ګرانيدو د خوشحالۍ مذمت

٢٨٩٧-[١٠] (١) ⓵ وَعَنْ مُعَاذٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "«بِئْسَ الْعَبْدُ الْمُحْتَكِرُ: ⓶ إِنْ أَرْخَصَ اللهُ الْأَسْعَارَ حَزِنَ، ⓷ وَإِنْ أَغْلَاهَا فَرِحَ»". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ". وَرَزِينٌ فِي كِتَابِهِ.

ترجمه: ⓵ او حضرت معاذ رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د غله وغيره ناجائز ذخيره اندوزي کونکی ډير خراب بنده دی ⓶ که الله ﷻ په نرخونو کې ارزاني کوي نو هغه غمجن کيږي ⓷ او که په نرخونو کې ګراني کوي نو خوشحاله کيږی . (بيهقي رزين)

حل اللغات - ① الْمُحْتَكِرُ: زخيره کونکې، جمع کونکې. ② الْأَسْعَارَ: نرخونه، قيمتونه. ③ أَغْلَاهَا: ګرانيدل، قيمتونه زياتيدل.

تسهيلات:

قوله: بِئْسَ الْعَبْدُ الْمُحْتَكِرُ:

د محتکر د بديت وجه: - د محتکر دا عمل ځکه الله تعالى ته ناخوښه دې چې د څيزونو په ارزانيدو کښې اجتماعي فائده ده ډيرو خلقو ته فائده ملاويږی او د الله تعالى مخلوق ته په فائده ملاويدو باندې خوشحاله کيدل پکار دی او په ګرانوالی کښې صرف: محتکر فائده ده او الله تعالى هغه کس نه خوښوی د چا نظر چې صرف په خپله فائده کښې وی اګرچې خلق خدا په تکليف کښې مبتلا کيږی

[۲۸۹۸] څلويښت ورځې د ذخيره اندوزۍ کولو وعيد

٢٨٩٨-[-] (٢) ⓵ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: " ⓶ «مَنِ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِينَ يَوْمًا ⓷ ثُمَّ تَصَدَّقَ بِهِ; لَمْ يَكُنْ لَهُ كَفَّارَةً»". رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: ⓵ او حضرت ابو امامه رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⓶ کوم سړی چې د ګران فروشی په نيت سره غله تر څلويښتو ورځو وساتله ⓷ او بيا هغه يې د الله ﷻ په لار کې خيرات کړه نو هم به د هغه د پاره کفاره نه وي. (رزين) [اخرجه رزين]

قوله: لَمْ يَكُنْ لَهُ كَفَّارَةً

د ذخيره اندوزۍ وعيد: - ذخيره اندوزی دومره لويه ګناه ده چه که دې دا ټول مال هم صدقه کړی نو کفاره به ادا نه نشی په دې حديث کښې د ذخيره اندوزۍ قباحت طرف ته اشاره ده

١) اخرجه البيهقي في شعب الايمان (رقم-١١١٥٠)

٢) لم أظفر على تخريجه. شاه فيصل.

Maktaba Tul Ishaat.com

[٨] بَابُ الْإِفْلَاسِ وَالْإِنْظَارِ

د افلاس او مهلت ورکولو بیان

خلاصة الباب:-

فيه ثلاثون حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① طريق استيفاء الحق من المفلس والمديون: ١، ٢، ١٦، ١٩، ٢٤، ٢٩.

② فضيلة الانظار و العفو عن بعض دين المعسر: ٣، ٤، ٥، ٦، ١٠، ٢٨.

③ فضيلة حسن القضاء: ٧، ٨، ١٢، ٢٥، ٢٦، ٢٧.

④ قباحة الدين والمطل في أدائه: ٩، ١١، ١٢، ١٣، ١٤، ١٥، ١٧، ١٨، ٢٠، ٢١، ٢٢، ٢٣، ٣٠.

په قرآن کښې د افلاس حکم:- قال الله تعالى ﴿وَإِنْ كَانَ ذُوعُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ﴾ [سورت بقره الایه: ٢٨٠]

د لفظ افلاس او تفلیس تشریح او تفسیر:- افلاس دَ باب افعال نه دي چه دَ سلب ماخذ پاره استعمالیږی دَ کوم معنی چه سلب الفلوس ده یعنی دَ پیسې او مال نشتوالي تفلیس دَ مفلس ګرځولو په معنی کښې دي

د افلاس صورتونه:- ① په محکمه قضا کښې قاضی دَ یو سړی باره کښې دا فیصله اوکړی چه دا سړې مفلس او دیوالیه دي ده سره مال نشته دي په ده درنې قرضې دی او دَ اداکولو څه صورت نشته دي لهذا قرض خواه دي دَ هغه وخته پورې نه تنګوی ترکومې چه ده سره مال رانه شی لکه چه قاضی ده ته دَ مال ګټلو مهلت ورکوی

② یو سړی مشتری مثلاً سودا اوکړه مګر دَ قیمت اداکولونه وړاندې هغه دیوالیه شو او س مبیع دَده په لاس کښې ده او پیسې نشته دي دي مفلس شو

③ یو سړی سودا وغیره واخسته او هغه ئې په خپله قبضه کښې کړه لیکن دَ قیمت اداکولونه وړاندې پخپله هغه مړشو او س سامان هغه سره دي خو پیسه نشته بلکه مفلس دي بهر حال مال دَ دیوالونو دَ سورو او دَ لاس دَ خیری په شان ختمیدونکي دي لهذا دَ قدرت دَ طرف نه کله چه په یو انسان باندې داسې حالت راشی نو اسلام نورو انسانانو ته دَ هغه دَ امداد کولو او هغه ته دَ تسلنی ورکولو حکم ورکړې دي دَ باب په احادیثو کښې هم دغه حقیقت بیان کړې شوې دي

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[٢٨٩٩] د مفلس باره كښې يو حكم

٢٨٩٩ - [١] (١) [١] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [٢] «أَيُّمَا رَجُلٍ أَفْلَسَ فَأَدْرَكَ رَجُلٌ مَالَهُ بِعَيْنِهِ [٣] فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ مِنْ غَيْرِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] كه يو سړى مفلسه شي او هغه سړى، چې هغه د هغه په لاس مال خرڅ كړي وو د هغه سره، خپل مال بعينه پيدا كړي [٣] نو هغه د بل په مقابله كې د هغه مال زيات حقدار دى. (بخاري مسلم)

تسهيلات: **قوله:** فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ:

صورت د مسئلې: - يو سړى دچانه څه سودا قرض واخسته اوس هغه لا پيسې ادا كړې نه وې چه هغه قاضي ديواليه اوګرځولو. اوس هغه سودا دغه مفلس سره څنګه چه وه موجود ده په دې كښې د دغه مفلس قرض خواه راؤرسيده او په دې كښې هغه سړې هم راغلو چه دې مفلس ته ئې د سودا مال وركړې وو

د مشترى د افلاس په صورت كښې د بائع د خپل مال په ملكيت كښې اغستلو باره كښې مذاهب: -

مذكوره صورت كښې چې عقد فسخ شى نو په دې كښې د فقهاؤ اختلاف دې

① ائمه ثلاثه وائى چه دا سړې خپل مال اخستې شى عقد دې فسخ كړى او خپل مال دې اوچت كړى خى دې د باقى كسانو په دغه مال كښې هيڅ حق نشته دې دا سړې احق بماله دې

② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى داسړې خپل مبيع واپس نه شى اخستې بلكه اوس دا غريم باقى غرماء سره په مطالبه كښې برابر شريك دې اوس به دا مال خرڅولې شى او پيسې راؤروسره به په ټولو قرض خواهانوتقسيم كولې شى د صاحبين، امام زهرى، حسن بصرى او عمر بن عبدالعزيز رحمهم الله مسلك هم دغه دې

د اول فريق دلائل: - زيربحث حديث د اول فريق مستدل دې چه په خپله مدعا باندې واضح دليل دې

---

١) اخرجه البخارى فى كتاب الإجارة/باب إذا وجد ماله عند مفلس فى البيع. والقرض والوديعة. فهو أحق به (رقم-٢٤٠٢) ومسلم فى كتاب المساقاة/باب من أدرك ما باعه عند المشترى وقد أفلس فله الرجوع فيه (رقم-٢٢ - (١٥٥٩) اخرجه ابو داود فى السنن أبواب الإجارة/باب فى الرجل يفلس فيجد الرجل متاعه بعينه عنده (رقم-٣٥٢٠) والترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء إذا أفلس للرجل غريم فيجد عنده متاعه (رقم: ١٢٦٢) والنسائى فى كتاب البيوع/باب الرجل يبتاع البيع فيفلس. ويوجد المتاع بعينه (رقم-٤٦٧٦) وابن ماجة فى كتاب الحدود/باب العبد يسرق (رقم-٢٥٩٠) ومالك فى الموطا كتاب البيوع/باب ما جاء فى إفلاس الغريم (رقم-٨٨) واحمد فى المسند: ٢/٤٦٨

Maktaba Tul Ishaat.com

داول فريق د دليل ځخه جوابونه:- اول فريق مستدل په عاريت يا مال مرهون يا مال مغصوب يا مال مسروق باندې حمل كوي د دې وجې استدلال صحيح نه دې
② دا حديث بيع الخيار باندې محمول دې چه دخيار دوران كښې بائع ته پته اولګيدله چه مشترى مفلس شوې دې نوهغه خپل خرڅ شوې مال واپس كولې شى لكه چه دا حديث دبيع فسخ كولو دخيار سره متعلق دې بهرحال دا يوتاويل دې
د دويم فريق دلائل:- دويم فريق فرمائى چه هم د دې حديث د الفاظونه معلوميږى چه دلته د بيع اوشراء مسئله نه ده بلكه مسئله خوځه بل ځه ده ځكه چه دبيع اوشراء نه پس دا مال د مالك د لاس نه اووتلو اوس د دې مالك مشترى دې كوم چه مفلس دې اوس په دې مال كښې د دې مخكينى مالك او غريم نورو غرماء سره برابرشريك وى په دې سلسله كښې
① امام طحاوى رحمه الله د يو روايت ځخه استدلال كړې دې الفاظ ئې دادى «عن سمرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من سرق له متاع اوضاع له متاع فوجده في يد رجل بعينه فهو احق به ويرجع المشتري على البائع بالثمن» [طحاوى: ٢/٢٤٣]
هم دغه روايت په ابن ماجه كښې په دې الفاظوسره نقل دې «اذا ضاع للرجل متاع أو سرق له متاع فوجده في يد رجل يبيعه فهو أحق به فيرجع المشتري على البائع بالثمن»
② د حضرت على رضي الله عنه قول دې د كوم الفاظ چه دادى "هو اسوة للغرماء اذا وجدها بعينها" د دې روايتونو مطلب هم دغه دې كه يوغل د چانه ځه مال پټ كړو او خرڅ ئې كړو اومالك د مشترى په لاس كښې خپل مال اوليدلو نود دغه مشترى نه دا مالك خپل مال اخستې شى په دې كښې د تولو نه زيات حقدار دې چه خپل مال واپس كړى او نور قرضخوا ده سره شريك نه وى بيا به مشترى خپلې پيسې د بائع نه واپس كوى چاچه مال پټ كړې وو او په ده باندې خرڅ كړې وو

[٢٩٠٠] د مفلس د امداد حكم

٢٩٠٠-[٥] (١) ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «أُصِيبَ رَجُلٌ فِي عَهْدِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي ثِمَارٍ ابْتَاعَهَا، ② فَكَثُرَ دَيْنُهُ، ③ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَصَدَّقُوا عَلَيْهِ، ④ فَتَصَدَّقَ النَّاسُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَبْلُغْ ذَلِكَ وَفَاءَ دَيْنِهِ، ⑤ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِغُرَمَائِهِ: " خُذُوا مَا وَجَدْتُمْ ⑥ وَلَيْسَ لَكُمْ إِلَّا ذَلِكَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

١) اخرجه مسلم فى كتاب المساقاة/باب استحباب الوضع من الدين (رقم-١٨ - (١٥٥٦) والترمذى فى كتاب الزكاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب من تحل له الصدقة من الغارمين وغيرهم (رقم: ٦٥٥) والنسائى فى كتاب البيوع/باب الرجل يبتاع البيع فيفلس. ويوجد المتاع بعينه (رقم-٤٦٧٨) وابن ماجة فى كتاب الأحكام/باب تفليس المعدم والبيع عليه لغرمائه (رقم-٢٣٥٦)

ترجمه: [١] او حضرت ابوسعيد رضي الله عنه وايي چې د رسول الله ﷺ په زمانه كې يو سړى د ميوو په سخت نقصان كې مبتلا شو چې هغه واخستني وې [٢] او د هغه په وجه هغه ډير زيات قرضدار شو (د هغه حالت ليدو سره) [٣] رسول الله ﷺ خلقو ته وفرمايل چې د صدقې په ذريعه د ده مدد وكړئ (چې د ده څخه د قرض بوج سپك شي) [٤] خلقو د صدقې په ذريعه د هغه مدد وكړي خو د خلقو دا مدد هم د هغه قرض پوره كولو د پاره كافي نه شو، [٥] د دې څخه وروسته حضور ﷺ د هغه قرض خواهانو ته وفرمايل چې د ده څخه چې درته څه حاصل شي بس هغه ترې نه واخلئ، [٦] د دې څخه علاوه به درته نور څه نه حاصليږي. مسلم

حل اللغات - ① أُصِيبَ: مبتلا شو. نقصان اورسيدو. ② غُرَمَائِهِ: قرض خواهان. قرض غوښتونكي.

تسهيلات:

قوله وَلَيْسَ لَكُمْ إِلَّا ذَلِكَ:

د مذكوره جملې مطلب: - په حديث پاك كښې ددې جملې دا مطلب نه دې چه د قرض خواه باقي قرض ختم شو بلكه مطلب دا دې چه كله تا د ده موجوده مال واغستو نو اوس ت له ددې مفلس او محتاج كس ته قيد كولو وغيره هيڅ اختيار نشته لهذا باقي قرضه به د مفلس د حالاتو د ښه كيدو نه پس وصول كولې شى فهو أحق به رجل نه مراد حضرت معاذ بن جبل رضي الله دې

[٢٩٠١] د قرض په وصولولو كښې د نرمۍ ثواب

٢٩٠١ - [٣] (١) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [٢] «كَانَ رَجُلٌ يُدَايِنُ النَّاسَ، [٣] فَكَانَ يَقُولُ لِفَتَاهُ: إِذَا أَتَيْتَ مُعْسِرًا تَجَاوَزْ عَنْهُ، لَعَلَّ اللَّهَ يَتَجَاوَزُ عَنَّا. [٤] قَالَ: فَلَقِيَ اللَّهَ فَتَجَاوَزَ عَنْهُ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] يو سړى وو چې د خلقو سره به يې د قرض راكړه وركړه كوله (يعني خلقو ته به يې قرض وركولو) [٣] او هغه خپل كارنده ته دا ويلي وو چې كله يو تنګ دست ته (د قرض د وصولولو د پاره) ورشې نو هغه ته دركذر (معافي) كوه شايد الله ﷻ مونږ ته هم معافي وكړي [٤] نو حضور ﷺ وفرمايل هر كله چې هغه سړى د الله ﷻ سره ملاقات وكړي (يعني هغه وفات شو) نو الله ﷻ هغه ته معافي وكړه (او د هغه په ګناهونو يې ځني مواخذه ونه كړه) مسلم

حل اللغات: - ① يُدَايِنُ: د قرض لين دين. ② مُعْسِرًا: تنګ دسته، غريب

١) اخرجه البخاري في كتاب البيوع/باب من أنظر معسرا (رقم-٢٠٧٨) ومسلم في كتاب المساقاة/باب فضل إنظار المعسر (رقم-٣١ - (١٥٦٢) واحمد في المسند: ٢٦٣/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله لَعَلَّ اللّٰهَ يَتَجَاوَزُ:

اعتراض: - په حديث کښې ئ اول اوفرمائيل چه مفلس ته درګزر اوکړئ خکه کيدې شي چه الله تعالى زمونږ ته درګزر اوکړي فتجاوزعنا دا الفاظ ئې نقل کړي دي او د حديث په آخر کښې ئې اوفرمائيل چه فتجاوز عنه د مفرد صيغه ده چه الله تعالى ده ته درګزر اوکړو حالانکه په ماقبل کښې ئې د جمع صيغه ذکر کړې وه نو دلته هم د جمع صيغه ذکر کول پکار دي؟

داعتراض جواب: - هغه ويونکي خپل ځان شامل کړو د جمع ضمير ئې خکه راوړو چه کوم کس داسې کار اوکړي نو الله تعالى به ده ته درګزر کوي او دې به په جنت کښې د دخول اولي مصداق وي.

[٢٩٠٢] تنګدسته باندې د آسانى کولو فضيلت

٢٩٠٢-[٣] (١)[١] وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "[٢] «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُنْجِيَهُ اللّٰهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ[٣] فَلْيُنَفِّسْ عَنْ مُعْسِرٍ أَوْ يَضَعْ عَنْهُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوقتاده ﷺ وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] کوم سړي ته چې دا خبره خوښه وى چې الله تعالى ﷻ دې د قيامت د سختيو څخه وساتى[٣] نو هغه دې تنګ دست ته مهلت ورکړي يا دې خپله قرضه ورته معاف کړي (يعنى خپل قرض پوره يا چې څومره ممکن وى ورته معاف دې کړى) مسلم

حل اللغات: - ①كُرَب: سختئ، تکاليف، ②فَلْيُنَفِّسْ: مهلت دې ورکړى، ③يَضَعْ عَنْهُ: کيدې ږدى دهغه نه. يعنى دهغه قرض دې معاف کړى.

قوله: فَلْيُنَفِّسْ عَنْ مُعْسِرٍ أَوْ يَضَعْ عَنْهُ:

د نفل په فرضو باندې افضليت: - ددې حديث لاندې ملا على قارى ﷫ فرمائى چه فرض د نفل نه اويه (٧٠) درجې افضل دې ليکن بعضو مسائلو کښې نفل اعمال د فرائضو نه زيات فضيلت لرى په هغې کښې څنې دردي

① مفلس ته قرض معاف کول اګرچه دا مستحب دى خو دا فضل دى د دينه چه مفلس ته مهلت ورکړې شى او مهلت ورکول واجب دى (نو اوس دلته مستحب د واجب نه افضل دې.)

② بل ته سلام کولو کښې ابتدا کول سنت دى او د سلام جواب ورکول واجب دى نو دا سنت د واجبو نه افضل شو

③ د وخت نه مخکښې اودس کول مستحب دى خو دا افضل دى د دينه چه وقت نه پس اودس اوکړې شى کوم چه فرض وى

١) اخرجه مسلم فى كتاب المساقاة/باب فضل إنظار المعسر (رقم-٣٢ - (١٥٦٣))

[۲۹۰۳] د قیامت د سختئ آسانولو یوه طریقه

۲۹۰۳—[د] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "[۲] «مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا أَوْ وَضَعَ عَنْهُ [۳] أَنْجَاهُ اللّٰهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوقتاده ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې به خپله مطالبه وصولولو کې، مفلس ته مهلت ورکړي يا هغه ته، خپله پوره مطالبه يا څه حصه معاف کړي [۳] نو الله ﷻ به هغه ته د قيامت د ورځې د سختيو څخه خلاصون ورکړي. مسلم

حل اللغات - ① أَنْظَرَ: اوګوري. مهلت ورکړي. ② مُعْسِرًا: تن ګدست. ③ كُرَب: سختي. تکليف

تسهيلات:

نوټ:- ددې حديث تشريح د حديث نمبر (۲۹۰۲) په تسهيل کښې شوې ده

[۲۹۰۴] د قيامت په ورځ د الله تعالى د سيورې حاصلولو يوه ذريعه

۲۹۰۴—[۲] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي الْيَسَرِ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "[۲] «مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا أَوْ وَضَعَ عَنْهُ [۳] أَظَلَّهُ اللّٰهُ فِي ظِلِّهِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابواليسر ﷺ وايي چې ما واوريدل چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې تنګدست ته مهلت ورکړي يا هغه معاف کړي [۳] نو الله ﷻ به هغه ته د خپل رحمت په سوري کې ځای ورکړي (يعني د قيامت په ورځ به هغه د ګرمي د تاؤ او د هغه ورځې د سختيو څخه محفوظ کړي) مسلم

حل اللغات - ① أَنْظَرَ: اوګوري. مهلت ورکړي. ② مُعْسِرًا: تنګ دست. ③ أَظَلَّهُ: سيوري به ورکړي. د سختو نه به ني اوساتي.

قوله أَظَلَّهُ اللّٰهُ فِي ظِلِّهِ:

د مذکوره قول په توجيه کښې درې اقوال :-

① د قيامت د ګرمئ د تپش نه به محفوظ وي

② د عرش د سوري لاندې به دې اودرولې شي

③ ددې نه مراد عزت و اکرام دي

[۲۹۰۵] په ښه طريقه د قرض اداکولو فضيلت

۲۹۰۵—[۳] (۲) [۱] وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: "[۲] «اسْتَسْلَفَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَكْرًا [۳] فَجَاءَتْهُ إِبِلٌ مِنَ الصَّدَقَةِ. [۴] قَالَ أَبُو رَافِعٍ: فَأَمَرَنِي أَنْ أَقْضِيَ الرَّجُلَ بَكْرَهُ. [۵] فَقُلْتُ: لَا أَجِدُ إِلَّا جَمَلًا خِيَارًا

۱) أخرجه مسلم في كتاب الزهد والرقائق/باب حديث جابر الطويل وقصة أبي اليسر (رقم - ۷۴ - (۳۰۰۶)

۲) أخرجه مسلم في كتاب المساقاة/باب من استسلف شيئا فقضى خيرا منه. وخيركم أحسنكم قضاء (رقم-۱۱۸ - (۱۶۰۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

رَبَاعِيًا. [٦] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَعْطِهِ إِيَّاهُ فَإِنَّ خَيْرَ النَّاسِ أَحْسَنُهُمْ قَضَاءً". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابو رافع ﷺ وايي [٢] يو خل رسول الله ﷺ د يو خوان اوښ قرض واخستلو [٣] بيا چې حضور ﷺ ته د زکوة اوښان راغلل [٤] نو ابو رافع ﷺ وايي حضور ﷺ ماته حکم راکړي چې زه هغه سړي ته، د چا څخه چې حضور ﷺ اوښ قرض آخستلو وو. هغه شان يو اوښ ورکړم. [٥] ما عرض اوکړو چې ماته خو هغه شان هيڅ اوښ په نظر نه راځي، البته يو اوښ دی چې د هغه د اوښ څخه ښه دی، او اووم کال يې شروع دی (نو زه هغه ته د هغه د اوښ څخه ښه اوښ څنګه ورکړم) [٦] حضور ﷺ وفرمايل چې هغه ته ښه اوښ ورکړه، ځکه چې په خلقو کې بهترين سړی هغه دی چې د قرض په ادانيگۍ کې د ټولو څخه ښه وي. (مسلم)

حل اللغات: - ① اِسْتَسْلَفَ: بيع سلف ئې اوکړه، يعنې تاخير سره د مبيع وصولولو په نغدو باندې بيع کول. ② بَكْرًا: خوان اوښ. ③ جَمَلًا: اوښ. ④ خِيَارًا: غوره. ⑤ رَبَاعِيًا: اوښ چه اووم کال ئې روان وی.

نوټ: - ددې حديث شرح د حديث نمبر (٢٨٢١) په تسهيل کښې تيره شوې دې

[٢٩٠٦] قرض ورکونکي دپاره د سختئ کولو جواز

٢٩٠٦ - [١] (١) [١] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ «أَنَّ رَجُلًا تَقَاضَى رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَغْلَظَ لَهُ، [٢] فَهَمَّ أَصْحَابُهُ، فَقَالَ: "دَعُوهُ، فَإِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا، [٣] وَاشْتَرُوا لَهُ بَعِيرًا، فَأَعْطُوهُ إِيَّاهُ» [٤] قَالُوا: لَا نَجِدُ إِلَّا أَفْضَلَ مِنْ سِنِّهِ. [٥] قَالَ: "اشْتَرُوهُ فَأَعْطُوهُ إِيَّاهُ [٦] فَإِنَّ خَيْرَكُمْ أَحْسَنُكُمْ قَضَاءً»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې يو سړی د رسول الله ﷺ څخه د هغه اوښ مطالبه وکړه (چې حضور ﷺ د هغه څخه په طور د قرض آخستلو وو) او مطالبه يې په ډير سخت کلام سره وکړه [٢] د حضور ﷺ صحابه وو ﷺ چې هغه (د دې سخت کلامې او د آداب نبوت خلاف د هغه په حرکت) سزا ورکول وغوښتل نو حضور ﷺ وفرمايل چې ده ته هيڅ مه وايئ ځکه چې د چا حق دی هغه ته د ويلو اختيار دی [٣] البته داسې وکړې چې يو اوښ رانيولو سره ده ته ورکړئ چې د ده مطالبه اداء شي او بيا د څه ويلو حق به يې پاتې نشي. [٤] صحابه وو ﷺ عرض اوکړو چې (هغه تا ته کوم اوښ په طور د قرض درکړي وو) د هغه د عمر څه اوښ خو نشته. بلکه د هغه څخه د زيات عمر والا شته (يعني د هغه اوښ وړوکی او کمتر وو او زمونږ سره چې کوم اوښ دی د هغه د اوښ څخه لوی اوښ دی)

¹) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب الوكالة في قضاء الديون (رقم-٢٣٠٦) ومسلم في كتاب المساقاة/باب من استسلف شيئا فقضى خيرا منه. وخيركم احسنكم قضاء.(رقم-١٢٠ - (١٦٠١)) واخرجه ابو داود في السنن كتاب البيوع/باب في حسن القضاء (رقم-٣٣٤٦) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في استقراض البعير أو الشيء من الحيوان أو السن (رقم: ١٣١٨) والنسائي في كتاب البيوع/باب استسلاف الحيوان واستقراضه (رقم-٤٦١٧) وابن ماجة في كتاب التجارات/ باب السلم في الحيوان (رقم-٢٢٨٥)

[٥] حضور ﷺ وفرمايل (كوم اوښ چې نه حاصليږي) هغه واخلئ (اګر چې د هغه د اوښ په نسبت لوی اوښ دی) او هغه ته یې ورکړی [٦] یادلرئ په تاسو کې بهترین سړی هغه دی چې د قرض په اداء کولو کې ښه وي. (بخاري مسلم)

حل اللغات - ① أَغْلَظَ: سختي ئې اوکړه. ② هَمَّ: قصد، اراده کول. ③ دَعُوهُ: پريږدئ. ④ مَقَالًا: دخبرو کولو. ⑤ سِنِّهِ: زيات عمر والا.

تسهيلات:

قوله: دَعُوهُ، فَإِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا

د قرض غوښتونکي سختي اود نبي عليه السلام صبر:- د نبي كريم ﷺ نه دخپل قرض مطالبه کونکي اوبيا په قرض غوښتلوکښې سختي خبرې کونکي به څوک كافروو، كه هغه يهودی وو اوكه بل څوک وو. بعضې حضرات وائي چه شايد څوک شاړيار كلي وال او د باندې اوسيدونکي به وو، چه هغه د نبوی مجلس اود مقام نبوت د آدابو نه بالكل ناخبره وو، چه هغه کښې دومره ادب هم نه وو چه دچا سره څنګه خبره کولې شي، ددې په عکس چه نبي کريم ﷺ دهغه خبرې كوم صبر اواستقامت سره اوبه خوش اخلاقۍ سره برداشت كړې هغه صرف د نبوت خاصه كيدې شي.

قوله: فَإِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا:

د قرض په وصولۍ کښې دسختۍ جواز:- چه دچا حق وی هغه ته دخبرو کولو اختيار وی، ددې په باره کښې ابن ملک رحمه الله فرمائي چه دلته د حق نه مراد قرض دې، يعنی كه ديوکس په چا باندې څه قرض وی اوهغه قرضدار په قرض اداکولو کښې تاخير اوکړی نوقرض خواه ته داحق حاصليږی چه دهغه نه سختئ سره تقاضا اوکړی، دهغه نه د خفګان اظهار اوكړی اوكه هغه بيا هم قرض ادا نه كړی نوحاكم او عدالت طرف ته دې رجوع اوكړی

[٢٩٠٧] د قدرت باوجود قرض نه واپس کولو باندې د ظلم اطلاق

٢٩٠٧- [٥] (١) [١] وَعَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [٢] «مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ [٣] فَإِذَا أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيٍّ فَلْيَتْبَعْ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د صاحب استطاعت (د قرض په آدائيګۍ کې) تاخير کول ظلم دی [٣] او هر کله چې په تاسو کې څوک صاحب استطاعت ته حواله کړی شي نو هغه حواله قبلول پکار دی. (بخاري مسلم)

---

١) اخرجه البخاری فی کتاب الإجارة/باب الحوالة. وهل يرجع فی الحوالة؟ (رقم-٢٢٨٧) ومسلم فی کتاب المساقاة/باب تحريم مطل الغنی. وصحة الحوالة. واستحباب قبولها إذا أحيل علی ملی (رقم-٣٣ - (١٥٦٤)) والترمذی فی کتاب البيوع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی استقراض البعير أو الشیء من الحيوان أو السن (رقم: ١٣١٧) واحمد فی المسند: ٢/٤١٦

Maktaba Tul Ishaat.com

حل اللغات - ①مَطْلُ : ټال متول کول، چل ول کول. ②اَلْغَنِيِّ : مالدار. ③مَلِيءٍ : په وزن د ګريم. صاحب استطاعت، مالدار. ④يَتْبَعْ: په سکون د ت او ع سره، حواله دې کړی.

تسهيلات:

قوله مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ:

د لفظ مطل معنی او شرعی حکم:- مطل يمطل مطلاً نصر ينصر نه د قرض واپس کولوکښې ټيل ټال ته وائی مطلب دا چه يوسړې د چا قرض داړې دې او په قرض اداکولو باندې قادرهم دې د قدرت نه باوجود قرض نه اداکوی دا ظلم دې ددې په وجه دې قيدکولې شی علماؤ ليکلی دی چه کوم سړې د طاقت نه باوجود بار بار د قرض په اداکونوکښې ټيل ټال نه کار اخلی هغه فاسق جوړيږی او دهغه ګواهی ردکولې شی

قوله فَإِذَا أُتْبِعَ:

د اتبع څخه مراد:- اتباع د حواله کولوپه معنی کښې ده مطلب دادې چه مديون قرض خواه ته د چا حواله وركړه چه كوم قرض په ما باندې دې هغه د فلانكی نه وصول كړه څكه چه زما قرض په هغه باندې دې. نودې قرض خواه له پكاردی چه دغه حواله قبوله كړی اود هغه مالدارنه خپل قرض وصول كړی.

د حواله د قبلولو حکم:- مګر په دې کښې د علماؤ کلام دې چه آيا حواله قبلول واجب دی که مستحب دی بعض واجب وئيلی دی او بعض داحديث په استحباب باندې حمل کوی تفصيل د فقه کتابونوکښې کتل پکاردی.

[۲۹۰۸] د دائن اومديون جګړه ختمول

۲۹۰۸-[۰] (۱) ①وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - ②«أَنَّهُ تَقَاضَى ابْنَ أَبِي حَدْرَدٍ دَيْنًا لَهُ عَلَيْهِ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْمَسْجِدِ ③فَارْتَفَعَتْ أَصْوَاتُهُمَا حَتَّى سَمِعَهَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ فِي بَيْتِهِ ④فَخَرَجَ إِلَيْهِمَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حَتَّى كَشَفَ سِجْفَ حُجْرَتِهِ،

ترجمه: او د حضرت کعب ابن مالک ﷛ په باره کې منقول دی چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې يوه ورځ، هغه په مسجد نبوي کې د ابن ابي حدرد څخه د خپل قرض د واپسی مطالبه وکړه تردې چې د دواړو آوازونه اوچت شول او رسول الله ﷺ چې هغه وخت په خپله حجره مبارکه کې تشريف فرما وو د هغه دواړو آوازونه يې واوريدل نو د حجري څخه د بهر

۱) اخرجه البخاری فی کتاب الصلاة باب التقاضی [ص:۹۹] والملازمة فی المسجد (رقم-۴۵۷) ومسلم فی کتاب المساقاة /باب استحباب الوضع من الدين (رقم-۲۰ (۱۵۵۸)و اخرجه ابو داود فی السنن کتاب البيوع /باب فی المطل (رقم-۳۳۴۵)والترمذی فی کتاب البيوع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم /باب ما جاء فی مطل الغنی أنه ظلم (رقم-۱۳۰۸)والنسائی فی کتاب البيوع /باب الحوالة (رقم ۴۶۹۱) وابن ماجه فی کتاب الصدقات /باب الحوالة (رقم-۲۴۰۳) ومالک فی الموطا کتاب البيوع /باب جامع الدين والحول (رقم ۸۴ واحمد فی المسند: ۷۱/۲

راوتلو اراده يې وكړه حضور ﷺ د خپلې حجرې پرده پورته كړه

حل اللغات - ① تَقَاضٰى تقاضا او مطالبه كول. ② كَشَفَ پرده لرې كول. ③ سِجْفَ د دروازې پرده. ④ حُجْرَتِهٖ كوټه. كوټه.

[۱] وَنَادٰى كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ، قَالَ: "يَا كَعْبُ" [۲] قَالَ: لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! [۳] فَأَشَارَ بِيَدِهٖ أَنْ ضَعِ الشَّطْرَ مِنْ دَيْنِكَ، [۴] قَالَ كَعْبٌ: قَدْ فَعَلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ [۵] قَالَ "قُمْ فَاقْضِهٖ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او كعب ابن مالك ﷺ ته مخاطب كولو سره يې وفرمايل چې اې كعب [۲] كعب ابن مالك ﷺ عرض اوكړو چې يا رسول الله ﷺ حاضر يم. [۳] حضور ﷺ د خپل لاس مبارك په ذريعه هغه طرف ته اشاره وكړه چې د خپل قرض نيمه حصه ورته معاف كړه [۴] كعب ﷺ عرض اوكړو چې يا رسول الله ﷺ ما ورته معاف كړه. [۵] د دې څخه وروسته حضور ﷺ ابن ابي حدرد ﷺ ته وفرمايل چې اوس لاړ شه او باقي قرض اداء كړه. بخاري

حل اللغات - ⑤ ضَعِ: پريږده، معاف كړه. ⑥ الشَّطْرَ: نيمه حصه.

تسهيلات: قوله: تَقَاضٰى:

د تقاضي مطلب:- داد طلب كولو په معنى كښې دې معلومه شوه چه په جمت كښې د قرض مطالبه كول جائز دى مطالبه كونكې حضرت كعب ﷺ وو او مديون ابن ابى حدرد ﷺ وو

قوله: فَاقْضِهٖ:

د مذكوره جملې مفهوم:- حضرت كعب ﷺ چه كله نيم قرض معاف كړو نوحضور ﷺ ابوحدرد ﷺ ته اوفرمائيل چه اوس اودريږه او باقى حصه فوراً اداكړه ددې حديث نه معلومه شوه چه دتنازعه په صورت كښې مشرانوله فيصله كول پكاردى او يوطرف ته سفرش كول هم جائز دي اود اصلاح هركوشش د ثواب سبب دي

[۲۹۰۹] رسول الله صلي الله عليه وسلم د قرضدار جنازه نه كول

۲۹۰۹-[۸] (۱) [۱] وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «كُنَّا جُلُوْسًا عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] إِذْ أُتِيَ بِجَنَازَةٍ، [۳] فَقَالُوْا: صَلِّ عَلَيْهَا. [۴] فَقَالَ: هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ؟ قَالُوْا: لَا فَصَلّٰى عَلَيْهَا، [۵] ثُمَّ أُتِيَ بِجَنَازَةٍ أُخْرٰى، فَقَالَ: هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ؟ [۶] قَالُوْا: نَعَمْ، [۷] قَالَ: "فَهَلْ تَرَكَ شَيْئًا؟" [۸] قَالُوْا: ثَلَاثَةَ دَنَانِيْرَ فَصَلّٰى عَلَيْهَا ثُمَّ أُتِيَ بِثَالِثَةٍ.

ترجمه: [۱] او حضرت سلمه بن اكوع ﷺ وايي چې مونږ خلق د رسول الله ﷺ په مجلس كې

---

۱) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب إن أحال دين الميت على رجل جاز (رقم-۲۲۸۹) وابوداود في السنن كتاب البيوع/باب في التشديد في الدين (رقم-۳۳۴۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

حاضر وو[٢] چې يوه جنازه راوړل شوه[٢] صحابه ﷺ حضور ﷺ ته عرض اوكړو چې د جنازي مونځ وركړي[٤] حضور ﷺ وفرمايل چې په ده خو قرض نشته؟ صحابه وو ﷺ اوويل چې نا. نو حضور ﷺ د هغه د جنازي مونځ وكړي. [٥] بيا بله جنازه راوړل شوه حضور ﷺ وفرمايل چې په ده خو څه قرض نشته؟ [٦] عرض وشو چې هو، قرض وربانديې شته. [٧] حضور ﷺ پوښتنه وكړه دَه څه پريښي دي كه نه؟ [٨] صحابه وو ﷺ عرض اوكړو چې درې ديناره يې پريښي دي (د دي اوريدو سره. حضور ﷺ په هغه د جنازي مونځ وكړي بيا يوه دريمه جنازه راوړل شوه.

[١] فَقَالَ هَلْ عَلَيْهِ دَيْنٌ؟ قَالُوا: ثَلَاثَةُ دَنَانِيرَ. [٢] قَالَ: هَلْ تَرَكَ شَيْئًا؟ قَالُوا: لَا. [٣] قَالَ: " صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ " [٤] قَالَ أَبُو قَتَادَةَ: صَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُولَ اللهِ وَعَلَيَّ دَيْنُهُ فَصَلَّى عَلَيْهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] حضور ﷺ پوښتنه وكړه چې په ده څه قرض خو نشته؟ صحابه وو ﷺ عرض اوكړو چې هو. درې ديناره وربانديې قرض دی. [٢] حضور ﷺ وفرمايل دی د څه پريښودلو سره مړشوی دی كه نه؟ عرض وشو چې هيڅ يې نه دي پريښي. [٣] نو حضور ﷺ وفرمايل چې بيا تاسو په خپل ملګري جنازه وكړي

[٤] ابوقتاده ﷺ (چې دا واوريدل نو هغه) اوويل چې يا رسول الله ﷺ ته په ده د جنازي مونځ وكړه دده قرض به زه اداء كړم. بيا حضور ﷺ د هغه د جنازي مونځ وكړي. بخاري

تسهيلات:

قوله: بِجَنَازَةٍ:

په مديون باندې د جنازې مونځ كولو نه د انكار كولو وجوهات:- ممكن دی چه دريواړه جنازې هم په يوه ورځ هم په يومجلس كښې حاضرې كړې شوی وی اودا هم ممكن ده چه جدا جدا ورځو كښې او په جدا جدا وختونو كښې راوړلې شوی وی حضورپاك دَ مديون دَ جنازې نه كولو څخه انكار اوكړو

① عامو خلقوته د عبرت حاصلولو په غرض نبی كريم ﷺ انكار كړې وو چې امت دَ قرض اخستلو نه خان اوساتی اوكه دَ مجبورئ دَ وجې نه قرض اخستل هم وی نوچه دَهغې په اداكولو كښې كوتاهی اونه كړی

② رسول الله ﷺ دَ جنازې نه كولونه په دې وجه معذرت اوكړو چه يوطرف ته به حضورپاك دَ مړی دپاره دعاكوی شفاعت به وی اوبل طرف ته به دَحقوق العباد دَ وجې نه دعا نه قبليږی

حديث نه د جمهورو استدلال:- ددې حديث نه داخبره واضحه شوه چه دَمړی دَ طرف نه ضامن جوړيدل جائز دی اودَ جمهورو اوصاحبين هم دغه مسلك دې

د امام ابو حنيفه رحمه الله جواب:- امام ابوحنيفه ﷫ فرمائی چه دَ مړی دَ طرف نه ضامن كيدل جائز نه دی هغوی دَ زيربحث حديث مطلب دا اخلی چه حضرت ابوقتاده ﷺ

ضمانت او كفالت نه وو كړې بلكه دَاحسان په توګه ئې دَ مړي دَ قرض اداكولو وعده كړې وه لكه چه په حديث نمبر (٢٩٠٣) كښې ذكر دى

دحديث محمل او محل: - بهرحال دادَهغه وخت خبره وه كوم وخت چه حضورپاك سره دَ غنيمت مالونه نه وو راغلى كله چه غنيمتونه راغله اوحضور پاك ته مالى فراخوالى حاصل شو نوحضورپاك اعلان اوكړو چه كوم مړى ميراث پريخودې وى هغه دَ هغه دَ وارثانو دې او چاچه دَ څه مال بوج پريخودو هغه ذمه وارى په ما باندې ده

[٢٩٠٠] د قرض د ادا كولو نيت كونكي سره نصرت خداوندي

٢٩٠٠-[٢] (١) ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "②«مَنْ أَخَذَ أَمْوَالَ النَّاسِ يُرِيدُ أَدَاءَهَا أَدَّى اللَّهُ عَنْهُ، ③وَمَنْ أَخَذَ يُرِيدُ إِتْلَافَهَا أَتْلَفَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①حضرت ابوهريره ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② كوم سړى چې د خلقو مال واخلي او د هغه د اداء كولو اراده لري (يعني د څه ضرورت په بناء قرض واخلي او د قرض د آدائيګۍ اراده هم لري او د هغه د اداء كولو كوشش هم كوي) نو الله ﷻ به د هغه، هغه مال اداء كوي (يعني د قرض د اداء كولو د نيت كونكي سره الله ﷻ مدد كوي په دي طور چې يا خو په دنيا كې د قرض د اداء كولو استطاعت وركوي يا په آخرت كې حقدار راضي كوي)③ او كوم سړى چې د خلقو مال واخلي او د هغه د ضائع كولو اراده لري (يعني د څه ضرورت څخه بغير د چا څخه قرض واخلي او بيا د هغه د قرض د ادائيګۍ نيت هم نه لري) نو الله ﷻ د هغه مال ضائع كوي يعني كوم سړى چې قرض واخلي او هغه قرض اداء نه كړي او نه يې د اداء كولو نيت لري نو الله ﷻ نه يواخې دا چې په قرض اداء كولو د هغه مدد نه كوي. او د هغه په رزق كې وسعت او فراخي نه وركوي. بلكه د هغه مال ضائع كوي هم څكه چې هغه د يو مسلمان د مال ضائع كولو نيت لري)، (بخاري)

حل اللغات - ①إِتْلَافَهَا: ضائع كول.

تسهيلات:

قوله يُرِيدُ أَدَاءَهَا أَدَّى اللَّهُ عَنْهُ:

د قرض اداء كولو ترغيب: - دَ تجربه نه هم ثابته ده او مشاهده هم ده چه كوم خلق قرض په دې نيت باندې اخلي چه نه به ئې اداكوى نو واقعى هغه ته دَ اداكولو توفيق نه ملاويږى اوكوم خلق چه دَ مجبورئى دَ وجې نه قرض اخلى او شپه ورځ دَ هغې دَ اداكولو په فكر كښې راګير وى نو الله تعالى يقيناً دَهغوى امداد كوى اوقرض نه خلاصيږى. مسلمان له پكار دى

١) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب من أخذ أموال الناس يريد أداءها أو إتلافها (رقم-٢٣٨٧) واحمد في المسند: ٣٦١/١

Maktaba Tul Ishaat.com

چه د قرض اخستلو نه خان اوساتی او که مجبوره کیدو سره نی واخلی نو د هغې د اداکولو فکر کول پکار دی دې د پاره چه د حدیث د دې وعید نه بچ شی

[٢٠] د حقوق العباد عدم معافی

٢٠-[٣] (١) [١] وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ [٢] أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ صَابِرًا مُحْتَسِبًا مُقْبِلًا غَيْرَ مُدْبِرٍ - يُكَفِّرُ اللّٰهُ عَنْ خَطَايَايَ؟ [٣] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَعَمْ"، فَلَمَّا أَدْبَرَ نَادَاهُ [٤] فَقَالَ: "نَعَمْ إِلَّا الدَّيْنَ كَذٰلِكَ قَالَ جِبْرِيلُ"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوقتاده ﷺ وایي چې یو سړي عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ [٢] ماته وښایه که زه د الله ﷻ په لار کې ووژل شم په داسې حال کې چې صبر کونکی او د ثواب خواهشمند یم (یعني زه د ښودني او آوروني په غرض نه بلکه خاص د الله ﷻ د رضا او خوشنودی له خاطره او د ثواب په طلب کې جهاد وکړم) او داسې جهاد وکړم چې په میدان جنګ کې دښمن ته شا ونه ګرځوم، بلکه د هغوی په مخکې شینه سپر (سینه مې ورته کړي وي) تردي چې په جنګ کولو کې ووژل شم، نو آیا الله ﷻ به خما ګناه معاف کړي [٣] رسول الله ﷺ جواب ورکړي چې هو، بیا چې هغه سړي د خپل سوال جواب موندلو سره واپس لاړلو [٤] نو حضور ﷺ هغه ته ور غږ کړو، او وې فرمایل چې هو. الله ﷻ به ستا ګناه یقیناً معاف کړي. خو قرض نه معاف کوي . ماته جبرائیل دا ویلي دي. (مسلم)

حل اللغات - ① مُحْتَسِبًا: د ثواب خواهش مند . ثواب غوښتونکي. ② مُقْبِلًا: مخ کونکي یم. ③ غَيْرَ مُدْبِرٍ: شا ګرځونکي نه یم

تسهیلات:

قوله نَعَمْ إِلَّا الدَّيْنَ كَذٰلِكَ قَالَ جِبْرِيلُ:

شهید ته هم د قرض نه معاف کیدل: - د شهیدلو مقام دې خود قرض او دین معامله دومره سخته ده چه د شهید ټول ګناهونه کوم چه حقوق الله سره متعلق وی معاف کیږی مګر کوم حقوق چه د بندګانو وی هغه الله تعالی نه معاف کوی په یو بل حدیث کښې هم راغلی دی چه الله تعالی د شهید ټول ګناهونه معاف کوی سوا د قرض نه او دا حکم په خاص توګه جبرائیل آمین راوړلې راغلي وو د کوم نه چه معلومه شوه چه وحی متلوکومه چه د قرآن په صورت کښې راتلله دې نه علاوه وحی غیرمتلو به هم جبرائیل آمین راوړله

قرض دار شهید دپاره د خلاصی طریقه: -په یو بل حدیث کښې راغلی دی چه الله تعالی به

---

١) اخرجه مسلم فی كتاب الإمارة/باب من قتل فی سبیل الله كفرت خطایاه إلا الدین (رقم-١١٧ - (١٨٨٥) والترمذی فی كتاب الجهاد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فیمن یستشهد وعلیه دین (رقم-١٧١٢) والنسائی فی كتاب الجهاد/باب من قاتل فی سبیل الله تعالی وعلیه دین (رقم-٣١٥٦) ومالک فی الموطا كتاب الجهاد/باب الشهداء فی سبیل الله(رقم-٣١) واحمد فی المسند: ٢٩٧/٥

شهيد سره د قيامت په ورځ دا نرمي اوفرمائي چه قرض خواهانو ته به د خپل طرف نه بدله ورکړي او د شهيد مغفرت به اوفرمائي بهرحال د قرض په حواله چه کله د شهيد دا حال دې نو دغه مو خلقو معامله به څومره سخته وي د شهداء باره کښې د ابن ماجه يو روايت دا سې هم دې چه کوم شهيدان په سمندري جنګ کښې شهيدان شوي د هغوی هر قسم ګناهونه معاف کيږي که د حقوق الله متعلق وي او که د حقوق العباد متعلق وي

[٢٠٣] د قرض څخه سوا د شهيد ټول ګناهونه معاف کيدل

٢٩١٠-[٥] (١) ١ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ٢ «يُغْفَرُ لِلشَّهِيدِ كُلُّ ذَنْبٍ إِلَّا الدَّيْنَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او حضرت عبد الله ابن عمرو رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ د شهيد ټول صغيره او کبيره ګناهونه معاف کول کيږي. خو قرض يعني حقوق العباد نه معاف کيږي. مسلم

تسهيلات:

نوټ:- د دې حديث وضاحت د حديث نمبر ٢٩١١ په تسهيل کښې تيرشوي دې

[٢٠٤] په امت باندې د نبی عليه السلام شفقت

٢٩١١-[٦] (٢) ١ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُؤْتَى بِالرَّجُلِ الْمُتَوَفَّى عَلَيْهِ الدَّيْنُ ٢ فَيَسْأَلُ: هَلْ تَرَكَ لِدَيْنِهِ قَضَاءً؟ ٣ فَإِنْ حُدِّثَ أَنَّهُ تَرَكَ وَفَاءً صَلَّى ٤ وَإِلَّا قَالَ لِلْمُسْلِمِينَ: "صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ". ٥ فَلَمَّا فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ الْفُتُوحَ قَامَ

ترجمه: ١ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي کله چې به د حضور ﷺ مخې ته د داسې سړي جنازه راوړل شوه چې په هغه به قرض وو ٢ نو مخکې به يې پوښتنه کوله چې آيا دې سړي د خپل قرض د اداء کولو د پاره څه مال پريښې دی؟ ٣ که به وښودل شو چې دومره مال يې پريښې دی چې د هغه سره به د ده قرض اداء کيدی شي. نو حضور ﷺ به د هغه د جنازې مونځ کوی. ٤ او که معلومه به شوه چې هيڅ يې نه دي پريښې. نو بيا به يې نورو مسلمانانو ته فرمايل چې تاسو د خپل ملګري د جنازې مونځ وکړئ. ٥ بيا چې الله ﷻ د فتوحاتو دروازې خلاصې کړي او د مشرکانو او کفارو د جنګ څخه وروسته د غنيمت په

---

١) اخرجه مسلم في كتاب الإمارة/باب من قتل في سبيل الله كفرت خطاياه إلا الدين (رقم ١١٩ - (١٨٨٦)

٢) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب من تكفل عن ميت دينا. فليس له أن يرجع (رقم-٢٢٩٨)ومسلم في كتاب الفرائض/باب من ترك مالا فلورثته (رقم-١٤ - (١٦١٩) كتاب البيوع/باب في التشديد في الدين (رقم ٣٣٤٣) والترمذي في كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء في الصلاة على المديون (رقم ١٠٧٠) والنسائي في كتاب الجنائز/باب الصلاة على من عليه دين (رقم-١٩٦٣)وابن ماجه في كتاب الصدقات/باب من ترك دينا أو ضياعا فعلى الله وعلى رسوله (رقم-٢٤١٥)واحمد في المسند: ٤٥٣/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

صورت کې په مال او زرو کې وسعت او کشادګي نصيب شوه، نو حضور ﷺ يوه ورځ د خطبې د پاره ودريدلو

حل اللغات - ①وَفَاءً: پوره، برابر، (قرض پوره کونکي مال)

①فَقَالَ: أَنَا أَوْلَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ، ②فَمَنْ تُوُفِّيَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فَتَرَكَ دَيْنًا فَعَلَيَّ قَضَاؤُهُ، ③وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَهُوَ لِوَرَثَتِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او مسلمانان مخاطب کولو سره يې وفرمايل چې زه (د دين او دنيا) په ټولو امورو کې په مسلمانانو د هغوئ د ځانونو څخه زيات حق لرم ② کوم مسلمان چې داسې حالت کې مړ شي چې په هغه قرض وي (او هغه دومره مال نه وي پريښې چې د هغه قرض ورباندې اداء شي) نو د هغه د قرض اداء کولو زه ذمه وار يم ③ او کوم مسلمان چې مال پريښودلو سره مړ شي (نو د هغه د مال څخه د هغه د قرض اداء کولو څخه وروسته چې څه پاتې شي) هغه د هغه د وارثانو حق دی. (بخاري مسلم)

تسهيلات:

قوله: أَوْلَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ:

نبی علیه السلام څخه د ځان څخه زيات محبت ساتل: - په دې جمله سره دَ قرآن کريم دَدې آيت طرف ته اشاره ده. ﴿النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ﴾ [سورت احزاب: ۶]. په دې آيت کښې په واضحه توګه باندې مسلمانانوته حکم ورکړې شوې دې چه دَنبي کريم ذات سره محبت دَخپلو ځانونو نه زيات پکاردې. په هرمسلمان باندې واجب دی چه هغوی دې دَ خپل ځان نه زيات دَ حضورپاك ذات سره محبت ساتی او په خپلو ټولو خواهشاتو اوتقاضوباندې دَ حضورپاك حکم او اطاعت مقدم اوساتی. دَدې تفصيل په کتاب الايمان کښې تيرشوې دې

د نبی علیه السلام په خپل امت باندې شفقت: - زيربحث حديث کښې دَ حضورپاك دَ هغه بې پناه شفقت ذکر دې کوم چه دَ حضورپاك دَ طرف نه په خپل امت باندې وو چنانچه حضورپاك اعلان کړې ووچه که څوك سړې مرشی اوهغه غريب وی نودَهغه دَ کفن دفن اودَ هغه ټولې خرچې په ماباندې دی اوکه چرې هغه مالداردې اوميراث پريږدی نوهغه دَ هغه دَ وارثانودې علماؤ ليکلی دی چه حضورپاك به په خپل ذاتی مالونوسره دَدې انتظام کولو بعض علماؤ ليکلی دی چه بيت المال نه به دَ دې انتظام کيدلو دَمرې دَطرف نه دَ قرض دا ادائيګی په حضورپاك باندې خويا واجب وه او يا حضورپاك دَ احسان په توګه په خپله ذمه باندې اخستې وو

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٠٣] د ديواليه كس حكم

٢٩٠٣ — [١٠] (١) [١] عَنْ أَبِي خَلْدَةَ الزُّرَقِيِّ قَالَ: «جِئْنَا أَبَا هُرَيْرَةَ فِي صَاحِبٍ لَنَا قَدْ أَفْلَسَ [٢] فَقَالَ: هَذَا الَّذِي قَضَى فِيهِ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] أَيُّمَا رَجُلٍ مَاتَ أَوْ أَفْلَسَ [٤] فَصَاحِبُ الْمَتَاعِ أَحَقُّ بِمَتَاعِهِ إِذَا وَجَدَهُ بِعَيْنِهِ». رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت ابي خلده زرقي وايي چي مونږ حضرت ابوهريره ﷺ ته د يو ملګري معامله راوړه چي مفلس شوی وو (خو د هغه سره د خلقو هغه سامان موجود وو چي د هغه قيمت هغه اداء کړي نه وو) مونږ د ابوهريره څخه پوښتنه وکړه چي په دي باره کي څه حکم دی؟ [٢] هغه وفرمايل چي د دي سړي معامله بالکل د هغه سړي په شان ده چي د هغه په باره کي رسول الله ﷺ دا فيصله کړي وه [٣] چي کوم سړی مړ شي يا مفلس شي (او د هغه په ذمه د خلقو مطالبات وی) [٤] نو د کوم سړی مال چي د هغه سره دی هغه سړی د هغه مال زيات حقدار دی په شرط د دي چي هغه مال هغه شان موجود وي شافعي ابن ماجه (د دي د وضاحت د پاره د دي باب په مخکني فصل کي حديث ١ ملاحظه کړي)

حل اللغات: - ① أَفْلَسَ: غريب، محتاج، ② الْمَتَاعِ: سامان،

تسهيلات: د دي حديث تشريح حديث نمبر (٢٨٩٩) په شرح کښي شوي ده

[٢٠٥] د مديون د روح د قرض په وجه معلق کيدل

٢٩٠٤ — [-] (٢) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - [٢] «نَفْسُ الْمُؤْمِنِ مُعَلَّقَةٌ بِدَيْنِهِ حَتَّى يُقْضَى عَنْهُ». رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د مومن روح د خپل قرض په وجه د هغه وخته معلق وي د خو پوري چي د هغه قرض اداء نشي (يعني هر کله چي يو سړی قرضدار مري، نو د هغه روح هغه وخته پوري د صالح بنده ګانو په جماعت کي نه داخليږي د خو پوري چي د هغه قرض اداء نشي) شافعي احمد ترمذي ابن ماجه دارمي

حل اللغات: - ① نَفْسُ: روح، ساه، ② مُعَلَّقَةٌ: رازورنده وی.

تسهيلات: **قوله:** بِدَيْنِهِ:

د قرض اخستلو دوه قسمونه اود هر قسم حکم: - ① کوم خلق چه دَ قرض اخستو شوقين وی اودَ قرض مالونه په خپلو فضولياتو او واهياتو کښي بې دريغه خرج کوی اودَ قرض

١) اخرجه ابو داود في السنن أبواب الإجارة/باب في الرجل يفلس فيجد الرجل متاعه بعينه عنده (رقم-٣٥٢٣)
٢) اخرجه الترمذي في كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: «نفس المؤمن معلقة بدينه حتى يقضى عنه» (رقم-١٠٧٨) واحمد في المسند:٢/٤٤٠

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکونکو څه خیل نه ساتی او هم دغه شان قرضداري مره شي نو د هغوی روحونه به د جنت نعمتونو او مؤمنانو روحونو سره د ملاویدونه زورند ساتلي شي داد هغوی سزا ده

④ که چري د خپتي په خاطر په درجه د مجبوریني چا قرض واخستلو او د اداکولونه عاجز شو او بیا مرشو نوکیدي شي چه د دوی په شان مجبوره خلقو سره د نرمئي معامله اوشي بیا هم د وخت په حاکم باندي او مالدارانو خلقو باندي لازم ده چه هغوی دي د هغه د قرض انتظام اوکړی

[۲۰۳] قرض داري د جنت داخليدو څخه روسته کیدل

۲۰۳-[۸] (۱) ①وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«صَاحِبُ الدَّيْنِ مَأْسُورٌ بِدَيْنِهِ يَشْكُو إِلَى رَبِّهِ الْوَحْدَةَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ① د حضرت براء بن عازب ﷺ وایي چي رسول الله ﷺ وفرمایل ② قرض دار به د خپل قرض په وجه محبوس کړل شي (یعني په جنت کي د داخلیدو او د صالحو بنده ګانو صحبت ته د رسیدو څخه به منع شي) نو هغه به د قیامت په ورځ خپل پروردګار ته د خپلي تنهايي شکایت وکړي. (شرح السنه)

حل لغات - ①مَأْسُورٌ: راګیر به وی، محبوس به وی

[۲۰۴] د قرض د پاره د مدیون ټول مال خرڅول

۲۰۴-[۹] (۲) ①وَعَنْهُ: «أَنَّ مُعَاذًا كَانَ يَدَّانُ ②فَأَتَى غُرَمَاؤُهُ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③فَبَاعَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَالَهُ كُلَّهُ فِي دَيْنِهِ ④حَتَّى قَامَ مُعَاذٌ بِغَيْرِ شَيْءٍ» ⑤مُرْسَلٌ هٰذَا لَفْظُ الْمَصَابِيحِ، وَلَمْ أَجِدْهُ فِي الْأُصُولِ إِلَّا فِي الْمُنْتَقَى.

ترجمه: ①منقول دی چي حضرت معاذ ابن جبل ﷺ به قرض اخستلو ② بیا خل د هغه قرض خواه د خپل قرض د وصولی په سلسله کي حضور ﷺ ته راغلل ③ نو حضور ﷺ د معاذ ﷺ ټول مال او اسباب د هغه د قرض د اداء کولو د پاره خرڅ کړل ④ د هغه نتیجه دا شوه چي معاذ ﷺ مفلسه شو. ⑤ دا حدیث مرسل دی او دا الفاظ د مصابیح نقل شوی دی د مشکوٰة مؤلف وایي چي ما دا روایت په اصولو یعنی صحاح سته وغیره کي نه دی پیدا کړي. البته دا روایت مي په منتقی کي پیدا کړي دی

[۲۰۵] د سخاوت په وجه قرضداري کیدل

۲۰۵-[۱۰] (۳) ①وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: ②«كَانَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ شَابًّا سَخِيًّا وَكَانَ لَا يُمْسِكُ شَيْئًا فَلَمْ يَزَلْ يَدَّانُ حَتَّى أَغْرَقَ مَالَهُ كُلَّهُ فِي الدَّيْنِ فَأَتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَكَلَّمَهُ لِيُكَلِّمَ غُرَمَاءَهُ فَلَوْ

[۱] اخرجه البغوی في شرح السنة رقم الحديث ۲۱۴۸

[۲] المراسيل لأبي داؤد باب في المفلس رقم (۱۶۲)

[۳] اخرجه الدارقطني في السنن رقم الحديث ۹۵ من باب المرأة تقتل اذا ارتدت

تَرَكُوا لِأَحَدٍ لَتَرَكُوا لِمُعَاذٍ لِأَجْلِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَبَاعَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَهُمْ مَالَهُ حَتّٰى قَامَ مُعَاذٌ بِغَيْرِ شَيْءٍ». رَوَاهُ سَعِيدٌ فِي سُنَنِهِ مُرْسَلًا.

ترجمه: [۱] و هغه هم داسې دی چې حضرت عبد الرحمن ابن مالک ﷺ وایې [۲] چې حضرت معاذ ابن جبل ﷺ یوسخي خوان وو، او (د خپل سخاوت په وجه) هیڅ مال او اسباب یې دخان سره نه پرېښودل (ځکه چې څه به ورسره وو هغه ټول به یې نورو ته ورکول په دې وجه هغه به همیشه قرض آخستلو ، ددې پورې چې هغه خپل مال واسباب د قرض نذر کړل، بیا (یوه ورځ) د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو (او د دې خبرې خواهش یې ښکاره کړي) چې حضور ﷺ د هغه قرض خواهانو ته سفارش وکړي (چې هغوئ ورته ټول قرض یا څه حصه معاف کړي) حضور ﷺ په دې باره کې د هغه قرض خواهانو سره خبرې وکړې. خو هغوئ هیڅ معاف نه کړل، او که هغوئ د چا قرض معاف کولی، نو د حضور ﷺ په وجه به یې د معاذ ﷺ قرض ضرور معاف کړې وو (هغو چې د معاف کولو څخه انکار وکړي نو) حضور ﷺ د هغه قرض خواهانو مطالبات د پوره کولو د پاره د معاذ ﷺ ټول مال واسباب خرڅ کړل ددې پورې چې (په دې وجه) معاذ ﷺ مفلس شو . سعید رحمه الله دا روایت په خپل سنن کې بطریق ارسال نقل کړې دی، (شرح السنه)

حل اللغات: - ① شَابًّا: خوان. ② يَدَّانُ: قرض به ئې اخستلو. ③ أَغْرَقَ: غرق ئې کړو. (مال ئې ختم کړو) ④ غُرَمَاءَ: قرض خواهان، قرض غوښتونکی.

تشریحات:

قوله: وَلَمْ أَجِدْهُ فِي الْأُصُولِ إِلَّا فِي الْمُنْتَقٰى:

د اصول څخه مراد: - یعنی د راوی نه وړاندې دمرسل پورې چه کوم الفاظ دی صاحب مشکوة فرمائی چه ماته دا روایت د اصول په کتابونوکښې ملاؤنه شو د اصول کتابونه هغه دی کوم کښې چه حدیث سره د سند بیان وی صاحب مشکوة وړاندې فرمائی اود حدیث کتاب مشفی کښې ماته داحدیث ملاؤشوې دې د کوم نه چه معلومیږی چه مشفی د اصول دکتابونونه دا روایت نقل کړې وی که هلته نه وې نوهغه به په مشفی کښې نه نقل کولو مشفی د علامه تیمی رحمه الله کتاب دې

قوله: كَانَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ شَابًّا سَخِيًّا:

د معاذ دپاره د نبی علیه السلام سفارش: - د قرض اخستلو په معنی کښې دې حضرت معاذ ﷺ یو فیاض نوجوان وو دخپلو نیکو مقاصدودپاره به ئې قرض اخستلو تردې چه په قرضونوکښې راګیرشو قرض خواهانو به خپل قرضونه غوښتل هغه حضورپاک سره خبره اوکړه چه زما باره کښې دې قرض خواهانوته سفارش اوکړه چه څه قرض راته معاف کړی لیکن مال خو عجیبه څیز دې چا ورته هیڅ هم معاف نه کړل بیا حضورپاک دهغه

Maktaba Tul Ishaat.com

ټول مال خرڅ کړو اوحضرت معاذ ﷺ خپل قرض خلاص کړو اوخالی لاس پاتېدو لاړو دې نه معلومه شوه چه د قرض معامله ډېره حساس ده خکه چه حضورپاك د حضرت معاذ ﷺ ټوله اثاثه د قرض دااداکولوپه غرض سره خرڅه کړه رسول الله ﷺ قرض خواهانوته صرف سفارش کړې وو که حکم نی کړې وې نو منل به لازم وو

[٢٠٢] بغیر د عذر د قرض نه ادا کونکي کس سزا

٢٠٢-[٩] (١) ①عَنِ الشَّرِيدِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②«لَيُّ الْوَاجِدِ يُحِلُّ عِرْضَهُ وَعُقُوبَتَهُ» "قَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: يُحِلُّ عِرْضَهُ يُغَلَّظُ لَهُ، وَعُقُوبَتَهُ يُحْبَسُ لَهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت شرید ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ②د صاحب استطاعت سړي د قرض په ادائیگۍ کې، تاخیر کول د هغه بې آبرويي او هغه ته سزا ورکول حلالوي. ابن مبارك ﷫ وايي چې د داسې سړي بې ابروئي حلال کېدل دا دي چې هغه ملامت کړل شي. او هغه ته سزا ورکول دا دي چې هغه قيد شي، (ابوداؤد نسائي)

د راوي مختصر تعارف:

شريد بن سويد:- د راوی نوم حضرت شريد بن سويد ﷺ دې د پلار نوم ئې سود دې او د ثقيف قبيلې سره ئې تعلق ساتلو دبعضو وينا ده چه د دوی تعلق د، حضرموت،، مقام سره وو بعضو دوی په اهل طائف کښې شمار کړې دې په بيعت رضوان کښې هم شريک شوې وو

روايات:- د دوی دوه روايات په مسلم کښې دی دغه شان په ابوداود او نسائی کښې هم د دوی روايت ملاويږی خو د احاديثو صحيح شمار د اسماء الرجال په کتابونو کښې نشته د دوی روايات په اهل حجاز کښې زيات دی

حل اللغات - ①لَيُّ: ټال متول، چل ول کول. ②الْوَاجِدِ: صاحب استطاعت، مالدار. ③يُحِلُّ: حلال دی، حق حاصل دې. ④عِرْضَهُ: عزت دهغه. ⑤عُقُوبَتَهُ: سزا دهغه. ⑥يُغَلَّظُ: سختی اوکړې شی. ملامت کړې شی. ⑦يُحْبَسُ: قيد کړې شی

تسهيلات: قوله وَعُقُوبَتَهُ:

د قرضداری د قيد کولو حکم:- يعنی د شرعی عدالت په ذريعه هغه په قيد بامشقت کښې ساتل هم جائز دی خکه چه د طاقت لرلو باوجود قرض نه اداکول يوقسم ظلم دې اوظالم د تعزير مستحق دې

١) اخرجه ابو داود فی السنن كتاب الأقضية/باب فی الحبس فی الدين وغيره (رقم-٣٦٢٨) والنسائی فی كتاب البيوع/باب مطل الغنی (رقم-٤٦٩٠) وابن ماجه فی كتاب الصدقات/باب الحبس فی الدين والملازمة (رقم-٢٤٢٧) واحمد فی المسند: ٣٨٩/٤

[٣٠٠] قرض داري سره د مدد کولو ثواب

۳۰۰-[۳۰] (۱) ١ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: ٢ «أُتِيَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِجِنَازَةٍ ٣ لِيُصَلِّيَ عَلَيْهَا ٤ قَالَ: "هَلْ عَلَى صَاحِبِكُمْ دَيْنٌ؟" ٥ قَالُوا: "نَعَمْ" ٦ قَالَ: "هَلْ تَرَكَ لَهُ مِنْ وَفَاءٍ؟" ٧ قَالُوا: "لَا" ٨ قَالَ: "صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ." ٩ قَالَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ: عَلَيَّ دَيْنُهُ يَا رَسُولَ اللهِ. ١٠ فَتَقَدَّمَ فَصَلَّى عَلَيْهِ».

ترجمه: ١ او حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي ٢ چې (يوه ورځ) د حضور ﷺ په مخکې يوه جنازه راوړل شوه، ٣ چې حضور ﷺ ورباندې مونځ وکړي. ٤ حضور ﷺ د جنازې والاوو (خلقو) نه پوښتنه وکړه چې آيا ستاسو په دې ملګري قرض شته؟ ٥ خلقو جواب ورکړې چې هو، ٦ بيا حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې آيا دې سړي د قرض د اداء کولو په قدر څه مال پريښې دی؟ ٧ جواب ورکول شو چې نا، ٨ نو حضور ﷺ وفرمايل چې بيا تاسو خلق د ده د جنازې مونځ وکړئ (زه يې نه کوم) ٩ حضرت علي رضي الله عنه (د دې اوريدو سره) اوويل چې يا رسول الله! ﷺ د ده د قرض ادائيګي زه په خپله ذمه اخلم ١٠ د دې څخه وروسته حضور ﷺ مخکې شو او د هغه د جنازې مونځ يې وکړي.

حل اللغات: - ① وَفَاء: پوره، برابر، (قرض پوره کونکې مال)

١ وَفِي رِوَايَةٍ مَعْنَاهُ، ٢ وَقَالَ: «فَكَّ اللهُ رِهَانَكَ مِنَ النَّارِ كَمَا فَكَكْتَ رِهَانَ أَخِيكَ الْمُسْلِمِ، ٣ لَيْسَ مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَقْضِي عَنْ أَخِيهِ دَيْنَهُ إِلَّا فَكَّ اللهُ رِهَانَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ١ په يو بل روايت کې چې د دې مضمون منقول دی (خو د هغه الفاظ دې څخه مختلف دی) دا الفاظ هم نقل شوی دی. ٢ چې حضور ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمايل چې الله ﷻ دې تا د دوزخ د اور څخه داسې خلاص کړي څنګه چې تا خپل يو مسلمان ورور (د قرض دبوج څخه) خلاص کړې ٣ (ياد لرئ) کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور قرض اداء کړي الله ﷻ به د قيامت په ورځ هغه ته نجات (خلاصون) ورکړي. (شرح السنه)

حل اللغات: - ② فَكَّ: د نصر ينصرنه. خلاصول. ③ رِهَانَكَ: ځټ ستا. دَ انسان بدن اوسټ.

تسهيلات: قوله. فَكَّ اللهُ رِهانَه:

د فک الله رهانه مطلب: - رهان رهين ومرهون دَ مقيده اومحبوس په معنی کښې دي مطلب دا چه تا دَخپل رورېدن دَ خلقو دَ قرض نه خلاص کړو دغه شان په الله تعالی ستا خان دَ دوزخ دَ اور نه خلاص کړی دا جزاءمثل ماعمل دَ قبيل نه دعاء ده.

۱) اخرجه الدارقطني في السنن رقم الحديث ۲۹۱ من كتاب البيوع، والبغوي في شرح السنة رقم الحديث ۲۱۵۵

Maktaba Tul Ishaat.com

[۳۰۰] د درې صفتونو څخه برالت جنت ته د داخلیدو ذریعه

۳۰۰ـ[۲] (۱) ۱ وَعَنْ ثَوْبَانَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "۲ «مَنْ مَاتَ وَهُوَ بَرِيءٌ مِنَ الْكِبْرِ وَالْغُلُولِ وَالدَّيْنِ، ۳ دَخَلَ الْجَنَّةَ»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ثوبان ﷺ وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ کوم سړی چې په داسې حالت کې مړ شي چې هغه د تکبر و خیانت او قرض څخه پاك وي. ۳ نو هغه به د مقبول بنده ګانو سره) په جنت کې داخل شي. (ترمذي ابن ماجه دارمي)

حل اللغات: - ① الْغُلُولِ: خیانت

تسهیلات: قوله: مِنَ الْكِبْرِ:

د کبر په مفهوم کښې دوه اقوال: -- ① بعضو وئیلی دی چه د چا حق تلف کول مراد دی ② خلقو ته سپک و حقیر کتل مراد دی

[۳۰۱] د قرض نه ادا کولو په حالت کښې د قرضدار مرکیدل یوه لویه ګناه ده

۳۰۱ـ[۳۲] (۲) ۱ وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "۲ «إِنَّ أَعْظَمَ الذُّنُوبِ عِنْدَ اللّٰهِ أَنْ يَلْقَاهُ بِهَا عَبْدٌ بَعْدَ الْكَبَائِرِ الَّتِي نَهَى اللّٰهُ عَنْهَا، ۳ أَنْ يَمُوتَ رَجُلٌ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ لَا يَدَعُ لَهُ قَضَاءً»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو موسی ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ۲ کبیره ګناه چې د هغه څخه الله ﷻ منع فرمایلي ده د الله ﷻ په نزد د دې څخه وروسته عظیم ترینه ګناه چې د هغه مرتکب کیدو سره بنده الله ﷻ سره یو ځای شي دا ده ۳ چې یو سړی په داسې حالت کې مړ شي چې په هغه د قرض بوج وي او هغه ځان پسې دومره مال نه وي پریښی چې د هغه قرضه ورباندې اداء شي. (احمد ابوداود)

تسهیلات:

قوله: أَنْ يَمُوتَ رَجُلٌ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ لَا يَدَعُ لَهُ قَضَاءً:

په کبائرو کښې د قرض درجه: - د فضولیات اوخواهشات د تکمیل د پاره چه کوم سړي قرض اخلي اوبیا د هغې د اداکولو خیال نه ساتي اومړ شي اود قرض خلاصولو د پاره څه مال هم نه پریږدی نو په داسې صورت کښې به داسړې لوئی ګناه ګار وی څکه چه دا د خلقو مال ضایع کړو یادَ مجبورئی په حالت کښې چه کوم قرض اخستې شی د هغې جدا صورت دې بل د بعدالکبائر نه مراد هغه لوئی ګناهونه دی کوم چه په لوئی والی کښې

۱) اخرجه الترمذی فی کتاب السیر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الغلول (رقم-۱۵۷۲) وابن ماجه فی کتاب الصدقات/باب التشدید فی الدین(رقم-۲٤۱۲) واحمد فی المسند: ۲۷۶/۵

۲) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب البیوع/باب فی التشدید فی الدین (رقم-۳۳٤۲) واحمد فی المسند: ۳۹۲/٤

مشهوردی یعنی شرك اوزنا وغیره نود داسې مشهورو گناهونونه پس چه کومه گناه وی په هغه گناهونوکښې به د قرض لویه گناه شمیرلې کیږی مطلقا لونی نه

[٢٠٢] په حراموخیزونو د صلح عدم جواز

٢٠٢-[٢٠] (١) [١] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] قَالَ: "«الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا صُلْحًا حَرَّمَ حَلَالًا، أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا [٣] وَالْمُسْلِمُونَ عَلَى شُرُوطِهِمْ إِلَّا شَرْطًا حَرَّمَ حَلَالًا أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا»". [٤] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَانْتَهَتْ رِوَايَتُهُ عِنْدَ قَوْلِهِ "شُرُوطِهِمْ".

ترجمه: [١] او حضرت عمرو ابن عوف مزني ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي. [٢] چې حضور ﷺ وفرمایل د مسلمانانو په منځ کې صلح جائز ده، خو هغه صلح جائز نه ده چې حلال شی حرام یا حرام شی حلا کړي [٣] او مسلمانان په خپلو شرطونو وي (یعني مسلمانان چې د صلح او جنګ یا د دې څخه علاوه په نورو معاملاتو کې په خپلو کې چې کوم شرطونه یعنی عهد وپیمان کوي د هغه پابندي جائز ده) هو د دی شرط پابندی جائز نه ده چې حلال حرام یا حرام حلال کړي، [٤] ترمذي ابن ماجه ابوداود) ابوداود دا روایت د لفظ علی شروطهم پورې نقل کړي دی

تسهیلات: **قوله**: إِلَّا صُلْحًا:

د ممنوع صلح صورتونه:- یعنی هره صلح په اسلام کښې جائز ده مګر هغه صلح ناجائز ده

(١) دحرام څیز په تحلیل باندې صلح مثلاً یوسړې په دې خبره باندې صلح اوکړی چه زه به شراب څکم یا دَ خنزیر غوښه به خورم دا صلح ناجائز ده

(٢) دَ حلال څیز تحریم باندې صلح مثلاً په دووښځوکښې جګړه ده اوخاوند په دې خبره باندې صلح اوکړی چه یوې ښځې سره به جماع نه کوی

قوله إِلَّا شَرْطًا:

د ممنوع شرط صورتونه:- (١) دَ حلال څیز د تحریم شرط لګول یعنی دَ مسلمانانو په خپل مینځ کښې داسې شرط لګول منع دی په کوم سره چه دَ یوحلال څیز حرام کیدل لازم راځی لکه چه خاوند خپلې ښځې سره دا شرط اولګوی چه ته راضی اوسیږه په دې شرط باندې چه زه به خپل رور سره خبرې نه کوم

(٢) دحرام څیز د تحلیل شرط لګول مثلاً خاوندخپلې ښځې ته وائی شراب به څکم. ږیره به خروم. دګدا ګاني او سندرو انتظام به کوم

---

١) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الأقضية/باب في الصلح (رقم-٣٥٩٤) والترمذى فى كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما ذكر عن رسول الله صلى الله عليه وسلم فى الصلح بين الناس (رقم-١٣٥٢) وابن ماجه فى كتاب الأحكام/باب الصلح (رقم-٢٣٥٣)

Maktaba Tul Ishaat.com

اشكال: - افلاس او ابواب ببوع سره ددې حديث څه تعلق دې که چرې تعلق نې نشته نو دا دلته ولې ذکر شو؟

داشكال جواب: - کله چه سړې په بيوعات کښې اخته کيږی نو په دې کښې جګړې جوړيږی او د جګړو په وخت د صلح ضرورت پېښيږی کيدې شی په دې وجه چه ددې ذکر دلته راغلو بل سرې چه کله مفلس او ديواليه جوړيږی نو اکثر د صلح او شرائطو نوبت راځی نهذا ددې حديث تعلق هم دې صلح سره دې

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٣٣] د رسول الله صلى الله عليه وسلم د پرتوګ خوښول

[--] (١) عَنْ سُوَيْدِ بْنِ قَيْسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: (٢) «جَلَبْتُ أَنَا وَمَخْرَفَةُ الْعَبْدِيُّ بَزًّا مِنْ هَجَرٍ، فَأَتَيْنَا بِهِ مَكَّةَ، (٣) فَجَاءَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَمْشِي، (٤) فَسَاوَمَنَا بِسَرَاوِيلَ، فَبِعْنَاهُ، (٥) وَثَمَّ رَجُلٌ يَزِنُ بِالْأَجْرِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " زِنْ وَأَرْجِحْ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: (١) حضرت سويد ابن قيس ﷺ وايي (٢) چې زه او مخرفه عبدي مقام هجر څخه چې مدينې ته نژدې واقع دی، د خرڅولو د پاره کپړه واخسته او د هغه آخستو سره مکې ته راغلو. (٣) حضور ﷺ ته چې معلومه شوه چې مونږ د خرڅولو د پاره کپړه اخستو سره مکې ته راغلي يو نو حضور ﷺ بنفس نفيس (پخپله بغير سوارلۍ) مونږ ته تشريف راوړو (٤) او مونږ څخه يې يوه پاجامه (پرتوګ) اخسته کوم وخت چې مونږ ورباندې هغه پاجامه خرڅه کړه. (٥) نو حضور ﷺ هغه سړي ته چې په هغه ځای په اجرت باندې د خلقو اسباب تلل. وفرمايل چې ته (څما د سپينو زرو دا تکړي) وتله (چې زه دا تکړي د دې پاجامې د قيمت په طور ورکړم) او (د خومره تکړو خبره چې شوې ده) د هغه څخه څه زيات اوتله. احمد ابوداود ترمذي ابن ماجه دارمي، او امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چې دا حديث حسن صحيح دی

د راوي مختصر تعارف:

سويد بن قيس: نوم سويد د پلار نوم قيس کنيت ابوصفوان په آخری زمانه کښې کوفې ته منتقل شوې وو

مرويات: - ده نه څلور احاديث مروی دی

١) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب البيوع/باب فى الرجحان فى الوزن والوزن بالأجر(رقم-٣٣٣٦) والترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الرجحان فى الوزن (رقم-١٣٠٥)والنسائى فى كتاب البيوع/باب الرجحان فى الوزن (رقم- ٤٥٩٢) واحمد فى المسند: ٣٥٢/٤

حل لغات - ①جَلَبْتُ: ما تجارت دپاره واخستله، د تاجر گتې دپاره سامان اخستل. ②فَسَاوَمَنَا: نو نرخ او قيمت ئې اوكړو مونږسره، ③سَرَاوِيلَ: پاجامه پرتوګ لنګ، ④يَزِنُ: چه وزن ئې كولو. ⑤زِنْ: اوتله، وزن كړه، ⑥أَرْجِحْ: زيات اوتله، ⑦هجر: مدينې منورې سره نيزدې د يوځائى نوم دې ⑧ ددې معنى ثياب اوكپړې ده حالانكه بز رينبم ته هم وائى امام محمد رحمه الله فرمائى چه د كوفه والو په لغت كښې بزد سوت او كتان كپړې ته وائى

تسهيلات: قوله سَرَاوِيلَ:

د نبى كريم صلى الله عليه وسلم تواضع او عاجزى:- پرتوګ او پانجامه ته سراويل وائى د حضورپاك تواضع وه چه پخپله پيدل بازارته راغلو اود پرتوګ سودا ئى اوكړه بيا د حضور پاك فياضى وه چه د اصل قيمت نه ئى څه زيات وركړو خكه چه حضورپاك د چاندئى وزن كونكى ته اوفرمائيل چه راجح يعنى په تول كښې د تلې هغه چابړې بنكته كړه په كوم كښې چه د قيمت چاندى كيخودې شوې ده دې دپاره چه په قيمت كښې اضافه اوشى

د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د پرتوګ په استعمال كښې اقوال:- ① علامه ابن حجر رحمه الله فرمائى د نبى كريم ﷺ سراويل اچول اونه اچولو كښې د علماؤ اختلاف دې بعض ونيلى دى چه د حضورپاك پرتوګ اچول ثابت نه دى البته اخستل ثابت دى

② ابن قيم رحمه الله فرمائى چه ښكاره خبره داده چه حضورپاك پرتوګ اغوستې دې اوهغه وخت به خلقو اغوستلو بهرحال پرتوګ اوقميص د موجوده زمانې د ټولو د حياء لباس هم دې او په استعمال كښې آسان هم دې او د انسان ټولو احوالو سره موافق هم دې كه هغه كيناستل پاسيدل وى يا ختل وى يا منډه وهل وى.

[٢٣٥] د قرض په ادا كولو كښې غير مشروط زيات كول جائز دى

٥٣ـ [٥] (١) ⓵ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «كَانَ لِي عَلَى النَّبِيِّ - دَيْنٌ ⓶ فَقَضَانِي، وَزَادَنِي». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⓵ او حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې په رسول الله ﷺ خما څه قرض وو ⓶ كوم وخت چې حضور ﷺ هغه قرض واپس راكوى، نو ماته يې څه زيات راكړي، (ابوداؤد،

تسهيلات: قوله: وَزَادَنِي:

قرض اداء كولو كښې د څه اضافې كولو حكم:- كه يوسړې د چاقرض اداكوى اوڅه زيات وركوى نودا جائزدى داد سود په ضمن كښې نه راځى خكه چه دا صرف احسان دې چا څه شرط نه دې لګولې سود هغه وخت جوړيږى چه دائن د مديون د زياتى اخستلو شرط ولګوى اوفيصله اوكړى چه دومره زيات به راكوې هغه "كل قرض جرنفعافهوربا" كښې راځى

(١) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب البيوع/باب فى حسن القضاء (رقم-٣٣٤٧)والنسائى فى كتاب البيوع/باب الزيادة فى الوزن (رقم-٤٥٩١)

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٠٢] د احسان بدله احسان وی

٢٠٢ - [٢٠] (٢) [١] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: «اسْتَقْرَضَ مِنِّي النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَرْبَعِينَ أَلْفًا، [٢] فَجَاءَهُ مَالٌ، فَدَفَعَهُ إِلَيَّ، [٣] وَقَالَ " بَارَكَ اللهُ تَعَالَى فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ، [٤] إِنَّمَا جَزَاءُ السَّلَفِ الْحَمْدُ وَالْأَدَاءُ» " رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت عبد الله ابن ابي ربيعه رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ زما څخه په يوه موقع څلوېښت زره (درهم) قرض کړي وو. [٢] بيا چې حضور ﷺ ته په يو لوی مقدار کې مال راغلو نو حضور ﷺ ما ته (هغه ټول مال يا د هغه مال څخه څما د قرض په قدر) راکړی، [٣] او وې فرمايل چې الله ﷻ دې ستا په اهل وعيال او ستا په اموالوکې برکت ورکړي [٤] د قرض بدله دې څخه علاوه نور څه نشي کيدی (چې هر کله قرض حاصل شي نو) شکر و ثنا دې وکړی شي او (د زر څخه زر) د هغه د آدائيګی انتظام دې وکړی شي. (نسائي)

حل اللغات - ① اِسْتَقْرَضَ: قرض اخستي وو. ② السَّلَفِ: قرض باندي معمله کول. ③ الْحَمْدُ: شکرکول. ثنا ونيل

[٢٠٣] د حق روستوکولو په بدله کښې د صدقې ثواب ملاويدل

٢٠٣ - [٢١] (٣) [١] وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] "«مَنْ كَانَ لَهُ عَلَى رَجُلٍ حَقٌّ فَمَنْ أَخَّرَهُ كَانَ لَهُ بِكُلِّ يَوْمٍ صَدَقَةٌ»). رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] او حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د کوم سړي چې په چا څه حق (يعني قرض وغيره) وي، او هغه (د هغه په وصولولو کي) تاخير کوي يعني قرضدار ته مهلت ورکوي، نو هغه ته (د ورکړي مهلت) د هري ورځي په بدله کي د صدقي ثواب حاصليږي. (احمد)

تسهيلات:

نوټ: - قرضدار ته د مهلت ورکولو فضيلت وړاندي هم تيرشوي دي هغې ته رجوع اوکړی

[٢٠٤] د ميراث په تقسيم کښې د قرض تقديم

٢٠٤ - [٢٢] (٤) [١] وَعَنْ سَعْدِ بْنِ الْأَطْوَلِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: «مَاتَ أَخِي وَتَرَكَ ثَلَاثَمِائَةِ دِينَارٍ، وَتَرَكَ وَلَدًا صِغَارًا، [٢] فَأَرَدْتُ أَنْ أُنْفِقَ عَلَيْهِمْ، [٣] فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " إِنَّ أَخَاكَ مَحْبُوسٌ بِدَيْنِهِ فَاقْضِ عَنْهُ " [٤] قَالَ: فَذَهَبْتُ فَقَضَيْتُ عَنْهُ ثُمَّ جِئْتُ فَقُلْتُ: [٥] يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ قَضَيْتُ عَنْهُ وَلَمْ يَبْقَ إِلَّا امْرَأَةٌ تَدَّعِي دِينَارَيْنِ وَلَيْسَتْ لَهَا بَيِّنَةٌ. [٦] قَالَ: أَعْطِهَا فَإِنَّهَا صَادِقَةٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

---

١) اخرجه النسائي في السنن كتاب البيوع باب الاستقراض (رقم - ٤٦٨٣) وابن ماجه في كتاب الصدقات باب حسن القضاء (رقم - ٢٤٢٤)

٢) واحمد في المسند: ٤٤٢/٤

٣) واحمد في المسند: ١٣٦/٤

ترجمه: [١] او حضرت سعد ابن اطول رضي الله عنه وايي کوم وخت چې خما ورور مړ شو . نو هغه درې سوه ديناره او کوشني کوشني هلکان پريښي وو. [٢] ما وغوښتل چې هغه درې سوه دينار د هغه په ورو بچيانو خرچ کړم، او د هغه قرض اداء نه کړم، [٣] ليکن رسول الله ﷺ ماته وفرمايل چې ستا ورور د خپل قرض په وجه، په عالم برزخ کې، قيد شوی دی، چې د هغه په سبب هغه د هغه ځای د نعمتونو او صلحاوو د صحبت څخه محروم دی. نو ته د هغه قرض اداء کړه، [٤] حضرت سعد رضي الله عنه وايي چې، د دې اوريدو سره، زه کور ته راغلم او د خپل ورور قرض مې اداء کړي، بيا زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او عرض مې اوکړو [٥] چې يا رسول الله ﷺ ما د خپل ورور قرض اداء کړي. اوس د هيڅ څه مطالبه باقي نه ده. هو يوه ښځه پاتې شوې ده چې د دوو دينارو دعوی کوي. ليکن د هغه څوک گواه نشته. [٦] حضور ﷺ وفرمايل چې هغه ته هم دوه دينار ورکړه، هغه رښتيا وايي. احمد،

حل اللغات: - ① مَحْبُوسٌ: راگير دی، قيد دی،

تسهيلات: قوله: فَإِنَّهَا صَادِقَةٌ:

د قاضي د خپلو معلوماتو په بنياد فيصله کول:- ضابطه هم دغه ده چه هرسړی به په خپل حق ثبوتونو گواه قائموی څوکه قاضي اوحاکم د خپلو معلوماتو په بنيد باندي فيصله وکړی نوداهم جائزدی دلته حضورپاك په حضرت سعد رضي الله عنه باندي دعوی کونکي ښځي ددوو دينارو ورکونوفيصله هم په دي بنياد باندي کړي وه يا حضورپاك ته به د وحی په ذريعه معلومه شوي وی چه دا ښځه رښتياوانی ددي حديث نه داخبره هم معلومه شوه چه د خلقو قرض مقدم دي او د ميراث تقسيم روستو دي که څه مال باقي پاتي شو نوتقسيم دي کړی شي د وارثانوحق نشته دي

[٢٣٩] باربار شهادت هم د قرض کفاره نشي کيدی

٢٩٣٩—[٢٠] (١) [١] وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَحْشٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «كُنَّا جُلُوسًا بِفِنَاءِ الْمَسْجِدِ حَيْثُ يُوضَعُ الْجَنَائِزُ، [٣] وَرَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - جَالِسٌ بَيْنَ ظَهْرَيْنَا، [٤] فَرَفَعَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَصَرَهُ قِبَلَ السَّمَاءِ فَنَظَرَ، [٥] ثُمَّ طَأْطَأَ بَصَرَهُ، وَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى جَبْهَتِهِ، [٦] قَالَ: "سُبْحَانَ اللهِ! سُبْحَانَ اللهِ! مَاذَا أُنْزِلَ مِنَ التَّشْدِيدِ؟"

ترجمه: [١] او حضرت محمد ابن عبد الله ابن حجش رضي الله عنه وايي [٢] چې يوه ورځ مونږ مسجد نبوي ﷺ ته نزدې په هغه صحن کې ناست وو. کوم ځای چې جنازې راوړلو سره اېښودل کيدې. [٣] زمونږ په منځ کې رسول الله ﷺ هم تشريف فرماوو. [٤] اچانك حضور

١) واحمد في المسند: ٢٨٩/٥

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ خپل نظر د آسمان طرف ته پورته کړي او هلته يې وکتل ۵ بيا خپل نظر يې کوز کړې او خپل لاس يې په تندی ايښودلو سره (د انتهايي تعجب په حالت کې يې) ٦ وفرمايل چې سبحان الله څومره سختي نازله شوي ده.

حل اللغات - ① فِنَاء: صحن. ② بَيْنَ ظَهْرَيْنَا: زمونږ په منځ کښې. ③ طَأْطَأَ بَصَرَهُ: ښکته ئې کړو نظر خپل. ④ جَبْهَتِهِ: په خپل تندی. ⑤ التَّشْدِيدِ: سختی.

١ قَالَ: فَسَكَتْنَا يَوْمَنَا وَلَيْلَتَنَا، فَلَمْ نَرَ إِلَّا خَيْرًا حَتَّى أَصْبَحْنَا. ٢ قَالَ مُحَمَّدٌ: فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا التَّشْدِيدُ الَّذِي نَزَلَ؟ قَالَ: "فِي الدَّيْنِ، ٣ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوْ أَنَّ رَجُلًا قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ، ثُمَّ عَاشَ، ٤ ثُمَّ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ، ثُمَّ عَاشَ، ثُمَّ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ عَاشَ، ٥ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ، مَا دَخَلَ الْجَنَّةَ حَتَّى يُقْضَى دَيْنُهُ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَفِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" نَحْوَهُ.

ترجمه: ١ راوي وايي چې مونږ خاموش شو (يعني مونږ د حضور ﷺ څخه څه پوښتنه ونه کړه) ددي پورې چې هغه پوره ورځ تيره شوه، پوره شپه تيره شوه او مونږ ته د خير څخه علاوه څه سخته خبره په نظر رانغله (يعني صحابه وو ﷺ د حضور ﷺ د دي ارشاد څخه دا وګڼله چې شايد هغه وخت څه عذاب نازليدونکی دی يا څه سخت مصيبت راتلونکی دی خو هغه پوره ورځ تيره شوه، پوره شپه تيره شوه خو نه څه عذاب نازل شو او نه څه مصيبت پيښ شو) ددي پورې چې سحر شو ٢ د حديث راوي محمد ابن عبد الله ﷺ وايي چې د دې څخه وروسته ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې هغه کومه سختي ده چې نازله شويده؟ (او د هغه اظهار تاسو په دومره تعجب سره پرون فرمايلی وو؟) حضور ﷺ وفرمايل چې دين (يعني د قرض وغيره) په باره کې هغه سختي نازله شويده ٣ قسم دی په هغه پاك ذات چې د هغه په قبضه کې د محمد (ﷺ) ساه ده که يو سړی د الله ﷻ په لار کې (يعني جهاد کولو سره) قتل شي او بيا ژوندی شي بيا د الله ﷻ په لار کې ووژل شي او بيا ژوندی شي ٤ بيا د الله ﷻ په لار کې ووژل شي او بيا ژوندی شي بيا د الله ﷻ په لار کې ووژل شي او بيا ژوندی شي ٥ نو د هغه وخته هغه په جنت کې نشي داخليدی د څو پورې چې د هغه قرض اداء نشي (يعني که يو قرض دار بار بار هم د الله ﷻ په لار کې ووژل شي نو دا بار بار شهادت هم د هغه د قرض کفاره کيدی نشي) دا روايت امام احمد ﷫ نقل کړي دي او په شرح السنه کې هم دغه شان حديث منقول دی (چې د هغه مضمون خو دا دی خو الفاظ يې نور دي)

حل اللغات: - ① عَاشَ: ژوندې شي

تسهيلات: **قوله**: قَالَ مُحَمَّدٌ:

محمد مصداق: - يعنی د دې راوی محمدبن عبدالله ﷜ صحابی دَ حضورپاك نه پوښتنه اوکړه

قوله: ثُمَّ عَاشَ:

شهيد ته د قرض نه معاف كيدل: - يعنى چه يوسړي كه بار بار شهيد شي بيائي هم قرض نه معاف كيږي د قرض دمعاف كولودپاره قرض ادا كولي كيږي سره ددي چه شهادت ډيره اوچته درجه ده

[۹] بَابُ الشِّرْكَةِ وَالْوَكَالَةِ

دشركت اووكالت بيان

خلاصة الباب: -

فيه ثمانية أحاديث مشتملة على ثلاث مسائل:

① جوازالشركة بعمل الصحابة رضى الله عنهم أجمعين فى زمن النبى ﷺ: ۱، ۲، ۷- وفيه شركة الربح-

② جواز الوكالة : ۳، ۶، ۸-

③ طريق المعاملة بين الشريكين: ۴، ۵-

د قرآن مخخه د شركت اووكالت ثبوت: - ① ﴿ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ﴾ [سورت ص الايه: ۲۴]

② ﴿ فَابْعَثُوا أَحَدَكُم بِوَرِقِكُمْ هَٰذِهِ إِلَى الْمَدِينَةِ ﴾ [سورت الكهف الايه: ۱۹]

③ ﴿ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ ﴾ [سورت النساء الايه: ۱۱]

د شركت لغوى معنى: - شركت په لغت كښې ملاوولوته وائى

دشركت اصطلاحى تعريف: - په اصطلاح كښې د دوو كسانو په مينځ كښې عقد اومعامله ته شركت وائى په كوم كښې چه دواړه په اصل اونفع كښې شريك وى

د شركت دوه قسمونه: - ① شركت ملك ② شركت عقد

د شركت ملك تعريف: - شركت ملك هغه دي چه دوه يا زيات كسان په ذريعه د اخستلو اوخرخولو يا په ذريعه د هبه يا ميراث د يومال مالكان شى يا په شريكه دوكسان يوښكار حاصل كړى اوهغوى د ښكار مالكان شى يا د دووكسانو هم د يوجنس جدا جدا مال يوبل سره داسې ګډود كيدو سره ملاؤ شى چه په دواړو كښې فرق كول ممكن نه وى مثلاً د يوسړى پنى د بل سړى پنيوسره ملاؤ شى داټول د شركت ملك صورتونه دى

د شركت ملك شرعى حكم: - اوس ددي شركت شرعى حكم دادي كه ددواړو په مالونوكښې فرق شته نودا دواړه شريكوال د يوبل دپاره اجنبى دى يعنى د يوبل د اجازت نه بغيرپه خپل ملكيت كښې تصرف كولي شى خوچه كوم ځائى امتيازنه وى لكه چه د ذكر شوى پنيو والاصورت دي نو په دي صورت كښې هيڅ يوملګري د بل د اجازت نه بغيرتصرف نه شى كولي د دواړو اجازت ضرورى دى

Maktaba Tul Ishaat.com

د شركت عقد تعريف ،مثال اوحكم:- شركت عقد هغه دې چه شريكوال دَ ايجاب اوقبول په ذريعه خپل مال اوخپل حقوق يوبل سره يوځائې كړي مثلاً يوكس اووائي چه ما خپل فلانكې فلانكې مال فلانكي فلانكي حقوق تاسره شريك كړل بل ملګرې اووائي چه ما قبول كړل اوما هم خپل مال اوحقوق تاسره شريك كړل په دې شريكوالئ كښې دَ شركت دَ منافي هيڅ يوشرط هم عائدكول دا عقد فاسدكوي لهذا داقسم شرط لګول دَ چادپاره هم جائزنه دي

د شركت عقد څلور قسمونه :- ① شركت مفاوضه ② شركت عنان ③ شركت صنائع والتقبل ④ شركة الوجوه دَهر يو تعريف اوحكم دَ فقه كتابونوكښې اوګورئ

قوله وَالْوِكَـالَةِ:

د وكالت تعريف:- دَخپلو حقوقواومالونو په تصرف كښې بل يوكس په خپل ځائې اودرولو نوم وكالت دي دَ وكالة تفصيلي مسائل دَ فقه په كتابونوكښې اوګورئ

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲۹۳۰] دَ نبي عليه السلام د دعا اثر

۲۹۳۰-[ ](۱) عَنْ زُهْرَةَ بْنِ مَعْبَدٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: «② أَنَّهُ كَانَ يَخْرُجُ بِهِ جَدُّهُ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ هِشَامٍ إِلَى السُّوقِ فَيَشْتَرِي الطَّعَامَ، ③ فَيَلْقَاهُ ابْنُ عُمَرَ وَابْنُ الزُّبَيْرِ، فَيَقُولَانِ لَهُ: أَشْرِكْنَا، ④ فَإِنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَدْ دَعَالَكَ بِالْبَرَكَةِ، فَيُشْرِكُهُمْ ⑤ فَرُبَّمَا أَصَابَ الرَّاحِلَةَ كَمَا هِيَ، فَيَبْعَثُ بِهَا إِلَى الْمَنْزِلِ،

ترجمه: ① دَ حضرت زُهره ابن معبد رحمه الله (تابعي) په باره كې منقول دى ② چې د هغه نيكه حضرت عبد الله ابن هشام رضي الله عنه به هغه بازار ته بوتلو چې هلته به يې غله واخسته، هغه ③ چې به غله خريد كوله نو هلته به ورسره ابن عمر رضي الله عنهما او ابن زُبير رضي الله عنه يو ځاى كيدل او هغه دواړو به ورته ونيل چې مونږ خپل شريك جوړ كړه. ④ ځكه چې رسول الله ﷺ ستا د پاره د بركت دعا غوښتي ده (حضرت زهره رحمه الله وايي) ځما نيكه به هغه شريكول ⑤ او (د حضور ﷺ د دعا له بركته) هغوئ ته به بلا څه نقصان او خساره د يو اوښ د بوج برابر د غلي فائده كيدله چې هغوئ به خپل كور ته ليږله

حل اللغات - ① الرَّاحِلَةُ: د اوښ بار، بوج. ② الْمَنْزِلِ: كور بيت.

وَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ هِشَامٍ ذَهَبَتْ بِهِ أُمُّهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَسَحَ رَأْسَهُ وَدَعَا لَهُ بِالْبَرَكَةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او د (هغه په حق كې د حضور ﷺ د دعا واقعه دا ده چې د حضرت عبد الله ابن هشام رضي الله عنه مور هغه د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر كړي، نو حضور ﷺ د هغه په سر خپل لاس مبارك راتير كړي او د هغه د پاره يې د بركت دعا وكړه، (بخاري)

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۲۵۰۱

تسهيلات:

قوله أَصَابَ الرَّاحِلَةَ:

د نبي عليه السلام د دعا په برکت په تجارت کښي ګټه کيدل:- يعني دَ حضورپاك دَ دعا په برکت سره دَ زهره بن معبد نيکه عبدالله بن هشام ته به په اکثر وختونو کښي په ګټه کښي دَ يواوښ پوره بوج برابر غله ملاويدله هغه حاصلولو سره به ئې کور ته ليګله داد حضورپاك دَ دعا برکت وو ځکه چه دَهغوی مور په وړوکوالی کښي عبدالله بن هشام حضورپاك له راوړلي وو هغه وخت حضورپاك دَ هغه په سرلاس راښکلو اودَ برکت دعا ئې ورته اوکړه دَدې حديث نه معلومه شوه چه په عقود او اموال تجارت کښي شرکت جائز دي

[٢٣١] دَ انصارو په مالونو کښي دَ مهاجرينو شرکت

٢٩٣٠-[٢] (١) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «② قَالَتِ الْأَنْصَارُ لِلنَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: اقْسِمْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ إِخْوَانِنَا النَّخِيلَ. ③ قَالَ: (لَا، تَكْفُونَنَا الْمَئُونَةَ، وَنُشْرِكُكُمْ فِي الثَّمَرَةِ، ④ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي هر کله چې د مکي ځخه مهاجرين مديني ته راغلل. ② نو انصارو (يعني د مديني خلقو) رسول الله ﷺ ته درخواست وکړي چې زمونږ د کجورو ونې زمونږ او د مهاجرينو په منځ کې تقسيم کړي. ③ حضور ﷺ وفرمايل چې زه ونې نه تقسيموم تاسو خلق زمونږ (مهاجرينو) د طرف ځخه هم محنت کوی مونږ به پيداوارکې ستاسو شريك يو ④ انصارو اوويل چې مونږ ستا داخبره په سر سترګو قبلوو. (بخاري)

حل اللغات:- ① تَكْفُونَنَا: تاسو کافي يئ مونږ دپاره ② الْمَئُونَةَ: محنت او مشقت.

تسهيلات:

قوله: الْأَنْصَارُ:

د مهاجرينو او انصارو اصطلاح او رشته د مواخاة قائمول:- دَمکي مکرمي نه چه کومو صحابه کرامو هجرت کړي وو هغوی ته مهاجرين وئيلی شي او په مدينه کښي چه کومو مسلمانانو دَهغوی امدادکړي وو هغوی ته انصار وئيلی شي حضورپاك مهاجرينو او انصارو کښي مواخات رورولی قائم کړي وه دغه شان مهاجرين دَ انصار په اموال کښي شريك شوي وو انصارو په ډيره قربانئ سره دَ مهاجرينو استقبال اوکړو هم په دې موقع باندې انصارو دا پيشکش اوکړو چه زمونږ زمکې دي دَ ملکيت په توګه باندې په مهاجرينو کښي تقسيم کړي شی دي دَپاره چه مونږ خپله حصه اومهاجرين خپله حصه سنباله کړی

١) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب إذا قال: اكفني مئونة النخل وغيره، وتشركني في الثمر (رقم-٢٣٢٥)

Maktaba Tul Ishaat.com

د رشته مواخاة قانونولو حکمتونه:- نبي کريم ﷺ اوفرمائيل داسي نه بلکه تاسو محنت اومشقت کوئی اوکله چه غله تياره شی نوموږ له تياره غله راکوئی په دې فيصله کښې دوه حکمتونه وو

① مهاجرينو مکه مکرمه دَدې دَپاره نه وه پريخودې چه هغوی دې لاړشي او په مدينه کښې دې زمينداری شروع کړی بلکه هغوی دَ جهاد کولودَپاره هجرت کړې وو او هجرت دَتيختې نوم نه دې بلکه په راتاويدو سره په دښمن باندې دَ حملې کولو نوم دې دَ حضورپاك مخې ته دا نظريه وه چه مهاجرين دې په مکمل توګه باندې دَ جهاد دَپاره تيار وی که په هغوی باندې زمکې تقسيم کيدلې نوهغوی به دَ جهاد نه پاتې کيدل

② نبی کريم ﷺ صرف دَمنافع تقسيم اوکړو دې دَپاره چه اصل جائيداد او اصل باغونه دَ انصارو دَ ملکيت نه خارج نه شی. که چرې تقسيم شوې وې نودَ انصارو زمکې او ونې به دَمهاجرينو ملکيت کښې راتلل. سبحان الله دَ نبوت نور څومره تيز وی.

قوله: لَا، تَكْفُونَنَا الْمُؤْنَةَ:

د ..لا،، د کلمې نحوی حيثيت:--دا جدا کلمه ده اوتکفوننا جدا صيغه چه خبر په معنی دَ امر دې يعنی ته زموږ دَپاره کافی شه.

[٢٣٢]په تجارتی معاملاتو کښې د وکالت جواز

٢٣٢--[-] (١) ①وَعَنْ عُرْوَةَ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ الْبَارِقِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: «②أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ أَعْطَاهُ دِينَارًا لِيَشْتَرِيَ بِهِ شَاةً③ فَاشْتَرَى لَهُ شَاتَيْنِ، فَبَاعَ إِحْدَاهُمَا بِدِينَارٍ، وَأَتَاهُ بِشَاةٍ وَدِينَارٍ،④ فَدَعَا لَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي بَيْعِهِ بِالْبَرَكَةِ،⑤ فَكَانَ لَوِ اشْتَرَى تُرَابًا لَرَبِحَ فِيهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①او د حضرت عروه ابن ابي الجعد بارقي رضی الله عنه په باره کې منقول دی ②چې رسول الله ﷺ هغه ته يو دينار ورکړي، چې د حضور ﷺ د پاره يوه بزه واخلي ③هغه په يو دينار دوه بزي (چيلی) رانيولي بيا په هغه کې يوه بزه يي په يو دينار (په چا) خرڅه کړه، دغه شان يې حضور ﷺ ته يوه بزه هم ورکړه او يو دينار يې هم ورکړي، ④رسول الله ﷺ د هغه د دې ذهانت څخه خوشحاليدو سره د هغه دخرڅولورانيولو په معاملاتو کې د برکت دعا وکړه ⑤د هغه دا اثر وشو که هغه به خاوره هم اخستله نو په هغه کې به هم ورته فائده کيدله. (بخاري)

---

١) اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب (رقم-٣٦٤٢) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-١٢٥٨) وابن ماجه في كتاب الصدقات/باب الأمين يتجر فيه فيربح (رقم-٢٤٠٢) واحمد في المسند: ٣٧٥/٤

د راوي مختصر تعارف:

حضرت عروه البارقي: نوم عروة د پلار نوم ابوجهد اسدی دي. د ده تعلق د قبيله بارق سره وو کوم چه په يمن کښې ده. حضرت عمر دې د کوفي قاضی مقرر کړې وو. هغه شمير په کوفيانو کښې کيږی دهغه روايتونه زيات تر اهل کوفه کښې مونډلې شی ابن مدنی ﷺ فرمانی بعضې خلقو ونيلی دی چه عروة او ابوجهد هم يوسړې دې داب نکل غلطه ده خکه چه عروة خوني دې او ابوجهد نی دپلار نوم دي (تقريب. تهذيب التهذيب).

مرويات: - دهغه نه ديارلس روايتونه نقل دی په کوم کښې چه په يو بندې د بخاری اومسلم اتفاق دې. د نورو حالاتو د پاره اوګورئی (فتح الباری وغيره)

حل اللغات: - ① شَاةً: بزه. چيلی.

تسهيلات: قوله: فَاشْتَرَى لَهُ شَاتَيْنِ

دحديث دوه فوائد: - ① په تجارتی معاملاتو کښې وکالت جائز دې دغه شان هره هغه معامله په کومه کښې چه نيابت چليږی هلته وکالت هم جائز دې

② که يوسړې د چا مال د کښې په غرض سره خرڅ کړی نو بيع به منعقد کيږی يعنی د فضولی بيع جائز ده البته د مالك د اجازت پورې به د فضولی بيع موقوف پاتې وی دا د احناف مسلك دې اومذکوره حديث دهغوی دليل دې د شوافع حضراتو په نيز داسې تصرف کولوسره او بيع کولوسره بيع صحيح کيږی نه اګرچه روستو مالك اجازت هم ورکړی بهرحال حضورپاك د دغه صحابی په حق کښې د برکت دعا اوکړه نوهغه ته به خاوره کښې هم فائده ملاويدله

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٣٣] دپا تندار شريکوال د الله تعالى په حفاظت کښې

٢٣٣—[٢] (١) ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- رَفَعَهُ، قَالَ: "② «إِنَّ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ يَقُولُ: أَنَا ثَالِثُ الشَّرِيكَيْنِ مَالَمْ يَخُنْ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ، ③ فَإِذَا خَانَهُ خَرَجْتُ مِنْ بَيْنِهِمَا»". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَزَادَ رَزِينٌ: "وَجَاءَ الشَّيْطَانُ".

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② الله ﷻ فرمايي چې زه د دوو شريکانو په منځ کې دريم (نګهبان) يم د خو پورې چې په هغوی کې يو شريك خپل دويم شريك سره خيانت ونه کړي. ③ او هر کله چې هغه خيانت او بد دياني شروع کړه نو زه د هغوی د منځ څخه لري شم (ابوداؤد). او رزين د دي روايت په آخر کې دا الفاظ هم نقل کړيدي، چې بيا د هغوی په منځ کې شيطان راشي

حل اللغات: - ① لَمْ يَخُنْ: چه خيانت اونه کړی.

---

١) اخرجه ابو داود في السنن كتاب البيوع/باب في الشركة (رقم-٣٣٨٣)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات: قوله أَنَا ثَالِثُ:

په شراکت کښې د خيانت نقصان:- يعنې په تجارت کښې چه ترکومې شريکوال په ايماندارئې سره کارکوی د الله تعالى دطرف نه د دغه شريکوالو مالونه اودهغوی منافع محفوظ وی هيڅ آفت او تباهي په هغې باندې نه راځي اوالله تعالى په دغه مال کښې برکت اچوی خوچه په شريکوالوکښې کله خيانت دهوکه او بې ايماني شروع کيږی نود الله تعالى د حفاظت سورې اخواکيږی او په مينځ کښې شيطان راځي اوبيا په مالونوکښې نقصان اوتباهي شروع کيږی په دې وجه چه کله يو شريکوال د بل شريکوال په بنيګړه کښې نګوی نود الله تعالى امداد ورسره شامل حال وی لکه چه حديث کښې دی بنده چه تر کومې پورې د خپل رور په امداد کښې لګياوی ترهغې پورې الله تعالى دهغه امداد کوی

[٣٠٣] په هرحالت کښې د خيانت څخه ځان بچ کول

٣٠٣- [د] (١) (١) وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ " (٢) «أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ، وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: (١) او حضرت ابوهريره ﷺ وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل (٢) کوم سړی چې ته امين جوړ کړي يې د هغه امانت هغه ته ورسوه او کوم سړی چې ستا سره خينت وکړي ته د هغه سره خينت مه کوه. (ترمذي ابوداود دارمي)

خيانتګرسره هم د خيانت کولوممانعت:- کوم کس تاسره خيانت اوکړی نو ته د هغه سره خينت مه کوه ګنې ته به هم دغه شان خائن جوړ شې بلکه د خپل حق په اندازه د ده مال واخله او د ده حق نه زيات اغستلو سره په ده ظلم مه کوه

د مالدار قرضدارقرض نه ادا کولو په صورت کښې مذاهب:-

چه په چا قرض دې هغه سره قرض موجود هم وی بيا هم انکار اوکړی نو د ده په باره کښې درې اقوال دی

① امام شافعي رحمه الله فرمائی چه حقدار د هغه د مال نه مطلقا اغستلې شی خواه که د قرض د جنس نه وی او که نه وی

② د امام مالک رحمه الله په نزد په هيڅ صورت کښې هم د هغه د مال نه نشی اغستلې امام مالک هم د دې حديث نه استدلال کوی ليکن مونږ جواب ورکو چه دا خيانت نه دې بلکه خپل حق وصولول دی او دا حديث د حق نه زيات وصولولو باندې محمول دې

③ د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد که د يو کس په بل باندې حق وی او حقدار لره د هغه په مال

١) اخرجه ابو داود فی السنن رقم الحديث ٣٥٣٥ والترمذی فی السنن رقم الحديث ١٢٦٤ والدارمی فی السنن رقم الحديث ٢٥٩٧

باندي قدرت هم وى نو هغه د خپل مال په اندازه د هغه د مال نه اغستلې شى خو په دې شرط چه هغه مال هم د قرض د جنس څخه وى

[٢٠٣٥] په خيبر كښې د نبى عليه السلام وكالت كول

٢٠٣٥–[٩] (١) [١]وَعَنْ جَابِرٍ – رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ – قَالَ: «أَرَدْتُ الْخُرُوجَ إِلَى خَيْبَرَ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ – صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ [٢] وَقُلْتُ: إِنِّي أَرَدْتُ الْخُرُوجَ إِلَى خَيْبَرَ [٣] فَقَالَ: "إِذَا أَتَيْتَ وَكِيلِي فَخُذْ مِنْهُ خَمْسَةَ عَشَرَ وَسْقًا [٤] فَإِنِ ابْتَغَى مِنْكَ آيَةً فَضَعْ يَدَكَ عَلَى تَرْقُوَتِهِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت جابر ﷺ وايي چې ما خيبر ته د تلو اراده وکړه نو (د رخصت کيدو په اراده سره) د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او حضور ﷺ ته ما سلام وکړي [٢] او عرض مې اوکړو چې ما خيبر ته د تلو اراده کړيده. [٣] حضور ﷺ وفرمايل هر کله چې ته خيبر ته ځما وکيل لره ورشي نو د هغه څخه پنځلس وسق کجورې واخله [٤] که هغه ستا څخه څه نښه وغواړي نو خپل لاس د هغه په حلق کيږده، (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① تَرْقُوَتِهِ: ترقوت د مرئ او حلق هډوکى ته وائى

تسهيلات: قوله: تَرْقُوَتِهِ:

د نبى كريم صلى الله عليه وسلم او د وكيل په مينځ كښې نښه (كوډ): - يعنى خپل لاس دَ هغه په حلق اودَ مرئى په هډوکى باندې کيږده هغه به پوهه شي چه ته واقعى دَ هغه مؤکل يعنى دَحضورپاك دَ طرف ه راغلې ئى پخوا زمانه كښې به دَ قاصددَتصديق دَپاره خپل خاص څيز مثلاً څادر گوتمه ټوپئى يا تسبيح وغيره ورکولې شو دې دَپاره چه دَ دغه قاصد تصديق اوشى حضورپاك خپل وكيل ته اول وئيلى وو چه ستا اوزما په مينځ كښې دانښه ده كوم قاصدچه ستادَ مرئى په هډوکى لاس كيخودو هغه به زما دَ طرف نه درليګلې شوې وى په دې حديث كښې حضورپاك دغه قاصدته هم دَ دا شان معاملې ترتيب خودلې وو

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٠٣٦] دَ شركت مضاربت ثبوت اوبركت

٢٠٣٦–[-] (٢) [١]عَنْ صُهَيْبٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«ثَلَاثٌ فِيهِنَّ الْبَرَكَةُ: [٢] الْبَيْعُ إِلَى أَجَلٍ، وَالْمُقَارَضَةُ، وَاخْتِلَاطُ الْبُرِّ بِالشَّعِيرِ لِلْبَيْتِ لَا لِلْبَيْعِ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت صهيب ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل درې څيزونه داسې دي چې په هغه کې برکت (يعنې ډير زيات خير او نيکي) حاصليږي [٢] ① په نيته باندې خرڅول يعنې خريدار ته د قيمت په ادائيګۍ کې مهلت ورکول ② مضاربت ③ په غنمو

١) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الأقضية/باب فى الوكالة (رقم-٣٦٣٢)
٢) اخرجه ابن ماجة فى السنن كتاب التجارات/ باب الشركة والمضاربة (رقم-٢٢٨٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

کې وربشي ګډول د کور د خرڅ د پاره نه دخرڅولو د پاره . ‹ابن ماجه›

حل اللغات - ①أَجَلٍ نيټه. معلومه موده. ②الْمُقَارَضَةُ: مضاربت يعني چې د يوطرف څخه مال او دبل طرفه عمل وي ③اخْتِلَاطُ: ګډوډول، يوځائي کول

تسهيلات: قوله ثَلَاثٌ: اي خصال ثلاث،

په درې څيزونو کښې برکت:- ① يعنى مشترى ته دَ ثمن په اداکولوکښې مهلت ورکول دې دپاره چه هغه په آسانئ سره پيسې اداکړې شي

② "المقارضه" مضاربت ته مقارضه اووئيلې شو په دې حديث سره دَ مضاربت شرکت ثابت شو اودَ دې دَ برکت ثبوت هم ملاؤشو په مضاربت کښې مال دَ يوسړى وى او محنت دَ بل سړى وى او دواړه په منافع کښې شريکوال وى نن صبا پاکستانى بينکونوکښې سودى کاروبار شروع دې چه دَ ملك دپاره تباهى ده که دَدې په ځائې مضاربت وې چه په نفع اونقصان کښې دواړه شريك وى نو په دې کښې به ثواب اوبرکت هم وو اودَ سود دَ لعنت نه به ملك هم آزاد وې

③ غنموسره چه کوم ملاوولى شى په دې کښې برکت دې کوم دَ غنمو اوړه چه ارزان وى دغه شان به تر ډيره وخته پورې چليږى اودا صورت په کورونوکښې دَ استعمال دپاره دې په اخستلو خرڅولوکښې دا ګډون کول دَ لعنت سبب دې ځکه چه په دې کښې خيانت دې

[٢٠٣]په تجارت کښې د برکت دعا

(١)[٨] [١]وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَعَثَ مَعَهُ بِدِينَارٍ لِيَشْتَرِيَ لَهُ بِهِ أُضْحِيَّةً،[٢] فَاشْتَرَى كَبْشًا بِدِينَارٍ، وَبَاعَهُ بِدِينَارَيْنِ،[٣] فَرَجَعَ فَاشْتَرَى أُضْحِيَّةً بِدِينَارٍ فَجَاءَ بِهَا وَبِالدِّينَارِ الَّذِي اسْتَفْضَلَ مِنَ الْأُخْرَى،[٤] فَتَصَدَّقَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِالدِّينَارِ فَدَعَا لَهُ أَنْ يُبَارَكَ لَهُ فِي تِجَارَتِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:[١]او د حضرت حکيم بن حزام ﷺ په باره کې منقول دى چې رسول الله ﷺ هغه د يو دينار سره وليږلو چې د حضور ﷺ د پاره د قربانۍ څاروى‌واخلي[٢] هغه د هغه دينار په عوض کې يو ګډه واخستي او بيا يې هغه په دوه ديناره خرڅ کړي،[٣] د دې څخه فارغيدو سره هغه د قربانۍ يو بل پسه واخستي او د هغه حيوان سره يې هغه دينار هم حضور ﷺ ته راوړو،[٤] حضور ﷺ هغه دينار صدقه کړي، او د حکيم ابن حزام ﷺ په حق کې يې دادعا وکړه چې الله ﷻ دې د هغه په تجارت کې برکت ورکړي‹ترمذي ابوداود›

حل اللغات - ① كَبْشًا: ګډ ② اسْتَفْضَلَ چې د يو دينارڅخه زياتى شوې

(١) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب البيوع/باب فى المضارب يخالف (رقم-٣٣٨٦) والترمذى فى كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-١٢٥٧)

تسهیلات:

قوله بدینار:

د یو صحابی هوښیارتوب او عقلمندی: -دَدې صحابی هوښیارتوب اوعقلمندنی ته گوره اوده فه تجارتی مهارت اوگوره چه حضورپاك هغه ته دَ قربانئی دَ څاروی دَاخستلودَپاره هغه ته یودینارورکړونوهغه دَ یودینا په بدله کښې کډ واخستلو اوبیانی هم په دغه منډئی کښې په دوه دیناره خرڅ کړو اوبیانی په یودینار باندې بل گډواخستلو اویودینار بېځ کولوسره راغلو حضورپاك دَهغه دَپاره په تجارت کښې دَبرکت دعا اوکړه اودَ دغه دینار دَصدقه کولوحکم ئی ورکړو ځکه چه دا گټه دَ یوداسې څاروی په واسطه سره شوې وه چه دَ قربانئی دَپاره اخستې شوې وو اودَ قربانئی دَ څاروی ټوله گټه هم په صدقه کښې شامل وی

د یو تعارض دفعه: - دَدې برعکس دې نه مخکښې حدیث نمبر(٢٩٣٢) کښې هم دغه شان واقعه پیښه شوې ده هلته نبی کریم ﷺ دینا پخپله واخستو ځکه چه هلته دَ قربانئی صورت نه وو

په حدیث کښې یوه فقهی مسئله: - دَدې نه فقهاؤ دا مسئله راویستې ده چه دَ قربانئی دَ څاروی منافع به صدقه کولې شی دَدې حدیث نه داخبره بالکل واضحه شوه چه په تجارت کښې برکت وی دَدې حدیث نه داخبره هم معلومه شوه چه دَ فضولی عقد صحیح کیږی اودَ مالك په اجازت باندې موقوف ده شوافع دَ فضولی بیع ته ناجائز وائی تفصیل تیرشوې دې

Maktaba Tul Ishaat.com

[١٠] بَابُ الْغَصْبِ وَالْعَارِيَةِ

دَ غصب او عاريت بيان

خلاصة الباب :-

فيه اثنان وعشرون حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① عقوبة التصرف في ملك الغير بغير إذنه والنهي عنه: ١، ٢، ٣، ٥، ٧، ٨، ٩، ١٠، ٢٠، ٢١، ٢٢

② ضمان بعض الأموال وعدم ضمان بعضها: ٣، ١١، ١٢، ١٣، ١٤۔

③ جواز الاستعارة وحكمها: ٦، ١٧، ١٨۔

④ وقت جواز أكل مال الغير: ٥، ١٦، ١٩۔

قوله: الْغَصْبِ:

د غصب لغوى او اصطلاحى معنى :- غصب په لغت كښې په زور اخستوته وائى او په اصطلاح كښې دَ ظلم په توګه دَ چا مال اخستلو نوم غصب دې په دې كښې په زور اخستونكې غاصب وى دَ چانه چه اخستې شوې وى هغه مغصوب منه وى او غصب شوى مال ته مغصوب وائى.

قوله: وَالْعَارِيَةِ:

د عاريت لغوى معنى :- د عاريت لغوى معنى غوښتلې شوې څيز

دعاريت اصطلاحى تعريف :- په اصطلاح كښې دَعاريت تعريف داسې دې چه يوسړى ته دَ عوض نه بغير دَ خپل مال دَمنافع مالك جوړولوته عاريت وائى علامه توربشتى رحمه الله فرمائى چه دالفظ دَعار طرف ته منسوب دې ځكه چه دغه شان غوښتلوكښې عار يعنى شرم محسوس كيږى

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٢٣٨] دَ غاصب سزا

٢٣٨— [١] (١) ① عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ- رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② «مَنْ أَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ ظُلْمًا ③ فَإِنَّهُ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت سعيد ابن زيد رضي الله عنه وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② كوم سړى چې د يوه ليشت برابر زمكه هم په ظلم واخلي، ③ نو د قيامت په ورځ به د اوو زمكو ځځه هغومره

١) اخرجه البخارى فى كتاب بدء الخلق/باب ما جاء فى سبع أرضين (رقم-٣١٩٨) ومسلم فى كتاب المساقاة/باب تحريم الظلم وغصب الأرض وغيرها (رقم-١٤٠ - (١٦١٠) والترمذى فى كتاب الديات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن قتل دون ماله فهو شهيد (رقم-١٤١٨) واحمد فى المسند: ١٨٧/١

زمکه د هغه په څټ کې د طوق په طور واچول شي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ①شِبْرًا: یوه لویشت. ②يُطَوَّقُهُ: طوق به ورته واچولې شی. (په غاړه کښې تیزندی اچولو ته طوق وائی)

تسهیلات:

قوله: مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ:

د حدیث په مفهوم کښې دري اقوال: - یعنی دَ اووه زمکونه دومره حصه دَ دغه غاصب په غاړه کښې په توګه دَ طوق اچولې شي

① دَ اووه زمکونه په اندازه دَ غصب پرې کولوسره دَ غاصب په غاړه کښې طوق کولې شي

② غاصب به دَ غصب کړې زمکې لاندې ورخښولې شي. نوغصب کړې حصه به دَ دغه سړی دَ غاړې طوق جوړېږي اودې به راګیر کړی.

③ غاصب به په دغه زمکه اوچتولو سره مجبورولې شي. په دې حدیث سره مسلمانانوته داتعلیم ورکولې شي چه غصب یوسخت جرم دې. اسلام دَ امن او رورولئ مذهب دې. په دې کښې دَ هرسړی دَ خان اومال حفاظت دې لهذا په دې کښې دَغصب تصور نه شی کیدې.

[۲۳۹] د حیواناتو د تینو په پیوکښې د مالک استحقاق

۲۳۹—[۲] (۱) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «لَا يَحْلُبَنَّ أَحَدٌ مَاشِيَةَ امْرِءٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِ، [۳] أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يُؤْتَى مَشْرُبَتُهُ فَتُكْسَرَ خِزَانَتُهُ فَيُنْتَقَلَ طَعَامُهُ؟ [۴] وَإِنَّمَا يَخْزُنُ لَهُمْ ضُرُوعُ مَوَاشِيهِمْ أَطْعِمَاتِهِمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] و حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] یو سړی دې د بل سړي د حیوان پئ د هغه د اجازت څخه بغیر نه لوشي. [۳] آیا په تاسو کې یو سړی دا خبره خوښوي چې یو سړی د هغه خزانه (یعنې د هغه د غلې ګودام) ته راشي او د هغه خزانه (ګودام) دی مات کړي ددې پورې چې د هغه څخه غله پورته شي. [۴] د دغه شان (پوهه شي چه) د نورو د څارویو غولانخې د هغوئ د غذائي ضرورت (پیئو) حفاظت کوي. (مسلم)

حل اللغات: - ①لَا يَحْلُبَنَّ: نه دې لوشي. ②مَاشِيَةَ: څاروې، حیوان. ③مَشْرُبَتُهُ: دغلې ګودام (ډیپو). ④خِزَانَتُهُ: ګودام. ⑤فَيُنْتَقَلَ: نو پورته کړې شي، یوړلې شي. ⑥يَخْزُنُ: خزانه کوی، حفاظت کوی. ⑦ضُرُوعُ: غولانخې.

---

۱) اخرجه البخاري فی کتاب الإجارة/باب لا تحتلب ماشية أحد بغير إذنه (رقم-۲۴۳۵) ومسلم فی کتاب اللقطة/باب تحريم حلب الماشية بغير إذن مالكها (رقم-۱۳ - (۱۷۲۶))واخرجه ابو داود فی السنن کتاب الجهاد/باب فيمن قال: لا يحلب (رقم-۲۶۲۳) وابن ماجه فی کتاب التجارات/ باب النهی أن يصيب منها شيئا إلا بإذن صاحبها (رقم-۲۳۰۲) ومالک فی الموطا کتاب الاستئذان/باب ما جاء فی أمر الغنم (رقم-۱۷)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات:

قوله مَشْرُبَتُهُ:

د لفظ مشربة تشريح: - په ميم فتحه ده په راء باندې ضمه هم ده او فتحه هم جائز ده د ستور اوګودام کمرې ته وئيلې شي ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي اي غرفته وهي بيت فوقاني يوضع فيه المتاع مطلب دادې چه د خارورو په تينوکښې چه کوم پئ دی دا د مالك ملكيت دې لکه چه تينه په منزله د ستور ګودام يا خزانې دی د مالك دا اجازت نه بغيرڅه اخستل منع دی که يو سړې په خپل ذاتي ستور ګودام يا خزانه کښې څوك داخلول ناخوښه ګڼړی نودغه شان د خارورو د تينونه د هغې مالك پئ ويستل نه خوښه وی اوکه چرې يو سړې د مخمصه په حالت کښې وی نو د ځان بچ کولو ترحده پورې پئ اخستې شی اوبيا دې د هغې قيمت ورکړی

بغير د اجازت نه د نورو خلقو د څناورو پئ څښکل: - علماؤ ليکلی دی چه که اذن دلالةً وی نوبيا جائزدی لکه د بعض رمو مالکان په لارکښې تيريدونکې چيلو پئ د خلقو د پاره عام کوی اوخلق پئ راؤباسی اوکه اجازت نه دلالةً وی اونه صراحةً اوسړې په اضطراری حالت کښې وی نو بيا هم د سړی د پاره د ځان بچ کولو د حد پورې صرف څکل جائز دی کورته اوړل جائزنه دی اوکوم ئې چه اوڅکل د هغې قيمت به اداکوی

ترکيب يخزن فعل دې ضروع د دې فاعل دې اواطعماتهم مفعول به دې

[٢٩٣٠] د کاسې بدله کښې کاسه

٢٩٣٠ - [٢] (١) [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ، [٣] فَأَرْسَلَتْ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ بِصَحْفَةٍ فِيهَا طَعَامٌ [٤] فَضَرَبَتِ الَّتِي النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي بَيْتِهَا يَدَ الْخَادِمِ، فَسَقَطَتِ الصَّحْفَةُ، فَانْفَلَقَتْ، [٥] فَجَمَعَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِلَقَ الصَّحْفَةِ،

ترجمه: [١] او حضرت انس رضي الله عنه وايې [٢] چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ خپلې بي بي (يعني بي بي عائشه رضي الله عنها) سره قيام فرماوو. [٣] په بيبيانو مبارکو کې يوې (يعني بي بي زينب رضي الله عنها يا بي بي صفيې رضي الله عنها يا بي بي ام سلمه رضي الله عنها) يو رکاب راوليږلی چې په هغه کې د خوراك څه څيز وو (د هغه په ليدو سره) [٤] کومې بي بي سره چې حضور ﷺ تشريف فرماوو (يعني بي بي عائشه رضي الله عنها) خادم په لاس (داسې) ووهلی چې هغه پيالې وغورځيده او ماته شوه. [٥] رسول الله ﷺ د هغه رکاب ټکړی يو ځاى کړې

حل اللغات - ① صَحْفَة: د خاورو کاسه. پيالې. ② فَانْفَلَقَتْ: نو ماته شوه. ③ فِلَقَ: ماتې ټکړې.

١) اخرجه البخاري في كتاب النكاح/باب الغيرة (رقم-٥٢٢٥) والنسائي في كتاب عشرة النساء/باب الغيرة (رقم-٣٩٥٥) واحمد في المسند: ٢٦٣/٣

۱ ثُمَّ جَعَلَ يَجْمَعُ فِيهَا الطَّعَامَ الَّذِي كَانَ فِي الصَّحْفَةِ ۲ وَيَقُولُ (غَارَتْ أُمُّكُمْ) ثُمَّ حَبَسَ الْخَادِمَ حَتَّى أُتِيَ بِصَحْفَةٍ مِنْ عِنْدِ الَّتِي هُوَ بَيْتِهَا، ۳ فَدَفَعَ الصَّحْفَةَ الصَّحِيحَةَ إِلَى الَّتِي كُسِرَتْ صَحْفَتُهَا، ۴ وَأَمْسَكَ الْمَكْسُورَةَ فِي بَيْتِ الَّتِي كَسَرَتْ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او بيا په هغه ټکړو کې د خوراك هغه څيز راجمع کړي، کوم چې په رکاب کې وو، ۲ حضور ﷺ وفرمايل چې ستاسو مور ته غيرت ورغلو. بهرحال رسول الله ﷺ (تر څه وخته) خادم په انتظار کړي، ددې پورې چې د کومې زوجې مطهرې په کور کې حضور ﷺ قيام فرما وو (يعني بي بي عائشه رضي الله عنها) د هغې څخه دويم رکاب راوړل شو ۳ او بيا حضور ﷺ (د هغه خادم په ذريعه) هغه بي بي ته چې د هغه رکاب مات شوې وو. هغه صحيح او سالم رکاب وليږلو ۴ او هغه مات رکاب يې د هغه بي بي په کور کې کېښودلو کومې چې هغه رکاب مات کړې وو. (بخاري)

حل اللغات: - ۴ غَارَتْ: غيرت ورغې. ۵ الْمَكْسُورَةَ: ماته کړې شوې.

تسهيلات: قوله: بَعْضِ نِسَائِهِ:

دبعض مصداق: - دې نه مراد ام المؤمنين حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها ده

قوله: بِيَدِ الْخَادِمِ:

د خادم مصداق: - دخادم لفظ دَ غلام او وينځې دواړو دپاره وئيلى شى دلته دخادم نه مراد وينځه ده

قوله: غَارَتْ أُمُّكُمْ:

د امكم په مخاطبينو كښې احتمالات: -

۱ دا خطاب دهغه دور موجودوحاضرينو ته دې

۲ پوره امت ته خطاب دې

پوره امت ته د خطاب په صورت كښې حكمت: - دې دپاره چه دَ امت دَ خلقونه دچا په زړه اودماغوكښې دَ حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها دپاره څه بغض وغيره پيدا نه شى په دې وجه حضورپاك دحضرت عائشه رضي الله عنها دَ طرف نه عذر بيان كړو چه په بنوكښې داسې كيږى دا بشرى تقاضا ده عائشه صديقه رضي الله عنها په دې كښې معذوره ده

اول اشكال: - ددې حديث غصب يا عاريت سره هيڅ تعلق نشته دې بيا دادلته ولې راوړلې شو؟

د اشكال جواب: - قاضى عياض رحمه الله فرمائى چه دَ بل مال ضائع كولوسره تباه كول يوقسم غصب دې يا چه دا اووئيلې شى چه په ركيبنى كښې خوراك تحفه وه مگر پخپله ركيبنى په توګه دَعاريت وه

Maktaba Tul Ishaat.com

دويم اشكال: - حضورپاك دَ ماتې پيالئ په بدله كښې ثابته پيالئ واپس كړه حالانكه دا پيالئ دَ ذوات القيم نه ده قيمت واپس كول پكار وو دَ ذوات الامثال نه نه ده؟

د دويم اشكال دوه جوابونه: - ① په حقيقت كښې دا دواړه لوښي دَ حضورپاك ملكيت وو حضورپاك دَ مروت په توګه داسې اوكړه دَ ضمان په توګه نه وو

② بعض لوښي دَ ذوات الامثال دَ قبيل نه وي لكه څنګه چه بعض عدديات ذوات الامثال وي لكه چه هګۍ ده

[۲۳۱] دَ مسلمان د مال لوټ كولو حرمت

۲۳۱—[۳] (۱) ۞وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ يَزِيدَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۞ أَنَّهُ «نَهَى عَنِ النُّهْبَةِ وَالْمُثْلَةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن يزيد ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل كوي [۲] چې رسول الله ﷺ د لوټ ماركولو او مثله كولو څخه منع فرمايلي ده، (بخاري)

حل اللغات - ① النُّهْبَةِ: لوټ مار، ② الْمُثْلَةِ: د مړي نه اندامونه پريكول،

تسهيلات: قوله: وَالْمُثْلَةِ:

د مثله تعريف او حرمت: - لاس خپې غوږ پوزه پرې كول بدن ورانولو ته مثله وائي دا هم په اسلام كښې منع دي. دَ اسلام په شروع كښې څه داسې واقعات شوي وو بيا دَ هميشه دَپاره دا حرام اوګرځولې شو دي نه معلومه شوه چه دَ ميډيكل طلبه چه مړي په پټه باندې دَ قبرونو نه راوباسي اوبيا په هغې باندې تجربې كوي ټول حرام دي انسان الله تعالى قابل احترام جوړكړي دي

[۲۳۲] دَ حاجيانو دَ سامان پټونكي حشر

۲۳۲—[د] (۲) ۞وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ۞«انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ مَاتَ إِبْرَاهِيمُ ابْنُ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۞ فَصَلَّى بِالنَّاسِ سِتَّ رَكَعَاتٍ بِأَرْبَعِ سَجَدَاتٍ، فَانْصَرَفَ وَقَدْ آضَتِ الشَّمْسُ، ۞ وَقَالَ: "مَا مِنْ شَيْءٍ تُوعَدُونَهُ إِلَّا قَدْ رَأَيْتُهُ فِي صَلَاتِي هَذِهِ، ۞ لَقَدْ جِيءَ بِالنَّارِ، وَذَلِكَ حِينَ رَأَيْتُمُونِي تَأَخَّرْتُ مَخَافَةَ أَنْ يُصِيبَنِي مِنْ لَفْحِهَا،

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ وايي [۲] چې د رسول الله ﷺ د خوى حضرت ابراهيم د وفات په ورځ نمر تندر ونيولى. [۳] نو حضور ﷺ خلقو ته د نمر تندر نيولو مونځ په شپږ ركوع او څلور سجدو سره وركړي، يعني دوه ركعاته يې وكړل او په هر ركعت كې يې درې درې

۱) اخرجه البخارى فى كتاب الإجارة /باب النهى بغير إذن صاحبه (رقم - ۲۴۷۴)

۲) اخرجه مسلم فى كتاب الكسوف /باب ما عرض على النبى صلى الله عليه وسلم فى صلاة الكسوف من أمر الجنة والنار (رقم) ۱۰ - (۹۰۴) واحمد فى المسند: ۳۱۸/۳

رکوع او دوه دوه سجدې وکړې، او کوم وخت چې حضور ﷺ د مونځ څخه فارغه شو نو نمر د مخکې په شان روښانه شوی وو. ④ بیا حضور ﷺ وفرمایل د کوم څیز (یعنې د جنت او دوزخ) چې د تاسو سره یې وعده کېږي، هغه ما ته په خپل دې مونځ کې ولیدل. ⑤ دوزخ خما مخې ته پیش کړل شو، او دا هغه وخت وو، هر کله چې د مونځ په دوران کې تاسو زه په وروسته کیدو لیدلی وم او زه د دې خوف څخه وروسته شوم، چې چرته د هغه ګرمي ما ته راونه رسیږي.

حل اللغات: - ① انْكَسَفَتْ: نمر تندر اونیولو (سورج ګرهن). ② آضَتْ: خپل حالت ته واپس شو، روښانه شو. ③ تُوعَدُونَهُ: چه تاسو سره ئې وعده کیږي. ④ لَفْحِهَا: ګرمی دهغې.

① وَحَتَّى رَأَيْتُ فِيهَا صَاحِبَ الْمِحْجَنِ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ ② وَكَانَ يَسْرِقُ الْحَاجَّ بِمِحْجَنِهِ، فَإِنْ فُطِنَ لَهُ قَالَ: إِنَّمَا تَعَلَّقَ بِمِحْجَنِي، وَإِنْ غُفِلَ عَنْهُ ذَهَبَ بِهِ ③ وَحَتَّى رَأَيْتُ فِيهَا صَاحِبَةَ الْهِرَّةِ الَّتِي رَبَطَتْهَا، فَلَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ حَتَّى مَاتَتْ جُوعًا ④ ثُمَّ جِيءَ بِالْجَنَّةِ وَذَلِكَ حِينَ رَأَيْتُمُونِي تَقَدَّمْتُ حَتَّى قُمْتُ فِي مَقَامِي ⑤ وَلَقَدْ مَدَدْتُ يَدِي وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أَتَنَاوَلَ مِنْ ثَمَرَتِهَا لِتَنْظُرُوا إِلَيْهِ ⑥ ثُمَّ بَدَا لِي أَنْ لَا أَفْعَلَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ما هغه وخت په دوزخ کې خمدار لرګي واله (یعنې عمرو ابن الحی) په داسې حال کې ولیدلو چې هغه په هغه کې خپلې کولمې راښکلې، ② دې سړي به د خپل خمدار لرګي په ذریعه د حاجیانو سامان غلا کوی (د هغه طریقه دا وه چې هغه په تللو تللو کې د چا څه څیز په خپل خمدار لرګي کې ونخلولی) که چا به یې دا حرکت ولیدلو نو هغه به وئیل چې دا شی (په خپله) خما په لرګي کې نختي دی او که چا به ونه لیدی، نو هغه څیز به یې غائب کړي (غلا به یې کړي) ③ او ما هغه وخت په دوزخ کې هغه د پیشو والا ښځه هم ولیدله چې هغه یوه پیشو تړلې وه چې نه به یې څه ورباندې خوړل او نه به یې هغه پریښودله، چې هغه حشرات الارض (یعنې مږې، منږک وغیره) وخوري ددې پورې چې هغه پیشو د لوږې څخه مړه شوه. ④ بیا (خما په مخکې جنت پیش کړل شو او دا هغه وخت وو چې کوم وخت زه تاسو په مخکې کیدو ولیدم خو بیا زه په خپل ځای ودریدم ⑤ او ما خپل لاس اوږد کړی چې زه د هغه میوه وشکوم چې تاسو یې هم ووینئ. ⑥ لیکن ماسوچ وکړې چې ما ته داسې کول نه دي پکار (چې ستاسو په ایمان بالغیب کې ګډوډی راشي) مسلم

حل اللغات: - ⑤ صَاحِبَ الْمِحْجَنِ: خمدار لرګی والا، ازغن، غوتن لرګی والا. ⑥ قُصْبَهُ: کولمې خپلې. ⑦ يَسْرِقُ: غلا به ئې کوله. ⑧ فَإِنْ فُطِنَ: که خبربه شو. ⑨ صَاحِبَةَ الْهِرَّةِ: پیشو والا ښځه. ⑩ خَشَاشِ الْأَرْضِ: د زمکې حشرات (یعنی مږې، چندخان وغیره) ⑪ مَدَدْتُ: ما اوږد کړې وو.

تسهیلات: قوله: صَاحِبَ الْمِحْجَنِ:

د مذکوره جملې وضاحت- محجن خمدار چوکې ته وائی یا هغه همسا دَ کومې په سرکښې چه راتاؤ شوې اوسپنه یوځائی کړې شوې وی. دَ صاحب نه مراد عمرو بن لحی دې لیکن د

Maktaba Tul Ishaat.com

ده خساست ته گوره چه دي په تنګه لارکښې ناست په خمداره چوکه سره د خلقو څادرې وغيره اينخلولو پټولوبه نی که چا ته به معلومه شوه چه څادرنی رابنکلو نو ده به ونيل چه په غلطۍ سره داسې اوشو اوکه چاته به پته اونه لګيدله نو ده تري څادر وغيره اووهل

د حديث فوائد:- ① ددې حديث نه معلومه شوه چه دوزخ اوجنت دې وخت کښې موجود دی ② او په مونځ کښې قليل عمل جائز دې

③ او په ځناور باندې رحم خوړلوسره الله تعالى خوشحاليږی او په دې باندې ظلم کولوسره ناراضه کيږی

[٢٣٣] دَ سورلۍ ځناور عارية غوښتلو جواز

٢٣٣—[٠] (١) ①وَعَنْ قَتَادَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسًا يَقُولُ: ②«كَانَ فَزَعٌ بِالْمَدِينَةِ فَاسْتَعَارَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَرَسًا مِنْ أَبِي طَلْحَةَ يُقَالُ لَهُ: الْمَنْدُوبُ، فَرَكِبَ، ③ فَلَمَّا رَجَعَ قَالَ: " مَا رَأَيْنَا مِنْ شَيْءٍ، ④ وَإِنْ وَجَدْنَاهُ لَبَحْرًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت قتاده رضي الله عنه وايې چې حضرت انس رضي الله عنه فرمايل (يوه ورځ په دې خيال چې د کفارو لښکر مديني ته نزدې راغلی دی) ② په مدينه کې د خوف او ويرې يو حالت پيدا شوي وو (د دې ليدو سره) رسول الله ﷺ د حضرت طلحه رضي الله عنه آس چې مندوب يعنی سست ورته ونيل کيدلی، عارية اوغوښتلو او په هغه سوريدو سره (د تحقيق حال د پاره د مديني څخه بهر) ووتلو ③ بيا چې حضور ﷺ واپس راغلو نو وي فرمايل چې ما د خوف او ويرې هيڅ څيز ونه ليدلو ④ او ما دا آس کشاده قدم يعنی تيز رفتار (سمندر) پشان و موندلو. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① فَزَعٌ: خوف، ويره، ② اسْتَعَارَ: په عاريت ئې اوغوښتلو، ③ الْمَنْدُوبُ: سست، (دحضرت طلحه د اس نوم دې) ④ بَحْرًا: سمندر، (د سمندر په شان چپې وهونکې)

تسهيلات:

قوله: فَاسْتَعَارَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَرَسًا:

د حديث فوائد:- ① ددې حديث نه معلومه شوه چه د سورلۍ دپاره عارية ځناور غوښتل جائز دی

② اودا هم معلومه شوه چه د ځناور نوم کيخودل هم جائز دی لکه د اس نوم ئی مندوب کيخودې دې

١) اخرجه البخاری فی کتاب الهبة وفضلها والتحريض عليها/باب من استعار من الناس الفرس والدابة وغيرها (رقم ٢٦٢٧) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب فی شجاعة النبی عليه السلام وتقدمه للحرب (رقم ٤٩ - (٢٣٠٧) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأدب/باب ما روی فی الرخصة فی ذلک (رقم ٤٩٨٨) والترمذی فی کتاب الجهاد عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الخروج عند الفزع (رقم ١٦٨٦) واحمد فی المسند: ١٧١/٣

③ د دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چه څوکنی کول مسنون حکم دې

④ دا هم معلومه شوه چه د یوڅیز په ښه کارکردګنی باندې د هغه تعریف کولې شی او په تعریف کښې مبالغه هم جائز ده لکه څنګه چه د اس تیزتلو ته سمندر اوونیلې شو

⑤ او د دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چه مسلمانانو ته د امن او امان زیرې اورول مستحب دی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٣٣] د شاړې زمکې د آبادولو حکم

٢٣٣— [٤] (١) ١ عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ- رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ- صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنَّهُ قَالَ: "٢ «مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيْتَةً فَهِيَ لَهُ، وَلَيْسَ لِعِرْقٍ ظَالِمٍ حَقٌّ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ حضرت سعید ابن زید رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ٢ کوم سړی چې مړه زمکه ژوندی کړي یعنی بنجر او ویرانه زمکه آباده کړي هغه د هغه ده او د ظالم د رګ هیڅ استحقاق نشته، دا روایت احمد ترمذي ابوداود بطریق ارسال کړي دی

٢٣٣— (٢) ١ وَرَوَاهُ مَالِكٌ، عَنْ عُرْوَةَ مُرْسَلًا، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ او امام ترمذي رحمه الله وېلي دي چې دا حدیث حسن غریب دی

حل اللغات- ① أَحْيَا: ژوندی کړه، رازرغونه کړه، ② أَرْضًا مَيْتَةً: مړه زمکه یعنی بنجر او شاړه زمکه، ③ عِرْقٍ: رګ.

تسهیلات: قوله: فَهِيَ لَهُ:

د احیاء الموات د ملکیت شرطونه:-

① د احیاء الموات یو شرط دا دې چې هغه زمکه د یو مسلمان ملکیت نه وی

② د کلی یا ښارېنی د ضروریات څخه نه وی

③ هغې سره څه عوامی فائده تړلې نه وی داسې شاملات زمکه چه چا آباده کړه هغه هم د ده کیږی

د احیاء الموات په ملکیت کښې مذاهب:-

① امام ابوحنیفه رحمه الله فرمانی چه دا ملکیت به هغه وخت حاصلیږی چه د وخت د حکومت د طرف نه صراحةً یا دلالةً اجازت وی

١) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الخراج والإمارة والفيء/ باب في إحياء الموات(رقم-٣٠٧٣) والترمذي في كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما ذكر في إحياء أرض الموات(رقم-١٣٧٨)

٢) اخرجه مالك في الموطا كتاب الأقضية/باب القضاء في عمارة الموات(رقم-٢٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

② امام شافعي رحمه الله اوصاحبين فرمائي چه آبادول شرط دي دحکومت د څه اجازت ضرورت نشته دي

قوله لِعِرْقٍ ظَالِمٍ:

د بل په زمکه کښې د تصرف کولو حرمت: - دَ ظالم دَ رګ مطلب دادې که يوسړې دَ بل سړي آبادې زمکې ته لاړشي ونې اولګوي يا نې اوکرې نودَدغه ظالمانه قبضې او غصب نه هغه سړې دَدغه زمکې مالك کيدې نه شي بلکه هغه ته به وئيلې شي چه خپل فصل راوباسه او يوسه او زمکه خالي کړه.

[٢٣٠٦] د چا مال بغير اجازته حلال نه دى

٢٩٤٦-[٨] (١) ① وَعَنْ أَبِي حُرَّةَ الرَّقَاشِيِّ، عَنْ عَمِّهِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "② «أَلَا لَا تَظْلِمُوا، أَلَا لَا يَحِلُّ مَالُ امْرِءٍ إِلَّا بِطِيبِ نَفْسٍ مِنْهُ» .③ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ "، وَالدَّارَقُطْنِيُّ فِي "الْمُجْتَبَى".

ترجمه: ① او حضرت ابو حره رقاشي (تابعي) رحمه الله د خپل تره څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② خبردار په چا ظلم مه کوئ د بل چا مال (اخستل يا استعمالول) د هغه د مرضى او خوښې څخه بغير حلال نه دى، ③ دا روايت بيهقي په شعب الايمان کې او دار قطني په مجتبى کې نقل کړي دى.

تسهيلات:

قوله أَلَا لَا يَحِلُّ مَالُ امْرِءٍ إِلَّا بِطِيبِ نَفْسٍ مِنْهُ:

د رضامندۍ څخه بغير د چا دمال خوړلو حرمت: - ددې حديث مبارک څخه معلومه شوه چې د چا رضا نه وى نوهغه مال خوړل حرام دى په دې باره کښې يوه طريقه رائجه ده چې په چ باندې څه خوشحالي راشي نو د هغه ملګرى دهغه څخه ددعوت مطالبه کوى نواوس دوه صورتونه دى

① چې په چا خوشحالي راغلي وى هغه د خپل زړه څخه ملګرو ته دعوت طعام ورکوى نودا جائز ده

② که هغه د زړه څخه د طعام دعوت نه ورکوى خو د شرم د چې يا د ملګرو څخه د مجبوره کيدو په وجه دعوت اوکړى نو په داسې صورت کښې دهغه دعوت خوړل جائز نه دى.

---

١) اخرجه احمد في المسند ٧٢/٥ والبيهقي في شعب الايمان.

[٢٣٧] د داړکه اچولو حرمت

٢٣٧—[٩] (١) ①وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: أَنَّهُ قَالَ: "②«لَا جَلَبَ، وَلَا جَنَبَ، وَلَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ، ③وَمَنِ انْتَهَبَ نُهْبَةً فَلَيْسَ مِنَّا»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت عمران ابن حصين ﷛ د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② نه جلب (جائز) دی نه جنب او نه شغار په اسلام کې (جائز) دی (جلب د بل په آس پسې د دی د پاره آس زغلول دی چې هغه زيات تيز کړل شی او د مسابقې صورت اختيار کړی او جنب په خپل آس پسې بل آس خالی ترلو او زغلولو ته وايي او شغار هغه بدل چې مهر پکی نه وي بلکه د يو خور او لور د بل د خور او يا لور مهر وی دا نه روا دی ③او ياد لری) کوم څوک چې دچاما ل چل کوي هغه زمونږ څخه نه دی (يعني هغه زمونږ) د جماعت څخه نه دی يا زمونږ په طريقه نه دی حاصل دا چې داسې سړی د دې قابل نه دی چې هغه د اسلامي برادری يو فرد وګڼل شي. (ترمذي)

حل اللغات:- ①جَلَبَ: د بل اس پسې تيزولو دپاره اس زغلول. ②جَنَبَ: خپل اس پسې بل اس ترل. ③شِغَارَ: په نکاح کښې بدل کول چه مهر ختم شی يا کم شی. ④نُهْبَةً: داړکه اچول.

تسهيلات:

قوله: لَا جَلَبَ، وَلَا جَنَبَ:

د جلب او جنب د استعمال مواقع:– دا دوه اصطلاحی الفاظ دی په زکوة کښې دَدې يوجدا مطلب دې کوم چه هلته ليکلې شوې دي او دَ اسونو په زغلولوکښې دَدې جدا مطلب دې کوم ته چه سباق وائی. داهم ليکلې شوی دی او بيوعاتو کښې دَ دې جدا مطلب دې کوم چه دَدې نه مخکښې ليکلې شوی دی

فائده بيوعات کښې صرف جلب وی جنب نه وی.

[٢٣٨] په ټوقو کښې دَ چا د څيز اوچتولو ممانعت

٢٣٨—[١٠] (٢) ①وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِيهِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "②«لَا يَأْخُذْ أَحَدُكُمْ عَصَا أَخِيهِ لَاعِبًا جَادًّا، ③فَمَنْ أَخَذَ عَصَا أَخِيهِ فَلْيَرُدَّهَا إِلَيْهِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَرِوَايَتُهُ إِلَى قَوْلِهِ: "جَادًّا".

ترجمه: ①او حضرت سائب ابن يزيد د خپل پلار بزرګوار څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ

---

١) اخرجه ابو داود فی السنن كتاب الجهاد/باب فی الجلب علی الخيل فی السباق (رقم-٢٥٨١) والترمذی فی كتاب النكاح عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/ ما جاء فی النهی عن نكاح الشغار (رقم-١١٢٣) والنسائی فی كتاب الجهاد/باب: الشغار (رقم-٣٣٣٤) واحمد فی المسند: ٤/٤٣٩

٢) اخرجه ابو داود فی السنن كتاب الأدب/باب من يأخذ الشیء علی المزاح (رقم-٥٠٠٣) والترمذی فی كتاب الفتن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء لا يحل لمسلم أن يروع مسلما (رقم-٢١٦٠) واحمد فی المسند: ٤/٢٢١

Maktaba Tul Ishaat.com

ورمه بل ۲ | په تاسو کې دې هېڅوك د خپل وروړ امسا ،لكره، په خندا او مذاق كې د دې مقصد سره نه اخلي چې خان سره يې وساتي[۳] كوم سړى چې د خپل وروړ امسا واخلي نو هغه له ره واپس وركول پكار دى، .ترمذي ابوداود، ليكن د ابوداود روايت د لفظ جاداً پوري دى

حل اللغات : ① لاعبًا په لوبو بوقو كښې، ② جاداً قصد كونكي

تسهيلات:

قوله عَصَا أَخِيهِ:

د مذكوره جملې مفهوم: - د امسا ذكر بطورمبالغه دې ورنه مراد ترينه معمولي ځيز دې يعني د خپل مسلمان روړ همسا وغيره څه ځيز په رښتيا سره غلا كولوسره پټ كړى او په خندا او توقوكښې څه ځيز اوچت كړى پټ ني كړى اوپټ ني نه كړى د دې صورت دا وي چه د يوبل دوست نه څه ځيز مثلاً همسا يا قلم يا چپل يا څادر وغيره په توقو اوخندا كښې د تنگولو د پاره پټوى اوبيا هغه بنه پريشانه كولوسره واپس وركوى په دې كښې په ظاهره سره د دې چه مذاق دې مگر په دې كښې يو لوئى تكليف رسول هم دى يومسلمان داسې تنگول جنز نه دى اوكه رښتيا غلا كوى نوښكاره خبره ده چه حرام دى

[۲۹۳۱] د غل سره خپل مال ليدو باندې دهغې اخستل

٢٩٣١ - [١] (١) [١] وَعَنْ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "[٢] «مَنْ وَجَدَ عَيْنَ مَالِهِ عِنْدَ رَجُلٍ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ، [٣] وَيَتَّبِعُ الْبَيِّعُ مَنْ بَاعَهُ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت سمره ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] كوم سړى چې خپل مال بعينه د چا سره ويني نو هغه د هغه اخستلو حقدار دى [٣] او د هغه آخستونكي دي په هغه سړى پسې شي چا چې هغه خرڅ كړي دى، .احمد ابوداود نسائي،

تسهيلات:

قوله الْبَيِّعُ:

ددې لفظ لغوي تحقيق: - په دې كښې باء باندې فتحه ده او په ياء باندې شداوكسره ده دې نه مشترى مراددې اودمن باعه نه بائع مراددې

د حديث مطلب او توجيه: د حديث مطلب دادې چه مثلاً چه يوسړى د چامال غصب كړو پټ ني كړو ياچرته ورك شوې ځيزچاته ملاؤ شو اوهغه دا ځيزيه بل چاباندې خرڅ كړو بيا مالك خپل مال مشترى سره اوليدلو نواصل مالك د دغه مشترى نه خپل مال واپس كړى

---

١) اخرجه ابو داود في السنن أبواب الإجارة/باب في الرجل يجد عين ماله عند رجل (رقم ٣٥٣١) واحمد في المسند: ١٣/٥

بیا مشتری خپل قیمت د دغه سړی نه وصول کړی چاچه په ده باندې مال خرڅ کړی دې هغه پسې شی دحدیث هم دغه مطلب دې دې نه وړاندې باب الافلاس حدیث نمبر(۲۳۸) مضمون هم دغه شان دې هلته د فقهاء اختلاف بیان کړې شوې دې زیر بحث حدیث د احنافو د دلیل وضاحت دې د کوم حواله چه وړاندې ورکړې شوې ده

[۲۹۵۰] مالك ته دهغه د څيز واپس كولو حكم

۲۹۵۰—[۳] (۱) [۱] وَعَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " [۲] «عَلَى الْيَدِ مَا أَخَذَتْ حَتَّى تُؤَدِّيَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت سمره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] دچا څخه اخستل شوی څيز (د اخستونکي) د لاس دپاسه دی (یعنې گناه یې پرده ده) د څو پورې چې هغه واپس ورنکړي. (ترمذي ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات: - ① عَلَى الْيَدِ: دلاس دپاسه. (یعنی گناه او وبال ئې په ده دې)

تسهیلات: قوله: حَتَّى تُؤَدِّيَ:

د دیانت او امانت اهمیت: - مطلب دادې چه که چرې چا د چانه څه مال غصب کړویائی پټ کړویا په توګه د عاریت ئی واخستو یا هغه سره چاامانت کیخودونوهغه اخستونکی لاس اوسړی باندې لازم دی چه هغه واپس کړی دغه څیزد هغه په ذمه باندې واجب الادا دې سره ددې چه مالك مطالبه نه وی کړې د امانت معامله جداده هغه د مالك د مطالبه نه پس واپس کول ضروری وی. الغرض د حدیث تعلیم دادې چه هرمسلمان له د دیانت او امانت مظاهره کول پکاردی

[۲۹۵۱] پټی او فصل ته د څناورو د نقصان رسولومسئله

۲۹۵۱—[۳] (۲) [۱] وَعَنْ حَرَامِ بْنِ سَعْدِ بْنِ مُحَيِّصَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: " [۲] «أَنَّ نَاقَةً لِلْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ دَخَلَتْ حَائِطًا، فَأَفْسَدَتْ، [۳] فَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّ عَلَى أَهْلِ الْحَوَائِطِ حِفْظَهَا بِالنَّهَارِ، [۴] وَأَنَّ مَا أَفْسَدَتِ الْمَوَاشِي بِاللَّيْلِ ضَامِنٌ عَلَى أَهْلِهَا» ". رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت حرام ابن سعد ابن محیصه رضی الله عنه وایي (یوه ورځ) [۲] د حضرت براء ابن عازب رضی الله عنه اوښه په یو باغ کې ورننوته او باغ یې خراب کړي (هر کله چې دا معامله) [۳]

---

۱) اخرجه ابو داود في السنن أبواب الإجارة/باب في تضمين العور (رقم-۳۵۶۱) والترمذی فی کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی أن العاریة مؤداة (رقم-۱۲۶۶) وابن ماجه فی کتاب الصدقات/باب العاریة (رقم-۲۴۰۰) واحمد فی المسند: ۸/۵

۲) اخرجه ابو داود فی السنن أبواب الإجارة/باب المواشی تفسد زرع قوم (رقم-۳۵۶۹) وابن ماجه فی کتاب الأحکام/باب الحکم فیما أفسدت المواشی (رقم-۲۳۳۲) کتاب الاقضية/باب القضاء فی الضواری والحریسة (رقم-۳۷) واحمد فی المسند: ۴۳۶/۵

Maktaba Tul Ishaat.com

رسول الله ﷺ ته راورسیده نو حضور ﷺ دافیصله وکړه چې د ورځې د باغات حفاظت د باغ والاوو په ذمه دی[٤] او کوم حیوان چې د شپې باغات خراب کړي، نو د هغه ضمان یعنی تاوان د ځارویو په مالکانو دی، (مالك ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات - ① نَاقَةٌ: اوښه، ② حَائِطًا: باغ، ③ فَأَفْسَدَتْ: نوهغه ئې خراب کړو، ④ أَهْلِ الْحَوَائِطِ: باغونو والا، ⑤ الْمَوَاشِي: ځاروی،

تسهیلات: قوله: حَائِطًا:

دچا فصل یا پټی ته د نقصان رسولو هرې صورتونه:- ① دَ باغ اوپټې دَتولو مسئله یوشان ده صرف دَ یونوم اخستې شوې دې مطلب دادې چه که چرې ځناورود چافصل ته نقصان اورسولو نوکتلې به شی چه دا نقصان ئې دَ ورځې رسولې دې که دَ شپې نو په دې حدیث کښې دی چه که ځناورد ورځې نقصان رسولې دې نودَدې تاوان به دَ ځناورو په مالك نه راځی ځکه چه دَ ورځ دَ باغ اوپټی دَ مالك ذمه واری ده چه هغه دې دَخپل باغ حفاظت اوکړی داکوتاهی دَهغه خپله ده لهذا دَ ځناورو په مالك باندې څه تاوان نشته دې

② که ځناورو دَ شپې وخت کښې فصل ته نقصان اورسولو نو دَ ځناورو په مالك به تاوان راځی ځکه چه دَ شپې دَ ځناورود حفاظت ذمه واری دَ مالك ده هغه دَ غفلت نه کار اخستې دې نوتاوان به هم ورکوی دا ټول تفصیل هغه وخت دې چه ځناوروسره مالك نه وی

③ که ځناوروسره مالك وی نو بیا به په هرصورت کښې په هغه تاوان راځی

په مذکوره مسئله کښې داماماڼو اختلاف:- شوافع اومالکیه دَ ورځې اوشپې فرق کوی ځکه چه په دې حدیث کښې دی لیکن احناف دَ ورځې اوشپې فرق نه کوی بلکه ځناوروسره دَ قائد او سائق اعتبارکوی که سائق اوقائدنه وی نوتاوان به نه راځی ځکه چه یومشهورحدیث دې "العجماء جرحها جبار" کوم چه ورسره روایت دې دَدې دوارو روایتونونه احناف استدلال کوی اودَ دوارو مطلب دادې چه دَ ځناور نقصان معاف دې که شپه وی اوکه ورځ وی اوکه راکب وی نوبیابه ضمان راځی بهرحال دَجمهورو موقف مضبوط دې

[٣٠٣] دَغیراختیاری اوربه وجه د نقصان رسیدو حکم

٣٠٣ - [٣] (١) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [٢] «الرِّجْلُ جُبَارٌ» " [٣] وَقَالَ: " «النَّارُ جُبَارٌ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل[٢] د پښو (میده شوي) معاف دي[٣] دغه شان حضور ﷺ وفرمایل د اور (سوزیدلی) معاف دی، (ابوداؤد)

١) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الدیات/باب فی الدابة تنفح برجلها (رقم-٤٥٩٢) وابن ماجه فی کتاب الدیات/باب الجبار (رقم-٢٦٧٦)

حل اللغات - ①الرِّجْلُ: خپې (يعنى په خپو كښې اغړلى پامال كړې شوى) ②جُبَارٌ: معاف دي (تاوان پرې نشته)

تسهيلات:

قوله الرِّجْلُ جُبَارٌ:

د دابه په خپه باندې د هلاک شوى څيز د تاوان حکم:- رجل خپې ته وائى او جبار د جيم ضمه سره د معاف او بې ځايه په معنى کښې دې مطلب دادې مثلاً يو ځناور دې هغې سره څوک مالك نشته دې هغه په خپو څوک چقنړى کړو نو دې تاوان په هيچانشته دې ځکه چه دا د حيوان غير مکلف فعل دې

قوله النَّارُ جُبَارٌ:

د اور د نقصان رسولو د تاوان حکم:- يعنى يو سړى د نيك مقصد د پاره په يو محفوظ مقام کښې اورلګولې وو هغه هم په مزه وو خو بيا هم يو بخرې لاړو او نقصان اوشو نو په دې صورت کښې به د اور بلونکى باندې تاوان راځى

[٢٩٠٣] په اضطرارى حالت کښې د بل د ځاروى د پيو څکلو جواز

٢٩٠٣-[د] (١) ①وَعَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "②«إِذَا أَتَى أَحَدُكُمْ عَلَى مَاشِيَةٍ، ③فَإِنْ كَانَ فِيهَا صَاحِبُهَا فَلْيَسْتَأْذِنْهُ، ④فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهَا فَلْيُصَوِّتْ ثَلَاثًا. ⑤فَإِنْ أَجَابَهُ أَحَدٌ فَلْيَسْتَأْذِنْهُ، ⑥وَإِنْ لَمْ يُجِبْهُ أَحَدٌ فَلْيَحْتَلِبْ وَلْيَشْرَبْ وَلَا يَحْمِلْ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①او حضرت حسن عليه د حضرت سمره ﷺ څخه نقل کوي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر کله چې په تاسو کې څوک د پيو ځارويو ته راشي ③ که هلته د ځارويو مالك موجود وي، نو د هغه څخه د پيو د څکلو اجازت وغواړي ④ او که هلته مالك موجود نه وي، نو هغه سړي ته پکار دى چې هغه درې ځله آواز وکړي (د هغه آواز اوريدو سره)، ⑤ که څوک جواب ورکړي، نو د هغه څخه دې پوښتنه وکړي ⑥ او که څوک جواب ورنه کړي، نو هغه دې بقدر ضرورت پي لوشلو سره وڅکي خو پي دې د خان سره بالکل نه وړي. (ابوداؤد)

حل اللغات - ①مَاشِيَةٍ: د ځاروو رمه، ②فَلْيُصَوِّتْ: نو آواز دې اوکړى، ③فَلْيَحْتَلِبْ: نو پي (شودې) دې اولوشى، ④لَا يَحْمِلْ: بار کوى دې نه، خان سره دې نه اوړى

١) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الجهاد/باب فى ابن السبيل يأكل من التمر، ويشرب من اللبن إذا مر به (رقم-٢٦١٩) والترمذى فى كتاب العلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الأخذ بالسنة واجتناب البدع (رقم-٢٦٧٦)

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهیلات قوله فَلْيَصَوِّتْ

د پیولوشلو اجازت غوښتلو پاره درې ځل آواز کول:- یعنی چه داسې آواز ورکړی چه دا خاورند چرته ددې خاورو مالك څوك دې اې ګېبه نه چرته نې؟ که ددې آواز په بدله کښې څوك سړې ملاؤ شي نودهغه نه اجازت اخستوسره دې پئي اوڅکي او که ددریو آوازونو نه پس هم څوك ملاؤنه شو نوبیاد ضرورت په اندازه پئي ویستلوسره دې اوڅکي خوکوزته دې نه اوړی

دحدیث په محمل کښې دوه اقوال:- ①ددې حدیث تعلق داسې اضطراری صورت سره دې په کوم کښې چه د سړی د مرګ خطره وی په داسې حالت کښې پئي څکلوسره دې خان بچ کړی اوروستو دهغې قیمت اداکول پکاردی

②ددې حدیث تعلق داسې مقاماتوسره دې چرته چه په عام توګه دمسافرو تیریدونکو خاورو نه پئي ویستل اود څکلو اجازت وی هلته داسې عمل کولوسره پئي حاصلول پکاردی

[۲۰۳] په اضطراری حالت کښې دبل دباغ نه دمیوې شوکولو جواز

> ۳۰۰- [۱۰] (۱) ①وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "②«مَنْ دَخَلَ حَائِطًا ③فَلْيَأْكُلْ وَلَا يَتَّخِذْ خُبْنَةً»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ①او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل② کوم سړی چې د بل سړي باغ ته ولاړشي.③ نو هغه ته پکار دی چې هلته د هغه میوه وخوري. خو دجیب او جولۍ دکولو سره دې نه خي. ترمذي ابن ماجه، امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث غريب دی

حل اللغات - ①خُبْنَة: جولی یا جیب دکول

تسهیلات: قوله فَلْيَأْكُلْ

دحدیث په مفهوم کښې دوه احتمالات:-

① ددې حدیث مطلب دانه دې چه هرسړې دې راخی او د چاباغ کښې دې ورننوخی اود هغې میوه دې خوری بلکه ددې مطلب هم هغه دې کوم چه ددې نه مخکښې د حدیث توضیح کښې بیان کړې شوې دې چه په حالت د اضطرار کښې په اندازه د ضرورت د خان بچ کولودپاره اوګې سړې دبل د باغ نه میوه خوړلې شی

② ددې حدیث محمل داسې مقام اوداسې علاقه ده چرته چه د باغونو د میوو د خوړلو عام اجازت وی

---

۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البیوع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الرخصة فی أکل الثمرة للمار بها (رقم-۱۲۸۷)وابن ماجه فی کتاب التجارات/ باب من مر علی ماشیة قوم، أو حائط هل یصیب منه(رقم-۲۳۰۱)

قوله وَلَا يَتَّخِذُ خُبْنَةً:

د مذکوره جملي مطلب: - دداد فتحه ده باء ساکن ده نون باندي فتحه ده جهولنی او جیب ته واني مطلب دادي چه جیب او جهولنی ډکولو سره کورته یونه سې صرف د ضرورت په اندازه دي خوری

[٢٩٥٥] په استعاره داخستی شوی څیزامانتی حکم

٢٩٥٥ — [١٠] (١) [١] وَعَنْ أُمَيَّةَ بْنِ صَفْوَانَ، عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -: [٢] أَنَّ «النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - اسْتَعَارَ مِنْهُ أَدْرَاعَهُ يَوْمَ حُنَيْنٍ، [٣] فَقَالَ: أَغَصْبًا يَا مُحَمَّدُ؟ [٤] قَالَ "بَلْ عَارِيَةٌ مَضْمُونَةٌ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت امیه ابن صفوان خپل پلار (صفوان) څخه نقل کوي [٢] چې رسول الله ﷺ د حنین د جنګ په ورځ صفوان څخه څو زغري عاريةً واخستی. [٣] هغه پوښتنه وکړه چې اي محمد! ﷺ ته دا زغري د غصب په طریقه اخلی؟ [٤] حضور ﷺ وفرمایل چې نا، بلکه عاريةً یې اخلم، چې واپس به درکول شي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① اسْتَعَارَ: په عاريت نې واخستلو. ② أَدْرَاعَ: د درع جمع ده، زغري. ③ أَغَصْبًا: آیا په غصب (په زور) نې اخلي؟. ④ مَضْمُونَةٌ: چه ضمان به نې درکولې شی، واپس کولې به شی درته

تسهیلات:

قوله: أَغَصْبًا يَا مُحَمَّدُ:

دمذکوره جملي پس منظر: - کله چه مکه مکرمه فتح شوه اوډ جنګ حنین شروع اوشوه نوحضورپاك مناسب اوګڼل چه ډهغه خاني ډ جنګیالوډ مقابله ډ پاره ډ نوې وسلې ضرورت دي ددي مقصدډپاره حضورپاك ډ صفوان بن امیه نه ډ عاريت په توګه یوڅو زغري اوغوښتلې صفوان ورکړې خودا سوال نی اوکړو چه اي محمد! ایا دا وسله ډغصب او په زور اخستلوسره تامانه واخستله؟حضورپاك جواب ورکړو چه غصب نه بلکه عاريت دي واپس کولې به شی صفوان هغه وخت مسلمان نه وو روستو مسلمان شو

د عاريت د امانت او ضمانت ګرځیدو باره کښي مذاهب: -

دلته دا مسئله زیر بحث ده چې چا سره یو څیز عاريتاً کیخودې شی او هغه هلاک شی نو په دې صورت کښې په چا سره عاريتاً کیخودې شوی وی په هغه ضمان شته که نه په دې باره کښې

① ډ امام شافعی رحمه الله اوامام احمد رحمه الله مسلك دادې که چرې عاريت تلف شی نو په مستعیرباندې به ډ دې بدل اوضمان راځی دې حضراتو ډ مضمونة ترجمه تاوان اوضمان سره کړې ده

١) اخرجه ابو داود في السنن أبواب الإجارة/باب في تضمين العور (رقم-٣٥٦٢) واحمد في المسند: ٦٨٤٦٥

Maktaba Tul Ishaat.com

④ دَ احناف په نيز مستعار څيز دَ مستعير په لاس کښې امانت وی پخپله تلف کيدو او هلاك کيدو په صورت کښې هيڅ ضمان اوتاوان نشته دې البته که قصداً دا مستعير ضائع کړی نوتاوان به راځی

[٢٩٥٢] د مستعار څيز د واپس کولو وجوب

٢٩٥٢-[٨] (١) ① وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: " «② الْعَارِيَةُ مُؤَدَّاةٌ، ③ وَالْمِنْحَةُ مَرْدُودَةٌ، ④ وَالدَّيْنُ مَقْضِيٌّ، ⑤ وَالزَّعِيمُ غَارِمٌ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابو امامه ﷺ وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل فرمايل يې ② چې مستعار شي دې واپس ورکول شي (يعني يو څيز د چا څخه مستعار واخلی په اخستونکي واجب دی چې هغه څيز د هغه مالك ته واپس ورسوي) ③ د منحة واپس ورکول ضروري دی ④ اوقرض دې اداء کړل شي (يعني قرض ادا کول واجب دی) او ضامن په ضمانت پوره کولو مجبوره دی (يعني که يو سړی د چا د قرض وغيره ضامن شي ⑤ نو د هغه ادا کول واجب دی، (ترمذي ابوداود)

حل اللغات - ① الْعَارِيَةُ: په عاريت سره اخستلې شوي څيز، عارضی استعمال دپاره اخستلې شوي څيز. ② مُؤَدَّاةٌ: واپس کولې به شی، ③ الْمِنْحَةُ: عطيه، پنيو دضرورت دپاره ورکړې شوي خاروي. ④ مَقْضِيٌّ: قرض اداکول. ⑤ الزَّعِيمُ: ضامن، وکيل. ⑥ غَارِمٌ: مجبور، مقروض

تسهيلات:

قوله: العاريةمُؤَدَّاةٌ:

په عاريت سره د اغستې شوي څيز په حکم کښې اختلاف - ① عاريت والا څيز که چرې عين موجود وی نوهغه به واپس کولې شی ګنی دَ هلاکت په صورت کښې به دَهغې قيمت واپس کولې شی دادَ شوافع دَ ذوق تشريح ده

② احناف وائی دا امانت دې واپس کولې به شی

قوله: وَالْمِنْحَةُ:

دمنحة مفهوم:- دَعربوخلقو به دَپينوورکونکی خاروی داسې سړی ته په توګه دَ عاريت ورکولو چاسره چه به دَپينودپاره خاروي نه وو هم دې ته منحه په معنی دَعطيه ونيلې شوي دې کله چه به دَ پينو زمانه ختميدله نوهغه به ئی مالك ته واپس کولو هم دااوخودلې شو چه منحه به واپس کولې شی

---

١) اخرجه ابو داود فی السنن أبواب الإجارة/باب فی تضمين العور (رقم-٣٥٦٥) والترمذی فی كتاب البيوع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی أن العارية مؤداة (رقم-١٢٦٥)وابن ماجه فی كتاب الصدقات/باب العارية (رقم-٢٣٩٨) واحمد فی المسند: ٢٦٧/٥

[٢٩٥٧] د ونې څخه د راپريوتي تجورو د خوړلو اجازت

٢٩٥٧–[١٩] (١) ① وَعَنْ رَافِعِ بْنِ عَمْرٍو الْغِفَارِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: "② «كُنْتُ غُلَامًا أَرْمِي نَخْلَ الْأَنْصَارِ ③ فَأُتِيَ بِيَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ④ فَقَالَ: "يَا غُلَامُ! لِمَ تَرْمِي النَّخْلَ؟" قُلْتُ: آكُلُ. ⑤ قَالَ: "فَلَا تَرْمِ، وَكُلْ مِمَّا سَقَطَ فِي أَسْفَلِهَا" ⑥ ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ فَقَالَ "اللّٰهُمَّ أَشْبِعْ بَطْنَهُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ. وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ فِي "بَابِ اللُّقَطَةِ" إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى

ترجمه: ①او حضرت رافع ابن عمرو غفاري رضي الله عنه وايي② زه چې ماشوم وم. نو د انصارو د كجورو ونې به مې په كانو ويشتلې (يوه ورځ)③ انصارو زه ونيولم. د رسول الله ﷺ په خدمت كې يې پيش كړم.④ حضور ﷺ ماته وفرمايل چې اې هلكه: كجورې په كانو ولې ولې؟ ما عرض اوكړو چې كجورې وخورم (يعني د كجورو د خوړلو د پاره هغه په كانو ولم د څه بل مقصد د پاره يې په كانو نه ولم)⑤ حضور ﷺ راته وفرمايل چې په كانو يې مه وله هلته چې كومې كجورې د ونې لاندې غورځيدلې پرتې وي هغه خوره⑥ بيا حضور ﷺ خپل لاس مبارك خما په سر راتير كړي او وې فرمايل چې اې الله ته د ده خېټه ډكه كړې، (ترمذي ابوداود ابن ماجه)

حل اللغات: - ① أَشْبِعْ: صيغه د امر ده، موړ ئې كړې، ② بَطْنَ: خيټه

تسهيلات:

قوله: فَلَا تَرْمِ، وَكُلْ مِمَّا سَقَطَ فِي أَسْفَلِهَا:

د ونو څخه د راغورزيدلې ميوو حكم: – يعني پورته دَ ونونه ميوې مه اوله بلكه چه كومې پخپله راپريوځي هغه اوچته وه او خوره معلومه شوه چه دَونونه كومه ميوه پخپله راپريوځي اوخوك هغه اوچته كړي نوداجائز دی عام عادت هم دغه دې چه دغه شان كه څوك پريوتلې ميوه نه منع كوی اوخاص كر ماشومان دَ داسې ميوو دَ اوچتولو په لټون كښې وی دا ماشوم په حالت دَمخمصه كښې نه وو كنی حضورپاك به دَ ونو نه دَميووخوړلو اجازت وركولو

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٩٥٨] دَزمكې دَ غصب كولو مختلف سزاګانې

٢٩٥٨–[٢٠] (٢) ① عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "② «مَنْ أَخَذَ مِنَ الْأَرْضِ شَيْئًا بِغَيْرِ حَقِّهِ ③ خُسِفَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

١) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الجهاد، باب من قال إنه يأكل مما سقط (رقم-٢٦٢٢) والترمذي في كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ماجاء في الرخصة في أكل الثمرة للمار بها (رقم-١٢٨٨) واحمد في المسند: ٣١/٥

٢) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب إثم من ظلم شيئا من الأرض (رقم-٢٤٥٤) واحمد في المسند: ٩٩/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: [١] حضرت سالم ﷺ د خپل پلار بزرگوار څخه نقل کوي هغه د رسول الله ﷺ دا ارشاد گرامي بیان کړي [٢] کوم سړی چې د زمکي څه حصه هم په ناحقه واخلي (یعني د چا د زمکي څه حصه هم په ظلم او زبردستی واخلي) [٣] نو د قیامت په ورځ به هغه د زمکي تر اوومي طبقي پوري غرق کول کیږي. (بخاري)

حل اللغات - ① خُسِفَ غرق به کړې شي، ښخ به کړې شي

تسهیلات. -

نوټ: -د دې حدیث تشریح په راروان حدیث نمبر (٢٩٥٩) کښي راروانه ده

[٢٩٥٩] د زمکې د غصب سزا

٢٩٥٩ — [٥] (١) [١] وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "[٢] «مَنْ أَخَذَ أَرْضًا بِغَيْرِ حَقِّهَا [٣] كُلِّفَ أَنْ يَحْمِلَ تُرَابَهَا الْمَحْشَرَ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] او حضرت یعلی ابن مره ﷺ وایي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل فرمایل چې [٢] کوم سړی چې د زمکي څه حصه هم په ناحقه (یعني په ظلم او زور) واخلي [٣] هغه به د حشر په ورځ په دې مجبوره شي چې هغه د هغه زمکي ټوله خاوره په خپل سر پورته کړي. (احمد)

حل اللغات - ① كُلِّفَ: مکلف او مجبوره به کړې شي.

تشریحات:

قوله كُلِّفَ أَنْ يَحْمِلَ تُرَابَهَا الْمَحْشَرَ

تسهیلات:

قوله مَنْ أَخَذَ أَرْضًا بِغَيْرِ حَقِّهَا...الخ:

په زبردستئ دچا د زمکې گیرولو څلور قسمه عذابونه: - په ظلم سره دچا د زمکې گیرونکی مختلف سزاگانې ذکر کړې شوی دی

① په اومبی فصل کښې خودا فرمایلی شوی وو چه دقیامت په ورځ به د زمکې ددغه حصې نه امیل جوړ کړې شی او هغه سړی ته به په غاړه کښې واچولې شی چاچه دا زمکه په زبردستئ گیره کړې وه

② په پورته حدیث کښې دا بیان کړې شو چه دچا په زمکه باندې په ناحقه قبضه کونکې به دقیامت په ورځ د زمکې اوومی حصې پورې ښخ کړی شی

③ دلته په دې حدیث کښې دا سزا ذکر کړې شوې ده چه دچا په زمکه باندې په ناجائزه طریقې سره قبضه کونکې به د قیامت په ورځ په دې خبره باندې مکلف کړې شی چه ددې

١) اخرجه احمد في المسند: ٤/١٧٢

زمکې توله خاوره په خپل سر باندې اوچته کړي

④ په راتلونکې حدیث کښې د سزا یو بل قسم هم ذکر دې چه په قبر کښې به دغه سړې په دې خبره باندې مکلف کړې شي چه په زور قبضه کړې شوې زمکه کنستل شروع کړي او ترقیامته پورې به ئې کني

[٢٩٦٠] د قیامت په ورځ د زمکې غصب کولو سزا

٢٩٦٠—[٣٣] (١)[١] وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "[٢] «أَيُّمَا رَجُلٍ ظَلَمَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ [٣] كَلَّفَهُ اللهُ - عَزَّ وَجَلَّ - أَنْ يَحْفِرَهُ حَتَّى يَبْلُغَ آخِرَ سَبْعِ أَرَضِينَ، [٤] ثُمَّ يُطَوَّقَهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] او حضرت یعلی ابن مره ﷺ وایې چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل [٢] چې کوم سړې د چا یوه لیشت برابر زمکه هم په ظلم زور واخلې [٣] هغه به «د هغه په قبر کې» الله ﷻ په دې خبره مجبوره کړې چې هغه هغه زمکه د اوومې طبقې تر زمکې پوره کیندې، [٤] بیا به هغه زمکه د هغه په څټ کې طوق جوړولو سره واچول شې، او هغه به تر قیامته په دې حال کې وې. د دې پورې چې «د قیامت په ورځ» د خلقو حساب کتاب اوشې. «احمد»

حل اللغات: - ① شِبْرًا: لویشت، ② أَنْ يَحْفِرَهُ: چه اونې کنې، اوکنی دا «زمکه»

تسهیلات:

قوله: حَتَّى يَبْلُغَ آخِرَ سَبْعِ أَرَضِينَ:

غاصب ته د سزا په طور د اوومې زمکې پورې د کنستلو حکم: - په زیربحث حدیث کښې دغه شان دَسزا بیان دې چه غاصب به دَ غصب کړې شوې زمکې دَ اوومې زمکې پورې په کنستلو باندې مجبورولې شي او دَ کنستلونه پس به هغه زمکه دَغاصب په غاړه کښې لکه دَ طوق اچولې شي معلومه شوه چه غصب کونکی ته به په قیامت کښې مختلف قسم سزاګانې ورکولې شي

١) اخرجه احمد في المسند: ٤/ ١٧٣

Maktaba Tul Ishaat.com

[١١]بَابُ الشُّفْعَةِ]

دَشفعه بيان

خلاصة الباب: -

فيه عشرة أحاديث مشتملة على خمس مسائل:

① ما فيه شفعة وما ليس فيه: ١، ٢، ٣، ٧، ٨، ١٠.

② حق الجوار: ٤.

③ كيفية رفع الاختلاف في بعض المنافع المشتركة أي الطريق: ٥.

④ الترغيب في شراء العقار: ٦.

⑤ الزجر بقطع بعض المنافع: ٩.

د شفعه لغوي معنی: - شفعه په لغت کښې ملاوولو او جفت جوړولو ته وائی

دشفعې اصطلاحي تعریف: - په اصطلاح دَ فقه کښې دَ ګاونډ او شراکت په بنیاد دَ بل زمکه یا مکان خپلې زمکې یا مکان سره ملاوولو حق ته شفعه وائی. کوم سړی ته چه دا حق حاصل وی هغه ته شفیع وائی او دَ دغه حق نوم شفعه ده.

په غیر منقوله څیزونو کښې د شفعې په حق کښې مذاهب: -

① دَبعضې عالمانو په نیز په منقوله څیزونو کښې هم دَ شفعه حق حاصل دې

② دَ احنافو شوافع او جمهورعلماؤ په دې باندې اتفاق دې چه دَ شفعه حق صرف په غیرمنقوله څیزونو کښې دې په منقوله څیزونو کښې دَ شفعه حق نشته دې.

داول فریق دلیل: - دې حضراتو راتلونکې دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَ روایت نه استدلال کړې دې په کوم کښې چه داالفاظ راغلی دی "الشفعة في كل شيئ"

داول فریق د دلیل ځخه جواب: - دویم فریق دَدې هم دغه جواب ورکوی چه دا کل حقیقی افرادی نه دی بلکه کل مجموعی اضافی دی دَ کوم نه مراد چه غیرمنقوله څیزونه زمکه وغیره دی

د دویم فریق دلیل: - هغه ټول احادیث د د ویم فریق مستدلالت دی په کومو کښې چه دار عقار او حائط په شان الفاظ راغلی دی چه غیرمنقول څیزونه دی بلکه په بعض روایاتوکښې دَدغه څیزونه علاوه نورڅیزونه دَنفی موجود دی لکه ((لاشفعة الا في دار اوعقار)) د دې ځخه ښکاره ثابته ده چې شفعه صرف په غیر منقول څیزونو کښې ده.

د شفیع درې اقسام:- دَ احناف په نیز دَ شفیع درې درجې دی یعنی درې قسم خلقوته دَ شفعه حق ملاویږی

① شریك فی نفس المبیع ته دَ شفعه حق حاصل دې یعنی خرڅه شوې زمکه یا مکان کښې چه دواړه شریك وی

② شریك فی مرافق المبیع ته دَ شفعه حق حاصل دې یعنی خرڅېدونکې زمکه اومکان کښې خوشریك نه وی لیکن دَزمکې اومکان لاره اوبه وغیره حقوق اومنافع کښې دواړه شریك وی

③ دریم حق الجار دې چه دَ ګاونډ دَ وجې نه ورته دَ شفعه حق حاصل دې

د شفعې ترتیب:- په دې دریو درجوکښې دَ شفعه ترتیب دادې چه دَ ټولونه اول دَ شفعه حق نفس مبیع کښې شریك ته ملاویږی که چرې هغه شفعه اونه کړی نو بیا منافع مبیع کښې چه څوك شریك دې هغه ته دَ شفعه حق ملاویږی اوکه هغه هم لاس واخلی نوبیا به ګاونډی ته دَ شفعه حق ملاویږی.

د دریم قسم شفیع دپاره په حق الشفعه کښې مذاهب:-

① دَ امام مالك رحمه الله امام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیزحق شفعه صرف شریك فی نفس المبیع ته وی ګاونډی ته داحق حاصل نه دې.

② احناف ګاونډی ته دَ شفعه دَحق ورکولو قائل دی جمهوردَدې نه انکارکوی

داول فریق دلیل:- دَ حضرت جابر رضی الله عنه روایت د اول فریق چې جمهور دی د دوی مستدل دی په هغې کښې دی کله چه شراکت ختم شی مشترك څیز تقسیم شی لارې جدا جدا شی نوبیا شفعه نشته دې یعنی دګاونډ هیڅ اعتبارنشته دې دَملکیت اعتباردې

اول فریق د دلیل ځخه جواب:- په دې حدیث کښې په حق الجار کښې دَ شفعه نفی نه ده مطلب دادې چه دَتقسیم نه پس نفس المبیع کښې دَ شفعه حق ختمیږی دَحق الجاردَ شفعه دَحق نفی نه ده یعنی محدود نفی ده عام نفی نه ده وړاندې حدیث اولولئی اوګورئی

د دویم فریق دلائل:- ① حضرت جابر رضی الله عنه حدیث نمبر(٢٩٦٧) د دویم فریق مستدل دې

② په ترمذی شریف کښې یوحدیث دې جارالدار احق بالدار (ج١ ص ٢٥٣).

داسې نور واضحه احادیث دی. د کومو په وجه چې دَ جمهورو دَپاره ګنجائش نشته دې چې هغه پرېږدی.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٢٩٩] د شفعه استحقاق صرف په زمکه کښې

٢٩٩ـ[١] (١) ① عَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «قَضَى النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِالشُّفْعَةِ فِي كُلِّ مَا لَمْ يُقْسَمْ، ③ فَإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُودُ وَصُرِفَتِ الطُّرُقُ فَلَا شُفْعَةَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت جابر ﷺ وايي ② چې رسول الله ﷺ په هر هغه (غير منقول) شي کې د حق شفعه ثابت کيدو فيصله کړيده، کوم چې په شراکت کې وي، او د شرکاء په منځ کې تقسيم شوی نه وي هر ③ کله چې حدود مقرر شي (يعني د مشترك ملکيت زمکي يا مکان په خپلو کې تقسيم اوشي او (د هري حصي) لاري جدا جدا کړل شي، نو بيا شفعه باقي نه پاتې کيږي (يعني په دې صورت کې شرکت باقي نه پاتې کيږي ځکه چې چاته به هم حق شفعه حاصل نه وي) بخاري.

حل اللغات: ① صُرِفَتْ: جدا جدا شي. ② الطُّرُقُ: لاري.

تسهيلات: قوله: فَلَا شُفْعَةَ:

حديث نه د جمهورو د مذهب تائيد: - يعني مثلاً دَ يو زمکه يا مکان ډيرمالکان وی نودَ دغه شريکوالو نه يوشريك خپله حصه خرڅول غواړی نو نورو شريکوالوته به دَ شفعه حق ترهغه وخته پورې حاصل وی ترکومې چه دا مشترکه زمکه تقسيم شوې نه وی کله چه ددې تقسيم اوشو اوحدود اولارې مقرر شوې نواوس به دَ دغه شريکوالوته دَشفعه حق حاصل نه وی معلومه شوه چه دَ ګاونډيتوب اعتبار نشته دې دغه شان دا حديث دَ جمهورو دليل دې احنافو دَدې جواب ورکړې دې کوم چه ليکلې شوې دې.

[٢٩٩] په مشترکه زمکه کښې د شفعې ثبوت

٢٩٩ـ[٢] (٢) ① وَعَنْهُ قَالَ: ② «قَضَى رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِالشُّفْعَةِ فِي كُلِّ شِرْكَةٍ لَمْ تُقْسَمْ: ③ رَبْعَةٍ أَوْ حَائِطٍ: " ④ لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَبِيعَ حَتَّى يُؤْذِنَ شَرِيكَهُ، إِنْ شَاءَ أَخَذَ، وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ، ⑤ فَإِذَا بَاعَ وَلَمْ يُؤْذِنْهُ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جابر ﷺ وايي ② چې رسول الله ﷺ دا حکم وکړي چې په هر داسې مشترکه زمکه کې شفعه ثابت ده چې تقسيم شوی نه وي، ③ که هغه کور وي يا باغ وي، ④ او د داسې مشترکې زمکې هيڅ شريك ته خپله حصه خرڅول حلال نه دي د څو پورې چې

١) اخرجه البخارى فى كتاب البيوع/باب بيع الشريک من شريکه (رقم-٢٢١٣) اخرجه ابو داود فى السنن أبواب الإجارة/باب فى الشفعة (رقم-٣٥١٤) والترمذى فى كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء إذا حدت الحدود ووقعت السهام فلا شفعة (رقم-١٣٧٠) وابن ماجه فى كتاب الشفعة/باب إذا وقعت الحدود فلا شفعة (رقم-٢٤٩٩)واحمد فى المسند: ٢٨٣٩٩

٢) اخرجه مسلم فى كتاب المساقاة/باب الشفعة (رقم-١٣٤ - (١٦٠٨)

هغه خپل دویم شریك خبر نه کړي (د اطلاع ورکولو څخه وروسته) هغه دویم شریك که غواړي نو هغه حصه واخلي که یې پرېږدي (یعني یو دویم ته د خرڅولو اجازت ورکړي)⑤ او که یو شریك خپل دویم شریك ته د اطلاع ورکولو بغیر خپله حصه خرڅه کړی نو هغه دویم شریک (د دې خبرې) حقدار دی (چې هغه، هغه خرڅه شوي حصه واخلي) مسلم

حل اللغات:- ①رَبْعَةٍ: زمکه، کور. ②حَائِطٍ: باغ.

تسهیلات: قوله: رَبْعَةٍ أَوْ حَائِطٍ:

دواړه الفاظ شرکة نه بدل دی په دې وجه مجرور دی یا دَمبتداء محذوف خبر دې ای هی ربعة الخ

قوله: يُؤْذِنَ:

دایذان څخه مراد:- دَ ایذان نه دې دَ اطلاع اواعلان په معنی کښې دې یعنی چه یوملګري خپله حصه خرڅول غواړي نوهغه له پکاردی چه خپل شریك ملګری ته دَخرڅولو خبرورکړی که اطلاع ئې اونه کړه نودَهغه شریك دَ شفعه حق لري

د حق الشفعه د سقوط وخت:- اوکه دَ اطلاع په وخت ملګری دَ فوری شفعه دعوی اونه کړه یاانکارئې اوکړو نوحق شفعه به ساقط شی دَ حکومت پاکستان په قانون کښې شپږ میاشتې مهلت دې بیادَ شفعه حق نه پاتې کیږی.

په غیرمنقوله څیزونوکښې د شفعې عدم جواز:- دَدې حدیث نه داخبره هم معلومه شوه چه په منقوله څیزونوکښې شفعه نه کیږی اوپه غیرمنقوله زمکواومکاناتو کښې کیږی

[٢٩١٣] ګاوندی دپاره دَشفعه استحقاق

٢٩١٣-[٣] (١)①وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "②«الْجَارُ أَحَقُّ بِسَقَبِهِ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت ابو رافع ﷺ وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل② ګاونډي د خپل نزدې کیدو په وجه زیات حقدار دي، (بخاري)

حل اللغات:- ①الْجَارُ: ګاونډی، ②سَقَبِهِ: نزدې، قریب.

تسهیلات: قوله: الْجَارُ أَحَقُّ بِسَقَبِهِ:

د حدیث مفهوم:- دَحدیث مطلب دادې چه ګاونډی دَ شفعه زیات حق لري دَ ګاونډی نه مراد هغه ګاونډی دې چه دَتولو نه زیات نیزدې وی داحدیث په صراحت سره بنائی چه دَ ګاونډی توب دَ وجې نه هم دَ شفعه حق حاصل دې اوهم دغه دَ احناف مسلك دې او دا حدیث هم دَ احنافو دلیل دې

---

١) اخرجه البخاري في كتاب الشفعة/باب عرض الشفعة على صاحبها قبل البيع (رقم-٢٢٥٨)

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٩٠٣] دګاونډي په ديوال باندې د تير کيخودو حکم

٢٩٠٣ —[-] (١) ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "② «لَا يَمْنَعْ جَارٌ جَارَهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَةً فِي جِدَارِهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هيڅ ګاونډي دې خپل دويم ګاونډي په خپل ديوار کې د لرګي (ميخ وغيره) ښخولو څخه نه منع کوي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① يَغْرِزَ: چه اوتومبي، ښخ کړي، ② خَشَبَةً: لرګي، ميخ

تسهيلات: قوله: لَا يَمْنَعْ جَارٌ جَارَهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَةً فِي جِدَارِهِ:

د بل په ديوال د تير کيخودو شرعي حيثيت: - بعض مکانات کښې يو ديوال سره د دوو ګاونډيانو کورونه وي. کله د مينځ ديوال په دواړو کښې مشترك وي او کله د يو ګاونډي ملکيت وي په دې صورت کښې که دويم ګاونډي په دې باندې د خپل چت لرګي کيخودل غواړي نو په دې حديث کښې حکم دې چه د دغه ديوال مالك دې منع نه کړي. علماؤ ليکلي دي چه دا حکم هغه وخت دې کله چه ديوال وغيره ته نقصان نه رسيږي که چرې نقصان رسيږي نو بيا ئې منع کولې شي.

دبل چا په ديوال د تيرکيخودو په حکم کښې مذاهب: -

① د فقهاء کرامو نه امام احمدبن حنبل رحمه الله او عام محدثين فرمائي چه د حديث دا حکم د وجوب د پاره دې چه منع کول منع دي.

② امام ابوحنيفه رحمه الله امام شافعي رحمه الله

③ امام مالك رحمه الله فرمائي چه دا حکم د استحباب په توګه دې.

[٢٩٠٥] په محلوکښې د لاروکوڅو دپاره هدايات

٢٩٠٥ —[د] (٢) ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "② «إِذَا اخْتَلَفْتُمْ فِي الطَّرِيقِ جُعِلَ

---

١) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب: لا يمنع جار جاره أن يغرز خشبه في جداره (رقم-٢٤٦٣)ومسلم في كتاب المساقاة/باب غرز الخشب في جدار الجار (رقم-١٣٦ - (١٦٠٩))اخرجه ابو داود في السنن أبواب الإجارة/باب في الرجل يأخذ حقه من تحت يده (رقم-٣٥٣٤) والترمذي في كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الرجل يضع على حائط جاره خشبا (رقم-١٣٥٣) وابن ماجه في كتاب الأحكام/ باب الرجل يضع خشبة على جدار جاره (رقم-٢٣٣٥) ومالك في الموطا كتاب الاقضية/باب القضاء في المرفق (رقم-٣٢) واحمد في المسند: ٢/ ٤٦٣

٢) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب إذا اختلفوا في الطريق الميتاء: وهي الرحبة تكون بين الطريق، ثم يريد أهلها البنيان، فترك منها الطريق سبعة أذرع (رقم-٢٤٧٣)ومسلم في كتاب المساقاة/باب قدر الطريق إذا اختلفوا فيه (رقم-١٤٣ - (١٦١٣))اخرجه ابو داود في السنن كتاب الأقضية/باب من القضاء (رقم-٣٦٣٣) والترمذي في كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الطريق إذا اختلف فيه كم يجعل؟ (رقم-١٣٥٦) وابن ماجه في كتاب الأحكام/باب إذا تشاجروا في قدر الطريق (رقم-٢٣٣٨)

عَرْضُهُ سَبْعَةُ أَذْرُعٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] هر كله چې د لارې په باره كې په تاسو كې اختلاف پيداشي، نو د هغه پلنوالي اووه لاسه مقرر كړي (يعنى درى نيم گزه) مسلم

تسهيلات:

قوله: إِذَا اخْتَلَفْتُمْ:

د ښارونو نقشې او د بلدياتي ضابطو دپاره بنياد:-مطلب داچه كه په يوه محله كښې يا خالي علاقه كښې دَ تعميراتو سلسله شروع شي نو په مينځ كښې لاره اوسړك پريخودو دَپاره په خپل مينځ كښې مشوره او اتحادكولوسره لارپريخودل پكاردي. خوكه دَ خلقو په خپل مينځ كښې په مشوره كښې اختلاف پيداشي نو بيابه د ضابطې لاتدې هم هغه حكم نافذ كولې شى كوم چه په دې حديث كښې دې اوهغه حكم دادې چه اووه ذراع لار پريخودل پكاردي. شرعى ذراع دَ يولاس برابر دې چه دَ ښنگلې نه دَ گوتوپورې دې شرعى ذراع دَ يوفټ نه لږشان زيات وى.

د پي ډي اې د قوانينو جواز:-دَاحديث نه دَښارونو نقشې اودَ بلدياتى ضابطودَپاره بنياد فراهم كوى. دَ اووه ذراع حديوه ضابطه ده دَدې مطلب دانه دې چه كه لاره دَدې نه زياته وى نوچه څوك راشى دا قبضه كړى داسې قبضه كول جائزنه دى

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٩٦٦] دبې ضرورته كور جورولو ممانعت

٢٩٦٦-[٦] (١) [١] وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ حُرَيْثٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " [٢] «مَنْ بَاعَ مِنْكُمْ دَارًا أَوْ عَقَارًا [٣] قَمِنٌ أَنْ لَا يُبَارَكُ لَهُ إِلَّا أَنْ يَجْعَلَهُ فِي مِثْلِهِ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت سعيد ابن حُريث رضي الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي [٢] چې په تاسو كې كوم سرى خپل مكان يا زمكه خرڅوي [٣] نو لايق دى چې د هغه په قيمت كې بركت نه وي خو دا چې هغه دا (قيمت) د دې په شان د جائيداد په خريدارى كې صرف كړي، (ابن ماجه دارمي)

حل اللغات:- ① عَقَارًا: زمكه، ② قَمِنٌ: لائق ، مناسب دى،

١) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الرهون/باب من باع عقارا ولم يجعل ثمنه في مثله (رقم-٢٤٩٠) وابن ماجه في ٣٠٧/٤

Maktaba Tul Ishaat.com

تسهيلات: قوله أمن:

د زمكې او كور پيسه هم په زمكه او كور لگول: - دحديث مفهوم - دَحديث مطلب دادې چه كه يوسړې خپله زمكه يا كورخرڅه وي نوهغه له پكاردى چه په دغه قيمت باندې نوره زمكه يا بل كور واخلى څكه چه كه ده دا رقم په منقوله څيزونو كښې خرچ كړو نودَ ضائع كيدوخطره اوامكان دې او لائق دى چه هلاك شى څكه چه منقوله څيزونه زر ضائع كيږى په خلاف دَ غيرمنقوله جائيداد چه په دې كښې دَ هلاكت زيات امكان نه وى دَ تجربه نه ثابته ده چه كوموخلقو زمكه يا كورخرڅ كړې دې نودَهغه نه هغه پيسې هم تلى دى الاان يشاءالله مطلب دا كه چرې په دغه قيمت اورقم باندې څه مكان واخستو يانى زمكه واخسته نوبيا په دغه بچ كيدو كښې مضائقه نشته دې.

[٢٩٦٧] **گاوندى ته د شفعه د حق حصول**

٢٩٦٧—[٧] (١) ①وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "②«الْجَارُ أَحَقُّ بِشُفْعَتِهِ، يُنْتَظَرُ بِهَا وَإِنْ كَانَ غَائِبًا③ إِذَا كَانَ طَرِيقُهُمَا وَاحِدًا» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت جابر ﷺ وايې چې رسول الله ﷺ وفرمايل② گاونډي د خپلې شفعې زيات حقدار دى كه هغه موجود نه وي نو د هغه د شفعي په وجه دي د هغه انتظار اوشي (او گاونډي د شفعي په هغه صورت كې حقدار دى)③ هر كله چې د دوارو لاريوه وي. (احمد ترمذي ابوداود ابن ماجه)

تسهيلات: -

قوله الْجَارُ أَحَقُّ بِشُفْعَتِهِ

دامام ابو حنيفه مستدل: - دا حديث هم د امام ابو حنيفه رحمه الله مستدل دې چه گاونډى ته د شفعې حق حاصل دې.

[٢٩٦٨] **په هر څيز كښې د شفعې استحقاق**

٢٩٦٨—[٨] (٢) ①وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "②«الشَّرِيكُ شَفِيعٌ③ وَالشُّفْعَةُ فِي كُلِّ شَيْءٍ» "④ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ قَالَ:

١) اخرجه ابو داود فى السنن أبواب الإجارة/باب فى الشفعة (رقم-٣٥١٨) والترمذى فى كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الشفعة للغائب (رقم-١٣٦٩) وابن ماجه فى كتاب الشفعة/باب الشفعة بالجوار (رقم-٢٤٩٤) واحمد فى المسند: ٣٠٣/٣

٢) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن الشريك شفيع (رقم-١٣٧١)

ترجمه: [١] او حضرت ابن عباس ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] کوم سرى چې په خرڅيدونکى جائيداد کې شريك وي د شفعي حق لري. [٣] او د شفعي تعلق د هر هغه شي سره دى (چې غير منقوله جائيداد وي لکه زمکه او باغ وغيره) [٤] دا روايت امام ترمذي رحمه الله نقل کړي دى او ويلي يې دي

٢٩٦٩ـ(١)[٥] وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُرْسَلًا، وَهُوَ أَصَحُّ.

ترجمه: [٥] چې دا حديث حضرت ابن ابي مليکه رحمه الله هم د رسول الله ﷺ څخه بطريق ارسال نقل کړي دى او دا زيات صحيح دى

تسهيلات: **قوله**: فِي كُلِّ شَيْءٍ:

د مذکوره جملې مطلب:- دې نه مراد هرهغه څيزدې کوم چه منقولى نه وى بلکه غيرمنقولى وى لکه زمکه اوکورچه وى.

[٢٩٧٠] د بيرۍ ونې د پرې کولو وعيد

٢٩٧٠ـ[٥] (٢)[١] عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُبْشِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [٢] «مَنْ قَطَعَ سِدْرَةً صَوَّبَ اللَّهُ رَأْسَهُ فِي النَّارِ» "[٣]. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ: " هَذَا الْحَدِيثُ مُخْتَصَرٌ [٤] يَعْنِي: «مَنْ قَطَعَ سِدْرَةً فِي فَلَاةٍ يَسْتَظِلُّ بِهَا ابْنُ السَّبِيلِ وَالْبَهَائِمُ غَشْمًا وَظُلْمًا بِغَيْرِ حَقٍّ يَكُونُ لَهُ فِيهَا; صَوَّبَ اللَّهُ رَأْسَهُ فِي النَّارِ» ".

ترجمه: [١] او حضرت عبد الله ابن حبيش ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] کوم سرى چې د ويرۍ ونه وهي الله ﷻ به هغه پرمخې په دوزخ کې وغورځوي. [٣] امام ابوداود رحمه الله دا روايت نقل کړي دى او ويلي يې دي چې دا حديث مختصر دى [٤] د دې پوره مفهوم دادى چې کوم سرى په ځنګل کې د بيرۍ داسې ونه چې د هغه په سوري کې مسافر او حيوان پناه حاصلوي د زور ظلم له مخه او بغير د حق څخه وهي نو الله ﷻ به هغه پرمخې په دوزخ کې واچوي

حل اللغات:- ① سِدْرَةً: د بيرۍ ونه، ② صَوَّبَ: أَلْتَه، اړولې به نې اوغورزوى، ③ فَلَاةٍ: شاړه، ځنګل، ④ غَشْمًا: په زبردستئ، په ظلم،

تسهيلات: **قوله**: مَنْ قَطَعَ سِدْرَةً:

د بيرۍ د ونې په کټ کولو د سخت وعيد وجوهات:- ① په صحرا کښې د دغه بيرۍ په پرې کولو باندې وعيد دې چه کومه ډيره بنګلې سورى والاوى د دې په سورى کښې انسان او ځناور آرام کوى اوچه څوك ظالم راشى بغير د څه فائدې په ظالمانه توګه باندې هغه پرې کړى د هغه سرى د پاره وعيد دې

---

١) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن الشريك شفيع (رقم-١٣٧١)
٢) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الأدب/باب في قطع السدر (رقم-٥٢٣٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

② دې نه مراد دَمکې مکرمې دَ بيرې ونه ده په وجه دَ حرم دَدې په پرې کولوباندې وعيد دې بيره په دې وجه خاص کړې شوې ده چه دَدې سورې زيات هم وی او يخ هم وی گنی دَ حرم دَهرې ونې دَ پرې کولوهم دغه حکم دې
③ دې نه دَمدينې منورې بنانسه دَ سوری والاونه مراد ده چه دَ مدينې دَ پاره به دَ بنانست سبب وو دَهغې دَ پرې کولوباره کښې فرمانيلې دی يا دَدې نه دَ بيرې هغه ونه مراد ده چه دَ چا په ذاتی ملکيت کښې وی او يوسړې راشی اوخالص دَ ظلم په بنيادباندې دَ طاقت په زور پرې کړی يوسی دَ دغه سړی دپاره دا وعيد دې دَ ابوداؤد په تشريح کښې هم دَ غشمًا لفظ دې کوم چه دَ ظلم په معنی کښې دې دَ کوم تفسيرچه وظلمًا سره کړې دې چه يا عطف تفسيردې يا تاکيددې او بغيردَ حق نه مراد بغيرنفع ده يعنی نه دغه سړی ته دَ شفعه حق حاصل دې اونه دَهغه په پرې کولوکښې څه نفع شته دا دَ نور تقبيح دپاره دې چه بغيرفاندې هيڅ بې هيڅه دغه ونه پرې کړه بغيردَ حق نه په دې لفظ سره دَدې حديث مناسبت باب شفعه سره واضح کيږی چه په دغه ونه کښې دَدې سړی هيڅ حق نشته نه حق شفعه حاصل دې اونه څه بل څه فائده ده بل دا سړې خپل حق دَ بل سړی حق سره دَ ظلم په توگه ملاووی اودَ شفعه په تعريف کښې هم تملك البقعة جبرًا الفاظ موجوددی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٩٧]په ناقابل تقسيم څيزونوکښې عدم شفعه

٢٩٦٣ - [١٠] (١) ①عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ②«إِذَا وَقَعَتِ الْحُدُودُ فِي الْأَرْضِ فَلَا شُفْعَةَ فِيهَا③ وَلَا شُفْعَةَ فِي بِئْرٍ وَلَا فَحْلِ النَّخْلِ». رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ①حضرت عثمان ابن عفان ﷺ فرمايي ②هر کله چې په زمکه کې حدونه قائم شي (يعني مشترکه زمکه په شرکاء کې په خپلو کې تقسيم شي او د هر يوه حصه جدا جدا شي) نو (د شرکت) شفعه باقي نه پاتې کېږي، ③او نه په کوهی کې د شفعي حق حاصلېږي او نه د نر کجورو په ونه کې، (مالك)

حل اللغات: - ①فَحْل: نر. ②النَّخْل: کجوره

تسهيلات: **قوله**: فِي بِئْرٍ:

په کوهی کښې د شفعي په حکم کښې مذاهب: -
① شوافع فرمانی چه په کوهی کښې شفعه ځکه نشته چه دا قابل تقسيم نه دې. شفعه په قابل تقسيم څيزونوکښې کيږی

[1]) اخرجه مالک في الموطا رقم الحديث ۴ من کتاب الشفعة

② دَاحنافو په نیزشفعه په هرغیرمنقوله څیزکښې ده که هغه قابل تقسیم وی لکه زمکه کورونه اوباغونه چه دی یاکه هغه قابل تقسیم نه وی لکه میچن، حمام اوکوهې شوافع دَزیربحث حدیث نه استدلال کړې دې اواحنافودَالشفعة فی کل شئ نه استدلال کړې دې

قوله: وَلَافَحْلِ النَّخْلِ:

د ولا فحل النحل مطلب او مفهوم:-دَدې لفظ ترجمه داده چه دَ کهجور په نر ونه او مذکرکښې شفعه نشته دې مطلب دادې چه څه خلقو ته په میراث کښې دَ کهجورو باغ وغیره ورغلو په هغې کښې یوه ونه دَ نرکهجورې هم وه دکومې نه چه به خلقو ګلونه اوړل او په خپلو ونوکښې به ئی پیوندلګولو بیا دغه ټولوخلقو دا باغ خپل مینځ کښې تقسیم کړو اونرکهجوره مشترکه پاتې شوه دکومې نه چه به خلقو ګلونه اوړل او خپلو ونوکښې به ئی اچول اوس یوسړی دَخپلو کهجورو ټولې ونې خرڅې کړې او دې سره سره ئی خپل داحق هم خرڅ کړو چه په نرکهجورکښې دَ شراکت په وجه وو نو په دې حق کښې دَ شریکوالونه دَ چا شفعه هم صحیح نه ده څکه چه دَ ونې داحق نه زمکه ده اونه قابل تقسیم څیزدې

[١٢]بَابُ الْمُسَاقَاةِ وَالْمُزَارَعَةِ

دَمزارعت بیان

خلاصة الباب:-

فیه تسعة أحادیث مشتملة علی ثلاث مسائل:

① جواز المساقات والمزارعة: ١، ٥، ٩.

② عدم جواز المزارعة: ٢، ٣، ٤، ٦، ٨.

③ کون التشاغل بالمزارعة ذلة: ٧.

د مساقات لغوی معنی:- مساقات دَ باب مفاعله مصدردې دَدې مجردسقی دې خروب کولوته وائی

دمساقات اصطلاحی تعریف:- په اصطلاح کښې مساقات دې ته وائی چه څوك سړې دَخپل باغ خصمانه کولو دَپاره څوك دَ دغه باغ دَمجموعی میوو څلورمه یا دریمه حصه ورکوی

د مزارعت تعریف:- اوهم دغه شان خپله زمکه چاته په زمیندارئی باندې ورکولونوم مزارعت دې

په مزارعت او مساقات کښې فرق:- مساقات او مزارعت یوڅیزدې دَ دواړو فقهی حکم تقریبًا هم یودې فرق صرف دومره دې چه دَ مساقات معامله په باغونوکښې وی او دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

مزارعت معامله په پټو کښې وی مزارعت په پنځه قسمه باندې دې د دوو صورتونو په جوازباندې اتفاق دې اود دوو صورتونو په عدم جواز باندې اتفاق دې او په يو صورت کښې د فقهاؤ اختلاف دې

د مزارعت پنځه صورتونه:- ① رومبې صورت دادې که د مزارعت اجرت نقود يعنې نقدې روپئ وی نودا تفاقًا جائزدې.

② دويم صورت دادې چه په اجرت اومعاوضه کښې طعام مضمون وی يعنې د کور نه د غله ورکولو وعده وی نوداهم اتفاقًا جائز دې.

③ دريم صورت دادې که چرې ماخرج متعين نه اجرت مقرر کړې شی يعنې د پټې د پيداوار نه مثلاً پنځه منه په معاوضه کښې مقررشو نودا اتفاقًا ناجائزدې

④ څلورم صورت دادې چه که چرې په معاوضه کښې د مزارعت والا د زمکې متعين حصه مقرر کړې شی نودا صورت هم اتفاقًا ناجائزدې

⑤ پنځم صورت دادې چه که چرې اجرت ماخرج جزء مشاع وی يعنې د پيداوار دريمه يا څلورمه حصه مقرر کړې شوه نو په دې کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې.

د جزء مشاع په اجرت کښې مذاهب:-

① د امام ابوحنيفه رحمه الله امام شافعی رحمه الله اوامام مالک رحمه الله په نيزد مزارعت دا صورت هم ناجائزدې

② امام احمدبن حنبل رحمه الله امام ابويوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نيزد مزارعت داصورت جائز دې

داول فريق دلائل:- ① اول فريق د هغه ټولو رواياتونه استدلال کړې دې په کوم کښې چه په مزارعت باندې دزمکې ورکولوممانعت راغلې دې خصوصًا د حضرت رافع بن خديج رضی الله عنه د دوی مستدل دی الفاظ ئې دا دی عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «كُنَّا نُخَابِرُ وَلَا نَرَى بِذَلِكَ بَأْسًا حَتَّى زَعَمَ رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَهَى عَنْهَا فَتَرَكْنَاهَا مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ».(۱)

② اول فريق مزارعت په قفيزالطحان باندې هم قياس کوی چه هغه منع دې نومزارعت هم منع دې قفيزالطحان په ميچن کښې غله اوړه کولوباندې هم د دغه غلې نه اجرت ته وائی.

داول فريق د دلائلو هغه جوابونه:- ①په کوموروایاتو کښې چه مخابره او د مزارعت ممانعت ذکر دې د دغه ممانعت تعلق هغه صورتونوسره دې کوم صورتونه چه په اتفاق سره ناجائزدی يعنې پورته ذکرشوی دريم اوڅلورم صورت مراددې لکه څنګه چې د حنظله بن قيس عن رافع بن خديج روايت په دې دلالت کوی الفاظ دا دی عَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ:

---

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب البيوع/باب کراء الأرض (رقم-۱۰۶ - (۱۵٤۷) وابن ماجه فی کتاب الرهون/باب المزارعة بالثلث والربع (رقم-۲٤۵۰)

"«أَخْبَرَنِي عَمَّايَ أَنَّهُمْ كَانُوا يُكْرُونَ الْأَرْضَ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِمَا يَنْبُتُ عَلَى الْأَرْبِعَاءِ أَوْ شَيْءٍ يَسْتَثْنِيهِ صَاحِبُ الْأَرْضِ، فَنَهَانَا النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ ذَلِكَ فَقُلْتُ لِرَافِعٍ. فَكَيْفَ هِيَ بِالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ؟ فَقَالَ: لَيْسَ بِهَا بَأْسٌ، وَكَأَنَّ الَّذِي نُهِيَ عَنْ ذَلِكَ مَا لَوْ نَظَرَ فِيهِ ذَوُو الْفَهْمِ بِالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ لَمْ يُجِيزُوهُ لِمَا فِيهِ مِنَ الْمُخَاطَرَةِ»(١) ګورئ په دې کښې د دې واضح فرق موجود دې

② جمهور د مساقات د جواز قائل دی نو مزارعت هم د مساقات په شان دې

③ د اسلام په شروع کښې حضورپاك د مزارعت ممانعت خکه فرمائيلې وو چه انصارو د مروت او اخلاقو لاندې خپلې زمکې د مزارعت په ځائې د عطيه او منحه په توګه مهاجرينو ته ورکړې دې د پاره چه مهاجرين د انصارو دهقانان جوړشي او د هغوی حوصلې بښکته نه شي لهذا د دغه ممانعت تعلق حسن اخلاق او مروت سره دې په قانوني توګه ممانعت نه دې د ابن عباس رضی الله عنه روايت کښې د دې وضاحت موجود دې الفاظ ئې دا دی عَنْ عَمْرٍو قَالَ: قُلْتُ لِطَاوُسٍ، لَوْ تَرَكْتَ الْمُخَابَرَةَ فَإِنَّهُمْ يَزْعُمُونَ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَهَى عَنْهُ قَالَ أَيْ: عَمْرُو: إِنِّي أُعْطِيهِمْ وَأُعِينُهُمْ وَإِنَّ أَعْلَمَهُمْ أَخْبَرَنِي -يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ- "أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَمْ يَنْهَ عَنْهُ وَقَالَ: «إِنْ يَمْنَحْ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهِ خَرْجًا مَعْلُومًا»(٢)

دغه شان د جابر رضی الله عنه حديث په دې حقيقت باندې واضح دلالت کوی د حديث الفاظ دا دی عَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: «مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا أَوْ لِيَمْنَحْهَا أَخَاهُ فَإِنْ أَبَى فَلْيُمْسِكْ أَرْضَهُ»(٣)

د دويم فريق دلائل: - ① د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما حديث د دويم فريق دليل دې الفاظ ئې دا دی. عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «دَفَعَ إِلَى يَهُودِ خَيْبَرَ نَخْلَ خَيْبَرَ وَأَرْضَهَا عَلَى أَنْ يَعْتَمِلُوهَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ، وَلِرَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- شَطْرُ ثَمَرِهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِي رِوَايَةِ الْبُخَارِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «أَعْطَى خَيْبَرَ الْيَهُودَ أَنْ يَعْمَلُوهَا وَيَزْرَعُوهَا وَلَهُمْ شَطْرُ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا». (٤)

---

[1]) اخرجه البخاری فی كتاب الإجارة/باب كراء الأرض بالذهب والفضة (رقم -٢٣٤٦) واحمد فی المسند: ٤/١٤٢

[2]) اخرجه البخاری فی كتاب الإجارة/باب إذا لم يشترط السنين فی المزارعة (رقم-٢٣٣٠) ومسلم فی كتاب البيوع/باب الأرض تمنح (رقم-١٢٠ - (١٥٥٠) واخرجه ابو داود فی السنن كتاب البيوع/باب فی المزارعة (رقم-٣٣٨٩) والنسائی فی كتاب المزارعة/باب ذكر الأحاديث المختلفة فی النهی عن كراء الأرض بالثلث والربع. وإختلاف ألفاظ الناقلين للخبر (رقم-٣٨٧٣)واحمد فی المسند: ١/٢٣٤

[3]) اخرجه البخاری فی كتاب الإجارة/باب ما كان من أصحاب النبی صلى الله عليه وسلم يواسی بعضهم بعضا فی الزراعة والثمرة (رقم-٢٣٤٠) ومسلم فی كتاب البيوع/باب كراء الأرض (رقم-٨٩ - (١٥٣٦) والنسائی فی كتاب المزارعة/باب ذكر الأحاديث المختلفة فی النهی عن كراء الأرض بالثلث والربع. وإختلاف ألفاظ الناقلين للخبر (رقم-٣٨٧٤) وابن ماجه فی كتاب الرهون/باب المزارعة بالثلث والربع (رقم-٢٤٥١) واحمد فی المسند: ٣/٣٧٣

[4]) اخرجه البخاری فی كتاب الإجارة/باب إذا استأجر أرضا. فمات أحدهما (رقم-٢٢٨٥) ومسلم فی كتاب المساقاة/باب المساقاة. والمعاملة بجزء من الثمر والزرع (رقم-٥ - (١٥٥١) اخرجه ابو داود فی السنن كتاب البيوع/باب فی المساقاة (رقم-٣٤٠٩) والترمذی فی كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما ذكر فی المزارعة (رقم-١٣٨٣) وابن ماجه فی كتاب الرهون/باب معاملة النخيل والكرم (رقم-٢٤٦٧)واحمد فی المسند: ٢/١٧

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې تفصيل دا دې چې حضورپاك چه د خيبريهودوسره كومه معامله كړې وه هغه د مزارعت معامله وه هم دغه وجه ده چه مزارعت ته مخابره هم وائي د كوم ماده چه خيبر ده

② د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما حديث هم د دويم فريق مستدل دې الفاظ ئې دا دي عَنْ عَمْرٍو قَالَ: قُلْتُ لِطَاوُسٍ: لَوْ تَرَكْتَ الْمُخَابَرَةَ فَإِنَّهُمْ يَزْعُمُونَ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَهَى عَنْهُ قَالَ أَيْ عَمْرُو: إِنِّي أُعْطِيهِمْ وَأُعِينُهُمْ وَإِنَّ أَعْلَمَهُمْ أَخْبَرَنِي -يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ- "أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَمْ يَنْهَ عَنْهُ وَقَالَ: «إِنْ يَمْنَحْ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهِ خَرْجًا مَعْلُومًا»(١) دا فريق مستدل دي چه د مزارعت په جواز باندې قطعي دليل دې.

③ د حضرت قيس بن مسلم رحمه الله حديث هم د دويم فريق مستدل دې الفاظ ئې دا دي عَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ قَالَ: مَا بِالْمَدِينَةِ أَهْلُ بَيْتِ هِجْرَةٍ إِلَّا يَزْرَعُونَ عَلَى الثُّلُثِ وَالرُّبُعِ، وَزَارَعَ عَلِيٌّ وَسَعْدُ بْنُ مَالِكٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ وَعُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، وَالْقَاسِمُ، وَعُرْوَةُ، وَآلُ أَبِي بَكْرٍ، وَآلُ عُمَرَ، وَآلُ عَلِيٍّ، وَابْنُ سِيرِينَ.(٢)

④ د امام بخاری رحمه الله تعليقات هم د اول فريق مستدل دی الفاظ ئې دا دی. قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الأَسْوَدِ: كُنْتُ أُشَارِكُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ يَزِيدَ فِي الزَّرْعِ، وَعَامَلَ عُمَرُ النَّاسَ عَلَى: إِنْ جَاءَ عُمَرُ بِالْبَذْرِ مِنْ عِنْدِهِ فَلَهُ الشَّطْرُ، وَإِنْ جَاءُوا بِالْبَذْرِ فَلَهُمْ.(٣)

⑤ ددويم فريق قياسي دليل هم شته هغه دا چې دوی د مزارعت دا معامله په مضاربت باندې هم قياس كړې ده چه په مضاربت كښې هم مال د يوسړی وی اومحنت د بل سړی وی شريعت د خلقو د مجبورئی د وجې نه دا جائزګرځولې ده لهذا په مزارعت كښې هم دخلقو مجبوری نظرانداز كولې نه شی.

⑥ امت سلفًا خلفًا د مزارعت معامله قبول كړې ده داهم د جوازيوقسم دليل دې. ځكه چه "مارأه المؤمنون حسنًا فهوعندالله حسن"

مفتی به مذهب: - بهرحال د دلائلوپه اعتبارسره د اول فريق دلائل مضبوط دی. ليكن دامت د ضرورت د وجې فتوی د صاحبينو اوامام احمد رحمه الله په قول ده اوس د جمهورو ددلائلوجواب اوهغه په صحيح محمل باندې حمل كول باقی دی.

اعتراض: - فقه حنفی كښې مذكوردی چه د مزارعت معامله د صاحبينو په نيزجائزده اود امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزناجائز ده. كه چرې حقيقت هم دغه دې نوبيا د فقه په كتابونوكښې فقهی جزئيات كښې ولې ليكلې كيږی چه د امام صاحب په نيزد مزارعت

(١) اخرجه البخاری فی كتاب الإجارة/باب إذا لم يشترط السنين فی المزارعة (رقم-٢٣٣٠) ومسلم فی كتاب البيوع/باب الأرض تمنح (رقم-١٢٠ - (١٥٥٠) واخرجه ابو داود فی السنن كتاب البيوع/باب فی المزارعة (رقم-٣٣٨٩) والنسائی فی كتاب المزارعة/باب ذكر الأحاديث المختلفة فی النهی عن كراء الأرض بالثلث والربع. وإختلاف ألفاظ الناقلين للخبر (رقم-٣٨٧٣)واحمد فی المسند: ٢٣٤/١

(٢) اخرجه البخاری فی كتاب الإجارة/باب المزارعة بالشطر ونحوه

(٣) اخرجه البخاری فی كتاب الإجارة/باب المزارعة بالشطر ونحوه

فلانکې مسئله داسې ده اوفلانکې داسې نه ده کله چه دَ امام صاحب په نيز په اصولی توګه مزارعت ناجائزدې نوبيا دَ دغه فقهی تفصيلاتو څه ضرورت دې؟

جواب:- علامه حاوی مقدسی رحمه الله ليکلی دی چه دَامام صاحب په نيز مزارعت بالکل منع نه دې بلکه جائزمع الکراهة دې "وکرهها ابوحنيفة ولم ينه عنه اشد النهی" لهذا امام صاحب دَ نفس جواز دَوجې نه دَ مزارعت جزئيات بيان کړی دی خلاصه داده چه دَامام صاحب په نيز مزارعت جائزمع الکراهة دې اودَ صاحبينو په نيز مطلقًا جائزدې فتویٰ دَ صاحبينو په نيز ده

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[٢٩٧٢] دَخيبردَمعاملې دَوجې نه دَمزارعت جواز

٢٩٧٢—[١] (١) [١] عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: [٢] أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «دَفَعَ إِلَى يَهُودِ خَيْبَرَ نَخْلَ خَيْبَرَ وَأَرْضَهَا [٣] عَلَى أَنْ يَعْتَمِلُوهَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ [٤] وَلِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَطْرُ ثَمَرِهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِي رِوَايَةِ الْبُخَارِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «أَعْطَى خَيْبَرَ الْيَهُودَ أَنْ يَعْمَلُوهَا وَيَزْرَعُوهَا وَلَهُمْ شَطْرُ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا».

ترجمه: [١] حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما وايي [٢] چې رسول الله ﷺ د خيبر د کجورو ونې او د هغه خاى زمکه په دې شرط د خيبر يهوديانو ته حواله کړه [٣] چې هغه به په دې کې خپل خان او مال لګوي [٤] او د هغه نيمه ميوه به د رسول الله ﷺ د پاره وي (مسلم) او د بخاري په روايت کې دا دی چې رسول الله ﷺ خيبر (يعني د هغه خاى وني او زمکه) په دې شرط يهوديانو ته حواله کړې وه چې په هغه کې محنت او کاشتکاري کوي او د هغه د پيداوار نيمه حصه به د يهوديانو حق وي او نيمه به حضور ﷺ اخلي

حل اللغات:- ① أَنْ يَعْتَمِلُوهَا: چه محنت اومشقت (زميندارى) به کوى په دې کښې، ② - شَطْرُ: نيمه حصه.

تسهيلات:

قوله: دَفَعَ إِلَى يَهُودِ خَيْبَرَ نَخْلَ خَيْبَرَ وَأَرْضَهَا:

د خيبر تعارف:- خيبردَ يوعلاقې نوم دې چه دَمدينې نه ٦٠ ميله شمال کښې واقع دې اول دا ځائی دَ مدينې دَ يهوديانو مرکزی مقام وو اوس يوځوکلی دی په کوم کښې چه زيات تر ديهودو جانشين شيعه رافضی اوسيږی دَ کهجورو دَ باغونودَپاره دا مشهوره علاقه ده

١) اخرجه البخاری فی کتاب الإجارة/باب إذا استأجر أرضا. فمات أحدهما (رقم-٢٢٨٥) ومسلم فی کتاب المساقاة/باب المساقاة، والمعاملة بجزء من الثمر والزرع (رقم-٥ - (١٥٥١) اخرجه ابو داود فی السنن کتاب البيوع/باب فی المساقاة (رقم-٣٤٠٩) والترمذی فی کتاب الأحکام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما ذکر فی المزارعة (رقم-١٣٨٣) وابن ماجه فی کتاب الرهون/باب معاملة النخيل والکرم (رقم-٢٤٦٧) واحمد فی المسند: ١٧/٢

Maktaba Tul Ishaat.com

د خيبر د فتحې پس منظر : -په ٧ هجرى كښې خيبر فتح شوې وو اكثر علاقې د جنګ په زور خستې شوې وې دځه اط افو علاقې د صلح لاندې په لاس راغلې وې امام ابوحنيفه ﷺ د حضورپاك دا معامله په خراج مقاسمه باندې حمل كوى اود خيبر فتح د صلح په توګه باندې منى په دې وجه مزارعت جائز نه دې صاحبين وائى چه خيبر د جنګ او جهاد په نتيجه كښې فتح شوې وو د حضورپاك يهوديانوسره معامله دخراج مقاسمه په توګه نه وه بلكه د تقسيم او مزارعت معامله وه. ددې دپاره داجائز اود صاحبين رائې واضح ده خيبر اكثر د تورې په زور باندې فتح شوې وو بيا يهوديانو حضورپاك ته هلته د اوسيدو درخواست اوكړو حضورپاك اوفرمائيل چه زمكه اوس د مسلمانانو ده البته تاسو په توګه د مزارعت دلته اوسيږئى كله چه الله تعالى اوغواړى بيابه تاسو اوځنى چنانچه حضرت عمر ﷺ يهوديان د خيبر نه اوويستل. داحديث د مزارعت په جواز باندې دلالت كوى

[٣٠٤٣] د مخابره ممانعت

٣٠٤٣-[٢] (١) ١ وَعَنْهُ قَالَ: «كُنَّا نُخَابِرُ وَلَا نَرَى بِذَلِكَ بَأْسًا ٢ حَتَّى زَعَمَ رَافِعُ بْنُ خَدِيجٍ ٣ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ٤ نَهَى عَنْهَا ٥ فَتَرَكْنَاهَا مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او حضرت عبد الله ابن عمر ﷺ وايي ٢ چې مونږ خلقو به مخابرت كوى او په دې كې مو څه حرج نه ګڼى ٣ددې پورې چې حضرت رافع ابن خديج ﷺ وښودل ٤ چې رسول الله ﷺ د دې څخه منع فرمايلې ده ٥نو په دې وجه مونږ دا ترك كړې، (مسلم)

تسهيلات: قوله: نُخَابِرُ:

د مانعين مزارعت استدلال: -دا د مخابرت نه دې ددې ماده هم هغه خيبردې مزارعت ته وائى دې ته اكراء الارض هم وائى داحديث د مانعين مزارعت دليل دې ددې جواب اول شوې دې

[٣٠٤٤] د پټې د مخصوص ځائې په پيداوار د مزارعت كولو عدم جواز

٣٠٤٤-[٣] (٢) ١ وَعَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ٢ قَالَ: " ٣ «أَخْبَرَنِي عَمَّايَ ٤ أَنَّهُمْ كَانُوا يُكْرُونَ الْأَرْضَ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا يَنْبُتُ عَلَى الْأَرْبِعَاءِ ٥ أَوْ شَيْءٍ يَسْتَثْنِيهِ صَاحِبُ الْأَرْضِ ٦ فَنَهَانَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ

ترجمه: ١ او حضرت حنظله ابن قيس ﷺ (تابعي) د حضرت رافع بن خديج ﷺ (صحابي) څخه نقل كوي. ٢ چې حضرت رافع ﷺ وفرمايل ٣ ماته څما دوه ترونو وښودل

١) اخرجه مسلم فى كتاب البيوع/باب كراء الأرض (رقم-١٠٦ - (١٥٤٧) وابن ماجه فى كتاب الرهون/باب المزارعة بالثلث والربع (رقم-٢٤٥٠)

٢) اخرجه البخارى فى كتاب الإجارة/باب كراء الأرض بالذهب والفضة (رقم-٢٣٤٦) واحمد فى المسند: ١٤٢/٤

④چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې به صحابۀ کرامو ﷺ ناليو باندې د کيدونکي پيداوار په عوض کې خپله زمکه په اُجرت ورکوله يعنی صحابه وو ﷺ به⑤ خپله زمکه بل سړي ته په دې شرط په اُجرت ورکوله چې هغه سړی خپل محنت او تخم لګولو سره په هغه کې کاشت وکړي او د هغه زمکې د اوبو د ناليو په غاړو چې څه پيدا کيږي هغه به د هغه زمکې په اجرت کې د مالك حق وي) يا خپله زمکه به يې د هغه حصې (د پيداوار) په عوض کې په اجرت ورکوله چې هغه به مالك خپل خان د پاره جدا کوله (يعني د زمکې په اجرت د ورکولو دويم صورت دا وو چې هغه به خپله زمکه کاشت د پاره چاته ورکوله نو د هغه څه حصه به يې د خان د پاره مقرر کوله او دا فيصله به کيدله چې کاشت کونکی خپل محنت او تخم لګولو سره په پوره زمکه کې کاشت وکړي بيا د هغه مقررې حصې چې څه پيداوار وي هغه خو به مالك اخلې او د باقي زمکې پيداوار به کاشت کونکی اخلې)⑥ نو رسول الله ﷺ مونږ د دې څخه منع کړو (ځکه چې په دې کې د نقصان او په دهوکه کې د مبتلاء کيدو خوف وو)

حل اللغات: - ①يُكْرُونَ: دَ اکراء نه دې، په کرايه به ئې ورکول. ②الْأَرْبَعَاء: دَ رَبِيع جمع ده وړوکی نهر ته ربيع وائي.

①فَقُلْتُ لِرَافِعٍ: ②فَكَيْفَ هِيَ بِالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ؟ ③فَقَالَ: لَيْسَ بِهَا بَأْسٌ، ④وَكَانَ الَّذِي نُهِيَ عَنْ ذَلِكَ ⑤مَا لَوْ نَظَرَ فِيهِ ذَوُو الْفَهْمِ بِالْحَلَالِ وَالْحَرَامِ لَمْ يُجِيزُوهُ لِمَا فِيهِ مِنَ الْمُخَاطَرَةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① د حديث راوي حضرت حنظله ﷺ وايي چې ما د حضرت رافع ﷺ څخه پوښتنه وکړه② چې د درهم ودينار په عوض کې د مزارعت څه حکم دی؟ يعنی خپله زمکه چاته د کاشت کولو د پاره ورکول شي او د هغه په عوض کې بطور لګان روپۍ واخستی شي. نو څه حکم يې دی؟)③ حضرت رافع ﷺ وفرمايل چې په دې کې څه حرج نشته④ او دکوم څيز څخه چې حضور ﷺ منع فرمايلي ده (يعني د مزارعت مذکوره دواړه صورتونه)⑤ هغه داسې څيز دی که د حلال او حرام پوهه لرونکی سړی په دې کې غور وکړي نو د نقصان رسيدو د خوف څخه به دا خوښ نه کړي، (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ②الْمُخَاطَرَة: خطره، ويره، د نقصان رسيدو احتمال

تسهيلات: **قوله:** يُكْرُونَ الْأَرْضَ:

د مزارعت دويم نوم: - زمکه په مزدورئ باندې دَ ورکولو په معنی کښې دې مراد مزارعت دې

قوله: الْأَرْبَعَاء:

په ويالو کښې د مخصوص ځائې په پيداوار باندې د مزاعت عدم جواز: - مطلب دا چه دَزمکې مالك به زميندار ته زمکه ورکوله هغه به زمکه کرله اومالك به دَ ځان دَپاره دَ نهر

Maktaba Tul Ishaat.com

په غاړو باندې غله مقرر کړې وه يا بل څه حصه د زمکې مستثنی کولوسره ساتله دې ته حضور پاك منع اوفرمائيله ځکه چه دا يونامعلوم څيز دې کيدې شي چه هم دې خانی کښې غله راشي اوباقي يوحصه کښې هم رانه شي اوکيدې شي چه باقي حصه کښې غله راشي او د نهر په غاړو باندې رانه شي نود مالك نقصان به وی دا معامله د قمار او جوارئی په شان کيږی په دې وجه منع کړې شوه او هم دا خبره حضرت رافع رضي الله عنه په توګه د علت بيان کړې ده او د فقهاؤ نه ټول ددې د حرمت قائل دی پاتې شو هغه صورت کوم کښې چه په نقود باندې معامله وی نوددې د جواز ټول فقهاؤ قائل دی

[٢٨٥٣] دَمزارعت يوممنوع صورت

٢٨٥٣ – [٢] (١) ١ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ: ٢ «كُنَّا أَكْثَرَ أَهْلِ الْمَدِينَةِ حَقْلًا ٣ وَكَانَ أَحَدُنَا يُكْرِي أَرْضَهُ فَيَقُولُ: ٤ هٰذِهِ الْقِطْعَةُ لِي وَهٰذِهِ لَكَ، ٥ فَرُبَّمَا أَخْرَجَتْ ذِهِ وَلَمْ تُخْرِجْ ذِهِ ٦ فَنَهَاهُمُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت رافع ابن خديج رضي الله عنه وايي ٢ مونږ اکثره مديني والا به کاشتکاري کوله ٣ او په مونږ کې به بعضې خلقو خپله زمکه کرايه وغيره باندې کاشت کولو د پاره (بل چاته) ورکوله او هغه ته به يې دا ونيل (چې په دې پوره زمکه کې کاشت کوه، د دې په عوض کې) ٤ د دې زمکې داحصه زما د پاره ده (يعني د دې حصې پيداوار به زه اخلم) او دا حصه ستا د پاره ده (يعني د دې دويمې حصې پيداوار ته اخله) ٥ او اکثره به داسې کيدل چې يوه حصه کې به پيداوار کيدی ليکن په دويمه حصه کې به هيڅ نه پيدا کړي دل، ٦ رسول الله صلى الله عليه وسلم (د مزارعت د دې صورت څخه) منع وفرمايله (ځکه چې د دې په وجه يو سړي ته خو به د زمکې پوره پيداوار حاصليدی او د بل سړي حق به بالکل ضائع کيدی) بخاري مسلم

حل اللغات - ① حَقْلًا: کاشتکاري، زميندارې، ② ذِهِ: اسم اشاره ده

تسهيلات:

قوله فَيَقُولُ: هٰذِهِ الْقِطْعَةُ لِي وَهٰذِهِ لَكَ:

په مزارعت کښې يو اتفاقي ممنوع صورت:- دَدې صورت په عدم جواز باندې دَ ټولو فقهاؤ اتفاق دې ځکه چه داهم د جوارئی يوقسم جوړيږی دَ زمکې کومه حصه چه زميندار ته په مزدورئی باندې ورکولې شي کيدې شي چه په هغې کښې غله راشي اوکيدې شي چه په هغې کښې يودانه غله هم رانه شي په دې وجه دا صورت منع دې.

١) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب ما يكره من الشروط في المزارعة (رقم-٢٣٣٢)ومسلم في كتاب البيوع/باب كراء الأرض بالذهب والورق (رقم-١١٧ - (١٥٤٧)

[٢٨٦١] زمکه په عاریت دورکولو ترغیب

٢٨٦٢-[٥] (١) ① وَعَنْ عَمْرٍو قَالَ: قُلْتُ لِطَاوُسٍ: ② لَوْ تَرَكْتَ الْمُخَابَرَةَ ③ فَإِنَّهُمْ يَزْعُمُونَ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنْهُ ④ قَالَ أَيْ: عَمْرُو: إِنِّي أُعْطِيهِمْ وَأُعِينُهُمْ ⑤ وَإِنَّ أَعْلَمَهُمْ أَخْبَرَنِي - يَعْنِي ابْنَ عَبَّاسٍ - "أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمْ يَنْهَ عَنْهُ ⑥ وَقَالَ: «إِنْ يَمْنَحْ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهِ خَرْجًا مَعْلُومًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت عمرو ابن دینار (تابعي) رحمه الله وايي چې ما حضرت طاوس (تابعي) رحمه الله ته اوویل ② که تاسو مزارعت ترک کولی نو ښه به وه ③ ځکه چې علماء وايي چې رسول الله ﷺ د دې څخه منع فرمايلي ده، ④ طاوس رحمه الله اوویل چې اې عمرو! زه (خپله زمکه د کاشت کولو د پاره) خلقو ته ورکوم او د هغوی مدد کوم ⑤ او د ټولو څخه لوی عالم حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ماته ښودلي دي چې رسول الله ﷺ د دې څخه منع نه وه فرمايلي ⑥ ليکن حضور ﷺ دا فرمايلي دي چې خپل يو ورور ته خپله زمکه د کاشت کولو د پاره ورکول د دې څخه ښه دی چې په هغه د هغه زمکې څه لګان وغيره مقرر کولو سره ورڅخه وآخستی شي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① إِنْ يَمْنَحْ: که کاشت دپاره زمکه ورکړی، ② خَرْجًا: مزدوری

تسهيلات:

قوله: إِنْ يَمْنَحْ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهِ خَرْجًا مَعْلُومًا

په مزارعت باره کښې د ابتداء اسلام نقشه: - په دې حديث کښې دَ مزارعت ممانعت نه دې بلکه حضورپاک غوښتل چه انصار خپلې زمکې دَ عاريت په توګه او عطيه منحه مشكوره خپلو مهاجرينو رونړو ته ورکړی په دې وجه ئې دا ترغيب ورکړو چه خپل رونړه دهقانان مه جوړوئی دا خو جندالله او جندالاسلام دی دوی له دَ عطيه په توګه باندې ذکر دَپاره زمکه ورکړئی بيا به ئې دوی واپس کړی تاسو دَدوی نه مزدورئی مه اخلئی حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَ اسلام دَ شروع نقشه داسې پيش کړه په دې روايت کښې چه دَ طاؤس نه مخکښې کوم دَ عمرو ذکر دې دې نه مراد عمرو بن دينار دې کوم چه جليل القدر تابعی دې

١) اخرجه البخاری فی کتاب الإجارة/باب إذا لم يشترط السنين فی المزارعة (رقم-٢٣٣٠) ومسلم فی کتاب البيوع/باب الأرض تمنح (رقم-١٢٠ - (١٥٥٠) واخرجه ابو داود فی السنن کتاب البيوع/باب فی المزارعة (رقم-٣٣٨٩) والنسائی فی کتاب المزارعة/باب ذکر الأحاديث المختلفة فی النهی عن کراء الأرض بالثلث والربع، وإختلاف ألفاظ الناقلين للخبر (رقم-٣٨٧٣) واحمد فی المسند: ٢٣٤/١

Maktaba Tul Ishaat.com

[٢٠٧٧] په عاريت باندې د زمکې ورکولو استحبابي حکم

٢٠٧٧—[٠] (١) [١] وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا [٣] أَوْ لِيَمْنَحْهَا أَخَاهُ [٤] فَإِنْ أَبَى فَلْيُمْسِكْ أَرْضَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت جابر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د کوم سړي سره چې زمکه وي، نو هغه ته پکار دی چې په هغه کې خپله کرونده وکړي. [٣] يا ئې که خپله کرونده نشي کولی، نو خپل يو ورور ته دې عارية ورکړي [٤] او که دا دواړي خبري يې خوښي نه وي نو بيا دې خپله زمکه د خان سره وساتي (دا امر د زورني دپاره دي مرقاة) بخاري مسلم

حل اللغات - ① يَمْنَحْهَا: چه عطيةً او عاريةً ورکړی دا (زمکه)

تسهيلات:

قوله لِيَمْنَحْهَا: دا دَ منحة نه دې دَ عطيه په معنی کښې دې چه دَ بل دَ نفع اوچتولو دَپاره ورکړی بيائی واپس کړی

قوله فَإِنْ أَبَى:

د فان ابی په مطلب کښې دوه اقوال: -

① يعنی پخپله نی هم نه کری اوبل ته نی هم نه عطيه کوی نو ده له پکار دی چه خپل خان سره نی اوساتی يعنی بې کاره دې پريږدی په دې صورت کښې داحديث دَتوبيخ تشديد او تهديد په توګه دې چه دا سړې احسان ولې نه کوی او جند الله دهقان جوړوی

علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه خپل خان سره دې اوساتی بل ته دې په مزارعت نه ورکوی په دې کښې توبيخ او تنبيه ده

② بعض علماؤ دا مطلب اخستې دې که چرې دَ هغه رور دَ اخستلو نه انکار کوی نوبيا دې خپله زمکه خپل خان سره اوساتی

[٢٠٧٨] د آخرت څخه غافله کونکی زمينداری کښې د مشغوليدو کيدو وعيد

٢٠٧٨—[-] (٢) [١] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ: «وَرَأَى سِكَّةً وَشَيْئًا مِنْ آلَةِ الْحَرْثِ، [٢] فَقَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [٣] لَا يَدْخُلُ هَذَا بَيْتَ قَوْمٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ الذُّلَّ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] منقول دی چې حضرت ابوامامه ﷺ په يو خای کې، هل او د کيتي و کرهنی څه

---

١) اخرجه البخاری فی كتاب الإجارة باب ما كان من أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم يواسى بعضهم بعضا فی الزراعة والثمرة (رقم-٢٣٤٠) ومسلم فی كتاب البيوع/باب كراء الأرض (رقم-٨٩ - (١٥٣٦) والنسائی فی كتاب المزارعة/باب ذكر الأحاديث المختلفة فی النهی عن كراء الأرض بالثلث والربع. وإختلاف الفاظ الناقلين للخبر (رقم-٣٨٧٤) وابن ماجه فی كتاب الرهون/باب المزارعة بالثلث والربع (رقم-٢٤٥١) واحمد فی المسند: ٣/٣٧٣

٢) اخرجه البخاری فی كتاب الإجارة/باب ما يحذر من عواقب الاشتغال بآلة الزرع. أو مجاوزة الحد الذی أمر به (رقم ٢٣٢١)

ـــ من وليدلو. [٢] نو هغه اوويل چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي [٣] چې دا سامان په کوم کور کې داخل شي، الله ﷻ په هغه کور کې ذلت داخلوي (د جهاد د پريښودلو په وجه نه په عام حالت کې) بخاري

حل اللغات - ①سِكَّةٌ: يبوه، د يبوې نوکداره اوسپنه. ②الذُّلَّ: ذلت، خواري، رسوائي

تسهيلات:

قوله: مِنْ آلَةِ الْحَرْثِ:

د زميندارۍ اوزار: - يعنې دَ زميندارئ چه کوم سامان هم اوليدلو په هغې باندې حضرت ابوامامه رضي الله عنه خفه شو او يوحديث ئې واؤرولو

په کور کښې د زميندارۍ دممانعت دوه وجوهات: - رسول الله ﷺ دَزميندارئ ترغيب هم ورکړې دې اوفضيلت اوثواب ئې هم بيان کړې دې په يوحديث کښې داسې دی ((اطلبوا الرزق من خبايا الارض)) يعنې دَ زمکې دَ پټو مقاماتونه (په ذريعه دَ کر) رزق اولټوئ دَدې ترغيب نه باوجود دلته په کورکښې ايوه او دَ زميندارئ په سامان باندې نکير څنګه اوکړو؟

① حضورپاك په اصل کښې دَ جهاد ترغيب ورکړې دې دَ زميندارئ نه ئې منع نه ده کړې بلکه مقصود دادې چه مثلاً يوسړې جهاد پريږدی اوزميندارۍ کوی نودَ دې بنيادی وجه دَ هغه بزدلی او بې همتی ده او بادشاهانوته ټيکس جدا ورکوی که چرې هم دغه خلق دَ زميندارئ په ځائې دَ جهاد لار اختيارکړی نو په زيات مقدار کښې به هغوی ته دنيا ملاؤشی دوی به پخپله دَ ټيکس ورکولوپه ځائې دَ نورو نه ټيکس وصول کوی دين به هم راشی اودنيا به هم راشی يوحديث کښې دی ((العزفي نواصي الخيل والذل في اذناب البقر))

② داحکم دَهغه خلقودَپاره دې دَ چا په سرونوچه دښمن رارسيدلي دې دښمن راځی اودا خلق په زميندارئ کښې اخته دی بعض علماؤ داجواب ورکړې دې چه دا حکم دَ اسلام په شروع کښې دَ صحابه کرامو دَپاره وو ځکه چه هغوی جندالاسلام وو که چرې هغوی دهقانان جوړيدو سره زمکې آبادولې نو په مشرق اومغرب کښې به چا دين غالب کولو؟

حکيم الامت حضرت تهانوی رحمه الله په ملفوظات کښې فرمائی چه مسلمان دَ ډنډې والاوی اوهندو دَ ډنډئ والاوی (يعنې تلې والا) دَ ابوداؤد شريف دَ يوحديث يوڅو الفاظ د اسې دی ((اذاتبايعتم بالعينة واتبعتم الزرع واخذتم باذناب البقر وتركتم الجهاد سلط الله عليكم الذلة اوكما قال عليه السلام))

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢٩٧٩] بلا اجازته د غير په زمكه كښې د كروندې عدم جواز

٢٩٧٩-[٩] (١) ١ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ قَالَ: «مَنْ زَرَعَ فِي أَرْضِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ ٣ فَلَيْسَ لَهُ مِنَ الزَّرْعِ شَيْءٌ وَلَهُ نَفَقَتُهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ حضرت رافع ابن خديج ﷺ د رسول الله ﷺ څخه نقل كوي ٢ چې حضور ﷺ وفرمايل كوم سړى چې د چا په زمكه كې د هغه د اجازت څخه بغير (يعني د مالک د رضا او حكم بغير) كاشت وكړي، ٣ نو د هغه د پاره د هغه زمكي د پيداوار څخه علاوه د دې څخه چې هغه څه خرڅ كړي وي نور هيڅ به نه وي، (ترمذي ابوداود) امام ترمذي ﷺ ويلي دي چې دا حديث غريب دى.

تسهيلات: قوله: وَلَهُ نَفَقَتُهُ:

د چا په زمكه كښې بغير د اجازت نه د كر كولو حكم: - يعني كه چا دَ يو سړى دَ اجازت نه بغيرَ هغه په زمكه كښې كر اوكړو نو ټول پيداوار به دَ زمكې مالك ته ملاويږى اوكر والا چه كوم تخم په زمكه كښې اچولي دي هغه به ده ته ملاويږى باقي به هيڅ نه ملاويږى. دَ امام احمدبن حنبل ﷺ هم دغه مسلك دي اودَ حديث هم دغه مطلب دي ليكن څه نور علماء او بعض احناف وائى چه دَ زمكې پيداوار به كرلو والاته ملاويږى البته چه دَخومره مودې دَپاره هغه زمكه مشغول ساتلې ده دَهغې معاوضه به وركوى ظاهرى حديث حنابله سره دي

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٩٨٠] د مزارعت جواز

٢٩٨٠-[٩] (٢) ١ عَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ ٢ قَالَ: مَا بِالْمَدِينَةِ أَهْلُ بَيْتِ هِجْرَةٍ إِلَّا يَزْرَعُونَ عَلَى الثُّلُثِ وَالرُّبُعِ، ٣ وَزَارَعَ عَلِيٌّ وَسَعْدُ بْنُ مَالِكٍ، وَعَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مَسْعُودٍ وَعُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، وَالْقَاسِمُ، وَعُرْوَةُ، وَآلُ أَبِي بَكْرٍ، وَآلُ عُمَرَ، وَآلُ عَلِيٍّ، وَابْنُ سِيرِينَ،

ترجمه: ١ حضرت قيس ﷺ ابن مسلم د حضرت ابو جعفر ﷺ (يعني امام محمد باقر) څخه نقل كوي ٢ چې هغه وفرمايل په مدينه كې د مهاجرينو هيڅ داسې كور نه وو چې په

١) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب البيوع/باب فى زرع الأرض بغير إذن صاحبها (رقم-٣٤٠٣) والترمذى فى كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن زرع فى أرض قوم بغير إذنهم (رقم-١٣٦٦) وابن ماجه فى كتاب الرهون/باب من زرع فى أرض قوم بغير إذنهم (رقم-٢٤٦٦) واحمد فى المسند: ٣/٣٦٥

٢) اخرجه البخارى فى كتاب الإجارة/باب المزارعة بالشطر ونحوه

دریمه یا په خلورمه حصه کاشت نه کولی[٣] او حضرت علي رضي الله عنه حضرت سعد ابن مالك یعنی سعد بن ابي وقاص، حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله قاسم، عروه، د حضرت ابوبکر رضي الله عنه اولاد، د حضرت عمر رضي الله عنه اولاد، د حضرت علي رضي الله عنه اولاد او ابن سیرین رحمه الله دي ټولو به کیتی کولی.

[١] وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْأَسْوَدِ: [٢] كُنْتُ أُشَارِكُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ يَزِيدَ فِي الزَّرْعِ، [٣] وَعَامَلَ عُمَرُ النَّاسَ عَلَى: [٤] إِنْ جَاءَ عُمَرُ بِالْبَذْرِ مِنْ عِنْدِهِ فَلَهُ الشَّطْرُ، [٥] وَإِنْ جَاءُوا بِالْبَذْرِ فَلَهُمْ. كَذَا رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] د حضرت عبد الرحمٰن ابن اسود (تابعي) رحمه الله بیان دی [٢] چې ما به د حضرت عبد الرحمٰن ابن یزید په شرکت کې مزراعت کولی. [٣] او حضرت عمر رضي الله عنه د خلقو سره په دې شرط (د مزارعت) معامله کړې وه [٤] که عمر رضي الله عنه تخم د خپل خان څخه ورکوي نو د پیداوار نیمه حصه به د هغه وي [٥] او که خلق تخم ورکوي نو په پیداوار کې به د هغه مطابق د هغه حصه وي (یعني نیمه یا دریمه یا خلورمه څه چې مقرره شي) بخاري

حل اللغات: - ① اَلْبَذْر: تخم، بزغلي، ② اَلشَّطْرُ: نیمه حصه،

تسهیلات:

قوله: هِجْرَةٍ:

یعنی مهاجرینو به ټولو په تقسیم سره کارکولو دَمزارعت په پټی کښې به دا تقسیم کله یو په درې باندې وو کله به یو په څلوره وو.

قوله: وَزَارَعَ:

صاحب مشکوة باندې یو اعتراض: - میرك شاه ونیلی دی چه دَ وزراع نه ترآخره پورې عبارت دَ امام بخاری رحمه الله خپل دي په دې کښې امام بخاری رحمه الله دَ یو څو صحابه کرامو آثار نقل کړی دی دکوم نه چه دَ مزارعت جواز ملاویږی امام بخاری رحمه الله پخپله هم دَ مزارعت دَ جواز قائل دي امام بخاری رحمه الله دَ آثار په توګه دَ تطبیق نقل کړی دی صاحب مشکوة له پکار وو چه هغه په آخره کښې رواه البخاری تعلیقاً الفاظ لیکل دې دَپاره چه پته لګیدله چه حدیث دکوم ځائی پورې دې او تعلیق او اثر ترکوم ځائی نه دې

Maktaba Tul Ishaat.com

[١٣] بَابُ الْإِجَارَةِ

داجاره بيان

خلاصة الباب: -

فيه عشرة أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① جواز الإجارة: ١.

② جواز الأجرة على بعض الأعمال المخصوصة: ٢، ٣، ۴، ۵، ۶، ٩.

③ الحث على إعطاء الأجرة للأجير والزجر بمنعه: ۴، ٧، ٨. وفيه ذكر الأجرة الحكمية.

④ حرمة الأجرة على بعض الطاعات: ١٠.

د قرآن څخه داجارې ثبوت: ① ﴿فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ﴾ [سورت طلاق الاية: ۶]

② ﴿إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَى أَنْ تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ﴾ [سورت قصص الايه: ٢٧]

دتمليک دوه قسمونه: -

① تمليک الاعيان ② تمليک المنافع.

دتمليک دويم تقسيم: - بيا ددې دوه قسمونه دي.

① تملکيک بالعوض ② تمليک بغيرالعوض

مجموعي طور د تمليک څلور قسمونه: -

① تمليک العين بالعوض دا بيع ده،

② تمليک العين بلا عوض دا هبه ده،

③ تمليک المنافع بالعوض دا اجاره ده

④ تمليک المنافع بلاعوض عارية او اعاره ده

د اجاره لغوي معني: - په لغت کښې اجاره يوڅيز په کرايه ورکولوته وائي

داجاره اصطلاحي تعريف: - په اصطلاح کښې په يواجرت دځېل څه څيزدمنفعت مالک جوړولوته اجاره وائي "الاجارة تمليك المنافع بعوض" د احاديثو اوآثارونه اجاره ثابته ده سره ددې چه د قواعد بيوعاتو په رڼاکښې اجاره نه وو جائزکيدل پکار خود خلقو د احتياج او ضرورت د وجې نه دا شريعت جائزگرځولې ده

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[٢٨٧] داجارې جواز

٢٨٧-[١] (١) [١] عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ [٢] قَالَ: زَعَمَ ثَابِتُ بْنُ الضَّحَّاكِ [٣] «أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنِ الْمُزَارَعَةِ [۴] وَأَمَرَ بِالْمُؤَاجَرَةِ وَقَالَ: لَا بَأْسَ بِهَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

١) اخرجه مسلم في كتاب البيوع/باب في المزارعة والمؤاجرة (رقم-١١٩ - (١٥۴٩)

ترجمه:[١]حضرت عبد الله ابن مغفل وايي[٢]چي حضرت ثابت ابن ضحاك رضي الله عنه دا بيان وكړي[٣]چي رسول الله ﷺ د مزارعت څخه منع فرمايلي ده[٤]او د اجاره حكم وركولو سره يې وفرمايل چي په دي كي څه حرج نشته. (مسلم)

حل اللغات - ①الْمُؤَاجَرَةُ: زمكه په اجاره وركول

تسهيلات:

قوله نَهَى عَنِ الْمُزَارَعَةِ:

د مزارعت د ممنوع صورت مصداق:- دا د مزارعت هم دغه ممنوع صورت طرف ته اشاره ده د كوم بيان چه په تفصيل سره شوي دي علامه طيبي رحمه الله فرمائي "المزارعة" كښي الف لام عهدي دي د كوم نه چه د مزارعت ممنوعه صورت مراد دي

[٢٩٨٢]د حجام د كټي جواز

٢٩٨٢—[٢] (١)[١]وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ [٢]«أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - احْتَجَمَ[٣] فَأَعْطَى الْحَجَّامَ أَجْرَهُ وَاسْتَعَطَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١]او حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي[٢]چي رسول الله ﷺ يو خل ډك ښكر راوښكلو (وينه يې وخكله)[٣]او ښكر راښكونكي ته يې د هغه اجرت عطا كړي او حضور ﷺ په خپله پوزه كي دوائي واچوله. (بخاري مسلم)

حل اللغات - ①الْحَجَّامَ: ښكر لګونكي، ښكر راښكونكي. ②اسْتَعَطَ: پوزه كښي ني دوائي واچوله

تسهيلات:

قوله فَأَعْطَى الْحَجَّامَ أَجْرَهُ وَاسْتَعَطَ:

د ښكر لګولو حكم:- د دي حديث نه معلومه شوه چه ښكر لګولو پيشه مباح ده او په دي سره علاج كول جائز دي

[٢٩٨٣]د نبي كريم ﷺ په مزدورئ د چيلو څرول

٢٩٨٣—[٣] (٢)[١]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -[٢]قَالَ «مَا بَعَثَ اللَّهُ نَبِيًّا إِلَّا رَعَى الْغَنَمَ[٣] فَقَالَ أَصْحَابُهُ: وَأَنْتَ؟[٤] فَقَالَ: نَعَمْ[٥] كُنْتُ أَرْعَى عَلَى قَرَارِيطَ لِأَهْلِ مَكَّةَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:[١]او حضرت ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه نقل كوي[٢]چي رسول الله ﷺ وفرمايل الله تعالى هيڅ داسي نبي نه دى راليږلى چي هغه بزى نه وي څرولي (د دي اوريدو سره)[٣]صحابه وو رضي الله عنهم پوښتنه وكړه چي آيا تا هم بزي (چيلي) څرولي دي؟[٤]رسول الله

١) اخرجه البخارى فى كتاب الطب/باب السعوط (رقم-٥٦٩١) ومسلم فى كتاب المساقاة/باب حل أجرة الحجامة (رقم-٦٥ - (١٢٠٢) واخرجه ابو داود فى السنن أبواب الإجارة/باب فى كسب الحجام (رقم-٣٤٢٣) وابن ماجه فى كتاب التجارات /باب كسب الحجام (رقم-٢١٦٢)واحمد فى المسند: ٢٥٨/١

٢) اخرجه البخارى فى كتاب البيوع/باب النهى للبائع أن لا يحفل الإبل. والبقر والغنم وكل محفلة (رقم-٢١٤٩) وابن ماجه فى كتاب التجارات /باب الصناعات (رقم-٢١٤٩)

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ وفرمايل چې هو (٥) مابه د څو قيراطو په اجرت د اهل مکې بزې (چيلئ) څرولې. بخاري

حل اللغات ① قَرَارِيطَ د قيراط جمع ده، د يو درهم د شپږمې حصې برابر وي

تسهيلات: قوله إِلَّارَعَى الْغَنَمَ:

په پيغمبرانو د ګډو په څرولو کښې حکمت:-چيلئ يو مسکين حيوان دې دې سره تعلق لرونکی انسان کښې دعاجزئی صفت راځی بيا په حيواناتوکښې چيلئ يوداسې خناوردې دکوم چه رمې وی دادې د برکت نښه ده انبياء کرام چونکه د انسانانودعوت دپاره دنياته راغلی دی بيا د انسانانو تربيت ددوی منصب دې په دې وجه د تجربه برداشت، صبر اوتحمل ډيرزيات ضرورت وی هم ددې مقصد دپاره انبياء کرامو چيلئ څرولې دی دې دپاره چه د انسانانو په نګرانئ اوتربيت کښ آسانی وی او مزاج کښې ډير تحمل او برداشت پيدا شی چيلئ يوکمزورې خناوردې که چرې په يووړوکی کنړی بندې هم اوويشتلې شی نو مړه کيږی او په طبعې توګه باندې په دې کښې يوقسم شرارت هم دې او شورش هم په دې کښې چه يوه پاڼړه د يوې ونې نه خوری نو فوری بل طرف ته ځی که چرې د برداشت والا سړې نه وی نو روزانه به يوه چيلئ وژنی په دې وجه د ډير زيات تحمل ضرورت دې دغه شان د انسانانو مزاج هم مختلف وی دوی په نيغه لاړ راوستل او ددوی تربيت کولودپاره هم ډير زيات صبرپکاردې هم ددې حکمتونو لاندې انبياء کرامو په شروع کښې چيلئ څرولې دی دا پيشه اوکسب په ظاهره خو ادنی دې ليکن د انجام په اعتبارسره اعلی دې په دې وجه د انبياء کرامو دپاره مناسب شو د نن صبا خلق د داعی جوړيدو ډير شوق لری ليکن ناتجربه کار او بې علم کيدو د وجې نه د فائدې په ځائې نقصان زيات کيږی معصوم نبی خواول د تجربه د مرحلې نه تيريږی اودا صحب يودم د خلقو مينځ ته راټوپ کوی اود علامه جوړيدو کوشش کوی

قوله: قَرَارِيطَ:

د قيراط په استعمال کښې وجوه:-① کله قيراط د تحقير دپاره ذکرکولې شی لکه څنګه چه دلته دې د کوم مطلب چه پيسه يا دوه پيسې دې

② کله د قيراط ذکر د ډيرې زياتې معاوضه دپاره کيږی لکه د جنازې کونکی ته به يو قيراط ثواب ملاويږی اوهغه قيراط د احد د غربرابر وی دلته د قيراط ذکر د تعظيم دپاره نه دې

[٢٨٣] مزدور ته دهغه مزدوری نه ورکولو وعيد

٢٨٣-[٢] (١) ①وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②«قَالَ اللَّهُ تَعَالَى ③ثَلَاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: ④رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ، ⑤وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ ⑥وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ ⑦ وَلَمْ يُعْطِهِ أَجْرَهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

١) اخرجه البخاری فی كتاب البيوع/باب إثم من باع حرا (رقم-٢٢٢٧) وابن ماجه فی كتاب الرهون/باب أجر الأجراء (رقم-٢٤٤٢) واحمد فی المسند: ٢/٣٥٨

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] الله تعالیٰ ارشاد فرمايلی دی [٣] چي دري سري داسي دي چي د قيامت په ورځ به ورسره زه جګړه کوم [٤] يو خو هغه سړی دی چي هغه خما دنوم او خما د قسم په ذريعه څه عهد وکړي او بيا يي هغه مات کړي [٥] دويم هغه سړی دی چي هغه يو آزاد شری خرڅ کړي او د هغه قيمت يي وخوري [٦] او دريم هغه سړی دی چي هغه يو مزدور په مزدوري ولګولي د هغه څخه يي کار واخستلی يعني په کوم کار چي يي لګولی وو هغه کار يي څني پوره پوره واخستلی [٧] ليکن هغه ته يي د هغه مزدوري ورنه کړه. (بخاري)

حل اللغات - ① غَدَرَ: دهوکه، عهد شکنی

تسهيلات:

قوله: أَنَا خَصْمُهُمْ:

د قيامت په ورځ دري قسمه خلقو سره د الله تعالی جګړا:- يعنی دري قسمه خلق داسی دی چه دَ قيامت په ورځ به زه دَهغوی په مقابله کښي راځم نوهغوی به زما دَ قهر اوغضب په خاص توګه نشانه جوړيږی

① رجل اعطی بی: يعنی اولنی هغه سړي چه دَ الله تعالی په نوم باندي قسم خوړلوسره وعده کوی اوبيا په هغي کښي دهوکه کوی. وعده خلافی خويخپله يو جرم دي ليکن چه کله ئی دَ الله تعالی په نوم باندي وعده اوکړه قسم ئی هم اوخوړلو اوبيائي دهوکه کړه دا وريسي نور جرم دي په دي وجه دَ الله تعالی دَ غضب مستحق دي

② باع حراً: دويم سړي هغه دي چه يوآزاد سړي غلام ګرځوی اودَ بازار مال ئی جوړکړی داپخپله يوډير لونی جرم دي که دَهغه اجرت اوخوری اوکه اونه خوری ليکن که دَدي په بدله کښي پيسي هم اوخوری نودا نور قباحت دي په دي وجه داسړي دَ الله تعالی دَ غضب مستحق دي

③ دريم هغه سړي دي چه يومزدور په مزدورئی اولګوی اوکله چه هغه کار پوره کړی ډيرمحنت ئی اوکړو دَ پيسي دَپاره خوله ئی اوبهيوله کله چه پيسي اوغوښتي نودَ خاص اميدپه وخت هغه سړی دَ پيسوورکولونه انکاراوکړو دا هم دَ يوظلم دَپاسه بل ظلم دي په دي وجه دا سړي هم دَ الله تعالی دَ غضب مستحق دي په حديث کښي دَ دريوکسانونه صرف دري کسان نه دی بلکه ددي په شان تول خلق مراددی نن صبا په عرب ملکونوکښي دا بيماری ډيره په زور ده بنه بنکلي مطوع خلق دَ يوغريب پرديسی نه کاراخلی او بيا دَ معاوضه ورکولونه انکارکوی اودَ دغه پرديسی نه دَ غريب الوطنی ناجائز فائده اوچتوی

Maktaba Tul Ishaat.com

[٥٠٠٠] د سورة فاتحه په دم کولو شفا، ملاويدل او په دم اجرت اخستل

٥٠٠٠ - [د] (١) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ [٢] «أَنَّ نَفَرًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] مَرُّوا بِمَاءٍ فِيهِمْ لَدِيغٌ أَوْ سَلِيمٌ [٤] فَعَرَضَ لَهُمْ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَاءِ فَقَالَ: [٥] هَلْ فِيكُمْ مِنْ رَاقٍ [٦] إِنَّ فِي الْمَاءِ رَجُلًا لَدِيغًا أَوْ سَلِيمًا [٧] فَانْطَلَقَ رَجُلٌ مِنْهُمْ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ عَلَى شَاءٍ [٨] فَبَرَأَ، فَجَاءَ بِالشَّاءِ إِلَى أَصْحَابِهِ [٩] فَكَرِهُوا ذَلِكَ،

ترجمه: [١] او حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي [٢] چې يو ځل د رسول الله ﷺ د صحابه وو رضي الله عنهم يو جماعت [٣] په يو داسې کلي تير شو چې په هغوئ کې [٤] يو سړى لړم يا مار خوړلى وو، يو سړى هغه صحابه وو رضي الله عنهم ته راغلى او پوښتنه يې وکړه [٥] چې آيا په تاسو خلقو کې څوك دم چف کونکى شته؟ [٦] ځکه چې زمونږ په کلي کې يو سړى لړم يا مار چيچلى دى که داسې څوك وي نو زما سره دې ولاړ شي چې په هغه سړي دم وکړي. [٧] نو هغوئ ته يو صحابي ورغلو او هغه د بزو په عوض کې سورة فاتحه وويله يعنى هغه اوويل چې زه به دې سړي په دې شرط دم کوم چې په دې عوض کې به زه دومره بزې (چيلى) اخلم هغه کلي دا منظوره کړه. نو هغه صحابي سورة فاتحه ويلو سره په هغه سړي دم وکړي. ځکه چې منقول دى چې فاتحة الکتاب شفاء من السم يعنى سورة فاتحه د زهر د پاره شفاء ده. [٨] هغه سړى ښه شو. بيا هغه صحابي بزې (چيلى) اخستو سره خپلو ملګرو ته راغلى. [٩] هغه ملګرو يې دا خبره خوښه نه کړه

حل اللغات - ① لَدِيغٌ: مار يا لړم چيچلى. ② سَلِيمٌ: مار يا لړم چيچلى. ③ رَاقٍ: چُف کونکى. دم چونکى. ④ شَاء: بزه. چيلى.

[١] وَقَالُوا: أَخَذْتَ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ أَجْرًا [٢] حَتَّى قَدِمُوا الْمَدِينَةَ [٣] فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخَذَ عَلَى كِتَابِ اللَّهِ أَجْرًا [٤] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَحَقَّ مَا أَخَذْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللَّهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ، [٥] وَفِي رِوَايَةٍ "«أَصَبْتُمْ [٦] اقْسِمُوا وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ سَهْمًا»".

ترجمه: [١] او ورته يې اوويل چې د لوى تعجب خبره ده چې، تا په کتاب الله ويلو مزدوري واخستې [٢] ده ددې پورې چې هغه ټول صحابه رضي الله عنهم مدينې ته ورسيدل [٣] او هغوئ حضور ﷺ ته، عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ فلانى صحابي په کتاب الله ويلو مزدوري آخستلو ده [٤] حضور ﷺ وفرمايل چې په کومو څيزونو چې تاسو اجرت اخلئ په هغه کې د ټولو ښه کتاب الله دى. (بخاري)

[٥] او په يو روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ د دې اوريدو سره، وفرمايل چې تاسو ښه وکړل. [٦] دا بزې (چيلى) په خپلو کې تقسيم کړي او د خان سره زما حصه هم ولګوي

١) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب إرداف المرأة خلف أخيها (رقم-٢٩٨٥) وابن ماجه في كتاب التجارات/باب البيعان يختلفان (رقم-٢١٨٦) واحمد في المسند: ٨٣/٣

تسهيلات:

قوله مِنْ رَاقٍ:

په لديغ او سليم کښې دوه احتمالات:-

① **لديغ او سليم:** دَ راوی دَ حديث په لفظ کښې شك شوجه لفظ لديغ وو که سليم وو کنی دَ معنې په اعتبارسره دواړه الفاظ مترادف دی سليم په توګه د نيك فال مار ټك وهلی ته وائی يعنی څه خطره نشته ان شاء الله دا سړې صحيح سالم دې

② علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه لديغ دَلړم ټك وهلی سړی ته وائی اوسليم دَ مار ټك وهلی سړی ته وائی که چرې داسې وی نو بيا راوی ته په الفاظوکښې شك نه دې شوې بلکه په معنی کښې ورته شك شوې دې

قوله فَانْطَلَقَ رَجُلٌ:

د رجل مصداق:- وائی چه دې نه مراد حضرت ابوسعيدخدری رضی الله عنه دې دا ټول ۳۰ کسانو باندې مشتمل قافله وه اوحضرت ابوسعيدخدری رضی الله عنه په اجرت کښې ۳۰ چيلئی مقررکړې وې

قوله إِنَّ أَحَقَّ مَا أَخَذْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللّٰهِ

د مذکوره جملې مفهوم:- مطلب چه خلق غلط منتر ونيلوسره دَ جادو اوټوټکې کولوسره معاوضه اخلی دَ دم درها دَپاره دَ ټولو نه بهترخودَ الله تعالی کتاب دې کوم چه دَخلقو دَپاره شفاء ده تاسو ښه اوکړه په هغې کښې زما دَپاره هم حصه کيږدئی حضورپاك دَ هغه صحابه کرامو حوصله زياته کړه څکه چه دوی ويريدلی وو چه مونږ څه جرم کړې دې دَ حضورپاك فرمان سره هغوی خوشحاله هم شو اومسئله هم ورته معلومه شوه اودا تسلی نی هم اوشوه چه چيلئی اخستل حلال او جائزوو

په دم درها باندې د اجرت اخستلو جواز:- دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَ قرآن اوحديث وظائف ونيلوسره دم کول اوتعويز ليکل تعويز جوړول او په دې باندې معاوضه اخستل جائز دی دا استيجار علی الطاعات په زمره کښې نه راخی بلکه دَ طب اوعلاج په زمره کښې راخی په کوم باندې چه اجرت اخستل اتفاقاً جائز دی

په طاعاتو باندې اجرت اخستلوکښې مذاهب:-

① دَ امام ابوحنيفه رحمه الله اسحاق بن راهويه رحمه الله اودَ امام زهری په نيز په طاعات باندې اجرت اخستل صحيح نه دی

② ليکن دَ نورو فقهاؤ او علماؤ په نيز استيجار علي الطاعات جائز دی اوهغوی دَ زيربحث حديث نه استدلال کوی متاخرين فقهاؤ احناف هم په وجه دَ ضرورت په اندازه دَ ضرورت دَ جواز فتوی ورکړې ده

Maktaba Tul Ishaat.com

په اجرت علی الطاعات کښې د جمهورو مسلک اختیارول:-

① په تنویر الابصار کښې دی «لاتصح الاجارة للاذان والحج والامامة وتعليم القرآن والفقه» دَدې په شرح کښې صاحب لیکی «ويفتى اليوم بصحتها لتعليم القرآن والفقه والامامة والاذان» (شامی ج۹ص۹۳)

د مجبورۍ په صورت کښې د استیجار علی الطاعات جواز:- دَشرح عقود رسم المفتی مؤلف په دې مسئله کښې دَ یوې ضابطه طرف ته اشاره کړې ده په کوم سره چه دَ فقهاؤ کرامو دَ عبارتونو په تضادونو کښې تطبیق پیدا کیدې شی دَدې ضابطه خلاصه دا ده چه صاحب شرح عقود رسم المفتی فرمائی چه استیجار علی الطاعات دَ سلف صالحین په نیز ناجائز دی. فقهاء متاخرین دَ جواز باقاعده څه فتوی نه ده ورکړې بلکه په درجه دَ مجبورئی دې ته جائز وئیلی دی.

د حکم په اعتبار سره د استیجار علی الطاعات دوه صورتونه:-

① یا صاحب شرح عقود رسم المفتی دا ضابطه لیکلې ده چه دَشریعت دَ مناصبو نه که یو منصب دَ اجرته نه بغیر قائم او باقی نشی پاتې کیدې نو دَ باقی ساتلو دَپاره اجرت ورکول جائز دی لکه چه امامت دې اذان دې دَ قرآن عظیم تعلیم دې درس او تدریس وغیره دی که چرې په دې باندې اجرت اخستل ورکول بند شی نو دا مناصب به ختم شی په دې وجه دَ باقی ساتلو دَپاره اجرت ورکول جائز دی.

② دَ اجرت نه ورکولو سره که یو شرعی منصب نه ختمیږی نو دَدې دَپاره اجرت اخستل یا ورکول جائز نه دی لکه چه په تراویح کښې دَ قرآن پاك ختم دې که په دې باندې یو قاری ته اجرت ورنه کړې شو نو زیات نه زیات به ختم قرآن په تراویح کښې نه کوی نفس تراویح خو په وړو سورتو باندې هر یو امام کولې شی لهذا دلته دَ قاری په ختم قرآن باندې معاوضه اخستل جائز نه دی دغه شان دَ ایصال ثواب دَ پاره ختمونه دی په دې باندې اجرت اخستل جائز نه دی ځکه چه په دې باندې هم څه دینی منصب نه ختمیږی هم دغه شان معامله دَ تیوشن هم ده په دې سره هم څه دینی منصب نه ختمیږی

خلاصه د خبرې:- متاخرینو په اندازه دَ ضرورت استیجار علی الطاعات دَ جواز قول کړې دې نن صبا چه خلق په علماؤ باندې په دې وجه اعتراض کوی چه دا خلق په طاعات باندې اجرت اخلی دا ملحد خلق دی دوی غواړی چه دَ اسلام کوم دا معمولی شان کار باقی دې دا هم ختم شی که چرې په حقیقت باندې نظر واچولې شی نو استیجار علی الطاعات مسئله دَ صحابه کرامو دَ دور نه راروانه ده ځکه چه خلفاء راشدین رضی الله عنهم چه به کوم وظائف دَ بیت المال نه اخستل هغه آخر هم دَ طاعات معاوضه خو وه که نه. دغه شان که دَ قاضیانو صاحبانو تنخواه ته او ګورې او دَ مجاهدینو وظائف ته که او ګورې دا ټول هم دَ طاعات اعمال وو په کومو چه به هغوی ته وظائف ملاویدل.

الفصل الثاني

[۲۸۹۸] په باطل دم دورولو د اجرت اخستلو حرمت

۲۸۹۸ - [١] [١](١) عَنْ خَارِجَةَ بْنِ الصَّلْتِ عَنْ عَمِّهِ [٢] قَالَ: «أَقْبَلْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] فَأَتَيْنَا عَلَى حَيٍّ مِنَ الْعَرَبِ [٤] فَقَالُوا: إِنَّا أُنْبِئْنَا أَنَّكُمْ قَدْ جِئْتُمْ مِنْ عِنْدِ هَذَا الرَّجُلِ بِخَيْرٍ [٦] فَهَلْ عِنْدَكُمْ مِنْ دَوَاءٍ أَوْ رُقْيَةٍ [٧] فَإِنَّ عِنْدَنَا مَعْتُوهًا فِي الْقُيُودِ؟

ترجمه: [١] حضرت خارجة ابن صلت ﷺ د خپل تره څخه نقل کوي [٢] چې هغه اوویل کوم وخت چې مونږ د رسول الله ﷺ څخه رخصتیدو سره خپل وطن طرف ته روان شو. [٣] نو په لار کې مونږ د عربو په یوه قبیله تیر شو. [٤] د هغه خنې خلقو مونږ ته اوویل چې مونږ ته معلومه شوې ده [٥] چې تاسو د هغه سړي (یعنې رسول الله ﷺ) څخه خیر بښیګنه (یعنې قرآن کریم او ذکر الله) اخستو سره راغلي یئ. [٦] نو آیا تاسو سره څه داسې دوایي یا دم چف هم شته؟ [٧] چې زمونږ د قبیلې یو سړی پاګل شوی دی په زنځیرونو کې تړلی پروت دی.

حل اللغات - ① أَقْبَلْنَا: واپس شو مونږ. ② حَيّ: قبیله. ③ رُقْيَة: دم، چف. ④ مَعْتُوهًا: مجنون. مدهوش. لیونی. ⑤ فِي الْقُيُودِ: په زنځیرونو کښې تړلی شوی پروت دی

[١] فَقُلْنَا: نَعَمْ فَجَاءُوا بِمَعْتُوهٍ فِي الْقُيُودِ [٢] فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً أَجْمَعُ بُزَاقِي ثُمَّ أَتْفُلُ [٣] قَالَ: فَكَأَنَّمَا أُنْشِطَ مِنْ عِقَالٍ [٤] فَأَعْطَوْنِي جُعْلًا فَقُلْتُ: لَا حَتَّى أَسْأَلَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٥] فَقَالَ: كُلْ فَلَعَمْرِي [٦] لَمَنْ أَكَلَ بِرُقْيَةٍ بَاطِلٍ لَقَدْ أَكَلْتَ بِرُقْيَةٍ حَقٍّ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] مونږ اوویل چې هو (زمونږ سره داسې عمل شته چې د هغه سره د داسې سړي علاج کول کیږي)، نو هغه پاګل یې په زنځیرونو کې تړلی مونږ ته راوستلو. [٢] او ما په هغه تر دریو ورځو سورة فاتحه سحر او ماښام داسې ویله چې د ویلو په وخت به مې خپلې ناړې جمع کولې او بیا د ویلو څخه وروسته به مې په هغه پاګل توکلې. [٣] راوي وایې چې څما تره وفرمایل د دې څخه روسته (هغه دومره زر ښه شو چې، تړلی لاسونه کولاؤ شو. [٤] بیا هغوئ ماته د هغه د اجرت (په طور څه شی) راکړې. نو ما اوویل چې دا شی زه د هغه وخته نه خورم د څو پورې چې په دې باره کې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه ونه کړم (ما د حضور ﷺ څخه پوښتنه وکړه) [٥] نو حضور ﷺ وفرمایل څه چې ناته درکول شوي دي هغه وخوره څکه زما دی قسم وی د خپل ژوند په بخښونکی [٦] چې کوم سړی په باطل منتر اجرت واخلي هغه بد کوي. تا خو د حق او ریښتنی دم اجرت خوړلی دی. (احمد ابوداود)

حل اللغات - ⑥ بُزَاق: لاړې. ⑦ أَتْفُل: توکلې به مې. ⑧ أُنْشِطَ: خلاص شو. ⑨ عِقَال: تړلې رسی

تسهيلات: قوله هَذَا الرَّجُلِ:

د اشارې توضيح: - دا اشاره ذهنیه ده مراد رسول الله ﷺ دي

(١) أخرجه ابو داود في السنن أبواب الإجارة/باب في كسب الأطباء (رقم ٣٤٢٠) واحمد في المسند: ٢١٠/٥

Maktaba Tul Ishaat.com

قوله بِخَيْرٍ

د خير څخه مراد: - دلته د خير او ښېګړې نه مراد قرآن کريم دې کوم چه شفاء اللناس دې

قوله ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ

د ثلاثة ايام په ذکر کښې يو تنبيه او فائده: - دې سره امت ته داتعليم ملاؤشو چه فاتحه شف ، ده ليکن يوځل دم کولوسره به کارنه جوړيږی د څه وخته پورې دم کول پکاردی لکه څنګه چه دې صحابی اوکړه دغه شان نن صبا علماء اوصلحاء يوځل توجيه سره چف کوی په دې سره به څه اثر اوشی د علاج هريوه نسخه وخت غواړی

قوله فَلَعَمْرِي

اشکال: - سوال دادې چه غيرالله د نوم قسم خوړل منع دی دلته څنګه قسم اوخوړلې شو؟

د اشکال دوه جوابونه: -

① دا باقاعده قسم نه دې بلکه دعربو په محاوره کښې عام خبرې اترې هم دغه شان کيږی

② دا دحضوراکرم دخصوصياتونه دی. الله تعالی دحضورپاك د عمر قسم خوړلې دې ﴿لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ﴾ (سورت حجر)

قوله لَمَنْ أَكَلَ

د مذکوره جملې ترکيب: - په دې کښې لام قسميه دې دې اومن متضمن دې دشرط په معنی کښې دې او لقداکلت جواب قسم دې کوم چه د جزاء قائمقام دې اى لعمری لئن کان ناس يأکلون برقية باطل فانکم اکلتم

قوله بِرُقْيَةِ حَقٍّ

د باطل منتر تعريف: - باطل منتر هغه دې په کوم کښې چه جنات او شيطانان او ارواح خبيثه نه مدد غوښتلې شی يا د ستورو او غيرالله نومونو په دې کښې تذکره کيږی

[٢٩٨٧] دخولې اوچيدو نه وړاندې مزدورله د مزدوری ورکولو ترغيب

٢٩٨٧ - [١] (١) ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «أَعْطُوا الْأَجِيرَ أَجْرَهُ قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت عبد الله ابن عمر ﷺ راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② مزدور ته د هغه مزدوري د هغه د خولې د اوچيدو څخه مخکې ورکړي (يعني مزدور چې خپل کار پوره کړي نو د هغه مزدوري سمدستي ورکړي په هغه کې تاخير مه کوی) ابن ماجه

حل اللغات - ① يَجِفَّ چه اوچې شی ② عَرَقُ خوله.

قوله أَعْطُوا الْأَجِيرَ أَجْرَهُ قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ:

مزدور ته د مزدورۍ زر ورکولو حکم: - دا کنايه ده د جلدی او سرعت نه چه څومره هم زر کيدې شی ده ته مزدوری ورکړی کيدې شی چه د تاخير په وجه تاسو دواړو کښې يو کس داسې حالت کښې مړ شی چه په بل باندې ئې قرض وی

---

١) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الرهون/باب أجر الأجراء (رقم-٢٤٤٣)

[٢٩٨٨] سائل ته خامخا څه ورکول

٢٩٨٨—[٨] (١) ١ وَعَنِ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ: ٢ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «لِلسَّائِلِ حَقٌّ وَإِنْ جَاءَ عَلَى فَرَسٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَفِي الْمَصَابِيحِ مُرْسَلٌ.

ترجمه: ١ او حضرت حسین ابن علي ﷺ وايي ٢ چې رسول الله ﷺ د سوالگري په باره کې وفرمايل هغه (په هر صورت د ورکړي) مستحق دی اگر چې که په آس باندي سور راغلی وي. (احمد ابوداود) او په مصابيح کې ونيل شوي دي چې دا حديث مرسل دی

تسهيلات: قوله: عَلَى فَرَسٍ:

د حديث مقصد: – قاضي عياض ﷺ فرمائي چه دحديث مطلب دادې چه سائل خالي لاس مه پرېږده سره ددې چه په ظاهره هغه غني ښکاری او په اس باندې سور راغلی وی څکه چه که هغه واقعي غني وی نو د سوال دپاره لاس خورولوسره به ئې خپل خان نه ذليل کولو

د حديث ترجمة الباب سره مناسبت: – داحديث په ظاهره باب سره ربط نه لری الايه چه دا وونيلی شی چه د سوال هم يو معاوضه ده ته دهغه د سوال اجرت هغه له ورکړه هغه ته چه څه ورکولي شی دادهغه د سوال اجرت دي امام احمد ﷺ فرمائي ددې حديث هيڅ بنياد نشته دا بې اصل دي چه بازارونوکښي گشت کوی امام ابوداؤد ﷺ په دې خاموشی اختيارکړې ده چه ددې خبرې دليل دې چه حديث قابل استدلال دې مصابيح دې ته مرسل ونيلي دې ممکن ده چه په بعض طرق کښې دا حديث مرسل وی اوبعض کښې مسندوی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٢٩٨٩] د طعام او مهر په عوض مزدوری کول

٢٩٨٩—[٩] (٢) ١ عَنْ عُتْبَةَ بْنِ الْمُنْذِرِ قَالَ: ٢ «كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٣ فَقَرَأَ "طسم" حَتَّى بَلَغَ قِصَّةَ مُوسَى، ٤ قَالَ: إِنَّ مُوسَى - عَلَيْهِ السَّلَامُ - آجَرَ نَفْسَهُ ثَمَانِ سِنِينَ أَوْ عَشْرًا عَلَى عِفَّةِ فَرْجِهِ وَطَعَامِ بَطْنِهِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ حضرت عتبه ابن منذر ﷺ وايي ٢ چې (يوه ورځ) مونږ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر وو. ٣ چې حضور ﷺ طسم اوونيلو. او کوم وخت چې حضور ﷺ د حضرت موسی ﷺ قصي ته ورسيدلی ٤ نو وي فرمايل چې موسی ﷺ د خپلي شرمگاه د ساتلو د پاره او د خيټي د ډکولو د پاره خپل خان تر اتو کلونو يا لسو کلونو په مزدوري کې ساتلی وو

حل اللغات: - ① عِفَّة: ساتل. حفاظت کول. ② فَرْج: شرمگاه.

تسهيلات: قوله: طسم:

د شرم گاه د حفاظت دپاره خدمت کول: – يعني سورت قصص ئې اولوستلو په دې کښې

١) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الزكاة/باب حق السائل(رقم-١٦٦٥) ومالک في الموطا كتاب الصدقة /باب الترغيب في الصدقة (رقم-٣) واحمد في المسند: ٢٠١/١

٢) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الرهون/باب إجارة الأجير على طعام بطنه (رقم-٢٤٤٤)

Maktaba Tul Ishaat.com

دحضرت موسی علیه السلام قصه په پوره تفصیل سره ذکر ده هغه دمصرنه د ویرې اوخطرې په حالت کښې مدین ته اوتختیدو هلته دمدین په کوهی باندې نی د حضرت شعیب علیه السلام د لونړو امداداوکړو بیا حضرت شعیب علیه السلام ملاقات اوشو هغوی دخپلې یوې لور نکاح حضرت موسی علیه السلام سره په دې شرط اوکړه چه هغه به اته کالوپورې دهغوی چیلئی څروی هم دغه خدمت به دهغه د بنځې مهر وی حضورپاك هم دې طرف ته اشاره اوکړه چه موسی علیه السلام د شرمګاه د حفاظت په خاطر اودخپلې خیټې ساتلوپه خاطر اته یا لس کاله خپل ځان په مزدورئی کښې اوساتلو

خدمت لره مهر جوړولو کښې مذاهب:-

① شوافع حضرات فرمائی چه د بعض کارونو مزدوری او خدمت د نکاح د پاره حق مهرجوړیدې شی کله چه خدمت معلوم اومتعین وی

② احناف علماء فرمائی د آزاد خاوند خدمت د بنځې مهر نه شی جوړیدې اودا جائزدی چه د خاوندغلام د یوکال پورې د آقاد بنځې خدمت اوکړی

داول فریق مستدل:- داول فریق علماء د حضرت موسی علیه السلام د قصې اودې حدیث نه استدلال کړې دې

داول فریق د مستدل ځخه جواب:- دا د پخوانو شریعتونو معامله وه زمونږ په شریعت کښې داسې نه ده

[٢٩٠] دَدین په تعلیم باندې دَاجرت اخستل

[٠] (١) ⓵ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قُلْتُ: ⓶ «يَا رَسُولَ اللَّهِ رَجُلٌ أَهْدَى إِلَيَّ قَوْسًا ⓷ مِمَّنْ كُنْتُ أُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْقُرْآنَ وَلَيْسَتْ بِمَالٍ فَأَرْمِي عَلَيْهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ؟ ⓸ قَالَ: إِنْ كُنْتَ تُحِبُّ أَنْ تُطَوَّقَ طَوْقًا مِنْ نَارٍ فَاقْبَلْهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ⓵ او حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه وایې چې ما عرض اوکړو ⓶ یا رسول الله صلى الله عليه وسلم یو سړي ماته په طور د تحفی لینده رالیږلې ده ⓷ او هغه سړی د هغه خلقو ځخه دی چې ما ورته د کتاب او قرآن تعلیم ورکړي وو، او (زه ګنم چې په لیندی قبلولو کې ځکه څه حرج نشته چې) لینده څه مال نه دی. زه به د دې لیندې په ذریعه د الله جل جلاله په لار (یعني جهاد) کې تیر اندازي (د غشو ویشتل) کوم. ⓸ حضور صلى الله عليه وسلم وفرمایل که ستا دا خوښه وي چې ستا په څټ کې دې د اور طوق واچول شي نو دا قبوله کړه. (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات - ①أَهْدَى: هدیه. تحفه راکړې ده. ②قَوْسًا: لینده. ③أَنْ تُطَوَّقَ: چه تاته طوق (غاړکۍ) واچولې شي

تسهیلات: نوټ:- د دې حدیث ځخه د استیجار علی الطاعات عدم جواز معلومیږی خو ددې تفصیل د حدیث نمبر (٢٩٨٥) په تشریح کښې ذکر شوې دې

(الحمد لله ! شپږم جلد ختم شو)

---

١) اخرجه ابو داود فی السنن أبواب الإجارة/باب فی کسب المعلم (رقم-٣٤١٦) وابن ماجه فی کتاب التجارات/باب الأجر علی تعلیم القرآن (رقم-٢١٥٧) واحمد فی المسند: ٣١٥/٥